الدر المنضود

على

سنن أبي داود

افادات

حضرت مولانا محمد عاقل صاحب

صدر مدرس مظاهر علوم سہارنپور

خصوصیات



الدر المنضود

فی حل

سنن أبي داؤد

افادات:- حضرت مولانا محمد عاقل صيب

صدر مدرّس مظاهر العلوم سهارنپور (هند)

مترجمين:

[رفقاء] دار التصنيف والتحقيق

زير نګراني

مولانا شاه فيصل فاضل وفاق المدارس

پښتو.............................اووم جلد

خصوصيات

① د کتاب په اول کښې د اصول حديث مفيده مقدمه.
② د بذل المجهود شرح أبي داود عربي شرحې خلاصه اونجوړ
③ د متن ټولو احاديث ته اعراب ورکول
④ د هر کتاب په اول کښې هغې سره متعلقه ضروري مباحث.
⑤ د هر حديث تخريج د مصدر، کتاب او رقم په حوالې سره.
⑥ د مشکلو لغاتو حل.
⑦ په فقهي مباحثو کښې د مذاهبو بيان.
⑧ د فريق مخالف دلائل
⑨ د فريق مخالف د دلائلو څخه جوابونه.
⑩ د مذهب حنفي دلائل او وجوه ترجيح

خورونکي

فيصل کتب خانه محله جنګي پيښور

د کتاب نوم: الدر المنضود فی حل سنن أبی داؤد
مؤلف: حضرت مولانا محمد عاقل صاحب دامت برکاتهم
زیرنگرانی:- مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس
خورونکی: فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

د ملاویدو پتې

- مکتبه فخر الدین رازی هرات [نمائنده فیصل کتبخانه درهرات]
- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- فلاح کتب خانه جلال آباد
- موئے مبارک کتب خانه غزنی
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- واحدی کتب خانه خوست
- مکتبه رحمانیه قندهار
- دعوت کتب خانه جلال آباد
- تقوٰی کتب خانه جلال آباد
- نعمت کتب خانه کابل
- شریف الله کتب خانه کابل
- حقانیه کتب خانه گردیز
- مسلم کتب خانه جلال آباد
- مکتبه نعمانیه غزنی
- گودر کتب خانه جلال آباد
- مسلم کتب خانه خوست
- حاجی سردار کتب خانه کابل
- مکتبه رشیدیه کابل

خپرونکي

فیصل کتب خانه

مدینه ټاور محله جنگی پیښور قصه خوانئ پیښور
موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

فهرست ابواب و مضامین

شمار	مضمون	صفحه

بسم الله الرحمن الرحيم

كِتَابُ الْأَيْمَانِ وَالنُّذُورِ

دقسمونواو نذر(منښتي) منلوبيان

مباحث اربعه علميه مفيده: دلته څو امور قابل ذکر دی:

١: د دې کتاب د ماقبل سره مناسبت.

٢: د ایمان او نذور دواړو یو ځائې کښې د جمع کولو وجه یعني د دواړو ترمینځه مناسبت او وجه الجمع.

٣: د یمین او نذر هر یو لغوی او شرعی معنی.

٤: د یمین او نذر احکام او اقسام.

بحث اول:

د دې کتاب مناسبت د کتاب الجنائز سره دا دې چه دا خو ښکاره ده چه د جنائز تعلق د مرګ سره دې نوځنګه چه په مرګ کښې سلب اختیار وی د الله پاک د طرف نه نو هم دغه شان یمین هم دسلب اختیار یوسبب دې ځکه چه د نذراو د یمین د وجې نه امر مباح شرعا واجب کیږی،او د یوڅیز د واجب کیدونه پس دهغې دترک اختیار باقی نه پاتې کیدل ښکاره دی.

بحث ثانی:

د دې نه پس په دې باندې ځان پوهول پکار دی چه عام طور سره په کتابونو د حدیثو کښې ایمان او نذور یو ځائې بیان کړې شوې دی لکه دلته په ابوداؤد کښې، او هم دغه شان په صحیح بخاری، ترمذی او نسائی کښې، چه د هغې وجه د امام ابن ماجه رحمه الله د طرز نه معلومه شوه چه هغوی په خپل سنن کښې یو عنوان قائم کړې دې، ابواب الکفارات، او بیا ئې د هغې د لاندې څو ابواب د ایمان سره متعلق او بیا د هغې نه روستو څو ابواب د نذر متعلق ـ ذکر کړی دی د هغوی د دې کار نه د ایمان او نذور د یو ځائې جمع کولو راز معلوم شو، هغه دا چه دا دواړه په حکم د کفاره کښې مشترک دی، نو څنګه چه د بعض ایمان په احکاماتو کښې وجوب کفاره ده هم دغه شان د نذر په بعض صورتونو کښې کفاره واجب وی، په ابوداؤد کښې وړاندې یو حدیث را روان دې، کفارة النذر کفارة اليمين او په ترمذی کښې دی ﴿ كفارة النذر اذا لم يسم كفارة اليمين ﴾ او د دې وجه اوصولا دا ده چه یمین د نذر د موجباتو او لوازمو نه دې ﴿ لان النذر ايجاب المباح وهو يستلزم تحريم الحلال، وتحريم الحلال يمين، بدليل قوله تعالى : يايها النبى لم تحرم ما احل الله لك.... قاله الشيخ دهلوى ((فى اللمعات)) كما فى حاشية ابن ماجة.

بحث ثالث:

أیمان جمع د یمین ده او د یمین لغوی معنی ده لاس یعنی ښې لاس، بیا د دې اطلاق په قسم باندې هم کیږی، لانهم اذا تحالفوا اخذ كل بيمين صاحبه، یعنی د خلقو عادت دې چه کله هغوی خپل مینځ کښې قسمونه خوری نو هغه وخت د یو بل سره لاسونه ملاوهی، د دې

مناسبت د وجې نه په حلف باندې د یمین اطلاق او شو، او دا هم وئیلې شوې دی چه د نبی لاس کار یو څیز لره محفوظ کول دی، هم په دې مناسبت سره په حلف باندې د یمین اطلاق شروع شو، او دا هم وئیلې شوی دی چه د نبی لاس کار یو څیز لره محفوظ کول دی، بیا د دې اطلاق په حلف باندې ښکه کړې شوې دې چه د محلوف علیه سرې رعایت او حفاظت کوی، او د یمین شرعًا دا تعریف کړې شوې دې ﴿ توکید شئ بذکر اسم او صفة لِلّٰه تعالی ﴾ د الله پاک نوم یا د هغه صفت ذکر کولو سره دیو څیز مضبوط او موکد کول. ﴿ قال الحافظ: وهذا اخصر التعریف واقربها ﴾

نذورجمع د نذرده چه دهغې معنی ده انذار اوتخویف، اوامام راغب رحمه الله ددې تعریف (شرعا) داسې کړې دې ﴿ ایجاب ما لیس بواجب لحدوث امر ﴾ یعنی د انسان په خپل ځان باندې یو څیز واجب کول کوم چه په هغه باندې واجب نه وو د څه امر د موجود کیدو په وخت، لکه چه داسې اووئیلې شی ﴿ ان فزت فی الاختبار فعلی صوم ﴾ چه که زه په امتحان کښې کامیاب شوم نو زما په ذمه یو روژه ده، دلته صوم لره چه یو غیر واجب څیز دې په خپل ځان باندې واجب کړې شوې دې د حدوث امر یعنی په امتحان کښې د کامیابئ د وجې نه.

بحث رابع:

په حاشیه د لامع کښې حضرت شیخ د ایمان او نذور اقسام ذکر کړی دی، او په الابواب والتراجم کښې مجمل لیکلې شوې دی، فالاول علی خمسة انواع، والثانی علی سبعة انواع.... د ایمان درې قسمونه ډیر زیات مشهور دی، یمین منعقده، یمین غموس، یمین اللغو، وړاندې په ابوداؤد کښې یو مستقل باب را روان دې ﴿ باب لغو الیمین ﴾ دا اقسام به سره د هغې د احکامو انشاء الله هلته بیانولې شی.

بَابُ التَّغْلِيظِ فِي الْأَيْمَانِ الْفَاجِرَةِ

په دروغه د قسم کولو د ګناه او د عذاب بیان

په دې باب کښې د یمین غموس ذکر دې او په را روان باب کښې هم، فاجرة په معنی د کاذبة، یعنی قصدا په دروغه قسم کولو باره کښې چه کوم وعید راغلې دې، د یمین غموس تعریف دا کړې شوې دې چه په یو امر ماضی باندې قصدا خلاف واقع قسم اوخوړلې شی، لکه چه دا اوئیلې شی چه والله ما فلانې کار کړې دې حال دا چه هغه نه وی کړې، یا لکه چه د بل د مال په باره کښې دا قسم اوخوری چه دا زما ملک دې، یمین غموس ته غموس په دې وجه وئیلې شی چه دا خپل صاحب لره په ګناه کښې ډوب کړی او بیا په جهنم کښې.

په یمین غموس کښې د کفارې وجوب شته که نه؟:

په یمین غموس کښې د جمهوروعلماء کرامو په نزد کفاره نشته، صرف معصیت او اثم دې، او د امام اوزاعی او امام شافعی رحمه الله په نزد په دې کښې کفاره واجب کیږی، جمهور وائی چه دا دومره لویه ګناه ده چه د دې نقصان په کفارې سره نه شی پوره کیدلې، او کوم

خلق چه د وجوب دکفارې قائل دی هغه وائی چه انه احوج الی الکفارة من غیره، چه په دې کښې خو د کفارې نور هم زیات حاجت دې.

[۳۲۴۲]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ مَصْبُورَةٍ كَاذِبًا، فَلْيَتَبَوَّأْ بِوَجْهِهِ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ".

دعمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څوك چه قید کړې شي (په قسټ سره اوبي ضرورته) په دروغه قسم اوکړي نو هغه دځان دپاره په جهنم کښې کور تیار کړو.

﴿ من حلف علي یمین مصبورة کاذبا فلیتبوا بوجهه مقعده من النار ﴾

یمین مصبوره هغه قسم ته وئیلې شی کوم چه د انسان نه د قاضی په مجلس کښې اودرولو سره واخستلې شی، ﴿ صبر ﴾ په معنی د حبس دې ته یمین صبر هم وائی او د یمین صفت ﴿ مصبوره ﴾ مجازا راوړلې شوې دې، مصبور خو په اصل کښې هغه صاحب یمین دې مګر چونکه هغه د قسم د وجې نه بند کړې شوې دې په دې وجه د صبر نسبت یمین طرف ته کړې شوې دی مجازا او اتساعا (خطابی)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه کوم انسان د قاضی په مجلس کښې په دروغه باندې قسم اوخوری هغه له خپلې استوګنې ته کوم چه په دوزخ کښې ده تلل پکار دی رسول الله صلی الله علیه وسلم سوا د دې وعید نه د کفارې ذکر اونکړو د دې نه د جمهورو تائید کیږی یعنی عدم وجوب کفارة فی الیمین الغموس.

باب فيمن حلف يمينا ليقتطع بها مالا لأحد

دچا د مال د غصب کولو دپاره په دروغه د قسم کولو بیان

[۳۲۴۳]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، وَهَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ هُوَ فِيهَا فَاجِرٌ، لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ، فَقَالَ الْأَشْعَثُ: فِيَّ وَاللَّهِ كَانَ ذَلِكَ، كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ مِنَ الْيَهُودِ أَرْضٌ، فَجَحَدَنِي، فَقَدَّمْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟، قُلْتُ: لَا، قَالَ لِلْيَهُودِيِّ: احْلِفْ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذًا يَحْلِفَ وَيَذْهَبَ بِمَالِي، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا سورة آل عمران آية ۷۷" إِلَى آخِرِ الْآيَةِ.

دعبدالله بن مسعود نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه الصلاة والسلام فرمائیلی دی چه څوك په څه خبره قسم وخوري او په دغه قسم کښې دروغژن وي ددې دپاره چه دیو مسلمان

[1]): تفرد به أبوداود، ا(تحفة الأشراف: ۱۰۸۴۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۳۶/۴، ۴۴۱) (صحیح)

[2]): صحيح البخاري/المساقاة ۴ (۲۳۵۶)، والخصومات ۴ (۲۴۱۶)، والرهن ۶ (۲۵۱۵)، والشهادات ۱۹ (۲۶۶۶)، ۲۰ (۲۶۶۹)، ۲۳ (۲۶۷۳)، ۲۵ (۲۶۷۶)، تفسير آل عمران ۳ (۴۵۴۹)، الأيمان ۱۱ (۶۶۵۹)، ۱۷ (۶۶۷۶)، الأحكام ۳۰ (۷۱۸۳)، التوحيد ۲۴ (۷۴۴۵)، صحيح مسلم/الإيمان ۶۱ (۱۳۸)، سنن الترمذي/البيوع ۴۲ (۱۲۶۹)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۸ (۲۳۲۲)، (تحفة الأشراف: ۱۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۷۷/۱) (صحيح)

مال غصب کړي نودې به دالله تعالی سره په دې شان سره ملاویږي چه الله تعالی به په ده باندې غصه وي اشعث وئیلی دی په الله قسم نبی ﷺ داحدیث زماپه باره کښې وئیلې وو ځکه چه زما او دیویهودي شریکه زمکه وه ماته ئې زمادحصې دراکولونه انکارکړې وو نوما نبی ﷺ ته بوتلو نبی ﷺ زمانه تپوس اوکړو آیا ګواه درسره شته؟ ما عرض اوکړو نشته بیائې یهودي ته اووئیل چه ته به قسم کوې ماعرض اوکړو اې دالله رسوله داخو یهودي دې په دروغه به قسم اوکړي اوزما مال به غصب کړي په دې وخت کښې الله تعالی دا ایت نازل کړو:(إن الذين يشترون بعهد الله وأيمانهم ثمنا قليلا) إلى آخرالآية.

قوله: ﴿ عن عبدالله قال قال رسول الله ﷺ..... فقال الاشعث فی والله کان ذلک، کان بینی وبین رجل من الیهود ارض الخ ﴾

دا حدیث د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه کوم انسان په یو څیز باندې قسم اوخوری په داسې حال کښې چه په هغې کښې دروغژن وی، او د دې دپاره چه د دې قسم په ذریعه د یو مسلمان مال لره واخلی نو د هغه سړی انجام به دا وی چه هغه به د قیامت په ورځ د الله پاک سره په داسې حال کښې ملاقات اوکړی چه هغه به په دهٔ باندې غصه وی. اشعث بن قیس کندی دې حدیث اوریدو سره اووې: والله د دې حدیث وردو خو زما په قصه کښې شوې وو، بیا وړاندې هغوی هغه قصه بیان کړه چه زما او د یو یهودی ترمینځه زمکه وو، یعنی په کوم باندې چه هغه یهودی قابض وو چه دهغې د واپس کولو نه چه هغه انکار کولو، ما دایهودی اونیولو او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې مې حاضر کړو، اشعث وائی: رسول الله ﷺ زما نه تپوس اوکړو آیا تاسره ګواهان شته؟ ما عرض اوکړو نه، رسول الله ﷺ یهودی ته اوفرمائیل چه ته قسم اوخوره، ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ دا دروغژن سړې دې قسم به اوخوری او زما مال به یوسی، په دې باندې دا آیت کریمه نازل شو:

﴿ ان الذین یشترون بعهد الله وایمانهم ثمنا قلیلا، الی آخر الایة ﴾

دا آیت او حدیث دواړه په دې خبره باندې دال دی لکه چه علماء کرامو وئیلې دی چه په یمین غموس کښې کفاره نشته.

[۳۲۴۴]([1]) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْفِرْيَابِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَارِثُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنِي كُرْدُوسٌ، عَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ: أَنَّ رَجُلًا مِنْ كِنْدَةَ، وَرَجُلًا مِنْ حَضْرَمَوْتَ، اخْتَصَمَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَرْضٍ مِنَ الْيَمَنِ، فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أَرْضِي اغْتَصَبَنِيهَا أَبُو هَذَا، وَهِيَ فِي يَدِهِ"، قَالَ: هَلْ لَكَ بَيِّنَةٌ؟، قَالَ: لَا، وَلَكِنْ أُحَلِّفُهُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّهَا أَرْضِي، اغْتَصَبَنِيهَا أَبُوهُ، فَتَهَيَّأَ الْكِنْدِيُّ لِلْيَمِينِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَقْتَطِعُ أَحَدٌ مَالًا بِيَمِينٍ، إِلَّا لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ أَجْذَمُ، فَقَالَ الْكِنْدِيُّ: هِيَ أَرْضُهُ".

داشعث بن قیس نه روایت دې چه دکنده قبیلې یوکس اودحضرموت علاقتې یوکس دزمکې متعلق نبی ﷺ ته فیصله راوړله چه هغه زمکه دیمن په حضرموت کښې و حضري

[1]: سنن النسائي/الكبرى ٤٧ (٦٠٠٢)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٢٩ (٢٨٣٥)، (تحفة الأشراف: ١٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١١/٥، ٢١٢) ويأتي هذا الحديث في الأقضية (٣٦٢٢) (صحيح)

اووئيل اې دالله رسوله دده پلار زمازمكه غصب كړې وه اوهغه اوس دده سره ده نبي ﷺ اوفرمائيل اياگواهان دي شته ده اووئيل نه مگر قسم به ورکوم الله عالم دې چه دغه زمازمكه ده دده پلاررانه غصب كړې وه، نوكندى قسم كولوته تيار شو نبي ﷺ اوفرمائيل څوك چه په قسم كولوسره دچا مال غصب كړي نوهغه به په قيامت كښې دالله تعالى سره په داسې حالت كښې ملاويږي چه لاسونه په ښپي په ئې پريكړې شوي وي كندى چه كله دا واوريدل نوونئې وئيل يقينادادده زمكه ده.

《عن الاشعث بن قيس ان رجلا من كندة ورجلا من حضرموت اختصما الى النبیﷺ فی ارض من اليمن فقال الخضرمي يا رسول اللهﷺ ان ارضي اغتصبينها ابو هذا وهي ..الخ》

اشعث بن قيس ﷺ فرمائي چه په يمن كښې يو زمكه وه چه د هغې په باره كښې ديو رجل كندى او د رجل خضرمي اختلاف او جهگړه شوه، حضرمي مدعى وو او كندى مدعى عليه، خضرمي عرض اوكړو يا رسول اللهﷺ د دې كندى په قبضه كښې چه كومه زمكه ده هغه زما ده د دې كندى پلار هغه زمكه زما نه اخستلې وه، رسول اللهﷺ خضرمي ته اووې تاسره گواهان شته؟ هغه اووې نه، او دا ئې هم اوفرمائيل چه زه په دې كندى باندې قسم خوړل غواړم چه هغه په خپل قسم كښې داسې اوائي: قسم په الله ما ته پته نشته چه دا زمكه د خضرمي ده او د دې خضرمي نه زما پلار غصب كړې ده، په دې باندې كندى داسې قسم خوړولو ته تيار شو، رسول اللهﷺ په دروغه قسم خوړلو باندې تخذير كولو سره اوفرمائيل چه كوم انسان په دروغه قسم خوړلو سره د بل مال واخلى نو هغه به د الله پاك سره په داسې حال كښې ملاقات اوكړي چه اجذم به وى (كندى په دې وعيد اوريدو سره اويريدو او) وې وئيل چه دا زمكه د هغه ده.

دلته مصنف درې روايتونه ذكر كړى دى :

د دې حديث راوى اشعث بن قيس ﷺ دى، د دې نه روستو حديث كښې هم دا قسم قصه را روانه ده چه د هغې راوى وائل بن حجر ﷺ دې خو د وائل ﷺ په روايت كښې داسې دى چه حضرمي مدعى دا اووې چه د كندى سره چه كومه زمكه ده هغه زما د پلار وه، چه په هغې باندې دا كندى قابض دې، او په ړومبى حديث يعنى د اشعث بن قيس ﷺ په روايت كښې دا وو چه حضرمي مدعى دا اووې چه د كندى سره كومه زمكه ده د كندى پلار زما نه قبضه كړې وه دا دواړه روايات په دې خبره باندې متفق دى چه مدعى رجل حضرمي وو او مدعلى عليه رجل كندى، او د دې دواړو خلاف د باب ړومبې حديث د عبدالله بن مسعود ﷺ دې په هغې كښې داسې دى چه خپله اشعث ﷺ وائي چه زما زمكه د يو يهودى په قبضه كښې وه چه د هغې د وركړې نه هغه انكار كولو او ما هغه د رسول اللهﷺ په خدمت كښې حاضر كړو د فيصلې دپاره، په دې صورت كښې مدعى خپله اشعث بن قيس شو اومدعى عليه يهودى شو.

په روايات ثلاثه كښې تطبيق :

ځان پوهول پكار دى چه په دويم او دريم حديث كښې چه خپل مينځ كښې كوم اختلاف دې هغه خو صرف د صفة ارض په باره كښې دې په يو كښې دا دى چه زما د پلار زمكه وه چه

په هغې باندې دې قابض دې او په يو کښې دا دی چه زما زمکه ده کومه چه د هغه پلار قبضه کړې وه، او د باب په رومبی حديث يعنی د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه والا حديث چه په هغې کښې مدعی خپله اشعث بن قيس کندی دی او مدعی عليه يهودی دې، او د اشعث بن قيس او وائل بن حجر رضی الله عنهما په حديث کښې مدعی رجل حضرمی او مدعی عليه رجل کندی دې، سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې ډيرو روايتونو لره مخې ته د ږدلو نه پس دا رائې قائم کړې ده چه دا اختلاف دې په تعدد دواقعې باندې محمول کړې شی، د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د حديث واقعه بيله ده، او کوم احاديث چه روستو ذکر شوې دی هغه نور دی، امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح کښې د دې دواړو نه صرف د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه والا قصه اخستلې ده.

[۳۲۴۵](١) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ الْحَضْرَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "جَاءَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ، وَرَجُلٌ مِنْ كِنْدَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ هَذَا غَلَبَنِي عَلَى أَرْضٍ كَانَتْ لِأَبِي، فَقَالَ الْكِنْدِيُّ: هِيَ أَرْضِي فِي يَدِي أَزْرَعُهَا، لَيْسَ لَهُ فِيهَا حَقٌّ، قَالَ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْحَضْرَمِيِّ: أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟، قَالَ: لَا، قَالَ: فَلَكَ يَمِينُهُ؟، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُ فَاجِرٌ لَا يُبَالِي مَا حَلَفَ عَلَيْهِ، لَيْسَ يَتَوَرَّعُ مِنْ شَيْءٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَيْسَ لَكَ مِنْهُ إِلَّا ذَاكَ، فَانْطَلَقَ لِيَحْلِفَ لَهُ، فَلَمَّا أَدْبَرَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَا لَئِنْ حَلَفَ عَلَى مَالٍ لِيَأْكُلَهُ ظَالِمًا، لَيَلْقَيَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ عَنْهُ مُعْرِضٌ".

د وائل بن حجر نه روايت دې فرمائی چه يوکس دحضر موت نه راغې اوبل دکنده قبيلې د علاقې نه او نبی عليه السلام ته ئې جګړه راوړله حضرمي اووئيل اې دالله رسوله يقينادا کس په ما باندې زورور شوې دې دهغې زمکې په باره کښې کومه چه زمادپلار وه، کنده اووئيل دا زما زمکه ده زما په لاس کښې ده اوزه ئې کرم دده په کښې هيڅ حق نشته وائل وائی نبی عليه السلام حضرمی ته اوفرمائيل اياګواهان درسره شته هغه اووئيل نه نبی عليه السلام اوفرمائيل نو بيا به دابل کس ستاپه وړاندې قسم خوري هغه اووئيل اې دالله رسوله دا خو يو بدعمله لوپردې دقسم کولوهيڅ پروا نه ساتي اودهيڅ يوشی نه نه ويريږی نبی عليه السلام او فرمائيل ستاددې نه علاوه نورحق نشته دې مګر دا نوهغه روان شو چه قسم اوکړي ده ته چه هرکله ئې شاه کړه نبی عليه السلام اوفرمائيل اوګورئ که چرې خوك دچامال په ظلم سره دغصب کولودپاره په دروغه قسم اوخوري نودالله تعالی سره به په داسې حال کښې مخامخ کيږي چه مخ به ئې ترې اړولی وی.

حديث ابن مسعود رضی الله عنه اخرجه البخاری والترمذی ومسلم والنسائی وابن ماجة، وحديث اشعث بن قيس سكت عليه المنذری، وحديث وائل بن حجر اخرجه مسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

١): صحيح مسلم/الإيمان ٦١ (١٣٩)، سنن الترمذي/الأحكام ١٢ (١٣٤٠)، (تحفة الأشراف: ١١٧٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٧/٤) ويأتي هذا الحديث في القضا (٣٦٢٣) (صحيح)

بَابُ مَا جَاءَ فِي تَعْظِيمِ الْيَمِينِ عِنْدَ مِنْبَرِ النَّبِيِّ

د نبی علیه السلام د منبر خواته په دروغه قسم کول ډیره لویه ګناه ده

تغليظ اليمين بالزمان والمكان:

تعظیم بمعنی تغلیظ.....او د ترجمة الباب حاصل تغليظ اليمين بالمكان دی، یعنی قسم لره معظم او غلیظ کول د مکان مقدس په ذریعه لکه مسجد یا منبر شریف ته نزدې چاله قسم ورکول، او هم دغه شان تغليظ بالزمان لکه جمعة یا بعد العصر وغیره، تغليظ اليمين بالزمان وی یا بالمکان وی احناف د دې قائل نه دی، شوافع او مالکیان ئې قائل دی، وعن الحنابلة روایاتان، هسې زمونږ د فقهاء کرامو عبارتونه لږ مختلف دی، ففي الدر المختار لا يستحب تغليظ اليمين بزمان ولا مكان، قلت وحاصله الاباحة، وفي البحر، لا يجوز.

[۳۲۴۶](۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ هَاشِمٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نِسْطَاسٍ مِنْ آلِ كَثِيرِ بْنِ الصَّلْتِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَحْلِفُ أَحَدٌ عِنْدَ مِنْبَرِي هَذَا عَلَى يَمِينٍ آثِمَةٍ، وَلَوْ عَلَى سِوَاكٍ أَخْضَرَ، إِلَّا تَبَوَّأَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ، أَوْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ".

جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دی فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څوک هم داسې نشته چه زما د منبر خواته په دروغه قسم اوکړي اګرچه دغه قسم دیو تازه مسواک دپاره ولې نه وی مګر دې به دخپل ځان دپاره په دوزخ کښې کور جوړ کړي اوکه داسې ئې اوفرمائیل ددغه کس دپاره دوزخ لازم شو.

قوله: ﴿ لا يحلف احد عند منبرى هذا على يمين اثمة الخ ﴾ د دې نه په ظاهر کښې تغليظ اليمين بالمکان په فهم کښې راځی د دې جواب زما په ذهن کښې دا دې چه د ﴿ عند منبرى ﴾ قید د واقع په طور دې د تغليظ دپاره نه دې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم فیصلې به عموما په مسجد کښې منبر شریف ته نزدې کیدې.

قوله: ﴿ فقد ترجم البخارى فى كتاب العلم باب ذكر العلم والفتيا فى المسجد وترجم ايضا فى كتاب الاحكام باب من قضى ولا عن فى المسجد، قال ابن بطال استحب القضاء فى المسجد طائفة، وقال مالك هو الامر القديم الخ وفى الهداية ويجلس للحكم جلوسا ظاهرا فى المسجد الخ ﴾ (تراجم بخاری ص ۳۰۱ ج۴) والحديث اخرجه النسائى وابن ماجة، قاله المنذرى

بَابُ الْحَلِفِ بِالْأَنْدَادِ

په بتانو باندې د قسم کولو بیان

یمین بغیر الله بالاجماع ممنوع دې، په کراهة او حرمت کښې اختلاف دې، په دې کښې د ټولو امامانو دواړه اقوال دی، خو د مالکیانو په نزد مشهور کراهة دې، او د حنابله په نزد تحریم، او هم دا د اهل ظواهر مذهب هم دې، د شوافعو په نزد هم دوه روایتونه دی ځکه چه د امام شافعی رحمه الله نه نقل دی: اخشى ان يكون الحلف بغير الله معصية، فاشار الى التردد، خو د

(۱): سنن ابن ماجه ۹/الأحكام ۹ (۲۳۲۵)، (تحفة الأشراف: ۲۳۷۶)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الأقضية ۸ (۱۰)، مسند احمد (۳/۳۴۴) (صحيح)

جمهور اصحابو د امام شافعی رحمه الله په نزد کراهة تنزیهی دې، او علت د منع دا دې چه د یو څيز قسم خوړل د محلوف به ؟ په غایت تعظیم باندې دلالت کوی والعظمة فی الحقیقة انما هی لله تعالی وحده (الابواب والتراجم ۱۹۲/۶)

[۳۲۴۷](1) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَلَفَ، فَقَالَ فِي حَلِفِهِ: وَاللَّاتِ، فَلْيَقُلْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ: تَعَالَ أُقَامِرْكَ، فَلْيَتَصَدَّقْ بِشَيْءٍ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاچه قسم اوکړو او په خپل قسم کښې ئې اووئیل په لات (بت)مې دې قسم وي نولا اله الاالله دې اووائی اوچاچه خپل ملګري ته آواز اوکړو راشه چه جواري درسره اوکړم نودې څه شې په صدقه کښې ورکړي.

قوله:﴿من حلف فقال فی حلفه : واللت فلیقل لا اله الا الله، ومن قال لصاحبه تعالی اقامرک فلیتصدق بشئ﴾: څوک چه د لات قسم اوخوری یعنی په طور د سبقت لسان د هغه نه داسې کار اوشو نو چونکه دا صورةً شرک دې په دې وجه هغه لره د تدارک دپاره کلمه توحید وئیل پکار دی، او که یو انسان دا قسم قصداً په طریقه د تعظیم اوخوری په دې صورت کښې خوبه کفر لازم شی او تجدید د ایمان به ضروری وی، د حدیث دویم جزء دا دې چه کوم انسان خپل ملګری لره د جوارئ دپاره راوغواړی نو چونکه دا ګناه ده په دې وجه د دې داثر د ختمولو دپاره صدقه کول پکار دی.

قال الله تعالی : ان الحسنات یذهبن السیئات وقال علیه الصلوة والسلام اذا علمت سیئة فاتبعها حسنة تمحها (هامش البذل)

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، ولیس فی حدیث احد منهم بشئ، سوی مسلم وحده، قاله المنذری.

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الْحَلِفِ بِالْآبَاءِ

په پلار او نیکه باندې د قسم کولو د کراهت بیان

[۳۲۴۸](2) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا عَوْفٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ، وَلَا بِأُمَّهَاتِكُمْ، وَلَا بِالْأَنْدَادِ، وَلَا تَحْلِفُوا إِلَّا بِاللَّهِ، وَلَا تَحْلِفُوا بِاللَّهِ إِلَّا وَأَنْتُمْ صَادِقُونَ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی قسمونه مه خورئ په پلرونو خپلو او نه په میندو خپلو او نه په بتانو مګر په الله تعالی باندې او په الله باندې قسم مه خورئ مګر په هغه وخت کښې چه تاسو ریښتوني یئ.

(1): صحیح البخاري/تفسیر سورة النجم ۲ (۴۸۶۰)، الأدب ۷۴ (۶۱۰۷)، الاستئذان ۵۲ (۶۳۰۱)، الأیمان ۵ (۶۶۵۰)، صحیح مسلم/الأیمان ۲ (۱۶۴۸)، سنن الترمذي/الأیمان ۱۷ (۱۵۴۵)، سنن النسائي/الأیمان ۱۰ (۳۸۰۶)، سنن ابن ماجه/الکفارات ۲ (۲۰۹۶)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۷۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۰۹/۲) (صحیح)

(2): سنن النسائي/الأیمان ۵ (۳۸۰۰)، (تحفة الأشراف: ۱۴۴۸۳) (صحیح)

قوله: ﴿ لا تحلفوا بابائكم ولا بامهاتكم ولا بالانداد ﴾: په پلارانو او میاندو باندې قسم خوړل ناجائز او ممنوع دی، او په دې سره یمین منعقد کیږی هم نه د ځلورو امامانو په نزد، ابن قدامه فرمائی چه په مخلوق باندې قسم خوړلو سره یمین نه منعقد کیږی ﴿ کالکعبة والانبياء وسائر المخلوقات وهو قول اكثر الفقهاء(۱) ﴾ وړاندې لیکی چه زمونږ د اصحابو په نزد په رسول الله ﷺ باندې یمین منعقد کیږی چه په هغې باندې کفاره واجب ده.

[۳۲۴۹](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَدْرَكَهُ وَهُوَ فِي رَكْبٍ، وَهُوَ يَحْلِفُ بِأَبِيهِ، فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ، فَمَنْ كَانَ حَالِفًا، فَلْيَحْلِفْ بِاللَّهِ أَوْ لِيَسْكُتْ".

دعمرفاروق رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام زه په یوقافله کښې بیاموندم او په خپل پلار ئې قسم کولو نبی علیه السلام اوفرمائیل الله تعالی تاسومنع کوي درې نه چه قسم وخورئ په پلارباندې هرڅوك چه قسم کوي نوقسم دې وکړي په الله باندې اويادې خاموش پاتې شي.

[۳۲۵۰](۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ مَعْنَاهُ إِلَى بِآبَائِكُمْ زَادَ، قَالَ عُمَرُ: فَوَاللَّهِ مَا حَلَفْتُ بِهَذَا ذَاكِرًا وَلَا آثِرًا.

سالم دخپل پلارنه اوهغه دعمر رضي الله عنه نه دتیرروایت په شان روایت نقل کړې دې مګرددې اضافې سره چه عمر رضي الله عنه اووئیل چه بیاما په ټول ژوند کښې چرته په دې ځیزونوباندې په طور دحکایت یاپه طور دتذکري قسم نه دې کړې.

﴿ عن ابن عمر رضي الله عنهما عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ ادركه وهو فی رکب الخ ﴾

شرح الحدیث:

عمر رضي الله عنه خپله واقعه خپله بیانوی چه زه یو کرت په یو قافله کښې سور اوم، رسول الله ﷺ زه اولیدم چه زه په پلار باندې قسم خورم نو په دې باندې رسول الله ﷺ تنبیه اوفرمائیله: که قسم خوړل وی نو د الله پاک په نوم خورئ کینې خاموشی اوسئ، او په دویم روایت کښې دا زیادت دې ﴿ قال عمر فو الله ما حلفت بهذا ذاكرا ولا اثرا ﴾ هغوی فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ د خبرداری نه پس کله هم په پلار باندې قسم نه دې کړې نه ذاکرا او نه آثرا نه د خپل طرف نه او نه د بل د کلام نه نقل کولو سره، یعنی که یو سړی په خپل پلار باندې

(۱) وجزم الدردير المالكي بانه لا ينعقد بالنبي ولا بالكعبة والركن والمقام والعرش الي آخر ما ذكر وفي البدائع لو حلف بشيء من ذلك لا يكون يمينا لانه حلف بغير الله تعالي (تراجم بخاري) وقال ابن الهمام من حلف بغير الله كالنبي والكعبة لم يكن حالفا آهـ (عون المعبود)

(۲): صحيح مسلم/الأيمان ۱ (۱۶۴۶)، (تحفة الأشراف: ۱۰۵۵۵)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأدب ۷۴ (۶۱۰۷)، الأيمان ۴ (۶۶۴۷)، سنن الترمذي/الأيمان ۸ (۱۵۳۳)، سنن النسائي/الأيمان ۴ (۳۳۹۹)، سنن ابن ماجه/الكفارات ۲ (۲۰۹۴)، موطا امام مالك/النذور ۹ (۱۴)، مسند احمد (۲/۱۱، ۳۴، ۶۹، ۸۷، ۱۲۵، ۱۴۲) (صحيح)

(۳): صحيح البخاري/ الإيمان ۴ (۶۶۴۷)، صحيح مسلم/ الأيمان ۱ (۱۶۴۶)، سنن النسائي/ الأيمان ۴ (۳۷۹۸، ۳۷۹۹)، سنن ابن ماجه/ الكفارات ۲ (۲۰۹۴)، (تحفة الأشراف: ۱۰۵۱۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۸، ۳۶) (صحيح)

قسم اوکړو نو هغه ما په خپله ژبه نه دې نقل کړې، د دې جملې متبادر معنی هم دا ده (۱)
والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجة. قاله المنذري

[۳۲۵۱](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، قَالَ: سَمِعْتُ الْحَسَنَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، قَالَ: سَمِعَ ابْنُ عُمَرَ رَجُلًا يَحْلِفُ لَا وَالْكَعْبَةِ، فَقَالَ لَهُ ابْنُ عُمَرَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللَّهِ فَقَدْ أَشْرَكَ".

دسعيد بن عبيد رحمه الله نه روايت دې فرمائی چه ابن عمر رضی الله عنهما ديوکس نه په کعبه قسم واوريدل نوورته ئې اوفرمائيل مادنبی علیه السلام نه اوريدلي دي چه فرمائيل ئې څوک چه دالله نه علاوه دبل چاپه نوم باندې قسم وخوري نوده شرك وكړو.

[۳۲۵۲](۳) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ الْمَدَنِيُّ، عَنْ أَبِي سُهَيْلٍ نَافِعِ بْنِ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ سَمِعَ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ يَعْنِي فِي حَدِيثِ قِصَّةِ الْأَعْرَابِيِّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَفْلَحَ وَأَبِيهِ إِنْ صَدَقَ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَأَبِيهِ إِنْ صَدَقَ".

مالك بن ابی عامر دخپل پلارنه روايت کوی چه دطلحه بن عبيدالله نه مې په هغه حديث کښې اوريدلی دی په کوم کښې چه داعرابی قصه ده نبی علیه السلام فرمائيلی وو دې کامياب شو دده په پلارې دې قسم وي که چرې دې ريښتونې وي نوجنت ته به داخل شي، دده په پلارې دې قسم وي کچرې دې رښتونې وي.

﴿ انه سمع طلحة بن عبيدالله رضی الله عنه يعنى فى قصة الاعرابى قال النبی صلی الله علیه وسلم افلح وابيه الخ ﴾
دا حديث د كتاب الصلوة په شروع کښې تير شوي دي وكذا الكلام عليه فارجع اليه لو شئت.

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الْحَلِفِ بِالْأَمَانَةِ

په امانت باندې د قسم کولو د مکروه والی بیان

حلف بالامانة منعقد کيږی يا نه؟ د حنابله په نزد په دې باندې قسم منعقد کيږی بان يقول وامانة الله او بالامانة (مغنی) او خطابی د امام شافعی رحمه الله مسلک عدم انعقاد د يمين ليکلې دې، او د احنافو په دې کښې دوه روايتونه دی انعقاد او عدم انعقاد، د انعقاد وجه خو دا ده چه امانت هم د الله پاک د صفتونو نه يو صفت دې اذ الامين من اسمائه تعالى او د عدم

(۱) شراح د دې جملې دوه معنې نورې ليکلې دی ۲: دا دواړه الفاظ هم معنی دی يعنی ارادة وقصدا وعلي هذا ذاكرا من الذكر (بالضم) ضد النسيان وأثرا من الأيثار اي الاختيار وفي المعني الاول آثرا من الاثر بمعني النقل ۳: دريمه معنی دا ليکلې شوې ده چه آثرا اي مفتخرا بالآباء الايثار بمعني الافتخار والاكرام يعنی په پلار باندې مو قسم په طور د فخر على الاباء كله هم نه د بخوړلې (كما يفعل في الجاهلية، بل علي سبيل الجري علي اللسان) اوس خلاصه د دې معانی ثلاثه دا شوه: ۱: قصداً نه د خپل طرف نه او نه د بل د طرف نه دنقل په طور. ۲: ارادة واختيارا بخلاف النسيان چه د هغې نفی نشته، ۳: د پلار قسم مو چرته هم نه دې خوړلې نه مطلقا او نه مفتخرا نه د تفاخر په طور او نه هم داسې. (يستفاد هذه المعاني من حاشيته الترمذي)

(۲): سنن الترمذي/الأيمان ۸ (۱۵۳۵)، (تحفة الأشراف: ۷۰۴۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۴، ۵۸، ۶۰، ۶۹، ۸۶، ۱۲۵) (صحيح)

(۳): صحيح البخاري/الإيمان ۳۴ (۴۶)، والصوم ۱ (۱۸۹۱)، والشهادات ۲۶ (۲۶۷۸)، والحيل ۳ (۶۹۵۶)، صحيح مسلم/الإيمان ۲، (۱۱)، سنن النسائي/الصلاة ۴ (۴۵۹)، الصوم ۱ (۲۰۹۲)، (تحفة الأشراف: ۵۰۰۹)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ۲۵ (۹۴) (وهو قطعة من حديث تقدم في أول الصلاة برقم (۳۹۱)

انعقاد وجه امانت په معنی د عبادت او فریضې راځي. (بذل)

[۳۲۵۳]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ ثَعْلَبَةَ الطَّائِيُّ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَلَفَ بِالْأَمَانَةِ، فَلَيْسَ مِنَّا".

ابوبردة دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلي دي: څوك چه په امانت قسم وکړي هغه زمونږنه نه دي.

قوله:﴿ من حلف بالامانة فليس منا ﴾ د دې حدیث تقاضه دا ده چه حلف بالامانة نه دی منعقد کیدل پکار، ممنوع دي څنګه چه حلف بالآباء ممنوع دي، خو چونکه حلف بالامانت د ډیرو ائمه په نزد منعقد کیږی په دې وجه به وئیلې شی چه په حدیث کښې ممانعت د تشبه بالیهود د وجې نه دې.

بَابُ الْمَعَارِيضِ فِي الْيَمِينِ
په قسم کولو خپله دفاع کول

[۳۲۵۵]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَمِينُكَ عَلَى مَا يُصَدِّقُكَ عَلَيْهَا صَاحِبُكَ". قَالَ مُسَدَّدٌ: قَالَ: أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هُمَا وَاحِدٌ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، وَعَبَّادُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ.

دابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه رسول پاك ﷺ فرمائیلی دی: ستاقسم لر اعتبار په هغه شي دي په کوم شي کښې چا ستا ملګري ستاتصدیق وکړي. مسدد وائی چه مات عبدالله بن أبی صالح خبر راکړې دي. ابوداود وافي چه عبدالله بن أبی صالح اوعباد بن أبی صالح دوار دیوکس نومونه دي.

معاریض جمع ده د معراض چه اخستلې شوې دي د تعریض نه، تعریض یعنی ضد التصریح، په اشاره او کنایه سره خبره کول.

﴿ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ یمینک علی ما یصدقک علیها صاحبک ﴾

دا خطاب حالف یعنی مدعی علیه ته دې او د صاحب نه مراد د دې مقابل او خصم یعنی مدعی دې، یعنی په کوم څیز باندې چه مدعی قسم ورکول غواړی هم په هغې باندې به قسم محمول وی، دا نه ده چه د دروغو نه د بچ کیدو دپاره مدعی علیه د قسم په وخت بل څه نیت اوکړی.

په دې حدیث کښې د دیانت او رشتیا وئیلو تعلیم او ترغیب دې او د معاریضو نه ګویا منع کړې شوې ده چه انسان د قسم خوړلو په وخت توریه اوکړی، خو علماء کرامو لیکلي دی چه که مدعی علیه مظلوم وی نو بیا د ظلم نه د بچ کیدو دپاره توریه جائز ده لکه چه په را روان حدیث کښې راځي.

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۲۰۰۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۵۲/۵) (صحیح)

(): صحیح مسلم/الأیمان ٤ (۱۶۵۳)، سنن الترمذي/الأحکام ۱۹ (۱۳۵٤)، سنن ابن ماجه/الکفارات ۱٤ (۲۱۲۰)، (تحفة الأشراف: ۱۲۸۲۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۲۸/۲)، سنن الدارمي/النذور ۱۱ (۲۳۹٤) (صحیح)

[۳۲۵۶]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ النَّاقِدُ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ جَدَّتِهِ، عَنْ أَبِيهَا سُوَيْدِ بْنِ حَنْظَلَةَ، قَالَ: "خَرَجْنَا نُرِيدُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَعَنَا وَائِلُ بْنُ حُجْرٍ، فَأَخَذَهُ عَدُوٌّ لَهُ، فَتَحَرَّجَ الْقَوْمُ أَنْ يَحْلِفُوا، وَحَلَفْتُ أَنَّهُ أَخِي، فَخَلَّى سَبِيلَهُ، فَأَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرْتُهُ أَنَّ الْقَوْمَ تَحَرَّجُوا أَنْ يَحْلِفُوا، وَحَلَفْتُ أَنَّهُ أَخِي، قَالَ: صَدَقْتَ الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ".

دسوید بن حنظلة رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه مونږ نبی علیه السلام ته ورتلوا و وائل بن حجر هم راسره وو، ده لره دده یودشمن په لاره کښې اود رو اوزمونږ ملګرو داخبره بده وګڼله چه په دروغه قسم وکړي او ما داقسم وکړوچه دا زما ورور دې نوبيا هغوی ده لره پريخودو، کله چه مونږ دنبی علیه السلا په خدمت کښې حاضرشو نوواقعه مو ورته بيان کړ اوورته مې ووئيل چه زمونږ ملګرو قسم ونکړ مګر ماقسم وکړوچه دې زما ورورډې نوبيائي دې پريخودو، نبی علیه السلام چه دا واوريدل نو اوت فرمائيل: تارښتيا وئيلی دی يو مسلمان دبل مسلمان ورور وی.

﴿ عن سويد بن حنظلة رضی الله عنه قال خرجنا نريد رسول الله صلی الله علیه وسلم ومعنا وائل بن حجر الخ ﴾

سويد بن حنظله رضی الله عنه فرمائی چه مونږ د خپل وطن نه اوتلو او مونږ سره وائل بن حجر رضی الله عنه هم وو هغوی لره د هغوی يو دشمن اونيولو، ما دشمن ته قسم اوخوړلو چه دا زما رور دې په دې باندې دشمن هغه پريخودلو، نورو خلقو خو د قسم خوړلو نه ځان اوساتلو د ګناه د ويرې نه، بيا چه کله مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو نو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا قصه واوروله نو هغوی زما تائيد اوفرمائيلو ﴿ صدقت المسلم اخو المسلم ﴾.

په دې حديث کښې د ظلم نه د بچ کيدو دپاره د توريه اجازت معلوم شو. حديث ابی هريرة رضی الله عنه اخرجه مسلم والترمذی وابن ماجة، وحديث سويد اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْحَلِفِ بِالْبَرَاءَةِ وَبِمِلَّةٍ غَيْرِ الْإِسْلَامِ

د اسلام نه په بيزارئ سره اوپه بل دين کښې په داخليدلو د قسم ورکولو بيان

د ترجمة الباب تشريح او ذکر د اختلاف النسخ :

په اکثر نسخو کښې هم دغه شان دی او په بعض نسخو کښې ترجمة الباب داسې دې، ﴿ ما جاء في الحلف بالبراءة وبملة غير الاسلام ﴾ او هم دا نسخه صحيح ده، په دې صورت کښې د ترجمة الباب دوه اجزاء شو اول ﴿ حلف البراءة، ای عن الاسلام ﴾ او دويم ﴿ جزء حلف بملة غير الاسلام ﴾ پس د باب رومبی حديث کښې د ترجمة الباب دويم جزء مذکور دې، ﴿من حلف بملة غير الاسلام کاذبا فهو کما قال ﴾ د دې مثال به دا وی ان فعلت کذا فانا يهودی او نصرانی په دې کښې قسم غير اسلام باندې خوړلې شی، او د باب په دويم حديث کښې د ترجمې جزء اول موجود دې. ﴿ من حلف فقال انی بريء من الاسلام فان کان کاذبا فهو کما قال ﴾ مثلا داسې قسم اوخوری چه که زه فلانې کار اوکړم نو زه به د اسلام نه بری يم، اوس پاتې شوه دا چه د دې دواړو مسئلو په باره کښې فقهاء کرام څه فرمائی د دې جواب دا دې چه د

(): سنن ابن ماجه/الكفارات ١٤ (٢١١٩)، (تحفة الأشراف: ٤٨٠٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧٩/٤) (صحيح)

امام مالک رحمه الله او شافعي رحمه الله په نزد په دې دوارو صيغو سره يمين نه منعقد کيږي او نه کفاره واجب کيږي خو دغه شان قسم خوړونکې بهر حال ګناه ګار دې. که رشتيا وائي او که دروغ، او د احنافو او حنابله په دوارو صيغو سره يمين منعقد کيږي او کفاره واجب کيږي.
او کوم ترجمة الباب چه زمونږ په نسخه کښې دې د دې خو به مطلب دا وی چه قسم خوړل د ملت غير اسلام نه د براءت مثلا داسې اوائي چه که زه فلانې کار اوکړم نو د غير اسلام نه بری يم، داسې خو هيڅوک قسم نه خوري، او د غير اسلام نه خو هر مسلمان بری وی او که بالفرض څوک داسې قسم اوخوری نو په دې کښې د وعيد هيڅ خبره نشته، حال دا چه په حديث کښې وعيد ذکر دې ﴿فتد بر وتامل فان هذه الترجمة دقيقة مشكلة لاجل اختلاف النسخ﴾ په صحيح بخاری کښې د ترجمې عبارت داسې دې ﴿باب من حلف بملة سوى الاسلام﴾

[۳۲۵۷](۱) حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ سَلَّامٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو قِلَابَةَ، أَنَّ ثَابِتَ بْنَ الضَّحَّاكِ، أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ بَايَعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ حَلَفَ بِمِلَّةٍ غَيْرِ مِلَّةِ الْإِسْلَامِ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ، وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ عُذِّبَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَيْسَ عَلَى رَجُلٍ نَذْرٌ فِيمَا لَا يَمْلِكُهُ".

دابوقلابة نه روايت دې فرمائي چه ثابت بن الضحاك راته وئيلی دی چه دنبی عليه السلام سره مې دونې دلاندې بيعت کړې وو اونبی عليه السلام فرمائيلي رو څوک چه داسلام نه علاوه په بل دين کښې دداخليدلو دپاره قسم اوخوري اودده قسم په دروغه وي نودې به داسې شي لکه څرنګه چه ده وئيلي دي(اسلام نه به خارج شي او څوک چه خپل ځان په يوشی باندې مړکړي عذاب به ورکولې شی ده ته په ورځ دقيامت په دغه شي باندې اونذر پوره کول نشته دې په هيڅا باندې په هغه څه کښې کوم چه دده په اختيارکښې نه دي.

[۳۲۵۸](۲) حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ يَعْنِي ابْنَ وَاقِدٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَلَفَ، فَقَالَ: إِنِّي بَرِيءٌ مِنَ الْإِسْلَامِ، فَإِنْ كَانَ كَاذِبًا، فَهُوَ كَمَا قَالَ، وَإِنْ كَانَ صَادِقًا، فَلَنْ يَرْجِعَ إِلَى الْإِسْلَامِ سَالِمًا".

عبدالله بن بريده دخپل پلارنه روايت کوی فرمائی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلی دی چاچه قسم اوکړو په دې خبره چه زه بيزاره يم داسلام نه نرکه چرې دې دروغژن وي نودې داسې شو لکه څنګه چه ده وئيلی دی اوکه چرې رښتونې وي نواسلام کښې په سلامتيا سره نه شی داخليدلې.

(۱): صحيح البخاري/الجنائز ۸۳ (۱۳۶۳)، الأدب ٤٤ (٦٠٤٧)، ۷۳ (٦١٠٥)، الايمان ۷ (٦٦٥٢)، صحيح مسلم/الإيمان ٤٧ (۱۱۰)، سنن الترمذي/الأيمان ۱٥ (۱٥٤۳)، سنن النسائي/الأيمان ٦ (۳۸۰۱)، سنن ابن ماجه/الكفارات ۳ (۲۰۹۸)، (تحفة الأشراف: ۲۰٦۲، ۲۰٦۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۳۳، ۳٤) (صحيح)

(۲): سنن النسائي/الأيمان ۷ (۳۸۰۳)، سنن ابن ماجه/الكفارات ۳ (۲۱۰۰)، (تحفة الأشراف: ۱۹٥۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/۳٥٥، ۳٥٦) (صحيح)

بَابُ الرَّجُلِ يَحْلِفُ أَنْ لَا يَتَأَدَّمَ

د ترکارئ په نه خوړلو باندې د قسم کولو بيان

او په بعض نسخو کښې ﴿ ان لا يأتدم ﴾ دې، او موافق د قياس هم دا دې لکه چه په کتاب الطهارة ﴿ ان تتزر ﴾ ﴿ او تاتزر ﴾ په تحقيق کښې تير شوې دی، په صحيح بخاری کښې هم داسې دی﴿ اذا حلف ان لاياتدم ﴾ دا د ادام نه اخستلې شوې دې چه د هغې معنی د ترکارئ ده.

[۳۲۵۹](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْعَلَاءِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَضَعَ تَمْرَةً عَلَى كِسْرَةٍ، فَقَالَ: هَذِهِ إِدَامُ هَذِهِ".

ديوسف بن عبدالله نه روايت دې فرمائی چه مانبی ﷺ اوليدو چه دډوډی په يوه قطره باندې ئې کجوره اېښودلې وه او وئيل ئې چه دا ددې ترکارې ده. دا حديث هارون بن عبدالله بيان کړې دې.

الكلام على الحديث من حيث الفقه :

قوله:﴿ رايت النبیﷺ وضع تمرة على كسرة فقال هذه ادام هذه ﴾ يعنی يو کرت رسول اللهﷺ په لاس مبارک کښې د ډوډئ ټکړه اخستلو سره په هغې باندې کهجوره کيخودله او وې فرمائيل او وې فرمائيل دا د دې ډوډئ ترکاری ده. يعنی د ضرورت په وخت کښې د کهجورې نه د ترکارئ کار اخستلې کيدې شی، د رسول اللهﷺ مقصد مسئله بيانول نه دی، پاتې شوه دا خبره چه مسئله څه ده پس پيژندل پکار دی چه په دې کښې د امام محمدرحمه الله او شيخينو اختلاف دې، شيخين فرمائی: الادام ما يصطبغ به الخبز، اذا اختلط به كخل وزيت، لا اللحم والبيض، يعنی ترکاری هغه څيز دې چه کله ډوډئ د هغې سره اولګولې شی نو ډوډئ د هغې په رنګ کښې رنګ شی لکه سرکه او د زيتونو تيل، او د امام محمدرحمه الله رائې دا ده چه : الادام ما يوكل مع الخبز غالبا........ يعنی کوم څيز چه عام طور سره د ډوډئ تابع کولو سره خوړلې شی هغه ادام دې که ډوډئ پکښې رنګ شی او که نه شی، لهذا کوم څيز چه عام طور سره ځانله خوړلې شی مستقلا لکه تمر او زبيب او بطيخ وسائر الفواكه ليس اداما، او که په څه مقام کښې په دې ميوو کښې يو ميوه تبعا للخبز خوړلې شی نو په هغه مقام کښې به ورته ادام وئيلې شی د عرف اعتبار کولو سره، كذا فی الدر المختار، علامه عينیرحمه الله فرمائی : ويقول محمد قالت الائمة الثلاثة الشافعی ومالک واحمد. (من الابواب والتراجم)

دمذاهبو د دې بيان نه معلومه شوه چه د ډوډئ دپاره تمر په ائمه اربعه کښې د چا په نزد هم ادام نه دې، ځکه چه عربو کښې کهجورې غالبا مستقلا خوړلې شی، او په دې کښې ډوډئ هم نه شی رنګ کيدلې، لهذا د حديث جواب هم هغه دې کوم چه پورته په شرح د حديث کښې مونږ ليکلې دې. والحديث اخرجه الترمذی قاله المنذری

---

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٨٥٤) ويأتي هذا الحديث في الأطعمة (٣٨٣٠) (ضعيف)

[۳۲۶۰] ([1]) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي يَحْيَى، عَنْ يَزِيدَ الْأَعْوَرِ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، مِثْلَهُ.

بريده بن الاعور ديوسف بن عبد الله بن سلام نه دتيرشوی روايت په شان روايت بيان کړې دې.

بَابُ الِاسْتِثْنَاءِ فِي الْيَمِينِ

په قسم کښې د ان شاء الله ويلو بيان

[۳۲۶۱] ([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ، فَقَالَ: إِنْ شَاءَ اللَّهُ، فَقَدِ اسْتَثْنَى".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام اوفرمائيل چاچه په کوم کارباندې قسم اوکړو اوبيا ئې انشاء الله اووئيل نوده دخپل قسم نه استثناء وکړله.

قوله: ﴿ من حلف على يمين فقال ان شاء الله فقد استثنى ﴾ د يمين اطلاق کله په محلوف عليه باندې هم کيږی مجازا لکه چه په دې حديث کښې دی، يعنی کوم سړې چه په يو خبره باندې قسم کولو سره ان شاء الله اوائی نو هغه به نه حانث کيږی په دې شرط چه دا استثناء يعنی ان شاء الله وئيل متصلا وی، د دې اتصال د قيد بيان روستو په ﴿ باب الحالف يستثنى بعد ما يتكلم ﴾ کښې را روان دې. والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

[۳۲۶۲] ([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، وَمُسَدَّدٌ، وَهَذَا حَدِيثُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَلَفَ فَاسْتَثْنَى، فَإِنْ شَاءَ رَجَعَ، وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ غَيْرَ حِنْثٍ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام اوفرمائيل چاچه په کوم کارباندې قسم اوکړو اوبيا ئې انشاء الله اووئيل نوده دخپل قسم نه استثناء وکړله نوکه دده خوښه وي نوخپل قسم دې پوره کړي اوکه خوښه ئې وي نه دې پوره کوي اودې به په قسم کښې دروغژن نه وي.

بَابُ مَا جَاءَ فِي يَمِينِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مَا كَانَتْ

د نبی عليه السلام د قسم بيان

[۳۲۶۳] ([4]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "أَكْثَرُ مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْلِفُ، بِهَذِهِ الْيَمِينِ: لَا وَمُقَلِّبِ الْقُلُوبِ".

---

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٨٥٤) (ضعيف)

[2]): سنن الترمذي/الأيمان ٧ (١٥٣١)، سنن النسائي/الأيمان ١٨ (٣٨٢٤)، ٣٩ (٣٨٥٩)، سنن ابن ماجه/الكفارات ٦ (٢١٠٦)، (تحفة الأشراف: ٧٥١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٦، ١٠، ٤٨، ٤٩، ٦٨، ١٢٦، ١٢٧، ١٥٣)، دي/ النذور ٧ (٢٣٨٨) (صحيح)

[3]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٧٥١٧) (صحيح)

[4]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٥٠٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/القدر ١٤ (٦٦١٧)، والأيمان ٣ (٦٦٢٨)، والتوحيد ١١ (٧٣٩١)، سنن الترمذي/الأيمان ١٢ (١٥٤٠)، سنن النسائي/الأيمان ١ (٣٧٩٣)، سنن ابن ماجه/ الكفارات (٢٠٩٢) مسند احمد (٢/٢٦، ٦٧، ٦٨، ١٢٧) (صحيح)

دعبدالله بن عمر ﷺ نه روايت دي فرمائي چه د نبی ﷺ قسم به اکثر داسې وو" «لا، ومقلب القلوب» " يعنی دزړونوپه بدلونکی باندې مې دې قسم وي.

[۳۲٦٤]( ) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ شُمَيْخٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اجْتَهَدَ فِي الْيَمِينِ، قَالَ: وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي الْقَاسِمِ بِيَدِهِ".

دابوسعيد خدري ﷺ نه روايت دي فرمائي چه کله به نبی ﷺ په قسم کښې تاکيد کولو نوداسې به ئې فرمائيل" «والذي نفس أبي القاسم بيده» " زمادې قسم وي په هغه ذات دچاپه لاس کښې چه دابوالقاسم روح دې.

[۳۲٦٥]( ) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ، أَخْبَرَنِي زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: "كَانَتْ يَمِينُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذَا حَلَفَ، يَقُولُ: لَا، وَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ".

محمد بن هلال دخپل پلار نه روايت کوی فرمائي چه دابوهريره ﷺ نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې کله چه به نبی ﷺ قسم کولونوداسې به ئې فرمائيل" «لا، وأستغفر الله» " يعنی داسې نه ده دالله تعالى نه بخښنه غوارم.

يعنی رسول الله ﷺ به زيات تر په کومو الفاظو باندې قسم کولو، د باب د ړومبی حديث نه معلوميږی چه هغه لفظ ﴿ لاومقلب القلوب ﴾ دې او په دريم حديث کښې ﴿ لا واستغفر الله ﴾ په ﴿ لا ومقلب القلوب ﴾ کښې دوه احتمالات دی يودا چه لا زائد ده او دويم دا چه د لا تعلق د مضمون سابق سره دې يعنی د کلام دوران کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل: داسې نه ده ﴿ومقلب القلوب ﴾، په دې صورت کښې به په لا باندې سکته کول وی، او په ﴿ لا واستغفر الله ﴾ کښې دا خبره متعين ده چه دلته مقسم به محذوف دې يعنی ﴿ لا والله، استغفر الله ﴾ او د باب په دويم حديث کښې دا دی چه کله به رسول الله ﷺ په څه خبره باندې مبالغه کولو سره قسم کولو نو داسې به ئې فرمائيل ﴿ لا والذی نفس ابی القاسم بيده ﴾ څلورم حديث دې ﴿قال دلهم وحدثنيه ايضا الاسود بن عبدالله بن عاصم بن لقيط ان لقيط بن عاصم﴾

[۳۲٦٦]( ) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَيَّاشٍ السَّمَعِيُّ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ دَلْهَمِ بْنِ الْأَسْوَدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَاجِبِ بْنِ عَامِرِ بْنِ الْمُنْتَفِقِ الْعُقَيْلِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمِّهِ لَقِيطِ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ دَلْهَمٌ، وَحَدَّثَنِيهِ أَيْضًا الْأَسْوَدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ لَقِيطٍ، أَنَّ لَقِيطَ بْنَ عَامِرٍ خَرَجَ وَافِدًا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَقِيطٌ: فَقَدِمْنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ حَدِيثًا فِيهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَعَمْرُ إِلَهِكَ".

عاصم بن لقيط دخپل پلار نه روايت کوی فرمائي چه لقيط بن عامر په يووفد کښې نبی ﷺ ته لاړو لقيط وائي کله چه مونږ نبی ﷺ ته ورسيدو......بيا راوی يواوږد حديث

---

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٠٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٣، ٦٦) (ضعيف)

[2]: سنن ابن ماجه/الكفارات ١ (٢٠٩٣)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٠٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٨٨) (ضعيف)

[3]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١١٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/١٢) (ضعيف)

ذکرکړو په هغې کښې وو چه نبی ﷺ اوفرمائیل" لَعَمر إلهك " یعنی ستا په حق معبود باندې دې زما قسم وي.

د سند تحقیق :

دلهم بن الاسود کوم چه د سند حدیث راوی دې هغه دا حدیث په دوه طریقو سره روایت کوی، ړومبئ طریقه دا ده دلهم بن الاسود عن ابیه عن عمه لقیط بن عامر، یعنی دلهم روایت کوی د خپل پلار اسود نه او اسود روایت کوی د خپل ترهٔ لقیط بن عامر نه.

او دویم طریق دا دې دلهم بن الاسود عن ابیه عن عاصم بن لقیط عن لقیط بن عاصم یعنی دلهم روایت کوی د اسود نه او اسود روایت کوی د عاصم بن لقیط نه او عاصم روایت کوی د لقیط بن عاصم نه، خو حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه ما سره چه کوم د رجال کتابونه موجود دی په هغې کښې ما لقیط بن عاصم هیڅ یو راوی بیا موندلې نه دې، پس کیدې شی چه دا تحریف وی اوصحیح لقیط بن عامر وی وهولقیط بن صبرة بن عامر، والله تعالیٰ اعلم

﴿ خرج وافدا الی النبی ﷺ الخ ﴾

لقیط وائی چه زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې قاصد جوړیدو سره لاړم، وړاندې مصنف رحمه الله فرمائی اختصاراً چه د دې نه پس لقیط حدیث ذکر کړو چه په هغې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ لعمر الهک ﴾ ستا د معبود په بقاء باندې قسم، د عمر نه بقاء مراد ده کوم چه د الله پاک صفت دې، لکه په قرآن کریم کښې دی ﴿ لعمرک انهم لفی سکرتهم یعمهون ﴾ اوس دا چه په ﴿ لعمر الله یا لعمر الهک ﴾ سره یمین منعقد کیږی یا نه؟ جواب دا دې چه د احنافو او مالکیانو په نزد منعقد کیږی، او امام شافعی رحمه الله فرمائی چه که هغه دا د یمین په نیت اووې نو بیا خو به یمین وی ګینې نه به وی، او د امام احمد رحمه الله نه دواړه روایتونه دی، ﴿ کالمذهبین ﴾ كما في النهل (كذا في هامش البذل)

فائده : امام بخاری رحمه الله هم داسې باب قائم کړې دې ﴿ باب کیف کان یمین النبی ﷺ ﴾ حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی، یعنی هغه الفاظ په کوم سره چه به رسول الله ﷺ همیشه قسم خوړلو یا اکثر، او مجموعه د هغې کومه چه په هغه باب کښې مذکور ده څلور الفاظ دی، ۱: ﴿ والذی نفسی بیده ﴾ او هم دغه شان ﴿ والذی نفس محمد بیده ﴾ په دې کښې د بعض په شروع کښې لا ده او د بعض په شروع کښې لفظ اما او د بعض په شروع کښې لفظ ایم. ۲: ﴿ لا ومقلب القلوب ﴾ ۳: والله . ۴: ورب الکعبة والاول اکثرها ورودا آهـ.

او حافظ ابن قیم رحمه الله یو ځائې کښې لیکلې دی چه د رسول الله ﷺ نه قسم خوړل د اتیا نه په زیاتو ځایونو کښې منقول دی فی اکثر من ثمانین موضعا..... وامره الله تعالی بالحلف علی تصدیق ما اخبر به فی ثلاثة مواضع : فی سورة یونس وسبا والتغابن آهـ(الابواب والتراجم مختصرا)

بَابُ الرَّجُلِ يُكَفِّرُ قَبْلَ أَنْ يَحْنَثَ

باب: په بيان دهغه كس كښي چه كفاره وركړي مخكښې د حانث كيدو نه

بَابُ الْحِنْثِ إِذَا كَانَ خَيْرًا

كله چه خير بل طرف ته وى د قسم ماتول پكار دى

[٣٢٧٦]() حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا غَيْلَانُ بْنُ جَرِيرٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنِّي وَاللَّهِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ، فَأَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا، إِلَّا كَفَّرْتُ عَنْ يَمِينِي، وَأَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ، أَوْ قَالَ: إِلَّا أَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ، وَكَفَّرْتُ يَمِينِي".

ابوبرده دخپل پلار نه روايت كوى فرمائى نبى ﷺ فرمائيلى دى كله چه زه په يوه خبره قسم وكړم اوخيردهغې نه خلاف وي نوزه خپل قسم ماتوم اوكفاره وركوم اوهغه شي اختياروم په كوم كښې چه خيروي.

﴿ عن ابى بردة عن ابيه ان النبىﷺ قال انى والله ان شاء الله لا احلف على يمين فارى غيرها خيرا منها الا كفرت بيمينى واتيت الذى هو خير ﴾

رسول اللهﷺ فرمائى چه والله زما دا طريقه ده چه كه زه په يو څيز باندې قسم اوخورم او بيا د هغې غير لره د هغې نه غوره اوګنړم نو زه د خپل يمين كفاره ادا كوم او هغه كار كوم چه خير وى هغه كوم. په دې كښې د راوى شك دې چه يا خو رسول اللهﷺ داسې اوفرمائيل او يا ئې داسې فرمائيلي وو چه زه هغه كار خير كوم او د قسم كفاره ادا كوم (په دې دواړو كښې د تقديم او تاخير فرق دې) په رومبئ جمله كښې د يمين كفاره اول ذكر شوې ده او د هغه كار خير كول روستو ذكر شوي دى، او په دويمه جمله كښې ترتيب د دې برعكس دې.

[٣٢٧٧]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ، وَمَنْصُورٌ يَعْنِي ابْنَ زَاذَانَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ سَمُرَةَ، إِذَا حَلَفْتَ عَلَى يَمِينٍ، فَرَأَيْتَ غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا، فَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ، وَكَفِّرْ يَمِينَكَ" قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ يُرَخِّصُ فِيهَا الْكَفَّارَةَ قَبْلَ الْحِنْثِ.

دعبدالرحمن بن سمره ﷺ نه روايت دې فرمائى چه رسول الله قه راته اوفرمائيل اې عبدالرحمن بن سمره كله چه په يوه خبره قسم اوكړو اوخير دهغې نه مخالف وو نو ته هم هغه اختيار كړه اودخپل قسم كفاره اداكړه. إمام ابوداود وئيلى دى چه امام احمد بن حنبل دحانث كيدونه مخكښې د قسم كفاره اداكول درست ګنړي.

---

[1]: صحيح البخاري/الخمس ١٥ (٣١٣٣)، المغازي ٧٤ (٤٣٨٥)، الصيد ٢٦ (٥٥١٧)، الأيمان ١ (٦٦٢١)، ٤ (٦٦٤٩)، ١٨ (٦٦٨٠)، كفارات الأيمان ٩ (٦٧١٨)، ١٠ (٦٧١٩)، التوحيد ٥٦ (٧٥٥٥)، صحيح مسلم/الأيمان ٣ (١٦٤٩)، سنن النسائي/الأيمان ١٤ (٣٨١١)، سنن ابن ماجه/الكفارات ٧ (٢١٠٧)، (تحفة الأشراف: ٩١٢٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩٨/٤، ٤٠١، ٤٠٤، ٤١٨) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الأيمان ١ (٦٦٢٢)، كفارات الأيمان ١٠ (٦٧٢٢)، الأحكام ٥ (٧١٤٦)، ٦ (٧١٤٧)، صحيح مسلم/الأيمان ٣ (١٦٥٢)، سنن الترمذي/الأيمان ٥ (١٥٢٩)، سنن النسائي/ آداب القضاة ٥ (٥٣٨٦)، (تحفة الأشراف: ٩٦٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦١/٥، ٦٢، ٦٣)، دي/النذور ٩ (٢٣٩١) (صحيح)

تقديم الكفارة على الحنث :

او دا مسئله خپله مختلف فيه ده يعنى د كفاره قبل الخنث جواز او عدم جواب كوم چه مصنف رحمه الله وړاندې بيانوی، پس فرمائی ﴿ قال ابوادؤد: سمعت احمد يرخص فيها الكفارة قبل الحنث ﴾ د باقي ائمه په مذاهبو كښې دا دی چه د امام مالک رحمه الله مسلک هم دا دې كوم چه د امام احمد رحمه الله دې، يعنى د كفاره قبل الحنث جواز مطلقا، او د امام شافعي رحمه الله په نزد د كفاره ماليه تقديم خو جائز دې او د غير ماليه يعنى كفاره بالصوم د دې تقديم جائز نه دې، او د احنافو په نزد مطلقا جائز نه دې.

د دې نه پس پيژندل پكار دی چه كفاره د قسم كوم چه د قرآن كريم په دې آيت كريمه كښې ذكر ده ﴿ لا يواخذكم الله باللغو فى ايمانكم ولكن يواخذكم بما عقدتم الايمان فكفارته اطعام عشرة مساكين من اوسط ما تطعمون اهليكم او كسوتهم او تحرير رقبة، فمن لم يجد فصيام ثلاثة ايام ﴾ دا ټول څلور څيزونه شو، ۱: لسو مسكينانو ته خوراک وركول، ۲: يا د هغوی جامه ۳: اعتاق او په دې درې واړو كښې په يو باندې هم د قدرت نه كيدو په صورت كښې درې روژې.

د احنافو په نزد د وجوب كفاره دپاره سبب حنث دې په دې وجه د هغوی په نزد تقديم الكفارة على الحنث جائز نه ده، او د شوافعو وغيره په نزد د وجوب كفاره سبب خپله يمين دې او حنث ئې شرط دې، وفى شرح السنة : ﴿ وانما يجوز تقديم العتق او الاطعام او الكسوة كما يجوز تقديم الزكوة على الحول، ولا يجوز تعجيل صوم رمضان قبل وقته انتهى ﴾ (بذل مختصرا)[1]

[۳۲۷۸][2] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ، نَحْوَهُ. قَالَ: فَكَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ، ثُمَّ ائْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ، قَالَ أَبُودَاوُد: أَحَادِيثُ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، وَعَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ رُوِيَ عَنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ فِي بَعْضِ الرِّوَايَةِ الْحِنْثُ قَبْلَ الْكَفَّارَةِ، وَفِي بَعْضِ الرِّوَايَةِ الْكَفَّارَةُ قَبْلَ الْحِنْثِ.

حسن دعبدالرحمن بن سمره نه دتيررو ايت په شان روايت نقل كړې دن البته په دې روايت كښې داسې دي چه اول دقسم كفاره ادا كړه اوددې نه پس بيا دخير دغه كار اختيار كړه.

ابوداود وائي چه ابوموسى اشعرى رضي الله عنه، علي بن حاتم، اود ابوهرير رضي الله عنه روايتونه كوم چه ددې باب متعلق دي ددې روايتونو نه په بعضو كښې دحانث كيدو نه مخكښې دقسم كفاره اداكول منقول دي او په بعضې رواياتو كښې حانث كيدل د كفارې نه مخكښې دي.

بَابٌ فِي الْقَسَمِ هَلْ يَكُونُ يَمِينًا

باب: آيا د قسم لفظ په يمين كښې داخل دې؟

تفصيل مذاهب الائمة فى مسئلة الباب :

يعنى په لفظ قسم سره يمين منعقد كيږی يا نه لكه چه دا اوئيلې شی چه ﴿ يا اقسمت بالله ﴾ ځان پوهول پكار دی چه د حلف بلفظ القسم دوه صورتونه دی.

[1] ونحن نقول كما لا يجوز تقديم الزكوة علي النصاب كذا لا يجوز تقديم الكفارة علي الحنث. ۱۲

[2] انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۶۹۵) (صحيح)

١: مجردا عن لفظ الجلالة يعنى بغير د لفظ دالله نه چه صرف داسې اوائى ﴿ اقسمت ﴾.
٢: مقرونا بلفظ الجلالة لکه ﴿ اقسمت بالله ﴾
د احنافو مسلک خو دا دې چه په دې دواړو صورتونو کښې يمين منعقد کيږي، او امام خطابىؒ د امام شافعیؒ او مالکؒ مذهب دا ليکلې دې چه په رومبی صورت کښې نه منعقد کيږي صرف په دويم صورت کښې منعقد کيږي. (بذل) د احنافو دا مسلک په بذل کښې د بدائع نه نقل کړې شوې دې او دا چه د امام زفرؒ مسلک په دې کښې د امام شافعیؒ د مسلک موافق دې، او حافظ د ابن المنذر نه چه کوم مذاهب ائمة نقل کړی هغه داسې دی چه لفظ ﴿ اقسمت ﴾ که د هغې سره ﴿ بالله ﴾ اوئيلې شى يا نه، که د يمين قصد وى اوکه نه بهر صورت يمين دې، وبه قال النخعى والثورى والکوفيون، او د امام مالکؒ مسلک ئې دا نقل کړې دې چه ﴿ اقسمت بالله ﴾ خو بهر حال يمين دې او صرف لفظ ﴿ اقسمت ﴾ يمين نه دې مګر په نيت سره، او د امام شافعیؒ مسلک دا ليکلې شوې دې چه صرف لفظ اقسمت خو په هيڅ حال کښې يمين نه دې يعنى اګر که نيت هم اوکړی، او لفظ ﴿ اقسمت بالله ﴾ دا يمين دې د نيت په صورت کښې ګينې نه دې، او د اسحق بن راهويه په نزد مطلقا يمين نه دې، او د امام احمدؒ هغوى په دې کښې دوه اقوال ذکر کړی دی يو دا چه مطلقا يمين دې د احنافو په شان، دويم دا چه د نيت په صورت کښې يمين دې ګينې نه دې د مالکيانو په شان. (الابواب والتراجم)

[٣٢٦٧](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ أَبَا بَكْرٍ أَقْسَمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تُقْسِمْ".

دعبدالله بن عباس نه روايت دې فرمائى چه ابوبکرصديق رضی الله عنه په نبی عليه السلام باندې قسم اوکړو نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل داسې قسم مه کوه.

[٣٢٦٨](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، قَالَ ابْنُ يَحْيَى: كَتَبْتُهُ مِنْ كِتَابِهِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُ، "أَنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنِّي أَرَى اللَّيْلَةَ، فَذَكَرَ رُؤْيَا، فَعَبَّرَهَا أَبُو بَكْرٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَصَبْتَ بَعْضًا، وَأَخْطَأْتَ بَعْضًا، فَقَالَ: أَقْسَمْتُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، بِأَبِي أَنْتَ لَتُحَدِّثَنِّي مَا الَّذِي أَخْطَأْتُ؟ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تُقْسِمْ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائى چه يوسړې دنبى عليه السلام په خدمت کښې حاضرشو او عرض ئې اوکړوچه مانن شپه يوخوب اوليدو اوخوب ئې بيان کړو ابوبکر رضی الله عنه دهغې

---

1): صحيح البخاري/ التعبير ١١ (٧٠٠٠)، ٤٧ (٧٠٤٦)، صحيح مسلم/ الرؤيا ٣ (٢٢٦٩)، سنن ابن ماجه/ التعبير ١٠ (٣٩١٨)، (تحفة الأشراف: ٥٨٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٩/١) دي/ النذور ٨ (٢٣٨٩)، ويأتي هذا الحديث في السنة (٤٦٣٣) (صحيح)

2): سنن الترمذي/الرؤيا ٩ (٢٢٩٣)، سنن ابن ماجه/الرؤيا ١٠ (٣٩١٨)، (تحفة الأشراف: ٢٢٩٣، ١٣٧٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/التعبير ٤٧ (٧٠٤٦)، صحيح مسلم/الرؤيا ٣ (٢٢٦٩)، سنن الدارمي/الرؤيا ١٣ (٢٢٠٢) ويأتي هذا الحديث في السنة (٤٦٣٢) (صحيح)

تعبيربيان کړونبی ﷺ اوفرمائيل اې صديقه يوڅه تعبيردې ريښتيادې اويوڅه خطا دي ابوبکر ﷛ عرض اوکړو اې دالله رسوله زمامور پلاردې په تاباندې قربان شي. خامخا به بيانوې راته هغه په کوم کښې چه خطا شوې يم نبی ﷺ ورته اوفرمائيل قسم مه کوه.

﴿عن ابن عباس ﷠ قال کان ابوهريرة يحدث ان رجلا اتی رسول اللهﷺ فقال انی اری الليلة فذکر رؤيا فعبرها ابوبکرفقال النبیﷺ اصبت بعضا واخطاءت بعضافقال اقسمت عليک يارسول اللهﷺ﴾

مضمون د حديث :

ابوهريرة ﷛ فرمائی چه يو سړې د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو چه ما د شپې خوب ليدلې دې (مصنف﷫ خو دلته دا خوب اختصارا حذف کړې دې دا خوب په ابوداؤد کښې په ﴿ باب فی شرح السنة ﴾ کښې په باب فی الخلفاء کښې داسې راغلې دې. ﴿فقال انی اری الليلة ظلة ينطف منها السمن والعسل فاری الناس يتکففون بايديهم فالمستکثر والمستقل الحديث ﴾ ډير اوږد خوب دې چه د هغې د شروع حصه دا ده چه يو سړی عرض اوکړو چه د شپې ما په خوب کښې د وريځې يو ټکړه اوليده چه د هغې نه غوړی او شهد راسسيدل او ما خلقو ته کتل چه هغوی دا راسسيدونکی څيزونه په خپلو لاسونو کښې اخلی بعض په ډير مقدار کښې او بعض په لږ مقدار کښ، صديق اکبر ﷛ رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو يا رسول اللهﷺ د دې خوب د بيانولو ماته اجازت راکړئ او بيا هغوی د دې تعبير بيان کړو او تپوس ئې اوکړو يا رسول اللهﷺ ما صحيح تعبيرورکړو که غلط؟ نو په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ اصبت بعضا واخطاءت بعضا ﴾ چه څه حصه د تعبير صحيح ده او څه غلطه، په دې باندې صديق اکبر ﷛ عرض اوکړو يا رسول اللهﷺ زه تاسو ته قسم درکوم چه تاسو ماته اوايئ چه ما څۀ غلطی اوکړه؟ رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ لا تقسم ﴾ [1]

حديث الباب استدل به الفريقان :

امام خطابی﷫ فرمائی چه دې واقعې لره په فريقينو کښې هر يو خپل دليل وئيلې دې، شوافعو (چه د هغوی په نزد د دې نه قسم نه کيږی) په دې طريقه چه په حديث کښې د ابرار مقسم حکم وارد شوې دې چه که په يو مسلمان باندې د هغه دويم رور قسم اوخوری نو هغه له پکار دی چه د هغه قسم پوره کړی او حالف دې حانث نه کړی) اوګورئ دلته رسول اللهﷺ چه صديق اکبر ﷛ په کوم څيز باندې قسم خوړلې وو چه تاسو بيان کړئ خو رسول اللهﷺ بيان نه کړو، نو که په ﴿ اقسمت عليک ﴾ سره قسم منعقد کيدې نو صديق اکبر به حالف او مقسم وې او رسول اللهﷺ به د هغه ابرار فرمائيلې وې، حال دا چه رسول اللهﷺ د هغه ابرار نه دې فرمائيلې، معلومه شوه چه صديق اکبر مقسم نه وو، دا طريق استدلال خو شو د شوافعو، او د احنافو طريق استدلال دا دې چه رسول اللهﷺ صديق اکبر ته فرمائی چه لا تقسم چه قسم ولې خورئ زه ئې درته نه وايم، معلومه شوه چه قسم شوې وو.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی وابن ماجة، قاله المنذری

[1] يعنی قسم ولې خورې فعلم من ان يمين کما هو مسلك الحنفية واجاب عنه الشافعي بوجه اخر بانه عليه السلام امر بابرار المقسم فلوکان قسما لابره) يعنی قسم مه خوره او بيا رسول اللهﷺ د خطاء او صحيح تعيين او نه فرمائيلو.

[٣٢٦٩](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، لَمْ يَذْكُرِ الْقَسَمَ زَادَ فِيهِ، وَلَمْ يُخْبِرْهُ.

ابن عباس به د نبی ﷺ نه دا روایت نقل کړې دې او د قسم ذکر په کښې نشته او په کښې دا اضافه ده چه نبی ﷺ ورته د غلطۍ خبرورنکړو.

بَابُ فِيمَنْ يَحْلِفُ كَاذِبًا مُتَعَمِّدًا

باب: په قصد سره د دروغ قسم خوړو نکو بیان

[٣٢٧٥](٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ أَبِي يَحْيَى، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: "أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَأَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّالِبَ الْبَيِّنَةَ، فَلَمْ تَكُنْ لَهُ بَيِّنَةٌ، فَاسْتَحْلَفَ الْمَطْلُوبَ، فَحَلَفَ بِاللَّهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَلَى، قَدْ فَعَلْتَ، وَلَكِنْ قَدْ غُفِرَ لَكَ بِإِخْلَاصِ قَوْلِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: يُرَادُ مِنْ هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّهُ لَمْ يَأْمُرْهُ بِالْكَفَّارَةِ.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائي چه دوه کسانو نبی ﷺ ته جګړه راوړله نو نبی ﷺ د دعوي کونکي نه ګواهان طلب کړل چونکه دهغه سره ګواهان نه وو نو په دې وجه ئې قسم ورکړو هغه سړی ته په چا باندې چه دعوي شوي وه، ده په الله تعالی باندې قسم اوکړو په هغه الله تعالی چه دهغه نه علاوه بل معبود نشته، نبی ﷺ اوفرمائیل یقینا تا دا کار کړې دې لیکن الله تعالی تا ته معافي وکړله ستا د اخلاص په وجه ځکه چه تا په اخلاص سره لا إله إلا الله اووئیل. امام ابوداود وائیلي دي ددې حدیث نه دامعلومیږي چه نبی ﷺ دغه کس ته دکفاري ورکولو حکم ونکړو.

﴿عن ابن عباس رضي الله عنهما ان رجلین اختصما الی النبی ﷺ﴾

یعنی دوه سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د یو څیز په باره کښې په جهګړه راغلل، د مدعی سره چونکه بینه نه وو په دې وجه رسول الله ﷺ د مدعی علیه نه قسم طلب کړو نو هغه قسم په دې الفاظو سره اوخوړلو، ﴿ بالله الذی لا اله الا هو ﴾ نو رسول الله ﷺ د هغه د قسم دا الفاظ اوریدو سره اوفرمائیل ﴿ بلی قد فعلت ﴾ چه د کوم څیز په نه کیدو باندې تاسو قسم کوئ تا هغه کار ضرور کړې دې لهذا ته په دې قسم کښې دروغژن ئې، خو ستا دا لغزش او ګناه د لا اله الا الله د اخلاص د برکت د وجې نه معاف کړې شوه.

استفید بالحدیث امران:

په دې باندې علامه سندی رحمه الله په فتح الودود کښې لیکی: ظاهر دا ده چه رسول الله ﷺ د هغه سړی یمین لره په ذریعه د وحی یا الهام باطلولو سره ددې خلاف فیصله اوفرمائیله، او د دې نه دا خبره هم معلومه شوه چه کله کله به رسول الله ﷺ د وحی په ذریعه د باطن د حال اعتبار کولو سره د ظاهر خلاف فیصله فرمائیله، او هغه چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل:

---

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥٨٣٨) (ضعيف)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٥٤٣١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٥٣، ٢٨٨، ٢٩٦، ٣٢٢، ٢/٧٠) ويأتي هذا الحديث في الأقضية (٣٦٢٠) (صحيح)

﴿ولكن غفر الله لک﴾ د دې نه مراد د حلف كاذب د ګناه معافي ده ففيه دليل على ان الكبائر تغفر بكلمة التوحيد آهـ

﴿قال ابوداؤد : يراد من هذا الحديث انه لم يامره بالكفارة﴾ امام ابوداؤدرحمه الله فرمائي چه د دې حديث نه دا خبره مستفاد كيږي چه رسول الله ﷺ حالف ته د كفارې حكم نه دې وركړې حال دا چه دا يمين يمين غموس وو چه په هغې كښې د امام شافعي رحمه الله په نزد كفاره ده، خو د جمهورو مسلک هم دا دې چه انه لا كفارة فيه، د دې حديث نه دوه فائدې مستفاد شوې كومې چه علامه سندي رحمه الله بيان كړې دي، دريمه فائده دا ده كوم چه مصنف رحمه الله فرمائيلې ده، دلته حضرت په بذل المجهود كښې يو اشكال او بيا د هغې جواب ليكلې دې، اشكال دا چه يمين كاذبه ګناه كبيره ده كوم چه بغير د توبې نه نۀ معاف كيږي، نو د هغه سړي دا كبيره صرف په كلمة د توحيد څنګه معاف شوه څكه چه حسنات صرف مكفر د صغائرو دي نه مطلقا، بيا ئې د دې جواب دا ليكلې دې چه ممكنه ده چه داسې اوئيلې شي چه كله دې سړي ﴿لا اله الا الله﴾ په اخلاص سره اووې نو ګويا هغه پښيمانه شو په خپل كار باندې او پښيمانتيا توبه ده او دا هم ممكنه ده چه اوئيلې شي چه دا سړې د ﴿لا اله الا الله﴾ د وئيلو نه مخكښې مخلص مومن نه وو پس د دې حلف په وخت ئې كلمه توحيد په اخلاص سره اووې نو ګويا هغه د خپل د ايمان تجديد اوكړو نو دې تجديد ايمان د هغه د مخكښې ګناهونو تكفير اوكړو. والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

بَابُ كَمِ الصَّاعُ فِي الْكَفَّارَةِ

په كفارو كښې كوم صاع لره اعتبار دې؟

يعني په كفاره د يمين كښې به څومره غله وركولې شي؟

په كفاره د يمين كښې تفصيل سره د مذاهب ائمة :

وفي الكنز وكفارته تحرير رقبة او اطعام عشرة مساكين كهما في الظهار او كسوتهم بما يستر عامة البدن لقوله تعالى، فكفارته اطعام عشرة مساكين او كسوتهم الآية وكلمة ((او)) للتخيير فكان الواجب احد الاشياء الثلاثة، وقوله كهما في الظهار اى كالاطعام والتحرير في الظهار وقد بيناهما هناک (زيلعي ص ١١٢ ج٣) وفي حاشية الشلبي وان شاء اطعم عشرة مساكين كالاطعام في كفارة الظهار وهي نصف صاع من بر او صاع من تمر او شعير ويجوز ان يغديهم ويعشيهم بخبز إلا انه ان كان بُرًّا لا يشترط فيه الادام وان كان غيره فبادام، ويجزئ في الاطعام كل من التمليک والاباحة آهـ معلومه شوه چه په اطعام كښې دواړه اختيار دې يا خو به هر مسكين ته د صدقة الفطر په مثل يو صاع د شعير وغيره او نصف صاع د غنمو وركولې شي، او يا ورته د تغديه او تعشيه اختيار دې، هم دغه شان د شوافعو وغيره په نزد چه كوم مقدار كفارة د ظهار وغيره وركولې شي هم هغه مقدار دې دلته مسكينانو ته وركړې شي. پس د شوافعو په نزد به هر مسكين ته يو مد د هر يو څيز نه او د امام مالک په نزد نصف صاع يعني دوه مد د هر يو څيز نه، او د امام احمد په نزد من البر مدا ومن غيره مدين كما تقدم في كفارة الظهار.

هم دا مسئله د مصنف رحمه الله په ترجمة الباب کښې ذکر ده په دې وجه هغه مونږ دلته بیان کړه او دا هم ممکنه ده چه د مصنف رحمه الله غرض په ترجمة الباب سره مقدار صاع لره بیانول وی چه د هغې په صاع سره کفاره ادا کړې شی د دې صاع مقدار به څه وی، پس په دې حدیث سره کوم چه مذکور تحت الباب دې معلومه شوه چه د دې مقدار د مُدِّ هشام په اعتبار سره مدین او نصف مد پکار دی، ففی غرض المنصف رحمه الله من الترجمة احتمالان.

[٣٢٧٩](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى أَنَسِ بْنِ عِيَاضٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ حَرْمَلَةَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبٍ بِنْتِ ذُؤَيْبِ بْنِ قَيْسٍ الْمُزَنِيَّةِ، وَكَانَتْ تَحْتَ رَجُلٍ مِنْهُمْ مِنْ أَسْلَمَ، ثُمَّ كَانَتْ تَحْتَ ابْنِ أَخٍ لِصَفِيَّةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ ابْنُ حَرْمَلَةَ: فَوَهَبَتْ لَنَا أُمُّ حَبِيبٍ صَاعًا، حَدَّثَتْنَا عَنِ ابْنِ أَخِي صَفِيَّةَ، عَنْ صَفِيَّةَ: أَنَّهُ صَاعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَنَسٌ: فَجَرَّبْتُهُ، أَوْ قَالَ: فَحَزَرْتُهُ فَوَجَدْتُهُ مُدَّيْنِ وَنِصْفًا بِمُدِّ هِشَامٍ.

دام حبیب بنت ذویب بن قیس نه روایت دې چه هغه په قبیله مزن کښې دبنی اسلم په شاخ کښې دیوکس په نکاح کښې وه اوبیا ئې څه وخت پس دام المومنین صفیه رضی الله عنها د وراره سره نکاح اوکړه، ابن حرمله وئیلی دی چه مونږته ام حبیب یوصاع (پیمانه) راکړې وو اودخپل دویم خاوند نه ئې نقل کړی وو چه هغه به دام المومنین صفیه رضی الله عنها نه روایت کولو چه دغه دنبی علیه السلام صاع وو، انس بن عیاض وئیلی دی ماددې معلومات اوکړو نودا دهشام بن عبدالملک دصاع په مقابله کښې دوه نیم مده وو.

د مد هشام مقدار او د هغې تحقیق :

د دې نه معلومه شوه چه مد هشام د مطلق مد نه لوئې وی. اوس دا چه د دې مقدار به څه وی، د بخاری شریف ترجمه خو دا د ه﴿ باب صاع المدینة ومد النبی صلی الله علیه وسلم وبرکته ﴾ د مد هشام ذکر په هغې کښې نشته خو په موطاء د امام مالک رحمه الله کښې دی ﴿ قال مالک والکفارات کلها وزکاة الفطر وزکاة العشور کل ذلک بالمد الاصغر مد النبی صلی الله علیه وسلم الا الظهار فان الکفارة فیه بالمد الاعظم مد هشام ﴾ آهـ د جمهور علماء کرامو په نزد خو په ټولو کفاراتوکښې د مد مدینه یعنی د مد النبی صلی الله علیه وسلم اعتبار دې او امام مالک رحمه الله هم په ټولو کفاراتو او زکاة فطر وغیره کښې هم دهغه مد اعتبار کړې دې کوم ئې چه په موطاء کښې په مد اصغر سره تعبیر کړې دې خو په کفاره د ظهار کښې هغوی د مد هشام اعتبار کړې دې چه هغې ته مد اعظم وئیلې شی په اوجز کښې حضرت شیخ د علامه باجی نه نقل کړی دی چه زمونږ د اصحابو په دې مقدار کښې اختلاف دې بعض وائی چه یو مد هشام دنبی صلی الله علیه وسلم یو ثلث کم دوه مد دوه برابر وی او یو قول دا دې چه پوره دوه مدو د نبی صلی الله علیه وسلم د مد برابر وی یعنی د هغې پوره دوچند.

(الی آخر ما ذکر فی الاوجز ٣/١٨٩)

[٣٢٨٠](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ خَلَّادٍ أَبُو عُمَرَ، قَالَ: كَانَ عِنْدَنَا مَكُّوكٌ، يُقَالُ لَهُ: مَكُّوكُ خَالِدٍ، وَكَانَ كَيْلَجَتَيْنِ بِكَيْلَجَةِ هَارُونَ، قَالَ مُحَمَّدٌ: صَاعُ خَالِدٍ صَاعُ هِشَامٍ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْمَلِكِ.

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٩٠٣) (ضعيف الإسناد)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٣٣٥) (صحيح)

د محمد بن محمد بن خلاد ابوعمر بیان دي چه ما سره یو مکوک (١) وو هغې ته به دخالد مکوک وئیلي شو هغه د هارون د کیلجه (٢) سره د دوه د کیلجه برابر وو، محمد وائي: د خالد صاع د هشام یعني د ابن عبدالملک صاع دي.

[٣٢٨١](٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ خَلَّادٍ أَبُو عُمَرَ، حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، عَنْ أُمَيَّةَ بْنِ خَالِدٍ، قَالَ: "لَمَّا وَلِيَ خَالِدٌ الْقَسْرِيُّ أَضْعَفَ الصَّاعَ، فَصَارَ الصَّاعُ سِتَّةَ عَشَرَ رِطْلًا، قَالَ أَبُو دَاوُد: مُحَمَّدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ خَلَّادٍ قَتَلَهُ الزِّنْجُ صَبْرًا، فَقَالَ بِيَدِهِ هَكَذَا، وَمَدَّ أَبُو دَاوُدَ يَدَيْهِ، وَجَعَلَ بُطُونَ كَفَّيْهِ إِلَى الْأَرْضِ، قَالَ: وَرَأَيْتُهُ فِي النَّوْمِ، فَقُلْتُ: مَا فَعَلَ اللَّهُ بِكَ، قَالَ: أَدْخَلَنِي الْجَنَّةَ، فَقُلْتُ: فَلَمْ يَضُرَّكَ الْوَقْفُ.

امیه بن خالد وائي کله چه خالد قسري گورنر مقرر شو نوهغوی صاع دوچند کړو، نو یو صاع ١٦ رطل شو، ابوداؤد وائي محمد بن محمد بن خلاد حبشیانو مخې ته اودرولو او قتل ئې کړو، هغوی په لاس (اشاره) سره اووئیل چه داسي (دي وئیلو سره) ابوداؤد خپل لاس خورکړو، او دخپلو دواړو لاسونو تهلی (دننه طرف) ئې زمکې طرف ته کړل، ابوداؤد وائي: ما هغه په خوب کښې اولیدو نو تپوس مې ترې اوکړو چه الله تعالی تاسره څه معامله اوکړه؟ هغوی اووئیل: الله تعالی زه جنت ته داخل کړم، نو ما اووئیل: بیا خو چه حبشیانوته خپلې مخې ته اودرولي اوقتل ئې کړې نوددې خو تاته هیڅ نقصان اونه رسیدو.

بَابٌ فِي الرَّقَبَةِ الْمُؤْمِنَةِ

د مسلمانې وینزې د آزادولو بیان

دکفاره یمین والا رقبه کښې د مومنه قید د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاثه په نزد دې، د احنافو په نزدپه دې کښې د مومنه قید نشته، خو په کفاره دقتل کښې د احنافو په نزد د رقبه مومنه قید شته دې په دې وجه هغه آیت کریمه کوم چه د کفاره قتل په باره کښې دې هغه دایمان په قیدسره مقید دې په خلاف دهغه نص کوم چه دکفاره یمین په باره کښې دې چه هغه مطلق دې قال الله تعالی : او تحریر رقبة..... لهذا مطلق به په خپل اطلاق باندې وی اومقیدپه خپل تقید باندې، او جمهور علماء کرامو په دې مسئله کښې مطلق لره په مقید باندې محمول کړې دې، دا مشهوره اختلافي مسئله ده په کتب اصول فقه کښې هم ذکر شوې ده د﴿ المطلق یجری علی اطلاقه والمقید علی تقییده ﴾ د قاعدې د لاندې.

[٣٢٨٢](٤) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ الْحَجَّاجِ الصَّوَّافِ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ، قَالَ: قُلْتُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، جَارِيَةٌ لِي صَكَكْتُهَا صَكَّةً، فَعَظَّمَ ذَلِكَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: أَفَلَا أُعْتِقُهَا؟ قَالَ: ائْتِنِي بِهَا، قَالَ: فَجِئْتُ بِهَا، قَالَ: أَيْنَ

(١) مکوک د تانبې یا د مسینو یو لوښې دې چه بره خوله ئې لره تنګه وی او لاندې کهلاؤ وی پخوا به پرې خلقو اوبه څکلې او د پیمانه په طور به ئې د تللو او مقدار معلومولو دپاره هم استعمالولو، عام طور به د یو نیم صاع برابر وو، خو د هرې علاقې ددې لوښي غټ والی او وړوکوالی به مقدار کښې په کمې زیاتې هم وو.

(٢) دا هم یوه پیمانه ده.

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٦٠٦) (صحيح)

(٤): انظر حدیث رقم :(٩٣٠)، (تحفة الأشراف: ١١٣٧٨) (صحيح)

اللّٰهُ؟، قَالَتْ: فِي السَّمَاءِ، قَالَ: مَنْ أَنَا؟، قَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ، قَالَ: أَعْتِقْهَا، فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ".

دمعاويه بن حکم سلمي رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه ماعرض اوکړو اې دالله رسوله زما يوه وينځه ده ماوهلې ده، په نبی عليه السلام باندې داخبره ښه ونه لګيده نوپه دې وخت کښې ماعرض اوکړو ايا ازاده ئې کړم؟ هغه راته اوفرمائيل ماته ئې راوله، دې وائی چه داوينځه مانبی عليه السلام ته حاضره کړه هغه ترې تپوس اوکړو الله تعالی چرته دې؟ هغې اووئيل په اسمان کښې د بيا ئې ترې تپوس اوکړو زه څوك يم؟ هغې اووئيل ته دالله رسول ئې نبی عليه السلام اوفرمائيل ازاده ئې کړه ځکه چه دا مومنه ده.

﴿عن معاوية بن الحكم السلمي قال قلت يا رسول الله ﷺ جارية لي صككتها صكة فعظم ذلک علی رسول الله ﷺ﴾

معاويه بن الحکم رضي الله عنه فرمائي چه ما د رسول الله ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو چه زما يو وينزه ده چه هغې ته ما په مخ باندې سپيړه ورکړې ده رسول الله ﷺ د هغې زما په حق کښې لوئې جرم کيدل ظاهر اوفرمائيلو (دې اويريدو) او وې وئيل چه زه هغه آزاده نه کړم رسول الله ﷺ اوفرمائيل هغه ماته راوله، هغوی وائی چه ما هغه رسول الله ﷺ ته راوستله رسول الله ﷺ د هغې نه د امتحان په طور تپوس اوکړو ﴿اين الله﴾ چه الله پاک ستا په نزد چرته دې؟ هغې جواب ورکړو ﴿فی السماء﴾ په آسمان کښې دې دا سوال خو ګويا د توحيد متعلق شو او په دې کښې د اصنام د الهه کيدو نفی اوشوه بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه زه څوک يم؟ هغې اووې چه تاسو د الله پاک رسول يئ، رسول الله ﷺ هغه صحابی ته اووې چه دا آزاده کړه دا مومنه ده

د دې حديث په شرح کښې امام خطابی رحمه الله فرمائيلی دی چه دا خبره معقول او بديهی ده چه رسول الله ﷺ دې صحابی رضي الله عنه ته د دې وينځې د آزادولو حکم په طريقه د کفارې ورکړې وو يعنی د معصيت دضرب کفاره په داسې طريقه چه رومبی رسول الله ﷺ د هغې د ايمان امتحان واخستلو د هغې نه پس ئې د هغې د اعتاق حکم اوفرمائيلو، د دې نه معلومه شوه چه د هرې کفارې حال او حکم هم دا دې او بيا د دې نه پس هغوی په دې کښې اختلاف د علماء کرامو بيان کړې دې، دلته ذکر چونکه د کفاره يمين کيږی ځکه امام خطابی اشاره کړې ده دې خبرې طرف چه ترجمة الباب سره د حديث مطابقت په طريقه د قياس دې.

والحديث اخرجه مسلم والنسائي باتم منه، قاله المنذري

[٣٢٨٣] ([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنِ الشَّرِيدِ: أَنَّ أُمَّهُ أَوْصَتْهُ أَنْ يَعْتِقَ عَنْهَا رَقَبَةً مُؤْمِنَةً، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، إِنَّ أُمِّي أَوْصَتْ أَنْ أُعْتِقَ عَنْهَا رَقَبَةً مُؤْمِنَةً، وَعِنْدِي جَارِيَةٌ سَوْدَاءُ نُوبِيَّةٌ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ أَرْسَلَهُ، لَمْ يَذْكُرِ الشَّرِيدَ.

د شريد نه روايت دې فرمائي چه ماته خپلې مورروصيت کړې وو چه زه دهغې مرګ نه پس دهغې دطرف نه يوه وينزه ازاده کرم فرمائي چه نبی عليه السلام ته ورغلم اوعرض مې وکړوچه اې

[1]): سنن النسائي/الوصايا ٨ (٣٦٨٣)، (تحفة الأشراف: ٤٨٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٢/٤، ٣٨٨، ٣٨٩)، دي/ النذور ١٠ (٢٣٩٣) (حسن صحيح)

دالله رسوله یقینا زمامورروصیت کړې وو چه زه دهغې دطرف نه یوه مومنه وینزه ازاده کړم، اوزماسره دنوبیه مقام دحبشوپه خواه کښې دیوځائې نوم دې یوه توره وینزه وه اوباقی روایت ئې دتیرشوی روایت په شان بیان کړو. امام ابوداود وئیلی دی دا روایت خالد بن عبدالله مرسل بیان کړې دې اوشرید ئې پکښې نه دې ذکرکړې.

[۳۲۸۴]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ الْجُوزَجَانِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، قَالَ: أَخْبَرَنِي الْمَسْعُودِيُّ، عَنْ عَوْنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: "أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجَارِيَةٍ سَوْدَاءَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ عَلَيَّ رَقَبَةً مُؤْمِنَةً، فَقَالَ لَهَا: أَيْنَ اللَّهُ؟، فَأَشَارَتْ إِلَى السَّمَاءِ بِأُصْبُعِهَا، فَقَالَ لَهَا: فَمَنْ أَنَا؟، فَأَشَارَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِلَى السَّمَاءِ، يَعْنِي أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ، فَقَالَ: أَعْتِقْهَا، فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ".

حضرت ابوهریره رضي الله عنه وائی چه نبی کریم ﷺ ته یو سړی یوه توره وینځه راوستله، او عرض ئې اوکړو چه اې د الله رسوله ﷺ! زما په ذمه یوه مسلمانه وینځه آزادول دی، نبی کریم ﷺ دهغه وینځې نه تپوس اوکړو: الله چرته دې؟ نو هغې خپلې ګوتې سره آسمان طرف ته اشاره اوکړه (یعنی د آسمان دپاسه دې)، بیا نبی ﷺ دهغې نه تپوس اوکړو: زه څوک یم؟ نو هغې نبی کریم ﷺ او آسمان طرف ته اشاره اوکړه یعنی (دا ئې اووئیل چه) تاسو د الله رسول یئ، نبی کریم ﷺ (وینځه راوستونکی سړی ته) اووئیل: دا آزاده کړه دا مسلمانه ده.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ النَّذْرِ

د نذر د ممانعت بیان

په تیر ابواب د یمین سره متعلق وو، د دې ځائې نه د نذر ابواب شروع کیږی، پس په بعض نسخو کښې د دې باب نه ړومبی په جلی قلم سره لیکلې شوې دی، ﴿اول النذور﴾

﴿عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما قال اخذ رسول الله ﷺ ینهی عن النذر ویقول انه لا یرد شیئا وانما یستخرج به من البخیل﴾

د نذر په حکم کښې مذاهب ائمة:

مصنف رحمه الله ترجمه قائم کړې ده د کراهیة النذر، مصنف رحمه الله حنبلی دې او د حنابله په نزد ابتداء نذر مکروه دې او هم دا د امام شافعی رحمه الله مذهب دې لکه چه حافظ وئیلې دی او د احنافو او مالکیانو په نزد حکم د نذر استحباب دې خو حافظ د مالکیانو مذهب هم کراهت نقل کړې دې د شوافعو په شان، خو په دې باندې قسطلانی تعقب کړې دې چه مختصر خلیل (کوم چه د فقه مالکی کتاب دې) په دې کښې تصریح ده د دې خبرې چه کوم سړې نذر منی ﴿ شکرا لله تعالی ﴾ هغه مندوب دې قال ابن رشد وهو مذهب مالک آه (من الابواب والتراجم) والبسط فیه، د احنافو او مالکیانو په نزد د روایاتو دنهی محمل مطلق نذر نه دې بلکه نذر اللجاج دې، امام بخاری رحمه الله باب قائم کړې دې ﴿ باب الوفاء بالنذر وقول الله تعالی یوفون بالنذر ﴾ علامه عینی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دا آیت راوړلو دې خبرې طرف ته اشاره کولو دپاره چه نذر لره پوره کول قابل تعریف څیز دې، د دې فاعل مستحق

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۳۵۸۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۱/۲) (حسن لغیره)

دثناء دي خو د دې نذر نه مراد نذر د طاعت دي نه نذر دمعصيت، او بيا فرمائي چه د نذر طاعت د وفا په وجوب باندې د علماء كرامو اجماع ده، خو په ابتداء د نذر كښې اختلاف دې ﴿ فقيل مستحب وقيل مكروه الخ ﴾ يعني اول خو ځان په دې باندې پوهه كړئ چه يو خو وى نذر د طاعت او يو نذر د معصيت دې، د نذر معصيت قبيح او ناجائز كيدل خو ښكاره دى او نذر طاعت كښې دوه اړخونه دى يو نذر منلو سره هغه پوره كول، په دې كښې هم هيڅ كلام نشته چه دا عبادت دې او مستحسن دې، خو خبره په ابتداء د نذر كښې ده يعنى نذر منل څنګه دى محمود يا مذموم؟ دا مسئله مختلف فيه دې د احنافو او مالكيانو په نزد مستحب او د شوافعو او حنابله په نزد مكروه دې، ښه ځان پرې پوهه كړئ يعنى الفرق بين ايفاء النذر وابتداء النذر.

[۳۲۸۷]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ، قَالَ عُثْمَانُ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَنْهَى عَنِ النَّذْرِ، ثُمَّ اتَّفَقَا، وَيَقُولُ: لَا يَرُدُّ شَيْئًا، وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ"، قَالَ مُسَدَّدٌ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: النَّذْرُ لَا يَرُدُّ شَيْئًا.

دعبدالله بن عمرنه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام دنذرمنلونه منع فرمائيلى ده چه نذر دتقدير څه شي لره نه شي واپس كولې اونه ئې بدلولې شي علاوه ددې نه چه دنذرپه ذريعه باندې د بخيل نه مال ويستلې شي.

شرح الحديث:

دا ټول خو كلام وو د ترجمة الباب د لاندې او د حديث الباب مضمون دا دې. ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په منع فرمائيله د نذر نه، يعنى د ابتداء د نذر نه، ځكه چه دا خو ښكاره ده چه ايفاء دنذر واجب دې، او بيا وړاندې حديث كښې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چه نذر تقدير لره نه شى لرې كولې (بلكه كيږى هم هغه كوم چه په تقدير كښې دې) او بيا فرمائي چه جز اين نيست چه د نذر په ذريعه سره مال ويستلې شى د بخيل سرى نه، د دې نه دوه خبرې معلوميږى يو دا چه په دې اعتقاد سره نذر منل چه د نذر منلو سره به زمونږ كار ضرور كيږى دا اعتقاد دتاثير باطل دې لهذا په دې نيت او اعتقاد كښې نذر نه دى منل پكار، دويمه خبره دا معلوميږى چه د طاعت نذر منلو دا طاعت لره معلق كول دى چه كه زمونږ كار اوشى نو مونږ به دومره صدقه كوو دا طريقه د بخيلانو ده، انفاق مال لوجه الله لره د نذر په ذريعه سره معلق كول نه دى پكار، بلكه د دې نيكئ بغير د نذر نه كول پكار دى، خو د بخيل طبيعت څكه نه تياريږى چه هغه بغير د تعليق بالنذر نه خرچ نه كوى. او د نذر طاعت دا اړخ د مدح قابل نه دې بلكه مذموم دې، په بذل كښې ليكلى دى چه د خلقو عادت دې چه د جلب منافع او د دفع دمضار دپاره نذرونه منى او دا فعل دې د بخلاء هم په

[1]): صحيح البخاري/القدر ٦ (٦٦٠٨)، الأيمان ٢٦ (٦٦٩٣)، صحيح مسلم/النذر ٢ (١٦٣٩)، سنن النسائي/الأيمان ٢٤ (٣٨٣٢، ٣٨٣٣)، سنن ابن ماجه/الكفارات ١٥ (٢١٢٢)، (تحفة الأشراف: ٧٢٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٦١، ٨٦، ١١٨)، دي/النذور ٥ (٢٣٨٥) (صحيح)

دې وجه په دې حديث کښې منع کړې شوې ده خو که څوک په اخلاص سره د يو قربت او عبادت نذر اومنى لکه څنګه چه عمر رضي الله عنه په مسجد حرام کښې د يوې شپې د اعتکاف نذر منلې وو هغه ممنوع نه دى آهـ والحديث اخرجه البخارى ومسلم والنسائي وابن ماجة، قاله المنذرى

[٣٢٨٨] (١) حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: قُرِءَ عَلَى الْحَارِثِ بْنِ مِسْكِينٍ، وَأَنَا شَاهِدٌ أَخْبَرَكُمُ ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي مَالِكٌ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هُرْمُزَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَأْتِي ابْنَ آدَمَ النَّذْرُ الْقَدَرَ بِشَيْءٍ لَمْ أَكُنْ قَدَّرْتُهُ لَهُ، وَلَكِنْ يُلْقِيهِ النَّذْرُ الْقَدَرَ قَدَّرْتُهُ، يُسْتَخْرَجُ مِنَ الْبَخِيلِ، يُؤْتِي عَلَيْهِ مَا لَمْ يَكُنْ يُؤْتِي مِنْ قَبْلُ".

حضرت ابوهريره رضي الله عنه وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل (چه الله تعالى فرمائي) نذر (منخته) بنيادم ته څه داسې څيز نه شي راوړلې کوم چه ما دهغه دپاره مقرر کړې نه وى، ليکن نذر ده لره هغه تقدير سره ملاوهى کوم چه ما دده دپاره ليکلې دې، دا د بخيل نه هغه څيز اوباسى کوم چه دې ددې نذر نه مخکښې نه اوباسى (يعنى دخپل بخيل توب په وجه صدقه اوخيرات نه کوى خود نذر په وجه ئې کوى).

بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّذْرِ فِي الْمَعْصِيَةِ

د ناجائز عمل د نذرمنلو بيان

[٣٢٨٩] (٢) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ الْأَيْلِيِّ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ نَذَرَ أَنْ يُطِيعَ اللَّهَ فَلْيُطِعْهُ، وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَعْصِيَ اللَّهَ، فَلَا يَعْصِهِ".

دعائشې رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى چه څوک دالله تعالى تابعدارې کول نذراومنى نوده لره پکاردي چه دالله تابعدارې اوکړي او خپل نذر پوره کړي، اوکه چرې څوک دالله تعالى دنافرمانى کولو نذر اومنى نودې دې ګناه نه کوي (يعنى دانذرعبث دې ځکه چه الله تعالى په ګناه باندې نه راضي کيږي).

نذر د معصيت منعقد کيږى يا نه، مذاهب اربعة:

قوله: ﴿ عن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من نذر ان يطيع الله فليطعه ومن نذر ان يعصى الله فلا يعصه ﴾ په دې حديث کښې د نذر د طاعت د پوره کولو حکم ورکړې شوې دې، او د نذر معصيت نه منع کړې شوې ده يعنى د دې پوره کولو سره، په دې باندې اجماع ده چه د نذر معصيت ايفاء جائز نه ده خو په دې کښې اختلاف دې چه نذر معصيت منعقد کيږى يا نه او هم دغه شان په وجوب د کفاره کښې، ابن قدامه فرمائي چه د نذر معصيت ايفاء بالاجماع

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٨٥٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأيمان ٢٦ (٦٦٩٢)، صحيح مسلم/النذر ٢ (١٦٤٠)، سنن الترمذي/النذر ١٠ (١٥٣٨)، سنن النسائي/الأيمان ٢٥ (٣٨٣٦)، سنن ابن ماجه/الكفارات ١٥ (٢١٢٣)، مسند احمد (٢/٢٣٥، ٢٤٢، ٣٠١، ٣١٤، ٤١٢، ٤٦٣) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الأيمان ٢٨ (٦٦٩٦)، ٣١ (٦٧٠٠)، سنن الترمذي/الأيمان ٢ (١٥٢٦)، سنن النسائي/الأيمان ٢٦ (٣٨٣٧)، ٢٧ (٣٨٣٨، ٣٨٣٩)، سنن ابن ماجه/الكفارات ١٦ (٢١٢٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٤٥٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/النذور ٤ (٨)، مسند احمد (٦/٣٦، ٤١، ٢٢٤)، سنن الدارمي/النذور ٣ (٢٣٨٣) (صحيح)

جائز نه ده او ناذر باندې کفاره يمين واجب کيږي سفيان ثوري او ابوحنيفة او د هغوی د اصحابو په نزد، او د امام احمد رحمه الله نه د دې قسم روايت مروی دې کوم چه په دې باندې دلالت کوی چه په هغه باندې کفاره واجب نه ده او هم دا مذهب دې د امام مالک او امام شافعي رحمه الله (تراجم بخاری) امام خطابي رحمه الله هم د امام مالک او د امام شافعي رحمه الله مذهب د عدم وجوب کفاره ليکلې دې، او حافظ ابن قيم رحمه الله په تهذيب السنن کښې د امام احمد رحمه الله مسلک د احنافو په شان ليکلې دې د هغې الفاظ دا دی: ﴿ قال الموجبون للكفارة في نذر المعصية (وهم احمد واسحاق والثورى وابوحنيفة واصحابه ﴾ هذه الآثار قد تعددت طرقها ورواتها ثقات ﴾ الى آخر ما ذكر..... خپله حافظ ابن قيم رحمه الله په دې مسئله باندې تفصيل سره کلام کړې دې او وجوب کفاره ته ئې ترجيح ورکړې ده، رواية دراية، د دې عبارتونو نه معلوميږي بلکه بعضو تصريح کړې ده چه د امام احمد رحمه الله نه په دې کښې دواړه روايتونه دی. والحديث اخرجه البخاری والترمذی والنسائي وابن ماجة، قاله المنذری

[۳۳۰۰]([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ، إِذَا هُوَ بِرَجُلٍ قَائِمٍ فِي الشَّمْسِ، فَسَأَلَ عَنْهُ، قَالُوا: هَذَا أَبُو إِسْرَائِيلَ، نَذَرَ أَنْ يَقُومَ وَلَا يَقْعُدَ، وَلَا يَسْتَظِلَّ وَلَا يَتَكَلَّمَ، وَيَصُومَ، قَالَ: مُرُوهُ فَلْيَتَكَلَّمْ، وَلْيَسْتَظِلَّ، وَلْيَقْعُدْ، وَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ".

دابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام خلقوته خطبه ورکوله نوناڅاپه يو سړي ښکاره شو چه په غرمو ولاړوو نونبی علیه السلام دهغه په باره کښې دخلقونه تپوس وکړو خلقو ورته اووئيل دا ابواسرائيل دې اوداندزئې منلې دې چه ولاړ به وي اوکښېني به نه اونه به سوري ته دمه کوي اونه به خبرې کوي اوروژه به ئې وي نبی علیه السلام اوفرمائيل ده ته اووائی چه خبرې اوکړي او په سوري دې کښېني اوخپله روژه دې پوره کړی.

قوله: ﴿ عن ابن عباس رضی الله عنه قال بينما النبی صلی الله علیه وسلم يخطب اذا هو برجل قائم فی الشمس فسأل عنه فقالوا هذا ابو اسرائيل الخ ﴾ يعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې حال کښې چه خطاب ئې فرمائيلو ناڅاپه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نظر په يو داسې انسان باندې پريوتلو چه په ګرمئ کښې ولاړ وو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه په باره کښې د خلقو نه تپوس اوکړو، خلقو عرض اوکړو چه دا سړې ابو اسرائيل دې هغه نذر منلې دې چه دې به ولاړ وی په نمر کښې او کيني به نه او دا چه د چا سره به خبرې نه کوی، او دا چه روژه به ئې وی، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه ده ته اوايه چه ده له پکار دی چه خبرې اوکړی او په سوری کښې اودريږی، او کيني ولاړ دې نه پاتې کيږی او خپله روژه دې پوره کړی.

امام خطابي رحمه الله فرمائی چه د دې سړی نذر، په نذر طاعت او نذر معصيت په دواړو باندې مشتمل وو پس رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې انواع نذر کښې چه کوم د نذر طاعت وو د هغې د پوره کولو او کوم چه نذر د غير طاعت وو د هغې د ترک کولو اوفرمائيل. صوم خو نذر طاعت وو، او قيام فی الشمس او ترک کلام او ترک استظلال دا نذر د غير طاعت وو، ځکه چه دا

[1]: صحيح البخاري الأيمان ۳۱(۶۷۰۴)، سنن ابن ماجه الكفارات ۲۱ (۲۱۳۶)، (تحفة الأشراف: ۵۹۹۱) (صحيح)

څیزونه د مشاق د قبیلې نه دی بدن لره ستړې کونکی او تکلیف ورکونکی، په دې کښې یو معنی هم د قربت او عبادت نشته. په دې وجه رسول الله ﷺ د هغې د ترک کولو حکم اوفرمائیلو. والحدیث اخرجه البخاری وابن ماجة، قاله المنذری

باب مَنْ رَأَى عَلَيْهِ كَفَّارَةً إِذَا كَانَ فِي مَعْصِيَةٍ

د معصیت د نذر په ماتولو باندې د بعضو په نزد باندې کفاره واجبیږی

دا ترجمة الباب د احنافو د مسلک ترجمانی کوی او هم دغه شان هغه حدیث کوم چه مصنف رحمه الله په دې باب کښې راوړلې دې خو مصنف رحمه الله په دې حدیث باندې د بعض نورو محدثینو په شان په دې باندې سخت کلام کړې دې لکه چه به راشی.

[۳۲۹۰] (¹) حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةٍ، وَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه رسول پاك ا فرمائیلی دی نذر پوره کول دګناه په کار کښې درست نه دی او ددې کفاره هغه ده کومه چه د قسم کفاره ده.

﴿ عن یونس عن الزهری عن ابی سلمة عن عائشة رضی الله عنها ان النبی ﷺ قال لا نذر فی معصیة وکفارته کفارة یمین ﴾

دا حدیث د ترجمة الباب او د احنافو د مسلک مطابق دې وړاندې مصنف رحمه الله په دې باندې کلام او اعتراض فرمائی.

[۳۲۹۱] (²) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِمَعْنَاهُ وَإِسْنَادِهِ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ شَبُّوَيْهِ، يَقُولُ: قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ، يَعْنِي فِي هَذَا الْحَدِيثِ: حَدَّثَ أَبُو سَلَمَةَ، فَدَلَّ ذَلِكَ عَلَى أَنَّ الزُّهْرِيَّ لَمْ يَسْمَعْهُ مِنْ أَبِي سَلَمَةَ، وَقَالَ أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ: وَتَصْدِيقُ ذَلِكَ مَا حَدَّثَنَا أَيُّوبُ يَعْنِي ابْنَ سُلَيْمَانَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، يَقُولُ: أَفْسَدُوا عَلَيْنَا هَذَا الْحَدِيثَ، قِيلَ لَهُ: وَصَحَّ إِفْسَادُهُ عِنْدَكَ، وَهَلْ رَوَاهُ غَيْرُ ابْنِ أَبِي أُوَيْسٍ، قَالَ أَيُّوبُ: كَانَ أَمْثَلَ مِنْهُ يَعْنِي أَيُّوبَ بْنَ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ، وَقَدْ رَوَاهُ أَيُّوبُ.

ابوداود وائی چه احمدبن شبویه وئیلی دی چه ابن مبارك ددې حدیث په باره کښې وئیلی دی چه دابوسلمه نه مې تپوس اوکړو نوهغه راته اووئیل دابوسلمه اوریدل دزهري نه ثابت نه دي. ابوداودوائی احمد بن حنبل رحمة الله علیه وئیلی دی چه دا حدیث ئې زمونږ په وړاندې خراب کړې دې دهغه نه تپوس اوکړې شو چه ایاستاپه نزد باندې ددې حدیث خرابیدل صحیح دي، اوایا دابن اویس نه علاوه بل چا هم دانقل کړې دې؟ نوهغه اوفرمائیل هو، ایوب بن سلیمان بن بلال هم نقل کړې دې.

﴿ قال ابوداؤد : وسمعت احمد بن شبیه قال قال ابن المبارک : یعنی فی هذا الحدیث حدیث ابوسلمة فدل ذلک علی ان الزهری لم یسمعه عن ابی سلمة ﴾

¹): سنن الترمذي/الأيمان ٢ (١٥٢٤)، سنن النسائي/الأيمان ٤٠ (٣٨٦٥-٣٨٦٩)، سنن ابن ماجه/الكفارات ١٦ (٢١٢٥)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٧٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٤٧) (صحيح)

²): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٧٧٧٠) (صحيح)

د قال ابوداؤد تشریح او تنقیح:

په دې عبارت باندې د پوهېدو دپاره د دې حدیث چه کوم دویم سند وړاندې راغی هغه اوګورئ په هغې کښې داسې دی : ﴿عن شهاب عن سلیمان بن ارقم ان یحیی بن ابی کثیر اخبره عن ابی سلمة﴾ په دې سند کښې د زهری او ابوسلمه ترمنځه دوه واسطې ذکر دی سلیمان بن ارقم او یحیی ابن ابی کثیر خو په دې ړومبی سند کښې په دې دواړو واسطو کښې یو واسطه هم نه ده ذکر شوې بلکه براه راست زهری د ابو سلمه نه روایت کوی، اوس د دې نه پس د مصنف رحمه الله په کلام باندې ځان پوهه کړئ، مصنف فرمائی ما د خپل استاد احمد بن شبویه نه واوریدل چه عبدالله ابن المبارک په دې حدیث د ابوسلمة باندې کلام کړې دې «وړاندې هیڅ نشته چه څه کلام ئې پرې کړې دې خو مصنف رحمه الله فرمائی چه د ابن المبارک رحمه الله په حدیث باندې نقد او کلام کول په دې خبره باندې دلالت کوی چه زهری حدیث لره براه راست د ابوسلمه نه نۀ دې اوریدلې، دا خبره مصنف رحمه الله څنګه فهم کړه چه هغوی کلام هم په دې وجه باندې کړې دې، غالبا مصنف رحمه الله دا خبره څکه اوګڼړله چه د دې حدیث په سند کښې یو راوی هم داسې نشته چه هغه غیر ثقه وی، لهذا دا کلام په سند کښې دیو راوی د وجې نه نۀ دې بلکه د انقطاع د سند د وجې نه کیدې شی څکه چه د دې نه روستو حدیث مصنف رحمه الله په داسې طریق باندې راوړې دې چه په هغې کښې د زهری او ابوسلمه ترمینځه دوه واسطې موجود دی، فثبت منه انقطاع هذا السند ووجه الکلام علیه، مصنف هم په دې باندې نه ده بس کړې بلکه وړاندې د امام احمد رحمه الله نقد هم چه په دې حدیث باندې دې هغه ذکر کوی. قَالَ أَبُو دَاوُدَ سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ يَقُولُ : أَفْسَدُوا عَلَيْنَا هَذَا الْحَدِيثَ. قِيلَ لَهُ : وَصَحَّ إِفْسَادُهُ عِنْدَكَ وَهَلْ رَوَاهُ غَيْرُ ابْنِ أَبِي أُوَيْسٍ قَالَ : أَيُّوبُ كَانَ أَمْثَلَ مِنْهُ. يَعْنِي أَيُّوبَ بْنَ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ وَقَدْ رَوَاهُ أَيُّوبُ....... مصنف رحمه الله فرمائی ما د خپل استاد احمد بن حنبل رحمه الله نه واوریدل هغوی به فرمائیل بعض خلقو په مونږ باندې دا حدیث فاسد او خراب کړې دې، یعنی د دې په سند کښې خرابی کولو سره، چا ترې تپوس اوکړو چه ستاسو په نزد د دې حدیث د سند خرابوالې محقق دې؟ په اصل کښې سائل پوهه شوې وو چه امام احمد بن حنبل رحمه الله د دې حدیث د سند فساد چه ثابتوی هغه د هغې سند او طریق په وجه باندې دې کوم چه وړاندې په کتاب کښې راغی چه د هغې راوی ابوبکر بن اویس دې «چا چه د دې حدیث په سند کښې د زهری او ابوسلمة په مینځ کښې دوه واسطې ذکر کړی دی» نو سائل د امام احمد رحمه الله نه تپوس کوی چه د کوم حدیث په بناء باندې تاسو د دې حدیث د سند فساد ثابتوئ چه د هغې راوی ابن ابی اویس دې نو آیا د ابن ابی اویس څوک متابع هم په دې کښې شته یا نه؟ چه مونږ هغه بل سند کوم چه راروان دې چه په هغې کښې دوه واسطې موجود هغې ته راجح اوئیلې شو، څکه چه د کوم حدیث سند ته هغوی فاسد وائی د هغې راوی خو د زهری نه یونس دې چه ثقه او قوی دې او هغه دویم سند چه د هغې د وجې نه هغه سند ته منقطع وائی د هغې راوی ابن ابی اویس دې چه متکلم فیه دې، نو ترهغه وخته پورې چه د هغه څوک متابع ملاؤ نه شی هغې ته راجح څنګه وئیلې کیدې شی

نو د دې اصولی سوال جواب امام احمد رحمه الله داسې ورکړو چه عجيبه شان دې، او هغه دا چه هغوی په ځائې د متابع پيش کولو دا فرمائی چه د ابن ابی اويس چه کوم شاګرد دې يعنی ايوب هغه د ابن ابی اويس نه زيات ثقه دې نو ګويا د شاګرد ثقاهت لره قائم مقام د متابع منی، يعنی د امام صاحب په ذهن کښې د ابن ابی اويس څوک متابع خو او نه چه هغه ئې بيان کړې وې بلکه دا ئې اوفرمائيل چه ايوب کوم چه د ابن ابی اويس نه روايت کوی هغه ډير زيات ثقه دې خو دا خبره بس هم دغه شان ده د دې وجې نه حضرت ليکی : وانت خبير بان جواب الامام غير صحيح علی قاعدة المحدثين فان رواية ايوب بن سليمان لا يدفع ضعف ابی بكر بن ابی اويس فانه تلميذه فلا يقاوم حديث يونس عن الزهری فلا يثبت احتمال التدليس، حضرت دا فرمائی چه د شاګرد ثقاهت او قوت د استاد ضعف نه شی ختمولې چه هر کله دا خبره ده نو بيا د ابوبكر بن اويس حديث،د حديث يونس عن الزهری مقاومت نه شی کولې، لهذا د حديث ديونس عن الزهری مدلس يا منقطع کيدل ثابت نه شو کوم چه دا حضرات ثابتول غواړی. بيا وړاندې حضرت فرمائی علی ان النسائی روی حديث يونس بسند هارون بن موسى المدنی قال ثنا ابو ضمرة عن يونس عن ابن شهاب قال ثنا ابوسلمة عن عائشة رضي الله عنها، اوګورئ په دې سند کښې ابن شهاب د ابو سلمة نه د سماع تصريح کوی، لهذا د دې حديث نه انقطاع ثابته شوه او نه تدليس، الی آخرما ذكر فی البذل

[٣٢٩٢] ([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي أُوَيْسٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي عَتِيقٍ، وَمُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ أَرْقَمَ، أَنَّ يَحْيَى بْنَ أَبِي كَثِيرٍ، أَخْبَرَهُ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةٍ، وَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ"، قَالَ أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ: إِنَّمَا الْحَدِيثُ حَدِيثُ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَرَادَ أَنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ أَرْقَمَ وَهِمَ فِيهِ، وَحَمَلَهُ عَنْهُ الزُّهْرِيُّ، وَأَرْسَلَهُ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَحِمَهَا اللَّهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى بَقِيَّةُ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الزُّبَيْرِ، بِإِسْنَادِ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ مِثْلَهُ.

دعائشې رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی نذر پوره کول درست نه دی دګناه په کارکښې او ددې کفاره به هغه وي کومه چه دقسم کفاره ده، احمد بن حنبل رحمة الله عليه وئيلی دی چه دحديث اصل سند داسې دې علي بن مبارك دمحمدبن زبيرنه اوهغه دخپل پلارنه هغه دعمران بن حصين نه هغه دنبی عليه السلام نه داحمد دقول مفهوم دادې چه په دې حديث کښې دسليمان بن ارقم نه وهم شوې دې هغه دې لره مرسل نقل کړې دې دابوسلمه نه اوهغه دعائشه رضي الله عنها نه ابوداؤد وائی بقيه د اوزاعی نه، هغه د يحی نه، هغه د محمد بن زبيء نه د علی بن مبارك په سند سره ددې په مثل روايت کړې دې.

تشريح الحديث:

قوله: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ سُلَيْمَانَ......الخ:

دباب ړومبې حديث يعنی دحديث عائشة رضي الله عنها دا دويم طريق دې چه په هغې کښې ابن شهاب

[1]: انظر حديث رقم: (٣٢٩٠)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٨٢) (صحيح بما قبله)

او د ابو سلمة ترمينځه دوه واسطې موجود دی کومې چه په رومبی سند کښې نه وې هم په دې وجه باندې امام ابوداؤد رحمه الله په دې سند باندې د عبدالله ابن المبارک او امام احمد بن حنبل رحمه الله نقد نقل فرمائيلې وو، چه د هغې مطلب دا شو چه د حديث عائشه رضی الله عنها دا طريق ثانی هم غلط دې پس فرمائی: قَالَ أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ : إِنَّمَا الْحَدِيثُ حَدِيثُ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم–. أَرَادَ أَنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ أَرْقَمَ وَهِمَ فِيهِ وَحَمَلَهُ عَنْهُ الزُّهْرِيُّ وَأَرْسَلَهُ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِي اللّٰهُ عنها.

احمد بن محمد مروزی رحمه الله فرمائی چه دا پورته طريق يعنی سليمان بن ارقم عن يحيی بن ابی کثير بالکل غلط دې، صحيح طريق د يحيی بن ابی کثير د دويم شاګرد يعنی د علی ابن المبارک والا دې، او علی ابن المبارک حديث داسې روايت کړې دې عن يحيی بن ابی کثير عن محمد بن الزبير عن ابيه عن عمران بن حصين، په اصل کښې دا سليمان بن ارقم راوی مجمع علی ضعفه دې هغه سند د يحيی بن ابی کثير نه غلطې طريقې سره بيان کړې دې، د يحيی بن ابی کثير استاد په دې سند کښې ابوسلمة نه دې لکه چه سليمان بن ارقم بيان کړې ده بلکه محمد بن الزبير دې او بيا د هغوی نه وړاندې سند داسې دې عن ابيه عن عمران بن حصين رضی الله عنه ګويا دا حديث د مسانيد عائشة رضی الله عنها نه نهٔ دې بلکه د عمران بن حصين د مسانيدو نه دې او دا ټول خرابې د سليمان بن ارقم د طرف نه دې، او بيا په دې باندې زياتی خرابوالې دا اوموندلې شو چه چونکه دا حديث امام زهری رحمه الله د سليمان بن ارقم نه اخستلې دې نو هغوی په ځائې د بعينه نقل کولو مرسلا د ابو سلمة نه روايت کړو د مينځ دوه راويان ئې تدليسا حذف کړل (د زهری شمير دې هم په مدلسينو کښې) خلاصه دا شوه چه د دې حديث عائشة رضی الله عنها په سند کښې دوه کسانو خرابی کړې ده اول سليمان بن ارقم چه هغه سند بل څه بيان کړو اصل حديث د عمران بن حصين رضی الله عنه دمسانيدو نه وو سليمان دا په ځائې د هغوی عائشې رضی الله عنها ته منسوب کړو، دويم تصرف د دې حديث په سند کښې د سليمان شاګرد ابن شهاب زهری کړې دې چه د مينځ نه ئې دوه راويان تدليسًا حذف کړل، امام ابوداؤد رحمه الله چه څه وئيل غوارې د هغې تشريح هغه ده کومه چه مونږ پورته بيان کړه، اوس د دې ټولې خبرې حاصل دا شو چه د باب په شروع کښې چه مصنف رحمه الله کوم حديث د عائشې رضی الله عنها په يو طريق سره د هغې نه پس په دويم طريق ذکر کړو، دا حديث د دواړو طريقو په اعتبار سره وهم دې، او صحيح داسې دې کومه چه احمد بن محمد مروزی وائی يعنی:

علی بن المبارک عن يحيی بن ابی کثير عن محمد بن الزبير عن ابيه عن عمران بن حصين رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم انه قال لا نذر فی معصية وكفارته كفارة يمين.

زه د ابوداؤد په سبق کښې وايم چه دا ﴿ قال ابوداؤد ﴾ په ټول کتاب کښې د ټولو اقاويلو د ابوداؤد نه زيات مشکل او سخت دې د الله پاک په فضل سره مونږ پورته د دې پوره وضاحت ليکلې دې اوس به د پوهيدونکو دپاره په دې کښې هيڅ سختی نه وی، او مونږ چه د دې کومه تشريح کړې ده هغه تقريبا ټوله د بذل المجهود نه اخستلې شوې ده.

د عائشې رضي الله عنها په حدیث باندې د محدثینو نقد او د احنافو د طرف نه د هغې رد

د دې نه پس ځان په دې پوهه کړئ چه دا په حدیث د عائشې رضي الله عنها باندې کلام شروع دې په نذر د معصیت کښې د احنافو د مسلک دلیل دې یعنی دا چه نذر د معصیت منعقد کیږی او بیا په هغې کښې کفاره د یمین واجب کیږی او جمهور علماء کرام رحمهم الله دا وائی چه نذر د معصیت نه منعقد کیږی او نه په دې کښې کفاره واجب کیږی، اوس دا حضرات محدثین په دې حدیث عائشة رضي الله عنها باندې کلام کوی، د امام ابوداؤد او امام احمد رحمهم الله وغیره کلام خو اوس پورته ذکر شو، امام خطابی رحمه الله دا فرمائی چه که داحدیث د عائشې رضي الله عنها صحیح شی لکان القول به واجبا والمصیر الیه لازما،

او بیا وړاندې فرمائی، خو دا حدیث ثابت نه دې ځکه چه د محدثینو دا دعوی ده چه انه حدیث مقلوب او د دې نه پس بیا څه چه امام ابوداؤد رحمه الله ذکر کړی دی امام خطابی هم هغه بیان کړی دی او بیا ئې په آخیر کښې دا وئیلې دی چه کله دا ثابته شوه چه دا حدیث داسې مروی دې څنګه چه احمد بن محمد مروزی بیان کوی، او څنګه چه هغوی فرمائی د دې په سند کښې محمد بن الزبیر او د هغه پلار راوی دې او دا دواړه مجهول دی، پس دا حدیث د زهری په طریق سره خو مقلوب دې او په دویم طریق کښې رجل مجهول دې لهذا دا حدیث ساقط الاحتجاج شو، والله تعالیٰ اعلم.

د دې ټولو جواب زمونږ د طرف نه دا دې کوم چه حضرت سهارنپوری په بذل کښې د علامه سندی د حاشیې نه چه په نسائی باندې ده نقل کړې دې چه د هغې حاصل دا دې چه دا حدیث صرف د عائشې رضي الله عنها نه نهٔ دې روایت بلکه د عقبه بن عامر او عمران بن حصین رضي الله عنهما نه هم روایت کړې شوې دې، او د حدیث عائشة رضي الله عنها بعض اسانید کښې ﴿عن الزهری عن ابی سلمة﴾ دې او په بعضو طرقو کښې ﴿عن الزهری قال حدثنا ابو سلمة﴾ چه صریح دې د زهری په سماع کښې د ابوسلمة نه (لهذا د تدلیس احتمال بیان کول صحیح نه دی) او د دې په بعض طرقو کښې ﴿عن الزهری عن سلیمان بن ارقم ان یحیی ابن ابی کثیر حدثه انه سمع اباسلمة، وهذا الاختلاف یمکن دفعه بالبات سماع الزهری مرة عن سلیمان عن یحیی بن ابی سلمة ومرة عن ابی سلمة نفسه، وعند ذلک لاقطع بضعفه سیما حدیث عقبة وعمران یؤید الثبوت والله تعالیٰ اعلم.

یعنی د زهری په حدیث کښې چه کوم اضطراب او اختلاف دې په دې باره کښې دا وئیلې کیدې شی د هغې په باره کښې دا وئیلې کیدې شی چه ممکنه ده دا حدیث د زهری په دواړو طرقو سره را رسیدلې وی براه راست د ابوسلمة نه هم او په واسطه ده سلیمان عن یحی بن ابی کثیر نه هم، او په دې کښې هیڅ د اشکال خبره نشته، خصوصا چه د عقبه بن عامر او عمران بن حصین رضي الله عنهما د حدیث نه هم د کفارې ثبوت ملاویږی.

حدیث عائشة رضي الله عنها اخرجه الترمذی وابن ماجة، قاله المنذری.

[۳۲۹۳](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، قَالَ: أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيُّ، أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ زَحْرٍ: أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَالِكٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ أَخْبَرَهُ، "أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَنْ أُخْتٍ لَهُ، نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ حَافِيَةً غَيْرَ مُخْتَمِرَةٍ، فَقَالَ: مُرُوهَا فَلْتَخْتَمِرْ، وَلْتَرْكَبْ، وَلْتَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ".

دعقبة بن عامر نه روايت دې فرمائی چه د نبی عليه السلام نه مې دخپلې خور متعلق تپوس اوکړو هغه داسې چه زما خور داندرمنلې وو چه زه به خپې ابله خپې اوسرتور سر حج کوم نبی عليه السلام ده ته اوفرمائيل هغې ته داحکم اوکړئ چه خپل سر پټ کړي او په سورلۍ دې حج ته لاړه شي اودرې روژې دې اونيسي.

قوله: عن عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ أَخْبَرَهُ : أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ أُخْتٍ لَهُ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ حَافِيَةً غَيْرَ مُخْتَمِرَةٍ فَقَالَ : « مُرُوهَا فَلْتَخْتَمِرْ وَلْتَرْكَبْ وَلْتَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ».

مضمون د حديث دا دې چه عقبه بن عامر رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چه زما يوه خور ده چا چه دا نذر منلې دې چه هغه به حج کوی پيدل خپې ابله او بغير د سر پټولو نه. رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل هغې ته پکار دی چه سر پټ کړی او په سورلۍ حج اوکړی او هغې ته پکار دی چه درې روژې اونيسي.

د روايات الباب تجزيه

څان پوهول پکار دی چه مصنف رحمه الله د اخت عقبه رضي الله عنه د نذر قصې لره په دوه طريقو سره ذکر کړې ده يو په روايت د عقبه او دويم په روايت د عکرمة عن ابن عباس مسندا، او په يو طريق کښې دی عن عکرمه مرسلا، بيا د روايت د عقبه بن عامر رضي الله عنه الفاظ خو دا دی ﴿ مروها فليختمر ولترکب ولتصم ثلاثة ايام ﴾ او په يو روايت کښې دی ﴿ لتمش ولترکب ﴾ په دې کښې د صوم وغيره ذکر نشته، او د ابن عباس رضي الله عنهما په يو روايت کښې دی ﴿ فامرها النبی صلى الله عليه وسلم ان ترکب وتهدی هديا ﴾ او په يو روايت کښې د هغوی داسې دی فليحتج راکبة ولتکفر يمينها، او د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت کښې صرف د مشی ذکر دې د عدم اختمار نه.

د دې نه پس مصنف رحمه الله د انس رضي الله عنه حديث ذکر کړو چه د هغې تعلق د اخت عقبة رضي الله عنه سره نه دې بلکه په هغې کښې دی رَأَى رَجُلاً يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ او په دې کښې دی، ان الله لغنی عن تعذيب هذا نفسه وامره ان يرکب، حافظ فرمائی چه په حديث د انس رضي الله عنه کښې دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته د رکوب حکم اوکړو جزما، او د اخت عقبة رضي الله عنهما په باره کښې دا دی چه هغې ته رسول الله صلى الله عليه وسلم حکم اوفرمائيلو، ان تمشی وان ترکب... ځکه په حديث د انس رضي الله عنه کښې نذر منلو والا ﴿ کان شيخا ظاهر العجز ﴾ او د اخت عقبة حال دا نه وو په دې وجه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغې ته اوفرمائيل چه تر څو پورې پيدل تلې شی پيدل دې لاړه شی او کله چه عاجزه شی نو سوره دې شی. آهـ

(١): سنن الترمذي/الأيمان ١٦ (١٥٤٤)، سنن النسائي/الأيمان ٣٢ (٣٨٤٦)، سنن ابن ماجه/الكفارات ٢٠ (٢١٣٤) (تحفة الأشراف: ٩٩٣٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٣/٣، ١٤٥/٣، ١٤٧، ١٤٩، ١٥١)، سنن الدارمي/النذور ٢ (٢٣٧٩) (ضعيف)

الكلام على الحديث من حيث الفقة :

د دې نه پس ځان پوهول پكار دي چه كوم سړې د حج ماشيا نذر اومنى نو په هغه باندې ايفاء واجب ده ګينې په هغه باندې به جزا واجب وى، پس كه هغه د خپل نذر ايفاء اوكړه نو ډيره ښه ده او كه وې نه كړه نو د امام احمدرحمه الله مذهب دا دې چه په دې كښې به د يمين كفاره واجب وى لهذا ﴿ ولتصم ثلاثة ايام ﴾ والا روايت به د حنابله موافق وى او د امام شافعي او مالك رحمهما الله په نزد په هغه باندې هدى واجب ده، او د احنافو په نزد به هدى په هغه صورت كښې واجب ده ﴿ اذا كان الركوب فى اكثر المسافة ﴾ او كه داسې نه وى نو په هغه باندې به د شاة قيمت واجب وى په اندازه د ركوب، د ائمه ثلاث استدلال د ابن عباس رضي الله عنهما د روايت نه اوشو چه په هغې كښې دى، ﴿ ان تركب وتهدى هديا ﴾ اوس چه په كوم روايت كښې ﴿ ولتصم ثلاثة ايام ﴾ دى هغه د ائمة ثلاثه خلاف دى، د دې جواب دا كيدې شى چه دا ممكنه ده چه دا روايت بالمعنى وى ځكه چه د ابن عباس رضي الله عنهما د روايت يو طريق داسې دې ﴿فلتحج راكبة ولتكفر يمينها ﴾ نو هم هغه راوى ﴿ ولتصم ثلاثة ايام ﴾ سره تعبير كړې دې، حال دا چه د كفارې نه مراد دلته كفارة الجناية وو لكه چه د ابن عباس رضي الله عنهما د روايت په دويم طريق كښې ﴿ ان تركب وتهدى هديا ﴾ راغلې دې.

پس ملا علي قارى رحمه الله په مرقاة كښې فرمائى ﴿ والظاهر ان المراد بالتكفير كفارة الجناية وهى الهدى او ما يقوم مقامه من الصوم ﴾ او دا هر څه خو هغه دى كوم چه مونږ د حافظ وغيره رحمهم الله شارحينو د كلام نه فهم كړه او زمونږ حضرت سهارنپورى رحمه الله په بذل المجهود كښې د دې په شرح كښې ليكلى دى چه د اخت عقبة رضي الله عنهما په نذر كښې دوه څيزونه موندلې شوې دى يو د حج ماشيا نذر دويم د عدم اختمار نذر، په دې دواړو كښې يو نذر نذر د طاعت دې او دويم نذر د معصيت، د نذر طاعت پوره كول واجب دى يعنى حج ماشيا، او د نه پوره كولو په صورت كښې هدى يعنى دم جنايت به واجب وى لكه چه په يو روايت كښې د هدى ذكر دې، او دويم نذر كوم چه نذر معصيت دې د هغې ايفاء چونكه ناجائز ده او حانث كيدل واجب دى، او بيا به په دې صورت كښې د يمين كفاره واجب كيږى لكه چه دلته په يو روايت كښې دى ﴿ ولتصم ثلاثة ايام ﴾ [1] مصنف رحمه الله چه دا حديث د كوم ترجمة الباب د لاندې راوړې دې د هغې نه د حضرت د رائې تائيد كيږى.

د حضرت شيخ د حاشيه بذل نه په دې مسئله كښې د مذاهب ائمة تفصيل ذكر كړې شوې دې كوم چه لاندې په حاشيه كښې ليكلې شى ففيه من نذر المشى ثم ركب فعند احمد القادر على المشى اساء دون العاجز وعليه كفارة يمين بكل حال والرواية الاخرى عليه دم وهو قول الشافعى فى الحالين القدرة والعجز والدم الشاة على الاصح، وقول آخر انه بدنة، وعند مالك يجب قضاء ما ركب فى سنة اخرى فيمشى ما ركب ويركب ما مشى اذا كان المشى كثيرا وكان فى المناسك وهى من

---

[1] حاصل دا چه د هدى حكم د ركوب د وجې نه دې او د صوم ثلاثه ايام تعلق د اختمار سره دې دواړه روايتونه به جمع كولې شى)

خروج مكة الى رجوع منى،، ومع ذلك يجب الهدى ايضا وهذا اذا كان قريب البلدة كالمدنى او متوسطها كالمصرى، وان كان بعيدا البلدة كالافريقى فعليه الهدى فقط وكذا اذا كان الركوب قليلا فى غير المناسك وعندنا الحنفية، اذا ركب فى اكثر الطريق بعذر او بلا عذر فعليه دم شاة، وفى الاقل او المساواة بقدر ذلك من قيمة الشاة الاوجز ۴/۳۳)والحديث اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجة، قاله المنذرى وحديث انس رضي الله عنه اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى، قاله المنذرى

[۳۲۹۴]([1]) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ: كَتَبَ إِلَيَّ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ زَحْرٍ مَوْلًى لِبَنِي ضَمْرَةَ، وَكَانَ أَيَّمَا رَجُلٍ، أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الرُّعَيْنِيَّ أَخْبَرَهُ، بِإِسْنَادِ يَحْيَى وَمَعْنَاهُ.

عبدالرحمن وائی: مونږ ته ابن جريج بيان كړي دي چه يحى بن سعيد ماته اوليكل چه ماته د بنوضمره غلام عبيدالله بن زحر يا بل چا خبر راكړو چه هغوى ته ابوسعيد رعينى د يحى په سند سره ددې مفهوم حديث خبر وركړي دي.

[۳۲۹۹]([2]) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، أَنَّ يَزِيدَ بْنَ أَبِي حَبِيبٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ أَبَا الْخَيْرِ حَدَّثَهُ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: "نَذَرَتْ أُخْتِي أَنْ تَمْشِيَ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ، فَأَمَرَتْنِي أَنْ أَسْتَفْتِيَ لَهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاسْتَفْتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: لِتَمْشِ وَلْتَرْكَبْ".

دعقبة بن عامر الجهنى رضي الله عنه نه روايت دي فرمائى چه زماخور نذر منلې دي چه بيت الله ته به پيدل زم اوماته ئې اووئيل چه زه ددې دپاره دنبى عليه السلام نه شرعي حكم معلوم كړم نبى عليه السلام راته اوفرمائيل پيدل هم تلې شي اوپه سورلئ باندې هم تلې شي (مراد دادې چه پيدل دې روانه شي خوچه كله ستړې شي نوبيا دې په سورلئ سوره شي)

[۳۲۹۷]([3]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَمَّا بَلَغَهُ أَنَّ أُخْتَ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ مَاشِيَةً، قَالَ: إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ نَذْرِهَا، مُرْهَا فَلْتَرْكَبْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ نَحْوَهُ وَخَالِدٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائى هركله چه نبى عليه السلام ته داخبره ورسيدله چه دعقبة بن عامرخور دپيدل حج كولونذرمنلې دي تو اوئي فرمائيل چه الله تعالى دهغې دنذر ته احتياج نه لرى اوهغې ته حكم وكړئ چه په سورلئ دي سوره شي. امام ابوداود وئيلى دى چه دسعيد بن أبى عروبه نه هم داسې روايت منقول دي اوخالد دعكرمه نه اوهغه دنبى عليه السلام نه هم داسې روايت نقل كړي دي.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۹۰) (ضعيف)
[2]: صحيح البخاري/جزاء الصيد ۲۷ (۱۸۶۶)، صحيح مسلم/النذر ٤ (۱٦٤٤)، سنن النسائي/الأيمان ۳۱ (۳۸٤٥)، (تحفة الأشراف: ۹۹٥۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۱٥۲) (صحيح)
[3]: انظر ما قبله: (۳۲۹۲)، (تحفة الأشراف: ٦۱۹۷، ۱۹۱۲۱) (صحيح)

[۳۲۹۶](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ أُخْتَ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ نَذَرَتْ أَنْ تَمْشِيَ إِلَى الْبَيْتِ، فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَرْكَبَ، وَتُهْدِيَ هَدْيًا".

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي دعقبة بن عامرخور دپيدل حج كولونذرمنلې وو نو نبي عليه السلام ورته او فرمائيل چه په سورلئ دې سوره شي اوحج ته دې دځان سره قرباني بوځي.

[۳۲۹۵](٢) حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ أَبِي يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ مَوْلَى آلِ طَلْحَةَ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أُخْتِي نَذَرَتْ يَعْنِي أَنْ تَحُجَّ مَاشِيَةً، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ لَا يَصْنَعُ بِشَقَاءِ أُخْتِكَ شَيْئًا، فَلْتَحُجَّ رَاكِبَةً، وَلْتُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهَا".

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام ته يوكس حاضرشوعرض ئې وكړوچه اې دالله رسوله زماخور دپيدل حج كولونذرمنلې دې نو نبي عليه السلام ورته او فرمائيل چه الله تعالى ستاخورته دهغې په تكليف باندې هيڅ اجرنه وركوي هغې لره پكاردي چه په سورلې دې حج وكړي اودخپل قسم كفاره دې وركړي.

[۳۳۰۱](٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رَأَى رَجُلًا يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ، فَسَأَلَ عَنْهُ: فَقَالُوا: نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ، فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ تَعْذِيبِ هَذَا نَفْسَهُ، وَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَمْرُو بْنُ أَبِي عَمْرٍو، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ.

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام يوكس اوليدو چه دخپلو دوه ځامنوپه اوږوباندې ئې لاس اېښودلې وو او روان وو نبي عليه السلام دهغه متعلق تپوس وكړو نوصحابه كرامو ورته اووئيل چه ده دپيدل تلونذرمنلې دې نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل چه الله تعالى دده ددې تكليف نه بې پرواه دې كوم چه دې خپل ځان ته وركوي، اوپه سورلئ باندې دسوريدوحكم ئې ورته وكړو.ابوداؤد وائي : عمرو بن ابي عمرو د اعرج نه،هغه د ابوهريره رضي الله عنه نه، هغه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه هم ددې په شان حديث روايت كړې دې.

[۳۲۹۸](٤) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ: أَنَّ أُخْتَ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ بِمَعْنَى هِشَامٍ، وَلَمْ يَذْكُرِ الْهَدْيَ، وَقَالَ فِيهِ: مُرْ أُخْتَكَ فَلْتَرْكَبْ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ خَالِدٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ بِمَعْنَى هِشَامٍ.

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦١٩٧، ١٩١٢١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٩، ٢٥٢، ٣١١)، سنن الدارمي/النذور ٢ (٢٣٨٠) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٣٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣١٠، ٣١٥) (ضعيف)

[3]: صحيح البخاري/جزاء الصيد ٢٧ (١٨٦٥)، الأيمان ٣١ (٦٧٠١)، صحيح مسلم/النذور ٤ (١٦٤٢)، سنن الترمذي/الأيمان ٩ (١٥٣٧)، سنن النسائي/الأيمان ٤١ (٣٨٨٣، ٣٨٨٤)، (تحفة الأشراف: ٣٩٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٦/٣، ١١٤، ١٨٣، ٢٣٥، ٢٧١) (صحيح)

[4]: انظر حديث رقم : (٣٢٩٦)، (تحفة الأشراف: ٦١٩٧، ١٩١٢١) (صحيح)

د عکرمه نه روایت دې چه دعقبه بن عامر ﷺ خور، وړپسې هغه خبرې دی کومې چه دهشام په حدیث کښې دی خو په هغې کښې د هدیې ذکرنشته، خودا ذکر پکښې شته چه: «مر أختك فلتركب» "خپلې خورته حکم وړکړه چه هغه سوره شي"۔ ابوداؤد وائي: هغه ته خالد د عکرمه نه دهشام په شان روایت کړې دې.

[۳۳۰۲](١) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي الْأَحْوَلُ، أَنَّ طَاوُسًا أَخْبَرَهُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَرَّ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْكَعْبَةِ بِإِنْسَانٍ يَقُودُهُ بِخِزَامَةٍ فِي أَنْفِهِ، فَقَطَعَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ، وَأَمَرَهُ أَنْ يَقُودَهُ بِيَدِهِ".

عبدالله بن عباس ﷺ وائي چه نبی کریم ﷺ د کعبې طواف کولو چه یو داسې انسان سره تیرشو چه دهغه په پوزه کښې ئې پیزوان چولې وو او روان کړې وو، نو نبی کریم ﷺ خپل لاس سره دهغه پیزوان کټ کړو اوحکم ئې اوکړوچه دده لاس اونیسئ بوئې ځئ.

[۳۳۰۳](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَفْصِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ السُّلَمِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ يَعْنِي ابْنَ طَهْمَانَ، عَنْ مَطَرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ أُخْتَ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ مَاشِيَةً، وَأَنَّهَا لَا تُطِيقُ ذَلِكَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ مَشْيِ أُخْتِكَ، فَلْتَرْكَبْ، وَلْتُهْدِ بَدَنَةً".

عبدالله بن عباس ﷺ وائي چه د عقبه بن عامر ﷺ خور پیدل دحج کولو نذر اومنلو اوهغې د پیدل تلو طاقت نه لرلو، نو نبی کریم ﷺ (عقبه بن عامر ﷺ ته) اووئیل: الله تعالی ته ستاسو دخور د پیدل تلو پرواه نشته، (ته خپلې خور ته اووایه چه) هغه سوره شي او (دنذر د کفارې په طور باندې) یو اوښ قربانی کړي.

[۳۳۰۴](٣) حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أُخْتِي نَذَرَتْ أَنْ تَمْشِيَ إِلَى الْبَيْتِ، فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ لَا يَصْنَعُ بِمَشْيِ أُخْتِكَ إِلَى الْبَيْتِ شَيْئًا".

عقبه بن عامر جهنی ﷺ وائي چه دوی نبی کریم ﷺ ته اووئیل: زما خور بیت الله ته د پیدل تلو نذر منلې دې، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ستا خورته پیدل بیت الله ته د تلو الله تعالی هیڅ ثواب نه ورکوی.

بَابُ مَنْ نَذَرَ أَنْ يُصَلِّيَ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ

څوک چه په بیت المقدس کښې دمونځ کولو نذراومني

د احنافو په نزد په نذر کښې تعین د زمان او مکان معتبر نه دې، لهذا که یو انسان په یو خاص مسجد کښې د مونځ کولو نذر اومنی یا په یو خاص زمانه کښې د روژې منلو نذر اومنی په نفس مونځ او نفس روژې سره به د هغه نذر پوره شي، او د مالکیانو او حنابله مسلک هم دادې خودهغوی په نزدمساجدثلاثة ددې قاعدې نه مستثنی دی، ددې مساجد

---

(١): صحيح البخاري/الحج ٦٥ (١٦٢٠)، ٦٦ (١٦٢١)، الأيمان ٣١ (٦٧٠٣)، سنن النسائي/الحج ١٣٥ (٢٩٢٣) الأيمان ٢٩ (٣٨٤١، ٣٨٤٢)، (تحفة الأشراف: ٥٧٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٦٤) (صحيح)

(٢): انظر حديث رقم: (٣٢٩٦)، (تحفة الأشراف: ٦٢١٧) (صحيح)

(٣): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (٣٢٩٣، ٣٢٩٩)، (تحفة الأشراف: ٩٩٣٨) (صحيح)

تعیین د هغوی په نزد معتبر دي، او د امام شافعي رحمه الله نه دوه روایتونه دي، او په احنافو کښې د امام زفر رحمه الله په نزد تعین د زمان او مکان او شخص په نذر کښې معتبر دي.

[٣٣٠٥](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، قَالَ: أَخْبَرَنَا حَبِيبٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَجُلًا قَامَ يَوْمَ الْفَتْحِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي نَذَرْتُ لِلَّهِ إِنْ فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكَ مَكَّةَ، أَنْ أُصَلِّيَ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ رَكْعَتَيْنِ، قَالَ: صَلِّ هَاهُنَا، ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ، فَقَالَ: صَلِّ هَاهُنَا، ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ، فَقَالَ: شَأْنَكَ إِذًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رُوِيَ نَحْوُهُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روایت دي فرمائی چه دفتح مکې په ورځ باندې یوکس پاڅیدو اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله مادالله دپاره دانذر منلې وو که چرې ته مکه فتح کړې نوزه به په بیت المقدس کښې دوه رکعته مونځ کوم نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل هغه دوه رکعته دلته اوکړه دغه کس دوباره بیاتپوس اوکړو نونبی علیه السلام ورته هم هغه جواب ورکړو چه هغه دوه رکعته هم دلته اوکړه، هغه سړی بیا خپل سوال دوباره کړو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل اوس دي خپل اختیاردي.

قَالَ : « صَلِّ هٰهُنَا » ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ فَقَالَ : « صَلِّ هٰهُنَا »

مضمون د حدیث دا دي جابر رضي الله عنه فرمائی چه د مکې د فتح په ورځ یو سړې اودریدو او هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو چه ما دا نذر منلې وو د الله پاک دپاره چه الله پاک په تاسو باندې مکه فتح کړه نو زه به په بیت المقدس کښې دوه رکعته ادا کوم، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل هم دلته ئې اوکړه هغه بیا دوباره دا سوال اوکړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا ارشاد اوفرمائیلو هم دلته ئې اوکړه، بیا په دریم کرت هم داسې اوشو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل فَقَالَ : « شَأْنَكَ إِذًا » یعنی بس بیا ته پوهه شه اوستا کار.

[٣٣٠٦](٢) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ. ح وحَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ الْمَعْنَى، قَالَ: حَدَّثَنَا رَوْحٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي يُوسُفُ بْنُ الْحَكَمِ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، أَنَّهُ سَمِعَ حَفْصَ بْنَ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَعَمْرًا، وَقَالَ عَبَّاسٌ ابْنُ حَنَّةَ أَخْبَرَاهُ عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، عَنْ رِجَالٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْخَبَرِ، زَادَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِي بَعَثَ مُحَمَّدًا بِالْحَقِّ، لَوْ صَلَّيْتَ هَاهُنَا، لَأَجْزَأَ عَنْكَ صَلَاةً فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الْأَنْصَارِيُّ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، فَقَالَ جَعْفَرُ بْنُ عَمْرٍو وَقَالَ عَمْرُو بْنُ حَيَّةَ وَقَالَ: أَخْبَرَاهُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَعَنْ رِجَالٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

عمربن عبدالرحمن بن عوف په صحابه کرامو کښې دیوځو کسانو نه داروایت نقل کړې دي اودا اضافه ئې کړې ده چه نبی علیه السلام اوفرمائیل په هغه ذات مې دي قسم وي چاچه محمد په حقه رالیږلې دي که چرې ته دغه دوه رکعتونه دلته (بیت الله) کښې اوکړې نودابه ستادپاره کافی شي دبیت المقدس ددوه رکعتونو نه. امام ابوداود فرمائی چه داروایت انصاري دابن جریج نه نقل کړې دي او وئیلې ئې دي چه جعفربن عمر اوعمربن حیه دواړو داروایت دعبدالرحمن بن عوف. اوهغه دصحابه کرامو نه نقل کړې دي.

---

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٢٤٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٣/٣)، سنن الدارمي/النذور ٤ (٢٣٨٤) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٧٣/٥) (ضعيف الإسناد)

شرح السند :

قوله: أَنَّهُ سَمِعَ حَفْصَ بْنَ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ وَعَمْرَ وَقَالَ عَبَّاسٌ : ابْنَ حَنَّةَ أَخْبَرَاهُ عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ:

په دې سند باندې ځان داسې پوهه کړئ چه د یوسف بن الحکم دوه استاذان دی حفص بن عمر او عمر، د دې دویم استاد په باره کښې د مصنف رحمه الله د یو استاد یعنی مخلد بن خالد خوصرف عمر وئیلې دې، بغیرد نسبت نه او د مصنف رحمه الله دویم استاد عباس عنبری په ځائې د عمر عمر بن حنة یعنی د عمر نسبت ئې هم ذکر کړو. د ﴿ اخبراه ﴾ ضمیر د تثنیه حفصه بن عمر او عمر بن حنه ته راجع دې، یعنی دې دواړو خبر ورکړو خپل شاګرد یوسف ته.

قَالَ أَبُو دَاوُدَ : رَوَاهُ الْأَنْصَارِيُّ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ فَقَالَ جَعْفَرُ بْنُ عَمْرٍو وَقَالَ عَمْرُو بْنُ حَيَّةَ

دا انصاری د ابن جریج د شاګرد د روح عدیل (مقابل) دې کوم چه پورته په سند کښې راغلو، مطلب دا دې چه د ابن جریج شاګرد روح خو د هغوی نه د یوسف د استاذ نوم حفص بن عمر ذکر کړې دې، او دې انصاری د ابن جریج نه په ځائې د حفص بن عمر جعفر بن عمر ذکر کړې دې، او بله دا چه د عمر بن حنه په ځائې ئې عمر بن حیه ذکر کړې دې. ﴿وقال اخبراه عن عبدالرحمن بن عوف وعن رجال ﴾ یعنی انصاری حفص بن عمر او د عمر بن حنه استاد عبدالرحمن بن عوف ته وئیلې دې په ځائې د عمر بن عبدالرحمن، او دویم فرق ئې دا اوکړو چه په ځائې د ﴿ عن رجال ﴾ ئې ﴿ وعن رجال ﴾ کړو.

بَابٌ فِي قَضَاءِ النَّذْرِ عَنِ الْمَيِّتِ

د مړی د طرف نه د نذرپوره کولو بیان

په مسئلة الباب کښې مذاهب د ائمة :

یعنی د مړی په ذمه که یو نذر وی نو د هغې د پوره کولو بیان، د دې تفصیل [1] دا دې چه نذر د دوه حالو نه خالی نه دې یا خو به هغه مالی وی یا بدنی، یعنی د هغې تعلق به یا خو عبادت مالیه سره وی لکه صدقه یا عبادت بدنیه سره، که عبادت مالیه دې نو بیا به کتلې شی چه مړی مال پریخودلې دې یا نه، که نه ئې وی پریخودلې نو پوره کول د چا په نزد هم واجب نه دی، او که پریخودلې ئې وی نو بیا به د دې وصیت تنفیذ صرف په ثلث مال کښې واجب وی، د امام شافعی او احمد رحمهما الله په نزد مطلقا او د امام ابوحنیفه او مالک رحمهما الله په نزد په شرط د وصیت، او د دې په مقابله کښې په عبادت بدنیه کښې لکه صوم او صلوة په دې کښې د وارث د طرف نه قضاء یعنی نیابة د مړی د طرف نه جائز نه دې، خو د فدیې په ذریعه به ئې قضاء وی عند الائمة الثلاثة د امام احمد رحمه الله په نزد صوم د دې نه مستثنی دې د هغوی په نزد د صوم منذور قضاء نیابة د مړی د طرف نه جائز ده.

دا د نیابت مسئله د دې نه مخکښې په کتاب الحج او صوم کښې هم تیره شوې ده،

---

[1]) لا تجري النيابة في الصلوة عند الائمة الاربعة الا في رواية احمد ولا يجوز في الصوم عند الائمة الثلاثة ويجوز عند احمد اي في الصوم المنذور لا الواجب الاصلي ورواية الشافعي وتجري في الحج بالاتفاق)

او د اهل ظواهر په نزد د نذر قضاء د مړی د طرف نه مطلقا واجب ده برابره خبره ده که په عبادت مالي کښې وي او که په بدني کښې وي.

[٣٣٠٧](1) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ اسْتَفْتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِنَّ أُمِّي مَاتَتْ وَعَلَيْهَا نَذْرٌ لَمْ تَقْضِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اقْضِهِ عَنْهَا".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه سعد بن عباده دنبی علیه السلام نه تپوس اوکړو چه زمامور وفات شوي ده په ژوند کښې ئي يونذر منلي وو او دهغه قضا ئې نه وه راوړي اومړه شوه نبی علیه السلام اوفرمائيل ته دهغې دطرف نه دغه نذر پوره کړه.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ : أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ اسْتَفْتَى رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم الخ

سعد بن عبادة رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه معلومه کړه چه زما د مور وفات اوشو حال دا چه د هغې په ذمه يو نذر وو او هغه ئې نه وو پوره کړې نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ته ئې د هغوی د طرف نه قضاء اوکړه.

دا نذر د څه څيز وو؟ قيل كان نذرا مطلقا، وقيل نذر الصوم، وقيل نذر العتق، وقيل الصدقة.

دلته په دې حديث کښې د قضاء حکم د احنافو په نزد استحبابا دې، ځکه چه د احنافو په نزد د عبادت بدنيه نذر خو قضاء جائز نه ده. ﴿ لقول ابن عباس رضي الله عنهما لا يصوم احد عن احد ولا يصلى احد عن احد ﴾ وعن ابن عمر رضي الله عنهما نحوه..... او په عبادت ماليه کښې ا شوې ځکه مونږ اووې چه دا امر استحبابا دې د احنافو په نزد او هم دغه شان د مالکيانو په نزد. والحديث اخرجه البخاري والترمذي والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[٣٣٠٨](2) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: "أَنَّ امْرَأَةً رَكِبَتِ الْبَحْرَ، فَنَذَرَتْ إِنْ نَجَّاهَا اللَّهُ أَنْ تَصُومَ شَهْرًا، فَنَجَّاهَا اللَّهُ، فَلَمْ تَصُمْ حَتَّى مَاتَتْ، فَجَاءَتِ ابْنَتُهَا، أَوْ أُخْتُهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَهَا أَنْ تَصُومَ عَنْهَا".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه يوې ښځې په سمندرکښې سفرکولو اوداندزئې اومنلو که چرې مونږ الله تعالى صحيح اوسلامت اورسولو نوزه به يوه مياشت روژې نيسم الله تعالى هغوی صحيح سلامت اورسول ليکن هغه ښځه در وژونيولونه مخکښې وفات شوه نوددې خور بالور دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضره شوه نونبی علیه السلام ورته حکم اوکړو چه دهغې دطرف نه روژې اونيسې.

قوله: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ : أَنَّ امْرَأَةً رَكِبَتِ الْبَحْرَ فَنَذَرَتْ إِنْ نَجَّاهَا اللَّهُ أَنْ تَصُومَ شَهْرًا:

يعنى يوې زنانه د کشتئ په سفر کښې دا نذر اومنلو چه که زه ژوندئ او روغه اورسيدم نو زه به يوه مياشت روژې نيسم خو هغې ته د روژو د نيولو موقع ملاؤ نه شوه تردې چه وفات

(1): صحيح البخاري/الوصايا ١٩ (٢٧٦١)، الأيمان ٣٠ (٦٦٩٨)، الحيل ٣ (٦٩٥٩)، صحيح مسلم/النذور ١ (١٦٣٨)، سنن الترمذي/الأيمان ١٩ (١٥٤٦)، سنن النسائي/الوصايا ٨ (٣٦٨٦)، الأيمان ٣٤ (٣٨٤٨، ٣٨٤٩، ٣٨٥٠)، سنن ابن ماجه/الكفارات ١٩ (٢١٣٢)، (تحفة الأشراف: ٥٨٣٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/النذور ١ (١)، مسند احمد (١/٢١٩، ٣٢٩، ٣٧٠) (صحيح)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٤٦٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الأيمان ٣٣ (٣٨٤٨)، مسند احمد (١/٢١٦) (صحيح)

شوه، نو د هغې لور يا خور د رسول اللهﷺ په خدمت كښې حاضره شوه او نو رسول اللهﷺ هغې ته د صوم عن الميت حكم اوكړو، ﴿يعني بالاقتداء على مسلك الجمهور﴾

[٣٣٠٩](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ بُرَيْدَةَ، أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: كُنْتُ تَصَدَّقْتُ عَلَى أُمِّي بِوَلِيدَةٍ، وَإِنَّهَا مَاتَتْ وَتَرَكَتْ تِلْكَ الْوَلِيدَةَ، قَالَ: قَدْ وَجَبَ أَجْرُكِ، وَرَجَعَتْ إِلَيْكِ فِي الْمِيرَاثِ، قَالَتْ: وَإِنَّهَا مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ، فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ عَمْرٍو.

ترجمه: دبريده رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوه ښځه د نبي ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه او عرض ئې اوكړو اې دالله رسوله ماخپلې مور ته يوه وينځه وركړې ده اوس زما مور وفات شوي ده اوهغه وينځه دهغې نه په ميراث كښې پاتې شوي ده، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل ثواب دې هم حاصل كړو اووينځه درته هم په ميراث كښې واپس راغله دې ښځې عرض اوكړو چه زماپه موربانديې يوه مياشت روژې وې باقي روايت ئې دتيرشوى روايت په شان بيان كړو.

قوله: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ بُرَيْدَةَ : أَنَّ امْرَأَةً :

دا حديث بسنده ومتنه په كتاب الوصايا كښې تير شوې دې او هم دغه شان په كتاب الزكوة كښې هم ﴿ باب من تصدق بصدقة ثم ورثها ﴾ كښې، او وړاندې به په كتاب البيوع كښې په ﴿ باب في الرجل يفضل بعض ولده على بعض في النحل ﴾ كښې را روان دي.

بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ

باب: چه څوك مړشي او په هغه روژې وى نو هغه دې دهغه ولي پوره كړي

[٣٣١٠](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، قَالَ: سَمِعْتُ الْأَعْمَشَ، ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، الْمَعْنَى، عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: "أَنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: إِنَّهُ كَانَ عَلَى أُمِّهَا صَوْمُ شَهْرٍ، أَفَأَقْضِيهِ عَنْهَا؟ فَقَالَ: لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكِ دَيْنٌ، أَكُنْتِ قَاضِيَتَهُ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: فَدَيْنُ اللَّهِ أَحَقُّ أَنْ يُقْضَى".

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وائي چه يوه ښځه نبي كريم ﷺ ته راغله او عرض ئې اوكړو چه زما د مور په ذمه د يوې مياشت روژې دى آيا زه ئې دهغې دطرفه اونيسم؟ نبي كريم ﷺ ترې تپوس اوكړو: كه ستا دمور په ذمه قرض وو نو آيا تابه ادا كولو؟ هغې اووئيل: آؤ، نبي كريم ﷺ اوفرمائيل: د الله قرض خو نورهم زيات د اداكولو مستحق دي.

[٣٣١١](٣) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ،

[1]: صحيح مسلم/الصيام ٢٧ (١١٤٩)، سنن الترمذي/الزكاة ٣١ (٦٦٧)، سنن ابن ماجه/الصيام ٥١ (١٧٥٩)، (تحفة الأشراف: ١٩٨٠) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الصوم ٤٢ (١٩٥٣)، صحيح مسلم/الصيام ٢٧ (١١٤٨)، سنن الترمذي/الصوم ٢٢ (٧١٦)، سنن ابن ماجه/الصوم ٥١ (١٧٥٨)، (تحفة الأشراف: ٥٦١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٢٤، ٢٢٧، ٢٥٨، ٢٥٨، ٣٦٢)، دي/ الصوم ٤٩ (١٨٠٩) (صحيح)

[3]: انظر حديث رقم: (٢٤٠٠)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٨٢) (صحيح)

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ، صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ".

ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها فرمائی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: څوک چه مړشي اودهغه په ذمه روژې وی نو دهغه ولی دې دهغه دطرفه روژې اونيسي.

بَابُ مَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنَ الْوَفَاءِ بِالنَّذْرِ

د نذر د پوره کولو د تاکيد بيان

[۳۳۱۲]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا الْحَارِثُ بْنُ عُبَيْدٍ أَبُو قُدَامَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَخْنَسِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ: "أَنَّ امْرَأَةً أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي نَذَرْتُ أَنْ أَضْرِبَ عَلَى رَأْسِكَ بِالدُّفِّ، قَالَ: أَوْفِي بِنَذْرِكِ، قَالَتْ: إِنِّي نَذَرْتُ أَنْ أَذْبَحَ بِمَكَانِ كَذَا وَكَذَا مَكَانٌ كَانَ يَذْبَحُ فِيهِ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، قَالَ: لِصَنَمٍ؟، قَالَتْ: لَا، قَالَ: لِوَثَنٍ؟، قَالَتْ: لَا، قَالَ: أَوْفِي بِنَذْرِكِ".

عمرو بن شعيب د خپل پلارنه اوهغه دده دنيکه نه روايت کوی فرمائی چه يوه ښځه دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوه اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله مادانذر منلې دې چه تاته به تمبل غرومه يعنی کله چه جهاد ته ځې نوپه هغه وخت کښې به درته تمبل(چمبه)غږوم نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل نذر دې پوره کړه دې ښځې اووئيل چه ماپه فلاني فلاني ځائې کښې دذبح کولو نذرمنلې دې اوهلته به د جاهليت په وخت کښې خلقو ذبح کولې نبی عليه السلام اوفرمائيل ايا هلته به دکوم بت دپاره ذبح کيدلې؟ دغې ښځې اووئيل نه نبی عليه السلام تپوس اوکړو اياد الله تعالی نه علاوه دبل چاپه نوم باندې ذبح به کيدلې؟ هغې عرض اوکړو نه نونبی عليه السلام ورته اوفرمائيل خپل نذر پوره کړه.

قوله: أَنَّ امْرَأَةً أَتَتِ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَتْ : يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّى نَذَرْتُ أَنْ أَضْرِبَ عَلَى رَأْسِكَ بِالدُّفِّ. قَالَ : « أَوْفِى بِنَذْرِكِ ».

په دې روايت کښې دلته اختصار دې د ترمذی په روايت کښې په دې باندې اضافه ده، مضمون د حديث دا دې چه رسول الله ﷺ يو کرت خپل بعض مغازی ته تشريف يوړو، د رسول الله ﷺ په واپسئ باندې يو توره وينځه راغله او هغې عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ ما نذر منلې وو چه که تاسو الله پاک صحيح او سالم واپس کړئ نو زه به ستاسو مخکښې تمبل وهم (دوپړئ نه ځکه چه هغه ممنوع دی کما سياتی فی الاشربة نهی عن الطبل) ﴿ بين يديک ﴾ دا لفظ د ترمذی په روايت کښې دې په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه واقعی تا هم دا نذر منلې دې نو هغه پوره کړه د دې حديث په باره کښې امام ترمذی رحمه الله فرمائی ﴿ حديث حسن صحيح غريب ﴾

شرح الحديث:

د دې حديث په شرح کښې امام خطابی رحمه الله ليکی چه وهل دقبيل خو د هغه طاعاتو نه نهٔ دې چه د هغې نذر صحيح وی ځکه چه وهل د قبل زيات نه زيات مباح کيدې شی نه طاعت خو

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۷۵۶) (حسن صحيح)

چونکه ددې ضرب دفن تعلق د بعض داسې ځیزونه سره دې چه هغې ته عبادت وئیلې کیدې شی، یعنی د رسول الله ﷺ په سلامتیا سره په واپسئ باندې د خوشحالئ اظهار چه په هغې کښې مساءة دکفارو دې او اذلال د منافقین وغیره امورو، په دې حیثیت سره په دې کښې د عبادت معنی پیدا شوه، او بیا وراندې په دې حدیث کښې دی چه دې زنانه دا هم عرض اوکړو چه ما په فلانی مکان کښې د څاروی د ذبح کولو نذر منلې وو چرته چه به د جاهلیت والو ذبح کوله، رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چه ستا دا نذر د یو بت په نوم باندې د ذبح کولو دپاره دې، هغې اووې داسې نه ده پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل خپل نذر پوره کړه، د دې نه پس هم یو بل روایت هم د دې قسم مضمون را روان دې.

[٣٣١٣]([1]) حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ رُشَيْدٍ، حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو قِلَابَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي ثَابِتُ بْنُ الضَّحَّاكِ، قَالَ: "نَذَرَ رَجُلٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْحَرَ إِبِلًا بِبُوَانَةَ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنِّي نَذَرْتُ أَنْ أَنْحَرَ إِبِلًا بِبُوَانَةَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ كَانَ فِيهَا وَثَنٌ مِنْ أَوْثَانِ الْجَاهِلِيَّةِ يُعْبَدُ؟، قَالُوا: لَا، قَالَ: هَلْ كَانَ فِيهَا عِيدٌ مِنْ أَعْيَادِهِمْ؟، قَالُوا: لَا، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْفِ بِنَذْرِكَ، فَإِنَّهُ لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ، وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ".

د ثابت بن ضحاك نه روایت دې فرمائی چه د نبی علیه السلام په زمانه کښې داندرمنلې وو چه زه به په بوانه مقام کښې اوښ ذبح کوم نودغه کس دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضرشو اوعرض ئې اوکړو چه ماپه بوانه مقام کښې داوښ دذبح کولونذرمنلې دې نبی علیه السلام ورته اوفر مائیل ایاپه بوانه کښې دجاهلیت دزمانې کوم بت وو چه عبادت ئې کیدو؟ صحابه کراموعرض اوکړونه بیانبی علیه السلام اوفرمائیل ایادمشرکانوپه میلوکښې کومه میله به دلته کیدله عرض اوکړې شو چه نه په دې وخت کښې نبی علیه السلام تپوس کونکې ته متوجه شو اووئې فرمائیل ته خپل نذر پوره کړه اودګناه په کارکښې نذر پوره کول نشته دې اونذر پوره کول په هغه ځیزکښې نه دی کوم چه دانسان په اختیارکښې نه دی یعنی دکوم ځیز چه انسان مالك نه دې.

[٣٣١٤]([2]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ بْنِ مِقْسَمٍ الثَّقَفِيُّ مِنْ أَهْلِ الطَّائِفِ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي سَارَّةُ بِنْتُ مِقْسَمٍ الثَّقَفِيِّ، أَنَّهَا سَمِعَتْ مَيْمُونَةَ بِنْتَ كَرْدَمٍ، قَالَتْ: "خَرَجْتُ مَعَ أَبِي فِي حَجَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَسَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَعَلْتُ أُبِدُّهُ بَصَرِي، فَدَنَا إِلَيْهِ أَبِي وَهُوَ عَلَى نَاقَةٍ لَهُ مَعَهُ دِرَّةٌ كَدِرَّةِ الْكُتَّابِ، فَسَمِعْتُ الْأَعْرَابَ وَالنَّاسَ يَقُولُونَ: الطَّبْطَبِيَّةَ، الطَّبْطَبِيَّةَ، فَدَنَا إِلَيْهِ أَبِي، فَأَخَذَ بِقَدَمِهِ، قَالَتْ: فَأَقَرَّ لَهُ، وَوَقَفَ، فَاسْتَمَعَ مِنْهُ، فَقَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي نَذَرْتُ إِنْ وُلِدَ لِي وَلَدٌ ذَكَرٌ، أَنْ أَنْحَرَ عَلَى رَأْسِ بُوَانَةَ فِي عَقَبَةٍ مِنَ الثَّنَايَا عِدَّةً مِنَ الْغَنَمِ، قَالَ: لَا أَعْلَمُ إِلَّا أَنَّهَا قَالَتْ: خَمْسِينَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ بِهَا مِنَ الْأَوْثَانِ شَيْءٌ؟، قَالَ: لَا، قَالَ: فَأَوْفِ بِمَا نَذَرْتَ بِهِ لِلَّهِ، قَالَتْ: فَجَمَعَهَا، فَجَعَلَ يَذْبَحُهَا، فَانْفَلَتَتْ مِنْهَا شَاةٌ، فَطَلَبَهَا وَهُوَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ أَوْفِ عَنِّي نَذْرِي، فَظَفِرَهَا، فَذَبَحَهَا".

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٠٦٥) (صحيح)

[2]: انظر حديث (٢١٠٣)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٩١) (صحيح)

میمونه بنت کَردم وائی چه زه دخپل پلار سره په حجة الوداع کښې اووتلم نو ما رسول الله ﷺ اولیدلو او دخلقونه مې واوریدل چه دا رسول الله ﷺ دې، ما په هغه خپل نظر واچولو، زما پلار دهغوی ﷺ سره نزدې شو، هغوی ﷺ په خپله اوښه باندې سور وو، دهغوی ﷺ سره د مکتب (مدرسې) د دُرې په شان یوه دُره وه، ما د باندچیانو او خلقو نه واوریدل، شن شن (د دُرې آواز چه تیزئ سره وهلو او تاوولو په وخت اوځی) نو زما پلار دهغوی ﷺ سره نزدې شو، او دهغوی ﷺ خپې ئې اونیولې، دهغوی ﷺ د رسالت اقرار ئې اوکړو، اودریدو اودهغوی ﷺ خبرې ئې توجه سې واوریدلې، بیا هغه اووئیل: اې دالله رسوله ﷺ! ما نذر منلې دې که زما ځوئې اوشو نو زه به د بوانه په سختو غرونو کښې د ډیرو چیلو قربانی کوم، راوی وائی: ماته دا معلومه ده چه هغوی پنځو چیلئ یادې کړې، نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو: آیا هلته څه بُت شته؟ هغوی اووئیل: نا، نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: تا چه دالله تعالی دپاره کوم نذر منلې دې هغه پوره کړه، هغه چیلئ جمع کړې او ذبح ئې کړې، دهغې نه یوه چیلئ ټوپ کړل اوتختیده، نوهغه دا (چیلئ) لټوله او وئیل ئې، اې الله! زما نذر پوره کړې، بیا ئې هغه پیدا کړه نو ذبح ئې کړه.

[۳۳۱۵]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الْحَنَفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ مَيْمُونَةَ بِنْتِ كَرْدَمِ بْنِ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِيهَا، نَحْوَهُ مُخْتَصَرٌ مِنْهُ شَيْءٌ، قَالَ: هَلْ بِهَا وَثَنٌ أَوْ عِيدٌ مِنْ أَعْيَادِ الْجَاهِلِيَّةِ؟، قَالَ: لَا، قُلْتُ: إِنَّ أُمِّي هَذِهِ عَلَيْهَا نَذْرٌ، وَمَشْيٌ، أَفَأَقْضِيهِ عَنْهَا؟، وَرُبَّمَا قَالَ ابْنُ بَشَّارٍ: أَنَقْضِيهِ عَنْهَا؟، قَالَ: نَعَمْ.

میمونه دخپل پلار کردم بن سفیان نه ددې پشان لیکن ددې نه لږ اختصار سره روایت کوی نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو: آیا هلته څه بت شته؟ یا دجاهلیت د اخترونو نه یو اختر کیږی؟ هغه اووئیل: نا، ما اووئیل: دا زما مور ده ددې په ذمه نذر دې، او پیدل حج کول دی، آیا زه دا ددې دطرفه پوره کړم؟ او ابن بشار داسې وئیلی دی: آیا مونږ ددوی دطرفه دا پوره کړو؟ (دجمع صیغې سره) نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: آؤ.

بَابٌ فِي النَّذْرِ فِيمَا لَا يَمْلِكُ

دغیراختیاری څیزونود نذرمنلوبیان

د باب د حدیث په آخر کښې دی: لاَ وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ وَلاَ فِيمَا لاَ يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ

ترجمة الباب والا مسئلة کښې مذاهب ائمة:

د دې مضمون مفصل حدیث په ﴿ باب فی الطلاق قبل النکاح ﴾ کښې تیر شوې دې ﴿عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان النبی ﷺ قال لا طلاق الا فیما تملک ولا عتق الا فیما تملک ولا بیع الا فیما تملک ولا وفاء نذر الا فیما تملک ﴾ او په یو روایت کښې دا زیادت دې ﴿ومن حلف علی معصیة فلا یمین له ﴾ د دې ټولو مسائلو بیان او اختلاف د علماء کرامو په کتاب الطلاق کښې د دې حدیث د لاندې تیر شوې دې، خو د نذر متعلق مسئله مونږ دوباره دلته

[۱]: انظر ما قبله (صحیح)

ليکو يعنی کوم څيز چه د انسان په ملک کښې نه وی د نذر منلو په وخت، د هغې نذر معتبر نه دې، منذور به که د مال د قبيلې نه دې نو د هغې د ناذر په ملک کښې کيدل پکار دی يا کم از کم چه هغه نذر مضاف الی الملک وی يا مضاف الی سبب الملک وی، په دې دواړو صورتونو کښې هم نذر صحيح کيږی لکه چه يو انسان داسې اوائی ﴿ ان شفی الله مريضی فعبد زيد حر ﴾ دا نذر باطل دې بالاتفاق يا خو ئې خپل غلام کيدل پکار دی يا بيا اضافت الی الملک يا سبب الملک کيدل پکار دی لکه چه داسې اوئيلې شی ﴿ کل مال املکه فيما استقبل فهو صدقة ﴾ يا داسې اوائی ﴿ کل ما اشتريته او ارثه فهو صدقة ﴾ او د امام مالک رحمه الله په نزد اضافت الی الملک يا اضافت الی سبب الملک سره دې د هغه څيز څه صفت هم ذکر کړې شی مثلا د قبيلې تعين يا د يو ښهر تعين يا بل څه صفت چه په هغې سره فی الجملة تخصيص پيدا شی نو بيا نذر صحيح کيږی ګڼې نه، او د امام شافعی رحمه الله په نزد اضافت الی الملک يا الی سبب الملک که عموما وی يا خصوصا په دواړو صورتونو کښې معتبر نه دې فی الحال ملکيت کيدل پکار دی، د احنافو او مالکيانو په نزد دا حديث په تنجيز باندې محمول دې چه يو انسان په يو غير مملوک څيز باندې نذر اومنی دا تنجيزا معتبر نه دی، د تعليق په صورت کښې معتبر دی، او د امام شافعی رحمه الله په نزد تنجيز او تعليق دواړه د حديث په مفهوم کښې داخل دی، ملا علی قاری رحمه الله فرمائي: ﴿ومذهبنا مروی عن عمرو ابن مسعود وابن عمر﴾ والجواب عن الاحاديث المذكورة انها محمولة علی نفی التنجيز والحمل ماثور عن السلف كالشعبی والزهری، قال عبدالرزاق فی مصنفه : انا معمر عن الزهری انه قال فی رجل قال كل امرءة اتزوجها فهی طالق، وكل امة اشتريها فهی حرة هو كما قال، فقال له معمر اوليس قد جآء : لا طلاق قبل النكاح ولا عتق الا بعد ملك، قال انما ذلك ان يقول امراءة فلان طالق، وعبد فلان حر آه (بذل ۳/۲۷۳) په بذل کښې د دې نه پس د مصنف ابن ابی شيبة نه د ډيرو تابعينو نه هم دا نقل کړې شوې دی لکه سالم، قاسم بن محمد، عمر بن عبدالعزيز، شعبی، النخغی او الزهری رحمهم الله وغيره يعنی دا چه دا حديث په تنجيز باندې محمول دې او د تعليق والا صورت په دې کښې داخل نه دې.

[۳۳۱۶] (١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْمُهَلَّبِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: كَانَتِ الْعَضْبَاءُ لِرَجُلٍ مِنْ بَنِي عُقَيْلٍ، وَكَانَتْ مِنْ سَوَابِقِ الْحَاجِّ، قَالَ: فَأُسِرَ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي وَثَاقٍ، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حِمَارٍ عَلَيْهِ قَطِيفَةٌ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، عَلَامَ تَأْخُذُنِي وَتَأْخُذُ سَابِقَةَ الْحَاجِّ؟ قَالَ: نَأْخُذُكَ بِجَرِيرَةِ حُلَفَائِكَ ثَقِيفَ، قَالَ: وَكَانَ ثَقِيفُ قَدْ أَسَرُوا رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: وَقَدْ قَالَ فِيمَا قَالَ: وَأَنَا مُسْلِمٌ، أَوْ قَالَ: وَقَدْ أَسْلَمْتُ، فَلَمَّا مَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: فَهِمْتُ هَذَا مِنْ مُحَمَّدِ بْنِ عِيسَى، نَادَاهُ: يَا مُحَمَّدُ، يَا مُحَمَّدُ، قَالَ: وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِيمًا، رَفِيقًا، فَرَجَعَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: مَا شَأْنُكَ؟ قَالَ: إِنِّي مُسْلِمٌ، قَالَ: لَوْ قُلْتَهَا وَأَنْتَ تَمْلِكُ أَمْرَكَ،

[١]: صحيح مسلم/النذر ۳ (۱٦٤١)، سنن النسائي/الأيمان ۳۱ (۳۸۲۱)، ٤١ (۳۸٦٠)، (تحفة الأشراف: ۱۰۸۸٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/ السير (۱٥٦٨)، سنن ابن ماجه/الكفارات ۱٦ (۲۱۲٤)، مسند احمد (٤۲٧٤، ٤۳٠، ٤۳۲، ٤۳۳)، دي/النذور ۳ (۲۳۸۲) (صحيح)

أَفْلَحْتَ كُلَّ الْفَلَاحِ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: ثُمَّ رَجَعْتُ إِلَى حَدِيثِ سُلَيْمَانَ، قَالَ: يَا مُحَمَّدُ، إِنِّي جَائِعٌ فَأَطْعِمْنِي، إِنِّي ظَمْآنُ فَاسْقِنِي، قَالَ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَذِهِ حَاجَتُكَ، أَوْ قَالَ: هَذِهِ حَاجَتُهُ، قَالَ: فَفُودِيَ الرَّجُلُ بَعْدُ بِالرَّجُلَيْنِ، قَالَ: وَحَبَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَضْبَاءَ لِرَحْلِهِ، قَالَ: فَأَغَارَ الْمُشْرِكُونَ عَلَى سَرْحِ الْمَدِينَةِ، فَذَهَبُوا بِالْعَضْبَاءِ، قَالَ: فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهَا، وَأَسَرُوا امْرَأَةً مِنَ الْمُسْلِمِينَ، قَالَ: فَكَانُوا إِذَا كَانَ اللَّيْلُ يُرِيحُونَ إِبِلَهُمْ فِي أَفْنِيَتِهِمْ، قَالَ: فَنُوِّمُوا لَيْلَةً، وَقَامَتِ الْمَرْأَةُ، فَجَعَلَتْ لَا تَضَعُ يَدَهَا عَلَى بَعِيرٍ إِلَّا رَغَا، حَتَّى أَتَتْ عَلَى الْعَضْبَاءِ، قَالَ: فَأَتَتْ عَلَى نَاقَةٍ ذَلُولٍ مُجَرَّسَةٍ، قَالَ: فَرَكِبَتْهَا، ثُمَّ جَعَلَتْ لِلَّهِ عَلَيْهَا إِنْ نَجَّاهَا اللَّهُ لَتَنْحَرَنَّهَا، قَالَ: فَلَمَّا قَدِمَتِ الْمَدِينَةَ عُرِفَتِ النَّاقَةُ نَاقَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأُخْبِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا، فَجِيءَ بِهَا، وَأُخْبِرَ بِنَذْرِهَا، فَقَالَ: بِئْسَ مَا جَزَيْتِيهَا أَوْ جَزَتْهَا، إِنِ اللَّهُ أَنْجَاهَا عَلَيْهَا لَتَنْحَرَنَّهَا، لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ، وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَالْمَرْأَةُ هَذِهِ امْرَأَةُ أَبِي ذَرٍّ.

دعمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دي چه عضباء دنبی عليه السلام اوښه) په بنی عقيل قبيله کښې ديوکس وه اوداوښه په هغه ځاروو کښې وه کوم چه به دخدمت دپاره دحاجيانو نه مخکښې روان وو، بيادي مالك گرفتار کړې شو او وتړلې شو او نبی عليه السلام ته پيش کړې شو په دې وخت کښې نبی عليه السلام په يوخرباندې سور وو او په هغه باندې کته پرته وه دعضباء مالك اووئيل اې محمد زه تاسوپه کوم جرم کښې نيولې يم اوداځاروې هم کوم چه دحاجيانو دانتظام دپاره مخکښې روان وې نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل ته مونږ دبنو ثقيف قبيلې دحليف کيدو د جرم په سلسله کښې نيولې ئې بنو ثقيف قبيلې والاداجرم کړې وو چه دصحابه کرامونه ئې دوه کسان گرفتار کړي وو په دې وخت کښې دغضباء مالك اووئيل زه مسلمان يم يا مسلمان شوې يم، ليکن نبی عليه السلام مخکښې لاړو. ابوداود وائی چه دحديث داجمله چه نبی عليه السلام مخکښې لاړو، مادمحمدبن عيسي نه معلومه کړې ده، کله چه نبی عليه السلام مخکښې لاړو نودې کس په چغه ورته آواز اوکړو اې محمد، عمران وائی چه نبی عليه السلام ډيررحم اوکرم کونکې وو چه کله ئې داخبره واوريده نوورته راواپس شو اوتپوس ئې ترې اوکړو چه څه خبره ده؟ دغه کس عرض اوکړو چه زه مسلمان يم نبی عليه السلام اوفرمائيل که چرې دادې دنيولونه مخکښې وئيلي وې نواوس به ته په خپل اختيارکښې وې (يعنی قيدشوې به نه وې) او پوره نجات به دې حاصل کړې وو ده بياعرض اوکړو اې محمد زه وږې شوم خوراك راته راکړه اوتږې شوې يم دڅکلو دپاره اوبه راکړه نبی عليه السلام اوفرمائيل ستامقصد هم داوو، بائې داسې اوفرمائيل دداسې سړی هم دامقصد وي راوي وائی چه بياداسړې دهم هغه دوه صحابه کرامو په عوض کښې فديه کړې شو کوم چه بنوثقيف گرفتارکړي وو (يعنی بنو ثقيف ته ئې حواله کړواودده په بدل کښې ئې هغه دوه کسان پريخودل) عضباء اوښه نبی عليه السلام دخپلې سورلۍ دپاره منتخب کړې وه، راوي وائی چه ددې نه پس مشرکانو د مدينې په ځاروو باندې ډاکه واچوله او عطباء اوښه ئې هم دځان سره بوتله اويوه مسلمانه زنانه ئې هم گرفتارکړې بوتلله، چه کله به شپه شوه نواوښان به بې دارام دپاره په يو ميدان کښې پريخودل، يوه شپه دغه کسان اوده وو نودغه زنانه په دې اراده باندې پاځيده چه پټه به په کوم اوښ باندې سوره شم او اوبه تښتم، نودې زنانه چه به په کوم اوښ باندې لاس ايخودو هغه به آواز کولو تردې چه عضباء اوښې ته راغله او ورته معلومه شوه چه دا ډيره

ښه شریفه اود سورلی کولو دپاره ډیره ماهره اوښه ده نوهغه په دې باندې سوره شوه ددې نه پس دې زنانه دالله تعالی دپاره نذراومنلو که چرې الله تعالی ماته په دې اوښه باندې ددوی نه نجات راکړو نوزه به دا قرباني کوم، راوي وئیلی دی کله چه دا زنانه مدینې ته راورسیده نوخلقو ولیدل چه په عضباء اوښه باندې راغله اوهغه ئې او پیژندله اونبی ﷺ ته ئې دذې اطلاع ورکړه نبی ﷺ دغه زنانه راوغوښتله اوهغې خپل نذر بیان کړو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل ته دې اوښې ته بده بدله ورکول غواړې کله چه الله تعالی تاته ددې اوښې په شاه باندې دهغې نه نجات درکړو نوددې بدله داشوه چه ته ئې ذبح کړې اوبیا ئې اوفرمائیل دهغه نذر پوره کول جائزنه دی په کوم کښې چه دالله نافرمانئ وي اوداسې نذر پوره کول هم نشته کوم چه دانسان په اختیارکښې نه دې. امام ابوداود وائی دازنانه دابوذره کورودانې وه.

قوله: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ : قَالَ كَانَتِ الْعَضْبَاءُ لِرَجُلٍ مِنْ بَنِي عَقِيلٍ وَكَانَتْ مِنْ سَوَابِقِ الْحَاجِّ قَالَ : فَأُسِرَ فَأَتَى النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– وَهُوَ فِي وَثَاقٍ :

د رسول الله ﷺ د دې اوښې غضباء واقعه کومه چه دلته ذکر کړې شوې ده، دا مونږ په ﴿باب في اقطاع الارضين﴾ کښې د صخر بن عیله رضی الله عنه د حدیث د لاندې مختصر لیکلې ده په یو خاص مناسبت سره، هلته دې اوکتلې شي. (۵/۱۷۱)

د دې قصې باقی حصه دا ده قَالَ : فَفُودِىَ الرَّجُلُ بَعْدُ بِالرَّجُلَيْنِ. یعنی بیا د دې قیدی انجام دا شو چه هغه د ددوه مسلمانانو قیدیانو په بدله کښې پریخودلې شو......... چه د هغې ذکر په پورته قصه کښې راغلې دې، قَالَ : وَحَبَسَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– الْعَضْبَاءَ لِرَحْلِهِ یعنی دا عضباء اوښه رسول الله ﷺ د خپلې سورلئ دپاره ایساره کړه. قَالَ – فَأَغَارَ الْمُشْرِكُونَ عَلَى سَرْحِ الْمَدِينَةِ فَذَهَبُوا بِالْعَضْبَاءِ – قَالَ – فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهَا وَأَسَرُوا امْرَأَةً مِنَ الْمُسْلِمِينَ – قَالَ – فَكَانُوا إِذَا كَانَ اللَّيْلُ يُرِيحُونَ إِبِلَهُمْ فِي أَفْنِيَتِهِمْ الخ.

د ناقة غضباء یوه قصه :

وراندې راوی چه د دې ناقه عضباء سره کومه قصه پیښه شوه هغه بیانوی هغه دا چه یو ورځ داسې اوشو چه بعض مشرکینو د اهل مدینه په اوښانو باندې حمله اوکړه او هغه ئې لوټ کولو سره یوړل او د هغه اوښانو سره دا اوښه هم لاړه او هم دغه شان ئې یوه زنانه هم قید کولو سره یوړه دا زنانه د ابوذرغفاری رضی الله عنه ښځه وه، دې مشرکانو چه کوم اوښان لوټ کولوسره د مدینې نه بوتلل د سفر دوران کښې چه به کله شپه راغله نو هغه اوښان به ئې د خیمو مخې ته اوتړل او اودهٔ به شو، دا بوډئ د هغوی سره وه چه هر وخت به ئې خان بچ کولو سره د هغوی د لاسو نه د تختیدو فکر کولو، پس یوه ورځ داسې اوشوه چه کله دا ټول غله د شپې اودهٔ شو نو دا زنانه ویښه وه دا پاسیده او یوه دسورلئ قابله اوښه ئې اولټوله چه په هغې باندې سوریدو سره مدینې ته واپس شي، اصل کښې هره یوه اوښه د سورلئ قابله نه وی په دې وجه رومبی هغه اوښه کتلې کیږی چه هغه د سورلئ قابله ده یا نه ده، دا زنانه تجربه کاره وه پوهیده چه د سورلئ قابله کومه یوه اوښه وی، پس زنانه پټه پاسیده او

په هغه اوښو باندې به ئې په هر یو باندې لاس کیخودلو، چه په کومه به ئې هم لاس کیخودلو هغه به هنریدله، (په اوښ باندې چه کله کیجاوه وغیره کیخودلې شی د سورلئ دپاره یا د سامان تړلو دپاره نو هغه وخت هغه څه آواز اوباسی) چه کله به هغه اوښې څه وئیل دا زنانه به یکدم د هغې نه اخوا شوه دا اندازه لګولو سره چه دا د سورلئ قابله نه ده او د دې ویرې نه چه دا اودهٔ کسان راپانسی غرض دا چه هغې به هم دغه شان زر زر په یو یو باندې لاس کیخودلو او چه کله به هغې خبرې کولې نو روستو به شوه ترې نه، چه کله د دې ناقه عضباء نمبر راغلو او په هغې باندې هم دې لاس کیخودلو نو هغې څه او نه وئیل، پس د مسلم په روایت کښې دی ﴿ فجعلت اذا دنت من البعير رغا فتتركه حتى تنتهى العضباء فلم ترغ﴾ دا پوهه شوه چه دا اوښه د سورلئ قابله ده. د ﴿ذلول﴾ او ﴿ مجرسة ﴾ معنی هم دا ده یعنی هغه اوښه چه د سور تابع کیدو سره د سورلئ لائق وی، پس په هغې باندې سوره شوه، او د مدینې رخ ئې اوکړو او دغه وخت کښې هغې دا نذر هم اومنلو ﴿ ان نجاها الله لتنحرنها ﴾ چه که الله پاک د دې اوښې په ذریعه ماته خلاصې راکړو او په دې باندې سوریدو سره زه مدینې طیبې ته روغه اورسیدم نو زه به دا اوښه د الله پاک دپاره ذبح کوم، پس په هغې باندې کیناستلو سره هغه مدینې طیبې ته روغه اورسیدله. ﴿ فلما قدمت المدينة عرفت الناقة ناقة النبیﷺ ﴾ یعنی چه کله د ورځې خلقو دا اوښه اولیده نو هغوی پوهه شو چه دا خو د رسول اللهﷺ ناقه عضباء ده او بیا رسول اللهﷺ ته د دې خبر ورکړې شو، رسول اللهﷺ سړې اولیږلو او دا زنانه ئې راطلب کړه او بیا د هغه زنانه د نذر ذکر هم اوکړې شو، رسول اللهﷺ اوفرمائیل « بِئْسَمَا «جَزَتْهَا» او جزيتهادا د راوی شک دې چه رسول اللهﷺ د غائب په صیغې سره اوفرمائیل یا زنانه ته خطاب کولو سره ئې صیغه د حاضر تلفظ اوفرمائیله، یعنی دې زنانه دې اوښې ته دا ډیره بده بدله ورکړه. « إِنِ اللَّهُ أَنْجَاهَا عَلَيْهَا لَتَنْحَرَنْهَا دا حرف شرط دې یعنی که الله پاک دې ته خلاصې ورکړی په دې اوښه باندې نو دا به خامخا دا ذبح کوی. د دې جزاء بد کیدل صورة ښکاره دی چه کوم څاروی لره الله پاک د دې زنانه د نفس د حفاظت ذریعه جوړه کړه هغه زنانه دې دا هلاک کړی ﴿ هذا جزاء الحسنة بالسيئة ﴾ بیا وړاندې رسول اللهﷺ د شرعی مسئلې دا خبره بیان کړه لاَ وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ وَلاَ فِيمَا لاَ يَمْلِكُ یعنی د کوم څیز چه انسان مالک نه وی په هغې کښې د نذر منلو څه مطلب، نذر خو د خپل مال کیدل پکار دی د دې حدیث شرح او د مسئلې تفصیل مونږ د باب په شروع کښې بیان کړې دې.

د استیلاء الکافر علی مال المسلم متعلق یو سوال او د هغې جواب

دلته یو بل علمی سوال او جواب دې هغه دا چه په کتاب الجهاد کښې یو د یو باب د لاندې ﴿ باب فی المال يصيبه العدو من المسلمين ثم يدركه صاحبه ﴾ دا مسئله تیره شوې ده د احنافو او د مالکیانو په نزد استیلاء الکافر علی مال المسلم سبب د ملک دې نو د دې تقاضا دا ده چه دا مشرک د دې عضباء مالکان شوی وو او دې زنانه دا د مشرکانو مال لوټ کولو سره راوړو لهذا دا اوښه مال غنیمت شو چه د هغې مالک واپس کیدونکې

پکار دي، په دي باندې ﴿ لا يملك ﴾ کله صادقيږي د شوافعو او د مالکيانو په مسلک باندي خو هيڅ اشکال نشته ځکه چه د هغوي په نزد استيلاء الکافر سبب د ملک نه وي، د دې اشکال جواب دا دې چه د احنافو په نزد استيلاء سبب د ملک بعد الاحراز وي، دلته اګر چه استيلاء موندلې شوې ده خو تر اوسه پورې احراز نه دې موندلې شوې، يعنی مال لره د دارالاسلام نه دارالحرب ته منتقل کول، او د مالکيانو په نزد استيلاء الکافر مطلقا سبب د ملک وي، پس دا حديث که خلاف دې نو د مالکيانو خلاف دې نه د احنافو. والله تعالی اعلم بالصواب. قَالَ أَبُو دَاوُدَ : وَالْمَرْأَةُ هَذِهِ امْرَأَةُ أَبِي ذَرٍّ، والحديث اخرجه مسلم والنسائی بطوله، واخرجه الترمذی منه طرفا، واخرج النسائی وابن ماجة منه طرفا، قاله المنذری

بَاب فِيمَنْ نَذَرَ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِمَالِهِ

د الله په لار کښې د ټول مال صدقه کولو نذرمنل

[۳۳۱۷]() حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، وَابْنُ السَّرْحِ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، قَالَ: قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَأَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ كَعْبٍ، وَكَانَ قَائِدَ كَعْبٍ مِنْ بَنِيهِ حِينَ عَمِيَ، عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قُلْتُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ، فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ، قَالَ: فَقُلْتُ: إِنِّي أُمْسِكُ سَهْمِيَ الَّذِي بِخَيْبَرَ".

دعبدالله بن کعب بن مالك نه روايت دي فرمائي چه ما عرض وکړو اې دالله رسوله زما دپاره داستغفار طريقه داده چه زه دخپل ټول دولت نه جداشم او الله اود الله رسول ته ئې صدقه کړم، نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل ددې مال نه يوڅه دځان دپاره هم اوساته، ځکه چه دا ستا دپاره بهتردې ماورته عرض وکړوچه په غزوه خيبر کښې چه زماکومه حصه ده هغه به اوساتم.
عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ. قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم : « أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ ..الخ»

په تصدق بجميع المال کښې مذاهب ائمة :

په ترجمة الباب کښې چه کومه مسئله ذکرکړې شوې ده هغه د تصدق بجميع المال د نذر ده که يو سړې دا نذر اومني چه که زما فلانې کار اوشو نو زه به خپل ټول مال د الله پاک دپاره صدقه کوم دا مسئله مختلف فيه ده د مالکيانو او حنابله مسلک په دې صورت کښې دا دې چه ﴿ يکفيه التصدق بالثلث ﴾ يعنی د داسې انسان دپاره د ثلث مال صدقه کول کافی دی، او د امام شافعی رحمه الله په نزد به پوره صدقه کولې شی، وعند الحنفية جميع المال الزکوی ان کان والا فما کان..... يعنی د احنافو په نزد به نذر په هغه مال باندې محمول وی چه په هغې کښې زکوة واجب وی (نقدين والسوائم وغيره) که هغه سره مال زکوی وی، او که هغه سره داسې قسم مال موجود نه وی نو بيا چه هر يو مال وی هم په هغې باندې به محمول وی، هم هغه ټول به ورکولې شی، د امام مالک رحمه الله مسلک خپله په موطاء کښې موجود دې ﴿ عن

(): سنن النسائي/الأيمان ۳۵(۳۸۵٤)، انظر حديث رقم: (۲۲۰۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۳۵) (صحيح)

عائشة ام المومنين انها سئلت عن رجل قال مالي في رتاج الكعبة فقالت عائشة يكفره ما يكفر اليمين﴾ قال مالک في الذى يقول مالي في سبيل الله ثم يحنث قال يجعل ثلث ماله في سبيل الله وفي الاوجزواخرج محمد في موطاه اثر عائشة ثم قال قد بلغنا هذا عن عائشة واحب الينا ان يفي بما جعل على نفسه فيتصدق بذلک ويمسک ما يقوته فاذا افاد مالا تصدق بمثل ما امسک وهو قول ابى حنيفة والعامة من فقهائنا آهـ امام محمد رحمه الله فرمائي چه زمونږ په نزد د دې صورت حکم دا دې چه داسې نذر منلو والا انسان دې دا خپل نذر پوره کړي يعنې ټول مال دې صدقه کړي او د خپل حاجت مناسب دې ترې نه اوساتي او بيا چه چرته د بل ځائې نه مال اوګټي نو دا مقدار دې هم صدقه کړي. اوجز ۴/۱۶۵

شرح الحديث من حيث الفقه :

د حديث الباب مضمون دا دې چه کله د کعب بن مالک رضي الله عنه توبه قبوله شوه نو هغوى رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ (زما په ذهن او اعتقاد کښې دا خبره ده) چه زما د توبې کمال په دې کښې دې چه زه خپل ټول مال الله پاک او د هغه د رسول ﷺ دپاره صدقه کولو سره د هغې نه جدا شم، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه څه مال ته د خپل ځان دپاره اوساته دا ستا دپاره زياته غوره ده، نو هغوى عرض اوکړو: ډيره ښه ده زه به خپله هغه حصه چه ماته د خيبر په غنيمت کښې ملاؤ شوې ده د خپل ځان دپاره ايساره کړم، او د دې نه په روستو روايت کښې دى چه رسول الله ﷺ هغوى د ټول مال د تصدق نه او دغه شان د نصف مال د تصدق نه هم منع کړو او بيا ئې په آخير کښې د ثلث مال د تصدق اجازت ورکړو. مالکيانو او حنابله د دې حديث نه استدلال کړې دې پس په حاشيه د بذل کښې دى ﴿ استدل به الموفق فيمن نذر التصدق بجميع ماله انه يجزئه التصدق بالثلث، وبه قال مالک، وقال الشافعي رحمه الله يلزمه الكل في التبرز دون اللجاج، وقال الحنفية يلزمه تصدق المال الزكوى كله آهـ نذر اللجاج والغضب هغه نذر ته وائي کوم نذر چه انسان په جوش کښې راتلو سره د قسم په طور باندې اومني د يو کار د کولو يا د هغې نه د منع کيدو دپاره چه په هغې سره د ناذر مقصود قربت او عبادت نه وى صرف په خپله ذمه څه کار اخستل مقصود وى، نذر تبرز نذر طاعت ته وائي چه په هغې سره مقصود قربت او عبادت وى او ښه سوچ کولو سره هغه نذر اومنلې شى، په نذر اللجاج باندې تفصيلى کلام د وړاندې يو باب نه پس را روان دې، لهذا دا حديث د احنافو او شوافعو خلاف شو، د دې جواب د احقر په ذهن کښې دا دې چه په دې قصه د کعب رضي الله عنه کښې د نذر ذکر کوم ځائې دې هغوى خو د رسول الله ﷺ نه طلب د مشورې کوى چه زما خيال دې زما د توبې تکميل به هله کيږى چه کله زه خپل ټول مال صدقه کړم، رسول الله ﷺ هغوى ته په ځائې د ټول مال د ثلث مال د تصدق مشوره ورکړه، او که دا اومنلې شى چه د هغوى مقصد خپل نذر لره بيانول وو او چه ما د خپلې توبې د تکميل دپاره د تصدق بجميع المال نذر منلې وو نو اوس څۀ اوکړم، نو په دې صورت کښې به د هغوى د کلام تاويل دا وى چه اوس د ثلث مال صدقه اوکړه، ټول مال په يو ځائې مه صدقه کوه په دې سره به درته پريشانى پيدا شى روستو په مزه مزه د دې مقدار صدقه

ورکولو سره پوره کړه، پس د احنافو په نزد هم دغه شان ده چه په یو ځائې دې ټول مال نه صدقه کوی لکه چه مخکښې تیر شو د امام محمد رحمه الله په کلام کښې. والله تعالیٰ اعلم
والحدیث اخرجه النسائی ایضا مختصرا، واخرج البخاری ومسلم فی الحدیث الطویل، قاله المنذری.

[٣٣١٨](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تِيبَ عَلَيْهِ: إِنِّي أَنْخَلِعُ مِنْ مَالِي، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، إِلَى خَيْرٌ لَكَ.

کعب بن مالک رضی الله عنه وائی کله چه دهغوی توبه قبوله شوه نو هغوی رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو: زه دخپل مال نه ویزاره کیږم، بیا وروسته راوی دغسې حدیث بیان کړو "خیر لك" پورې.

[٣٣١٩](٢) حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ ابْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَوْ أَبُو لُبَابَةَ، أَوْ مَنْ شَاءَ اللَّهُ: "إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَهْجُرَ دَارَ قَوْمِي الَّتِي أَصَبْتُ فِيهَا الذَّنْبَ، وَأَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي كُلِّهِ صَدَقَةً، قَالَ: يُجْزِئُ عَنْكَ الثُّلُثُ".

کعب بن مالک رضی الله عنه وائی هغوی یا ابولبابه رضی الله عنه یا بل څوک چه الله اوغوښتل، نبی کریم ﷺ ته ئې اووئیل: زما په توبه کښې شامل دی چه زه دخپل دې کور نه کوم ځائې چه زما نه ګناه شوې ده هجرت اوکړم او خپل ټول مال صدقه کړم ددې نه ویزاره شم، نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: بس دریمه حصه صدقه کول به ستا دپاره کافی وی.

[٣٣٢٠](٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، قَالَ: أَخْبَرَنِي مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي ابْنُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ أَبُو لُبَابَةَ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ، وَالْقِصَّةُ لِأَبِي لُبَابَةَ قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ بَعْضِ بَنِي السَّائِبِ بْنِ أَبِي لُبَابَةَ، وَرَوَاهُ الزُّبَيْدِيُّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ حُسَيْنِ بْنِ السَّائِبِ بْنِ أَبِي لُبَابَةَ، مِثْلَهُ.

زهری وائی: ماته ابن کعب بن مالک خبر راکړې دې، هغه وائی چه دا ابولبابه رضی الله عنه وو، بیا هغوی ددې مفهوم حدیث ذکر کړو او واقعه د ابولبابه ده. ابوداؤد وائی: دا یونس د ابن شهاب نه، اوابن شهاب دسائب بن ابولبابه په ځامنوکښې د یونه روایت کړې دې، او دغسې زبیدی د زهری نه، زهری د حسین بن سائب بن ابی لبابه نه ددې په مثل روایت کړې دې.

[٣٣٢١](٤) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا حَسَنُ بْنُ الرَّبِيعِ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، قَالَ: قَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي الزُّهْرِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، فِي قِصَّتِهِ، قَالَ: قُلْتُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي إِلَى اللَّهِ، أَنْ أَخْرُجَ مِنْ مَالِي كُلِّهِ إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صَدَقَةً، قَالَ: لَا، قُلْتُ: فَنِصْفُهُ، قَالَ: لَا، قُلْتُ: فَثُلُثُهُ، قَالَ: نَعَمْ، قُلْتُ: فَإِنِّي سَأُمْسِكُ سَهْمِي مِنْ خَيْبَرَ.

عبدالله بن کعب بن مالك نه دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه په دې قصه کښې روایت کوی

(١): انظر ما قبله، وانظر حدیث رقم: (٢٢٠٢)، (تحفة الأشراف: ١١١٣٥) (صحیح)
(٢): انظر ما قبله، وانظر حدیث رقم: (٢٢٠٢)، (تحفة الأشراف: ١١١٣٥، ١٢٤٩) (صحیح الإسناد)
(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢١٤٩) (ضعیف الإسناد)
(٤): انظر ما قبله، انظر رقم (٢٢٠٢)، (تحفة الأشراف: ١١١٣٥) (حسن صحیح)

فرمائی چه ما عرض وکړو اې دالله رسوله زما دپاره دتوبې کولوښه طریقه داده چه زه دالله دپاره دخپل ټول دولت نه جدا شم اوخپل ټول مال دالله په لاره کښې ورکړم، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل داسې مه کوه، مابیاعرض وکړوچه خپل نیم مال، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل داسې مه کوه، مابیا عرض وکړوچه دخپل مال دریمه حصه، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل داسې ټهیک ده ماورته عرض وکړو چه په غزوه خیبر کښې چه زما کومه حصه ده هغه به اوساتم.

بَابٌ مَنْ نَذَرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ ثُمَّ أَدْرَكَ الإِسْلَامَ

داسلام قبلولو نه پس دجاهلیت دزمانې دنذر حکم

[۳۳۲۵](1) حدثنا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ لَيْلَةً، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْفِ بِنَذْرِكَ".

دابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه ما عرض وکړو اې دالله رسوله مادجاهلیت په وخت کښې داندرمنلې وو چه په مسجد حرام کښې به اعتکاف کوم. نبی ﷺ ورته اوفرمائیل چه خپل نذر پوره کړه.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنها أَنَّهُ قَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ لَيْلَةً. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- : « أَوْفِ بِنَذْرِكَ »

دا حدیث په باب الاعتکاف کښې تیر شوې دې د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاثه په نزد د نذر د صحت دپاره د ناذر اسلام شرط دې ځکه چه نذر وی د طاعت والکافر لیس باهل لها، او د امام احمد رحمه الله په نزد شرط نه دې هغوی هم د دې حدیث نه استدلال کړې دې، او جمهور علماء کرام دا حدیث په استحباب باندې محمول کوی که څوک په دې باندې دا اشکال اوکړی چه د جمهور په نزد خو د کافر نذر نذر نه دې حال دا چه رسول الله ﷺ دې ته نذر فرمائیلې دې، د دې بعضو علماء کرامو دا جواب ورکړې دې ﴿ اوف بمثل نذرک ﴾ چه څنګه حقیقی نذر پوره کولې شی هم دغه شان دا د نذر مثل پوره کړه.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري

بَابٌ مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَمْ يُسَمِّهِ

دغیر معین نذربیان

[۳۳۲۳](2) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبَّادٍ الْأَزْدِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ يَعْنِي ابْنَ عَيَّاشٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ مَوْلَى الْمُغِيرَةِ، قَالَ: حَدَّثَنِي كَعْبُ بْنُ عَلْقَمَةَ، عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَفَّارَةُ

---

1): صحيح البخاري/الاعتكاف ٥ (٢٠٣٢)، ١٥ (٢٠٤٢)، ١٦ (٢٠٤٣)، الخمس ١٩ (٣١٤٤)، المغازي ٥٤ (٤٣٢٠)، الأيمان ٢٩ (٦٦٩٧)، صحيح مسلم/الأيمان ٦ (١٦٥٦)، سنن الترمذي/الأيمان ١١ (١٥٣٩)، سنن النسائي/الأيمان ٣٥ (٣٨٥١)، سنن ابن ماجه/الصيام ٦٠ (١٧٧٢)، الكفارات ١٨ (٢١٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٠٥٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٧، ٢/٢٠، ٨٢، ١٥٣)، سنن الدارمي/النذور ١ (٢٣٧٨) (صحيح)

2): صحيح مسلم/النذر ٥ (١٦٤٥)، سنن الترمذي/النذور ٤ (١٥٢٨)، (تحفة الأشراف: ٩٩٦٠)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الأيمان ٤٠ (٣٨٦٣)، سنن ابن ماجه/الكفارات ١٧ (٢١٢٥)، مسند احمد (٤/١٤٤، ١٤٦، ١٤٧) (صحيح)

النَّذْرِ كَفَّارَةُ الْيَمِينِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عَلْقَمَةَ، عَنِ ابْنِ شِمَاسَةَ، عَنْ عُقْبَةَ.

دعقبة بن عامر رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي دنذر هم هغه کفاره ده کومه چه د قسم ده.

[۳۳۲٤] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْحَكَمِ حَدَّثَهُمْ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنِي كَعْبُ بْنُ عَلْقَمَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ شِمَاسَةَ، عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ.

ابو الخیر د عقبة بن عامر نه او هغه د نبی علیه السلام نه د تیر شوي روایت په شان روایت نقل کړې دي.

قوله: عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم: «كَفَّارَةُ النَّذْرِ كَفَّارَةُ الْيَمِينِ»

د حديث الباب محمل او په هغې کښې اختلاف د علماء کرامو

او د ترمذی په روایت کښې داسې دی کفارة النذر اذا لم یسمه کفارة الیمین، د ابوداؤد په حدیث کښې اګر چه دا زیادت نشته، خو مصنف رحمه الله دا حدیث محمول هم په دې باندې کړې دې لکه چه په ترجمة الباب کښې دی، د دې نذر صورت دا دې لکه چه یو انسان داسې اوائی (لله علی نذر) او د څه څیز نذر دې د هغې تعین اونکړی دې نذر ته نذر مبهم وائی، په نذر مبهم کښې د جمهور علماء کرامو مسلک دا دې چه (کفارته کفارة الیمین) ځکه چه د پوره کولو څه صورت خو شته نه د غیر معین کیدو په وجه باندې، امام ابن قدامة رحمه الله د اکثرو علماء کرامو مذهب هم دا فرمائیلې دې، هغوی فرمائی: (ولا اعلم فیه مخالفا الا الشافعی قال لا ینعقد نذره ولا کفارة فیه، ولنا ما روی عقبة بن عامر کفارة النذر اذا لم یسمه کفارة الیمین الحدیث آهـ من المغنی وفی المحلی ورواه احمد وابوداؤد والنسائی، ورواه مسلم بدون قوله: اذا لم یسمه، فحمله مالک وابوحنیفة وجماعة علی النذر المطلق، وحمله احمد وبعض الشافعیة علی نذر المعصیة، وحمله جمهور الشافعیة علی نذر اللجاج مثلا ان کلمت زیدا فلله علی حجة فکلمه فهو بالخیار بین الکفارة وبین ما التزمه آهـ وهکذا حکی القاری عن النووی انه قال حمله جمهور اصحابنا علی نذر اللجاج قال القاری لا یظهر حمل لم یسمه علی المعنی المذکور مع ان التخییر خلاف المفهوم من الحدیث، وحمله علی المعصیة مع بعده یرده حدیث ابن عباس رضی الله عنهما مرفوعا من نذر نذرا لم یسمه فکفارته کفارة یمین ومن نذر نذرا فی معصیة فکفارته کفارة یمین فان الاصل فی العطف المغایرة آهـ مختصرا من الاوجز ۳/۳۷) صاحب د محلی چه لیکلی دی چه امام احمد رحمه الله دا په نذر د معصیت باندې حمل کړې دې دا د هغې خلاف دی کوم چه ابن قدامة نقل کړی دی یعنی دا چه د دې نه مراد نذر مطلق او مبهم مراد دې لهذا صحیح دا ده چه د جمهور علماء کرامو چه په هغوی کښې ائمه ثلاثه هم دی په نزد د دې نه مراد نذر مبهم دې، مګر د شافعی رحمه الله په نزد د دې نه مراد لجاج دې اوس پاتې شوه دا خبره چه د نذر لجاج څه حکم دې.

د نذر لجاج تعریف او د هغې په حکم کښې اختلاف ائمة:

په اوجز کښې په یو بل مقام باندې په نذر لجاج باندې تفصیلی کلام کولو سره د مالکیانو دا مذهب لیکلې شوې دې چه دا نذر د هغوی په نزد په قول راجح کښې واجب الوفاء دې،

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۹٦۰) (صحیح)

او نذر لجاج دا دې چه د هغې نه مقصود طاعت وغيره هيڅ نه وی بلکه خپل نفس لره د څه نه بندول او هغه ته د سزا ورکولو په طور وی لکه داسې اوئيلې شی ﴿ لله علی کذا ان کلمت زيدا ﴾ يعنی د زيد نه د خفه کيدو په صورت کښې اوائی چه که زه د هغه سره خبرې اوکړم نو زما په ذمه يو حج يا عمره ده مثلاً د دې يو مثال په ﴿ باب اليمين فی قطعية الرحم ﴾ کښې را روان دې، قال الباجی يلزم النذر علی وجه اللجاج والغضب وقال الشافعی هو مخير فی نذره علی اللجاج بين ان يكفر كفارة يمين وبين ان يفی به، او موفق خپل او د حنابله مذهب هم دا نقل کړې دې کوم چه د امام شافعی رحمه الله دې ﴿ انه مخير بين الوفاء بنذره لانه نذر فيلزمه الوفاء به كنذر التبرز ﴾ الی آخر ما بسط الموفق.... د دې نه پس حضرت شيخ رحمه الله فرمائی چه د شوافعو په دې کښې پنځه اقوال دی کوم چه امام نووی رحمه الله په شرح المهذب کښې مبسوطا ذکر کړی دی، وقال نذر اللجاج والغضب ويقال ليه يمين اللجاج والغضب ويقال له ايضا يمين الغلق ونذر الغلق فاذا قال ان كلمت فلانا لله علی صوم شهر او حج او صلوة او نحو ذلک ثم كلمه ففيما يلزمه خمسة طرق جمعها الرافعی قال اشهرها علی ثلاثة اقوال احدها يلزمه الوفاء بما التزم، والثانی يلزمه كفارة اليمين والثالث يتخير بينهما، قال وهذا الثالث هو الاظهر عند العراقين، وقال النووی هو الاصح آهـ او ملا علی قاری رحمه الله د احنافو مذهب داسې ليکلې دې چه ﴿ يلزم الوفاء بالنذر سواء كان مطلقا او معلقا بشرط بان قال ان شفی الله مريضی فعلی حجة مثلا او عمرة مثلا، لكن لزومه عند وجود الشرط اذا كان معلقا، ولا يخرج عنه بالكفارة فی ظاهر الرواية عن ابی حنيفة رحمه الله، او بيا د دې نه پس ليکی چه د نذر مطلق دوه صورتونه دی يو دا چه تعليق په داسې شرط باندې وی چه د هغې وجود مطلوب وی لکه ﴿ ان شفی الله مريضی فعلی كذا ﴾ نو د داسې نذر خو ايفاء هم واجب ده او که تعليق د داسې څيز سره وی چه هغه غير مطلوب وی لکه ﴿ ان كلمت زيدا فلله علی كذا ﴾ نو د داسې نذر خو ايفاء هم واجب دې او که تعليق د هم دې څيز سره وی چه هغه غير مطلوب وی لکه ﴿ ان كلمت زيدا فلله علی كذا ﴾ په دې کښې دوه اقوال دی يو هم دا چه واجب الايفاء دې دويم دا چه په دې صورت کښې د يمين کفاره کافی ده ﴿ وهو الصحيح وقد رجع اليه الامام ابوحنيفة قبل موته بثلاثة ايام او بسبعة وهو قول محمد رحمه الله آهـ او هم دا تفصيل د حنابلة په مذهب کښې دې کما فی الروض المربع چه که تعليق د داسې شرط سره دې چه د هغې وجود مطلوب وی د هغې ايفاء واجب ده او که هغه څيز داسې دې چه د هغې وجود مطلوب وی د هغې ايفاء واجب ده او که هغه څيز داسې وی چه د هغې وجود مطلوب نه دې نو هلته تخيير دې بين الايفاء وكفارة اليمين اوحضرت شيخ فرمائی وهذا التفصيل هوالمرجح عندالشافعية.

خلاصة المذاهب:

فالحاصل فی نذر الجاج ان الائمة الثلاثة فی جانب والامام مالک فی جانب، د امام مالک رحمه الله په نزد مطلقا واجب الايفاء دې او د ائمۀ ثلاثه په نزد علی الراجح په دې کښې تفصيل دی کوم چه پورته ذکر شو د دې مقام په شرح کښې ډير تطويل اوشو چه د هغې منشاء د ناقلين

مذهب اختلاف دي په يو کتاب کښې دا مسئله مهذب او منقح ملاؤ نه شوه خو اوس الحمد لله تنقيح او تحقيق اوشو کوم چه مونږ په دواړو ځايونو کښې په آخر کښې ليکلې دې په نذر مبهم کښې هم او په نذر لجاج کښې هم ﴿ فلله الحمد ﴾

بَابُ لَغْوِ الْيَمِينِ

باب د يمين لغو بيان

دا هم هغه باب دې چه د هغې حواله مونږ په ابتدائى مباحثو کښې په بحث رابع کښې وزکړې وه.

د يمين اقسام ثلاثه او د يمين لغو په تعريف کښې اختلاف :

د يمين درې مشهور قسمونه دی ۱: يمين منعقده، ۲: يمين غموس، ۳: يمين لغو.

يمين منعقده هغه دې چه د هغې تعلق د مستقبل د زمانې سره وی، چه قسم خوړلو سره داسې اوائى چه زه به داسې کوم يا به نه کوم، او د يمين غموس او يمين لغو تعلق د ماضى يعنى تيرې شوې زمانې سره وی، يا د حال سره وی او دا دواړه خلاف واقع وی، فرق د دواړو دا دې چه په يمين غموس کښې قصدا خلاف واقع خبره باندې قسم خوړلې شى په يمين لغو کښې بغير د قصد نه يعنى هغه خبر د اعتقاد مطابق خو وی خو د واقع خلاف وی، مثلا که قسم خوړلو سره دا اوائى چه زيد راغلو، او فى الواقع هغه نه وی راغلې نو که دا قسم ئې قصدا اوخوړلو نو بيا خو يمين غموس دې ګڼلې يمين لغو، هم دا مذهب د امام مالکرحمه الله دې د امام شافعى رحمه الله په يمين لغو کښې اختلاف دې د هغوی په نزد د يمين لغو تعريف دا دې که د هغې تعلق د ماضى سره وی يا د حال سره يا د استقبال سره ﴿ ما سبق اليه اللسان من غير قصد ﴾ لکه چه د خلقو عادت وی چه د خبرې دوران کښې ﴿ لا والله ﴾، ﴿ بلى والله ﴾ وغيره الفاظو وئيلو، او د امام احمدرحمه الله په نزد دا دواړه قسمونه په يمين لغو کښې داخل دی، چه هغې ته شوافع لغو وائى هغه هم او کوم چه د احنافو او مالکيانو په نزد لغو دې هغه هم، قال الصاوی المالکی المفسر : اختلف العلماء فى معنى اللغو فقال الشافعى هو ما سبق اليه اللسان من غير قصد عقد اليمين وقال ابوحنيفة ومالک هو ان يحلف على ما يعتقد فتبين خلافه، وكلاهما داخل فى اللغو عند الامام احمدرحمه الله آهـ

[۳۲۵۴](١) حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ الشَّامِيُّ، حَدَّثَنَا حَسَّانُ يَعْنِي ابْنَ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ يَعْنِي الصَّائِغَ، عَنْ عَطَاءٍ فِي اللَّغْوِ فِي الْيَمِينِ، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "هُوَ كَلَامُ الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ، كَلَّا وَاللَّهِ، وَبَلَى وَاللَّهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَانَ إِبْرَاهِيمُ الصَّائِغُ رَجُلًا صَالِحًا، قَتَلَهُ أَبُو مُسْلِمٍ بِعَرَنْدَسَ، قَالَ: وَكَانَ إِذَا رَفَعَ الْمِطْرَقَةَ فَسَمِعَ النِّدَاءَ سَيَّبَهَا، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ دَاوُدُ بْنُ أَبِي الْفُرَاتِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ الصَّائِغِ، مَوْقُوفًا عَلَى عَائِشَةَ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ الزُّهْرِيُّ، وَعَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، وَمَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ، وَكُلُّهُمْ عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عَائِشَةَ مَوْقُوفًا.

دعطاء نه روايت دې فرمائى چه ديمين لغوه متعلق دام المومنين عائشې رضی الله عنها نه منقول دي

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٣٧٥) (صحيح)

چه فرمائیل ئې چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه یمیني لغوه دي ته وائی چه یو انسان په خپل کورکښې (په طور دتکیه کلام) اووائی مثلا هو په الله قسم نه، په الله قسم. امام ابوداود فرمائی چه ابراهیم سنار مسلم په عرندس مقام کښې قتل کړې وو اودابراهیم سنار حال داوو چه څټك به ئې راخستې وو چه داذان آواز به راغې نودوهلونه مخکښې به ئې پریخودو. ابوداود وئیلی دی چه داود بن ابوالفرات دابراهیم نه اوهغه دعائشې رضی الله عنها نه دارروایت موقوفا بیان کړې دې په همدارنګې زهري دعبدالملك نه په واسطه دعطاء سره دعائشې رضی الله عنها نه موقوفا نقل کړې دې.

قوله: قَالَتْ عَائِشَةُ رضی الله تعالی عنها ......إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- قَالَ « هُوَ كَلاَمُ الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ كَلاَّ وَاللَّهِ وَبَلَى وَاللَّهِ »

دا حدیث په ظاهر کښې د شوافعو موافق دې، په بدائع کښې د دې جواب دا لیکلې شوې دې چه دا حدیث زمونږ خلاف نه دې، زمونږ په نزد هم دا یمین لغو دې په دې شرط چه د دې تعلق د ماضی یا د حال سره وی، د شوافعو په نزد دا عام دې، د هغوی په نزد دا مستقبل ته هم شامل دې، هغوی فرمائی ﴿ والدلیل علی ما قلنا انها فسرتها بالماضی روی عن مطر عن رجل قال دخلت انا وابن عمر رضی الله عنهما علی عائشة رضی الله عنها فسالتها عن یمین اللغو فقالت قول الرجل فعلنا والله کذا، وصنعنا والله کذا فتحمل تلک الروایة علی هذا توفیقا بین الروایتین اذا المجمل محمول علی المفسر ﴾

قوله: قَالَ أَبُو دَاوُدَ كَانَ إِبْرَاهِيمُ الصَّائِغُ رَجُلاً صَالِحًا قَتَلَهُ أَبُو مُسْلِمٍ بِعَرَنْدَسَ قَالَ وَكَانَ إِذَا رَفَعَ الْمِطْرَقَةَ فَسَمِعَ النِّدَاءَ سَيَّبَهَا.

د ابراهیم صائغ یو خاص خصلت :

په سند کښې چه یو راوی ابراهیم صائغ راغلې دې د هغوی په باره کښې مصنف رحمه الله فرمائی چه هغه ابو مسلم په مقام فرندس کښې قتل کړې وو وراندې د هغوی یو عادت بیانوی چه د هغه حال دا وو چه د کار دوران کښې به چه کله هغه کالې جوړولو او د سټک د ګزار دپاره به ئې لاس اوچت کړو نو که هغه وخت به ئې په غوږونو کښې د آذان آواز پریوتلو نو فورا به ئې لاس اودرولو، او هغه سټک به ئې په ځائې د وهلو اودرولو، په بذل کښې لیکلې دی چه دا ابومسلم د حجاج بن یوسف په شان ډیر لوئې ظالم او خونی وو.

بَابٌ فِيمَنْ حَلَفَ عَلَى الطَّعَامِ لاَ يَأْكُلُهُ

بابـ د څه څیز د نه خوړلو د قسم بیان

[۳۲۷۰] (١) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، أَوْ عَنْ أَبِي السَّلِيلِ عَنْهُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَ: "نَزَلَ بِنَا أَضْيَافٌ لَنَا، قَالَ: وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَتَحَدَّثُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ، فَقَالَ: "لَا أَرْجِعَنَّ إِلَيْكَ حَتَّى تَفْرُغَ مِنْ ضِيَافَةِ هَؤُلَاءِ، وَمِنْ قِرَاهُمْ، فَأَتَاهُمْ بِقِرَاهُمْ، فَقَالُوا: لَا نَطْعَمُهُ

[1]: صحیح البخاري/مواقیت الصلاة ٤١ (٦٠٢)، المناقب ٢٥ (٣٥٨١)، الأدب ٨٧ (٦١٤٠)، صحیح مسلم/الأشربة ٣٢ (٢٠٥٧)، (تحفة الأشراف: ٩٦٨٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٩٧، ١٩٨) (صحیح)

حَتَّى يَأْتِيَ أَبُو بَكْرٍ، فَجَاءَ، فَقَالَ: مَا فَعَلَ أَضْيَافُكُمْ، أَفَرَغْتُمْ مِنْ قِرَاهُمْ؟، قَالُوا: لَا، قُلْتُ: قَدْ أَتَيْتُهُمْ بِقِرَاهُمْ فَأَبَوْا، وَقَالُوا: وَاللَّهِ لَا نَطْعَمُهُ حَتَّى يَجِيءَ، فَقَالُوا: صَدَقَ، قَدْ أَتَانَا بِهِ، فَأَبَيْنَا حَتَّى تَجِيءَ، قَالَ: فَمَا مَنَعَكُمْ؟، قَالُوا: مَكَانَكَ، قَالَ: وَاللَّهِ لَا أَطْعَمُهُ اللَّيْلَةَ، قَالَ: فَقَالُوا: وَنَحْنُ وَاللَّهِ لَا نَطْعَمُهُ حَتَّى تَطْعَمَهُ، قَالَ: مَا رَأَيْتُ فِي الشَّرِّ كَاللَّيْلَةِ قَطُّ، قَالَ: قَرِّبُوا طَعَامَكُمْ، قَالَ: فَقَرَّبَ طَعَامَهُمْ، فَقَالَ: بِسْمِ اللَّهِ، فَطَعِمَ وَطَعِمُوا، فَأُخْبِرْتُ أَنَّهُ أَصْبَحَ، فَغَدَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرَهُ بِالَّذِي صَنَعَ، وَصَنَعُوا، قَالَ: بَلْ أَنْتَ أَبَرُّهُمْ وَأَصْدَقُهُمْ".

دعبدالرحمن بن ابی بکر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه يو ځل زمونږ ميلمانه راغلل او ابوبکر رضي الله عنه دنبی عليه السلام خواته تلې وو اووئيلي ئي وو ترهغې پورې درته واپس نه راځم ترڅوچه ته ددوی دخدمت او ميلمستيا ورکولونه اوزګار شوې نه يې، نوعبدالرحمن ميلمنوته خوراك راوړو ميلمنو اووئيل مونږ خو دابوبکر رضي الله عنه د راتلونه مخکښې خوراك نه کوو، بيا ابوبکر رضي الله عنه راغې اودميلمنودحال تپوس ئې اوکړو چه اياددوی ته دخوراك پيش کولونه فارغې شوې ئې اوکه نه؟ ماعرض اوکړو چه ماخوورته ډوډئ وړې وه ليکن هغوی ستانه بغير دخوراك کولونه انکاراوکړو ميلمنوهم زمادخبرې تصديق اوکړو، صديق اکبر ميلمنوته اوفرمائيل تاسوخوراك ولې اونکړو؟ هغوی اووئيل ستاپه وجه ابوبکراووئيل زمادې په الله قسم وي چه زه خونن بالکل خوراك نه کوم، ميلمنواووئيل ترڅوچه ته خوراك نه کوې ترهغې پورې ئې مونږ هم نه کوو، ابوبکر رضي الله عنه اووئيل چه داسې بده خبره ماهيڅ کله هم نه ده ليدلې اووئې فرمائيل ډوډئ راوړه چنانچه راوړل شوه ابوبکر رضي الله عنه بسم الله اووئيله اوخوراك ئې شروع کړو او ميلمنوهم خوراك شروع کړو، عبدالرحمن وائی چه ماته معلومه شوه چه ابوبکر رضي الله عنه سحر دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو او واقعه ئې ورته بيان کړه نبی عليه السلام اوفرمائيل ته ډيرنيك اورښتونې ئې.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ قَالَ: نَزَلَ بِنَا أَضْيَافٌ لَنَا قَالَ: وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَتَحَدَّثُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ – صلى الله عليه وسلم – بِاللَّيْلِ

د ابی بکر صديق رضي الله عنه ميلمنو قصه:

عبدالرحمن بن ابی بکر رضي الله عنهما بيان کوی چه يو کرت زمونږ څو ميلمانۀ راغلل (دا درې کسان وو د اصحاب صفه نه) هغوی فرمائی چه زما دوالد صاحب رضي الله عنه عادت د شپې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضريدو او هغوی سره د خبرو اترو وو، پس هغوی د تلو په وخت ما ته اوفرمائيل چه زما د واپس کيدو پورې دوی د خوراک نه فارغ کړه، عبدالرحمن وائی: ما هغوی ته خوراک (روټئ) راوړله، ميلمنو د کور د مالک (صديق اکبر) نه بغير د خوراک خوړلو نه انکار اوکړو. عبدالرحمن وائی: چه کله مې والد صاحب رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واپس راغلو نو تپوس ئې اوکړو چه تاسو د خوراک نه فارغ شوی يئ؟ هغوی جواب ورکړو چه نه! د دې نه پس د بخاری په روايت کښې دی چه صديق اکبر رضي الله عنه خپل ځوی عبدالرحمن ته آواز اوکړو (هغوی د صديق اکبر رضي الله عنه په غصه ليدو باندې پټ شوې وو لکه چه په بخاری کښې روايت دې) ﴿ يا غنثر ﴾ (اې کمينه!) هغه مخامخ راغلو او راتلو سره ئې عرض اوکړو چه ما خو دوی ته ډوډئ کيخودلې وه خو دې خلقو د خوراک نه انکار

اوکړو چه تر څو پورې تاسو واپس نه شي مونږ ئې هم نه خورو، په دې باندې میلمنو د عبدالرحمن تصدیق اوکړو چه بیشکه دوی خوراک راوړې وو خو مونږ انکار اوکړو ستاسو په انتظار کښې. صدیق اکبر ﷺ تپوس اوکړو چه زما انتظار مو ولې کوو هغوی جواب ورکړو چه ستاسو د مقام او د مرتبې د وجې نه، صدیق اکبر ﷺ دا بده اوګڼړله او قسم خوړلو سره ئې اوفرمائیل زه به هم نن دا خوراک نه خورم، دې میلمنو هم قسم اوخوړو چه مونږ ئې هم نه خورو چه تاسو ئې نه خورئ.

﴿ قال ما رایت فی الشر کاللیلة قط ﴾ په دې باندې صدیق اکبر ﷺ ډیر متاثر شو او وې فرمائیل چه داسې بده شپه خو ما چرته هم نه ده لیدلې خو هغوی دا بد صورتحال فورا ختم کړو او وې فرمائیل خوراک راوړئ او بسم الله وئیلو سره ئې خوراک شروع کړو، میلمنو هم شروع کړه، وړاندې په روایت کښې دی چه د دې شپې د قصې نه پس چه کله سحر صدیق اکبر ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او د شپې دا واقعه ئې هغوی ته واوروله او دا چه زه په خپل قسم کښې حانث شوم په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ بل انت ابرهم واصدقهم ﴾ ته چرته حانث ئې ته خو په هغوی کښې د ټولو نه زیات نیک او رشتینې ئې مطلب دا چه دا هغه حنث نه دې کوم چه مذموم وی بلکه دا خو ﴿ من حلف علی یمین فرای غیرها خیرا منها ﴾ د قبیلې نه دې.

دا واقعه په صحیح بخاری نوره هم په تفصیل سره ده په هغې کښې دا هم دی ﴿ فاکل واکلوا فجعلوا لا یرفعون لقمة الا ربت من اسفلها اکثر منها فقال یا اخت بنی فراس ما هذا؟ فقالت وقرة عینی انها الان لاکثر قبل ان ناکل فاکلوا او بعث بها الی النبی ﷺ فذکر انه اکل منها ﴾ یعنی کله چه دې خلقو خوراک کولو نو کومه نمړئ به ئې هم چه اوچتوله نو لاندې به ترې نه خوراک نور هم زیات شو، بیا وړاندې دا دی چه په دې خوراک کښې پچ شوې رسول الله ﷺ ته هم اولیږلې شوه چه د هغې نه رسول الله ﷺ هم اوخوړه، دا قصه په صحیح بخاری کښې په کتاب الأدب ص ۹۰۷ او په علامات نبوت ص ۵۰۶ او مواقیت الصلوة ص۸۵ کښې ذکر شوې ده. [۳۲۷۱]

[۳۲۷۱] ()حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا سَالِمُ بْنُ نُوحٍ، وَعَبْدُ الْأَعْلَى، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، نَحْوَهُ زَادَ، عَنْ سَالِمٍ فِي حَدِيثِهِ، قَالَ: وَلَمْ يَبْلُغْنِي كَفَّارَةٌ.

ابوعثمان دعبدالرحمن بن ابی بکر ﷺ نه دتیرروایت په شان روایت نقل کړې دې لیکن په دې کښې ئې دسالم راوي نه دهغه په حدیث کښې دا اضافه کړې ده چه وئې فرمائیل ماته دامعلومه نه شوه چه ابوبکر دخپل قسم کفاره ادا کړه.

﴿ قال ولم یبلغنی کفارة ﴾ راوی وائی چه صدیق اکبر ﷺ په دې واقعه کښې کفاره یمین ادا کړې وه که نه په دې باره کښې ما ته هیڅ نه دی رارسیدلې خو اصولا کفاره واجب ده او عدم ذکر عدم لره مستلزم نه وی، او که دا واقعه د مشروعیت دکفارې نه مخکښې وی نو بیا بیله خبره ده. (بذل)

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم بنحوه اتم منه، قاله المنذری

۱: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹٦۸۸) (صحیح)

بَابُ الْيَمِينِ فِي قَطِيعَةِ الرَّحِمِ

د رشتې ماتولو متعلق د قسم کولو بیان

[۳۲۷۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمِنْهَالِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا حَبِيبٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ: أَنَّ أَخَوَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ بَيْنَهُمَا مِيرَاثٌ، فَسَأَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ الْقِسْمَةَ، فَقَالَ: إِنْ عُدْتَ تَسْأَلُنِي عَنِ الْقِسْمَةِ، فَكُلُّ مَالٍ لِي فِي رِتَاجِ الْكَعْبَةِ، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: إِنَّ الْكَعْبَةَ غَنِيَّةٌ عَنْ مَالِكَ، كَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ، وَكَلِّمْ أَخَاكَ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: لَا يَمِينَ عَلَيْكَ، وَلَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةِ الرَّبِّ، وَفِي قَطِيعَةِ الرَّحِمِ، وَفِيمَا لَا تَمْلِكُ".

دسعید بن المسیب نه روایت دې فرمائی چه په انصارو کښې ددوه رونړو په مینځ کښې په میراث کښې څه اختلاف پیداشوي وو په دوی کښې یوکس بل ته دتقسیم کولو دپاره ووئیل ده ورته په جواب کښې ووئیل که چرې بیادې ماته دتقسیم خبره وکړه نوزما ټول مال بیت الله ته وقف وي، عمر ﷺ ورته ووئیل چه بیت الله شریف ستامال ته محتاج نه دې ته دخپل قسم کفاره ورکړه اودخپل وروره سره دوراثت تقسیم خبرې وکړه څکه چه ماد نبی ﷺ نه اوریدلي ووچه فرمائیلي ئې وو چه دالله په نافرمانۍ کښې اودصله رحمی په قطع کولو کښې، په تاباندې نه قسم پوره کول واجب دي اونه کفاره ورکول واجب دي اونه په نذر کښې، نذر اوقسم په هغه څیزونو کښې معتبر نه دی کوم چه دانسان په اختیار کښې نه وي.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ : أَنَّ أَخَوَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ بَيْنَهُمَا مِيرَاثٌ فَسَأَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ الْقِسْمَةَ فَقَالَ : إِنْ عُدْتَ تَسْأَلُنِي عَنِ الْقِسْمَةِ فَكُلُّ مَالٍ لِي فِي رِتَاجِ الْكَعْبَةِ.

شرح الحديث وفيه بيان نذر اللجاج :

دا دوه انصاری کسان چه په خپل مینځ کښې رونړه رونړه وو د هغوی ترمینځه د میراث مسئله راغلې وه په هغوی کښې یو د بل نه د تقسیم میراث مطالبه اوکړه (ممکنه ده چه څو کرته د دې نوبت راغلې وی) هغه اووې چه که بیا دې د تقسیم سوال اوکړو نو بیا زما نذر دا دې چه زما د حصې ټول مال د باب کعبې دپاره دې. مراد ترې نه خپله کعبه ده. وړاندې په روایت کښې دی چه د عمر ﷺ په علم کښې چه کله دا واقعه راغله نو هغوی د دې نذر د منلو نه انکار اوکړو ﴿ ان الكعبة غنية عن مالك ﴾ کعبې ته ستا د مال ضرورت نشته، د خپل قسم کفاره ورکړه او د خپل رور سره خبرې شروع کړه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دی، هغوی به فرمائیل ﴿ لا يمين عليك ولا نذر في معصية الرب ولا في قطيعة الرحم﴾ په دې قصه کښې چه کوم نذر ذکر شوي دې هغه نذر اللجاج دې چه د هغې حکم اوس نزدې سره د بیان مذاهب ائمه تیر شوي دې او د هغې حاصل دا دې: چه که څوک خپل نذر لره د یو څیز د حصول پورې معلق کړی نو د هغې دوه صورتونه دی یو دا چه هغه څیز مطلوب او مقصود وی لکه ﴿ ان شفى الله مريضى فعبدى حر ﴾ د دې نذر ایفاء بالاتفاق واجب ده او که هغه څیز غیر مطلوب وی لکه د غصې وغیره په صورت کښې نذر اومنلې شی لکه ﴿ ان كلمتک فعلى

():[1] تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٤٤٧) (ضعيف الإسناد)

صوم شهر ﴾ دا نذر نذرلجاج دي او ړومبي نذر نذر المجازاة او نذر تبرز، د امام مالک رحمه الله په نزد خو د دواړو قسمونو يو حکم دي يعنى وجوب ايفاء او د باقى ائمه ثلاثه په نزد قسم اول يعنى د نذر المجازاة حکم وجوب دايفاء دي او په دويم قسم کښې التخيير بين الايفاء وكفارة اليمين .

د دې مضمون يو حديث په موطاء کښې هم دي ﴿ عن ام المومنين عائشة رضي الله عنها انها سئلت عن رجل قال مالى فى رتاج الكعبة فقالت عائشة يكفره ما يكفر اليمين ﴾ دا روايت مونږ سره ﴿ باب من نذر ان يتصدق بماله ﴾ کښې هم تير شوې دي.

[۳۲۷۳](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنِي أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا نَذْرَ إِلَّا فِيمَا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللَّهِ، وَلَا يَمِينَ فِي قَطِيعَةِ رَحِمٍ".

بدالله بن عمرو رضي الله عنهما وائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: صرف په هغه څيزونو کښې نذر جائز دې چه هغې سره د الله رضا او خوشحالول مطلوب وى او د رشته دارئ پريکولو (تعلق پريخودلو) دپاره قسم جائز نه دې.

[۳۲۷۴](٢) حَدَّثَنَا الْمُنْذِرُ بْنُ الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَكْرٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ الْأَخْنَسِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا نَذْرَ وَلَا يَمِينَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ، وَلَا فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ، وَلَا فِي قَطِيعَةِ رَحِمٍ، وَمَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا، فَلْيَدَعْهَا وَلْيَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ، فَإِنَّ تَرْكَهَا كَفَّارَتُهَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْأَحَادِيثُ كُلُّهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ إِلَّا فِيمَا لَا يُعْبَأُ بِهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قُلْتُ لِأَحْمَدَ: رَوَى يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، فَقَالَ: تَرَكَهُ بَعْدَ ذَلِكَ، وَكَانَ أَهْلًا لِذَلِكَ، قَالَ أَحْمَدُ: أَحَادِيثُهُ مَنَاكِيرُ، وَأَبُوهُ لَا يُعْرَفُ.

عمرو بن شعيب دخپل پلارنه اوهغه دده دنيکه نه روايت کوى فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى وو نذر اوقسم پوره کول لازم نه دى په هغه څيزونوکښې کوم چه دانسان په اختيارکښې نه وى اونه دالله تعالى په نافرمانى کولوکښې، اونه په صله رحمئ کټ کولوکښې، او څوک چه ديوکارنه قسم وکړي او بيا ددې په خلاف کښې ورته خير ښکاره شي نودا عمل دې پريږدي اوهغه عمل دې اختيارکړي کوم چه دده دپاره غوره دې، يقينا ددغه (نامناسبه)کارپريښودل دده د قسم کفاره ده.ابوداؤد وائى: دا ټول حديثونه د نبى کريم ﷺ نه رانقل دى، اوپکار دى چه هغه دخپل قسم کفاره ورکړى خوکوم قسمونه چه بغير سوچ خوړلې شى او دهغې خيال نه کيږى نودهغې کفاره نشته. ابوداؤد وائى: ما د احمد نه تپوس اوکړو: آيا يحى بن سعيد د يحى بن عبيدالله نه روايت کړې دې؟ نو هغوى اووئيل آؤ مخکښې ئې کړې وو، بيا ئې پريخودو، اوهغه ددې لائق وو چه دهغه نه روايت کول پريخودلې شى. احمد وائى: دهغه احاديث منکر دى اودهغه پلار غير معروف دې.

١): انظر حديث رقم (٢١٩٢) (تحفة الأشراف: ٨٧٣٦) (حسن)

٢): سنن النسائي/الأيمان ١٦ (٣٨٢٣)، (تحفة الأشراف: ٨٧٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢١٢) (حسن)

بَابُ الِاسْتِثْنَاءِ فِي الْيَمِينِ بَعْدَ السُّكُوتِ

باب: قسم خوړلو کښې د خاموش کیدو نه پس د ان شاء الله وئیلو بیان

د دې نه مخکښې یو باب تیر شوې دې ﴿باب الاستثناء فی الیمین﴾ هلته مونږ دا لیکلي وو چه استثناء هغه معتبر ده کومه چه متصلا وی او دا چه د اتصال بحث، به په دې راتلونکی باب کښې ذکرکولې شی.

په استثناء کښې د اتصال قید، او ذکر د مذاهبو :

استثناء په اصطلاح کښې د ماقبل حکم نه د بعضو افرادو اخراج ته وائي په الا وغیره سره، او د دې اطلاق په تعلیق علی المشیئة باندې هم کیږی یعنی ان شاء الله وئیل، دلته هم دا مراد ده، د قسم خوړلو نه پس که یو انسان متصلا ان شاء الله اوائی نو دا د انعقاد یمین نه مانع کیږی، د اتصال قید د جمهور علماء کرامو او ائمة اربعه په نزد دی، بعض سلف لکه د طاؤس حسن قتاده وغیره نه په دې کښې اختلاف منقول دې، هم دغه شان د ابن عباس رضی الله عنهما اختلاف په دې کښې مشهور دې د هغوی په نزد د استثناء دپاره د یوې زمانې قید نشته چه کله هم غواړی کولې شی.

(دامام اعظم رحمه الله د ذهانت دلچسپه واقعه)

په دې سلسله کښې یوه قصه هم مشهور ده هغه دا چه یو سړی ﴿قیل هو محمد بن اسحاق صاحب المغازی﴾ خلیفه منصور عباسی ته د امام ابوحنیفه رحمه الله شکایت اوکړو چه دوی ستاسو د نیکه ابن عباس رضی الله عنهما مخالفت کوی چه استثناء منفصل معتبر نه ده متصل کیدل ئې ضروری دی، منصور امام صاحب راوغوښتلو د هغوی نه ئې په دې باره کښې سوال اوکړو هغوی جواب ورکړو او زه وایم چه استثناء منفصل معتبر نه ده او بیا د هغه د مطمئن کولو دپاره هغوی اوفرمائیل آیا ستاسو دا خبره خوښه ده چه خلق ستاسو په مجلس کښې ستاسو په لاس باندې بیعت کوی حلف اوچت کړی اوبیا د مجلس نه بهر وتلو سره د انشاء الله په ذریعه بیعت ماتؤلو سره بری شی په دې باندې هغه خوشحاله شو اووې وئیل ﴿نعم ما قلت وعضب علی ابن اسحاق واخرجه من عنده﴾ (بذل)

[۳۲۸۵] (1) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "وَاللَّهِ لَأَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا، وَاللَّهِ لَأَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا، وَاللَّهِ لَأَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا، ثُمَّ قَالَ: إِنْ شَاءَ اللَّهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَدْ أَسْنَدَ هَذَا الْحَدِيثَ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَسْنَدَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ: عَنْ شَرِيكٍ، ثُمَّ لَمْ يَغْزُهُمْ.

عکرمه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه الصلاة والسلام فرمائیلی وو په الله مې دې قسم وي زه به دقریشوقبیلې سره جهاد کوم، په الله مې دې قسم وي زه به دقریشوقبیلې سره جهاد کوم، په الله مې دې قسم وي زه به دقریشوقبیلې سره جهاد کوم، اوبیائې انشاء الله وئیل. امام ابوداود وائی چه ولیدبن مسلم په واسطه د شریک سره پدی روایت کښې دا

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۱۱٦) (ضعيف)

اضافه کړي ده چه، بيائي ورسره جهاد ونکړو.

[۳۲۸٦]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ بِشْرٍ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، يَرْفَعُهُ، قَالَ: "وَاللَّهِ لَأَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا، ثُمَّ قَالَ: إِنْ شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ قَالَ: وَاللَّهِ لَأَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ قَالَ: وَاللَّهِ لَأَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا، ثُمَّ سَكَتَ، ثُمَّ قَالَ: إِنْ شَاءَ اللَّهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: زَادَ فِيهِ الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ شَرِيكٍ، قَالَ: ثُمَّ لَمْ يَغْزُهُمْ.

دعکرمه نه مرفوعا روايت دي فرمائي چه نبي عليه الصلاة والسلام فرمائيلي وو: په الله مې دي قسم وي زه به دقريشوقبيلې سره جهاد کوم، په الله مې دي قسم وي زه به دقريشوقبيلې سره جهاد کوم، په الله مې دي قسم وي زه به دقريشوقبيلې سره جهاد کوم، او بيائي انشاء الله ووئيل. اوبيائي اوفرمائيل په الله مې دي قسم وي زه به دقريشوقبيلې سره جهاد کوم انشاء الله تعالى، په الله مې دي قسم وي زه به د قريشوقبيلې سره جهاد کوم، او بيا خاموش شو، اوبيائي اووئيل انشاء الله. امام ابوداود وائي چه وليدبن مسلم په واسطه د شريك سره په دې روايت کښې دا اضافه کړي ده چه بيائي ورسره جهاد ونکړو.

قوله: عَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: « وَاللَّهِ لأَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا وَاللَّهِ لأَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا وَاللَّهِ لأَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا ». ثُمَّ قَالَ: « إِنْ شَاءَ اللَّهُ ». او په دويم روايت کښې دا زيادت دي ثُمَّ سَكَتَ ثُمَّ قَالَ: « إِنْ شَاءَ اللَّهُ »

خو فصل يسير د جمهورو په نزد هم جائز دې پس په بذل کښې د ابن امير الحاج نه نقل دی: يشترط في الاستثناء الاتصال بالمستثنى منه لفظا عند جماهير العلماء الا تنفس او سعال او اخذ فم ونحوه كعطاس او جشاء وعن ابن عباس جواز الفصل بشهر وسنة مطلقا﴾ او د دې نه پس بيا دا دی چه هغه د ابن عباس ﷺ نه چه کوم فصل منقول دې د هغې نه مراد استثناء ده کومه چه په وخت د تکلم منوی وی خو موخر وی.

مضمون د حديث دا دې چه رسول الله ﷺ يوه ورځ اوفرمائيل چه زه به د قريش مکه سره ضرور غزوه کوم او دا رسول الله ﷺ درې کرته اوفرمائيل، د دې نه پس په دويم روايت کښې دی ﴿ثم لم يغزهم﴾ چه بيا رسول الله ﷺ ته هغوی سره د جنګ کولو ضرورت رانغلو په دې باندې په بذل کښې دا اشکال دې چه د مکې فتح د غزوې په ذريعه اوشوه بيا د نفی څه معنی ده؟ قلت ويمكن ان يقال معناه لم يغزهم بعد هذا القول على الفور بل بعد زمان... يا دا چه د راوی مراد د غزوې نه قتال وی پس د امام شافعی ﷫ په نزد د مکې فتح صلحا اوشوه نه عنوة. والله تعالى اعلم

بَابُ مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَا يُطِيقُهُ

د داسې نذر منلو بيان چه انسان د هغې طاقت نه لری

[۳۳۲۲]() حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ التِّنِّيسِيُّ، عَنِ ابْنِ أَبِي فُدَيْكٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي طَلْحَةُ بْنُ يَحْيَى الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩١١٦) (ضعيف)

[2]: سنن ابن ماجه/الكفارات ١٧ (٢١٢٨)، (تحفة الأشراف: ٦٣٤١) (ضعيف مرفوعا)

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَمْ يُسَمِّهِ، فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ، وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا فِي مَعْصِيَةٍ، فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ، وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَا يُطِيقُهُ، فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ، وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا أَطَاقَهُ، فَلْيَفِ بِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَرَوَى هَذَا الْحَدِيثَ وَكِيعٌ وَغَيْرُهُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْهِنْدِ، أَوْقَفُوهُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ.

دابن عباس ﷠ نه روایت دې فرمائي چه رسول پاک ﷺ فرمائیلي دی څوك چه غیر معین نذر اومنی نوددي کفاره هغه ده کومه چه د قسم کفاره ده او څوك چه دګناه دیوار نذر اومنی نوددي کفاره هم د قسم کفاره ده او څوك چه داسې نذر اومَنِي دکوم چه دې طاقت نه لري نوددي کفاره هم د قسم کفاره ده او څوك چه داسې نذر اومنی دکوم چه ددې وس اوطاقت لری نوهغه دې پوره کړي، ابوداود وائی چه دې حدیث لره وکیع وغیره دعبدالله بن سعید نه اوهغه په ابن عباس به باندې موقوفا نقل کړې دې.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ : « مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَمْ يُسَمِّهِ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا فِي مَعْصِيَةٍ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ

دا هم هغه حدیث دې چه د هغې ذکر مونږ سره په ﴿ باب من نذر نذرا لم يسمه ﴾ کښې د ملا علی قاری د کلام د لاندې داسې راغلې دې چه کومو علماء کرامو ﴿ من نذر نذرا لم يسمه ﴾ لره په نذر معصیت باندې محمول کړې دې هغه صحیح نه دې ځکه چه نذر معصیت خو د هغه حدیث نه پس پخپله ذکر شوې دې او عطف مقتضی دې مغایرت لره وغیره وغیره.

والحدیث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

كِتَابُ الْبُيُوعِ

داخستلو خرڅولو داحکامو بیان

د ماقبل سره مناسبت :

چه هم کله مصنف ﷫ د عباداتو د بیان نه فارغ شو یعنی ارکان اربعه مونځ روژه زکوة او حج او نکاح او جهاد وما يناسبه من الضحايا والوصايا والفرائض وغيرها نو اوس د دې ځائې نه د معاملاتو بیان شروع کوی او د دې نه پس اطعمة او اشربة، ځکه چه دا د بیع وغیره معاملات د خوراك څکاك د سهولتونو دپاره مشروع شوی دی او بیا د دې تولو نه پس چه کوم احکام باقی پاتې شو یعنی حدود او قصاص او دیات هغه مصنف ﷫ ذکر کړی دی ځکه چه دا امور یعنی حدود او قصاص وغیره زیات تر د اکل او شرب په بې احتیاطئ باندې متفرع کیږی په دې وجه هغه د اطعمه او اشربة نه پس آخر کښې ذکر کړې شو، والله تعالی اعلم. دا مناسبت خو د پوره کتاب د مضامینو په اعتبار سره شو اوس پاتې شوه دا خبره چه نزدې چه کوم کتاب تیر شوې دې یعنی کتاب الایمان والنذور په دې کښې او بیوع کښې څه مناسبت دې نو د دې په باره کښې دا وئیلې کیدې شی څنګه چه د کتاب النذور په شروع کښې تیر شو چه په نذر کښې زوال د اختیار وی نو هم دغه شان په بیع کښې زوال د ملك وی فتناسبا والله تعالی اعلم

او د صحیح بخاری ترتیب دا دې چه هغوی په ارکان اربعه کښې د ټولو نه آخير

کښې صوم ذکر کولو نه پس، د هغې نه پس متصلا کتاب البیوع بیان فرمائیلې دې او امام مسلم ﷫ د ارکان اربعه نه پس کتاب الحج لره د ټولو نه آخر کښې ذکر کولو نه پس اول کتاب النکاح او د هغې نه پس کتاب البیوع ذکر کړې دې،

(د بیع اصطلاحی تعریف)

د بیع تعریف کوم چه مشهور دې هغه دا دې ﴿البیع مبادلة المال بالمال بالتراضی﴾ په دې تعریف باندې یو اشکال هم کړې شوې دې چه دا مانع نه دې ځکه چه دا په هبة بشرط العوض باندې صادق راځی، په دې وجه بعض علماء کرامو په دې کښې د لفظ تجارة اضافه اوکړه یعنی مبادلة المال بالمال بالتراضی بطریق التجارة... خو په دې باندې هم اشکال دې ځکه چه د دې نه بیع د مکره خارج کیږی حال دا چه د احنافو په نزد هغه منعقده ده.

(په بیع او شراء کښې فرق)

بیوع جمع ده د بیع، بیع او شراء د دې دواړو په باره کښې لیکلې شوې دی چه دا د اضدادو نه دی د یو بل په معنی راځی خو اکثر د بیع اطلاق په اخراج المبیع عن الملک، او د شراء اطلاق اکثر په اخراج الثمن عن الملک باندې کیږی.

د بیع انواع :

او په بیوع کښې د جمع صیغه اختیاروی فقهاء هم او محدثین هم د کثرت انواع بیع طرف ته د اشاره کولو دپاره، په حاشیه د هدایه کښې لیکلی دی چه د بیع په اعتبار د مبیع څلور قسمونه دی ۱: بیع سلعة بمثلها یعنی د سامان په بدله کښې سامان بدلول د دې نوم بیع مقایضه ده ۲: د ثمن په بدله کښې سامان ورکول لکه چه عام طور سره وی، مطلق بیع چه کله وئیلې نو هم دا ترې نه مراد وی ۳: بیع الثمن بالثمن یعنی چه د دواړو طرفونو نه په نقدینو کښې یو وی نو د دې نوم بیع الصرف دې. ۴: بیع دین بعین د دې نوم بیع سلم دې، په دې بیع کښې مبیع دین وی یعنی فی الحال نه بلکه واجب فی الذمه وی، او ثمن فی الحال وی یعنی عام طور سره خو د دې برعکس وی چه سلعة یعنی سامان ئې فی الحال واخستلو او د هغې عوض یعنی ثمن ئې موجل کړو چه روستو به ئې درکړم، او د بیع په دې قسم کښې یعنی سلم کښې د دې برعکس وی چه ثمن فی الحال او مبیع موجل هم په دې وجه د دې تعریف داسې کولې شی ﴿بیع آجل بعاجل﴾ دا دې په ذهن کښې وی چه په باب بیع کښې حرف "با" په ثمن باندې داخلیږی د بیع د دې څلورم قسم جواز خلاف القیاس، د نص د وجې نه دې، شریعت د مصلحت او سهولت عباد دپاره دا قسم خلاف القاس جائز کړې دې، هم په دې وجه د دې د جواز دپاره ئې ډیر شرطونه کیخودلې دی چه روستو اختلاف پیدا نه شی، دا شرطونه د فقه په کتابونو کښې مذکور و مسطور دی، هم دغه شان د ثمن په لحاظ سره هم د بیع څلور قسمونه دی، ۱: بیع المساومه، ما اتفقا علیه من غیر اعتبار الثمن الاول یعنی سودا کولو سره یو څیز اخستل چه په هر څومره قیمت باندې اتفاق راشی لکه چه عام طور سره په بیوع کښې وی، ۲: بیع المرابحة ۳: التولیة ۴ والوضعیة په دې درې واړو قسمونو کښې د ثمن اول اعتبار وی یعنی بائع دا اوائی چه ماته دا څیز په

دومره قیمت پریوتلې دې او زه ئې تاته په دومره پیسو درکوم بیا د ګټې د اخستلو په صورت کښې دې ته مرابحه او د نه اخستلو په صورت کښې بیع تولیه او د کمولو په صورت کښې بیع الوضعیه وائي.

په دین کښې د معاملاتو د صحیح کولو اهمیت :

زمونږ دین یعنی دین اسلام صرف د عباداتو نوم نه دې، بلکه د عباداتو، معاملاتو، معاشراتو او اخلاقیاتو د مجموعې نوم دې، بغیر د معاملاتو د صحیح کولو نه انسان دینداره یا صوفی یا زاهد نه شی جوړیدې، پس په تعلیم المتعلم کښې لیکلې دی چه یو سړی د امام محمد رحمه الله خدمت کښې عرض اوکړو ﴿الا تصنف کتابا فی الزهد﴾ چه تاسو په زهد او تصوف کښې یو کتاب ولې نه لیکئ؟ نو هغوی جواب ورکړو ﴿قد صنفت کتابا فی البیوع﴾ یعنی په په مسائلو د بیوع باندې کتاب لیکلې دې. په ظاهر کښې خو جواب د سوال مطابق نه وو په دې وجه هغه دوباره سوال اوکړو نو هغوی هم هغه جواب اوفرمائیلو، درې کرته هم داسې اوشوه هر کرت به هغوی هم دا فرمائیل چه ما په بیوع باندې کتاب لیکلې دې ګویا امام صاحب رحمه الله دې طرف ته اشاره اوفرمائیله چه بغیر د بیوع او معاملاتو د برابرولو نه انسان صوفی او زاهد نه شی جوړیدې، د امام محمد رحمه الله د دې قصې تائید د امام ترمذی رحمه الله د صنیع نه هم کیږی ځکه چه هغوی د کتاب البیوع په شروع کښې چه کوم باب تړلې دې هغه دا دې ﴿باب ما جآء فی ترک الشبهات﴾ او بیا ئې په هغې کښې دا مشهور حدیث مرفوع ذکر فرمائیلې دې ﴿الحلال بین والحلام بین وبین ذلک امور مشتبهات لا یدری کثیر من الناس امن الحلال هی ام من الحرام فمن ترکها استبراء لدینه وعرضه فقد سلم الحدیث قال ابوعیسی هذا حدیث حسن صحیح آه.قلت هو متفق علیه اخرجه البخاری ومسلم.

بَابٌ فِي التِّجَارَةِ يُخَالِطُهَا الْحَلِفُ وَاللَّغْوُ

په تجارتی معاملاتو کښې قسمونه او دروغ ډیر وی

[۳۳۲۶](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ، قَالَ: "كُنَّا فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُسَمَّى السَّمَاسِرَةَ، فَمَرَّ بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَمَّانَا بِاسْمٍ هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ، فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ، إِنَّ الْبَيْعَ يَحْضُرُهُ اللَّغْوُ وَالْحَلِفُ، فَشُوبُوهُ بِالصَّدَقَةِ".

دقیس بن ابی غرزه نه روایت دې فرمائی چه مونږ تاجرانوته به دنبی علیه السلام په زمانه کښې سماسره وئیلې کیدل یوه ورځ نبی علیه السلام زمونږ په خوا کښې تیریدو اوزمونږ دپاره ئې دپخوانې نوم نه بهترنوم تجویز کړو، وئې فرمائیل اې دتاجرانو دلې یقینا په کاروبارکښې بې کاره خبرې اوقسمونه وي لهذا تاسوله پکاردي چه دصدقې سره ئې یوځائې کړی.

[۳۳۲۷](۲) حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ عِيسَى الْبِسْطَامِيُّ، وَحَامِدُ بْنُ يَحْيَى، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الزُّهْرِيُّ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ جَامِعِ بْنِ أَبِي رَاشِدٍ، وَعَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَعْيَنَ، وَعَاصِمٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ،

(۱): سنن الترمذي/البیوع ٤ (۱۲۰۸)، سنن النسائي/الأیمان ۲۱ (۳۸۲۸)، البیوع ۷ (٤٤٦٨)، سنن ابن ماجه/التجارات ۳ (۲۱٤٥)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۰۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤، ۲۸۰) (حسن صحیح)

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۰۳) (صحیح)

بِمَعْنَاهُ، قَالَ: وَالْحَلِفُ يَحْضُرُهُ الْكَذِبُ، وقَالَ عَبْدُ اللهِ الزُّهْرِيُّ: اللَّغْوُ وَالْكَذِبُ.

جامع بن أبی راشد اوعبدالملك بن اعين اوعاصم دابووائل نه روایت کوی هغه دقیس بن أبی غرزة نه دتيرشوی روايت په شان روایت بیان کړې دي اواضافه ئې کړي ده، چه په بیعه کښې قسم خوړل اودروغ وئيل ډيرېښېږي يا عبث خبرې اودروغ خبرې ډيرې پيښيږي (نوتاسولره پکاردي چه ډير ډير خيراتونه کرئ).

عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ قَالَ كُنَّا فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نُسَمَّى السَّمَاسِرَةَ فَمَرَّ بِنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَسَمَّانَا بِاسْمٍ هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ فَقَالَ « يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ إِنَّ الْبَيْعَ يَحْضُرُهُ اللَّغْوُ وَالْحَلِفُ فَشُوبُوهُ بِالصَّدَقَةِ »

قيس بن ابی عرزه ﷺ فرمائی چه مونږ ته به د عهد نبوی ﷺ په شروع کښې سماسره وئيلې کیدل یعنی سوداګرو ته به سماسره وئيلې کيدل کوم چه د سمسار يعنی الدلال جمع ده، يوه ورځ رسول الله ﷺ په بازار کښې په سوداګرو باندې تیر شو، هغه صحابی فرمائی چه هغه ورځ رسول الله ﷺ مونږ په ډير ښه نومونو باندې ياد اوفرمائيلو : وې فرمائيل ﴿ يا معشر التجار﴾ اې د سوداګرو جماعته! د لين دين او بيع او شراء په لغوياتو کښې د دروغو قسمونه په خولهٔ باندې راشي نوتاسو دا عمل د صدقې سره يو ځائې کوئ يعنی روزانه د ګنجائش او وس مناسب صدقه کوئ، چه د دې لغوياتو تلافی اوشی.

د سوداګر نوم د سمسار نه ولې ښه دې ځکه چه تجارت د الفاظ عربيه نه دې په قرآن کريم کښې ذکر دې په خلاف د سمسار چه هغه عجمی لفظ دې. والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِي اسْتِخْرَاجِ الْمَعَادِنِ

دکان نه د مال ويستلو بيان

یعنی د سرو او سپينو زرو د کانونو نه مال ويستلو سره حاصلول، د دې باب کتاب البيوع سره څه مناسبت دې ځکه چه سره او سپين زر د څیزونو د اخستلو دپاره ثمن جوړيږي.

[٣٣٢٨](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَمْرٍو يَعْنِي ابْنَ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: "أَنَّ رَجُلًا لَزِمَ غَرِيمًا لَهُ بِعَشَرَةِ دَنَانِيرَ، فَقَالَ: وَاللهِ لَا أُفَارِقُكَ حَتَّى تَقْضِيَنِي، أَوْ تَأْتِيَنِي بِحَمِيلٍ، فَتَحَمَّلَ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَاهُ بِقَدْرِ مَا وَعَدَهُ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِنْ أَيْنَ أَصَبْتَ هَذَا الذَّهَبَ؟، قَالَ: مِنْ مَعْدِنٍ، قَالَ: لَا حَاجَةَ لَنَا فِيهَا، وَلَيْسَ فِيهَا خَيْرٌ، فَقَضَاهَا عَنْهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دابن عباس ﷺ نه روايت دې فرمائی چه يو کس خپل قرضدارې دلسو روپو په وجه ونيولو (دچاپه ذمه چه دهغه لس ديناره وو) ورته ئې اووئيل په الله مې دې قسم وي ترهغې به دې پرېنږدم ترڅوچه دې زما قرض نه وی اداکړې اويا راته زمانت راڼکړې، راوي وائي نبی عليه السلام چه دا واوريدل نوقرض غوښتونکي ته ئې دقرضدارې دطرف نه ضمانت اوکړو نوده

(1): سنن ابن ماجه الأحكام ٩(٢٤٠٦)، (تحفة الأشراف: ٦١٧٨) (صحيح)

ورته دومره مال راوړو دځومره مال دراوړوچه ئي وعده کړي وه، نبی ﷺ ورته اوفرمائيل دادي دچرته نه راوړل هغه اووئيل دکان نه مې راوړل نبی ﷺ اوفرمائيل زمونږ دي ته څه حاجت نشته دې اونه په دې کښې څه خيرشته دې، نونبی ﷺ دده قرض ددغه مال نه اداکړو.

قوله: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّ رَجُلاً لَزِمَ غَرِيمًا لَهُ بِعَشَرَةِ دَنَانِيرَ الخ

شرح الحديث:

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه يو سړی يعنی دائن خپل مديون نيولې وو چه په هغه باندې دين صرف لس ديناره وو، او رجل دائن دا وئيل چه والله زه به تا نه پريږدم چه ترڅو تا ماته خپل دين نه وی ادا کړې يا خپل يو کفيل پيش نه کړې. راوی وائی چه د دې شخص د دين کفالت رسول الله ﷺ واخستلو او بيا د څو ورځو نه پس د وعدې مطابق د هغوی په خدمت کښې مديون مال راوړو، رسول الله ﷺ د هغه نه تپوس اوکړو چه دا سرۀ زر تا د کوم ځائې نه حاصل کړل، هغه عرض اوکړو د يو معدن نه، رسول الله ﷺ په دې اوريدو باندې هغه واپس کړو او وې فرمائيل مونږ ته د دې ضرورت نشته، په دې کښې هيڅ خير نشته او بيا هغه قرض داری ته رسول الله ﷺ د خپل طرف نه ادا کړې.

رسول الله ﷺ د دې معدن نه ويستلې شوې سره زر ولې واپس کړل، شراح د دې په توجيه کښې مختلف دی، بعضو وئيلې دی چه د دې به څه خاص وجه وی چه د هغې مونږ ته خبر نشته ګينې صرف د دې مال مستخرج من المعدن کيدل خو مانع عن التملک نه دې امام خطابی رحمه الله د دې متعدد توجيهات احتمالاً ليکلی دی. ۱: رسول الله ﷺ دا په دې وجه رد کړو ﴿لانه لم يخمس﴾ يعنی هغه سړی تر اوسه پورې د دې مال خمس نه وو ادا کړې کوم چه شرعا واجب دې. ۲: د اصحاب معادن عادت وی چه هغوی د تراب المعادن بيع کوی ځکه چه په هغې کښې د سرو زرو او سپينو ذرو ذرات وی، او چونکه دا معلومه نه ده چه څه به راوځی يا نه او څومره به راوځی ففيه غرر ۳: ضرورت وو د سکې د دراهم او دنانير او هغه سړی راوړې وو سرۀ زر غير مضروب په دې وجه رسول الله ﷺ هغه واپس کړل ۴: اصحاب معادن دا کوی چه کان په ټهيکه ورکوی چه د کنستلو والا په هغې کښې عشر يا خمس يا ثلث، باقی زمونږ، او د هغې مقدار معلوم نه دې، د دې جهالت د وجې نه دا عقد فاسد شو په دې وجه رسول الله ﷺ واپس اوفرمائيلو (بذل) والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِي اجْتِنَابِ الشُّبُهَاتِ

د مشتبه څيزونو نه د ځان ساتلو بيان

[۳۳۲۹] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ، وَلَا أَسْمَعُ أَحَدًا بَعْدَهُ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ، وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا أُمُورٌ مُشْتَبِهَاتٌ، وَأَحْيَانًا يَقُولُ مُشْتَبِهَةٌ، وَسَأَضْرِبُ لَكُمْ فِي ذَلِكَ مَثَلًا، إِنَّ اللَّهَ حَمَى

¹): صحيح البخاري/الإيمان ٣٩ (٥٢)، والبيوع ٢ (٢٠٥١)، صحيح مسلم/المساقاة ٢٠ (١٥٩٩)، سنن الترمذي/البيوع ١ (١٢٠٥)، سنن النسائي/البيوع ٢ (٤٤٥٨)، سنن ابن ماجه/الفتن ١٤ (٣٩٨٤)، (تحفة الأشراف: ١١٦٢٤)، وقد أخرجه: مسند أحمد (٢٦٧/٤، ٢٦٩، ٢٧٠، ٢٧١، ٢٧٥)، سنن الدارمي/البيوع ١ (٢٥٧٣) (صحيح)

حِمًى، وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَا حَرَّمَ، وَإِنَّهُ مَنْ يَرْعَ حَوْلَ الْحِمَى، يُوشِكُ أَنْ يُخَالِطَهُ، وَإِنَّهُ مَنْ يُخَالِطُ الرِّيبَةَ، يُوشِكُ أَنْ يَجْسُرَ".

دنعمان بن بشير نه روايت دې فرمائی چه ماد نبی ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيل ئې يقينا حلال هم ظاهردي اوحرام هم ظاهردي اومشتبه ددې دواړو په مينځ کښې دي، زه تاسوته ددې مثال بيانوم الله تعالى ددې دپاره يوحدمقرر کړې دې او ددې حد دهغه حرام کړې شوي څيزونه دی اويقيناڅوك چه خپل څاروی ددې حدونونه چاپيره څروي نونزدي دهرچه په دې کښې به داخل شي، اوهمدارنګې څوك چه مشتبه كاركوي نوپه دې باره کښې دده د جرئت زياتيدو انديښنه ده.

قوله: عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ - وَلاَ أَسْمَعُ أَحَدًا بَعْدَهُ يَقُولُ - سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِنَّ الْحَلاَلَ بَيِّنٌ وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ

په دې سند کښې ﴿ وَلاَ أَسْمَعُ أَحَدًا بَعْدَهُ ﴾ دا جمله معترضه ده او په نسائی کښې داسې دی، ﴿فوالله لا اسمع بعده احدا ﴾ امام شعبی رحمه الله فرمائی چه ما دا حديث (کوم چه وړاندې را روان دې) د نعمان بن بشير رضي الله عنه نه اوريدلې، او د هغوی نه د اوريدو نه پس ئې د بل چا نه نۀ اورم، يعنی د هغوی نه پس د بل صحابی رضي الله عنه نه د اوريدو ضرورت نشته، صرف د هغوی نه اوريدل كافی دی ځکه چه هغوی بالكل رشتينی او قابل اعتماد دی.([1])

شرح الحديث:

د حديث مضمون دا دې : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی چه د کومو څيزونو خلقو ته حلال کيدل معلوم دی د هغې حکم خو ښکاره دې، يعنی خلق دا ګڼړی چه د هغې په اختيارولو کښې څه حرج نشته، او هم دغه شان د کوم څيز حرام کيدل چه خلقو ته معلوم دی د هغې حکم هم د هغوی په نزد نور هم ظاهر دې، يعنی دا چه د هغې نه بچ کيدل ضروری دی، خو ضرورت د دې خبرې دې چه کوم امور د حلال او حرام ترمينځه دی د هغې حکم دې اوپيژندلې شی او هغه دا دې چه څنګه د حديث د وړاندې حصې نه معلوميږی چه د داسې امورو نه اجتناب هم احتياطا ضروری دې ګڼې د احتياط نه کولو په صورت کښې ويره ده چه معامله وړاندې لاړه نه شی يعنی وقوع فی الحرام، او بيا رسول الله ﷺ د دې مشتبهاتو دا حکم په يو مثال سره واضحه کړو ﴿ ان الله حمى حمى وان حمى الله محارمه ﴾ چه بيشکه الله پاک په بعض څيزونو باندې کنده تار لګولو سره هغه ممنوع کړې دی چه انسان هغې ته او نه رسی او هغه امور چه په هغې باندې الله پاک کنده تار لګولې دې هغه ممنوعات شرعيه دی او کوم انسان چه د هغه تار خوا کښې څاروی څروی نو د هغه په باره کښې قوی ويره ده چه هغه په تار کښې دننه ور داخل نه شی. ﴿وانه يخالط الريبة يوشک ان يجسر ﴾ يعنی کوم انسان چه مشکوک ته نزدې کيږی د هغه په باره کښې دا ويره ده چه هغه په داسې کولو سره وړاندې جرأت اوکړی او په ښکاره حرامو کښې ورننوځي، د دې حديث د ړومبئ جملې

[1]) او دا هم ممکنه ده چه داسې اونيلې شی چه شعبی د اوساط تابعينو نه دې کوم چه زيات تر د تابعينو نه روايت کوی او دا حديث د هغوی نه د صحابی نه دې په دې وجه فرمائی چه د دې نه پس اوس د يو تابعی نه د روايت کولو څه ضرورت پاتې کيږی)

مطلب شراحو هم دا ليکلي دي کوم چه مونږ پورته اوليکلو ، او د دي جملي مطلب دا نه دي چه ټول هغه څيزونه کوم چه د الله پاک په نزد حلال دی او هم دغه شان کوم چه د الله پاک په نزد حرام دی هغه ټول بين او ښکاره دی ټول خلق هغه پيژنی ، د دي مطلب شراح نفی کړي ده څکه چه د دي مطلب په صورت کښي بيا مشتبه امور چرته باقی پاتي کيږی چه د هغي نه د بچ کيدو دپاره په حديث کښي فرمائيلي شوي دی. والله تعالی اعلم

د حديث الباب په ظاهر کښي معارض يو بل روايت :

دلته يو طالب علمانه اشکال دي چه وړاندي د کتاب الاطعمة په اخير کښي په حديث کښي داسي دی ﴿ كان اهل الجاهلية ياكلون اشياء ويتركون اشياء تقذرا فبعث الله نبيه ﷺ وانزل كتابه واحل حلالا وحرم حرامه فما احل الله فهو حلال وما حرم الله فهو حرام وما سكت عنه فهو معفو ﴾ په دي حديث کښي د حلال او حرام څيزونو ترمينځه څيز ته عفو وئيلي شوي ده، او په حديث الباب کښي دي ته مشتبه او واجب الاحتراز فرمائيلي شوي دی، د دي اشکال او د هغي جواب طرف ته اشاره شيخ په کوکب کښي داسي فرمائيلي ده چه د دي دواړو احاديثو ترمينځه څو قسمه جمع کړي شوي ده مثلا دا چه ۱: حديث د ابن عباس رضي الله عنهما من باب الفقه والفتوى دي او د نعمان بن بشير رضي الله عنه دا حديث من باب الورع والتقوى دي. ۲: او د دي نه غوره توجيه دا ده چه د ابن عباس رضي الله عنهما په حديث کښي چه کوم حکم ذکر کړي شوي دي يعنی عفو هغه د مسکوت عنه ده، او د نعمان بن بشير رضي الله عنه حديث کښي چه کوم حکم ذکر کړي شوي دي هغه امر مشتبه دي، پس دلته څلور مراتب شو حلال، حرام، مسکوت عنه، يعنی هغه څيز چه د هغي په باره کښي نه دليل د حلت موجود وی نه دليل د حرمت، مشتبه يعنی چه په کوم امر کښي دلائل متعارض وی د حلت او حرمت په باره کښ، او د هغي حکم وجوب ترک دي ترجيحا للحرمة، او د قسم ثالث حم دا دي چه هغه معفو عنه دي د اباحة اصليه په اعتبار سره.(۱) ،او يو جواب دا هم ورکړي شوي دي چه د نعمان بن بشير رضي الله عنه حديث متفق عليه دي بلکه د صحاح ستة حديث دي، او حديث د ابن عباس رضي الله عنهما د سنن روايت دي.

[۳۳۳۰](۲) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا، عَنْ عَامِرٍ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: "وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ، لَا يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ عِرْضَهُ وَدِينَهُ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ

دنعمان بن بشير نه روايت دي فرمائی چه ماد نبی عليه السلام نه اوريدلي دي چه فرمائيل ئي وو........او په دي حديث کښي داهم دي چه دحلالو اوحرامود حدودو په مينځ کښي مشتبهات دي چه ډيرخلق ئي نه پيژني څوك چه ددي نه بچ شو نوده خپل دين اوعزت سلامت کړو اوڅوك چه په دي کښي واقع شو نودي په حرامو کښي واقع شو.

(۱) په اشياؤ کښي اصل اباحت دي يا توقف: وفي هامش البذل: في حكم الأشياء قبل ورود الشرع اربعة مذاهب كما في العيني ص ۳۴۸، وفي الدر المختار مذهب اهل السنة ان الأصل في الأشياء التوقف والاباحة رأي المعتزلة ورد عليه ابن عابدين ۳۴۸/۳، وحقق ان الثاني مذهب اكثر الحنفية والشافعية وبسط المذاهب.آه.
(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۲۴) (صحيح)

[۳۳۳۱](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا عَبَّادُ بْنُ رَاشِدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ أَبِي خَيْرَةَ، يَقُولُ: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ مُنْذُ أَرْبَعِينَ سَنَةً، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ح وحَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ دَاوُدَ يَعْنِي ابْنَ أَبِي هِنْدٍ، وَهَذَا لَفْظُهُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي خَيْرَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا أَكَلَ الرِّبَا، فَإِنْ لَمْ يَأْكُلْهُ أَصَابَهُ مِنْ بُخَارِهِ"، قَالَ ابْنُ عِيسَى: أَصَابَهُ مِنْ غُبَارِهِ.

دابوهریرة رضي الله تعالی عنه نه روایت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خامخا به په خلقو داسې زمانه راشي چه هیڅوك به دسود خوړلونه بچ نه وی پاتې شوي اوکه چاسود نه وی خوړلې نولوګي خوبه ئې ورته رسیدلي وي. ابن عیسي وئیلی دی چه دبخارنه مراد ګرد دې.

قوله: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لاَ يَبْقَى أَحَدٌ إِلاَّ أَكَلَ الرِّبَا فَإِنْ لَمْ يَأْكُلْهُ أَصَابَهُ مِنْ بُخَارِهِ ». قَالَ ابْنُ عِيسَى « أَصَابَهُ مِنْ غُبَارِهِ »

شرح الحدیث:

په عربو کښې ربا یعنی د سودی معاملاتو لین دین ډیر عام وو چه هغه به ئې بالکل جائز ګڼړلو اسلام چه راغلو نو دا هر څه ئې حرام کړل او رسول الله ﷺ د حجة الوداع په خطبو کښې د نورو امورو سره د دې د حرمت هم بار بار اعلان فرمائیلي وو، او د زمانه جاهلیت نه چه په کومو خلقو کښې د سود معاملات روان وو په هغو ټولو باندې رسول الله ﷺ پابندی اولګوله ﴿ وربا الجاهلية موضوع واول ربا اضع ربانا ربا عباس بن عبدالمطلب فانه موضوع كله ﴾ او وی فرمائیل چه د سابقه سودی معاملاتو باقی رقم کوم چه د عباس ﷺ د معاملاتو دې د دې په پریښودلو کښې رومبی والې زه کوم غرض دا چه خلقو د دې د حرمت نه پس سودی کاروبار او معاملات بند کړل، بیا رسول الله ﷺ په دې حدیث الباب کښې فرمائي چه یو زمانه داسې را روانه ده چه د سودی معاملاتو سلسله به بیا په زور او شور سره اوموندلې شی او دا مرض به داسې عام شی چه د هغې نه په هیڅوک بچ نه شی، او که څوک ډیر زیات کوشش کولو سره د ښکاره سود خوړلو نه پرهیز هم اوکړی نو کم ازکم د هغې لوړې او بخار خو به پرې ورشی یعنی د سود اثر به هغه ته په څه نه څه طریقې ور رسیږی، مثلا په سودی معاملاتو کښې به د شاهد جوړیدو ضرورت راشی یا د کاتب جوړیدو یعنی د سودی معاملاتو لیکلو، یا د ربا د خوړونکی د میلمستیا خوړلو یادهغه دطرف نه دهدیه وغیره دملاویدو. والحدیث اخرجه النسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[۳۳۳۲](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، أَخْبَرَنَا عَاصِمُ بْنُ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، قَالَ: "خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ، فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْقَبْرِ يُوصِي الْحَافِرَ، أَوْسِعْ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيْهِ، أَوْسِعْ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ، فَلَمَّا رَجَعَ اسْتَقْبَلَهُ دَاعِي امْرَأَةٍ، فَجَاءَ وَجِيءَ

(١): سنن النسائي/البيوع ٢ (٤٤٦٠)، سنن ابن ماجه/التجارات ٥٨ (٢٢٧٨)، مسند احمد (٢/٤٩٤)، (تحفة الأشراف: ٩٢٠٣، ١٢٢٤١) (ضعيف)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢٩٣، ٤٠٨) (صحيح)

بِالطَّعَامِ، فَوَضَعَ يَدَهُ، ثُمَّ وَضَعَ الْقَوْمُ، فَأَكَلُوا، فَنَظَرَ آبَاؤُنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلُوكُ لُقْمَةً فِي فَمِهِ، ثُمَّ قَالَ: أَجِدُ لَحْمَ شَاةٍ أُخِذَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ أَهْلِهَا، فَأَرْسَلَتِ الْمَرْأَةُ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَرْسَلْتُ إِلَى الْبَقِيعِ يَشْتَرِي لِي شَاةً، فَلَمْ أَجِدْ، فَأَرْسَلْتُ إِلَى جَارٍ لِي قَدِ اشْتَرَى شَاةً أَنْ أَرْسِلْ إِلَيَّ بِهَا بِثَمَنِهَا، فَلَمْ يُوجَدْ، فَأَرْسَلْتُ إِلَى امْرَأَتِهِ، فَأَرْسَلَتْ إِلَيَّ بِهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَطْعِمِيهِ الْأُسَارَى".

عاصم بن کلیب دخپل پلار نه اوهغه په انصاروکښې دیوکس نه روایت کوی فرمائی چه دنبی ﷺ سره مونږ یوې جنازې ته لاړوما اولیدل چه نبی علیه الصلاة والسلام دقبرسره ودریدو اوقبرکن ته ئې دکنستو طریقه خودله اوداسې ئې ورته فرمائیل چه دخپودطرفه ئې ازادکړه او دخپودطرفه ئې ازادکړه، هرکله چه واپس شو نویوکس ورته د یوې ښځې دطرف نه دخوراك دپاره دعوت ورکړو نبی ﷺ ورغلو اوخوراك ورته راوړې شو اوخې لاس ئې ورواندې کړو، خوراك ئې شروع کړو اوخلقوورته کتل چه په یوه نوړ باندې ئې شخوند وهلو او تیروله ئې نه، بیا ئې اوفرمائیل ماته داسې ښکارې چه داغوښه ددداسې چیلۍ ده کومه چه دمالك درضا نه بغیر اخستلې شوې ده، دغه زنانه ووئیل اې دالله رسوله ما نقیع مقام ته یوکس دچیلی اخستلو دپاره لیږلې وو لیکن چیلی ورته نه وو ملاوشوې بیاې ګاونډیانوته ووئیل تاسوچه کومه چیلی اخستلې ده ماته ئې په هم هغه قیمت راکړئ اتفاً هغه ګاونډې په کورکښې موجودنه ووما دهغه ښځې ته جواب اولیږلو هغې راته چیلی راولیږله نبی ﷺ ورته اوفرمائیل داغوښه په قیدیانوباندې اوخوروئ.

عَنْ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فِي جَنَازَةٍ

مضمون د حدیث:

یو انصاری صحابی رضی الله عنه فرمائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په یو جنازه کښې قبرستان ته لاړو ما رسول الله ﷺ اولیدو چه هغوی د قبر یو طرف باندې اودریدل او قبر کنستونکی ته هدایت فرمائی چه د دې طرف نه نور هم اوکنه، او د دې فلانی طرف نه نور هم اوکنه، ﴿ فَلَمَّا رَجَعَ اسْتَقْبَلَهُ دَاعِيَ امْرَأَةٍ فَجَاءَ وَجِيءَ بِالطَّعَامِ ﴾ [1] یعنی چه کله په دې موقع باندې رسول الله ﷺ د قبرستان نه واپس تشریف راوړلو نو د یو زنانه د طرف نه رسول الله ﷺ ته دعوت ورکونکې ملاؤ شو، پس رسول الله ﷺ هغه زنانه ته تشریف یوړو پس رسول الله ﷺ ته

[1] **د اهل بیت د طرف نه په ضیافت باندې اشکال او د هغې توجیه**: په اکثر نسخو کښې داسې دی په مطبوعه کښې هم او قلمی کښې هم او دا روایت په مشکوة کښې هم دې په هغې کښې دا لفظ داسې دی (داعې امرأته) ضمیر سره یعنی د هغه مړی ښځې د کوم د دفن کولو نه پس چه رسول الله ﷺ واپس را روان وو لکه چه ملا علی قاری رحمه الله د دې شرح کړې ده، که دا لفظ داسې وی څنګه چه په مشکوة کښې دی نو بیا په دې باندې دا اشکال دې چه زمونږ فقهاء کرامو دا تصریح کړې ده د دې خبرې چه د اهل میت د طرف نه میلمستیا ورکول جائز نه دی، ځکه چه ضیافت خو د یو خوشحالۍ په موقع باندې مشروع دې نه د غم او خفګان په موقع او د رسول الله ﷺ د دې میلمستیا قبلول دا دلالت کوی د دې په جواز باندې، نو اول خو به د دې جواب هم دا ورکولې شی چه په مشکوة کښې دا روایت د ابوداؤد دې او دا ابوداؤد په یوه نسخه کښې هم په موجوده نسخو کښې (داعې امرأته) نه دې، ثانیا دا کیدې شی چه دا واقعه د نهی نه د مخکښې وی، او دا هم وئیلې کیدې شی چه د رسول الله ﷺ دا عمل د بیان اجواز دپاره وو ځکه چه د اهل میت د طرف نه ضیافت مکروه دې حرام نه دی.

دوډئ کیخودلې شوه، خلقو خوراک شروع کړو، رسول اللهﷺ چه څنګه نمړئ اوچتولو سره په خولهٔ کښې کیخودله خلقو اولیدل چه رسول اللهﷺ هغه نمړئ تیرولې نه شی، پس لږ ساعت پس رسول اللهﷺ اوفرمائیل داسې معلومیږی چه دا غوښه د هغه بیزې ده کومه چه د مالک د اجازت نه بغیر اخستلې شوې ده، چه کله هغه زنانه ته پته اولګیده چه رسول اللهﷺ هغه غوښه نه خوری نو هغې رسول اللهﷺ ته یو سړې د صورت حال د بیانولو دپاره راولیږلو چه یا رسول اللهﷺ ما نقیع یعنی د څارو منډئ ته د بیزې د اخستلو دپاره سړې لیږلې وو خو هلته بیزه ملاؤ نه شوه په دې وجه ما خپل ګاونډی کره سړې اولیږلو چا چه بیزه اخستلې وه چه هغه بیزه دې قیمة ما ته راکړی خو اتفاق سره هغه سړې په کور کښې نه وو، بیا ما د هغه ښځې ته هم په دې غرض باندې سړې ور اولیږلو هغې ماته دا غوښه راولیږله پس دا بیزه د هغه بیزې ده رسول اللهﷺ اوفرمائیل ﴿ اطعمیه الاساری ﴾ دا خوراک په قیدیانو باندې اوخروه، یا خو په دې وجه چه هغوی اکثر غریبانان وی او یا په دې وجه لکه چه بعض شارحینو لیکلی دی چه هغوی کافران دی د هغوی په خوراک کولو کښې هیڅ باک نشته.

بَابٌ فِي آكِلِ الرِّبَا وَمُوكِلِهِ

د سود خوړونکی اوورکونکی بیان

د آکل نه مراد آخذ او د موکل نه مراد معطی، یعنی کوم انسان چه د چا نه د سود مال واخلی یا بل ته ئې ورکړی (که هغه ئې او خوری او که ئې نه خوری).

[۳۳۳۳](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سِمَاكٌ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهُ، وَشَاهِدَهُ، وَكَاتِبَهُ".

دابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام لعنت وئیلی دی په سود خوړونکی او په سود ورکونکی اوپه سود باندې ګواهي کونکي باندې اوپه سود لیکونکي باندې.

قوله: عن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ وَشَاهِدَهُ وَكَاتِبَهُ.:

امام نووی رحمه الله فرمائی چه په دې حدیث کښې تصریح ده، د دې خبرې چه د ربوی او سودی معاملې کتابت که هغه د اجرت سره وی یا بغیر د اجرت نه، هم دغه شان په دې قسم معامله کښې شهادت یعنی شاهد، جوړیدل حرام دی ځکه چه په دې کښې اعانت علی الباطل دې، والحديث اخرجه الترمذي وابن ماجة، واخرجه مسلم من حديث جابر بن عبدالله بتمامه، ومن حديث علقمة عن عبدالله بن مسعود في آكل الربا وموكله فقط واخرج البخاري من حديث أبي جحيفة (حديثا طويلا وفيه ونهى عن) وآكل الربا وموكله. قاله المنذري

(۱): صحیح مسلم/المساقات ۱۹ (۱۵۹۷)، سنن الترمذي/البيوع ۲ (۱۲۰۶)، سنن ابن ماجه/التجارات ۵۸ (۲۲۷۷)، (تحفة الأشراف: ۹۳۵۶)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الطلاق ۱۳ (۳۴۴۵)، مسند احمد (۱/۳۹۳، ۳۹۴، ۴۰۲، ۴۵۳) (صحيح)

بَابٌ فِي وَضْعِ الرِّبَا
د سود د معاف کولو بیان

[۳۳۳٤](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا شَبِيبُ بْنُ غَرْقَدَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، يَقُولُ: "أَلَا إِنَّ كُلَّ رِبًا مِنْ رِبَا الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ، لَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ، لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ، أَلَا وَإِنَّ كُلَّ دَمٍ مِنْ دَمِ الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ، وَأَوَّلُ دَمٍ أَضَعُ مِنْهَا دَمُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، كَانَ مُسْتَرْضِعًا فِي بَنِي لَيْثٍ، فَقَتَلَتْهُ هُذَيْلٌ، قَالَ: اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ، قَالُوا: نَعَمْ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، قَالَ: اللَّهُمَّ اشْهَدْ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ".

سلیمان بن عمرو دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه دنبی ﷺ نه مې په حجة الوداع کښې اوریدلي وو چه فرمائیل ئې خبردار چه دجاهلیت دوخت ټول سود وو هغه ساقط (معاف) شو تاسو به صرف خپل اصل مال اخلئ نه به ظلم کوئ اونه به په تاسو ظلم کولی شی (مراد دادې چه نه به تاسو ډېر نه سود اخلئ اونه به ستاسونه څوك سود اخلي اود جاهلیت دوخت چه څومره وینه وه هغه معاف شوه او په دې ټولو وینو کښې دتولونه مخکښې دحارث بن عبد المطلب وینه معاف کوم څوك چه دلیث قبیلې والا وو اوپې ئې خوړل او هذیل قبیلې والا قتل کړې وو، اوبیائې درې ځله وویل اې پروردګاره ایاما پیغام ورسولو؟ صحابه کرامو عرض وکړو چه بیشکه او بیائې درې ځله وویل چه اې الله ګواه شه.

﴿لَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ﴾ یعنی په تیرو سودی معاملاتو کښې چه کوم د سود پیسې باقې پاتې شوې دی هغه دې وانخستلې شی صرف راس المال دې واخستلې شی. ﴿لاَ تَظْلِمُونَ وَلاَ تُظْلَمُونَ﴾ نه خو تاسو په بل باندې ظلم کوئ چه د سود باقی رقم واخلئ او نه دې په تاسو باندې ظلم اوکړې شی چه اصل رأس المال دې هم پوره وانخستلې شی، دواړه خبرې غلطې دی. ﴿وَأَوَّلُ دَمٍ أَضَعُ مِنْهَا دَمُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ﴾ دا روایت په کتاب الحج کښې تیر شوې دې هلته په یو روایت کښې خو دم د ربیعة بن الحارث، په ځائې ربیعة ابن الحارث دې، او په یو روایت کښې تیر شوې دی ﴿دم ابن ربیعة بن الحارث﴾ او هم دا صحیح دې، نو ګویا دلته په روایت کښې دوه مضاف محذوف دی. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة..........وهذا مذکور فی حدیث جابر الطویل، وقد اخرجه مسلم وابوداؤد فی الحج، قاله المنذری

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الْيَمِينِ فِي الْبَيْعِ
په اخستلو خرڅولو کښې د قسم کولو د ممانعت بیان

[۳۳۳٥](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ: إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

[1]: سنن الترمذي/الفتن ١ (١٢٥٩)، تفسیر القرآن ١٠ (٣٠٨٧)، سنن ابن ماجه/المناسك ٧٦ (٣٠٥٥)، (تحفة الأشراف: ١١١٩١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٢٦، ٤٩٨) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/البيوع ٢٦ (٢٠٨٧)، صحيح مسلم/المساقاة ٢٧ (١٦٠٦)، سنن النسائي/البيوع ٥ (٤٤٦٦)، (تحفة الأشراف: ١٣٣٢١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٣٥، ٢٤٢، ٤١٣) (صحيح)

يَقُولُ: "الْحَلِفُ مَنْفَقَةٌ لِلسِّلْعَةِ، مَمْحَقَةٌ لِلْبَرَكَةِ"، قَالَ ابْنُ السَّرْحِ: لِلْكَسْبِ، وَقَالَ: عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دنبي عليه السلام نه مې اوريدلي وو چه فرمائيل ئې قسم خوړل دکاروبار دپاره فائده ورکوي اوبرکت ختموي.

﴿ « الْحَلِفُ مَنْفَقَةٌ لِلسِّلْعَةِ مَمْحَقَةٌ لِلْبَرَكَةِ ». و قَالَ ابْنُ السَّرْحِ « لِلْكَسْبِ » ﴾ الحلف د حاء په فتح او د لام په کسرې سره او سکون لام هم جائز دې قاله السندی علی النسائی قلت ويجوز فيه کسر الحاء مع سکون اللام کما تقدم مفصلا في باب الحلف في آخر کتاب الفرائض ﴾ که قسم دروغژن دې نو بيا خو کراهة تحريمی دې او که رښتينې دې نو بيا مکروه دې په کراهة تنزيهی سره، يعنی د سوداګر په دروغه باندې قسم خوړل (ځکه چه د مسند احمد په روايت کښې ﴿ اليمين الکاذبة ﴾ دې) دا د سوداګر سامان لره روانونکې خو دې، خو برکت لره کمونکې دې، يا ختمونکې دې، منفقه د ميم او فاء په فتحې سره په مينځ کښې نون ساکن دې، دا اخستلې شوې دې د نفاق بفتح النون نه ﴿ وهو الرواج ضد الکساد ﴾ او لفظ ممحقة په وزن د منفقة، او په دې کښې يو روايت د ضم ميم او کسر دحاء هم دې، دا اخستلې شوې دې د محق نه په معنی د النقض او ابطال، مطلب ښکاره دې چه په دروغه قسم سره سامان خو اوځې خرڅ شی خو په هغه تجارت کښې برکت نه وی.

بَابٌ فِي الرُّجْحَانِ فِي الْوَزْنِ وَالْوَزْنِ بِالْأَجْرِ

په مزدورئ باندې د تول کولو بيان

يعنی بائع له پکار دی چه مبيع دې لږ زيات کړی او هم دغه شان مشتری له پکار دی چه ثمن دې درانه اوتلی، يعنی په بيع مقايضه کښې يعنی په کوم صورت چه شراء بالسلعة وی.

[۳۳۳۶](1) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، حَدَّثَنِي سُوَيْدُ بْنُ قَيْسٍ، قَالَ: "جَلَبْتُ أَنَا وَمَخْرَفَةُ الْعَبْدِيُّ بَزًّا مِنْ هَجَرَ، فَأَتَيْنَا بِهِ مَكَّةَ، فَجَاءَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي، فَسَاوَمَنَا بِسَرَاوِيلَ، فَبِعْنَاهُ، وَثَمَّ رَجُلٌ يَزِنُ بِالْأَجْرِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: زِنْ، وَأَرْجِحْ".

دسويد بن قيس نه روايت دې فرمائي چه ما اومخرمه عبدي دهجر مقام نه د کاروبار دپاره کپړه راوړه اومکې ته مو يوړل زمونږ سره نبی عليه السلام پيدل راغې اوزمونږ سره ئې ديو پرتوګ قيمت برابر کړو مونږ ورباندې خرڅ کړو په دې وخت کښې يو سړی په مزدوری باندې تول کولو نبی عليه السلام ورته او فرمائيل کله چه تول کوې نو درون تول کوه.

مضمون د حديث:

قوله: ﴿ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ حَدَّثَنِي سُوَيْدُ بْنُ قَيْسٍ قَالَ جَلَبْتُ أَنَا وَمَخْرَفَةُ الْعَبْدِيُّ بَزًّا مِنْ هَجَرَ فَأَتَيْنَا بِهِ مَكَّةَ ﴾ سويد بن قيس رضي الله عنه فرمائي چه زه او مخرفة العبدی رضي الله عنه د مقام هجر نه څه کپړې د تجارت دپاره اخستلو سره مکې مکرمې ته راغلو رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته پياده تشريف

(1): سنن الترمذي/البيوع ٦٦ (١٣٠٥)، سنن النسائي/البيوع ٥٢ (٤٥٩٦)، سنن ابن ماجه/التجارات ٣٤ (٢٢٢٠)، اللباس ١٢ (٣٥٧٩)، (تحفة الأشراف: ٤٨١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٢/٤)، سنن الدارمي/البيوع ٤٧ (٢٦٢٧) (صحيح)

راوړو او د يو پرتوګ ئې مونږ سره بيع اوکړه هغه مونږ په رسول اللهﷺ باندې خرڅ کړو، ﴿وَثَمَّ رَجُلٌ يَزِنُ بِالأَجْرِ ﴾ يعنى هلته يو سړې موجود وو کوم چه به په اجرت باندې د ځيزونو وزن کولو نو رسول اللهﷺ هغه ته اوفرمائيل چه دا ثمن اوتله او درانه ئې اوتله.

په کوکب کښې ليکلى دى چه غالبا رسول اللهﷺ دا پرتوګ د يو وزنى ځيز (سلعة) په بدله کښې اخستلې وى کوم چه هغوى وزن کولو سره بائع ته ورکړو، (ګينې که دا شراء بالثمن يعنى د درهم او دينار په ذريعه وى نو د دې د تللو څه ضرورت وو) ﴿ هكذا فهمت من الكوكب فارجع اليه ﴾ شراح ليکلى دى چه د دې حديث نه معلومه شوه چه وزن بالاجر جائز دې بله دا چه د ثمن وزن د مشترى په ذمه دې لهذا د دې اجرت به هم په هغه باندې واجب وى او د دې بالمقابل د مبيع وزن يا کيل د بائع په ذمه دې ﴿ فكذا اجرته عليه ﴾

ايا د رسول اللهﷺ نه دپرتوګ اغوستل ثابت دي؟

په کوکب کښې دا هم دى چه د دې حديث نه د رسول اللهﷺ پرتوګ اخستل ثابت شو خو د رسول اللهﷺ د دې اغوستل په هيڅ روايت کښې د دې تصريح نشته. آهـ د دې په حاشيه کښې حضرت شيخ د جمع الفوائد نه دا روايت نقل کړې دې ﴿ عن ابى هريرة ﷺ قلت يا رسول اللهﷺ انک لتلبس السراويل؟ قال اجل فى السفر والحضر وبالليل والنهار، فانى امرت بالستر فلم اجد شيئا استر منه ﴾ يعنى رسول اللهﷺ د ابوهريرهﷺ په سوال باندې اوفرمائيل چه او زه پرتوګ اچوم، په سفر او حضر کښې، او رسول اللهﷺ د سراويل تعريف اوفرمائيلو چه په دې کښې ستر زيات دې (په نسبت د لنګ وغيره) حضرت شيخ ﷺ فرمائى چه سيوطىﷺ د دې په سند باندې د ضعف حکم لګولې دې، او فى نفسه دا مسئله اختلافى ده چه د رسول اللهﷺ نه [د لنګ په ځائ] پرتوګ اغوستل ثابت دى يا نه، يو جماعت د دې قائل دې، ابن قيمﷺ هم د دوى نه دې، او يو جماعت د لبس نه انکار کړې دې. (کوکب۱/۲۸۸)

[۳۳۳۷] (۱) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، الْمَعْنَى قَرِيبٌ، قَالاَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ أَبِي صَفْوَانَ بْنِ عُمَيْرَةَ، قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ قَبْلَ أَنْ يُهَاجِرَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَلَمْ يَذْكُرْ: يَزِنُ بِالأَجْرِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ قَيْسٌ، كَمَا قَالَ سُفْيَانُ، وَالْقَوْلُ قَوْلُ سُفْيَانَ.

د ابوصفوان بن عميرة نه روايت دې فرمائى په مکه کښې نبى ﷺ ته ورغلم مخکښې دهجرت کولو نه اودتير شوى روايت په شان روايت ئې بيان کړوليکن په دې روايت کښې ئې لفظ . يزن بالاجر، ذکرنکړو، امام ابوداود فرمائى چه په دې کښې سفيان دقيس په شان روايت کړې دې اودسفيان روايت ډير درست دې.

﴿ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ عَنْ أَبِى صَفْوَانَ بْنِ عُمَيْرَةَ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِمَكَّةَ قَبْلَ أَنْ يُهَاجِرَ بِهَذَا الْحَدِيثِ ﴾

شرح السند:

په رومبى حديث کښې د سماک نه روايت کونکې سفيان وو او په دويم سند کښې د هغوى

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۴۸۱۰) (صحيح)

نه روایت کونکي...... شعبه دې په دواړو روایتونو کښې واضحه فرق دې، د سفیان په روایت کښې د پرتوګ بیع کونکی سوید بن قیس دی او د هغوی سره محرفه هم شامل دی، او د شعبه په روایت کښې په ځائې د سوید او مخرفة ابو صفوان دی.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ قَيْسٌ كَمَا قَالَ سُفْيَانُ وَالْقَوْلُ قَوْلُ سُفْيَانَ ﴾ امام ابوداؤد رحمه الله د سفیان متابع قیس لره بیانولو سره د سفیان روایت لره د شعبه په روایت باندې ترجیح ورکړې ده، هم دغه شان امام نسائی رحمه الله حدیث د سفیان لره اشبه بالصواب منلې دې، او د نسائی او د ابن ماجه په یو روایت کښې ﴿ سمعت مالکا ابا صفوان ﴾ دې چه د هغې نه معلومیږی چه سوید بن قیس او ابو صفوان دواړه کسان بیل بیل دی، د ابو صفوآن نوم مالک دې، او په دې کښې د بعضو علماء کرامو رائې دا ده کوم چه حاکم کرآبیسی او ابوعمر ابن عبدالبر نقل کړې دې چه د ابوصفوان سوید بن قیس کنیت دې. (بذل)

والحديث اخرجه النسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[۳۳۳۸]([1]) حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي رِزْمَةَ، سَمِعْتُ أَبِي، يَقُولُ: قَالَ رَجُلٌ لِشُعْبَةَ: خَالَفَكَ سُفْيَانُ، قَالَ: دَمَغْتَنِي، وَبَلَغَنِي عَنْ يَحْيَى بْنِ مَعِينٍ، قَالَ: كُلُّ مَنْ خَالَفَ سُفْيَانَ، فَالْقَوْلُ قَوْلُ سُفْيَانَ.

ابن ابی رزمه دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه یو کس شعبه ته اووئیل سفیان ستانه مخالف روایت بیان کړې دې شعبه ورته اووئیل زمادماغ دې وخټل. ابوداود وائی چه ماته دیحي بن معین نه رارسیدلي ده چه وئیلي ئې وو څوک چه دسفیان خلاف اوکړي نو اعتبار به دسفیان قول لره وي.

﴿ قَالَ رَجُلٌ لِشُعْبَةَ خَالَفَكَ سُفْيَانُ. قَالَ دَمَغْتَنِي ﴾ یعنی یو سړی د حدیث د راوی شعبة بن الحجاج کوم چه په کبار محدثین کښې دې، هغوی ته دا اووې چه سفیان ستاسو په فلانۍ خبره کښې مخالفت کړې دې (یا خوهم دامخالفت کوم چه د حدیث الباب په سند کښې بیا موندلې شو، یا بل څه مخالفت) نو په دې باندې شعبه اوفرمائیل چه تا دې جمله وئیلو سره (یعنی د سفیان د مخالفت کولو) زما سر مات کړو، په ظاهر کښې امام شعبه د سفیان ثوری رحمه الله مخالفت لره د هغوی دجلالت شان دوجې نه اهمیت ورکړو.

[۳۳۳۹]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، قَالَ: كَانَ سُفْيَانُ أَحْفَظَ مِنِّي.

شعبه وائی سفیان زما په نسبت باندې ډیرې قوی حافظې والادې.

قوله: ﴿ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ كَانَ سُفْيَانُ أَحْفَظَ مِنِّي ﴾

د مصنف رحمه الله غرض خو د هغوی اقوال نقل کولو سره د سفیان روایت لره ترجیح ورکول دی لکه چه مصنف رحمه الله خپله فرمائیلی دی.

دویمه خبره چه کومه مونږ بیانول غواړو چه دا دواړه ډیر جلیل القدر محدثین دی، دې دواړو به خپل مینځ کښې د یو بل تعظیم او تکریم فرمائیلو، پس شعبه رحمه الله خپله

---

[1]: تفرد به أبو داود (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۸۰۸) (صحيح)

فرمائی چه سفیان زما نه احفظ دې، او د سفیان ثوری رحمه الله نه د شعبه په باره کښې منقول دی چه هغوی اوفرمائيل ﴿ شعبة امير المؤمنين فى الحديث ﴾ پس په تهذيب التهذيب کښې دی ﴿وقال ابن مهدى كان الثورى يقول : شعبة امير المؤمنين فى الحديث ﴾

بَابٌ فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم "الْمِكْيَالُ مِكْيَالُ الْمَدِينَةِ"

پيمانه د مدينې او تول د مکې معتبر دې

دا ترجمة بلفظ الحديث ده، دحديث يو ټکړه ده پوره حديث تحت الباب ذکر دی.

[۳۳۴۰]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَنْظَلَةَ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْوَزْنُ وَزْنُ أَهْلِ مَكَّةَ، وَالْمِكْيَالُ مِكْيَالُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا رَوَاهُ الْفِرْيَابِيُّ، وَأَبُو أَحْمَدَ، عَنْ سُفْيَانَ، وَافَقَهُمَا فِي الْمَتْنِ، وَقَالَ أَبُو أَحْمَدَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، مَكَانَ ابْنِ عُمَرَ، وَرَوَاهُ الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ حَنْظَلَةَ، قَالَ: وَزْنُ الْمَدِينَةِ، وَمِكْيَالُ مَكَّةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَاخْتُلِفَ فِي الْمَتْنِ فِي حَدِيثِ مَالِكِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي هَذَا.

دابن عمرنه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی په تول کښې دمکې والا قول معتبردې اوبه پيمانه کښې دمدينې والا قول معتبردې، ابوداودوائی ابواحمد اوفريابی هم داسې دسفيان نه روايت نقل کړې دې اوپه متن کښې ورسره موافقت کړې دې ابواحمد دابن عمرپه ځائې باندې ابن عباس ذکرکړې دی، وليد دحنظله نه ددې روايت په نقل کولوسره وئيلی دی چه دمدينې وزن اودمکې تول معتبر دې. امام ابوداود فرمائی چه په حديث دمالك بن دينار کښې دعطاء نه اوهغه دنبی علیه السلام نه ددې په متن کښې اختلاف دې.

قوله: ﴿ الْوَزْنُ وَزْنُ أَهْلِ مَكَّةَ وَالْمِكْيَالُ مِكْيَالُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ ﴾ د حديث مطلب دا دې چه په احکام شرعيه کښې يعنی زکوة صدقة الفطر او کفاراتوکښې خو وزن معتبر دې د اهل مکة او کيل معتبر دې د اهل مدينة، دراهم و دنانير دا د موزوناتو نه دی او د زمکې پيداوار غلې دا د مکيلاتو نه دی، او په ظاهر کښې د دې وجه دا ده چه اهل مکه اصحاب تجارت وو چه د هغوی لين دين او معاملات به زيات تر په دراهم او دنانير باندې وو، او اهل مدينه اصحاب زراعت وو چه د هغوی معاملات زيات تر په مکيال (پيمانه) يعنی مد او صاع وغيره باندې کيدې، امام خطابی رحمه الله فرمائی چه دراهم په اصل کښې مختلف الاوزان وی د مختلفو ښهرونو په اعتبار سره، او د اهل مدينه تعامل چه کله رسول الله ﷺ مدينې طيبې ته هجرت فرمائيلو سره تشريف راوړو په دراهم سره وو په اعتبار دعدد او چونکه دراهم لکه چه اوس مخکښې تير شو مختلفة الاوزان وی په دې وجه رسول الله ﷺ په دې حديث کښې د اهل مدينة توجه دې طرف ته راوسته چه هغوی دې په درهم او دنانير کښې د اهل مکة د وزن اعتبار کوی. او د اهل مکة درهم وزن د سبعه وی يعنی هر لس درهمه د اووۀ مثقالو برابر وو، لهذا د چا په ملک کښې چه دوه سوه درهمه د وزن سبعه په اعتبار سره موجود وی هغه به صاحب نصاب وی او په هغه باندې به زکوة واجب وی، د وزن سبعه او وزن ستة ذکر په کتاب الزکوة کښې تير شوې دې. (والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری)

(): سنن النسائي/الزكاة ٤٤ (٢٥٢١)، البيوع ٥٤ (٤٥٩٨)، (تحفة الأشراف: ٧١٠٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٥/٢) (صحيح)

قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَكَذَا رَوَاهُ الْفِرْيَابِيُّ وَأَبُو أَحْمَدَ عَنْ سُفْيَانَ وَافَقَهُمَا فِي الْمَتْنِ وَقَالَ أَبُو أَحْمَدَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مَكَانَ ابْنِ عُمَرَ وَرَوَاهُ الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ حَنْظَلَةَ قَالَ « وَزْنُ الْمَدِينَةِ وَمِكْيَالُ مَكَّةَ »

د دې حديث مدار په حنظله باندې دې، د حنظله نه روايت کونکی د امام ابوداؤد رحمه الله د کلام مطابق دوه دی سفيان او وليد بن مسلم، او بيا د سفيان نه روايت کونکی د هغوی درې شاگردان دی، ابن دکين، فريابی، ابو احمد، د دوی درې وارو روايت د متن په اعتبار سره خو متفق دې يعنی وزن مکه او مکيال مدينة، خو په سند کښې دا درې واړه مختلف دی په دريو کښې دوه يعنی ابن دکين او فريابی دې درې وارو د حديث راوی ابن عمر رضي الله عنهما منلې دې، او ابو احمد ابن عباس رضي الله عنهما.

او وليد بن مسلم دسفيان مخالفت کړې دې په متن د حديث کښې، هغه متن اولټه کړو او وې وئيل ﴿ وزن المدينة ومکيال مکة ﴾ او د دې نه روستو مصنف رحمه الله د يو روايت حواله ورکوی يعنی مرسل د عطاء او د هغې په باره کښې دا فرمائی چه په دې روايت کښې، يعنی د مالک بن دينار په روايت کښې هم متن مختلف دې.

د دې روايت په متن کښې مصنف رحمه الله کافی اختلاف د رواياتو ذکر کړې دې او بيا ئې يو طريق ته هم د ترجيح اشاره نه ده فرمائيلې اللهم الا ان يقال چه هغوی اوس نزدې د دې باب نه مخکښې د يحيی بن معين رحمه الله دامقوله ليکلې ده. ﴿ کل من خالف سفيان فالقول قول سفيان ﴾ لهذا د سفيان د روايت متن به راجح وی. والله تعالیٰ اعلم

امام نسائی رحمه الله دا حديث صرف په يو طريق باندې ﴿ باب کم الصاع ﴾ د لاندې ذکر کړې دې، ﴿ قال ابوعبدالرحمن وحدثنيه زياد بن ايوب واحمد بن سليمان قالا حدثنا ابونعيم قال حدثنا سفيان عن حنظلة عن طاؤس عن ابن عمر رضي الله عنهما عن النبی ﷺ قال : المکيال مکيال اهل المدينة والوزن وزن اهل مکة ﴾

بَابٌ فِي التَّشْدِيدِ فِي الدَّيْنِ

د قرض په اخستلو وعيد او ددې د اداکولو د تاکيد بيان

[۳۳٤۱](١) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ مَسْرُوقٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ سَمْعَانَ، عَنْ سَمُرَةَ، قَالَ: "خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "هَاهُنَا أَحَدٌ مِنْ بَنِي فُلَانٍ؟ فَلَمْ يُجِبْهُ أَحَدٌ، ثُمَّ قَالَ: هَاهُنَا أَحَدٌ مِنْ بَنِي فُلَانٍ؟ فَلَمْ يُجِبْهُ أَحَدٌ، ثُمَّ قَالَ: هَاهُنَا أَحَدٌ مِنْ بَنِي فُلَانٍ؟ فَقَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مَنَعَكَ أَنْ تُجِيبَنِي فِي الْمَرَّتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ؟ أَمَا إِنِّي لَمْ أُنَوِّهْ بِكُمْ إِلَّا خَيْرًا، إِنَّ صَاحِبَكُمْ مَأْسُورٌ بِدَيْنِهِ، فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ أَدَّى عَنْهُ، حَتَّى مَا بَقِيَ أَحَدٌ يَطْلُبُهُ بِشَيْءٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: سَمْعَانُ بْنُ مُشَنَّجٍ.

دسمره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام مونږ ته خطبه راکړه او وئې فرمائيل ايادلته د فلانې قوم څوک شته نوچاجواب ورنکړو، بيا ئې اوفرمائيل ايادلته د فلانې قوم څوک شته نوچاجواب ورنکړو، بيا ئې اوفرمائيل ايادلته د فلانې قنوم څوک شته نويوکس پاڅيدو اووئې وئيل زه موجود يم اې دالله رسوله نبی عليه السلام ورته وفرمائيل څه شی منع کړې وې چه

١): سنن النسائي /البيوع ٩٦ (٤٦٨٩)، (تحفة الأشراف: ٤٦٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/١١، ١٣، ٢٠) (حسن)

دوه ځله دي جواب رانکړو زه ستاسو سره خیرخواهي کول غواړم بیانبي ﷺ اوفرمائي په تاسوکښې فلانې کس په قرض کښې ډوب دې سمره په اووئیل چه دغه کس هغه قرض اداکړو تردې چه هیڅوك قرض غوښتلو والا پاتې نه شول.

﴿ عَنْ سَمُرَةَ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فَقَالَ « هَا هُنَا أَحَدٌ مِنْ بَنِى فُلاَنٍ ». فَلَمْ يُجِبْهُ أَحَدٌ....... فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَقَالَ –صلى الله عليه وسلم– « مَا مَنَعَكَ أَنْ تُجِيبَنِى فِى الْمَرَّتَيْنِ الأُولَيَيْنِ أَمَا إِنِّى لَمْ أُنَوِّهْ بِكُمْ إِلاَّ خَيْرًا ﴾

د سیدنا سمرة رضي الله عنه نه روایت دې چه یو کرت رسول الله ﷺ مونږ ته خطاب اوفرمائیلو او په هغې کښې هغوی د یو قبیلې نوم اخستلو سره دا تپوس اوکړو چه د هغه قبیلې دلته څوك فرد موجود شته؟ په دې باندې چا هم څه او نه وئیل، رسول الله ﷺ دویم کرت او بیا دریم کرت هم دا تپوس اوکړو؟ دریم کرت باندې یو سړې اودریدو او هغه عرض اوکړو زه یم یا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ اوفرمائیل په ړومبی او دویم کرت دې جواب ولې نه وو راکړې، بیشکه ما تا سره ښه خبره کول غوښتل (هغه دا) چه ستاسو یو ملګرې په قبر کښې د قرض د وجې نه نیولې شوې او مقید دې، وړاندې راوی وائی چه ما اوکتل چه دهغه په ذمه خومره هم قرض وو هغه اداکړې شو. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری

[۳۳۴۲](1) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا عَبْدِ اللَّهِ الْقُرَشِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا بُرْدَةَ بْنَ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيَّ، يَقُولُ: عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "إِنَّ أَعْظَمَ الذُّنُوبِ عِنْدَ اللَّهِ، أَنْ يَلْقَاهُ بِهَا عَبْدٌ بَعْدَ الْكَبَائِرِ الَّتِي نَهَى اللَّهُ عَنْهَا، أَنْ يَمُوتَ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ، لَا يَدَعُ لَهُ قَضَاءً".

ابو بردة بن ابوموسی الاشعری نه د خپل پلارند روایت کوی فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی یقینا دکبیره ګناهونونه پس دالله په نزد کښې دټولونه لویه ګناه داده چه انسان ددې ګناه سره دالله تعالی ملاقات اوکړي دکوي نه چه الله تعالی منع فرمائیلي وي یعنی یوسړې دقرض په حالت کښې مړشي اودقرض دادا کولو دپاره ئې څه پریخې نه وی.

شرح الحدیث:

ابو موسی اشعری رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی چه بیشکه په ګناهونو کښې د تولو نه لویه ګناه د کومې سره چه بنده د الله پاک سره ملاقات کوی چه یو سړې مړ شی او د هغه په ذمه قرض وی چه د هغې د ادا کولو دپاره ئې څه مال نه وی پریخودلې.

د دې حدیث په شرح کښې علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه که یو انسان داسې اوائی چه د حقوق الله بناء په مصالحت او مسامحت باندې ده په خلاف د حقوق العباد چه د هغوی مسئله سختنه ده لکه چه په دې حدیث کښې تیر شو ﴿ یغفر کل ذنب الشهید الا الدین ﴾ او په دې حدیث کښې دین لره د کبائرو نه پس کیخودلې شوې دې، د دې سوال جواب علامه طیبی داورکړې دې چه هغه چه په حدیث کښې تیر شو چه د شهید تول ګناهونه معاف کیږی سوا د قرض نه هغه خلقو لره د قرض نه د بچ کولو دپاره او د ویرولو دپاره دې په طریقه د

(1): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۱۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۹۲/٤) (ضعيف)

مبالغې او دا حديث په خپل ظاهر باندې دې، طيبي بيا يو بل سوال قائم كړې دې چه كه څوك اوائي چه نفس دين خو معصيت نه دې بلكه هغه خو مندوب اليه دې پاتې لا دا چه ګناه وي، بلكه د دې ګناه كيدل د يو عارض د وجې نه دی هغه دا چه دين د حقوق الناس د اضاعت سبب جوړيږي، په خلاف د كبائرو چه هغه فی حد ذاتها ممنوع او قبيح دی. اه عزيزی شارح د جامع الصغير فرمائي چه په دې حديث كښې چه كوم وعيد دې په دين باندې هغه په هغه صورت باندې محمول دې چه كله مديون د هغې په ادا كولو كښې كوتاهي كوی (يعنی د دين په ادا كولو كښې مستعد نه وی) يا په هغه صورت باندې محمول دې چه دين د يو معصيت دپاره وی. (بذل)

[۳۳۴۳] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ الْعَسْقَلَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّي عَلَى رَجُلٍ مَاتَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ، فَأُتِيَ بِمَيِّتٍ، فَقَالَ: أَعَلَيْهِ دَيْنٌ؟، قَالُوا: نَعَمْ، دِينَارَانِ، قَالَ: صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ، فَقَالَ أَبُو قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيُّ: هُمَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ، فَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا، فَعَلَيَّ قَضَاؤُهُ، وَمَنْ تَرَكَ مَالًا، فَلِوَرَثَتِهِ".

دجابر ﷛ نه روايت دې فرمائي كله چه به مقروض مړ شو نو نبی ﷺ به ورباندې جنازه نه كوله يوځل ورته يوه جنازه راوړل شوه صحابه كرامو ته ئې اوفرمائيل ايا په ده باندې دڅاقرض شته؟ عرض اوكړې شو چه هو په ده باندې وه ديناره دي نبی ﷺ اوفرمائيل تاسوپه دې خپل ملګري باندې دجنازې مونځ اوكړئ، په دې وخت كښې ابوقتاده انصاري عرض اوكړو چه اې دالله رسوله دغه دوه ديناره زما په ذمه شو اوزه به ئې اداكوم نوبيا ورباندې نبی ﷺ جنازه اوكړه بياچه كله الله تعالی خپل نبی ته دفتوحاتو دروازه پرانستله نوئې فرمائيل زه په مومنانوباندې دهغوی دځانونونه هم زيات حقداريم هرڅوك چه دمقروض كيدو په حالت كښې مړ شي نودهغه قرض ادا كول زماپه ذمه دي او څوك چه مال پريږدي او مړ شي نودغه مال دده دوارثانودې (زما ورسره څه كارنشته اودده مال به دده وارثان حاصله وي.

قوله: ﴿عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لَا يُصَلِّي عَلَى رَجُلٍ مَاتَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ الخ﴾ يعنی د رسول الله ﷺ معمول وو چه كوم انسان باندې به قرض وو او مړ به شو نو رسول الله ﷺ به پرې جنازه نه فرمائيله، يو كرت يو مړې راوړې شو رسول الله ﷺ تپوس اوكړو چه په دۀ باندې قرض خو نشته؟ خلقو عرض اوكړو چه په دۀ باندې دوه ديناره قرض دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ صلوا علی صاحبكم ﴾ چه د دۀ د جنازې مونځ تاسو اوكړئ زه ئې نه كوم، په دې باندې ابوقتادة ﷛ عرض اوكړو ﴿ هما علی يا رسول الله ﷺ ﴾ چه د هغه دينارونو د ادا كولو ذمه داری زه اخلم په دې خبره باندې رسول الله ﷺ په هغه باندې مونځ اوكړو. د دې نه پس جابر ﷛ فرمائي چه د رسول الله ﷺ دا معمول په شروع كښې وو د فتوحاتو د زمانې نه مخكښې د فتوحاتو نه پس د رسول الله ﷺ دا معمول شوې وو چه رسول الله ﷺ

(۱): سنن النسائي/الجنائز ۶۷ (۱۹۶۴)، (تحفة الأشراف: ۳۱۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۲۹۶) (صحيح)

په فرمائيل ﴿ أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ ﴾ د دې جملې مطلب مونږ سره مخکښې په کتاب الفرائض کښې تير شوې دې، يعنی دا چه زه هر مومن ته د هغه د نفس نه زيات نزدې يم او وې فرمائيل چه کوم انسان قرض دارې مړ شی نو د هغې قضاء زما په ذمه ده او کوم مال چه پرېږدی هغه د هغه د وارثانو دپاره دې، په دې حديث کښې د اداء دين عن الميت مسئله ده په دې باندې کلام وړاندې را روان دې.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[٣٣٤٤](١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، رَفَعَهُ، قَالَ عُثْمَانُ، وحَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ، قَالَ: اشْتَرَى مِنْ عِيرٍ تَبِيعًا، وَلَيْسَ عِنْدَهُ ثَمَنُهُ، فَأُرْبِحَ فِيهِ، فَبَاعَهُ، فَتَصَدَّقَ بِالرِّبْحِ عَلَى أَرَامِلِ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَقَالَ: لَا أَشْتَرِي بَعْدَهَا شَيْئًا إِلَّا وَعِنْدِي ثَمَنُهُ.

عکرمه دابن عباس رضی الله عنه دتير شوي روايت په شان روايت کوی مګرددي اضافي سره چه نبی علیه السلام د يوې قافلې نه څه شی واخستو اودهغه څيز قيمت ورسره نه وو او بيا ئې خرڅ کړو او منافع ئې په کښې وکړله او څه منافع چه وشوله هغه ئې دبنی عبدالمطلب کونډو اوغريبانوته ورکړه او وئې فرمائيل په ائنده کښې به بيا څه شې نه اخلم ترڅوچه زماسره دهغه قيمت موجود نه وی.

قوله: ﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- مِثْلَهُ قَالَ اشْتَرَى مِنْ عِيرٍ تَبِيعًا وَلَيْسَ عِنْدَهُ ثَمَنُهُ فَأُرْبِحَ فِيهِ الخ ﴾ يعنی يو کرت رسول الله ﷺ د بهر نه راتلونکې قافلې نه يو څيز واخستلو چه د هغې ثمن هغوی سره هغه وخت نه وو. يعنی هغه څيز رسول الله ﷺ قرض واخستلو، د هغې نه پس رسول الله ﷺ هغه خرڅ کړو نو هغوی ته پکښې نفع اوشوه نو رسول الله ﷺ دا ګټه د خپل خاندان په کنډو زنانو باندې صدقه کړه او دا ئې هم اوفرمائيل چه بيا به زه هيڅ يو څيز قرض نه اخلم.

صحة الكفالة عن الميت کښې اختلاف د ائمة :

په دې حديث کښې دا دی چه د مړی په ذمه چه کوم دينار وو د هغې ذمه داری ابو قتادة رضی الله عنه واخستله، ګويا هغه کفيل شو د مړی د طرف نه، لهذا د دې نه معلومه شوه چه د غريب مړی د طرف نه کفالت صحيح دې، د ائمه ثلاثه او صاحبينو هم دا مذهب خو هم دا دې، خو امام ابوحنيفه رحمه الله د دې کفالت د صحت قائل نه دې، ځکه چه د کفالت حقيقت دې ﴿ ضم ضمة الاصيل الى ذمة الكفيل فی المطالبة ﴾ پس د کفالت نه پس مکفول له ته حق وی چه هغه مطالبه د اصيل يعنی اصل مديون نه اوکړی يا د هغه د کفيل نه، او دلته د اصيل د مرګ د وجې نه ذمة الاصيل فنا شوه، چه کله هغه فنا شوه ﴿ فكيف ضم ضمة الى ذمة ﴾ هم د دې وجې نه په هدايه کښې د امام صاحب په دليل کښې ليکلې شوي دی چه دا کفالت بدين ساقط دې، ځکه چه هر کله د دين محل باقی پاتې نه شو نو دين هم باقی پاتې نه شو، په دې وجه دا

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦١١٣، ١٩١١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٥، ٣٢٣) (ضعيف)

کفالت صحیح نه دې، او د دې حدیث جواب دا کیدې شي چه دا کفالت اصطلاحیه نه دي بلکه د هغه مړ صحابي د طرف نه د اداء دین وعده ده، او دا هم ممکنه ده چه ابوقتاده رضی الله عنه چه څه اوفرمائیل هما علی په دې سره اشاره کفالت سابقه طرف ته وی چه هغه خو ما پخپله ذمه باندې اخستلې دی، زه د اول نه د هغه کفیل یم. (بذل عن القاری)

بَابٌ فِي الْمَطْلِ

د قرض په ادا کولو کښې د تاخیر کولو بیان

[۳۳۴۵](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ، وَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيءٍ، فَلْيَتْبَعْ".

دابوهریره نه روایت دې فرمائي چه رسول الله و فرمائیلی دی ددولت مند سړی دپاره دقرض په ادا کولوکښې تاخیرکول ظلم دې، که چرې تاسوته په مالدارباندې دچاحواله ورکړې شي نوهغه لره پکاردي چه حواله قبوله کړي.

قوله: ﴿مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ وَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيءٍ فَلْيَتْبَعْ﴾ یعنی د مالدار سړی د قرض په ادا کولو کښې تسویف او تاخیر کول ظلم دې، چه کله هغه د خپل غناء د وجې نه فی الحال د قرض په ادا کولو باندې قادر دې د هغې باوجود د هغه د دین په ادا کولو کښې تاخیر کول ظلم دې، د دې حدیث هم دا معنی متبادر او مشهوره ده او په دې صورت کښې به د مطل اضافت د فاعل طرف ته وی، او ما د خپل استاد محترم حضرت مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله نه واوریدل هغوی فرمائیل چه په دې کښې دا هم احتمال دې چه د مطل اضافت د مفعول طرف ته وی، یعنی د مدیون تاخیر کول د مالداره دائن سره دا ظلم دې یعنی چه قرض دارې د قرض په ادا کولو کښې په دې وجه باندې تاخیر کوی چه د هغه قرض غوښتونکې مالدار دې یعنی په دې سوچ چه هغه خو مالدار دې د هغه څه تادی ده بیا به ئې چرته ورکړو.

هم د دې حدیث په باره کښې ما د استاد موصوف نه دا هم واوریدل چه د حضرت تهانوی په خلفاء کښې وو چه ما د تهانوی په مجلس کښې د ټولو نه ړومبې حدیث چه د حضرت د ژبې نه واوریدلو هغه هم دا حدیث دې. (مطل الغنی ظلم)

وراندې په دې حدیث کښې دی چه که مدیون د خپل دین حواله په یو مالدار انسان باندې اوکړی نو بیا دائن لره هغه حواله قبلول پکار دی او بیا د هم هغه محال علیه نه طلب کول پکار دی، وهذا الامر قیل للندب وقیل للوجوب.

﴿مَلِيءٍ﴾ دوه طریقو سره ضبط کړې شوې دې ملی بتشدید الیاء بدون الهمزة کغنی لفظا ومعنی، او ملیء په سکون د یاء او همزې سره، والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

---

(1): صحیح البخاري/الحوالة ۱ (۲۲۸۸)، ۲ (۲۲۸۹)، والاستقراض ۱۲ (۲۴۰۰)، صحیح مسلم/المساقاة ۷ (۱۵۶۴)، سنن النسائي/البیوع ۹۹ (۴۶۹۵)، (تحفة الأشراف: ۱۳۶۹۳، ۱۳۸۰۳)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/البیوع ۶۸ (۱۳۰۸)، سنن ابن ماجه/الصدقات ۸ (۲۴۰۳)، موطا امام مالك/البیوع ۴۰ (۸۴)، مسند احمد (۲/۲۴۵، ۲۵۴، ۲۶۰، ۳۱۵، ۳۷۷، ۳۸۰، ۴۶۳، ۴۶۴، ۴۶۵)، سنن الدارمي/البیوع ۴۸ (۲۶۲۸) (صحیح)

بَابٌ فِي حُسْنِ الْقَضَاءِ

په ښه شان سره د قرض د ادا کولو بيان

[۳۳۴۶] (¹) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، قَالَ: "اسْتَسْلَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكْرًا، فَجَاءَتْهُ إِبِلٌ مِنَ الصَّدَقَةِ، فَأَمَرَنِي أَنْ أَقْضِيَ الرَّجُلَ بَكْرَهُ، فَقُلْتُ: لَمْ أَجِدْ فِي الْإِبِلِ إِلَّا جَمَلًا خِيَارًا رَبَاعِيًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَعْطِهِ إِيَّاهُ، فَإِنَّ خِيَارَ النَّاسِ أَحْسَنُهُمْ قَضَاءً".

دابورافع رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام يو وړوکي اوښ په قرض واخستو بياچه کله ورته دصدقې اوښان راغلل نونبي عليه السلام حکم اوکړو چه دهغه په شان اوښ دي ورکړې شي ماعرض اوکړو اې دالله رسوله دصدقې اوښان خو ټول شپږ کلن اوښه برابر برابر اوښان دي، نبي عليه السلام اوفرمائيل هم ددې اوښانونه ورته يو اوښ ورکړه ځکه چه بهترين په خلقو کښې هغه څوک وي څوک چه قرض په ښه شان سره ادا کوي.

﴿عَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ اسْتَسْلَفَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– بَكْرًا فَجَاءَتْهُ إِبِلٌ مِنَ الصَّدَقَةِ﴾

سيدنا ابو رافع رضي الله عنه فرمائي چه يو کرت رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو سړي نه ځوان نر اوښ قرض واخستلو، (او که ښځه وی نو هغې ته قلوص وائی) څو ورځې پس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د صدقې اوښان راغلل نو هغوی ماته حکم اوکړو د ادا کولو د قرض نو ما عرض اوکړو چه په دې اوښانو کښې چه د کوم عمر اوښ رسول الله صلى الله عليه وسلم اخستلې وو هغه خو نشته بلکه ډير ښه او د هغې نه د زيات عمر دي (رباعی يعنی کوم اوښ چه د شپږو کالو کيدو سره په اووم کښې داخل شی) رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل هم هغه ورکړه، ځکه چه په خلقو کښې غوره انسان هغه دې چه د بل حق په بهترينه طريقه باندې ادا کوی.

د دې حديث نه شارحينو ډيرې فائدې او مسائل مستنبط کړی دی کومې چه په بذل کښې ذکر شوې دی، د هغه ټولو نه يو مشهوره اختلافی مسئله ده ﴿ استقراض الحيوان ﴾، امام نووی رحمه الله فرمائی دا حديث دليل دې د دې خبرې چه حيوان لره د قرض په طوراخستل او ورکول جائز دی او هم دا مذهب دې د امام مالک و شافعي او د جمهور علماء کرامو، الی آخر ما ذکر فی المنهل، د احنافو او حنابله په نزد استقراض الحيوان جائز نه دې، د هغوی په نزد د دې دليل دا دې کوم چه وړاندې په باب بيع الحيوان بالحيوان نسيئة کښې را روان دې کوم چه به مونږ هم هلته بيانوو ان شاء الله. په دې حديث باندې يو اشکال او جواب دې هغه دا چه رسول الله صلى الله عليه وسلم مقرض ته د هغه د حق واجب نه په طور د حسن قضاء زيات ورکړو دا زياتی ورکول که د خپل مال نه وې نو بيا خو صحيح وه دا رسول الله صلى الله عليه وسلم د صدقې اوښانو نه ورکړې دې کوم چه د بيت المال دی، د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه دا استقراض د رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل ضرورت دپاره وو بيا چه کله په بيت المال کښې اوښان راغلل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغې کښې يو اوښ اخستلو سره په قرض کښې ورکړو نو هيڅ

¹): صحيح مسلم/البيوع ۴۳ (۱۶۰۰)، سنن الترمذي/البيوع ۷۵ (۱۳۱۸)، سنن النسائي/البيوع ۶۲ (۴۶۲۱)، سنن ابن ماجه/التجارات ۶۲ (۲۲۸۵)، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۲۵)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البيوع ۴۳ (۸۹)، مسند احمد (۳۹۰/۶)، سنن الدارمي/البيوع ۳۱ (۲۶۰۷) (صحيح)

اشکال نشته او یو توجیح په دې کښې دا کړې شوې ده چه د کوم انسان نه ئې قرض اخستلې وو هغه خپله د اهل ضرورت نه وو او د اهل ضرورت حق په بیت المال کښې وی. (بذل)

والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

[۳۳۴۷]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "كَانَ لِي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَيْنٌ، فَقَضَانِي وَزَادَنِي".

د جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه په نبی علیه السلام باندې زما قرض وو، زما قرض ئې هم هغه هومره ادا کړو اوخه ئې ورسره زیاتې هم راکړل.

﴿ كَانَ لِي عَلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- دَيْنٌ فَقَضَانِي وَزَادَنِي ﴾ په دې باندې شارحینو لیکلی دی چه مستقرض د قرض د ادا کولو په وخت، چه کوم قرض اخستلې وو که د هغې نه احسن او اکثر ادا کړی په دې شرط چه دا زیادت بغیر د څه شرط او معاهدې وی نو ورکونکې به محسن وی او د مقروض دپاره به د هغې اخستل جائز وی، امام نووی رحمه الله فرمائی چه د مقروض دپاره زیادت اخستل جائز دی که هغه زیادت د صفت په اعتبار سره وی یا د عدد په اعتبار سره، او د امام مالک رحمه الله په مذهب کښې دا زیادت فی العدد ممنوع دې او زمونږ دلیل د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث دې ﴿ خير الناس احسنهم قضاء ﴾ د خپل عموم د وجې نه. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری

بَابٌ فِي الصَّرْفِ

د بیع صرف بیان

د بیع الصرف تعریف او حکم:

بیع الصرف هغه بیع ده چه په هغې کښې عوضین یعنی عوض او معوض من جنس الاثمان وی، لکه سرۀ او سپین زر، د صرف لغوی معنی ده نقل، چونکه په دې بیع کښې د بدلینو نه هریو دبل طرف ته نقل کول فورا ضروری وی په دې وجه ددې نوم بیع الصرف کیخودلې شو.

څان پوهه کړه چه د بیع الصرف د صحت دپاره دوه شرطونه دی عدم النسیئة مطلقا، او عدم تفاضل په صورة د اتحاد الجنس یعنی د عدم نسیئة حکم خو په هر حال کښې دې که دواړه متحد الجنس وی یا مختلف الجنس، په دې بیع کښې قرض خو مطلقا ناجائز دې تقابض فی المجلس ضروری دې او په حکم ثانی کښې یعنی عدم تفاضل دا هغه وخت دې چه کله عوضین متحد الجنس وی مثلا دواړه فضه وی یا ذهب، او که د جنس اتحاد نه وی لکه یو طرف ته فضة او دویم طرف ته ذهب نو په دې صورت کښې تفاضل جائز دې، په دې دواړو کښې رومبې حکم یعنی د عدم النسیئة قرض اخستل ناجائز کیدل دا اجماعی مسئله ده.

[1]): صحيح البخاري/الصلاة ٥٩ (٤٤٣)، والوكالة ٨ (٢٣٠٩)، والاستقراض ٧ (٢٣٩٤)، والهبة ٣٢ (٣٦٠٣)، صحيح مسلم/المسافرين ١١ (٧١٥)، سنن النسائي/البيوع ٥١ (٤٥٩٤)، (تحفة الأشراف: ٢٥٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٩٩/٣، ٣٠٢، ٣١٩، ٣٦٣) (صحيح)

د ربا الفضل په عدم جواز کښې د بعض صحابه کرامو رضي الله عنهم اختلاف :

او حکم ثانی یعنی عدم تفاضل فی صورة الاتحاد په دې کښې د جمهور علماء کرامو او ائمة اربعه مسلک خو هم دا دې، خو د بعض صحابه کرامو رضي الله عنهم لکه ابن عمر او ابن عباس رضي الله عنهم، په دې دواړو کښې د ابن عمر رضي الله عنهما رجوع خو ثابت ده چه هغوی د جمهورو مسلک ته رجوع کړې وه، خو د ابن عباس رضي الله عنهما په رجوع کښې اختلاف دې بعض وائی هغوی هم رجوع کړې وه او بعضو د هغوی د رجوع نفی کړې ده خو صحیح دا ده چه د ابن عباس رضي الله عنهما نه هم په دې کښې رجوع ثابت ده وهو الذی اختاره النووی فی شرح مسلم ۲/۲۷ د دې دواړو حضراتو استدلال په شروع کښې د اسامة رضي الله عنه د حدیث ﴿ لا ربا الا فی النسیئة ﴾ نه وو، دا حدیث په بخاری مسلم دواړو کښې دې، جمهور علماء کرامو د دې حدیث نه دوه جوابونه کړی دی چه د ربا نه مراد اربی الربا أو اشد الربا ده د نفس ربا نفی نشته، مطلب دا دې چه په بیع الصرف کښې سخت حرمت چه دې هغه په نسیئة کښې دې، او د تفاضل حرمت دومره سخت نه دې، او یو جواب د نسخ هم ورکړې شوې دې، بلکه دا چه کله په حلت او حرمت کښې تعارض وی نو حرمت له ترجیح وی.

د ربا تعریف او د هغې دوه قسمونه :

د ذکر کړې شوې بیان نه معلومه شوه چه د ربا دوه قسمونه دی ربا الفضل او ربا النسیئة، دربا تعریف فقهاء کرامودا لیکلې دې﴿ الرباء هو الفضل المستحق لاحد المتعاقدین فی المعاوضة الخالی عن عوض شرط فیه ﴾ یعنی د مخصوص اموالو په بیع کښې (یعنی اموال ربویه چه د هغې بیان په حدیث الباب کښې دې) په احد الجانبین کښې د داسې زیادت موجود کیدل چه جانب آخر د دې زیادت د عوض نه خالی وی مثلاً د یو درهم په بدل کښې سل درهم نو دلته په یو جانب کښې خو یو درهم شو اوس د دې نه پس په یو جانب کښې چه کوم ربع درهم موندلې شی د هغې عوض په دویم جانب کښې ندارد، خو دا تعریف د ربا په مذکوره دوه قسمونو کښې د ربا الفضل دې، د دې په قسم ثانی یعنی ربا النسیئة سره ددې تعریف هیڅ تعلق نشته، ربا النسیئة خو دا ده چه د اموال مخصوصه بیع کښې تقابض فی المجلس بیا نه موندلې شی بلکه معامله په قرض باندې پریخودلې شی، یعنی احد المتعاقدین خو معامله نقد کوی اوفی الحال څیز ورکوی، او دویم سړې د دې عوض فی الحال نه ورکوی د دې نه پس تاسو حدیث الباب واخلئ.

[۳۳۴۸](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ".

دابن عمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائیلی دی: سره زر په سپینوزرو

(۱): صحیح البخاري/البیوع ۵٤ (۲۱۳٤)، ۷٤ (۲۱۷۰)، ۷٦ (۲۱۷٤)، صحیح مسلم/البیوع ۳۷ (۱۵۸٦)، سنن الترمذي/البیوع ۲٤ (۱۲٤۳)، سنن النسائي/البیوع ۳۹ (٤۵٦۲)، سنن ابن ماجه/التجارات ۵۰ (۲۲٦۰، ۲۲۵۹)، (تحفة الأشراف: ۱۰٦۳۰)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البیوع ۱۷ (۳۸)، مسند احمد (۱/۲٤، ۲۵، ٤۵)، سنن الدارمي/البیوع ٤۱ (۲٦۲۰) (صحیح)

خرخول سود دي مګرچه دواړه نقد وي اوغنم په غنمو خرخول سود دي مګرچه دواړه نقد وي اووربشي په وربشو خرخول سوددي مګر چه نقد وي دواړه.

قوله: ﴿ عَنْ عُمَرَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم« الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ ﴾

شرح الحدیث علی اکمل وجه انشاء الله تعالی:

په دې حدیث کښې صرف پنځه څیزونه ذکر شوي دی، او د دې نه پس چه کوم د عبادة بن الصامت رضی الله عنه حدیث را روان دې په هغې کښې شپږم څیز هم مذکور دې، ﴿ والملح بالملح مدی بمدی ﴾ په دې حدیث کښې چه کوم لفظ مکرر یعنی هاء و هاء دی، دا د اسماء افعال نه دی چه د هغې معنی ده ﴿ خذ ﴾ په دې کښې مد او قصر دواړه جائز دی خو مد افصح دې، امام سیوطی رحمه الله لیکلي دی چه د دې لفظ اصل ﴿ هاک ﴾ دې یعنی ﴿ خذ ﴾ کاف (ک) له حذف کولو سره د هغې په عوض کښې مد او همزه راوړلی شو، او په فائق کښې لیکلي شوي دی چه لفظ هاء د اسماء اصوات نه دې په معنی د ﴿ خذ ﴾ او هم د دې نه دې قول د باری تعالی ﴿ هاؤم اقرؤ کتابیه ﴾ علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دا لفظ په محل نصب کښې دې بناء بر حالیت، او د الا مستثنی منه مقدر دې، او مطلب دا دې چه بیع الذهب بالفضة ربا ده په ټولو حالاتو کښې مګر په حال د حضور کښې او تقابض فی المجلس کښې پس دا لفظ هاء او هاء کنایة ده د تقابض نه آهـ(بذل)لهذا ترجمة به دا وی چه د ذهب بیع د فضة سره ربا ده په ټولو احوالو کښې خو په دې حال کښې نه مګر په دې حال کښې په متعاقدینو کښې هر یو ته وائی ﴿ خذ هذا ﴾ یعنی دا واخله او دویم هم اوائی چه دا واخله، هم د دې نوم دې تقابض فی المجالس، او که داسې نه وی نو بیا به ربا فی النسیئة موندلې شی چه حرامه ده.

د دې نه پس ځان په دې پوهه کړئ چه دا حدیث چه په هغې کښې د اموال ربویه ذکر دې په هغې کښې داسې دی چه اموال ټول شپږ بیان کړې شوې دی او د دې اشیاء ستة د معاملې دوه صورتونه په حدیث کښې مذکور دی، یو د اتحاد جنس والا چه دواړو طرفونو ته یو څیز وی مثلا دواړو طرفونو ته سرۀ زر وی یا سپین زر وی او هم دغه شان، او دویم صورت د اختلاف جنس بیان کړې شوې دې لکه یو طرف ته ذهب او دویم طرف ته فضة، یا یو طرف ته حنطة، او دویم طرف ته شعیر، د ړومبی صورت حکم کوم چه په حدیث کښې ذکر دې هغه په دې دواړو کښې یو دې یعنی تقابض فی المجلس یعنی د قرض حرام کیدل او مساوات په دې صورت کښې ضروری نه دې، یعنی په دې صورت کښې فضل او زیادت جائزدې، ربا یعنی حرامه نه ده.

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه ظاهریه کوم چه منکرین قیاس دی [1] د هغوی په نزد د اموال ربویه انحصار صرف په اشیاء ستة باندې نه دې بلکه د نورو ډیرو څیزونو دپاره هم

---

[1] پس د طائفه ظاهریه امام ابو محمد علی بن احمد بن حزم رحمه الله په انکار قیاس باندې مستقل کتاب لیکلي دې. ابطال الرائي والقیاس)

هغوی دا حکم ثابتوی، په ذریعه د قیاس، قیاس نوم دې د تعدیة الحکم لوجود العلة یعنی د حکم منصوص د علت معلومولو نه پس چرته چه هم هغه علت بیا مونډلې شی په هغې کښې حکم منصوص جاری کول.

په اشیاء سته مذکوره کښې علة ربا د ائمة اربعه په نزد :

اوس چه دلته دې حضرات ائمة اربعه په دې اشیاء سته کښې کوم د حرمت ربا علت متعین کړې دې هغه مختلف دې او بیا د هر یو امام په نزد چه چرته هم د دې اشیاء سته نه علاوه چرته هم هغه علت بیا مونډلې شو هغه هلته دا حکم منصوص نافذ کړو اوس دا چه هغه علت حکم دې حضراتو څه متعین کړو په دې باره کښې واورئ، دې امامانو په دې حدیث کښې چه کوم څیزونه ذکر کړې شوې دی د هغې اول خو دا تجزیه اوکړه هغه دا چه ذهب او فضة چه هغې ته ثمنین وائی هغه خو ئې ځانله اوساتل او باقی څلور څیزونه ئې ځانله کولو سره په هغې کښې جدا غور اوکړو، د ثمنین علت ربا ځانله تجویز کړې شو او د باقی څیزونه ځانله، د امام شافعی رحمه الله په نزد په ثمنین کښې علت د ربا ثمنیت دې او چونکه ثمنیت خاص صفت د ذهب او فضة دې په بل څه څیز کښې نه شی مونډلې کیدې لهذا د دې دوارو امامانو په نزد په ثمنینو باندې خو بل څیز لره نه شې قیاس کولې اوس پاتې شو باقی څلور څیزونه، نو په هغې کښې د امام شافعی رحمه الله په نزد علت د ربا طعم دې یعنی د هغه څیزونو مطعوم کیدل، لهذا د ټولو مطعوماتو حکم به د هغوی په نزد هم دا وی کوم چه د دې څلورو څیزونو دې، او د امام مالک رحمه الله په نزد په دې څیزونو کښې علت د ربا اقتیات او ادخار دې یعنی په دې څیزونو کښې د هر یو قوت مدخر کیدل یعنی د انسان داسې روزی چه هغه ذخیره کړې شی لهذا د امام مالک رحمه الله په نزد د ټولو اقوات مدخره هم دا حکم دې. د مثال په طور په دې څلورو څیزونو کښې د وریژو ذکر نشته، ذره یعنی جوار، د هغې هم ذکر نشته وغیره وغیره، د ټولو حکم هم دا دې، او د احنافو په نزد په ثمنینو کښې علت د ربا ثمنیت نه دې بلکه وزن دې یعنی د دې دوارو څیزونو موزون کیدل دی لهذا د دې دوارو نه علاوه به هم د ټولو موزوناتو هم دا حکم وی، لکه حدید او نحاس وغیره او په باقی څلورو څیزونو کښې علت ربا د احنافو په نزد کیل دې یعنی د هغه څیزونو مکیلی کیدل، لهذا د ټولو مکیلاتو به هم دا حکم وی پس د ربا النسیئة علت زمونږ په نزد په بیع کښې د عوضینو وزنی یا کیلی کیدل دی، او د ربا الفضل علت د عوضین وزنی یا کیلی کیدو سره متحد الجنس کیدل دی پس په هدایه کښې دی چه د ربا علت زمونږ په نزد کیل مع الجنس یا وزن مع الجنس دې، او د امام احمد رحمه الله نه په دې مسئله کښې دوه روایتونه دی یو د احنافو په مثل او دویم د شوافعو په مثل. والله تعالی اعلم بالصواب.

د فقهاء کرامو په امت باندې احسان

دې حضراتو فقهاء کرامو چه د دین امامان دی خپل عمرونه د قرآن او حدیث نه د مسائلو په استنباط کښې تیر کړی دی، په پوره امت باندې د دوی احسان عظیم دې چه د قرآن او حدیث نه ئې د احکاماتو استنباط کولو سره د پاتې دنیا پورې د دینی مسائلو سهولتونه

پیدا کړل، یو قصه رایاده شوه کومه چه په تعلیم المتعلم کښې ذکر ده چه د امام محمد رحمه الله د وفات نه پس چا د هغوی نه په خوب کښې تپوس اوکړو چه د مرګ وخت په تاسو باندې څنګه تیر شو؟ نو هغوی جواب ورکړو چه ما ته هیڅ پته او نه لګیده چه زما روح څنګه ویستلې شو، زه خو هغه وخت د مکاتب د مسائلو په استنباط کښې مشغول اوم. الله اکبر څه عجیبه شان وو د دې خلقو! شکر الله سعیهم واجزل مثوبتهم وحشرنا ومشایخنا معهم.

په دې حدیث کښې ﴿ تبرها وعینها ﴾ ذکر دې تبر وائي خالص د سرو او سپینو زرو ټکړو ته چه مضروب[۱۱۸] نه وی او عین دهغې مقابل دې چه دسکه په شکل کښې وی، رسول الله ﷺ فرمائی چه د تبر او د عین هیڅ فرق معتبر نه دې دواړه په یو حکم کښې دی.

غنم او اوربشې په اعتبارِ د جنس متحد دي یا مختلف:

او د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه بر (غنم) او شعیر (اوربشې) دوه مختلف جنسونه دی د ائمة ثلاثه مسلک هم دا دې په دې کښې د امام مالک رحمه الله اختلاف دې هغوی دا دواړه یو منی پس امام ترمذی رحمه الله فرمائي:

حدیث عبادة حدیث حسن صحیح وقد روی بعضهم هذا الحدیث عن خالد بهذا الاسناد وقال بیعوا البربا لشعیر کیف شئتم یدا بید، وهذا قول اکثر اهل العلم وهو قول سفیان الثوری والشافعي واحمد واسحاق، وقد کره قوم من اهل العلم ان تباع الحنطة بالشعیر الا مثلا بمثل وهو قول مالک بن انس، والقول الاول اصح آهـ مختصراملخصاً.

[۳۳٤۹]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ مُسْلِمٍ الْمَكِّيِّ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ تِبْرُهَا وَعَيْنُهَا، وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ تِبْرُهَا وَعَيْنُهَا، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ مُدْيٌ بِمُدْيٍ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ مُدْيٌ بِمُدْيٍ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ مُدْيٌ بِمُدْيٍ، وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مُدْيٌ بِمُدْيٍ، فَمَنْ زَادَ أَوِ ازْدَادَ، فَقَدْ أَرْبَى، وَلَا بَأْسَ بِبَيْعِ الذَّهَبِ بِالْفِضَّةِ، وَالْفِضَّةُ أَكْثَرُهُمَا يَدًا بِيَدٍ، وَأَمَّا نَسِيئَةً فَلَا، وَلَا بَأْسَ بِبَيْعِ الْبُرِّ بِالشَّعِيرِ، وَالشَّعِيرُ أَكْثَرُهُمَا يَدًا بِيَدٍ، وَأَمَّا نَسِيئَةً فَلَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، وَهِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ يَسَارٍ، بِإِسْنَادِهِ.

دعبادة بن الصامت رضی الله تعالی عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی: سره زربه په مقابل دسرو زروکښې برابر په برابر ورکولې شي،او سپین زربه په مقابل دسپینو زروکښې برابر په برابر ورکولې شي، او غنم به د غنمو په مقابل کښې یومد په یومدورکولې شي، او وربشې به د وربشو په بدل کښې برابر په برابر ورکولې شي، او کهجورې به د کهجورو په بدل کښې برابر په برابر یومد په یومد ورکولې شي، او څوک چه ددې نه زیات واخلي نوپه سود کښې مبتلا شواوسود ئې واخستو اوسود ئې ورکړو، او په سپینو زرو سره زر آخستل سره دکمې او زیاتې دفرق ساتلو څه بده خبره. نده خوپدې شرط چه نقد وي اوکه چرې نقد نه وی نوجائزنه دي، امام ابوداود فرمائی چه دا روایت سعد بن

[1]): صحیح مسلم/المساقاة ١٥ (١٥٨٧)، سنن الترمذي/ البیوع (١٢٤٠)، سنن النسائي/البیوع ٤٢ (٤٥٦٧)، سنن ابن ماجه/التجارات ٤٨ (٢٢٥٤)، (تحفة الأشراف: ٥٠٨٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٤/٥، ٣٢٠) (صحیح)

أبي عروبه اوهشام دستوائي دقتاده نه اوهغه دمسلمه په واسطي سره بيان کړي دي.

﴿ فَمَنْ زَادَ أَوِ ازْدَادَ فَقَدْ أَرْبَى ﴾ يعني د اتحاد د جنس په صورت کښې چه کوم انسان بل ته زياتي ورکړي يا زيات واخلي نو هغه سود اوکړو، او بيا وړاندې دا دي چه که د ذهب بيع په فضة سره وي او هم دغه شان د بر د شعير سره او په دې دواړو کښې يو د بل نه زياتي وي نو دا جائز ده په دې شرط چه لاس په لاس وي، او نسيئة جائز نه ده.

حديث عمر رضي الله عنه اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجة. وحديث عبادة بن الصامت رضي الله عنه اخرجه مسلم والترمذي والنسائي وابن ماجة بنحوه، قاله المنذري

[۳۳۵۰] (۱) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْخَبَرِ يَزِيدُ وَيَنْقُصُ، وَزَادَ، قَالَ: فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الْأَصْنَافُ، فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ.

ابو الاشعث الصنعاني دعبادة ابن الصامت رضي الله عنه نه او هغه دنبي عليه السلام نه دتيررروايت په شان روايت بيان کړي دې، لبته په دې روايت کښې دا اضافه ده چه: که چرې قسمونه مختلف شي لکه سرو زردسپينو زرو په عوض کښې ياغنم د اوربشو په عوض کسي وي نو څنګه چه موزره غواړي خرڅولې شي مګردا ضروري ده چه معامله به نقده وي (يعنى دقرضو معامله جائزنده اګر که دلږ وخت دپاره وي).

بَابٌ فِي حِلْيَةِ السَّيْفِ تُبَاعُ بِالدَّرَاهِمِ

د توري د سپينو زرو موتي په پيسو خرڅول

[۳۳۵۱] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ، حَدَّثَنِي خَالِدُ بْنُ أَبِي عِمْرَانَ، عَنْ حَنَشٍ، عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، قَالَ: "أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ خَيْبَرَ بِقِلَادَةٍ فِيهَا ذَهَبٌ وَخَرَزٌ"، قَالَ أَبُو بَكْرٍ، وَابْنُ مَنِيعٍ: فِيهَا خَرَزٌ مُعَلَّقَةٌ بِذَهَبٍ ابْتَاعَهَا رَجُلٌ بِتِسْعَةِ دَنَانِيرَ، أَوْ بِسَبْعَةِ دَنَانِيرَ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا، حَتَّى تُمَيِّزَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ، فَقَالَ: إِنَّمَا أَرَدْتُ الْحِجَارَةَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا، حَتَّى تُمَيِّزَ بَيْنَهُمَا، قَالَ: فَرَدَّهُ حَتَّى مُيِّزَ بَيْنَهُمَا"، وقَالَ ابْنُ عِيسَى: أَرَدْتُ التِّجَارَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَانَ فِي كِتَابِهِ الْحِجَارَةُ، فَغَيَّرَهُ، فَقَالَ التِّجَارَةَ.

دفضالة بن عبيده نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام ته دغزوه خيبر په کال دسرو زرو يواميل چه غمي هم پکښې وو راوړلې شو يو سړي په اوه ايانهه ۹ ديناره واخستو نبي عليه السلام اوفرمائيل دا خريداري درست نده، ترڅوچه سره زر دغمونه جدا کړې شوي نه وي، اخستونکي عرض اوکړو اې دالله رسوله مادکانړو اخستلو اراده کړې وه نبي عليه السلام اوفرمائيل بالکل نه دا خريداري جائزنه ده ترڅوچه سره زر دغمونه جداشوي نه وي، اخستونکي چه دا واوريدل نوهارئې واپس کړو ترديې چه سره زردغمونه جداکړې شول ابوداود فرمائي چه دمحمدبن عيسي په کتاب کښې اردت الحجارة الفاظ وو هغه په

---

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۰۸۹) (صحيح)

(۲): صحيح مسلم/المساقاة ۱۷ (۱۵۹۱)، سنن الترمذي/البيوع ۳۲ (۱۲۵۵)، سنن النسائي/ البيوع ٤٦ (٤۵۷۷)، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۲۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۹/۶، ۲۱) (صحيح)

تجارت لفظ سره بدل کړل.

﴿عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- عَامَ خَيْبَرَ بِقِلاَدَةٍ فِيهَا ذَهَبٌ وَخَرَزٌ - قَالَ أَبُو بَكْرٍ وَابْنُ مَنِيعٍ فِيهَا خَرَزٌ مُعَلَّقَةٌ بِذَهَبٍ ابْتَاعَهَا رَجُلٌ بِتِسْعَةِ دَنَانِيرَ ...الخ﴾

د مال ربوي وغير ربوي دمخلوط بيع حکم:

يعنی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې دا مسئله پيش کړې شوه چه د فتح خيبر په کال، يو اميل چه په هغې کښې سرۀ زر او جواهرات وغيره قيمتی کاڼړی وو، او بيا په دويم روايت کښې دی چه داسې قلادة چه په هغې کښې غمی د سرو زرو سره لګيدلې وو، هغه قلادة يو سړی په نهه يا اووۀ ديناره اخستلې وه، او په بل روايت کښې دی چه په دولسو دينارو ئې اخستلې وه، او په هغه بل روايت کښې دا هم دی چه اخستونکې سړې وائی چه کله ما د هغې قلادې اجزاء بيل بيل کړل نو په هغې کښې چه کوم سرۀ زر راواوتل هغه د دولسو دينارو نه زيات وو (يعنی نور دوه څيزونه جواهر وغيره نه علاوه) دا مذکوره سړې وائی چه ما د هغې ذکر رسول الله ﷺ ته اوکړو نو هغوی اوفرمائيل ﴿لاتباع حتى تفصل﴾ يعنی د دې قسم هار بيع مجموعی لحاظ سره جائز نه ده تر څو چه ټول اجزاء بيل بيل نه کړې شی.

مسئلة ثابتة بالحديث کښې مذاهب ائمة:

که په يو اميل کښې د جواهراتو نه علاوه سرۀ زر لګيدلې وی نو د هغې بيع د خالص سرو زرو سره يا هم دغه شان په کومه قلاده کښې چه چاندی لګيدلې وی د هغې بيع په چاندۍ سره د امام شافعی رحمه الله په نزد مطلقا جائز نه ده تر څو چه هر يو بيل بيل نه کړې شی د ربا د ويرې د وجې نه، د ظاهر حديث نه هم دا معلوميږی او د احنافو مذهب ددې پښان مسئله کښې دا دې چه که په څه طريقه بالجزم دا معلومه شی چه خالص سونا د هغه سونې نه کومه چه په قلاده کښې لګيدلې ده زائد ده او د قلادې والا سرۀ زر کم دی نو په دې صورت کښې به بيع جائز وی، د يو طرف سرۀ زر به د دويم طرف د سرو زرو په مقابله کښې شی او کوم چه خالص د سرو زرو زيادت دې هغه به په يو طرف کښې شی. او په دې صورت کښې به هيڅ ربا نه لازميږی لکه هم دا خبره ظاهره ده، دا يو صورت خو صرف د جواز دې، او که هغه ذهب مفرز (خالص سرۀ زر وی يعنی غير مخلوط) د ذهب مخلوط برابر يا د هغې نه اقل وی نو په دې دواړو صورتونو کښې به دا بيع ناجائز وی د لزوم د ربا د وجې نه، د امام مالک رحمه الله مسلک دا دې چه که هغه ذهب مخلوط بالغير تابع وی د غير په داسې طريقه چه د ثلث يا ثلث نه کم وی نو بيا خو دا بيع جائز ده ګڼلې نه ده، د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه دلته چه په حديث کښې کوم صورت مونډلې شوې دې د کوم نه چه رسول الله ﷺ منع اوفرمائيله دا هم هغه صورت دی کوم چه د احنافو په نزد هم ممنوع دې ځکه چه په دې مثال کښې خو ذهب مفرز په ځائې د اکثر کيدو برابر هم نه وو د ذهب مخلوط سره بلکه د هغې نه اقل وو او دا زمونږ په نزد هم ناجائز ده، لهذا حديث د احنافو خلاف نه دې، که يو سړې داسې اوائی چه په حديث کښې خو د دې قسم د قلادې بيع لره د تجزيه او تفصيل نه مخکښې ناجائز منلې شوې وو، د دې جواب دا دې چه د تجزيه او تفصيل نه پس چه په کوم

صورت کښې جائز وی هم په هغه صورت کښې مونږ هم هغه جائز کوو، او په کوم صورت کښې چه ناجائز وی هغې ته مونږ هم ناجائز وايو. غرض دا چه تجزيه او تفصيل د معرفت د مقدار ذريعه نه ده چه د کمی زياتی علم پيدا شی او ربا نه لازميږی، خو که بغير د تجزيه او تفصيل نه معرفت د مقدار حاصل شی مونږ هم دې ته جائز وايو او بغير د دې نه مونږ هم دې ته ناجائز وايو. والله تعالىٰ اعلم

مسئله مدّ عجوه او د هغې شرح او مثال

په کتابونو د شوافعو کښې دې مسئلې (۱) ته مسئله د مد عجوه نوم اخستلې شوې دې لکه چه د امام نووی رحمه الله په کلام کښې په شرح د مسلم کښې ذکر شوې دی چه د هغې صورت هغوی دا ليکلې دې چه که په يو طرف کښې مد عجوه او درهم وی (يعنی يو مد کهجورې چه د هغې سره يو درهم هم وی) او د هغې بيع اوکړې شی د مدين عجوه سره يعنی دويم طرف ته صرف تمر دې خو په ځائې د يو مد دوه مده، يا د درهمينو سره يعنی دويم طرف ته صرف دوه درهمه وی خو يو نه وی بلکه دوه نو دا جائز نه ده.

دا د قلادې والا مسئله د دې تشريح او مذاهب د ائمة امام نووی رحمه الله د حديث الباب د لاندې په شرح د مسلم کښې ۲۲/۲ باندې ذکر کړې ده، د هغې طرف ته دې رجوع اوکړې شی. ففيه کلام نفيس فی شرح هذا الحديث.

په حديث الباب کښې دا هم دی چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه امیل اخستونکې د هغې د بيع نه منع اوفرمائيلو نو هغه اووې ﴿ انما اردت الحجارة ﴾ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم بيا هم اجازت ورنکړو، د هغه سړی مراد دا وو چه د اميل دشراء نه زما مقصود او مطلوب هغه جواهرات دی کوم چه په هغې کښې لګيدلې دی، يعنی سره زر مقصود نه دی او دا جواهرات په اموال ربويه کښې نه دی لهذا اجازت کيدل پکار دی.

[۳۳۵۲](۲) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي شُجَاعٍ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ أَبِي عِمْرَانَ، عَنْ حَنَشٍ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، قَالَ: "اشْتَرَيْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ قِلَادَةً بِاثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا، فِيهَا ذَهَبٌ وَخَرَزٌ، فَفَصَّلْتُهَا، فَوَجَدْتُ فِيهَا أَكْثَرَ مِنَ اثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: لَا تُبَاعُ حَتَّى تُفَصَّلَ".

د فضالة بن عبيد نه روايت دې فرمائی چه دغزوه خيبرپه ورځ مې يو اميل واخستو په دولس ديناره چه سره زر اوغمې په کښې وو نومادهار سره زر د غمونه جدا کړل نوهار راته ددولسو دينارونه دزيات ماليت قابل ښکاره شو اوددې خبرې ذکر مې نبی علیه السلام ته اوکړو نسبي علیه السلام اوفرمائيل چه دهار دسروزرو نغمو دجدا کولونه بغير خرڅول منع دي.

﴿ عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ رضى الله تعالى عنه...... نُبَايِعُ الْيَهُودَ الْأُوقِيَّةَ مِنَ الذَّهَبِ بِالدِّينَارِ. قَالَ غَيْرُ قُتَيْبَةَ بِالدِّينَارَيْنِ وَالثَّلَاثَةِ ﴾

د دې حديث مطلب خو په ظاهر کښې دا دې چه مونږ خلقو د خيبر يهودو ته دوه يا درې

(۱) يعنی د ربوی او غير ربوی مال مخلوط بيع.
(۲) انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۲۷) (صحيح)

دیناره ورکولو سره یو اوقیه سرهٔ زر اخستل اوقیه نوم دې د څلویښتو درهمو، او ښکاره خبره ده چه د څلویښتو درهمو وزن برابر سرهٔ زر څوک خرڅولې شی د دوه یا درې دینارو په بدل کښې په دې وجه دا حدیث په خپل ظاهر باندې نه دې بلکه مراد دا دې چه الوقیة من ذهب وخرز وغیره یعنی داسې امیل چه د هغې وزن د څلویښتو درهمو برابر وی چه په هغې کښې سرهٔ زر او ملغلرې وغیره وې دغه شان امیل لره په دوه یا درې درهمو باندې اخستلو. قاله النووی (عون) والحدیث اخرجه مسلم، قاله المنذری.

[۳۳۵۳]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنِ الْجُلَاحِ أَبِي كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي حَنَشٌ الصَّنْعَانِيُّ، عَنْفَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ، نُبَايِعُ الْيَهُودَ الْأُوقِيَّةَ مِنَ الذَّهَبِ بِالدِّينَارِ، قَالَ غَيْرُ قُتَيْبَةَ: بِالدِّينَارَيْنِ وَالثَّلَاثَةِ، ثُمَّ اتَّفَقَا، فَقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ، إِلَّا وَزْنًا بِوَزْنٍ".

دفضالة بن عبیده نه روایت دې فرمائی چه مونږ غزوه خیبر په ورځ باندې دنبی ﷺ سره موجود وو اود یهودیانو سره به مو خرید اوفروخت کولو ودیودیناریه عوض باندې به مو یوه اوقیه سره زر یندوه دینارو په عوض باندې به مو یوه اوقیه سره زر اخستل نبی ﷺ اوفرمائیل چه سره زر په سروزرو مه خرڅوي ترڅوچه په وزن کښې دواړه برابر نه وي.

بَابٌ فِي اقْتِضَاءِ الذَّهَبِ مِنَ الْوَرِقِ

د سپینوزرو په عوض کښې د سروزرو د اخستلو بیان

د مسئله مترجم بها شرح او بیان د مذاهبو:

اقتضاء په معنی د اخذ، یعنی د اخستلو او خرڅولو په معامله کښې که په دینار سره معامله شوې ده د هغې په ځائې دراهم اخستل یا که معامله په دراهمو سره شوی وی او بیا په ځائې د دراهمو هم د هغه قیمت په اندازه دنانیر اخستل، داسې کول په حساب د قیمت متساویا خو بالاتفاق جائز دې او که بالفرض متفاضلا وی نو بیا په تراضی د طرفین سره جائز دې ځکه چه د اختلاف د جنس په صورت کښې خو کمی زیاتې جائز دې، خو دا هم ښکاره ده چه کوم انسان داسې کوی یعنی د دینارونو په مقابله کښې دراهم، یا د دراهم په عوض کښې دنانیر اخلی هغه به د قیمت په حساب سره برابر اخلی د تفاضل اصولا جائز کیدل هغه بل امر دې. خو تقابض فی المجلس ضروری دې لکه چه د ټولو اموال ربوبیه حکم دې ځکه چه دا عقد به عقد صرف وی چه په هغې کښې تقابض فی المجلس ضروری دې، خطابی رحمه الله فرمائی ﴿ وقد اختلف الناس فی اقتضاء الدراهم من الدنانیر، فذهب اکثر اهل العلم الی جوازه ومنع من ذلک ابوسلمة بن عبدالرحمن وابو شبرمة، وکان ابن ابی لیلی یکره ذلک الا بسعر یومه، ولا یعتبر غیره السعر، ولم یبالوا کان ذلک باغلی او ارخص من سعر الیوم آهـ یعنی ابن ابی لیلی رحمه الله فرمائی چه د دې قسم تبادله په هغه صورت کښې جائز ده چه په کومه ورځ

[۱]: انظر حدیث رقم (۳۳۵۱)، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۲۷) (صحیح)

[۲]، خو دا جواز د تفاضل صرف د احنافو مسلک دې، د نورو امامانو په نزد جائز نه دې، کذافي هامش البذل عن الموفق)

باندې معامله شوې وه په هغه ورخ چه د دراهمو او دنانير کوم قيمت وو په بازار کښې د هغه قيمت اعتبار کولو سره ګيني مکروه دې سعر اليوم کوم چه امام خطابی رحمه الله فرمائي هغه په حديث الباب کښې مصرح دې ﴿ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ بَأْسَ أَنْ تَأْخُذَهَا بِسِعْرِ يَوْمِهَا مَا لَمْ تَفْتَرِقَا وَبَيْنَكُمَا شَىْءٌ » ﴾ خو دا قيد په بعضو طرقو کښې شته او په بعضو کښې نشته، پس د باب حديث ثانی کښې نشته ﴿ كما قال المصنف رحمه الله باسناده ومعناه والاول اتم لم يذكر بسعر يومها ﴾ غالبا هم په دې وجه باندې جمهورو د سعر يوم اعتبار لره ضروری نه دې منلې، د خطابی په کلام کښې د امام احمد رحمه الله مسلک نه دې ذکر شوې، د هغوی په نزد د سعر اليوم قيد ضروری دې كما قال الموفق كما فی هامش البذل، وفيه ايضا :: قلت حكى الشوكانی تقييده عن احمد واليه يشير كلام الترمذی اذ ذكر فيمن قال بالحديث احمد، وبه جزم الموفق كما سبق. او د علامه سندی په حاشيه کښې دی چه د ﴿ بسعر اليوم ﴾ قيد په طريقه د استحباب دې.

[۳۳۵۴]([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ وَاحِدٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ مَحْبُوبٍ الْمَعْنَى، قَالاَ: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كُنْتُ أَبِيعُ الإِبِلَ بِالْبَقِيعِ فَأَبِيعُ بِالدَّنَانِيرِ وَآخُذُ الدَّرَاهِمَ وَأَبِيعُ بِالدَّرَاهِمِ وَآخُذُ الدَّنَانِيرَ آخُذُ هَذِهِ مِنْ هَذِهِ وَأُعْطِي هَذِهِ مِنْ هَذِهِ، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي بَيْتِ حَفْصَةَ، فَقُلْتُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، رُوَيْدَكَ أَسْأَلُكَ إِنِّي أَبِيعُ الإِبِلَ بِالْبَقِيعِ فَأَبِيعُ بِالدَّنَانِيرِ وَآخُذُ الدَّرَاهِمَ، وَأَبِيعُ بِالدَّرَاهِمِ، وَآخُذُ الدَّنَانِيرَ آخُذُ هَذِهِ مِنْ هَذِهِ، وَأُعْطِي هَذِهِ مِنْ هَذِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لاَ بَأْسَ أَنْ تَأْخُذَهَا بِسِعْرِ يَوْمِهَا مَا لَمْ تَفْتَرِقَا وَبَيْنَكُمَا شَيْءٌ".

دابن عمر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ما به په نقيع مقام کښې اوښان خرخول اود دينار په حساب به مې خرخول او په بدل کښې به مې دينارونه اغستل يعنی ددينار په عوض کښې به مې درهم اغستل اوددرهم په عوض کښې به مې دينار اغستل بيازه دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم اونبی عليه السلام دام المومنين حفصه رضی الله عنها په کورکښې ناست وو ماعرض اوکړو اې دالله رسوله ماته توجه اوکړئ زه دا معلومول غواړم چه زه په نقيع مقام کښې اوښان خرخوم او په عوض کښې ئې درهم اخلم اود درهمونوپه حساب ئې خرخ کړم او په عوض کښې دينار واخلم عرض داچه ددرهم په عرض کښې دينار اوددينار په بدل کښې درهم اخلم. نبی عليه السلام اوفرمائيل په دې کښې هيڅ بدوالې نشته خوپه دې شرط چه ددغه ورځې په نرخ ئې واخلې اوتاسوديوبل نه ترهغې پورې جدانشئ ترڅوچه ستاسو سودا مکمل شوې نه وې.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنْتُ أَبِيعُ الإِبِلَ بِالْبَقِيعِ فَأَبِيعُ بِالدَّنَانِيرِ وَآخُذُ الدَّرَاهِمَ وَأَبِيعُ بِالدَّرَاهِمِ وَآخُذُ الدَّنَانِيرَ الخ ﴾ په دې حديث کښې هم هغه مسئله ذکر شوې ده کومه چه مونږه پورته بيان کړه. والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری.

[1]: سنن الترمذي/البيوع ۲٤ (۱۲٤۲)، سنن النسائي/البيوع ٤۸ (٤۵۸٦)، سنن ابن ماجه/التجارات ۵۱ (۲۲٦۲)، (تحفة الأشراف: ۷۰۵۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۳، ۵۹، ۸۹، ۱۰۱، ۱۳۹)، سنن الدارمي/البيوع ٤۳ (۲٦۲۳) (ضعيف)

[۳۳۵۵]() حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ الْأَسْوَدِ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ سِمَاكٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، وَالْأَوَّلُ أَتَمُّ لَمْ يَذْكُرْ بِسِعْرِ يَوْمِهَا.

د سماك نه په دې سند سره دتير روايت په شان روايت نقل دې ليكن مخكنې روايت زيات كامل دې او په دې روايت كښې دنن ورځې دنرخ لفظ نشته

بَابٌ فِي الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيئَةً

په يو څاروي بل څاروې د قرض په طورسره اخستل

دا باب او په دې كښې چه كومه مسئله ذكر شوې ده د دې حواله په دې كتاب كښې په ﴿ باب فى حسن القضاء ﴾ كښې د استقراض الحيوان د لاندې تيره شوې ده.

[۳۳۵٦]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيئَةً".

د سمره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام منع فرمائيلې ده د خرڅولو ديو څاروى نه په بل باندې په قرض سره (يعنى ژوند څاروې).

مسئلة الباب كښې مذاهب ائمة:

بيع الحيوان بالحيوان كه يدا بيد وى نو بالاتفاق جائز دې او مساوات هم په دې كښې ضرورى نه دى تفاضلا هم جائز دې، مثلا بيع البعير بالبعيرين، يا بيع العبد بالعبدين، خو په دې كښې اختلاف دې چه بيع الحيوان بالحيوان نسيئة هم جائز دې يا نه، په دې كښې دوه امام يو طرف دې او دوه يو طرف ته، د احنافو او حنابله په نزد ناجائز دې كما فى الحديث الباب نهى عن بيع الحيوان بالحيوان نسيئة، او د امام مالک او شافعى رحمهما الله په نزد دا بيع جائز دې، هم په دې وجه مصنف رحمه الله وړاندې باب قائم كړې دې، ﴿ باب فى الرخصة فى ذلک ﴾ خو د امام مالک رحمه الله په نزد د دې جواز د اختلاف د جنس په صورت كښې دې، مثلا يو طرف ته اوښ دې او دويم طرف ته بيزې، او د اتحاد د جنس په صورت كښې د هغوى په نزد هم جائز نه دى، نو ګويا امام مالک رحمه الله په يو صورت كښې د حنابله او احنافو سره دې او په يو صورت كښې د امام شافعى رحمه الله سره، دا رومبې باب او د هغې حديث د احنافو او حنابلو په حق كښې دې او د شوافعو خلاف دې، امام شافعى او مالک رحمه الله د دې حديث دا جواب وركړې دې چه دا په هغه صورت باندې محمول دې لكه چه نسيئة د جانبين نه وى چه هغې ته په اصطلاح د فقهاء كښې بيع الكالئ بالكالئ وائى او كه دجانب واحد نه وى نو هغې لره دا دواړه حضرات ممنوع نه ګرزوى هم دغه شان دا دواړه حضرات د استقراض الحيوان قائل دى ځكه چه په دې كښې نسيئة د جانب واحد نه وى او د احنافو او حنابله په نزد دا حديث په خپل عموم باندې دې يعنى كه هغه نسيئة من الجانبين وى يا

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۷۰۵۳) (ضعيف)

[2]: سنن الترمذي/البيوع ۲۱ (۱۲۳۷)، سنن النسائي/البيوع ٦۳ (٤٦۲٤)، سنن ابن ماجه/التجارات ٥٦ (۲۲۷۰)، (تحفة الأشراف: ٤٥۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/۱۲، ۲۱، ۲۲)، سنن الدارمي/البيوع ۳۰ (۲٦۰٦) (صحيح)

من جانب واحد وی، او هم په دې وجه د هغوی په نزد استقراض الحیوان هم ناجائز دی.
والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

په یو څاروی بل څاروې د قرض په طورسره د اخستلو د جواز بیان

[۳۳۵۷](١)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ حَرِيشٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَمَرَهُ أَنْ يُجَهِّزَ جَيْشًا، فَنَفِدَتِ الْإِبِلُ، فَأَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ فِي قِلَاصِ الصَّدَقَةِ فَكَانَ يَأْخُذُ الْبَعِيرَ بِالْبَعِيرَيْنِ إِلَى إِبِلِ الصَّدَقَةِ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام راته حکم اوکړو چه لښکرتیارکړه نو اوښان ختم شول، نونبی علیه السلام حکم وکړو چه دصدقې داوښانو دراتلو په نیته باندې اوښان واخلئ اوعبدالله بن عمروه به دخیراتي اوښانو د راتلو دنیتي پورې یو اوښ په دره اوښانو اخستلو.

﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَمَرَهُ أَنْ يُجَهِّزَ جَيْشًا فَنَفِدَتِ الإِبِلُ فَأَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ فِي قِلاَصِ الصَّدَقَةِ فَكَانَ يَأْخُذُ الْبَعِيرَ بِالْبَعِيرَيْنِ إِلَى إِبِلِ الصَّدَقَةِ ﴾

عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته د یو لښکر د تجهیز حکم اوفرمائیلو یعنی د سامان جهاد برابرول، هغوی د دې تیارې شروع کړو، خو په مینځ کښې د اوښانو کمې راغلو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته حکم اوفرمائیلو چه د صدقې د اوښانو په بنیاد باندې د خلقو نه مستعار واخلی، چه کله په بیت المال کښې د صدقې اوښان راشی په هغې باندې به دا دین ادا کولې شی، پس هغه به دخلقو نه د دوه دوه اوښانو په بدله کښې یو یو اوښ اخستلو.

په دې حدیث کښې دوه خبرې اوموندلې شوې: ﴿ استبدال الحیوان بالحیوان متفاضلا ﴾ یعنی د حیواناتو بدلون په تفاضل سره، په دې کښې هیڅ اشکال نشته، دا خو د ټولو په نزد جائز دې، دویم څیز دې نسیئة یعنی د دې جائز کیدل د مصنف رحمه الله غرض په دې باب سره جواز دنسیئة لره بیانول دی کما فی ترجمة الباب.

د حدیث الباب د احنافو او حنابله د طرف نه جواب :

دا حدیث د احنافو او حنابله خلاف شو او د شوافعو موافق، د دې حضراتو یو جواب خو د دې حدیث نسخ سره کړې شوې دې چه د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه حدیث منسوخ دې..... ذکره الطحاوی احتمالا، علامه شوکانی رحمه الله فرمائی ﴿ لا شک ان احادیث النهی وان کان کل واحد منها لا یخلو عن مقال لکنها ثبتت من طرق ثلاثة من الصحابة، سمرة (کما فی الباب الذی قبله) وجابر بن سمرة وابن عباس وبعضها یقوی بعضا فهی ارجح من حدیث واحد غیر خال عن المقال وهو حدیث عبدالله بن عمرو رضي الله عنه یعنی د منع روایات د متعدد صحابه کرامو رضي الله عنهم نه روایت دی حضرت

---

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٨٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٧١، ٢١٦) (ضعيف)

سمره وجابر بن سمره او ابن عباس رضی الله عنهما، او د جواز روایت کوم چه په یو طریق روایت دې او هغه هم داسې چه د کلام او ضعف نه خالی نه دې، او هسې اصولا هم دلیل دتحریم ته ترجیح ورکولې شی په دلیل د اباحت باندې. (بذل)

باب في ذلك إذا كان يدًا بيدٍ

یو ځاروې بل ځاروی باندې د نقد په صورت کښې جائز دی

[۳۳۵۸](١) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ الْهَمْدَانِيُّ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الثَّقَفِيُّ، أَنَّ اللَّيْثَ حَدَّثَهُمْ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَرَى عَبْدًا بِعَبْدَيْنِ".

د جابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام یوغلام په دوه غلامانو اخستلې وو.

﴿عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- اشْتَرَى عَبْدًا بِعَبْدَيْنِ﴾

یعنی رسول الله ﷺ د دوه غلامانو په بدل کښې یو غلام واخستلو. یعنی یدا بید لکه څنګه چه په ترجمة الباب کښې دی. او دا بالاتفاق جائز ده لکه چه په وړاندې باب کښې تیر شو. والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی بأتم منه، قاله المنذری

باب في التمر بالتمر

کجورې په کجورو سره خرڅول

دا دواړه د تائې مثناة من فوق نه دی او په یو نسخه کښې فی الثمر بالتمر دې یعنی ړومبئ ثاء ده او دویمه تاء ده، او راجحه هم دا نسخه ثانیه ده د حدیث الباب د وجې نه.

[۳۳۵۹](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، أَنَّ زَيْدًا أَبَا عَيَّاشٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَأَلَ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنِ الْبَيْضَاءِ بِالسُّلْتِ، فَقَالَ لَهُ سَعْدٌ: أَيُّهُمَا أَفْضَلُ؟، قَالَ: الْبَيْضَاءُ فَنَهَاهُ عَنْ ذَلِكَ، وَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُسْأَلُ عَنْ شِرَاءِ التَّمْرِ بِالرُّطَبِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيَنْقُصُ الرُّطَبُ إِذَا يَبِسَ؟، قَالُوا: نَعَمْ، فَنَهَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ إِسْمَاعِيلُ بْنُ أُمَيَّةَ نَحْوَ مَالِكٍ.

د زید ابو العیاش نه روایت دې فرمائی چه د سعدبن ابی العاص رضی الله عنه نه مې د غنمو په سلت باندې د خرڅولو متعلق تپوس وکړو نو سعد ووئیل په دوی دواړو کښې کوم یو ډیر ښه وي؟ زید ووئیل چه غنم، نو هغه بیا دې نه منع اوفرمائیله اووئې ووئیل چه ما د نبی علیه السلام نه اوریدلي دي کله چه د تازه کهجورو په وچو کهجورو باندې د خرڅولو متعلق ترې تپوس وکړې شو نو وئې وئیل ایا تازه کهجوري چه کله اوچي شي نو کمیږي؟ صحابه کرامو عرض وکړو هو؟ نو ددې نه ئې هم منع اوفرمائیله، امام ابوداود فرمائی چه دا روایت اسماعیل بن ابی امیه هم د مالك په شان نقل کړې دې.

---

(١): صحیح مسلم/المساقاة ٢٣ (١٦٠٢)، سنن الترمذي/البیوع ٢٢ (١٢٣٩)، السیر ٣٦ (١٥٩٦)، سنن النسائي/البیعة ٢١ (٤١٨٩)، البیوع ٦٤ (٤٦٢٥)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٤١ (٢٨٦٩)، (تحفة الأشراف: ٢٩٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٤٩، ٣٧٢) (صحیح)

(٢): سنن الترمذي/البیوع ١٤ (١٢٢٥)، سنن النسائي/البیوع ٣٤ (٤٥٥٩)، سنن ابن ماجه/التجارات ٥٣ (٢٢٦٤)، (تحفة الأشراف: ٣٨٥٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البیوع ١٢ (٢٢)، مسند احمد (١/١٧٥، ١٧٩) (صحیح)

﴿ أَنَّ زَيْدًا أَبَا عَيَّاشٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَأَلَ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ عَنِ الْبَيْضَاءِ بِالسُّلْتِ فَقَالَ لَهُ سَعْدٌ أَيُّهُمَا أَفْضَلُ قَالَ الْبَيْضَاءُ. فَنَهَاهُ عَنْ ذَلِكَ ....عَنْ ذَلِكَ ﴾

شرح الحديث من حيث الفقه:

مضمون د حديث دا دې چه يو سړي د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه دا مسئله اوتپوسله چه آيا د حنطة بيع په سلت سره جائز ده؟ سلت د شعير يو عمده قسم وی چه د هغې قشر (پوستکې) باريک وی، يعنی اعلی قسم وربشې، کوم چه په عوامو کښې په جو پيمبری سره مشهور ده، نو په دې باندې سعد رضی الله عنه تپوس اوکړو چه په دې دواړو کښې ښه کوم يو دې؟ تپوس کونکی جواب ورکړو چه ښه خو غنم وی. هغوی چه دا جواب واؤريدو نو د بيع نه ئې منع اوفرمائيله.

دا حديث د احاديث مشکله نه دې غير واضح المعنی دې، ځکه چه نه ده معلومه چه د سائل غرض د بيع نسيئة نه دې يا يدا بيد نه، که د سوال تعلق د بيع نسيئة نه دې نو بيا خو د دې مسئلې حکم واضح دې چه بالاتفاق ناجائز دې دا دواړه د اموال ربويه نه دې، نو بيا د افضل او غير افضل متعلق د سوال کولو څه معنی؟ او که مراد د دې بيع نه هغه ده چه يدا بيد وی نو بيا په دې کښې دوه احتمالات دی، متفاضلا يا متساويا، که متساويا مراد وی نو بيا خو بالاتفاق جائز دې، او که متفاضلا مراد دې نو په دې صورت کښې هم ائمه ثلاث او د جمهورو په نزد خو جائز دې خو دا صورت د امام مالک رحمه الله په نزد ناجائز دې، ځکه چه د هغوی په نزد لکه چه مخکښې تير شو حنطه او شعير متحد الجنس دی، په دې صورت کښې د سعد رضی الله عنه جواب د به د مالکيانو د مسلک مطابق وی کيدې شی د هغوی رائې هم د امام مالک رحمه الله موافق وی، خو په دې صورت کښې د سعد رضی الله عنه استدلال کول په دې حديث سره کوم چه هغوی ذکر اوفرمائيلو يعنی بيع التمر بالرطب نه بيع متساويا مراد دې نه متفاضلا ، بيا د سعد رضی الله عنه په خپله مسئله کښې د دې حديث نه استدلال کول څنګه صحيح کيدې شی په دې وجه مونږ وئيلې وو چه دا حديث مشکل دې.

بيع الرطب بالتمر کښې د امام صاحب اختلاف او دليل :

بيع الرطب بالتمر والا مسئله خپله اختلافی دی او د علماء کرامو په مينځ کښې مشهور دې هغه دا چه بيع الرطب بالتمر متساويا د جمهور علماء ثلاثه او صاحبينو په نزد هم د دې حديث په بناء باندې ناجائز دی، ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه تپوس فرمائيلې وو چه آيا رطب د خشک کيدو نه پس کميږی، نو صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو جی کميږی ———— په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې نه منع اوفرمائيلو، ځکه چه فی الحال مساوات موندلې کيږی خو بيا په مستقبل کښې بعد اليبس مساوات باقی نه پاتې کيږی، خو په دې مسئله کښې د امام ابوحنيفه رحمه الله رائې د جمهورو خلاف د جواز بيع دې هغوی فرمائی ځکه چه رطب د دوه حالو نه خالی نه دې، يا هغه د جنس التمر نه وی يا نه. که من جنس المتر وی نو چه څنګه بيع التمر بالتمر متساويا بالاتفاق جائز دې، هم دغه شان دا هم جائز کيدل پکار دی، او که شق ثانی واخستلې شی يعنی دا چه رطب من جنس

التمر نه وی بلکه خلاف جنس نه دې نو په دې باره کښې خپله په حدیث کښې تصریح ده ﴿ واذا اختلف الجنسان فبیعوا کیف شئتم ﴾ پس حاصل دا چه که رطب د تمر د جنس نه وی نو د اول حدیث د وجې نه دا بیع جائز کیدل پکار دی، او که د خلاف جنس نه وی نو بیا د آخر حدیث د وجې نه دا بیع ناجائز کیدل پکار دی خو دا حدیث سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په کوم کښې چه رسول الله ﷺ دا تپوس اوفرمائیلو ﴿اینقص الرطب اذا یبس ﴾ د امام ابوحنیفة رحمه الله خلاف دې د دې جواب صاحب هدایه وغیره دا ورکړې دې چه د دې حدیث بنیاد په زید بن عیاش باندې وهو مجهول، او یو جواب دا ورکړې شوې دې چه دا حدیث په بیع نسیئة باندې محمول دې لکه چه د هم دې حدیث دویم طریق کښې صراحة را روان دې، ﴿ نهی رسول الله ﷺ عن بیع الرطب بالتمر نسیئة وفی حاشیة البذل عن البحر الرائق لو صح الحدیث فهو مخالف للروایات الشهیرة التمر بالتمر مثلا بمثل، واذا اختلفا فکیف شئتم ﴾

زید بن عیاش چه د چا کنیت ابو عیاش دې د دې راوی په مجهول او معروف، هم دغه شان په ثقه او ضعیف کیدو کښې د علماء رجال اختلاف دې، په بذل المجهود کښې دا ټول اختلاف ذکر شوې دې هغې ته دې رجوع اوکړې شی.

والحدیث اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[٣٣٦٠]([1]) حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ يَعْنِي ابْنَ سَلَّامٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ، أَنَّ أَبَا عَيَّاشٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ، يَقُولُ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الرُّطَبِ بِالتَّمْرِ نَسِيئَةً"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عِمْرَانُ بْنُ أَبِي أَنَسٍ، عَنْ مَوْلًى لِبَنِي مَخْزُومٍ، عَنْ سَعْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ.

د زید ابو العیاش نه روایت دې فرمائی چه د سعد بن أبی العاصف رضی الله عنه نه مې اوریدلی دی چه نبی علیه السلام منع فرمائیلی ده دخرخولو دتازه کهجوروید أو چوکهجورو په طور د قرض سره.
امام ابوداود فرمائی چه دا روایت عمران بن أبی أنس هم د سعد نه نقل کړې دې.

بَابٌ فِي الْمُزَابَنَةِ

د مزابنه بیان

د بیع مزابنة تعریف او وجه تسمیه :

د بیع مزابنه تعریف دا دې ﴿ بیع ما علی الشجر من التمر بالتمر المجذوذ کیلا ﴾ یعنی د باغ د مالک د هغه کهجورو کومې چه په اونو باندې لګیدلې وی اندازه لګولو سره د هغه کهجورو په بدله کښې کیل کولو سره خرخول کوم چه په زمکه باندې شوکیدلې پرتې وی ځکه چه د اونو د کهجورو مقدار صرف په اندازه سره متعین کړې شوې دې په دې وجه داسې ځان پوهه کړئ چه دا بیع التمر بالتمر جزافا دې نه کیلا، او په دې صورت کښې دکمی زیاتی قوی احتمال دې چه هغه ربا ده، هم په دې وجه دا بیع بالاجماع ناجائز ده، دا ماخوذ دې د زبن نه بمعنی الدفع، په دې بیع کښې چونکه ظن غالب وی د دې خبرې چه

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٣٨٥٤) (شاذ)

متعاقدین کښې ډیو زیاته فائده وی او د دویم نقصان چه د هغې علم روستو کیږی، نو اوس هغه د نقصان د علم نه پس کوشش کوی د دې بیع د فسخ کولو، او د دې چه کوم مقابل دې هغه د فسخ دپاره نه تیاریږی، د هغه نفع د بیع په باقی ساتلو کښې وی په دې وجه په دې کښې د جانبینو نه مدافعت وی هم په دې وجه دې بیع ته مزابنه وائی.

[۳۳۶۱]([1])حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا، وَعَنْ بَيْعِ الْعِنَبِ بِالزَّبِيبِ كَيْلًا، وَعَنْ بَيْعِ الزَّرْعِ بِالْحِنْطَةِ كَيْلًا".

دابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه الصلاة والسلام منع فرمائیلی ده د خرخولو دکهجورو نه په کهجورو باندې په پیمانه کولوسره اوهمدارنګی د خرخولو د انګورونه په اوڅکوباندې په پیمانه کولوسره او همدارنګې دخرخولود فصل په وړو باندې په پیمانه کولوسره.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ كَيْلاً وَعَنْ بَيْعِ الْعِنَبِ بِالزَّبِيبِ كَيْلاً وَعَنْ بَيْعِ الزَّرْعِ بِالْحِنْطَةِ كَيْلاً ﴾

شرح الحدیث :

یعنی رسول الله ﷺ منع اوفرمائیله د هغه کهجورو د بیع نه کوم چه په اونه باندې لګیدلې وی د هغه کهجورو په بدله کښې کومې چه شوکیدلې دی په کیل کولو سره، د کیلا تعلق د هغه کهجورو سره دې کوم چه په زمکه باندې راشوکیدلې پرتې وی، ځکه چه کومې په اونه کښې دی د هغې ناپ او کیل کول خو ممکن نه دې، او هم دغه شان ئې منع اوفرمائیله رسول الله ﷺ د انګورو د بیع نه چه په اونو باندې دې د اوسکو په بدل کښې اوسکو لره په کیل سره، او دریم جزء د حدیث دا دې چه منع اوفرمائیله رسول الله ﷺ د ولاړ فصل د خرخولو نه د غنمو په بدل کښې کیل کولو سره.

وجه د منع ښکاره ده چه د دې ټولو بیوعو بنیاد په تخمین باندې دې چه په هغې کښې د تفاضل احتمال قوی دې کوم چه ربا ده د اتحاد دجنس د وجې نه. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة بنحوه، قاله المنذری

بَابٌ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا

د بیع العرایا بیان

[۳۳۶۲]([2])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا بِالتَّمْرِ وَالرُّطَبِ".

[1]: صحيح مسلم /البيوع ١٤ (١٥٤٢)، (تحفة الأشراف: ٨٢٧٣، ٨١٣١)، وقد أخرجه: صحيح البخاري /البيوع ٨٢ (٢١٨٥)، سنن النسائي /البيوع ٣٠ (٤٥٣٧)، ٣٧ (٤٥٥٣)، سنن ابن ماجه /التجارات ٥٤ (٢٢٦٥)، موطا امام مالك /البيوع ٨ (١٠)، مسند احمد (٢/٧، ١٦٨) (صحيح)

[2]: سنن النسائي /البيوع ٣١ (٤٥٤١)، (تحفة الأشراف: ٣٧٢٣، ٣٧٠٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري /البيوع ٧٥ (٢١٧٣)، ٨٢ (٢١٨٤)، ٨٤ (٢١٨٨)، المساقاة ١٧ (٢٣٨٠)، صحيح مسلم /البيوع ١٤ (١٥٣٩)، سنن الترمذي /البيوع ٦٣ (١٣٠٢)، سنن ابن ماجه /التجارات ٥٥ (٢٢٦٨)، موطا امام مالك /البيوع ٩ (١٤)، مسند احمد (٥/١٨١، ١٨٢، ١٨٨، ١٩٢)، سنن الدارمي / البيوع ٢٤ (٢٦٠٠) (صحيح)

زید بن ثابت دخپل پلارنه روایت کوی فرمائي چه نبی ﷺ په بیع عرایا (وقف کړي شوي کښي اوچي اولدي کهجوري دیوبل په بدل کښي دورکولواجازت ورکړی دي.

قوله: ﴿ أَخْبَرَنِي خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا بِالتَّمْرِ وَالرُّطَبِ ﴾

د عرایا په حقیقت او مصداق کښي اختلاف د ائمة :

عرایا د عریة جمع ده، عریه په معنی د عطیه، د دي جمع عرایا لکه عطیه جمع د عطایا، په عریه کښي د جمهور علماء او احنافو اختلاف دي. د دي په حکم کښي هم او حقیقت کښي هم، پس وړاندي مستقل باب را روان دي تفسیر العرایا د جمهورو په نزد عرایا د بیع د قبیلي نه دي، په بلکه د بیع مزابنه یو فرد دي.

او کوم حقیقت چه د بیع المزابنة دي د جمهورو په نزد هم حقیقت د عرایا دي، لکن لا مطلقا بل فی مقدار مخصوص، یعني بیع مزابنه چه د هغي تفسیر پورته باب کښي تیر شوي دی، هغه عند الجمهور په یو مخصوص مقدار کښي جائز دي، او د هغي نه زائد کښي جائز نه دي، د هغه مقدار نه که زیاتی وی نو بیا به د هغي نوم بیع العریة نه وی بلکه بیع المزابنة به وی چه ممنوع دي، او هغه مخصوص مقدار څه دي د دي د دي وړاندي مستقل باب را روان دي، پس امام نووی رحمه الله چه د عریه کوم تعریف کړي دي د هغي خلاصه دا ده چه یو سړي چه هغه سره اوچي کهجوري دی هغه یو باغ ته تلو سره داسي معامله اوکړی چه د خپل باغ په هغه ځو اونو باندي چه کومه میوه ده په یو خارص سره د هغي خرص اوکړی یعني دا چه په دي باندي چه کومي شني کجهوري لګیدلي دی د خشک کیدو نه پس د دي به څه مقدار وی نو هم د دي مقدار برابر مانه دا کهجوري واخله او دا اوني ماته حواله کړه پس هغوی دواړه تقابض فی المجلس اوکړی مشتری د کهجورو هغه مقدار صاحب نخل ته حواله کړی او صاحب نخل هغه نخیل لره مشتری ته حواله کړی، خو په مخصوص مقدار کښي دننه یعني ما دون خمسة اوسق، او که هغه کهجوري پوره پنځه وسق وی په دي کښي د امام شافعی رحمه الله دوه قوله دی، اصح القولین د عدم جواز دي [1] او د احنافو په نزد د بیع مزابنة هیڅ فرد هم جائز او حلال نه دي، او عریه چه د هغي حقیقت عند الجمهور بیع ده. د احنافو په نزد د دي حقیقت بیع نه ده بلکه تبادلة فی الهبة ده چه د هغي شکل دا دي چه هغه سړي د لوئي باغ والا دي هغه د خپل باغ ځو اونو لره یعني هغه میوو لره یو غریب سړي ته هبه کړی چه هغه غریب شخص هم د دي اونو د میوي نه منتفع کیږی، پس هغه نادار سړي یعني معری له وقتا فوقتا په دي باغ کښي د دي اونو نه د میوو اخستلو دپاره ورځی د هغه په دي بار بار تلو راتلو باندي هغه باغ والا ته تکلیف رسیږی ځکه چه سره د خپل اهل و عیال په باغ کښي مقیم دي نو په دي باندي هغه باغ والا د دي تکلیف نه د بچ کیدو دپاره دا صورت اختیاروی چه هغه دي معری له ته دا وائی چه ته اندازه کولو سره دا اوښایه چه په

---

[1] د بذل په عبارت کښي دلته په نقل کښي د کاتب نه خطاء واقع شوه چه په ځاني د ﴿ لا یجوز ﴾ په هغي کښي ﴿ یجوز ﴾ لیکلي شوي دي، فلیحرر.

دي اونو باندې چه کومه میوه ده هغه به څومره وي چه هم د هغې په اندازه مونږ تاته تمر یعنی شوکولې شوې کهجورې د اوچو میوو دشوکولو په وخت کښې ادا کړو. اوس ظاهره دا ده چه آیا دې غریب ته په دې کښې انکار کیدې شي هغه ته چه څه ملاویږي ویړیا دي. باقاعده څه بیع خو ده نه، هغه دا منظور وي او د دې په جائز کیدو کښې هیڅ د تردد خبره نشته، پس احناف هم دا وائي چه احادیثو کښې د عریه ذکر راځي د هغې حقیقت دا دې (١) یعنی د معری لره معری له ته دشنو کهجورو په بدله کښې چه کومې په اونو باندې لګیدلې دي اخستلو سره د هغې په بدل کښې تمر یعنی اوچې کهجورې ورکول په موطاء محمد کښې هم د امام مالک رحمه الله نه د عریه هم دا تفسیر منقول دې د احنافو په نزد دا معامله صرف د واهب او موهوب له ترمینځه ده او د شوافعو او حنابله په نزد چونکه د عریه حقیقت د بیع دې یعنی د بیع مزابنه یو فرد لهذا د هغوی په نزد د دې قسم معامله هرچا سره کیدې شي لکه څنګه چه بیع وي، د هغوی په نزد د دې معاملې متعلق واهب او موهوب له سره نه دي، په دې وجه دا هغوی بیع منلې ده او د هر سړي سره په مخصوص مقدار کښې دې بیع لره جائز کړه، اوس دا چه هغه مقدار مخصوص کړې دې د دې بیان وړاندې په مستقل باب کښې را روان دې، د مالکیانو مسلک په دې کښې بین بین دې پس حضرت شیخ په الابواب والتراجم کښې مذاهب اربعه په دې باره کښې داسې لیکلې دي، وحاصل اختلاف الائمة فی ذلک انها رجوع الواهب فی هبته بعوض عند الحنفیة وشراء الواهب هبته عند المالکیة وقال الشافعی واحمد ان هذا القدر ای مقدار خمسة اوسق مستثنی من النهی عن المزابنة فیجوز بیعه مع الواهب وغیره، کذافی هامش اللامع آهـ.

[۳۳۶۳](٢) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ التَّمْرِ بِالتَّمْرِ، وَرَخَّصَ فِي الْعَرَايَا أَنْ تُبَاعَ بِخَرْصِهَا يَأْكُلُهَا أَهْلُهَا رُطَبًا".

دسهل بن أبی خثمة رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده دخرڅولو د کهجورو په کهجورواوپه بیع عرایا کښې ئې دخرڅولو اجازت ورکړې دې ددې دپاره چه صارفینو ته تازه کجورې مهیا کړې شي.

(١) په بذل کښې د بدائع نه نقل کړې دې چه د احنافو په نزد د عریه تفسیر هغه دې کوم چه امام مالک رحمه الله په موطاء کښې ذکر فرمائیلې دې ﴿ وهو یکون لرجل نخیل فیعطي رجلا منها ثمرة نخلة او نخلتین یلقطهما لعیاله ثم یثقل علیه دخوله حائطه فیساله ان یتجاوز له عنهما علی ان یعطیه بمکیلتها تمر عند صرام النخل، وذلك مالا باس به عندنا، لانه لا بیع هناك بل التمر کله لصاحب النخل فان شاء سلم له ثمر النخل وان شاء اعطاه بمکیلتها من التمر الا انه سماه الراوي بیعا لتصوره بصورة البیع لا ان یکون بیعا حقیقة بل هو عطیة الا تري انه لم یملکه المعري له لانعدام القبض فکیف یجعل بیعا، ولانه لو جعل بیعا لکان بیع التمر بالتمر الی اجل وانه لا یجوز بلا خلاف. الی آخر ما في البذل)

(٢): صحیح البخاري/البیوع ۸۳ (۲۱۹۱)، المساقاة ۱۷ (۲۳۸٤)، صحیح مسلم/البیوع ۱٤ (۱٥٤۰)، سنن الترمذي/البیوع ٦٤ (۱۳۰۳)، سنن النسائي/البیوع ۳۳ (٤٥٤۸)، (تحفة الأشراف: ٤٦٤٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۲) (صحیح)

بَاب فِي مِقْدَارِ الْعَرِيَّةِ

د بيع عرايا د مقدار بيان

[۳۳٦٤]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ الْحُصَيْنِ، عَنْ مَوْلَى ابْنِ أَبِي أَحْمَدَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ لَنَا الْقَعْنَبِيُّ: فِيمَا قَرَأَ عَلَى مَالِكٍ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ وَاسْمُهُ قُزْمَانُ مَوْلَى ابْنِ أَبِي أَحْمَدَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ" شَكَّ دَاوُدُ بْنُ الْحُصَيْنِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: حَدِيثُ جَابِرٍ، إِلَى أَرْبَعَةِ أَوْسُقٍ.

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام دعرايادخرڅولو اجازت ورکړې دې خوپه دې شرط چه دپنځه وسقه داندازي نه کم وي ياپه پنځه وسقو کښې داخل وي ځکه چه عموما دخوراك دپاره ددې نه زيات ته ضرورت نه پيښيږي، امام ابوداود وائي دجابر په حديث کښې دعرايا اندازه څلور وسقه ښودل شوي ده.

د مسئلة الباب تشريح او په هغې کښې اختلاف ائمة :

يعنى په کوم مقدار کښې چه عريه جائز ده هغه څه دې؟ د ما دون خمسة اوسق په جواز کښې خو د جمهورو اتفاق دې او د ما فوق خمسة اوسق په عدم جواز باندې اتفاق دې، او خمسة اوسق يعنى پوره پنځه وسقه کښ، د دې په باره کښې په روايت کښې شک د راوى دې، لکه چه په حديث الباب کښې دى، پورته د امام نووى رحمه الله په کلام کښې تير شوې دى چه هغوى په دې کښې دوه اقوال دى، او اصح قول عدم جواز دې، ابن المنذر فرمائى چه په پنځه وسقو کښې دننه رخصت مشکوک فيه دې، او نهى عن المزابنة ثابت دې، پس ضرورى ده چه دې پنځه وسقو کښې عريه مباح نه شى سوا د قدر متيقن نه، او بيا وراندې فرمائى چه دې حديث لره جابر رضي الله عنه نه هم روايت کړې دې ﴿ فانتهى به الى اربعة اوساق ﴾ يعنى د جابر رضي الله عنه په روايت کښې صرف څلور وسقه مذکور دى لهذا صرف هم په دې مقدار کښې به عريه مباح وى او د دې نه په زيات کښې محظورو ممنوع، ﴿ هذا القول صحيح وقد الزمه المزنى الشافعى وهو لازم على اصله ومعناه قاله الخطابى ﴾ يعنى د امام مزنى رحمه الله تحقيق هم دا دې ([2])او هغوى د امام شافعى رحمه الله مسلک هم دا منلې دې لکه د امام شافعى رحمه الله قاعده ده آهـدا اشاره ده هغه طرف ته کوم چه د امام شافعى رحمه الله نه منقول دى ﴿ اذا صح الحديث فهو مذهبى ﴾ د امام احمد رحمه الله په نزد جواز صرف په مادون الخمسة کښې او د مالکيانو په نزد راجح قول د پنځه وسقو د جواز دې او د شوافعو رحمهم الله په نزد عدم جواز دې د حنابله په شان (من التحفة وغيره) والحديث اخرجه البخارى ومسلم والنسائى، قاله المنذرى

[1]): صحيح البخاري/البيوع ۸۳ (۲۱۹۰)، والمساقاة ۱۷ (۲۳۸۲)، صحيح مسلم/البيوع ۱٤ (۱۵٤۱)، سنن الترمذي/البيوع ٦۳ (۱۳۰۱)، سنن النسائي/البيوع ۳۳ (٤۵٤۵)، (تحفة الأشراف: ۱٤۹٤۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۳۷) (صحيح)

[2]) کوم چه د ابن المنذر دې يعنى څلور وسقه)

باب تَفْسِيرِ الْعَرَايَا

د عرايا تفسير

[۳۳٦۵] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: "الْعَرِيَّةُ الرَّجُلُ يُعْرِي النَّخْلَةَ أَوِ الرَّجُلُ يَسْتَثْنِي مِنْ مَالِهِ النَّخْلَةَ أَوِ الِاثْنَتَيْنِ، يَأْكُلُهَا، فَيَبِيعُهَا بِتَمْرٍ".

دعبد ربه بن سعيد الأنصاري نه روايت دې وئيلې ئې دې عريه داده چه يوسړې چاته دكجورې ونه يا په ټول باغ كښې يوه ونه دوه ونې د استعمال دپاره جدا كړې اوهغه داونه دو چوكجورو په بدل كښې واخلې اويا ددې عوض خرخ كړې.

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ قَالَ الْعَرِيَّةُ الرَّجُلُ يُعْرِى الرَّجُلَ النَّخْلَةَ أَوِ الرَّجُلُ يَسْتَثْنِي مِنْ مَالِهِ النَّخْلَةَ أَوِ الِاثْنَتَيْنِ يَأْكُلُهَا فَيَبِيعُهَا بِتَمْرٍ ﴾

يعنى يو سړې (صاحب نخل) دويم سړى ته وركړى ثمر د نخل بيا روستو معرى له معرى لره هغه ثمر نخل خرخوى د تمر په بدل كښې، حضرت په بذل كښې فرمائى چه دعريه دا تفسير په دې صورت كښې د احنافو د مسلك موافق دې [٢] او كه ﴿ يبيعها ﴾ معنى دا واخستلې شى چه هغه معرى له د معرى نه علاوه د بل سړى په لاس هغه خرخ كړى نو بيا به بيشكه زمونږ د مذهب خلاف وى، او دويم شكل چه كوم په دې حديث كښې تفسير عريه ذكر شوې دې يعنى ﴿ او الرجل يستثنى من ماله ﴾ د دې مطلب دا دې چه يو سړى د خپل باغ د بيع په وخت يو كرت يا دوه كرته استثناء اوكړى يعنى هغه خرخ نه كړى د خپل خوراک دپاره خو بيا روستو د هغه دواړه اونو ميوو لره د تمر په بدله كښې د هم هغه سړى په لاس خرخ كړى، د عرايا تفسير بالتفصيل په ړومبى باب كښې تير شوې دې.

[۳۳٦٦] (٣) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ عَبْدَةَ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: "الْعَرَايَا أَنْ يَهَبَ الرَّجُلُ لِلرَّجُلِ النَّخَلَاتِ، فَيَشُقُّ عَلَيْهِ أَنْ يَقُومَ عَلَيْهَا، فَيَبِيعُهَا بِمِثْلِ خَرْصِهَا".

دابو اسحٰق نه روايت دې فرمائى چه عرايادې ته وئيلې شي چه يو كس چاته ديوڅو ونو ميوه هبه كړې دخوراك وغيره دپاره) اوبيامالك ته ددغه كس راتلل او اوسيدل ګران شي اوهغه د مالك په لاس باندې د ميوې اندازه ولګئ ددې ونو اوبيائې په تازه كجوروباندې خرڅې كړې.

﴿ عن ابن اسحاق قال : العرايا ان يهب الرجل الرجل النخلات فيشق عليه ان يقوم عليها فيبيعها بمثل خرصها ﴾ په بذل كښې د دې په باره كښې ليكلې دى وهذا التفسير ايضا موافق لما فسر به ابوحنيفة آهـ غور اوكړئ په فهم كښې په مو راشى، خو د بيع نه به صورت د بيع مراد وى.

---

[١]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٩٥١) (صحيح الإسناد)

[٢]: خو د بيع د صورت نه به بيع مراد وى كما لا يخفي)

[٣]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٢٨٥) (صحيح الإسناد)

بَابٌ فِي بَيْعِ الثِّمَارِ قَبْلَ أَنْ يَبْدُوَ صَلَاحُهَا

د میوې د پخیدلو نه مخکښې دهغې د خرڅولو بیان

یعنی د اونو د میوو بیع د هغه میوو د صلاحیت ښکاره کیدو نه مخکښې کول، بدو په معنی د ښکاره والی، او د صلاح نه مراد قابلیت دانتفاع.

[۳۳۶۷](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهَا، نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُشْتَرِيَ".

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام د میوې دتیاریدو اود پخیدلو دیقین راتلونه مخکښې دخرڅولونه منع فرمائیلې ده، اغستونکې اوخرڅونکې دواړه ئې منع کړي دي.

مسئلة مترجم بها صور مختلفة مع بيان الحكم :

ځان پوهول پکار دی چه د بیع ثمار درې صورتونه دی قبل الظهور، قبل بدو الصلاح او بعد بدو الصلاح، په دې کښې د ړومبی صورت حکم دا دې چه بالاجماع جائز نه دې ځکه چه دا بیع معدوم ده میوې لا ښکاره شوې هم نه وی، صرف ګلونه (یعنی غوټۍ) ښکاره کیدل شروع شوې دی، او د دریم صورت حکم دا دې ﴿ انه يجوز بالاجماع ﴾ یعنی د قابلیت دانتفاع نه پس، او درمیانی صورت کوم چه په ترجمة الباب او حدیث الباب کښې مذکور دې یعنی بیع الثمار قبل بدو الصلاح، د هغې درې صورتونه دی بشرط الترک علی الاشجار، یعنی اخستونکې د بائع سره دا شرط ږدی چه زه به فی الحال دا میوې شوکولو سره ستا اونې نه فارغوم، دا بالاجماع ناجائز ده، او دویم صورت ئې دا دی بیع بشرط القطع، یعنی بائع دا شرط اولګولو چه د دې میوو په داسې حال کښې شوکولو سره به زما اونې فارغوی. دا بالاتفاق جائز دې، دریم صورت اطلاق او عدم تقیید یعنی چه نه د ترک شرط لګولې شوې وی او نه د قطع، بلکه بیع ئې مطلق پریخودلې وی، په دې صورت کښې د احنافو په نزد جائز ده او د جمهورو په نزد ناجائز، لهذا په حدیث الباب کښې چه دا راغلی دی ﴿ نهى عن بيع الثمار حتى يبدو صلاحها ﴾ دا زمونږ په نزد په بیع بشرط الترک باندې محمول دې، والله تعالى اعلم كذا الذكر من الشروح.

﴿ والحديث اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري ﴾

[۳۳۶۸](۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتَّى يَزْهُوَ، وَعَنِ السُّنْبُلِ حَتَّى يَبْيَضَّ، وَيَأْمَنَ الْعَاهَةَ، نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُشْتَرِيَ".

---

(۱): صحيح البخاري/الزكاة ۵۸ (۱۴۸۶)، البيوع ۸۲ (۲۱۸۳)، ۸۵ (۲۱۹۴)، ۸۷ (۲۱۹۹)، صحيح مسلم/البيوع ۱۳ (۱۵۳۴)، سنن الترمذي/البيوع ۱۵ (۱۲۲۶)، سنن النسائي/البيوع ۲۶ (۴۵۲۶)، سنن ابن ماجه/التجارات ۳۲ (۲۲۱۴)، (تحفة الأشراف: ۸۳۰۲، ۸۳۵۵)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البيوع ۸ (۱۰)، مسند احمد (۷/۲، ۸، ۱۶، ۴۶، ۵۶، ۵۹، ۶۱، ۸۰، ۱۲۳)، سنن الدارمي/البيوع ۲۱ (۲۵۹۷) (صحيح)

(۲): صحيح مسلم/البيوع ۱۳ (۱۵۳۵)، سنن الترمذي/البيوع ۱۵ (۱۲۲۷)، سنن النسائي/البيوع ۳۸ (۴۵۵۵)، (تحفة الأشراف: ۷۵۱۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۲) (صحيح)

دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام دکجورو د پخيدونه مخکښې ددې دخرڅولونه منع فرمائيلې ده اودوګي دخرڅولونه ترڅوچه پاخه شوي نه وي اوسپين شوي نه وي اوترڅو چه دافت نه محفوظي شي اوهمدارنګي خرڅونکې ئې دخرڅولونه اواخستونکې ئې داخستلونه منع کړې دې.

يعنې منع اوفرمائيله نبي کريم ﷺ د تمر د بيع نه چه ترڅو پورې دا تمر رنګدار نه شي، په کهجورو باندې رنګ راتلل سوروالي يا زيړوالي وغيره دا علامت دې ددې د صلاح (صحيح کيدو)، لهذا ددې نه مخکښې به دا نه شي خرڅولې، او دغسې منع اوفرمائيله نبي کريم ﷺ د سنبل (وګي) د بيع نه، يعنې د غنمو وغيره د وګي (بمبلو) د بيع نه، چه ترڅو پورې په دې غنمو کښې سپين والې رانه شي، او دا د آسماني آفت نه محفوظ نه شي. په دې آخرې جمله کښې اشاره ده دنهي علت طرف ته، يعنې ددې څيزونو بيع که بالکل په شروع کښې اوکړې شي نو پته نه لګي چه دا په کوم يو آسماني آفت سره ضائع شي چه په دې کښې د اخستونکې نقصان ښکاره دې، والحديث اخرجه مسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري.

[۳۳۶۹] (¹) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُمَيْرٍ، عَنْ مَوْلًى لِقُرَيْشٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْغَنَائِمِ حَتَّى تُقْسَمَ، وَعَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتَّى تُحْرَزَ مِنْ كُلِّ عَارِضٍ، وَأَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ بِغَيْرِ حِزَامٍ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام دتقسيم نه مخکښې دغنيمت د خرڅولو نه منع فرمائيلې ده اودکجورو دخرڅولونه ئې هم منع فرمائيلې ده ترڅوچه دافت نه محفوظې شي اوبغيرد کمربند نه ئې د مونځ کولونه منع فرمائيلې ده.

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْغَنَائِمِ حَتَّى تُقْسَمَ وَعَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتَّى تُحْرَزَ مِنْ كُلِّ عَارِضٍ وَأَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ بِغَيْرِ حِزَامٍ﴾

يعنې منع اوفرمائيله رسول الله ﷺ د مال غنيمت د بيع نه ترڅو چه هغه تقسيم شوې نه وي، ځکه چه د تقسيم نه پس هغه د سړي په ملکيت کښې راځي او هم دغه شان د کهجورو د بيع نه ترڅو چه هغه محفوظ نه شي د هر قسم عارض سماوي نه (عارض مثلا تيزه هوا، سيلئ يا ګلئ وغيره) او د دې نه ئې هم منع اوفرمائيله چه يو انسان مونځ کوي تهبند لره بغير د ترلو نه حزام يعنې کمر بند وغيره، مطلب دا دې چه د مانځه نه مخکښې تهبند لره ښه برابرولو سره ترل پکار دي چه د مانځه دوران هغه درست کول نه وي، د دې نه پس نور هم د دې مضمون دوه احاديث دي.

[۳۳۷۰] (²) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ خَلَّادٍ الْبَاهِلِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سَلِيمِ بْنِ حَيَّانَ، أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ مِينَاءَ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُبَاعَ الثَّمَرَةُ حَتَّى تُشْقِحَ، قِيلَ: وَمَا تُشْقِحُ؟ قَالَ: تَحْمَارُّ، وَتَصْفَارُّ، وَيُؤْكَلُ مِنْهَا".

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۴۹۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۸۷، ۴۵۸، ۴۷۲) (ضعيف الإسناد)

²): صحيح البخاري/البيوع ۸۵ (۲۱۹۶)، ۸۷ (۲۱۹۸)، ۹۳ (۲۲۰۸)، صحيح مسلم/البيوع ۱۳ (۱۵۳۶)، (تحفة الأشراف: ۲۲۵۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۱۹، ۳۶۱) (صحيح)

د سعيد بن ميناء نه روايت دې فرمائي چه دجابربن عبد الله رضي الله عنه نه مې واوريدل چه وئيل ئې نبي عليه السلام منع فرمائيلې ده دخرخولو د ميوې نه ترڅو چه شق شوې نه وي عرض اوکړې شو چه تُشقح څه شې دې؟ نوونې فرمائيل چه سره اوزيړه شوې نه وي اودخوراك قابل شوې نه وي.

[۳۳۷۱](¹) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ الْعِنَبِ حَتَّى يَسْوَدَّ، وَعَنْ بَيْعِ الْحَبِّ، حَتَّى يَشْتَدَّ".

دانس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام منع فرمائيلې ده د خرخولو دانګورونه ترڅو چه تورشوې نه وي اودخرخولو دغلې نه ئې منع فرمائيلې ده ترڅو چه پخه شوې نه وي.

[۳۳۷۲](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنِي يُونُسُ، قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا الزِّنَادِ، عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ قَبْلَ أَنْ يَبْدُوَ صَلَاحُهُ، وَمَا ذُكِرَ فِي ذَلِكَ. فَقَالَ: كَانَ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، يُحَدِّثُ عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: "كَانَ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ الثِّمَارَ، قَبْلَ أَنْ يَبْدُوَ صَلَاحُهَا، فَإِذَا جَدَّ النَّاسُ، وَحَضَرَ تَقَاضِيهِمْ، قَالَ: الْمُبْتَاعُ قَدْ أَصَابَ الثَّمَرَ الدُّمَانُ، وَأَصَابَهُ قُشَامٌ، وَأَصَابَهُ مُرَاضٌ، عَاهَاتٌ، يَحْتَجُّونَ بِهَا، فَلَمَّا كَثُرَتْ خُصُومَتُهُمْ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَالْمَشُورَةِ يُشِيرُ بِهَا فَإِمَّا لَا فَلَا تَتَبَايَعُوا الثَّمَرَةَ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهَا، لِكَثْرَةِ خُصُومَتِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ".

د يونس نه روايت دې چه دابو الزناد نه مې تپوس اوکړو چه د ميوې خرخول د پخيدلونه مخکښې څنګه دي؟ او په دې باره کښې دنبي عليه السلام ارشادات څه دی؟ هغه اووئيل چه عروه بن زبير دسهل بن ابي حثمة نه روايت کړې دې اوهغه دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت کړې دې چه فرمائيل ئې خلقوبه خپلې ميوې د پخيدونه مخکښې خرخولې ليکن کله به چه خلقو دشوکولو قصد اوکړو او ددې دوصول کولو وخت به راغې نوخريدار به وئيل چه په دې ميوې دمان يا قشام مرض راغلې دې په دې وجه باندې به اغستونکې دا غوښتل چه په قيمت کښې کمې اوکړې شي اويادا چه بالکل قيمت ورنکړې او خرڅونکې به دې ته تيارنه وو، کله چه نبي عليه السلام ته دا قسم ډيرې جګړې راغلې نوخلقوته ئې بطور مشهوره اوفرمائيله چه تاسو ميوې مه خرڅوئ ترڅو چه ددې دبهترين کيفيت معلوم شوې نه وي ځکه چه هغوی په دې سلسله کښې ډيرې جګړې او اختلافات کړې وو.

﴿ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ الثِّمَارَ قَبْلَ أَنْ يَبْدُوَ صَلَاحُهَا الخ ﴾

زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمائي چه په شروع کښې د خلقو عادت وو چه د ثمار بيع به ئې کوله قبل بدو الصلاح بيا چه به کله اخستونکو هغه ميوې شوکولې او د اخستونکو د طرف نه د ثمن تقاضا وی نو اخستونکي وائي چه په ميوو کښې فلانئ بيماری پيدا شوې ده او فلانئ بيماری پيدا شوې ده چه د هغې په وجه زمونږ ډير لوئې نقصان اوشو. دمان او قشام او مراض دا ټول عوارض او بيمارئ دی کومې چه د ميوو سره متعلق دی.

﴿ فَلَمَّا كَثُرَتْ خُصُومَتُهُمْ........ فَإِمَّا لَا فَلَا تَتَبَايَعُوا الثَّمَرَةَ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُه ﴾

¹): سنن الترمذي/البيوع ۲۱ (۱۲۲۸)، سنن ابن ماجه/التجارات ۳۲ (۲۲۱۷)، (تحفة الأشراف: ۶۱۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البيوع ۸ (۱۱)، مسند احمد (۱۱۵/۳، ۲۲۱، ۲۵۰) (صحيح)

²): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۳۷۱۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/البيوع ۸۵ (۲۱۹۲) تعليقاً (صحيح)

شرح كلام الراوي:

د حديث راوى زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمائي چه كله دا قسم خصوصيتونه او جهګړې د دې خلقو ترمنيځه ډيرې شروع شوې نو رسول الله ﷺ په طور د مشورې او خير خواهۍ دا اوفرمائيل چه که تاسونه دانه شى کيدې يعنى داچه دجهګړونه ځان بچ کړئ اوپه خپل مينځ کښې جهګړه مه کوئ نوبياتاسو ددې ميوو بيع په داسې طريقه باندې ولې کوئ يعنى قبل بدو الصلاح.

د زيد بن ثابت رضي الله عنه مقصد دا دې چه د رسول الله ﷺ د طرف نه د بيع الثمار قبل بدو صلاحها ممانعت حتما او لازما نه دې چه د هغې د وجې نه دا بيع فاسده اومنلې شى بلکه دا قسم بيع صحيح ده او نهى د رسول الله ﷺ د طرف نه د عارض خصومت (د جګړې) په بناء باندې دې ﴿ فاما لا ﴾ مطلب دا دې ﴿ اى ان لم تستطيعوا ان لا تنازعوا ﴾ لکه چه په ترجمه کښې مونږ دا ښکاره کړه.

[٣٣٧٣]()حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ، وَلَا يُبَاعُ إِلَّا بِالدِّينَارِ أَوْ بِالدِّرْهَمِ إِلَّا الْعَرَايَا".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبى عليه السلام منع فرمائيلې ده دخرڅولو ميوې نه تردې چه ددې پوخوالې اوتياريدل ښکاره شي او ميوه به نه شى خرڅولې مګر په دينار ياپه درهم سره مګر عرايا ددې نه مستثنى دې.

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنْ بَيْعِ التَّمْرِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلاَحُهُ وَلاَ يُبَاعُ إِلاَّ بالدنانير او بالدراهم إِلاَّ الْعَرَايَا ﴾

د دې آخرى جملې مطلب دا دې چه په اونو باندې د لګيدلې ميوو بيع د دراهمو او دنانيرو په عوض کښې پکار ده، يعنى د تمر مجذوذ په عوض کښې نه دى کيدل پکار، ځکه چه په دې صورت کښې به هغه بيع مزابنة شى چه هغه بالاتفاق ممنوع ده، خو د عرايا رسول الله ﷺ استثناء اوفرمائيله، دا استثناء د جمهورو په مسلک باندې استثناء متصل ده او د احنافو په نزد استثناء منقطع ده، لان العرية ليست ببيع عندهم.

والحديث اخرجه ابن ماجة مختصرا، قاله المنذرى

باب في بَيْعِ السِّنِينَ

د څو کالو پورې د ونې د ميوې خرڅول درست نه دى

بيع السنين ته بيع معاومه هم وائى، يعنى د دوه يا درې کلونو ميوه په يو کرت باندې اخستل په حديث کښې د دې ممانعت راغلې دې او دا بالاجماع ناجائز ده ﴿ لانه بيع المعدوم ﴾ بلکه پکار دا ده چه د هر فصل بيع هم په هغه کال کښې اوشى.

[1]): صحيح البخاري/المساقاة ١٦(٢٣٨٧)، سنن ابن ماجه/التجارات ٣٢ (٢٢١٦)، (تحفة الأشراف: ٢٤٥٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/البيوع ٢٦ (٤٥٢٧)، مسند احمد (٣/٣٦٠، ٣٨١، ٣٩٢) (صحيح)

[۳۳۷٤]( ) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَيَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حُمَيْدٍ الْأَعْرَجِ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَتِيقٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ [۳۳۷۳] بَيْعِ السِّنِينَ، وَوَضَعَ الْجَوَائِحَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ يَصِحَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الثُّلُثِ شَيْءٌ، وَهُوَ رَأْيُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ.

دجابر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام منع فرمائيلی ده دخو کالو پورې دونې دميوو د خرڅولو نه (مثلاً دوه پادرې کالو پورې ميوه خرڅه کړې اوخريدارئې دنقصان رسولو نه منع کړې دې.

﴿ نَهَى عَنْ بَيْعِ السِّنِينَ وَوَضَعَ الْجَوَائِحَ ﴾ يعنی امر بوضع الجوائح، د وضع معنی ده ساقط کول او معاف کول، جوائح جمع ده د جائحة يعنی هم هغه عارض او آفت سماوی کوم چه ميوو لره خراب کړی، مطلب دا دې چه د جوائح د وجې نه د ميوو اخستونکو ته کوم نقصان اورسی نو د باغ مالکانو يعنی خرڅونکو لره هغه د نقصان مقدار معاف کول پکار دی، وړاندې د څو ابوابو نه پس مستقل باب راروان دې. ﴿ باب فی وضع الجائحة ﴾ دا عفو او وضع کومه چه د حديث په حکم کښې راغلې ده د جمهورو په نزد د استحباب دپاره ده، د هغوی په نزد دا حديث معروف او د احسان د قبيلې نه دې ځکه چه په مبيع کښې کوم نقصان د مشتری د قبض کولو نه پس اوموندلې شی، هغه په ضمان د مشتری کښې وی، اصولا بائع د هغې ذمه دار نه دې، د امام احمد رحمه الله او د ډيرو محدثينو په نزد امر د وجوب دپاره دې، د هغوی په نزد معاف کول واجب دی، وړاندې يو بل روايت هم را روان دې، باب فی تفسير الجائحة، په دې باندې به کلام هم هلته راشی.

وقال المنذری: اخرج النسائی الفصلين مفترقين، واخرج مسلم وابن ماجة عن بيع السنين.

[۳۳۷۵]( ) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، وَسَعِيدِ بْنِ مِينَاءَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ الْمُعَاوَمَةِ، وَقَالَ: أَحَدُهُمَا بَيْعُ السِّنِينَ".

دجابر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام منع فرمائيلی ده د معاومه نه يعنی دخو کالو پورې دونې د ميوو دخرڅولو نه.

قوله: ﴿نهی عن معاومة ﴾ د دې نه مراد هم هغه بيع السنين ده، دا لفظ د عام نه مشتق دې چه هغه ئې باب مفاعلت ته يوړو، او هم دغه شان د سنه نه مسانهه او د شهر نه مشاهره، او د يوم نه مياومه، يعنی روزانه او د ورځې ورځې.

والحديث اخرجه مسلم بأتم منه، واخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

[۱]: صحيح مسلم/البيوع ۱۷ (۱۵۳٦)، سنن النسائی/البيوع ۲۹ (٤۵۳۵)، سنن ابن ماجه/التجارات ۳۳ (۲۲۱۸)، (تحفة الأشراف: ۲۲٦۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۰۹)، ۲۹ (٤۵۳۵) (صحيح)

[۲]: صحيح مسلم/البيوع ۱۷ (۱۵۳٦)، سنن ابن ماجه/التجارات ٤۵ (۲۲٦٦)، (تحفة الأشراف: ۲۲٦۱) (صحيح)

بَابٌ فِي بَيْعِ الْغَرَرِ
د دوکې والا بيعې بيان

[۳۳۷۶](۱) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، وَعُثْمَانُ ابْنَا أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ"، زَادَ عُثْمَانُ وَالْحَصَاةِ.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام منع فرمائيلې ده ددوی دبيعې نه اود ګيټئ غورځولو د بيعې نه.

قوله: ﴿ نَهَى عَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ – زَادَ عُثْمَانُ – وَالْحَصَاةِ ﴾

غرر (دهوکه) يعنی هغه بيع چه په هغې کښې د بائع يا مشتری نقصان او غرر وی رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې نه منع فرمائيلې ده دا د يوې قاعدې کلي په طور ده چه په هغې کښې ډير بيوع داخليدې شی، مثلا د شئ مجهول بيع، د عبد آبق بيع، او هم دغه شان د هر غير مقدور التسليم بيع لکه بيع السمک فی الماء وبيع الطير فی الهواء، او بيع الحصاة دا ده چه احد المتعاقدين يو بل ته دا اوائی چه ﴿ اذا نبذت اليک الحصاة فقد وجب البيع ﴾ يعنی بائع يا مشتری بل ته داسې اوائی چه کله زه ستا طرف ته دا کانړې در اولم نو پوهه شه چه دا بيع منعقد شوه، او يا دا چه دا کانړې د دې ګډو بيزو کنډک ته اولم کومه يوه چه پرې اولګيده د هغې بيع به منلې شی، په دې صورت کښې جهالت د مبيع موندلې شی.

والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری

[۳۳۷۷](۲) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، وَهَذَا لَفْظُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعَتَيْنِ، وَعَنْ لِبْسَتَيْنِ، أَمَّا الْبَيْعَتَانِ فَالْمُلَامَسَةُ وَالْمُنَابَذَةُ، وَأَمَّا اللِّبْسَتَانِ فَاشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ، وَأَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ كَاشِفًا عَنْ فَرْجِهِ أَوْ لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَيْءٌ".

د ابوسعيد خدری رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام منع فرمائيلې ده د دوه قسمه بيعې نه اودوه قسمه لباس استعمالولو نه، په خريد وفروخت کښې بيع ملامسه اوبيع منابذة اود دوه قسمه کپړونه مراد دادې او په دوه قسمه جامو کښې يوقسم صماء دې يعنی چه انسان پرې دسرنه دخپو پورې پټيږي اودکپړې دويم قسم دادې چه يو سړې احتباء يعنی زنګنونه اوترې اوکيني اوستر ښکاره پريږدې يا په شرمګاه باندې پرده وانه چوې.

قوله: ﴿ نَهَى عَنْ بَيْعَتَيْنِ وَعَنْ لِبْسَتَيْنِ أَمَّا الْبَيْعَتَانِ فَالْمُلَامَسَةُ وَالْمُنَابَذَةُ ﴾

---

[1]: صحيح مسلم/البيوع ۲ (۱۵۱۳)، سنن الترمذي/البيوع ۹۷ (۱۲۳۰)، سنن النسائي/البيوع ۲۵ (٤٥۲۲)، سنن ابن ماجه/التجارات ۲۳ (۲۱۹٤)، (تحفة الأشراف: ۱۳۷۹٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۵۰، ۳۷٦، ٤۳٦، ٤۳۹، ٤۹٦)، سنن الدارمي/البيوع ۲۰ (۲۵۹٦) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الصلاة ۱۰ (۳٦۷)، البيوع ٦۲ (۲۱٤٤)، ٦۳ (۲۱٤۷)، اللباس ۲۰ (۵۸۲۰)، ۲۱ (۵۸۲۲)، الاستئذان ٤۲ (٦۲۸٤)، سنن النسائي/البيوع ۲٤ (٤۵۱۹)، سنن ابن ماجه/التجارات ۱۲ (۲۱۷۰)، (تحفة الأشراف: ٤۱۵٤، ٤۵۲٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/البيوع ۱ (۱۵۱۲)، مسند احمد (٦۳، ۵۹، ٦٦، ٦۸، ۷۱، ۹۵)، دي/البيوع ۲۸ (۲٦۰٤) (صحيح)

شرح الحدیث:

یعنې رسول اللهﷺ د دوه قسمه بیع نه منع اوفرمائیله او د دوه قسمه جامو نه، د بیعتان نه مراد بیع ملامسة او منابذه ده او د دواړو تفسیر په بل روایت کښې را روان دې، او د لبستین مصداق په حدیث کښې یو خو اشتمال صماء بیان کړې شوې دې (د اشتمال صماء دوه تفسیرونه کړې شوې دی کوم چه په کتاب الصلوة کښې په ثیاب الصلوة کښې بیان شوی دی، اول دا چه یو څادر لره په خپل ځان باندې داسې د پورته نه ښکته اغوستل چه دواړه لاسونه هم د څادر نه لاندې پاتې شی چه په هغې کښې د انسان د راغورځیدو خطره وی د لاسونو په څادر کښې د دننه کیدو د وجې نه، ﴿قیل ماخوذ من الصخرة الصماء﴾ څادر داسې واچولې شی چه د هغه د اغوستلو نه پس د هغې یو سر ښې یا گس اوږې په هغه طرف باندې واچولې شی چه په هغې کښې عورت ښکاره کیږی) او د لبسه ثانیه مصداق په حدیث کښې دا مذکور دې ﴿ان یحتبی الرجل فی ثوب واحد﴾ چه په یو څادر کښې انسان په داسې انداز کینی چه په هغې سره ئې شرمگاه ښکاره شی، یعنې ښکته بدن ئې ښکاره شی.

[۳۳۷۸](1) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ زَادَ وَاشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ، أَنْ يَشْتَمِلَ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ يَضَعُ طَرَفَيِ الثَّوْبِ عَلَى عَاتِقِهِ الْأَيْسَرِ، وَيُبْرِزُ شِقَّهُ الْأَيْمَنَ، وَالْمُنَابَذَةُ أَنْ يَقُولَ: إِذَا نَبَذْتُ إِلَيْكَ هَذَا الثَّوْبَ فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ، وَالْمُلَامَسَةُ أَنْ يَمَسَّهُ بِيَدِهِ، وَلَا يَنْشُرُهُ، وَلَا يُقَلِّبُهُ، فَإِذَا مَسَّهُ وَجَبَ الْبَيْعُ.

د ابوسعید خدری نه د تیر روایت په شان روایت منقول دې، لیکن په دې کښې دا اضافه ده چه: ټول بدن په یوه کپړه کښې راونغاړي او ددې کپړې پلونه په خپل اوږه اوګسه اوږه باندې راواړوي اوبیع منابذه دې ته وائی چه خرڅونکی داسې اووائی چه دا کپړه زه کله تاته در اوغورزوم نوبیا به بیع ضروري وي اوبیع ملامسه دې ته وائی چه کوم شي دلاس نه اوخي نوبیعه به لازمي شي.

﴿وَالْمُنَابَذَةُ أَنْ يَقُولَ إِذَا نَبَذْتُ إِلَيْكَ هَذَا الثَّوْبَ فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ﴾ یعنې بائع مشتری ته داسې اوائی چه کله ستا طرف ته د کپړې دا تهان در گزار کړم نو پوهه شه چه بیع لازم شوه، یعنې بغیر د ایجاب او قبول نه، او یا دا وجه چه د ایجاب او قبول نفی مراد نه ده بلکه لزوم د بیع مراد دې بغیر د خیار رویت او خیار عیب وغیره نه، ﴿وَالْمُلَامَسَةُ أَنْ يَمَسَّهُ﴾ یعنې بیع ملامسه دا ده چه د مشتری صرف په کپړه باندې د لاس لګولو سره، بغیر د پرانستلو نه او بغیر د کتلو نه بیع لازم شی، د بیع په دې ټولو صورتونو او قسمونو کښې تراضی طرفین نشته د خیار عیب او خیار رویت وغیره امورو د نه کیدو د وجې نه او یا د فساد د وجې نه د ایجاب او قبول نه موندلې کیدل په دوه تفسیرونو کښې د یو مطابق، دا ټول بیوع د بیوع جاهلیت ځینې نه دی.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة، واخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة من حدیث ابی هریرة مختصرا ومطولا، قاله المنذری

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤١٥٤) (صحیح)

[۳۳۷۹](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَامِرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَى حَدِيثِ سُفْيَانَ، وَعَبْدِ الرَّزَّاقِ، جَمِيعًا.

د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلي ده اوبیا ئې دپورتني حدیث په شان روایت بیان کړو اودسفیان اوعبدالرزاق وغیره تولونه داسې روایات منقول دي.

[۳۳۸۰](2) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الْحَبَلَةِ".

دابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلی ده باقی دتیر روایت په شان او ددې اضافي سره چه د حبل الحبله مطلب دادې چه دکومې اوښې نه بچې پیداشوې وي اوبیاهغه بچې حامله وي او ولادت ئې شوې وي.

شرح الحديث وفيه اربعة اوجه :

په دې دواړو الفاظو کښې حاء او با دواړه مفتوح دی، حبله کښې دوه اقوال دی یو دا چه دا جمع ده د حابل لکه د ظالم جمع ظلمة، او دا هم وئیلې شوې دی چه دا مصدر دې د مطلق حیوان په معنی کښ، ځان پوهول پکار دی چه د دې حدیث شرح کښې څلور احتمالات دی اول دا چه د حبل الحبلة نه مراد جنین دې یا جنین الجنین، او په دې دوه صورتونو کښې بیا دوه احتمالات دی یو دا چه د دې مصداق مبیع ده یا د دې نه مقصود بیع الی اجل ده، یعنی مبیع خو بل یو څیز دې خو د هغې تاجیل یعنی د ثمن ادا کولو نیته په دې دواړو کښې یو مقرر کړې شی، لهذا دا څلور احتمالات به د دې حدیث په معنی کښې وی په دې احتمالاتو کښې به په یو صورت کښې بیع فاسد وی او په یو صورت کښې باطله، یعنی که دا په مبیع باندې محمول کړې شی نو چونکه هغه لا تراوسه پورې معدوم ده په دې وجه به بیع باطل وی، او که مبیع شئ آخر دې او دا د هغې دپاره اجل دې، په دې صورت کښې به فاسد وی، دا تفسیر د هغې خپله دلته په کتاب کښې موجود ده پس راوی وائی ﴿ حَبَلُ الْحَبَلَةِ أَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ بَطْنَهَا ثُمَّ تَحْمِلَ الَّتِي نُتِجَتْ ﴾ په دې تفسیر کښې دا په جنین الجنین باندې محمول کړې شوې دې، خو د دې تصریح نه ده شوې چه مراد ترې نه مبیع ده که اجل، د دې تفسیر حاصل دا دې چه یو سړې داسې اوائی چه دا حامله اوښه چه مخامخ ده د دې حمل د پیدا کیدو نه پس چه کله خپله حامله شی نو د هغه دحمل ثانی بیع کوم یا هغه نیته کوم. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي، قاله المنذري

(1): صحيح البخاري/ البيوع ٦٢ (٢١٤٤)، صحيح مسلم/ البيوع ١ (١٥١٢)، سنن النسائي/ البيوع ٢٢ (٤٥١٤)، (تحفة الأشراف: ٤٠٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/ ٩٥) (صحيح)

(2): صحيح البخاري/البيوع ٦١ (٢١٤٣)، السلم ٧ (٢٢٥٦)، مناقب الأنصار ٢٦ (٣٨٤٣)، سنن النسائي/البيوع ٦٦ (٤٦٢٩)، سنن ابن ماجه/التجارات ٢٤ (٢١٩٧)، (تحفة الأشراف: ٨٣٧٠)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/البيوع ٣ (١٥١٤)، سنن الترمذي/البيوع ١٦ (١٢٢٩)، موطا امام مالك/البيوع ٢٦ (٦٢)، مسند احمد (١/ ٥٦، ٦٣) (صحيح)

[۳۳۸۱]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، وقَالَ: وَحَبَلُ الْحَبَلَةِ أَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ بَطْنَهَا ثُمَّ تَحْمِلَ الَّتِي نُتِجَتْ.

د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی باقی روایت دتیر روایت په شان دې.

بَابٌ فِي بَيْعِ الْمُضْطَرِّ
د مجبورئ په وخت کښې د بيع بيان

د بيع المضطر مصداق او حکم:

د مضطر دوه معنې کيدې شی ځکه چه د اضطرار دوه قسمونه دی یو اضطرار لاجل الغیر یعنی د بل د زبردستئ د وجې نه مجبوروړل چه هغې ته اکراه وائی او دویمه معنی اضطرار لاجل الفقر والحاجة یعنی د خپلې غریبئ او مسکینئ د وجې محتاج او مضطر کیدل، آو د مضطر بالمعنی الثانی بیع د احنافو په نزد فاسد ده آو د جمهورو په نزد جائز مع الکراهت ده، کذا اتذکر من درس الشیخ رحمه الله تعالی، مثله فی البذل عن الخطابی، او د دې نه پس په بذل کښې د در مختار نه د بیع المضطر شرح دا کړې شوې ده ﴿هو ان یضطر الرجل الی طعام او شراب او غیرهما ولا یبیعه البائع الا باکثر من ثمنها بکثیر، وکذلک فی الشراء منه﴾ یعنی یو سړی ته د خوراک څکاک ضرورت دې مثلا او دویم سړی سره هغه څیز موجود دې خو هغه هغې لره په عام قیمت باندې ورکولو ته تیار نه دې بلکه په ډیر زیات قیمت باندې ئې ورکوی داسې قسم ته په در مختار کښې فاسد وئیلې شوې ده.

[۳۳۸۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا صَالِحُ أَبُو عَامِرٍ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: كَذَا، قَالَ مُحَمَّدٌ، حَدَّثَنَا شَيْخٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ، قَالَ: خَطَبَنَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، أَوْ قَالَ: قَالَ عَلِيٌّ: قَالَ ابْنُ عِيسَى: هَكَذَا حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، قَالَ: "سَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ عَضُوضٌ يَعَضُّ الْمُوسِرُ عَلَى مَا فِي يَدَيْهِ، وَلَمْ يُؤْمَرْ بِذَلِكَ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ سورة البقرة آية ۲۳۷ وَيُبَايِعُ الْمُضْطَرُّونَ، وَقَدْ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْمُضْطَرِّ، وَبَيْعِ الْغَرَرِ، وَبَيْعِ الثَّمَرَةِ، قَبْلَ أَنْ تُدْرِكَ".

دهشيم نه روایت دې فرمائی چه علي رضی الله عنه په خطبه کښې اوفرمائیل چه یوداسې وخت به راشي چه خلق به یوبل خوري (یعنی تکلیفونه به ورته رسوي)اوڅوك چه مالداروي هغه به خپل مال په غابښونو کښې نیولې وي اوحالانکه هغه ته داحکم نشته، الله تعالی فرمائی اې خلقو په خپل مینځ کښې په یوبل سره احسان مه هیروئ، اوداسې وخت به هم راشي چه خلق به دمجبورئ نه بیع کوي اوحالانکه نبی علیه السلام دمجبور دمال داخستلونه منع فرمائیلې ده، او دائې هم فرمائیلی دی چه ددوکې دبیع نه ځان وساتئ اومیوه دپخیدونه مخکښې مه خرڅوئ.

﴿خَطَبَنَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ سَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ عَضُوضٌ يَعَضُّ الْمُوسِرُ عَلَى مَا فِي يَدَيْهِ وَلَمْ يُؤْمَرْ بِذَلِكَ، وَيُبَايِعُ الْمُضْطَرُّونَ وَقَدْ نَهَى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم عَنْ بَيْعِ الْمُضْطَرِّ﴾

---

[1]: صحيح البخاري/مناقب الأنصار ۲۶ (۳۸۴۳)، صحيح مسلم/البيوع ۳ (۱۵۱۴)، (تحفة الأشراف: ۸۱۴۹) (صحيح)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۳۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۱۶) (ضعيف)

علي رضي الله عنه فرمائی چه نزدې ده چه په خلقو باندې داسې د بخل زمانه راشي چه د مالدار حال به دا وی چه هغه به خپل مال لره په خپلو غاښونو باندې ښه مضبوط نیسی، حال دا چه خلق د هغه مامور نه دی بلکه الله پاک خو دا فرمائی چه په یو بل باندې احسان کول مه هیروئ، یعنی مه ترک کوئ، وړاندې د دې بخل یو اړخ بیانوی چه مجبور قسم خلقو سره به بیع او شراء کولې شی حال دا چه رسول الله ﷺ د بیع المضطر نه منع فرمائیلې ده.
دلته په دې حدیث کښې هم شارحینو د مضطر معنی کښې هم هغه دوه صورتونه لیکلې دی کوم چه پورته ذکر شو.

باب في الشَّرِكَةِ

د شراکت بیان

[۳۳۸۳]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الزِّبْرِقَانِ، عَنْ أَبِي حَيَّانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَفَعَهُ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ: أَنَا ثَالِثُ الشَّرِيكَيْنِ مَا لَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ، فَإِذَا خَانَهُ خَرَجْتُ مِنْ بَيْنِهِمَا".

دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی فرمائیلی دی چه زه ددوه شریکانو په مینځ کښې دریم شریك یم ترڅو چه په دې دوه شریکانو کښې یوشریك دخپل ملګرې سره خیانت نه وی کړې، اوکله چه په دې دواړوکښې یوتن دبل سره خیانت اوکړې نوزه ددې دواړونه اوځم.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَفَعَهُ قَالَ « إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ أَنَا ثَالِثُ الشَّرِيكَيْنِ مَا لَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ فَإِذَا خَانَهُ خَرَجْتُ مِنْ بَيْنِهِمَا ﴾ حاصل د حدیث دا دې چه شرکت ډیر د خیر او برکت څیز دې په دې شرط چه په دیانت داریٔ سره وی او خیانت په هغې کښې نه وی خو چرته چه په هغې کښې لږ خیانت بیا موندلې شو نو ټول خیر او برکت ختم.

اقسام د شرکت:

د شرکت ډیر قسمونه دی، اول د دې دوه قسمونه دی، ۱ شرکت املاک او شرکت عقود، خو دلته په حدیث کښې شرکت عقود مراد دې چه د هغې څو قسمونه دی شرکت مفاوضه، شرکت عِنان، شرکت الصنائع چه هغې ته شرکة الابدان هم وائی، شرکت الوجوه چه د هغې تفاصیل، احکام او شرائط په کتابونو د فقه کښې ذکر شوې دی دغه شان یو قسم د دې مضاربت هم دې، دا شرکتونه کوم چه شریعت مشروع کړی دی که د شرع په اصولو او دیانت سره وی نو ډیر د خیر او برکت څیزونه دی لکه چه په حدیث الباب کښې دی خو نن صبا په دې زمانه کښې خلقو قسم قسم معاملات د مال د زیاتوالی او د تجارت دپاره د خپل طرف نه اختراع کړی دی کوم قسمونه د شرکت چه شریعت مشروع کړی وو هغه څوك هم نه پیژنی او نه ئې د پیژندګلو کوشش کوی، او د موجوده اختراعی طریقو چه کوم حال او انجام دې په هغې باندې ټول پوهیږی چه د هغې په وجه باندې په څنګه څنګه مصیبتونو کښې خلق اخته کیږی.

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۹۳۹) (ضعيف)

بَابٌ فِي الْمُضَارِبِ يُخَالِفُ

د مضاربت د شرائطو نه د خلاف کولو بیان

مضاربت چه د هغې ذکر اوس تیر شو د شرکت یو قسم دې چه په هغې کښې مال د یو سړی وی او دویم طرف ته عمل ﴿ ففی القدوری المضاربة عقد علی الشرکة بمال من احد الشریکین وعمل من الآخر ولا تصح المضاربة الا بالمال الذی بینا ان الشرکة تصح به، ومن شرطها ان یکون الربح بینهما مشاعا لا یستحق احدهما منه دراهم مسماة ﴾ یعنی د صحت مضاربت یو اهم شرط دا دې چه د هغې د تجارت نه حاصله شوې نفع د صاحب مال او عامل ترمینځه مشترک وی مقدار معین نه وی، خو دا ضروری نه ده چه مساوی او علی النصف دې وی، بلکه علی النصف یا علی الثلث چه څه هم وی مشترک وی په دراهم معینه د یو دپاره نه وی.

[۳۳۸۴]()[1] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ شَبِيبِ بْنِ غَرْقَدَةَ، حَدَّثَنِي الْحَيُّ، عَنْ عُرْوَةَ يَعْنِي ابْنَ أَبِي الْجَعْدِ الْبَارِقِيِّ، قَالَ: "أَعْطَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِينَارًا يَشْتَرِي بِهِ أُضْحِيَّةً أَوْ شَاةً، فَاشْتَرَى شَاتَيْنِ، فَبَاعَ إِحْدَاهُمَا بِدِينَارٍ، فَأَتَاهُ بِشَاةٍ وَدِينَارٍ، فَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ فِي بَيْعِهِ، فَكَانَ لَوِ اشْتَرَى تُرَابًا لَرَبِحَ فِيهِ".

دعروه بارقی نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ راته یودینار راکړو چه دځان دپاره پرې دقربانۍ څاروې واخلم ماپه هغه یودینار دوه څاروی واغستل یوڅاروې مې په یودینار خرڅ کړو اویوڅاروې اویودینارمې نبی ﷺ ته پیش کړو هغه راته دعا وکړه چه اې الله دده په بیع کښې برکت واچوې، چنانچه همداسې اوشول چه عروه به کله خاورې اغستلې نوپه هغې کښې به ئې هم ګټه کوله.

قوله: ﴿ عَنْ عُرْوَةَ، قَالَ أَعْطَاهُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- دِينَارًا يَشْتَرِى بِهِ أُضْحِيَةً أَوْ شَاةً ﴾الخ

عروة بن ابی الجعد البارقی صحابی ﷺ فرمائی چه یو کرت رسول الله ﷺ ماته یو دینار راکړو د قربانۍ د بیزې اخستلو دپاره، نو هغوی داسې اوکړل چه په یو دینار کښې ئې دوه بیزې واخستلې او بیا ئې په دې دواړو کښې یوه په یو دینار خرڅه کړه، او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې ئې بیزه سره د دینار نه پیش کړه، رسول الله ﷺ د هغوی د دپاره د تجارت د برکت دعا اوکړه، ﴿ فَكَانَ لَوِ اشْتَرَى تُرَابًا لَرَبِحَ فِيهِ ﴾ راوی وائی چه د رسول الله ﷺ د دعا په برکت د هغوی د تجارت حال دا وو چه که خاوره به مې هم اخستله نو په هغې کښې به هم نفع کیدله د خاورې نه مراد یا خو په طریقه د مبالغې یو بیکاره او معمولی څیز دې او یا دا په حقیقت باندې محمول دې، ځکه چه د ترابو د بعض انواع بیع کولې شی، دا صحابی د رسول الله ﷺ د طرف نه وکیل وو د شراء خو هغوی په ظاهر کښې د خپل موکل مخالفت اوکړو چه بیع او شراء دواړه ئې اوکړل، او ترجمة الباب د مضارب په باره کښې دې خو وئیلې شی چه مضارب هم د رب المال دپاره په منزله د وکیل وی.

[1]): صحيح البخاري/المناقب ٢٨ (٣٦٤٢)، سنن الترمذي/البيوع ٣٤ (١٢٥٨)، سنن ابن ماجه/الاحكام ٧ (٢٤٠٢)، (تحفة الأشراف: ٩٨٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٧٥/٤، ٣٧٦) (صحيح)

په مسئله مترجم بها کښې مذاهب ائمة :

مضارب که د رب المال مخالفت اوکړي نو خطابي د امام شافعي رحمه الله مذهب دا نقل کړې دې چه د مخالفت په صورت کښې مضارب که سامان بعینه د رب المال نه اخستلې وي نو بیا خو بیع باطل ده او که هغه بعینه په دې مال باندې سامان نه وي اخستلې بلکه په خپله ذمه ساتلو سره ئې واخستلو او بیا ئې ادا کړو هم د دې رب المال د مال نه نو په دې صورت کښې به دا سامان د مشتري دپاره وي او مضارب به په هر حال کښې ضامن وي د رب المال د مال. آهـاو څه نفع چه کیږي هغه به د مضارب وي، او خطابي د امام احمد رحمه الله مسلک دا لیکلې دې چه د مخالفت په صورت کښې به ربح د رب المال وي او نقصان به مضارب ضامن وي، او د احنافو په نزد د مخالفت په صورت کښې به ربح ټول په ټوله د مضارب دپاره وي او مضارب به ضامن هم وي، لحدیث ﴿ الغرم بالغنم ﴾ خو په مضارب باندې به د دې ربح تصدق واجب وي ځکه چه هغه کسب خبیث دې.

بیع فضولی کښې مذاهب ائمة :

د دې حدیث نه چه کومه مسئله ثابتیږي صراحة هغه د بیع فضولي ده، مسئله اختلافي ده، د احنافو او مالکیانو په نزد دا بیع موقوفا علی اجازة المالک صحیح ده خو د احنافو په نزد صرف بیع فضولي جائز ده. شراء دفضولي نه او د امام مالک رحمه الله په نزد بیع او شراء دواړه جائز دي، پس په ارشاد السالک کښې دي ﴿ البیع والشراء کلاهما جائزان موقوفا علی اجازة المالک ﴾ او د حنابله په نزد دواړه ناجائز دی کما فی زاد المستقنع: لا یجوز البیع ولا الشرآء، او د امام شافعي رحمه الله په دې کښې دوه اقوال دی، په قول قدیم کښې جائز دی، وقواه النووي، وفي الجدید لا یجوز، د امام شافعي رحمه الله استدلال د﴿ لا تبع ما لیس عندک الحدیث ﴾ نه دې، زمونږ د طرف نه د دې جواب دا دې چه د ﴿ ما لیس عندک ﴾ نه مراد شئ غیر مقبوض دې لکه عبد آنق، او بیا په دې حدیث کښې نفی مطلق د بیع نه ده بلکه د بیع بات نفی ده، د نهی تعلق د نفس بیع سره نه دې بلکه بت البیع سره دې بیع بات یعنی نافذ او غیر موقوف.

حدیث الباب د احنافو او مالکیانو دلیل دې :

او حدیث الباب دلیل دې د جواز لکه چه ظاهره ده. معلومه دې وی چه مصنف رحمه الله په دې باب کښې دوه احادیث ذکر کړل د عروة البارقي او دویم چه کوم وړاندې را روان دې د حکیم بن حزام رضي الله عنه چه د هغې مضمون دا دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته یو کرت یو دینار ورکړو د قربانئ د څاروی اخستلو دپاره نو هغوی یو بیزه په یو دینار باندې اخستلو سره هغه په دوه دیناره خرڅه کړه او بیا ئې په یو دینار باندې بله بیزه واخستله او هغه بیزه ئې سره د دیناره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضره کړه.

د شوافعو د طرف نه جواب:

دا دواړه احادیث د امام شافعي رحمه الله د قول جدید خلاف دی، د هغوی د طرف نه د رومبی حدیث خطابي جواب دا ورکړې دې چه د رومبی حدیث په سند کښې ﴿ حدثنی الحی ﴾ دې

یعنی قبیله ﴿ وهو مجهول ﴾ او د دویم حدیث په سند کښې شیخ من اهل المدینة دې وهو ایضا مجهول، حضرت سهارنپوری په بذل کښې د عروة بن ابی الجعد د حدیث متعلق د خطابی کلام چه په دې حدیث کښې حی مجهول دې دا فرمائیلې دی چه مصنف رحمه الله حدیث د عروة په دوه طریقو سره ذکر کړې دې په دویم طریق کښې ﴿ عن ابی لبید حدثنی عروة البارقی ﴾ دې، په دې سند کښې هیڅ یو راوی مجهول نشته پس امام منذری رحمه الله فرمائی ﴿ وقد اخرج الترمذی حدیث شراء الشاة من روایة ابی لبید لمازة بن زیاد عن عروة، وهو من هذا الطریق حسن آه﴾ او د دویم حدیث یعنی حکیم بن حزام رضی الله عنه په باره کښې حضرت فرمائی چه دا په یو بل طریق سره هم مروی دې په سنن ترمذی کښې ﴿ عن حبیب بن ابی ثابت عن حکیم بن حزام ﴾ خو امام ترمذی رحمه الله په دې باندې کلام کړې دې چه د حبیب بن ابی ثابت سماع زما په نزد د حکیم بن حزام رضی الله عنه نه ثابت نه ده خو مونږ وایو چه په دې عدم سماع باندې څه دلیل دې او سه پورې هیڅ دلیل نه دې قائم شوې ﴿ ولا مانع من السماع، ولو سلم فالمرسل عندنا حجة ﴾ آه او صاحب د تحفة الاخوذی لیکی : وَحَدِيثُ عُرْوَةَ الْبَارِقِيِّ هَذَا أَخْرَجَهُ أَحْمَدُ وَالْبُخَارِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَفِي إِسْنَادِهِ مَنْ عدا الْبُخَارِيِّ سَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ أَخُو حَمَّادٍ وَهُوَ مُخْتَلَفٌ فِيهِ عَنْ أَبِي لَبِيدٍ لَمَّازَةَ بْنِ زیاد وَقَدْ قِيلَ إِنَّهُ مَجْهُولٌ لَكِنَّهُ قَالَ (١) إِنَّهُ وَثَّقَهُ ابْنُ سَعْدٍ. وَقَالَ حَرْبٌ : سَمِعْت أَحْمَدَ يُثْنِي عَلَيْهِ وَقَالَ فِي التَّقْرِيبِ : إِنَّهُ نَاصِبِيٌّ أَجْلَدُ قَالَ الْمُنْذِرِيُّ وَالنَّوَوِيُّ : إِسْنَادُهُ صَحِيحٌ لِمَجِيئِهِ مِنْ وَجْهَيْنِ. وَقَدْ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ مِنْ طَرِيقِ ابْنِ عُيَيْنَةَ عَنْ شُعَيْبِ بْنِ غَرْقدة، سَمِعْت الْحَيَّ يُحَدِّثُونَ عَنْ عُرْوَةَ. قَالَ الْحَافِظُ : الصَّوَابُ أَنَّهُ مُتَّصِلٌ فِي إِسْنَادِهِ مُبْهَم الخ.... امام نووی رحمه الله دا حدیث صحیح تسلیم کړې دې لکه چه اوس پورته ذکر شو او غالبا هم په دې بنیاد باندې هغوی د امام شافعی رحمه الله په قولینو کښې قول قدیم د صحت د جواز د بیع فضولی د تقویت کړې دې کما سبق قریبا په دې مقام باندې فتح الباری هم کتل پکار دی چه نور بصیرت هم حاصل شی، امام بخاری رحمه الله دا حدیث په مناقب کښې ﴿ باب السوال المشرکین ان یریهم النبی صلی الله علیه وسلم اية فاراهم انشقاق القمر ﴾ نه پس باب بلا ترجمه کښې ذکر کړې دې. وقد مر تخريج حديث عروة البارقي وحديث حكيم بن حزام في اثناء البحث.

[٣٣٨٥](٢) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُنْذِرِ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ هُوَ أَخُو حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا الزُّبَيْرُ بْنُ الْخِرِّيتِ، عَنْ أَبِي لَبِيدٍ، حَدَّثَنِي عُرْوَةُ الْبَارِقِيُّ، بِهَذَا الْخَبَرِ وَلَفْظُهُ مُخْتَلِفٌ.

د عروه بارقي نه د تیر روایت په شان روایت نقل شوې دې صرف د الفاظو فرق دې.

[٣٣٨٦](٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْعَبْدِيُّ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي أَبُو حُصَيْنٍ، عَنْ شَيْخٍ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "بَعَثَ مَعَهُ بِدِينَارٍ يَشْتَرِي لَهُ أُضْحِيَّةً، فَاشْتَرَاهَا بِدِينَارٍ وَبَاعَهَا بِدِينَارَيْنِ، فَرَجَعَ فَاشْتَرَى لَهُ أُضْحِيَّةً بِدِينَارٍ، وَجَاءَ بِدِينَارٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَتَصَدَّقَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَدَعَا لَهُ أَنْ يُبَارَكَ لَهُ فِي تِجَارَتِهِ".

---

[1] كذا في الاصل.

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٩٨٩٨) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٤٣٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/البيوع ٣٤ (١٢٥٧) (ضعيف)

دحکیم بن حزام رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی ﷺ زه دیو دینارسره اولیږلم چه زه دهغه دپاره دقربانۍ څاروي واخلم نوپه یودیناریوڅاروي واخستو اودقربانۍ داڅاروي مي په دوه دیناره خرڅ کړو اوبیالاړم په یودیناري دقربانۍ بل څاروي واخستو اوهغه اولني دیناری بېچ کړو اود نبی ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم اوهغه دینار ئې صدقه کړو اوزماد تجارت دپاره ئې دعا اوفرمائیله.

بَاب فِي الرَّجُلِ يَتَّجِرُ فِي مَالِ الرَّجُلِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ

داجازت نه بغیر دچا په مال کښې په ښه نیت سره دتجارت کولو بیان

یعنی کوم انسان چه د بل په مال کښې تجارت کوی بغیر دهغه د اجازت نه په دې صورت کښې چه کومه ګټه حاصله شی هغه به د احنافو په نزد د سوداګر دپاره وی او هم دغه شان به تاوان هم په هغه باندې وی، خو دا کسب کسب خبیث دي لهذا د دې قسم ربح به واجب التصدق وی، چه په دې مسئله کښې د نورو امامانو د مذاهب تحقیق اوکړې شی مصنف رحمه الله د دې باب د لاندې د حدیث الغار یو حصه ذکر کړې ده کوم چه د ترجمة الباب مناسب وه باقی قصه اختصاراً حذف کړې شوه، او امام بخاری رحمه الله چه په دې حدیث باندې کوم ترجمة الباب قائم کړې دې هغه دا دې ﴿ اذا اشترى شيئا لغيره بغير اذنه فرضى ﴾ او بیا ئې د دې د لاندې هغوی حدیث الغار ټول ذکر کړې دې څوک چه پوره قصه کتل غواړی هغه دې دصحیح بخاری کتاب البیوع کښې ذکرکړې شوې باب ته رجوع اوکړی، امام بخاری رحمه الله د هغه حدیث نه د بیع فضولی او شراء فضولی جواز ثابت کړې دې.

[٣٣٨٧](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَمْزَةَ، أَخْبَرَنَا سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَكُونَ مِثْلَ صَاحِبِ فَرَقِ الْأَرُزِّ، فَلْيَكُنْ مِثْلَهُ، قَالُوا: وَمَنْ صَاحِبُ فَرَقِ الْأَرُزِّ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَذَكَرَ حَدِيثَ الْغَارِ حِينَ سَقَطَ عَلَيْهِمُ الْجَبَلُ، فَقَالَ: "كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ اذْكُرُوا أَحْسَنَ عَمَلِكُمْ، قَالَ: وَقَالَ الثَّالِثُ: اللَّهُمَّ إِنَّكَ تَعْلَمُ أَنِّي اسْتَأْجَرْتُ أَجِيرًا بِفَرَقِ أَرُزٍّ، فَلَمَّا أَمْسَيْتُ عَرَضْتُ عَلَيْهِ حَقَّهُ فَأَبَى أَنْ يَأْخُذَهُ وَذَهَبَ، فَثَمَّرْتُهُ لَهُ حَتَّى جَمَعْتُ لَهُ بَقَرًا وَرِعَاءَهَا، فَلَقِيَنِي، فَقَالَ: أَعْطِنِي حَقِّي، فَقُلْتُ: اذْهَبْ إِلَى تِلْكَ الْبَقَرِ وَرِعَائِهَا فَخُذْهَا فَذَهَبَ فَاسْتَاقَهَا".

دابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دي فرمائی چه دنبی ﷺ نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې په تاسو کښې چه څوک غواړی چه دهغه چاپه شان دې شي دچاسره چه یوه پیمانه وریژې وې نودهغه په شان دې شي، صحابه عرض وکړوچه اې دالله رسوله داکومه واقعه ده نودغاروالا واقعه ئې بیان کړه، کله چه هغوی په یوغارکښې پناه اخستلې وه اوبیولوې کاڼي دغار په خوله راپریوتواودغارخوله ئې بنده کړه په دې وخت کښې دوی ووئیل چه په مونږ کښې دې هریوخپل نیک عمل یادکړي نو په دوی کښې دریم کس ووئیل چه اې الله تا ته معلومه ده چه مایوکس په یوفرق باندې مزدور کړې وو کله چه ماښام شو نوماهغه ته خپله مزدوري ورکوله نوهغه مزدوري وانه خستله اوهمداسې لاړو ماددغه کس وریژې

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٧٧٩)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الإجارة ١٢ (٢٢٧٢)، المزارعة ١٣ (٢٣٣٣)، أحاديث الأنبياء ٥٣ (٣٤٦٥)، الأدب ٨٣ (٦١٣٣)، صحيح مسلم/الذكر ٢٧ (٢٧٤٣)، مسند احمد (١١٦٧٢)

وکړلي اودا به ډیریدلي تردې چه ماده ده دپاره څاروی اوشپونکیان جمع کړل، بیا څه وخت پس هغه مزدور زماسره ملا وشو اودخپلې مزدوری مطالبه ئې وکړه، ماورته ووئیل چه لاړ شه اوخپل څاروی اوشپونکیان دي بوځه نو هغه هغه څاروی اوشپونکیان بوتلل.

د حدیث الغار یوه حصه :

قوله: ﴿ « مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَكُونَ مِثْلَ صَاحِبِ فَرَقِ الأَرُزِّ (١) فَلْيَكُنْ مِثْلَهُ ». قَالُوا وَمَنْ صَاحِبُ فَرَقِ الأَرُزِّ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَذَكَرَ حَدِيثَ الْغَارِ ﴾

یعنی رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته اوفرمائیل د ترغیب په طور باندې. کوم انسان چه په تاسو کښې د دې خبرې طاقت لری چه هغه د فرق ارز والا سړی په شان شی نو هغه له داسې کیدل پکار دی، صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ صاحب الارز څوک وو؟ وړاندې مصنف رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم په سوال باندې حدیث الغار، یعنی د غار والو قصه بیان اوفرمائیله چه کله په هغوی باندې د غر کاڼړې د پورته نه راپریوتلې وو (چه د هغې په وجه د غار خوله بنده شوې وه، دا درې ملګری وو چرته په سفر باندې روان وو په لار کښې چه کله باران راغلو نو د هغې نه د بچ کیدو دپاره د غر په غار کښې داخل شو، چه کله د غار خوله بنده شوه نو د دې درې واړو په خپل مینځ کښې رائې دا شوه چه په مونږ کښې چه چا کوم عمل په خپل ژوند کښې د هغه په نزد ډیر ښه کړې وی د هغې په وسیله دې د الله پاک نه سوال اوکړی.

﴿ قال وقال الثالث ﴾ د ړومبی او دویم عمل په دې روایت کښې نه دې ذکر شوې په هغوی کښې دریم کس په خپلو اعمالو کښې دا عمل ذکر کړو چه اې الله ته عالم ئې چه ما په یو مزدور باندې د فرق ارز په عوض کښې کار کړې وو، او د کار نه د فراغت په وخت چه کله مابنام په هغه باندې د هغه حق پیش کړو نو هغه د هغې د اخستلو نه انکار اوکړو او بغیر د اخستلو نه لاړو، د هغه د تلو نه پس ما د هغه دې فرق ارز لره د فصل په ذریعه ښه زیات کړو تر دې چه د هغه په پیداوار او ګټې سره د هغه مزدور دپاره غویان او د هغې څرونکی پیدا شو، بیا څه موده پس هغه مزدور ما سره د ملاقات دپاره راغلو او وې وئیل چه ماته زما حق راکړه نو ما هغه غویانو او د هغې څرونکو طرف ته اشاره کولو سره هغه ته اووې چه دا ټول ستا دی، نو هغه هغه ټول بوتلل. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم بنحوه اتم منه، قاله المنذری

د دې حدیث د ترجمة الباب سره په مطابقت کښې اشکال دې څکه چه ترجمه ده ﴿ تجارة فی مال الغیر ﴾ او په دې قصه کښې دا اجیر د خپل فرق ارز په وجه د قبضه نه کیدو مالک شوې نه وو په دې وجه دا تجارت فی مال الغیر نه شو بلکه د دې مستاجر دا تثمیر التصرف فی مال نفسه وو پس څه هم چه په دې مال کښې زیات شو هغه ټول ملک د مستاجر وو خو د دې مستاجر دا ټول څیزونه اجیر ته ورکول په طور د کار خیر او تصدق وو. (بذل)

---

(١) دا د غلې او د غنمو د تللو یو لوښې دې.

باب في الشركة على غير رأس مال

په کاروبار کښې د راس المال نه علاوه د شراکت کولو بیان

د ترجمة الباب تشریح او مذاهب ائمة:

یعنی هغه شرکت چه بغیر د راس المال نه وی، ځان پوهول پکار دی چه کوم شرکت بغیر د راس المال نه وی د هغې دوه قسمونه دی شرکة فی المباحات او شرکة الصنائع والابدان د اول مثال لکه دوه سړی چه چا سره هیڅ قسم مال نه وی او خپل مینځ کښې دا معاهده اوکړی چه مونږ دواړه به ځو او په ځنګل کښې به لرګی راجمع کوو او روزانه به هغه بازار ته راوړلو سره هغه خرڅوو او په دې صورت کښې چه څه پیسې هم حاصلې شی هغه به زمونږ د دواړو مشترک وی او د دویم مثال، لکه دوه کاریګران کپړې ګنډونکی خپل مینځ کښې دا فیصله اوکړی چه مونږ دواړه یو ځائې کیدو سره چه څومره کپړه ګنډو دا ګټه به زمونږ دواړو ترمینځه مشترک وی.

اوس د دې حکم واوري د امام شافعی رحمه الله په نزد دا دواړه قسمونه ناجائز دی، د مالکیانو او حنابله په نزد دواړه جائز دی، او د احنافو په نزد شرکة الصنائع خو جائز دې خو شرکت فی المباحات نه دې جائز، د مذاهبو تحقیق هم دا دې، د علامه شوکانی رحمه الله نه په بیان د مذاهبو کښې غلطي شوې دې هغوی احناف د مالکیانو سره ذکر کړې دی، او د هغوی د کلام نه دا هم معلومیږی چه د احنافو په نزد شرکة الصنائع او شرکت فی المباحات یو څیز دې، (نبه علیه شیخ شیخنا فی البذل)

[۳۳۸۸](1) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "اشْتَرَكْتُ أَنَا، وَعَمَّارٌ، وَسَعْدٌ فِيمَا نُصِيبُ يَوْمَ بَدْرٍ، قَالَ: فَجَاءَ سَعْدٌ بِأَسِيرَيْنِ، وَلَمْ أَجِئْ أَنَا، وَعَمَّارٌ بِشَيْءٍ".

دعبدالله رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه اوعمار اوسعد په غزوه بدرکښې په حاصلیدونکی مال کښې د یوبل سره شریک شو (کوم چه لانه وو ملا وشوې) عبدالله وائی چه سعد دوه قیدان راوستل ما او عمار هیڅ رانه وستل (ځکه چه شرعا بغیردخرچ کولو دسرمایه نه شراکت درست نه دې).

قوله: ﴿عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ اشْتَرَكْتُ أَنَا وَعَمَّارٌ وَسَعْدٌ فِيمَا نُصِيبُ يَوْمَ بَدْرٍ قَالَ فَجَاءَ سَعْدٌ بِأَسِيرَيْنِ وَلَمْ أَجِئْ أَنَا وَعَمَّارٌ بِشَيْءٍ﴾

مطلب خو ښکاره دې سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه زه عمار او سعد بن ابی وقاص رضی الله عنهم مونږ په خپل مینځ کښې د شرکت معامله اوکړه په جنګ بدر کښې په حاصل شوی غنیمت باندې (یعنی څه چه به مونږ درې واړو ته په مال غنیمت کښې ملاویږی مونږ به هغه په خپل مینځ کښې تقسیم کړو. وړاندې په روایت کښې دی عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه سعد بن ابی وقاص خو په مال غنیمت کښې دوه غلامان راوستل، او ما او

(1): سنن النسائي/الأيمان والنذور ٤٧ (٣٩٦٩)، البيوع ١٠٣ (٤٧٠١)، سنن ابن ماجه/التجارات ٦٣ (٢٢٨٨)، (تحفة الأشراف: ٩٦١٦) (ضعيف)

عمار هيڅ نه وو راوړي).
په دې حديث کښې چه کوم شرکت ذکر کړې شوې دې هغه د شرکت فی المباحات د قبيلې نه دې، او دا قسم د شرکت د احنافو او شوافعو دواړو په نزد ناجائز دې، لهذا د دې حديث جواب به دا وی چه ﴿ انه فعل الصحابة رضی الله عنهم ﴾ يعنی حديث غير مرفوع دې، او بله دا چه منقطع دې لعدم سماع ابی عبيده من ابيه، کما فی البذل.

په حديث الباب باندې يو اشکال سره د جواب :

زما دلته يو اشکال پيدا کيږی چه په کتاب الجهاد کښې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه حديث تير شوې دې ﴿ نفلنی رسول الله صلی الله عليه وسلم يوم بدر سيف ابی جهل ﴾ او دلته هغوی دا فرمائی ﴿ولم اجئ انا وعمار بشئ ﴾ اوس يا خو دې حديث الباب مرجوح کړې شی د انقطاع د وجې نه، او يا دې د دې تاويل اوکړې شی چه په دې حديث کښې نفی د غنيمت عامه ده ممکنه ده چه په عام غنيمت کښې د دې دواړه حصه رسول الله صلی الله عليه وسلم نه وی مقرر کړې ځکه چه په کتاب الجهاد کښې دا خبره تيره شوې ده ﴿ بان غنائم بدر کانت لرسول الله صلی الله عليه وسلم يدفعها لمن يشاء ﴾ او د ابو جهل توره کومه چه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته ملاؤ شوې وه هغه خو په طور د نفل او حصه خاصه وه والله تعالی اعلم. والحديث اخرجه النسائی وابن ماجة، وهو منقطع فان اباعبيدة لم يسمع من ابيه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْمُزَارَعَةِ

په زميندارہ باندې د زمکې ورکولو بيان

د مزارعة ذکر په کتاب البيوع کښې :

کتاب البيوع بيانيږی هم په دې ضمن کښې مصنف رحمه الله مزارعت هم ذکر کړو ځکه چه څنګه بيع او شراء او تجارت په طرق د کسب کښې دی، هم دغه شان مزارعت هم په انواع د کسب کښې دې، امام بخاری رحمه الله خو د مختلفو پيشو ذکر او د هغې ډير ابواب په کتاب البيوع کښې ذکر کړی دی ﴿ باب ما قيل فی الصواغ، باب ذکر القين والحداد، باب الخياط، باب النساج، باب النجار ﴾ وغيره وغيره، خو هغوی ابواب الحرث والمزارعت د کتاب البيوع نه پس مستقل بيل بيان کړل.

د مزارعت اقسام سره د بيان د مذاهب ائمة :

د مزارعت مختلف صورتونه او قسمونه دی چه په هغې کښې بعض بالاتفاق ناجائز دی او بعض بالاتفاق جائز دی او بعض مختلف فيه دی، مزارعت وئيلې شی د بل چا په زمکه کښې کرونده کولو ته په کرايه باندې اخستلو سره، نو ګويا مزارعت د کراء الارض نوم شو، پس که کراء الارض بالدراهم وغيره دی نو دا په اتفاق د ائمه اربعه جائز دې، او که مزارعت بقسمة الارض دې يعنی داسې معامله کول چه د زمکې په فلانئ حصه کښې چه به کومه کرونده او پيداوار کيږی د زمکې مالک اووائی چه هغه خو به زما وی او باقی د کرونده کونکی، دا بالاتفاق ممنوع دې ځکه چه په دې کښې دهوکه ده لکه چه ظاهره ده، او

یو صورت د مزارعت دا دې چه د طعام مسمی په بدل کښې وی یعنی د زمکې مالک کرونده کونکی ته اووائی چه زه تاته دا زمکه د غلې د دومره مقدار په بدله کښې په کرایه باندې درکوم، مثلا لس بورئ د غنمو، غنم مطلق کیږدی دا دې نه وائی چه د زمکې په پیداوار کښ، دا صورت د ائمۂ ثلاثه په نزد جائز دې او طعام مسمی به په دې صورت کښې په منزله د دراهمو وی، او د امام مالک رحمه الله په دې کښې اختلاف دې، هغوی کراء الارض بطعام مسمی ته ناجائز وائی، او یو قسم د مزارعت هغه دې کوم چه بحصته من الخارج وی یعنی د زمکې په پیدوار کښې په څه حصه باندې زمکه ورکړې شی مثلا نصف یا ثلث چه څه هم خپل مینځ کښې کیخودلې شی، هم دا هغه صورت دې کوم چه مشهور او مختلف فیه دې د ائمة ترمینځه چه هغې ته په نیمکاره باندې زمکه ورکول وائی، د صاحبینو او امام احمد رحمه الله په نز دا صورت جائز دې د باقی ائمه ثلاث امام ابوحنیفه، امام مالک او امام شافعی رحمهم الله په نزد ناجائز دې. د امام ابوحنیفه او امام مالک په نزد خو مطلقا، او د امام شافعی رحمه الله په نزد لکه څنګه چه امام نووی رحمه الله فرمائی مستقلا خو ناجائز دې خو تبعا للمساقات جائز دې، زمونږ په نزد فتوی د صاحبینو په قول باندې ده یعنی په جواز باندې، خو د دې دپاره ډیر شرطونه دی کوم چه د فقه په کتابونو کښې مذکور دی پس هغې ته دې رجوع اوکړې شی.

د مساقات حکم د ائمة اربعه په نزد:

د مزارعت د قبیلې نه یوه بله معامله هم ده چه هغې ته مساقات وائی چه د هغې تعلق د باغ او اونو سره وی لکه چه د مزارعت تعلق د زمکو سره وی یعنی د باغ مالک د بل چا سره دا معامله اوکړی چه ته زمونږ د دې اونو اوبه خور او خدمت کوه، په دې کښې چه څه میوه پیدا کیږی په هغې کښې دومره حصه ستا، دا د جمهور علماء او ائمة ثلاث او صاحبینو په نزد جائز دې خو د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد مساقات هم ناجائز دې، هغوی فرمائی دا خو کراء معدوم دې یعنی میوه کوم ځائې موجود ده فی الحال چه په هغې باندې دا معامله اوکړې شی. هغوی فرمائی دا خو کراء معدوم دې یعنی میوه موجوده چرته ده فی الحال چه په هغې سره دا معامله کولې شی، جمهور وائی چه د دې معاملې تعلق د عمل سره دې څنګه چه په مضاربت کښې وی هلته هم نفع فی الحال معدوم وی پس اوس دهغه اختلافاتو حاصل دا شو چه د امام صاحب او صاحبینو په نزد مزارعت او مساقات دواړه جائز دی، او د امام صاحب رحمه الله په نزد دواړه ناجائز دی، او د امام مالک او شافعی په نزد مزارعت خو ناجائز دې او مساقات جائز دې، خو دا په ذهن کښې اوساتئ لکه چه پورته تیر شو چه د امام شافعی رحمه الله په نزد مزارعت تبعا للمساقات جائز دې. دا تفاصیل د ائمه اربعه د مذاهبو په اعتبار سره دی، د بعضو نورو علماء کرامو په دې کښې د دې نه علاوه مذاهب هم دی پس د طاؤس او ابن حزم ظاهری رحمهم الله په نزد مزارعت یعنی کراء الارض مطلقا په هیڅ شان هم جائز نه دې، هم دغه شان حافظ فرمائی

قوله: ﴿ وبالغ ربیعة فقال لایجوز کراؤها الا بالذهب او الفضة ﴾.

مونږ پورته دا ليکلي دي چه د احنافو په نزد په مزارعت کښې فتوی د صاحبينو په قول باندې ده چه د امام احمدؒ هم دا مذهب دې او امام بخاریؒ هم باب المزارعة بالشطر ونحوه قائمولو سره د ترجمة الباب د لاندې د بعض صحابه کرامو او د ډيرو تابعينو اقوال تعليقا د دې په جواز کښې نقل کړي دی.

د مزارعت د جواز حديث متفق عليه دې :

او بيا ئې روستو د ابن عمرؓ حديث مسندا د هغې په جواز کښې اوفرمائيلو چه د هغې متن دا دې ﴿ عن نافع ان عبدالله بن عمرؓ اخبره ان النبیﷺ عامل اهل خيبر بشطر ما يخرج منها من زرع وثمر الحديث ﴾ (بخاری ۲/۳۱۳)

امام ترمذیؒ هم د ټولو نه اول په باب کښې هم دا د ابن عمرؓ حديث ذکر فرمائيلې دې او بيا فرمائی ﴿ قال ابو عيسى هذا حديث حسن صحيح، والعمل على هذا عند بعض اهل العلم من اصحاب النبیﷺ وغيرهم لم يروا بالمزارعة باسا على النصف والثلث والربع وهو قول احمد واسحاق ﴾ او بيا ئې د دې نه روستو دويم مذهب د امام مالک او شافعیؒ ذکر کړو چه هغوی دا ناجائز ګڼړی يعنی په کرايه باندې زمکه ورکول او بيا ئې وړاندې دريم مذهب دا بيان کړوچه دبعض علماء کرامو په نزد کراء الارض صرف په سرو او سپينو زرو باندې جائز ده آهـ دا آخری قول لکه چه پورته د حافظ په کلام کښې تير شو د ربيعة الرائ دې دا حديث د ابن عمرؓ کوم چه د جواز دليل دې کوم ته چه امام ترمذیؒ حديث حسن صحيح وئيلې دې دا د صحاح سته روايت دې پس په تحفة الاخوذی کښې دی (اخرجه الجماعة).

د مزارعت د عدم جواز حديث او په هغې کښې اضطراب سندا او متنا :

او کوم حضرات چه مزارعت ته ناجائز وائی لکه ائمة ثلاث د هغوی دليل هغه حديث دې کوم چه امام ترمذیؒ مستقلا بل باب قائمولو سره په هغې کښې ذکر کړې دې يعنی د رافع بن خديجؓ حديث کوم چه امام ابوداؤدؒ په متعدد طرقو سره په مختلفو الفاظو سره ذکر کړې دې. د دې حديث په باره کښې امام ترمذیؒ فرمائی ﴿ وحديث رافع فيه اضطراب يروى هذا الحديث عن رافع بن خديج عن عمومته، ويروى عنه ظهير بن رافع وهو احد عمومته، وقد روى هذا الحديث عنه على روايات مختلفة اهـ﴾ يعنی په دې حديث کښې سندا هم اضطراب دې او متنا هم، او دا ټول مختلف طرق د کومو طرف ته چه امام ترمذیؒ اشاره فرمائيلې ده او تفصيلاً ئې هغه نه دی ذکر فرمائيلې دلته په ابوداؤد کښې دا ټول طرق مختلفه او روايات مختلفه په تفصيل سره ذکر شوی دی لکه چه ستاسو مخې ته په کتاب کښې موجود دی.

د رافع بن خديجؓ په حديث کښې متنا اضطراب :

په دې حديث کښې لکه چه مونږ ښکاره اووې متنا هم اختلاف دې هغه داسې چه د دې باب څلورم حديث اوګورئ چه په هغې کښې دی ﴿ قَالَ سَأَلْتُ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ بِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ فَقَالَ لاَ بَأْسَ بِهَا إِنَّمَا كَانَ النَّاسُ يُؤَاجِرُونَ...... بِمَا عَلَى الْمَاذِيَانَاتِ وَأَقْبَالِ

الْجَدَاوِلِ الخ ﴾ د دې مضمون دا دې چه رافع بن خدیج رضی الله عنه فرمائی چه په کراء الارض بالدراهم والدنانیر کښې هیڅ باک نشته، ممانعت خو د دې دې لکه څنګه چه به بعض خلقو د رسول الله ﷺ په زمانه کښې مزارعت کولو «د زمکې د تقسیم سره» چه کوم پیداوار د اوبو په لختو باندې اوشی او د نهر په نزدې حصو باندې اوشی هغه خو زمونږ او باقی د کرونده کونکی ﴿ ماذیانات ﴾ یعنی د اوبو د بهیدو ځایونه یعنی نالئ ﴿ اقبال الجداول ﴾ یعنی اوائل الجداول د دې روایت متن خو دا دې او د دې نه پس بیا په را روان باب کښې، ﴿باب فی التشدید فی ذلک ﴾ کښې په اووم حدیث کښې داسې راځی، ﴿إِنِّی لَيَتِيمٌ فِی حِجْرِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ وَحَجَجْتُ مَعَهُ فَجَاءَهُ أَخِی عِمْرَانُ بْنُ سَهْلٍ فَقَالَ أَكْرَيْنَا أَرْضَنَا فُلاَنَةَ بِمِائَتَىْ دِرْهَمٍ فَقَالَ دَعْهُ فَإِنَّ النَّبِیَّ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنْ كِرَاءِ الأَرْضِ ﴾ اوګورئ په دې کښې د کراء الارض بالدراهم والدنانیر نه هم منع کوی. لهذا ترجیح د ابن عمر رضی الله عنهما حدیث یعنی د جواز حدیث لره ده، او هم دا د ابن عباس رضی الله عنهما د روایت نه هم معلومیږی لکه چه مونږ سره د باب په رومبی حدیث کښې تیر شوې دی.

[۳۳۸۹] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: مَا كُنَّا نَرَى بِالْمُزَارَعَةِ بَأْسًا، حَتَّى سَمِعْتُ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ، يَقُولُ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهَا، فَذَكَرْتُهُ لِطَاوُسٍ، فَقَالَ: قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْهَ عَنْهَا، وَلَكِنْ قَالَ: "لأَنْ يَمْنَعَ أَحَدُكُمْ أَرْضَهُ، خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهَا خَرَاجًا مَعْلُومًا".

دابن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه مونږ به زمکه په زمیداره ورکول بدنه ګنړل تردې چه مونږه د رافع بن حبیب رضی الله عنه نه واوریدل چه نبی علیه السلام ددې نه منع فرمائیلی ده نو ما داخبره طاوس ته بیان کړه هغه اووئیل ماد ابن عباس نه اوریدلی دی چه فرمائیل ئې نبی علیه السلام ددې نه منع نه ده. فرمائیلی چه څوك خپله زمکه چاته په ذمینداره بغیر کرایه ورکړی بلکه دا ددې نه بهترده چه زمکه دکرلو دپاره په کرایه ورکړي.

قوله: ﴿ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ مَا كُنَّا نَرَى بِالْمُزَارَعَةِ بَأْسًا حَتَّى سَمِعْتُ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ يَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم نَهَى عَنْهَا، فَذَكَرْتُهُ لِطَاوُسٍ فَقَالَ قَالَ لِی ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم لَمْ يَنْهَ عَنْهَا وَلَكِنْ قَالَ « لأَنْ يَمْنَحَ أَحَدُكُمْ أَرْضَهُ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهَا خَرَاجًا مَعْلُومًا﴾ مضمون د حدیث دا دې عمر بن دینار وائی چه ما د ابن عمر رضی الله عنهما نه واوریدل هغوی به فرمائیل چه مونږ خو به په مزارعت کښې هیڅ باک نه ګڼړلو «یعنی ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم» تردې چه ما د رافع بن خدیج رضی الله عنه نه واوریدل هغوی به وئیل چه رسول الله ﷺ د دې نه منع فرمائیلې ده، عمرو بن دینار وائی چه ما د ابن عمر رضی الله عنهما دا خبره طاوس ته نقل کړه په دې باندې طاؤس اووې چه ماته زما استاد ابن عباس رضی الله عنهما دا فرمائیلې وو چه رسول الله ﷺ د مزارعت نه منع نۀ ده فرمائیلې بلکه دا ئې فرمائیلې وو چه سړې دې خپله زمکه منیحه کړی

---

[۱]: صحیح البخاري/ الحرث والمزارعة ۱۰ (۲۳۳۰)، الهبة ۳۵ (۲٦۳٤)، صحیح مسلم/البیوع ۲۱ (۱٥٤۷)، سنن النسائي/ المزارعة ۲ (۳۹۲۷، ۳۹۲۸) سنن ابن ماجه/الرهون ۷ (۲٤٥۰)، (تحفة الأشراف: ٥۷۳٥، ٣٥٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۳٤/۱، ۱۱/۲، ٤٦۳، ٤٦٥، ۱٤۲/٤) (صحیح)

يعنی هم داسې دې بغير د عوض نه د کروندې دپاره بل ته ورکړی دا زياته غوره ده د دې نه چه په دې باندې څۀ اجرت معلومه واخلی.
د دې حاصل دا شو چه رافع بن خديج کوم چه د حديث نهی عن المزارعت په باره کښې روايت کوی د دې حديث نه مقصود د رسول الله ﷺ تحريم دمزارعت لره بيانول نه دی بلکه د دې نه مقصود صرف ترغيب دې چه زمکه په خائې د کرايه ورکولو مفت ورکړې شی نو زياته غوره ده، هم دغه شان د زيد بن ثابت رضی الله عنه نه هم په حديث د رافع باندې اعتراض راځی.
اوس دې د دې نه پس په ټولو رواياتو د باب کښې غور اوکړې شی د ټولو حاصل مونږ بيان کړو.

د رافع بن خديج حديث هم په صحيحينو کښې موجود دې:

او د جمهور علماء ثلاث اتباع چا چه د رافع بن خديج رضی الله عنه په حديث باندې عمل کړې دې هغوی فرمائی چه دا حديث د سنن نه علاوه د خپلو بعضو طرقو په اعتبار سره په بخاری او مسلم کښې هم دې د دې حديث چه کوم طرق راجح وو په هم هغه طرقو سره حضرات شيخينو دا اخستلې دې او د دې په متن کښې چه پورته کوم اضطراب بيان کړې شوې دې د هغې په باره کښې محدثينو هغه طريق لره چه په هغې کښې د کراء الارض بالدراهم والدنانير نه منع راغلې ده هغه ئې ضعيف کړې دې پس په تحفة الاحوذی کښې دی:
قوله: ﴿ قال الحافظ فی الفتح واما ما رواه الترمذی من طريق مجاهد عن رافع بن خديج فی النهی عن کراء الارض ببعض خراجها او بدراهم فقد اعله النسائی بان مجاهد لم يسمعه من رافع، قال الحافظ وابوبکر بن عياش فی حفظه مقال، وقد رواه ابوعوانة وهو احفظ منه عن شيخه فيه فلم يذکر الدراهم آهـ﴾

[۳۳۹۰] (¹) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرٌ الْمَعْنَى، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمَّارٍ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ أَبِي الْوَلِيدِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ: قَالَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ: يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، أَنَا وَاللَّهِ أَعْلَمُ بِالْحَدِيثِ مِنْهُ، إِنَّمَا أَتَاهُ رَجُلَانِ، قَالَ مُسَدَّدٌ: مِنَ الْأَنْصَارِ، ثُمَّ اتَّفَقَا، قَدِ اقْتَتَلَا، ثُمَّ اتَّفَقَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ كَانَ هَذَا شَأْنَكُمْ، فَلَا تُكْرُوا الْمَزَارِعَ". زَادَ مُسَدَّدٌ، فَسَمِعَ قَوْلَهُ: "لَا تُكْرُوا الْمَزَارِعَ".

د عروه بن زبيرنه روايت دې فرمائی چه زيد بن ثابت رضی الله عنه فرمائيلی دی الله تعالی دې رافع بن خديج ګفته مغفرت اوکړې په الله مې دې قسم وې زه دهغه نه په زياتو احاديثو ښه پوهيږم، ده ته خوصرف دوه کسان راغلې دې، دمسدد په روايت کښې دې چه دا دواړه انصاريان وو، په باقی روايت کښې دواړه راويان متفق دې چه دوه کسان راغلل په خپل مينځ کښې ئې جګړه کړې وه نبی ﷺ ورته اوفرمائيل که چرې ستاسو داحال وي نوبيازمکه په کرايه باندې مه ورکوئ رافع بن خديجه صرف دومره خبره اوريدلې ده چه زمې په کرايه مه ورکوئ اوددې نه مخکښې خبره ئې نه ده اوريدلې او نقل کړې ئې ده.

¹: سنن النسائي/ المزارعة ۳ (۳۹۵۹)، سنن ابن ماجه/الرهون ۱۰ (۲۴۶۱)، (تحفة الأشراف: ۳۷۳۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۲/۵، ۱۸۷) (ضعيف)

قوله: ﴿قَالَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ أَنَا وَاللَّهِ أَعْلَمُ بِالْحَدِيثِ مِنْهُ الخ﴾

زيد بن ثابت رضي الله عنه د رافع بن خديج رضي الله عنه په روايت باندې نقد فرمائي چه هغوی د رسول الله ﷺ د حديث په مفهوم باندې پوهيدو کښې غلطي اوکړه، زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمائي چه په دې حديث کښې زه د رافع بن خديج رضي الله عنه نه زيات خبر يم اصل خبره دا ده چه دوه سړي چه هغوی په خپل مينځ کښې د مزارعت معامله کړې وه (په هغې کښې به هغوی څه ناجائزه شکل اختيار کړې وی، شرط فاسد وغيره) هغوی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه که ستاسو حال دا وی نو بيا د مزارعت معامله مه کوئ يعنی رسول الله ﷺ د مطلق مزارعت نه منع نه ده فرمائيلې بلکه داسې مزارعت چه هغه مفضی الی النزاع وی. ﴿فسمع قول لا تكروا المزارع﴾ يعنی رافع بن خديج بغير د دې نه چه په سياق او سباق کښې غور اوکړی ﴿لا تكروا المزارع﴾ د حديث صرف دا ټکړه واوريده او هم هغه روايت کوی.

[۳۳۹۱] (۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عِكْرِمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَبِيبَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ سَعْدٍ، قَالَ: "كُنَّا نُكْرِي الْأَرْضَ بِمَا عَلَى السَّوَاقِي مِنَ الزَّرْعِ، وَمَا سَعِدَ بِالْمَاءِ مِنْهَا، فَنَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ وَأَمَرَنَا أَنْ نُكْرِيَهَا بِذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ".

دسعد رضي الله عنه نه روايت دې چه مونږ به زمکه په محصول باندې ورکوله ددومره پيداوار په عوض کوم چه به دنير په غاړه ولاړ وو اوکوموته چه به اوبه پخپله ورختلې نونبی ﷺ مونږ له ددې خبرې نه منع کړو اوحکم ئې اوکړو چه زمکه په کرايه باندې د سروزرو يا دسپينوزرو په عوض ورکوئ.

[۳۳۹۲] (۲) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ. ح حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا لَيْثٌ كِلَاهُمَا، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَاللَّفْظُ لِلْأَوْزَاعِيِّ، حَدَّثَنِي حَنْظَلَةُ بْنُ قَيْسٍ الْأَنْصَارِيُّ، قَالَ: سَأَلْتُ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ بِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ؟ فَقَالَ: "لَا بَأْسَ بِهَا إِنَّمَا كَانَ النَّاسُ يُؤَاجِرُونَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا عَلَى الْمَاذِيَانَاتِ، وَأَقْبَالِ الْجَدَاوِلِ، وَأَشْيَاءَ مِنَ الزَّرْعِ، فَيَهْلِكُ هَذَا، وَيَسْلَمُ هَذَا، وَيَسْلَمُ هَذَا، وَيَهْلِكُ هَذَا، وَلَمْ يَكُنْ لِلنَّاسِ كِرَاءٌ إِلَّا هَذَا، فَلِذَلِكَ زَجَرَ عَنْهُ، فَأَمَّا شَيْءٌ مَضْمُونٌ مَعْلُومٌ فَلَا بَأْسَ بِهِ". وَحَدِيثُ إِبْرَاهِيمَ أَتَمُّ، وَقَالَ قُتَيْبَةُ: عَنْ حَنْظَلَةَ، عَنْ رَافِعٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رِوَايَةُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ حَنْظَلَةَ، نَحْوَهُ.

دحنظله بن قيس انصاري رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رافع بن خديج رضي الله عنه نه مې دسروزرو يادسپينو زرو په عوض دزمکې په کرايه ورکولو په باره کښې سوال اوکړو نوهغه راته جواب راکړو چه په دې کښې هيڅ خرج نشته دنبی ﷺ په زمانه کښې به خلقو داوبوخواته

---

(۱): سنن النسائي/ المزارعة ۲ (۳۹۲۵)، (تحفة الأشراف: ۳۸۶۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۷۸، ۱۸۲)، دي/البيوع ۷۵ (۲۶۶۰) (حسن)

(۲): صحيح البخاري/الحرث ۷ (۲۳۲۷)، ۱۳ (۲۳۳۳)، ۱۹ (۲۳۴۶)، الشروط ۷ (۲۷۲۲)، صحيح مسلم/البيوع ۱۹ (۱۵۴۷)، سنن النسائي/المزارعة ۲ (۳۹۳۰، ۳۹۳۱، ۳۹۳۲، ۳۹۳۳)، سنن ابن ماجه/الرهون ۹ (۲۴۵۸)، (تحفة الأشراف: ۳۵۵۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/كراء الأرض ۱ (۱)، مسند احمد (۳/۴۶۳، ۴/۱۴۰، ۱۴۲) (صحيح)

اودنالوخواته زمکې په کرايه ورکولي نوکله به فصل ځايه شو اوکله به بچ پاتې کيدو ددې نه علاوه په خلقو کښې د محصول رواج نه وو نوځکه نبي ﷺ ددې نه منع اوفرمائيله اوکوم شې چه محفوظ وي نوپه هغې کښې څه خرج نشته. دابراهيم روايت مکمل دې اوقتيبه عن حنظله عن رافع وئيلي دي، امام ابوداود رحمة الله عليه فرمائي ددې روايت په شان روايت يحي بن سعيد دحنظله نه هم نقل کړې دې.

[۳۳۹۳](١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ قَيْسٍ، أَنَّهُ سَأَلَ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ، عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ، فَقَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ، فَقَالَ: أَبِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ، فَقُلْتُ: أَمَّا بِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ فَلَا بَأْسَ بِهِ".

د حنظله بن قيس نه روايت دې فرمائي چه درافع بن خديج رضي الله عنه نه مې دزمکې په کرايه ورکولو په باره کښې تپوس اوکړو نوهغه اوفرمائيل نبي ﷺ ددې نه منع فرمائيلې ده (يعنې دکرلودپاره) بيا حنظله اوونيل چه درافع نه مې تپوس اوکړو که چرې دسروزرو پاسپينوزرو په عوض زمکه په کرايه ورکړې شي نوڅه حکم لرى هغه اوفرمائيل په دې کښې څه حرج نشته.

﴿عَنْ سَعْدٍ قَالَ كُنَّا نُكْرِي الْأَرْضَ بِمَا عَلَى السَّوَاقِي مِنَ الزَّرْعِ وَمَا سَعِدَ بِالْمَاءِ مِنْهَا﴾

سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه فرمائي چه مونږ به زمکه په کرايه باندې ورکوله د هغه پيدوار په بدل کښې کوم چه به د اوبو د نالو په خوا کښې کيدلو، او د زمکې په کومو حصو کښې چه به د سواقى اوبه پخپله رسيدې (يعنې مزارعت بقسمة الارض) پس رسول الله ﷺ مونږ د هغې نه منع اوفرمائيلو.

بَابٌ فِي التَّشْدِيدِ فِي ذَلِكَ

باب: زمکه په اجاره د ورکولو مما نعت

[۳۳۹٤](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ اللَّيْثِ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي اللَّيْثِ، حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ، كَانَ يُكْرِي أَرْضَهُ حَتَّى بَلَغَهُ، أَنَّ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ الْأَنْصَارِيَّ حَدَّثَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَنْهَى عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ، فَلَقِيَهُ عَبْدُ اللَّهِ، فَقَالَ: يَا ابْنَ خَدِيجٍ، مَاذَا تُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كِرَاءِ الْأَرْضِ؟ قَالَ رَافِعٌ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ: سَمِعْتُ عَمَّيَّ وَكَانَا قَدْ شَهِدَا بَدْرًا حَدِّثَانِ أَهْلَ الدَّارِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ". قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: وَاللَّهِ لَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الْأَرْضَ تُكْرَى، ثُمَّ خَشِيَ عَبْدُ اللَّهِ أَنْ يَكُونَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْدَثَ فِي ذَلِكَ شَيْئًا لَمْ يَكُنْ عَلِمَهُ، فَتَرَكَ كِرَاءَ الْأَرْضِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ أَيُّوبُ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ، وَكَثِيرُ بْنُ فَرْقَدٍ، وَمَالِكٌ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ رَافِعٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَاهُ الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ حَفْصِ بْنِ عِنَانٍ الْحَنَفِيِّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ رَافِعٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ زَيْدُ بْنُ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ أَتَى رَافِعًا، فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۵۵۳) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الحرث ۱۸ (۲۳٤۵)، صحيح مسلم/البيوع ۱۷ (۱۵٤۷)، سنن النسائي/المزارعة ۲ (۳۹۲۱)، (تحفة الأشراف: ٦۸۷۹، ۵۵۷۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/٤٦۵، ٤/۱٤۰) (صحيح)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: نَعَمْ، وَكَذَا. قَالَ عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ: عَنْ أَبِي النَّجَاشِيِّ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ، وَرَوَاهُ الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ أَبِي النَّجَاشِيِّ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، عَنْ عَمِّهِ ظُهَيْرِ بْنِ رَافِعٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو النَّجَاشِيِّ: عَطَاءُ بْنُ صُهَيْبٍ.

سالم بن عبدالله بن عمر خبر راکړې دي چه ابن عمر رضي الله عنهما به خپله زمکه په اجاره باندې ورکوله، بیا کله چه هغوی ته داخبر اورسیدو چه رافع بن خدیج انصاری رضي الله عنه حدیث بیان کړې دي چه رسول الله ﷺ به زمکه په اجاره ورکولونه منع کوله، نو عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دهغوی سره ملاؤ شو، او ورته ئې اووئیل: ابن خدیج! زمکه په اجاره باندې د ورکولو په سلسله کښې د رسول الله ﷺ نه آیا تاسو حدیث بیانوئ؟ رافع رضي الله عنه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ته اووئیل: ما دخپلو دواړو ترونو نه اوریدلی دی اوهغوی دواړه په جنګ بدر کښې شریک وو، هغوی کور والو ته حدیث بیانولو چه رسول الله ﷺ زمکه په اجاره باندې د ورکولو نه منع فرمائیلې ده، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما اووئیل: په الله قسم! ماته د رسول الله ﷺ په زمانه کښې دا پته وه چه زمکه به په اجاره باندې ورکولې شوه، بیا عبدالله رضي الله عنه ته ویره شوه چه په دغه دوران کښې رسول الله ﷺ په دې باره کښې کومه نوې خبره نه وی صادر کړې او ماته پته نه وی لګیدلې، نوهغوی زمکه په اجاره باندې ورکول پریخودل، ابوداؤد وائی چه هغه ته ایوب، عبیدالله، کثیر بن فرقد او مالک د نافع نه، هغوی د رافع رضي الله عنه نه او رافع د نبی کریم ﷺ نه روایت کړې دي. او دا اوزاعی د حفص بن عنان حنفی نه اوهغوی د نافع نه او نافع د رافع رضي الله عنه نه روایت کړې دي، رافع وائی: ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی، او دغسې دا زید بن ابی انیسه د حکم نه، هغوی دنافع نه او نافع د ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت کړې دي چه هغه رافع ته راغې اوهغه نه ئې تپوس اوکړو چه آیا تاسو د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی؟ نو هغوی آووئیل: آؤ، دغسې عکرمه بن عمار د ابونجاشی نه اوهغوی د رافع بن خدیج رضي الله عنه نه روایت کړې دي هغه وائی: ما د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی، او دا اوزاعی د ابو نجاشی نه، هغوی د رافع بن خدیج رضي الله عنه نه، رافع دخپل تره ظهیر بن رافع نه اوهغوی د نبی کریم ﷺ نه روایت کړې دي. ابوداؤد وائی: د ابونجاشی نه مراد عطاء بن صهیب دې.

قوله: ﴿أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُكْرِي أَرْضَهُ حَتَّى بَلَغَهُ أَنَّ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ الْأَنْصَارِيَّ﴾ الخ

یعنی د ابن عمر رضي الله عنهما عادت کوم چه د رسول الله ﷺ د زمانې نه د مزارعت وو تردې چه هغوی ته د رافع بن خدیج رضي الله عنه د مزارعت دا روایت اورسیدو چه رسول الله ﷺ به د دې نه منع فرمائیله د کراء الارض نه په دې باندې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د رافع بن خدیج رضي الله عنه ملاقات ته لاړو چه ته د رسول الله ﷺ نه د کراء الارض په باره کښې څه حدیث نقل کوې؟ نو هغوی جواب ورکړو چه ما د خپلو دوه ترونو نه واوریدل ﴿قیل اسم العمین : ظهیر ومظهّر وقیل ظُهیر و مُهیر﴾ کومو چه به زمونږ د کور د خلقو نه بیان کولو چه رسول الله ﷺ د کراء الارض نه منع اوفرمائیله، په دې باندې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائی قسم په الله پاک مونږ ته ښه پته ده چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به زمکه په دې طریقه په کرایه باندې ورکولې شوه ﴿ثم خشی عبدالله الخ﴾ یعنی په شروع کښې خو ابن عمر رضي الله عنهما هم داسې اوفرمائیل خو بیا ورته

روستو دا ويره پيدا شوه چه هسې نه واقعی رسول الله ﷺ په اخر کښې د دې نه منع فرمائيلې وی چه د هغې ماته خبر نه دې شوې پس هغوی مزارعت احتياطًا ترک کړو.

[٣٣٩٥](١) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ يَعْلَى بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ، قَالَ: "كُنَّا نُخَابِرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ أَنَّ بَعْضَ عُمُومَتِهِ أَتَاهُ، فَقَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَمْرٍ كَانَ لَنَا نَافِعًا، وَطَوَاعِيَةُ اللَّهِ وَرَسُولِهِ أَنْفَعُ لَنَا، وَأَنْفَعُ، قَالَ: قُلْنَا: وَمَا ذَاكَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا، أَوْ فَلْيُزْرِعْهَا أَخَاهُ، وَلَا يُكَارِيهَا بِثُلُثٍ، وَلَا بِرُبُعٍ، وَلَا بِطَعَامٍ مُسَمًّى".

د سليمان بن يسار نه روايت دې فرمائي چه رافع بن خديج ﷺ وئيلی دی چه مونږ به دنبی ﷺ په زمانه کښې زمکه په زمينداره ورکوله او اوئې وئيل چه يوځل زما يوتره راغې او وئې وئيل چه نبی ﷺ ددې معاملې نه منع فرمائيلې ده په کومه کښې چه زمونږ فائده وه ليکن دالله تعالی اودهغه درسول تابعداری کول زمونږ دپاره ډيرفائده مند عمل دې مونږ ورته عرض وکړوچه هغه نبی ﷺ اوفرمائيل دهرچاسره چه زمکه وي نويا خودې پخپله وکري او يا دې بل چاته په زميندار ه ورکړي او په برخودې ئې نه ورکوي.

﴿ وَلاَ يُكَارِيهَا بِثُلُثٍ وَلاَ بِرُبُعٍ وَلاَ بِطَعَامٍ مُسَمًّى ﴾

د امام مالک رحمه الله د مسلک تائيد:

د دې حديث نه د امام مالک رحمه الله د مسلک تائيد کيږی چه زمکې لره د طعام مسمی په بدل کښې نه دی ورکول پکار، د جمهورو د طرف نه د دې جواب دا کيدې شي چه د طعام مسمی نه مراد د غلې مقدار معين پنځه بورئ يا لس بورئ مراد نه دی بلکه د دې نه مراد هغه غله ده ﴿ ما علی السواقي والماذيانات ﴾ کوم چه بالاتفاق ممنوع دی.

[٣٣٩٦](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، قَالَ: كَتَبَ إِلَيَّ يَعْلَى بْنُ حَكِيمٍ، أَنِّي سَمِعْتُ سُلَيْمَانَ بْنَ يَسَارٍ، بِمَعْنَى إِسْنَادِ عُبَيْدِ اللَّهِ وَحَدِيثِهِ.

دايوب نه روايت دې فرمائي چه يعلی بن حکيم ماته ليکلی ووچه مادسليمان بن يسار نه اوريدلی دی په اود روايت متن اوسند ئې دعبيدالله دروايت په شان دی.

[٣٣٩٧](٣) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ ذَرٍّ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: جَاءَنَا أَبُو رَافِعٍ، مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "نَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَمْرٍ كَانَ يَرْفُقُ بِنَا وَطَاعَةُ اللَّهِ وَطَاعَةُ رَسُولِهِ أَرْفَقُ بِنَا نَهَانَا أَنْ يَزْرَعَ أَحَدُنَا إِلَّا أَرْضًا يَمْلِكُ رَقَبَتَهَا، أَوْ مَنِيحَةً يَمْنَحُهَا رَجُلٌ".

د رافع بن خديج ﷺ ځوي د خپل پلار نه روايت کوی فرمائي چه زما پلار مونږ ته دنبی ﷺ دخوانه راغې او وئې وئيل چه مونږ نبی ﷺ دهغه کارنه منع کړی يو کوم چه زمونږ دپاره

---

(١): صحيح مسلم/البيوع ١٨ (١٥٤٨)، سنن النسائي/المزارعة ٢ (٣٩٠٤، ٣٩٠٥، ٣٩٢٦)، (تحفة الأشراف: ٣٥٥٩، ١٥٥٧٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/كراء الأرض ١ (١)، مسند احمد (٤٦٤/٣، ٤٦٥، ٤٦٦) (صحيح)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٣٥٥٩، ١٥٥٧٠) (صحيح)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٠٣٣) (حسن)

اسان دي، لیکن زمونږ دپاره دهرڅه نه اسان دالله تعالی اودهغه درسول تابعداری کول دي، مونږ نبی ﷺ ددې نه منع کړی یو چه په مونږ کښې دی یوکس دچاز مکه وکړي مګرهله به ئې کړي چه مالك په خپله وي اویائې بل څوك ده ته دهدئې په طور ورکړي.

[۳۳۹۸](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، أَنَّ أُسَيْدَ بْنَ ظُهَيْرٍ، قَالَ: جَاءَنَا رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "يَنْهَاكُمْ عَنْ أَمْرٍ كَانَ لَكُمْ نَافِعًا، وَطَاعَةُ اللَّهِ وَطَاعَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْفَعُ لَكُمْ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَاكُمْ عَنِ الْحَقْلِ، وَقَالَ: مَنِ اسْتَغْنَى عَنْ أَرْضِهِ، فَلْيَمْنَحْهَا أَخَاهُ أَوْ لِيَدَعْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَكَذَا رَوَاهُ شُعْبَةُ، وَمُفَضَّلُ بْنُ مُهَلْهَلٍ، عَنْ مَنْصُورٍ، قَالَ شُعْبَةُ: أُسَيْدٌ ابْنُ أَخِي رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ.

داسید بن ظهیرنه روایت دې فرمائی چه رافع بن خدیج مونږته راغي اووئې وئیل چه نبی ﷺ تاسودیوکارنه منع کړي يئ په کوم کښې چه ستاسو دپاره څه قدرې فائده ده لیکن دالله تعالی اودهغه درسول تابعداری کول ستاسو دپاره عظیمه فائده ده یقینانبی ﷺ تاسودحقل (زمکه په زمیداره ورکولو نه منع کړي يئ اوفر مائیلي ئې دي څوك چه په تاسوکښې خپلې زمکې ته ضرورت نه لري نوخپل مسلمان رورته دي هدیه کړي (عاریتایاهبتا). امام ابوداؤد فرمائی چه دا روایت شعبه اومفضل بن مهلهل هم د منصور نه نقل کړي دي، اوشعبه وئیلي دی اسید درافع بن خدیج وراره دي.

[۳۳۹۹](²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ الْخَطْمِيُّ، قَالَ: بَعَثَنِي عَمِّي أَنَا، وَغُلَامًا لَهُ إِلَى سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، قَالَ: فَقُلْنَا لَهُ شَيْءٌ بَلَغَنَا عَنْكَ فِي الْمُزَارَعَةِ، قَالَ: كَانَ ابْنُ عُمَرَ لَا يَرَى بِهَا بَأْسًا حَتَّى بَلَغَهُ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ حَدِيثٌ، فَأَتَاهُ فَأَخْبَرَهُ رَافِعٌ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَتَى بَنِي حَارِثَةَ، فَرَأَى زَرْعًا فِي أَرْضِ ظُهَيْرٍ، فَقَالَ: "مَا أَحْسَنَ زَرْعَ ظُهَيْرٍ، قَالُوا: لَيْسَ لِظُهَيْرٍ، قَالَ: أَلَيْسَ أَرْضُ ظُهَيْرٍ؟ قَالُوا: بَلَى، وَلَكِنَّهُ زَرْعُ فُلَانٍ، قَالَ: فَخُذُوا زَرْعَكُمْ، وَرُدُّوا عَلَيْهِ النَّفَقَةَ"، قَالَ رَافِعٌ: فَأَخَذْنَا زَرْعَنَا، وَرَدَدْنَا إِلَيْهِ النَّفَقَةَ، قَالَ سَعِيدٌ: أَفْقِرْ أَخَاكَ أَوْ أَكْرِهِ بِالدَّرَاهِمِ".

دابوجعفرخطمی نه روایت دې فرمائی چه زه خپل تره اویوئي راسره خپل غلام سعید بن المسیب نه ولیږلومونږ ورته ووئیل چه دمزارعت په حقله مونږ ته ستادخوانه خبر را کړې شوې دې هغه ووئیل چه ابن عمر ﷺ به ددې څه باك نه ګڼړلو، تردې درافع بن خدیج دطرف نه ورته روایت ورسیدونوهغه رافع بن خدیج ته ورغي رافع ورته خبر ورکړوچه نبی ﷺ بنی حارثه ته لاړو اود ظهیر په زمکه کښې ئې فصل اولیدونو اوئې فرمائیل دظهیرفصل څومره ښکلی دې، صحابه کرامو ورته ووئیل دا دظهیر نه دي، نبی ﷺ اوفرمائیل ایاداد ظهیرزمکه نه ده هغوی ووئیل ولي نه لیکن فلانی ته ئې په زمیداره ورکړې ده نبی علیه السلام اوفرمائیل خپل فصل واخلئ اوهغه ته مصرف واپس کړئ رافع وائی چه مونږ خپل فصل واخستواوهغه ته مومصرف واپس کړو. دسعیدپه روایت کښې دی چه اوس دوه صورتونه دي یا خو دخپل ورور محتاجي رفع کړئ یعنی دعاریت نه بغیر ورته زمکه

¹): سنن النسائي/المزارعة ۲ (۳۸۹٤)، سنن ابن ماجه/الرهون ۱۰ (۲٤٦۰)، (تحفة الأشراف: ۳۵٤۹)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/كراء الأرض ۱ (۱)، مسند احمد (۳/٤٦٤، ٤٦۵، ٤٦٦) (صحيح)
²): سنن النسائي/المزارعة ۲ (۳۹۲۰)، (تحفة الأشراف: ۳۵۵۸) (صحيح الإسناد)

ورکړئ اوکله چه زمکه فارغه شي نوواپس ئې واخلئ اويائي ورته ددراهموپه عوض په کرايه ورکړئ.

قوله: ﴿ قَالَ سَعِيدٌ أَفْقِرْ أَخَاكَ أَوْ أَكْرِهِ بِالدَّرَاهِمِ ﴾ دا د اكره الاكراء نه ماخوذ دې، په كرايه باندې وركول، سعيد بن المسيب رحمه الله فرمائي چه خپل رور ته دې زمكه هم داسې ويړيا وركړي يا د دراهمو په بدل كښې، يعنې په نيمه دې نه وركوي.

[٣٤٠٠](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا طَارِقُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ، وَقَالَ: إِنَّمَا يَزْرَعُ ثَلَاثَةٌ رَجُلٌ لَهُ أَرْضٌ فَهُوَ يَزْرَعُهَا، وَرَجُلٌ مُنِحَ أَرْضًا فَهُوَ يَزْرَعُ مَا مُنِحَ، وَرَجُلٌ اسْتَكْرَى أَرْضًا بِذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ".

د رافع بن خديج نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ منع فرمائيلې ده د محاقلې اومزابنې نه، اوونيلي ئې دي چه زراعت په درې قسمه وي يوخودهغه كس زراعت دي دچاچه ذاتي زمكه وي بل هغه كس دي چاچه دبل نه سوالي زمكه اخستلې وي اوهغه په دې كښې مزارعت كوي، اوبل هغه كس دي چاچه په سپينويا سرو زرو زمكه په كرايه اخستلې وي.

قوله: ﴿ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ ﴾ محاقلة وائي بيع الزرع بالحنطة ته يعنې د ولاړ فصل بدلول د هغې اندازه لګولو سره په تيار فصل باندې، يا د دې نه مراد بيع الزرع په وړو كښې صلاحيت ته د رسيدو نه مخكښې اوئيلي شوې دي چه د دې نه مراد مزارعت بالثلث ونحوه دې.

[٣٤٠١](٢) قَالَ أَبُو دَاوُد: قَرَأْتُ عَلَى سَعِيدِ بْنِ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيِّ، قُلْتُ لَهُ: حَدَّثَكُمُ ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سَعِيدٍ أَبِي شُجَاعٍ، حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ سَهْلِ بْنِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: "إِنِّي لَيَتِيمٌ فِي حِجْرِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ وَحَجَجْتُ مَعَهُ فَجَاءَهُ أَخِي عِمْرَانُ بْنُ سَهْلٍ، فَقَالَ: أَكْرَيْنَا أَرْضَنَا فُلَانَةَ بِمِائَتَيْ دِرْهَمٍ، فَقَالَ: دَعْهُ، فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ".

دعثمان بن سهل بن رافع بن خديج نه روايت دې فرمائي چه زه يتيم وم اود رافع بن خديج په پرورش كښې وم اودهغه سره حج ته تلې وم نوهغه ته دعمران بن سهل ورور راغي عرض ئې وكړوچه مونږ فلانئ زمكه په كرايه وركړه په دوه سوه درهمه هغه ورته ووئيل چه داپريږده يقينا نبي ﷺ منع فرمائيلې ده دزمكې په كرايه وركولو نه.

[٣٤٠٢](٣) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا بُكَيْرٌ يَعْنِي ابْنَ عَامِرٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي نُعْمٍ، حَدَّثَنِي رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ، أَنَّهُ زَرَعَ أَرْضًا، "فَمَرَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَسْقِيهَا، فَسَأَلَهُ، لِمَنِ الزَّرْعُ، وَلِمَنِ الْأَرْضُ؟ فَقَالَ: زَرْعِي بِبَذْرِي، وَعَمَلِي لِي الشَّطْرُ، وَلِبَنِي فُلَانٍ الشَّطْرُ، فَقَالَ: أَرْبَيْتُمَا، فَرُدَّ الْأَرْضَ عَلَى أَهْلِهَا وَخُذْ نَفَقَتَكَ".

(١): سنن النسائي/ المزارعة ٢ (٣٩٢١)، التجارات ٥٤ (٢٦٦٧)، سنن ابن ماجه/الرهون ٧ (٢٤٤٩)، (تحفة الأشراف: ٣٥٥٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ كراء الأرض ١ (١) مسند احمد (٣/٤٦٤، ٤٦٥، ٤٦٦) (صحيح)

(٢): سنن النسائي/المزارعة ٣ (٣٩٥٨)، (تحفة الأشراف: ٣٥٦٩) (شاذ)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٥٦٨) (ضعيف الإسناد)

درافع بن خدیج نه روایت دې فرمائی چه مایوه زمکه کرلې وه اونبی ﷺ په دې باندې تیریدو اوما اوبه کوله نبی ﷺ تپوس وکړودافصل دچا دې؟ او زمکه دچاده؟ ما ووئیل فصل زمادې او تخم او محنت هم زما دې خونیم پیداوار به زما وی اونیم به د زمکې دمالك وی نبی ﷺ اوفرمائیل تاسو ربا کړې ده (یعنی عقد ناجائزدې) زمکه مالك ته واپس کړه اوخپله خرچه ورنه واخله.

باب فِي زَرْعِ الْأَرْضِ بِغَيْرِ إِذْنِ صَاحِبِهَا

[۳۴۰۳](١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ زَرَعَ فِي أَرْضِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ، فَلَيْسَ لَهُ مِنَ الزَّرْعِ شَيْءٌ وَلَهُ نَفَقَتُهُ".

درافع بن خدیج نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چاچه دچازمکه بغیر اجازته وکرله نوادې زمکې په فصل کښې دده هیڅ حصه نشته اودده دپاره دده خرچه ده.

﴿ مَنْ زَرَعَ فِي أَرْضِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ فَلَيْسَ لَهُ مِنَ الزَّرْعِ شَيْءٌ وَلَهُ نَفَقَتُهُ ﴾ یعنی کوم سړې چه د بل په زمکه کښې بغیر د هغه د اجازت نه کرونده اوکړی نو د کرونده کونکی دپاره په هغه پټی کښې هیڅ نشته، یعنی ټول فصل به د زمکې د مالک وی او د کرونده کونکی دپاره به هغه وی کوم چه د هغه محنت او خرچه شوې ده.

دا حدیث د جمهورو د مسلک خلاف دې ځکه چه د دې حدیث نه خو دا معلومیږی چه په داسې صورت کښې به فصل د پټی د مالک دپاره وی او د مزارع دپاره به مطلقا نه وی حال دا چه د جمهور فقهاء کرامو مسلک دا دې ﴿ الزرع لصاحب البذر مطلقا وللآخر كراء الارض او اجر الخدمة ﴾ یعنی په دې صورت کښې به فصل د هغه سړی دپاره وی د چا چه تخم وی که هغه د زمکې د مالک وی یا د فصل د خاوند، او د بل دپاره به که هغه د زمکې مالک وی نو کراء الارض وی او که کاشتکار وی نو د هغه دپاره به د محنت مزدورئ اجر وی، خو ظاهر دا ده چه کله بغیر د مالک د اجازت نه کرونده کوی نو تخم به هغه کرونده کونکې د خپل طرف نه اچوی او په داسې صورت کښې د فقهاء کرامو فیصله دا ده چه فصل به د کرونده کونکی دپاره وی حال دا چه په دې حدیث کښې دا دی چه د زمکې د مالک دپاره به وی. د دې محدثانه جواب خو دا دې چه دا حدیث د محدثینو په نزد غیر ثابت دې كما قال الخطابی، او یا دې بیا دا تاویل اوکړې شی چه په حدیث کښې چه کوم حکم مذکور دې په هغه صورت کښې دې چه کله تخم هم د زمکې د مالک وی، یعنی حدیث عام نه دې بلکه په یو خاص صورت باندې محمول دې. والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجة، قاله المنذری

---

١): سنن الترمذي/الأحكام ٢٩ (١٣٦٦)، سنن ابن ماجه/الرهون ١٣ (٢٤٦٦)، (تحفة الأشراف: ٣٥٧٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٦٥، ٤/١٤١) (صحيح)

بَابٌ فِي الْمُخَابَرَةِ

د مخابرې (زمکه په حصه د ورکولو) بیان

[۳۴۰۴](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَنَّ حَمَّادًا، وَعَبْدَ الْوَارِثِ حَدَّثَاهُمْ كُلُّهُمْ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، قَالَ: عَنْ حَمَّادٍ، وَسَعِيدِ بْنِ مِينَاءَ، ثُمَّ اتَّفَقُوا، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ، وَالْمُزَابَنَةِ، وَالْمُخَابَرَةِ، وَالْمُعَاوَمَةِ"، قَالَ: عَنْ حَمَّادٍ، وَقَالَ أَحَدُهُمَا: وَالْمُعَاوَمَةِ، وَقَالَ الْآخَرُ: بَيْعُ السِّنِينَ، ثُمَّ اتَّفَقُوا، وَعَنِ الثُّنْيَا وَرَخَّصَ فِي الْعَرَايَا.

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده دولار فصل دخروخولونه اودخرڅولو دمیوونه په ونوکښې اودمخابرې یعنی په برخه او دبیع معاومه نه (دخوکالو دپاره خرڅولو ته معاومه وئیلې شي، یعنی دائنده راروانو فصلونو خرڅول معاومه ده او دانا جائزدي). دخوکالو پورې، او داستثناء کولونه، اوددینه یو مقدار وښکل، او اجازت ئې ورکړې دې دعرایا (کوم چه پورته په مفصل طورسره ذکر شول).

﴿نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَالْمُخَابَرَةِ.... وَعَنِ الثُّنْيَا﴾

د مزابنه معنی په مستقل باب کښې تیره شوې ده او د محاقله معنی اوس تیره شوه، د مخابره نه مراد هم هغه مزارعت او په نیمه باندې زمکه ورکول دی، دا د لفظ خیبر نه جوړ دې. او وئیلې شوې دی چه په مخابره او مزارعت کښې فرق دا دې چه په مزارعت کښې بذر د مالک ارض د طرف نه وی په خلاف د مخابره چه په هغې کښې د زمیندار د طرف نه وی وقیل غیر ذلک.

[۳۴۰۵](٢) بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُزَابَنَةِ، وَالْمُحَاقَلَةِ، وَعَنِ الثُّنْيَا إِلَّا أَنْ يُعْلَمَ".

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده دخرڅولودمیوونه په ونو کښې، اود ولاړفصل دخروخولونه اود استثناء کولونه، مګر کله چه ددې مقدار معلوم وي.

﴿ وعن الثنيا ﴾ ثنیا په معنی د استثناء او مراد د دې نه استثناء مجهول ده چه په بیع وغیره کښې استثناء مجهول مضر او ناجائز ده هم په دې وجه وړاندې په دویم روایت کښې راځی ﴿ الا ان يعلم ﴾ یعنی که معلوم وی نو هیڅ حرج او باک نشته لکه چه څوک د میوو د بیع په وخت کښې د خپل باغ معامله کولو په وخت داسې اوائی ﴿ مګر پنځه اونې ﴾ او تعیین ئې اونکړی چه کومې پنځه اونې یا داسې اوائی چه څو اونې او دا استثناء مجهول ده بیع به فاسده شی.

---

١): صحيح مسلم/البيوع ١٦ (١٥٣٦)، سنن الترمذي/البيوع ٥٥ (١٢٩٠)، ٧٢ (١٣١٣)، سنن النسائي/الأيمان ٤٥ (٣٨٨٦)، البيوع ٧٢ (٤٦٣٨)، سنن ابن ماجه/التجارات ٥٤ (٢٢٦٦)، (تحفة الأشراف: ٢٦٦٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المساقاة ١٧ (٢٣٨٠)، مسند احمد (٣١٣/٣، ٣٥٦، ٣٦٠، ٣٦٤، ٣٦، ٣٩٢) (صحيح)

٢): سنن الترمذي/ البيوع ٥٥ (١٢٩٠)، سنن النسائي/ المزارعة ٢ (٣٩١١)، (تحفة الأشراف: ٢٤٩٥) (صحيح)

[٣٤٠٦](١) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ رَجَاءٍ يَعْنِي الْمَكِّيَّ، قَالَ ابْنُ خُثَيْمٍ حَدَّثَنِي، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ لَمْ يَذَرِ الْمُخَابَرَةَ، فَلْيَأْذَنْ بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دنبي ﷺ نه مې اوريدلي وو چه فرمائيل ئې چاچه مخابره پرې نخوده نودې دې خبرشي دالله اودرسول په جنګ باندې دده سره.

﴿مَنْ لَمْ يَذَرِ الْمُخَابَرَةَ فَلْيَأْذَنْ بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ﴾ يعنې كوم انسان چه د مخابره پريخودلو دپاره تيار نه وى او هغه دومره جرى دې نو هغه له پكار دى چه اعلان اوكړى الله او د هغه رسول ﷺ سره د جنګ، د وعيد په طور وئيلې شى چه يو قدم دې نور هم وړاندې شى، ﴿كما فى قوله تعالى : فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ﴾ يعنې كه تاسو نه پريږدئ نو تيار شئ د جنګ دپاره الله او د هغه رسول ﷺ سره، او صاحب د عون المعبود دا په صيغه د مجهول ضبط كړې دې ﴿اى ليخبر وبالفارسية﴾ آگاه كرده شود. يعنې داسې سړې دې خبر كړې شى د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ د طرف نه د جنګ دپاره، يعنې هغه د الله پاک او د هغه رسول ﷺ سره جنګ كوى، يا دا چه اوس به هغه سره د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ د طرف نه جنګ كيږى، والله تعالى اعلم، او په بذل كښې ليكلې دى چه مخابره چونكه عقد فاسد دې كوم چه د ربا په حكم كښې دې او الله پاک د ربا په نه ترک كولو باندې په قرآن كريم كښې دا وعيد فرمائيلې دې ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ، فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ﴾ لهذا مخابره نه پريخودنكې هم د دې وعيد مستحق دې.

[٣٤٠٧](٢) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ الْحَجَّاجِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُخَابَرَةِ، قُلْتُ: وَمَا الْمُخَابَرَةُ؟ قَالَ: أَنْ تَأْخُذَ الْأَرْضَ بِنِصْفٍ، أَوْ ثُلُثٍ، أَوْ رُبْعٍ".

دزيد بن ثابت نه روايت دې فرمائي چه نبى ﷺ منع فرمائيلې ده د مخابرې نه يعنې د زمكې دحاصل نه دريمه څلورمه برخه اخستل.

بَابٌ فِي الْمُسَاقَاةِ

د مساقاة بيان (باغ په حصه وركول)

[٣٤٠٨](٣) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "عَامَلَ أَهْلَ خَيْبَرَ بِشَطْرِ مَا يَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٍ أَوْ زَرْعٍ".

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٧٧٥) (ضعيف)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٦٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٧/٥) (صحيح)

(٣): صحيح البخاري/الحرث ٨ (٢٣٢٩)، صحيح مسلم/المساقاة ١ (١٥٥١)، سنن الترمذي/الأحكام ٤١ (١٣٨٣)، سنن ابن ماجه/الرهون ١٤ (٢٤٦٧)، (تحفة الأشراف: ٨١٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧/٢، ٢٢، ٣٧)، سنن الدارمي/البيوع ٧١ (٢٦٥٦) (صحيح)

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دي فرمائي چه نبی علیه السلام داهل خیبر والاسره دهغوی دزمکې په نیم پیداوار یا پوره پیداوار باندې معامله کړې وه.

قوله: ﴿ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- عَامَلَ أَهْلَ خَيْبَرَ بِشَطْرِ مَا يَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٍ أَوْ زَرْعٍ ﴾

ابن عمر رضی الله عنهما چونکه خپله د مزارعت قائل وو لکه چه په تیر باب کښې ذکر شوه او هم دغه شان هغه د مساقات د جواز هم قائل وو لکه چه ـــــ هغوی په دې حدیث مرفوع کښې روایت کوی، په دې حدیث کښې د مزارعت او مساقات دواړو ذکر دې.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم معامله د خیبر د یهودو سره د مزارعت وه که د خراج؟

د حضرت گنگوهی رحمه الله تقریر په الکوکب الدری کښې ﴿ باب ما جاء فی المزارعة ﴾ کښې دا لیکلې شوې دي چه اکثر اراضی د خیبر رسول الله صلی الله علیه وسلم عنوة فتح کړې وې، او بیا ئې هم دغه شان زمکې پس د اخراج الخمس نه په غانمین کښې تقسیم کړې وې (چه دهغې صحابه کرام رضی الله عنهم مالکان شوی وو) خو بیا داسې اوشوه چه یهود ئې د عمل دپاره هم هلته برقرار اوساتل پس دا معامله د مزارعت شوه او کومې زمکې د خیبر چه صلحا فتح شوې وې (هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځائې د دې چه صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې ئې تقسیم کړې) گویا یهودو ته هبه کړې وې (د هغه وخت دپاره) او په هغې باندې ئې خراج مقاسمت [1] مقرر فرمائیلې وو خو د امام ابوحنیفه رحمه الله د رائې استقرار په دې باندې اوشو چه دا ټوله معامله د خراج مقاسمت وه په دې کښې صاحبینو د امام صاحب رحمه الله مخالفت اوکړو او هغوی په دې باره کښې تفصیل ثابت کړو (یعنی دا چه د بعض زمکو معامله د یهودو سره په طور د مزارعت وه او د بعضو په طریق د خراج مقاسمت) بیا حضرت فرمائی او صحیح هم دا تفصیل دې کوم چه صاحبینو اختیار کړې دې (اوس پاتې شوه دا چه په بعض روایاتو کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مزارعت نه نهی ولې اوفرمائیله د دې په باره کښې حضرت فرمائی چه) په دې احادیثو کښې د مزارعت نه دا نهی د بعض شروط فاسده د اقتران د وجې نه ده او یا نهی تنزیهی ده د مهاجرینو د افلاس د وجې نه په هغه وخت کښې آه د حضرت د دې لیکلو حاصل دا دې چه صاحبین کوم چه د مزارعت قائل دی د هغوی استدلال د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یهودو سره په معامله باندې دې، ځکه چه د صاحبینو په تحقیق کښې دا معامله د مزارعت وه لهذا دلیل د جواز شو، او امام صاحب کوم چه د مزارعت قائل نه دې هغوی دا د یهودو معامله په خراج باندې محمول کړې د نه په مزارعت باندې.

[٣٤٠٩] ([2]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ اللَّيْثِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ غَنَجٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "دَفَعَ إِلَى يَهُودِ خَيْبَرَ نَخْلَ خَيْبَرَ، وَأَرْضَهَا عَلَى أَنْ يَعْتَمِلُوهَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ، وَأَنَّ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَطْرَ ثَمَرَتِهَا".

[1]) ځکه چه کومه ارض مفتوحه بغیر د تقسیم نه په کفارو باندې پریخودلې شی هغه خراجی وی، کما تقدم في كتاب الخراج في بيان انواع الاراضي فتذكر)

[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٨٤٢٤) (صحيح)

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام خيبر والاته دهغوی ونې او زمکې په دې شرط واپس کړې وی چه دوی به دازمې ابادوی او په ټول پيداوارکښې به نيم پيداوارنبی عليه السلام ته ورکوي.

[۳۴۱۰]([1]) حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ مُحَمَّدٍ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ بُرْقَانَ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "افْتَتَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ، وَاشْتَرَطَ أَنَّ لَهُ الْأَرْضَ وَكُلَّ صَفْرَاءَ وَبَيْضَاءَ"، قَالَ: أَهْلُ خَيْبَرَ، نَحْنُ أَعْلَمُ بِالْأَرْضِ مِنْكُمْ فَأَعْطِنَاهَا عَلَى أَنَّ لَكُمْ نِصْفَ الثَّمَرَةِ وَلَنَا نِصْفٌ، فَزَعَمَ أَنَّهُ أَعْطَاهُمْ عَلَى ذَلِكَ، فَلَمَّا كَانَ حِينَ يُصْرَمُ النَّخْلُ بَعَثَ إِلَيْهِمْ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ رَوَاحَةَ، فَحَزَرَ عَلَيْهِمُ النَّخْلَ وَهُوَ الَّذِي يُسَمِّيهِ أَهْلُ الْمَدِينَةِ الْخَرْصَ، فَقَالَ: فِي ذِهْ كَذَا وَكَذَا، قَالُوا: أَكْثَرْتَ عَلَيْنَا يَا ابْنَ رَوَاحَةَ، فَقَالَ: فَأَنَا أَلِي حَزْرَ النَّخْلِ، وَأُعْطِيكُمْ نِصْفَ الَّذِي قُلْتُ، قَالُوا: هَذَا الْحَقُّ وَبِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ قَدْ رَضِينَا أَنْ نَأْخُذَهُ بِالَّذِي قُلْتَ".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام خيبر فتح کړو اوداشرط ئې مقرر کړو چه زمکه، سره زر، اوسپين زر به زمونږ وي دخيبر وسيدونکو عرض اوکړو اې دالله رسوله ستاسو په نسبت باندې مونږ د زمکو په کارونوباندې ښه پوهيږو تاسو په دې شرط باندې دازمې مونږ ته راکړئ چه مونږ به درته نيم پيداوار درکوو او نيم پيداوار به مونږ دخان سره ساتو، دراوی خيال دې چه نبي عليه السلام په دې شرط باندې دخيبر زمکې د خيبر وسيدونکو ته ورکړې، کله چه به دکجورو دشکولو وخت راتلو تونبی عليه السلام عبدالله بن رواحه داندازې لږولو دپاره ليږلو اودې اندازې لګولوته اهل مدينه الخرص وائی اوداسې به ئې وئيل چه په دې باغ کښې به دومره کجورې کيږي، خيبر والا به ورته وئيل اې عبدالله بن رواحه تاخو ډيره زياته اندازه ولګوله هغه به ورته اووئيل زه اول دکجور و شوکولو انتظار کوم او څومره اندازه چه مې لږولې ده دومره کجورې تاسوته درکوم خيبر والاچه به داواوريدل وئيل به ئې يقينا دا اندازه حقه ده اوددې په وجه باندې زمکه اواسمان قائم دي، مونږ ستاسودلګولې اندازې مطابق ميوې اخستلوته تياريو.

﴿ فَلَمَّا كَانَ حِينَ يُصْرَمُ النَّخْلُ بَعَثَ إِلَيْهِمْ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ رَوَاحَةَ فَحَزَرَ عَلَيْهِمُ النَّخْلَ وَهُوَ الَّذِي يُسَمِّيهِ أَهْلُ الْمَدِينَةِ الْخَرْصَ الخ ﴾

مضمون د حديث دا دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم کله خيبر فتح کړو او مسلمانان د خيبر د زمکې مالکان شو نو د خيبر يهودو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا درخواست اوکړو چه کرونده باندې مونږ ستاسو نه زيات پوهيږو لهذا دا باغونه او زمکې مونږ ته حواله کړئ په داسې طريقه چه نيمه ميوه او نيمه غله به زمونږ دپاره او نيمه به ستاسو دپاره وی، رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوی دا خبره منظور کړه (مګر چونکه يهود غير امناء وو ديانت دار نه وو په دې وجه به رسول الله صلى الله عليه وسلم دا تدبير فرمائيلو چه) چه کله به د ميوو د شوکولو زمانه راتله نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به عبدالله بن رواحه رضي الله عنه کوم چه د شوکې يعنی د باغونو د ميوو په صحيح اندازه لګولو کښې ماهر وو ليږلو د يهودو دې باغونو ته د حزر يعنی د شوکې دپاره نو هغوی په د اونو اندازه اخستلو نه پس مقدار متعين اوفرمائيلو چه په دې باغ کښې دومره دې او په هغه باغ کښې

[1]: سنن ابن ماجه/الزكاة ۱۸ (۱۸۲۰)، (تحفة الأشراف: ٦٤٩٤) (حسن صحيح)

دومره دي، لهذا هم د دې مقدار به تاسو ورکړه کوئ يهودو به هغوی ته وئيل ﴿ أَكْثَرْتَ عَلَيْنَا يَا ابْنَ رَوَاحَةَ ﴾ چه تا ډير لوئې مقدار متعين کړو نو هغوی به اوفرمائيل ﴿ فَأَنَا أَلِي حَزْرَ النَّخْلِ﴾ دا الی د واحد متکلم صيغه ده ﴿ ولی يلی وليا ﴾ چه د هغې معنی د ذمه دارئ اخستلو ده، او حزر دلته د محزور په معنی کښې دې، يعنی د ميوو کوم مقدار چه ما بيان کړو زه د هغې ذمه داری اخلم، يعنی تاسو د ميوو د تياريدو نه پس د هغې نه جدا شئ زه به تاسو ته د هغې نيمه درکړم نو په دې باندې هغوی اووې چه نه، چه تاسو څه اووې هم دغه شان صحيح ده په هغه ذات قسم چه د هغه په حکم زمکه او اسمان قائم دی مونږ په هغه مقدار باندې راضي يو کوم چه تاسو بيان کړو.

[۳۴۱۱](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَهْلٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَبِي الزَّرْقَاءِ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: فَحَزَرَ، وَقَالَ عِنْدَ قَوْلِهِ وَكُلَّ صَفْرَاءَ وَالْفِضَّةَ لَهُ.

دجعفربن برقان نه دتيرشوي روايت په شان روايت منقول دې اوپه دې کښې دلفظ فحزر اوکل صفراء اوبيضاء اضافه ده دکوم چه تشريح په سرو زرو اوچاندي سره شوي ده.

﴿ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ قَالَ فَحَزَرَ ﴾ مصنف رحمه الله په لفظ د حديث کښې د راويانو اختلاف بيانوی په رومبی سند کښې ايوب وو د هغوی په روايت کښې ﴿ فحزر عليهم ﴾ يعنی د زا په تقديم سره او صحيح هم هغه دې، او په دويم روايت کښې راوی زيد بن ابی الزرقاء دې هغوی په ځائې د ﴿ حزر ﴾ ﴿ حرز ﴾ اووې، قال النووی وفی بعض الروايات بتقديم الراء وهو مصحف (بذل) والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذري.

[۳۴۱۲](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا كَثِيرٌ يَعْنِي ابْنَ هِشَامٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ، حَدَّثَنَا مَيْمُونٌ، عَنْ مِقْسَمٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حِينَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ، فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ زَيْدٍ، قَالَ: فَحَزَرَ النَّخْلَ، وَقَالَ: فَأَنَا أَلِي جُذَاذَ النَّخْلِ، وَأُعْطِيكُمْ نِصْفَ الَّذِي قُلْتُ.

د مقسم رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام کله خيبر فتح کړو، باقي روايت دتير شوي روايت په شان دې او په دې کښې دا اضافه چه عبدالله بن رواحه کله دکجورو اندازه ولګوله نووئې فرمائيل زه به دکجورو شکلولو پورې انتظارکوم اوچه کومه اندازه مې لګولې ده ددې دنيم په برابر کجورې به تاسوته درکوم.

بَابٌ فِي الْخَرْصِ

په ونو کښې د ميوو د اندازې لګولو بيان

د خرص باب په ﴿ کتاب الزکوة ﴾ کښې هم تير شوې دې د خرص تعريف او د هغې سره متعلق ټول مباحث او اختلافات هلته تير شوی دی، دلته د دې باب نه مخکښې دوه بابونه تير شوی دی باب المزارعت او باب المساقات، د مساقات او مضارعت دواړو حکم هم تير شوې دې د مزارعت جواز مختلف فيه دې او مساقات تقريبا د ټولو امامانو په نزد جائز دې

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦٤٩٤) (صحيح الإسناد)

(2): انظر حديث رقم: (٣٤١٠)، (تحفة الأشراف: ٦٤٩٤) (صحيح الإسناد)

سوا د امام صاحب رحمه الله نه، رسول الله ﷺ د یهودو سره دا دوه معاملې اوفرمائیلې د مزارعت هم او د مساقات هم. دا دریم باب کوم چه د خرص په باره کښې دې دا مصنف رحمه الله دلته په دې مناسبت سره ذکر کړې دې چه د رسول الله ﷺ معمول وو چه هغوی به عبدالله بن رواحه رضي الله عنه خیبر ته لیږلو د هغوی د باغاتو د خرص کولو دپاره کوم چه رسول الله ﷺ او مسلمانانو د خیبر یهودو ته په طور د مساقات ورکړې وو.

[۳۴۱۳]() حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أُخْبِرْتُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَبْعَثُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ رَوَاحَةَ، فَيَخْرُصُ النَّخْلَ حِينَ يَطِيبُ، قَبْلَ أَنْ يُؤْكَلَ مِنْهُ، ثُمَّ يُخَيِّرُ يَهُودَ، يَأْخُذُونَهُ بِذَلِكَ الْخَرْصِ، أَوْ يَدْفَعُونَهُ إِلَيْهِمْ بِذَلِكَ الْخَرْصِ، لِكَيْ تُحْصَى الزَّكَاةُ قَبْلَ أَنْ تُؤْكَلَ الثِّمَارُ وَتُفَرَّقَ".

ام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به عبدالله بن رواحه خیبر ته لیګلو دکجورو داندازې لګولو دپاره اوهغه به دکجوروانداز لګوله کله چه به کجورې بنې پخې شوې مخکښې ددینه چه دخوراك قابلې شي، بیابه نبی علیه السلام یهودیانوته اختیار ورکړه چه تاسوددې اندازې نیم څان ته حواله کړئ او وئې ساتئ اویا ددې اندازې دنیم برابر مسلمانانو ته ورکړئ ددې دپاره چه په زکات کښې حساب شي، مخکښې ددینه چه کجورې اوخوړلې شي او جدا کړې شي.

عدم جواز الخرص فی المزارعة وکذا فی المساقاة و جوازه فی الزکوة عند الجمهور دون الحنفية

خو دا یاد ساتئ چه په کتاب الزکوة کښې په باب الحرص کښې دا مسئله تیره شوې ده ﴿ان الخرص لا يجوز فی الحبوب بالاجماع﴾ او حافظ ابن عبدالبر رحمه الله - کما فی التعليق الممجد - د دې خبر تصریح کړې ده چه خرص فی المساقاة د چا په نزد هم جائز نه دې اوس په دې باندې دا اشکال پیدا شو چه هر کله خرص فی المساقاة ناجائز دې نو بیا د عبدالله بن رواحه رضي الله عنه په لیږلو باندې خرص ولې کولې شو؟ د دې جواب هغوی هم دا ورکړې دې چه دا خرص د یو خارجی مصلحت دپاره وو «د الزام دحکم دپاره نه وو» څکه چه یهود غیر امناء وو په دې وجه به هغوی د صحیح مقدار نه خبرولې شو چه د زکوة یعنی د عشر په مسئله کښې نقصان او خلل واقع نه شی، (۲) پس عائشة د دې خرص په باره کښې فرمائی ﴿لکی تحصی الزکوة قبل ان توکل الثمار وتفرق﴾ خو عشر کوم چه د مسلمانانو په باغونو کښې په هغوی

---

[1]): انظر حدیث رقم: (۱۶۰۶)، (تحفة الأشراف: ۱۶۵۳۱، ۱۶۷۵۲) (ضعيف الإسناد)

[2]) وبعبارة اخرې په دې څان داسې پوهه کړئ چه دا خرص د مساقیین د حصو د تقسیم دپاره نه وو، یعنی د اصل معاملې سره د دې تعلق نه وو بلکه زکوة یعنی عشر کوم چه د اونو په کل پیداوار کښې واجب وی د هغې د محفوظ او معین کولو دپاره وو، د میوو د پخیدو او تیاریدو نه مخکښې او د یهودو په دې کښې د تصرف کولو نه مخکښې چه د عشر په مقدار کښې څه کمې رانشی، مثلا د خرص نه پس خارص اووې چه په دې باغ کښې سل وسقه کهجورې دی لهذا په دې مقدار کښې به عشر یعنی لس وسقه د زکوة په نوم باندې اخستلې شی د دې نه پس به په وخت د شوکې د مساقین حصې د قاعدې مطابق کیلا «په تول او وزن سره» تقسیمولې شی، هغه وخت به د خارص د خرص لحاظ نه شی کولې، وهذا معنی قول عائشة رضي الله عنها لکی تحصی الزکوة قبل ان توکل الثمار وتفرق والله تعالی اعلم)

باندې واجبيږي په دې کښې د جواز خرص بلکه د وجوب خرص شوافع وغيره حضرات قائل دي، او احناف کوم چه د خرص فی الزکوة قائل نه دی د هغوی دلائل په کتاب الزکوة کښې دجمهورو د دلائلو سره تير شوی دی فارجع اليه لو شئت.

[٣٤١٤](١) حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي خَلَفٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَابِقٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ طَهْمَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّهُ قَالَ: "أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ خَيْبَرَ، فَأَقَرَّهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا كَانُوا، وَجَعَلَهَا بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ، فَبَعَثَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ رَوَاحَةَ فَخَرَصَهَا عَلَيْهِمْ".

دجابر بن عبدالله رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی کله چه الله تعالی خيبر نبی عليه السلام ته په انعام کښې ورکړو نو نبی عليه السلام ددغه ځائې خلق پخپل حال پريخودل او په فصلونو کښې ورسره شريك شو اوبيا ئې عبدالله بن رواحه رضی الله عنه ورواليږلو عبدالله چه کله خيبرته ورسيدو نودميوو اندازه ئې ولګوله.

[٣٤١٥](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: خَرَصَهَا ابْنُ رَوَاحَةَ أَرْبَعِينَ أَلْفَ وَسْقٍ، وَزَعَمَ أَنَّ الْيَهُودَ لَمَّا خَيَّرَهُمُ ابْنُ رَوَاحَةَ، أَخَذُوا الثَّمَرَ، وَعَلَيْهِمْ عِشْرُونَ أَلْفَ وَسْقٍ.

دجابر بن عبدالله رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه عبدالله بن رواجه دکجورو اندازه څلويښت زره وسقه مقرر کړه، دراوی خيال دې چه کله عبدالله بن رواحه له دخيبر يهوديانوته اختيار ورکړو نوهغوی ميوې پخپل تحويل کښې واخستلې او شل زره وسقه کجورې اداکول ئې منظور کړل.

﴿ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ خَرَصَهَا ابْنُ رَوَاحَةَ أَرْبَعِينَ أَلْفَ وَسْقٍ الخ ﴾

يعنی يو کرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه د دې باغونو د خرص کولو نه پس، چه کوم مقدار متعين کړې وو هغه څلويښت زره وسقه وو چه د هغې د نصف يعنی شلو زرو وسقو ذمه داری يهودو قبوله کړې وه، يو وسق اته صاع وی د څلويښتو زرو وسقو حساب اولګوئ څومره حساب جوړيږي زمونږ په حساب سره خو څليرشت لاکهه صاع جوړيږي چه د هغې نيمه به يقيناً مسلمانانو ته ملاؤ شوې وی د معاهدې مطابق، هم په دې وجه وئيلې شی چه د خيبر د فتوحاتو نه پس مسلمانان مالدار شوی وو.

كِتَابُ الْإِجَارَةِ

داجارې بيان

امام بخاری رحمه الله د کتاب البيوع په آخر کښې د کتاب السلم باب قائم کړې دی د دې نه پس کتاب الشفعة مستقلا دې، د هغې نه پس کتاب الاجارة او هغوی د کتاب الاجارة لاندې ټول ابواب داجارې متعلق ذکرکړی دی اوامام ابوداؤد رحمه الله د کتاب البيوع ترمينځه د کتاب الاجاره عنوان قائمولو سره او د هغې نه پس بيا څو ابواب د اجارې متعلق ذکر کولو نه پس باقی ابواب البيوع چه په هغې کښې بيع السلم او شفعه هم داخله ده هغه ذکر کړې دی.

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٢٦٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٧/٣) (صحيح)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٢٨٦٩) (صحيح الإسناد)

ځان پوهول پکار دي چه د تمليک دوه قسمونه دي تمليک الاعيان او تمليک المنافع، او بيا په دې دواړو کښې د هر يو دوه قسمونه دي بعوض وبلا عوض، دغه شان دا ځلور صورتونه جوړيږي، تمليک العين بالعوض بيع ده او تمليک العين بلا عوض دا هبه ده، او تمليک المنافع که بالعوض دې نو هغه اجاره ده او که بغير د عوض نه وي نو هغه عارية او اعاره ده.

بَابٌ فِي كَسْبِ الْمُعَلِّمِ

د تعليم ورکونکي دپاره په تعليم باندې د اجرت اخستلو بيان

استئجار على الطاعات کښې اختلاف ائمة:

د علوم دينيه په ذريعه کسب او ګټه د شوافعو او مالکيانو په نزد جائز ده، د احنافو او حنابله په نزد ناجائز ده د حديث الباب نه چه د هغې مضمون وړاندې را روان دې د احنافو او د حنابله دمسلک يعنى عدم جواز تائيد کيږي، مصنف رحمه الله على القول الاشهر حنبلي دې، د استئجار على الطاعت مسئله په ابواب الاذان ﴿واتخذ موذنا لا ياخذ على اذانه اجرا﴾ الحديث د لاندې په الدر المنضود جلد اول کښې تيره شوې ده، او هم دغه شان په کتاب النکاح ﴿زوجتک بما معک من القرآن﴾ د لاندې هم.

[۳۴۱۶]([1]) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، وَحُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الرُّوَاسِيُّ، عَنْ مُغِيرَةَ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ نُسَيٍّ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ ثَعْلَبَةَ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: "عَلَّمْتُ نَاسًا مِنْ أَهْلِ الصُّفَّةِ الْكِتَابَ وَالْقُرْآنَ، فَأَهْدَى إِلَيَّ رَجُلٌ مِنْهُمْ قَوْسًا، فَقُلْتُ: لَيْسَتْ بِمَالٍ وَأَرْمِي عَنْهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ لَآتِيَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَأَسْأَلَنَّهُ، فَأَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، رَجُلٌ أَهْدَى إِلَيَّ قَوْسًا مِمَّنْ كُنْتُ أُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْقُرْآنَ، وَلَيْسَتْ بِمَالٍ وَأَرْمِي عَنْهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، قَالَ: إِنْ كُنْتَ تُحِبُّ أَنْ تُطَوَّقَ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَاقْبَلْهَا".

دعبادة بن الصامت رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه ما په اصحاب صفه کښې يو څو کسانو ته دقران کريم د زده کولو او دليکلو تعليم ورکړې وو، زما په شاګردانو کښې يو کس ماته په تحفه کښې يوه لينده راکړه ما دا سوچ اوکړو چه دا خو کوم قيمتي څيزنه دې اوزه به په دې باندې دالله په لاره کښې غشي ولم خوبياهم زه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې وکړو اې دالله رسوله ماچه چاته د قران کريم دزده کولو اودليکلو تعليم ورکړې رو په هغوى کښې يو کس ماته يوه لينده په تحفه کښې راکړي وه اوزه به د الله په لار کښې په دې باندې جهاد کوم، نبی ﷺ اوفرمائيل که چرې ته داور يو طوق په غاړه کښې اچول غواړې نو داليندده دځان سره وساته.

قوله: ﴿عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ عَلَّمْتُ نَاسًا مِنْ أَهْلِ الصُّفَّةِ الْقُرْآنَ وَالْكِتَابَ فَأَهْدَى إِلَيَّ رَجُلٌ مِنْهُمْ قَوْسًا﴾ عبادة رضي الله عنه فرمائي چه ما خو اهل صفه ته قرآن اوښودلو او کتابت يعنى ليکل، نو په هغوى کښې يو سړى ماته ليندۀ هديه کړه نو ما په خپل زړه کښې اووې چه دا څه داسې مال خو دې نه يعنى چه هغې ته اجرت اووئيلې شى بلکه دا چه زه به دا په جهاد کښې

[1]: سنن ابن ماجه/التجارات ۸ (۲۱۵۷)، (تحفة الأشراف: ۵۰۶۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۳۱۵) (صحيح)

استعمال کړم (په خپل ضرورت کښې نه) خو بیا هم ما دا اراده اوکړه چه د رسول الله ﷺ د اجازت نه بغیر ئې نه اخلم پس زه د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شوم او د دې لیندۀ په باره کښې مې ترې نه تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل ﴿ إِنْ كُنْتَ تُحِبُّ أَنْ تُطَوَّقَ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَاقْبَلْهَا ﴾ یعنی که ته ددې په بدل کښې د اورطوق مرئ ته اچول غواړې نو دا هدیه قبوله کړه.

د دې حدیث د لاندې امام خطابی رحمه الله په ﴿ اخذ الاجرة على القرآن ﴾ کښې د علماء کرامو درې مذاهب نقل کړی دی یو مطلقا د عدم جواز، ﴿ وقال اليه ذهب الزهرى وابوحنيفة واسحاق بن راهويه ﴾ دویم مذهب دا دې چه که بغیر د شرط نه څوک معاوضه ورکړی نو د هغې په قبول کښې څه باک نشته وهو قول الحسن البصرى وابن سيرين والشعبى.... او دریم مذهب مطلقا د جواز وهو مذهب عطاء ومالك والشافعى، او د شوافعو دلیل ﴿زوجتكها بما معك من القرآن ﴾ بیان کړې دې.

توجیه الحدیث عن الشافعیة :

او د حدیث الباب جواب د شوافعو د طرف نه هغوی دا ورکړې دې چه د هغې وجه دا ده چه عباده رضی الله عنه د تعلیم د ابتداء په وخت د تبرع او احتساب نیت کړې وو په دې وجه رسول الله ﷺ د دې نیت احتساب نه پس د اجرت اخستلو نه منع اوکړه د ابطال اجر نه د بچ کیدو دپاره، او د دې مثال داسې دې چه څوک د چا یو پټ مال اولتوی یا که د چا مال په دریاب کښې غرق شوې وو هغه حسبة او تبرعا د دریاب نه راوباسی نو د دې نیت نه پس د هغه اجرت اخستل جائز نه دی، خو که هغه د عمل نه مخکښې په دې کار باندې اجرت مقرر کړی نو بیا اخستل جائزدی. الی آخرما ذکر. اوحضرت گنگوهی په تقریر کښې دی چه په دې حدیث کښې د دومره سخت وعید منشاء کیدې شی چه دا وی چه دلته معلم او متعلم خپل مینځ کښې د اجرت شرط لګولې وی یا دا چه اجرت اخستل منوی وی، ځکه رسول الله ﷺ دخپلو صحابه کرام رضی الله عنهم دپاره دا کار ناخوښه کړو اګر چه مجرد نیت حرام نه وو. الی آخرما فی بسط(من البذل مختصرا) والحدیث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

[٣٤١٧](1) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، وَكَثِيرُ بْنُ عُبَيْدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنِي بِشْرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ عَمْرٌو، حَدَّثَنِي عُبَادَةُ بْنُ نُسَيٍّ، عَنْ جُنَادَةَ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، نَحْوَ هَذَا الْخَبَرِ وَالْأَوَّلُ أَتَمُّ، فَقُلْتُ: مَا تَرَى فِيهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَقَالَ: جَمْرَةٌ بَيْنَ كَتِفَيْكَ تَقَلَّدْتَهَا أَوْ تَعَلَّقْتَهَا.

دعباده بن صامت بدنه دتیرشوی روایت په شان روایت منقول دې لیکن اولنې روایت زیات کامل دې اوپه دې روایت کښې دا اضافه ده چه ماعرض اوکړو اې دالله رسوله په دې سلسله کښې ستاسوڅه رائې ده؟ نبی ﷺ اوفرمائیل دا د اور یوه سکروټه ده چه تا دخپلو اوږوپه مینځ کښې زوړنده کړې ده یا دې تړلې ده.

---

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥٠٧٩) (صحيح)

بَابٌ فِي كَسْبِ الْأَطِبَّاءِ

د طبيبانو دپاره د اجرت اخستلو بيان

[۳۴۱۸](¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، "أَنَّ رَهْطًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْطَلَقُوا فِي سَفْرَةٍ سَافَرُوهَا، فَنَزَلُوا بِحَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ، فَاسْتَضَافُوهُمْ، فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمْ، قَالَ: فَلُدِغَ سَيِّدُ ذَلِكَ الْحَيِّ فَشَفَوْا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لَا يَنْفَعُهُ شَيْءٌ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَوْ أَتَيْتُمْ هَؤُلَاءِ الرَّهْطَ الَّذِينَ نَزَلُوا بِكُمْ لَعَلَّ أَنْ يَكُونَ عِنْدَ بَعْضِهِمْ شَيْءٌ يَنْفَعُ صَاحِبَكُمْ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّ سَيِّدَنَا لُدِغَ فَشَفَيْنَا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ، فَلَا يَنْفَعُهُ شَيْءٌ، فَهَلْ عِنْدَ أَحَدٍ مِنْكُمْ شَيْءٌ يَشْفِي صَاحِبَنَا؟ يَعْنِي رُقْيَةً، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: إِنِّي لَأَرْقِي، وَلَكِنِ اسْتَضَفْنَاكُمْ فَأَبَيْتُمْ أَنْ تُضَيِّفُونَا، مَا أَنَا بِرَاقٍ حَتَّى تَجْعَلُوا لِي جُعْلًا، فَجَعَلُوا لَهُ قَطِيعًا مِنَ الشَّاءِ، فَأَتَاهُ، فَقَرَأَ عَلَيْهِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَيَتْفُلُ حَتَّى بَرِءَ، كَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ، فَأَوْفَاهُمْ جُعْلَهُمُ الَّذِي صَالَحُوهُ عَلَيْهِ، فَقَالُوا: اقْتَسِمُوا، فَقَالَ الَّذِي رَقَى: لَا تَفْعَلُوا حَتَّى نَأْتِيَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَسْتَأْمِرَهُ، فَغَدَوْا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرُوا ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مِنْ أَيْنَ عَلِمْتُمْ أَنَّهَا رُقْيَةٌ؟ أَحْسَنْتُمْ وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ بِسَهْمٍ".

دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دصحابه کرامويوه ډله په سفر روانه شوه اودعربو يوې قبيلې ته ورسيدل اودهغوی نه ئې د ميلمستيا مطالبه وکړه ليکن هغوی د ميلمنو قبلولونه انکار وکړو بيا ددغه قبيلې سردار مار يالوم وچيچل دهغه دعلاج دپاره خلقو هرقسم کوشش اوکړو ليکن هغه نه جوړيدو په دوی کښې يوکس اووئيل کوم کسان چه په ميلمستياراغلې دي هغوی ته څوك ولېږې کيدې شی چه دهغوی سره د زهرو دپاره څه علاج وي، په کومه باندې چه به ده ته فائده ورسيږی بيا په دوی کښې يوڅوکسان صحابه کراموته ورغلل او ورته ئې اووئيل چه زمونږ سردار مار يا لړم چيچلې دې ايا په تاسوکښې څوك دمګرې شته؟ يوکس اووئيل هو، زه به ورباندې دم واچوم. ليکن مونږ ستاسونه دميلمستيا مطالبه اوکړه اوتاسوانکار وکړو اوس زه دم نه اچوم ترڅوچه تاسوماته ددې اجرت رانکړئ، نو ددغه علاقې خلقو ددوی دپاره دچيلويو رمه مقررکړه بيا دغه کس ورغې او سورة فاتحه ئې ولوستله او توکانړې پرې توکړې تردې چه هغه جوړ شو اوداسې روغ شولکه غوټه چه کولاو کړې شي، بياچه هغوی کومه معاوضه مقررکړې وه هغه ئې ورکړه صحابه کرامو عرض اوکړو رای وړی چه مونږ ئې تقسيم کړو مګر چا چه دم اچولې وو هغه اووئيل نه تاسوصبر وکړئ چه دنبی عليه السلام نه تپوس اوکړو بيادنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شول او واقعه ئې ورته بيان کړه نبی عليه السلام اوفرمائيل داخبره تاسو دکوم ځائې نه معلومه کړې ده چه سورة فاتحه دم دې ډيربنه کار موکړې دې اوزما دپاره دخپلو ځانونو سره حصه مقررکړئ.

قوله: ﴿عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَهْطًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- انْطَلَقُوا فِي

¹): صحيح البخاري/ الإجارة ۱۶ (۲۲۷۶)، الطب ۳۳ (۵۷۳۶)، صحيح مسلم/ السلام ۲۳ (۲۲۰۱)، سنن الترمذي/ الطب ۲۰ (۲۰۶۳)، سنن ابن ماجه/ التجارات ۷ (۲۱۵۶)، (تحفة الأشراف: ۴۲۴۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳، ۴۴) ويأتي هذا الحديث في الطب (۳۹۰۰) (صحيح)

سَفْرَةٍ سَافَرُوهَا الخ ﴾:

مضمون د حديث د دم يوه قصه :

دا ده چه ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چه د صحابه کرامو رضي الله عنهم يو جماعت په يو سفر باندې روان وو په لار کښې يو ځائې په عربو کښې هغه جماعت کوز شو او د هغه ځائې د دستور مطابق ئې د هغوی نه ميلمستيا طلب کړه، هغوی د ميلمستيا دپاره تيار نه شو، اتفاق سره د هغه قبيلې سردار لره يو زهريله څيز اوچيچلو چه د هغې هغوی هر قسمه علاج اوکړو خو هيڅ فائده او نه شوه، د هغوی خپل مينځ کښې مشوره دا راغله چه دا د مسافرو قافله راغلې ده کيدې شي چه په دوی کښې چا سره د دې علاج وی پس هغوی هغه صحابه کرامو رضي الله عنهم ته راغلل او د دم کولو درخواست ئې اوکړو، په هغوی کښې يو صحابی اوفرمائيل چه ما سره يو دم دې خو مونږ بغير د اجرت نه علاج نه کوو لکه چه تاسو زمونږ ميلمستيا نه ده کړې. ﴿ فَجَعَلُوا لَهُ قَطِيعًا مِنَ الشَّاءِ ﴾ يعنی هغوی د ګډو بيزو يو کنډک ورکولو باندې فيصله اوکړه، د دې نه مراد ديرش بيزې دی لکه چه په هغه روايت کښې دی کوم چه مصنف رحمه الله په کتاب الطب کښې ﴿ باب کيف الرقی ﴾ کښې ذکر کړې دې فقد اعاد المصنف رحمه الله هذا الحديث هناک او وئيلې شوې دی چه دا جماعت هم د ديرشو کسانو وو، دې صحابی په هغه باندې سورة فاتحه لوستلو سره دم کوله او خپلې لاړې مبارکې ئې په هغه باندې مږلې تردې چه هغه چيچلې شوې سردار بالکل روغ شو، لکه څاروی چه د پړی نه خلاص کړې شی او دې خلقو هغه حضراتو ته د خپلې وعدې مطابق د هغوی هغه عوض ورکړو. دې ملګرو خپل مينځ کښې اووې چه دا بيزې دې تقسيم کړې شی، خو اصل دم کونکی اووې چه تر څو پورې مونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته نه يو رسيدلی او د هغوی نه مو معلومات نه وی کړې تر هغه وخته پورې نه، بيا د رسول الله صلی الله عليه وسلم خدمت کښې حاضر شو او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ئې د دې واقعې ذکر اوفرمائيلو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د خوشحالئ اظهار اوفرمائيلو او تپوس ئې اوفرمائيلو چه تاسو ته څنګه معلومه شوه چه سورة فاتحه رقيه ده او د دې صحابه کرامو رضي الله عنهم د نورې تسلئ دپاره ئې اوفرمائيل چه د خپل ځان سره زما حصه هم مقرر کړئ.

[۳۴۱۹][1] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَخِيهِ مَعْبَدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ.

معبدبن سيرين (دمحمد بن سيرين درورر) دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه دتيرشوی روايت په شان روايت بيان کړې دی.

[۳۴۲۰][2] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي السَّفَرِ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ، عَنْ عَمِّهِ، "أَنَّهُ مَرَّ بِقَوْمٍ فَأَتَوْهُ، فَقَالُوا: إِنَّكَ جِئْتَ مِنْ عِنْدِ هَذَا الرَّجُلِ بِخَيْرٍ، فَارْقِ لَنَا هَذَا

[1]: صحيح البخاري/ فضائل القرآن (۵۰۰۷)، صحيح مسلم/ الطب ۲۳ (۲۲۰۱)، (تحفة الأشراف: ۴۳۰۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸۳/۳) (صحيح)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۱۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۱۱/۵) ويأتي هذا الحديث في الطب (۳۸۹۶، ۳۹۰۱) (صحيح)

الرَّجُلَ، فَأَتَوْهُ بِرَجُلٍ مَعْتُوهٍ فِي الْقُيُودِ، فَرَقَاهُ بِأُمِّ الْقُرْآنِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً، وَكُلَّمَا خَتَمَهَا جَمَعَ بُزَاقَهُ، ثُمَّ تَفَلَ، فَكَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ فَأَعْطَوْهُ شَيْئًا، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَهُ لَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلْ فَلَعَمْرِي لَمَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةٍ بَاطِلٍ، لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةٍ حَقٍّ".

خارجه بن الصلت دخپل تره نه روایت کوی فرمائی چه دده دیوداسې قوم په خوا کښې تیریدل اوشول کوم چه ده ته راغلل او وئې وئیل چه تاددغه سړی (نبی ﷺ) نه خیر راوړې دې نو زمونږ په دې کس باندې ئې اولوله اوهغوی لاړل او په پړوتړلې شوې یولیونې ئې راوستونوهغه دغه لیونې درې ورځې سحر اوماښام په سورت فاتحه باندې دم کړواوهره پیره چه به ئې فاتحه ختموله نوخپلې توانړې به لې راجمع کړې او په ده باندې به ئې وتوکلې بهرحال هغه کس داسې شو لکه دقیدنه چه خلاص شي نوهغه خلقو ورته یوڅه ورکړل نوده ددوی ددې واقعې اوددوی ورکړې ذکرنبی ﷺ ته وکړونو په دې وخت کښې نبی ﷺ اوفرمائیل: ددینه خوره زما دې په خپل عمرباندې قسم وې خلق ددروغوپه عمل (منترو باندې خوراك كويتا خودرښتیاوودم کړې دې (یعنی سورت فاتحه دهر مرض دپاره شفاء ده).

دویمه قصه :

د دې نه پس مصنف رحمه الله هم د دې قسم یو بل حدیث چه د هغې راوی عم خارجه دې ذکر فرمائیلې دې چه د هغې مضمون دا دې چه هغوی په سفر باندې روان وو په لاره کښې په یو کلی کښې هغه څه خلقو رامنع کړو چه ته داسې بزرګ ته روان ئې یعنی رسول الله ﷺ ته، زمونږ یو مریض دې معتوه یعنی لیونې کوم چه په زنځیرونو کښې تړلې شوې دې په هغه باندې دم واچوئ هغوی تر د درې ورځو پورې سحر او ماښام په سورة فاتحه باندې دم کړو، هر کرت به ئې د دمولو په وخت په هغوی باندې خپلې لاړې مبارک ورتوکلې پس هغه بالکل روغ شو. ﴿ فَأَعْطَوْهُ شَيْئًا ﴾ یعنی دې خلقو هغه صحابی رضی الله عنه ته څه هدیه پیش کړه، د بعضو روایاتو نه معلومیږی چه هغه سل بیزې وې لکه خپله په ابوداؤد کښې دا حدیث د کتاب الاطعمة په آخر کښې را روان دې هلته ددې عدد تصریح ده، هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلو او وې فرمائیل ﴿ کل فلعمری لمن اکل برقیة باطل ﴾ (د دې جزا محذوف ده فعلیه وباله) رسول الله ﷺ اوفرمائیل ته دا خوړلې شې او قسم دې زما په نفس باندې چه کوم انسان په باطله رقیه باندې خوراک اوکړی په هغه باندې ګناه ده د هغې، ته خو د برحق رقیه په ذریعه خوراک کوې په دې کښې څه باک دې.

استنباط المصنف بحدیث الباب :

مصنف رحمه الله په تعلیم القرآن باندې د اجرت عدم جواز لره لکه چه د حنابله مسلک دې د عبادة رضی الله عنه د حدیث نه ثابت کړو ﴿ ان کنت تطوق طوقا من نار فاقبلها ﴾ او په هغې باندې ئې ترجمة قائم کړه ﴿ کسب المعلم ﴾ او د ابو سعید خدری رضی الله عنه، او هم دغه شان د عم خارجه حدیث چه د هغې جواز دجُعل ثابتیږی په دې باندې ئې ترجمه قائم کړه ﴿ باب فی کسب الاطباء ﴾ هغوی دا دویمه واقعه په علاج وغیره باندې محمول کولو سره د دې په ذریعه د طبیب د اجر جواز ثابت کړو، کوم چه بالاتفاق جائز دې، امام ابوداؤد رحمه الله دلته د ډیر لوئې

فقاهت ثبوت ورکړې دي، په احادیثو باندې چه په کتب احادیث کښې کوم عنوان او تراجم قائمولې شی هغه ډیر لوئې اهمیت لری، پس مشهوره ده ﴿فقه المحدث فی تراجمه﴾ لکه چه یو جمله دا هم مشهوره ده، ﴿فقه البخاری فی تراجمه﴾ امام ترمذی رحمه الله د ابوسعید خدری رضی الله عنه په حدیث باندې دا ترجمه قائم کړې ده ﴿باب ما جاء فی اخذ الاجر علی التعویذ﴾ هغوی هم دا حدیث د مصنف رحمه الله په شان په رقیه او علاج باندې محمول کړې دې خو هغوی د حدیث د لاندې لیکی ﴿ورخص الشافعی للمعلم ان یاخذ علی تعلیم القرآن اجرا ویری له ان یشترط علی ذلک واحتج بهذا الحدیث﴾ امام ابوداؤد رحمه الله حدیث د عباده او حدیث د ابو سعید خدری رضی الله عنه چه د هغې مضمون په ظاهر کښې تعارض لری په دواړو باندې د یو بل نه پس بیل بیل تراجم قائم کولو سره صحیح صورت حال واضح کړو چه د حدیث عباده رضی الله عنه تعلق د تعلیم القران سره دې او د حدیث ابی سعید رضی الله عنه محمل علاج آو معآلجه او دکسب دطبیب دې، فلله در المصنف. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری

بَابٌ فِي كَسْبِ الْحَجَّامِ

په ښکرلګولو باندې د اجرت اخستو بیان

ایضاح المسئلة:

دلته دوه څیزونه دی یو پیشه د حجامت یعنی حرفه، دویمه د هغې ګټه، د جمهورو په نزد دواړه جائز دی او د امام احمد رحمه الله او د یو جماعت رائې دا ده چه د آزاد سړی په حق کښې احتراف بالحجامة مکروه دې یعنی دا پیشه اختیارول او د دې ګټه په خپل ځان باندې خرچ کول د هغوی په نزد حرام دی، هغوی فرمائی چه که حر دا پیشه اختیار کړی نو د دې ګټه دې په څاروو او غلامانو باندې خرچ کړی، او د غلام په حق کښې د هغوی په نزد نه په دې پیشه اختیارولو کښې څه ګناه شته اونه د دې په ګټه خوړلو کښې، قاله الحافظ.

[۳٤۲۱][1] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، أَخْبَرَنَا أَبَانُ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ قَارِظٍ، عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيثٌ، وَثَمَنُ الْكَلْبِ خَبِيثٌ، وَمَهْرُ الْبَغِيِّ خَبِيثٌ".

د رافع بن خدیج رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی دښکرلګولونه کسب جوړول اوبیا وربانډې اجرت اخستل بدعمل دې اودسپی قیمت ناپاکه دې اوبدکارې ښځې اجرت ناکاره دې.

﴿عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « كَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيثٌ »﴾

شرح الحدیث:

د خبیث اطلاق په دوه معنو باندې کیږی حرام او نجس، دویم خلاف الطیب یعنی بیکاره څیز د جمهورو په نزد هم دا معنی مراد ده کذا قال القاری، خو د امام احمد رحمه الله په نزد که

[1]): صحيح مسلم/المساقاة ٩ (١٥٦٨)، سنن الترمذي/البيوع ٤٦ (١٢٧٥)، سنن النسائي/الذبائح ١٥ (٤٢٩٩)، (تحفة الأشراف: ٣٥٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٦٤، ٤٦٥، ٤/١٤١) (صحيح)

حجام حر وی نو بیا به په دې صورت کښې د خبیث دویمه معنی مراد وی یعنی حرام.
وړاندې مصنف رحمه الله ددې نه پس دوه احادیث نور ذکرکړی دی په هغې کښې هم غور اوکړئ.

[۳۴۲۲](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنِ ابْنِ مُحَيِّصَةَ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّهُ اسْتَأْذَنَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِجَارَةِ الْحَجَّامِ، فَنَهَاهُ عَنْهَا، فَلَمْ يَزَلْ يَسْأَلُهُ وَيَسْتَأْذِنُهُ، حَتَّى أَمَرَهُ أَنْ أَعْلِفْهُ نَاضِحَكَ وَرَقِيقَكَ".

ابن محیصه دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه دنبی علیه السلام نه ئې اجازت وغوښتوپه باره داجرت دښکرلګولوکښې نونبی علیه السلام ورنه منع کړواوهغه به بار بار داسوال تکرار ولواواجازت به ئې غوښتلوتردې چه حکم ئې ورته وکړو په دغه اجرت باندې خپل اس له ګیاه واخله اویائې خپل غلام ته ورکړه.

﴿عن ابن شهاب عن ابن محیصه عن ابیه انه استاذن رسول الله ﷺ فی اجارة الحجام﴾
یعنی محیصة د رسول الله ﷺ نه د حجام د اجرت په باره کښې اجازت اوغوښتلو نو رسول الله ﷺ هغه منع کړو هغه د رسول الله ﷺ نه د دې په باره کښې تپوسونه کول تر دې چه رسول الله ﷺ په آخر کښې هغه ته داسې اوفرمائیل ﴿ اعْلِفْهُ نَاضِحَكَ وَرَقِيقَكَ ﴾ چه د دې ګټه په خپلو غلامانو او ځاروو باندې خوړلې شي. ددې حدیث نه د حنابله تائید کیږی.

[۳۴۲۳](2) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "احْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ، وَلَوْ عَلِمَهُ خَبِيثًا لَمْ يُعْطِهِ".

دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی نبی علیه السلام ښکر ولګولواوښکرلګونکي ته ئې دهغه اجرت ورکړو، که چرې داناپاکه وې نوښکر لګونکي ته به ئې هیڅ کله اجرت نه وو ورکړې.
د دې حدیث نه د حنابله تائید کیږی.

﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ احْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– وَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ وَلَوْ عَلِمَهُ خَبِيثًا لَمْ يُعْطِهِ ﴾
ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي چه رسول الله ﷺ ښکر اولګولو او حجام ته ئې اجرت هم ورکړو. وړاندې ابن عباس رضی الله عنهما خپل استنباط بیانوی که چرې رسول الله ﷺ د حجام اجرت حرام ګنړلو نو ولې به ئې ورکولو، د دې حدیث نه د جمهورو تائید کیږی، خو په دې استدلال باندې دا نقد کیدې شی چه ظاهره دا ده چه د دې حجام نه مراد ابو طیبه دې لکه چه د دې نه پس په روایت کښې دی او هغه حر نه وو بلکه مملوک وو، خو جمهور دا وئیلې شی چه که ابوطیبه مملوک وو نو د دې نه دا استدلال څنګه صحیح دې چه غیر مملوک ته اجرت ورکول ناجائز دی یا د هغه په حق کښې حرام دی دا خو اتفاقی امر دې چه په چا باندې رسول الله ﷺ ښکر اولګولو هغه مملوک وو حر نه وو. والله تعالی اعلم

(1): سنن الترمذي/البيوع ٤٧ (١٢٧٧)، سنن ابن ماجه/التجارات ١٠ (٢١٦٦)، (تحفة الأشراف: ١١٢٣٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الاستئذان ١٠ (٢٨)، مسند احمد (٥/٤٣٥، ٤٣٦) (صحيح)
(2): صحيح البخاري/البيوع ٣٩ (٢١٠٣)، الإجارة ١٨ (٢٢٧٩)، (تحفة الأشراف: ٦٠٥١)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ١١ (١٢٠٢)، مسند احمد (١/٣٥١) (صحيح)

[۳۴۲۴]( ) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ قَالَ: "حَجَمَ أَبُو طَيْبَةَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعٍ مِنْ تَمْرٍ، وَأَمَرَ أَهْلَهُ أَنْ يُخَفِّفُوا عَنْهُ مِنْ خَرَاجِهِ".

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي ابو طیبه نبي ﷺ ته ښکر ولګولو اونبي ﷺ دهغه دپاره دیوصاع کجورو ورکولو حکم وکړو اودده مالکانو ته ئې حکم وکړوچه دده سره په خراج کښې دتخفیف معامله وکړئ.

قوله: ﴿عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ حَجَمَ أَبُو طَيْبَةَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعٍ مِنْ تَمْرٍ وَأَمَرَ أَهْلَهُ أَنْ يُخَفِّفُوا عَنْهُ مِنْ خَرَاجِهِ﴾: یعني ابو طیبه رضي الله عنه رسول الله ﷺ له ښکر اولګولو نو هغوی د دې په اجرت کښې هغه ته یو صاع د کهجورو ورکولو حکم اوفرمائیلو او د هغه مالکانو ته ئې حکم اوکړو چه د هغه په ګټه کښې چه کوم معین مقدار اخلئ په هغې کښې تخفیف اوکړئ، د ابوطیبه نوم بعضو نافع لیکلې دې، خو صحیح دا ده چه د هغوی نوم معلوم نه دې، دا د انصارو غلام وو چونکه دې په ښکر لګولو باندې پوهیدو په دې وجه باندې د هغه مالک په هغه باندې هم دا کار کولو، او د ورځې ورځې یو معین مقدار مال به ئې د هغه نه اخستلو، د هغې نه پس به باقی د هغه وو، نو رسول الله ﷺ د هغه مالکانو ته اوفرمائیل چه تاسو چه د هغه نه کوم مقدار د اخستلو مقرر کړې دې په هغې کښې لږ کمې اوکړئ. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي، قاله المنذري

بَابٌ فِي كَسْبِ الْإِمَاءِ

دوینځو د امدنئ اخستلو بیان

[۳۴۲۵]( ) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا حَازِمٍ، سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كَسْبِ الْإِمَاءِ".

دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چه نبي ﷺ منع فرمائیلې ده دوینځود امدن نه.

[۳۴۲۶]( ) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، حَدَّثَنِي طَارِقُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْقُرَشِيُّ، قَالَ: جَاءَ رَافِعُ بْنُ رِفَاعَةَ إِلَى مَجْلِسِ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ: "لَقَدْ نَهَانَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَوْمَ فَذَكَرَ أَشْيَاءَ وَنَهَى عَنْ كَسْبِ الْأَمَةِ إِلَّا مَا عَمِلَتْ بِيَدِهَا، وَقَالَ: هَكَذَا بِأَصَابِعِهِ نَحْوَ الْخَبْزِ، وَالْغَزْلِ، وَالنَّفْشِ".

دطارق بن عبد الرحمن قرشي نه روایت دي فرمائي چه دانصارو یومجلس ته لاړواو وئې وئیل یقینا مونږنبي ﷺ منع کړي وو دامدن دوینځومګرهغه کوم چه هغه په خپل لاس وکټي. اووئې وئیل داسې او په خپلو لاسونوئي اشاره وکړه لکه پخلي، ورځ ریشل، یادنقش نګار روزګارکول.

( ): صحيح البخاري/البيوع ۳۹ (۲۱۰۲)، ۹۵ (۲۲۱۰)، الإجارة ۱۹ (۲۲۷۷)، الطب ۱۳ (۵۶۹۶)، المساقاة ۱۱ (۲۳۷۰)، (تحفة الأشراف: ۷۳۵)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/البيوع ۴۸ (۱۲۷۸)، سنن ابن ماجه/التجارات ۱۰ (۲۱۶۴)، مسند احمد ۳/۱۰۷، ۲۸۲)، سنن الدارمي/البيوع ۷۹ (۲۶۶۴) (صحيح)

( ): صحيح البخاري/الإجارة ۲۰ (۲۲۸۳)، الطلاق ۵۱ (۵۳۴۸)، (تحفة الأشراف: ۱۳۴۲۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۸۷، ۳۴۷، ۳۸۲، ۴۳۷، ۴۵۴، ۴۸۰)، سنن الدارمي/البيوع ۷۷ (۲۶۶۲) (صحيح)

( ): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۵۹۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۳۴۱) (حسن)

[۳٤۲۷]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ هُرَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ رَافِعٍ هُوَ ابْنُ خَدِيجٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كَسْبِ الْأَمَةِ حَتَّى يُعْلَمَ مِنْ أَيْنَ هُوَ".

د رافع بن خدیج رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه نبي ﷺ منع فرمائیلي ده دامدن د وینځې نه ترڅو چه معلومه شوي نه وي چه دائي دکوم ځائې نه حاصل کړي دي.

﴿نَهَى رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– عَنْ كَسْبِ الإِمَاءِ﴾

د جاهلیت په زمانه کښې به خلقو په خپلو وینځو باندې حرامه ګټه کوله او دا به ئې جائز ګنړله او د هغوی په نزد دا هیڅ د شرم خبره نه وه، صرف دا نه بلکه د زنا په ذریعه به ئې نسب هم ثابت منلو لکه چه په کتاب الطلاق کښې ﴿باب فی ادعاء ولد الزنا﴾ کښې دا حدیث تیر شوي دي ﴿لا مساعاة فی الاسلام﴾ اسلام راتلو سره زنا او زنا ته دعوت ورکونکی او د زنا ګټه دا ټول څیزونه حرام کړل، وراندې په بل روایت کښې دا زیادت دي ﴿نَهَانَا عَنْ كَسْبِ الأَمَةِ إِلاَّ مَا عَمِلَتْ بِيَدِهَا. وَقَالَ هَكَذَا بِأَصَابِعِهِ نَحْوَ الْخَبْزِ وَالْغَزْلِ وَالنَّفْشِ﴾ یعنی د وینځې د هغه ګټې نه ئې منع اوفرمائیله کومه چه د حرام کارئ په ذریعه وی نه مطلقا، لهذا که د نورو جائز کارونو په ذریعه ګټه اوکړی لکه د چا دوډئ پخول یا جولا ګری کول هم دغه شان مالوچ وهل، دا ګټه د هغې جائز ده، په بذل کښې لیکلي دی چه هغه چه د شرح وقایه په بعضو حواشی کښې دی چه ﴿ان اجرة الزانية حلال﴾ د هغې نه مراد اجرة الزنا نه دي بلکه مطلب دا دي چه که یو وینځه چه زانیه هم ده د دې باوجود که هغه په څه بله څه طریقه باندې کسب کوی نو د هغې کسب جائز دي لکه چه دلته په حدیث الباب کښې دی.آه

حدیث ابی هریرة رضی الله عنه اخرجه البخاری، قاله المنذری

[۳٤۲۸]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ "نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَمَهْرِ الْبَغِيِّ، وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ".

د ابومسعود رضی الله عنه نه روایت دي چه نبي کریم ﷺ د سپي قیمت، د زناکارې ښځې ګټه، اود کاهن (پالګر) د مزدورئ اخستلو نه منع فرمائیلي ده.

بَابٌ فِي عَسْبِ الْفَحْلِ

د څاروی په مال کولوباندې داجرت اخستلوبیان

[۳٤۲۹]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحَكَمِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ".

[1]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۵۸۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱٤۱/٤) (حسن) بما قبله

[2]): صحيح البخاري/البيوع ۱۱۳ (۲۲۳۷)، الإجارة ۲۰ (۲۲۸۲)، الطلاق ۵۱ (۵۳٤٦)، الطب ٤٦ (۵۷٦۱)، صحيح مسلم/المساقاة ۹ (۱۵٦۷)، سنن الترمذي/البيوع ٤٦ (۱۲۷٦)، النكاح ۳۷ (۱۱۳۳)، الطب ۲۳ (۲۰۷۱)، سنن النسائي/الصيد والذبائح ۱۵ (٤۲۹۷)، سنن ابن ماجه/التجارات ۹ (۲۱۵۹)، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۱۰)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البيوع ۲۹ (٦۸)، مسند احمد (۱۱۸/٤، ۱۲۰، ۱٤۰، ۱٤۱)، سنن الدارمي/البيوع ۳٤ (۲٦۱۰) (صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الإجارة ۲۱ (۲۲۸٤)، سنن الترمذي/البيوع ٤۵ (۱۲۷۳)، سنن النسائي/البيوع ۹۲ (٤٦۷۵)، (تحفة الأشراف: ۸۲۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱٤/۲) (صحيح)

د عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه نبی علیه الصلاة والسلام دخاروي په مال کولو (جفتی کولو) باندې داجرت اخستونه منع فرمائیلې ده.

شرح الحديث:

بفحل يعنى نر خاروې مطلقا فرسا كان او جملا او تيسا او عسب په معنى د ماء الحيوان او د هغې ضراب يعنى جفتی دواړه معنې لیکلې شوی دی، او په حديث الباب کښې دی ﴿نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ﴾ دلته په عبارت کښې مضاف محذوف دې يعنى ﴿عن كراء عسب الفحل﴾ يعنى د نر د جفتی کولو د اجرت نه رسول الله ﷺ منع اوفرمائیله. اووئیلې شوي دی چه د عسب اطلاق په اجرت اضراب باندې هم کیږی لهذا په دې صورت کښې به د مضاف د حذف منلو ضرورت نه وی د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاثه مذهب هم دا دې چه نر لره د جفتی کولو دپاره په کرايه باندې ورکول حرام دی ولې چه په دې کښې غرر دې ځکه چه نر کله جفتی کوی او کله نه کوی کله په هغې سره علوق یعنی حمل راځی او کله نه راځی بله دا چه ماء الفحل يعنى د دې منى مال غير متقوم دې. د اجرت اخستلو په صورت کښې ګویا دا د هغې بیع ده چه فاسد ده خو په سوال باندې فحل ورکول پکار دی دا مندوب اليه ده پس په حدیث کښې راځی ﴿ومن حقها اطراق فحلها﴾ خو په دې کښې د امام مالک رحمه الله اختلاف منقول دې په داسې طريقه چه د ضراب موده معين کړې شی مثلاً ساعت یا نصف ساعت نو په دې باندې چه کوم اجرت واخستلې شی هغه به د ثمن په طور نه وی بلکه تا خپل خاروې د بل د کار دپاره د معینې مودې دپاره ورکړې دې دا د هغې مزدوری ده، د جمهورو په نزد په اجرت ورکول خو ممنوع دی خو که مستعير په طور د کرامت که څۀ ورکړی نو د هغې اخستل جائز دی. والحديث اخرجه الترمذى والنسائى، قاله المنذرى

بَاب فِي الصَّائِغِ
د زرګر متعلق بيان

(د صائغ لغوی تحقيق):

صائغ او صواغ دواړه لغتونه دی او صياغ هم واؤ لره په یاء سره بدلوی، د صياغت معنی يو مادې لره ويلې کولو سره په يو خاص هيئت باندې يو څيز جوړونکې، او هم د دې نه ده صائغ الحلى يعنى زرګر، د سرو او سپينو زرو کالی جوړول، په مجمع البحار کښې دی، ﴿وفيه واعدت صواغا من بنى قينقاع، وهو صائغ الحلى، من صاغ يصوغ، ومنه اكذب الناس الصواغون،

د مصنف رحمه الله غرض د دې ترجمة الباب نه د صياغت دحرفې كراهت لره بيانول دی لکه چه د حديث الباب نه معلوميږی.

[۳٤۳۰](1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي مَاجِدَةَ، قَالَ: "قَطَعْتُ مِنْ أُذُنِ غُلَامٍ أَوْ قُطِعَ مِنْ أُذُنِي، فَقَدِمَ عَلَيْنَا أَبُو بَكْرٍ حَاجًّا، فَاجْتَمَعْنَا إِلَيْهِ، فَرَفَعَنَا إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، فَقَالَ عُمَرُ: إِنَّ هَذَا قَدْ بَلَغَ الْقِصَاصَ ادْعُوا لِي حَجَّامًا لِيَقْتَصَّ مِنْهُ، فَلَمَّا دُعِيَ الْحَجَّامُ،

(1): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۰٦۱۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۷) (ضعيف)

قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: إِنِّي وَهَبْتُ لِخَالَتِي غُلَامًا، وَأَنَا أَرْجُو أَنْ يُبَارَكَ لَهَا فِيهِ، فَقُلْتُ لَهَا: لَا تُسَلِّمِيهِ حَجَّامًا، وَلَا صَائِغًا، وَلَا قَصَّابًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنِ ابْنِ إِسْحَاق، قَالَ ابْنُ مَاجِدَةَ: رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَهْمٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ.

دابوماجده نه روايت دې فرمائي چه ماديوهلك غوږ پريكړو يازماغوږ چاپريكړو (دراوى شك دې چه ابوماجده كومه جمله وئيلې ده) بيا ابوبكر صديق زمونږ خواته دحج دپاره راغې، مونږ ټول هغه ته را جمع شو هغه مونږه عمرهته اوليږلو، عمر چه اوفرمائيل په دې كښې قصاص واجب كيدې شي تاسو يونائي راوغواړئ چه هغه په قصاص كښې ددة غوږ پريكړې كله چه نائي راغې نوعمر نه. اوفرمائيل مادنبي عليه السلام نه اوريدلى دى چه فرمائيلى ئې وو كله چه ما خپلې ترور ميمونه رضي الله عنها ته يوغلام په طور دحبه پيش كړې وو زمادا اميدوو چه په دې غلام كښې به ددوى دپاره خيروبركت وي، خو ما ورته وئيلي وو چه داغلام به ښكرلگونكي يا زرگريا قصاب ته نه حواله كوئ.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي مَاجِدَةَ قَالَ قَطَعْتُ مِنْ أُذُنِ غُلَامٍ - أَوْ قُطِعَ مِنْ أُذُنِي ﴾

شرح الحديث:

ابو ماجدة وائي چه ما د يو هلک غوږ كټ كړو، وړاندې د راوى شک دې چه يا هغوى وئيلې وو چه زما غوږ پرې كړې شو، بيا دا سې اوشوه چه مونږ ته د حج په زمانه كښې ابوبكرصديق رضي الله عنه تشريف راوړو مونږ هغوى ته جمع شو او گويا د هغوى مخې ته د هغې اذن ذكر راغلو ﴿ فَرَفَعَنَا إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﴾ يعنى ابوبكرصديق رضي الله عنه زمونږ دا مقدمه د عمر رضي الله عنه په خدمت كښې اوليږله، نو عمر رضي الله عنه واقعه اوريدو سره اوفرمائيل چه دا قصه خو د قصاص حد ته اورسيده يعنى دا فعل سبب د قصاص دې، او وې فرمائيل چه ما ته حجام راولئ چه د دې قاطع نه قصاص واخستلې شي، راوى وائي چه كله حجام راغلو (نو عمر رضي الله عنه ته يو حديث راياد شو چه په هغې باندې هغوى اوفرمائيل) ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په يو موقع باندې اوريدلې وو. هغوى اوفرمائيل چه ما خپلې ترړو ته يو غلام هبه كړې وو او زه اميد كوم د دې خبرې چه زما د ترور دپاره به په دې كښې خير او بركت وى او ما ترور ته د وركړې په وخت وئيلې وو چه دا سړې حجام يا صائغ يا قصاب ته مه حواله كوه، يعنى په دې كسبونو كښې ورته يوه هم مه ښايه، پورته د مجمع البحار نه د صواغين په باره كښې اكذب الناس كيدل تير شو، علماء كرامو ليكلې دى چه د صائغ مذمت څكه كړې شوې دې چه هغه كالو جوړولو كښې ملاوټ كوى، بله دا چه د هغوى په كلام كښې تال متهول او د دروغو وعدې ډيرې موندلې كيږى، او د حجام او د قصاب كراهت د هغه نجاست د وجې نه دې چه هغې سره د هغوى تعلق راځي.

[۳۴۳۱][1] حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِسْحَاق، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُرَقِيِّ، عَنِ ابْنِ مَاجِدَةَ السَّهْمِيِّ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۶۱۳) (ضعيف)

ابوماجده سهمی دعمربن الخطاب فننه اوهغه دنبی علیه الصلاة والسلام نه دمخکني روایت په شان روایت نقل کړې دې،

[۳۴۳۲](١) حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا الْعَلَاءُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُرَقِيُّ، عَنِ ابْنِ مَاجِدَةَ السَّهْمِيِّ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ.

ابوماجده سهمی دعمربن الخطاب رضي الله عنه نه اوهغه دنبی علیه الصلاة والسلام نه دتیرشوی روایت په شان روایت بیان کړې دې۔

بَابٌ فِي الْعَبْدِ يُبَاعُ وَلَهُ مَالٌ

بابه که چرې یوغلام په داسې حال کښې خرڅ کړې شی چه مال ورسره موجود وی (نو ددغه مال حقدار به څوک وی)

[۳۴۳۳](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ بَاعَ عَبْدًا، وَلَهُ مَالٌ، فَمَالُهُ لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَهُ الْمُبْتَاعُ، وَمَنْ بَاعَ نَخْلًا مُؤَبَّرًا، فَالثَّمَرَةُ لِلْبَائِعِ، إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ".

سالم دخپل پلار عبدالله رضي الله عنه نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي دي: څوک چه داسې غلام خرڅ کړي چه مال ورسره وي نو خرڅونکي ددې حقدار دي مګرهله چه خریدار شرط لګولې وي، چاچه پیوند شوي کجوره خرڅه کړه نوددی میوه به دخرڅونکي حق وي مګر داچه اخستونکې دخرڅونکي سره شرط مقرر کړي (چه کجوره به سره د میوو اخلم او خرڅونکې داشرط قبول کړي نوددې میوه به خریداراخلي).

قوله: ﴿ مَنْ بَاعَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُهُ لِلْبَائِعِ إِلاَّ أَنْ يَشْتَرِطَهُ الْمُبْتَاعُ وَمَنْ بَاعَ نَخْلاً مُؤَبَّرًا فَالثَّمَرَةُ لِلْبَائِعِ إِلاَّ أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ ﴾

شرح الحديث مع استنباط المسئلة :

یعنی کوم انسان چه خپل داسې غلام خرڅ کړی چه د هغه دپاره مال وی نو هغه مال به د مالک یعنی د بائع وی د مشتری دپاره به نه وی، مګر دا چه مشتری شرط اولګوی د هغه د مال هم، د ائمه اربعه هم دا مذهب دې، خو دلته سوال دا واردیږی چه آیا عبد هم د څه مال مالک کیدې شی؟ د دې جواب دا دې چه د جمهور علماء او ائمه ثلاث په نزد په عبد کښې د مالک جوړیدو صلاحیت نشته لهذا په حدیث کښې د مال اضافت د عبد طرف ته مجازاً دې یعنی هغه سره چه کوم مال دې اګر که د هغه نه دې، پهدې کښې د امام مالک رحمه الله اختلاف منقول دې هغوی فرمائی چه که مالک خپل غلام لره د څه مال مالک جوړ کړی نو هغه به مالک شی او هم دا د اهل ظاهر قول دې، په دې اختلاف باندې شارحانو په طور د

---

(١): انظر حديث رقم: (٣٤٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٠٦١٣) (ضعيف)

(٢): صحيح البخاري/البيوع ٩٠ (٢٢٠٣)، ٩٢ (٢٢٠٦)، المساقاة ١٧ (٢٣٧٩)، الشروط ٢ (٢٧١٦)، صحيح مسلم/البيوع ١٥ (١٥٤٣)، سنن الترمذي/البيوع ٢٥ (١٢٤٤)، سنن النسائي/البيوع ٧٤ (٤٦٤٠)، سنن ابن ماجه/التجارات ٣١ (٢٢١٠)، (تحفة الأشراف: ٦٨١٩، ٨٣٣٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البيوع ٧ (١٠)، مسند احمد (٦/٢)، سنن الدارمي/البيوع ٢٧ (٢٦٠٣) (صحيح)

اختلاف ثمر دا مسئله هم ليکلي ده چه د جمهورو په نزد د غلام دپاره تسري (١) يعني وطی بملک اليمين، او د امام مالک رحمه الله په نزد جائز ده، دويمه مسئله په دې حديث کښې د بيع نخل ده که يو سړی خپلې د کهجورو اونې د تابير نه پس خرڅې کړې نو په دې صورت کښې به ميوه د اونو تابع نه وی بلکه د بائع دپاره به وی مګر دا که مشتری صراحة شرط اولګوی نو بيا به د مشتری دپاره وی يعنی په بيع کښې به داخله شی، جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاث په دې حديث کښې د موبرا د قيد اعتبار کولو سره هم دا وئيلي دی چه دا حکم د نخل موبر دې او که نخل غير موبر وی نو په دې صورت کښې به ثمر د بائع دپاره نه وی بلکه د اونو تابع کيدو سره به د مشتری دپاره وی، او د احنافو په نزد دا قيد اتفاقی دې احترازی نه دې، د هغوی په نزد قبل التابير او بعد التابير په دواړو صورتونو کښې به ميوه د بائع دپاره وی. او دلته يو دريم مذهب هم دې هغه دا چه د ثمر به په دواړو صورتونو کښې د مشتری دپاره وی، دې طرف ته تلې دې ابن ابی ليلی، د جمهورو استدلال په طريقه د مفهوم مخالف دې او احناف چونکه د مفهوم مخالف اعتبار نه کوی په دې وجه هغوی دا اختيار نه کړو، هغوی دا وائی چه ثمر مستقل څيز دې او اونې مستقل.

[٣٤٣٤](٢) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِقِصَّةِ الْعَبْدِ، وَعَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِقِصَّةِ النَّخْلِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَاخْتَلَفَ الزُّهْرِيُّ، وَنَافِعٌ، فِي أَرْبَعَةِ أَحَادِيثَ هَذَا أَحَدُهَا.

نافع دعبدالله ابن عمر رضی الله عنهما نه اوهغه دنبی علیه السلام نه صرف دغلام واقعه نقل کړې ده او همدارنګې نافع دابن عمرنه په بل روايت کښې صرف دکجورې واقعه نقل کړې ده. امام ابوداؤد فرمائی چه زهري اونافع په څلورو احاديثوکښې اختلاف کړې اويو دهغوی نه دادې.

﴿عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِقِصَّةِ الْعَبْدِ وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- بِقِصَّةِ النَّخْلِ﴾

مصنف رحمه الله د راويانو اختلاف بيانوی، د دې حديث ړومبې طريق سالم عن ابن عمر دې او دويم طريق ئې نافع عن ابن عمر دې، د سالم نه روايت کونکې امام زهری رحمه الله دې، او د نافع نه روايت کونکې مالک، نو دلته د سالم او د نافع اختلاف راغی هغه دا چه سالم د حديث دواړه اجزاء يعنی بيع نخل او بيع عبد دا دواړه د خپل پلار ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت کړل، او نافع بيع النخل خو د ابن عمر نه روايت کړو، او بيع العبد ئې عن ابن عمر عن عمر رضی الله عنه نه روايت کړو، يعنی د يو جزء راوی ئې عمر رضی الله عنه کړو او د يو جزء راوی ابن عمر رضی الله عنهما په خلاف د سالم چه هغوی دواړه اجزاء د ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت کړل.

په بعض نسخو کښې يو عبارت دې چه د هغې مطلب دا دې چه د محدثينو په نزد څلور احاديث داسې دی چه په هغې کښې د نافع او زهری اختلاف دې په هغه څلورو کښې يو دا هم دې، ياد دی چه د رفع يدين په بحث کښې د ابن عمر رضی الله عنهما د حديث د لاندې دا تير شوی

١) تسری، د سرية نه ماخوذ دې هغه وينځې ته وائی چه هغه انسان د وطی دپاره ساتی.
٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٨٣٣٠، ١١٥٥٨) (صحيح)

دی چه د سالم او نافع په څلورو احادیثو کښې په رفع او وقف کښې اختلاف دې یو د هغې نه د رفع الیدین والا حدیث هم دې کوم چه سالم مرفوعا او نافع موقوفا روایت کړې دې.
وحدیث سالم اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[۳۴۳۵](¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي سَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ، حَدَّثَنِي مَنْ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ بَاعَ عَبْدًا، وَلَهُ مَالٌ فَمَالُهُ لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ".

د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي دي: څوك چه داسې غلام خرڅ کړي چه مال ورسره وي نو خرڅونکي د دې حقدار دي مګر هله چه خریدار شرط لګولې وي.

بَابٌ فِي التَّلَقِّي

بازارته د راتلو نه مخکښې د سوداګرو سره د ملاویدو بیان

[۳۴۳۶](²) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلَا تَلَقَّوُا السِّلَعَ حَتَّى يُهْبَطَ بِهَا الْأَسْوَاقَ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څوك دې دچا په سودا باندې سودانه کوي (یعنی یوخریدار دې دبل خریدارپه سودا کښې کارنه لری اوسودادې کامل کیدوته پریږدي) اوترڅوپورې چه تاجر بازارته خپل مال نه وي راوړې ددینه مخکښې ورسره سوداکول منع دي.

د مسئلة الباب تشریح مع اختلاف ائمة:

د تلقی نه مراد تلقی الجلب دې لکه چه د باب په حدیث ثانی کښې دی ﴿ نهی عن تلقی الجلب ﴾ جلب مصدر په معنی د مجلوب یعنی هغه سامان چه هغې لره د کلی نه ښهر ته د خرڅولو او تجارت دپاره راوړلې شی او تلقی په معنی د استقبال، لهذا مطلب دا شو چه کوم مال باندچیان د کلونه د ښهرونو منډئ ته د خرڅولو دپاره راوړی، که د ښهر یو فرد د هغه راتلونکي قافلې استقبال د هغه ښهر ته د رسیدو نه مخکښې اوکړی او هغه سامان هم هلته په لاره کښې واخلی منډئ ته رسیدو ته ئې نه پریږدی نو رسول الله ﷺ د دې نه منع فرمائیلې ده. د جمهورو په نزد تلقی رکبان مطلقاً ممنوع دې او په دې کښې اختلاف دې چه حرام دې که مکروه، او ابن المنذر د احنافو مذهب دا نقل کړې دې چه د هغوی په نزد بغیر د کراهت نه جائز دې خو په دې باندې حافظ تعقب کولو سره فرمائیلې دی چه په کتب د احنافو کښې خو دا دی چه تلقی په دوه صورتونو کښې مکروه دې، یو دا چه اهل بلد ته د هغې نه ضرر رسیږی، یا دا چه د دې ښهر والا د طرف نه تلبیس سعر اومندلې شی، یعنی هغه غلط بیانی اوکړی او دې قافلې ته د بازار صحیح قیمت بیان نه کړی بلکه د هغې نه ئې ورته کم یاد کړی آه حافظ صحیح فرمائیلې دی چه د احنافو په نزد نه تلقی مطلقا مباح ده

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۱۷۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۰۱) (صحيح)

²): صحيح البخاري/البيوع ۷۱ (۲۱٦۸)، صحيح مسلم/البيوع ۵ (۱۵۱۷)، سنن النسائي/البيوع ۱۸ (٤۵۰۷)، سنن ابن ماجه/التجارات (۲۱۷۹)، (تحفة الأشراف: ۸۳۲۹، ۸۰۵۹)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ البيوع ٤۵ (۹۵)، مسند احمد (۲/۷، ۲۲، ٦۳، ۹۱) (صحيح)

او نه مطلقا مکروه لکه چه د جمهورو په نزد ده بلکه هم په دې دوه صورتونو کښې کراهت دې کيږي نشته كما في البذل عن الهداية وابن الهمام.

[۳۴۳۷]() حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو الرَّقِّيَّ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ تَلَقِّي الْجَلَبِ فَإِنْ تَلَقَّاهُ مُتَلَقٍّ مُشْتَرٍ، فَاشْتَرَاهُ، فَصَاحِبُ السِّلْعَةِ بِالْخِيَارِ إِذَا وَرَدَتِ السُّوقَ"، قَالَ أَبُو عَلِيٍّ: سَمِعْتُ أَبَا دَاوُدَ، يَقُولُ: قَالَ سُفْيَانُ: لَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، أَنْ يَقُولَ: إِنَّ عِنْدِي خَيْرًا مِنْهُ بِعَشَرَةٍ.

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی عليه السلام بازارته دراوتلونه مخکښې دمال اخستلونه منع فرمائيلې ده او څوك چه مخکښې لاړ شي اومال واخلي (يعنی په کم قيمت نودغلې مالك لره اختيار دې بازارته دوتلو پورې. امام ابوداؤد فرمائي چه سفيان وئيلی دی په تاسوکښې دې يوکس ديوکس په سوداباندې دې سودانه کوي يعنی داسې به نه وائي چه زماسره ددينه بهتره سوداده او په لس روپئ ده.

﴿فان تلقاه متلق مشتر فاشتراه فصاحب السلعة بالخيار اذا وردت السوق﴾ يعنی که يو انسان د دې راتلونکې قافلې نه يو څيز واخلي نو ښهر ته د رسيدو نه پس صاحب سلعة يعنی بائع ته به د رجوع عن البيع اختيار وی، د دې خيار رجوع اکثر علماء کرام قائل نه دی سوا د شافعی رحمه الله نه فانه اثبت الخيار للبائع قولا بظاهر الحديث قاله الخطابی، د باب رومبی حديث کښې ﴿ لاَ يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ ﴾ مذکور دی په دې باره کښې د امام سفيان ثوری رحمه الله کلام مصنف رحمه الله نقل فرمائي ﴿ قال ابوداؤد قال سفيان ﴾ يعنی د بيع علی بيع اخيه چه د هغې په حديث کښې ممانعت دې سفيان رحمه الله د هغې تفسير کوی.

د بيع علی بيع اخيه، وضاحت :

چه دوه سړی په خپل مينځ کښې د اخستلو او خرڅولو خبره اوکړی نو په مينځ کښې ورته دريم سړې دا اوائی مشتری ته چه زه په دې ثمن کښې دا څيز د دې نه غوره تاته درکولې شم خو دا کراهت په هغه وخت کښې دې چه د اصل بائع او مشتری بيع کولو نه پس په څه مقدار ثمن باندې استقرار شوې وی، او ترڅو پورې چه استقرار نه وی شوې بلکه د کمی او زياتی خبره شروع وی نو بيا د دې ګنجائش شته، بيع علی بيع اخيه کوم چه په حديث کښې راځی د دې شرح تفصيلا په کتاب النکاح کښې ﴿ لا يخطب علی خطبة اخيه الحديث ﴾ د لاندې تيره شوې ده ﴿ فارجع اليه لو شئت ﴾ وحديث ابن عمر رضی الله عنهما اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة مختصرا ومطولا، وحديث ابی هريرة رضی الله عنه اخرجه مسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

[1]: سنن الترمذي/البيوع (۱۲۲۱، ۱۲۲۳)، (تحفة الأشراف: ۱٤٤٤۸)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/البيوع ٥ (۱٥۱۹)، سنن النسائي/البيوع ۱٦ (٤٥٠٥)، سنن ابن ماجه/التجارات ۱٦ (۲۱۷۹)، مسند احمد (۲/۲۸٤، ٤٠۳، ٤۸۸)، سنن الدارمي/البيوع ۳۲ (۲٦٠۸) (صحيح)

بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ النَّجْشِ

د نجش (يعنی نورو اخستونكوته د دهوكې وركولو دپاره نرخ زياتولو) د ممانعت بيان

[۳۴۳۸](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَنَاجَشُوا".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلي دي: چه نجش مه كوئ (نجش دې ته. وائی چه ديوې سودا اخستل دخريدار مقصود نه وي بلكه صرف نرخ زياتول اودوكه وركول ئې غرض وی)

د مسئلة الباب تشريح عند الفقهاء:

د نجش (٢) مطلب دا دې چه د يو څيز د اخستونكی مخكښې زيات قيمت اولګولې شی سره د دې چه د اخستلو اراده ئې هم نه وی چه هغه اخستونكې د دې څيز په ثمن كښې اضافه اوكړی، په دې حديث كښې د دې ممانعت دې. ﴿ لا تناجشو ﴾ ځكه چه دا دهوكه ده خو په بدائع كښې ليكلي شوې دی چه د نجش كراهت په هغه صورت كښې دې چه كله مشتری هغه سامان لره د ثمن په مثل باندې اخلی يعنی پوره قيمت لګولو سره، او كه هغه دې څيز لره اخستل غواړی د ثمن مثل نه په كم باندې نو په دې صورت كښې څوک نجش اوكړی چه هغه خريدار دا څيز په ثمن مثل باندې واخلی يعنی په بازار كښې چه كوم د هغه څيز قيمت وی نو بيا دا نجش مكروه نه دې، اګر چه د ناجش اراده د اخستلو نه وی. آهـ (بذل) او امام نووی رحمه الله فرمائی چه نجش بالاجماع حرام دي او بيع صحيح ده او منعقد كيږی آو ګناه د ناجش سره خاص ده كه دا نجش بغير د علم د بائع نه وی، آو كه د دواړو په موافقت آو سازش سره وی نو بيا به دواړه ګناهګار وی، آو د امام مالک رحمه الله يو روايت دا دې چه د نجش په صورت كښې بيع باطل ده هغوی نهی لره مقتضی د فساد منلې ده. (عون)

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة مختصرا، قاله المنذری

بَابٌ فِي النَّهْيِ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ

د باندېچی دپاره دې ښار والا سودا نه خرڅوی

حاضر يعنی حضری، ښهر والا، باد په معنی د باندچی او كلی وال.

[۳۴۳۹](٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ ثَوْرٍ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ،

---

١): صحيح البخاري/البيوع ٥٨ (٢١٤٠)، صحيح مسلم/النكاح ٦ (١٤١٣)، والبيوع ٤ (١٥٢٠)، سنن الترمذي/البيوع ٦٥ (١٣٠٤)، سنن النسائي/البيوع ١٢ (٤٤٩٢)، سنن ابن ماجه/التجارات (٢١٧٤)، (تحفة الأشراف: ١٣١٢٣)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البيوع ٤٥ (٩٦)، مسند احمد (٢/٢٣٨، ٢٥٤، ٣٩٤، ٤٠٢، ٤١٠) (صحيح)

٢) النجش بفتحين وروي النجش بالسكون، اصله من نجش الصيد وهو اثارته (مغرب ملخصا) من هامش محمد عوامه، وفي البذل قال النووي رحمه الله النجش بسكون الجيم ان يزيد في الثمن لا لرغبته بل ليخدع غيره)

٣): صحيح البخاري/البيوع ٦٨ (٢١٥٨)، ٧١ (٢١٦٣)، الإجارة ١٤ (٢٢٧٤)، صحيح مسلم/البيوع ٦ (١٥٢١)، سنن النسائي/البيوع ١٦ (٤٥٠٤)، سنن ابن ماجه/التجارات ١٥ (٢١٧٧)، (تحفة الأشراف: ٥٧٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٦٨) (صحيح)

قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، فَقُلْتُ: مَا يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ؟، قَالَ: لَا يَكُونُ لَهُ سِمْسَارًا".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې فرماني چه نبی علیه السلام منع فرمائيلې ده ددينه چه يوښار والا سړې د باندچې دپاره سوداخرڅه کړي، ماعرض اوکړوددې څه مطلب دې؟ نبی علیه السلام اوفرمائيل دهغه دلالي دې نه کوي.

قوله: ﴿نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم- أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ﴾

د مسئلة الباب تشريح :

وړاندې په روايت کښې دی چه شاګرد د استاد نه تپوس اوکړو چه د دې حديث څه مطلب دې نو هغوی اوفرمائيل مطلب دا دې چه د ښهر سړی لره د کلي وال دپاره دلال جوړيدل نه دی پکار، کلي وال چه د کلي نه کوم مال ښهر ته د خرڅولو دپاره راوړی نو چونکه په ښهر کښې د هغوی د قيام باقاعده ځائې نه وی نو هغوی دې ځيز لره بسعر اليوم خرڅ کړی او لاړ شي، يعنی د هغه ځيز چه هغه ورځ په منډئ کښې کوم نرخ وی په هغې سره، او چونکه په منډئ کښې د ځيز نرخ کميږی زياتيږی په دې وجه يو ښهر والا خپل پيژندګلو کلي وال ته دا اووائی چه ته خپل سامان ماسره کيږده په کومه ورځ باندې چه د منډئ نرخ مناسب وو په هغه ورځ باندې به زه دا ستا د طرف نه خرڅ کړم نو په هغې کښې اګر چه د دې کلي وال خو فائده ده خو د عامو خلقو نقصان دې په دې وجه شريعت په دې انفرادی فائده باندې اجتماعی فائدې لره ترجيح ورکولو سره د داسې کولو نه منع اوفرمائيله پس د باب په آخری حديث کښې راځی ﴿لا يبع حاضر لباد وذروا الناس يرزق الله بعضهم من بعض﴾ يعنی دا کلي وال پريږدئ او څنګه چه هغوی معامله په خپله کوی د ښهر والو سره ارزانه يا ګرانه هر څنګه چه وی پريږدئ چه اوکړی، الله پاک د يو نه بل ته فائده رسوی.

په مسئلة الباب کښې مذاهب د ائمة :

اوس پاتې شوه دا خبره چه دا ممانعت په کوم صورت کښې دې د جمهورو مسلک دا دې چه کراهت مطلقا دې په دې شرط چه هغه ځيز د خلقو عام حاجت او ضرورت وی، او په شرط د علم بالنهی، او د احنافو په نزد يو خو شرط هم دغه دې چه کوم ځيز داسې وی چه هغې ته اهل مصر محتاج وی، او دويمه دا چه زمانه د ګرانئ وی (عندنا مختص بزمن الغلاء وبما يحتاج اليه اهل المصر)

(د امام بخاری رحمه الله مسلک)

دريم مذهب د امام بخاری رحمه الله وغيره دې چه دا کراهت او نهی په دې صورت کښې ده چه کله د ښهر والا دا کار په مزدورئ باندې اوکړی (کميشن) والا فلا يکره، وقال النبی صلى الله عليه وسلم اذا استنصح احدکم اخاه فلينصح له، ورخص فيه عطاء، شارحينو د امام بخاری رحمه الله مسلک هم دا ليکلې دې چه کراهت د اجر په صورت کښې دې ګينې بيا په دې کښې هيڅ کراهت نشته، بلکه هغه خو د باب د نصيحت نه دې، خو د اجرت اخستلو په صورت کښې نصيحت نشته بلکه خود غرضی ده. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

[٣٤٤٠] (١) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ الزِّبْرِقَانِ أَبَا هَمَّامٍ حَدَّثَهُمْ، قَالَ زُهَيْرٌ: وَكَانَ ثِقَةً، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ أَوْ أَبَاهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ حَفْصَ بْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: حَدَّثَنَا أَبُو هِلَالٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ يُقَالُ لَا يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَهِيَ كَلِمَةٌ جَامِعَةٌ لَا يَبِيعُ لَهُ شَيْئًا، وَلَا يَبْتَاعُ لَهُ شَيْئًا.

دا دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی د باندچی دپاره دي دښار والاسودا نه خرخوی اگرکه دده ورور يا پلاروي. امام ابوداؤد وائی دحفص بن عمر نه مې آوريدلی دی وئيل ئې چه ماته حديث بيان کړې دې ابوهلال هغه د محمد نه آوريدلی دې اوهغه انس بن مالك رضي الله عنه نه چه فرمائيل ئې خلقوبه وئيل چه دار د باندچی دپاره دې ښار والاسودا نه خرخوی) يوجامع کلام دې دده دپاره به نه څه شې خرخوی اونه به دده دپاره خريداری کوی.

[٣٤٤١] (٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ سَالِمٍ الْمَكِّيِّ، أَنَّ أَعْرَابِيًّا حَدَّثَهُ، أَنَّهُ قَدِمَ بِحَلُوبَةٍ لَهُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَزَلَ عَلَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، فَقَالَ: "إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلَكِنِ اذْهَبْ إِلَى السُّوقِ فَانْظُرْ مَنْ يُبَايِعُكَ، فَشَاوِرْنِي حَتَّى آمُرَكَ أَوْ أَنْهَاكَ".

د سالم مکی نه روايت دې فرمائی چه يوباندچې راته وئيلی دی دنبي عليه السلام په زمانه کښې مې يوه النګه اوښه ياد تجارت سامان راوړو او طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه ته لاړم هغه راته اووئيل چه نبي عليه السلام د باندچی دپاره د ښاری د سودا خرخولونه منع فرمائيلي ده، پخپله بازار ته لاړ شه هلته به اوګوري چه څوك درسره داخستلواوخرخولو معامله کوي، بيابه زمانه مشهوره واخلي زه به درته اووايم چه خرخ ئې کړه پائې مه خرخوه (مګردانښي کيدې چه زه درسره لاړشم اوستا دپاره دلال جوړشم).

قوله: ﴿ عَنْ سَالِمٍ الْمَكِّيِّ أَنَّ أَعْرَابِيًّا حَدَّثَهُ أَنَّهُ قَدِمَ بِحَلُوبَةٍ لَهُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَنَزَلَ عَلَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ الخ ﴾ يعنی يو اعرابی خپله واقعه بيان کړه چه هغه خپله يوه پيۍ ورکونکې اوښه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې د باندې نه ښهر ته راوستله، او د طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه سره کوز شو (او هلته په کوزيدو کښې د دې باندچی مقصد دا وو چه فورا دا اوښه منډۍ ته بوتلو سره د خرخولو په ځائې د هغوی کره ولاړه وی او دې په خپل اختيار څه مناسب موقع باندې چه کله د دې خرخول اوغواړی بازار ته بوتلو سره خرڅه کړی) خو طلحه رضي الله عنه د دې دپاره تيار نه شو او وې فرمائيل چه ګوره روره! رسول الله صلى الله عليه وسلم د بيع الحاضر للبادی نه منع فرمائيلې ده لهذا ته خپله دا بازار ته بوځه بيا چه د چا په لاس باندې ستا د خرخولو رائې وی راشه او ما سره مشوره اوکړه، د دې نه زيات زه نه شم کولی.

وحديث جابر رضي الله عنه آخر احاديث الباب اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

(١): سنن النسائي/البيوع ١٥ (٤٤٩٧)، (تحفة الأشراف: ٥٢٥، ١٤٥٤)، حديث حفص بن عمر قد أخرجه: صحيح البخاري/البيوع ٧٠ (٢١٦١)، صحيح مسلم/البيوع ٦ (١٥٢٣)، وحديث زهير بن حرب قد أخرجه (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٠١٩) (ضعيف الإسناد)

[۳۴۴۲]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَذَرُوا النَّاسَ يَرْزُقُ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ".

د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی د ښاري چي دپاره دي ښاروالا سودا نه خرڅوي، او خلق پرېږدئ چه الله تعالى بعضو ته د بعضو په ذريعه رزق ورکړي.

بَابُ مَنِ اشْتَرَى مُصَرَّاةً فَكَرِهَهَا

که چرې څوک لنګه چېلئ يو وخت و نه لوشي او خرڅه ئې کړي نو خريدار به څه کوي؟

[۳۴۴۳]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ لِلْبَيْعِ، وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلَا تُصَرُّوا الْإِبِلَ وَالْغَنَمَ، فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدَ ذٰلِكَ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ، بَعْدَ أَنْ يَحْلُبَهَا فَإِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا، وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ".

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی د سوداګرو د قافلو مخوته مه ورځئ (د ارزان اخستلو اوګران خرڅولو دپاره) او يو څوک دې د بل چاپه سودا سودا نه کوي او داوښو او چيلو په غلانځوکښې شوده مه جمع کوئ، اوڅوک چه داسې اوښه يا چيلئ واخلي نو هغه ته د پيو ويستلو نه پس د قبول کولو او واپس کولو اختيار دې که چرې خوښه ئې وي نو ساتلې شي او که واپس کول غواړي نو د يو صاع کجورو سره دې واپس کړي.

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ...... وَلاَ تُصَرُّوا الإِبِلَ وَالْغَنَمَ فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْلُبَهَا فَإِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ او دې نه روستو طريق کښې داسې دی ﴿ فَهُوَ بِالْخِيَارِ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ ﴾ او وړاندې دی ﴿ رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ طَعَامٍ لاَ سَمْرَاءَ ﴾ او د هغې نه روستو په حديث د ابن عمر رضي الله عنهما کښې دی ﴿ فَإِنْ رَدَّهَا رَدَّ مَعَهَا مِثْلَ أَوْ مِثْلَيْ لَبَنِهَا قَمْحًا ﴾

د حديث المصراة شرح او په دې باندې کلام من حيث الفقه :

په دې باب کښې يو اهم او مشهور اختلاف مسئله ذکر شوې ده يعنی مسئله د بيع المصراة، مصراة د اسم مفعول صيغه ده د تصريه نه چه د هغې لغوی معنی حبس ده يعنی (بندول) او په عرف کښې وائی په غلانځه کښې پئ بندولو ته، چه د هغې شرح دا ده چه بعض خلق چه کله د پيو والا يو څاروې خرڅول غواړی نو هغوی دا حرکت کوی چه په اراده د بيع سره يو دوه ورځې مخکښې د هغې پئ لوشل بند کړی چه پئ د هغې په غلانځه کښې نو هغه مشتری دا ګنړی چه دا څاروې ډير زيات پئ ورکونکې دې او هغه هم په دې ګنړلو باندې اخلی بيا چه کله هغه کور ته راوستلو سره اوتړی نو يو ورځ دوه پس د هغه په پيو کښې کمې راشی نو هغه پريشانه شی او هغه ته د بائع د هوکې ورکولو علم اوشی داسې

---

[1]): صحيح مسلم/البيوع ٦ (١٥٢٢)، (تحفة الأشراف: ٢٧٢١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/البيوع ١٣ (١٢٢٣)، سنن النسائي/البيوع ١٥ (٤٥٠٠)، سنن ابن ماجه/التجارات ١٥ (٢١٧٧)، مسند احمد (٣٧٩/٢، ٤٦٥) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/البيوع ٦٤ (٢١٥٠)، صحيح مسلم/البيوع ٤ (١٥١٥)، سنن النسائي/ البيوع ١٥ (٤٥٠١)، سنن ابن ماجه/التجارات ١٣ (٢١٧٢)، (تحفة الأشراف: ١٣٨٠٢)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/البيوع ١٣ (١٢٢٣)، موطا امام مالك/البيوع ٤٥ (٩٦)، مسند احمد (٣٧٩/٢، ٤٦٥) (صحيح)

څاروی ته په عرف کښې مصراة وئيلې شی، اوس دا چه په دې قسم معامله کښې څوک اخته شی نو د هغې حل او حکم څه دې په حديث الباب کښې دا دی چه په داسې صورت کښې هغه ته دواړه اختياره دی که دې څاروی لره په دې موجوده حالت کښې ساتل غواړی نو او دې ساتی، او که واپس کول غواړی نو واپس دې کړی، او په يو روايت کښې په دې کښې د درې ورځو قيد دې چه په درې ورځو کښې دننه دننه ئې واپس کولې شی نو واپس دې کړی، او په يو روايت کښې په دې کښې د درې ورځو قيد هم دې چه په درې ورځو کښې دننه دننه ئې واپس کولې شی د دې نه پس نه، دا پکښې هم ده چه کله دا مصراة واپس کړی نو د دې سره دې يو صاع د تمر هم واپس کړی.

مذاهب د ائمة :

په دې حديث باندې د ائمه ثلاث او امام ابويوسف رحمه الله عمل دې دا حضرات تصريه عيب گڼړی او د عيب په صورت کښې چونکه خيار درکولو کيږی په دې وجه دلته هم د رد خيار منی طرفين يعنی امام ابوحنيفه او امام محمد رحمه الله وفی رواية لمالک ايضا: تصريه عيب نه دې څکه چه د دې تعلق د ذات د مبيع سره نه دې بلکه وصف د مبيع سره دې، لهذا د تصريه د وجې نه به خيار رد نه حاصليږی، بله دا چه خيار عيب د درې ورځو سره نه شی مقيد کولې بلکه مطلقاً وی او دلته په حديث کښې درې ورځو سره مقيد دې چه په درې ورځو کښې ئې رد کولې شی روستو نه، بهر حال احنافو په دې حديث باندې عمل نه دې کړې.

حديث المصراة د اصولو مخالف دې د اتو وجو نه :

علامه عينی رحمه الله فرمائی ﴿ واقوی وجوه فی ترک العمل بها مخالفتها للاصول من ثمانية اوجه، يعنی د احنافو په دې حديث باندې د عمل نه کولو وجه دا ده چه دا حديث د اصولو او د قواعدو کليو خلاف دې د اتو وجو نه، بيا هغوی دغه وجوه ثمانيه په تفصيل سره بيان کړل، د علامه عينی دا پوره کلام په بذل المجهود کښې موجود دې، بعض د هغه وجوه نه دادی چه په دې حديث کښې د صاع من تمر ورکولو حکم دې نو ښکاره خبره ده چه دا د هغه [۳٤٤۳] پيو عوض دې کوم چه مشتری خپل څائې ته راوستلو سره رالوشلی دی، يعنی د هغې تاوان دې، خو په ضمان کښې خو مماثلت ضروری دې لقوله تعالی : ﴿ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ ﴾ چه د هغې نه معلوميږی چه د ضمان دپاره ضروری ده چه هغه دې بالمثل وی، او د مثل دوه قسمونه دی مثل صوری کوم چه په ذوات الامثال کښې کيدې شی (او لبن په ذوات الامثال کښې دې) او دويم مثل معنوی، يعنی قيمت کوم چه ذوات القيم وی لکه حيوانات وغيره، او صاع تمر خو نه مثل صوری دې او نه مثل معنوی، بله دا چه دلته ردد صاع کوم چه د ضمان په طور دې هغه کيدل نه دی پکار څکه چه قاعده منصوصه دا ده ﴿ الغرم بالغنم، الخراج بالضمان ﴾ يعنی فائده هم د هغه وی چه په چا باندې ضمان واجب وی، او دلته دا حيوان يعنی مصراة په ضمان د مشتری کښې وو چه په دې دوران کښې چه هغه څاروې هلاک شی نو ظاهره ده چه د دې ضامن به مشتری وی لهذا په دې صورت کښې د دې څناور چه نفع او ثمره دې يعنی پئ هغه هم د مشتری دپاره کيدل پکار دی بيا به په هغه باندې ضمان ولې واجب وی، په دې

حديث كښې دى ﴿ ردها وصاعا من تمر ﴾ د ظاهر حديث تقاضه ده چه صاع دتمر د هر مصراة په مقابله كښې دې كه يو وى يا زيات، خو اكثر هغه حضرات كوم چه په حديث د مصراة باندې د عمل قائل دى د هغوى مسلک دا دې چه هر يوه بيزه يا چه كوم هم څاروې وى مصراة به د هغې په بدله كښې يو يو صاع وى، د مصراة د عدد مطابق. لكه بعض شوافع لكه ابوالحسن ماوردى د هغوى په نزد دا حكم مطلق مصراة دپاره دې كه يو وى او كه د هغې نه زيات وى، ﴿من شاة وكذا من الف شاة ﴾ په دې حديث كښې دى ﴿صاعا من طعام لا سمراء ﴾ چه د هغې مطلب دا دې چه هغه صاع د غنمو نه دى كيدل پكار د دې نه علاوه د بل خوراک څيز به وى، علامه شوكانى رحمه الله فرمائى ﴿ وينبغى ان يحمل الطعام على التمر المذكور فى اكثر الروايات ﴾ بيا وړاندې هغه ليكى چونكه د طعام متبادر معنى غنم وو په دې وجه راوى د هغې نفى اوكړه بقوله ﴿ لا سمراء ﴾ خو د دې نه روستو روايت كښې راځى ﴿ رد معها مثل او مثلى لبنها قمحا ﴾ په دې دواړو كښې تعارض ظاهر دې چه په ړومبى حديث كښې د غنمو نفى وه او په دې كښې اثبات، قلت اجاب عنه الحافظ بان اسناد هذا الحديث ضعيف، قال وقال ابن قدامة انه متروك الظاهر بالاتفاق، قال المنذرى، واخرجه ابن ماجة، وقال الخطابى وليس اسناده بذاک آهـ من العون، معلومه شوه چه دا دويم روايت د ابوداؤد نه علاوه صرف د ابن ماجه دې، او هغه روايت چه په هغې كښې ﴿ لا سمراء ﴾ راغلې دې. هغه د صحيح مسلم روايت دې.

اهل اصول ليكلې دى چه حديث المصراة خبر واحد دې، او په خبر واحد باندې د عمل شرط دا دې چه هغه د اوصول خلاف نه وى، او حديث المصراة خلاف الاصول دې اگر چه سندا ثابت او صحيح دې، ځكه چه دا حديث د صحيحينو بلكه د صحاح ستة روايت دې او د حضرت اقدس گنگوهى په افادات درسيه كښې كوم لره چه زمونږ د شيخ والد مولانا محمد يحيى كاندهلوى نور الله مرقده قلم بند كړې دې، او كوم چه سهارنپورى دلته په بذل المجهود كښې نقل فرمائيلې دې، د دې حاصل دا دې چه دا روايات د احنافو په نزد د خپل موارد سره خاص دى، د قواعد كليه او د نورو نصوصو د خلاف كيدو د وجې نه، او كلمه د من كومه چه په دې رواياتو كښې ده د هغې دپاره عموم جنسى يا نوعى لازم نه دې، ډير كرته دا لفظ په قضيه شخصيه كښې مستعمل كيږى ځكه چه په خپل مقام باندې دا خبره ثابته ده چه اسم موصول ډير كرته د عهد دپاره هم استعماليږى لكه چه د عموم دپاره استعماليږى، او امام شافعى رحمه الله اگر چه د دې خبرې اقرار كوى چه دا روايات مخالف دى د كلياتو ملخصا خو د هغوى رائې دا ده چه دا روايات عام دى د خپل مورد سره خاص نه دى. آهـ

[٣٤٤٤](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، وَهِشَامٍ، وَحَبِيبٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنِ اشْتَرَى شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ بِالْخِيَارِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ إِنْ شَاءَ رَدَّهَا

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٤٣١، ١٤٥٦٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/البيوع ٦٤ (٢١٤٩)، ٦٥ (٢١٥١)، صحيح مسلم/البيوع ٧ (١٥٢٥)، سنن الترمذي/البيوع ٢٩ (١٢٥٢)، سنن النسائي/البيوع ١٤ (٤٤٩٤)، سنن ابن ماجه/التجارات ٤٢ (٢٢٣٩)، موطا امام مالك/البيوع ٤٥ (٩٦)، مسند احمد (٢/٢٤٨، ٣٩٤، ٤٦٠، ٤٦٥)، سنن الدارمي/البيوع ١٩ (٢٥٩٥) (صحيح)

وَصَاعًا مِنْ طَعَامٍ لَا سَمْرَاءَ".

دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چاچه تصریه شوي (غلانزئي دڅوورځونه ډکه وي) چیلۍ واخستله نودغه کس ته د درې ورځو پورې اختیاردې دواپس کولویاد ساتلو خوددې سره به یوصاع خوراك ورکوي نه غنم.

[۳۴۴۵]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَخْلَدٍ التَّمِيمِيُّ، حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ يَعْنِي ابْنَ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، حَدَّثَنِي زِيَادٌ، أَنَّ ثَابِتًا مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدٍ، أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ اشْتَرَى غَنَمًا مُصَرَّاةً احْتَلَبَهَا فَإِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا، وَإِنْ سَخِطَهَا فَفِي حَلْبَتِهَا صَاعٌ مِنْ تَمْرٍ".

دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چاچه تصریه شوي (غلانزئي دڅوورځونه ډکه وي) چیلۍ واخستله نودغه کس ته اختیاردې که چرې خوښه ئې شي نو ساتلې شي.اوکه چرې خوښه ئې نه وي نوددې دلولوپه عوض کښې به یوصاع کجورې ورکوي.

[۳۴۴۶]() حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ، حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ جُمَيْعِ بْنِ عُمَيْرٍ التَّيْمِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ ابْتَاعَ مُحَفَّلَةً فَهُوَ بِالْخِيَارِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، فَإِنْ رَدَّهَا رَدَّ مَعَهَا مِثْلَ أَوْ مِثْلَيْ لَبَنِهَا قَمْحًا".

دعبدالله بن عمر نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چاچه ډکه کړې شوي غلانزې والا چیلۍ واخستله نوده ته ددریو ورځو پورې اختیار دې که چرې واپس کوی ئې نو چه څومره پی ئې ورنه لوشلي وي نو دهغې په برابر یا دهغې دوچنده غنم به ورسره واپس کوي.

بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ الْحُكْرَةِ

د ذخیره اندوزۍ کولو بیان

حکرة او حکرة او احتکار د دې ټولو لغوی معنی د جمع او امساک ده، یو څیز لره بندول.

د احتکار حقیقت او تعریف :

د احتکار چه په کوم حدیث کښې ممانعت دې د هغې تعریف امام نووی رحمه الله دا لیکلی دې چه غلې لره د ګرانئ په زمانه کښې د تجارت په نیت باندې اخستلو سره ړدل او فی الحال هغه نه خرڅول د نورې ګرانئ په انتظار چه پیسې زیاتې حاصل شی، او ممانعت په دې صورت کښې دې چه کله دې غلې لره په خپل ښهر کښې اخستلو سره منع کړی، او که د بل ځائې نه ئې اخستلو سره راوړې وی یا ئې ارزان اخستلې وی او بیا هغه بند کړی د ګرانئ په زمانه کښې د خرڅولو دپاره، نو په دې کښې هیڅ ګناه نشته، او په بدائع کښې لیکلې دی چه احتکار دا دې چه د خپل ښهر نه غله اخستلو سره ړدل او هغه نه خرڅول سره د دې چه د ښهر خلقو ته د دې نه نقصان رسیږی او که لوئې ښهر وی چرته چه په داسې کولو باندې خلقو ته نقصان نه رسیږی نو دا احتکار ممنوع نه دې، هم دغه شان ئې که د یوې لرې علاقې نه غله راوړی او په خپل ښهر کښې هغه راوړلو سره هغه منع کړی بیا به هم په دې

[1]: صحيح البخاري/البيوع ٦٥ (٢١٥١)، (تحفة الأشراف: ١٢٢٢٧)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/البيوع ٧ (١٥٢٤) (صحيح)

[2]: سنن ابن ماجه/التجارات ٤٢ (٢٢٤٠)، (تحفة الأشراف: ٦٦٧٥) (ضعيف)

کښې اعتکار نه وی، او که یو ښهر ته نزدې ئې د آبادئ نه راوړلو سره چه د هغې غله دې ښهر ته راځی جمع کړی او ښهر هم ورو کې وی نو بیا به هم محتکر وی. دا خو د احتکار ممنوع تعریف شو.

احتکار په کومو کومو څیزونو کښې منع دې :

دویمه مسئله دلته دا ده چه احتکار په کومو کومو څیزونو کښې ممنوع دې دا مسئله مشهوره اختلافی ده، د امام شافعی او امام احمد په نزد ﴿ ما فيه عيش الناس واقوات البشر ﴾ یعنی په کوم څیز باندې چه د انسان د ژوند بنیاد وی چه د هغې په خوړلو سره خلق عام طور سره ژوند تیروی، او د طرفین (امام ابوحنیفه او محمد) په نزد ﴿ ما فيه عيش الناس وعيش البهائم ﴾ یعنی د انسانانو او څاروو دواړو په غذا او خوراک کښې، او د امام مالک رحمه الله په نزد ﴿ في كل شئ غير الفواكه ﴾ او د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد ﴿ في كل ما تعم الحاجة اليه ﴾ یعنی هغه ټول څیزونه چه د عام حاجت او ضرورت وی.

[۳۴۴۷](1) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ مَعْمَرِ بْنِ أَبِي مَعْمَرٍ أَحَدِ بَنِي عَدِيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَحْتَكِرُ إِلَّا خَاطِئٌ"، فَقُلْتُ لِسَعِيدٍ: فَإِنَّكَ تَحْتَكِرُ، قَالَ: وَمَعْمَرٌ كَانَ يَحْتَكِرُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَسَأَلْتُ أَحْمَدَ، مَا الْحُكْرَةُ؟ قَالَ: مَا فِيهِ عَيْشُ النَّاسِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ الْأَوْزَاعِيُّ: الْمُحْتَكِرُ مَنْ يَعْتَرِضُ السُّوقَ.

د معمر بن ابی معمر نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی د نافرمانو او ګنهګارونه علاوه بل څوک ذخیره اندوزي نه کوي ددې په اوریدلو سره) محمد بن عمرو اووئیل چه ماسعید بن مسیب ته عرض وکړو چه تا خو ذخیره اندوزی کوله، امام ابوداؤد فرمائی ماداحمدبن حنبل نه تپوس اوکړو چه ذخیره اندوزي څه شې دې؟ هغه اووئیل په کوم څیزباندې چه دخلقوژوند روان وي، امام اوزاعي وئیلی دی محتکر هغه چاته وئیلې شي چه غلې بازارته د راتلو نه منع کوي.

﴿ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لاَ يَحْتَكِرُ إِلاَّ خَاطِئٌ ». فَقُلْتُ لِسَعِيدٍ فَإِنَّكَ تَحْتَكِرُ قَالَ وَمَعْمَرٌ كَانَ يَحْتَكِرُ ﴾ د سعید بن المسیب رحمه الله شاګرد هغوی ته اووې چه تاسو د نهی عن الاحتکار حدیث بیانوئ او تاسو خپله احتکار کوئ، هغوی جواب ورکړو چه زما استاد به هم احتکار کولو.

د هغوی مطلب دا وو چه احتکار په هر څیز کښې نه وی، امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی چه ما د امام احمد رحمه الله نه تپوس اوکړو چه احتکار څه څیز دې نو هغوی جواب راکړو، ﴿ ما فيه عيش الناس ﴾ وړاندې مصنف رحمه الله د امام اوزاعی نه نقل کوی ﴿ المحتكر من يعترض السوق ﴾ یعنی محتکر هغه سړې دې چه د خپل ښهر د بازار نه غله اخستلو سره کیږدی او که څوک د دې قسم څیزونه د بهر نه راوړلو سره په خپل ښهر کښې جمع کړی نو هغه احتکار نه دې.

(1): صحيح مسلم/المساقاة ٢٦ (١٦٠٥)، سنن الترمذي/البيوع ٤٠ (١٢٦٧)، سنن ابن ماجه/التجارات ٦ (٢١٥٤)، (تحفة الأشراف: ١١٤٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٥٣، ٦/٤٠٠)، سنن الدارمي/البيوع ١٢ (٢٥٨٥) (صحيح)

[۳٤٤٨] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَيَّاضٍ، حَدَّثَنَا أَبِي. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْفَيَّاضِ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْقَتَادَةَ، قَالَ: "لَيْسَ فِي التَّمْرِ حُكْرَةٌ"، قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى: قَالَ: عَنِ الْحَسَنِ فَقُلْنَا لَهُ: لَا تَقُلْ عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْحَدِيثُ عِنْدَنَا بَاطِلٌ، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَانَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ يَحْتَكِرُ النَّوَى وَالْخَبَطَ وَالْبِزْرَ. وأَحْمَدَ بْنِ يُونُسَ، يَقُولُ: سَأَلْتُ سُفْيَانَ، عَنْ كَبْسِ الْقَتِّ، فَقَالَ: كَانُوا يَكْرَهُونَ الْحُكْرَةَ، وَسَأَلْتُ أَبَا بَكْرِ بْنَ عَيَّاشٍ، فَقَالَ: اكْبِسْهُ.

دقتاده رحمه الله نه روایت دې فرمائی چه په کجورو کښې احتکار نشته، ابن مثنی هم دا د حسن نه نقل کړي دي، محمد بن یحي وئیلی دی چه مونږ ورته اووئیل چه داسې مه وایه چه دا حدیث حسن بصری نه مروی دې، امام ابوداؤد فرمائی دازوایت زمونږ په نردباندې باطل دې امام ابوداؤد فرمائی چه سعید بن مسیب به زړي ذخیره کول امام ابوداؤد فرمائی ماداحمدبن یونس نه آوریدلی دی چه وئیل ئې ما دسفیان نه دځاروو دچراه ګاه په باره کښې تپوس اوکړو نوهغه راته په جواب کښې اووئیل چه سلفو داهم ښه نه دي ګنړلي ماهم ددې خبرې تپوس ابوبکر بن عیاش نه وکړو هغه راته !ووئیل چه ددې ساتل جائزدي (یعنی ددې په ذخیره اندوزي کولو کښې څه حرج نشته).

﴿ قال ابن المثنى قال عن الحسن فقلنا له لا تقل عن الحسن ﴾

د مصنف رحمه الله په دې حدیث کښې دوه استاذان دی محمد بن یحیی او محمد بن المثنی، او د هغوی دواړو استاد یحیی بن فیاض دې، ددې نه پس سند داسې دې ﴿عن همام عن قتادة﴾ نو مصنف رحمه الله فرمائی چه زما استاد محمد بن المثنی په دې سند کښې د قتاده نه پس، ﴿عن الحسن﴾ هم زیاتی کړو، نو مونږ هغوی ته اووې چه ﴿عن الحسن﴾ مه وایه، غالبا دا په دې وجه چه ﴿ليس في التمر حكرة﴾ د امام قتاده رحمه الله قول دې حسن د دې قائل نه دې.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ كَانَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ يَحْتَكِرُ النَّوَى وَالْخَبَطَ وَالْبِزْرَ ﴾

امام ابوداؤد رحمه الله د دې ځائې نه د بعض علماء کرامو مذاهب نقل فرمائی په دې باره کښې چه احتکار په کومو څیزونو کښې ممنوع دې او په کومو څیزونو کښې نه پس فرمائی چه سعید بن المسیب د اونو د پاڼړو او د کهجورو د هډوکو او د نور قسمونو د تخم احتکار کولو یعنی د هغوی په نزد په دې کښې احتکار ممنوع نه وو.

وړاندې په روایت کښې دی ﴿ سالت عن كبس القت ﴾ یعنی د سفیان ثوری رحمه الله د نه ځاروو د خوراک د احتکار په باره کښې تپوس اوشو نو هغوی جواب ورکړو ﴿ كانوا يكرهون الحكرة﴾ چه د هغې غالبا مطلب دا دې چه او علماء په دې کښې هم احتکار ناجائز ګنړی او په دې جمله کښې دا احتمال هم دې چه هغوی د کبس القت د حکم بیانولو نه ځان ساتلې وی په وجه د علم یقینی نه کیدو په دې وجه ئې مطلقا اوفرمائیل چه علماء کرام احتکار لره مکروه ګنړی، مجمله شان خبره ئې اوکړه ﴿ وسالت ابابكر بن عياش ﴾ یعنی ما د ابوبکر بن عیاش نه هم د دې سوال اوکړو یعنی د کبس القت نو هغوی د دې جواب دا ورکړو چه او دا ساتلې شی.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۷٦٥) (صحیح)

بَابٌ فِي كَسْرِ الدَّرَاهِمِ

د سکې د ماتولو بيان

[۳۴۴۹]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ فَضَاءٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُكْسَرَ سِكَّةُ الْمُسْلِمِينَ الْجَائِزَةُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا مِنْ بَأْسٍ".

علقمه بن عبدالله دخپل پلار نه روايت کوی فرمائی چه نبی ﷺ منع فرمائيلې ده ددينه چه څوك دمسلمانانو سکه ماته کړي (کومه چه په مسلمانانو کښې رائج ري) مگر دضرورت په وجه باندې باك نشته.

قوله: ﴿نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ تُكْسَرَ سِكَّةُ الْمُسْلِمِينَ الْجَائِزَةُ بَيْنَهُمْ إِلاَّ مِنْ بَأْسٍ﴾

شرح الحديث:

يعنی رسول الله ﷺ د هغه سکې چه د مسلمانانو ترمينځه ئې رواج وی د ماتولو نه منع فرمائيلې ده مگر دا چه څه ضرورت يا مجبوری وی، د دې منع په علت کښې مختلف اقوال دی وئيلې شوی دی چه چونکه په سکه کښې ډير کرته د الله پاك نوم ليکلې شوې وی حروف وی، په دې کښې د هغې بې ادبی ده، او وئيلې شوی دی چه په دې کښې د مال ضائع کول دی ځکه چه د سکې قيمت زيات وی د مطلق سرو او سپينو زرو نه، او وئيلې شوې دی چه د کسر نه مراد ماتول نه دی بلکه د دراهمو او دنانيرو غاړې نرئ نرئ اخستل دی چه په کوم صورت د دراهم او دنانير سره معامله عددا وی نو بعض د هغې غاړې داسې واخلی چه د هغې وزن کم کړی د غلا او دهوکې د وجې نه د دې نه منع فرمائيلې شوې ده. والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِي التَّسْعِيرِ

د نرخ مقررولو بيان

تسعير د سعر نه اخستلې شوې دې، يعنی د څيزونو نرخ او قيمت متعين کول.

[۳۴۵۰]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ الدِّمَشْقِيُّ، أَنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ بِلَالٍ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنِي الْعَلَاءُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَجُلًا جَاءَ، فَقَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، سَعِّرْ، فَقَالَ: بَلْ أَدْعُو، ثُمَّ جَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، سَعِّرْ، فَقَالَ: بَلِ اللَّهُ يَخْفِضُ، وَيَرْفَعُ، وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَلْقَى اللَّهَ وَلَيْسَ لِأَحَدٍ عِنْدِي مَظْلَمَةٌ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه يو کس دنبی ﷺ په خدمت کښې حاظر شو اوعرض ئې اوکړواې دالله رسوله دڅيزونو نرخونه مقررکړه، نبی ﷺ اوفرمائيل حقيقت دادې چه نرخونه الله تعالی مقرروي اوزياتوي، زه دالله تعالی سره په داسې حال کښې ملاويدل غواړم چه زما دطرف نه په چاباندې زياتې نه وي شوې (يعنی که چرې زه نرخ مقررکړم اوددې په وجه باندې کوم خريدار يا سوداګرته نقصان ورسيږی نودا يوقسم زياتې دې اوزه

[1]: سنن ابن ماجه/التجارات ۵۲ (۲۲۶۳)، (تحفة الأشراف: ۸۹۷۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۱۹/۳) (ضعيف)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۴۰۲۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۳۷/۲، ۳۷۲) (صحيح)

دانه خوښوم چه زه په چاباندې دزياتې په حال کښې دالله سره ملاؤ شم.

﴿أَنَّ رَجُلاً جَاءَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ سَعِّرْ. فَقَالَ « بَلْ أَدْعُو »﴾

شرح الحديث او مذاهب الائمة په مسئلة الباب کښې :

يو سړي د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو يا رسول اللهﷺ! نرخ متعين کړئ، په ظاهر کښې غله يا کوم څيز چه د هغې قائم مقام وی نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل تسعير نه کوم بلکه دعا کوم، بيا يو بل سړي هم راغلو هغه هم دغه درخواست اوکړو نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل (په تسعير سره چرته ګرانی ختميږی بلکه) د څيزونو نرخ د الله پاک په لاس کښې دې دا هم هغه کموی او زياتوی، او زه اميد کوم د دې خبرې (يعنی زما کوشش دا دې) چه زه د الله پاک سره ملاقات اوکړم په هغه حال کښې چه د چا حق په ما باندې نه وی، مظلمة وائی د چا هغه حق ته چه لاندې کړې شی او ادا نه کړې شی، په دې کښې اشاره ده دې خبرې طرف ته چه د حاکم وخت تسعير د خلقو او سوداګرو په حق کښې ظلم دې، په هدايه کښې ليکلې دی چه د قاضی يا حاکم دپاره دا جائز نه دی چه هغه تسعير اوکړی مګر دا چه د طعام خاوندان د حد نه تجاوز اوکړی نو بيا هيڅ باک نشته، هم دغه شان په در مختار کښې دی او په هغې کښې دا هم دی چه امام مالک رحمه الله فرمائی چه والی له پکار دی د ګرانئ په زمانه کښې تسعير اوکړی. آهـ من هامش البذل.

[۳۴۵۱](1) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ، وَقَتَادَةُ، وَحُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ النَّاسُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، غَلَا السِّعْرُ، فَسَعِّرْ لَنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ، الْبَاسِطُ، الرَّازِقُ، وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَلْقَى اللَّهَ وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ يُطَالِبُنِي بِمَظْلَمَةٍ فِي دَمٍ وَلَا مَالٍ".

دانس بن مالك ونه روايت دې فرمائی خلقونبی ﷺ ته عرض اوکړو اې دالله رسوله دضرورت اشياء ګران شول زمونږ دپاره نرخونه مقررکړه نبی ﷺ اوفرمائيل نرخ مقررکونکې الله تعالی دې هغه تنګي هم راولي اووسعت هم راولي اورزقونه ورکوي اوزما اميددې چه زه به دالله تعالی سره په داسې حال کښې مخامخ کيږم چه په تاسوکښې به داسې څوك نه وي چه زمانه دخپل حق مطالبه کوي نه دمال په لحاظ باندې اونه دويني په لحاظ باندې (لهذا زه نرخ نشم مقرر کولې).

بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ الْغِشِّ

د ملاوټ کولو د ممانعت بيان

[۳۴۵۲](2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الْعَلَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَرَّ بِرَجُلٍ يَبِيعُ طَعَامًا، فَسَأَلَهُ كَيْفَ تَبِيعُ؟، فَأَخْبَرَهُ، فَأُوحِيَ إِلَيْهِ أَنْ أَدْخِلْ يَدَكَ فِيهِ، فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهِ، فَإِذَا هُوَ مَبْلُولٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَيْسَ مِنَّا مَنْ غَشَّ".

---

(1): سنن الترمذي/البيوع ۷۳ (۱۳۱۴)، سنن ابن ماجه/التجارات ۲۷ (۲۲۰۰)، (تحفة الأشراف: ۳۱۸، ۱۱۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۸۶/۳)، دي/البيوع ۱۳ (۲۵۸۷) (صحيح)

(2): صحيح مسلم/الإيمان ۴۳ (۱۰۲)، سنن الترمذي/البيوع ۷۴ (۱۳۱۵)، سنن ابن ماجه/التجارات ۳۶ (۲۲۲۴)، (تحفة الأشراف: ۱۴۰۲۲)، وقد أخرجه: حم(۲۴۲/۲) (صحيح)

دابوهريره ﷺ نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ په يوداسې كس باندې تيريدلو چه دخوراك څه شې كې خرڅولو نبي ﷺ ورنه تپوس اوكړو څنګه ئې خرڅوي؟ نوهغه ورته خبر وركړو، نبي ﷺ ته وحي راغله چه لاس ورته داخل كړه او وئې ګوره نبي عليه السلام ورته لاس داخل كړو نومعلومه شوه چه هغه دننه لمده وه، نبي ﷺ اوفرمائيل څوك چه ملاوټ كوي هغه زمونږ نه نه دې.

﴿ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَرَّ بِرَجُلٍ يَبِيعُ طَعَامًا فَسَأَلَهُ « كَيْفَ تَبِيعُ » الخ ﴾ يعنى رسول الله ﷺ په يو داسې سړى باندې تير شو كوم چه د غلې دپاره ناست وو د بيع او تجارت دپاره نو رسول الله ﷺ د هغه نه د بيع په باره كښې سوال اوكړو غالبا قيمت ئې ترې نه معلوم كړو هغه اووې، هم هغه وخت په رسول الله ﷺ باندې وحى راغله چه د دې غلې په ډيرى كښې لاس وردننه كړئ، چه رسول الله ﷺ هغې ته لاس وردننه كړو نو د هغه ډيرى دننه حصه لونده راووتله، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ لَيْسَ مِنَّا مَنْ غَشَّ ﴾.

[۳۴۵۳]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ، عَنْ عَلِيٍّ، عَنْ يَحْيَى، قَالَ: كَانَ سُفْيَانُ يَكْرَهُ هَذَا التَّفْسِيرَ لَيْسَ مِنَّا، لَيْسَ مِثْلَنَا.

د يحي نه روايت دې فرمائي چه سفيان، به دليس منا تشريح په ليس مثلنا باندې كوله.

﴿ كَانَ سُفْيَانُ يَكْرَهُ هَذَا التَّفْسِيرَ لَيْسَ مِنَّا لَيْسَ مِثْلَنَا ﴾ يعنى سفيان ثورى رحمه الله به علماء چه د دې حديث كوم تاويل كوى او د دې چه كومه معنى مرادى بيانوى هغوى به دا تاويل نه خوښولو ځكه چه د خلقو مخكښې د تاويل بيانولو په صورت كښې هغې سره د متكلم غرض فوت كيږى، يعنى تخويف او توبيخ تاويل اصولا خو ضرورى دې د اهل سنت والجماعت د مسلک مطابق، خو د عامو خلقو مخكښې به ئې د دې اظهار غوره نه ګڼړلو، او تاويل په دې وجه ضرورى دې چه د ظاهر حديث نه دا معلوميږى چه كوم سړې مسلمان ته دهوكه وركړى هغه د جماعت المسلمين نه خارج دې حال دا چه د غش د وجې نه د اسلام نه خو نه خارج كيږى، او دا تاويل چه كړې شوې دې هغه دا دې چه كوم مسلمان نورو ته دهوكه وركړى هغه زمونږ په طريقه باندې نه دې، او زمونږ په سيرت باندې نه دې.

والحديث اخرجه مسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة، بنحوه، قاله المنذرى

باب فِي خِيَارِ الْمُتَبَايِعَيْنِ

د اخستونكى او خرڅونكى په مينځ كښې د خيار بيان

[۳۴۵۴]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمُتَبَايِعَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ عَلَى صَاحِبِهِ، مَالَمْ يَفْتَرِقَا إِلَّا بَيْعَ الْخِيَارِ".

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۷۶۹) (صحيح الإسناد)

[2]): صحيح البخاري/البيوع ۴۲ (۲۱۰۷)، ۴۳ (۲۱۰۹)، ۴۴ (۲۱۱۱)، ۴۵ (۲۱۱۲)، ۴۶ (۲۱۱۳)، صحيح مسلم/البيوع ۱۰ (۱۵۳۱)، (تحفة الأشراف: ۸۳۴۱، ۸۲۸۲)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/البيوع ۲۶ (۱۲۴۵)، سنن ابن ماجه/التجارات ۱۷ (۲۱۸۱)، موطا امام مالك/البيوع ۳۸ (۷۹)، مسند احمد (۲/۴، ۹، ۵۲، ۵۴، ۷۳، ۱۱۹، ۱۳۵) (صحيح)

دابن عمر رضی الله عنه نه روایت دي فرمالي چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی دسودا خرڅونکو أواخستونکي په مینځ کښې ترهغې پورې اختیاردې ترڅوچه دیوبل نه جدا شوې نه وي علاوه ددینه چه خیارئي مقررکړې وي.

د خیار مجلس په ثبوت کښې د علماء کرامو اختلاف :

په بیع کښې چه کوم خیار وی د هغې څو قسمونه دی لکه چه تاسو په هدایه ثالث کښې لوستلي دی خیار شرط، خیار عیب، خیار رویت وغیره، یو قسم د خیار بل دې کوم چه مصنف رحمه الله دلته بیانوی یعنی خیار مجلس چه د هغې شوافع او حنابله قائل دی، احنافو او مالکیان ئې قائل نه دی، او د خیار مجلس مطلب د کوم چه شوافع قائل دی دا دې چه د بائع او مشتری ترمینځه د ایجاب او قبول کیدو نه پس چه ترڅو پورې متعاقدین په مجلس عقد کښې موجود دی نو په هغوی دواړو کښې هر یو که بائع وی او که مشتری وی د بیع د باقی ساتلو او د فسخ کولو اختیار وی او د مجلس د ختمیدو نه پس باقی نه پاتې کیږی. ګویا د هغوی په نزد په ایجاب او قبول سره بیع تام خو شی، خو لازمیږی نه، او د دې حضراتو استدلال د حدیث الباب نه دې ﴿ الْمُتَبَايِعَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ عَلَى صَاحِبِهِ مَا لَمْ يَفْتَرِقَا إِلاَّ بَيْعَ الْخِيَارِ ﴾ یعنی په بائع او مشتری کښې هر یو ته دا اختیار حاصل دې په خپل ملګری باندې یعنی د بیع د باقی ساتلو او نه ساتلو تر څو چه هغوی دواړه جدا شوې نه وی. ﴿ الا بیع الخیار ﴾ د دې استثناء تشریح به مونږ روستو کوو، په دې حدیث کښې د افتراق نه مراد د شوافعو په نزد د مجلس نه جدا کیدل دی یعنی تفرق بالابدان، او احناف او مالکیان کوم چه د خیار مجلس قائل نه دی د هغوی په نزد د افتراق نه مراد افتراق بالبدن نه دې بلکه افتراق بالقول دې او د حدیث مطلب دا دې چه په متعاقدینو کښې هر یو ته د خپل قول نه د رجوع کولو اختیار دې تر څو پورې چه هغوی دواړه خپلې خبرې وئیلو سره فارغ شوې نه وی، په اصل کښې ایجاب وائی اول کلام صدر عن احد المتعاقدین ته که هغه مشتری وی او که بائع، لهذا مطلب دا شو چه په بایع او مشتری کښې چه کوم هم ړومبی خبره اوکړی او ایجاب اوکړی نو د دویم د قبلولو نه مخکښې دې صاحب ایجاب ته اختیار دې د دې خبرې چه هغه د خپل قول نه رجوع اوکړی، او د بیع خبره ختمه کړی که د حدیث هم دا مطلب واخستلې شی نو بیا خبره بالکل صفا او واضحه ده یعنی دا معقول خبره ده چه احد المتعاقدین ته اختیار دې د دې خبرې چه هغه د خپل کلام د تلفظ نه پس فورا هغه کالعدم کړی، دا خو شو عدم تفرق، او په حدیث کښې دی چه د د تفرق نه پس اختیار نه پاتې کیږی یعنی دواړه چه کله د خپل کلام نه فارغ شی او د ایجاب نه پس قبول هم اوشی نو اوس د هغې دپاره اختیار باقی نه پاتې کیږی بلکه د ایجاب او قبول نه پس بیع محقق او لازمه شوه او عقد مضبوط شو، ښکاره خبره ده چه که د حدیث مطلب دا واخستلې شی لکه چه احنافو اخستلې دې نو بیا په دې صورت کښې خیار مجلس هیڅ څیز نه دې بلکه د خیار مجلس خو د دې نه نوره هم نفی کیږی، او که څوک دا اووائی چه د تفرق نه متبادر او ظاهری معنی تفرق بالبدن یعنی د مجلس نه پاسیدل دی او د دې تفرق بالقول

کوم چه تاسو بیانوئ ددې څه مثال بیان کړئ نو د هغې جواب دا دې چه آیت کریمه ﴿ وَإِنْ يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِنْ سَعَتِهِ ﴾ چه په دې کښې هم د تفرق نه تفرق بالقول مراد دې ځکه چه په طلاق کښې خو تفرق بالقول وی، هم دغه شان د احنافو نور تائیدات وړاندې هم را روان دی.

په دې حدیث کښې دا وو ﴿ الا بيع الخيار ﴾ چه د هغې په باره کښې مونږ وئیلي وو چه د هغې وضاحت به په آخر کښې لیکو، د دې استثناء په شرح کښې امام نووی رحمه الله د علماء کرامو درې اقوال لیکلي دی اول (۱)دا چه د دې نه مراد تخایر فی المجلس دې او امضاء البیع یعنی د ایجاب او قبول نه پس د مجلس د قیام پورې متبایعین ته د بیع د باقی ساتلو او نه ساتلو اختیار وی خو د تخایر په صورت کښې سره د قیام مجلس هم خیار باقی نه پاتې کیږی، یعنی که په مجلس کښې د ایجاب او قبول نه پس خپل مینځ کښې بیع اختیار کړی هر یو بل ته اووائی چه او ما دا څیز واخستلو دویم دا اووائی چه او ما خرڅ کړو نو اوس بیع لازمه شوه خیار مجلس باقی نه پاتې کیږی، اوس دا نه فسخ کیږی، (۲)دوئمه د دې نه مراد بیع بشرط الخیار ده یعنی الا بیعا شرط فیه خیار الشرط یعنی که د بیع په وخت خیار شرط اوموندلې شی درې ورځې یا د دې نه کم نو په دې صورت کښې به د افتراق باوجود خیار فسخ باقی وی تر مدة مشروطه پورې. (۳)دریمه معنی دا چه د متبایعین دپاره چه تر څو پورې د هغوی افتراق نه وی شوې د هغوی دپاره به خیار باقی وی مګر دا چه د عدم خیار شرط اولګولې شی نو په دې صورت کښې به سره د عدم تفرق خیار مجلس نه حاصلیږی، د دې دریمې معنی په باره کښې هغوی فرمائی وهذا تاويل من يصحح البيع على هذا الوجه، والاصح عند اصحابنا بطلانه بهذا الشرط، یعنی دا دریمه معنی د دې جملې د هغه خلقو په نزد ده کوم چه په دې طریقه باندې بیع جائز ګڼړی، ګینې د شوافعو اصح قول خو دا دې چه داسې بیع صحیح نه ده یعنی په کوم کښې چه د خیار مجلس نه کیدو شرط اولګولې شی. آهـ(بذل) والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري.

[۳٤٥٥](۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ قَالَ، أَوْ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: اخْتَرْ.

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دنبی علیه السلام نه دتیرشوی روایت په شان روایت بیان کړې دې (یعنی چه هغه دواړه ډلې ترڅوپورې دیوبل نه جدا شوې نه وي یا داچه یوکس په دوی کښې بل ته ووائی چه تاته اختیار دې.

﴿عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– بِمَعْنَاهُ قَالَ « أَوْ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ اخْتَرْ ﴾

یعنی په دې روایت کښې په ځائې د ﴿ الا بيع الخيار ﴾ نور الفاظ دی زه وایم دا چه نور الفاظ دی دا هم هغه معنی اوله ده په هغه معانی ثلاثه کښې کوم چه پورته د ﴿ الا بيع الخيار﴾ په شرح کښې تیر شو، امام نووی رحمه الله دې معنی اول ته اصح الاقوال وئیلې دې، او د دې نه

(۱): صحیح البخاري/البیوع ٤۳ (۲۱۰۹)، صحیح مسلم/البیوع ۱۰ (۱۵۳۱)، (تحفة الأشراف: ۷۵۱۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/٤، ۷۳) (صحیح)

په روستو روایت کښې دی ﴿ مَا لَمْ يَفْتَرِقَا إِلاَّ أَنْ تَكُونَ صَفْقَةَ خِيَارٍ ﴾ دا په ظاهر کښې په دغه معانی ثلاثه کښې معنی ثانی ده.

[٣٤٥٦] (١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمُتَبَايِعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَفْتَرِقَا إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَفْقَةَ خِيَارٍ، وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يُفَارِقَ صَاحِبَهُ خَشْيَةَ أَنْ يَسْتَقِيلَهُ".

دعبدالله بن عمرو بن العاص نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی اغستونکې خرخونکی چه ترڅوپورې دیوبل نه جدا شوي نه وي دوی ته اختیاری (داغستلویا دواپس کولو) مګرداچه اختیارمقررکړې شي نوبیا د جدا کیدونه پس هم اختیارباقی پاتې کیږی او په اخستونکې اوخرخونکي دواړوکښې د یودپاره هم حلال نه دي چه د خرڅې شوي سودا دواپس کیدو دویري د وجې نه دیوبل نه جداشي (یعنی مجلس بدل کړی).

د حدیث نه د مسلک احناف تائید :

قوله: ﴿ وَلاَ يَحِلُّ لَهُ أَنْ يُفَارِقَ صَاحِبَهُ خَشْيَةَ أَنْ يَسْتَقِيلَهُ ﴾:

دا د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده روایت دې کوم چه په ابوداؤد، ترمذی او نسائی کښې دې، په دې کښې چه کومه آخری جمله ده، ﴿ ولا يحل له ان يفارق الخ ﴾ دا جمله د خیار مجلس منافی ده چه د هغې شوافع وغیره قائل دی، ځکه چه د استقاله معنی طلب او اقاله ده او اقاله د لزوم بیع نه پس راځی د دې نه معلومه شوه چه خیار مجلس هیڅ څیز نه دې، ځکه که خیار مجلس متبایعین ته حاصلیدې نو بیا په دې صورت کښې په متبایعین کښې به هر یو ته د فسخ اختیار وې، د طلب اقاله ضرورت به نه وو(٢)اوس به په دې صورت کښې د دې پوره حدیث مطلب دا وی چه د متبایعین دپاره د ایجاب او قبول نه پس دا مناسب نه دی چه د مجلس نه زر پاسی او لاړ شی په دې ویره چه هسې نه بل د بیع د فسخ کولو فرمائش اونکړی بلکه د نصیحت او خیر خواهئ تقاضه دا ده چه داسې سوچ دې نه کوی.

سهارنپوری رحمه الله د حکیم بن حزام رضی الله عنه په حدیث کښې کوم چه وړاندې را روان دې د هغې په شرح کښې په دې مسئله کښې د مذهب حنفی په ترجیح کښې مختصر او جامع کلام فرمائیلې دې چه د هغې په اخیر کښې دا دی﴿ ويؤيد الحنفية ما رواه البخارى عن ابن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله ﷺ اشترى من عمر بكر اصعبا فوهبه رسول الله ﷺ لابن عمر بعد الشراء قبل ان يتفرقا، فلو لم يكن التصرف حلالا لاقبل التفرق ولم يتم البيع كيف وهب رسول الله ﷺ البكر لابن عمر بذلك ان التصرف فى المبيع بعد العقد ان لم يخير احدهما الآخر جائزا ﴾ آه

وحديث عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده اخرجه الترمذى والنسائى، قاله المنذرى

(١): سنن الترمذي/البيوع ٢٦ (١٢٤٧)، سنن النسائي/البيوع ٩ (٤٤٨٨)، (تحفة الأشراف: ٨٧٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٣/٢) (حسن)

(٢) ځکه چه د اقالة مطلب خو دا وی چه په بائع او مشتری کښې یو بل ته د معاملې د فسخ کولو درخواست اوکړی.

[۳۴۵۷]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ جَمِيلِ بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي الْوَضِيءِ، قَالَ: غَزَوْنَا غَزْوَةً لَنَا فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا، فَبَاعَ صَاحِبٌ لَنَا فَرَسًا بِغُلَامٍ، ثُمَّ أَقَامَا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا وَلَيْلَتِهِمَا، فَلَمَّا أَصْبَحَا مِنَ الْغَدِ حَضَرَ الرَّحِيلُ، فَقَامَ إِلَى فَرَسِهِ يُسْرِجُهُ، فَنَدِمَ فَأَتَى الرَّجُلَ وَأَخَذَهُ بِالْبَيْعِ، فَأَبَى الرَّجُلُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: بَيْنِي وَبَيْنَكَ أَبُو بَرْزَةَ صَاحِبُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَيَا أَبَا بَرْزَةَ فِي نَاحِيَةِ الْعَسْكَرِ، فَقَالَا: لَهُ هَذِهِ الْقِصَّةَ، فَقَالَ: أَتَرْضَيَانِ أَنْ أَقْضِيَ بَيْنَكُمَا بِقَضَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا"، قَالَ هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ: حَدَّثَ جَمِيلٌ، أَنَّهُ قَالَ: مَا أَرَاكُمَا افْتَرَقْتُمَا.

د ابوالوضي رحمه الله نه روایت دې فرمائی چه مونږ جهاد ته تلي وو اویو مقام ته راغلو اوزمونږ یوملګري غلام داس په بدل کښې خرڅ کړو اوبیا اخستونکې او خرڅونکې دواړه ټوله ورځ اوشپه دلته موجود وو کله چه راتلونکی سحر راغې نو د روانیدو وخت شو چاچه اس خرڅ کړې وو هغه پاڅیدو او پخپل اس باندې ئې زین تړلو په دې وخت کښې دده ملګرې پیمانه شویعنی اس خرڅول ئې ښه ونه ګڼړل هغه اخستونکې ته داس دواپس کولو په اراده ورغې هغه داس دواپس کولونه انکار وکړو ده ورته اووئیل رازه چه ابوبرزه صحابي ته دفیصلي دپاره لاړشو بیا دوی دواړه دلښکر په یوه کناره کښې ابوبرزه ته ورغلل او - واقعه ئې ورته بیان کړه هغه ورته اووئیل ایا تاسودواړه په دې باندې خوشحاله ئې چه زه ستاسوپه مینځ کښې دنبی ﷺ دفیصلي مطابق فیصله وکړم؟ اوبیا ئې اووئیل نبی ﷺ فرمائیلی دی اخستونکې اوخرڅونکی ته اختیار دې ترڅوچه دیوبل نه جدا شوې نه دي اوماته خوداسې ښکاري چه تاسودواړه خو لاجدا شوې نه یئ.

﴿ عَنْ أَبِي الْوَضِيءِ قَالَ غَزَوْنَا غَزْوَةً لَنَا فَنَزَلْنَا مَنْزِلاً فَبَاعَ صَاحِبٌ لَنَا فَرَسًا بِغُلَامٍ ثُمَّ أَقَامَا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا وَلَيْلَتِهِمَا الخ ﴾

مضمون حدیث :

مضمون د روایت دا دې چه مونږ د یو غزوې په سفر کښې وو (په عرف الشذی کښې په حواله د بیهقی لیکلې دی چه دا واقعه د کشتئ په سفر کښې پیښه شوې وه، کذافی هامش البذل) په لار کښې یو ځائې کښې کوز شو نو زمونږ یو ملګری خپل آس د بل ملګری په لاس باندې د یو غلام په عوض کښې خرڅ کړو او په دې واقعه باندې د ورځ باقی حصه او ټوله شپه تیره شوه، بیا په بله ورځ د سحر په وخت کښې د هغه منزل نه د تلو وخت راغلو نو د هغه اس اخستونکی د خپل اس خواله لاړو او په هغه باندې ئې کته برابر کړه د سوریدو دپاره، په دې موقع باندې هغه خرڅونکې په دې خپله بیع باندې پښیمانه شو او دې مشتری ته لاړو او د دې بیع فسخ کولو سره ئې خپل اس واپس اخستل اوغوښتل مشتری د واپس کولو نه انکار اوکړو، بائع اووې چه په دې معامله کښې زما او ستا ترمینځه ابو برزه صحابی رضی الله عنه قاضی او فیصله کونکې دې، پس دا دواړه د هغوی په خدمت کښې حاضر شو او هغوی دواړو د دې خپلې بیع قصه بیان کړه، هغوی اوفرمائیل چه آیا ته په دې باندې راضی ئې چه زه ستا په دې مسئله کښې د رسول الله ﷺ والا فیصله نافذ کړم، او بیا ئې

(): سنن ابن ماجه/التجارات ۱۷ (۲۱۸۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۹۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۴۲۵) (صحيح)

ورته دا حديث واورولو، ﴿ البيعان بالخيار مالم يتفرقا ﴾ او دا ئې هم اوفرمائيل ﴿ اما اراكما افترقتما ﴾ چه زما رائې دا ده چه ستاسو دواړو د دې بيع نه پس تر اوسه پورې افتراق نه دې شوې (لهذا خيار مجلس باقى دې چه د هغې په وجه باندې دبيع د فسخ هر يو ته اختيار دې)

دا د هغه صحابى خپل اجتهاد وو هغوى د افتراق په مفهوم کښې ډير وسعت پيدا کړو او ګويا يو لښکر او د يو سفر په معامله ئې د مجلس واحده معامله اوګرزوله، د دې خو څوک هم قائل نه دی. (بذل)

[۳۴۵۸](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْجَرْجَرَائِيُّ، قَالَ مَرْوَانُ الْفَزَارِيُّ: أَخْبَرَنَا، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ، قَالَ: كَانَ أَبُو زُرْعَةَ إِذَا بَايَعَ رَجُلًا خَيَّرَهُ، قَالَ: ثُمَّ يَقُولُ: خَيِّرْنِي، وَيَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَفْتَرِقَنَّ اثْنَانِ إِلَّا عَنْ تَرَاضٍ".

د يحيي بن ايوب نه روايت دې فرمائى چه کله به ابوزرعه اخستل خرڅول کول نوهغه بل کس ته به ئې اختيار ورکول اوبيابه ئې وئيل ماته هم اختيار راکړه اودابه ئې هم وئيل مادابوهريره رضی الله عنه نه آوريدلی دی چه فرمائيل ئې نبی علیه السلام فرمائيلی دی چه تاسودواړه يعنی اخستونکی خرڅونکي دي ديوبل نه نه جدا کيږي مګرد دواړوپه رضا سره.

﴿ كَانَ أَبُو زُرْعَةَ (۲) إِذَا بَايَعَ رَجُلاً خَيَّرَهُ قَالَ ثُمَّ يَقُولُ خَيِّرْنِى ﴾ يعنى د ابوزرعه دا معمول وو چه کله به هغه د يو سړى سره د بيع معامله کوله نو د ايجاب و قبول نه پس به ئې خپل ملګرى ته په مجلس عقد کښې اختيار ورکولو، يعنى هغه ته به ئې وئيل چه که ته په دې معاملې باندې راضى ئې نو باقى ئې پريږده ګينې فسخ ئې کړه، او بيا به ئې دې ملګرى ته دا وئيل چه هم دغه شان ته هم ماته اختيار راکړه (چه د دواړو طرفونه په ښه طريقه باندې تراضى اوشى) او بيا به ئې هغه ته دا حديث اورولو، ﴿ لاَ يَفْتَرِقَنَّ اثْنَانِ إِلاَّ عَنْ تَرَاضٍ ﴾ چه بائع مشترى دې د څه معامله کولو نه پس بغير د اظهار رضامندئ نه د يو بل نه نهٔ جدا کيږى.

والحديث اخرجه الترمذي ولم يذكر قصته ابى زرعة، قاله المنذرى

[۳۴۵۹](۳) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَفْتَرِقَا فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، وَإِنْ كَتَمَا، وَكَذَبَا مُحِقَتِ الْبَرَكَةُ مِنْ بَيْعِهِمَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، وَحَمَّادٌ، وَأَمَّا هَمَّامٌ، فَقَالَ: حَتَّى يَتَفَرَّقَا أَوْ يَخْتَارَ ثَلَاثَ مِرَارٍ.

د حکيم بن حزام نه روايت دې فرمائى چه نبى علیه السلام فرمائيلى دى دوه سوداکونکو ته اختيار د ترڅوچه جدا شوې نه وي که چرې دوی دواړه پخپل مينځ کښې صحيح عقد وکړي اوسوداعيب بيان کړي نو ددوی دپاره به په دې سوداکښې برکت واچولې شي اوکه چرې

(۱): سنن الترمذي/البيوع ۲۷ (۱۲۴۸)، (تحفة الأشراف: ۱۴۹۲۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵۳۶/۲) (حسن صحيح)

(۲) دا حافظ ابو زرعه رازى نه دې بلکه دا ابوزرعه بن عمرو بن جرير البجلى د تابعينو ثقاتو نه دې)

(۳): صحيح البخاري/البيوع ۱۹ (۲۰۷۹)، ۲۲ (۲۰۸۲)، ۴۲ (۲۱۰۸)، ۴۴ (۲۱۱۰)، ۴۶ (۲۱۱۴)، صحيح مسلم/البيوع ۱ (۱۵۳۲)، سنن الترمذي/البيوع ۲۶ (۱۲۴۶)، سنن النسائي/البيوع ۴ (۴۴۶۲)، (تحفة الأشراف: ۳۴۲۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۰۲/۳، ۴۰۳، ۴۳۴) (صحيح)

دوی دسودا عیب پټ کړي اودروغ اووائي نوبرکت به ختم کړې شي، امام ابوداؤد فرمائی چه دحماد اودسعیدنه هم ددې روایت په شان روایت مروی دې لیکن دهمام په روایت کښې داسې دي چه نبی ﷺ اوفرمائیل چه اخستونکې اوخرڅونکی ته اختیارحاصل دې ترڅو چه دواړه دیوبل نه جدا شوې نه وي اویاداچه درې پیرې ئې اختیار شرط مقرر کړې نه وي.

بَابٌ فِي فَضْلِ الْإِقَالَةِ

داقالې یعنی دبیعې دواپس کولو بیان

اقاله په معنی د فسخ د باب افعال نه، او په مجرد کښې د سمع یسمع نه، قال یقال ففی القاموس : وقلته البیع بالکسر واقلته فسخته، واستقاله طلب الیه ان یقیله..... (بذل)

[۳٤٦٠](١) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا حَفْصٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا أَقَالَهُ اللَّهُ عَثْرَتَهُ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلي دي:څوك چه دیو مسلمان سره اقاله قبوله کړې نو الله تعالی به دقیامت په ورځ دده ګناهونه معاف کړي.

قوله:﴿ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا أَقَالَهُ اللَّهُ عَثْرَتَهُ ﴾

یعنی رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې د تمام بیع نه پس د خپل ملګری سره اقاله اوکړی یعنی قبول کړی نو الله پاك به د قیامت په ورځ باندې د هغه ګناهونه معاف کړی، د دې صورت به دا وی چه دوه کسانو خپل مینځ کښې د بیع او شراء معامله اوکړه، د معاملې د تکمیل نه پس یو کس په هغې باندې پښیمانه شو په اخستلو یا خرڅولو باندې خفه وو او خپل ملګری ته ئې اووې چه که ته دا معامله فسخ کړې نو مهربانی به وی، بل د هغه دا درخواست قبول کړو، په دې حدیث کښې د اقاله قبلونکی دپاره د هغه د ګناهونو د معاف کیدو زیرې دي.

اوګورئ بیع او شراء څه عبادت خو نه دې یو مباح کار دې کوم چه انسان د خپلو ضروریاتو دپاره اختیاروی خو که څوك په شریعت باندې عمل اوکړی او احادیث مخې ته کیږدی نو مباحات هم د هغه د مغفرت ذریعه اوګرځی، د عباداتو به څه وائې. والله تعالی الموفق والحدیث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِيمَنْ بَاعَ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ

په یوه معامله کښې د دوه بیعو کولو د ممانعت بیان

[۳٤٦١](٢) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ زَكَرِيَّا، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ بَاعَ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ فَلَهُ أَوْكَسُهُمَا أَوِ الرِّبَا".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلي دي: څوك چه په یوه معامله

---

(١): سنن ابن ماجه/التجارات ٢٦ (٢١٩٩)، (تحفة الأشراف: ١٢٣٧٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٥٢) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥١٠٥)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/البيوع ١٨ (١٢٣١)، سنن النسائي/البيوع ٧٣ (٤٦٣٦)، موطا امام مالك/البيوع ٣٣ (٧٣)، مسند احمد (٢/٤٣٢، ٤٧٥، ٥٠٣) (حسن)

کښې دوه بيعې وکړي نوپه بيعه کښې چه کومه معامله کمه وي هغه دي اختياري ورنه دامعامله د سود ده.

حديث الباب او د دې مقام کامله تشريح :

قوله:﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ بَاعَ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ فَلَهُ أَوْكَسُهُمَا أَوِ الرِّبَا ﴾ دا حديث په ترمذی کښې هم دې خو په هغې کښې داسې دی، ﴿ نهی رسول الله ﷺ عن بيعتين فی بيعة ﴾ قال ابوعيسى حديث ابی هريرة حديث حسن صحيح، په دې باندې په تحفة الاحوذی کښې دا ليکلي دی قال الحافظ فی بلوغ المرام ﴿ رواه احمد والنسائی وصححه الترمذی وابن حبان، ولابی داؤد : من باع بيعتين فی بيعة فله اوكسهما او الربا انتهى ﴾ تاسو اوکتل چه د ابوداؤد په دې روايت کښې په دې حديث کښې يو زيادت دې کوم چه په دويم حديث کښې نشته، په دې زيادت باندې به مونږ کلام او د هغې شرح وړاندې کوو، ځکه چه د دې زيادت په وجه باندې معامله ګرانه شوه، ړومبی دې د اصل او مشهور حديث په مطلب باندې ځان پوه کړې شی، پس امام ترمذی ﷫ فرمائی ﴿ والعمل على هذا عند اهل العلم ﴾ او بيا هغوی د دې حديث په شرح کښې دوه صورتونه او مثالونه ليکلي دی اول دا چه په يو بيع کښې د دوه بيعو د ممانعت د کوم چه ممانعت کولې شی د هغې شکل دا دې چه يو انسان اخستونکی ته داسې اوائی چه دا کپړه تاته په نقدو خو په لس درهمو درکوم او که په قرض باندې ئې اخلې نو په شل درهمو ئې درکوم اوس دا په يو بيع کښې دوه بيع شوې يو د لس درهمو والا او يو د شلو درهمو والا، نو اوس که قبل التفرق متبايعين په دې دوو کښې د يو تعين اوکړی او د تعين نه پس جدا شی نو بيا خو په دې کښې هيڅ ګناه نشته بلکه جائز دې او که بغير د تعين نه مبهم شان معامله اوکړی او جدا شی نو دا بالاتفاق ممنوع دې د جهالت د ثمن د وجې نه . په حديث کښې هم د دې صورت نهی وارد ده، او بيا امام ترمذی ﷫ د دې حديث په شرح کښې يو بل صورت اوليکلو چه يو سړې بل ته اووائی چه ﴿ابيعک داری هذا بكذا على ان تبيعنى غلامک بكذا الخ ﴾ يعنی زه په تا باندې دا کور په دومره پيسو خرڅوم په دې شرط چه ته په ما باندې خپل غلام په دومره پيسو خرڅ کړې پس که ته د خپل غلام بيع ما سره په دومره پيسو کوئ نو بيا به زما د کور بيع هم ستا دپاره اوشی، ﴿ وهذا تفارق عن بيع بغير ثمن معلوم، ولا يدری كل واحد منهما على ما وقعت عليه صفقته﴾ دا چه دويم مثال دې په دې کښې هيڅ يو شق د بيع د صحت نشته ځکه چه دا خو بيع بغير د ثمن معلومه نه ده، ځکه چه د کور بائع په هغې باندې بغير د غلام د بيع نه تيار نه دې چه د هغې نه معلوميږی چه په دې بيع د غلام کښې د هغه کټه ده نو ګويا د ثمن څه حصه په دې بيع د غلام کښې داخله ده، او هغه څومره ده دا معلومه نه ده، په دې وجه دا وئيلې کيدې شی چه دا بيع د ثمن مجهول ده، او دا هم وئيلې کيدې شی چه دا بيع په شرط سره ده او د بيع بشرط په حديث کښې ممانعت راغلې دې د دې تولو نه پس تاسو د ابوداؤد حديث واخلئ چه د هغې سياق ددې مشهورحديث نه بالکل مختلف دې ځکه چه ددې مضمون دا دې چه کوم انسان په يوبيع کښې دوه بيع اوکړی نودهغه دپاره﴿اوکس الثمنين

يعني اقل الثمنين﴾ والا بيع جائز ده، او که هغه داسې نه کوي نو بيا به ربا لازميږي، د ربا نه مراد فساد د بيع دې ځکه چه عقود فاسده چه څومره دي هغه په حکم د ربا کښې داخل ګڼړلې شي.

اوس د ابوداؤد د دې حديث حاصل خو دا شو چه مونږ پورته د بيعتين في بيعة چه کوم مخکښې مثال ليکلې وو چه زه دا څيز په قرض دومره باندې درکوم او په نقدو باندې په دومره درکوم نو په دې معامله کښې که بائع او مشتري د لسو درهمو والا صورت روستو اختياروي نو بيا خو دا معامله صحيح ده، او که د زائد ثمن والا شق اختياروي نو بيا دا بيع فاسد ده حال دا چه دا د چا مذهب هم نه دې چه بيع المذکور اقل ثمن والا خو صحيح کيدې شي او اکثر ثمن والا نه شي کيدې، ﴿لم يذهب اليه احد من الائمة الاربعة﴾ خو د امام اوزاعي رحمه الله نه هم دا منقول دی کوم چه د ابوداؤد په دې حديث کښې دی، هم په دې وجه مونږ په شروع کښې وئيلي وو چه دا ابوداؤد دا حديث ډير ګران دې، امام خطابي رحمه الله د دې حديث توجيه دا کړې ده چه دا دې په يو خاص صورت باندې محمول کړې شي يعني د بيع سلم په يو خاص شکل باندې هغه دا چه يو سړي د قفيز حنطة بيع په يو دينار کښې آو کړه تر يوې مياشتې پورې، بيا چه کله موده پوره شوه يعني يو مياشت نو بائع اووې مشتري ته چه ستا چه کومه قفيز حنطة زما په ذمه دې هغه يو قفيز لره د قفيزين په بدله کښې زما په لاس باندې خرڅ کړه تر د دوه مياشتو پورې نو په دې خاص صورت کښې چه کومه رومبئ بيع وه هغه اوکس البيعتين وه، نو په دې صورت کښې خو به هغه جائز وی او دا دويم فاسد [1] او حضرت په بذل کښې د حضرت اقدس ګنګوهي د تقرير نه د دې يو بله توجيه نقل کړې ده هغه دا چه د بيعتين في بيعة دپاره چه مونږ په شروع کښې کوم مثال ليکلې وو چه دا څيز که مشتري نقد واخلي نو د دومره پيسو دې او که قرض ئې واخلي نو د دومره پيسو دې او بيا د هغوی تفرق اوشو بغير د احد البيعتين د تعين نه نو دا بيع د حديث په رڼړا کښې فاسد ده د دې حکم دا وو چه دا بيع واجب الفسخ وه خو دلته دا اوشوه چه مبيع د مشتري سره هلاک شو يا هغه اوخوړلو نو اوس په دې صورت کښې بائع ته پکار دی چه د اصل ثمن اخستلو په ځائې يا خو د هغه مبيع مثل واخلي (ان کان من ذوات الامثال) يعني مبيع لره د فسخ کولو په نيت سره يا د هغې قيمت، او قيمت چه کوم وی [2] عادة اوکس من الثمن وی، او که بائع په صورة مذکورة کښې په ځائې د مثل يا قيمت ثمن واخلي نو ابقاء د بيع به وی، حال دا چه هغه بائع مامور دې د دې په فسخ باندې، او بيع فاسد بلکه ټول عقود فاسده د ربا په حکم کښې داخل دی هم دې ته په حديث کښې وئيلې شوې دی چه ﴿فله اوکسهما او الربا﴾ چه که اوکس نه اختياروی نو ربا به لازميږي.

....

[1] دا د خطابي والامثال خو واقعي د حديث الباب مطابق هم دې او د جمهورو د رائې موافق هم دې.
[2] قيمت خو د يو څيز د بازار په اعتبار سره وی هغه چه په څومره ملاويږي او ثمن هغې ته وائي چه د متعاقدينو ترمينځه مقرر شي.

بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ الْعِينَةِ

باب: بيع عينه منع ده

د بيع عينه تعريف او حکم:

د بيع عينه تعريف ئې دا ليکلې دې ﴿ شراء ما باع باقل مما باع قبل نقد الثمن الاول ﴾ او که غواړئ نو داسې بيان کړئ ﴿ بيع ما اشترى باقل مما اشترى قبل نقد الثمن الاول ﴾ يعنى يو سړى خپل يو څيز په بل سړى باندې په لس درهمه باندې خرڅ کړو تر يو نيټې پورې لا تر اوسه پورې مشترى هغه ته ثمن نه وو ادا کړې چه بائع د ثمن د ادا کولو تقاضا اوکړه او چه کله مشترى هغه ورنکړې شوه نو بائع مشترى ته اووې چه که تا نه دا نشى کيدې نو داسې اوکړه چه هغه څيز په ما باندې په پنځه درهمه خرڅ کړه بيا به ستا په ځما پنځه درهمه باقى پاتې شى هغه روستو ادا کړه د دې په باره کښې ئې دا ليکلې دى چه دا بيع د ائمه ثلاث په نزد ناجائز ده او امام شافعى رحمه الله او د هغه اصحاب دا جائز کړې ده ﴿ قاله الشوکانى فى النيل ﴾ (عون) او په بذل کښې ئې د درمختار نه نقل کړې دى چه بيع عينه مکروه ده او شرعا مذموم ده ځکه چه په دې کښې اعراض عن الاقراض دې يعنى بائع اول د قرض نه د بچ کيدلو دپاره دا صورت اختياروى چه صورة قرض هم اوشى او خپله نفع ئې هم اوشى، په شامى کښې دى چه امام محمد رحمه الله فرمائى ﴿ هذا البيع فى قلبى کامثال الجبال، ذميم اخترعه اکلة الربا ﴾ يعنى هغوى فرمائى چه د دې بيع بوجه زما په زړه باندې د غرونو په شان دې، دا بيع ډيره مذمومه ده چه سود خورو پيدا کړې ده.(۱)

[۳۴٦۲](۲) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ ح وحَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ التِّنِّيسِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَحْيَى الْبُرُلُّسِيُّ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، عَنْ إِسْحَاقَ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ سُلَيْمَانُ: عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْخُرَاسَانِيِّ، أَنَّ عَطَاءً الْخُرَاسَانِيَّ حَدَّثَهُ، أَنَّ نَافِعًا حَدَّثَهُ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ، سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْإِخْبَارُ لِجَعْفَرٍ، وَهَذَا لَفْظُهُ.

د عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه د نبى عليه السلام نه مې اوريدلى دى چه فرمائيل ئې کله چه تاسو بيع عناء وکړئ اودغوا لکئ ونيسئ او کر کرونده شروع کړئ او په دې خوشحاله اوشئ (يعنى هر وخت د دنيا په کارونو کښې خوشحاله يئ) او جهاد هم پريږدئ نو الله تعالى به په تاسو باندې ذلت راوليږي او ذلت به ستاسو نه لرې نکړي ترڅو چه تاسو خپل دين ته واپس رانشئ، امام ابوداؤد فرمائى چه دا د جعفر د روايت الفاظ دي.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ « إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلاًّ لاَ يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ ﴾

---

(۱) وفي الشرح الكبير من باع سلعة بثمن موجل ثم اشتراها باقل منه نقدا لم يجز، روي ذلك عن ابن عباس وعائشة والحسن وابن سيرين والشعبي والنخعي وبه قال الثوري والاوزاعي ومالك واسحق واصحاب الرائي واجازه الشافعي لانه ثمن يجوز بيعها به من غير بائعها فجاز من بائعها كما لو باعها بمثل ثمنها... الي آخر ما في الاوجز ۷/۵)

(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۸۲۲۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۲/۲) (صحيح)

د مسلمانانو دپاره په ترک جهاد باندې سخت وعید :

په دې حدیث کښې د بیع عینه په اختیارولو او ترک جهاد باندې ډیر سخت وعید دې پس رسول اللهﷺ فرمائی چه اې خلقو چه کله تاسو بیعه عینه کوئ او په پټو باندې راضی کیدو سره د غویانو لکئ اونیسئ او جهاد شاته گزار کړئ نو الله پاک به په تاسو باندې داسې ذلت مسلط کړی چه هغه به الله پاک تر هغه وخته پورې نه لرې کوی تر څو چه تاسو خپل دین ته رجوع نه وی کړې، او په قرینه د سیاق حدیث د رجوع الی الدین نه مراد بیع عینه لره پریخودل او جهاد لره په پټی باندې ترجیح ورکول دی، د دې حدیث په شرح کښې شارحینو لیکلې دی چه په اصل کښې جهاد کښې د اسلام اعزاز او د هغې غلبه ده په باقی ادیانو باندې، نو چه کله مسلمانان دا څیز پریږدی چه په هغې کښې د اسلام عزت او غلبه ده نو د دې په سزا کښې به الله پاک په هغوی باندې د عزت نقیض یعنی ذلت مسلط کړی.

بَابٌ فِي السَّلَفِ

د بیع سلف یعنی بیع سلم بیان

په دې کښې دویم لغت سلَم دې. سلف دَ اهل عراق لغت دې او سلم د اهل حجاز، د دې بیع تعریف دا کړې شوې دې، بیع موصوفه فی الذمة، یعنی بائع د مبیع په ښه طریقې سره اوصاف وغیره بیانولو سره مکمل طریقې سره او هغه په خپله ذمه کښې اخستلو سره د نقد ثمن په مقابله کښې خرڅ کړی، د دې تعریف داسې هم کیدې شی، ﴿بیع آجل بعاجل﴾ یعنی د شئ موجل بیع په ثمن معجل سره، د دې بیع شریعت اجازت ورکړې دې خلاف قیاس دفعا لحاجة المفالیس یعنی د غریبانانو حاجت او ضرورت لره په خیال کښې ساتل سره، گینې د قیاس تقاضا دا ده چه دا بیع دې جائز نه وی ځکه چه دا د هغه څیز بیع ده کوم چه غیر موجود عند البائع دې، په دې وجه د دې بیع د صحت دپاره د ډیرو شرطونو موجود کیدل ضروری دی.

د صحت د سلم دپاره شرائط :

پس په قدروی کښې دی : ﴿ولا یصح السلم عند ابی حنیفة الا بسبع شرائط تذکر فی العقد جنس معلوم، ونوع معلوم، وصفة معلوم، ومقدار معلوم، واجل معلوم، ومعرفة مقدار راس المال، وتسمية المكان الذی یوافیه فیه اذا کان له حمل ومؤنة آهدهم دغه شان په کومو څیزونو کښې چه دا بیع جائز ده هغه هم متعین دی ﴿ ففی القدوری السلم جائز فی المکیلات والموزونات والمعدودات التی لا تتفاوت کالجوز والبیض،وفی المدروعات، ولا یجوز السلم فی الحیوان، الی آخره ﴾ په دې کښې بعض نور اختلافی مسائل هم دی کوم چه وړاندې د حدیث په ضمن کښې را روان دی. معلومه دې وی چه په بیع سلم کښې ثمن ته راس المال او مبیع ته مسلم فیه، بائع ته مسلم الیه او مشتری ته رب السلم وائی.

[۳۴٦۳](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي الْمِنْهَالِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُمْ يُسْلِفُونَ فِي التَّمْرِ السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ وَالثَّلَاثَةَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَسْلَفَ فِي تَمْرٍ، فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ، وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ، إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ".

دعبدالله بن عباس نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ کله مدینې منورې ته راغې او هلته به خلقو په میوو کښې په یوکال کښې دوه دوه او درې درې سلمونه کول نوددې مطالق نبی ﷺ اوفرمائیل چاچه دمیوو داخستلو دپاره ایډوانس رقم ورکړې وي هغه لره پکاردي چه ددې موده وزن یاناپ مقرر کړي.

قوله:﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم الى المدينة وَهُمْ يُسْلِفُونَ فِي التَّمْرِ السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ وَالثَّلاَثَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ أَسْلَفَ فِي تَمْرٍ فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ ﴾

یعنی چه کله رسول الله ﷺ هجرت فرمائیلو سره مدینې منورې ته تشریف یوړو نو رسول الله ﷺ اهل مدینه ته اوکتل چه هغې به په کهجورو کښې د بیع سلم معامله کوله، د یو کال کهجورې یا د دوه کالو، او هم دغه شان د درې کالو، نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې د کهجورو په بیع کښې د تمر معامله کوی نو چونکه تمر کیلی دی په دې وجه کیل معلومیدل پکار دی یعنی د دې مقدار کیلا متعین کیدل پکاردی او که د دې بیع تعلق د شئ موزون سره وی نو د مبیع وزن معلومیدل پکار دی او د دې نه علاوه یو شرط هغوی دا بیان اوفرمائیلو چه د بیع سلم موده هم معلومیدل پکار دی، په دې آخری مسئله کښې د جمهور او ائمه ثلاث رائې خو دا ده خو د امام شافعی رحمه الله په دې کښې اختلاف دې، هغوی سلم حال لره جائز ګڼړی هغوی د دې حدیث تاویل دا کړې دې چه د رسول الله ﷺ مراد دا دې که چرې بیع سلم الی اجل وی نو بیا هغه معلومیدل پکار دی.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

[۳۴٦۴](۲) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنِي مُحَمَّدٌ أَوْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُجَالِدٍ، قَالَ: "اخْتَلَفَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ شَدَّادٍ، وَأَبُو بُرْدَةَ، فِي السَّلَفِ، فَبَعَثُونِي إِلَى ابْنِ أَبِي أَوْفَى فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: إِنْ كُنَّا نُسْلِفُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، فِي الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالتَّمْرِ وَالزَّبِيبِ"، زَادَ ابْنُ كَثِيرٍ إِلَى قَوْمٍ مَا هُوَ عِنْدَهُمْ، ثُمَّ اتَّفَقَا، وَسَأَلْتُ ابْنَ أَبْزَى، فَقَالَ: مِثْلَ ذَلِكَ.

دعبدالله بن مجالد نه روایت دې فرمائی چه دعبدالله بن شداد او د ابوبرده په مینځ کښې په سلف کښې اختلاف راغې نوزه ئې ولیږلم ابن ابی اوفیه ته اومادهغه نه تپوس اوکړو هغه اووئیل مونږ به نبی ﷺ اودابوبکره اودعمر په زمانه کښې په غنمو وربشو کجورو او

---

(۱): صحيح البخاري/السلم ۱ (۲۲۳۹)، ۲ (۲۲٤۰)، ۷ (۲۲۵۳)، صحيح مسلم/المساقاة ۲۵ (۱٦۰٤)، سنن الترمذي/البيوع ۷۰ (۱۳۱۱)، سنن النسائي/البيوع ٦۱ (٤٦۲۰)، سنن ابن ماجه/التجارات ۵۹ (۲۲۸۰)، (تحفة الأشراف: ۵۸۲۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۱۷/۱، ۲۲۲، ۲۸۲، ۳۵۸)، سنن الدارمي/البيوع ٤۵ (۲٦۲۵) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/السلم ۲ (۲۲٤۲)، سنن النسائي/البيوع ۵۹ (٤٦۱۸)، ٦۰ (٤٦۱۹)، سنن ابن ماجه/التجارات ۵۹ (۲۲۸۲)، (تحفة الأشراف: ۵۱۷۱)، وقد أخرجه: حم (۳۵٤/٤، ۳۸۰) (صحيح)

وځکوکښې سلف کولو ابن کثير دا اضافه کړې ده مونږ به دهغه خلقوسره دا معامله کوله دکوموسره چه به ميوې موجودې نه وه باقي روايت ددواړو راويانو يوشان دې، دابن ابی ابزي نه تپوس اوکړې شو هغه هم دارنګې بيان وکړو لکه څرنګه چه ابن ابی اوفی کړې دې،

قوله: ﴿أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدٌ أَوْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُجَالِدٍ قَالَ اخْتَلَفَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ شَدَّادٍ وَأَبُو بُرْدَةَ فِي السَّلَفِ الخ﴾ شعبه رحمه الله فرمائی چه ماته خبر راکړو محمد بن مجالد يا عبدالله بن مجالد (كذا فی اكثر النسخ، والصحيح ابن ابی مجالد، كذا فی البذل) چه د عبدالله بن شداد او د ابوبرده اختلاف شو د بيع سلم په باره کښې نو هغه وائی (محمد بن ابی مجالد يا عبدالله بن ابی مجالد) چه هغوی دواړو زه عبدالله بن ابی اوفی صحابی ته اوليږلم، ما د هغوی نه تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائيل چه مونږ به درسول الله ﷺ اودحضرات شيخين په زمانه کښې بيع سلم کوله په حنطه شعير تمر او زبيب تولو څيزونو کښې، او دا معامله به مو د داسې خلقو سره کوله چه هغوی سره به هغه مبيع د عقد په وخت موجود نه وو.

شرح السند:

وړاندې په روايت کښې راځی ﴿الصَّوَابُ ابْنُ أَبِي الْمُجَالِدِ وَشُعْبَةُ أَخْطَأَ فِيهِ﴾ امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی چه صحيح ابن ابی المجالد دې د شعبه نه په دې کښې خطاء واقع شوې ده زمونږ په دې نسخه کښې هم داسې دی خو په دې نسخه باندې د مصنف رحمه الله د کلام مطلب واضحه نه دې ځکه چه شعبه خو ابن ابی المجالد وئيلي وو د حضرت تحقيق دا دې په بذل کښې. چه په عبارت کښې داسې پکار دې ﴿والصواب عبدالله بن ابی المجالد﴾ په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه صحيح خو عبدالله بن ابی المجالد دې، خو د شعبه نه په دې کښې غلطی شوې ده چه هغوی د راوی نوم محمد بن المجالد يا عبدالله بن ابی المجالد په شک سره بيان کړو ﴿إِلَى قَوْمٍ مَا هُوَ عِنْدَهُمْ﴾ کښې يو مسئله مضمر ده، يعنی سلم فی المنقطع چه د هغې تفصيل به انشاء الله وړاندې راشي. والحديث اخرجه البخاری وابن ماجة، قاله المنذری.

[۳٤٦٥](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، وَابْنُ مَهْدِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي الْمُجَالِدِ، وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ، عَنِ ابْنِ أَبِي الْمُجَالِدِ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: عِنْدَ قَوْمٍ مَا هُوَ عِنْدَهُمْ؟ قَالَ أَبُو دَاوُد: الصَّوَابُ ابْنُ أَبِي الْمُجَالِدِ، وَشُعْبَةُ أَخْطَأَ فِيهِ.

دعبدالله بن ابی مجالد يا ابن مجالدنه هم داسې روايت نقل شوې دې چه هغوی به ددې خلقوسره بيع سلم کولو دکوموسره چه به مال موجودنه وو، امام ابوداؤد فرمائی ابن ابی مجالد درست دې اوپه دې روايت کښې دشعبه نه غلطی شوې ده.

[۳٤٦٦](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُصَفَّى، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبِي غَنِيَّةَ، حَدَّثَنِي أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى الْأَسْلَمِيِّ، قَالَ: "غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشَّامَ، فَكَانَ يَأْتِينَا أَنْبَاطٌ مِنْ أَنْبَاطِ الشَّامِ، فَنُسْلِفُهُمْ فِي الْبُرِّ وَالزَّيْتِ سِعْرًا مَعْلُومًا وَأَجَلًا مَعْلُومًا، فَقِيلَ لَهُ: مِمَّنْ لَهُ ذَلِكَ، قَالَ: مَا كُنَّا نَسْأَلُهُمْ".

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥١١٧) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥١٦٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/السلم ٣ (٢٢٤١)، ٧ (٢٢٥٣) (صحيح)

دعبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه مونږه دنبی ﷺ سره دشام دجهاد په سفرکښې شريك وو هلته به زمونږ خواته دشام زمينداران راتلل او مونږ به دهغوی سره په تيلو اوغنموکښې سلف کولو يعنی مخکښې به موقيت اداکړو، ددې څيزونو قيمت به مواداکولو اوددې ميعاد به مو معين کولو، ددوينه چاتپوس اونکړو چه ايا تاسوبه ددوی سره سلف کولر دچاسره چه مال موجود وي هغوی جواب ورکړو مونږ به ددوينه ددې خبرې تپوس نه کولو (چه ايا ستاسوسره داڅيزونه موجود دي اوکه نه دي).

قوله:﴿قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الشَّامَ فَكَانَ يَأْتِينَا أَنْبَاطٌ مِنْ أَنْبَاطِ الشَّامِ فَنُسْلِفُهُمْ فِي الْبُرِّ وَالزَّيْتِ سِعْرًا مَعْلُومًا وَأَجَلاً مَعْلُومًا فَقِيلَ لَهُ مِمَّنْ لَهُ ذَلِكَ قَالَ مَا كُنَّا نَسْأَلُهُمْ﴾

عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه فرمائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د ملک شام په غزوه کښې شريک شو، په ظاهر کښې د دې نه مراد غزوه تبوک ده ﴿ فانها وقعت فی نواحی الشام ﴾ (بذل) نو د دې سفر په دوران کښې به د ملک شام نبطيان مونږ ته راتلل نو مونږ به د هغوی سره په دې اشياء مذکوره فی الحديث کښې د بيع سلم معامله کوله په سعر معلوم او اجل معلوم سره، چا د عبدالله بن ابی اوفی نه تپوس اوکړو چه ستاسو خلقو دا د بيع سلم معامله به آيا د هغه خلقو سره کيدله چا سره چه به هغه شئ مسلم فيه موجود وو؟ نو هغوی جواب ورکړو چه دا خبره به مونږ د هغوی نه نه تپوسله.

د مسئله سلم فی المنقطع تفصيل :

معلومه دې وی چه معامله خو هم د هغه چا سره وی د جمهورو په نزد چه د هغه سره مبيع يعنی مسلم فيه د عقد په وخت موجود نه وی، خو مسئله دا ده چه د مسلم فيه په بازار کښې موجود کيدل ضروری دی يا دا هم ضروری نه دی، په دې لحاظ سره د دې مسئلې څلور صورتونه دی، پس علامه عينی په شرح د بخاري کښ، ﴿ باب السلم الی من ليس عنده اصل ﴾ د لاندې فرمائيلي دی چه د مصنف (امام بخاری رحمه الله) اشاره د سلم المنقطع طرف ته ده چه د احنافو په نزد جائز نه ده او بيا فرمائی چه د دې مسئلې څلور صورتونه کيدې شی ۱: يو دا چه مسلم فيه د عقد په وخت کښې موجود وی او عند الاجل منقطع وی، دا بالاتفاق ناجائز دې. ۲: چه مسلم فيه په بازار کښې د عقد د وخت نه د نيتې پورې موجود وی دا بغير د خلاف نه جائز دې. ۳: دا چه منقطع وی د عقد په وخت او موجود وی د اجل په وخت ۴: دا چه په وخت د عقد او اجل موجود وی او په مينځ کښې منقطع وی دا دريم او څلورم دواړه صورتونه د احنافو په نزد ناجائز دی او د ائمه ثلاث په نزد جائز دی. اهـ(الابواب والتراجم) پس حاصل دا چه د احنافو په نزد د مسلم فيه په بازار کښې موجود کيدل د عقد د وخت نه الی حلول الاجل ضروری دی او د جمهورو په نزد په وخت د نيته کښې موجود کيدل ضروری دی.

په دې حديث کښې د انباط ذکر دې نبط يو عجمی قوم دې کوم چه د عراقيانو ترمينځه اباد وو. اهـمصباح اللغات، د عربو يو قوم دې کوم چه د روميانو سره شامل شوې وو او په شام کښې مقيم وو. (بذل)

بَاب فِي السَّلَمِ فِي ثَمَرَةٍ بِعَيْنِهَا

دخاص ونې په میوه کښې د سلم کولوبیان

[۳۴۶۷](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ رَجُلٍ نَجْرَانِيٍّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَجُلًا أَسْلَفَ رَجُلًا فِي نَخْلٍ، فَلَمْ تُخْرِجْ تِلْكَ السَّنَةَ شَيْئًا، فَاخْتَصَمَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: بِمَ تَسْتَحِلُّ مَالَهُ؟ ارْدُدْ عَلَيْهِ مَالَهُ؟ ثُمَّ قَالَ: لَا تُسْلِفُوا فِي النَّخْلِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ".

دابن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوکس دیوخاص وفي په میوه باندې دسلم معامله وکړه په دې کال کښې په دې ونه کښې میوه ونشوه دواړه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شول اوجګړه ئي پیش کړه، نبی علیه السلام خرڅونکی ته وفرمائیل ته ددې کس مال دڅه شي په عوض کښې اخلې؟ ته دده مال واپس کړه، اوبیا ئي اوفرمائیل دکجورې دونې په میوه باندې دسلم معامله مه کوئ ترڅوچه میوه پخه شوې نه وي.

قوله: ﴿عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلاً أَسْلَفَ رَجُلاً فِي نَخْلٍ فَلَمْ تُخْرِجْ تِلْكَ السَّنَةَ شَيْئًا ﴾

په ترجمة الباب کښې چه کومه مسئله ذکر شوې ده هغه دا ده چه د اشجار معینه په میوو کښې بیع سلم جائز نه دې، ځکه چه ممکنه ده په دې کال په دې اونو باندې میوه رانشی، په دې صورت کښې به مسلم فیه غیر مقدور التسلیم شی حال دا چه مقدور التسلم کیدل ضروری دی، ﴿ ففی القدروی، ولا فی طعام قریة بعینها، ولا فی ثمرة نخلة بعینها ﴾ آهـ

پس د حدیث الباب مضمون هم دا دې چه یو سړی نخله معینه کښې د سلم معامله اوکړه او بیا په هغه کال په هغې باندې میوه رانغله، چه په هغې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم تنبیه اوفرمائیله ﴿بِمَ تَسْتَحِلُّ مَالَهُ ارْدُدْ عَلَيْهِ مَالَه، ثم قال، لاَ تُسْلِفُوا فِي النَّخْلِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلاَحُهُ ﴾ دا په ظاهر کښې مستقل یو بل حکم دې کوم چه مخکښې تیر شوې دې یعنی نهی د بیع نه قبل بدو الصلاح.

بَاب السَّلَفِ لَا يُحَوَّلُ

په بیع سلم کښې چه د کوم څیز خرڅول متعین شوې وي دهغې بدلول منع دی

[۳۴۶۸](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا أَبُو بَدْرٍ، عَنْ زِيَادِ بْنِ خَيْثَمَةَ، عَنْ سَعْدٍ يَعْنِي الطَّائِيَّ، عَنْ عَطِيَّةَ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَسْلَفَ فِي شَيْءٍ فَلَا يَصْرِفْهُ إِلَى غَيْرِهِ".

دابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله فرمائیلی دی څوک چه دیوشي قیمت مخکښې اداکړي نوهغه شې په نورو څیزونو مه بدلوئ.

﴿ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ أَسْلَفَ فِي شَيْءٍ فَلاَ يَصْرِفْهُ إِلَى غَيْرِهِ ﴾

---

(١): سنن ابن ماجه/التجارات ٦١ (٢٢٨٤)، (تحفة الأشراف: ٨٥٩٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البيوع ٢١ (٤٩)، مسند احمد (٢/٢٥، ٤٩، ٥١، ٥٨، ١٤٤) (ضعيف)

(٢): سنن ابن ماجه/التجارات ٦٠ (٢٢٨٣)، (تحفة الأشراف: ٤٢٠٤) (ضعيف)

شرح الحديث مع بيان المذاهب :

د دې حديث په مطلب کښې ئې دوه احتماله ليکلې دی، اول دا چه کوم سړې د بل سره په يو څيز کښې د بيع سلم معامله کوی نو د دې معاملې کولو دپاره، يعنی د مشتری دپاره دا خبره جائز نه ده چه دې مسلم فيه څيز لره خپل غير ته منتقل کړی په اعتبار د بيع يا هبه، يعنی قبل القبض، او دويم احتمال دا چه کوم سړی د چا سره د کوم څيز معامله کړې ده نو د دې مسلم فيه په بدله کښې قبل القبض بل څه څيز وانخلی يعنی د مسلم فيه استبدال د بل څه سره قبل القبض کول جائز نه دی، که رب السلم د مسلم فيه په عوض کښې بل څه څيزاخستل غواړی نو په شئ اول باندې د قبضې کولو نه مخکښې دا استبدال جائز نه دې، د قبضې نه پس ورته اختيار دې، د احتمال اول په صورت کښې، د ﴿ غيره ﴾ ضمير به د ﴿ من ﴾ طرف ته راجع وی، فی قوله ﴿ من السلف ﴾ او په دويم صورت کښې به دا ضمير د شئ طرف ته راجع وی چه د هغې نه مراد مسلم فيه دې، مشهوره دا ده چه په مسلم فيه کښې استبدال قبل القبض د جمهورو په نزد چه په هغوی کښې احناف هم دی جائز نه دې او د امام شافعی رحمه الله په نزد جائز دې، لهذا دا حديث په دې مسئله کښې د جمهورو دليل دې.

والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِي وَضْعِ الْجَائِحَةِ

که چرې په فصل باندې کوم قسم آفت راشی نو خريدار لره نقصان وضع کول پکار دی

مسئله اختلافيه :

د دې مسئلې متعلق حديث په ﴿ باب فی بيع السنين ﴾ کښې هم تيرشوې دې ﴿ ووضع الجوائح ﴾ هلته دا هم تير شوې دی چه ﴿ امر بوضع الجوائح عند الجمهور من باب المعروف والاحسان ﴾ دې او د امام احمد او اکثر محدثينو په نزد علی الوجوب دې، د جمهورو د طرف نه دا هم وئيلې شوې دی چه که حديث په وجوب باندې محمول کړې شی نو دا به په يو خاص صورت کښې وی يعنی چه کله هغه ميوه هلاکه شی قبل التسليم الی المشتری فانها حينئذ فی ضمان البائع، په دې وجه دې صورت کښې به ټول نقصان د بائع وی.

[۳۴۶۹] (۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ بُكَيْرٍ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: "أُصِيبَ رَجُلٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثِمَارٍ ابْتَاعَهَا فَكَثُرَ دَيْنُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَصَدَّقُوا عَلَيْهِ، فَتَصَدَّقَ النَّاسُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَبْلُغْ ذَلِكَ وَفَاءَ دَيْنِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خُذُوا مَا وَجَدْتُمْ وَلَيْسَ لَكُمْ إِلَّا ذَلِكَ".

دابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام په زمانه کښې يوکس ميوه واخستله اوبيا په دغه ميوه باندې څه افت نازل شو اودغه اخستونکې قرضدارې شونبی عليه السلام خلقونه اوفرمائيل چه ده ته صدقه ورکړئ خلقوورته صدقه ورکړه په هغه صدقه باندې

(۱): صحيح مسلم/المساقاة ٤ (١٥٥٦)، سنن الترمذي/الزكاة ٢٤ (٦٥٥)، سنن النسائي/البيوع ٢٨ (٤٥٣٤)، ٩٣ (٤٦٨٢)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٢٥، (٢٣٥٦)، (تحفة الأشراف: ٤٢٧٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٦/٣، ٥٨) (صحيح)

هم دده قرض ادانشونو په دې وخت کښې نبی ﷺ دده قرضدارونه اوفرمائيل تاسوته چه دده د طرف نه څه ملاوشي هغه واخلئ اوددينه علاوه به تاسوته څه نه ملاويږي.

﴿ أُصِيبَ رَجُلٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي ثِمَارٍ ابْتَاعَهَا فَكَثُرَ دَيْنُهُ ﴾

د حديث مضمون واضح دې، وراندې په دې حديث كښې دى ﴿ خُذُوا مَا وَجَدْتُمْ وَلَيْسَ لَكُمْ إِلاَّ ذَلِكَ ﴾ يعنى د خلقو د صدقې كولو نه پس په مشترى باندې، مشترى سره چه څومره پيسې جمع شوې وې هغه ئې وركړې كومې چه د دين برابر نه وې د هغې نه كمې وې نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه بس هم دا يوسه ستا دپاره نور هيڅ نشته، د دې مطلب به د اصولو مطابق دا اخستلې شى چه د رسول الله ﷺ مراد دا دې چه فى الحال ستا دپاره هم دغه دى باقى به درته روستو ادا كيږى.

والحديث اخرجه مسلم والترمذي والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[۳۴۷۰]([1]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، وَأَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي ابْنُ جُرَيْجٍ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ الْمَعْنَى، أَنَّ أَبَا الزُّبَيْرِ الْمَكِّيَّ أَخْبَرَهُ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنْ بِعْتَ مِنْ أَخِيكَ تَمْرًا، فَأَصَابَتْهَا جَائِحَةٌ فَلَا يَحِلُّ لَكَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا بِمَ تَأْخُذُ مَالَ أَخِيكَ بِغَيْرِ حَقٍّ".

د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبی ﷺ فرمائيلى دى كه چرې تاسو پخپل مسلمان وروربانديې ميوه خرڅه كړئ او بيا په دې ميوه باندې كوم افت راشي نوستاسو دپاره دا خستونكي نه څه شې وصول كول جائزنه دي دخپل ورور مال په ناجائزه طريقه باندې څنګه اخلئ؟.

﴿ بِمَ تَأْخُذُ مَالَ أَخِيكَ بِغَيْرِ حَقٍّ ﴾ دا حديث د حنابله په نزد خو په خپل ظاهر باندې دې او د جمهورو په نزد موؤل دې اى فى التقوى، يا قبل التسليم الى المشترى باندې محمول دې لكه چه مخكښې تير شو، اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري

بَابٌ فِي تَفْسِيرِ الْجَائِحَةِ

[۳۴۷۱]([2]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عُثْمَانُ بْنُ الْحَكَمِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: "الْجَوَائِحُ كُلُّ ظَاهِرٍ مُفْسِدٍ مِنْ مَطَرٍ، أَوْ بَرَدٍ، أَوْ جَرَادٍ، أَوْ رِيحٍ، أَوْ حَرِيقٍ".

ابن جريج دعطاء نه روايت كوى چه دافت نه مراد ښكاره تباهي ده لكه باران، يخني، ګلئ، ملخان، باد، سوزيدل.

﴿عَنْ عَطَاءٍ قَالَ الْجَوَائِحُ كُلُّ ظَاهِرٍ مُفْسِدٍ مِنْ مَطَرٍ أَوْ بَرَدٍ أَوْ جَرَادٍ أَوْ رِيحٍ أَوْ حَرِيقٍ ﴾

يعنى جوائح چه د هغې د ساقط كولو او معاف كولو په حديث كښې حكم راغلې دې د دې نه داسې آفت مراد دې كوم چه بالكل ښكاره وى، ميوو لره خرابونكې وى، لكه

[1]: صحيح مسلم/المساقاة ۳ (۱۵۵٤)، سنن النسائي/البيوع ۲۸ (٤٥۳۱)، سنن ابن ماجه/التجارات ۳۳ (۲۲۱۹)، (تحفة الأشراف: ۲۷۹۸)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/البيوع ۲۲ (۲۵۹۸) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۰٦٤) (حسن)

باران او ګلئ، او ملخان، څکه چه د هغوی قطار کوم باغ ته هم اورسیږي هغه تباه کوي. او هم دغه شان طوفان او تیزه هوا او اور لګیدل.

په حدیث کښې د ﴿ ظاهر ﴾ قید په دې وجه لګولې شوې دې چه په دې صورت کښې به د مشتري نقصان متیقن وي، او که هغه څیز ښکاره نه وي بلکه مشتري یو مخفي امر لره بیان کړي نو په دې کښې احتمال د هغه د کذب دې، پس د ښکاره قیدو په صورت کښې به چه په هغې باندې کوم حکم مرتب کیږي هغه به ختمي وي، او په دویم صورت کښې به د عفو حکم صرف دیانة وي. (بذل من تقرير الجنجوهي)

[٣٤٧٢]() حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عُثْمَانُ بْنُ الْحَكَمِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، أَنَّهُ قَالَ: "لَا جَائِحَةَ فِيمَا أُصِيبَ دُونَ ثُلُثِ رَأْسِ الْمَالِ". قَالَ يَحْيَى: وَذَلِكَ فِي سُنَّةِ الْمُسْلِمِينَ.

دیجي ابن سعیدنه روایت دې فرمائي که چرې ددریسي حصې نه په کم مال باندې افت راشي نودې ته افت نه وئیل کیږي یحي وئیلی دی دا د مسلمانانو طریقه ده که چرې ددریمې حصې نه کم مال ته نقصان ورسیږي نود خریدار دپاره نقصان وضع کول نشته.

[٣٤٧١] ﴿عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ أَنَّهُ قَالَ لَا جَائِحَةَ فِيمَا أُصِيبَ دُونَ ثُلُثِ رَأْسِ الْمَالِ - قَالَ يَحْيَى - وَذَلِكَ فِي سُنَّةِ الْمُسْلِمِينَ﴾

ترجمه: یحی بن سعید وائي چه د رأس المال د دریمې حصې نه په کم مال باندې چه آفت راشي نو هغې ته به آفت نه شي وئیلې، یحی وائي چه په مسلمانانو کښې هم دا طریقه مشهوره ده.

تشریح: یحیی بن سعید رحمه الله فرمائي چه د میوو د نقصان پوره کولو چه په حدیث کښې کوم حکم دې نو هغه په دې صورت کښې دې چه کم از کم ثلث مال په هغه آفات سماویه سره ضائع شي، او که د ثلث نه کم خراب شوې وي نو هغې لره اعتبار نشته څکه چه لږ ډیر نقصان خو کیږي په سوداګرئ کښې، وراندې یحیی رحمه الله فرمائي چه زمونږ په زمانه کښې د مسلمانانو عمل (عادت) هم دا دې.

بَابٌ فِي مَنْعِ الْمَاءِ

دفصل نه داوبو د منع کولو دمما نعت بیان

[٣٤٧٣]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُمْنَعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُمْنَعَ بِهِ الْكَلَأُ".

دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائیلي دي دزیاتي شوو اوبو نه دې څوک منع کول نه کوي ددې دپاره چه ګیاه بچ پاتې شي.

قوله: ﴿ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- لَا يُمْنَعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُمْنَعَ بِهِ الْكَلَأُ ﴾

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٥٣٤) (حسن)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٣٥٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المساقاة ٢ (٢٣٥٣)، صحيح مسلم/المساقاة ٨ (١٥٦٦)، سنن الترمذي/البيوع ٤٥ (١٢٧٢)، سنن ابن ماجه/الأحكام ١٩ (٢٤٢٨)، موطا امام مالك/الأقضية ٢٥ (٢٩) (صحيح)

شرح الحديث :

مقصد دا دې چه کومې اوبه د انسان د خپل ضرورت نه زياتي وی د هغې د ورکړې نه انکار کول نه دی پکار دا نفی فی نفسه عام ده خو دلته دا حديث د يو خاص صورت سره ذکر کړې شوې ده يعنی ﴿ لِيُمْنَعَ بِهِ الْكَلَأُ ﴾ يعنی د اوبو د ورکړې نه څکه انکار کوی چه هغه ذريعه جوړه کړی د ګيا د نه راختلو، چه د هغې مثال شارحينو دا ليکلې دې چه يو سړی په ارض موات کښې د هغې احياء کولو سره په هغې کښې کوهئ اوکنستلو چه د هغې په وجه باندې هغه د هغې کوهی مالک شو او صورت حال دا دې چه د هغې په خوا کښې چه کوم موات قسم زمکی پرتې دی چه په هغې کښې اتفاق سره ګيا وغيره هم راټوکيږی نو چونکه دې سړی دا زمکې نه دی احياء کړې په دې وجه د دې مالک شوې هم نه دې، په دې وجه اوصولاً د دې زمکو ګيا باندې د هغه حق نشته چه نور خلق د دې نه منع کوی چه هغوی خپل څاروی دلته راولی او وې څروی، خو چه څاروی هلته د څريدو دپاره راځی نو هغوی ته به د ګيا سره د اوبو ضرورت هم راځی، اوس دا سړې يعنی صاحب الماء دې څارو لره د خپل کوهی د اوبه څکلو نه منع کوی چه خلق دلته خپل څاروی راوستل پريږدی، نو په دې طريقه به د صاحب الماء دپاره دا ګيا محفوظه شی، په دې حديث کښې د دې نه منع راغلې ده چه د خپل ضرورت نه زياتی اوبه مه منع کوئ چه د هغې په ذريعه خلق د ګيا نه منع کړې شی. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة من حديث الاعرج عن ابی هريرة رضی الله عنه قاله المنذری.

[۳۴۷۴] (¹) حَدَّثَنَا أَبُوبَكْرِبْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: رَجُلٌ مَنَعَ ابْنَ السَّبِيلِ فَضْلَ مَاءٍ عِنْدَهُ، وَرَجُلٌ حَلَفَ عَلَى سِلْعَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ، يَعْنِي كَاذِبًا، وَرَجُلٌ بَايَعَ إِمَامًا فَإِنْ أَعْطَاهُ وَفَى لَهُ، وَإِنْ لَمْ يُعْطِهِ لَمْ يَفِ لَهُ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی درې قسمه کسان داسې دي چه الله تعالی به ورسره دقيامت په ورځ خبرې ونکړي يوهغه کس دې دچاسره چه سيوائي اوبه موجود وي اودمسافرنه ئې منع کړي، دويم هغه کس دې څوک چه دمازيګرنه پس دخپلې سوداد خرڅولو دپاره په دروغه قسم وخوري دريم هغه کس دې چاچه دامام سره بيعت کړې وي بيا که چرې امام ده ته مال ورکړي نودې ورسره لوظ پوره کوی اوکه امام څه ورنکړي نودې ورسره لوظ نه پوره کوی (يعنی دده بيعت ددنيا حاصلولودپاره وي).

قوله: ﴿ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ مَنَعَ ابْنَ السَّبِيلِ فَضْلَ مَاءٍ عِنْدَهُ الخ ﴾

يعنی درې سړی داسې دی چه الله پاک به د قيامت په ورځ باندې هغوی سره د (نرم) کلام او رحم او کرم معامله نه کوی يو هغه سړې چه مسافر ته د خپل ضرورت نه د زياتی اوبو ورکولو نه انکار اوکړی. د دې اوبو دوه صورتونه دی که دا د هغه خپل ملک وی نو بيا خو

¹): سنن الترمذي/السير ٣٥ (١٥٩٥)، (تحفة الأشراف: ١٢٤٧٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الشهادات ٢٢ (٢٦٧٢)، الأحكام ٤٨ (٧٢١٢)، المساقاة ١٠ (٢٣٦٩)، صحيح مسلم/الإيمان ٤٦ (١٠٨)، سنن النسائي/البيوع ٦ (٤٤٦٧)، سنن ابن ماجه/التجارات ٣٠ (٢٢٠٧)، الجهاد ٤٢ (٢٨٧٠)، مسند احمد (٢٥٣/٢، ٤٨٠) (صحيح)

د هغه دپاره دا حکم دې چه قیمت اخستلو سره هغه ته ورکول ضروری دی سره د قیمت ورکولو نه انکار جائز نه دې او که اوبه د هغه په ملک کښې نه دی نو په دې صورت کښې انکار مطلقا ممنوع دې، وړاندې د حدیث مضمون واضح دې.

والحدیث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[۳۴۷۵](۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ قَالَ: وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ، وَقَالَ فِي السِّلْعَةِ: بِاللَّهِ لَقَدْ أُعْطِيَ بِهَا كَذَا وَكَذَا، فَصَدَّقَهُ الْآخَرُ فَأَخَذَهَا.

دا روایت دتیرشوي روایت په شان اوهم مثل دی البته په دې کښې دا اضافه ده چه الله تعالی به ددغه درې قسمه کسانو سره خبرې ونکړي اونه به دوی دګناهونونه پاک کړي اودوی ته به عذاب ورکړي، او په سامان خرڅولوباندې قسم خوړل دي ته وائی چه په الله تعالی قسم دا فلانی په دومره پیسو اخستې خریدار چه دا واوري نودده خبره صحیح وګڼي او دغه سامان په دغه قیمت واخلي.

[۳۴۷۶](۲) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا كَهْمَسٌ، عَنْ سَيَّارِ بْنِ مَنْظُورٍ رَجُلٍ مِنْ بَنِي فَزَارَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ امْرَأَةٍ يُقَالُ لَهَا: بُهَيْسَةُ، عَنْ أَبِيهَا، قَالَتْ: "اسْتَأْذَنَ أَبِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَمِيصِهِ، فَجَعَلَ يُقَبِّلُ وَيَلْتَزِمُ، ثُمَّ قَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟ قَالَ: الْمَاءُ، قَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟ قَالَ: الْمِلْحُ، قَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟ قَالَ: أَنْ تَفْعَلَ الْخَيْرَ خَيْرٌ لَكَ".

بهیسه دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه زما پلاردنبی ﷺ نه اجازت وغوښتو اوبیا ئې دنبی ﷺ قمیص مبارك اوچت کړو اوسرئې وردننه کړو اونبی ﷺ ئې ښکل کړو اوځان ئې ورسره جوخت کړو بیا ئې اووئیل اې دالله نبی هغه کوم کوم څیزونه دي چه منع کول ئې جائز نه دي نبی ﷺ اوفرمائیل اوبه بیا ئې عرض اوکړو چه بل دکوم څیز منع کول جائز نه دي نبی ﷺ اوفرمائیل مالګه بیا ئې عرض اوکړو چه بل دکوم څیز منع کول جائز نه دي نبی ﷺ اوفرمائیل څومره چه ته نیکي زیاته کوي نوبهتره ده.

﴿ عَنِ امْرَأَةٍ يُقَالُ لَهَا بُهَيْسَةُ عَنْ أَبِيهَا ﴾ دا حدیث په کتاب الزکوة کښې تیر شوې دې او په دې باندې کلام او شرح هم، دلته چه په بذل کښې په دې باندې څه لیکلې دی د هغې خلاصه دا ده چه ﴿ فی هذا الحدیث ثلاثة مسالک للعلماء (۱)النهی علی التحریم، (۲) من باب المعروف والاحسان، (۳)لا یجوز المنع لکن یجب لصاحب الماء القیمة، وهذا اذا المراد بالماء ماء البئر التی حفرها فی الموات واحیاها، وان کان الماء الذی جمعه فی صهریج او حوض فان له ان یمنعه ﴾ آه.

[۳۴۷۷](۳) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ اللُّؤْلُؤِيُّ، أَخْبَرَنَا حَرِيزُ بْنُ عُثْمَانَ، عَنْ حِبَّانَ بْنِ زَيْدٍ الشَّرْعَبِيِّ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ قَرْنٍ. ح، حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا حَرِيزُ بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو خِدَاشٍ، وَهَذَا لَفْظُ عَلِيٍّ، عَنْ رَجُلٍ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

(۱): صحیح البخاري/ الشهادات ۲۲ (۲۶۷۲)، صحیح مسلم/ الإیمان ٤٦ (۱۰۸)، سنن النسائي/ البیوع ٦ (٤٤٦٧)، (تحفة الأشراف: ۱۲۳۳۸) (صحیح)

(۲): انظر حدیث رقم: (۱٦٦۹)، (تحفة الأشراف: ۱٥٦۹۷) (ضعیف)

(۳): تفرد به أبوداود، مسند احمد (٥/۳۱٤) (صحیح)

وَسَلَّمَ ثَلَاثًا، أَسْمَعُهُ يَقُولُ: "الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ: فِي الْكَلَإِ، وَالْمَاءِ، وَالنَّارِ".

ابوخداش په مهاجرينو صحابه كرامو كښې ديو كس نه روايت كوى فرمائيل ئې چې ما د نبى ﷺ سره جهاد كړې دې ما دهغه نه درې ييرې آوريدلى دى چه فرمائيل ئې مسلمانان ديو بل سره په درې څيزونو يعنى ګيا، اوبه، او اور كښې شريك دي.

﴿ الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ فِي الْكَلَإِ وَالْمَاءِ وَالنَّارِ ﴾

د اوبو په باره كښې تفصيل په كتاب الزكوة كښې تير شوې دې چه اوبه درې قسمه دى د هر يو حكم څانله څانله دې د كلاء په باره كښې هم اوس خبره تيره شوه چه په ارض موات كښې چه كومه ګيا وى چا دپاره هم جائز نه دى چه د هغې نه خلق منع كړى، او دريم څيز په دې حديث كښې چه په هغې كښې ئې د مسلمانانو شركت ښودلې دې هغه اور دې، په بذل كښې ليكلى دى چه په اور كښې د شركت كيدل د هغې د رڼړا او د ګرميدولو په اعتبار سره دې چه د هغې په خوا كښې د ګرميدو نه څوك منع نه كړى، او د دې نه ګرمې سكروټې مراد نه دى، نه په ده باندې هغوى ته وركول واجب دى او نه د بل دپاره اخستل بغير د مالك د اجازت نه جائز دى.

بَابٌ فِي بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ

د زياتى اوبو د خرڅولو بيان

[۳۴۷۸](¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعَطَّارُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي الْمِنْهَالِ، عَنْ إِيَاسِ بْنِ عَبْدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ".

د اياس بن عبد نه روايت دې فرمائى چه نبى ﷺ د زياتى او بود خرڅولو نه منع فرمائيلې ده.

﴿ نَهَى عَنْ بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ ﴾ يعنى د خپل ضرورت نه د زياتى اوبو خرڅولو نه، يعنى پيسې اخستلو سره هغه ته د وركولو نه رسول الله ﷺ منع اوفرمائيله، اوبه كه د صاحب الماء ملكيت دې نو بيا خو د دې د بيع نه منع د معروف او احسان د باب نه ده، يعنى دا به خلاف اولى وى، او كه غير مملوك دې نو بيا به دا نهى د تحريم دپاره وى لكه چه اوس وړاندې تير شو دا تفصيل. والحديث اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجه، وقال الترمذى حديث حسن صحيح، قاله المنذرى

بَابٌ فِي ثَمَنِ السِّنَّوْرِ

د پيشو د قيمت اخستلو د مما نعت بيان

د ثمن كلاب باب كوم چه وړاندې را روان دې هغه خو مختلف فيه دې خو ثمن سنور يعنى د دې بيع په اتفاق د علماء كرامو جائز ده اګر چه د بعض سلفو په دې كښې هم اختلاف دې پس په بذل كښې د خطابى نه نقل دى. ﴿ وكره بيعه ابوهريرة وجابر وطاؤس ومجاهد رحمهم الله ﴾ آهـ

¹): سنن الترمذي/البيوع ٤٤ (١٢٧١)، سنن النسائي/البيوع ٨٦ (٤٦٦٥)، سنن ابن ماجه/الرهون ١٨ (٢٤٧٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٨/٣، ٤١٧)، سنن الدارمي/البيوع ٦٩ (٢٦٥٤) (صحيح)

[۳۴۷۹]() حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ. ح، وحَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوْبَةَ، وَعَلِيُّ بْنُ بَحْرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عِيسَى، وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ، أَخْبَرَنَا، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَالسِّنَّوْرِ".

جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ دپیشو اودسپی دخرڅولونه اودهغې دقيمت اخستلونه منع فرمائيلې ده.

[۳۴۸۰]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ زَيْدٍ الصَّنْعَانِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْهِرَّةِ".

دجابربن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ دپیشود قيمت اخستلونه منع فرمائيلې ده.

﴿ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ ﴾ او د دې نه په روستو حديث کښې صرف د هرة ذکر دې.

﴿نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْهِرَّةِ ﴾ ثمن هرة خو د جمهورو په نزد جائز دی په دې وجه د دې حديث څو جوابونه کړې شوې دی، په دې دوه احاديثو کښې د ړومبی حديث په باره کښې خو امام ترمذی رحمه الله فرمائی : ﴿ هذا حديث فی اسناده اضطراب الی آخر ما ذكر﴾ او د دويم حديث په باره کښې په بذل کښې ليکلې دی ﴿ قال الترمذی غريب ﴾ ______ وقال النسائی هذا منكر اهـاو دويم جواب د نسخ ورکړې شوې دې، او دريم جواب دا دې چه دا په متوحش باندې محمول دې، يعنی کومه پيشو چه عادته نه وی د ځنګلی ځناورو په شان وی نو چونکه هغه غير مقدور التسليم وی په دې وجه د هغې بيع ناجائز ده.

حديث جابر الثانی اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری.

بَابٌ فِي أَثْمَانِ الْكِلَابِ

دسپو دقيمت اخستلو بيان

[۳۴۸۱]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ "نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَمَهْرِ الْبَغِيِّ، وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ".

د ابومسعود رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ دسپی دقيمت. اخستلو اود زناکارې ښځې داجرت اخيستلو اودفال کتونکي دامدن نه منع فرمائيلې ده.

قوله: ﴿ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَمَهْرِ الْبَغِيِّ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ ﴾

مذاهب د ائمة :

په دې حديث کښې د بيع د کلب نه منع کړې شوې ده، د امام شافعی او احمد رحمهما الله مذهب هم

[1]: سنن الترمذي/البيوع ٤٩ (١٢٧٩)، (تحفة الأشراف: ٢٣٠٩)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المساقاة ٩ (١٥٦٧)، سنن النسائي/الذبائح ١٦ (٤٣٠٠)، البيوع ٩٠ (٤٦٧٢)، سنن ابن ماجه/التجارات ٩ (٢١٦١)، مسند احمد (٣/٣٣٩) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/البيوع ٤٩ (١٢٨٠)، سنن ابن ماجه/الصيد ٢٠ (٣٢٥٠)، (تحفة الأشراف: ٢٨٩٤) ويأتي هذا الحديث في الأطعمة (٣٨٠٧) (صحيح)

[3]: انظر حديث رقم: (٣٤٢٨)، (تحفة الأشراف: ١٣٤٠٧، ١٠٠١٠) (صحيح)

دا دي د احنافو په نزد بيع د کلب جائز ده که هغه معلم وي او که غير معلم، د امام مالک رحمه الله دري روايتونه دي د جواز او د عدم جواز، والثالث يجب القيمة لا الثمن، يعني بيع خو ئي اګر که جائز بالکل هم نه ده خو که يو سړي د بل چا سپې مړ کړي يا ئي ضائع کړي، نو بيا د هغې قيمت يعني ضمان ورکول واجب وي، او د امام ابو يوسف رحمه الله نه يو روايت دا دي چه د کلب عقور بيع جائز نه ده او عطاء او ابراهيم نخعي فرمائي ﴿ يجوز بيع كلب الصيد دون غيره، ويدل عليه ما اخرجه النسائي من حديث جابر قال نهى رسول الله ﷺ عن ثمن الكلب الا كلب صيد ﴾ الى آخر ما في العون.

دا حديث د شوافعو او د حنابله خو موافق دي نو احنافو د دي جواب دا ورکړې دي چه دا حديث د هغه زماني دي چه کله په امر د کلاب کښې تشديد وو تردې چه د هغوى د قتل حکم ورکړې شوې وو چه روستو د اکثرو په نزد منسوخ شو، په امر د کلاب کښې د تشديد بحث په کتاب الطهارة ﴿ باب الوضوء من سؤر الكلب ﴾ کښې تير شوې دي. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري

[۳۴۸۱](۱) حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ، عَنْ قَيْسِ بْنِ حَبْتَرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَإِنْ جَاءَ يَطْلُبُ ثَمَنَ الْكَلْبِ، فَامْلَأْ كَفَّهُ تُرَابًا".

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايست سه فرمائي چه نبي عليه السلام دسپي دقيمت اخستونه منع فرمائيلي ده، اوکچري خوك درته دسپي د قيمت اخستودپاره راشي نودده لپه دخاورونه ډکه کړئ (يعني قيمت مه ورکوئ).

[۳۴۸۳](۲) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنِي عَوْنُ ابْنُ أَبِي جُحَيْفَةَ، أَنَّ أَبَاهُ، قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ".

ابوجحيفه دخپل پلارنه روايت کوي فرماني چه نبي عليه السلام دسپي دقيمت اخستونه منع فرمائيلي ده.

[۳۴۸۴](۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي مَعْرُوفُ بْنُ سُوَيْدٍ الْجُذَامِيُّ، أَنَّ عُلَيَّ بْنَ رَبَاحٍ اللَّخْمِيَّ، حَدَّثَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَحِلُّ ثَمَنُ الْكَلْبِ، وَلَا حُلْوَانُ الْكَاهِنِ، وَلَا مَهْرُ الْبَغِيِّ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي حلال نه دي دچا دپاره دسپي قيمت اخستل اونه دفالګرد نده اونه دزناکارې ښځې اجرت.

په دې حديث کښې دوه اجزاء نور دي چه د هغې نه منع کړې شوې ده ﴿ مهر البغي ﴾ يعني د زنا کارې د اجرت نه، چه هغې ته مجازا مهر وئيلې شوې دې او دويم خيز ﴿ حلوان کاهن ﴾ ي

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٣٣٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٥، ٢٧٨، ٢٨٩، ٣٥٠، ٣٥٦) (صحيح الإسناد)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٨١٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/البيوع ١١٣ (٢٢٣٧) (صحيح)
(۳): سنن النسائي/الصيد والذبائح ١٥ (٤٢٩٨)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٦٠) (صحيح)

هغه ته ورکړې شی، کاهن ته تلل، د هغه د تصدیق دپاره او هغه ته په کهانت باندې اجرت ورکول، ټول حرام دی، بلکه د دې خبرې تصدیق خو کفر دې که دهغه د علم غیب په اعتقاد سره وی، په کوکب الدری کښې لیکلې دی چه که د کاهن تصدیق ترې په داسې انداز اوکړې شی چه بعض جنات د هغه تابع وی او هغوی راځی ده ته خبر ورکوی نو په دې صورت کښې به تصدیق کفر نه وی.

بَابٌ فِي ثَمَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ

دشرابو او د مردارې د قیمت اخستوبیان

[٣٤٨٥]([1]) عَنْ عَبْدِ الْوَهَّابِ بْنِ بُخْتٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ الْخَمْرَ وَثَمَنَهَا، وَحَرَّمَ الْمَيْتَةَ وَثَمَنَهَا، وَحَرَّمَ الْخِنْزِيرَ وَثَمَنَهُ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی الله تعالی شراب او دشرابو قیمت او مرداره اودمردارې قیمت اوخنزیر اودخنزیرقیمت حرام کړې دې.

﴿ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ الْخَمْرَ وَثَمَنَهَا وَحَرَّمَ الْمَيْتَةَ وَثَمَنَهَا وَحَرَّمَ الْخِنْزِيرَ وَثَمَنَهُ ﴾

شرح الحديث من حيث الفقه :

په دې حدیث کښې د بیع د خمر او بیع د میتة او هم دغه شان د بیع خنزیر د دې درې واړو حرمت یو ځائې بیان کړو. د فقهاء په نزد د دې څیزونو تحریم او د بیع په نوعیت کښې فرق دې، د هدایه په متن کښې خو دا دی ﴿ واذا كان احد العوضين او كلاهما محرما فالبيع فاسد كالبيع بالميتة والدم والخمر والخنزير ﴾ په دې باندې صاحب هدایه فرمائی چه د مصنف دا کلام مجمل دې تفصیل ته محتاج دې کوم چه به مونږ بیانوو، بیا وړاندې په تفصیل کښې هغوی فرمائی چه بیع بالمیتة والدم او هم دغه شان بالحریة خو بیع باطل ده لانعدام رکن [٣٤٨١] البيع وهو مبادلة المال بالمال په دې وجه دا څیزونه د چا په نزد هم مال نه شمیرلې کیږی، او بیا وړاندې فرمائی چه بیع الخمر والخنزیر دا دواړه بیع فاسدې دی نه باطل، د حقیقت بیع د موجود کیدو د وجې نه، یعنی مبادلة المال بالمال ځکه چه خمر مال دې، او خنزیر هم د بعضو په نزد مال دې یعنی عند اهل الکتاب، او بیع باطل د ملک دپاره مفیده نه وی په خلاف د بیع فاسد چه هغه مفید د ملک وی پس د قبض نه،.د دې نه پس بیا صاحب هدایه نور تفصیل کړې دې او د فرق صورتونه ئې بیان کړی دی هغې ته رجوع اوکړه که غواړې.

د دې نه په روستو روایت کښې د میتة او د خنزیر نه پس د والاصنام زیادت دې یعنی بیع صنم حرامه کړې شوې ده په کوکب دری کښې لیکلې دی چه بیع د اصنام حرام ده په داسې حال کښې چه د اصنام بیع د اصنام کیدوپه حیثیت سره اوکړې شی خو که یو سړې د هغې بیع په بل نیت سره اوکړی لکه یو سړې د لرګو بیع اوکړی چه په هغې کښې د لرګو نه تراشلې شوې بتان هم وی نو دا بیع به جائز وی په دې شرط چه دا بتان د لرګو په قیمت

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٧٩٢) (صحيح)

باندې خرڅ کړي، مګر دا چه د يو داسې سړي په لاس باندې بيع کيږي چه د هغه په باره کښې دا معلومه وي چه دا سړې به د دې صنم تعظيم يا عبادت کوي. آهـ(کوکب ۳/۳۷۸)

[۳۴۸۶]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ: "إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيرِ وَالْأَصْنَامِ، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ فَإِنَّهُ يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ، وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ، وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ، فَقَالَ: لَا، هُوَ حَرَامٌ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ: قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ، إِنَّ اللَّهَ لَمَّا حَرَّمَ عَلَيْهِمْ شُحُومَهَا أَجْمَلُوهُ، ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ".

دجابربن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه دنبی ﷺ نه مې دمې دفتر په کال باندې آوريدلی دی اوهغه په مکه کښې وو فرمائيل ئې چه الله تعالى دشرابوخرڅول اودمرداري اودخنزير خرڅول اودبتانو خرڅول حرام کړيدي، په دې وخت کښې عرض اوکړې شواي دالله رسوله په وازدر دمرداره کښې ستا څه خيال دې په دې باندې کشتی ته رنګ ورکولی شي اوددې تيل په څرمنوباندې لګولې شي اودرنرادپاره ئې خلق استعمالوي نبی ﷺ اوفرمائيل دا په هرحال کښې حرام دي او په همدې وخت کښې نبی ﷺ اوفرمائيل: الله تعالى دې په يهوديانولعنت اوکړي هغوی په خلقوباندې وازده حرامه کړيده هغوی پخه کړه اوبيا ئې خرڅه کړه اودهغې قيمت ئې وخوړلو.

قوله: ﴿فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ فَإِنَّهُ يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ فَقَالَ لاَ هُوَ حَرَامٌ﴾

شرح الحديث:

يعنی چه کله رسول الله ﷺ د مرداري د خرڅولو نه منع اوفرمائيله نو په دې باندې بعض صحابه کرامو رضي الله عنهم رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ د مرداري د وازګې څه حکم دې څکه چه دا په کشتو باندې مرلې شي ‹چه د غور والی د وجې نه دننه اوبه خورې نه شي› او هم دغه شان په څرمنو باندې مرلې شي د نرمولو دپاره او هم دغه شان خلق د دې په ذريعه رنړا حاصلوی يعنی په مصباح او ډيوه کښې ئې بلوی رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا جائز نه ده بلکه حرام ده.

په کوکب کښې ليکلي دی چه دلته دا سوال واردېږی چه کله رسول الله ﷺ د بيع د ميتة حکم بيان فرمائيلې وو چه هغه حرام دې نو په ميتة کښې د هغې ټول اجزاء داخل شوې وو، نو بيا د مرداري د وازګې په باره کښې مستقل سوال کول د څه په وجه باندې وو؟ د دې جواب ئې دا ليکلي دې چه چونکه صحابه کرامو رضي الله عنهم ته دا خبره د مخکښې نه معلومه وه چه بعض اجزاء د ميتة داسې دی کوم چه جائز الاستعمال دی لکه د هغې څرمن او هم دغه شان عظام دميتة نو په دې وجه هغوی د شحم دميتة په باره کښې سوال اوکړو چه

[1]: صحيح البخاري/البيوع ۱۱۲ (۲۲۳۶)، المغازي ۵۱ (۴۲۹۶)، تفسير سورة الأنعام ۶ (۴۶۳۳)، صحيح مسلم/المساقاة ۱۳ (۱۵۸۱)، سنن الترمذي/البيوع ۶۱ (۱۲۹۷)، سنن النسائي/الفرع والعتيرة ۷ (۴۲۶۱)، البيوع ۹۱ (۴۶۷۳)، سنن ابن ماجه/التجارات ۱۱ (۲۱۶۷)، (تحفة الأشراف: ۲۴۹۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۲۴، ۳۲۶، ۳۷۰) (صحيح)

ممکنه ده چه هغه هم د اهاب وغيره په شان وی خصوصا چه هر کله د شحم د ميتة په ډيرو ځيزونو کښې ضرورت راځی چه د هغې طرف ته صحابه کرامو ﷺ په خپله خپل سوال کښې اشاره کړې ده، بيا وړاندې په کوکب کښې ليکلې دی چه د رسول الله ﷺ د جواب حاصل دا دې چه د ميتة د اجزاء نه د انتفاع د جواز بنياد د رطوبات نجسه په زوال باندې دې، او د شحم نه زوال رطوبت ممکن نه دې، بيا د دې نه روستو رسول الله ﷺ دا حرمت موکد اوفرمائيلو په روستو جمله کښې ﴿ قاتل الله اليهود الخ ﴾ آهـ د دې جملې تشريح دا ده رسول الله ﷺ فرمائی چه الله پاک دې هلاک او برباد کړی يهودو لره چه الله پاک په هغوی باندې کله د مړی وازګه حرامه کړې وه نو هغوی د دې د تحليل دا حيله اختيار کړه چه وازګه ئې په اور باندې ويلې کړه او بيا ئې هغه خرڅوله او د هغې د ثمن نه ئې فائده اوچتوله، دا حيله په دې لحاظ سره وه چه په شحم باندې د شحم اطلاق تر هغه وخته پورې وی چه ترڅو هغه په اور باندې ويلې نه کړې شی او د ويلې کولو نه پس د هغې نوم بدل شی او په ځائې د وازګې ورته ډل وائی. خو په داسې کولو سره د هغې حقيت او حکم خو نه بدليږی، امام خطابی رحمه الله په دې باندې ليکی چه د دې نه د هر هغه حيلې بطلان ثابتيږی چه هغه وسيله جوړه شی يو حرام ته د رسيدو، او دا چه صرف د هيئت په تغير او د اسم په تبديل سره د حرام ځيز حکم نه بدليږی. آهـ

﴿ فقال : لا هو حرام ﴾ د دې په شرح کښې اختلاف دې هغه دا چه هو ضمير څه ته راجع دې حافظ وائی چه بعض علماء کرام چه په هغوی کښې امام شافعی رحمه الله هم دې د دوی په نزد دا ضمير دبيع طرف ته راجع دې يعنی د شحوم دميتة بيع حرامه ده، او اکثر علماء کرامو ددې ضمير راجع کړې دې د انتفاع طرف ته، لهذا د هغوی په نزد نه صرف بيع د ميتة ناجائز ده بلکه مطلقا انتفاع د هغې د ټولو اجزاء نه ناجائز ده سوا د هغې نه چه د هغې په تخصيص باندې دليل قائم دې يعنی جلد مدبوغ (داکلام خو وو د شحم ميتة سره متعلق) د دې نه پس هغوی د دهن متنجس يعنی کوم تيل وغيره چه د څه نجس ځيز غورزيدو سره ناپاک شی په دې باره کښې ئې د علماء کرامو اختلاف بيان کړې دې هغه دا چه دجمهورو په نزد د هغې نه انتفاع جائز ده او د امام احمد رحمه الله او ابن الماجشون مالکی په نزد ناجائز ده. آهـ (من التحفة) امام خطابی رحمه الله هم د ﴿ لا هو حرام ﴾ تعلق د بيع سره بيان کړې دې (غالبا د امام شافعی رحمه الله د مسلک په تائيد کښې لکه چه د حافظ نه مخکښې نقل کړې شو) پس هغوی ليکی: وفيه دليل على جواز الاستصباح بزيت نجس وان بيعه لا يجوز ﴾ آهـ خطابی شحم دميتة او دهن متنجس په يو درجه کښې اوساتل د شوافعو د مسلک د وجې نه ګينې د جمهورو په نزد د دوارو په حکم کښې فرق دې، ځکه چه دشحم د ميتة نه انتفاع د جمهورو په نزد ناجائز ده، او قسم ثانی يعنی د دهن متنجس نه انتفاع فی غير الاکل مثل الاستصباح جائز ده. خلاف ثابت دې امام احمد او ابن الماجشون لره لکه چه اوس تير شو په کلام د حافظ کښې. عرف الشذی ۳۰۱ کښې د دې حديث د لاندې ليکلې دی چه په حديث الباب کښې اشاره ده دې طرف ته چه د نجس العين بيع باطله ده، امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائی چه شحم ميتة نجس دې،

د دې نه مطلقا انتفاع جائز نه ده، او هغه غوړي يا تيل چه کوم د څه عارض په وجه باندې ناپاک شي مثلا سقوط د مږې چه په پريوتلو سره په دې کښې مړه شي نو دا تيل ناپاک ضرور دي خو نجس العين نه دې، د دې بيع هم جائز ده او انتفاع يعنى استصباح هم جائز ده، او د امام شافعي رحمه الله په نزد د شحم د ميتة نه هم انتفاع او استصباح جائز ده. آهـ پس خلاصه دا شوه چه د شحم د ميتة بيع خو بالاتفاق ناجائز ده او انتفاع في غير الاكل والشرب کښې اختلاف دې د جمهورو په نزد هغه هم ناجائز ده، د امام شافعي رحمه الله په نزد جائز دې، او د دهن متنجس نه انتفاع د جمهورو په نزد جائز ده د امام احمد رحمه الله په نزد هغه هم ناجائز ده اوس پاتې شوه دا چه د دې د بيع څه حکم دې نو ښکاره خبره دا ده چه هر کله انتفاع جائز ده نو بيع او شراء به هم جائز وى پس په عرف الشذى کښې د احنافو په نزد د دې بيع ته جائز وئيلې شوې دى د نورو امامانو د مسلک دې تحقيق اوکړې شي. والله تعالى اعلم.

[۳۴۸۷](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، قَالَ: كَتَبَ إِلَيَّ عَطَاءٌ، عَنْ جَابِرٍ، نَحْوَهُ، لَمْ يَقُلْ هُوَ حَرَامٌ.

دجابر رضي الله عنه نه ددې روايت په شان روايت منقول دې اليکن په دې روايت کښې دا الفاظ نشته چه نبى عليه السلام اوفرمائيل نه هغه خو حرامه وه.

[۳۴۸۸](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَنَّ بِشْرَ بْنَ الْمُفَضَّلِ، وَخَالِدَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَاهُمُ الْمَعْنَى عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ بَرَكَةَ، قَالَ مُسَدَّدٌ فِي حَدِيثِ، خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ بَرَكَةَ أَبِي الْوَلِيدِ ثُمَّ اتَّفَقَا، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا عِنْدَ الرُّكْنِ، قَالَ: فَرَفَعَ بَصَرَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَضَحِكَ، فَقَالَ: "لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ ثَلَاثًا: إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْهِمُ الشُّحُومَ فَبَاعُوهَا، وَأَكَلُوا أَثْمَانَهَا، وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا حَرَّمَ عَلَى قَوْمٍ أَكْلَ شَيْءٍ حَرَّمَ عَلَيْهِمْ ثَمَنَهُ". وَلَمْ يَقُلْ فِي حَدِيثِ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الطَّحَّانِ رَأَيْتُ، وَقَالَ: "قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ".

دعبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبى عليه السلام مى درکن (حجراسود) يا رکن شاي سره ناست وليدو راوى وائى چه وئې فرمائيل او آسمان طرف ته ئې وکتل او درې ځل ئې وخندل اوبيا ئې اوفرمائيل الله تعالى دې په يهوديانو لعنت وکړي، کله چه الله تعالى په دوى باندې دخارور وازده حرامه کړه نودوې به خرڅوله اوددې قيمت به ئې استعمالولو اويقينا کله چه به الله تعالى په کوم قوم باندې د کوم شي خوړل حرام کړل نو دهغې قيمت به ئې ورباندې هم حرامولو، دخالد بن عبدالله په حديث کښې ددې ذکر نشته چه ما دکعبې درکن په خواکښې نبى عليه السلام وليدو او په دې روايت کښې داسې دي چه الله تعالى دي يهوديان برباد کړي.

[۳۴۸۹](۳) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، وَوَكِيعٌ، عَنْ طُعْمَةَ بْنِ عَمْرٍو الْجَعْفَرِيِّ، عَنْ عُمَرَ بْنِ بَيَانٍ التَّغْلِبِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ بَاعَ الْخَمْرَ فَلْيُشَقِّصِ الْخَنَازِيرَ".

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۲۴۹۴) (صحيح)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۳۷۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۴۷، ۲۹۳، ۳۲۲) (صحيح)
(۳): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۱۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۲۵۳)، سنن الدارمي الأشربة ۹ (۲۱۴۷) (ضعيف)

د مغیره بن شعبه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چاچه دشرابو خرڅول وکړل نوهغه دې بیا دخنزیرانو غوښې هم ټکړې ټکړې کوي ځکه چه داهم دشرابوپه شان حرام کاروباردې.

شرح الحدیث :

قوله: ﴿عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ بَاعَ الْخَمْرَ فَلْيُشَقِّصِ الْخَنَازِيرَ ﴾ د تشقیص معنی الذبح بالمشقص، مشقص وائی د غشی تیرۀ سوکې ته، په دې صورت کښې به دا ماخوذ وی د مشقص نه، او یا به د دې معنی جعل الشئ شقصا شقصا یعنی د یو څیز ځانله ځانله ټکړې کول لکه چه د څاروی د ذبح کولو نه پس د غوښې د اصلاح دپاره د هغې جدا جدا ټکړې کولې شی، د دې حدیث نه مخکښې احادیثو کښې د بیع دخمر او بیع د خنزیر د دواړو حکم یعنی په تحریم کښې مساوی کیدل تیر شو خو د ډیرو حلقو حال دا وی چه هغوی خنزیر لره خو عملا او اکلا حرام منی خو د شرابو څکلو او د دې د تجارت نه نه بچ کیږی او نه دا څه عیب ګنړی، په دې وجه رسول اللهﷺ د تحریم خمر تاکید دا فرمائی چه کوم سړې عملا د شرابو د بیع او د هغې د تجارت نه ځان نه ساتی نو هغه له پکار دی چه د خنزیر د غوښې تجارت هم شروع کړی او د هغې خوراک دې هم جائز اوګنړی ځکه چه شرعا په دواړو کښې څه فرق نشته.

[٣٤٩٠]( ) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "لَمَّا نَزَلَتِ الْآيَاتُ الْأَوَاخِرُ مِنْ سُورَةِ الْبَقَرَةِ، خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَهُنَّ عَلَيْنَا، وَقَالَ: حُرِّمَتِ التِّجَارَةُ فِي الْخَمْرِ".

ام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی کله چه دسورة بقره اخری ایت نازل شو نونبی ﷺ تشریف راوړو اودغه ایت ئې مونږ ته واورولو اوونې فرمائیل دشرابو تجارت حرام کړې شو.

قوله: ﴿ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا نَزَلَتِ الآيَاتُ الأَوَاخِرُ مِنْ سُورَةِ الْبَقَرَةِ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَرَأَهُنَّ عَلَيْنَا وَقَالَ « حُرِّمَتِ التِّجَارَةُ فِي الْخَمْرِ ﴾

عائشه رضی الله عنها فرمائی چه کله د سورة بقرة آخری آیتونه نازل شو (چه په هغې کښې د ربا حرام والې ذکر دې) نو رسول اللهﷺ بهر تشریف راوړو او مونږ ته ئې هغه آیتونه واورول او وې فرمائیل چه د شرابو تجارت حرام دې.

په ظاهر د حدیث باندې یو اشکال او د هغې جواب :

ددې حدیث په شرح کښې شارحینو لیکلی دی چه د تحریم خمر ذکر په سورة مائده کښې دې او د هغه آیت د ربا نه کوم چه د سورة بقرة په اواخرو کښې دې ډیر مخکښې نازل شوې وو، ځکه چه مشهور ده چه آیت ربا آخر ما نزل یا من آخر ما نزل من القرآن دې، او د دې

( ): صحيح البخاري/الصلاة ٧٣ (٤٥٩)، والبيوع ٢٥ (٢٠٨٤)، ١٠٥ (٢٢٢٦)، وتفسير آل عمران ٤٩ (٤٥٤٠)، ٥٢ (٤٥٤٣)، صحيح مسلم/المساقاة ١٢ (١٥٨٠)، سنن النسائي/البيوع ٨٩ (٤٦٦٩)، سنن ابن ماجه/الأشربة ٧ (٣٣٨٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٦٣٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤٦، ١٠٠، ١٢٧، ١٨٦، ١٩٠، ٢٨٧)، سنن الدارمي/البيوع ٣٥ (٢٦١٢) (صحيح)

حديث سياق د دې ترتيب منافي دي، د دې نه د تحريم خمر متاخر كيدل ښكاره كيږي، نو د هغې توجيه دې حضراتو دا كړې ده چه اګر كه دا صحيح ده چه تحريم الخمر د ربا نه مخكښې دې خو كيدې شي چه د تجارت دخمر تحريم وي كوم چه په دې حديث كښې ذكر موخر وي د تحريم الخمر نه نو هيڅ اشكال پاتې نه شو او دا هم ممكنه ده چه رسول الله ﷺ د تحريم خمر په وخت هم د تحريم د تجارت خبر وركړې وي او بيا دوباره مكرر آيت نزول ربا نه پس ئې هم د تحريم د تجارت خبر وركړې وي د تاكيد او مبالغې دپاره امام بخاري رحمه الله په ابواب المساجد كښې باب قائم كړو ﴿ باب تحريم تجارة الخمر في المسجد ﴾ يعنې په جمات كښې د خلقو مخكښې د تجارت خمر حرمت بيانول چه تجارت خمر حرام دې، لكه څنګه چه د نورو څيزونو نصيحت په مساجدو كښې كيږي لهذا في المسجد دا ظرف د تحريم سره متعلق دې نه د تجارت سره، ګينې مطلب به فاسد شي يعنې په جمات كښې د شرابو د تجارت حرام كيدل، نو آيا په غير د مسجد نه تجارت د خمر حرام نه دې؟، پس د بخاري په حديث الباب كښې دی چه د نزول د آيات نه پس رسول الله ﷺ مسجد ته تشريف يوړو او بيا ئې د تجارت د خمر د حرمت اعلان اوكړو.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[۳۴۹۱](1) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: الْآيَاتُ الْأَوَاخِرُ فِي الرِّبَا.

د اعمش نه تير شوي روايت په شان روايت منقول دې البته په دې روايت كښې داسې ذكردي چه د سورة بقرې آخرى ايت دسود دحرمت په باره كښې نازل شوې دې۔

بَابٌ فِي بَيْعِ الطَّعَامِ قَبْلَ أَنْ يُسْتَوْفَى

بيان د غلې خرڅولو مخكښې د قبضې كولو نه

[۳۴۹۲](2) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا، فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت ئې فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي څوك چه دخوراك څه شي واخلي نودهغه وخته پورې دې دغه شي نه خرڅوي ترڅوچه ئې قبضه كړې نه وي.

﴿عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلاَ يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ ﴾

او د دې نه پس د ابن عمر رضي الله عنهما په بل حديث كښې داسې دی ﴿ كُنَّا فِي زَمَنِ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– نَبْتَاعُ الطَّعَامَ فَيَبْعَثُ عَلَيْنَا مَنْ يَأْمُرُنَا بِانْتِقَالِهِ مِنَ الْمَكَانِ الَّذِى ابْتَعْنَاهُ فِيهِ إِلَى مَكَانٍ سِوَاهُ قَبْلَ أَنْ نَبِيعَهُ – يَعْنِي – جُزَافًا ﴾

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۷٦۳٦) (صحيح)

(2): صحيح البخاري/البيوع ۵۱ (۲۱۲٦)، ۵٤ (۲۱۳۳)، ۵۵ (۲۱۳٦)، صحيح مسلم/البيوع ۸ (۱۵۲٦)، سنن النسائي/البيوع ۵۳ (٤۵۹۹)، سنن ابن ماجه/التجارات ۳۷ (۲۲۲٦)، (تحفة الأشراف: ۸۳۲۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البيوع ۱۹ (٤۰)، مسند احمد (۱/۵٦، ٦۳، ۲/۲۳، ٤٦، ۵۹، ٦٤، ۷۳، ۷۹، ۱۰۸، ۱۱۱، ۱۱۳)، سنن الدارمي/البيوع ۲٦ (۲٦۰۲) (صحيح)

[۳۴۹۳] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ قَالَ: "كُنَّا فِي زَمَنِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبْتَاعُ الطَّعَامَ، فَيَبْعَثُ عَلَيْنَا مَنْ يَأْمُرُنَا بِانْتِقَالِهِ مِنَ الْمَكَانِ الَّذِي ابْتَعْنَاهُ فِيهِ إِلَى مَكَانٍ سِوَاهُ، قَبْلَ أَنْ نَبِيعَهُ" يَعْنِي جُزَافًا.

د عبدالله بن عمر ﷺ نه روایت دي فرمائی چه مونږدنبی ﷺ په زمانه کښې دخوراك څیزونه اخستل اونبی ﷺ به مونږ ته یوکس رالیږلو او مونږ ته به ئې احکم کولو چه ددې ځائې نه غلې یوسي چرته ته تاسو خستلي دي ودخرڅولونه مخکښې ئې وزن کړئ.

په دې ترجمة الباب او د دې په احادیثو کښې د بیع الطعام قبل الاستیفاء ممانعت دې، استیفاء بمعنی قبض او وصول کول، یعنی که یو سړې د غلې د قسم څه څیز واخلی او د اخستلو نه پس هغه خرڅول غواړی نو هغه له پکار دی چه اول په هغې باندې قبضه اوکړی د هغې نه پس هغه خرڅ کړی، خو د هر یو څیز قبضه او استیفاء د هغه څیز د حال مناسب وی، د بعضو څیزونو قبضه دا ده چه هغه څیز د بل په لاس کښې ورکړې شي او د بعضو څیزونو قبضه په تخلیه سره کیږی، یعنی بائع څیز لره د خرڅولو نه پس مشتری ته دا اوائی چه ستا څیز مې دا دې کیخودلې دې ته چه دا د دې ځائې نه کله اوچتول غواړې اوچت ئې کړه، او په بعض صورتونو کښې قبضه په نقل د هغه څیز باندې کیږی یعنی مشتری چه هغه مبیع د کوم ځائې نه اخستلې ده د هغه ځائې نه هغه بل خوا منتقل کړی، او دا هلته کیږی چه له کوم ځائې کښې د غلې بیع جزافا وی یعنی غلې لره د یو ځائې نه بل ځائې ته منتقل کول د بیع جزافا په صورت کښې هم دا د دې قبضه ده لکه چه د باب په حدیث ثانی کښې دی او که څیز کیلا یا وزنا خرڅ کړې شی نو هلته د هغې کیل کول یا وزن کول هم دا د هغې قبضه ده.

د بیع قبل القبض نه نهی په کومو څیزونه کښې ده:

د دې نه پس په دې ځان پوهه کول پکار دی چه دا حکم په طعام کښې خو متفق علیه دې چه د هغې بیع قبل القبض جائز نه ده په ډیرو احادیثو کښې د دې تصریح ده، د طعام نه علاوه به په کومو کومو څیزونو کښې دا حکم جاری کیږی په دې کښې د علماء کرامو اختلاف دې.------په دې کښې څلور اقوال مشهور دی:

١: د امام شافعي او محمد ﷫ په نزد د هر یو څیز حکم هم دا دې ﴿سواء كان من المكيلات او الموزونات، ومن الماكول او المشروب والمنقول وغير المنقول﴾

٢: او د شیخینو امام ابوحنیفة او ابویوسف ﷫ په نزد عقار «زمکه» نه علاوه د ټولو منقولاتو دا حکم دې، په دې مذهب کښې صرف د عقار استثناء ده، په خلاف د اول مذهب چه په هغې کښې د یو څیز استثناء هم نشته.

٣: د امام احمد﷫ په نزد د ټولو مکیلاتو او موزوناتو هم دا حکم دې، د دې نه علاوه د باقی څیزونو دا حکم نه دې.

۴: د امام مالک﷫ په نزد دا حکم صرف د ماکول او مشروب دې.

١): صحيح مسلم/البيوع ٨ (١٥٢٧)، سنن النسائي/البيوع ٥٥ (٤٦٠٩)، سنن ابن ماجه/التجارات ٣١ (٢٢٢٩)، (تحفة الأشراف: ٨٣٧٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/البيوع ٥٤ (٢١٣١)، ٥٦ (٢١٣٧)، ٧٢ (٢١٦٦)، موطا امام مالك/البيوع ١٩ (٤٢)، مسند احمد (١/٥٦، ١١٢، ٢/٧، ١٥، ٢١، ٤٠، ٥٣، ١٤٢، ١٥٠، ١٥٧) (صحيح)

د امام مالک او جمهورو یو بل اختلاف :

د دې نه پس دلته یو اختلاف بل دې په هغې باندې هم ځان پوهول پکار دی هغه دا چه د جمهور علماء کرامو او ائمة ثلاث په نزد بیع طعام مطلقا قبل القبض جائز نه ده، یعنی که هغه جزافا اخستلې شوې وی او که کیلا ، او د امام مالک رحمه الله په مشهور قول کښې په جزاف او غیر جزاف کښې فرق دې هغه دا چه هغه غله چه جزافا اخستلې شوې وی د هغې بیع قبل القبض جائز ده او کوم چه کیلا اخستلې شوې وی د هغې بیع قبل القبض جائز نه ده او د مشتری دې څیز لره کیل کول هم دا د دې قبضه ده، د امام مالک رحمه الله استدلال د باب د څلورم حدیث نه دې چه د هغې الفاظ دا دی

قوله: ﴿نهى ان يبيع احد طعاما اشتراه بكيل حتى يستوفيه﴾ یعنی رسول الله ﷺ منع اوفرمائیله د دې خبرې نه چه څوک هغه طعام لره کوم چه هغه کیلا اخستلې وی هغه د دې بیع د استیفاء نه مخکښې اوکړی په دې حدیث کښې د اشتراه بکیل قید ذکر شوې دې، جمهور دا وائی ﴿اشتراه بكيل﴾ دا قید احترازی نه دې، چه د هغې قرینه د باب حدیث اول دې کوم چه مطلق دې، هم دغه شان د باب په حدیث ثانی او ثالث کښې سره د بیع جزاف د تصریح نه د هغې د منتقل کیدو حکم کړې شوې دې، او هم دا نقل خو استیفاء ده كما تقدم قريبا ان قبض كل شئ بحسبه.

حديث ابن عمر رضي الله عنهما الاول اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة، والثانی اخرجه مسلم والنسائی، والثالث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة بنحوه، والرابع اخرجه النسائی، قاله المنذری.

[۳۴۹۴](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، أَخْبَرَنِي نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانُوا يَتَبَايَعُونَ الطَّعَامَ جُزَافًا بِأَعْلَى السُّوقِ، فَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعُوهُ حَتَّى يَنْقُلُوهُ".

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه د بازار په برنی حصه کښې به خلقو دغلې ډیرې اخستل نونبی ﷺ ددې خرڅولونه منع اوفرمائیله ترڅوچه داغله ددې ځائې نه بل ځائې ته نقل نکړې شی ددې دپاره چه داولې خریدار په قبضه کښې راشی).

[۳۴۹۵](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا عَمْرٌو، عَنِ الْمُنْذِرِ بْنِ عُبَيْدٍ الْمَدِينِيِّ، أَنَّ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَهُ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ حَدَّثَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى أَنْ يَبِيعَ أَحَدٌ طَعَامًا اشْتَرَاهُ بِكَيْلٍ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ".

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ ددینه منع فرمائیلې ده چه څوک دې غله نه خرڅوی کومه چه یې په ناپ یاتول باندې اخستلې وې ترڅوچه ده قبضه کړې نه وې.

(۱): صحيح البخاري/ البيوع ۷۲ (۲۱۶۷)، سنن النسائي/ البيوع ۵۵ (۴۶۱۰)، (تحفة الأشراف: ۸۱۵۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۵/۲، ۲۱) (صحيح)

(۲): سنن النسائي/ البيوع ۵۴ (۴۶۰۸)، (تحفة الأشراف: ۷۳۷۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۱۱/۲) (صحيح)

[۳۴۹۶](١) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، وَعُثْمَانُ ابْنَا أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَكْتَالَهُ"، زَادَ أَبُو بَكْرٍ، قَالَ: قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ: لِمَ قَالَ أَلَا تَرَى أَنَّهُمْ يَتَبَايَعُونَ بِالذَّهَبِ وَالطَّعَامُ مُرَجًّى؟

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلي دي: څوك چه غله واخلي نوهغه وخته پورې دې ئې نه خرڅوی ترڅوچه ده پيمانه کړې نه وي، ابوبکر دا اضافه کړيده فرمائی چه ابن عباس ته مې اووئيل چه دامما نعت په څه وجه باندې دې؟ هغه اوفرمائيل خلقو به دسرو زرو په بدل کښې غله خرڅوله اوحالانکه دوی ته به ددې غلې دملاويدو اميدهم وو.

قوله: ﴿قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ لِمَ قَالَ أَلَا تَرَى أَنَّهُمْ يَتَبَايَعُونَ بِالذَّهَبِ وَالطَّعَامُ مُرَجَّاء﴾ (٢)

ابن عباس رضي الله عنهما چه کله د رسول الله ﷺ دا حديث نقل کړو چه کوم انسان غله واخلي نو ترڅو پورې چه هغه کيل نه کړی د بل په لاس باندې دې هغه نه خرڅوی نو شاګرد يعنی طاؤس رحمه الله د هغوی نه تپوس اوکړو چه داسې ولې ده؟ نو هغوی د دې منع وجه په يو خاص مثال سره بيان اوفرمائيله چه آيا ته ګورئ نه چه ډير خلق په درهم او دينار سره اخلي غله حال دا چه هغه غله موخر او موجل وی، هغوی دا مثال د بيع سلم ورکړو چه په هغې کښې مبيع موجل وی، د ابن عباس رضي الله عنهما د جواب حاصل دا دې چه په قبل القبض بيع کولو کښې ربا موندلې شی لکه چه يو سړی د بل سره بيع سلم اوکړه يعنی د يو دينار په بدل کښې ئې قفيز د حنطة واخلي نو مشتری د قبض کولو نه مخکښې هغه په دوه ديناره باندې د چا په لاس باندې خرڅ کړو او وې وئيل چه د فلانی ځائې نه ئې اوچت کړه نو اوس صورت حال دا شو چه بيع الدينار بالدينارين شوه کوم چه سراسر ربا ده ځکه چه مشتری د هغه غلې شکل هم نه دې ليدلې بلکه نتيجه دا شوه چه يو دينار لاړو او د هغې په بدل کښې دوه راغلل، او د دې معاملې حرمت ښکاره او بديهی دې.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، وابن ماجة بنحوه، قاله المنذري

[۳۴۹۷](٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، وَهَذَا لَفْظُ مُسَدَّدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا اشْتَرَى أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ، حَتَّى يَقْبِضَهُ"، قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ: حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ، زَادَ مُسَدَّدٌ قَالَ: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَأَحْسِبُ أَنَّ كُلَّ شَيْءٍ مِثْلُ الطَّعَامِ.

[١]: صحيح البخاري/البيوع ٥٤ (٢١٣٢)، ٥٥ (٢١٣٥)، صحيح مسلم/البيوع ٨ (١٥٢٥)، سنن النسائي/البيوع ٥٣ (٤٦٠١)، (تحفة الأشراف: ٥٧٠٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٥/١، ٢٢١، ٢٥١، ٢٧٠، ٢٨٥، ٣٥٦، ٣٥٧، ٣٦٨، ٣٦٩) (صحيح)

[٢]) د دې لفظ په ضبط کښې نسخې مختلف دی په بعضو کښې خو داسې دی کوم چه مونږ اختيار کړو يعنی په تخفيف د جيم سره او روستو د هغې نه همزه، وفي بعض النسخ بدون همزة مرجا، وفي بعض النسخ مرجیء بتثقيل الجيم وبعدها همزة، وفي بعض النسخ مرجي، وفي النهاية اي موجلا موخرا ويهمز ولا يهمز، وفي كتاب الخطابي علي اختلاف نسخه مرجي بالتشديد للمبالغة (كذا في تعليق الشيخ محمد عوامه)

[٣]: صحيح البخاري/ البيوع ٥٥ (٢١٣٥)، صحيح مسلم/ البيوع ٨ (١٥٢٥)، سنن الترمذي/ البيوع ٥٦ (١٢٩١)، سنن النسائي/ البيوع ٥٣ (٤٦٠٢)، سنن ابن ماجه/ التجارات ٣٧ (٢٢٢٧)، (تحفة الأشراف: ٥٧٣٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٥/١، ٢٢١، ٢٧٠، ٢٨٥) (صحيح)

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلي دي: کله چه يوکس په تاسوکښې غله واخلي نوهغه دې نه خرڅوی ترڅوچه دده په قبضه کښې نه وي راغلې اودقبضې ذکر سليمان بن حرب هم په خپل روايت کښې کړې دې، اومسدد په دې روايت کښې دا اضافه کړې ده چه ابن عباس رضي الله عنهما ووئيل زما خيال دې چه هريوخوراکي څيزد طعام په شان دي.

قوله: ﴿ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَأَحْسِبُ أَنَّ كُلَّ شَيْءٍ مِثْلُ الطَّعَامِ ﴾

د دې نه د ابن عباس رضي الله عنهما مذهب معلوم شو چه د هغوی په نزد دا حکم بالکل عام دې، وړاندې د دې نه پس په دې باب کښې دوه روايتونه نور دی چه د هغې مفهوم ښکاره دې.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، وابن ماجة بنحوه قاله المنذري.

[٣٤٩٦](١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّاسَ يُضْرَبُونَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَرَوُا الطَّعَامَ جُزَافًا، أَنْ يَبِيعُوهُ حَتَّى يُبْلِغَهُ إِلَى رَحْلِهِ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام په زمانه کښې خلق اوليدل چه وهلې کيدل به دغلې ډيرې دا خستوپه وجه باندې کوم چه به دوی کورته دوړلونه مخکښې خرڅول

[٣٤٩٩](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ الْوَهْبِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ حُنَيْنٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "ابْتَعْتُ زَيْتًا فِي السُّوقِ فَلَمَّا اسْتَوْجَبْتُهُ لِنَفْسِي، لَقِيَنِي رَجُلٌ فَأَعْطَانِي بِهِ رِبْحًا حَسَنًا، فَأَرَدْتُ أَنْ أَضْرِبَ عَلَى يَدِهِ، فَأَخَذَ رَجُلٌ مِنْ خَلْفِي بِذِرَاعِي فَالْتَفَتُّ، فَإِذَا زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ، فَقَالَ: لَا تَبِعْهُ حَيْثُ ابْتَعْتَهُ حَتَّى تَحُوزَهُ إِلَى رَحْلِكَ، فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى أَنْ تُبَاعَ السِّلَعُ حَيْثُ تُبْتَاعُ حَتَّى يَحُوزَهَا التُّجَّارُ إِلَى رِحَالِهِمْ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه په بازارکښې مې تيل واخستل کله چه ما دا معامله مکمل کړه نويوکس راسره ملا وشواوما په دې کښې ډيره ګټه کړې وه نوما دا اراده وکړله چه دده سره معامله طې کړم يعنی په دغه خريدار تيل خرڅ کړم نو په دې وخت کښې يوکس در وستونه زما لاسونه ونيول ماچه ورته وکتل نوهغه زيد بن ثابت رضي الله عنه وو هغه راته ووئيل چه ترڅوچه داغله ددې ځائې نه خپل کورته وړې نه وي نودامه خرڅوه ځکه چه نبی عليه السلام ددينه ممانعت فرمائيلی دی يعنی چرته چه کوم شې واخستل شې نو هلته ئې خرڅول نه دی پکار ترڅوچه تاجردا مال خپل ځائې ته وړې نه وی.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَقُولُ فِي الْبَيْعِ لَا خِلَابَةَ

کله چه د خرڅولو په وخت کښې څوک ووائی چه په دې کښې دوکه نشته نوددې څه حکم دې؟

خلابة بمعنی خديعه او دهوکه، يعنی يو سړې د يو څيز د بيع په وخت يا د شراء په وخت داسې اووائی چه ګوره د دهوکې او د نقصان خبره نه دی کيدل پکار، يعنی په قيمت کښې

(١): صحيح البخاري/ المحاربين ٢٩ (٦٨٥٢)، صحيح مسلم/ البيوع ٨ (١٥٢٧)، سنن النسائي/ البيوع ٥٥ (٤٦١٢)، (تحفة الأشراف: ٦٩٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٧، ١٥٠) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو دواد، (تحفة الأشراف: ٢٧٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩١/٥) (حسن)

زيات فرق نه دی کيدل پکار (ځکه چه زه د اخستلو او خرڅولو زياته تجربه نه لرم)

[۳۵۰۰] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ رَجُلًا ذَكَرَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ يُخْدَعُ فِي الْبَيْعِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ: لَا خِلَابَةَ، فَكَانَ الرَّجُلُ إِذَا بَايَعَ يَقُولُ لَا خِلَابَةَ".

دعبدالله بن عمرنه روايت دې فرمائي چه يوكس نبی عليه السلام ته ددې خبرې ذكر وكړو چه خلق ماته دخريد فروخت په وخت كښې دوكه راكوي نبی عليه السلام ورته او فرمائيل كله چه سودا كوې نو داسې به وائې لَاخِلَابَةَ يعنې دوكه به نه وي نوهغه چه به كله خريد وفروخت كولو نودا كلمات به ئې وئيل يعنې په دې بيع كښې به دوكه نه وي.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلاً ذَكَرَ لِرَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ يُخْدَعُ فِي الْبَيْعِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ لاَ خِلاَبَةَ » ﴾

شرح الحديث:

د دې رجل نه مراد هغه صحابی رضي الله عنه دې چه د هغه نوم حبان بن منقذ دې، هغوی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خپل حال عرض كړو چه زه په بيع كښې دهوكه خورم، په دې روايت كښې اختصار دې، په روستو روايت كښې كوم چه د انس رضي الله عنه نه مروی دې په هغې كښې داسې دی چه يو سړې كوم چه ضعيف العقل وو هغه به اخستل او خرڅول كول، يعنې د اخستلو او خرڅولو شوق ئې خو وو، دكانونو ته تلو سره به ئې هلته اخستل خرڅول كول خو په دې معامله كښې ناپوهه وو نو د هغوی د كور خلق د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضر شو او خپله پريشانی ئې ورته ښكاره كړه او دا عرض ئې اوكړو چه يا رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه باندې بنديز اولګوئ چه بيا د چا سره اخستل او خرڅول اونكړې شی رسول الله صلى الله عليه وسلم د كور والو په شكايت باندې هغه راطلب اوفرمائيلو، او هغه ئې د بيع او شراء نه منع كړو، هغوی اووې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم مانه صبر نه كيږی بغير د بيع نه، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ښه څه كه ته بيع نه شې پريخودلې نو ﴿ فقل هاء وهاء ولا خلابة ﴾ نو بيا ته د بيع او شراء په وخت بائع يا مشتری ته د څيز د اخستلو په وخت يا وركولو په وخت داسې وايه (چه واخله روره ثمن يا مبيع) او ګوره د دهوكې خبره نه دی كيدل پكار.

الكلام على الحديث من حيث الفقه وبيان مذاهب الائمة فى خيار المغبون

د دې حديث نه امام احمد او بعض علماء كرامو رحمهم الله دا استنباط كړې دې چه كه يو سړې د بيع او شراء په وخت دا لفظ اووائې يعنې ﴿ لا خلابة ﴾ نو د هغې فائده به دا وی چه كه په دې بيع كښې غبن بيا موندلې شو نو خيار رد به حاصل وی، جمهور علماء كرام چه پكښې احناف او شوافع هم دی د مغبون دپاره د خيار غبن قائل نه دی، او د دې حديث جواب هغوی دا وركړې دې ﴿ بانه واقعة حال لا عموم لها ﴾ قال ابن العربی انه كله مخصوص بصاحبه لا

(١): صحيح البخاري/البيوع ٤٨ (٢١١٧)، الاستقراض ١٩ (٢٤٠٧)، الخصومات ٣ (٢٤١٤)، الحيل ٧ (٦٩٦٤)، سنن النسائي/البيوع ١٠ (٤٤٨٩)، (تحفة الأشراف: ٧٢٢٩)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/البيوع ١٢ (١٥٣٣)، موطا امام مالك/البيوع ٤٦ (٩٨)، مسند احمد (٢/٨٠، ١١٦، ١٢٩، ١٣٠) (صحيح)

یتعدی الی غیره، او د امام مالک رحمه الله قول اصح هم دا دې، او دویم قول د هغوی دا دې ﴿ له الخیار بشرط ان یبلغ الغبن ثلث القیمة ﴾ چه د مغبون دپاره به خیار غبن وی چه د هغې په وجه باندې هغه دا بیع فسخ کولې شی په دې شرط چه د دې غبن مقدار ثلث قیمت ته رسیږی، که د دې نه کم وی نو نشته، کذا فی هامش الترمذی، او بذل کښې نقلا عن الخطابی، د امام مالک رحمه الله قول ئې دا لیکلې دې چه په کوم صورت کښې مشتری صاحب بصیرت نه وی او د هغه په بیع کښې غبن اوموندلې شی نو هغه ته به خیار حاصل وی او په بذل کښې د خطابی نه د امام احمد رحمه الله قول هغه نقل کړې دې کوم چه پورته مونږ ذکر کړو ﴿ ان الامام احمد قال اذا بایعه فقال لا خلابة فله الرد ﴾ پس د کلام حاصل دا راووتلو چه د اکثر علماء کرامو او داحنافو او شوافعو په نزد په دې حدیث باندې عمل نشته هغوی دا حدیث د صاحب واقعه سره خاص منی، او امام احمد او امام مالک رحمهما الله په احد القولین کښې په دې حدیث باندې عمل کوی، مونږ د خپلو بعضو استاذانو نه اوریدلې دی د دې حدیث په توجیه کښې. چه په دې حدیث کښې کوم ځائې تصریح ده د دې خبرې چه د ﴿ لا خلابة ﴾ وئیلو نه پس خیار غبن حاصلیږی بلکه اصل خبره دا ده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم زمانه د خیر زمانه وه په خلقو کښې د یو بل دپاره همدردی وه په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه صحابی ته دا مشوره ورکړه چه کله ته د بیع نه نه شی منع کیدې نو کم از کم د بیع په وخت صرف دومره وایه چه تاسره معامله کونکې ستا لحاظ اوساتی او بس او که هم دا اووئیلې شی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مراد دا وو چه په داسې وئیلوسره به تاته خیار غبن حاصل شی نوبیا به هم هغه جواب وی کوم چه پورته د شارحینونه نقل کړې شوې دې چه داپه هغه صحابی پورې مخصوص دې. والله تعالی اعلم.

[۳۵۰۱]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَرُزِّيُّ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ خَالِدٍ أَبُو ثَوْرٍ الْكَلْبِيُّ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، قَالَ مُحَمَّدٌ عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَطَاءٍ، أَخْبَرَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، "أَنَّ رَجُلًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَبْتَاعُ وَفِي عُقْدَتِهِ ضَعْفٌ، فَأَتَى أَهْلُهُ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، احْجُرْ عَلَى فُلَانٍ فَإِنَّهُ يَبْتَاعُ وَفِي عُقْدَتِهِ ضَعْفٌ، فَدَعَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَهَاهُ عَنِ الْبَيْعِ، فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنِّي لَا أَصْبِرُ عَنِ الْبَيْعِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنْ كُنْتَ غَيْرَ تَارِكٍ الْبَيْعَ، فَقُلْ: هَاءَ، وَهَاءَ، وَلَا خِلَابَةَ". قَالَ أَبُو ثَوْرٍ: عَنْ سَعِيدٍ.

دنبی علیه السلام په زمانه کښې اخستل خرڅول کول ده په دماغو کښې فرق وو ده رشته داران دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شول او عرض نبې وکړو اې دالله رسوله په ده باندې پابندي ولګوئ ددې دپاره چه دده کوم لین دین درست نه وې (یعنی خلقو ته خبر ورکړه چه دده سره لین دین نه کوي) ځکه چه دې کاروبار کوي اودده په دماغو کښې فرق دې، ده عرض اوکړو اې دالله رسوله بغیرد کاروبارنه زما ګذاره نه کیږي نوپه دې وخت کښې ورته نبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې ته اخستل خرڅول نشي پریخودل نودبیع په وخت کښې داسې

(): سنن الترمذي/البيوع ۲۸ (۱۲۵۰)، سنن النسائي/البيوع ۱۰ (٤٤٩٠)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۲٤ (۲۳٥٤)، (تحفة الأشراف: ۱۱۷٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۱۷/۳) (صحيح)

وایه خبردار په دې کښې به دوکه نه وي.
د دې حدیث په ضمن کښې یو مسئله بله هم اختلافی ده یعنی حجر علی الکبیر السفیه... د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د اسباب حجر انحصار په درې څیزونو باندې دې، جنون، صبا او رق، فلا حجر عنده علی الکبیر السفیه، یعنی کوم سړې چه سره د عاقل بالغ کیدو په معاملاتو کښې ناپوهه وی او د ناپوهئ د وجې نه خپل مال ضائع کوی او خرابوی نو په هغه باندې بندیز لګول د ائمه ثلاث او صاحبینو په نزد جائز دی، او د امام صاحب په نزد جائز نه دی، فتوی د صاحبینو په قول باندې ده د دې حدیث نه د دواړو مسلکونو تائید کیږی ﴿ فنهاه عن البیع ﴾ سره د قائلینو تائید کیږی، او د ﴿ ان کنت غیر تارک ﴾ سره د امام صاحب رحمه الله تائید کیږی، حدیث ابن عمر رضی الله عنهما اخرجه البخاری ومسلم والنسائی،وحدیث انس رضی الله عنه اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة،قاله المنذری.

باب فی الْعُرْبَانِ

دبیع عربان بیان

عربان په ضمه د عین او سکون د راء سره او دې ته عربون هم وائی، د دې تفسیر خپله په کتاب کښې د امام مالک رحمه الله نه نقل دې په حدیث الباب کښې دی ﴿ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ –صلی الله علیه وسلم– عَنْ بَيْعِ الْعُرْبَانِ. قَالَ مَالِكٌ وَذَلِكَ – فِيمَا نَرَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ ﴾

[۳۵۰۲](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ أَنَّهُ بَلَغَهُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّهُ قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْعُرْبَانِ"، قَالَ مَالِكٌ: وَذَلِكَ فِيمَا نَرَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ أَنْ يَشْتَرِيَ الرَّجُلُ الْعَبْدَ أَوْ يَتَكَارَى الدَّابَّةَ، ثُمَّ يَقُولُ: أُعْطِيكَ دِينَارًا عَلَى أَنِّي إِنْ تَرَكْتُ السِّلْعَةَ أَوِ الْكِرَاءَ فَمَا أَعْطَيْتُكَ لَكَ.

عمرو بن شعیب د خپل پلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده دبیع عربان نه، مالك راوی وئیلی دی دعربان معنی داده چه انسان یوغلام بایوه وینځه واخلې یاخرڅونکې داسې اووائي زه به تاته په دې شرط باندې یودینار درکوم چه زه داغلام یاوینځه واخلم دغه دینار به ددې په قیمت کښې وي یاداچه زه به دې څاروي سورلي وکړم نودا دینار به په کرایه کښې حسابیږي که چرې زه داغلام با وینځه واپس کوم او یا په څاروي باندې سور نه شوم نودا دینار به تاته مفت شي اوزه ئې واپس نه اخلم.

د بیع عربان تعریف او بیان د مذاهبو :

بیع عربان چه د هغې نه په حدیث کښې منع کړې شوې ده امام مالك رحمه الله د هغې تفسیر فرمائی چه عربان دا دې چه یو سړې د بل نه غلام واخلی یا د هغه نه څاروې په کرایه باندې واخلی او د دې بیع یا اجارې په وخت مشتری یا مستاجر ته داسې اووائی چه زه تاته دا دینار درکوم په داسې طریقه چه که ما دا څیز پریخودلو او په بیع مې وانخستلو یا مې په

(1): سنن ابن ماجه/التجارات ۲۲ (۲۱۹۲)، (تحفة الأشراف: ۸۸۲۰)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ البیوع ۱ (۱)، مسند احمد (۱۸۳/۲) (ضعیف)

کرایه وانخستلو نو بیا چه ما څه تاته درکړې دی هغه ستا دپاره دی او که په بیع مې واخستلو یا په کرایه نو بیا به دا په دینار د ثمن او اجرت کښې شماریږی، بیع عربان د جمهور علماء او ائمة ثلاث په نزد ناجائز ده، په ائمة کښې امام احمد او په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې عمرو او ابن عمر رضی الله عنهما نه د دې اباحت منقول دې، په بذل کښې د دې ټول هر څه لیکلو نه پس په آخر کښې دا دی ﴿قلت ویرد العربان اذا ترک العقد علی کل حال بالاتفاق﴾ یعنی هغه دینار کوم چه دې مشتری یا مستاجر مخکښې ورکړې وو هغه به بهر حال واپس کولې شی بالاتفاق، یعنی د هغوی په نزد هم کوم چه د بیع عربان د جواز قائل دی، والله تعالی اعلم، قال الخطابی وقد اختلف الناس فی جواز هذا البیع فابطله مالک والشافعی للخبر ولما فیه من الشرط الفاسد والغرر، ویدخل ذلک فی اکل المال بالباطل، وابطله اصحاب الرائی ایضا، وقد روی عن ابن عمر وعمر انه اجاز هذا البیع، وما احمد بن حنبل الی القول باجازته. الی آخر ما فی البذل. امام احمد رحمه الله د دې حدیث تضعیف کړې دې چه دا منقطع دې، خو علامه زرقانی دا تضعیف رد کړې دې.

دا باب په کتب سته کښې د ابوداؤد نه علاوه صرف په ابن ماجة کښې دې او هغوی هم دا د ابوداؤد والا حدیث په هغې کښې ذکر کړې دې ﴿یعنی عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده﴾ او امام ابن ماجة د عربان تفسیرهم ذکر کړې دې ﴿قال ابو عبدالله العربان ان یشتری الرجل دابة بمئة دینار فیعطیه دینارین عربونا فیقول ان لم اشتر الدابة فالدیناران لک هـ﴾ او امام مالک رحمه الله په موطاء کښې په کتاب البیوع کښې شروع هم ددې باب نه کړې ده ﴿باب ماجاء فی بیع العربان﴾ وفی الاوجز العربان بضم العین وسکون الراء ویقال عربون وعربون بالفتح والضم، وبالهمزة (یعنی اربون) بدل العین فی الثلاث والراء ساکن فی الکل – الی آخر ما ذکر من اختلاف اللغات وغیره.

والحدیث اخرجه ابن ماجة وهذا منقطع، واسنده ابن ماجة وفیه حبیب کاتب الامام مالك وعبدالله بن عامر الاسلمی ولا یحتج بهما، قاله المنذری

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَبِيعُ مَا لَيْسَ عِنْدَهُ

کوم شې چه ستا سره موجود نه وی د هغې خرڅول منع دی

[۳۵۰۳] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، يَأْتِينِي الرَّجُلُ فَيُرِيدُ مِنِّي الْبَيْعَ لَيْسَ عِنْدِي أَفَأَبْتَاعُهُ لَهُ مِنَ السُّوقِ. فَقَالَ: "لَا تَبِعْ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ".

د حکیم بن حزام نه روایت دې فرمائی چه ما عرض وکړو اې د الله رسوله که چرې ماته یو کس راشي او هغه زمانه داسې شې اخلي کوم چه زما سره موجود نه وي نو که چرې هغه شې زه دده دپاره په بازار کښې واخلم او ورته ئې راوړم نو ددې څه حکم دې نبی ﷺ اوفرمائیل تاسره چه کوم شې موجود نه وي هغه مه خرڅوه.

¹): سنن الترمذي/البیوع ۱۹ (۱۲۳۲)، سنن النسائي/البیوع ۵۸ (٤٦١٥)، سنن ابن ماجه/التجارات ۲۰ (۲۱۸۷)، (تحفة الأشراف: ۳٤۳٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/٤۰۲، ٤۳٤) (صحیح)

﴿ عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ يَأْتِينِي الرَّجُلُ فَيُرِيدُ مِنِّي الْبَيْعَ لَيْسَ عِنْدِي أَفَأَبْتَاعُهُ لَهُ مِنَ السُّوقِ فَقَالَ « لاَ تَبِعْ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ ﴾

د دې حديث په مفهوم كښې بيع العبد الآبق او بيع الشئ قبل القبض او بيع مال غير بغير اذنه ټول داخل دی خو په دې آخری صورت كښې يعنی بيع فضولی كښې د علماء كرامو اختلاف دې كوم چه مخكښې تير شوې دې، د حديث مفهوم دا دې چه حكيم بن حزام رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته عرض اوكړو چه بعض خلق ماته راځی او زما نه داسې څيز اخستل غواړی كوم چه ما سره نه وی نو آيا په دې صورت كښې زه د هغوی سره بيع كولې شم، يعنی ړومبی د هغه څيز بيع اوكړم او بيا ئې روستو د بازار نه واخلم او هغه ته ئې وركړم، رسول الله ﷺ د دې نه منع اوفرمائيله.

والحديث اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجة.

[٣٥٠٤](¹) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ أَيُّوبَ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ أَبِيهِ حَتَّى ذَكَرَ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَحِلُّ سَلَفٌ وَبَيْعٌ، وَلَا شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ، وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ تَضْمَنْ، وَلَا بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ".

د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی قرض اوبيع جائز نه دي اونه په يوه بيع كښې دوه شرطونه لګول جائز دي اونه په هغه څيز كښې ګټه كول جائز دي دكوم چه ذمه واري اخستلې شوي نه وي اونه دهغه څيز خرڅول جائزدي كوم چه ستاسره موجود نه وي.

قوله: ﴿ لاَ يَحِلُّ سَلَفٌ وَبَيْعٌ وَلاَ شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ وَلاَ رِبْحُ مَا لَمْ تَضْمَنْ وَلاَ بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ ﴾

شرح الحديث :

په دې حديث كښې څلور اجزاء ذكر دی چه د هغې شرح دا ده ١ : حلال نه دې بيع او قرض، يعنی بيع په شرط د قرض جائز نه ده، يا مطلب دا چه بيع په لاس د مقروض جائز نه ده، ځكه چه كله د مقروض سره بيع كولې شی نو مشتری به د قرض په رعايت كښې د ثمن كمې نه كوی بلكه كيدې شی چه دا كار په ګران قيمت باندې واخلی، حال دا چه ضابطه دا ده ﴿ كل قرض جر نفعا فهو ربا ﴾ ﴿ ولا شرطان فی بيع ﴾ د دې مفهوم د جمهورو په نزد خو دا دې ﴿ لا بيعان فی بيع ﴾ لكه چه په حديث كښې دی ﴿ نهی عن بيعتين فی بيعة ﴾ او امام احمد رحمه الله دا حديث په خپل ظاهر باندې كيخودلې دې يعنی دا چه په يو بيع كښې دوه شرطونه لګول جائز نه دی، او كه يو شرط وی نو هغه جائز دې، پس په ترمذی كښې دی ﴿ قال احمد : اذا قال ابيعک هذا الثوب وعلی خياطته وقصارته فهذا من نحو شرطين فی بيع، واذا قال ابيعكه وعلی خياطته فلا باس به، او قال ابيعكه وعلی قصارته فلا باس به انما هو شرط واحد، قال اسحاق كما قال ﴾ يعنی كه يو سړې د چا په لاس باندې يو كپړه خرڅه كړی او بائع د خرڅولو په وخت په خپله ذمه دوه

¹): سنن الترمذي/البيوع ١٩ (١٢٣٤)، سنن النسائي/البيوع ٦٠ (٤٦٢٥)، سنن ابن ماجه/التجارات ٢٠ (٢١٨٨)، (تحفة الأشراف: ٨٦٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٤/٢، ١٧٨، ٢٠٥) (حسن صحيح)

شرطونه اولګوی چه زما په ذمه د دې ګنډل هم دی او وینځل هم نو دا صورت خو ناجائز دې او که د بیع ثوب په وخت صرف د خیاطت یا صرف د قصارت شرط اولګوی نو په دې کښې هیڅ باک نشته دا شرط واحد دې او په حدیث کښې ممانعت د شرطین دې، جمهور د دې په جواب کښې دا وائی چه هر هغه شرط کوم چه د مقتضاء د عقد خلاف وی د هغې لګول جائز نه دی، مفسد د بیع دې ځکه چه په بل حدیث کښې نهی عن بیع وشرط ۳: او د دې حدیث دریم جزء دا دې چه کوم څیز د انسان په ضمان کښې داخل نه وی په هغې سره ربح حاصلول جائز نه دی، لکه بیع قبل القبض ۴: څلورم جزء هم هغه دې کوم چه په ترجمة الباب کښې مذکور دې چه د هغې مثال تیر شوې دې. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِي شَرْطٍ فِي بَيْعٍ

په بیع کښې د شرط لګولو بیان

د مصنف رحمه الله غرض په بیع کښې د شرط واحد جواز لره بیانول دی لکه چه د امام احمد رحمه الله مذهب دې او مصنف رحمه الله هم حنبلی دې په دې باب کښې مصنف رحمه الله د جابر رضی الله عنه د شراء جمل والا روایت ذکر کړې دې چه په هغې کښې دی. ﴿ واشترطت حملانه الی اهلی ﴾.

[۳۵۰۵](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ سَعِيدٍ، عَنْ زَكَرِيَّا، حَدَّثَنَا عَامِرٌ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: بِعْتُهُ يَعْنِي بَعِيرَهُ، مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاشْتَرَطْتُ حُمْلَانَهُ إِلَى أَهْلِي، قَالَ فِي آخِرِهِ: "تُرَانِي إِنَّمَا مَاكَسْتُكَ لِأَذْهَبَ بِجَمَلِكَ خُذْ جَمَلَكَ وَثَمَنَهُ فَهُمَا لَكَ".

د جابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه ما په نبی علیه السلام باندې خپل اوښ خرڅ کړو اودا شرط مې ورباندې ولګوو چه زه به ورباندې سوریږم اودخپل کوره پورې به په دې باندې خپل بار وړم اوبیا ئې واقعه بیان کړه، په اخرکښې ورته نبی علیه السلام اوفرمائیل ایا تاته معلومه ده چه زه تاداوس په اغستلو کښې په دې وجه، باندې تئمل کوم چه ستا اوښ بوځم، لاړ شه خپل اوښ بوځه اوددې قیمت هم واخله دا دواړه ستاشو.

د جابر رضی الله عنه د شراء جمل والا حدیث:

جابر رضی الله عنه فرمائی چه ما په رسول الله ﷺ باندې اوښ خرڅ کړو او ما د هغوی سره په دې اوښ باندې کور ته د تلو پورې په هغې باندې د سوریدو شرط اولګولو، دا شرط لکه چه اوس پورته ذکر شو د امام احمد رحمه الله په نزد مطلقا جائز دی او د شوافعو او د احنافو په نزد مطلقا ناجائز دې او وعند مالک الفرق بین المکان القریب والبعید، یعنی د مختصر شان سفر قید خو لګول جائز دی د هغوی په نزد، د اوږد سفر شرط لګول ناجائز دی، د احنافو او شوافعو د طرف نه د دې حدیث جواب دا دې چه د دې قصې د روایاتو الفاظ مختلف راغلی دی په یو روایت کښې دی ﴿ افقرنی ظهره ﴾ یعنی رسول الله ﷺ دا اوښ د سوال په

(۱): صحیح البخاري/البیوع ۳٤ (۲۰۹۷)، الاستقراض ۱ (۲۳۸۵)، ۱۸ (۲٤۰٦)، المظالم ۲٦ (۲٤۷۰)، الشروط ٤ (۲۷۱۸)، الجهاد ٤۹ (۲۸٦۱)، ۱۱۳ (۲۹٦۷)، صحیح مسلم/البیوع ٤۲ (۷۱۵)، الرضاع ۱٦ (۷۱۵)، سنن الترمذي/البیوع ۳۰ (۱۲۵۳)، سنن النسائي/البیوع ۷۵ (٤٦٤۱)، سنن ابن ماجه/التجارات ۲۹ (۲۲۰۵)، (تحفة الأشراف: ۲۳٤۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۹/۳، ۳۹۲) (صحیح)

طريقه باندې ماته د مدينې منورې پورې د رسيدو دپاره راکړې وو. د دې نه معلوميږي چه دلته په صلب عقد کښې هيڅ شرط نشته بلکه د سره شرط او نه. رسول الله ﷺ اوښ په سوال باندې ورکړې وو، قال فى آخره ﴿ ترانى انما ماکستک لاذهب بجملک خذ جملک وثمنه فهما لک ﴾ مصنف رحمه الله وائى چه د دې حديث په آخر کښې دا دى چه رسول الله ﷺ جابر رضى الله عنه ته اوفرمائيل چه آيا ستا حال زما په باره کښې دا دې چه ما ستا نه د اوښ اخستلو په وخت په قيمت کښې کمې په دې وجه کړې وو چه په کم قيمت باندې ستا اوښ واخلم (نه داسې نه وه بلکه) زه خپل اوښ دې هم بوځه، او د هغې ثمن هم، دواړه مونږ تاته درکړې، مصنف رحمه الله د خپل عادت مطابق دا دلته مختصرا بيان کړو، په صحيح بخارى کښې دا حديث په ډير کرته راغلې دې چرته مختصر او چرته مطول، په کتاب الشروط کښې په دې حديث باندې هغوى ﴿ باب اذا اشترط البائع ظهر الدابة الى مکان مسمى جاز ﴾ ترجمه قائم کړې ده او هلته ئې چه کوم حديث ذکر کړې دې په هغې کښې داسې دى چه زه په غزوه تبوک کښې د رسول الله ﷺ سره په داسې اوښ باندې سور روان اوم چه ستړې شوې وو. رسول الله ﷺ چه کله زما خوا کښې تير شو نو هغوى دا اوښ يو ګزار اووهلو او دعا ئې هم اوفرمائيله چه په هغې سره هغه ډير تيز روان شو، هغوى فرمائى چه بيا رسول الله ﷺ ما سره د اخستلو خبره شروع کړه (تفريحا) او وې فرمائيل چه ماته دا په يو اوقيه باندې خرڅ کړه ما په نفى کښې جواب ورکړو. رسول الله ﷺ مکرر اوفرمائيل. بيا وراندې دا دى چه کله مونږ مدينې طيبې ته اورسيدو نو ما دا اوښ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې پيش کړو رسول الله ﷺ واخستلو او ثمن ئې هم ماته راکړو، بيا چه کله زه روان شوم نو يو سړې ئې راوليږلو او زه ئې راطلب کړم او وې فرمائيل زمونږ ستا اوښ اخستل مقصود نه وو او اونيسه خپل اوښ دې هم کوم هم ستا خپل مال دې. الحديث

والحديث اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة، مختصرا وطويلا، قاله المنذرى

بَابٌ فِي عُهْدَةِ الرَّقِيقِ

د غلام او د وينځې د اخستلو بيان

[۳۵۰۶] (١) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "عُهْدَةُ الرَّقِيقِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ".

دعقبة بن عامر نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى دغلام اودوينځې د خرڅونکې دپاره دعهد ميعاد درې ورځې دې.

قوله: ﴿ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « عُهْدَةُ الرَّقِيقِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ » ﴾

د مسئله مترجم بها تشريح سره د بيان المذاهب او دليل:

د غلام د واپس اخستلو ذمه دارى تر درې ورځو پورې وى، که يو سړې د چا په لاس باندې

(١): سنن ابن ماجه/التجارات ٤٤ (٢٢٤٥)، (تحفة الأشراف: ٩٩١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٣/٤، ١٥٠، ١٥٢)، سنن الدارمي/البيوع ١٨ (٢٥٩٤) (ضعيف)

خپل غلام خرڅ کړی او بیا د مشتری سره په هغه غلام کښې څه عیب ښکاره شی نو په درې ورځو کښې دننه د بائع دپاره واپس اخستل ضروری دی یعنی د واپس اخستلو د هغه ذمه داری ده یعنی بغیر د ګواهانو نه، او که د درې ورځو نه پس پکښې څه عیب ښکاره شو بیا بغیر د ګواهانو د قیام نه مشتری ته د واپس کولو هیڅ حق نشته.

د دې حدیث تعلق د خیار عیب سره دې، د جمهور علماء او ائمه ثلاث په نزد مشتری ته د عیب د وجې نه چه کوم خیار عیب حاصل وی د هغې عام قاعده او ضابطه دا ده چه که هغه عیب داسې دې چه په دې موده کښې دهغې مشتری سره پیدا کیدل ممکن نه دی نو بیا خو بغیر د بینه نه مشتری دا مبیع واپس کولې شی. او که عیب داسې دې چه په دې موده کښې مشتری سره پیدا کیدې شی یعنی او دا احتمال هم دې چه هغه د مخکښې نه وی، په دې صورت کښې به مشتری د ګواهانو په ذریعه ثابتوی چه دا عیب ماسره نه دې پیدا شوې بلکه د مخکښې نه دې، پس که مشتری دا ګواهان پیش کړل نو بیا خو به د هغه د مبیع واپس کولو حق وی ګینې نه به وی، د جمهورو په نزد دا قاعده کلیه ده هیڅ مسئله او جزئیه د هغوی په نزد د دې نه مستثنی نه ده. د امام مالک رحمه الله په نزد دې کښې یو استثناء ده کومه چه په حدیث الباب کښې ذکر شوې ده د کوم تعلق چه د غلام او وینځې د اخستلو سره دې یعنی که مبیع غلام یا وینځه وی او مشتری پکښې څه عیب بیا موندلو نو مشتری په درې ورځو کښې دا وینځه یا غلام په هر حال کښې بغیر د ګواهانو نه واپس کولې شی. اګر که دا عیب هر څنګه وی. خو دا د هغوی په نزد په هغه صورت کښې چه کله بائع د براءت من کل عیب شرط لګولې نه وی، او که لګولې ئې وی نو بیا د هغوی په نزد هم دا مسئله نه ده، بهر حال دا حدیث د امام مالک رحمه الله دلیل او د جمهورو خلاف دې د جمهورو د طرف نه د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه دا حدیث ثابت نه دې. په بذل کښې دی ﴿ وضعف احمد بن حنبل عهدة الثلاث، وقال لا يثبت فى العهدة حديث وقالوا لم يسمع الحسن من عقبة بن عامر شيئا ﴾ امام خطابی رحمه الله فرمائی ﴿ كما فى البذل وعهدته السنة من الجنون والجذام والبرص، ولا عهدة الا فى الرقيق خاصة وهذا قول اهل المدينة وابن المسيب والزهرى ﴾ یعنی لوئې لوئې بیمارئ لکه لیونتوب جذام او برګې په دې کښې د عهدة الرقيق موده زیاتیږی د درې ورځو په ځائې یو کال دې. هغوی فرمائی چه امام شافعی رحمه الله په دې کښې نه درې ورځو ته اعتبار ورکوی او نه یو کال ته الى اخر ما ذكر (بذل).زه وایم او په موطاء د امام محمد رحمه الله کښې دی: ﴿ لسنا نعرف عهدة الثلاث ولا عدة السنة الخ ﴾ چه مونږ ته معلومه نه ده چه عهدة الثلاث او عهدة السنة څه وی. مګر دا چه سړې د درې ورځو یا د یو کال شرط اولګوی نو بیا به هغه شرط معتبر وی یعنی عهدة الرقيق څه مستقل څیز نه دې د دې څه ثبوت نشته دې د حدیث مرفوع نه خو دلته خیار شرط معتبر او ثابت دې پس که مشتری د غلام یا وینځې..... د اخستلو په وخت شرط اولګوی په عیب سره د واپس کولو مطلقا که هغه درې ورځې وی او که یو کال وی نو په دې حیثیت سره به هغه معتبر وی ځکه چه خیار شرط

شرعا ثابت دي او متفق عليه دي.(۱)

[۳۵۰۷](۲) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الصَّمَدِ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، زَادَ إِنْ وَجَدَ دَاءً فِي الثَّلَاثِ لَيَالِي رُدَّ بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ وَإِنْ وَجَدَ دَاءً بَعْدَ الثَّلَاثِ كُلِّفَ الْبَيِّنَةَ، أَنَّهُ اشْتَرَاهُ وَبِهِ هَذَا الدَّاءُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا التَّفْسِيرُ مِنْ كَلَامِ قَتَادَةَ.

د قتاده رحمه الله نه پخپل سند سره ددې روايت په شان روايت نقل شوې دې مګرددې اضافي سره چه که چرې په غلام او وينځه کښې په درې ورځوي دننه عيب ظاهرشي نوخريدارئې بغيردشهادت نه واپس کولې شي اوکه چرې ددرې ورځونه پس عيب ظاهرشي نو دخريدارنه به دواه طلب کولې شي او درې ورځې به دهغه وخت نه حسابيږي په کوم وخت کښې چه سوداشوې وه، امام ابوداؤد فرمائی دا تشريح دقتاده کلام دې.

بَابٌ فِيمَنِ اشْتَرَى عَبْدًا فَاسْتَعْمَلَهُ ثُمَّ وَجَدَ بِهِ عَيْبًا

څوک چه غلام واخلی اودا استعمال نه پس په کښې عيب ظاهرشي

د مسئله مترجم بها تشريح :

زمونږ په دې نسخه کښې داسې دې ﴿ فاستعمله ﴾ او په نسخه د خطابی کښې د دې په ځائې ﴿ فاستغله ﴾ دې استغلال د غله نه اخستلې شوې دې غله په معنی د نفع او ګټه، لهذا د ترجمة الباب مطلب به دا وی چه کوم سړی غلام واخستلو او بيا ئې په هغه باندې ګټه اوکړه او بيا مشتری په دې غلام کښې څه عيب بيا موندلو د دې په باره کښې مصنف رحمه الله دا مسئله بيان فرمائی چه کله په دې غلام کښې څه عيب راوتلو نو اوس ظاهره خبره ده چه مشتری ته به خيار عيب حاصل وی چه د هغې د وجې نه هغه دا غلام واپس کولې شی خو هغه ګټه کومه چه مشتری د دې غلام نه په دې موده کښې حاصل کړې ده د هغې به څه کيږی هغه به هم د دې غلام سره واپس کوی يا که د هغې مستحق به خپله مشتری وی. په

(۱) امام مالک رحمه الله په موطاء کښې ترجمه قائم کړې ده "العهدة في الرقيق" او بيا ئې د هغې لاندې هغه مرفوع حديث نه دې ذکر کړې کوم چه دلته په ابوداؤد کښې دې بلکه د مدينې د بعض اميرانو ابان بن عثمان او هشام بن اسماعيل طرز عمل ئې بيان کړو ﴿ انهما كانا يذكران في خطبتهما عهدة الرقيق في الايام الثلاث من حين يشتري العبد او الوليدة، وعهدة السنة ﴾ يعنی دې د مدينې اميرانو به په خپلو خطبو کښې عهدة الرقيق او هم دغه شان عهدة الوليدة په درې ورځو او په کال کښې ذکر کولې، علامه باجی فرمائی چه د امام مالک رحمه الله مقصد دا دې چه دا عهدة الرقيق فی الايام الثلاثة او فی السنة په هغه امورو کښې دی کوم چه مشهور او معمول بها وو او د کومو چه به اميرانو اهتمام کولو تر دې چه په خطبو کښې به ئې هغه بيانولو. او امام محمد رحمه الله په موطاء کښې ترجمه قائم کړې ده" باب عهدة الثلاث والسنة " او بيا ئې هم هغه روايت ذکر کړو کوم چه په موطاء د مالک کښې دې په دې باندې امام محمد رحمه الله تعقب کولو سره اوفرمائيل ﴿ قال محمد لسنا نعرف عهدة الثلاث ولا عهدة السنة الا ان يشترط الرجل خيار ثلاثة ايام او خيار سنة فيكون ذلك على ما اشترط و اما في قول ابي حنيفة فلا يجوز الخيار الا ثلاثة ايام اهـ ﴾ امام محمد رحمه الله فرمائی چه د خيار شرط اعتبار شته عهدة الرقيق هيڅ څيز نه دې او دا هم فرمائی چه په خيار شرط کښې چه هر څومره ورځې اولګولې شی هغه صحيح دی زمونږ په نزد.خو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په خيار عيب کښې د درې ورځو نه زياتول نشته.

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۹۱۷) (ضعيف) وسنده إلي قتادة صحيح

دي باره کښي چه مصنف رحمه الله کوم حديث ذکر کړي دي هغه دا دي:

[۳۵۰۸]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ مَخْلَدِ بْنِ خُفَافٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ".

دام المومنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی دخراج حقدار هغه څوک دي چاچه ضمانت کړي وي.

﴿عَنْ عَائِشَةَ – رضي الله عنها – قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « الْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ » ﴾

خراج په معنی د نفع او پيدوار، ای مستحق بسب الضمان.... يعنی سړي د ګټي او نفع مستحق کيږی د ضمان د وجي نه. پس چه کوم څيز د کوم سړی په ضمان کښي وی د هغي د ګټي او د نفع مستحق به هم هغه وی. لهذا د دي حديث نه د ترجمة الباب والا مسئلي حکم معلوم شو هغه دا چه دا ګټه به د مشتری دپاره وی، د غلام سره به نه واپس کيږی، ځکه چه که په دي دوران کښي هغه غلام د مشتری سره هلاک شي نو د دي ضامن به مشتری وی دا د الخراج بالضمان والا مسئله تقريبا اجماعی ده د دي وجي نه احنافو په مسئله د مصراة کښي هم دا مخکښي ساتلي ده خو جمهورو په دي مسئله کښي د دي حديث موافقت نه دي کړي.

والحديث اخرجه الترمذي والنسائي، قاله المنذري

[۳۵۰۹]([2]) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مَخْلَدِ بْنِ خُفَافٍ الْغِفَارِيِّ، قَالَ: "كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ أُنَاسٍ شَرِكَةٌ فِي عَبْدٍ فَاقْتَوَيْتُهُ، وَبَعْضُنَا غَائِبٌ فَأَغَلَّ عَلَيَّ غَلَّةً فَخَاصَمَنِي فِي نَصِيبِهِ إِلَى بَعْضِ الْقُضَاةِ، فَأَمَرَنِي أَنْ أَرُدَّ الْغَلَّةَ، فَأَتَيْتُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ فَحَدَّثْتُهُ، فَأَتَاهُ عُرْوَةُ فَحَدَّثَهُ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ".

دمخلد غفاري رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه زما اوديوڅو کسانو په مينځ کښي شراکت وو په يرغلام کښي ماپه دي غلام باندي کار کول شروع کړل دي غلام څه آمدن حاصل کړو، کوم شريك چه غائب وو هغه دده په باره کښي زماسره جګړه کول شروع کړل او راته ئي اووئيل چه په دي کښي خو زما هم حصه ده او راته ئي راکړه اوقاضي په وړاندي ئي پري دعوي وکړه قاضی دافيصله وکړه چه ده ته به حصه ورکوي، اوبياددينه پس دعروه بن زبير په خدمت کښي حاضر شوم او واقعه ئي ورته بيان کړه عروه ورته هغه حديث بيان کړو کوم چه ئي دعائشي رضي الله عنها نه اوريدلي وو چه نبي عليه السلام فرمائيلی دی دغلام ياوينځي منافع به دهغه چاوي څوك چه زمه وار وي

﴿ عن مَخْلَدِ بْنِ خُفَافٍ الْغِفَارِيِّ قَالَ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ أُنَاسٍ شَرِكَةٌ فِي عَبْدٍ فَاقْتَوَيْتُهُ وَبَعْضُنَا غَائِبٌ فَأَغَلَّ عَلَيَّ غَلَّةً فَخَاصَمَنِي فِي نَصِيبِهِ إِلَى بَعْضِ الْقُضَاةِ الخ﴾

مخلد بن خفاف فرمائي چه زما او د بعض خلقو ترمينځه يو غلام مشترک وو نو داسي

---

[1]): سنن الترمذي/البيوع ۵۳ (۱۲۸۵)، سنن النسائي/ البيوع ۱۳ (۴۴۹۵)، سنن ابن ماجه/التجارات ۴۳ (۲۲۴۲، ۲۲۴۳)، (تحفة الأشراف: ۱۶۷۵۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۹/۶، ۲۰۸، ۲۳۷) (حسن)

[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۶۷۵۵) (حسن)

اوشوه چه زمونږ بعض شریکان موجود نه وو. ما دا غلام په ګټه باندې اولګولو او د هغه په ذریعه مې څه ګټه اوکړه. چه کله غائب شریک راغلو نو هغه د دې غلام والا ګټې نه د خپلې حصې مطالبه اوکړه او دا مسئله ئې د وخت قاضي ته یوړه. قاضي صاحب ماته دا حکم اوکړ چه زه په دې ګټه کښې د هغه حصه هم ورکړم زه د قاضي د دې فیصلې نه پس عروة بن الزبیر ته لاړم او هغوی ته مې دا ټوله قصه او د قاضي فیصله بیان کړه. عروه په دې اوریدو باندې قاضي ته لاړو او د قاضي ته ئې داحدیث مرفوع کوم چه د عائشې رضي الله عنها نه روایت کړې شوې دې ﴿الخراج بالضمان﴾ بیان کړو. یعني ستاسو دا فیصله صحیح نه ده د حدیث خلاف ده

[۳۵۱۰]() حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مَرْوَانَ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ خَالِدٍ الزَّنْجِيُّ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، "أَنَّ رَجُلًا ابْتَاعَ غُلَامًا، فَأَقَامَ عِنْدَهُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يُقِيمَ، ثُمَّ وَجَدَ بِهِ عَيْبًا فَخَاصَمَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَدَّهُ عَلَيْهِ، فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدِ اسْتَغَلَّ غُلَامِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا إِسْنَادٌ لَيْسَ بِذَاكَ.

د ام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائي چه یوکس یوغلام واخستو اودده سره ئې څه موده تیره کړه بیاددې نه پس په دې غلام کښې عیب ظاهرشو نوده نبی علیه السلام ته خپله مقدمه پیش کړه نبی علیه السلام دافیصله وکړله چه خرڅونکی ته دې واپس کړې شي خرڅونکي عرض وکړوچه اې الله رسوله ده زما په غلام باندې مزدوري کړې ده اوامدن ئې ورنه حاصل کړې دې، نبی علیه السلام اوفرمائیل فوائد به دهغه چاړې څوك چه ذمه وار وي. امام ابوداؤد فرمائي چه ددې حدیث سند لره اعتبارنشته.

قوله: ﴿ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ رَجُلاً ابْتَاعَ غُلَامًا الخ ﴾ د دې مضمون د پورته حدیث په شان دې.

قوله: قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَا إِسْنَادٌ لَيْسَ بِذَاكَ.

الخراج بالضمان والا حدیث د کومې درجې دې؟

سند که هر څنګه وی خو مسئله هم داسې ده، د دې سند د ضعف وجه کومه چه مصنف رحمه الله بیان فرمائي لکه چه امام منذری رحمه الله فرمائیلي دی چه په دې سند کښې مسلم بن خالد الزنجی دې چه ضعیف دې، منذری وائي خو امام ترمذی رحمه الله دا حدیث په خپل جامع کښې په دې سند سره روایت کړې دې ﴿ عمر بن علی المقدی عن هشام بن عروة عن ابیه عن عائشة ان النبی صلی الله علیه وسلم قضی ان الخراج بالضمان وقال هذا حدیث حسن صحیح من حدیث هشام بن عروة اهـ) په دې سند کښې مسلم بن خالد الزنجی نشته. او په ترمذی کښې دا هم دی ﴿ قال ابو عیسی استغرب محمد بن اسماعیل هذا الحدیث من حدیث عمر بن علی قلت تراه تدلیسا؟ قال : لا اهـ ﴾ په تهذیب السنن کښې امام منذری فرمائي : ﴿ وحکی البیهقی عن الترمذی انه ذکره لمحمد بن اسماعیل البخاری فکانه اعجبه﴾ یعني چه امام بخاری رحمه الله دا حدیث په دې سند باندې واوریدو نو خوښ ئې کړلو اهـ. د دې نه پس حافظ منذری د عمر بن علی په باره کښې لیکلي دی : ﴿وقد اتفق البخاری ومسلم علی الاحتجاج بحدیثه ورواه عن عمر بن

[۱]: سنن ابن ماجه/التجارات ٤٣ (۲۲٤۳)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷٤۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/۸۰، ۱۱٦) (حسن)

على ابوسلمة يحيى بن خلف الجويبارى وهو ممن يروى عنه مسلم فى صحيحه، وهذا انساد جيد ولهذا صححه الترمذى، وهو غريب كما اشار اليه البخارى والترمذى والله تعالى اعلم ﴾ حافظ منذرى د ترمذى د روايت والا د ټولو راويانو ثقاهت په دې خپل دې کلام کښې ذکر کړې دې او بيا په اخر کښې فرمائى چه دا سند جيد دې هم په دې وجه امام ترمذىؒ د دې حديث تصحيح کړې ده. او اګر چه غريب هم دې خو غرابت د صحت منافى نه دې لکه چه مشهوره اصولى مسئله ده او د حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې دى ﴿ ذكر تخريج الحديث الحافظ فى التلخيص والمسئلة اجماعية لهذا الحديث كما فى الاوجز ﴾ امام ابوداؤدؒ دا حديث د عائشې ؓ په درې مختلف سندونو سره ذکر کړې دې. په دې دريو کښې ئې په يو باندې کلام کړې دې.

بَاب إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ وَالْمَبِيعُ قَائِمٌ

کله چه په اخستونکى او خرڅونکى کښې اختلاف راشي او بيع موجود وى

[٣٥١١]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ أَبِي عُمَيْسٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ قَيْسِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْأَشْعَثِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: اشْتَرَى الْأَشْعَثُ رَقِيقًا مِنْ رَقِيقِ الْخُمُسِ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بِعِشْرِينَ أَلْفًا، فَأَرْسَلَ عَبْدُ اللَّهِ إِلَيْهِ فِي ثَمَنِهِمْ، فَقَالَ: إِنَّمَا أَخَذْتُهُمْ بِعَشَرَةِ آلَافٍ. فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ: فَاخْتَرْ رَجُلًا يَكُونُ بَيْنِي وَبَيْنَكَ، قَالَ الْأَشْعَثُ: أَنْتَ بَيْنِي وَبَيْنَ نَفْسِكَ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا بَيِّنَةٌ، فَهُوَ مَا يَقُولُ رَبُّ السِّلْعَةِ أَوْ يَتَتَارَكَانِ".

عمرو بن شعيب دخپل پلار نه او هغه دده دنيکه نه روايت کوى فرمائى چه زما پلار اشعث دعبدالله بن مسعود نه يو څو غلامان په شل زره واخستل کوم چه ابن مسعود ته په خمس کښې ورکړې شوې وو، ابن مسعود داشعث نه دغلامانو دقيمت مطالبه وکړله اشعث اووئيل ما دا غلامان په لس زره اخستلې دي ابن مسعود ورته اووئيل يو کس خوښ کړه چه زما او ستا په مينځ کښې فيصله وکړي، عبدالله بن مسعود ؓ اووئيل ما دنبى ﷺ نه آوريدلى دى چه فرمائيل ئې کله چه دخريدار او خرڅونکي په مينځ کښې جګړه پيښه شي او ددواړو سره ګواه موجود نه وي نو په دې وخت کښې دمال والا خبرې لره اعتبار دې او يا دې بيع فسخ کړې شي.

﴿ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ قَيْسِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْأَشْعَثِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ اشْتَرَى الْأَشْعَثُ رَقِيقًا مِنْ رَقِيقِ الْخُمُسِ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بِعِشْرِينَ أَلْفًا ﴾

عبدالرحمن بن قيس روايت کوى د خپل پلار قيس نه او قيس روايت کوى د عبدالرحمن د نيکه محمد بن الاشعث نه، محمد بن الاشعث د خپل پلار يعنى اشعث نه واقعه نقل کوى چه يو کرت اشعث د بيت المال د غلامانو نه څو غلامان د عبدالله بن مسعود ؓ نه واخستل په شل زره درهمه باندې. عبدالله بن مسعود ؓ د ثمن اخستلو دپاره اشعث ته سړې اوليږلو. اشعث اووې چه ما هغه غلامان په لس زره درهمه باندې اخستلي دى. او

[1]: سنن الترمذي/البيوع ٤٣ (١٢٧٠)، سنن النسائي/البيوع ٨٠ (٤٦٥٢)، سنن ابن ماجه/التجارات ١٩ (٢١٨٦)، (تحفة الأشراف: ٩٣٥٨، ٩٥٤٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤٦/١) (صحيح)

عبد الله رضي الله عنه فرمائيل چه په شل زره ئې اخستلې دی) چه کله په دې دواړو کښې اختلاف شو نو عبد الله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل چه څوک زما او خپل مينځ کښې فيصله کونکې کړئ. اشعث اووې زما او ستاسو ترمينځه خپله تاسو فيصله کونکی يئ. په دې باندې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه هغوی به فرمائيل ﴿إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا بَيِّنَةٌ فَهُوَ مَا يَقُولُ رَبُّ السِّلْعَةِ أَوْ يَتَتَارَكَانِ﴾

شرح الحديث او بيان د مذاهب الائمة :

يعنی چه کله د بائع او مشتری ترمينځه د ثمن په مقدار کښې يا مبيع کښې اختلاف وی او بينه چا سره هم نه وی نو بيا به د رب السلعة يعنی بائع قول معتبر وی (يعنی سره د قسم نه) او يا دې دواړه دا معامله پرېږدی او يا دې فسخ کړی، يعنی يا خو دې مشتری د بائع قول سره د قسم نه اومنی او په هغې دې راضی شی، که داسې اوشی خو صحيح ده او که مشتری نه رضا کېږی نو بيا دې هغه هم په خپله خبره قسم اوخوری او بيا دې قاضی د دواړو ترمينځه معامله فسخ کړی يعنی د مشتری ثمن دې مشتری ته واپس کړې شی او مبيع دې د مشتری نه اخستلو سره بائع ته ورکړې شی.

ځان پوهه کول پکار دی چه دا مشهوره اختلافی مسئله ده د احنافو او شوافعو ترمينځه، او هغه اختلاف دا دې چه پورته په حديث کښې چه کومه مسئله ذکر شوې ده هغه د امام احمد او شافعی رحمه الله ترمينځه مطلقا ده که سلعه يعنی مبيع موجود وی يا هلاکه شوې وی، او په دې دويم صورت کښې به د تراد مطلب دا وی چه مشتری دې د مبيع قيمت واپس کړی او امام محمد رحمه الله هم د هغوی سره دې او شيخين امام ابوحنيفه او امام ابويوسف او د امام مالک رحمه الله په نزد دا حکم مذکور فی الحديث هغه صورت کښې دې چه کله مبيع قائم وی او که مبيع هلاکه شوه نو بيا د دې دواړو په نزد القول قول المشتری مع يمينه، د شيخينو دليل دا دې چه د دې حديث بعض طرقو کښې تصريح ده ﴿اذا اختلف البيعان والسلعة قائمة﴾ چه د هغې طرف ته مصنف خپله هم اشاره کړې ده په ترجمة الباب کښې په دې وجه هغوی په ترجمة الباب کښې د ﴿والمبيع قائم﴾ قيد اولګولو. لهذا په ترجمه الباب کښې د احناف تائيد اوشو.

تفصيل المسئلة :

دا چه تر اوسه پورې ذکر کړې شوه چه د حديث الباب په شرح کښې او د هغې نه پس د فقهاء اختلاف دا هر څه په هغه صورت کښې وو چه په بائع او مشتری کښې د چا سره بينه نه وی، او که د يو سره...... بينه وی په خپله دعوی باندې نو د صاحب بينه په حق کښې دې فيصله اوکړې شی...... او که هر يو بينه قائم کړه نو هغه وخت مسئله دا ده چه کوم بينه مثبة وی زيادت لره نو هغه به اولی وی، د دې حديث د لاندې په موطاء د امام محمد رحمه الله کښې دی ﴿قال محمد وبهذا ناخذ، اذا اختلفا فی الثمن تحالفا وترادا البيع وهو قول ابی حنيفة والعامة من فقهائنا اذا كان المبيع قائما بعينه، فان كان المشتری قد استهلكه فالقول ما قال المشتری فی الثمن فی قول ابی حنيفة (وابی يوسف) واما فی قولنا فيتحالفان ويترادان القيمة اهـ﴾ په دې کښې امام محمد رحمه الله تصريح کړې ده چه د هغوی رائې په دې کښې د امام صاحب رحمه الله سره

نه ده بلکه په دې کښې هغوی د امام شافعي رحمه الله ملګری دی لکه چه مونږ مخکښې په بیان المذاهب کښې ذکر کړل، والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

[۳۵۱۲](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي لَيْلَى، أَنَّ الْقَاسِمَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ بَاعَ مِنَ الْأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ رَقِيقًا، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ وَالْكَلَامُ يَزِيدُ وَيَنْقُصُ.

عبدالرحمن دخپل پلار نه همدا واقعه نقل کړیده چه عبدالله بن مسعود نه به اشعث باندې یو غلام خرڅ کړې وو اوددی روایت په الفاظو کښې څه قدرې کمی زیاتې دې.

بَابٌ فِي الشُّفْعَةِ

د شفعې د احکامو بیان

د شفعې د لغوی او اصطلاحی معنی تحقیق او تنقیح:

د شفعه لغوی معنی ده ضم (٢)《 قال القسطلاني وهي في اللغة الضم على الاشهر من شفعت الشئ ضممته فهي ضم نصيب الى نصيب، وفي الشرع حق تملك قهري يثبت للشريک القديم على الحادث فيما ملک بعوض 》 او په فتح الباري کښې دی 《 وفي الشرع انتقال حصة شريک الى شريک كانت انتقلت الى اجنبي بمثل العوض المسمى ولم يختلف العلماء بمشروعيتها الا ما نقل انتقال حصة شريک الى شريک كانت انتقلت الى اجنبي بمثل العوض المسمى ولم يختلف العلماء بمشروعيتها الا ما نقل عن ابي بكر الاصم من انكارها اهـ 》 په دې تعریفونو کښې د جمهورو د مسلک رعایت کړې شوې دې چه د هغوی په نزد د شفعې ثبوت صرف دشریک دپاره وی په خلاف د احناف چه د هغوی په نزد د شفعې انحصار په شریک کښې نه دې بلکه د هغوی په نزد شفعه د ګاونډ د وجې نه هم کیږی لکه چه وړاندې په تفصیل سره را روان دی حافظ چه کوم تعریف کړې دې د دې مطلب دا دې چه د احد الشریکین حصه چه د بیع د وجې نه غیر معروف سړی ته منتقل شوې ده (یعنی مشتری) د هغې منتقل کیدل د هغه غیر معروف سړی نه د شریک آخر طرف ته د عوض مسمی په بدله کښ، د دې نه مراد هغه ثمن دې کوم چه مشتری ادا کړې دې بائع ته، دا د احد الشریکین دحصې انتقال شریک آخر ته چه هغې ته شفعه وئیلې شی د هغې حصول چونکه د شریک آخر دپاره غیر اختیاری دې یعنی شرعی طور هغوی ته دا حق ملاویږی، دا بیله خبره ده چه هغه دا خپل حق اخلی یا نه اخلی هم په دې وجه قسطلانی چه د شفعې په تعریف کښې 《 حق تملک قهری ای غیر اختیاری 》 وئیلی دی د دې مثال داسې دې لکه وراثت چه یو وارث ته د بل وارث د مال استحقاق غیر اختیاری طور سره کیږی. هم دغه شان شفعه هم ده چه شریعت احد الشریکین او د ګاونډی دپاره د شریک آخر او دګاونډی په حصه کښې حصه ورکړې ده که هغه شریک غواړی نو د شریک آخر هغه حصه کومه چه بل سړی یعنی مشتری ته تلې ده، د هغه نه اخستلې شی په

(١): سنن ابن ماجه/التجارات ١٩ (٢١٨٦)، (تحفة الأشراف: ٩٣٥٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٦٧١) (صحيح)

(٢) د یو کور یا ځائې د بیع په وخت د شرکت یا ګاونډ د وجې نه یو د دواړو شریکانو دپاره یا د ګاونډی دپاره د تملیک حق حاصلیدل په ثمن د مشتری سره)

څو کښې چه هغه څيز مشتری ته پریوتلې دې. په دې وجه زمونږ فقهاء د شفعې تریف داسې کړې دې ﴿تملک البقعة بما قام علی المشتری بسبب الشراکة او الجوار ﴾ په هره معنی اصطلاحی کښې د معنی لغوی لحاظ هم ساتلې شی. پس دلته هم په شفعه شرعی کښې د لغوی معنی یعنی ضم حصة الی حصة معنی موندلې شی یعنی یو شریک د بل شریک حصې لره د خپلې حصې سره یو ځائې کوی (وهذا غاية توضيح لهذا المقام)

اسباب الشفعة عند الائمة :

د دې نه پس دا هم پیژندل پکار دی چه په اسباب الشفعه کښې د ائمه کرام اختلاف دې، زمونږ په نزد د شفعې اسباب دوه دی شراکت او جوار، او بیا د شرکت دوه قسمونه دی شرکت فی نفس المبیع، او شرکت فی طریق المبیع د طریق هیڅ تخصیص نشته، بلکه مقصود شرکت فی حق من حقوق المبیع دې کالطریق والشرب ونحوهما، او د جمهورو او ائمه ثلاثه په نزد سببیت منحصر دې په شرکت فی نفس المبیع کښې، لهذا اسباب شفعه زمونږ په نزد درې دی او د جمهورو په نزد صرف یو، یعنی شرکت فی نفس المبیع، د باقی دوو هغوی قائل نه دی.

[۳۵۱۳]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الشُّفْعَةُ فِي كُلِّ شِرْكٍ رَبْعَةٍ أَوْ حَائِطٍ لَا يَصْلُحُ أَنْ يَبِيعَ حَتَّى يُؤْذِنَ شَرِيكَهُ، فَإِنْ بَاعَ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ حَتَّى يُؤْذِنَهُ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم له فرمائیلی دی شفعه په هریو مشترك څيزکښې وي، کور وي اوکه باغ وي ترڅوچه دشریك أجازت نه وي ددې خرڅول درست نسه دي اوکه چرې بغیر داجازت نه خرڅ کړې شي نوددې دوصول کول زیات حقدار هم هغه شریك ئي ترڅوچه هغه منظورکړي نه وي.

﴿ عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « الشُّفْعَةُ فِى كُلِّ شِرْكٍ رَبْعَةٍ أَوْ حَائِطٍ لاَ يَصْلُحُ أَنْ يَبِيعَ حَتَّى يُؤْذِنَ شَرِيكَهُ فَإِنْ بَاعَ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ حَتَّى يُؤْذِنَهُ ﴾

رسول الله ﷺ فرمائی چه هر هغه مشترک څیز یعنی کور یا باغ کښې شفعه ثابت ده، په شریکینو کښې د یو دپاره هم جائز نه دی چه هغه خپله حصه بل چا باندې خرڅه کړی تر دې چه خپل شریک خبر نه کړی پس که هغه خپله حصه قبل الایذان خرڅه کړه نو د هغه بل شریک به د هغه د حصې زیات حقدار وی په نسبت د مشتری.

په دې حدیث کښې دوه مسئلې دی یو هم هغه پورته تیره شوې اختلافی مسئله چه حق شفعه صرف د شریک دپاره وی په مشترک څیز کښې یا د غیر شریک یعنی ګاونډی دپاره هم وی، دویمه مسئله چه شفعه په کومو کومو څیزونو کښې وی، صرف په کور یا زمکه کښې او که د دې نه علاوه په نورو څیزونو کښې هم.

[1]: صحيح مسلم/المساقاة ٢٨ (١٦٠٨)، سنن النسائي/البيوع ٧٨ (٤٦٥٠)، (تحفة الأشراف: ٢٨٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٢/٢، ٣١٦، ٣٥٧، ٣٩٧)، سنن الدارمي/البيوع ٨٣ (٢٦٧٠) (صحيح)

شفعه په کومو کومو څیزونو کښې وی :

دا دویمه مسئله هم اختلافی ده، خطابی فرمائی چه حدیث الباب دلیل دې په دې باندې چه شفعه صرف په کور او زمکه کښې واجب ده د دې نه علاوه په نورو څیزونو سامان او حیوان وغیره کښې نه وی. په ترمذی کښې د ابن عباس رضی الله عنهما یو حدیث مرفوع روایت کړې شوې دې : ﴿ الشریک شفیع والشفعة فی کل شئ ﴾ دا روایت په ترمذی کښې مرسلا او مسندا دواړو طریقو سره روایت دې، خو امام ترمذی روایت مرسله ته اصح وئیلې دې، او بیا د دې نه پس فرمائی: ﴿ وقال أكثر أهل العلم إنما تكون الشفعة في الدور والأرضين ولم يروا الشفعة في كل شيء وقال بعض أهل العلم الشفعة في كل شيء والأول أصح ﴾ په تحفة الاحوذی کښې ئې په ﴿ الشفعة فی کل شئ ﴾ باندې لیکلی دی ﴿ وبه قال مالک فی روایة وهو قول عطاء ﴾ او د امام احمد رحمه الله نه ئې نقل کړی دی چه د هغوی په نزد شفعه په منقولاتو کښې صرف په حیواناتو کښې ده، په باقی منقولاتو کښې نه، لکه چه په فتح الباری کښې دی (تحفه) والحدیث اخرجه مسلم والنسائی قاله المنذری.

[٣٥١٤]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "إِنَّمَا جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشُّفْعَةَ فِي كُلِّ مَا لَمْ يُقْسَمْ، فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُودُ، وَصُرِّفَتِ الطُّرُقُ فَلَا شُفْعَةَ".

جابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یقینا نبی کریم ﷺ شفعه په هرهغه څیز کښې مقرر کړی ده کوم چه تقسیم شوې نه وی کله چه حدود مقرر کړې شی اولاری جدا کړې شی نو دشفعې حق باقی پاتې نه شو ځکه چه شراکت ختم شو.

﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ إِنَّمَا جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الشُّفْعَةَ فِي كُلِّ مَالٍ لَمْ يُقْسَمْ فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُودُ وَصُرِفَتِ الطُّرُقُ فَلاَ شُفْعَةَ ﴾

یعنی شفعه په هر هغه مال مشترک کښې ده کوم چه تر اوسه پورې تقسیم کړې شوې نه وی او بیا چه د هر شریک د حصې حدود متعین کړې شی یعنی د هغه شرکت لره ختمولو سره د هر شریک حصه ممیز او جدا کړې شی او لارې ئې هم جدا جدا کړې شی نو بیا شفعه نه پاتې کیږی.

حدیث کوم چه د جمهورو دلیل دې د احنافو د طرف نه د هغې توجیه

جمهور علماء کرام او ائمه ثلاثه په خپل مسلک باندې د هم دې حدیث نه استدلال کړې دې، زمونږ علماء کرامو د دې جواب دا ورکړې دې چه د حق شفعه مختلف اسباب دی چه په هغې کښې یو شرکت دې. چه هر کله دا خبره ده نو بیا د دې حدیث مطلب به دا اخستلې شی چه د مکان مشترک یا ارض مشترک د تقسیم نه پس چه کوم حق شفعه د شرکت د وجې نه حاصل وو، د تقسیم نه پس اوس هغه پاتې نه شو. اوس که د یو حدیث نه د شرکت نه

[1]): صحيح البخاري/البيوع ٩٦ (٢٢١٣)، ٩٧ (٢٢١٤)، الشفعة ١ (٢٢٥٧)، الشركة ٨ (٢٤٩٥)، الحيل ١٤ (٦٩٧٦)، سنن الترمذي/الأحكام ٣٣ (١٣٧٠)، سنن ابن ماجه/الشفعة ٣ (٢٤٩٧)، (تحفة الأشراف: ٣١٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٧٢، ٣٩٩) (صحيح)

علاوه د يو بل څيز سبب شفعه کيدل ثابتيږي نو بيا دا حديث د هغې منافي نه دې. او مونږ وايو د نورو احاديثو نه شرکت في الطريق او دغه شان د جوار سبب شفعه کيدل ثابت دي لهذا د هغې په دې حديث کښې نفي نشته. (بذل)

والحديث اخرجه البخاري والترمذي وابن ماجه، قاله المنذري

[۳۵۱۵](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الرَّبِيعِ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، أَوْعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، أَوْعَنْهُمَا جَمِيعًا عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا قُسِّمَتِ الْأَرْضُ وَحُدَّتْ فَلَا شُفْعَةَ فِيهَا".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرماني چه ننبي عليه السلام فرمائيلي دي کله چه زمکه تقسيم کړې شي اوحدونه مقرر کړې شي نوپه دې کښې دشفعې حق باقي پاتې نه شو.

[۳۵۱۶](2) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مَيْسَرَةَ، سَمِعَ عَمْرَو بْنَ الشَّرِيدِ، سَمِعَ أَبَا رَافِعٍ، سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "الْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ".

دابو رافع رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دنبي عليه السلام نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې ګاونډي دخپل نزدې کور زيات حقدار دې.

وړاندې د هم دې مضمون حديث د ابوهريره رضي الله عنه نه هم راروان دې ﴿ إِذَا قُسِّمَتِ الْأَرْضُ وَحُدَّتْ فَلَا شُفْعَةَ فِيهَا ﴾ اخرجه النسائي، وابن ماجه مسندا ومرسلا، قاله المنذري

﴿ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مَيْسَرَةَ سَمِعَ عَمْرَو بْنَ الشَّرِيدِ سَمِعَ أَبَا رَافِعٍ سَمِعَ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « الْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ » ﴾

سقب په معنى د قرب، يعنى د انسان ګاونډى د خپل ګاونډ د وجې نه زيات مستحق دې، يعنى په نسبت د هغه لرې مشترى، چا چه يو کور اخستلې دې.

دليل الاحناف او په دې باندې اشکال او جواب:

دا حديث په شفعه لاجل الجوار کښې د احنافو دليل دې. خطابي په دې باندې څو تعقب کړې دى اول دا چه دا حديث خو په خپل مضمون کښې مبهم دې، محتاج دې کشف او بيان ته په دې کښې د شفعې هيڅ ذکر نشته لهذا په دې کښې دواړه احتماله شته کيدې شي چه د دې نه مراد شفعه وى، او کيدې شي چه د دې نه مراد دا وى چه ﴿ انه احق بالبر والمعونة ﴾ يعنى د انسان ګاونډى د ګاونډ د وجې نه د دې مستحق دې چه د هغه سره نيکى او همدردى اوکړې شي. او يو نقد ئې دا کړې دې چه د لفظ جار اطلاق په شريک باندې هم کيږى لکه چه په زوجه باندې هم د جاره اطلاق کيږى. دريم نقد ئې دا کړې دې چه د دې حديث په سند کښې اضطراب دې او هغه احاديث په کومو کښې چه دا دى چه شفعه صرف د شريک دپاره وى ﴿ اسانيدها خيار ليس في شئ منها اضطراب ﴾

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٢١٣، ١٣٢٠١)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الأحكام ٣ (٢٤٩٧) (صحيح)

(2): صحيح البخاري/الشفعة ٢ (٢٢٥٨)، الحيل ١٤ (٦٩٧٧)، ١٥ (٦٩٧٨)، سنن النسائي/البيوع ١٠٧ (٤٧٠٦)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٨٧ (٢٤٩٨)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٢٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٨٩، ٣٩٠، ٦/١٠) (صحيح)

د خطابی د اول نقد جواب دا دې چه ﴿ الجار احق بسبقه ﴾ په دې حديث کښې وئيلې کيدې شی چه د شفعې ذکر نشته خو د دې نه روستو روايت کښې د شفعې تصريح ده. ﴿جار الدار احق بدار الجار ﴾ د دويم نقد جواب دا دې چه په بعضو رواياتو کښې تصريح ده د دې خبرې چه د جار نه مراد جار دې شريک نه دې لکه چه امام طحاوی په خپل سند سره بيان کړې دې ﴿ثم قد روی عن رسول الله صلی الله عليه وسلم من اسبابه الشفعة بالجوار، وتفسير ذلک الجوار ما قد حدثنا..... عن عمر بن الشريد عن ابيه قال قلت يا رسول الله ﷺ ارض ليس لاحد فيها قسم ولا شرک الا الجوار بيعت قال الجار احق بسقبه ﴾

امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه په دې حديث کښې تصريح ده د دې خبرې چه د کومې زمکې په باره کښې سائل د رسول الله ﷺ نه تپوس کړې وو په هغې کښې د چا هيڅ قسم شرکت فی المبيع يا شرکت فی الطريق هيڅ نه وو سوا د جوار نه او د هغې باوجود رسول الله ﷺ د شفعې حق ثابت اوفرمائيلو.

او د دريم نقد جواب دا دې چه اضطراب صرف د بعضو احاديثو په بعضو طرقو کښې دې، او بعض په دې کښې داسې هم دی کوم چه د هر قسم اضطراب او اختلاف نه محفوظ دی لکه چه حديث د حسن ﴿عن سمرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم جار الدار أحق بالدار قال وفي الباب عن الشريد و أبي رافع و أنس قال أبو عيسى حديث سمرة حديث حسن صحيح ﴾ او بيا بعض راويانوچه په دې کښې کوم اختلاف کړې دې هغې لره د بيان فرمائيلو نه پس امام ترمذی فرمائی ﴿ والصحيح عند أهل العلم حديث الحسن عن سمرة.... الى آخر ما ذكر الترمذی من اختلاف الروايات وترجيح بعضها على بعض وفی آخره سمعت محمدا يقول كلا الحديثين عندي صحيح اهـ ﴾ والحديث اخرجه البخاری والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

[۳۵۱۷](¹) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "جَارُ الدَّارِ أَحَقُّ بِدَارِ الْجَارِ أَوِ الْأَرْضِ".

د سمره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی يو ګاونډي دبل ګاونډي دکور يا د زمکې داخستلو زيات حقداردې.

[۳۵۱۸](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْجَارُ أَحَقُّ بِشُفْعَةِ جَارِهِ يُنْتَظَرُ بِهَا، وَإِنْ كَانَ غَائِبًا إِذَا كَانَ طَرِيقُهُمَا وَاحِدًا".

د جابر بن عبدالله نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی دخپل ګاونډي دشفعې ګاونډي زيات حقداردې اورکچرې دبيع په وخت کښې ګاونډي موجود نه وي نوپه شفعه کښې به ورته انتظارکولې شي کله چه ددوی دوارو دکورلاره يوه وي.

¹): سنن الترمذي/الأحكام ۳۱ (۱۳۶۸)، (تحفة الأشراف: ۴۵۸۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۲/۵، ۱۳، ۱۸) (صحيح)
²): سنن الترمذي/الأحكام ۳۲ (۱۳۶۹)، سنن ابن ماجه/الشفعة ۲ (۲۴۹۴)، (تحفة الأشراف: ۲۴۳۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۰۳/۳)، سنن الدارمي/البيوع ۸۳ (۲۶۶۹) (صحيح)

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُفْلِسُ فَيَجِدُ الرَّجُلُ مَتَاعَهُ بِعَيْنِهِ عِنْدَهُ

څوک چه د چا نه څه شي واخلي او بيا مفلس شي او قرضداري خپل مال اووينې نو څه به کوي؟

دې ترجمة الباب او حديث الباب باندې د پوهيدو نه مخکښې اصل مسئله او د علماء کرامو اختلاف واورئ...!

د مسئله مترجم بها تشريح او په هغې کښې اختلاف علماء :

که يو سړې مديون مفلس وی(1) د ډيرو قرضدارې وی نو هغه سره چه کوم مال وی يا د چرته نه راشي نو هغه به ټول ارباب حقوق ته په اعتبار د سرونو ورکولې شی يو ته هم په بل باندې ترجيح نه شی ورکولې خو که د چا بعينه مال د دې مديون سره وی نو په دې صورت کښې به ترجيح وی چه هغه مخصوص څيز به صرف د هغه څيز مالک ته ورکولې شي. اوس د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه د دې مخصوص څيز نه څه مراد دې. مال وديعت، او مال غصب او عاريه خو بالاتفاق دی. په دې مال مخصوص کښې مال مبيع هم داخل دې يا نه؟ ځکه چه د ملک په بدلون سره حکما بدلون د عين راځی شرعا لکه چه په حديث د بريره ﷺ کښې دی ﴿ ولک صدقة ولنا هدية ﴾ نه ثابته ده، لهذا مبيع باندې ﴿ فوجد الرجل ماله بعينه ﴾ صادق نه راځی. هم په دې وجه احناف وائی چه په مسئله مذکوره کښې به بائع احق بالمبيع نه وی بلکه اسوة للغرماء به وی او د ائمه ثلاث په نزد د دې حديث په مصداق کښې مبيع داخل ده هم په دې وجه باندې هغوی وائی چه بائع به احق بالمبيع وی، بيا په دې ائمه ؤکښې په خپل مينځ کښې بعض جزئياتو کښې اختلاف دې مثلا داچه د شوافعو په نزد دلته بائع ته ترجيح په هر حال کښې وی که هغه مړ وی او که ژوندې وی، او د مالکيانو په نزد باندې به د بائع په ژوند باندې خو هغه ته ترجيح وی يعنی بائع به احق بالمبيع وی او پس د مرګ ته به نه وی، هم دغه شان که مشتری بائع ته څه ثمن ادا کړې وو نو د شوافعو په نزد په دې کښې هم عموم دې چه بائع ته به په دواړو صورتونو کښې ترجيح وی او د مالکيانو په نزد دا ده چه که بائع ته مشتری څه حصه هم د ثمن ادا کړې نه وی نو بيا خو به بائع ته ترجيح وی او که هغه د ثمن څه حصه ادا کړې وه نو بيا به ورته ترجيح نه وی.

دا دواړه اختلاف مسئلې د شوافعو او مالکيانو په باب کښې د راتلونکو احاديثو نه په فهم کښې راځی او د احنافو په نزد باندې به بائع ته په هيڅ حال کښې ترجيح نه وی.

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه د دې مسئلې په کومو رواياتو کښې چه د ﴿ فوجد الرجل ماله بعينه ﴾ سره د بيع ذکر نشته هلته خو به د احنافو په مسلک باندې هيڅ اشکال نه وی، هلته به احناف ښکاره دا وائی چه ﴿ ماله بعينه ﴾ صرف په ودائع او عواری وغيره باندې محمول دې مبيع په دې کښې داخل نه دې. خو که خپله په حديث کښې د بيع تصريح وی لکه چه په بعض روايات الباب کښې دی نو بيا به د احنافو توجيه څنګه چليږی؟ د دې جواب علامه

(1) مديون مُفْلِس يا مُفَلَّس هغه سړې دې چه د هغه په ذمه د خلقو قرضونه وی خو د ديواليه کيدو د وجې نه د قرض د بندولو (اداکولو) دپاره د هغه څه سره هيڅ نه وی، د دائنينو (قرض غوښتونکو) د مرافعه عند القاضی نه پس به قاضی پس د تحقيق نه د هغه د افلاس تصديق اوکړی.

سندهی په حاشیه د نسائی دا ورکړې دې چه ﴿ انه محمول علی الماخوذ علی سوْم الشراء او المبیع بشرط الخیار للبائع ﴾ یعنی د بیع نه مراد مساومت دې یعنی د اخستلو دپاره د بائع سره سودا کول، او چه کوم څیز د سودا په وخت مشتری واخلی سره خپل کور ته اوړی د خوښولو دپاره دا څیز مقبوض علی سوم الشراء دې څه ته چه مبیع هم وئیلې شی مجازا.... او هم دغه شان هغه مبیع چه په هغې کښې خیار شرط د بائع دپاره وی، د دې قسم مبیع هم زمونږ په نزد خالص د بائع حق وی، لکه چه تاسو په قدوری کښې لوستلې دی﴿وخیار البائع یمنع خروج المبیع عن ملکه بخلاف خیار المشتری﴾ د مسئلې د دې تفصیل د بیان نه ترجمة الباب او حدیث الباب دواړه په فهم کښې راغلل، د دې نه معلومه شوه چه په حدیث کښې څه مسئله ده او په دې کښې څه اختلاف دې،او دا هم چه که حدیث د احنافو خلاف دې نو د هغې څهٔ توجیه ده... فلله الحمد والمنة..

[۳۵۱۹](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ الْمَعْنَى، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَيُّمَا رَجُلٍ أَفْلَسَ فَأَدْرَكَ الرَّجُلُ مَتَاعَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاچه دیومفلس سره خپل مال دخپل جنس په صورت کښې بیاموندو نودنورو قرضدارانو په نسبت دې دخپل مال داخستلو زیات حقداردې۔

قوله:﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «أَيُّمَا رَجُلٍ أَفْلَسَ فَأَدْرَكَ الرَّجُلُ مَتَاعَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ»﴾اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه قاله المنذری.

[۳۵۲۰](2) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَيُّمَا رَجُلٍ بَاعَ مَتَاعًا فَأَفْلَسَ الَّذِي ابْتَاعَهُ وَلَمْ يَقْبِضِ الَّذِي بَاعَهُ مِنْ ثَمَنِهِ شَيْئًا فَوَجَدَ مَتَاعَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ، وَإِنْ مَاتَ الْمُشْتَرِي فَصَاحِبُ الْمَتَاعِ أُسْوَةُ الْغُرَمَاءِ".

دحارث بن هشام نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاچه خپل مال خرڅ کړو اوبیاخریدار مفلس شو اوخرڅونکي ته دخپل مال دنیست نه څه شي نه وي ملاوشوي او ده خپل مال بجنسه دخریدار سره بیاموندو نو ددې مال مالك ددې داخستلو زیات حقداردې اوکه چرې خریدار مړشوې وي نو دمال مالك دنورو قرضدارانو سره یو برابردې،

قوله:﴿ عَنْ عُمَرَ بْنِ خَلْدَةَ قَالَ أَتَيْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ .....فَقَالَ لأَقْضِيَنَّ فِيكُمْ بِقَضَاءِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ أَفْلَسَ أَوْ مَاتَ فَوَجَدَ رَجُلٌ مَتَاعَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ » ﴾

د بائع په احق بالمبیع کیدو کښې د شوافعو او مالکیانو ترمینځه دوه جزئی اختلافی مسئلې مونږ پورته بیان کړی دی په دې دواړو مسئلو کښې دا حدیث د مالکیانو دلیل دې

(1): صحيح البخاري/الاستقراض ١٤ (٢٤٠٢)، صحيح مسلم/المساقاة ٥ (١٥٥٩)، سنن الترمذي/البيوع ٢٦ (١٢٦٢)، سنن النسائي/البيوع ٩٣ (٤٦٨٠)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٢٦ (٤٣٥٨)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٦١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/البيوع ٤٢ (٨٨)، مسند احمد (٢/٢٢٨، ٢٤٧، ٤٩، ٢٥٨، ٤١٠، ٤٦٨، ٤٧٤، ٥٠٨)، دي/البيوع ٥١ (٢٦٣٢) (صحيح)

(2): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٤٨٦١) (صحيح)

او د شوافعو خلاف دي، او بيا د دوه حديثو نه پس چه کوم دريم حديث راروان دې ﴿ عَنْ عُمَرَ بْنِ خَلْدَةَ قَالَ أَتَيْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ فِي صَاحِبٍ لَنَا أَفْلَسَ فَقَالَ لأَقْضِيَنَّ فِيكُمْ بِقَضَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم« مَنْ أَفْلَسَ أَوْ مَاتَ فَوَجَدَ رَجُلٌ مَتَاعَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ » ﴾ دا حديث د مالکيانو خلاف او د امام شافعي موافق دي. حديث عمربن خلدة اخرجه ابن ماجة، قاله المنذري.

[۳۵۲۱]([1]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ مَالِكٍ، زَادَ وَإِنْ قَضَى مِنْ ثَمَنِهَا شَيْئًا فَهُوَ أُسْوَةُ الْغُرَمَاءِ فِيهَا.

دابوهريره رضی الله عنه نه دتير شوي روايت په شان روايت منقول دې مګرپه دې روايت کښې داسې دي که چرې اخستونکي خرخونکي ته دقيمت څه حصه ورکړې وي نوبيا اخستونکی په مطالبه کولوکښې دنورو قرضدارانوپه شان دې اوڅوك چه مړ شوې وي اودهغه سره بعينه دکوم کس مال پيداشي برابره خبره ده چه خريدار اخستونکي ته دقيمت څه حصه ورکړې وي اوکه نه وي بهرحال دې به هم دنورو قرضدارانوپه شان وي.

[۳۵۲۲]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْجَبَّارِ يَعْنِي الْخَبَايِرِيَّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ عَيَّاشٍ، عَنِ الزُّبَيْدِيِّ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَهُوَ مُحَمَّدُ بْنُ الْوَلِيدِ أَبُو الْهُذَيْلِ الْحِمْصِيُّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، قَالَ: فَإِنْ كَانَ قَضَاهُ مِنْ ثَمَنِهَا شَيْئًا فَمَا بَقِيَ فَهُوَ أُسْوَةُ الْغُرَمَاءِ، وَأَيُّمَا امْرِئٍ هَلَكَ وَعِنْدَهُ مَتَاعُ امْرِئٍ بِعَيْنِهِ اقْتَضَى مِنْهُ شَيْئًا، أَوْ لَمْ يَقْتَضِ فَهُوَ أُسْوَةُ الْغُرَمَاءِ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: حَدِيثُ مَالِكٍ، أَصَحُّ.

دابوبکر بن عبدالرحمن بن حارث بن هشام نه دمالك دحديث په شان روايت نقل شوې دې البته په دې روايت کښې صرف دا اضافه ده چه : که چرې خريدار ددې مال دقيمت نه يوڅه اداکړې وي نودمال مالك به دنورو قرضداروسره مساوي وي، امام ابوداؤد فرمائي دمالك حديث زيات درست دې.

[۳۵۲۳]([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ هُوَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ أَبِي الْمُعْتَمِرِ، عَنْ عُمَرَ بْنِ خَلْدَةَ، قَالَ: أَتَيْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ، فِي صَاحِبٍ لَنَا أَفْلَسَ، فَقَالَ: "لأَقْضِيَنَّ فِيكُمْ بِقَضَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَفْلَسَ أَوْ مَاتَ فَوَجَدَ رَجُلٌ مَتَاعَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ".

عمرو بن خلده نه روايت دې فرمائي چه مونږ ديو کس دمعاملې په سلسله کښې دابوهريره به په خدمت کښې حاضر شو څوك چه مفلس شوې وو، ابوهريره اووئيل زه به په تاسو کښې دنبی عليه السلام دفيصلې په شان فيصله کوم اوهغه داده څوك چه مفلس شي يامړ شي اوبيادمال مالك خپل څيز بعينه ورسره پيداکړي نودنورو قرضدارانوپه نسبت به د دخپل مال زيات حقدار وي.

[1]: انظر حديث رقم: (۳۵۱۹)، (تحفة الأشراف: ۱٤۸٦۱) (صحيح)
[2]: انظر حديث رقم: (۳۵۱۹)، (تحفة الأشراف: ۱٤۸٦۱) (صحيح)
[3]: سنن ابن ماجه/الأحكام ۲٦ (۲۳٦۰)، انظر حديث رقم: (۳۵۱۹)، (تحفة الأشراف: ۱٤۲٦۹) (ضعيف)

باب فِيمَنْ أَحْيَا حَسِيرًا

څوک چه ناکاره څاروې په خوراک یا علاج باندې تندرست کړي

د مسئله مترجم بها تشریح او اختلاف الائمة :

حسیر اخستلي شوې دې د حسور نه په معنی د مانده شدن (ستړې کیدل) هغه څاروې چه په سفر کښې په لاره باندې ستړې کیدو سره د تلو نه عاجز کیدو سره اودریږی. دا خبره زیات تر په اوښانو کښې موندلې شی چه بعض وخت هغه ستړې کیدو سره داسې کینی چه بیا د اودریدو نوم نه اخلی. او بیا د هغه مالک مجبورا هغه لره هم په دې حال کښې پریخودلو سره وړاندې روان شی. د مصنف رحمه الله غرض د دې قسم اوښ حکم بیانول دی. پس په حدیث الباب کښې دی ﴿مَنْ وَجَدَ دَابَّةً قَدْ عَجَزَ عَنْهَا أَهْلُهَا أَنْ يَعْلِفُوهَا فَسَيَّبُوهَا فَأَخَذَهَا فَأَحْيَاهَا فَهِيَ لَهُ﴾

[۳۵۲٤](1)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى، حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحِمْيَرِيِّ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، وَقَالَ: عَنْ أَبَانَ، أَنَّ عَامِرًا الشَّعْبِيَّ حَدَّثَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ وَجَدَ دَابَّةً قَدْ عَجَزَ عَنْهَا أَهْلُهَا أَنْ يَعْلِفُوهَا، فَسَيَّبُوهَا، فَأَخَذَهَا، فَأَحْيَاهَا فَهِيَ لَهُ"، قَالَ: فِي حَدِيثِ أَبَانَ، قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ: فَقُلْتُ عَمَّنْ؟، قَالَ: عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا حَدِيثُ حَمَّادٍ، وَهُوَ أَبْيَنُ وَأَتَمُّ.

عامر شعبي نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څوک چه یو داسې څاروې بیاموې کوم چه خلقو د کمزورتیا په وجه پریخودلې وې یا ورته ګیانشې ورکولې او څوک ورته خوراک او علاج وکړي او د کار قابل شي نو دا څاروې هم دده دې. ابان وئیلی دی ما د شعبي نه تپوس اوکړو چه د نبی علیه السلام دا حدیث دې د چانه اوریدلئې دې. هغه اوئیل یو نه د ډیرونه مې اوریدلې دې. امام ابوداؤد فرمائی داد حماد روایت دې او دا روایت زیات واضح او کامل دې.

په دې حدیث کښې دا دی چه کوم سړی دا قسم ځناور کوم چه د هغه مالک په خپل ځائې باندې پریخودلې وی اونیسی او بیا د هغه احیاء اوکړی لکه چه د ارض موات احیاء کیږی یعنی په هغه باندې خوراک څکاک اوکړی او خدمت ئې اوکړی چه په هغې سره هغه دوباره کار ته تکړه شی ﴿فهي له﴾ نو دا څاروې د هغه شو، د امام احمد، اسحق او ابن راهویه رحمهم الله په دې حدیث باندې عمل دې. او مصنف رحمه الله هم چونکه غالبا حنبلی دې هم په دې وجه هغوی دا باب قائمولو سره د حنابله مذهب ثابت کړې دې. او جمهور دا وائی چه دا څاروې ظاهر دا ده چه لقطه ده او د لقطې حکم په احادیثو د لقطې کښې د دې خلاف ذکر شوې دې، او هغه احادیث د دې حدیث په نسبت زیات صحیح او مشهور دی لهذا هم په هغې باندې به عمل کولې شی. ﴿من ترک دابة بمهلک﴾ مهلک موضع د هلاکت. یعنی داسې غیر آباد ځائې چه هلته د ګیا او اوبو نه کیدو په وجه باندې د څاروی د هلاکت ویره وی.

شرح السند :

د باب د ړومبی حدیث په سند کښې داسې دی ﴿وقال عن ابان ان عامر الشعبی﴾ د قال ضمیر

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۶۰۱، ۱۸۸۶۳) (حسن)

د مصنف استاد موسى بن اسماعيل ته راجع دي او د موسى د دې حديث په سند كښې دوه استاذان دى د حاء دتحويل نه مخكښې چه كوم سند دې په هغې كښې د هغوى [۳٥۲۳] استاد حماد دې او په روستو سند كښې استاد ابان دې، نو مصنف رحمه الله دا فرمائى چه موسى چه كله دا حديث حماد ته بيان كړو نو هغه وخت كښې هغوى په سند كښې ﴿عن الشعبى﴾ اوئيلو او د هغوى سند كوم چه د ابان نه دې په هغې كښې هغوى په ځائې د شعبى ﴿ان عامر الشعبى﴾ وئيلې دي ګويا دوه فرقونه شو يو د عَنْ او أَنَّ [1]..... او دويم دا چه په رومبى روايت كښې د شعبى نوم ذكر نه دې، او په دويم كښې د شعبى نوم عامر ذكر دې.

[۳٥۲٥]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ حَمَّادٍ يَعْنِي ابْنَ زَيْدٍ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، يَرْفَعُ الْحَدِيثَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ تَرَكَ دَابَّةً بِمَهْلَكٍ فَأَحْيَاهَا رَجُلٌ، فَهِيَ لِمَنْ أَحْيَاهَا".

عبيدالله دا روايت د عامر شعبي نه مرفوع نقل كړې دې چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى څوك چه يوڅاروې دتباهۍ په حال كښې پريږدى اوبل څوك ئې بوځي او دوباره ئې تندرست كړي نودا څاروې به دده وي چاچه دده خدمت كړې وي.

بَابٌ فِي الرَّهْنِ
د ګروى (ګانړه) بيان

[۳٥۲٦]([3]) حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ زَكَرِيَّا، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَبَنُ الدَّرِّ يُحْلَبُ بِنَفَقَتِهِ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، وَالظَّهْرُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، وَعَلَى الَّذِي يَرْكَبُ وَيَحْلِبُ النَّفَقَةُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ عِنْدَنَا صَحِيحٌ.

ابوهريره رضي الله عنه دنبى عليه السلام نه روايت كوى فرمائى چه دلنګ څاروي پئ به دمالك په خرچه باندې لوشلي شي كله چه څاروي رهن كړي شوي اوهمدارنګې په رهن كړي شوي څاروي باندې دسوريدو مسئله هم ده اوڅوك چه څاروي لوشي دده په ذمه باندې ددغه څاروي خوراك هم دي اوچه څوك ورباندې سورلي كوي دده په ذمه هم ددغه څاروي خوراك دي. امام ابوداؤد فرمائى داحديث اګرچه دقياس خلاف دي ليكن دسندپه اعتبارسره زمونږپه نزد باندې زيات صحيح دي.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لَبَنُ الدَّرِّ يُحْلَبُ بِنَفَقَتِهِ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا وَالظَّهْرُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا وَعَلَى الَّذِى يَرْكَبُ وَيَحْلِبُ النَّفَقَةُ » ﴾

شرح الحديث من حيث الفقه وبيان المذاهب :

په حديث الباب كښې چه كومه مسئله ذكر شوې ده يعنى انتفاع المرتهن بالمرهون اول په دې باندې ځان پوهه كړئ، هغه دا چه د امام احمد رحمه الله مسلك دا دې چه مرهون څيز كه څه حيوان

[1]) والفرق بينهما ان الرواية بعن يكون من التلميذ عن استاذه بخلاف الرواية بان.
[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٥٦۰۱، ۱۸۸٦۳) (حسن)
[3]): صحيح البخاري/الرهن ٤ (۲٥۱۱)، سنن الترمذي/البيوع ۳۱ (۱۲٥٤)، سنن ابن ماجه/الرهون ۲ (۲٤٤۰)، (تحفة الأشراف: ۱۳٥٤۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۲۸، ٤۷۲) (صحيح)

دي د سورلئ لائق يا د پيو قابل نو د مرتهن دپاره د هغې نه منتفع کيدل جائز دی. يعنی دهغې پئ دې هغه خپله اولشی او که دسورلئ څناوروی نو په هغې باندې دې سوريږی، او په دې صورت کښې به ګيا دانه او خرچه د مرتهن په ذمه وی. هم هغه به پرې خوراک کوی او هم هغه به ترې نه فائده اخلی ګينې مالک خو به ترې نه هسې هم د مالک کيدوپه حيثيت منتفع وی. او هم د هغه په ذمه به د دې نفقه وی. د ائمه ثلاثه په نزد د مرتهن د شئ مرهون نه منتفع کيدل جائز نه دی، د حنابله استدلال د حديث الباب نه دې او مصنف چونکه حنبلی دې نو په ظاهر کښې د هغوی مقصد هم دا دې. حنابله په نفقته کښې باء ته سببيه وئيلې ده يعنی مرتهن د نفقې په سبب د هغې پئ لوشلې شی او په هغې باندې سوريدې شی،

(د جمهورو د طرفه جوابونه)

د جمهورو د طرف نه په دې حديث کښې دوه جوابونه دی :

(رومبی جواب): يو دا چه دا حديث منسوخ دې، دويم دا چه دا د هغه وخت خبره ده چه د ربا حرمت نازل شوې نه وو، بيا چه کله د ربا حرمت نازل شو نو دا حديث هم منسوخ شو، د مرتهن د مرهون څيز نه فائده اخستل ګويا د خپل قرض نه فائده اخستل دی. ﴿ کل قرض جر نفعا فهو ربا ﴾ قاعده کليه ده،

(دويم جواب): دويم جواب دا ورکړې شوې دې چه ﴿ بنفقته ﴾ کښې با سببيه نه ده بلکه باء دپاره د الصاق ده او د يحلب چونکه فاعل ذکر نه دې چه څوک دې په دې وجه د هغې فاعل به اصل مالک منلې شی. او باء به د الصاق دپاره وی او د الدر نه مراد چونکه په حديث کښې ذات الدر دې نو د پوره حديث مطلب به دا شی چه د ذات الدر پئ به لوشلې شی د هغه د خرچ سره، يعنی چه کله د ذات الدر مالک، د مالک کيدو په حيثيت سره د هغې پئ لوشی نو د هغې سره به د هغې نفقه هم دهغه په ذمه باندې وی په دې صورت کښې به دا حديث د جمهورو خلاف نه وی.

قوله: ﴿ قال ابوداؤد : هو عندنا صحيح ﴾ مصنفؒ په ظاهر کښې دا فرمائی چه د دې حديث کومه معنی چه متبادر ده چه که مرتهن که د ذات الدر پئ لوشی نو د هغه نفقه هم د هغه په ذمه ده دا حکم زمونږ په نزد صحيح او ثابت دې. [1] يعنی اګر که د قياس خلاف دې خو چونکه حديث ثابت دې په دې وجه چه کوم حکم ددې نه مستفاد کيږی هغه هم صحيح او قابل عمل دې، منسوخ او فاسد نه دې.

والحديث اخرجه البخاري، والترمذي وابن ماجه، قاله المنذري

[٣٥٢٧][2] حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ لَأُنَاسًا مَا هُمْ بِأَنْبِيَاءَ، وَلَا شُهَدَاءَ يَغْبِطُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ، وَالشُّهَدَاءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِمَكَانِهِمْ مِنَ اللَّهِ تَعَالَى، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تُخْبِرُنَا

[1]) د امام ترمذیؒ په قول ﴿ هذا حديث حسن صحيح ﴾ باندې چه کوم مشهور اشکال او جواب دې په هغې کښې حافظ ابن حجرؒ دا فرمائی ﴿ صحيح اي من حيث الحكم وحسن من حيث السند ﴾

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٦٦١) (صحيح)

مَنْ هُمْ؟، قَالَ: هُمْ قَوْمٌ تَحَابُّوا بِرُوحِ اللّٰهِ عَلَى غَيْرِ أَرْحَامٍ بَيْنَهُمْ، وَلَا أَمْوَالٍ يَتَعَاطَوْنَهَا، فَوَاللّٰهِ إِنَّ وُجُوهَهُمْ لَنُورٌ، وَإِنَّهُمْ عَلَى نُورٍ، لَا يَخَافُونَ إِذَا خَافَ النَّاسُ وَلَا يَحْزَنُونَ إِذَا حَزِنَ النَّاسُ، وَقَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ: أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ سورة يونس آية ۶۲".

دعمربن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: يقيناً الله تعالى په بندګانو کښې داسې خلق شته کوم چه انبياء نه دی اونه شهداء دي ليکن انبياء اوشهداء به ورباندې غبطه کوي په وجه دمرتې ددوی دالله تعالى سره په ورځ د قيامت باندې، خلق وعرض وکړ واي دالله رسوله ايا مونږ به خبرنکړې چه دوی څوك دي؟نبي عليه السلام اوفرمائيل په غير درشته دارئ نه دالله درضاد پاره په خپل مينځ کښې ديوبل سره محبت کوي او په غيرددينه چه خپل مالونه ئې يوبل ته ورکړي وي، په الله قسم ددوی مخونه به دنورنه وي اودوی به په نور باندې وي اودوی به ويرېږي نه کله چه خلق ويرېږي اونه به دوی غمژن کيږي کله چه خلق غمژن وي او بيا ئې دا ايت کريمه ولوستو: «ألا إن أولياء الله لا خوف عليهم ولا هم يحزنون».

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَأْكُلُ مِنْ مَالِ وَلَدِهِ

دخپل اولاد دا مدن داستعمالولو بيان

[۳۵۲۸](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَمَّتِهِ، أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، فِي حِجْرِي يَتِيمٌ أَفَآكُلُ مِنْ مَالِهِ؟، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ أَطْيَبِ مَا أَكَلَ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهِ وَوَلَدُهُ مِنْ كَسْبِهِ".

عائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی دانسان دپاره ډير پاك اوصاف خوراك هغه دي کوم چه ده پخپل محنت سره حاصل کړې وي اودبچي ګټه دپلار ګټه ده.

﴿ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ عَمَّتِهِ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ رضي الله عنها فِي حِجْرِي يَتِيمٌ أَفَآكُلُ مِنْ مَالِهِ فَقَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ –صلى الله عليه وسلم– « إِنَّ مِنْ أَطْيَبِ مَا أَكَلَ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهِ وَوَلَدُهُ مِنْ كَسْبِهِ » ﴾

شرح الحديث:

د عماره د ترور نه روايت دې هغه فرمائي چه ما د عائشې رضي الله عنها نه تپوس اوکړو چه زما په پالنه کښې يو يتيم ماشوم دې. ممکنه ده چه هغه يتيم د هغې خوئي وی يا ئې نمسي وی (بذل)نو آيا زه د هغې په مال کښې څه خوړلې شم؟ په دې باندې عائشې رضي الله عنها جواب ورکړو چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دې چه غوره روزی او خوراک د انسان هغه دې کوم چه خپله د هغه د ګټې نه وی او د سړی أولاد هم د هغه د ګټې نه دې لهذ د اولاد ګټه خپله د هغه ګټه شوه. د دې نه معلومه شوه چه د مور پلار دپاره د أولاد د ګټې نه اخستل حلال او جائز دی. يعنی اګر چه بغير د هغوی د اجازت نه وی، خو فقهاء کرامو دا د حاجت سره مقيد کړې دې يعنی د حاجت په وخت اخستلې شی. او که حاجت نه وی نو بيا بغير د اجازت نه اخستل جائز نه دی. (بذل)

۱): سنن الترمذي/الأحكام ۲۲ (۱۳۵۸)، سنن النسائي/البيوع ۱ (۴۴۵۴)، سنن ابن ماجه/التجارات ۱ (۲۱۳۷)، ۶۴ (۲۲۹۰)، (تحفة الأشراف: ۱۵۹۶۱، ۱۷۹۹۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱/۶، ۴۲، ۱۲۷، ۱۶۲، ۱۹۳، ۲۲۰)، سنن الدارمي/البيوع ۶ (۲۵۷۹) (صحيح)

[۳۵۲۹](١) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "وَلَدُ الرَّجُلِ مِنْ كَسْبِهِ مِنْ أَطْيَبِ كَسْبِهِ فَكُلُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: حَمَّادُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ زَادَ فِيهِ إِذَا احْتَجْتُمْ، وَهُوَ مُنْكَرٌ.

عائشه رضي الله عنها نه روایت دي فرمائي چه نبی علیه السلام فرمائیلي دی دانسان دپاره دهغه اولاد هم دده امدن دي بلکه دا بهتر امدن دهٔ تاسو د خپل اولاد دمال نه خورئ. امام ابوداؤد فرمائي حماد بن ابي سليمان په دي روايت كښې داذا احتجتم لفظ زياتي كړې دي ليكن دااضافه بده ګڼرلي شوي ده.

﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ حَمَّادُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ زَادَ فِيهِ « إِذَا احْتَجْتُمْ ». وَهُوَ مُنْكَرٌ. ﴾ يعنى د حماد بن ابى سليمان په روايت كښې په حديث مذكور كښې د عند الاحتياج د قيد اضافه ده، پورته مونږ ليكلي دی چه فقهاء كرام هم داسې فرمائي چه دا حكم عند الاحتياج دي، خو مصنف رحمه الله په حديث كښې د دې زيادت انكار كړې دي هغوى دا زيادت ثابت نه منى او منكر ورته وائى، د مصنف رحمه الله په دې رائې باندې حضرت په بذل كښې كلام فرمائيلې دې او دا چه دا منكر نه بلكه زيات د ثقه دي. والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری

[۳۵۳۰](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمِنْهَالِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا حَبِيبٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لِي مَالًا وَوَلَدًا وَإِنَّ وَالِدِي يَجْتَاحُ مَالِي، قَالَ: أَنْتَ وَمَالُكَ لِوَالِدِكَ، إِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ أَطْيَبِ كَسْبِكُمْ، فَكُلُوا مِنْ كَسْبِ أَوْلَادِكُمْ".

عمرو بن شعيب د خپل پلارنه اوهغه دده دنيكه نه روايت كوى فرمائي چه يو كس دنبى عليه السلام په خدمت كښې حاضر شو او عرض ئې وكړو أي دالله رسوله زماسره مال دې اوزما اولاد هم شته اوزماپلار زما مال ته محتاج دي نبی عليه السلام اوفرمائيل ستامال ستادپلار دپاره دي ځكه چه ستادپاره ستاولاد غوره امدن دي اوته دخپل اولاد دګټلي شوي مال نه خوره.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَجِدُ عَيْنَ مَالِهِ عِنْدَ رَجُلٍ

كه څوك خپل يوشي دبل چا سره اووينى نو هغه اخستلي شي

د ترجمة الباب والا مسئلې تشريح :

د دي نه مخكښې نزدې چه كوم باب تير شو ﴿ باب فى الرجل يفلس فيجد الرجل متاعه بعينه ﴾ په هغه او دې باب كښې د فرق كتلو ضرورت دي كوم چه د دې باب په حديث كښې د غور كولو نه معلوم شوې دې هغه دا چه د باب اول تعلق د غاصب يا سارق سره نه دې او نه د مديون سره دي بلكه د مشترى من الغاصب او مشترى من السارق سره دې. يعنې يو كس د بل كس مال غلا كړو او بيا هغه غل دا مال په چا باندې خرڅ كړو او بيا اصل مالک دا خپل څيز د دې مشترى سره اوليدو ، هم په دې باندې قياس كولو سره غصب، چه يو كس د بل مال غصب كړو او بيا هغه غاصب دا مال د بل سړى په لاس باندې خرڅ كړو او بيا اصل

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٧٩٩٢) (حسن صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٦٧٠، ٨٦٧٥)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/التجارات ٦٤ (٢٢٩٢)، مسند احمد (١٧٩/٢) (حسن صحيح)

مالک دا خپل څیز د مشتری من الغاصب سره اولیدو. نو د دې په باره کښې په حدیث الباب کښې دا دی.

[۳۵۳۱](1) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ مُوسَى بْنِ السَّائِبِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ وَجَدَ عَيْنَ مَالِهِ عِنْدَ رَجُلٍ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ، وَيَتَّبِعُ الْبَيِّعُ مَنْ بَاعَهُ".

دسمره بن جندب نه روایت دې فرمائي چه نبی ﷺ فرمائیلی دی کوم یوکس چه بعینه خپل مال دچاسره بیاموي نودې ددې څیز زیات حقداردې اوچاچه دا اخستلی وي نوهغه دې دخرڅونکي نه مطالبه وکړي.

﴿ مَنْ وَجَدَ عَيْنَ مَالِهِ عِنْدَ رَجُلٍ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ وَيَتَّبِعُ الْبَيِّعُ مَنْ بَاعَهُ ﴾

بیع په معنی د مشتری، یعنی دې سړی دا خپل مال چا سره اولیدو نو هغه مالک د دې زیات مستحق دې او مشتری له پکار دی چه هغه اولګی په خپل بائع پسې. یعنی په صورت مذکوره کښې دې هغه مالک خپل څیز د مشتری نه واخلی او بیا هغه مشتری له پکار دی چه د خپل ثمن مطالبه د بائع نه اوکړی. د بائع نه مراد غاصب او سارق دې چه کوم حکم په دې حدیث کښې ذکر دې، فقهاء کرام هم د دې په باره کښې دغه شان فرمائي خو په داسې طریقه چه هغه مالک د مشتری مخکښې په بینه سره ثابت کړی چه دا څیز زما دې.
والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَأْخُذُ حَقَّهُ مِنْ تَحْتِ يَدِهِ

که چرې څوک د امانت د مال نه د خپل حق په اندازه څه وصول کړی؟

[۳۵۳۲](2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ هِنْدًا أُمَّ مُعَاوِيَةَ، جَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: "إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ، رَجُلٌ شَحِيحٌ، وَإِنَّهُ لَا يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وَبَنِيَّ، فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ أَنْ آخُذَ مِنْ مَالِهِ شَيْئًا؟ قَالَ: خُذِي مَا يَكْفِيكِ وَبَنِيكِ بِالْمَعْرُوفِ".

عائشه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائي چه دمعاویه مور، ،هنده،، دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او عرض ئې ورته اوکړو چه ابوسفیان یو کجوس سړې دې ماته دومره مال نه راکوي چه زما او زمادچودپاره کافي شي که چرې زه دده دمال نه دومره آخلم نوایا په ما باندې به څه ګناه وي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل درواج مطابق دومره مال اختلې شي کوم چه ستا او ستادچودپاره پوره کیږي (یعنی ددینه زیات مه اخله).

﴿ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ هِنْدًا أُمَّ مُعَاوِيَةَ جَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَتْ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ الخ ﴾

---

(1): سنن النسائي/البيوع ۹۴ (۴۶۸۵)، (تحفة الأشراف: ۴۵۹۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۱۳، ۱۸) (ضعيف)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۲۶۱، ۱۶۹۰۴)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/البيوع ۹۵ (۲۲۱۱)، المظالم ۱۸ (۲۴۶۰)، النفقات ۵ (۵۳۵۹)، ۹ (۵۳۶۴)، ۱۴ (۵۳۷۰)، الأيمان ۳ (۶۶۴۱)، الأحكام ۱۴ (۷۱۶۱)، صحيح مسلم/الأقضية ۴ (۱۷۱۴)، سنن النسائي/آداب القضاة ۳۰ (۵۴۲۲)، سنن ابن ماجه/التجارات ۶۵ (۲۲۹۳)، مسند احمد (۶/۳۹، ۵۰، ۲۰۶)، سنن الدارمي/النكاح ۵۴ (۲۳۰۵) (صحيح)

عائشه رضي الله عنها فرمائی چه د معاويه مور هنده رضي الله عنها د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او د خپل خاوند ابوسفيان رضي الله عنه شکايت ئې اوکړو چه هغه شوم سړې دې او زما د خرچ دپاره دومره نه راکوی چه زما او زما د اولاد دپاره کافی شی نو آيا زه د هغه په مال کښې بغير د اجازت نه څه اخستلې شم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل او... په قدر د حاجت اخستلې شې. يعنی په عرف او عادت کښې چه عام طور څومره کافی کيږی د هغې مطابق اخستلې شې.

د مسئلة الظفر تشريح او مذاهب ائمه :

په دې حديث کښې چه کومه مسئله ذکر شوې ده د هغې نوم دې مسئلة الظفر يعنی د يو سړی د بل سړی په ذمه څه حق دې کوم چه هغه نه ادا کوی نو آيا په دې صورت کښې هغه صاحب حق خپل حق د هغه سړی په مال کښې بغير د اجازت نه په پټه اخستلې شی يا نه؟ د دې حديث نه خو هم دا معلوميږی چه اخستلې شی، په فقهاء کرامو کښې د امام احمد رحمه الله مسلک د دې خلاف دې د هغوی په نزد ملطقا نه شی اخستلې هغوی دې ته خيانت وائی او د هغوی استدلال د هغه حديث نه دې کوم چه هم په دې باب کښې د دې نه پس راروان دې. د باقی ائمه ثلاث په نزد صاحب حق خپل حق اخستلې شی. خو په تفصيل کښې لږ اختلاف دې ﴿ فعند الشافعي ياخذ من جنس حقه الا اذا تعذر الجنس فمطلقا ﴾ يعنی د امام شافعی رحمه الله په نزد صاحب حق خپل حق اخستلې شی خو چه کوم څيز اخلی هغه من جنس حقه کيدل پکار دی، خلاف جنس اخستل جائز نه دی. مثلا د کپړې په بدل کښې کپړه اخستلې شی دراهم او دنانير وغيره نه شی اخستلې خو دا چه جنس حقه اخستل متعذر وی نو بيا د هغوی په نزد خلاف جنس هم اخستلې شی او د احنافو په نزد په دې کښې دوه روايتونه دی، په يو روايت کښې مطلقا نه شی اخستلې، يعنی يو روايت دا دې چه مطلقا جائز نه دې لکه چه د امام احمد رحمه الله مذهب دې او دويم روايت دا دې چه صرف من جنسه حق اخستلې شی (والنقدان ای الدرهم والدنانير من جنس واحد ﴾ او د امام مالک رحمه الله نه په دې کښې درې روايتونه دی د مذاهب ثلاثه مذکوره په شان. والحديث اخرجه البخاري ومسلم وابن ماجه، قاله المنذري.

[۳۵۳۳] (1) حَدَّثَنَا خُشَيْشُ بْنُ أَصْرَمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: جَاءَتْ هِنْدٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: "يَارَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أَبَاسُفْيَانَ، رَجُلٌ مُمْسِكٌ، فَهَلْ عَلَيَّ مِنْ حَرَجٍ أَنْ أُنْفِقَ عَلَى عِيَالِهِ مِنْ مَالِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا حَرَجَ عَلَيْكِ أَنْ تُنْفِقِي بِالْمَعْرُوفِ".

عائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه هنده د نبی عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوه او عرض ئې ورته اوکړو چه ابوسفيان بخيل سړې دې اياز ماد پاره څه حرج شته چه زه د ده د مال نه واخلم او هغه په ده اود ده د اولاد په خوراک څښاک باندې خرچ کړم نبی عليه السلام اوفرمائيل که چرې ته د دستور مطابق د ده په اولاد باندې خرچ اوکړې نوستا دپاره څه ګناه نشته.

(1): صحيح مسلم/ الأقضية ٤ (١٧١٤)، سنن النسائي/ آداب القضاة ٣٠ (٥٤٢٢)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٥/٦) (صحيح)

[۳۵۳٤]( ) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، أَنَّ يَزِيدَ بْنَ زُرَيْعٍ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ يَعْنِي الطَّوِيلَ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ الْمَكِّيِّ، قَالَ: "كُنْتُ أَكْتُبُ لِفُلَانٍ نَفَقَةَ أَيْتَامٍ، كَانَ وَلِيَّهُمْ فَغَالَطُوهُ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ، فَأَدَّاهَا إِلَيْهِمْ فَأَدْرَكْتُ لَهُمْ مِنْ مَالِهِمْ مِثْلَيْهَا، قَالَ: قُلْتُ: أَقْبِضُ الْأَلْفَ الَّذِي ذَهَبُوا بِهِ مِنْكَ، قَالَ: لَا، حَدَّثَنِي أَبِي، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ، وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ".

ديوسف بن ماهك مكي نه روايت دي فرمائي چه مابه ديوكس حساب كتاب ليكلودهغه يتيمانانودمال دچاچه ده پرورش كولونوهغوي يوځل دده نه په دوكه كښې زر درهمه زيات يوړل نوپه يووخت كښې دده لاس ته دهغوي دمال نه دديې دوچند مال راغي ماورته ووئيل چه خپل زر درهمه ورنه واخله په كوموكښې چه ئي ته دوكه كړې وى هغه ووئيل هيڅ كله نه ماته زما پلارحديث بيان كړې دې كوم چه هغه دنبي عليه السلام نه اوريدلي ووچه فرمائيل في:چاچه درسره امانت ايخودلې وي هغه ته خپل امانت وسپاره او چاچه درسره خيانت كړې وى ته دهغه سره خيانت مه كوه.

﴿عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ الْمَكِّيِّ قَالَ كُنْتُ أَكْتُبُ لِفُلَانٍ نَفَقَةَ أَيْتَامٍ كَانَ وَلِيَّهُمْ فَغَالَطُوهُ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ فَأَدَّاهَا إِلَيْهِمْ فَأَدْرَكْتُ لَهُمْ مِنْ مَالِهِمْ مِثْلَيْهَا الخ﴾

يوسف بن ماهک وائی چه فلانې سړې كوم چه د بعض يتيم ماشومانو متولي وو د هغوى د خرچ حساب به ئې كولو يو كرت داسې اوشوه چه دې يتيمو ماشومانو (يعنى چه كله هغوى هوښيار شو) خپل متولى ته زر درهمو سره په مغالطه كښې واچولو، متولي د هغوى د خبرو اعتبار كولو سره زر دراهم ادا كړل نو هغه يوسف كوم چه د هغوى محاسب وو هغوى وائى چه څو ورځې پس په حساب كتاب كښې زه يو داسې ځائې ته اورسيدم چه په هغې كښې زما دپاره دا خبره ډيره آسانه وه چه هغه زر درهم د هغوى د هغه يتيمانو په مال كښې واخلم، پس ما د هغه په باره كښې د هغه سړى يعنى متولي نه معلومه كړه چه كه ستاسو اجازت وى نو زه به ستاسو زر درهمه د حساب نه اوباسم نو هغوى زه منع كړم او د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حديث ئې راته واورلو كوم چه هغه ته د هغه د پلار په واسطه رارسيدلې وو. ﴿أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ﴾ چه كوم سړى ته خپل امين جوړ كړې ئې د هغه امانت هغه ته پوره پوره حواله كړه. او كوم سړې چه تاسره خيانت كوى ته د هغه سره خيانت مه كوه په دې مسئلة الظفر كښې د امام احمد رحمه الله هم دا حديث دليل دې، خو جمهور دا وائى چه په دې حديث كښې خو د خيانت نه منع كړې شوې ده او د چا نه خپل حق وصول كول چه هغه هر څنگه وى بغير د چا د اجازت نه دې ولې نه وى دا خيانت چرته دې. يوسف بن ماهک كوم چه د حديث راوى دې هغه چه د كوم صاحب كاتب وو يعنى متولي ايتام د هغه نوم خو دلته په روايت كښې ذكر نه دې، هغوى دا حديث د خپل پلار په حوالې سره نقل كړې دې لهذا د هغوى پلار هم مجهول شو په دې وجه په دې پورته متن والا راوى كوم صحابى دې دا معلومه نه شوه. د دې نه پس مصنف رحمه الله هم دا متن په روايت د ابوهريره رضي الله عنه مرفوعا ذكر كړې دې.

( ): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۰۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/٤١٤) (صحيح)

[۳۵۳۵]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَأَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَا: حَدَّثَنَا طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ، عَنْ شَرِيكٍ، قَالَ ابْنُ الْعَلَاءِ، وَقَيْسٌ، عَنْ أَبِي حُصَيْنٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ، وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي كريم ﷺ فرمائيلي دي: چاچه درسره امانت ايخودلي وي هغه ته خپل امانت وسپاره او چاچه درسره خيانت كړې وى ته دهغه سره خيانت مه كوه.

قال المنذري وحديث ابي هريرة اخرجه الترمذي وقال حسن غريب اهـ (عون المعبود)

باب في قبول الهدايا

د تحفو د قبلولو بيان

د دې نه مخكښې په كتاب الخراج كښې د هدايا العمال په عنوان سره باب تير شوې دې چه په هغې كښې مصنف د ابن اللتبيه حديث ذكر كړې دې، او دا باب چه كوم دې مطلق د هديه سره متعلق دې، د عمالو سره د دې تعلق نشته خو د هدايا العمال په عنوان سره يو مستقل باب په كتاب القضاء كښې هم راروان دې يعنى د كتاب القضاء په مناسبت سره، او د دې نه مخكښې چه كوم تير شوې دې هغه د كتاب الخراج په مناسبت سره وو او چونكه د مال مسئله ډيره زيات احتياط طلب ده په دې وجه د هغې د اهميت د وجې نه منصف رحمه الله دوه ځايه د دې باب قائم كړې دې.

[۳۵۳۶]() حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ بَحْرٍ، وَعَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ مُطَرِّفٍ الرُّؤَاسِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عِيسَى وَهُوَ ابْنُ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ السَّبِيعِيُّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا".

عائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ به تحفې قبلولې او دهغې بدلې به ئې هم وركولې.

قوله: ﴿عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا﴾
يعنى د رسول الله ﷺ عام عادت شريفه د هديه د قبلولو وو او دا هم چه رسول الله ﷺ به خپل مهدى ته هم هديه وركوله. امام خطابى رحمه الله فرمائي چه د رسول الله ﷺ هديه قبلول دا د محاسن اخلاق د باب نه ده چه د هغې په ذريعه به رسول الله ﷺ د خلقو تاليف قلوب فرمائيلو. او هديه قبلولو سره د هغې خوراک دا د هغوى خاص شان او علامت د كوم ذكر چه په تيرو آسمانى كتابو كښې هم راغلې دې، يعنى دا چه هغوى به هديه قبلوى او صدقه به نه قبلوى، او د هديه د قبلولو نه پس د رسول الله ﷺ خپله هغه ته هديه وركول دا مصلحت ښكاره كوى چه رسول الله ﷺ د بل چا د احسان لاندې رانشى. (بذل) والحديث

---

[1]: سنن الترمذي/البيوع ۳۸ (۱۲۶٤)، (تحفة الأشراف: ۱۲۸۳۶، ۱۸۶۲۳)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/البيوع ۵۷ (۲۶۳۹) (حسن صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الهبة ۱۱ (۲۵۸۵)، سنن الترمذي/البر والصلة ۳٤(۱۹۵۳)، (تحفة الأشراف: ۱۷۱۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۹۰) (صحيح)

اخرجه البخاري والترمذي، قاله المنذري

[۳۵۳۷](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ يَعْنِي ابْنَ الْفَضْلِ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَايْمُ اللَّهِ، لَا أَقْبَلُ بَعْدَ يَوْمِي هَذَا مِنْ أَحَدٍ هَدِيَّةً، إِلَّا أَنْ يَكُونَ مُهَاجِرًا قُرَشِيًّا، أَوْ أَنْصَارِيًّا، أَوْ دَوْسِيًّا، أَوْ ثَقَفِيًّا".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي کريم ﷺ فرمائيلي دي: په الله قسم دنن نه پس به دهيچا تحفه نه قبلوم مګرهله چه دقريشي مهاجر ياد انصاري ياد دوسي يا د ثقفي کس هديه وي.

قوله: ﴿ وَايْمُ اللَّهِ لاَ أَقْبَلُ بَعْدَ يَوْمِي هَذَا مِنْ أَحَدٍ هَدِيَّةً إِلاَّ أَنْ يَكُونَ مُهَاجِرًا قُرَشِيًّا أَوْ أَنْصَارِيًّا أَوْ دَوْسِيًّا أَوْ ثَقَفِيًّا ﴾ دا حديث دلته مختصر دې کوم چه امام ترمذي رحمه الله د کتاب المناقب په آخر کښې مفصلا ذکر کړې دې هغه دا چه يو اعرابي د هغوی په خدمت کښې يو اوښه په طور د هديه پيش کړه کومه چه رسول الله ﷺ قبوله کړه او بيا ئې روستو هغه اعرابي ته د هغې اوښې په عوض کښې شپږ اوښې ورکړې خو هغه په دې باندې هم خوشحاله نه چه کله رسول الله ﷺ ته دا خبره اورسيده نو په دې باندې رسول الله ﷺ دا ارشاد اوفرمائيلو چه د هغې حاصل دا دې چه هر سړې او د هر خاندان فرد د دې لائق نه وی چه د هغه هديه دې قبول کړې شي. او بيا ئې د څو قبائلو نومونه اخستلو سره اوفرمائيل چه د دوی نه علاوه به زه بيا د چا هديه هم نه قبلوم. ﴿ ايم الله ﴾ د قسم د الفاظو نه دی ﴿ ففي المجمع وايم الله لفظ قسم ذولغات، وهمزتها وصل، وقد تقطع، تفتح وتكسر اهـ ﴾...والحديث اخرجه الترمذي والنسائي، قاله المنذري

بَابُ الرُّجُوعِ فِي الْهِبَةِ

هبه کړي شوې څيز واپس غوښتل

[۳۵۳۸](2) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، وَهَمَّامٌ، وَشُعْبَةُ، قَالُوا: حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْعَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ" قَالَ هَمَّامٌ: وَقَالَ قَتَادَةُ: وَلَا نَعْلَمُ الْقَيْءَ إِلَّا حَرَامًا.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: هبه کړي شوي څيز واپس غوښتل داسې دي لکه څوک چه خپلې قې (اولټئ) په خپله خوری. همام راوی وئيلی دی چه قتاده وئيلی دی مونږ به قې حرام ګنړلو نو همدارنګې هبه کړي شوي څيز واپس غوښتل به هم حرام وي.

[۳۵۳۹](3) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ،

---

(1): سنن الترمذي/المناقب ۷۴ (۳۹۴۶)، (تحفة الأشراف: ۱۴۳۲۰) (صحيح)

(2): صحيح البخاري/الهبة ۱۴ (۲۵۸۸)، صحيح مسلم/الهبة ۲ (۱۶۲۲)، سنن النسائي/الهبة ۲ (۳۶۷۲)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۵ (۲۳۸۵)، (تحفة الأشراف: ۵۶۶۲)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/البيوع ۶۲، (۱۲۹۹)، مسند احمد (۱/۲۵۰، ۲۸۰، ۲۸۹، ۲۹۱، ۳۳۹، ۳۴۲، ۳۴۵، ۳۴۹) (صحيح)

(3): سنن الترمذي/البيوع ۶۲ (۱۲۹۹)، الولاء والبراء ۷ (۲۱۳۲)، سنن النسائي/الهبة ۲ (۳۷۲۰)، سنن ابن ماجه/الهبات ۱ (۲۳۷۷)، (تحفة الأشراف: ۵۷۴۳، ۷۰۹۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۷، ۷۸) (صحيح)

عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يُعْطِيَ عَطِيَّةً أَوْ يَهَبَ هِبَةً فَيَرْجِعَ فِيهَا، إِلَّا الْوَالِدَ فِيمَا يُعْطِي وَلَدَهُ، وَمَثَلُ الَّذِي يُعْطِي الْعَطِيَّةَ، ثُمَّ يَرْجِعُ فِيهَا كَمَثَلِ الْكَلْبِ يَأْكُلُ فَإِذَا شَبِعَ قَاءَ ثُمَّ عَادَ فِي قَيْئِهِ".

دابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم صلی الله علیه وسلم فرمائيلي دي: حلال نه دی ديو کس دپاره چه يوشي هبه کړي او بيا ئې واپس اخلي مګر پلار چه خپل بچي ته څه شي ورکړي او واپس ئې ورنه اخلي نوباك نشته، او مثال دهغه کس چه هديه چاته ورکړي او بيا ئې واپس غواړي په شان دسپي دي چه خوراك وکړي اوموړشي اوقې وکړي اوبيا بيرته خپل قې خوري.

د مذاهب ائمه تحقيق مع الدلائل :

دا مسئله اختلافی ده، د امام مالک او د شافعي او احمد په نزد د واهب دپاره رجوع کول ناجائز ده مګر دا چه دا هبه د پلار د طرف نه د خوی دپاره وی نو د پلار دپاره رجوع فی الهبة جائز ده. د دې حضراتو استدلال د باب د حديث ثانی نه دې چه په هغې کښې دی ﴿ الا الوالد فيما يعطى ولده ﴾ او د امام شافعی رحمه الله د پلار نه علاوه په نورو اصولو کښې دوه روايتونه دی، په اصح قول کښې د باقی اصولو هم هغه حکم دې کوم چه د والد دې. او د احنافو په نزد د دې برعکس دې د هغوی په نزد د واهب دپاره په هديه اجانب کښې رجوع کول جائز دی په دې شرط چه د موهوب له د طرف نه هغه ته عوض نه وی ملاؤ شوې ګيني جائز نه دې، بله دا چه د احنافو په نزد زوجين په دې مسئله کښې د ذی رحم محرم په حکم کښې دی. د امام مالک رحمه الله د مسلک په باره کښې علامه عينی رحمه الله ليکلی دی: ﴿ وليس لغير الاب الرجوع عند مالک الا ان عنده ان الام لها الرجوع ايضا اذا كان ابوه حياء وهذا هو الاشهر عند مالک وروى عنه المنع اهـ ﴾ (تراجم) او قاضی عياض فرمائی : ﴿ وجوز مالک الرجمع مطلقا الا فی هبة احد الزوجين من الاخر اهـ ﴾ د احنافو دليل په دې مسئله کښې دا دې ﴿ اذا كانت الهبة لذی رحم محرم لم يرجع ﴾ رواه الحاکم من حديث الحسن عن سمرة مرفوعاً. يو روايت د دې نه مخکښې تير شوې دې ﴿ الواهب احق بهبته مالم يثب منها ﴾ اخرجه ابن ماجة والدارقطنی من حديث ابی هريرة مرفوعاً (تحفة)

د احنافو د طرف نه د حديث الباب توجيه :

او احنافو د جمهورو د دليل يعنی د باب د دويم حديث ﴿ لا يحل لرجل ان يعطی عطية او يهب هبة فيرجع فيها الا الوالد فيما يعطی ولده ﴾ د دې استثناء جواب دا دې چه دا استثناء منقطع ده، يعنی په دې سره مقصود رجوع فی الهبة لره بيانول نه دی بلکه نفس تصرف دې په مال د خوی کښې يعنی عند الحاجة کومه چه متفق عليه مسئله ده چه د پلار دپاره د خوی په مال کښې تصرف د حاجت په وخت مطلقا جائز دې. (كذا فی الكوكب ۲۷۹/۱) او دا چه په حديث کښې دی ﴿ لا يحل لاحد ان يعطی عطية الخ ﴾ د دې مطلب عدم جواز نه دې بلکه مقصد دا دې چه داسې کول مناسب نه دی لکه چه وئيلې شی ﴿ لا يحل للواجد رد السائل ﴾ او په دې معنی باندې د حديث د محمول کولو حاجت ځکه دې چه د نورو احاديثو سره ئې تعارض

رانښي د کومو نه چه د رجوع في الهبة جواز ثابتيږي، دغه شان د ﴿ العائد في هبته کالعائد في قيئه ﴾ نه هم په عدم جواز باندې استدلال صحيح نه دې ځکه چه په بل روايت کښې دی ﴿کالکلب يعود في قيئه ﴾ ځکه چه د کلب فعل ته حرام نه شي وئيلې کيدې، بلکه په دې سره مقصود تشنيع او تقبيح ده.

والحديث الاول عن ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجه والحديث الثاني اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري

[۳۵۴۰]([1]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، أَنَّ عَمْرَو بْنَ شُعَيْبٍ حَدَّثَهُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَثَلُ الَّذِي يَسْتَرِدُّ مَا وَهَبَ كَمَثَلِ الْكَلْبِ يَقِيءُ فَيَأْكُلُ قَيْئَهُ، فَإِذَا اسْتَرَدَّ الْوَاهِبُ فَلْيُوَقَّفْ، فَلْيُعَرَّفْ بِمَا اسْتَرَدَّ، ثُمَّ لِيُدْفَعْ إِلَيْهِ مَا وَهَبَ".

دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي کريم ﷺ فرمائيلی دی: مثال دهغه کس چه ديوشي دهبه کولو نه پس هغه شي واپس غواړي لکه دسپي دي چه قې وکړي او بيا ئې بيرته خوري نوځوک چه هبه وکړي او بيا ئې واپس اخستل غواړي نولکه څنګه چه هغه څيز هبه کړې شوي دي دهغه دواپس کولو وجه دې معلومه کړې شي.

﴿مَثَلُ الَّذِي يَسْتَرِدُّ مَا وَهَبَ كَمَثَلِ الْكَلْبِ يَقِيءُ ﴾

يعني د هغه سړي حال چه د هبه کولو نه پس خپل څيز لره واپس واخلي د سپي په شان دې چه قئ اوکړي او واپس ئې اوخوري. په وړاندې روايت کښې دی چه کله يو سړې خپله هديه واپس اخستل غواړي نو دې موهب له لره پکار دی چه خپل واهب دې د ټولو خلقو مخکښې اودروي او کومه هديه چه هغه واپس اوړي د خلقو مخکښې دې د هغې تشهير اوکړي او د هغې نه پس دې بيا واپس کړي.

د دې حديث نه هم دا معلومه شوه چه د واهب دپاره د رجوع حق ثابت دې د جواز په درجه کښې خودا ډيره د بې غيرتئ خبره ده. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه بنحوه، قاله المنذري

بَابٌ فِي الْهَدِيَّةِ لِقَضَاءِ الْحَاجَةِ

دچا د ضرورت پوره کولو نه پس دهغه د هدئې قبلولو بيان

[۳۵۴۱]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ أَبِي عِمْرَانَ، عَنْ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ شَفَعَ لِأَخِيهِ بِشَفَاعَةٍ فَأَهْدَى لَهُ هَدِيَّةً عَلَيْهَا فَقَبِلَهَا، فَقَدْ أَتَى بَابًا عَظِيمًا مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا".

دابو امامه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي کريم ﷺ فرمائيلی دی: ځوک چه په څه معامله کښې ديومسلمان ورور سفارش وکړي اوبيا دهغه نه تحفه قبوله کړي نوده دسود په يوه لويه دروازه راتګ وکړو.

[1]: سنن ابن ماجه/الهبات ۲ (۲۳۷۸)، سنن النسائي/الهبة ۲ (۳۷۱۹)، (تحفة الأشراف: ۸۷۲۲، ۸۶۶۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۷۵/۲) (حسن صحيح)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۴۹۰۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۶۱/۵) (حسن)

قوله: ﴿مَنْ شَفَعَ لأَخِيهِ بِشَفَاعَةٍ فَأَهْدَى لَهُ هَدِيَّةً عَلَيْهَا فَقَبِلَهَا فَقَدْ أَتَى بَابًا عَظِيمًا مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا﴾
په دې حديث كښې په شفاعت باندې په هديه قبلولو وعيد دې او دې ته رشوت وئيلې شوې دې ځكه چه شفاعت حسنه شرعا مندوب اليه دې او په بعض صورتونو كښې واجب كيږي هم نوبيا روستو په هغه باندې هديه اخستل د شفاعت اجر لره ضائع كول دي، لكه چه په بيع كښې په سود اخستلو سره اصل بيع چه كومه حلال وه ضائع او برباديږي.

باب في الرجل يفضل بعض ولده في النحل

په ځامنو كښې يوكس ته زيات مال وركول

د ترجمة الباب والا مسئلې تفصيل او مذهب الائمة:

نحل په معنى د عطيه، د يو سړي خپل اولاد كښې بعضو لره په بعضو باندې ترجيح وركول په عطيه كښې دا شرعا مذموم ده. په حديث كښې د دې مذمت راغلې دې. اوس دا چه صرف مذموم ده يا ناجائز او حرام؟ په دې كښې اختلاف دې، د جمهور علماء او ائمه ثلاثه په نزد دا خلاف اولى او مكروه دى، د بعض علماء كرامو په نزد لكه امام احمد او اسحاق بن راهويه د هغوى په نزد تسوية فى النحل واجب، او تفضيل حرام دې. اوس دا چه د تسوية نه مراد څه دې؟ د بعضو شوافعو او مالكيانو او د امام احمد او زمونږ د امام محمد رحمه الله په نزد د دې نه مراد د ميراث د قاعدې په شان ﴿للذكر مثل حظ الانثيين﴾ مراد دې. او د اكثرو علماء كرامو رائې دا ده چه په ژوند كښې چه څه وركولې شى په هغې كښې د ذكر او انثى فرق معتبر نه دې. پس په يو روايت كښې دى ﴿اولادكم فى العطية فلو كنت مفضلا احد الفضلت النساء﴾ اخرجه سعيد بن منصور والبهقي اهـ (تحفة الاحوذى) امام ترمذى رحمه الله د حديث الباب د لاندې فرمائى

﴿والعمل على هذا عند بعض أهل العلم يستحبون التسوية بين الولد حتى قال بعضهم يسوي بين ولده حتى في القبلة وقال بعضهم يسوي بين ولده في النحل والعطية (يعني الذكر والأنثى سواء) وهو قول سفيان الثوري وقال بعضهم التسوية بين الولد أن يعطي للذكر مثل حظ الأنثيين مثل قسمة الميراث وهو قول أحمد و إسحق﴾

[۳۵۴۲]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا سَيَّارٌ، وَأَخْبَرَنَا مُغِيرَةُ، وَأَخْبَرَنَا دَاوُدُ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، وَأَخْبَرَنَا مُجَالِدٌ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ سَالِمٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: "أَنْحَلَنِي أَبِي نُحْلًا، قَالَ إِسْمَاعِيلُ بْنُ سَالِمٍ مِنْ بَيْنِ الْقَوْمِ نِحْلَةً غُلَامًا لَهُ، قَالَ: فَقَالَتْ لَهُ أُمِّي عَمْرَةُ بِنْتُ رَوَاحَةَ: إِيتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَشْهِدْهُ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَشْهَدَهُ، فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: إِنِّي نَحَلْتُ ابْنِي النُّعْمَانَ نُحْلًا، وَإِنَّ عَمْرَةَ سَأَلَتْنِي أَنْ أُشْهِدَكَ عَلَى ذَلِكَ، قَالَ: فَقَالَ: أَلَكَ وَلَدٌ سِوَاهُ؟ قَالَ: قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَكُلَّهُمْ أَعْطَيْتَ مِثْلَ مَا أَعْطَيْتَ النُّعْمَانَ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: فَقَالَ بَعْضُ هَؤُلَاءِ الْمُحَدِّثِينَ: هَذَا جَوْرٌ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: هَذَا تَلْجِئَةٌ، فَأَشْهِدْ عَلَى هَذَا غَيْرِي"، قَالَ مُغِيرَةُ فِي حَدِيثِهِ: أَلَيْسَ يَسُرُّكَ أَنْ يَكُونُوا لَكَ فِي الْبِرِّ وَاللُّطْفِ سَوَاءً؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَأَشْهِدْ

[1]: صحيح البخاري/الهبة ۱۲ (۲۵۸۷)، الشهادات ۹ (۲۶۵۰)، صحيح مسلم/الهبات ۳ (۱۶۲۳)، سنن النسائي/النحل ۱ (۳۷۰۹)، سنن ابن ماجه/الهبات ۱ (۲۳۷۵)، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۲۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۶۸/۴، ۲۶۹، ۲۷۰، ۲۷۳، ۲۷۶) (صحيح)

عَلَى هَذَا غَيْرِي". وَذَكَرَ مُجَالِدٌ فِي حَدِيثِهِ: "إِنَّ لَهُمْ عَلَيْكَ مِنَ الْحَقِّ أَنْ تَعْدِلَ بَيْنَهُمْ، كَمَا أَنَّ لَكَ عَلَيْهِمْ مِنَ الْحَقِّ أَنْ يَبَرُّوكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: فِي حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ بَعْضُهُمْ: "أَكُلَّ بَنِيكَ"، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: "وَلَدِكَ"، وَقَالَ ابْنُ أَبِي خَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ فِيهِ: "أَلَكَ بَنُونَ سِوَاهُ"، وَقَالَ أَبُو الضُّحَى، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ: "أَلَكَ وَلَدٌ غَيْرُهُ".

دنعمان بن بشير رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه زماپلار ماته څه راكړل ددې حديث په راويانوكښې يوراوى اسماعيل بن سالم وئيلى دى چه نعمان ته ئې يوغلام وركړې وو زمامور عمره بنت رواحه زما پلارته اووئيل چه نبى عليه السلام ته حاضرشه او په دې باندې ئې ګواه كړه، هغه دنبى عليه السلام په خدمت كښې حاضر شو اوعرض ئې وكړو ما خپل نعمان ځوي ته يوشې هبه كړې دې ماته عمرى اووئيل چه زه تاپه دې باندې ګواه كړم، نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل ايا دنعمان نه علاوه نور ځامن دې شته؟ ده اووئيل ولې نه، نبى عليه السلام اوفرمائي ټولو ځامنوته دې دده په شان وركړي دي؟ هغه ووئيل نه، په بعضې رواياتوكښې راغلي دي چه نبى عليه السلام اوفرمائيل دا ظلم دې اومحدثين وائي چه نبى عليه السلام اوفرمائيل داد مجبورئ اوداحتياط په وجه باندې ده (يعنى دا كار ته پخپله خوښه نه كوي) ته زمانه علاوه بل څوك په دې باندې ئې ګواه كړه مغيره پخپل روايت كښې وئيلى دى چه نبى عليه السلام اوفرمائيل ايا خوښه دې نه ده چه ستاټول ځامن په فرمان بردارئ كښې يوشان وي؟ ده اووئيل ولې نه، نبى عليه السلام اوفرمائيل چرته بل څوك په دې باندې ګواه كړه، اودمجالد په روايت كښې دى چه نبى عليه السلام اوفرمائيل په تاباندې ددوى ټولوحق دې چه ته ددوى په مينځ كښې دانصاف اودمساوات معامله وكړې لكه څنګه چه ستا په دوى ټولوباندې فرمانبرداي كول حق دي، ابن ابى مجالد په واسطه دشعبي دا الفاظ نقل كړي دير الك بنون سواه،، يعنى دده نه دې علاوه نورځامن شته؟ او ابو الضحي په واسطه دنعمان بن بشيردا الفاظ نقل كړي دي ،،اَلَكَ وَلَدٌ غيرُهُ،،.

﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا سَيَّارٌ وَأَخْبَرَنَا مُغِيرَةُ وَأَخْبَرَنَا دَاوُدُ عَنِ الشَّعْبِيِّ وَأَنْبَأَنَا مُجَالِدٌ وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ سَالِمٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رضی الله عنه ﴾

شرح السند :

په دې حديث كښې د مصنف استاد امام احمد بن حنبل رحمه الله او د هغوى استاد هشيم دې. بيا هشيم دا روايت د خپلو پنځو استاذانو نه روايت كوى سيار، مغيره، داؤد، مجالد، اسماعيل او دا پنځه واړه د شعبى نه روايت كوى، پس په كتاب الاطراف كښې د ابوداؤد دا سند داسې نقل كړې شوې دې ﴿ عن ابن حنبل عن هشيم عن سيار ومغيره وداؤد بن ابى هند، ومجالد، واسماعيل بن سالم، خمستهم عن الشعبى اھ ﴾ (بذل) خو د دې سند تعبير ګران دې د غور كولو نه پس هم په فهم كښې نه راځى.

مضمون حديث :

قوله: ﴿ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ أَنْحَلَنِي أَبِي نُحْلاً قَالَ إِسْمَاعِيلُ بْنُ سَالِمٍ مِنْ بَيْنِ الْقَوْمِ نِحْلَةً غُلاَمًا لَهُ ﴾ نعمان بن بشير رضی الله عنه فرمائى چه ماته زما پلار يو څيز هديه كړو. د هشيم په استاذانو كښې څلورو خو داسې اوئيل او پنځم استاد يعنى اسماعيل د دې وركړې تعين په غلام سره اوكړو چه ماته زما پلار يو غلام هبه كړو. د دې نه پس هغوى وائى چه زما مور عمره

زما پلار یعنی بشیر ته اووې چه رسول اللهﷺ ته لاړ شئ او په دې خپله هبه باندې رسول اللهﷺ گواه کړئ، هغه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو او رسول اللهﷺ ته ئې صورت حال بیان کړو. رسول اللهﷺ ترې نه تپوس اوکړو چه آیا ستا نور ځامن شته د نعمان نه علاوه؟ هغوی عرض اوکړو جی شته نور هم.... رسول اللهﷺ ترې نه تپوس اوکړو چه تا هغه نورو ته هم غلامان ورکړی دی څنگه چه دې نعمان ته ورکړې دې؟ هغوی عرض اوکړو چه هغوی ته خو مې نه دی ورکړی..... په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائیل په دې کښې د هشیم دا پنځه استاذان مختلف دی. د بعضو په روایت کښې دی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل ﴿ هذا جور ﴾ او بعض اوفرمائیل ﴿ هذا تلجئة ﴾ یعنی رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه دا بعضو ته ورکول او بعضو ته نه ورکول دا ظلم دې. او د بعض په روایت کښې چه کوم دویم لفظ دې. ﴿ وهذا تلجئة ﴾ د دې په ظاهر کښې مطلب دا دې چه دا کار په تاباندې زبردستی کړې شوې دې. یعنی ستا ښځې په تا باندې زور اچولو سره داسې کړې دی کوم چه تا خپله هم نه غوښتلو.... ﴿ فاشهد علی هذا غیری ﴾ رسول اللهﷺ اوفرمائیل زه خو گواه نه جوړیږم، په دې باندې بل څوک گواه کړه.

دې سره د جمهورو د مسلک تائید کیږی د ترجمة الباب والا مسئله کښې چه داسې کول حرام نه دی صرف مکروه دی څکه چه که حرام وې نو رسول اللهﷺ به بل چا لره د گواه جوړولو اجازت نه ورکولې. او د دې نه مخکښې چه کوم لفظ راغلې وو..... ﴿ هذا جور ﴾ په دې سره د امام احمد بن حنبلؒ د مذهب تائید کیږی او د دې نه روستو روایت کښې دی ﴿ قال لا قال فاردده ﴾ یعنی رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه خپله هبه ترې نه واپس واخله. د دې نه د رجوع فی الهبة جواز معلومیږی چه اختلافی مسئله ده او اوس نزدې تیره شوه.........

هغه دا چه د جمهورو په نزد د پلار دپاره د ځوی په حق کښې رجوع فی الهبة جائز ده او د احنافو په نزد ناجائز ده، د دې جواب د احنافو د طرف نه دا کیدې شی چه سیدنا بشیرؓ رسول اللهﷺ ته د اشتشهاد فی الهبة دپاره راغلې وو یا د هبه کولو په باره کښې مشورې له راغلې وو چه آیا هغه هبه اوکړی یا نه؟ د دې په باره کښې شارحینو دواړه احتمالات لیکلی دی او علامه عینی د بعض روایاتو د الفاظ نه د دې د استشاره کیدو ته ترجیح ورکړې ده، لهذا ثابته شوه چه لا تر اوسه پورې د هبه تحقق نه وو شوې. په دې صورت کښې به د فاردده مطلب دا وی چه ته د خپلې هبه کولو دا اراده ترک کړه.

په حدیث الباب کښې اختلاف روایات:

دا حدیث مشهور دې، په ټولو صحاح سته کښې ذکر کړې شوې دې. په دې ټولو روایاتو کښې د هبه تعین د غلام سره راغلې دې او په صحیح ابن حبان او طبرانی کښې د غلام په ځائې حدیقة ذکر شوې ده.....یعنی د نعمانؓ د خپل خاوند نه نعمانؓ ته د یو باغ هبه کولو ترغیب ورکړو، ابن حبان دا په تعدد د واقعې باندې محمول کړې دې هغه دا چه د نعمان د ولادت په موقع باندې د هغوی مور د اعطاء حدیقه فرمائش اوکړو. او بیا چه کله نعمان لوئې شو هغه وخت کښې ئې ترې نه دوباره دعطیه اصرار اوکړو، او دا دویمه عطیه

غلام وو، حافظ رحمه الله يو بله توجيه اختيار كړې ده هغه دا چه په شروع كښې بشير نعمان ته حديقه هبه كړې وه خو روستو ئې د هغې نه رجوع اوكړه، په دې باندې عمره دوباره اصرار شروع كړو د څه څيز په وركولو باندې نو هغوى په دويم كرت باندې هغه ته غلام هبه كړو خو چونكه د دې نه مخكښې ئې هبه كولو سره رجوع كړې وه په دې وجه د هغوى كور والا د غلام په هبه كولو باندې د اشهاد مطالبه اوكړه (هذاكله ماخوذمن الاوجز ۳۲۹/۵)

د دې واقعې په باره كښې د احقر په ذهن كښې د هميشه نه دا خبره ده چه داسې معلوميږى چه نعمان بن بشير رضي الله عنه به د عمره بنت رواحه سكه ځوئې وى او چه كوم نور اولاد ئې وو چه د هغوى د موجود كيدو تصريح په دې روايت كښې ذكر شوې ده هغه په ظاهر كښې د بشير رضي الله عنه د نورو بيبيانو نه به وى، هم په دې وجه عمره رضي الله عنها صرف د خپل ځوى په باره كښې د خپل خاوند نه د دې هبه په اصرار سره مطالبه اوكړه. والله تعالى اعلم د كتب الرجال نه د دې تحقيق ته حاجت دې.

والحديث اخرجه البخارى ومسلم والنسائى وابن ماجه بنحوه، واخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وابن ماجه من حديث حميد بن عبدالرحمن بن عوف ومحمد بن نعمان بن بشير عن النعمان بن بشير رضي الله عنه، قاله المنذرى.

[۳۵۴۳] ([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، حَدَّثَنِي النُّعْمَانُ بْنُ بَشِيرٍ، قَالَ: "أَعْطَاهُ أَبُوهُ غُلَامًا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا هَذَا الْغُلَامُ؟، قَالَ: غُلَامِي، أَعْطَانِيهِ أَبِي، قَالَ: فَكُلَّ إِخْوَتِكَ أَعْطَى كَمَا أَعْطَاكَ؟، قَالَ: لَا، قَالَ: فَارْدُدْهُ".

دنعمان بن بشير رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه زما پلار ماته يوغلام راكړو اونبى عليه السلام ورنه تپوس اوكړو دا غلام څنګه د هغه عرض وكړو دا زما غلام دې كوم چه ماته زما پلار راكړې دې نبى عليه السلام اوفرمائيل ايا ستانورو رونړوته ئې هم داسې غلامان وركړې دي لكه څنګه چه ئې تاته دركړې دې؟ هغه اووئيل نه نبى عليه السلام اوفرمائيل بياته دا غلام واپس كړه.

[۳۵۴۴] ([2]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ حَاجِبِ بْنِ الْمُفَضَّلِ بْنِ الْمُهَلَّبِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ، اعْدِلُوا بَيْنَ أَبْنَائِكُمْ".

حاجب بن مفضل دخپل پلارنه روايت كوى فرمائى چه دنعمان بن بشيرنه مې اوريدلى دى هغه وئيل چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى انصاف كوئ پخپل اولاد كښې او انصاف كوئ پخپلو خامنو كښې.

[۳۵۴۵] ([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَتِ امْرَأَةُ بَشِيرٍ: انْحَلِ ابْنِي غُلَامَكَ، وَأَشْهِدْ لِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ:

[1]): صحيح مسلم/الهبات ۳ (۱۶۲۳)، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۳۵)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الهبة ۱۲ (۲۵۸۶)، سنن الترمذي/الأحكام ۳۰ (۱۳۶۷)، سنن ابن ماجه/الهبات ۱ (۲۳۷۵)، موطا امام مالك/الأقضية ۳۳ (۳۹)، مسند احمد (۲۶۸/۴) (صحيح)

[2]): سنن النسائي/النحل (۳۷۱۷)، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۴۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۷۵/۴، ۲۷۸) (صحيح)

[3]): صحيح مسلم/الهبات ۳ (۱۶۲۴)، (تحفة الأشراف: ۲۷۲۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۲۶/۳) (صحيح)

إِنَّ ابْنَةَ فُلَانٍ، سَأَلَتْنِي أَنْ أُنْحِلَ ابْنَهَا غُلَامًا؟، وَقَالَتْ لِي: أَشْهِدْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: لَهُ إِخْوَةٌ؟، فَقَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَكُلَّهُمْ أَعْطَيْتَ مِثْلَ مَا أَعْطَيْتَهُ؟، قَالَ: لَا، قَالَ: فَلَيْسَ يَصْلُحُ هٰذَا، وَإِنِّي لَا أَشْهَدُ إِلَّا عَلَى حَقٍّ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه بشيرته خپلې ښځې اووئيل داخپل غلام دې زما خوي ته هبه كړه (كوم چه دهغې په ګيره وو) اوپه دې خبره به نبي عليه السلام ګواه كړې نوبشيردنبي عليه السلام په خدمت كښې حاضر شو او غرض ئې وكړو چه دفلانې لور ماته وئيلى دى چه زه دهغې ځوي ته غلام هبه كړم اودائې هم وئيلي دى چه په دې خبره باندې تا ګواه كړم، په دې وخت كښې نبي عليه السلام اوفرمائيل ايا تادده ټولو رونړو ته داسې وركړې دي كوم چه تاده ته وركړې دې؟ هغه اووئيل نه نبي عليه السلام اوفرمائيل داخونامناسب خبره ده اوزه درښتوني خبرې نه علاوه په بله خبره باندې نه ګواه كيږم.

بَابٌ فِي عَطِيَّةِ الْمَرْأَةِ بِغَيْرِ إِذْنِ زَوْجِهَا

د ښځې دپاره د خپل خاوند د مال نه دهغه د اجازت نه بغير چاته وركول

په كتاب الزكوة كښې ﴿ باب المراة تصدق من بيت زوجها ﴾ تير شوې دې. د دې باب په احاديثو باندې كلام هلته تير شوې دې،

امام بخاري رحمه الله باب تړلې دې ﴿ هبة المراة بغير زوجها ﴾

[۳۵٤٦] (1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، وَحَبِيبٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَجُوزُ لِامْرَأَةٍ أَمْرٌ فِي مَالِهَا إِذَا مَلَكَ زَوْجُهَا عِصْمَتَهَا".

عمرو بن شعيب د خپل پلارنه اوهغه دده دنيكه نه روايت كوي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی ښځې لره دخاوند دمال نه وركول جائز نه دي كوم چه ددې سره دې ځكه چه خاوند ددې دعزت مالك دې.

په مسئلة الباب كښې اختلاف د علماء كرامو :

د زنانه د هبه كولو دوه صورتونه دي يو د خاوند د كور نه يعنى كوم څيز چه خاوند هغې ته كور د خرچ دپاره وركړې دې، د زنانه د هغې نه صدقه كول دويم دا چه زنانه د خپل مال نه صدقه كوي. په دويم صورت كښې د جمهورو په نزد د زنانه دپاره صدقه وغيره كول چه هغه څنګه غواړي جائز ده د جمهور علماء كرامو هم دا مسلک دې. په دې كښې د امام مالک رحمه الله اختلاف دې هلته په كتاب الزكوة كښې تير شوې دی د هغوی په نزد زنانه د خپل مال په زيات نه زيات صرف ثلث كښې تصرف كولې شي يعنى بغير د اذن د زوج نه د دې نه په زياتي كښې نه شي كولې.

قال الحافظ وخالف طاؤس فمنع مطلقا، وعن الليث لا يجوز مطلقا الا فى الشئ التافه وادلة الجمهور من الكتاب والسنة كثيرة اهـ (من التراجم ۲/۳۵)

(1): سنن النسائي/الزكاة ٥٨ (٢٥٤١)، العمري (٣٧٨٧)، سنن ابن ماجه/الهبات ٧ (٢٣٨٨)، (تحفة الأشراف: ٨٧٧٩، ٨٦٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢١/٢) (حسن صحيح)

[۳۵۴۷] (۱)حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَجُوزُ لِامْرَأَةٍ عَطِيَّةٌ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا".

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی دیوي ښځې دپاره داجائز نه دي چه دخپل خاوند دمال نه چاته ورکړي مګر په اجازت دهغه سره.

بَابٌ فِي الْعُمْرَى

دټول عمر دپاره چاته يو څيز ورکول جائز دي

او د دې نه روستو بل باب راروان دې ﴿باب فی الرقبی﴾

[۳۵۴۸] (۲) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْعُمْرَى جَائِزَةٌ".

د ابوهريره بدنه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائيي دي. چه چاته يوشې دټول عمر دپاره ورکول جائز دي.

[۳۵۴۹] (۳) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ.

حسن دسمرة رضی الله عنه اوهغه دنبی علیه السلام نه ددې روایت په شان روایت بیان کړې دې.

د عمری تعریف او د هغې حکم شرعی :

عمري او رقبی د هبه دوه خاص صورتونه دی کوم چه د جاهلیت د زمانې نه راروان وو، د دې دواړو په باره کښې روایات منعا او جوازا مختلف راغلی دی، لکه چه د دواړو بابونو د روایتونو کتلو نه معلومیږی، لهذا د دې دواړو په باره کښې د فقهاء کرامو رائې معلومیدل پکار دی. او د هر يو طریقه او تعریف هم، د عمری صورت دا وی چه يو سړې بل ته وائی ﴿ داری لک عمری ﴾ یا داسې اووائی ﴿ اعمرتک داری ﴾ چه د هغې مطلب دا وی چه زه دا کور تا ته هبه کوم ستا د ټول عمر دپاره د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاثه په نزد که يو سړې داسې اوائی نو جائز ده خو هغه کور به صرف د ټول عمر دپاره نه وی بلکه د معمر له د ژونده پورې وی د هغه دپاره او د هغه د وفات نه پس به د هغه د وارثانو دپاره وی. ګویا د ټول عمر قید لګولو لره به اعتبار نه وی. په دې کښې د امام مالک رحمه الله اختلاف دې هغوی فرمائی چه د عمری دوه صورتونه دی که معمر صرف هغه الفاظ اووې کوم چه پورته تیر شوې دی یعنی ﴿ داری لک عمری ﴾ نو په دې صورت کښې خو به کور د معمر له دپاره صرف

---

(۱): سنن الترمذي/ الديات ٣ (١٣٩٠)، سنن النسائي/ الزكاة ٥٨ (٢٥٤١)، العمري ١ (٣٧٨٧، ٣٧٨٨)، (تحفة الأشراف: ٨٦٨٠، ٨٦٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٧٩، ١٨٠، ٢٠٧، ٢١٢)، دي/ الديات ١٦ (٢٤١٧)، ويأتي هذا الحديث برقم(٢٥٦٦) (حسن صحيح)

(۲): صحيح البخاري/الهبة ٣٢ (٢٦٢٦)، صحيح مسلم/الهبات ٤ (١٦٢٦)، سنن النسائي/العمري ٤ (٣٧٨٥)، (تحفة الأشراف: ١٢٢١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٤٧، ٤٢٩، ٤٦٨، ٤٨٩، ٣/٣١٩) (صحيح)

(۳): سنن الترمذي/الأحكام ١٥ (١٣٤٩)، (تحفة الأشراف: ٤٥٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٨، ١٣، ٢٢) (صحيح)

د هغه د ژونده پورې وی او د هغه د مرګ نه پس به معمر ته واپس کولې شي، او که هبه کونکی د ﴿ داری لک ﴾ سره ﴿ ولعقبک بعدک ﴾ هم وئیلي وو نو بیا به دا هبه د همیشه دپاره نافذ شي او د معمر له د مرګ نه پس به د هغه د وارثانو دپاره وی. او که د هبه په وخت ئې دا زیادت نه وو وئیلي نو بیا به د معمر له د مرګ نه پس هغه کور د واهب طرف ته واپس شي.

اصل کښې دا اختلاف د عمری په حقیقت باندې متفرع دې د جمهورو په نزد د عمری حقیقت تملیک الرقبة دې یعنی د عین دار مالک جوړول. او د امام مالک رحمه الله په نزد د دې حقیقت تملیک المنفعة دې هم په دې وجه د هغوی په نزد معمرله د اصل مکان مالک نه وی. اونه دهغوی په نزد په دې کښې میراث جاری کیږی یعنی من حیث الملک، او که د هبه په وخت هغه ﴿ لک ولعقبک بعدک ﴾ اوئیلو نو په دې صورت کښې د هغوی په نزد میراث جاری کیږی یعنی هم د هغه منفعت په لحاظ سره، لا من حیث الملک.

حدیث ابی هریرة رضی الله عنه اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، وحدیث جابر من طریق ابیسلمة اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، ومن طریق عروة عنه اخرجه النسائی، قاله المنذری، والحدیث الرابع من حدیث جابر بلفظ ﴿ ایما رجل اعمر عمری له ولعقبه ﴾ الحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی ابن ماجه بنحوه، قاله المنذری.

[٣٥٥٠](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ يَقُولُ: "الْعُمْرَى لِمَنْ وُهِبَتْ لَهُ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به فرمائیل: عمري دهغه چادپاره ده چاته چه بخښلې شوې وې.

[٣٥٥١](٢) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبٍ، أَخْبَرَنِي الْأَوْزَاعِيُّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أُعْمِرَ عُمْرَى فَهِيَ لَهُ، وَلِعَقِبِهِ يَرِثُهَا مَنْ يَرِثُهُ مِنْ عَقِبِهِ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي دي: چاچه چاته دتول عدم ردپاره یوشي (دهي په طور) ورکړونو هغه دهغه چاشو چاته چه ورکړې شوې دي ترڅوچه ژوندي وي دي به ددې مالك وي اوده دمرګ نه پس به دده وارثانوته ورکولي شي.

[٣٥٥٢](٣) عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، وَعُرْوَةَ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَكَذَا رَوَاهُ اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ جَابِرٍ.

جابر رضی الله عنه دنبی علیه السلام نه دتیرشوي روایت په شان روایت بیان کړي دې۔ امام ابوداؤد فرمائی چه همدارنګې دا روایت لیث بن سعد د زهري نه اوهغه دابوسلمه اوهغه دجابر رضی الله عنه نقل کړي دي.

(١): صحيح البخاري/الهبة ٣٢ (٢٦٢٥)، صحيح مسلم/الهبات ٤ (١٦٢٥)، سنن الترمذي/الأحكام ١٥ (١٣٥٠)، سنن النسائي/العمري ٢ (٣٧٧٢)، سنن ابن ماجه/الهبات ٣ (٢٣٨٠)، (تحفة الأشراف: ٣١٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠٢/٣، ٣٠٤، ٣٦٠، ٣٩٣، ٣٩٩) (صحيح)

(٢): سنن النسائي/العمري (٣٧٧١)، (تحفة الأشراف: ٢٣٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠٢/٣، ٣٠٤، ٣٦٠، ٣٩٣، ٣٩٩) (صحيح)

(٣): انظر حديث رقم: (٣٥٥٠)، (تحفة الأشراف: ٣١٤٨) (صحيح)

بَاب مَنْ قَالَ فِيهِ وَلِعَقِبِهِ
څوک چه چاته د ټول عمر دپاره یو شي ورکړی او د ورکولو په وخت کښې د وارثانو ذکر هم وکړي

[۳۵۵۳]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ يَعْنِي ابْنَ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَيُّمَا رَجُلٍ أُعْمِرَ عُمْرَى لَهُ وَلِعَقِبِهِ، فَإِنَّهَا لِلَّذِي يُعْطَاهَا لَا تَرْجِعُ إِلَى الَّذِي أَعْطَاهَا، لِأَنَّهُ أَعْطَى عَطَاءً وَقَعَتْ فِيهِ الْمَوَارِيثُ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي دي: چاته چه د ټول عمر دپاره یو شي (دهبې په طور) ورکړې شو اود ورکولو په وخت دا اووائي چه ماداشي فلانی ته اودده وارثانو ته د ټول عمر دپاره ورکړو نو دغه شي دده اودده اولاد ملکیت دي او دا داسې ملکیت دي کوم چه هبه کونکي ته نشي ملاویدي ځکه چه ده یوه داسې عطیه کړې ده په کومه کې چه وارث لره دخل دي۔

[۳۵۵٤]([2]) حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ أَبِي يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ صَالِحٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ عَقِيلٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، وَيَزِيدُ بْنُ أَبِي حَبِيبٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، وَاخْتُلِفَ عَلَى الْأَوْزَاعِيِّ فِي لَفْظِهِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، وَرَوَاهُ فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ مِثْلَ حَدِيثِ مَالِكٍ.

صالح په خپل سندسره دابن شهاب نه دتیرشوي روایت په شان روایت بیان کړي . امام ابوداؤد فرمائی چه همدارنګې رانقل کړي دي عقیل دابن شهاب نه اویزید بن ابی حبیب هم د ابن شهاب نه نقل کړي دي اوداوضاعي په الفاظو کښې اختلاف دي او همدا رنګې ددوینه علاود فلیح بن سلیمان هم په دې طریقه بندي د روایت بیان کړې دي۔

[۳۵۵۵]([3]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "إِنَّمَا الْعُمْرَى الَّتِي أَجَازَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقُولَ: هِيَ لَكَ وَلِعَقِبِكَ، فَأَمَّا إِذَا قَالَ: هِيَ لَكَ مَا عِشْتَ فَإِنَّهَا تَرْجِعُ إِلَى صَاحِبِهَا".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی دکومې عمره چه اجازت ورکړې شوې دې هغه داده چه هبه کونکې چه چاته څه ورکوي هغه ته داسې اووائي چه داشې ستا اوستاد ولاد دپاره دې اوکه چرې د اسې ئې اونه وئیل بلکه داسې یئې اووئیل چه داځیز ستاد پاره دی ترڅوچه ته ژوندې بې نودغه څیز دده دوفات نه پس ورکونکي ته به واپس کولې شي.

[۳۵۵٦]([4]) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُرْقِبُوا، وَلَا تُعْمِرُوا، فَمَنْ أُرْقِبَ شَيْئًا، أَوْ أُعْمِرَهُ فَهُوَ لِوَرَثَتِهِ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي دي: تاسو عمرې او عقبې مه کوئ

[1]: انظر حديث رقم: (۳۵۵۰)، (تحفة الأشراف: ۳۱٤۸) (صحيح)
[2]: انظر حديث رقم: (۳۵۵۰)، (تحفة الأشراف: ۳۱٤۸) (صحيح)
[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۱٦۰)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الهبات ٤ (۱٦۲٦)، مسند احمد (۳/۲۹٦) (صحيح)
[4]: سنن النسائي/العمري (۳۷٦۲)، (تحفة الأشراف: ۲٤۵۸) (صحيح)

که چرې څوک عمرې اوعقبې اوکړي نو کوم څيز چه ئې چاته ورکړې دې هغه به دهغه اودهغه د وارثانو شي.

[۳۵۵۷] (۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَبِيبٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ حُمَيْدٍ الْأَعْرَجِ، عَنْ طَارِقٍ الْمَكِّيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي امْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، أَعْطَاهَا ابْنُهَا حَدِيقَةً مِنْ نَخْلٍ، فَمَاتَتْ، فَقَالَ ابْنُهَا: إِنَّمَا أَعْطَيْتُهَا حَيَاتَهَا، وَلَهُ إِخْوَةٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هِيَ لَهَا حَيَاتَهَا وَمَوْتَهَا، قَالَ: كُنْتُ تَصَدَّقْتُ بِهَا عَلَيْهَا، قَالَ: ذَلِكَ أَبْعَدُ لَكَ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام ديوې انصارې زنانه په باره کښې فيصله وکړه چه خپل ځوي ورته دکجورو يوباغ ورکړې وو، کله چه هغه وفات شوه نوځوي ئې اووئيل ماخو ورله داباغ دهغې دژونده پورې ورکړې وو، اوددغه کس نور رونړه هم وو، نبي عليه السلام اوفرمائيل دا باغ دهغې دې په ژوند کښې هم او په مرګ کښې هم ځوي ئې اووئيل داماهغې ته په صدقه کښې ورکړې وو نبي عليه السلام اوفرمائيل تاته ددې واپس کيدل دحيرانتيا خبره ده.

بَابٌ فِي الرُّقْبَى
د رقبې بيان

د رقبى تعريف:

رقبى دا هم د هبه يو طريقه ده د عمرى په شان، چه د هغې صورت دا وى چه يو سړې بل ته اوائي. ﴿ داری لک رقبى ﴾ يا ﴿ ارقبتک داری ﴾ چه د هغې مطلب دا وى چه يو سړې بل ته اوائى چه زه دا خپل کور تا ته په دې طريقه درکوم چه که رومبې زما مرګ واقع شو نو بيا به دا کور ستا وى او که ستا مرګ مخکښې شو نو بيا به دا کور ماته واپس کيږى. دا لفظ د مراقبه نه اخستلې شوې دې چه د هغې معنى ده انتظار ځکه چه د هبه په دې نوع کښې واهب او موهوب له هر يو د بل د مرګ منتظر وى په دې وجه د دې دا نوم کيخودلې شو.

[۳۵۵۸] (۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا دَاوُدُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْعُمْرَى جَائِزَةٌ لِأَهْلِهَا، وَالرُّقْبَى جَائِزَةٌ لِأَهْلِهَا".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: عمرې د خپل خاوند دپاره ده اورقبې دخپل خاوند دپاره ده (دحديث مطلب دادې چه په دواړه ذکر شوو صورتونو کښې دغه څيز ورکونکي ته واپس نشي ملاويدې).

د رقبى په حکم کښې اختلاف دې د امام شافعي او احمد په نزد جائز ده په شان د عمرى. او د امام ابوحنيفه او مالک په نزد ناجائز ده. په صاحبين کښې امام ابويوسف رحمه الله د امام شافعي سره دې. او امام محمد رحمه الله د امام صاحب رحمه الله سره او مقصد د اختلاف دا دې چه د دې ائمه اربعه په حقيقت د رقبى کښې اختلاف دې چه هغه څه څيز دې؟ د جواز د قائلينو په نزد تمليک بشرط فاسد دې، شرط فاسد د هغه دا وينا چه که ته مخکښې مړ شوې نو

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۲۲۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۹/۳) (ضعيف)

(۲): سنن الترمذي/الأحكام ١٦ (١٣٥١)، سنن النسائي/العمري (۳۷٦۹)، سنن ابن ماجه/الهبات ٤ (۲۳۸۳)، (تحفة الأشراف: ۲۷۰۵)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الهبات ٤ (١٦٢٦)، مسند احمد (۳۰۲/۳، ۳۰۳، ۳۱۲) (صحيح)

زما او که زه مړ شوم نو ستا، د دې حضراتو په نزد تمليک پاتې کيږي او دا شرط فاسد کالعدم دې، لهٰذا دا تمليک صحيح شوا و په هر صورت کښې به مکان د هغه دپاره وی، او کوم فقهاء چه د جواز قائل نه دی د هغوی په نزد د دې حقيقت تمليک نه دې بلکه تعليق التمليک على خطر دې. چه په هغې کښې د قمار معنی موندلې شي کوم چه ناجائز دې. حديث جابر رضي الله عنه اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجه، وحديث زيد بن ثابت اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذري

[٣٥٥٦](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى مَعْقِلٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنْ حُجْرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَعْمَرَ شَيْئًا فَهُوَ لِمُعْمَرِهِ مَحْيَاهُ، وَمَمَاتَهُ وَلَا تُرْقِبُوا، فَمَنْ أَرْقَبَ شَيْئًا فَهُوَ سَبِيلُهُ".

د زيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلي دي: چاچه چاته دتول عمردپاره يوشي (دهبې په طور) ورکړو نوداددہ دپاره دې په ژوند کښې هم او په مرګ کښې هم اوتاسو رقې مه کوئ ځکه چاته چه په رقې کسې څه شي ورکړې شو هغه دهغه شو.

[٣٥٦٠](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مُوسَى، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: "الْعُمْرَى أَنْ يَقُولَ الرَّجُلُ لِلرَّجُلِ: هُوَ لَكَ مَا عِشْتَ، فَإِذَا قَالَ ذَلِكَ: فَهُوَ لَهُ وَلِوَرَثَتِهِ، وَالرُّقْبَى هُوَ أَنْ يَقُولَ: الْإِنْسَانُ هُوَ لِلْآخِرِ مِنِّي وَمِنْكَ".

د مجاهدنه روايت دې فرمائی عمرې ديته وائی چه يوکس بل ته اووائي چه داستاشو ترڅوچه ته ژوندې بې نوکله چه دا او روانې نودغه څيزدده شو اودده دوار ثانوشو او رقې دې ته وائی چه يوکس بل ته ووائی داشت به په مااوتادوارو کې دهغه چاوې څوک چه ورسته مړشي.

بَابٌ فِي تَضْمِينِ الْعَارِيَةِ

څوک چه د چا نه يوشي وغواړي او بيا ضائع شي

مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

د عارية نه اخستلې شوې دې يعنی مستعار څيز. يعنی که يو سړي خپل څيز چا ته عارية ورکړی او بيا څيز د مستعير سره بغير د هغه د تعدی نه هلاک يا ضائع شی نو په دې صورت کښې په مستعير باندې د هغې ضمان واجب دې يا نه؟ مسئله اختلافی ده، امام شافعي او امام احمد د ضمان قائل دی. او د احنافو په نزد ضمان نشته. د امام مالک رحمه الله په نزد تفصيل دې، ﴿ ما ظهر هلاکه لا ضمان فيه وما خفي هلاکه فهو مضمون ﴾ يعنی که مستعار داسې څيز وی چه د هغې هلاکيدل ښکاره وی يعنی قياسی وی لکه حيوان نو په هغې کښې ضمان نشته. او د کرم څيز هلاکيدل چه مخفی يا پټ وی لکه کپړه نو په دې کښې به ضمان واجب وی. (بذل عن الخطابي)

(١): سنن النسائي/الرقبي ١ (٣٧٤٦)، سنن ابن ماجه/الهبات ٣ (٢٣٨١)، (تحفة الأشراف: ٣٧٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥٠/١) (حسن صحيح الإسناد)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٢٧١) (صحيح الإسناد)

[۳۵۶۱](¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "عَلَى الْيَدِ مَا أَخَذَتْ حَتَّى تُؤَدِّيَ، ثُمَّ إِنَّ الْحَسَنَ نَسِيَ، فَقَالَ هُوَ: أَمِينُكَ لَا ضَمَانَ عَلَيْهِ".

سمره رضي الله عنه دنبی عليه السلام نه روایت کوی چه فرمائیل ئي دلاس په ذمه باندې دهغه څیز واپس کول دي کوم چه ده اخستلي زي ترڅوچه دغه څیز اداکړي ددینه پس د حسن نه هیر شوي دي هغه وئیلی دی تاسو چه کوم شي دجانه وغواړئ نوهغه ستا امانتداردي اوپه دې کس باندې ضمانت نشته.

شرح الحديث:

قوله: ﴿عَنْ قَتَادَةَ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ : عَلَى الْيَدِ مَا أَخَذَتْ حَتَّى تُؤَدِّىَ﴾ د يد نه مراد صاحب يد ، يعنى كوم سړې چه د چا څيز واخلى په سوال باندې نو هغه د هغه په ذمه دې تر څو چه هغه ادا نه كړى.

د ادا تعلق د عين ما وجب سره وى او د قضاء او ضمان تعلق د مثل ما وجب سره نو په دې حديث كښې د ادا ذكر دې نه د ضمان او قضاء چه د هغې تقاضا دا ده چه په عارية كښې ضمان نه وى شئ مستعار كه موجود او محفوظ دې نو د هغې واپس كول واجب دى او كه ضائع شي..... نو بيا د هغې مثل يعنى ضمان واجب نه دې.

پس د دې روايت حاصل دا شوچه ﴿العارية مؤداة﴾......... او كه عارية كښې ضمان وې نو د دې دپاره به داسې وې. ﴿العارية مضمونة﴾ حال دا چه د باب په آخرى حديث كښې تصريح ده چه عارية مضمونه نه ده بلكه مؤداة دې. بيا وړاندې روايت كښې دى ﴿ثم ان الحسن نسى فقال هو امينک لا ضمان عليه﴾ دا د قتاده رحمه الله كلام دې چه زمونږ استاد حسن به دا وئيل چه مستعير امين وى په هغه باندې ضمان واجب نه وى، قتاده دا بيان فرمائى چه كيدې شى زمونږ استاد خپل بيان كړې شوې حديث هير كړو يعنى ﴿على اليد ما اخذت الخ﴾ دا د قتاده خپل ګمان دې چه صحيح نه دې، هغوى دا ګنړلې ده چه حسن چه كوم مرفوع حديث نقل كړې دې هغه مقتضى دې ضمان د عارية ته. حال دا چه داسې نه ده، د احاديثو د الفاظو خپله تقاضه هم دا ده چه ضمان نه دى كيدل پكار. (بذل الايضاح) والحديث اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجه، قاله المنذرى

[۳۵۶۲](²) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، وَسَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ، عَنْ أُمَيَّةَ بْنِ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اسْتَعَارَ مِنْهُ أَدْرَاعًا يَوْمَ حُنَيْنٍ، فَقَالَ: أَغَصْبٌ يَا مُحَمَّدُ، فَقَالَ: لَا، بَلْ عَارِيَةٌ مَضْمُونَةٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذِهِ رِوَايَةُ يَزِيدَ، بِبَغْدَادَ، وَفِي رِوَايَتِهِ بِوَاسِطٍ تَغَيَّرَ عَلَى غَيْرِ هَذَا.

¹): سنن الترمذي/البيوع ۳۹ (۱۲٦٦)، سنن ابن ماجه/الصدقات ٥ (۲٤۰۰)، (تحفة الأشراف: ٤٥٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۲/٥، ۱۳)، سنن الدارمي/البيوع ٥٦ (۲٦۳۸) (ضعيف)

²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٩٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۰۱/۳، ٤٦٥/٦) (صحيح)

صفوان بن امیه دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه نبی ﷺ زمادپلارنه دغزوه حنین په ورځ زغري عاريتا اوغوښتلي هغه ورته اووئيل اې محمد په زور ئې اخلې نبي ﷺ اوفرمائيل نه، بلك عاريتاني غواړم او درته به ئې واپس کوم. امام ابوداؤد فرمائی دا روايت دهغه وخت دې کله چه يزيد په بغداد کښې وو اوکوم روايت چه به ده په واسط کښې بيانولو ددې دواړو په مينځ کښې تبديلي ده.

قوله: ﴿ عَنْ أُمَيَّةَ بْنِ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- اسْتَعَارَ مِنْهُ أَدْرُعًا يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ أَغَصْبٌ يَا مُحَمَّدُ فَقَالَ « لاَ بَلْ عَارِيَةٌ مَضْمُونَةٌ » ﴾

شرح الحديث :

اميه بن صفوان د خپل پلار صفوان بن اميه رضی الله عنه نه نقل کوی د غزوه حنين په موقع باندې رسول الله ﷺ د صفوان نه څو زغرې عارية واخستلې، نو د ورکړې په وخت ترې نه صفوان تپوس اوکړو يا محمد (ﷺ) تاسو دا زغرې د قبضې په طور اوړئ يا عارية؟ (دغه وخته پورې صفوان اسلام نه وو قبول کړې) رسول الله ﷺ اوفرمائيل د غصب په طور نه بلکه عارية، او عارية هم داسې چه ضمان به پکښې وی.

توجيه الحديث على مسلک الحنفية :

د دې حديث نه د قائلين ضمان تائيد کيږی. خو دا حديث د باب په آخر کښې هم راروان دې په هغې کښې داسې دی :

﴿ قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعَارِيَةٌ مَضْمُونَةٌ أَوْ عَارِيَةٌ مُؤَدَّاةٌ قَالَ « بَلْ مُؤَدَّاةٌ » ﴾

لهذا په داسې صورت کښې په ضمان باندې استدلال صحيح نه دې. او حضرت په بذل کښې د ﴿ بل عارية مضمونة ﴾ جواب دا ورکړې دې چه د رسول الله ﷺ دا اشاره قاعده کليه او په طور د بيان حکم شرعی نه ده بلکه چونکه صفوان دغه وخته پورې اسلام نه وو قبول کړې او هلته مسلمانانو ته د وسلې حاجت وو په دې وجه ئې خاص د دې موقعې په باره کښې رسول الله ﷺ دا فرمائيلې وو چه نه بلکه عارية به ضمان والا وی چه صفوان ئې په عارية ورکولو باندې مطمئن شی او د مسلمانانو وقتی ضرورت پوره شی او دا د دې خبرې دليل نه دې چه د ټولو عوارى حکم دا دې. اهـ چه د هغې قرينه دا ده چه په وړاندې روايت کښې دا راروان دی چه رسول الله ﷺ چه کومې زغرې د صفوان نه عارية اخستلې وې نو چه کله د هغې د واپس کولو وخت راغلو نو په هغې کښې څو زغرې په تعداد کښې کمې وې په دې باندې رسول الله ﷺ صفوان ته اوفرمائيل چه ستاسو څو زغرې ورکې شوې ﴿ فهل نعزم لک؟ قال لا يا رسول الله ﴾ يعنی رسول الله ﷺ اوفرمائيل آيا مونږ د هغې ضمان درکړو؟ هغه عرض اوکړو نه يا رسول الله ﷺ. ځکه چه زما په زړه کښې نن هغه خبره ده کومه چه هغه وخت نه وه. والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذری

[۳۵۶۳](¹) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ، عَنْ أُنَاسٍ مِنْ آلِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَفْوَانَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَا صَفْوَانُ، هَلْ عِنْدَكَ مِنْ سِلَاحٍ؟ قَالَ: عَارِيَةً، أَمْ غَصْبًا؟ قَالَ: لَا بَلْ عَارِيَةً، فَأَعَارَهُ مَا بَيْنَ الثَّلَاثِينَ إِلَى الْأَرْبَعِينَ دِرْعًا، وَغَزَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا، فَلَمَّا هُزِمَ الْمُشْرِكُونَ جُمِعَتْ دُرُوعُ صَفْوَانَ، فَفَقَدَ مِنْهَا أَدْرَاعًا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَفْوَانَ: إِنَّا قَدْ فَقَدْنَا مِنْ أَدْرَاعِكَ أَدْرَاعًا، فَهَلْ نَغْرَمُ لَكَ؟ قَالَ: لَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، لِأَنَّ فِي قَلْبِي الْيَوْمَ مَا لَمْ يَكُنْ يَوْمَئِذٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَانَ أَعَارَهُ قَبْلَ أَنْ يُسْلِمَ، ثُمَّ أَسْلَمَ.

عبدالعزيز دآل صفوان نه روايت كوى فرمائى چه نبى ﷺ فرمائيلى دى اې صفوان ايا څه اسلحه درسره شته؟ هغه عرض اوكړوپه جبر ئې غواړئ اوكه عاريتا نبى ﷺ اوفرمائيل زبردستي اوجبر نشته بلكه عاريتا ئې غواړو نوهغه ورته ديرش يا څلويښت زغري وركړې نبى ﷺ په غزوه حنين كښې جنګ اوكړو كله چه كفارونه شكست وركړې شو نودصفوان زغري راجمع كړې شوې په دې كښې يوڅو زغري ورې شوې وې نبى ﷺ اوفرمائيل اې صفوان زمونږ نه ستايوڅو زغري ورې شوي دي كه چرې ستاخوښه وي مونږ به درته دهغې تاوان دركړو؟ صفوان اووئيل هيڅ كله نه اې دالله رسوله نن زما په زړه كښې هغه خبره ده كومه چه په كښې مخكښې نه وه (يعنى مخكښې مشرك وم اوس مې اسلام قبول كړې دې.

[۳۵۶۴](²) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ رُفَيْعٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ نَاسٍ مِنْ آلِ صَفْوَانَ، قَالَ: اسْتَعَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

عطاء دصفوان په كورنۍ كښې ديوڅو كسانونه روايت كوى فرمائى چه نبى ﷺ يوڅوزغري عاريتا غوښتلي وې اوباقي روايت دتير شوي روايت په شان دې.

[۳۵۶۵](³) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ الْحَوْطِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ شُرَحْبِيلَ بْنِ مُسْلِمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَعْطَى كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ، فَلَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ، وَلَا تُنْفِقُ الْمَرْأَةُ شَيْئًا مِنْ بَيْتِهَا إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلَا الطَّعَامَ، قَالَ: ذَاكَ أَفْضَلُ أَمْوَالِنَا، ثُمَّ قَالَ: الْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ، وَالْمِنْحَةُ مَرْدُودَةٌ، وَالدَّيْنُ مَقْضِيٌّ، وَالزَّعِيمُ غَارِمٌ".

د ابوامامه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه دنبى ﷺ نه مې اوريدلى دى چه فرمائيل ئې الله تعالى هرحقدار ته خپل حق وركړې دې اوس دوارث دپاره وصيت كول جائزنه دي اويوه ښځه به دخپل كور نه څه شي نه خرچ كوي مګرپه اجازت دخاوند، عرض اوكړې شواي دالله رسوله ايا ډوډۍ به هم نه وركوي بغيراجازته؟ نبى ﷺ اوفرمائيل داخو په ټولو مالونوكښې غوره مال دې اوبيا ئې اوفرمائيل امانتي غوښتلي څيز واپس كول پكاردي اودپيودپاره چه لنګ څاروې غوښتلې شوې وې هغه هم واپس كول پكاردي اودقرض ادا كول ضروري دى اودچا ذمه واري قبلونك ضامن دې يعنى څوك چه دكوم شي ذمه واري واخلي دهغې أداكول لازمي دي.

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٩٤٥) (صحيح)
²): انظر حديث رقم: (٣٥٦٢)، (تحفة الأشراف: ٤٩٤٥)(صحيح)
³): سنن الترمذي/الزكاة ٣٤ (١٢٦٥)، الوصايا ٥ (٢١٢٠)، سنن ابن ماجه/الوصايا ٦ (٢٧١٣)، (تحفة الأشراف: ٤٨٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٦٧/٥) (صحيح)

قوله: ﴿ الْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ وَالْمِنحَةُ مَرْدُودَةٌ وَالدَّيْنُ مَقْضِيٌّ وَالزَّعِيمُ غَارِمٌ ﴾

یعنی د عاریة څیز لره د هغې مالک ته رسول ضروری دی دغه شان د منیحه مالک ته واپس کول ضروری دی، د منیحه ذکر ډیر کرته راغلي دي یعنی د پیو والا څاروې، یا میوه داره اونه چه کومه د څو ورځو دپاره چاته د انتفاع دپاره ورکړې شی. او د دین ادا کول واجب دی او کفیل ضامن وی ږزعامه په معنی د کفالت، او غارم ماخوذ دې د غرم نه چه د هغې معنی ده د شئ لازم ادا کول.

والحديث اخرجه الترمذي وابن ماجه مختصرا، قاله المنذري

[۳۵٦٦](١) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُسْتَمِرِّ الْعُصْفُرِيُّ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَتَتْكَ رُسُلِي فَأَعْطِهِمْ ثَلَاثِينَ دِرْعًا وَثَلَاثِينَ بَعِيرًا، قَالَ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَعَارِيَةٌ مَضْمُونَةٌ، أَوْ عَارِيَةٌ مُؤَدَّاةٌ؟، قَالَ: بَلْ مُؤَدَّاةٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: حَبَّانُ خَالُ هِلَالٍ الرَّأْيِ.

صفوان بن یعلی دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام راته فرمائیلی دی کله چه درته زما استاذې درشي نودیرش زغري ورکړه اودیرش أوښان هم ورکړه صفوان وائی ماووئیل اې دالله رسوله دعاریت په طورئې درکړم دکومې چه ضمان لازمی وي اوکه دهغه عاریت په طورئې درکړم کوم چه مالك ته واپس کیږې نبی علیه السلام اوفرمائیل دهغه عاریت په طورئې راکړه کوم چه مالك ته واپس کولې شي.

قوله: ﴿ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى عَنْ أَبِيهِ ﴾

په دې روایت کښې داسې دی چه د هغې نه معلومیږی چه صاحب قصه او په عاریة باندې ورکولو والا یعلی وو. حال دا چه په تیر روایت کښې دی چه هغه صفوان بن یعلی وو. ولم يتعرض له في شئ من الشروح التي بايدينا فليفتش..... والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

باب فِيمَنْ أَفْسَدَ شَيْئًا يَغْرَمُ مِثْلَهُ

باب: کوم سړې چه د چا څیز خراب یا ضائع کړی نو دهغه شي په شان څیز د ورکولو ذمه واردې

د وجوب ضمان قاعده:

په دې ترجمة الباب سره د مصنف غرض ضمان المتلفات لره بیانول دی. او ضابطه د هغې دا ده چه د څیزونو دوه قسمونه دی ذوات الامثال او ذوات القیم، د قسم اول په ضمان کښې مثل واجب دې یعنی مثل حسی، او په قسم ثانی کښې مثل معنوی واجب وی یعنی قیمت، مکیلات او موزونات دا ټول ذوات الامثال دی، او حیوانات په ذوات القیم کښې دی.

[۳۵٦٧](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "كَانَ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ، فَأَرْسَلَتْ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ مَعَ خَادِمِهَا بِقَصْعَةٍ

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٨٤١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٢/٤) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/المظالم ٣٤ (٢٤٨١)، والنكاح ١٠٧ (٥٢٢٥)، سنن الترمذي/الأحكام ٢٣ (١٣٥٩)، سنن النسائي/عشرة النساء ٤ (٣٤٠٧)، سنن ابن ماجه/الأحكام ١٤ (٢٣٣٤)، (تحفة الأشراف: ٦٣٣، ٨٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٥/٣، ٢٦٣)، سنن الدارمي/البيوع ٥٨ (٢٦٤٠) (صحيح)

فِيهَا طَعَامٌ، قَالَ: فَضَرَبَتْ بِيَدِهَا، فَكَسَرَتِ الْقَصْعَةَ، قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى: فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكِسْرَتَيْنِ فَضَمَّ إِحْدَاهُمَا إِلَى الْأُخْرَى فَجَعَلَ يَجْمَعُ فِيهَا الطَّعَامَ وَيَقُولُ: غَارَتْ أُمُّكُمْ "، زَادَ ابْنُ الْمُثَنَّى، كُلُوا فَأَكَلُوا حَتَّى جَاءَتْ قَصْعَتُهَا الَّتِي فِي بَيْتِهَا، ثُمَّ رَجَعْنَا إِلَى لَفْظِ حَدِيثِ مُسَدَّدٍ، قَالَ: كُلُوا، وَحَبَسَ الرَّسُولَ وَالْقَصْعَةَ حَتَّى فَرَغُوا، فَدَفَعَ الْقَصْعَةَ الصَّحِيحَةَ إِلَى الرَّسُولِ، وَحَبَسَ الْمَكْسُورَةَ فِي بَيْتِهِ.

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام دخپلوب بيانونه ديوي تني په كور كښي وونويوي ام المومنين ورته دخپل خادم په لاس باندي يوه كاسه وليږله چه دخوراك څه شي پکښې ووراوی وائی چه هغې ام المومنين دچاپه كوركښي چه نبي عليه السلام تشريف فرماوو كاسه په لاس باندي ووهله اوماته شوه ، دابن المثنى په روايت كښي دی چه دكاسي دواړه ټکړې (ډکرې) نبي عليه السلام راواخستلې او يوځائي ئې كړې اوشروع شوچه طعام ئې پکښې راټولولو اوفرمائيل ئې چه ستاسو مور غيرت كړې دي ابن المثنى دا اضافه كړې ده چه نبي عليه السلام اوفرمائيل خورئ نوهغوی وخوړل تردې چه هغې دخپل كور كاسه راوړله باقي الفاظ دمسدد دروايت دي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل خورئ ، كاسه اوخادم ئې ايسار كړوتردې چه دوی دخوراك نه فارغ شول بيا ئې خادم ته بله روغه كاسه وركړه اوماته شوې ئې په خپل كوركښي ايساره كړه.

د رسول الله ﷺ د كمال حسن معاشرت حكايت :

قوله:﴿ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– كَانَ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ فَأَرْسَلَتْ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ الخ ﴾

د بعض نساء نه مراد عائشه رضي الله عنها ده، يعني يو كرت رسول الله ﷺ د عائشې رضي الله عنها په نمبر كښې د هغې سره وو نو د رسول الله ﷺ په بيبيانو كښې يو زوجه محترمه (قيل هي صفيه او حفصة او ام سلمة، ويحتمل تعدد الواقعة) د خپل خادم سره يو پليټ راوليږلو چه په هغې كښې خوراك وو. چه كله خادم د هغه خوراك سره دننه داخل شو نو عائشې رضي الله عنها په هغې باندې خپل لاس اوهلو چه په هغې سره هغه پليټ غورځيدو سره مات شواو دوه ټکړې شو. رسول الله ﷺ هغه دواړه ټکړې اوچتې كړې او خپل مينځ كښې يو ځائې كولو سره ئې هغه غورځيدلې خوراك په هغې كښې جمع كول شروع كړل او بغير د څه ناراضګئ د اظهار او غصې نه ئې دعائشې رضي الله عنها دطرف نه په طور د معذرت داسې اوفرمائيل ﴿ غارت امكم ﴾ چه ستاسو مور ته د بل ذكور نه په خوراك راتلو باندې غيرت راغلو (او د بنو خپل مينځ كښې غيرت او تنافس معروف دې كوم چه يو فطرى څيز دې چه په هغې كښې انسان مجبور كيږی. رسول الله ﷺ هم د عائشې رضي الله عنها دا فعل په غيرت ضرائر باندې محمول كولو سره هيڅ او نه فرمائيل او ډير د حكمت عملئ نه ئې كار واخستلو (اصل كښې د سرې د جوش او غصې په وخت هغه ته نصيحت مفيد نه وی په دې وجه رسول الله ﷺ هيڅ نصيحت او تنبيه اونكړه، روستو چه د هغې غصه او بهراس اوتلو نو هغې خپله معافى اوغوښتله بلكه د كفارې صورت لټول ئې شورع كړل په دې حديث كښې ډير لوئې سبق دې د حسن معاشرت او مكارم اخلاق او د زنانو د جذباتو د رعايت، سره د هغوی د فهمائش او خبرداری كولو

نه، صلى الله عليه وسلم اللهم وفقنا لمكارم الاخلاق التى بعث لاتمامها نبينا ﷺ) پس د هغې اثر فورا دا اوشو چه عائشه رضي الله عنها شرمنده شوه او وې وئيل ﴿يا رسول الله ﷺ ما كفارة ما صنعت؟﴾ يعنى څه چه ما اوکړل د هغې د کفارې به څه صورت وی؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿اناء مثل اناء وطعام مثل طعام﴾ پس عائشې رضي الله عنها د دننه يو بل پليټ په بدل کښې راوړلو، پس د دې مات شوی پليټ په بدله کښې هغه صحيح پليټ د هغه قاصد په لاس چا چه خوراک راوړلې وو اوليږلې شو. وړاندې په بل روايت کښې دا هم دی: عائشه رضي الله عنها فرمائی چه ما د صفيې رضي الله عنها په شان خوراک جوړونکې زنانه نه ده ليدلې. هغوی فرمائی چه کله هغې خوراک تيار کړو او رسول الله ﷺ ته ئې راوليږلو ﴿فاخذنى افكل﴾ نو ماله سخته غصه راغله.
مونږ د ترجمة الباب په تشريح کښې وئيلي وو چه د مصنف رحمه الله غرض دې باب سره ضمان المتلفات لره بيانول دی خو قصعه او طعام په ذوات الامثال کښې نه دی. لهذا په دې کښې ضمان بالمثل نه دې بلکه بالقيمة دی. خو چونکه دا حقيقة ضمان نه وو ځکه چه دواړه پليټونه د رسول الله ﷺ ملک وو، د کورونو اکثر سامان د خاوند ملکيت وی، بلکه مقصود په دې سره د صفيې رضي الله عنها خيال ساتل وو پس په دې کښې هيڅ اشکال نشته.
حديث انس رضي الله عنه اخرجه البخارى والترمذى والنسائى وابن ماجه، وحديث عائشه رضي الله عنها اخرجه النسائى، قاله المنذرى

[٣٥٦٨](¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي فُلَيْتٌ الْعَامِرِيُّ، عَنْ جَسْرَةَ بِنْتِ دَجَاجَةَ، قَالَتْ: قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: "مَا رَأَيْتُ صَانِعًا طَعَامًا مِثْلَ صَفِيَّةَ صَنَعَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا، فَبَعَثَتْ بِهِ فَأَخَذَنِي أَفْكَلٌ فَكَسَرْتُ الْإِنَاءَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا كَفَّارَةُ مَا صَنَعْتُ؟ قَالَ: إِنَاءٌ مِثْلُ إِنَاءٍ، وَطَعَامٌ مِثْلُ طَعَامٍ".

دجسرة بنت دجاجة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه ام المومنين عائشة رضي الله عنها اوفرمائيل داسې خوراک تيارونکې مې چرته نده ليدلې څنګه چه به ام المومنين صفية رضي الله عنها تيارلو، هغې دنبی عليه السلام دپاره خوراک تيار کړې وو اوهغې ورته راوليږلو اوماته غصه راغله اودغصې نه مې لوښې مات کړو نبی عليه السلام ته مې عرض وکړوزما ددې عمل دپاره کفاره څه شې دې؟نبی عليه السلام اوفرمائيل دلوښې په عوض کښې ددې لوښې په شان لوښې اودخوراک په بدل کښې ددې خوراک په شان بل خوراک.

بَابُ الْمَوَاشِي تُفْسِدُ زَرْعَ قَوْمٍ
کله چه دچا څاروی دچا فصل خراب کړی

[٣٥٦٩](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ حَرَامِ بْنِ مُحَيِّصَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ نَاقَةً لِلْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ دَخَلَتْ حَائِطَ رَجُلٍ، فَأَفْسَدَتْهُ عَلَيْهِمْ، "فَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَهْلِ الْأَمْوَالِ حِفْظَهَا بِالنَّهَارِ، وَعَلَى أَهْلِ الْمَوَاشِي حِفْظَهَا بِاللَّيْلِ".

¹): سنن النسائي /عشرة النساء ٤ (٣٤٠٩)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٢٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٨/٦، ٢٧٧) (ضعيف)
²): سنن ابن ماجه/الأحكام ١٣ (٢٣٣٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٥٣، ٢٣٣٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣٦/٥)، موطا امام مالك/الأقضية ٢٨(٣٧) (صحيح)

حرام بن محیصه دخپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه دبراء بن عازب رضی الله عنه اوښ دیو کس باغ ته داخل شوي وو او وفصل ئې خراب کړي وو، نوددې متعلق نبی علیه السلام فیصله اوکړله چه دڅاروو دورځې دوخت دنقصان ذمه وار دفصل مالك دې او دشپې په وخت کښې دنقصان ذمه وارد ارور مالك دې.

قوله: ﴿ أَنَّ نَاقَةً لِلْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ دَخَلَتْ حَائِطَ رَجُلٍ فَأَفْسَدَتْهُ عَلَيْهِمْ فَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى أَهْلِ الأَمْوَالِ حِفْظَهَا بِالنَّهَارِ وَعَلَى أَهْلِ الْمَوَاشِي حِفْظَهَا بِاللَّيْلِ ﴾

د براء بن عازب رضی الله عنه اوښه د یو کس باغ ته لاړه او هغه ئې خراب کړو. نو په دې موقع باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم فیصله اوفرمائیله چه د باغ او پټو والا په ذمه دی د خپلو باغونو او پټو حفاظت کول د ورځې، او د څاروو والا په حق کښې ئې دا فیصله اوکړه چه د هغوی په ذمه ده چه د خپلو څاروو حفاظت اوکړی د شپې په وخت یعنی څاروی خو دې د شپې تړلې اوساتلې شی چه د چا باغ او پټې خراب نه کړی، او د ورځې د پټې والو ذمه داری ده چه هغوی د خپل پټی حفاظت پخپله اوکړی.

مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

د دې حدیث نه معلومیږی چه که د شپې د چا څاروو د یو بل سړی پټې خراب کړی نو په هغه باندې به د دې ضمان واجب وی، که نقصان د شپې شوې وی نو بیا په اهل مواشی باندې هیڅ ضمان نشته، د جمهورو مذهب هم دا دې، د احنافو په نزد د شپې او د ورځې په دې کښې هیڅ فرق نشته ﴿ لحدیث العجماء جرحها جبار ﴾ دا حدیث د حدیث الباب نه زیات صحیح دې او متفق علیه یعنی د صحیحینو روایت دې او حدیث الباب د سنن روایت دې خو یو شرط د ضمان بل دې او هغه متفق علیه دې او هغه دا دې چه د دې څاروو سره سائق (څرونکې) نه وی. که سائق (څرونکې) وو نو په دې صورت کښې به ضمان وی ځکه چه په دې صورت کښې به هغه فعل دابه (افساد وغیره) د سائق طرف ته منسوب کیږی. او په کوم صورت کښې چه د څاروو سره سائق (څرونکې) نه وی هغه وخت به د فعل دابه نسبت دابه طرف ته کیږی، او په حدیث کښې فعل دابه ته جبار او عفو کړې شوې ده. لهذا د ضمان او عدم ضمان دپاره خو دا قید بالاتفاق معتبر دې خو دا د ورځې او د شپې والا خبره مختلف فیه ده. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری

[۳۵۷۰] (¹) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْفِرْيَابِيُّ، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ حَرَامِ بْنِ مُحَيِّصَةَ الأَنْصَارِيِّ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: كَانَتْ لَهُ نَاقَةٌ ضَارِيَةٌ فَدَخَلَتْ حَائِطًا، فَأَفْسَدَتْ فِيهِ فَكُلِّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا، فَقَضَى أَنَّ حِفْظَ الْحَوَائِطِ بِالنَّهَارِ عَلَى أَهْلِهَا وَأَنَّ حِفْظَ الْمَاشِيَةِ بِاللَّيْلِ عَلَى أَهْلِهَا وَأَنَّ عَلَى أَهْلِ الْمَاشِيَةِ مَا أَصَابَتْ مَاشِيَتُهُمْ بِاللَّيْلِ.

حرام بن محیصه انصاری دبراء بن عازب رضی الله عنه نه روایت کوی فرمائی چه دبراء بن عازب رضی الله عنه دضاریه په نوم باندې یو اوښ وو او دیو کس باغ ته داخل شوي وو او وفصل ئې خراب کړي وو، نوددې متعلق دنبی علیه السلام سره خبرې وکړي شوې، نبی علیه السلام فیصله اوکړله چه دفصل

(¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۷۵۳) (صحیح)

حفاظت دورځې په وخت کښې دخپل مالك په ذمه دي او د شاروو حفاظت دشپې په وخت کښې دخپل مالك په ذمه دي.

﴿عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ كَانَتْ لَهُ نَاقَةٌ ضَارِيَةٌ﴾ ناقه ضاريه هغه اوښه چه د پرانستلې کيدوپه وجه باندې دخلقو په پټو کښې د څريدو عادت وي، براء بن عازب رضي الله عنه خپله دا واقعه په خپله بيان کړه چه د هغوی يو اوښه داسې وه او بيا رسول الله ﷺ داسې فيصله فرمائيلې وه. والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

﴿ اخر كتاب البيوع ﴾

....

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب الأقضية

د قضاوتونو (فيصلو كولو) بيان

او په بعض نسخو کښې دي ﴿ كتاب الاقضية ﴾ امام ترمذی رحمه الله د كتاب البيوع نه پس كتاب الاحكام عنوان قائم کړې دي او مصنف د كتاب القضاء، د دواړو حاصل يو دي. صرف د تعبير فرق دې ځکه چه د احكام نه مراد په ترمذی کښې احكام قاضی دی، لهذا د دواړو حاصل يو شو. په كتاب البيوع او قضاء کښې مناسبت ښكاره دې هغه دا چه بيوع او معاملاتو کښې ډير کرته اختلافات ښكاره كيږي چه د هغې د فيصلې دپاره د قاضی طرف ته رجوع کولې شي. د كتاب الاحكام عنوان په صحيح بخاری کښې هم دي کوم چه هغوی د تقريبا د كتاب په آخير کښې د كتاب الفتن نه پس ذكر کړې دي.

بَابٌ فِي طَلَبِ الْقَضَاءِ

د قضاء د منصب د مطالبې کولو بيان

[٣٥٧١]([1]) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا فُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ وَلِيَ الْقَضَاءَ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: څوك چه قاضی مقرر کړې شونو گرياکښې داسې ده لکه چه بغير چاړې ذبحه کړې شوې وی.

شرح الحديث:

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ وَلِيَ الْقَضَاءَ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ » ﴾ په الكوكب الدری کښې د ﴿ فقد ذبح بغير سكين ﴾ معنی دا ليکلې شوې ده چه هغه د هميشه دپاره په مصيبتونو کښې اخته شو. بغير سكين سره دې طرف ته اشاره ده. ځکه چه کومه ذبح په سكين سره كيږی هغه د لږ ساعت مصيبت او تكليف وی، او کله چه بغير د سكين نه كيږی نو په هغې کښې مشقت ډير اوږد وی. بيا د دې اوږد مشقت نه پس

[1]: سنن الترمذي/الأحكام ۲ (۱۳۲۵)، (تحفة الأشراف: ۱۳۰۰۲)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الأحكام ۱ (۲۳۰۸)، مسند احمد (۳۶۵/۲) (صحيح)

دوه صورتونه دی یا خو به د خپلې ديندارئ او انصاف د وجې نه د لوئې ثواب مستحق وی یا به په فیصلو کښې ظلم کولو سره د دنیا سره سره آخرت هم ختم کړی. آهـ او امام خطابی رحمه الله د بغیر سکین یو معنی دا هم کړې ده چه دا ئې په دې وجه اوفرمائیل چه معلومه شی چه د رسول الله ﷺ په کلام کښې د ذبح او هلاکت نه حسی نه دې مراد بلکه هلاکت معنوی یعنی دینی نقصان مراد دې، او علامه سندهی په فتح الودود حاشیه د ابوداؤد کښې لیکلی دی چه دا جمله صورة خبریه ده خو معنی ئې د انشاء ده، یعنی کوم سړې چه قاضی کړې شی هغه لره پکار دی چه هغه خپل دننه خواهشات نفسانیه ذبح کړی او خپل نفس دې د خپو لاندې کړی هله به هغه په صحیح معنو کښې خپل فرائض منصبی سر ته اورسولې شی. او یا دا د عهده قضاء مذمت دې چه په دې کښې رغبت نه دی کول پکار ځکه چه په دې کښې لویه خطره هلاکت دې. والحدیث اخرجه الترمذی قاله المنذری

[۳۵۷۲](۱) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مُحَمَّدٍ الْأَخْنَسِيِّ، عَنِ الْمَقْبُرِيِّ، وَالْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ جُعِلَ قَاضِيًا بَيْنَ النَّاسِ، فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ".

ترجمه: دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ځوک چه قاضی مقرر کړې شو دپاره دفیصلو کولو په مینځ دخلقوکښې نویقینا دې بغیر چاړې نه ذبحه کړې شو.

بَابٌ فِي الْقَاضِي يُخْطِئُ

که چرې قاضی په فیصله کولوکښې خطاء شی

[۳۵۷۳](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَسَّانَ السَّمْتِيُّ، حَدَّثَنَا خَلَفُ بْنُ خَلِيفَةَ، عَنْ أَبِي هَاشِمٍ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ: وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ، وَاثْنَانِ فِي النَّارِ، فَأَمَّا الَّذِي فِي الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَى بِهِ، وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ فَهُوَ فِي النَّارِ، وَرَجُلٌ قَضَى لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ فِي النَّارِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا أَصَحُّ شَيْءٍ فِيهِ، يَعْنِي حَدِيثَ ابْنِ بُرَيْدَةَ الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ.

ابوبریدة دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه نبی علی الصلاة والسلام فرمائیلي دي: درې کسان داسې دي چه یوبه ددوی نه په جنت کښې وي اودوه به په اورکښې وي نوپه جنت کښې به هغه کس وی چاچه حق پېژندلي وي او په هغې باندې ئې فیصله کړې وی، بل هغه کس دې چاچه حق پېژندلي وي او په خپله فیصله کښې ئې دظلم نه کار اخستلي وي نودا قسم قاضی به په اورکښې وي، او بل هغه کس دي ځوک چه دجهالت په بنیاد دخلقوفیصلې کوي نوداسې قاضی به هم په اورکښې وي.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « الْقُضَاةُ ثَلاَثَةٌ وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِي النَّارِ الخ ﴾

(۱): سنن ابن ماجه/الأحکام ۱ (۲۳۰۸)، (تحفة الأشراف: ۱۲۹۹۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۶۵) (صحیح)

(۲): سنن ابن ماجه/الأحکام ۳ (۲۳۱۵)، (تحفة الأشراف: ۲۰۰۹)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأحکام ۱ (۱۳۲۲) (صحیح)

د دې حدیث حواله په کتاب الخراج باب فی العرافة کښې تیره شوې ده.
یعنی د قاضی درې قسمونه دی چه په هغوی کښې به یو قسم خو جنت ته ځی او دوه به جهنم ته ځی یو هغه قاضی دې کوم چه حق پیژندلو سره د هغې مطابق فیصله اوکړی، او دویم قسم هغه دې چه چا د حق د پیژندګلو نه باوجود د هغې خلاف فیصله اوکړه، او دریم قسم هغه دې چه د سره ئې حق او نه پیژندلو، دا دواړه قسمونه جهنمیان دی.
والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری

[۳۵۷٤]([1]) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنِي يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي قَيْسٍ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ، فَاجْتَهَدَ فَأَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ فَأَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ". فَحَدَّثْتُ بِهِ أَبَا بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ، فَقَالَ: هَكَذَا حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

د عمروبن العاص رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: کله چه بوحاکم دغور اوفکرکولونه پس دخلقود معاملاتو فیصله وکړله اوفصیله ئې صحیح وه نودداسې حاکم دپاره دوچند اجردي اوچاچه دغور اوفکرنه پس فیصله وکړله لیکن دخطاکیدو په وجه حق ته ونه رسید ونودده دپاره یو اجردي۔

﴿عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ فَأَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ الخ ﴾

یعنی کله چه یو حاکم فیصله اوکړی په خپل اجتهاد سره (یعنی فروغ محتمله غیر منصوصه کښې) او د هغه اجتهاد صحیح وو یعنی د اصل حکم شرعی موافق وو نو د هغه دپاره دوه اجرونه دی یو اجر د اجتهاد او بل اجر الاصابة. او که حاکم د اجتهاد نه پس فیصله اوکړه چه په هغې کښې ترې نه خطاء واقع شوه او اصل حکم شرعی ته او نه رسیدله نو بیا هم د هغه دپاره اجر دې خو یو یعنی د اجتهاد اجر ځکه چه د قاضی او مفتی اجتهاد د هغه عبادت دې. او کومه خطا چه د هغه نه اوشوه هغه معاف کولې شی.
والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه مطولا ومختصرا، قاله المنذری

[۳۵۷۵]([2]) حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا مُلَازِمُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ نَجْدَةَ، عَنْ جَدِّهِ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَهُوَ أَبُو كَثِيرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ طَلَبَ قَضَاءَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى يَنَالَهُ، ثُمَّ غَلَبَ عَدْلُهُ جَوْرَهُ فَلَهُ الْجَنَّةُ، وَمَنْ غَلَبَ جَوْرُهُ عَدْلَهُ فَلَهُ النَّارُ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چه دمسلمانانو قاضی جوړیدل غواړي تردې چه ده ته دقضا منصب حواله کړې شي اوبیادده په ظلم باندې دده، انصاف غالب شي نودداسې قاضی دپاره جنت دې، اودکوم قاضی په انصاف باندې چه ظلم غالب شي نودده دپاره به دجهنم اور وي.

[1]): صحیح البخاري/الاعتصام ۲۱(۷۳۵۲)، صحیح مسلم/الأقضیة ٦ (۱۷۱٦)، سنن ابن ماجه/الأحکام ۳ (۲۳۱٤)، (تحفة الأشراف: ۱۵٤۳۷، ۱۰۷٤۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۱۹۸، ۲۰٤) (صحیح)
[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٤۸٤۵) (ضعیف)

شرح الحديث :

قوله: ﴿مَنْ طَلَبَ قَضَاءَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى يَنَالَهُ ثُمَّ غَلَبَ عَدْلُهُ جَوْرَهُ فَلَهُ الْجَنَّةُ وَمَنْ غَلَبَ جَوْرُهُ عَدْلَهُ فَلَهُ النَّارُ ﴾ په بذل کښې د دې حديث په شرح کښې ليکلي دی چه اگر چه د عهده قضاء طلب مکروه او مذموم دې خو يو سړی دا مذموم عهده حاصله هم کړه او بيا د هغه عدل او انصاف د هغه په ظلم او زياتی باندې غالب وو نو د هغه دپاره جنت دې او هغه کامياب دې او د چا ظلم چه د هغه په انصاف باندې غالب وو نو دهغه دپاره اور دې. اهـ ﴿ثم غلب عليه جوره﴾ په ظاهر کښې ئې دا مطلب دې چه د دې قاضی صفت عدل په صفت جور باندې غالب پاتې شو يعنی په هره فيصله کښې د هغه عدل په ناانصافئ باندې غالب پاتې او دا مطلب ئې نه دې چه د کوم قاضی زياتې فيصلې په عدل او انصاف باندې مبنی وی او بعض په غير انصاف باندې نو د هغه دپاره د جنت زيرې دې. والله تعالى اعلم

[٣٥٧٦](١) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ بْنِ أَبِي يَحْيَى الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَبِي الزَّرْقَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ إِلَى قَوْلِهِ الْفَاسِقُونَ سورة المائدة آية ٤٤-٤٧ هَؤُلَاءِ الْآيَاتِ الثَّلَاثِ نَزَلَتْ فِي الْيَهُودِ خَاصَّةً فِي قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرِ".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه لاندې ذکرشوې درې اياتونه : «ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون» ديهوديانو په باره کښې نازل شوي دي او خصوصا دبنی قريظة اوبنی النضير په باره کښې.

بَابٌ فِي طَلَبِ الْقَضَاءِ وَالتَّسَرُّعِ إِلَيْهِ

په فيصله کولو کښې د جلتئ کولو او د قضاء دمنصب دخواهش کولو بيان

[٣٥٧٧](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ رَجَاءٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ بِشْرٍ الْأَنْصَارِيِّ الْأَزْرَقِ، قَالَ: "دَخَلَ رَجُلَانِ مِنْ أَبْوَابِ كِنْدَةَ، وَأَبُو مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيُّ جَالِسٌ فِي حَلْقَةٍ، فَقَالَا: أَلَا رَجُلٌ يُنَفِّذُ بَيْنَنَا؟ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْحَلْقَةِ: أَنَا، فَأَخَذَ أَبُو مَسْعُودٍ كَفًّا مِنْ حَصًى فَرَمَاهُ بِهِ، وَقَالَ: مَهْ إِنَّهُ كَانَ يُكْرَهُ التَّسَرُّعُ إِلَى الْحُكْمِ".

دعبدالرحمن بن بشر انصاری نه روايت دې فرمائی چه دکنده قبيلې دوه کسانو مسجد ته خپله مقدمه په داسې وخت کښې راوړله کله چه ابومسعود انصاری نه په مسجد کښې په حلقه کښې ناست وو دوی دواړو اووئيل ايا داسې څوک شته چه زمونږ فيصله وکړي نودحلقې والانه يوکس ورته اووئيل زه به ستاسو فيصله وکړم، ابن مسعود قه يوموټې کاڼري راواخستل او دې بې ورباندې اوويشتلو او وئې وئيل لږ صبرخو وکړه، ابن مسعود نه به په فيصله کولوکښې جلتې کول بدګڼرل (ځکه چه په جلتئ کولوسره دغلطی امکان زيات وی).

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٥٨٢٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٨، ٢٧١) (حسن، صحيح الإسناد)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٩٩٧) (ضعيف الإسناد)

[۳۵۷۸](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنْ بِلَالٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ طَلَبَ الْقَضَاءَ وَاسْتَعَانَ عَلَيْهِ وُكِلَ إِلَيْهِ، وَمَنْ لَمْ يَطْلُبْهُ وَلَمْ يَسْتَعِنْ عَلَيْهِ أَنْزَلَ اللَّهُ مَلَكًا يُسَدِّدُهُ"، وقَالَ وَكِيعٌ: عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ بِلَالِ بْنِ أَبِي مُوسَى، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وقَالَ أَبُو عَوَانَةَ: عَنْ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ بِلَالِ بْنِ مِرْدَاسٍ الْفَزَارِيِّ، عَنْ خَيْثَمَةَ الْبَصْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ.

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل ئې ځوك چه دقضامنصب طلب كړې اووددې منصب دحاصلولو دپاره دخلقو نه امداد غواړې نودابه ده ته حواله كړې شي په داسې حال كښې چه دالله تعالى امداد به ورسره نه وي او ځوك چه ددې منصب دحاصلولو مطالبه نه كوي اونه دخلقونه سفارشونه غواړی نوالله تعالى به يوه فرښته نازله كړې ځوك چه به رده معاملات درست كوی.

[۳۵۷۹](2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا قُرَّةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنِي أَبُو بُرْدَةَ، قَالَ: قَالَ أَبُو مُوسَى، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَنْ نَسْتَعْمِلَ أَوْ لَا نَسْتَعْمِلُ عَلَى عَمَلِنَا مَنْ أَرَادَهُ".

دابوموسى رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمايلي دې مونږ به خپل كار(قضاء) كښې هغه ځوك نه مقرروو ځوك چه ددې غوښتنه كوی.

﴿ قَالَ أَبُو مُوسَى قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- « لَنْ نَسْتَعْمِلَ - عَلَى عَمَلِنَا مَنْ أَرَادَهُ » ﴾
دا حديث دلته مختصر دې د كتاب الحدود په شروع كښې مفصلا راروان دې. او د دې نه مخكښې هم د دې ذكر په كتاب الطهارة كښې په ﴿ باب كيف يستاك ﴾ كښې راغلې دې. او د نسائی شريف په شروع كښې په ابواب الوضوء كښې روايت مفصله ذكر شوې دې.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی بطوله، اخرجه ابوداؤد فی كتاب الحدود بطوله، قاله المنذری

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الرِّشْوَةِ
د رشوت د ممانعت بيان

[۳۵۸۰](3) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: "لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ".

دعبدالله بن عمرونه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام په رشوت اخستونكې او رشوت وركونكې باندې لعنت فرمائيلې دې.

1): سنن الترمذي/الأحكام ۱ (۱۳۲۳)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۱ (۲۳۰۹)، (تحفة الأشراف: ۲۵٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۱۸/۳، ۲۲۰) (ضعيف)

2): صحيح البخاري/الإجارة ۱ (۲٦٦۱)، المرتدين ۲ (٦۹۲۳)، صحيح مسلم/الإمارة ۳ (۱۷۳۳)، سنن النسائي/الطهارة ٤ (٤)، (تحفة الأشراف: ۹۰۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤۰۹/٤)، وأعاده المؤلف في الحدود (٤۳٥٤) (صحيح)

3): سنن الترمذي/الأحكام ۹ (۱۳۳۷)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۲ (۲۳۱۳)، (تحفة الأشراف: ۸۹٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱٦٤/۲، ۱۹۰، ۱۹٤، ۲۱۲) (صحيح)

قوله: ﴿ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ ﴾
راشي رشوت ورکونکي. او مرتشي رشوت اخستونکي. ﴿ والرشوة مثلثة الراء ما يعطى لا بطال حق او يعطى لا حقاق باطل ﴾ د رشوت ذکر او دا تعريف په کتاب الخراج ﴿ باب في كراهية الافتراض في اخر الزمان ﴾ کښي تير شوي دي،
والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری

بَابٌ فِي هَدَايَا الْعُمَّالِ

قاضيانو ته د تحفو ملاويدو احکام

اوس څو بابونه مخکښي يو باب تير شو ﴿ باب في قبول الهدايا ﴾ په هغه باب کښي د موجوده ترجمة الباب حواله او د دې نه مخکښي په کتاب الخراج کښي د ﴿ هدايا العمال ﴾ يو باب تير شوي دې د تولو حواله په تير باب کښي راغلي ده.

[۳۵۸۱] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، حَدَّثَنِي قَيْسٌ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَدِيُّ بْنُ عُمَيْرَةَ الْكِنْدِيُّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ لَنَا عَلَى عَمَلٍ فَكَتَمَنَا مِنْهُ مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ فَهُوَ غُلٌّ يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، أَسْوَدُ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اقْبَلْ عَنِّي عَمَلَكَ، قَالَ: وَمَا ذَاكَ؟، قَالَ: سَمِعْتُكَ تَقُولُ: كَذَا وَكَذَا، قَالَ: وَأَنَا أَقُولُ ذَلِكَ مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ فَلْيَأْتِ بِقَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ، فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَهُ وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهَى".

دعدي بن عميرة الكندي نه روايت دې فرمائي چه نبی ﷺ اوفرمائيل اې خلقو زمونږ دطرفه چه په تاسو کښي څوک عامل (قاضي ياحاکم) مقرر شي او هغه ديوي ستني په برابر يو څيز پټ کړي نودې په خيانت کرنکو کښي داخل شو اودغه حاکم به دقيامت په ورځ ددغه شي سره پيش کيږي په دې وخت کښي دانصارونه يوتور رنګ والا سړې پاڅيدو راوی وائي لکه چه زه ئې اوس هم وينم او عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله ته زمانه دخپل کار زمه واري واپس واخله نبی ﷺ اوفرمائيل ته څه وائې؟ هغه اووئيل ستانه مې دا داخبرې واوريدي چه تاوئيل نبی ﷺ اوفرمائيل دا خبره خو زه اوس هم کوم چه په مونږ کښي يوکس دڅه کاردپاره وليږلې شي برابره خبره ده چه کار کم وي اوکه زيات وي ده ته چه څه ملاو شي هغه دې راوړي اوده ته چه دده دکار معاوضه ملاو شي هغه دې وصول کړي او دکوم څيزنه چه دې منع کولې شي هغه دې پريږدي.

قوله: (حدثني عَدِيُّ بْنُ عُمَيْرَةَ الْكِنْدِيُّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ لَنَا عَلَى عَمَلٍ الخ ﴾

مضمون حديث:

رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو اې خلقو! په تاسو کښي چه کوم سړي زمونږ په يو عمل باندې عامل جوړ کړې شي او بيا هغه زمونږ نه د يوې ستنې يا د هغې نه لوئې څيز پټ کړي (بغير د اجازت نه) ﴿ مِخيَط ﴾ په کسرې د ميم سره يعنى ستن نو د هغې پټول به غلول وی او

(۱): صحيح مسلم/الإمارة ۷ (۱۸۳۳)، (تحفة الأشراف: ۹۸۸۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۹۲/٤) (صحيح)

د غلول حکم دا دي ﴿ ومن یغلل یات بما غل یوم القیامة ﴾ یعني غلول کړې څیز به هغه د قیامت په ورځ خان سره راوړي. راوي وائي چه د رسول اللهﷺ په دې ارشاد باندې یو انصاري صحابي چه تور رنګ ئې وو پاسیدو (او دا واقعه زما په ذهن کښې داسې مستحضره ده) ګویا زه ورته اوس ګورم، هغه عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ! واخلئ دا خپل عمل (رسول اللهﷺ به هغه لره د یو ځائې عامل جوړ کړې وو نو په دې ارشاد اوریدو سره هغه داسې اووې) رسول اللهﷺ ترې نه تپوس اوکړو څه خبره ده؟ نو هغه اووې چه ما ستاسو نه اوس یو مضمون واوریدو، رسول اللهﷺ اوفرمائیل او دا خبره خو زه اوس هم کوم او رسول اللهﷺ هغه خبره دوباره اوفرمائیله. بیا وړاندې په روایت کښې څه داسې ذکر نشته چه هغوی خپل عمل ته لاړل که نه.

د قاضي یا عامل دپاره قبول هدیه کله جائز ده؟

مصنفؒ په دې حدیث باندې د ﴿ هدایا العمال ﴾ ترجمه قائم کړې ده دې خبرې طرف ته اشاره کولو دپاره چه عامل که د یو سړي هدیه قبوله کړي نو هغه هم د غلول په حکم کښې ده. لهذا یا خو هغوی لره هدیه قبلول پکارنه دي او که مصلحة ئې واخلي نو په مال صدقه کښې ئې ایخودل پکار دي. د دې نه مخکښې د دې سلسلې حدیث د ابن اللتیبه په خپل محل کښې تیر شوې دې. ﴿ هلا جلس في بیت ابیه او امه الحدیث ﴾ په دې باندې شارحینو لیکلې دي چه کومه هدیه قاضي یا عامل ته د یو داسې سړي نه ملاؤ شي چه هغه ته ئې صرف د قضاء د عهدې د وجې نه ورکړي ممانعت د داسې هدیه د قبلولو دې څکه چه په دې کښې د نیت فاسده قوي احتمال دې چه هغه عامل به د زکوٰة د وصول کولو په وخت د مزکي رعایت کوي او هم دغه شان به قاضي او که دې عامل یا قاضي ته هدیه ورکونکې د خپل قدیم ذاتي تعلق په بناء باندې هدیه ورکوي چه په هغې کښې د فساد نیت وغیره احتمال نه وي نو بیا په دې صورت کښې قبلول جائز دي.

بَابٌ كَيْفَ الْقَضَاءُ

د فیصلې کولو طریقه

[۳۵۸۲](¹) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ حَنَشٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ قَاضِيًا، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تُرْسِلُنِي وَأَنَا حَدِيثُ السِّنِّ، وَلَا عِلْمَ لِي بِالْقَضَاءِ، فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ سَيَهْدِي قَلْبَكَ، وَيُثَبِّتُ لِسَانَكَ، فَإِذَا جَلَسَ بَيْنَ يَدَيْكَ الْخَصْمَانِ فَلَا تَقْضِيَنَّ حَتَّى تَسْمَعَ مِنَ الْآخَرِ كَمَا سَمِعْتَ مِنَ الْأَوَّلِ فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يَتَبَيَّنَ لَكَ الْقَضَاءُ"، قَالَ: فَمَا زِلْتُ قَاضِيًا أَوْ مَا شَكَكْتُ فِي قَضَاءٍ بَعْدُ.

د علي کرم الله وجهه نه روایت دې فرمائي چه زه نبي علیه السلام یمن ته د قاضي توب دپاره ولیږلم ما ورته عرض اوکړو اې دالله رسوله ته خو ما لیږې او زما عمر کم ده او په قضا باندې نه پوهیږم نبي علیه السلام اوفرمائیل الله تعالی به دقضا طریقه ستا په زړه کښې واچوي اوستا ژبه به

¹): سنن الترمذي/الأحكام ٥ (١٣٣١)، مسند احمد (١١١/١) وعبدالله بن أحمد في زوائدي الأحد (١٤٩/١)، سنن ابن ماجه/الأحكام ١ (٢٣١٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٠٨١، ١٠١١٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٣/١) والحاكم (١٣٥/٣) بسند آفرية انقطاع (حسن)

مضبوطه کړي کله چه تاته دوه اختلاف کونکي مخامخ شي نوترهغې پورې فيصله مه کوه ترڅوچه دي دبل نه هم اوريدلي نه وي لکه څنګه چه تا داولني نه آوريدلی دی څکه چه دا ډيره نزدې ده چه ته حقه فيصله وکړې علی ته وائی ددینه پس چه ما څومره قضاګاني کړي دي په يوه کښې مې هم شک نه دې کړې.

قوله: ﴿ عَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِلَى الْيَمَنِ قَاضِيًا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ تُرْسِلُنِي وَأَنَا حَدِيثُ السِّنِّ وَلاَ عِلْمَ لِي بِالْقَضَاءِ ﴾

سيدنا علی ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ زه يمن ته د قاضی په طور اوليږلم، هغوی فرمائی ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ ! تاسو ما داسې کار له ليږئ حال دا چه زما عمر کم دې او ماته د قضاء علم هم نشته. شارحينو ليکلي دی چه د دې نه د مطلق علم نفی نه ده مراد بلکه په دې سره د عادت او تجربې نفي مراد ده. رسول الله ﷺ هغوی ته د دعا په طور اوفرمائيل چه الله پاک به ستا د زړه صحيح فيصلې کولو ته رهنمائی فرمائی. او ستا ژبه به په حق باندې کلکه کړی يعنی د هغې په ذريعه به صحيح فيصله کوئ. بيا ئې هغوی ته د فيصلې په باره کښې د يوې قاعدې کليې طرف ته رهنمائی اوفرمائيله هغه دا چه کله په مجلس کښې تاسره خصمين يعنی مدعی او مدعی عليه حاضر شی نو د يو سړی بيان اوريدو سره هرګز فيصله مه کوه تر څو چه دې د هغه د خصم خبره نه وی اوريدلې. څنګه چه دې په تفصيل سره خبره واوريده نو ﴿ فانه احری ان يتبين لک القضاء ﴾ په دې صورت کښې يعنی د فريقينو د خبرې اوريدو نه پس به د صحيح فيصلې ښکاره کيدل په تا باندې ډير نزدې وی، سيدنا علی ﷺ فرمائی چه (د رسول الله ﷺ د دې دعا په برکت باندې او د رسول الله ﷺ د دې بيان کړې قاعدې کليې په وجه باندې) ما ته په خپله يو فيصله کښې هم شک او تردد نه دې پيدا شوې.

د قضاء علی الغائب په جواز کښې اختلاف:

قوله: ﴿ حتی تسمع من الاخر ﴾ باندې شارحينو ليکلې دی چه دا دليل دې د دې خبرې چه د حاکم دپاره د دويم فريق د خبرې اوريدلو نه مخکښې فيصله کول جائز نه دی نو د خصم د غائب کيدو په صورت کښې په عدم جواز کښې په طريق اولی نه دی. امام خطابی ﷺ فرمائی ﴿ وممن ذهب إلى ذلك شريح وعمر بن عبد العزيز وهو قول أبي حنيفة وابن أبي ليلى. وقال مالك والشافعي يجوز القضاء على الغائب إذا تبين للحاكم أن فراره واستخفاءه إنما هو فرار من الحق ومعاندة للخصم ﴾

يعنی د ابوعبيد په نزد قضاء علی الغائب په هغه صورت کښې جائز ده چه حاکم ته د دې خبرې يقين وی چه د بل فريق عدالت ته نه حاضريدل او پټيدل هغه د حق د ادا کولو دپاره او د خپل مقابل د دشمنئ د وجې نه دی. د سيدنا علی ﷺ فيصلې ډير مشهورې دی په قضاء او احکامو کښې د هغوی مهارت ضرب المثل دې تاسو به د نحو په څه کتاب کښې لوستلې وی ﴿ قضية ولا ابا حسن لها ﴾ او حديث هم مشهور دې کوم چه په ډيرو خطبو کښې لوستلې شی. ﴿ واقضاهم علی ﴾ داسې قسم روايات په مناقبو کښې کتلې کيدې شی.

والحديث اخرجه الترمذی مختصرا (وقال حديث حسن، قاله المنذری.

بَابٌ فِي قَضَاءِ الْقَاضِي إِذَا أَخْطَأَ

که چرې قاضي په قضاوت کښې خطاء شي

[۳۵۸۳]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ وَإِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ، وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَنْ يَكُونَ أَلْحَنَ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ فَأَقْضِيَ لَهُ عَلَى نَحْوِ مَا أَسْمَعُ مِنْهُ، فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ بِشَيْءٍ فَلَا يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا، فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ".

دام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی يقينا زه يو انسان يم اوتاسو ماته خپلې مقدمې راوړې کيدی شي چه په تاسو کښې يو ډله دپستې اوخوږې ژبې والاوې اودبلې ډلې نه ئې ژبه تيزه وې او زه دهغوی په حق کښې فيصله وکړم، ماچه دچادپاره دهغه دورور دحق نه فيصله وکړه يادده دورور دمال دده په حق کښې نوده لره پکاردې چه دغه څيز واخلي ځکه چه زه ده ته داور يوه ټکړه ورکوم.

﴿ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ وَإِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَنْ يَكُونَ أَلْحَنَ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ فَأَقْضِيَ لَهُ عَلَى نَحْوِ ..الخ ﴾

رسول الله ﷺ فرمائي بيشکه زه هم انسان يم او تاسو په خپلو مخاصماتو او منازعاتو کښې د فيصلې کولودپاره ماته راځئ (دې باره کښې زما نه يوه خبره په غور سره واورئ) هغه دا چه کيدې شي چه په تاسو کښې ډير فصيح او قادر الکلام وی خپلې خبرې او دليل لره ښه بيانولې شی د بل په مقابله کښې، نو په داسې صورت کښې امکان دې د داسې خبرې چه زه د الحن او افصح د تقرير مطابق د هغه په حق کښې فيصله اوکړم (او بالفرض وی هغه فيصله خلاف واقع د فريق آخر د خبرې ښه ښه طريقې سره د نه پوهه کولو د وجې نه) نو په داسې صورت کښې واورئ چه زه د کوم سړی په حق کښې فيصله اوکړم نو هغه له به يقينا جائز نه وی بلکه هغه دې داسې اوګڼړی چه ما د هغه دپاره د اور فيصله کړې ده.

د قضاء القاضی نفاذ صرف په ظاهر باندې وی يا ظاهر او باطن دواړو باندې؟

په دې حديث کښې يو مشهوره اختلافی مسئله ذکر شوې ده هغه دا چه د قضاء قاضی نفاذ ظاهرا او باطنا هر دواړو لحاظو سره وی يا که صرف ظاهرا وی د دنيوی احکامو په اعتبار سره. په دې مسئله کښې د احنافو رائې دا ده چه قضاء قاضی نفاذ ظاهرا او باطنا دواړو طريقو سره وی. او د جمهورو په نزد د دې نفاذ صرف ظاهرا وی يعنی د دنياوی احکامو په اعتبارسره. باطنا وعندالله نه... يعنی دقاضی دهرې فيصلې دپاره دا ضروری نه ده چه هغه دې داسې وی، بلکه په هغې کښې د غلطئ د امکان د کيدو د وجې نه د خلاف حق کيدو

[1]): صحيح البخاري/المظالم ١٦ (٢٤٥٨)، الشهادات ٢٧ (٢٦٨٠)، الحيل ١٠ (٦٩٦٧)، الأحكام ٢٠ (٧١٦٩)، ٢٩ (٧١٨١)، ٣١ (٧١٨٥)، صحيح مسلم/الأقضية ٣ (١٧١٣)، سنن الترمذي/الأحكام ١١ (١٣٣٩)، سنن النسائي/ القضاة ١٢(٥٤٠٣)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٥ (٢٣١٧)، (تحفة الأشراف: ١٨٢٦١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الأقضية ١ (١)، مسند احمد (٦/٣٠٧،٣٢٠) (صحيح)

احتمال هم دې. د دې اختلاف د پیژندګلو نه پس اوس تاسو په دې باندې ځان پوهه کړئ چه دا حدیث په ظاهر کښې د احنافو د مسلک خلاف دې ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائی چه زما په فیصله کولو سره به هغه څیز د هغه سړی دپاره عندالله حلال نه وی، د دې جواب دا دې چه د احنافو مسلک چه کوم پورته ذکر دې د هغې تعلق د عقود او فسوخ سره دې که د هغه عقد تعلق د طلاق او نکاح سره وی یا د اموالو سره، املاک مرسله کښې زمونږ دا مسلک نه دې، د عقود فسوخ مثال لکه یو سړی په بل باندې دعوی اوکړی چه دې سړی زما په لاس باندې د فلانی څیز بیع کړې ده او هغه دویم سړې د بیع منکر دې. مدعی دوه دروغژن ګواهان په خپله دعوی باندې قائم کړل حاکم د مدعی په حق کښې فیصله اوکړه نو په دې صورت کښې به د قاضی د قضا د وجې نه اګر چه بیع د مخکښې نه منعقد نه وه اوس یعنی د فیصلې نه پس به منعقد شی، او د مشتری په ذمه به د ثمن ادا کول او بیا په هغه څیز کښې تصرف کول جائز وی، هم دغه شان که یو سړی په زنانه باندې د نکاح دعوی اوکړه چه ما تا سره نکاح کړې وه. زنانه انکار کولو خو سړی د قاضی په مجلس کښې دوه دروغژن ګواهان پیش کړل چه د هغې په وجه باندې قاضی د سړی په حق کښې فیصله اوکړه یعنی د ثبوت نکاح نو په دې مثال کښې سره د دې چه مخکښې نکاح نه ده شوې د قاضی د فیصلې د وجې نه به شرعا او د الله پاک په نزد نکاح منعقد شی چه کله د احنافو د مسلک تحقیق اوشو نو اوس ځان پوهه کړئ چه دا حدیث زمونږ خلاف نه دې، مونږ دا وایو چه دا حدیث د عقود او فسوخ متعلق نه دې بلکه مونږ د دې تعلق د املاک مرسله سره منو یعنی چرته چه دعوی او خصمین کښې اختلاف په نفس ملک کښې وی مثلا یو سړې وائی چه د فلانی سړی سره چه کومه زمکه ده هغه د هغه ملک نه دې بلکه زما ده د هغه په هغې باندې غاصبانه قبضه ده، د دې مسئلې تعلق د عقد بیع وشراء سره نه دې نو په دې مسئله باندې مدعی دروغژن ګواهان پیش کړل او قاضی د هغه په حق کښې فیصله اوکړه یا په واقع کښې هغه زمکه د مدعی وه، خو هغه سره د بینه نه کیدو د وجې نه قاضی د مدعی علیه په یمین باندې د هغه په حق کښې فیصله اوکړه. په دې مثال کښې د قاضی فیصلې سره به هغه څیز د مقضی له دپاره جائز او حلال وی، او د قاضی دا فیصله به صرف ظاهرا نافذ کیږی باطنا نه. د احنافو دلیل دا دې چه د قاضی او د حاکم ولایت عامه (۱) حاصلیدو د وجې نه د خلقو ترمینځه د عقد و فسخ حق شرعا حاصل دې لهذا چه کله هغه د دوه سړو ترمینځه د اصول او قواعدو مطابق د عقد یا فسخ فیصله اوکړی نو د هغه دا فیصله به شرعا معتبر او نافذ وی او خو قاضی ته د دې خبرې حق نه دې حاصل، چه په یو څیز کښې غیر د مالک دپاره [یعنی دمالک نه علاوه بل چا دپاره] ملکیت په خپله فیصله باندې ثابت کړی پس د حدیث الباب تعلق هم د دویم صورت سره دې، او د احنافو په تائید کښې هغه واقعه هم پیش کولې شی کومه چه امام محمد رحمه الله په خپل تصنیف کتاب الاصل کښې

(۱) ولا یخالفنا هذا الحدیث فان الحدیث یقتضي من قضیت له من حق اخیه شیئا وفي العقود والفسوخ لایقضي القاضي بحق اخیه شیئا بل یحکم بالعقد او الفسخ الذي هو حق الحاکم الی آخر ما في البذل)

ذکر کړې ده کومه چه د علامه انور شاه کشمیری په العرف الشذی کښې هم ذکر شوې ده هغه دا چه یو سړی علی ﷺ ته تلو سره د یوې زنانه سره د نکاح دعوی اوکړه او بیا ئې په هغې باندې دوه دروغژن ګواهان هم پیش کړل چه په هغې باندې هغوی د نکاح فیصله اوکړله. په دې باندې هغه زنانه پاسیده او هغې اووې چه دا سړې دروغژن دې او اې امیر المومنین چه هر کله دا خبره ده نو بیا زما ده سره نکاح اوکړئ چه دواړه ګناهګار نه شو، په دې باندې علی ﷺ اوفرمائیل ﴿ شاهداک زوجاک ﴾ یعنی اوس په دې مجلس کښې د دوه ګواهانو ګواهئ باندې ما د نکاح فیصله کړې ده هم په دې سره د عقد نکاح تحقق اوشو. د دې نه پس په عرف الشذی کښې دادی چه ﴿ ذکره محمد في الأصل، ولا يذكرون سند هذه الواقعة ولم أجد السند وظني أنها لا تكون بلا أصل، ومر الحافظ على هذا الأثر ولم يرده زيادة الرد ولم يقبله أيضاً، فدل على أنه ليس بلا أصل ﴾ یعنی حافظ ابن حجر ﷺ دا واقعه نقل کړې ده او رد کړې ئې نه ده اګر چه قبول کړې ئې هم نه ده، پس داسې معلومیږی چه دا واقعه بې اصل نه ده. (العرف الشذی)(عرف الشذی ص ۴۰۶)والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری

[۳۵۸۴](۱) حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَافِعٍ مَوْلَى أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَانِ يَخْتَصِمَانِ فِي مَوَارِيثَ لَهُمَا لَمْ تَكُنْ لَهُمَا بَيِّنَةٌ إِلَّا دَعْوَاهُمَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَذَكَرَ مِثْلَهُ، فَبَكَى الرَّجُلَانِ، وَقَالَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا: حَقِّي لَكَ، فَقَالَ لَهُمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَا إِذْ فَعَلْتُمَا مَا فَعَلْتُمَا، فَاقْتَسِمَا وَتَوَخَّيَا الْحَقَّ، ثُمَّ اسْتَهِمَا، ثُمَّ تَحَالَّا.

دام سلمه ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ ته یوځل دوه جګړه کونکي راغلل چه دمیراث په باره کښې یسې جګړه وه او د دوی سره ګواهان نه وو مګرصرف دعوي ددوی نبی ﷺ اوفرمائیل باقی روایت دتیر شوي روایت په شان دې، مګر په دې کښې دا اضافه ده چه هغه دوه کسانو وژړل او په دوی کښې هریوکس اووئیل چه ماخپل حق تاته درکړو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل کله چه تاسو داسې خبره کوئ نو پخپل مینځ کښې مال تقسیم کړئ اودحق تلاش وکړئ اوعمل پرې وکړئ او په قرعه اندازی سره خپل حصې وصول کړی او پخپل مینځ کښې یوبل ته معافی وکړئ.

قوله:﴿عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- رَجُلاَنِ يَخْتَصِمَانِ فِي مَوَارِيثَ لَهُمَا لَمْ تَكُنْ لَهُمَا بَيِّنَةٌ إِلاَّ دَعْوَاهُمَا فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَذَكَرَ مِثْلَهُ ﴾

دا حدیث هم هغه دې کوم چه پورته ذکر شو خو رومبې حدیث مختصر وو او په دې کښې زیادت دې چه دوه سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د میراث په مسئله کښې جهګړه کولو سره راغلل، او بینه د چا سره هم نه وه په دې باندې رسول الله ﷺ هغه حدیث ارشاد اوفرمائیلو کوم چه مخکښې تیر شو. د دې نه پس دلته روایت کښې دی چه د رسول الله ﷺ وعید اوریدو سره دواړه سړی په ژړا شو او هر یو په هغوی کښې خپل حق بل ته ورکولو،

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۷۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۲۰/۶) (صحيح)

په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ أَمَّا إِذْ فَعَلْتُمَا مَا فَعَلْتُمَا فَاقْتَسِمَا وَتَوَخَّيَا الْحَقَّ. ثُمَّ اسْتَهِمَا ثُمَّ تَحَالَا ﴾ دا پورته تير شو چه د دې دواړو اختلاف د ميراث يا ترکه په باره کښې وو، په ترکه کښې متفرق څيزونه وو په دې وجه رسول الله ﷺ هغوى ته اوفرمائيل چه هغه دواړه څيزونه برابر برابر دوه ځايه کړئ. او هر يو دې په دې تقسيم سره د خپل حق د اخستلو اراده اوکړى، يعنى د دې نه د زياتى دې نه کوى. بيا چه کله هغه ټول مال دوه ځايه کيخودلې شى نو قرعه اندازى کوئ د تعين حصه په باره کښ، بيا چه د چا په نوم باندې کومه حصه راوځى هغه دې واخلى او د هغې باوجود دې هم خپل مينځ کښې يو بل ته خپل حق معاف کړى، يعنى احتياطا.

[۳۵۸۵](١) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، حَدَّثَنَا أُسَامَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَافِعٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أُمَّ سَلَمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: يَخْتَصِمَانِ فِي مَوَارِيثَ وَأَشْيَاءَ قَدْ دَرَسَتْ، فَقَالَ: إِنِّي إِنَّمَا أَقْضِي بَيْنَكُمْ بِرَأْيِي فِيمَا لَمْ يُنْزَلْ عَلَيَّ فِيهِ.

د ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى دا روايت هم د مخکنى روايت په شان دې مګر په دې کښې دا اضافه ده راوى وائى ددوه کسانو دميراث په مسئله کښې جګړه وه اوديوڅو زړو څيزونو په باره کښې ئې جګړه وه نبى عليه السلام اوفرمائيل د کوموڅيزونو په باره کښې چه په ما وحې نه نازليږي نوزه به ستاسوفيصله دخپلې راې مطابق کوم.

قوله: ﴿ يَخْتَصِمَانِ فِي مَوَارِيثَ وَأَشْيَاءَ قَدْ دَرَسَتْ ﴾ يعنى اختلافه د ميراث په مال او داسې څيزونو کښې وو چه زاړهٔ شوې وو ﴿ فقال انى إِنَّمَا أَقْضِي بَيْنَكُمْ بِرَأْيِي فِيمَا لَمْ يُنْزَلْ عَلَيَّ فِيهِ ﴾ يعنى رسول الله ﷺ دا هم اوفرمائيل چه د کومې مسئلې په باره کښې په ما باندې وحى نه نازليږى په هغې کښې خپله رائې او اجتهاد سره فيصله کوم.

د رسول الله ﷺ دپاره اجتهاد جائز دې:

دا حديث صريح دليل دې په دې خبره باندې چه د رسول الله ﷺ دپاره په احکاماتو کښې اجتهاد جائز وو، مسئله اختلافى ده د جمهورو رائې هم دا ده يعنى د جواز، په دې مسئله کښې څلور اقوال دى کوم چه په ابواب الوضوء کښې ﴿ لولا ان اشق على امتى لامرتهم بالسواک ﴾ د حديث د لاندې تير شوې دى.

[۳۵۸۶](٢) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ الرَّأْيَ إِنَّمَا كَانَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصِيبًا لِأَنَّ اللَّهَ كَانَ يُرِيهِ وَإِنَّمَا هُوَ مِنَّا الظَّنُّ وَالتَّكَلُّفُ".

دابن شهاب نه روايت دې فرمائى چه عمرفاروق نه په ممبرباندې اوفرمائيل اې خلقو دنبى عليه السلام راې درست ووځکه چه الله تعالى ورته سمه لاربښودلې وه، اوزمارائې يوګمان اومحنت دې.

(١): تفرد به أبو داود، وانظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٨١٧٤) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٤٠٦) (ضعيف)

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ - رضى الله عنه - قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ الرَّأْىَ إِنَّمَا كَانَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مُصِيبًا لأَنَّ اللَّهَ كَانَ يُرِيهِ وَإِنَّمَا هُوَ مِنَّا الظَّنُّ وَالتَّكَلُّفُ ﴾

يعني يو كرت عمر ﷺ په خپله خطبه كښې په منبر باندې دا خبره اوفرمائيله چه اې خلقو! بيشكه اصل رائې چه صحيح او حق وى هغه خو د رسول الله ﷺ وه ځكه چه الله تعالى به هغوى په حق خبره باندې پوهه كول او زمونږ رائې خو بس د يو ګمان او تكلف درجه لرى.
دا روايت مرسل دې يعنى منقطع، ځكه چه د ابن شهاب سماع د عمر ﷺ نه ثابت نه دے اوګورئ! عمر ﷺ د خپلې رائې په باره كښې څه فرمائى او هغې ته څومره كم حيثيت وركوى حالانكه خپله رسول الله ﷺ د هغوى په باره كښې د اصابة رائې او د حق وينا شهادت وركړې دې ﴿ ففى الترمذى عن ابن عمر ﷺ ان رسول الله ﷺ قال ان الله جعل الحق على لسان عمر وقلبه ﴾

[٣٥٨٧]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّىُّ، أَخْبَرَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِى أَبُو عُثْمَانَ الشَّامِىُّ "وَلَا إِخَالُنِى رَأَيْتُ شَامِيًّا أَفْضَلَ مِنْهُ" يَعْنِى حُرَيْزَ بْنَ عُثْمَانَ.

معاذ بن معاذ فرمائى چه ماته ابوعثمان شاي اووئيل چه زمايه راي دشام څوك اوسيدونكي دحريز بن عثمان نه افضل نه دي.
قوله: ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّىُّ ﴾ دا په اكثر نسخو كښې نشته كما فى تعليق الشيخ محمد عوامه او د دې د دلته كيدو وجه هم په فهم كښې نه راځى. (كما فى البذل)

بَاب كَيْفَ يَجْلِسُ الْخَصْمَانِ بَيْنَ يَدَىِ الْقَاضِى

د قاضى په وړاندې به دوه جګړه كونكى څنګه كينى

[٣٥٨٨]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ ثَابِتٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ: "قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الْخَصْمَيْنِ يَقْعُدَانِ بَيْنَ يَدَيِ الْحَكَمِ".

دعبدالله بن الزبيرنه روايت دې فرمائى چه نبى عليه‌السلام حكم كړي دي چه مدعى او مدعى عليه دې قاضى ته مخامخ كينى.
قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّ الْخَصْمَيْنِ يَقْعُدَانِ بَيْنَ يَدَيِ الْحَاكِمِ ﴾

يعنى رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه قاضى له پكار دى چه په خصمينو كښې د يو سره هم امتيازى برتاؤ اونكړى بلكه دواړه دې خپلې مخې ته كينوى.
په بذل كښې يو اشكال ليكلې دې چه په دې حديث كښې كيفيت د جلوس مذكور نه دې لهذا په ترجمة الباب كښې لفظ "كيف" ليكل نه وو پكار، خو د دې جواب دا كيدې شى چه په خصمين كښې د هر يو د حاكم مخې ته كيناستل هم دا كيفيت د جلوس دې.

[1]: تفرد به أبو داود (صحيح)
[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٥٢٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤) (ضعيف الإسناد)

بَابُ الْقَاضِي يَقْضِي وَهُوَ غَضْبَانُ

قاضيان دې د غصې په وخت کښې فيصلې نه کوي

[۳۵۸۹](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى ابْنِهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَقْضِي الْحَكَمُ بَيْنَ اثْنَيْنِ، وَهُوَ غَضْبَانُ".

عبدالرحمن بن ابی بکره دخپل پلارنه روايت کوی فرمائی چه ماخپل خوي ته وليکل چه نبی ﷺ فرمائيلی دی فيصله کونکي دي ددوه کسانو په مينځ کښې په داسې حال کښې فيصله نه کوی چه دې غصه وی

قوله: ﴿ لاَ يَقْضِي الْحَكَمُ بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ ﴾ يعنی که قاضی صاحب د مخکښې نه په څه خبره باندې غصه وی نو په دغه وخت کښې ورله د دعوی سماعت او د هغې فيصله نه دی کول پکار، کيدې شی په دې حالت کښې هغه په معامله باندې کما حقه پوهه نه شی، هم دغه شان په بذل کښې ليکلې دی چه جوع او عطش (لوږه او تنده) وغيره احوالو کښې هم فيصله نه دی کول پکار.

والحديث اخرجه البخاری والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری.

بَابُ الْحُكْمِ بَيْنَ أَهْلِ الذِّمَّةِ

قاضی به د کافرانو په مينځ کښې فيصله څنګه کوی؟

[۳۵۹۰](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "فَإِنْ جَاءُوكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ سورة المائدة آية ۴۲» فَنُسِخَتْ، قَالَ: فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ سورة المائدة آية ۴۸".

دعبدالله بن عباس نه روايت دې فرمائی چه مخکښې حکم داوو: «فإن جاءوك فاحكم بينهم أو أعرض عنهم» بيادا حکم په لاندينې ايت سره منسوخ شو: «فاحكم بينهم بما أنزل الله».

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

يعنی مسلمان قاضی لره په دارالاسلام کښې د ذميانو فيصله کول پکار دی يا نه؟ د امام مالک رحمه الله رائې په دې کښې د تخير ده، او د احنافو په نزد د مرافعه په صورت کښې د فيصلې حکم دې هم داسې نه دې. د امام شافعی رحمه الله په دې کښې دوه قوله دی يو هم دا يعنی وجوب عند المرافعه، دويم دا چه مطلقا واجب دې

۱): صحيح البخاري/الأحكام ۱۳(۷۱۵۸)، صحيح مسلم/الأقضية ۷ (۱۷۱۷)، سنن الترمذي/الأحكام ۷ (۱۳۳۴)، سنن النسائي/آداب القضاة ۱۷ (۵۴۰۸)، ۳۱ (۵۴۲۳)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۴ (۲۳۱۶)، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۷۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۳۶، ۳۷، ۳۸، ۴۶، ۵۲) (صحيح)

۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۶۲۶۳) (حسن الإسناد)

[۳۵۹۱](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ الْحُصَيْنِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فَإِنْ جَاءُوكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ سورة المائدة آية ۴۲، وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ سورة المائدة آية ۴۲، قَالَ: كَانَ بَنُو النَّضِيرِ إِذَا قَتَلُوا مِنْ بَنِي قُرَيْظَةَ أَدَّوْا نِصْفَ الدِّيَةِ، وَإِذَا قَتَلَ بَنُو قُرَيْظَةَ مِنْ بَنِي النَّضِيرِ أَدَّوْا إِلَيْهِمُ الدِّيَةَ كَامِلَةً، فَسَوَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمْ".

دعبدالله بن عباس نه روايت دې فرمائی کله چه. دا ايت نازل شو : «فإن جاءوك فاحكم بينهم أو أعرض عنهم» الايه، مخکښې دا معمول وو چه کله به قبيله بنو نضير دقبيلې بنی قريظه کوم کس لره مړ کړو نو نيم ديت به ئې ورته اداکولو او چه کله به بنوقريظه دبنو نضيرنه څوک مړ کړو نو پوره ديت به ئې اداکولو ددې ايت په نازليدوسره نبی ﷺ په ديت کښې مساوات قائم کړو.

قوله:﴿ قَالَ كَانَ بَنُو النَّضِيرِ إِذَا قَتَلُوا مِنْ بَنِي قُرَيْظَةَ أَدَّوْا نِصْفَ الدِّيَةِ الخ ﴾

دا روايت تفصيلا په كتاب الحدود كښې راغلې دې، بنو نضير او بنو قريظه د يهودو دوه مشهورې قبيلې دی چه په مدينه طيبه کښې آبادې وې چه په هغې کښې بنو قريظه کمې درجې والا ګڼړلې کيدل او بنو نضير د اوچتې درجې والا. په دې وجه به په هغوی کښې دا بې انصافی موندلې شوه چه که د بنو نضير يو سړی به څوک قرظی سړې قتل کړو نو د هغه به ئې نيم ديت ادا کولو، او که بنو قريظه به په بنو نضير کښې څوک قتل کړل نو هغوی به کامل ديت ورکولو، دا راوی وائی چه رسول الله ﷺ د هغوی نه دې تفريق ختمولو سره د دواړو ترمينځه د مساوات فيصله اوکړه.

د هغه آيت کريمه مطابق کوم چه په روايت کښې ذکر شوې دې. ﴿ وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ﴾ (بذل)

والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری

باب اجْتِهَادِ الرَّأْيِ فِي الْقَضَاءِ

په فيصله کولو کښې خپلې رای لره دخل ورکول

[۳۵۹۲](٢) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي عَوْنٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ عَمْرٍو أَخِي الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنْ أُنَاسٍ مِنْ أَهْلِ حِمْصَ، مِنْ أَصْحَابِ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَمَّا أَرَادَ أَنْ يَبْعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، قَالَ: "كَيْفَ تَقْضِي إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ؟، قَالَ: أَقْضِي بِكِتَابِ اللَّهِ، قَالَ: فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللَّهِ؟، قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَا فِي كِتَابِ اللَّهِ؟، قَالَ: أَجْتَهِدُ رَأْيِي وَلَا آلُو، فَضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدْرَهُ، وَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ لِمَا يُرْضِي رَسُولَ اللَّهِ".

---

(١): سنن النسائي/القسامة ٥ (٤٧٣٧)، (تحفة الأشراف: ٦٠٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٣/١) (حسن)

(٢): سنن الترمذي/الأحكام ٣ (١٣٢٧)، (تحفة الأشراف: ١١٣٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٣٠/٥، ٢٣٦، ٢٤٢)، سنن الدارمي/المقدمة ٢٠ (١٧٠) (ضعيف)

حارث بن عمرو دمعاذ بن جبل رضی الله عنه په ملګروکښې دیوکس نه روایت کوی فرمائی چه کله نبی علیه السلام یمن ته دمعاذ رضی الله عنه دلیږلو اراده وکړه نومعاذ رضی الله عنه ته ئې اوفرمائیل کله چه تاته یوه معامله راشي نوفیصله به څنګه کوي؟ معاذ اووئیل دالله دکتاب مطابق فیصله به کرم : نبی علیه السلام ارفرمائیل که چرې دالله په کتاب کښې ئې بیانه موې معاده عرض اوکړو دنبی ئې دسنت مطابق فیصله به کوم بیانبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې درسول په سنت کښې دغه خبره بیانه موې معاذ عرض اوکړو بیابه زه پخپله پوهه او غور اوفکرکولوسره مسئله معلومom اودمعاملې په فیصله کولوکښې به څه قسم کوتاهی نه کوم، راوی وائی چه نبی علیه السلام دمعاذنه په سینه ګذار وکړو او وئې فرمائیل ټول تعریفونه الله تعالی لره دي چاچه دهغه درسول قاصد لره ددې خبرې توفیق ورکړو په کومې چه دالله رسول خوشحاله شو.

قوله: ﴿ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– لَمَّا أَرَادَ أَنْ يَبْعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ قَالَ « كَيْفَ تَقْضِى إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ ». قَالَ أَقْضِى بِكِتَابِ اللَّهِ. قَالَ « فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِى كِتَابِ اللَّهِ ». قَالَ فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم–. .....الخ﴾

د دې حدیث مضمون خو ظاهر دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د معاذ رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه یمن ته تلو سره به ته څنګه فیصله کوې؟ نو هغوی جواب ورکړو چه د کتاب الله مطابق، او که په هغې کښې ملاؤ نه شو نو د سنت رسول صلی الله علیه وسلم مطابق، رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې نه تپوس اوکړو چه که په دواړو کښې ئې بیا نه مومې نو بیا به څنګه فیصله به کوې؟ نو هغوی جواب ورکړو چه زه به په خپله رائې باندې اجتهاد کوم ﴿ ولا الو ﴾ او په دې اجتهاد کولو کښې به هیڅ کوتاهی او کمې نه کوم. یعنی د وس مناسب به د صحیح فیصلې کوشش کوم. رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی جواب اوریدو سره د هغوی په سینه مبارکه باندې لاس کیخودلو او وې فرمائیل : ټول تعریفونه د هغه الله دپاره دی چا چه د خپل رسول صلی الله علیه وسلم قاصد ته توفیق ورکړو د هغه خیز کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خوښوی.

امام خطابی رحمه الله فرمائی ﴿ اجتهد رائی ﴾ نه خپله ذاتی رائې مراد نه ده چه کومه د هغوی په ذهن کښې راځی بغیر د استناد نه کتاب او سنت ته. بلکه د رائې نه مراد په طریقه د قیاس ده چه د هغې ماخذ کتاب او سنت وی، او بیا د هغې نه پس فرمائی : ﴿وفی هذا اثبات القیاس وایجاب الحکم اه ﴾ پس ټول فقهاء کرام قاطبة د دې حدیث نه په حجیت قیاس باندې استدلال کوی.

د حدیث الباب په سند باندې کلام او د محدثینو د طرف نه د هغې جواب

د دې نه پس بیا ځان پوهه کول پکار دی چه دا حدیث سندا ضعیف دې په دې کښې یو راوی دې حارث بن عمرو چه مجهول دې بالاتفاق بله دا چه هغه روایت کوی دې لره د اصحاب معاذ من اهل حمص نه چه هغه هم مجهول دې.امام ترمذی رحمه الله هم د دې حدیث په سند باندې کلام کړې دې او د دې حدیث د تخریج نه پس فرمائی ﴿ لا نعرفه الا من هذا الوجه ولیس اسناده عندی بمتصل ﴾ او جوزقانی دا روایت په موضوعات کښې شمار کړې دې

علامه سیوطی رحمه الله په مرقاة الصعود کښې د دې ټولو د نقل کولو نه پس فرمائی ﴿ قلت لکن الحدیث له شواهد موقوفة عن عمر بن الخطاب وابن مسعود وزید بن ثابت وابن عباس رضی الله عنهم، وقد اخرجها البیهقی فی سننه عقبه تخریجه لهذا الحدیث تقویة له اهـ﴾ (بذل) حافظ ابن القیم رحمه الله په خپل مشهورتصنیف اعلام الموقعین عن رب العالمین کښې دا حدیث د قیاس په حجیت کښې پیش کړې دې او په دې سند کښې چه کومې کمزورې دی چه د هغې پورته بیان اوشو د هغې د طرف نه ئې جواب کړې دې، او دا چه دا حدیث د شهرت حد ته رسیدلې دې او د اصحاب معاذ رضی الله عنه شهرت په علم او دین او فضل او صدق کښې دومره دې کوم چه په چا باندې پټ نه دې. او دا هم فرمائی چه شعبه کوم چه په دې حدیث کښې حامل لواء دې د هغوی شان دا دې چه بعض ائمه حدیث د هغوی په باره کښې فرمائی ﴿ اذا رائیت شعبة فی اسناد حدیث فاشدد یدیک به ﴾ چه کله ته د یو حدیث په سند کښې شعبه راوی وینې چه هغه پکښې موجود دې نو بیا هغه حدیث په مضبوطیا سره اونیسه او خطیب بغدادی د دې حدیث یو بل سند بیان کړې دې چه د هغې سند متصل او رجال معروف بالثقاهة دی، د دې ټولو خبرو نه علاوه لویه خبره دا ده چه اهل علم دا حدیث نقل کوی او په حجیت قیاس باندې د دې نه استدلال کوی ﴿فوقفنا بذلک علی صحته عندهم ﴾ یعنی د څه نه چه معلومیږی چه دا حدیث د هغوی په نزد صحیح او ثابت دې او بیا هغوی د دې نه پس ډیر داسې احادیث د مثال په طور ذکر کړی دی کوم چه د سند په لحاظ سره قوی نه دی، خو د علماء کرامو د نقل دپاسه نقل کول د هغې د صحت دپاره کافی او مستغنی عن طلب الاسناد شو (ملخصا من العون) والحدیث اخرجه الترمذی، قاله المنذری

تنبیه : حافظ ابن القیم رحمه الله په تهذیب السنن کښې فرمائی چه امام ابن ماجه هم د دې حدیث تخریج په یو بله طریقه باندې کړې دې

﴿عَنْ عُبَادَةَ بْنِ نُسَيٍّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ، قَالَ : لَمَّا بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ , قَالَ : لاَ تَقْضِيَنَّ وَلاَ تَفْصِلَنَّ إِلاَّ بِمَا تَعْلَمُ، وَإِنْ أَشْكَلَ عَلَيْكَ أَمْرٌ، فَقِفْ حَتَّى تَبَيَّنَهُ , أَوْ تَكْتُبَ إِلَيَّ فِيهِ ﴾ حافظ ابن القیم رحمه الله فرمائی : ﴿ وهذا اجود اسنادا من الاول ولا ذکر فیه للرائی ﴾ اهـ

[۳۵۹۳](1) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، حَدَّثَنِي أَبُو عَوْنٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ نَاسٍ، مِنْ أَصْحَابِ مُعَاذٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَمَّا بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

معاذ بن جبل دنبی علیه السلام نه دتیر شوي روایت په شان روایت بیان کړې دې۔

بَابٌ فِي الصُّلْحِ

د صلح بیان

دا کتاب القضاء شروع دې په دې باب سره مصنف رحمه الله دا فرمائیل غواړی چه څنګه د قاضی دا فرض منصبی دې چه هغه د خصمین ترمینځه د اصولو مطابق شرعی فیصله اوکړی هم

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۷۳) (ضعیف)

دغه شان قاضی ته د دې هم حق حاصل دې چه د خصمين ترمينځه رفعا للنزاع صلح اوکړی لکه چه د کعب بن مالک او ابن ابی حدود ترمينځه رسول الله ﷺ صلح کړې وه.

[٣٥٩٤]([1]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، أَوْ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ شَكَّ الشَّيْخُ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ"، زَادَ أَحْمَدُ إِلَّا صُلْحًا أَحَلَّ حَرَامًا، أَوْحَرَّمَ حَلَالًا وَزَادَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمُسْلِمُونَ عَلَى شُرُوطِهِمْ.

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله اوفرمائيل دمسلمانانو په مينځ کښې صلح کول مناسب عمل دې دامام احمد په روايت کښې دومره اضافه ده چه هغه صلح درسته نه ده کوم چه حرام حلالوي اوحلال حراموي اود سليمان بن داود په روايت کښې دا اضافه ده چه نبی علیه السلام اوفرمائيل مسلمانان دې پخپلو شرطونو عمل وکړي.

قوله:﴿ الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلاَّ صُلْحًا أَحَلَّ حَرَامًا أَوْ حَرَّمَ حَلاَلاً الخ ﴾

د امام ترمذی رحمه الله د حديث الباب په باره کښې تصحيح او په هغې باندې د محدثينو اعتراض

د حديث مضمون خو ښکاره دې، د دې حديث په باره کښې امام ترمذی رحمه الله اوفرمائيل ﴿هذا حديث حسن صحيح ﴾ د امام ترمذی رحمه الله په دې رائې باندې علماء کرامو اشکال کړې دې چه د دې حديث په سند کښې چه کوم ترمذی دې هغه کثير بن عبدالله بن عمرو بن عوف المزنی دې چه د هغه په باره کښې داسې ده چه ﴿ هو ضعيف جدا وقال النسائي ليس بثقة وقال ابن معين ليس بشئ ﴾ حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی چه امام ترمذی رحمه الله د کثير بن عبدالله په روايت سره دا حديث الصلح جائز بين المسلمين روايت کولو نه پس د هغې تصحيح کړې ده ﴿ فلهذا لا يعتمد العلماء علی تصحيحه ﴾ خو حافظ ابن حجر رحمه الله د امام ترمذی رحمه الله دطرف نه اعتذارا دا فرمائيلی دی ﴿ وکانه اعتبر بکثرة طرقه ﴾ يعنی امام ترمذی رحمه الله په دې حديث باندې د صحت حکم صرف د خپل بيان کړې شوی سند په اعتبار سره نه دې لګولې بلکه د هغوی په نظر کښې د دې نور طرق هم دی د چا نه چه دا حديث روايت کړې شوې دې. (بذل) پس د ابوداؤد په دې سند کښې دا راوی نشته لکه چه ته وينې، په دې حديث باندې من حيث الفقه نور هم کلام کړې شوې دې، د صلح مختلفو انواعو ته کتلو سره چه د هغې دپاره تفصيل پکار دې نورو شروحو ته رجوع اوکړه.

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٤٨٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٦٦) (حسن صحيح)

[۳۵۹۵]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ أَخْبَرَهُ، "أَنَّهُ تَقَاضَى ابْنَ أَبِي حَدْرَدٍ دَيْنًا كَانَ لَهُ عَلَيْهِ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ، فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا، حَتَّى سَمِعَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي بَيْتِهِ، فَخَرَجَ إِلَيْهِمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى كَشَفَ سِجْفَ حُجْرَتِهِ، وَنَادَى كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ، فَقَالَ: يَا كَعْبُ، فَقَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَشَارَ لَهُ بِيَدِهِ أَنْ ضَعِ الشَّطْرَ مِنْ دَيْنِكَ، قَالَ كَعْبٌ: قَدْ فَعَلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قُمْ فَاقْضِهِ".

دکعب بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه دابن ابی حدرد په ذمه باندې زما قرض وو دکوم چه په دوري نبوي کښې په جومات کښې دننه مطالبه شوې وه، په دې دوران کښې ددوی اوازونه اوچت شول تردې چه نبی عليه السلام واوريدل په دې وخت کښې نبی عليه السلام پخپل کور کښې موجود وو ددې شور په اوريدوسره بهر راووتو اودخپلې کمرې پرده ئې پورته کړه اوکعب بن مالکه ته ئې اواز اوکړو، کعب بن مالك عرض اوکړو حاضريم اې دالله رسوله نبی عليه السلام ورته په لاس اشاره وکړه چه نيم قرض معاف کړه کعب عرض اوکړو اې دالله رسوله نيم قرض مې ورته معاف کړو بيانبی عليه السلام ابن ابی حدرد ته اوفرمائيل پاڅه اووده قرضه ادا کړه.

قوله: ﴿ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ تَقَاضَى ابْنَ أَبِي حَدْرَدٍ دَيْنًا كَانَ لَهُ عَلَيْهِ الخ ﴾ مضمون د حديث دا دې چه د کعب بن مالک ځوی عبدالله د خپل پلار مالک رضي الله عنه نه نقل کوی چه هغوی ماته خپله هغه واقعه بيان کړه چه زما ابن ابی حدرد باندې قرض وو د کوم چه ما د هغه نه غوښتنه اوکړه په مسجد کښې، چه په هغې سره د دواړو آوازونه اوچت شو تردې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په خپله حجره شريفه کښې وو د هغوی په آواز اوريدو سره دروازې ته تشريف راوړو او په هغې باندې چه کومه پرده پرته وه هغه ئې لرې کړه او د کعب بن مالک نوم اخستلو سره ئې هغوی ته آواز اوکړو هغوی عرض اوکړو ﴿ لبيک يا رسول الله صلی الله علیه وسلم ﴾ رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی د ګوتې په اشارې سره پوهه کړل چه خپل نيم قرض معاف کړه. هغوی عرض اوکړو جی ما داسې اوکړل. په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالله بن ابی حدرد ته اوفرمائيل چه پاسه او نيم ورته ادا کړه، چه په هغې باندې صلح اوشوه. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری

بَابٌ فِي الشَّهَادَاتِ

دشهادتونو بيان

[۳۵۹۶]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، وَأَحْمَدُ بْنُ السَّرْحِ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ

[1]): صحيح البخاري/الصلاة ۷۱ (۴۵۷)، ۸۳ (۴۷۱)، والخصومات ۴ (۲۴۱۸)، ۹ (۲۴۲۴)، والصلح ۱۰ (۲۷۰۶)، ۱۴ (۲۷۱۰)، صحيح مسلم/المساقاة ۴ (۱۵۵۸)، سنن النسائي/القضاة ۲۱ (۵۴۱۰)، سنن ابن ماجه/الصدقات ۱۸ (۲۴۲۹)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۳۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/ ۴۵۴، ۴۶۰، ۳۸۶/۶، ۳۹۰)، سنن الدارمي/البيوع ۴۹ (۲۶۲۹) (صحيح)

[2]): صحيح مسلم/الأقضية ۹ (۱۷۱۹)، سنن الترمذي/الشهادات ۱ (۲۲۹۶)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۲۸ (۲۳۶۴)، (تحفة الأشراف: ۳۷۵۴)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الأقضية ۲(۳) (صحيح)

أَبِي عَمْرَةَ الْأَنْصَارِيِّ أَخْبَرَهُ، أَنَّ زَيْدَ بْنَ خَالِدٍ الْجُهَنِيَّ أَخْبَرَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَاءِ الَّذِي يَأْتِي بِشَهَادَتِهِ أَوْ يُخْبِرُ بِشَهَادَتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا" شَكَّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ أَيَّتَهُمَا، قَالَ: قَالَ أَبُو دَاوُدَ: قَالَ مَالِكٌ: الَّذِي يُخْبِرُ بِشَهَادَتِهِ وَلَا يَعْلَمُ بِهَا الَّذِي هِيَ لَهُ، قَالَ الْهَمْدَانِيُّ: وَيَرْفَعُهَا إِلَى السُّلْطَانِ، قَالَ ابْنُ السَّرْحِ: أَوْ يَأْتِي بِهَا الْإِمَامَ وَالْإِخْبَارُ فِي حَدِيثِ الْهَمْدَانِيِّ، قَالَ ابْنُ السَّرْحِ: ابْنُ أَبِي عَمْرَةَ، لَمْ يَقُلْ عَبْدَ الرَّحْمَنِ.

د زید بن خالد جهني نه روایت دې فرمائي چه نبي ﷺ اوفرمائیل ایاتاسوته دهرچانه بهترګواه ونه ښایم؟ کله چه څوك ګواهي ورکوي او بیان کوي چه زه ددې معاملې ګواه یم مخکښې ددینه چه ده ته اووئیلې شي، دعبدالله بن ابی بکرشك دې چه په دې دواړوکښې کوم یوشهادت مراد دې هغه وائي امام ابوداؤد فرمائیلي دي دامام مالك بیان دې چه ددینه هغه ګواه مراد دې څوك چه دخپل شهادت اظهار وکړي اوده ته ددې خبرې علم نه وي چه دده داشهادت دچاد پاره فایدمنددې، همداني وئیلي دي چه دې دې بادشاه ته بوتلې شي دابن سرح قول دې چه ګواه دې امام ته بوتلې شي، دهمداني په روایت کښې لفظ داخبار مذکوردې اوابن سرح پخپل روایت کښې عبدالرحمن نه دې ذکرکړې بلکه ابن عمرو ئې ذکرکړې دې۔

قوله: ﴿ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَاءِ الَّذِى يَأْتِى بِشَهَادَتِهِ أَوْ يُخْبِرُ بِشَهَادَتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا » ﴾ یعنی رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په ګواهانو کښې بهترین ګواه هغه دې چه شهادت ورکړي مخکښې د دې نه چه د هغه نه د شهادت درخواست اوکړې شي دا خو ښکاره ده چه د شهادت نه صحیح شهادت مراد دې، او چونکه د ګواهانو ګواهي د مدعي په واجب حق کښې د ثبوت ذریعه ده په دې وجه رسول الله ﷺ د هغه مدح او ترغیب فرمائي.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ قَالَ مَالِكٌ الَّذِى يُخْبِرُ بِشَهَادَتِهِ وَلاَ يَعْلَمُ بِهَا الَّذِى هِىَ لَهُ ﴾

دفع التعارض بین الحدیثین:

امام مالك رحمه الله د چا قول چه مصنف رحمه الله نقل کوي د هغوی غرض په دې کلام سره دفع التعارض بین الحدیثین دې ځکه چه په یو بل حدیث کښې په مقام د مذمت کښې فرمائیلې شوي دي ﴿ الذین یشهدون ولا یستشهدون ﴾ چه هغوی داسې دي چه بغیر د طلب نه شهادت ورکوي، امام مالك رحمه الله د دې توجیه دا فرمائي چه د شهادت قبل الاستشهاد مدح په هغه مقام باندې ده چرته چه مدعي ته دا معلومه نه وي چه زما څوك شاهد شته یا نه، لهذا په داسې موقع باندې چه کوم سړي ته د مدعي د صدق دعوی علم وي هغه له پکار دي چه هغه په اودریدو سره ګواهي ورکړي د هغه حق لره د ضائع کولو نه د بچ کولو دپاره. او په کوم حدیث کښې چه د شهادت قبل الاستشهاد مذمت راغلې دې د هغې نه مراد هم هغه صورت دې چرته چه مدعي ته د خپل شهود علم وي لهذا هلته څه ضرورت دې بغیر د استشهاد نه شهادت ورکولو ته، دا توجیه خو د امام مالك رحمه الله نه منقول ده. او د دې تعارض نور توجیهات هم کړې شوي دي مثلا دا چه چرته مذمت راغلې دې د هغې نه مراد شهادة الزور دې او چرته چه مدح راغلې ده د هغې نه مراد رشتیا شهادت دې، امام

ترمذی رحمه الله په جامع ترمذی کښې هم په دې تعارض باندې کلام کړې دې او خپله هغوی د دې توجیه دا بیان کړې ده چه په مقام د مدح کښې ﴿ الذی یاتی بشهادته قبل ان یسالها ﴾ د دې نه مراد شهادت قبل الطلب نه دې بلکه د دې نه مراد استعجال فی اداء الشهادة دې یعنی هغه ګواه ډیر ښه ګواه دې چه کله د هغه نه شهادت طلب کړې شی نو فورا بغیر د تاخیر نه د دې کار دپاره اودریږی. دې استعجال او عدم تاخیر لره مبالغة په قبل الطلب سره تعبیر کړې شوې دې. والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری

باب فِيمَنْ يُعِينُ عَلَى خُصُومَةٍ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَعْلَمَ أَمْرَهَا

څوک چه په فریقینو کښې دچا سره تعاون وکړی اودا معلومه نه وی چه کوم فریق په حقه دې؟

[۳۵۹۷]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عُمَارَةُ بْنُ غَزِيَّةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ رَاشِدٍ، قَالَ: جَلَسْنَا لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، فَخَرَجَ إِلَيْنَا فَجَلَسَ، فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ فَقَدْ ضَادَّ اللَّهَ، وَمَنْ خَاصَمَ فِي بَاطِلٍ وَهُوَ يَعْلَمُهُ لَمْ يَزَلْ فِي سَخَطِ اللَّهِ حَتَّى يَنْزِعَ عَنْهُ، وَمَنْ قَالَ فِي مُؤْمِنٍ مَا لَيْسَ فِيهِ أَسْكَنَهُ اللَّهُ رَدْغَةَ الْخَبَالِ، حَتَّى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ".

دیحي بن راشد نه روایت دې فرمائی چه مونږدعبدالله بن عمر رضی الله عنهما په انتظارکښې ناست وو هغه راغې او د کیناستو نه پس ئې ووئیل:مادنبی علیه السلام نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئې چاچه دالله تعالی په په حدودوکښې دیوحد د بندولو دپاره سفارش وکړونودغه کس دالله تعالی سره ضد وکړو، اوچاچه په ناحقه بصدا جګړه وکړله نوالله تعالی به ددغه کس نه دهمیشه دپاره خفه وي ترڅوچه ده دا جګړه پرینښودلي نه وي أوڅوك چه دیو ایمان دار متعلق داسې خبره وکړي کومه چه په هغه کښې نه وي نودې به په خیرو اوختو اوچتروکښې وي ترڅوچه ده توبه نه وي کړي.

قوله: ﴿ مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ فَقَدْ ضَادَّ اللَّهَ ﴾

یعنی کوم سړې چه په بل سړی باندې د ثبوت حد نه پس د تنفیذ حد نه مخکښې د هغه د سفارش دپاره اودریږی اود عدم تنفیذ حدکوشش اوکړی نوهغه سړی د الله تعالی د حکم سخت مخالفت اوکړو، قاضی صاحب ته د مسئلې او د معاملې د رسیدو نه مخکښې په دې خبره کښې کوشش پکار دې چه په څه طریقه باندې حد ثابت نه شی هغه بل امر دې. په حدیث کښې په دې باندې وعید نشته بلکه دا خو محمود او غوره دې خو قاضی ته د رسیدو نه پس بیا سفارش کول لکه چه مونږ پورته لیکلې دی دا ناجائز او مذموم دې، د حدود شرعیه نفاذ ډیر اهم او موجب د خیر او برکت دې.... كما ورد فى الكتاب والسنة.

قوله: ﴿ وَمَنْ خَاصَمَ فِي بَاطِلٍ وَهُوَ يَعْلَمُهُ لَمْ يَزَلْ فِي سَخَطِ اللَّهِ حَتَّى يَنْزِعَ ﴾ د حدیث دا دویم جزء د ترجمة الباب سره متعلق دې، د دوه کسانو په څه معامله کښې اختلاف دې چه په هغې کښې یو په باطل باندې دې او دویم په حق باندې نو په داسې صورت کښې دې یو هم د هغه

---

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۸۵٦۲)، وقد أخرجه: سلسلة الاحاديث الصحيحه، للالباني (٤٣٧)، مسند احمد (۷۰/۲، ۸۲، ۷۰/۲) (صحیح)

خصم تائيد او امداد نه کوی چه په هغې سره د هغه په باطل باندې کيدل معلوم دی د دې په باره کښې دا وعيد دې چه داسې سړې به هميشه د الله پاک په غصه او ناراضګئ کښې اخته وی تر څو چه د دې نه توبه او رجوع اونکړی.

﴿ وَمَنْ قَالَ فِي مُؤْمِنٍ مَا لَيْسَ فِيهِ أَسْكَنَهُ اللَّهُ رَدْغَةَ الْخَبَالِ حَتَّى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ ﴾ دا د حديث دريم جزء دې چه کوم سړې په يو مومن کښې داسې صفت بيان کړی يعنی د يو داسې عيب په هغه باندې الزام اولګوی کوم چه په هغه کښې نه دې، او هغه د هغې صفت نه بری دې نو د داسې سړی په باره کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه الله تعالى به هغه په آخرت کښې د جهنم په هغه طبقه کښې ساتی چرته چه به د جهنميانو د زخمونو پيپ وی. ﴿ رَدْغَةَ الْخَبَالِ ای التراب المخلوط بعصارة اهل النار ﴾ د جهنميانو د وينې د پيپ ګند..... رسول الله ﷺ فرمائی د هغه استوګنه به په هغې کښې تر هغې پورې وی تر څو چه هغه د خپل قول نه بهر رانشی. څو ظاهره خبره ده چه کوم سړی خبره اوکړه هغه به د هغې نه څنګه واپس شی په دنيا کښې څو رجوع کولې شی د توبې او کفارې په ذريعه، ډير سخت وعيد دې الله پاک دې ترې زمونږ حفاظت اوفرمائی.

[۳۵۹۸](١) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدٍ الْعُمَرِيُّ، حَدَّثَنِي الْمُثَنَّى بْنُ يَزِيدَ، عَنْ مَطَرٍ الْوَرَّاقِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ، قَالَ: وَمَنْ أَعَانَ عَلَى خُصُومَةٍ بِظُلْمٍ، فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ.

نافع د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه او هغه د نبی عليه السلام نه د تيرشوي روايت په شان روايت بيان کړې دې مګر دې اضافي سره چه نبی عليه السلام اوفرمائيل: څوک چه په يوه معامله کښې د ظالم امداد وکړي نو دې د الله تعالى په غضب باندې اخته شو.

بَابٌ فِي شَهَادَةِ الزُّورِ

په دروغه د شهادت کولو بيان

[۳۵۹۹](٢) حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ مُوسَى الْبَلْخِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنِي سُفْيَانُ يَعْنِي الْعُصْفُرِيَّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ النُّعْمَانِ الْأَسَدِيِّ، عَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ، قَالَ: "صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَامَ قَائِمًا، فَقَالَ: عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّورِ بِالْإِشْرَاكِ بِاللَّهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ، ثُمَّ قَرَأَ: فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ ۳۰ حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ سورة الحج آية ۲۹-۳۰".

د خريم بن فاتك رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام د سحر مونځ وکړو او د مونځ د فارغيدو نه پس اودريدو او درې پيرې ئې اوفرمائيل په دروغه ګواهی (شهادت کول) د الله تعالى سره د شرک کولو برابر دې درې پيرې ئې اوفرمائيل او بيائې دا ايت مبارک تلاوت کړو: «فاجتنبوا الرجس من الأوثان واجتنبوا قول الزور * حنفاء لله غير مشركين به».

١): سنن ابن ماجه/الأحكام ٦ (٢٣٢٠)، (تحفة الأشراف: ٨٤٤٥) (حسن)

٢): سنن ابن ماجه/الأحكام ٣٢ (٢٣٧٢)، (تحفة الأشراف: ٣٥٢٥)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الشهادات ٣ (٢٢٩٩)، مسند احمد (٤/٢٣١) (ضعيف)

قوله: ﴿ فَقَالَ « عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّورِ بِالإِشْرَاكِ بِاللَّهِ ». ثَلاَثَ مِرَارٍ ثُمَّ قَرَأَ ﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ ﴾

شرح الحديث:

رسول الله ﷺ فرمائی چه دروغژنه ګواهی د شرک برابر ده، دا خبره رسول الله ﷺ درې کرته اوفرمائیله او د دې په تائید کښې رسول الله ﷺ دا آیت کریمه تلاوت اوفرمائیلو، تائید یا خو په دې طریقه چه په دې آیت کریمه کښې ﴿ اجتناب من الزور ﴾ او ﴿ اجتناب من عبادة الاوثان﴾ دواړه یو ځائې ذکر شوې دی اګر چه اقتران فی الذکر اقتران فی الحکم لره مستلزم نه دې خو کم از کم مناسبت او قربت لره خو مستلزم دې، او یا بیا استدلال د آیت نه د روستو حصې نه دې ﴿ حنفاء لله غیر مشرکین به ﴾ د حضرت ګنګوهی رحمه الله په تقریر کښې دی چه د قول زور ډیر مراتب دی او په دې کښې څه شک دې چه اشراک بالله هم د دې یو قسم دې ځکه چه په دې کښې قول زور کیدل صادق راځی چه د هغې تائید په﴿ حنفاء لله

والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری

بَابُ مَنْ تُرَدُّ شَهَادَتُهُ

بابـ مردود الشهادت څوک دې؟

[۳۶۰۰](۱) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَاشِدٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَدَّ شَهَادَةَ الْخَائِنِ، وَالْخَائِنَةِ، وَذِي الْغِمْرِ عَلَى أَخِيهِ، وَرَدَّ شَهَادَةَ الْقَانِعِ لِأَهْلِ الْبَيْتِ، وَأَجَازَهَا لِغَيْرِهِمْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْغِمْرُ الْحِنَةُ، وَالشَّحْنَاءُ، وَالْقَانِعُ الْأَجِيرُ التَّابِعُ مِثْلُ الْأَجِيرِ الْخَاصِّ.

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام دخیانت کونکي سړې او د خیانت کونکي ښځې اودمسلمان سره دکینه کونکي شهادت رد کړې دې اوهمدارنګې په کوروالاباندې ئې دهغه د نوکر ګواهی رد کړې ده البته دنورو خلقو په حق کښې ددغه نوکر ګواهی قبوله ده. امام ابوداؤد فرمائی د حقد اوشحناء مفهوم یودې، اوقانع دپخوانی نوکر په معنی راځی ددې حکم هم دخاص مزدور په شان دې.

﴿ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- رَدَّ شَهَادَةَ الْخَائِنِ وَالْخَائِنَةِ وَذِى الْغِمْرِ عَلَى أَخِيهِ ﴾

شرح الحديث من حيث الفقه:

د خیانت نه مراد عام دې که هغه خیانت فی اموال الناس وی یا فی احکام الله وفرائضه، په دواړو صورتونو کښې سړې فاسق وی، او د غمر معنی ده حقد او دشمنی، یعنی د دشمن او کینه ګر شهادت د خپل رور خلاف، ﴿ یعنی شهادة العدو علی العدو ﴾ رسول الله ﷺ دا دواړه ﴿ شهادة الخائن و شهادة الخائنة ﴾ رد اوفرمائیل. د جمهور مسلک دا دې ﴿ لا تجوز شهادة العدو علی العدو ﴾ د احنافو مذهب هم دا دې خو بعضو شارحینو دا لیکلې دی چه دا

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۸۷۱۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۱/۲، ۲۰۳، ۲۰۴، ۲۲۵) (حسن)

حدیث د احنافو خلاف دې ځکه چه هغوی شهادة العدو علی العدو ته جایز وائی، خو دا نقل صحیح نه دې، زمونږ په نزد شهادة العدو علی العدو په هغه صورت کښې معتبر دې چه کله هغه [۳۵۹۹] عداوت، عداوت دینیه وی او که عداوت دنیویه دې نو بیا زمونږ په نزد هم ناجائز دې. ﴿ثم اختلفو (ای الحنفیة فقیل مطلقا وقیل بل اذا کانت موجبة للفسق﴾.........

﴿وَرَدَّ شَهَادَةَ الْقَانِعِ لِأَهْلِ الْبَيْتِ وَأَجَازَهَا لِغَيْرِهِمْ﴾ د قانع اهل البیت نه مراد خادم دې کوم چه د چا په کور باندې صرف په ډوډئ باندې صبر کړې وی. ښکاره خبره ده چه د داسې سړی شهادت د هغه کور د خلقو په حق کښې شکی دې ﴿واجازها لغیرهم﴾ یعنی د دې قانع شهادت رسول الله ﷺ مطلقا رد نه دې فرمائیلې بلکه خاص د هغه کور والا د خلقو دپاره د هغوی نه علاوه ئې د نورو په حق کښې معتبر منلې دې. ځکه چه هغه د تهمت مقام نه دې.

والحدیث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری.

دا حدیث د عائشې رضی الله عنها نه په ترمذی شریف کښې هم منقول دې. او امام ترمذی رحمه الله په دې باندې من حیث الفقه هم کلام فرمائیلې دې لهذا هغه دې هم اوکتلې شی بلکه دا چه په دې مقام کښې دې الکوکب الدری هم اوکتلې شی، مفید به ثابت شی.

[۳۶۰۱] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَلَفِ بْنِ طَارِقٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ عُبَيْدٍ الْخُزَاعِيُّ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى، بِإِسْنَادِهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ، وَلَا خَائِنَةٍ، وَلَا زَانٍ، وَلَا زَانِيَةٍ، وَلَا ذِي غِمْرٍ عَلَى أَخِيهِ".

سلیمان بن موسی پخپل سند سره دنبی علیه السلام نه روایت کړې دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی دخیانت کونکي سړي او ښځې شهادت قبول نه دې اوځوك چه دخپل مسلمان ورور سره بغض ساتي دهغه شهادت هم قبول نه دې (چه ددنیاوی عرض دپاره ورسره دشمنی کوی)

بَاب شَهَادَةِ الْبَدَوِيِّ عَلَى أَهْلِ الْأَمْصَارِ

په ښاروالا باندې د باندچی د ګواهئ کولو بیان

[۳۶۰۲] (²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، وَنَافِعُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ بَدَوِيٍّ عَلَى صَاحِبِ قَرْيَةٍ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې دښار په اوسیدونکو باندې د باندې (کلی) د اوسیدونکی ګواهی جائز نه ده ځکه چه اکثر باندچیان کم عقل وی.

﴿لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ بَدَوِيٍّ عَلَى صَاحِبِ قَرْيَةٍ﴾ یعنی د ځنګلی او د کلی وال شهادت د ښهر د اوسیدونکی په خلاف کښې جائز او معتبر نه دې.

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۸۷۱۱) (حسن)
²): سنن ابن ماجه/الأحکام ۳۰ (۲۳۶۷)، (تحفة الأشراف: ۱۴۲۳۱) (صحیح)

شارحینو لیکلي دي چه د امام مالک رحمه الله په دې حدیث باندې عمل دې، او جمهور وائي چه دا حدیث د قاعده کلیه په طور نه دې بلکه داسې په دې وجه فرمائیلې شوې دی چه عموما د باندو خلق جاهل او بې علم وی د شهادت صلاحیت او اهلیت په هغوی کښې نه وی، خو که په چا کښې د دې اهلیت وی نو بیا به د هغه شهادت هم معتبر وی.

والحدیث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری

بَابُ الشَّهَادَةِ فِي الرَّضَاعِ

په رضاعت (تی ورکولو) باندې د شهادت کولو بیان

مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه :

دا مسئله مختلف فیه ده، د امام احمد رحمه الله په نزد د ثبوت رضاعت دپاره د یوې زنانه شهادت کافي دې، او د مالک په نزد د دوه زنانو شهادت، او د احنافو په نزد د عام قاعدې مطابق شهادة د عدلین او عدل او عدلتین یعنی دوه عادل سړی یا یو عادل سړې او دوه عادلې زنانه، او د امام شافعي رحمه الله په نزد هم دغه شان دې څنګه چه د احنافو په نزد دې، خو هغوی فرمائي چه صرف زنانه وی نو که هغه څلور وی نو د هغوی شهادت به معتبر وی، د احنافو په نزد داسې نه ده.

[۳۶۰۳] (١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، حَدَّثَنِي عُقْبَةُ بْنُ الْحَارِثِ، وَحَدَّثَنِيهِ صَاحِبٌ لِي عَنْهُ، وَأَنَا لِحَدِيثِ صَاحِبِي أَحْفَظُ، قَالَ: "تَزَوَّجْتُ أُمَّ يَحْيَى بِنْتَ أَبِي إِهَابٍ، فَدَخَلَتْ عَلَيْنَا امْرَأَةٌ سَوْدَاءُ، فَزَعَمَتْ أَنَّهَا أَرْضَعَتْنَا جَمِيعًا، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَأَعْرَضَ عَنِّي، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهَا لَكَاذِبَةٌ، قَالَ: وَمَا يُدْرِيكَ؟ وَقَدْ قَالَتْ: مَا قَالَتْ دَعْهَا عَنْكَ".

د ابوملیکه نه روایت دې فرمائي چه ماته عقبه بن حارث حدیث بیان کړې دې او دهغه نه زما یو دوست هم دا اوریدلې دې اوماته دخپل دوست روایت ډیر ښه یاد دې: عقبه وئیلی دی ما دام یحیي بنت اهاب سره نکاح وکړه او مونږ ته دتور رنګ والایوه ښځه راغله هغې اووئیل ماتاسو دواړو ته تې درکړې دې ماچه دا واوریدل نودنبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې وکړو خونبی صلی الله علیه وسلم راته توجه ونکړله ماعرض اوکړو اې دالله رسوله هغه ښځه دروغژنه ده نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل تاته څنګه معلومه شوه هغه خوهمداسې وائي څه چه یسې وئیلي دي، اوته خپله ښځه پریږده.

﴿ حَدَّثَنِي عُقْبَةُ بْنُ الْحَارِثِ وَحَدَّثَنِيهِ صَاحِبٌ لِي عَنْهُ - وَأَنَا لِحَدِيثِ صَاحِبِي أَحْفَظُ قَالَ تَزَوَّجْتُ أُمَّ يَحْيَى بِنْتَ أَبِي إِهَابٍ فَدَخَلَتْ عَلَيْنَا امْرَأَةٌ سَوْدَاءُ فَزَعَمَتْ أَنَّهَا أَرْضَعَتْنَا جَمِيعًا ﴾

عقبه بن الحارث فرمائي چه ما د یوې زنانه ام یحیی بنت ابی اهاب سره وادهٔ اوکړو. د وادهٔ نه یو څو ورځې پس یو توره زنانه مونږ کره راغله او وې وئیل چه ما تاسو ته په ماشومتوب کښې پئ درکړې دی یعنی بیا تاسو وادهٔ څنګه اوکړو؟ عقبه فرمائي چه زه

(١): خ العلم ٢٦ (٨٨)، البيوع ٣ (٢٠٥٢)، الشهادات ٤ (٢٦٤٠)، ١٣ (٢٦٥٩)، ١٤ (٢٦٦٠)، النكاح ٢٣ (٥١٠٤)، سنن الترمذي/الرضاع ٤ (١١٥١)، سنن النسائي/النكاح ٥٧ (٣٣٣٢)، (تحفة الأشراف: ٩٩٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧/٤، ٨، ٣٨٤)، سنن الدارمي/النكاح ٥١ (٢٣٠١) (صحيح)

په دې خبره اوريدو باندې د رسول اللهﷺ خدمت کښې حاضر شوم او هغوی ته مې مسئله بيان کړه (هغوی مسئله په دې انداز کښې بيان کړې وه چه ګويا دا زنانه دروغژنه ده) ـــ رسول اللهﷺ زما په خبره اوريدو باندې اعراض اوفرمائيلو، هغوی فرمائی چه ما رسول اللهﷺ ته صفا عرض اوکړو چه هغه دروغژنه ده، رسول اللهﷺ اوفرمائيل تا ته څه خبر دې چه هغه دروغژنه ده ﴿ دعها عنک ﴾ پريږده دغه زنانه.

امام احمد بن حنبلؒ د دې حديث په ظاهر باندې عمل کولو سره د مرضعه واحده شهادت کافی ګڼړلې دې. جمهور وائی چه دا حديث په ورع او تقوی باندې محمول دې، وفی الرد المختار: الرضاع حجته حجة المال وهی شهادة عدلين او عدل وعدلتين، ولا تقع الفرقة الا بتفريق القاضی، الی آخر ما فی حاشية الکوکب صفحه ۳۴۲... يعنی د احنافو په نزد د رضاعت په مسئله کښې هم هغه دليل معتبر دې کوم چه په عام حقوق ماليه کښې معتبر وی.............

او په حقوق ماليه کښې هم د داسې (شهادة عدلين أو عدل او عدلتين) په خلاف د حدود چه هلته د څلورو کسانو ګواهی پکار ده، او په خلاف د خالص امور دينيه چه هلته د عدل واحد شهادت هم معتبر دې لکه په رويۀ هلال د رمضان کښې، لکن اذا کان بالسمآء علة.

والحديث اخرجه البخاری والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

[۳۶۰۴](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَارِثُ بْنُ عُمَيْرٍ الْبَصْرِيُّ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ ابْنُ عُلَيَّةَ كِلَاهُمَا، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ، وَقَدْ سَمِعْتُهُ مِنْ عُقْبَةَ، وَلَكِنِّي لِحَدِيثِ عُبَيْدٍ أَحْفَظُ فَذَكَرَ مَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: نَظَرَ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ إِلَى الْحَارِثِ بْنِ عُمَيْرٍ، فَقَالَ: هَذَا مِنْ ثِقَاتِ أَصْحَابِ أَيُّوبَ.

ابن ابی مليکه دعقبه بن حارث نه دتيرشوې روايت په شان روايت بيان کړې دې او وئيلې يې دې چه دا روايت مادعقبه نه اوريدلې دې ليکن دعبيد روايت راته ښه ياد دې او باقی روايت دې دتيرشوې روايت په شان ذکرکړو. امام ابوداؤد فرمائی چه حماد بن زيد حارث عميرته وکتل او وئې وئيل چه دې دايوب په ثقه شاګردانو کښې دې.

بَابُ شَهَادَةِ أَهْلِ الذِّمَّةِ وَفِي الْوَصِيَّةِ فِي السَّفَرِ

د سفر په دوران کښې د وصيت متعلق د کافر، ذمی ګواهی کول

د اهل ذمه شهادت په مسلم باندې د احمدؒ په نزد په دې خالص صورت کښې کوم چه په ترجمة الباب کښې ذکرشوې دې يعنی په وصيت فی السفر کښې معتبر دې، د ابراهيم النخعی او اوزاعی رائې هم دا ده، مصنفؒ حنبلی دې لکه مخکښې ډير کرته تير شو هم په دې وجه ئې د حنابله د مسلک مطابق ترجمه قائم کړې ده.

[۳۶۰۵](٢) حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا زَكَرِيَّا، عَنِ الشَّعْبِيِّ، "أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ بِدَقُوقَاءَ هَذِهِ، وَلَمْ يَجِدْ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ يُشْهِدُهُ عَلَى وَصِيَّتِهِ، فَأَشْهَدَ رَجُلَيْنِ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ، فَقَدِمَا الْكُوفَةَ فَأَتَيَا أَبَا مُوسَى الْأَشْعَرِيَّ، فَأَخْبَرَاهُ، وَقَدِمَا بِتَرِكَتِهِ، وَوَصِيَّتِهِ، فَقَالَ الْأَشْعَرِيُّ: هَذَا أَمْرٌ لَمْ يَكُنْ بَعْدَ الَّذِي

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٩٩٠٥) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٠١٣) (صحيح الإسناد)

كَانَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَحْلَفَهُمَا بَعْدَ الْعَصْرِ بِاللَّهِ مَا خَانَا وَلَا كَذَبَا وَلَا بَدَّلَا وَلَا كَتَمَا وَلَا غَيَّرَا، وَإِنَّهَا لَوَصِيَّةُ الرَّجُلِ وَتَرِكَتُهُ فَأَمْضَى شَهَادَتَهُمَا".

دشعبي نه روايت دې فرمائي چه په مسلمانانو کښې ديو کس دوفات وخت راغې اوهيڅ يو مسلمان ورته ملاونه شو چه پخپل وصيت ئې ګواه کړې نودا اهل کتابونه ئې دوه کسان ګواهان کړل بيا هغوی دواړه کوفې ته راغلل اوهغوی ابوموسی اشعری نه ته بيان وکړو او دده ترکه ئې هم راوړې وه او وصيت ئې هم بيان کړو، ابوموسی اشعری اوفرمائيل دا خو يوه داسې خبره ده کومه چه يوځل دنبی ﷺ په دور کښې هم يوځل پيښه شوې وه اوبيا ددينه پس نه ده پيښه شوې ددينه پس ابوموسی اشعريه دغه دوه کسانوته دمازيګرنه پس قسم ورکړو داسې چه په الله قسم مون خيانت نه دې کړې اونه مو دروغ اوونيل اونه موخبره بدل کړې ده اونه موکومه خبره پټه ساتلې ده اويقينا داددغه سړې وصيت وو اوداده‌غه ترکه ده بيا ابوموسی اشعريه ددغه کسانو په شهادت باندې حکم ورکړو.

قوله: ﴿ فَقَالَ الأَشْعَرِيُّ هَذَا أَمْرٌ لَمْ يَكُنْ بَعْدَ الَّذِى كَانَ فِى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم الخ﴾ په دې حديث کښې چه کومه واقعه ذکر شوې ده هغه خو دا ده کومه چه د ابو موسی اشعری رضی الله عنه په زمانه کښې پيښه شوې وه او د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د راپيښيدونکې کومې واقعې چه هغوی حواله ورکړې ده هغه د باب په دويم حديث کښې ذکر کړې شوې

[٣٦٠٦](١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي الْقَاسِمِ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "خَرَجَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَهْمٍ، مَعَ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ، وَعَدِيِّ بْنِ بَدَّاءٍ، فَمَاتَ السَّهْمِيُّ بِأَرْضٍ لَيْسَ بِهَا مُسْلِمٌ، فَلَمَّا قَدِمَا بِتَرِكَتِهِ فَقَدُوا جَامَ فِضَّةٍ مُخَوَّصًا بِالذَّهَبِ، فَأَحْلَفَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ وُجِدَ الْجَامُ بِمَكَّةَ، فَقَالُوا: اشْتَرَيْنَاهُ مِنْ تَمِيمٍ وَعَدِيٍّ، فَقَامَ رَجُلَانِ مِنْ أَوْلِيَاءِ السَّهْمِيِّ فَحَلَفَا لَشَهَادَتُنَا أَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا، وَإِنَّ الْجَامَ لِصَاحِبِهِمْ قَالَ: فَنَزَلَتْ فِيهِمْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ سورة المائدة آية ١٠٦".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه يو مسلمان کس دقبيله بنی سهم والا دتميم داري اوعدي بن بداء سره اورتو اوبيادده‌غه کس په داسې ملك کښې انتقال وشو چه هلته هيڅ يو مسلمان موجود نه وو کله چه دغه دوه کسانو دده ترکه راوړله نوپه دې کښې دسپينوزرو يوګلاس ورك ووپه کوم باندې چه دسرو زرو کارشوې وو، نبی ﷺ دوی دواړوته قسم ورکړو اوبياهغه ګلاس په مکه کښې پيداشو دچاسره چه پيداشوهغوی اووئيل چه دامونږه دتميم اوعدي نه اخستلې دې ددينه پس ددغه کس دوارثانونه دوه کسان پاڅيدل اوقسم ئې وکړو چه زمونږه ګواهي ددوی دګواهي نه ريښتونې ده اوګلاس زمونږ د ملکرې دې نوپه دې وخت کښې د ايست کريمه : «يا أيها الذين آمنوا شهادة بينكم إذا حضر أحدكم الموت» نازل شو.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ رَجُلٌ مِنْ بَنِى سَهْمٍ مَعَ تَمِيمٍ الدَّارِىِّ وَعَدِىِّ بْنِ بَدَّاءَ فَمَاتَ السَّهْمِىُّ بِأَرْضٍ لَيْسَ فِيهَا مُسْلِمٌ فَلَمَّا قَدِمَا بِتَرِكَتِهِ فَقَدُوا جَامَ فِضَّةٍ مُخَوَّصًا الخ ﴾

(١) صحيح البخاري/الوصايا ٣٥ (٢٧٨٠)، سنن الترمذي/التفسير ٢٠ (٣٠٦٠)، (تحفة الأشراف: ٥٥٥١) (صحيح)

د عدي بن بداء او تميم داري قصه :

په دې حديث کښې چه کومه واقعه ذکر کړې شوې ده هغه د ترجمة الباب موافق ده او دا هم هغه واقعه ده د کومې حواله چه په پورته روايت کښې تيره شوې ده، او هم دا واقعه د سورة [۳۶۰۶] سبب دې. واقعه دا ده چه د قبيله بنو سهم يو مسلمان سړی چه د هغه نوم بديل وو د تجارت دپاره د خپل کور نه روان شو په دې سفر کښې د هغه دوه ملګرې وو د اهل کتابو نه يعنی نصرانی تميم داري او عدي بن بداء، نو په لاره کښې دا قصه پيښه شوه چه هغه رجل سهمی مرګ ته نزدې شو نو هغه دواړو لره خپل وصی جوړ کړو او بيا ئې خپل ټول سامان او مال تجارت هغه دواړو ته حواله کړو خپل کور ته د رسولو دپاره، دې خلقو مکه مکرمه ته رسيدو سره د هغه سهمی هغه سامان د هغه د کور خلقو ته اورسولو، په دې سامان کښې د چاندئ يو پياله وه چه په هغې کښې د سرو زرو کانړی لګيدلي وو او دا د هغه د سامان قيمتی جزء وو د هغه هغوی خيانت اوکړو او سامان سره ئې ورنکړو. چه کله د سهمی اولياء دا پياله د يو دکاندار سره اوليده. دکاندار ورته د تپوس کولو نه پس اوئيل چه ما خو دا پياله د تميم داري او عدي بن بداء نه اخستلې ده، دوباره دا مقدمه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې پيش شوه نو هغوی دواړو دا چال اوچلولو چه دا خو مونږ د دې مړ کيدونکی رجم سهمی نه په بيع اخستلې وو، اولياء سهمی د دې نه انکار اوکړو، دې کرت معامله برعکس شوه، په شروع کښې د سهمی ورثه مدعی وو او دا دواړه نصرانی مدعيا عليه شو، په دې وجه دې وخت کښې د دواړو نه قسم واخستلې شو اوس د دې نه د دوباره په قضيه کښې دا دواړه نصرانی مدعی شو. يعنی مدعی شراء او اولياء سهمی د هغې منکر، د مدعين سره هيڅوک ګواه وو نه لهذا اولياء سهمی کوم چه منکر وو د هغوی په قسم باندې د هغې موافق فيصله اوکړې شوه، د دې واقعه دا پوره مضمون په حديث الباب کښې نه دې ذکر شوې. د مختلفو روايتونو د جمع کولو نه حاصليږي. والله تعالى اعلم بالصواب، فهذا شرح هذا الباب وحديثه، والحديث اخرجه الترمذي، واخرجه البخاري تعليقا، قاله المنذري

بَابٌ إِذَا عَلِمَ الْحَاكِمُ صِدْقَ الشَّاهِدِ الْوَاحِدِ يَجُوزُ لَهُ أَنْ يَحْكُمَ بِهِ

کله چه قاضی ته د يو ګواه صداقت معلوم شی نو فيصله پرې کولې شی

قضاء القاضی بعلمه کښې مذاهب ائمه :

په دې ترجمة الباب کښې چه کومه مسئله ذکر شوې ده هغه ده د قضاء القاضی بعلمه مسئله. د ترجمة الباب مضمون دا دې چه که په يوه فيصله کښې مدعی صرف يو ګواه پيش کړې شواو دويم ګواه د هغه سره نه وو خو حاکم او قاضی ته ذاتی طور د دې شاهد د شهادت صدق معلوم وی، خو د شهادت نصاب پوره نه وی نو په داسې صورت کښې قاضی د مدعی په حق کښې فيصله کولې شی يا نه، يعنی علم د قاضی قائم مقام د يو ګواه کيدې شی يا نه؟ نو د دې په باره کښې دا ده چه په حدودو کښې خو قضاء القاضی بعلمه بالاجماع جائز نه ده، او په غير حدود کښې د امام شافعی او صاحبينو په نزد مطلقا ناجائز

ده. او د امام احمد او مالک په نزد مطلقا جائز ده، او د امام مالک رحمه الله په نزد تفصيل دي هغه دا چه د قاضي علم که د قاضي د جوړيدو نه پس قاضي ته حاصل شوي دي نو د دي علم اعتبار خو به وي او په هغي سره به فيصله کول جائز وي او که هغه علم د قاضي قبل القضاء دي يعنی د قاضي جوړيدو نه مخکښې نو هغه معتبر نه دي.

[۳٦۰۷]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، أَنَّ الْحَكَمَ بْنَ نَافِعٍ حَدَّثَهُمْ، أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ، أَنَّ عَمَّهُ حَدَّثَهُ، وَهُوَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "ابْتَاعَ فَرَسًا مِنْ أَعْرَابِيٍّ، فَاسْتَتْبَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَقْضِيَهُ ثَمَنَ فَرَسِهِ، فَأَسْرَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَشْيَ وَأَبْطَأَ الْأَعْرَابِيُّ، فَطَفِقَ رِجَالٌ يَعْتَرِضُونَ الْأَعْرَابِيَّ فَيُسَاوِمُونَهُ بِالْفَرَسِ، وَلَا يَشْعُرُونَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْتَاعَهُ، فَنَادَى الْأَعْرَابِيُّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ مُبْتَاعًا هَذَا الْفَرَسِ وَإِلَّا بِعْتُهُ، فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ سَمِعَ نِدَاءَ الْأَعْرَابِيِّ، فَقَالَ: أَوْلَيْسَ قَدِ ابْتَعْتُهُ مِنْكَ، فَقَالَ الْأَعْرَابِيُّ: لَا وَاللَّهِ مَا بِعْتُكَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَلَى، قَدِ ابْتَعْتُهُ مِنْكَ، فَطَفِقَ الْأَعْرَابِيُّ يَقُولُ: هَلُمَّ شَهِيدًا، فَقَالَ خُزَيْمَةُ بْنُ ثَابِتٍ: أَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَايَعْتَهُ، فَأَقْبَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى خُزَيْمَةَ، فَقَالَ: بِمَ تَشْهَدُ؟، فَقَالَ: بِتَصْدِيقِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهَادَةَ خُزَيْمَةَ بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ".

ابن خزيمه دخپل تره نه څوك چه دنبی علیه السلام په صحابه کرامو کښې دي روايت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام ديو اعرابي نه يو اس واخستو ورته ئې اوفرمائيل چه په ما پسې رازه ددې دپاره چه داس قيمت درته درکړم نونبی علیه السلام تيز تلو او اعرابي سست روان وونويو څو کسان دي اعرابي ته را روان شواوده داس دقيمت خبرې ئې کولې اوهغوی ته داپته نه وه چه دده اس نبی علیه السلام اخستلې دي نو په دې وخت کښې ديهاتي نبی علیه السلام ته اواز وکړو او اوئې وئيل: که چرې دا اس ته اخلې خوخه ده ورنه زه ئې خرڅوم، نبی علیه السلام چه دا واوريدل نو اودريدو او اوئې فرمائيل: اياماستانه دا اس نه دی اخستل؟ ديهاتي ووئيل هيڅکله نه په الله قسم ماپتا اس نه دی خرڅ کړي، نبی علیه السلام اوفرمائيل چه تاخوپه ما باندې اس خرڅ کړي دي ديهاتي ووئيل چه ګواه پيش کړه په دې وخت کښې خزيمه بن ثابت ووئيل چه زه ګواهي ورکوم، په دې وخت کښې نبی علیه السلام خزيمه ته متوجه شو او ورته ئې اوفرمائيل: ته په څه بنياد شهادت ورکوې؟هغه ووئيل په دې وجه چه زه تاربښتونې ګنړم نو په دې خبره نبی علیه السلام دخزيمه شهادت ددوه شهادتونو قائم مقام مقرر کړو.

قوله: ﴿ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ أَنَّ عَمَّهُ حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- ابْتَاعَ فَرَسًا مِنْ أَعْرَابِيٍّ فَاسْتَتْبَعَهُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- لِيَقْضِيَهُ ثَمَنَ فَرَسِهِ ﴾

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اس اخستلو يوه عبرتناکه واقعه:

د عماره تره چه د هغه نوم عماره بن ثابت دي د هغوی نه روايت دي چه يو کرت رسول الله صلی الله علیه وسلم (چرته په لاره کښې) د يو اعرابی نه د هغه اس واخستلو، چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم اعرابی ته پخپله ملګرتيا کښې د تلو اووې چه کور ته رسيدو سره هغه ته د اس ثمن ادا کړي، پس رسول الله صلی الله علیه وسلم په تيزئ سره روان شو، اعرابی په مزه مزه روان وو، په لاره کښې چه کوم خلق

(): سنن النسائي/البيوع ۷۹ (٤٦٥۱)، (تحفة الأشراف: ۱٥٦٤٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۱٥/٥) (صحيح)

هغه سره ملاؤ شو هغوی هغه سره د هغه د اس په باره کښې د اخستلو خبرې کولې، هغوی ته دا معلومه نه وه چه رسول اللهﷺ دا اس اخستلې دې (اوس اوګورئ د اعرابی په نیت کښې فساد راغلو) او هغه رسول اللهﷺ ته آواز اوکړو چه که تاسو دا اس اخلئ نو واخلئ ګینې زه دا خرخوم. رسول اللهﷺ د اعرابی په دې خبره اوریدو باندې اودریدو او د هغه طرف ته کتلو سره ئې اوفرمائیل ﴿ اولیس قد ابتعته منک ﴾ آیا ما دا اس ستا نه اخستلې نه دې؟ اعرابی انکار اوکړو او په دې باندې ئې قسم هم اوخوړلو. رسول اللهﷺ اوفرمائیل داسې نه ده بلکه دا ما ستا نه اخستلې دې، اعرابی اووې چه ګواه راولئ (په دې موقع باندې اتفاقا خزیمه بن ثابت راورسیدو) هغوی اوفرمائیل زه ګواهی ورکوم چه تا د دې اس د رسول اللهﷺ سره بیع کړې ده، د هغوی په شهادت باندې رسول اللهﷺ هغوی ته متوجه شو او وې فرمائیل ﴿ بم تشهد ﴾ چه ته څنګه شهادت ورکوئ ته خو د بیع وخت کښې موجود نه وې. ﴿ فقال بتصدیقک یا رسول الله ﴾ نو هغوی جواب کښې عرض اوکړو چه صرف ستاسو د قول د تصدیق دپاره، [1] یعنی چونکه تاسو د بیع خبره کوئ هم دا زما د شهادت مبنی ده ځکه چه ستاسو خبره د حق نه سوا هیڅ نه ده او کیدې هم نه شی، لهذا ستاسو د تصدیق په طور زه ګواهی ورکوم، رسول اللهﷺ د هغوی انتهائی وزنی او قیمتی خبره اوریدلو سره هغوی ته هغه تمغه ورکړه چه د همیشه دپاره ئې د هغوی شهادت خانله د دوه شهادتونو برابر اوګرځولو، د دې اعرابی نوم په بعض روایتونو کښې سواء بن الحارث راغلې دې او په بعضو کښې سواء بن قیس، خو دې ته حافظ وهم وئیلې دې، د دې قصې تکمله دا ده چه بیا کله ټولو خلقو ته د رسول اللهﷺ د شراء قصه معلومه شوه نو بیا چا هم د دې نه پس هغه اس د دې اعرابی نه وانخستلو، حال دا چه د هغه مقصد هغې له خرخول وو خو چه کله چاهغه وانخستلو نوبیا مجبورا هغه مابنام کور ته بوتلو او کور کښې ئې اوتړلو، سحرچه کله هغه پاسیدو نو هغه د خپل اس عجیبه حال اولیدو چه هغه مړ شوې وو او یوه خپه دهغه پورته اوچته شوې وه﴿فاصبحت رافعة رجلها ﴾کذافی الشفاءللقاضی عیاض په دې حدیث کښې وئیلې کیدې شی چه قضاء القاضیّ بلعمه موندلې شوې ده یعنی بما علمه بعد القضاء هم هغه صورت کوم چه د امام صاحبؒ په نزد معتبر دې ځکه چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل ﴿ قد ابتعته ﴾ خو دا بیله خبره ده چه رسول اللهﷺ په خپل حق کښې د فیصلې فرمائیلو نه پس هغه اختیار نه کړه بلکه اس ئې واپس کړو. خو که ځان سره ئې ساتل غوښتل نو رسول اللهﷺ ته حق حاصل وو. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

---

[1] بتصدیقک.... دویم مطلب ئې دا هم کیدې شی چه ستاسو د تصدیق د وجې نه، یعنی چونکه اول د ایمان راوړلو په وخت ما ستاسو تصدیق کړې دې چه تاسو څه هم راوړې دی او چه څه هم فرمایئ ټول رشتیا دی په دې وجه دا هم رشتیا دی)

بَابُ الْقَضَاءِ بِالْيَمِينِ وَالشَّاهِدِ

په يو قسم او د يو ګواه په ګواهئ باندې د فيصلې کولو بيان

[۳۶۰۸]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، أَنَّ زَيْدَ بْنَ الْحُبَابِ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا سَيْفٌ الْمَكِّيُّ، قَالَ عُثْمَانُ، سَيْفُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَضَى بِيَمِينٍ وَشَاهِدٍ".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام په يو ګواه او يو قسم باندې فيصله کړې ده.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَضَى بِيَمِينٍ وَشَاهِدٍ ﴾

او د دې نه روستو طريق کښې دا زيادت دې ﴿ قال عمرو : في الحقوق ﴾

د مسئلة الباب وضاحت او مذاهب ائمه :

که په يو قضيه کښې مدعی سره صرف يو ګواه وی نو په داسې صورت کښې يمين مدعی د شاهد اخر قائم مقام کيدې شی يا نه؟ او بيا د مدعی په حق کښې فيصله کول جائز دی يا نه؟ د ائمه ثلاث په نزد جائز دې خو صرف په هغه دعاوی کښې چه د هغې تعلق د حقوق او مال سره وی نه د حدود سره او د احنافو په نزد جائز نه دې، په حديث الباب کښې د جمهور مذهب ثابتيږی، د احنافو دليل هغه مشهور حديث دې کوم چه حد د تواتر ته نزدې دې، ﴿ البينة على المدعى واليمين على من انكر ﴾ او په حديث الباب کښې په دې مسئله کښې احتمال دې ځکه چه د دې په معنی کښې دويم احتمال هم دې هغه دا چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو ګواه په موجودګئ کښې په يمين د مدعی عليه باندې فيصله اوکړه، يعنی څنګه چه د مطلقا شاهد نه کيدو په صورت کښې په يمين د مدعی عليه باندې فيصله کيږی دغه شان د يو ګواه د موجود کيدو په صورت کښې هم رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې اوکړل، په دې مسئله کښې امام بخاری رحمه الله هم د احنافو سره دې، پس هغوی ترجمه قائم کړې ده ﴿ باب اليمين على المدعى عليه ﴾ حضرت شيخ په تراجم د بخاری کښې مسئله د قضاء بيمين کښې د امامانو د اختلاف د ليکلو نه پس ليکلې دی : ﴿ قلت وميل البخارى الى مسلک الحنفية واستدل عليه بالحصر فى قوله صلى الله عليه وسلم شاهداک او يمينه، وبقصته ابن شبرمة، وبحديث ابن عباس اهـ ﴾ زه وايم چه په حديث الباب يعنی ﴿ قضى بيمين وشاهد ﴾ کوم چه د جمهورو مستدل دې، په دې مسئله کښې دا روايت د افراد مسلم نه دې او د احنافو دليل متفق عليه دې لکه چه اوس په تراجم کښې تير شو د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد ﴿ شاهداک او يمينه ﴾ هم دغه شان امام بخاری په کتاب الرهن کښې باب قائم کړې دې ﴿ اذا اختلف الراهن والمرتهن ونحوه بالبينة المدعى واليمين المدعى عليه ﴾ او بيا ئې د هغې د لاندې دا حديث د ابن عباس رضي الله عنهما ذکر کړو ﴿ ان النبى صلى الله عليه وسلم قضى ان اليمين المدعى عليه ﴾ دا حديث د ابن عباس رضي الله عنهما لره امام بخاری رحمه الله په کتاب

(): صحيح مسلم/الأقضية ٢ (١٧١٢)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٣١ (٢٣٧٠)، (تحفة الأشراف: ٦٢٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٤٨/١، ٣١٥، ٣٢٣) (صحيح)

الشهادات کښې ﴿ باب اليمين على المدعى عليه في الاموال والحدود ﴾ د لاندې ذکر کړې دې.
والحديث اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري

[۳۶۰۹] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، وَسَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ سَلَمَةُ فِي حَدِيثِهِ، قَالَ عَمْرٌو: فِي الْحُقُوقِ.

عمروبن دينارهم ددې روايت په شان روايت بيان کړې دې اوسلمه په خپل روايت کښې دا اضافه کړې ده چه دا فيصله دحقوقو په سلسله کښې شوې وه.

[۳۶۱۰] (۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ أَبُو مُصْعَبٍ الزُّهْرِيُّ، حَدَّثَنَا الدَّرَاوَرْدِيُّ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَضَى بِالْيَمِينِ مَعَ الشَّاهِدِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَزَادَنِي الرَّبِيعُ بْنُ سُلَيْمَانَ، الْمُؤَذِّنُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: أَخْبَرَنِي الشَّافِعِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ، قَالَ: فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِسُهَيْلٍ، فَقَالَ: أَخْبَرَنِي رَبِيعَةُ، وَهُوَ عِنْدِي ثِقَةٌ أَنِّي حَدَّثْتُهُ إِيَّاهُ وَلَا أَحْفَظُهُ، قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ: وَقَدْ كَانَ أَصَابَتْ سُهَيْلًا عِلَّةٌ أَذْهَبَتْ بَعْضَ عَقْلِهِ وَنَسِيَ بَعْضَ حَدِيثِهِ فَكَانَ سُهَيْلٌ بَعْدُ يُحَدِّثُهُ، عَنْ رَبِيعَةَ عَنْهُ، عَنْ أَبِيهِ.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام په يوګواه او په يوقسم باندې فيصله وکړه امام ابوداؤد فرمائي ربيع بن سليمان موذن ماته په دې حديث کښې دا اضافه بيان کړې ده او وئيلي ئې دي چه ماته شافعي دعبدالعزيز نه خبر راکړې دې ماددې ذکر سهيل ته وکړو هغه اووئيل خبر راکړې دې ماته ربيعه اوهغه زما په نزد باندې ثقه دې چه ماده ته حديث بيان کړې دې خو ماته ياد نه دې عبدالعزيز وئيلي دی سهيل په داسې مرض أخته شوې وو په کوم باندې چه دده عقل خراب شوې وو او څه حديثونه ورنه هير شوي وو سهيل به دربيعه نه دهغه دپلار په واسطه روايتونه بيانول.

﴿ حَدَّثَنَا الدَّرَاوَرْدِيُّ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ ﴾ او د دې نه پس راځي، ﴿ أَخْبَرَنَا الشَّافِعِيُّ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ قَالَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِسُهَيْلٍ فَقَالَ أَخْبَرَنِي رَبِيعَةُ - وَهُوَ عِنْدِي ثِقَةٌ - أَنِّي حَدَّثْتُهُ إِيَّاهُ وَلاَ أَحْفَظُهُ ﴾

شرح السند :

د رومبی سند نه معلوميږی چه دا حديث عبدالعزيز ته (د دراوردی نوم عبدالعزيز دې) د سهيل نه په واسطه د ربيعه را رسيدلې وو، په دې بل سند کښې عبدالعزيز دا وائي چه زه روستو براه راست د سهيل سره ملاؤ شوم او هغوی ته مې دا روايت ذکر کړو او دا چه ستاسو دا حديث ماته په واسطه د ربيعه را رسيدلې دې (په ظاهر کښې خو مطلب دا دې چه اوس زه دا براه راست ستاسو نه اوريدل غواړم چه علو سند حاصل شی) نو هغوی په دې باندې دا اووې چه ماته ربيعه دا خبره بيان کړه چه ربيعه زما په نزد ثقه دی لهذا کيدې شی چه دا حديث ما هغوی ته بيان کړې وی اګر چه ماته ياد نه دې، دا امر اخر دې.

﴿ فَكَانَ سُهَيْلٌ بَعْدُ يُحَدِّثُهُ عَنْ رَبِيعَةَ عَنْهُ عَنْ أَبِيهِ ﴾ يعنی د عبدالعزيز د دې خبرې نه پس د سهيل بن ابی صالح دا معمول جوړ شوې وو چه هغوی دا حديث داسې بيان کړې وې چه

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۶۲۹۹) (صحيح)
(۲): سنن الترمذي/الأحكام ۱۳ (۱۳۴۳)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۳۱ (۲۳۶۸)، (تحفة الأشراف: ۱۲۶۴۰) (صحيح)

ما دا حديث اوريدلي دي د ربيعه نه او ربيعه خپله زما نه. او بيا چه وړاندې کوم سند دې هغه بيانوي، يعني سهيل کوم چه في الواقع استاد دې د ربيعه. او ربيعه د هغوی شاګرد دې خو چونکه سهيل دا حديث هير کړې وو. په دې وجه هغوی د دې حديث د روايت کولو دا صورت اختيار کړو کوم چه پورته ذکر شوې دې. ﴿سهيل بن ابی صالح عن ربيعه عن سهيل﴾ لهذا اوس دا حديث د اهل اصول په نزد د ﴿من حدث ونسی﴾ د قبيل نه شو، د دې سند مثال په ترمذی شريف باب المنديل بعد الوضوء کښې تيرشوې دې. ﴿حدثنا جرير قال حدثنيه علی بن مجاهد، عنی وهو عندی ثقة﴾ جرير هم دا حديث د علی بن مجاهد نه بيان کولو سره هير کړې وو. دلته په کتاب کښې دا هم دی، عبدالعزيز وائی چه په اصل کښې سهيل باندې څه بيماری لګيدلې وه داسې چه په هغې سره د هغوی ذهن او حافظه کمزورې شوې وه.

والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری

[۳۶۱۱](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ الْإِسْكَنْدَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا زِيَادٌ يَعْنِي ابْنَ يُونُسَ، حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، عَنْ رَبِيعَةَ، بِإِسْنَادِ أَبِي مُصْعَبٍ وَمَعْنَاهُ، قَالَ سُلَيْمَانُ: فَلَقِيتُ سُهَيْلًا فَسَأَلْتُهُ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: مَا أَعْرِفُهُ، فَقُلْتُ لَهُ: إِنَّ رَبِيعَةَ أَخْبَرَنِي بِهِ عَنْكَ، قَالَ: فَإِنْ كَانَ رَبِيعَةُ أَخْبَرَكَ عَنِّي فَحَدِّثْ بِهِ، عَنْ رَبِيعَةَ عَنِّي.

سليمان وئيلی دی کله چه ما دسهيل سره ملاقات وکړو نوددې حديث متعلق مې ورنه تپوس اوکړو هغه شروع شو چه وئيل ئې ماته ددې علم نشته ما ورته اووئيل ربيعه ماته ستا په ذريعه باندې دا حديث بيان کړې دې هغه اووئيل که چرې داسې وي نو بيا ته دا حديد دربيعه اوزما په ذريعه بيانوه.

[۳۶۱۲](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، حَدَّثَنَا عَمَّارُ بْنُ شُعَيْثِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْبِ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ جَدِّي الزُّبَيْبَ، يَقُولُ: "بَعَثَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشًا إِلَى بَنِي الْعَنْبَرِ، فَأَخَذُوهُمْ بِرُكْبَةَ مِنْ نَاحِيَةِ الطَّائِفِ فَاسْتَاقُوهُمْ، إِلَى نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَكِبْتُ فَسَبَقْتُهُمْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، أَتَانَا جُنْدُكَ فَأَخَذُونَا، وَقَدْ كُنَّا أَسْلَمْنَا وَخَضْرَمْنَا آذَانَ النَّعَمِ، فَلَمَّا قَدِمَ بَلْعَنْبَرِ، قَالَ لِي نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ لَكُمْ بَيِّنَةٌ عَلَى أَنَّكُمْ أَسْلَمْتُمْ قَبْلَ أَنْ تُؤْخَذُوا فِي هَذِهِ الْأَيَّامِ؟، قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: مَنْ بَيِّنَتُكَ؟، قُلْتُ: سَمُرَةُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي الْعَنْبَرِ، وَرَجُلٌ آخَرُ سَمَّاهُ لَهُ، فَشَهِدَ الرَّجُلُ، وَأَبَى سَمُرَةُ أَنْ يَشْهَدَ، فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَدْ أَبَى أَنْ يَشْهَدَ لَكَ فَتَحْلِفُ مَعَ شَاهِدِكَ الْآخَرِ، قُلْتُ: نَعَمْ، فَاسْتَحْلَفَنِي، فَحَلَفْتُ بِاللَّهِ، لَقَدْ أَسْلَمْنَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا، وَخَضْرَمْنَا آذَانَ النَّعَمِ، فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اذْهَبُوا، فَقَاسِمُوهُمْ أَنْصَافَ الْأَمْوَالِ، وَلَا تَمَسُّوا ذَرَارِيَّهُمْ، لَوْلَا أَنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ ضَلَالَةَ الْعَمَلِ مَا رَزَيْنَاكُمْ عِقَالًا، قَالَ الزُّبَيْبُ: فَدَعَتْنِي أُمِّي، فَقَالَتْ: هَذَا الرَّجُلُ أَخَذَ زِرْبِيَّتِي، فَانْصَرَفْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ لِي: احْبِسْهُ، فَأَخَذْتُ بِتَلْبِيبِهِ، وَقُمْتُ مَعَهُ مَكَانَنَا، ثُمَّ نَظَرَ إِلَيْنَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمَيْنِ، فَقَالَ: مَا تُرِيدُ بِأَسِيرِكَ؟، فَأَرْسَلْتُهُ مِنْ يَدِي، فَقَامَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لِلرَّجُلِ: رُدَّ عَلَى هَذَا زِرْبِيَّةَ أُمِّهِ الَّتِي أَخَذْتَ مِنْهَا، فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنَّهَا خَرَجَتْ مِنْ يَدِي، قَالَ: فَاخْتَلَعَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيْفَ الرَّجُلِ فَأَعْطَانِيهِ، وَقَالَ لِلرَّجُلِ: اذْهَبْ فَزِدْهُ آصُعًا مِنْ طَعَامٍ، قَالَ: فَزَادَنِي آصُعًا مِنْ شَعِيرٍ".

١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٢٦٤٠) (صحيح)

٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٦١٩) (ضعيف)

د زبیب عنبری رضی الله عنه نه روایت دې وئیل ئې چه نبی ﷺ دقبیله بنی العنبر په طرف باندې یولښکر ولیږلو لښکریانو ده لره په رکبه مقام (طائف ته نزدې یوکلې دې) کښې ګرفتار کړو اودې بې دګرفتاری په حال کښې دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر کړو زه مخکښې راغلم اونبی ﷺ ته مې سلام وکړو ماداسې اووئیل السلام علیکم یانبی الله ورحمة الله وبرکاته ستالښکر مونږ ته راغلی وو او مونږه ئې ونیولو اوحال دادې چه مونږه اسلام قبول کړې وو او مونږه دڅاروو غوږونه پرې کړې وو کله چه دبنی العنبرقبیلې خلق راغلل نوماته نبی ﷺ اوفرمائیل ایستاسو سره ګواه موجود دې چه تاسو دګرفتارکیدونه مخکښې اسلام قبول کړې وو ماووئیل ولې نه نبی ﷺ اوفرمائیل څوك دې؟ ماعرض اوکړو سمره څوك چه دبني العنبر قبیلې یوکس وو اویوبل کس دچانوم چه زبیب اخستلې وو بیادغه کس شهادت پیش کړو اوسمره دشهادت نه انکار وکړو په دې وخت کښې نبی ﷺ اوفرمائیل چه سمره خودګواهئ ورکولونه انکار وکړو نوایا اوس ستاسو دخپل ګواه سره قسم کولې شئ هغوی عرض اوکړو هو، بیانبی ﷺ ماته په الله قسم راکړو ماپه الله قسم وکړو اوومې وئیل چه یقینامونږه په فلانئ فلانئ ورځ باندې اسلام قبول کړې وو او مونږه دخپلو څارور غوږونه څیرلې وو، نبی ﷺ لښکریانوته اووئیل تاسولاړ شئ اوددوئ نیم مال تقسیم کړئ اوددوئ داولاد سره کار مه لرئ، که چرې الله تعالی ته دمجاهدینو دکوشش ضایع کیدل بدنه ښکاره کیدې نومونږ به ستاسودمال نه یوه رسئ هم نه وه اخستنې زهیب اووئیل زما مور زه راوغوښتلم او راته ئې اووئیل دې کس زمانه غلا کړې ده زه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې وکړو نبی ﷺ اوفرمائیل دې ونیسئ مادده په مرئ کښې څادر واچوو اوزه په خپل ځائې ددې کس سره پاڅیدم نبی ﷺ چه مونږ دواړه ولاړ ولیدو وبې فرمائیل ته دخپل قیدې سره څه کول غواړې؟ ماده لره پریخودو بیانبی ﷺ اودریدو اودغه کس ته ئې اوفرمائیل ته ددغه کس دمور توشدان ورکړه کوم چه تااخستلې دې هغه عرض اوکړو اې دالله رسوله هغه زمانه ضایع شوې دې بیانبی ﷺ ددغه کس توره ماته راکړه اوده ته ئې اووئیل ته لاړ شه او یوڅوصاعه غلې دانې ورته اضافې ورکړه زهیب وائی چه ماته ئې یوڅوصاعه وربشې راکړې.

﴿حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ سَمِعْتُ جَدِّىَ الزُّبَيْبَ يَقُولُ بَعَثَ نَبِيُّ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- جَيْشًا إِلَى بَنِى الْعَنْبَرِ فَأَخَذُوهُمْ بِرُكْبَةَ مِنْ نَاحِيَةِ الطَّائِفِ الخ ﴾

يو اوږد حديث او د هغې شرح :

عمار بن شعیث وائی چه ماته زما پلار شعیث بیان اوکړو چه ما د خپل پلار زبیب عنبری نه واوریدل هغوی وئیل چه رسول الله ﷺ یو لښکر د جهاد او قتال دپاره قبیله بنو العنبر طرف ته اولیږلو (کوم چه خپله د حدیث د راوی یعنی د زبیب قبیله وه) دې لښکر بنو العنبر قید کړل د مقام رکبه په هغه حصه کښې کومه چه د طائف طرف ته ده، او د دې تولو د قید کولو نه پس ئې د رسول الله ﷺ په طرف باندې مدینې طیبې طرف ته روان کړل زبیب عنبری وائی : ﴿ فرکبت فسبقهم الى النبی ﷺ ﴾ یعنی زه د دې لښکر نه بچ شوم او سوریدو

سره د هغه ټولو خلقو نه مخکښې د رسول الله ﷺ خدمت ته حاضر شوم، او هغوی ته مې سلام عرض کړو ﴿ السلام علیک یا نبی الله ورحمة الله وبرکاته ﴾ او ما هغوی ته عرض اوکړو چه ستاسو رالیږلې لښکر مونږ ته راورسیدو هغوی مونږ ټول اونیولو یعنی زمونږ ټوله قبیله، حال دا چه مونږ اسلام قبول کړې وو او د علامت په طور مو د خپلو ځارو نه لږ لږ غوږونه پرې کړې وو، یعنی د اسلام قبلولو په وخت (یعنی دې قبیلې اګر چه اسلام قبول کړې وو خو نه هغوی مدینې ته هجرت اوکړو او نه هغوی د خپل اسلام رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو) رسول الله ﷺ د زبیب عنبری په دې خبره اوریدو سره خاموش شو بیا چه لږ ساعت پس دا قبیله کومه چه د مسلمانانو په لاس کښې قید وه مدینې طیبې ته د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه نو اوس رسول الله ﷺ زما نه تپوس اوکړو چه تاسو سره په دې باندې ګواه شته چه تاسو اسلام قبول کړې وو د قید کیدو نه مخکښې په دې ورځو کښې؟ زبیب وائی ما عرض اوکړو او جی ګواهان شته. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چرته دی؟ ما عرض اوکړو یو خو سمره نومی سړې دې هم د دې قبیلې او د یو سړی نوم ئې واخستلو کوم چه د راوی نه هیر شوې دې، پس دا دواړه ګواهان راطلب کړې شو، په دې دوو کښې سمره خو د شهادت ورکولو نه انکار اوکړو خو دویم کس ګواهی ورکړه، رسول الله ﷺ زبیب ته اوفرمائیل چه اوګوره سمره خو د شهادت نه انکار اوکړو صرف یو کس ګواهی ورکړه، نو آیا ته د یو شاهد سره خپله قسم خوړلې شې؟ زبیب عرض اوکړو چه خوړلې شم، پس ما قسم اوخوړلو داسې ﴿ لقد اسلمنا بالله یوم کذا وکذا وخضرمنا اذان النعم ﴾ چه کله د دې یو سړی ګواهی او د دې یو سړی قسم بیا موندلې شو نو اوس رسول الله ﷺ دا فیصله اوفرمائیله چه صحابه کرامو ته ئې اوفرمائیل: لاړ شئ چه کوم مال د غنیمت په طور تاسو سره د بنو العنبر موجود دې هغه نیم نیم تقسیم کړئ، یعنی نیم بنو العنبر ته ورکړئ او نیم تاسو خپله واخلئ، او دا ئې هم اوفرمائیل چه دې ماشومانو او زنانو ته لاس مه اوړئ........ ﴿ لَوْلاَ أَنَّ اللّٰهَ لاَ یُحِبُّ ضَلاَلَةَ الْعَمَلِ مَا رَزَیْنَاکُمْ عِقَالاً ﴾ چه که دا خبره نه وې چه الله پاک د چا عمل لره ضائع کول نه خوښوی نو مونږ به ستاسو په مال کښې یو رسئ هم نه کموله. یعنی د نیم په ځائې به مو ټول مال تاسو ته واپس درکړې وې.

د عمل نه مراد عمل د صحابه کرامو ﷺ یعنی جهاد مراد دې، مطلب دا دې چه چونکه شرعا مال غنیمت د مجاهدینو حق دې نو که اوس زه ټول د دوی نه واخلم او تاسو ته ئې واپس کړم نو دا مناسب نه ده، نو په دې صورت کښې خو به ګویا د دوی عمل جهاد ضائع وی. او الله پاک د چا د عمل ضائع کیدل نه خوښوی په دې وجه زه ټول تاسو ته نه واپس کوم (ګینې زره مې هم دا غواړی چه په څه طریقه ټول تاسو ته واپس شی)

د مصنف ﷫ غرض د دې واقعې د دې حصې نه حاصلیږی ګینې وروسته خو مصنف ﷫ د دې قصې باقی حصه هم ذکر کړې ده کومه چه به مونږ روستو بیانوو.

مصنف ﷫ ګویا دا فرمائیل غواړی چه په دې واقعه کښې قضاء بیمین وشاهد

موندلې شوې ده (۱) خو احناف خو د دې قائل نه دی، زمونږ د طرف نه به د دې جواب دا وی چه قضاء بیمین وشاهد خو به هغه وخت وې چه کله پوره مال واپس کړې شوې وې، لهذا دا استدلال څنګه دې؟ بلکه مونږ دا وایو چه دا چه کومه فیصله شوې ده دا په طور د اصلاح ذات البین شوې ده، والله اعلم.

باقي حصه دا ده ﴿قَالَ الزُّبَيْبُ فَدَعَتْنِي أُمِّي فَقَالَتْ هَذَا الرَّجُلُ أَخَذَ زِرْبِيَّتِي الخ﴾

زبیب وائی چه د رسول الله ﷺ د دې فیصلې نه پس زما مور زه راطلب کړم او یو لښکری طرف ته ئې اشاره کولو سره اووې چه ده زما څادر اخستلې دې، زه د رسول الله ﷺ خدمت ته لاړم او هغوی ته مې د دې خبرې خبر ورکړو هغوی اوفرمائیل چه د کوم سړی سره هغه څادر دې هغه اودروه، ما د هغه ګریوان اونیولو او هغه مې اودرولو، رسول الله ﷺ زما طرف ته اوکتل دواړو لره داسې په یو ځائې لیدولو باندې هغوی د لرې نه ما ته اوفرمائیل چه ته د خپل قیدی سره څه کول غواړې ما په دې اوریدو باندې فورا هغه پریخودلو بیا رسول الله ﷺ هغه سړی (یعنی لښکری) ته اووې چه د دهٔ د مور څادر دهٔ ته ورکړه هغه عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ هغه څادر خو زما د لاس نه اوتلو، چه کله هغه داسې اووې نو رسول الله ﷺ داسې اوکړل چه دهغه سړی په لاس کښې چه کومه توره وه هغه ئې د هغه د لاس نه واخستله او ما ته ئې راکړه (مور ته د رسولو دپاره د څادر په بدل کښې) او هغوی دې لښکری ته اوفرمائیل چه هغه لره یعنی زبیب ته نور هم څو صاعه اوسکو ورکړه پس هغه هم داسې اوکړل.

بَابُ الرَّجُلَيْنِ يَدَّعِيَانِ شَيْئًا وَلَيْسَتْ لَهُمَا بَيِّنَةٌ

کله چه دوه کسان د یو شی دعوی لری او ګواه ورسره نه وی؟

یعنی دوه سړی د یو څیز په باره کښې دعوی کوی هر یو وائی چه دا زما دې، په داسې صورت کښې چه د یو سره هم بینه نشته، په دې ترجمه کښې یو قیدبل هم ملحوظ دې چه مذکور نه دې هغه دا چه هغه څیز په دې دواړو کښې د چا په قبضه کښې هم نه وی بلکه د یو دریم کس په قبضه کښې وی، یا که وی نو د دواړو په لاس کښې وی، د دې صورت حکم د فقهاء کرامو په نزد دا دې. احناف او شوافع وائی چه برابر دې هغه څیز دواړو ته ورکړې شی، د دې تنصیف دې اوکړې شی او امام احمد رحمه الله په دې صورت کښې د قرعه قائل دې، چه په قرعه کښې د کوم سړی نوم راوخیژی نو د هغه نه دې قسم اخستلو سره هغه ټول څیز هغه سړی ته ورکړې شی، او د امام مالک رحمه الله مذهب دا دې چه ﴿ هذ الشئ للاعدل من الرجلين ﴾ یعنی په دواړو سړو کښې چه کوم سړې زیات عادل وی هغه ته دې ورکړې شی.

(هکذا المذهب في حاشية الشيخ)

---

(۱) من حيث ان زبيب العنبري كان مدعيا وشهد له شاهد واحد وانكر الاخر عن الشهادة فاخذ النبي ﷺ الحلف عن المدعي بدل شهادة شاهد اخر وقضي له)

[۳۶۱۳](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمِنْهَالِ الضَّرِيرُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، "أَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بَعِيرًا أَوْ دَابَّةً إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَتْ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةٌ، فَجَعَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا".

دابوموسی اشعری رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دوه کسانو په یو اوښ بابل څاروي باندې دعوه کړې وو اوفیصله ئې نبی علیه السلام ته راوړه او پدرې کښې دیوکس هم گواه موجود نه وو نونبی علیه السلام داسې فیصله وکړله چه دغه څیزئې ددواړوپه مینځ کښې مشترك وګرځولو.

قوله: ﴿عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بَعِيرًا أَوْ دَابَّةً﴾

یعنی د یو څاروی په باره کښې دوه سړو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضریدو سره دعوی اوکړه هر یو وئیل چه دا زما دې او ګواه د یو سره هم نه وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د دواړو ترمینځه مشترک کړو، د حدیث نه د احنافو او شوافعو تائید کیږی کوم چه په صورت مذکوره کښې دتنصیف قائل دی. والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجه، قاله المنذری

[۳۶۱۴](٢) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ سَعِيدٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ.

سلیمان دسعید نه په خپل سندسره ددې روایت، هم معنی روایت بیان کړې دې.

[۳۶۱۵](٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ بِمَعْنَى إِسْنَادِهِ، أَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بَعِيرًا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَعَثَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا شَاهِدَيْنِ، فَقَسَمَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ.

دقتاده رضي الله عنه نه په دې سند سره روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام په زمانه کښې دوه کسانوپه یواوښ باندې دعوې اوکړه اوهریوکس دخپلې دعوې د مضبوطولودپاره دوه دوه ګواهان په دربار نبوت کښې پیش کړل نبی علیه السلام دغه اوښ په دغه دوه کسانوباندې نیم په نیمه تقسیم کړو.

[۳۶۱۶](٤) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمِنْهَالِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ خِلَاسٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا فِي مَتَاعٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اسْتَهِمَا عَلَى الْيَمِينِ مَا كَانَ أَحَبَّا ذَلِكَ أَوْ كَرِهَا".

د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دوه کسانو نبی علیه السلام ته د یو شي په باره کي جګړه راوړله او په دوی دواړوکښې دیوسره هم ګواه موجود نه وو نبی علیه السلام ددوی دواړو په مینځ کښې په قرع اندازی کولوحکم وکړو برابره خبره ده چه داقسم خوراك دوی خوښوي اوکه بد ئې ګڼړي.

قوله: ﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا فِي مَتَاعٍ « اسْتَهِمَا عَلَى الْيَمِينِ مَا كَانَ أَحَبَّا ذَلِكَ أَوْ كَرِهَا ﴾

١): سنن النسائي/آداب القضاة ٣٤ (٥٤٢٦)، سنن ابن ماجه/الأحكام ١١ (٢٣٣٠)، (تحفة الأشراف والإرواء: ٢٦٥٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٠٢/٤) (ضعيف)

٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٩٠٨٨) (ضعيف)

٣): انظر حديث رقم: ٣٦١٣، (تحفة الأشراف: ٩٠٨٨) (ضعيف)

٤): سنن ابن ماجه/الأحكام ١١ (٢٣٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٨٩/٢، ٥٢٤) (صحيح)

دا حديث مسئله مترجم بها كښې د امام احمد رحمه الله د مذهب دليل دې چه وائی چه په دې صورت كښې دې استهمام يعنی قرعه اندازی اوكړې شی او په قرعه اندازئ كښې چه د چا نوم راوخيژی د هغه نه دې قسم اخستلو سره د هغه په حق كښې فيصله اوكړې شی.

والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

[۳۶۱۷] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَسَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، قَالَ أَحْمَدُ، قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا كَرِهَ الِاثْنَانِ الْيَمِينَ أَوِ اسْتَحَبَّاهَا فَلْيَسْتَهِمَا عَلَيْهَا"، قَالَ سَلَمَةُ: قَالَ: أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، وَقَالَ: إِذَا أُكْرِهَ الِاثْنَانِ عَلَى الْيَمِينِ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی كله چه دوه كسان قسم كول نه وګڼړي بائې بد اوګڼړي نوپه دې باندې قرع اندازې كوئ. سلمه وائی په دې حديث باندې معمر مونږ ته خبر راكړې دې اودر «إذا كَرِهَ الاثنان اليمين» په ځائې باندې .. «إذا أُكره الاثنان على اليمين». وئيلي دي.

[۳۶۱۸] (²) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، بِإِسْنَادِ ابْنِ مِنْهَالٍ مِثْلَهُ، قَالَ: فِي دَابَّةٍ وَلَيْسَ لَهُمَا بَيِّنَةٌ، فَأَمَرَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَسْتَهِمَا عَلَى الْيَمِينِ.

د سعيد بن ابی عروبه نه هم په دې سند سره روايت دې چه دوه كسانو ديوځاروي په معامله كښې جګړه وكړه او په دوی دواړوكښې ديوسره هم ګواه موجود نه وو نونبی عليه السلام ددوی دقسم كولوپه باره كښې دقرع اندازی كولوحكم وكړو.

بَابُ الْيَمِينِ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ

كه چرې د مدعی سره ګواه نه وی نومدعا عليه به قسم كوی

[۳۶۱۹] (³) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ عُمَرَ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ: كَتَبَ إِلَيَّ ابْنُ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَضَى بِالْيَمِينِ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ".

د ابن ابی مليكه نه روايت دې فرمنائي چه ماته عبدالله بن عباس رضی الله عنهما اوليكل چه نبی عليه السلام مدعا عليه (په چاباندې چه دعوي شوې وي) ته دقسم كولو حكم فرمائيلې دې.

دا مسئله اجماعی ده د ائمه ثلاث په نزد مطلقا ده او د امام مالک رحمه الله په نزد مقيد ده په يو قيد باندې هغه دا چه كه د مدعی او مدعی عليه ترمينځه خپل مينځ كښې اتفاق وی نو بيا داسې ده او كه په هغوی دواړو كښې څۀ قسم جوړ يا مناسبت نه وی مثلا يو سړې ډير پرهيزګار وی او دويم سړې ډير عياش وی چه د هغوی خپل مينځ كښې د لين دين هيڅ تعلق نه وی داسې سړې كه عدالت ته لاړ شی او دعوی اوكړی نو د هغه دعوې ته به غوږ نه

---

¹): صحيح البخاري/الشهادات ٢٤ (٢٦٧٤)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣١٧)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري (٦٠٠١) (صحيح)

²): انظر حديث رقم: (٣٦١٦)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٦٢) (صحيح) بما قبله

³): صحيح البخاري/الرهن ٦ (٢٥١٤)، الشهادات ٢٠ (٢٦٦٨)، تفسير آل عمران ٣ (٤٥٥٢)، صحيح مسلم/الأقضية ١ (١٧١١)، سنن الترمذي/الأحكام ١٢ (١٣٤٢)، سنن النسائي/آداب القضاة ٣٥ (٥٤٢٧)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٧ (٢٣٢١)، (تحفة الأشراف: ٥٧٥٢، ٥٧٩٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٤٢، ٣٥١، ٣٥٦، ٣٦٣) (صحيح)

شی کیخودلې او د هغه په دعوی باندې به د مدعی علیه نه قسم نه شی اخستلې، دا قید هغوی په دې وجه باندې لګولې دې چه لوفر قسم خلق علماء او فضلاء بغیر د څه وجې نه پریشان نه کړی خو د دې قید هیڅ اصل په کتاب او سنت کښې نشته. (کذا فی البذل وکذا فی حاشیة السنن عن الطیبی)

بَابٌ كَيْفَ الْيَمِينُ
د قسم ورکولو طریقه

[۳۶۲۰] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ أَبِي يَحْيَى، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ يَعْنِي لِرَجُلٍ حَلَّفَهُ: "احْلِفْ بِاللَّهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، مَا لَهُ عِنْدَكَ شَيْءٌ"، يَعْنِي لِلْمُدَّعِي، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو يَحْيَى اسْمُهُ زِيَادٌ كُوفِيٌّ ثِقَةٌ.

دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام یوکس ته اووئیل چه قسم ئې ورته ورکولو، په هغه الله باندې قسم وکړه چه دهغه نه علاوه بل معبود نشته دې چه ستاپه ذمه باندې د دعوي کونکي یعنی دمدعی څه شې نشته.

﴿ أَنَّ رسول الله صلی الله علیه وسلم- قَالَ - يَعْنِي لِرَجُلٍ حَلَّفَهُ - « احْلِفْ بِاللَّهِ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ مَا لَهُ عِنْدَكَ شَيْءٌ ». يَعْنِي لِلْمُدَّعِي ﴾

یعنی رسول الله ﷺ هغه سړی ته اوفرمائیل د چا نه چه رسول الله ﷺ قسم اخستلو یعنی مدعی علیه چه په دې الفاظو سره قسم اوخوری کوم چه په حدیث کښې مذکور دی.

په ظاهر کښې د مصنف رحمه الله غرض په دې ترجمې سره دا دې چه که قاضی په الفاظو د قسم کښې د تغلیظ ضرورت اوګڼړی نو په کوم قسم الفاظو سره چه هغه غواړی قسم اخستلې شی. والحدیث اخرجه النسائی قاله المنذری.

بَابٌ إِذَا كَانَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ ذِمِّيًّا أَيَحْلِفُ
که چرې مدعی علیه ذمی وی نو آیا قسم به ورته ورکولې شی؟

[۳۶۲۱] (²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنِ الْأَشْعَثِ، قَالَ: "كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ مِنَ الْيَهُودِ أَرْضٌ، فَجَحَدَنِي، فَقَدَّمْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَكَ بَيِّنَةٌ، قُلْتُ: لَا، قَالَ لِلْيَهُودِيِّ: احْلِفْ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذًا يَحْلِفُ وَيَذْهَبُ بِمَالِي، فَأَنْزَلَ اللَّهُ: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا سورة آل عمران آية ٧٧ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ".

د اشعث نه روایت دې فرمائی چه زما اودیویهودي په مینځ کښې څه زمکه شریکه وه یهودي زما دحصې نه انکار وکړو ما نبی علیه السلام ته بوتلو نبی علیه السلام ماته اوفرمائیل ایاستاسره ګواه موجود دې ما عرض اوکړو نه نبی علیه السلام یهودي ته اوفرمائیل ته به قسم کوې ماعرض

---

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٥٤٣١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٨/١) (ضعيف الإسناد)

²): صحيح البخاري/ المساقاة ٤ (٢٣٥٦)، الرهن ٦ (٢٥١٥، ٢٥١٦)، الشهادات ١٩ (٢٦٦٦، ٢٦٦٧)، التفسير ٣ (٤٥٤٩)، الأيمان ١١ (٦٦٥٩، ٦٦٦٠)، الأحكام ٣٠ (٧١٨٣، ٧١٨٤)، صحيح مسلم/ الإيمان ٦١ (١٣٨)، سنن الترمذي/ البيوع ٤٢ (١٢٩)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٧ (٢٣٢٢)، (تحفة الأشراف: ١٥٨، ٩٢٤٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١١/٥) (صحيح)

اوکړو اې دالله رسوله که چرې دې قسم وکړي نو زمامال خوبه واخلي نوپه دې وخت کښې الله تعالی دا ایت کریمه : «إن الذين يشترون بعهد الله وأيمانهم» نازل کړو.
یعنی مدعی علیه که ذمی وی نو آیا د هغه نه به قسم اخستلې شي. جواب دا دې چه اخستلې به شي ترې نه، لکه چه په حدیث الباب کښې دی دا حدیث په کتاب الایمان والنذور کښې تیر شوې دې.

بَابُ الرَّجُلِ يَحْلِفُ عَلَى عِلْمِهِ فِيمَا غَابَ عَنْهُ

چاته د واقعې د علم په بنا باندې قسم ورکول کله چه دغه واقعه دده په موجودګئ کښې نه وی شوې

[۳۶۲۲](۱)حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْفِرْيَابِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَارِثُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنِي كُرْدُوسٌ، عَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ، "أَنَّ رَجُلًا مِنْ كِنْدَةَ، وَرَجُلًا مِنْ حَضْرَمَوْتَ، اخْتَصَمَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَرْضٍ مِنَ الْيَمَنِ، فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أَرْضِي اغْتَصَبَنِيهَا أَبُو هَذَا، وَهِيَ فِي يَدِهِ قَالَ: هَلْ لَكَ بَيِّنَةٌ؟، قَالَ: لَا، وَلَكِنْ أُحَلِّفُهُ وَاللَّهِ مَا يَعْلَمُ أَنَّهَا أَرْضِي اغْتَصَبَنِيهَا أَبُوهُ فَتَهَيَّأَ الْكِنْدِيُّ يَعْنِي لِلْيَمِينِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ".

داشعث بن قیس نه روایت دې فرمائی چه دکنده قبیلې دیوسړې اود حضر موت دقبیلې یوسړي. نبی ﷺ ته دیمن دزمکې په باره کښې جګړه راوړله حضرمي اووئیل اې دالله رسوله ده زمازمکه قبضه کړیده او په زوره ئې اخستلې ده نبی ﷺ دغه کس ته اوفرمائیل ایا ستاسره ګواه موجود دې؟ عرض ئې وکړو نا نوبیا ئې اوفرمائیل زه به دې کندي ته په دې خبره قسم ورکوم چه ده ته داخبره نه ده معلومه چه دازمازمکه ده اودده پلار په زبردستی سره په دې باندې قبضه کړې وه نوکندي په قسم کولو باندې راضي شو اوبیا ئې مذکوره بالا حدیث بیان کړو.

د ترجمة الباب تشريح :

یعنی د کومې معاملې تعلق چه براه راست د خپل ځان سره وی هلته د مدعی علیه نه قسم د هغه په علم باندې اخستل پکار دی یعنی په نفس الامر باندې ترې نه قسم وانخستلې شی، د احتیاط تقاضا هم دا ده لکه چه په حدیث الباب کښې دی، دا حدیث هم په کتاب الایمان والنذور کښې تیر شوې دې، په دې حدیث کښې دا دی چه مدعی اووې چه مدعی علیه سره چه کومه زمکه ده هغه زما ده، د مدعی علیه پلار زما نه غصب کړې وه، اوګورئ دلته د غصب تعلق چونکه براه راست د مدعی علیه سره نه وو بلکه د هغه د پلار سره وو په دې وجه دلته قسم په علم باندې واخستلې شو. پس مدعی علیه قسم کښې اووې چه والله زما په علم کښې نشته دا خبره چه زما پلار د مدعی دا زمکه غصب کړې وه.

[۳۶۲۳](۲)حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ الْحَضْرَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "جَاءَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ، وَرَجُلٌ مِنْ كِنْدَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ هَذَا غَلَبَنِي عَلَى أَرْضٍ كَانَتْ لِأَبِي، فَقَالَ الْكِنْدِيُّ: هِيَ أَرْضِي فِي يَدِي أَزْرَعُهَا لَيْسَ لَهُ فِيهَا حَقٌّ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْحَضْرَمِيِّ: أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: فَلَكَ يَمِينُهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُ فَاجِرٌ

(۱): انظر حديث رقم: (۳۲۴۴)، (تحفة الأشراف: ۱۵۹) (صحيح)
(۲): انظر حديث رقم: (۳۲۴۵)، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۶۸) (صحيح)

لَيْسَ يُبَالِي مَا حَلَفَ لَيْسَ يَتَوَرَّعُ مِنْ شَيْءٍ، فَقَالَ: لَيْسَ لَكَ مِنْهُ إِلاَّ ذَلِكَ".

علقمه بن وائل بن حجر الحضرمي دخپل پلارنه روايت كوی فرمائی چه دحضرموت قبيلې يوسړې اوردكننده قبيلې يوسړې نبی عليه السلام ته راغلل حضرې اووئيل اې دالله رسوله ده زما دپلار زمكه غصب كړې ده كندي عرض اوكړو چه دازمازمكه ده زه په دې كښې فصل كرم دده په دې زمكه كښې هيڅ حق نشته نبی ﷺ حضرې ته اوفرمائيل اياستاسره ګواه موجود دي ده عرض اوكړونه، نبی ﷺ اوفرمائيل بيابه ستاپه وړاندې دې قسم كوي حضرې عرض اوكړواې دالله رسوله داخويوفاسق سړې دې دده په قسم كولو هيڅ پرواه نشته هرقسمة قسم كولې شي اومتقي نه دې نبی ﷺ ده ته اوفرمائيل چه د قسم نه علاوه ستاسو دپاره بله هيڅ چاره نشته.

بَاب كَيْفَ يَحْلِفُ الذِّمِّيُّ

كافر ذمی ته به په كومه طريقه باندې قسم وركولې شي؟

[٣٦٢٤] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، حَدَّثَنَا رَجُلٌ مِنْ مُزَيْنَةَ وَنَحْنُ عِنْدَ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي لِلْيَهُودِ: "أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلَى مُوسَى، مَا تَجِدُونَ فِي التَّوْرَاةِ عَلَى مَنْ زَنَى وَسَاقَ الْحَدِيثَ فِي قِصَّةِ الرَّجْمِ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ يهوديانوته اوفرمائيل تاسوته په هغه ذات قسم دركوم چاچه تورات نازل كړې دې په موسی عليه السلام باندې چه په تورات كښې دهغه چا دپاره څه حكم دې څوك چه زنا وكړې ‹داقسم وركول په هغه وخت كښې شوي ووكله چه يهوديانودزناكار دسنګسارکولونه انكاركړې وو اوداحديث تر آخره پورې په قصه درجم كښې بيان شوي دې.

[٣٦٢٥] (٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى أَبُو الأَصْبَغِ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، بِهَذَا الْحَدِيثِ وَبِإِسْنَادِهِ، قَالَ: حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ مُزَيْنَةَ مِمَّنْ كَانَ يَتَّبِعُ الْعِلْمَ وَيَعِيهِ، يُحَدِّثُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَاهُ.

اسحاق هم دزهري نه په خپل سند سره دا روايت نقل كړې دې وائی چه حديث بيان كړې دې ماته يومزني چه دسعيد بن المسيب نه ئې روايت بيانونواود حديث متن ئې دتير شوي روايت په شان بيان كړو.

[٣٦٢٦] (٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ يَعْنِي لاِبْنِ صُورِيَا: "أُذَكِّرُكُمْ بِاللَّهِ الَّذِي نَجَّاكُمْ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ، وَأَقْطَعَكُمُ الْبَحْرَ، وَظَلَّلَ عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ، وَأَنْزَلَ عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَى، وَأَنْزَلَ عَلَيْكُمُ التَّوْرَاةَ عَلَى مُوسَى أَتَجِدُونَ فِي كِتَابِكُمُ الرَّجْمَ؟" قَالَ: ذَكَّرْتَنِي بِعَظِيمٍ وَلاَ يَسَعُنِي أَنْ أَكْذِبَكَ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

[1]: تفرد به أبو داود، وانظر حديث رقم (٤٨٨)، (تحفة الأشراف: ١٥٤٩٢) (ضعيف)

[2]: تفرد به أبو داود، وانظر حديث رقم (٤٨٨)، (تحفة الأشراف: ١٥٤٩٢) (ضعيف)

[3]: تفرد به أبو داود (صحيح)

د عکرمه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ دیهودیانو یوعالم) ابن صوریاته ووئیل زه تاسوته هغه الله رایادوم چاچه تاسوته دفرعون نه نجات درکړواوستاسو دپاره ئې په سمندرکښې لاره جوړه کړه او په تاسو باندې ئې دوریزې سورې وکړو او بیا ئې من اوسلوی نازل کړل، او بیا ئې په موسی ﷺ تورات نازل کړو ایاتاسوپه تورات کښې د رجم حکم نه دی لیدلې؟ ابن صوریاپه جواب کښې ووئیل ډیر لوی ذات دې یاد کړو اوس زما دپاره ددروغوونیلوهیڅ ګنجائش پاتې نشواوحدیث ئې تر اخره پورې بیان کړو.

د ترجمة الباب او حدیث نه معلومیږی چه د ذمی نه چه یهودی وو د هغه د عقیدې مطابق قسم واخستلې شو ﴿ بالله انزل التوراة علی موسی ﴾ دا حدیث په کتاب الحدود کښې په خپل مقام باندې راروان دې.

بَابُ الرَّجُلِ يَحْلِفُ عَلَى حَقِّهِ

په خپل حق باندې د قسم کولو بیان

[۳٦۲۷]()حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، وَمُوسَى بْنُ مَرْوَانَ الرَّقِّيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ بْنُ الْوَلِيدِ، عَنْ بَحِيرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ سَيْفٍ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ حَدَّثَهُمْ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "قَضَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ، فَقَالَ الْمَقْضِيُّ عَلَيْهِ لَمَّا أَدْبَرَ: حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ يَلُومُ عَلَى الْعَجْزِ، وَلَكِنْ عَلَيْكَ بِالْكَيْسِ، فَإِذَا غَلَبَكَ أَمْرٌ، فَقُلْ: حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ".

د عوف بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوځل نبی ﷺ ددوه کسانوفیصله وکړله،چاچه مقدمه بیلې وو هغه دفیصلې اوریدونه پس چه کله روانید و نو اوئې وئیل زما دپاره الله تعالی کافې دې، اونبی ﷺ ورته اوفرمائیل یقینا الله تعالی انسان په خپل [۳٦۲٤] په څه وجه باندې کومه مقدمه وبیلی نو پکارده چه داسې اووایی:الله تعالی زما دپاره کافې دې اوهغه بهترین کارسازدې.

شرح الحديث :

قوله:﴿ أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– قَضَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ. فَقَالَ الْمَقْضِيُّ عَلَيْهِ لَمَّا أَدْبَرَ حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ الخ﴾ یعنی رسول الله ﷺ د دوه سړو ترمینځه په یو قضیه کښې یو فیصله اوفرمائیله د کوم سړی خلاف چه هغه فیصله وه چه کله هغه روان شو نو وې وئیل ﴿ حسبی الله ونعم الوکیل﴾ چه بنه ده زمونږ مالک هم الله دې په ظاهر کښې د هغه مطلب دا وو چه دا فیصله صحیح نه ده شوې حق فی الواقع زما وو نو په دې باندې رسول الله ﷺ هغه سړی ته خبرداری ورکړو او وې فرمائیل اې روره ! الله پاک عاجز او بې وسه کیدل نه خوښوی، سړی له پکار دی چه د خپلې پوهې نه کار واخلی او د حصول مقصد دپاره کوشش اوکړی خپه په خپه دې نه کینی، خو چه ټول تدبیرونه اختیار کړی او یو شکل ئې په فهم کښې رانشی نو بیا دې دا دعا اوائی ﴿ حسبی الله ونعم الوکیل ﴾

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۱۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۵/٦) (ضعیف)

په دې ترجمة الباب سره د مصنف رحمه الله څه غرض دې تر یوې مودې پورې پکښې بنده غور کولو، یو غرض مې دا په فهم کښې راغلو چه که مدعی بینه پیش نه کړې شی نو قاضی له پکار دی چه بغیر د تاخیر نه د مدعی علیه نه قسم اخستلو سره د هغه په حق کښې فیصله اوکړی اگرچه په بعض قرائنو او آثارو سره صدق د مدعی ښکاره کیږی. خو د هغې پروانه دی کول پکار، د دې حدیث په مضمون کښې غور کولو نه هم دا په فهم کښې راځی. والله تعالی اعلم، والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْحَبْسِ فِي الدَّيْنِ وَغَيْرِهِ

د قرض په معامله کښې د مقروض د ترلو بیان

یعنی مدیون که د دین په ادا کولو کښې تاخیر اوکړی سره د مالدارئ او قدرت علی قضاء الدین نه نو د هغه تال متهول باندې هغه قید کولې شې، حدیث الباب په دې کښې ښکاره دې.

[۳٦۲۸] ([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ وَبْرِ بْنِ أَبِي دُلَيْلَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَيُّ الْوَاجِدِ يُحِلُّ عِرْضَهُ وَعُقُوبَتَهُ"، قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: يُحِلُّ عِرْضَهُ: يُغَلَّظُ لَهُ، وَعُقُوبَتَهُ: يُحْبَسُ لَهُ.

عمرو بن شرید دخپل پلارنه روایت کوی نبی علیه السلام فرمائیلی دی دمالداره سړې قرض نه اداکول دده دعزت خرابول ثابتوي اودده دپاره سزا ثابتوي،

[۳٦۲۹] ([2]) حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ أَسَدٍ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، أَخْبَرَنَا هِرْمَاسُ بْنُ حَبِيبٍ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِغَرِيمٍ لِي، فَقَالَ لِي: الْزَمْهُ، ثُمَّ قَالَ لِي: يَا أَخَا بَنِي تَمِيمٍ، مَا تُرِيدُ أَنْ تَفْعَلَ بِأَسِيرِكَ؟".

ابن مبارك وئیلی دی دعزت خرابیدونه مراد داد چه ده ته به سختي خبرې وشي اودسزانه مراد قید کیدل دی.

[۳٦۳۰] ([3]) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "حَبَسَ رَجُلًا فِي تُهْمَةٍ".

هرماس بن حبیب چه دځنګل اوسیدونکي دې دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه دنبی علیه السلام په خدمت کښې مې خپل یوقرضدارې حاضرشونبی علیه السلام اوفرمائیل دده سره یوځائې ګرځه اوبیا ئې اوفرمائیل اې دیني تمیم وروره ته دخپل قیدي سره څه کول غواړې؟

قوله: ﴿عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– حَبَسَ رَجُلاً فِي تُهْمَةٍ﴾

---

[1]: سنن النسائي/البيوع ۹۸ (٤٦۹۳)، سنن ابن ماجه/الصدقات ۱۸ (۲٤۲۷)، (تحفة الأشراف: ٤۸۳۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۲۲/٤، ۳۸۸، ۳۸۹) (حسن)

[2]: سنن ابن ماجه/الصدقات ۱۸ (۲٤۲۸)، (تحفة الأشراف: ۱٥٥٤٤) (ضعيف)

[3]: سنن الترمذي/الديات ۲۱ (۱٤۱۷)، سنن النسائي/قطع السارق ۲ (٤۸۹۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۸۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/٥، ٤، ٤٤۷/٤) (حسن)

شرح الحدیث :

یعنی رسول الله ﷺ یو سړي صرف د شبه په وجه باندې او د هغه د تهمتی کیدو په وجه باندې، هغه قید کړو خو ورخې، د دې حدیث نه ثابتیږی چه د قاضی دپاره شخص متهم لره قید کول د تحقیق حال او تفتیش دپاره جائز دی، د دې حبس نوم حبس استظهار دې نه حبس عقوبت، مثلا په یو محله کښې غلا اوشوه په هغه محله کښې بعض خلق داسې دی چه د هغوی په باره کښې د غلا شک او شبهه د هغوی د ظاهری حال پیش نظر ده نو دلته که قاضی مناسب ګنړی او ضرورت ګنړی چه د اصل غل تحقیق او تفتیش اوشی دې خو کسانو لره نظر بند کړی نو په دې کښې هیڅ باک نشته بلکه عین مصلحت دې.

[۳۶۳۱]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قُدَامَةَ، وَمُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَ ابْنُ قُدَامَةَ، حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ، عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ ابْنُ قُدَامَةَ: إِنَّ أَخَاهُ أَوْ عَمَّهُ، وَقَالَ مُؤَمَّلٌ: إِنَّهُ قَامَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ، فَقَالَ: جِيرَانِي بِمَا أَخَذُوا، فَأَعْرَضَ عَنْهُ مَرَّتَيْنِ، ثُمَّ ذَكَرَ شَيْئًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَلُّوا لَهُ عَنْ جِيرَانِهِ"، لَمْ يَذْكُرْ مُؤَمَّلٌ وَهُوَ يَخْطُبُ.

بهز بن حکیم دپلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی چه نبی علیه السلام یو سړي دتهمت په وجه قید کړې وو بهز بن حکیم دپلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی چه ابن قدامه په خپل روایت کښې دورور یاتره ذکر کړې دې او مؤمل پخپل روایت کښې وئیلی دی چه هغه نبی علیه السلام ته راغې او ودریدو اونبی علیه السلام په دې وخت کښې خطبه ورکوله هغه اووئیل زماګاونډیانو زما حق وهلې دې نبی علیه السلام دده نه دوه پیرې مخ واړولو اوبیا ئې دڅه شي ذکر وکړو نبی علیه السلام اوفرمائیل دا کس دخپلو ګاونډیانو نه خلاص کړئ په دې روایت کښې مؤمل ,,وهو یخطب، لفظ نه دې بیان کړې.

قوله: ﴿ عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ – إِنَّهُ قَامَ إِلَى النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– وَهُوَ يَخْطُبُ فَقَالَ جِيرَانِى بِمَا أَخَذُوا. فَأَعْرَضَ عَنْهُ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ ذَكَرَ شَيْئًا فَقَالَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– « خَلُّوا لَهُ عَنْ جِيرَانِهِ » ﴾

شرح الحدیث :

د بهز د نیکه نوم معاویه بن حیده رضی الله عنه دې هغه روایت کوی چه کله رسول الله ﷺ خطبه ورکوله نو ما د هغوی خوا کښې اودریدو سره عرض اوکړو چه زما ګاونډیان ولې نیولې شوې دی؟ رسول الله ﷺ دې طرف ته التفات او نه فرمائیلو دوه کرته دې ته ضرورت راغلو، راوی وائی چه بیا معاویه نور هم څه عرض اوکړو لږ ساعت پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل د دې سړی ګاونډیان دې پریخودلې شی.

ظاهره دا ده چه د معاویه ګاونډیان به د څه واقعې په پیښیدلو سره د څه شک او شبهه په بناء باندې قید کړې شوې وو، کوم چه قید کړې شو هغوی د معاویه ګاونډیان وو، هغوی رسول الله ﷺ ته د هغوی د طرف نه صفائی پیش کړه په دې باندې رسول الله ﷺ هغوی پریخودل.

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۸۹) (حسن الإسناد)

دا چه د حدیث مونږ کومه شرح کړې ده په دې صورت کښې به ﴿ بم اخذوا ﴾ فعل مجهول وی او که دا د معروف صیغه اولوستلې شی ﴿ بم اخذوا ﴾ نو په دې صورت کښې د دې دا مطلب کیدې شی ﴿ خل جیرانی بما اخذوا ای علی ان اودی عنهم ما اخذوا ﴾ زما ګاونډیان پرېږدئ په داسې طریقه چه زه به د هغوی اخستلې شوې قرض د هغوی د طرف نه ادا کړم، یعنی دا خلق د قرض د نه ادا کولو د وجې نه قید وو دې صحابی د هغوی د طرف نه د اداء قرض کفالت قبول کړو نو هغوی پریخودلې شو.

بَابٌ فِي الْوَكَالَةِ

د وکالت بیان

(د کتاب القضاء سره مناسبت):

د کتاب القضاء بیان شروع دې او د قضا دپاره وکیلان هم وی.

[۳۶۳۲](1) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَمِّي، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي نُعَيْمٍ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ سَمِعَهُ يُحَدِّثُ، قَالَ: "أَرَدْتُ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، وَقُلْتُ لَهُ: إِنِّي أَرَدْتُ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ، فَقَالَ: إِذَا أَتَيْتَ وَكِيلِي فَخُذْ مِنْهُ خَمْسَةَ عَشَرَ وَسْقًا، فَإِنِ ابْتَغَى مِنْكَ آيَةً فَضَعْ يَدَكَ عَلَى تَرْقُوَتِهِ".

د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ما خیبرته د تلو اراده وکړه او د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم او دسلام کولو نه پس مې عرض وکړو چه زما خیبرته د تلو اراده ده نبی علیه السلام راته اوفرمائیل کله چه زما د وکیل سره ملاو شې نو پنځلس وسقه کجورې ورنه واخله که چرې هغه ستا نه دنخې طلب وکړي نو ته خپل لاس د هغه په مرۍ باندې کیږده (دا د هغه علامه وه).

مضمون حدیث:

جابر رضی الله عنه فرمائی چه یو کرت زما اراده خیبر ته د تلو اوشوه زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم او هغوی ته مې سلام عرض کړو او د خپل سفر اراده مې ورته ښکاره کړه نو په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته اوفرمائیل چه ته کله خیبر ته زمونږ فلانی وکیل ته لاړ شې نو د هغه نه پنځلس وسقه کهجورې یا غله زما په نوم واخله. که هغه په دې باندې څه دلیل یا علامت طلب کړی نو د هغه په ترقُوه (ښٔدٔرمٔی) باندې خپل لاس کیږده. یعنی د حلق نه په لاندې حصه باندې، رسول الله صلی الله علیه وسلم به غالبا خپل وکیل ته فرمائیلي وو چه که تا نه څوک زما په نوم باندې څوک څه غواړی نو که هغه ستا په دلیل طلب کولو باندې هغه ځائې کښې لاس کیږدی نو پوهه شه چه هغه زما د طرف نه دې.

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۱۳۱) (ضعیف)

بَابٌ فِي الْقَضَاءِ

د قضا د احکامو بیان

[۳۶۳۳] (۱) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا الْمُثَنَّى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ كَعْبٍ الْعَدَوِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا تَدَارَأْتُمْ فِي طَرِيقٍ فَاجْعَلُوهُ سَبْعَةَ أَذْرُعٍ".

د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی عليه السلام فرمایلي دي کله چه تاسود لاري په باره کښې په جګړه کښې مبتلا شی نو لاربه داوه لاسونو په اندازه پریږدئ.

شرح الحديث:

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « إِذَا تَدَارَأْتُمْ فِي طَرِيقٍ فَاجْعَلُوهُ سَبْعَةَ أَذْرُعٍ » ﴾ د دې حدیث مطلب دا دي چه که یو زمکه په میراث کښې د څو ورنړو ترمینځه یا د څو کسانو ترمینځه مشترکه وی او اوس هغوی د هغې د ابادولو اراده اوکړی چه په هغې کښې ئې دواړو طرفونو ته د کور جوړولو خیال دي نو اوس چه په مینځ کښې کومه لاره پریخودلې شی د کورونو په مینځ کښې د تلو راتلو هغه څومره کیدل پکار دی پس که هغوی ټول په یو خاص مقدار باندې متفق شی نو ښه ده او که اختلاف ئې راشی نو بیا په دې صورت کښې هغه څه کول پکار دی کوم چه په حدیث الباب کښې دی یعنی د اووهٔ ذرع په قدر پلنه ګلئ دې پریخودلې شی.

والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری

[۳۶۳۴] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَابْنُ أَبِي خَلَفٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا اسْتَأْذَنَ أَحَدَكُمْ أَخَاهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَةً فِي جِدَارِهِ فَلَا يَمْنَعْهُ، فَنَكَسُوا، فَقَالَ: مَا لِي أَرَاكُمْ قَدْ أَعْرَضْتُمْ؟ لَأُلْقِيَنَّهَا بَيْنَ أَكْتَافِكُمْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا حَدِيثُ ابْنِ أَبِي خَلَفٍ وَهُوَ أَتَمُّ.

دابوهریره رضي الله عنه نه چه نبی عليه السلام فرمائیلی دی کله چه یوکس په تاسوکښې دخپل مسلمان ورور نه دهغه په دیوال دلرګي ایخودلو اجازت وغواړي نوانکاردې ورته روایت دې فرمائی نه کوي، خلقو چه داخبره واوریده نوسرونه ئې ښکته کړل، بیاابوهریره رضي الله عنه اوفرمائیل څه وجه ده چه تاسودا حدیث په پوره توجه سره نه اورئ داحدیث به زه ستاسو داوږوپه مینځ کښې اچوم یعنی بار بار به ئې درته اوروم.

قوله: ﴿ إِذَا اسْتَأْذَنَ أَحَدَكُمْ أَخَاهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَةً فِي جِدَارِهِ فَلاَ يَمْنَعْهُ ﴾

شرح الحديث:

یعنی که په تاسو کښې یو سړې د خپل رور نه د دې خبرې اجازت اوغواړی چه هغه د هغه په دیوال کښې یو لرګې ښخ کړی مثلا د هغه په دیوال باندې د خپل چهت تیر کیږدی یا یو

(۱): سنن الترمذي/الأحكام ۲۰ (۱۳۵۶)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۱۶ (۲۳۳۸)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۲۳)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المظالم ۲۹ (۲۴۷۳)، صحيح مسلم/المساقاة ۳۱ (۱۶۱۳)، مسند احمد (۲/۴۶۶، ۴۷۴) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/المظالم ۲۰ (۲۴۶۳)، صحيح مسلم/المساقاة ۲۹ (۱۶۰۹)، سنن الترمذي/الأحكام ۱۸ (۱۳۵۳)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۱۵ (۲۳۳۵)، (تحفة الأشراف: ۱۳۹۵۴)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الأقضية ۲۶ (۳۲)، مسند احمد (۲/۲۴۰، ۲۷۴، ۳۹۶، ۴۶۳) (صحيح)

ګاونډی د بل ګاونډی په دیوال کښې میخ ټک وهی نو هغه له پکار دی چه انکار دې نه کوی. د امام احمدرحمه الله په نزد دا نهی د تحریم دپاره ده او د جمهورو په نزد د تنزیه دپاره، د هغوی په نزد دا حدیث په حسن معاشرت باندې محمول دې، وړاندې په روایت کښې دی ﴿فَنَكَسُوا فَقَالَ مَا لِي أَرَاكُمْ﴾ راوی وائی چه کله ابوهریره رضي الله عنه دا حدیث د خلقو مخکښې بیانولو نو هغوی لړ شان سر ښکته کړو په ځائې د دې چه سر اوچتولو سره ئې د حدیث سماع په ښه طریقه کولې، ابوهریره رضي الله عنه هغوی اوړتل او خفه کیدو سره ئې اوفرمائیل: څه خبره ده د دې حدیث په اوریدو باندې اعراض ولې کوئ تاسو که هر څه کوئ زه به دا حدیث ستاسو وړاندې بیانوم، او یا دا مطلب دې چه دا میخ به زه ستاسو په سینو کښې ټک وهم او هغه کړئ به ستاسو په اوږو باندې ضرور ږدم.

دا د ابوهریره رضي الله عنه د طرف نه حاضرینو ته په مضمون حدیث باندې عمل کولو دپاره په سختئ سره تاکید او تنبیه ده.

[۳۶۳۵] (۱)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ لُؤْلُؤَةَ، عَنْ أَبِي صِرْمَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: غَيْرُ قُتَيْبَةَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، عَنْ أَبِي صِرْمَةَ صَاحِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ ضَارَّ أَضَرَّ اللَّهُ بِهِ، وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ".

امام ابو صرمه فرمائی چه امام ابوداؤد وئیلی دی دقتیبه نه علاوه نورو راویانو ددې روایت په سند کښې دلفظ صاحب النبی ذکر کړې دې چه دهغه نه روایت دې چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څوک چه چاته تکلیف یانقصان ورسوي نوالله تعالی به هغه ته نقصان اوتکلیف ورسوي اوڅوک چه دچاسره عداوت او دشمنی کوي نوالله تعالی به دده سره عداوت اودشمنی وکړي.

﴿مَنْ ضَارَّ أَضَرَّ اللَّهُ بِهِ وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ﴾ کوم سړې چه نورو ته ضرر ورکوی نو الله پاک هغه ته ضرر رسوی او کوم سړې چه نور په مشقت کښې اچوی الله پاک په هغه باندې مشقت اچوی.

والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری

د دې حدیث د باب سره څه مناسبت دې، په ظاهر کښې خو دا دې چه قاضیانو ته د قسم قسم خلقو مقدمات او فیصلې راځی نو په هغوی کښې بعض ظالمان او بعض مظلوم وی نو کیدې شی چه مصنف رحمه الله دې طرف ته اشاره کوی چه په داسې موقعه کښې پکار دی چه د موقع او محل مناسب د وعد او وعید احادیث خصمینو ته واوروی. کیدې شی چه په هغوی کښې کوم یو په باطل باندې وی د هغه په حق کښې دا وعیدموثر شی او په خپله د خپل ناحق خصومت نه منع شی لکه چه په احادیثو کښې د دې مثالونه ملاویږی، (والله تعالی اعلم)

(۱): سنن الترمذي/البر والصلة ۲۷ (۱۹۴۰)، سنن ابن ماجه/الأحکام ۱۷ (۲۳۴۲)، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۶۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۵۳/۳) (حسن)

[٣٦٣٦](١)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا وَاصِلٌ مَوْلَى أَبِي عُيَيْنَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا جَعْفَرٍ مُحَمَّدَ بْنَ عَلِيٍّ يُحَدِّثُ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ "أَنَّهُ كَانَتْ لَهُ عَضُدٌ مِنْ نَخْلٍ فِي حَائِطِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، قَالَ: وَمَعَ الرَّجُلِ أَهْلُهُ، قَالَ: فَكَانَ سَمُرَةُ يَدْخُلُ إِلَى نَخْلِهِ فَيَتَأَذَّى بِهِ وَيَشُقُّ عَلَيْهِ، فَطَلَبَ إِلَيْهِ أَنْ يَبِيعَهُ، فَأَبَى، فَطَلَبَ إِلَيْهِ أَنْ يُنَاقِلَهُ، فَأَبَى، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ، فَطَلَبَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَهُ، فَأَبَى، فَطَلَبَ إِلَيْهِ أَنْ يُنَاقِلَهُ، فَأَبَى، قَالَ: فَهَبْهُ لَهُ وَلَكَ كَذَا وَكَذَا أَمْرًا رَغَّبَهُ فِيهِ، فَأَبَى، فَقَالَ: أَنْتَ مُضَارٌّ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْأَنْصَارِيِّ: اذْهَبْ فَاقْلَعْ نَخْلَهُ".

د سمره بن جندب رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دیوانصاري په باغ کښې دکجورو بوټوني وې اودده سره دده ښځه اودده بچی هم وو، نوسمره چه به کله خپلو ونوله تلو نوانصاري ته به تکلیف وو اودده په راتلوسره به هغه ته تکلیف رسیدو نوانصاري اوغوښتل چه دغه ونې دسمره نه په قیمت واخلي سمره دخرڅولونه انکاروکړو، بیا ئې ورنه دغه ونې په تبادله وغوښتلې نوسمره بیاهم انکار وکړو بهرحال هغه نبی علیه السلام ته ددې ذکر وکړو نبی علیه السلام سره ته اوفرمائیل خپلې ونې خرڅې کړه هغه دنبی علیه السلام خبره ونه منله نوبیاورته نبی علیه السلام اوفرمائیل خپلې ونې ورسره بدل کړه لیکن داخبره ئې هم ونه منله نونبی علیه السلام اوفرمائیل دغه ونې دې انصاری ته هبه کړه اوددې په عوض کښې دا واخله نبی علیه السلام ډیر ترغیب ورکړو مگرسره یوه خبره هم ونه منله، په دې وخت کښې نبی علیه السلام اوفرمائیل ته نورو خلقوته تکلیف رسونکې یې اوبیا ئې انصاری ته اوفرمائیل دده ونې وباسه.

﴿عن سمرة بن جندب رضي الله عنه انه كانت له عضد من نخل في حائط رجل من الانصار﴾

مضمون حدیث:

سیدنا سمره رضي الله عنه خپله واقعه پخپله بیانوی چه ما څو بوټی د یو انصاری په باغ کښې لګولې وو. سمره رضي الله عنه فرمائی نچه دې انصاری سره په باغ کښې د هغه بال بچ هم وو، هغوی فرمائی چه زه به د خپلو بوټو د خیال ساتلو دپاره هغه باغ ته تلم راتلم چه د هغې په وجه به هغه باغ والا ته تکلیف وو او هغه به په مشقت کښې پریوتلو، هغوی فرمائی چه د باغ والا ماته درخواست اوکړو چه زه خپل بوټی د هغه په لاس باندې خرڅ کړم ما د بیع نه انکار اوکړو، بیا هغه مانه د دې خبرې درخواست اوکړو چه زه خپل بوټی د هغه د باغ نه منتقل کړم، ما د دې نه هم انکار اوکړو، هغه انصاری لاړو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې زما شکایت اوکړو، هغوی فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زه راطلب کړم او هم دغه شان ئې دواړه خبرې زما مخې ته کیخودلې کومې چه هغه انصاری کړې وې ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم انکار اوکړو رسول الله صلی الله علیه وسلم دریم ځیز زما مخې ته کیخودلو چه خپل ځیز هغه ته هبه کړه په دې باندې به تاته دومره دومره ثواب ملاوشی. ما د دې نه هم انکار اوکړو په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته اوفرمائیل ﴿انت مضار﴾ چه ته ډیر ضرر رسونکې ئې او رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه انصاری ته اووې چه د دهٔ بوټی اوباسه او بهر ئې اوغورځوه.

سیدنا سمره رضي الله عنه چه دا خپله واقعه چه په هغې کښې د هغوی ضد موندلې شی دا هغوی

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦٣٣) (ضعيف)

خپله بیان فرمائی او ګویا خپله پکښې خپل عیب او کمې بیانوی دا د دې حضراتو د غایت اخلاص او دیانت داریٔ خبره ده چه کوم حدیث ئې څنګه د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دې هغه بعینه هم هغه شان نقل کړې شی اګر که هغه خپله د هغوی خلاف ولې نه وی،

﴿ سکت المنذری عن تخریج الحدیث واقتصر علی قوله فی سماع الباقر من سمرة بن جندب نظر فقد نقل من مولده و وفاة سمرة یتعذر معه سماعه منه وقیل فیه ما یمکن معه السماع منه.... والله عزوجل اعلم اهـ (عون)

[٣٦٣٧](١) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ: "أَنَّ رَجُلًا خَاصَمَ الزُّبَيْرَ فِي شِرَاجِ الْحَرَّةِ الَّتِي يَسْقُونَ بِهَا، فَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ: سَرِّحِ الْمَاءَ يَمُرُّ، فَأَبَى عَلَيْهِ الزُّبَيْرُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ: اسْقِ يَا زُبَيْرُ، ثُمَّ أَرْسِلْ إِلَى جَارِكَ، فَغَضِبَ الْأَنْصَارِيُّ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنْ كَانَ ابْنَ عَمَّتِكَ؟، فَتَلَوَّنَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: اسْقِ، ثُمَّ احْبِسِ الْمَاءَ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى الْجَدْرِ، فَقَالَ الزُّبَيْرُ: فَوَاللَّهِ إِنِّي لَأَحْسَبُ هَذِهِ الْآيَةَ نَزَلَتْ فِي ذَلِكَ: فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ سورة النساء آية ٦٥".

دعبدالله بن زبیر نه روایت دې فرمائی چه یو کس دزبیر سره دنالو دمعاملې په باره کښې په جګړه وو کوې چه دکار ژنې زمکې دطرف نه راغلې وې اوددې نالونه به پټې سراب کیدل انصاری اووئیل اوبه مه بندوه اوزبیر نه ددې نه انکار وکړو نبی علیه السلام زبیرته اوفرمائیل خپل پټې اوبه کړه اوبیا اوبه خپل ګاونډې ته پریږده راوی وائی په دې خبره باندې انصاری ته غصه ورغله اووئې وئیل اې دالله رسوله زبیر خوستادترور خوې د نبی علیه السلام چه داخبره واوریده نومخ مبارک ئې دغصې نه سور شو او زبیر ته ئې اوفرمائیل چه خپل پټې اوبه کړې نو اوبه بندې کړه تردې پورې چه اوبه به دپټو په پولو باندې روانې شې، زبیر اووئیل په الله قسم زماخیال دې چه دا ایت مبارکه: «فلا وربك لا یؤمنون حتی یحکموك» په دې سلسله کښې نازل شوې دې.

مضمون حدیث :

قوله: ﴿عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ أَنَّ رَجُلاً خَاصَمَ الزُّبَيْرَ فِي شِرَاجِ الْحَرَّةِ الَّتِي يَسْقُونَ بِهَا الخ ﴾ دا مشهور حدیث دې چه د هغې مضمون دا دې عبدالله بن زبیر رضی الله عنه د خپل پلار واقعه نقل فرمائی چه یو سړې زما د پلار زبیر سره شراج حره یعنی د مقام حره د اوبو د لختو په باره کښې چه د هغې په ذریعه به خلقو پټی اوبه کول جهګړه اوشوه هغه انصاری سړی زما پلار ته وئیل چه ته اوبه پریږده چه هغه تیریدو سره زما پټی ته راشی، زبیر رضی الله عنه د داسې کولو نه انکار اوکړو ځکه چه قاعده دا ده چه د کوم سړی پټې او زمکه پورته طرف ته وی یعنی نهر سره تړلې، اول حق هغه ته د خړوب کولو دې د هغه نه پس د هغه نه د لاندې پټی، او دې انصاری سړی په زبیر رضی الله عنه باندې د دې خلاف کول غوښتل چه کله دا مسئله رسول

١): صحیح البخاري/المساقاة ٦ (٢٣٦٠)، ٨ (٢٣٦٢)، الصلح ١٢ (٢٧٠٨)، تفسیر سورة النساء ١٢ (٤٥٨٥)، صحیح مسلم/الفضائل ٣٦ (٢٣٥٧)، سنن الترمذي/الأحكام ٢٦ (١٣٦٣)، تفسیر النساء (٣٢٠٧)، سنن النسائي/القضاة ٢٦ (٥٤١٨)، سنن ابن ماجه/المقدمة ٢ (١٥)، الرهون ٢٠ (٢٤٨٠)، (تحفة الأشراف: ٥٢٧٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٦٥) (صحيح)

الله ﷺ ته راغله نو هغوی د قاعدې مطابق زبیر ﷜ ته هم دغه اوفرمائیل چه ته خپل پټې خړوب کړه د هغې نه پس لاندې د خپل ګاونډی دپاره پرېږده په دې باندې هغه انصاری خفه شو او وې وئیل ﴿ ان كان ابن عمتك ﴾ (چه ستاسو دا فیصله هم په دې وجه ده) چه هغه ستاسو د ترور ځوئې دې، زبیر بن العوام ﷜ د رسول الله ﷺ د ترور صفیه بنت عبدالمطلب ځوئې دې (لم تسلم من عماته الا هی علی الصحیح كذا فی التجرید للذهبی) ﴿ فَتَلَوَّنَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم الخ ﴾ د انصاری په دې قول باندې د رسول الله ﷺ د مخ مبارک رنګ بدل شو او هغوی زبیر ﷜ ته اوفرمائیل چه ړومبی هم ته اوبه ورکړه او ترڅو پورې چه اوبه د پټی آخری سر ته نه وی رسیدلې مه ئې پرېږده یعنی اول خو رسول الله ﷺ د مسامحت او ایثار حکم فرمائیلې وو چه د خپل حق پوره کیدو نه مخکښې اوبه پرېږده خو چه کله هغوی د دې انصاری طرز عمل اولیدو نو بیا رسول الله ﷺ په هغه باندې زجرا او تنبیها زبیر ﷜ ته د استیفاء حق حکم اوفرمائیلو (چه دا سړې د رعایت قابل نه دې) [1] په بذل المجهود کښې لیکلې دی که دا انصاری مسلمان وو نو د هغه دا قول زلت شیطانی وو په غصه کښې هغه ته احساس پیدا نه شو چه زه څه وایم او که منافق وو نو بیا خو د اشکال هیڅ خبره نشته اوپه هغه باندې به د انصاری اطلاق بناء بر اتحاد قبیله وی. قال المنذری واخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه واخرجه البخاری ومسلم من حديث عبدالله بن زبير عن ابيه واخرجه البخاری والنسائی من حديث عروة بن زبير عن ابيه اهـ (عون)

[٣٦٣٨] ([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنِ الْوَلِيدِ يَعْنِي ابْنَ كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي مَالِكِ بْنِ ثَعْلَبَةَ، عَنْ أَبِيهِ ثَعْلَبَةَ بْنِ أَبِي مَالِكٍ، أَنَّهُ سَمِعَ كُبَرَاءَهُمْ يَذْكُرُونَ: أَنَّ رَجُلًا مِنْ قُرَيْشٍ كَانَ لَهُ سَهْمٌ فِي بَنِي قُرَيْظَةَ، فَخَاصَمَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَهْزُورٍ يَعْنِي السَّيْلَ الَّذِي يَقْتَسِمُونَ مَاءَهُ، فَقَضَى بَيْنَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الْمَاءَ إِلَى الْكَعْبَيْنِ لَا يَحْبِسُ الْأَعْلَى عَلَى الْأَسْفَلِ".

دثعلبه بن ابی مالك ﷜ نه روایت دې فرمائی چه ما دخپلو مشرانو نه اوریدلی دی چه یوقریشی دبنی قریظه قبیلې دیوکس سره په اوبوکښې شریك وو نو دغه کس یوځل نبی ﷺ ته داوبو دهغې ولې په باره کښې فریاد وکړو چه دکومې ولې اوبه به خلقو پخپل مینځ کښې تقسیمولې، نبی ﷺ فیصله وکړه ددوی په مینځ کښې چه کله اوبه دګیټو پورې ورسیږی نو پاسنې کس به په لاندینې کس باندې اوبه نه بندوی.

قوله: ﴿ أَنَّ رَجُلاً مِنْ قُرَيْشٍ كَانَ لَهُ سَهْمٌ فِي بَنِي قُرَيْظَةَ فَخَاصَمَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي مَهْزُورٍ الخ ﴾ مهزور د بنی قریظه د یوې وادئ نوم دې او دلته د دې نه مراد سیل مهزوردې لکه چه د دې نه روستو روایت کښې دی یعنی د سیل مهزور په باره کښې د یو قریشی سړی چه د هغه څه زمکه یا باغ په ارض بنو قریظه کښې وو چا سره د اوبه خور په سلسله کښې اختلاف شو نو د هغې په باره کښې رسول الله ﷺ فیصله اوفرمائیله چه پورته

[1]) پس امام بخاری ﷫ په دې حدیث باندې باب قائم کړې دې باب اذا اشار الامام بالصلح فابی حکم علیه بالحکم البین)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٣٨)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الرهون ٢٠ (٢٤٨١) (صحيح)

پټی کنبي چه کله اوبه پورته ګیټو ته راورسي نو د هغې نه پس دې اوبه بندوی بلکه وړاندې دې ورکړی. (والحدیث سکت عنه المنذری اهـ(عون)

[۳٦۳۹](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنِي أَبِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَضَى فِي السَّيْلِ الْمَهْزُورِ أَنْ يُمْسَكَ حَتَّى يَبْلُغَ الْكَعْبَيْنِ، ثُمَّ يُرْسِلُ الْأَعْلَى عَلَى الْأَسْفَلِ".

عمرو بن شعیب دخپل پلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام دمهزور (د یو وادی نوم دې) دنهر په سلسله کنبي داسې فیصله کړیوه کله چه ددې نهر اوبه ګیټو پورې ورسیږی نودا دې پاسنی کس (دچا چه زمکه بره وي) په لاندیني کس باندې اوبه بندې کړي اوبیاچې برنې کس لاندینی ته اوبه پرېږدی.

[۳٦٤۰](²) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ عُثْمَانَ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي طُوَالَةَ، وَعَمْرُو بْنُ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "اخْتَصَمَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَانِ فِي حَرِيمِ نَخْلَةٍ فِي حَدِيثِ أَحَدِهِمَا، فَأَمَرَ بِهَا فَذُرِعَتْ، فَوُجِدَتْ سَبْعَةَ أَذْرُعٍ، وَفِي حَدِيثِ الْآخَرِ، فَوُجِدَتْ خَمْسَةَ أَذْرُعٍ، فَقَضَى بِذَلِكَ"، قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ: فَأَمَرَ بِجَرِيدَةٍ مِنْ جَرِيدِهَا فَذُرِعَتْ.

دابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دوه کسانونبی علیه السلام ته دهغې زمکې په باره کنبي جګړه راوړه کومه چه دباغ خواته وه، دیوراوي بیان دې چه نبی علیه السلام ددې زمکې دناپ کولو حکم وکړو نودغه زمکه اوه لاسه وختله او بل راوی وئیلی دی چه پنځه لاسه وختله اونبی علیه السلام ددې فیصله وکړه، عبدالعزیز وئیلی دی چه نبی علیه السلام هندي ونو په لختوباندې ددې زمکې دناپ کولو حکم کړې وو، اوبیادازمکه ناپ کړې شوه.

شرح الحدیث :

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ اخْتَصَمَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- رَجُلاَنِ فِي حَرِيمِ نَخْلَةٍ الخ : د حریم نه مراد خوا کنبي ځائې دې لکه چه وئیلې شی حریم د مصلی د کوم ذکر چه په ابواب السترة کنبي تیر شوی دې په دې حدیث کنبي د حریم نخله ذکر دې یعنی د اونې نه لاندې هغه ځائې کوم چه د دې اونې حق ګڼرلې شی، مضمون حدیث دا دې چه د دوه سړو په حریم نخله کنبي اختلاف پیدا شو د دې تشریح دا ده چه یو سړی د خپل ځان دپاره د ارض موات احیاء کول غوښتل [شاړه زمکه ئې آبادوله] اوس په دواړو زمکو باندې د فصل [جداوالی] دپاره د ځائې پرېخودلو ضرورت وو اوس دا وه چه فصل ته څومره ځائې پرېخودلې شی د هغې د مقدار په باره کنبي د دې دواړو سره خپل مینځ کنبي اختلاف شو، په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا فیصله اوفرمائیله چه هغه نخله دې ناپ کړې شی پس هغه اووۀ ذراع وه رسول الله صلی الله علیه وسلم څومره چه د نخله طول وو هم د هغې په اندازه ئې د حریم [جداوالی] مقدار متعین کړوپس اوس دهمیشه دپاره هم داقاعده او ضابطه شوه چه د دوه ارض موات ترمینځه دې هم د دې مطابق د فصل [جداوالی] دپاره ځائې پرېخودلې شی.

---

¹): سنن ابن ماجه/الرهون ۲۰(۲٤۸۲)، (تحفة الأشراف: ۸۷۳۵) (حسن صحیح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٤۰۸) (صحیح)

قوله: ﴿ قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ فَأَمَرَ بِجَرِيدَةٍ مِنْ جَرِيدِهَا فَذُرِعَتْ ﴾ یعنی رسول اللهﷺ دا اوفرمائیل چه د دې نخله د يو ښاخ په مقدار دې ذراع اخستلو سره ناپ کړې شی پس هم داسې اوکړې شوه. والحديث سكت عنه المنذری (عون)

وهذا آخر كتاب القضايا وهو آخر ما اردت ايراده فی هذا الجزء وهو الجزء الخامس من الدر المنضود، وقد شرعت فيه العشرة الاخيرة من شهر رمضان ۱۴۲۳ھ الذی هو شهر الصبر والغفران الذی انزل فيه القرآن، فی المدينة المنورة ([1]) على صاحبها الف الف تحية وسلام، وقد كنت نازلا فی العوالی فی بيت حبيب الله قربان على المظاهری، وهو الذی اعاننی فی جمع المواد والاملاء والتحرير حسب اعانته فی الجزء الرابع فجزاه الله تعالی وسائر من اعاننی فی هذا التاليف احسن الجزاء وانا ارجو من لطف الله تعالی وكرمه ان يتم هذا الشرح فی ستة اجزاء فكانه بقی جزء واحد، واسال الله سبحانه وتعالی السداد والتوفيق لما يحب ويرضی وان يكمل هذا الشرح ويجعله خالصا لوجهه الكريم ولا حول ولا قوة الا بالله العلی العظيم وصلی الله تعالی علی خير خلقه سيدنا ومولانا محمد واله وصحبه اجمعين. آمين.

بسم الله الرحمن الرحيم

أَوَّلُ كِتَابُ الْعِلْمِ

د علم متعلق بیان

(ما قبل سره ربط او مناسبت):

د دې کتاب د ماقبل سره مناسبت دا په ذهن کښې راځی چه د دې نه مخکښې د کتاب القضاء په شروع کښې حديث تير شوې دې. ﴿ الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِي النَّارِ الحديث ﴾ چه په هغې کښې دا دی چه کوم قاضی صاحب حق لره په حق پيژندلو سره د هغې مطابق فيصله اوکړی هغه به جنت ته ځی، او کوم قاضی چه په جهالت سره فيصله اوکړی هغه به جهنم ته ځی، د دې حديث نه د علم ضرورت او اهميت معلوميږی.

په صحيح مسلم کښې هم کتاب العلم په آخر د کتاب کښې ذکر دې. او هم دغه شان په جامع ترمذی کښې هم، مونږ په ﴿ الحل المفهم ﴾ کښې د علم حقيقت او د هغې انواع علوم شرعيه او غير شرعيه، او د علم د حصول حکم شرعی هلته ذکر کړې دې د هغې طرف ته دې رجوع اوکړې شی هلته مونږ دا خبره کړې ده چه په ظاهر د قياس تقاضه دا ده چه کتاب العلم په شروع کښې راوړلې شی لکه چه په صحيح بخاری کښې دی چه په هغې کښې د ټولو نه مخکښې کتاب الايمان، او په هغې پسې متصل کتاب العلم په شروع کښې ذکر شوې دې. په دې باره کښې هلته دا نکته ليکلې شوې ده: يمكن ان يقال لعل فيه اشارة لطيفة الی ان منتهی علمنا يساوی مبتداه، فان العلم لا نهاية له، لا سيما علم الشريعة فانه بحر لا ينفد، لکه چه د بعض اکابرينو صوفياء نه نقل دی چه کله د هغوی نه د تصوف د انتهاء او کمال په باره کښې تپوس اوکړې شو چه هغه څه دې: ما النهاية؟ فقال: العود الی البداية او هم دا مطلب

[1]) الاثلثة احاديث من الباب الاخير فاني كتبتها بعد الرجوع الي الهند في سهارنپور)

د یو صوفی د دې مقولې دې ـ هنوز روز اول است..... چه لا خو اوس زمونږ د بسم الله ورځې دی (یعنی په تصوف کښې مو قدم کیخودلې دې) شیخ الهند نور الله مرقده په تراجم د بخاری کښې یو ځائې کښې دا لیکلې دی چه د هر سړی جهل د هغه د علم نه زیات دې ځکه چه فی نفسه معلومات (هغه امور چه علم په هغې پورې متعلق وی) خو غیر متناهی دی او د هر سړی خپل معلومات متناهی ده. اهـ پس د هر سړی علم محدود او متناهی شو او د هغه جهل غیر متناهی.

(د علم تعریف)

د علم حقیقت او د هغې انواع، او مختلف نو ع سره د هغې تقسیمات او هم دغه شان رؤس ثمانیه او د علم شرف او فضیلت وغیره امور په تفصیل سره نواب صدیق حسن خان په خپل مشهور تصنیف، ابجد العلوم... کښې ذکر کړې دی او هم دغه شان په کشف الظنون کښې هم دی او ددې نه مخکښې طابش کبری زاده په مفتاح السعادة ومصباح السیادة کښ.

د منطق په کتابونو کښې هم د علم په تعریف او تحقیق باندې کلام کړې شوې دې، پس یو تعریف دا کړې شوې دې: ﴿ الصورة الحاصلة من الشئ عند العقل ﴾ او په شرح عقائد نسفیه کښې د علم تعریف داسې کړې شوې دې ﴿ هو صفة يتجلى بها المذكور لمن قامت هي به ﴾ یعنی د یو څیز علم دا دې چه کله د هغه څیز نوم واخستلې شی نو فورا د هغه څیز صورت او نقشه ذهن ته راشی مثلا چه کوم سړې زید پیژنی او د هغه نه خبر دې نو کله چه د هغه مخکښې د زید نو فورا د زید شکل او صورت د هغه اوریدونکی ذهن ته منتقل کیږی، او که هغه زید نه پیژنی نو هغه وخت به ئې هیڅ هم په ذهن کښې نه راځی.

(بَابُ الْحَثِّ عَلَى طَلَبِ الْعِلْمِ)

بَابٌ فِي فَضْلِ الْعِلْمِ

د علم د فضیلت بیان

[۳۶۴۱](¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، سَمِعْتُ عَاصِمَ بْنَ رَجَاءِ بْنِ حَيْوَةَ يُحَدِّثُ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ جَمِيلٍ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: "كُنْتُ جَالِسًا مَعَ أَبِي الدَّرْدَاءِ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ، فَجَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا أَبَا الدَّرْدَاءِ، إِنِّي جِئْتُكَ مِنْ مَدِينَةِ الرَّسُولِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَدِيثٍ بَلَغَنِي أَنَّكَ تُحَدِّثُهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَا جِئْتُ لِحَاجَةٍ، قَالَ: فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ فِيهِ عِلْمًا سَلَكَ اللَّهُ بِهِ طَرِيقًا مِنْ طُرُقِ الْجَنَّةِ، وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ، وَإِنَّ الْعَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالْحِيتَانُ فِي جَوْفِ الْمَاءِ، وَإِنَّ فَضْلَ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ، وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ".

د کثیر بن قیس نه روایت دې فرمائی چه زه د دمشق په جومات کښې دابو الدرداء ظهره ناست وم په دې وخت کښې هغه نه یو کس راغې او ورته ئې اووئیل چه زه تاته دنبی عليه السلام

¹): سنن الترمذي/العلم ١٩ (٢٦٨٢)، سنن ابن ماجه/المقدمة ١٧ (٢٢٣)، (تحفة الأشراف: ١٠٩٥٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩٦/٥)، سنن الدارمي/المقدمة ٣٢ (٣٥٤) (صحيح)

دکلی مدینې نه راغلې یم دیوحدیث په باره کښې ما اوریدلې دی چه ته ئې د نبی ﷺ نه بیانوې، اوزه تاته دبل غرض دپاره نه یم راغلی، ابوالدرداء رضی الله عنه اووئیل یقینا مادنبی ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیل ئې څوك چه دعلم دزده کولو دپاره په یوه لاره روان شي نوالله تعالی به ورته جنت ته دتلو په لاروکښې یوه لاره اسانه کړي، اودعلم دزده کونکي دخوشحالولودپاره فرشتې خپلې وزرې غوړوي او یقینا کوم مخلوق چه په زمکه او اسمان کښې وسیږي هغوی ټول دده دپاره مغفرت غواړي تردې پورې چه په اوبوکښې مهیان (کبان) هم دده دپاره مغفرت غواړي او په عبادت کونکي باندې دعالم دومره فضیلت دی لکه څنګه چه دڅوارلسمې شپې دسپوږمۍ فضیلت په ټولو ستورو باندې دې اویقینا عالمان دانبیاو وارثان دي اوانبیاو درهم اودینار په میراث کښې نه دي پریخودلي هغوی خوصرف علم په میراث کښې پریخودلې دې، یقیناچاچه علم حاصل کړو ده الویه برخه حاصله کړه.

مضمون حدیث :

قوله: ﴿ عَنْ كَثِيرِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ أَبِي الدَّرْدَاءِ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا أَبَا الدَّرْدَاءِ الخ ﴾ کثیر بن قیس فرمائی چه زه یوه ورځ د ابوالدرداء رضی الله عنه سره ناست اوم نو یو سړې د هغوی خدمت ته راغلو او عرض ئې اوکړو چه زه تاسو ته د مدینې طیبې نه د یو حدیث اوریدو دپاره راغلې یم چه د هغې په باره کښې ماته معلومه ده چه تاسو هغه د رسول الله ﷺ نه روایت کوئ، زما د دې راتلو مقصد د دې نه سوا هیڅ نه دي، نو هغوی اوفرمائیل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دی ﴿ يَقُولُ « مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ فِيهِ عِلْمًا سَلَكَ اللَّهُ بِهِ طَرِيقًا مِنْ طُرُقِ الْجَنَّةِ ﴾ شارحینو لیکلي دی چه په دې کښې دوه احتماله دی یو دا چه دې سائل ته د ابوالدرداء رضی الله عنه نه هم دا حدیث مطلوب وو کوم چه هغوی اوریدل غوښتل. دویم دا چه حدیث مطلوب خو به ورته هغوی روستو اوروله وی خو دا حدیث ئې د هغه د عمل د تحسین او تبشیر دپاره واورلو، چه کوم انسان د علم د حصول دپاره سفر کوی نو ګویا الله پاک هغه د جنت په لاره باندې بوځی یعنی د علم د حصول دپاره تلل دا د انجام په لحاظ داسې دی لکه د جنت په لاره تلل. او د دې نه د روستو حدیث الفاظ دا دی ﴿ الاسهل الله له به طريقا الى الجنة ﴾ چه د طالب العلم دپاره الله پاک د جنت لاره آسانوی، په دې وجه علم ذریعه ده د عمل او عمل سبب دې د دخول جنت.

شرح الحدیث :

﴿ وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ الخ ﴾ د حدیث د دې جملې په وضاحت کښې په بذل کښې د امام خطابی رحمه الله نه درې مطلبونه لیکلي دی:

۱ د وزرو کیخودلو نه مراد تواضع ده یعنی د طالب العلم مخکښې ملائک په تواضع سره راځی، کقوله تعالی واخفض لهما جناح الذل.....

۲: الامساك عن الطيران والنزول عنده، یعنی که په زمکه باندې طالب العلم وی او ملائک پورته الوځی نو هغه د دې طالب العلم د وجې نه خپل الوتل ختمولو سره لاندې ... ته

راکوزیږی لکه دا قول د رسول اللهﷺ: ﴿ ما من قوم یذکرون الله تعالی الا حفت بهم الملائکة وغشیتهم الرحمة ﴾

۳: د دې نه مراد د ملائکو خپلو وزرو لره د طالب العلم دپاره خورول دی هغه لره په خپل ځان باندې د سورولو دپاره چه هغه منزل مقصود ته اورسوی، مراد ترې نه اعانت دې او تیسیر په طلب د علم کښې. اهـ

وړاندې په حدیث کښې دی چه د عالم دپاره آسمان او زمکې والا استغفار کوی تر دې چه په اوبو کښې دننه مهیان (ګویا دا استغفار د بر نه تر بحر ته رسیږی)

او دا چه علماء د انبیاء کرامو وارثان دی ځکه چه د انبیاء کرام ﷺ میراث درهم او دینار نه وی بلکه د هغوی میراث علم وی (لهذا طالبان او علماء د انبیاء ﷺ وارثان شو)

قوله: ﴿ لمن اخذه اخذ بحظ وافر ﴾ دا جمله یا خو خبر دې چه کوم سړی علم حاصل کړو هغه لوئې دولت حاصل کړو، او یا انشائیه ده چه کوم سړې علم حاصل کړی او د هغې طالب وی نو هغې لره په ښه طریقه حاصلول پکار دی. د دې حدیث په روستو طریق کښې دا جمله هم ذکر شوې ده ﴿ ومن ابطاء به عمله لم یسرع به نسبه ﴾ یعنی کوم سړی لره چه د هغه عمل روستو کړی نو د هغه عالی نسب ئې نه شی مخکښې کولې.

د علم فضیلت او برتری:

د احادیث الباب نه د علم فضیلت ښکاره دې د ملائکو د طالب العلم سره په تواضع باندې پیش کیدل، د هغه دپاره د جنت لاره برابرول، د انبیاء ﷺ وارث کیدل یقینا دا د انتهائی درجې اعزاز دې. حضرت شیخ رحمه الله په حاشیه د بذل کښې د علامه شامی نه په ۲۸۹/۵ کښې نقل کړی دی: ﴿ مذاکرة العلم ساعة خیر من احیاء لیلة وله الخروج لطلبه بدون اذن الوالدین لو ملتحیا، اما الامرد فلا ﴾ یعنی د لږ ساعت علمی مذاکره د ټولې شپې د عبادت نه افضل ده، بله دا چه د طلب علم دپاره د کور نه وتل بغیر د والدینو د اذن نه هم جائز دې په دې شرط چه هغه وتلو والا د ګیرې والا وی، د بې ګیرې هلک دپاره جائز نه دی. والحدیث الاول اخرجه الترمذی وابن ماجه، والحدیث الثانی اخرجه مسلم اتم منه واخرجه الترمذی مختصرا، قاله المنذری.

[۳۶۴۲](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْوَزِيرِ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، قَالَ: لَقِيتُ شَبِيبَ بْنَ شَيْبَةَ فَحَدَّثَنِي بِهِ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي سَوْدَةَ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ يَعْنِي، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ.

ابوسودة د ابوالدرداء رضی الله عنه نه او هغه د نبی علیه السلام نه د تیر شوي روایت په شان روایت بیان کړې دې.

[۳۶۴۳](2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ رَجُلٍ يَسْلُكُ طَرِيقًا يَطْلُبُ فِيهِ عِلْمًا إِلَّا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقَ الْجَنَّةِ، وَمَنْ أَبْطَأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ".

(1): تفرد به أبو داود، انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۵۱) (صحيح)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۳۷۷)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الذكر والتوبة ۱۱ (۲۶۹۹)، سنن الترمذي/العلم ۲ (۲۶٤۶)، سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۷ (۲۲۶)، مسند احمد (۲/۲۵۲)، سنن الدارمي/المقدمة ۳۲ (۳۵۶) (صحيح)

د ابوهریره ﷺ نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هرڅوك چه ددین دعلم دحاصلولو دپاره په یوه لاربانديې روان شي نوالله تعالی به ده ته دجنت لاره اسانه کړي اوچالره چه خپل عمل وروسته دیکه کړو نو دده نسب ده لره نشي مخکښې کولې.

بَابُ رِوَايَةِ حَدِيثِ أَهْلِ الْكِتَابِ

باب: د اهل کتابو نه روایت بیانول

یعنی اهل کتاب چه کوم مضمون بیان کړی نو آیا د اهل اسلام دپاره هغې لره نقل کول او د روایت کولو اجازت شته.

[۳٦٤٤]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي نَمْلَةَ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ بَيْنَمَا هُوَ جَالِسٌ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ مُرَّ بِجَنَازَةٍ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، هَلْ تَتَكَلَّمُ هَذِهِ الْجَنَازَةُ؟، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اللَّهُ أَعْلَمُ، فَقَالَ الْيَهُودِيُّ: إِنَّهَا تَتَكَلَّمُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا حَدَّثَكُمْ أَهْلُ الْكِتَابِ فَلَا تُصَدِّقُوهُمْ وَلَا تُكَذِّبُوهُمْ، وَقُولُوا: آمَنَّا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ، فَإِنْ كَانَ بَاطِلًا لَمْ تُصَدِّقُوهُ، وَإِنْ كَانَ حَقًّا لَمْ تُكَذِّبُوهُ".

دابونمله ﷺ نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام سره ناست وم اودهغه سره یو یهودي هم موجود وو او په دې وخت کښې یوجنازه تیریدله یهودي اووئیل اې محمده ایا دا مړې خبرې کوي نبی علیه السلام اوفر مائیل الله تعالی ښه خبر دې ددینه پس یهودي اووئیل داجنازه خبرې کوي لیکن ددنیا خلق ددې خبرې نه آوری نبی علیه السلام اوفرمائیل تاسوته چه اهل کتاب کوي خبرې وکړي نوتاسوبه دهغې نه تصدیق کوئ اونه تکذیب بلکه داسې به وائی چه مونږه په الله اودهغه په رسولانو ایمان راوړې دې په دې وخت کښې که چرې دغه خبره دروغ وي نوتاسو ورته ریشتیا اونه وئیل اوکه چرې رښتیاوي نوتاسودروغ ونه ګڼرله.

قوله: ﴿ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ هَلْ تَتَكَلَّمُ هَذِهِ الْجَنَازَةُ فَقَالَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– « اللَّهُ أَعْلَمُ » الخ ﴾ د دې حدیث راوی ابو نمله صحابی دې چه د هغه نوم عمار بن معاذ ﷺ دې. او د هغوی نه روایت کونکې د هغوی ځوئې ابن ابی نمله دې چه د هغه نوم نمله دې.

د حدیث مضمون دا دې چه یو کرت د رسول الله ﷺ مخکښې یو جنازه تیره شوه، یو یهودی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه آیا دا جنازه خبرې کوی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل "الله اعلم" هغه یهودی اووئیل چه او خبرې کوی کیدې شی هغه دا خبره په خپل کتاب کښې لیدلې وی چه د هغې په بناء باندې هغه داسې اووئیل. د یهودی په دې خبره باندې رسول الله ﷺ خاموش پاتې شو او صحابه کرامو ﷺ نه ئې اوفرمائیل چه دا یهود چه کومه خبره تاسو ته کوی په هغې کښې مه د هغوی تصدیق کوئ او مه ئې تکذیب، بلکه وایئ چه ﴿ امنا بالله ورسوله ﴾ چه نه د باطل تصدیق اوشی او نه د حق تکذیب. د دې نه معلومه شوه چه د اهل کتابو حدیث نه دی روایت کول پکار.

رسول الله ﷺ د کلام جنازه په باره کښې اوفرمائیل "الله اعلم" حالانکه د نورو احادیثو نه په

(): تفرد به، أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۷۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۳٦۷٤) (ضعیف)

قبر کښې د ملائکو د سوال په جواب کښې د مړی خبرې کول په کثرت سره راغلی دی او س یا خو دې داسې اوئیلې شی چه دا حدیث د شروع دې کوم وخت چه رسول اللهﷺ ته په قبر کښې د ملکین او د مړی د سوال جواب علم نه وو. او یا دې داسې اوئیلې شی چه په دې حدیث کښې رسول اللهﷺ د مړی د کلام په باره کښې توقف فرمائیلې دې په دې وجه چه د دې حدیث تعلق مخصوص هغه مړی سره وونه دمطلق کلام میت سره، افاده العلامه السندی.

په دوه مختلفو بابونو کښې تطبیق :

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه وړاندې په کتاب کښې د څو ابوابو نه پس هم د دې سلسلې یو باب راروان دې، باب الحدیث عن بنی اسرائیل چه په هغې کښې مصنف رحمه الله دوه احادیث ذکر فرمائیلې دی په رومبی حدیث کښې دی ﴿ حدثوا عن بنی اسرائیل ولا حرج ﴾ په دې باندې بعض شراح حطابی وغیره لیکلې دی چه د یهودو نه د روایت حدیث ممانعت په شروع د اسلام کښې وو، د احکام اسلامیه او قواعد دنیه د استقرار نه مخکښ، بیا چه کله د احکام اسلامیه استقرار اوشو او صحابه کرام رضی الله عنهم د یهود د تحریفاتو او تخلیطاتو نه خبر شو نو بیا رسول اللهﷺ صحابه کرامو ته د حدیث اهل کتاب د روایت اجازت ورکړو چه په دې صورت کښې کذب او صدق او د حق او باطل ترمینځه د خلط کیدو خطره نه وه. ګویا دا هم داسې اوشو څنګه چه رسول اللهﷺ په شروع کښې د کتابت حدیث نه صحابه کرام رضی الله عنهم منع کړې وو د حدیث د قرآن کریم سره د التباس او د خلط کیدو د وجې نه. او بیا رسول اللهﷺ دا نهی منسوخ کړه او د کتابت حدیث اجازت ئې ورکړو چه هر کله د خلط ویره پاتې نه شوه.

او امام مالک رحمه الله د ﴿ حدثوا عن بنی اسرائیل ﴾ په باره کښې فرمائی، ﴿ المراد جواز التحدیث عنهم بما کان من امر حسن اما ما علم کذبه فلا ﴾ یعنی مراد دا دې چه اهل کتاب چه کومې ښه ښه خبرې تاسو ته بیانوی د هغې د نقل اجازت دې خو د کومې خبرې غلط کیدل چه معلوم وی ښکاره ده چه هغه په دې کښې داخل نه ده (کذا فی العون عن الفتح) او په حاشیه د بذل کښې دی ﴿ قال القاری فی المرقاة : لا حرج فی نقل الا عاجیب عنهم، وفی الرد المختار عن ابن حجر : هذا الحدیث یقید حل السماع الا عاجیب والغرائب کل ما لا یتیقن کذبه لقصد الفرحة لا الحجة ﴾ د امام خطابی رحمه الله په نزد د باب اول حدیث منسوخ او د باب دوم د هغې دپاره ناسخ شو او د امام مالک رحمه الله په نزد د اول حدیث تعلق د احکام او مسائلو سره دې او د دویم تعلق د عام مفیدو خبرو سره یا غرائبو سره دې احکامو سره نه، د دواړو احادیثو محمل بیل بیل دې لهذا د ناسخ او منسوخ منلو حاجت نشته.

د اسرائیلیاتو حکم :

په تفسیرمعارف القرآن کښې مفتی محمد شفیع رحمه الله په مقدمه کښې دعنوان "د اسرائیلیاتو حکم" لاندې لیکلې دی : اسرائیلیات هغه روایتونو ته وائی کوم چه د اهل کتابو یعنی یهودو او نصاراو نه مونږ ته رارسیدلې دی، حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلې دی چه د اسرائیلیاتو درې قسمونه دی ۱ : هغه روایات چه د هغې صداقت د قرآن او حدیث د نورو

دلائلو نه ثابت دي مثلاً د فرعون غرق کيدل او د موسی عليه السلام کوه طور ته تشريف اوړل. ۲: هغه روايات د کوم دروغژن کيدل چه د قرآن او حديث د نورو دلائلو نه ثابت وی مثلاً په اسرائيلی رواياتو کښې ذکر دی چه سليمان عليه السلام په آخر عمر کښې (والعياذ بالله) مرتد شو د دې ترديد د قرآن کريم نه ثابت دې د الله پاک ارشاد دې ﴿ وما كفر سليمن ولكن الشيطين كفروا ﴾ هم دغه شان مثلاً په اسرائيلی رواياتو کښې ذکر شوی دی (معاذ الله) چه داؤد عليه السلام د خپل سپه سالار اوريا ښځې سره زنا کړې وه يا ئې هغه په مختلفو تدبيرونو سره قتل کړو او د هغه د ښځې سره ئې نکاح اوکړه، دا هم ښکاره دروغ دی او دا قسم روايات غلط ګڼړل لازم دی. ۳: هغه روايات چه د هغې په باره کښې قرآن او سنت او نور شرعی دلائل خاموش دی لکه د تورات احکام وغيره، دغه شان رواياتو په باره کښې د رسول الله ﷺ تعليم دا دې چه د هغې په باره کښې دې سکوت اختيار کړې شی، نه دې د هغې تصديق اوکړې شی او نه تکذيب، خو په دې مسئله کښې د علماء کرامو اختلاف دې چه آيا د داسې رواياتو نقل کول هم جائز دی يا نه؟ حافظ ابن کثير رحمه الله قول فيصل دا بيان فرمائيلې دې چه د هغې نقل کول جائز خو دی خو د هغې نه هيڅ فائده نشته ځکه چه شرعی اعتبار سره هغه حجت نه دې. (مقدمه تفسير ابن کثير)

دويم حديث په دې باب کښې چه کوم مصنف رحمه الله ذکر کړې دې هغه دا دې، ﴿ كان رسول الله ﷺ يحدثنا عن بنی اسرائيل حتى يصبح ﴾ يعنی ډير کرته به رسول الله ﷺ مونږ ته د شپې د بنی اسرائيلو حالات د ناوخته پورې بيانول تر دې چه صبا به شو، د رومبی باب نه غرض د مصنف رحمه الله اخذ الرواية عن اهل الكتاب نه منع کول يعنی د هغوی نه دې روايت وانخستلې شی لکه چه د دې باب د حديث نه معلوميږی، او د دويم باب غرض حديث د بنی اسرائيلو نه يعنی د هغوی نه روايت کول او د هغوی قصص او واقعات نقل کول چه دا جائز او ثابت دی لکه چه د دې باب په دويم حديث کښې ذکر شوې دی، او د دې باب حديث اول يعنی ﴿حدثوا عن بنی اسرائيل ولا حرج ﴾ دې هم په دې معنی باندې محمول کړې شی يعنی ﴿ ذكر قصصهم واحوالهم ﴾ په دې صورت کښې به په دې دواړو کښې هيڅ اختلاف نه وی چه د هغې دپاره د څه توجيه پيش کولو ضرورت راشی، هذا ما عندی ان كان صوابا فمن الله تعالى وان كان خطاء فمنی.

[٣٦٤٥] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ خَارِجَةَ يَعْنِي ابْنَ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: قَالَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ: "أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَعَلَّمْتُ لَهُ كِتَابَ يَهُودَ، وَقَالَ: "إِنِّي وَاللَّهِ مَا آمَنُ يَهُودَ عَلَى كِتَابِي، فَتَعَلَّمْتُهُ، فَلَمْ يَمُرَّ بِي إِلَّا نِصْفُ شَهْرٍ حَتَّى حَذَقْتُهُ، فَكُنْتُ أَكْتُبُ لَهُ إِذَا كَتَبَ، وَأَقْرَأُ لَهُ إِذَا كُتِبَ إِلَيْهِ".

د زيد بن ثابت نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام راته حکم وکړو چه ديهوديانو تحرير زده کړم چنانچه ما د نبی عليه السلام دپاره ديهوديانو ليکل زده کړل او راته ئې اوفرمائيل په الله مې دې

¹): صحيح البخاري/ الأحكام ٤٠ (٧١٩٥ تعليقًا)، سنن الترمذي/الاستئذان ٢٢ (٢٧١٥)، (تحفة الأشراف: ٣٧٠٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٦٧٥) (حسن صحيح)

قسم وي زما په يهوديانو اعتماد نشته چه هغوی به زما د طرف، به صحيح تحرير وكړي زيد وائی نيمه مياشت نه وه تيره شوي چه ماددي خلقو ليكل په ښې طريقي سره زده كړل بيا چه به كله نبي عليه السلام دغه ليكلو حكم كولو نو هغه ليكل به ماكول او كله چه به نبي عليه السلام ته كوم تحرير راغي نو هغه به ورته مالوستلو.

﴿ قَالَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَتَعَلَّمْتُ لَهُ كِتَابَ يَهُودَ وَقَالَ « إِنِّي وَاللَّهِ مَا آمَنُ يَهُودَ عَلَى كِتَابِي ». فَتَعَلَّمْتُهُ فَلَمْ يَمُرَّ بِي إِلاَّ نِصْفُ شَهْرٍ حَتَّى حَذَقْتُهُ الخ﴾

زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ ماته حكم اوفرمائيلو چه زه د يهودو ژبه ليكل او لوستل زده كړم، او وي فرمائيل چه زما په دې باندې اطمينان نشته چه يو يهودی زما مضمون اوليكی، هغوی فرمائی چه د هغوی د حكم په تعميل كښې ما د يهودو ژبه د نيمي مياشتې نه هم په كمه موده كښې زده كړله، او په دې كښې ماته ښه مهارت حاصل شو، نو د دې نه پس به ما د رسول الله ﷺ د طرف نه يهودو ته ليكل كول او كله چه به د هغوی د طرف نه هغوی ته څۀ خط راتلو نو هغه به ورته ما اورولو.

فائده : مشهوره دا ده چه انجيل په سريانئ ژبه كښې دې لهذا د نصارای ژبه هم هغه شوه او تورات په عبرانئ ژبه كښې دې لهذا په ظاهر د يهودو ژبه هم هغه شوه. د صحيح بخاری په ړومبی باب كښې د ورقه بن نوفل رضي الله عنه په باره كښې ذكر دی.

﴿ وكان يكتب الكتاب العبرانی فيكتب من الانجيل بالعبرانية ﴾ وفی هامش اللامع عن القسطلانی : قيل : ان التوراة عبرانية والانجيل سريانی، وعن سفيان : ما نزل من السمآء وحی الا بالعربية وكانت الانبياء عليهم السلام تترجمه لقومها اهـ وفيه عن الكرمانی : يفهم منه ان الانجيل ليس عبرانيا وهو المشهور اهـ.

د كاتبين وحی صحابه كرامو رضي الله عنهم تعين او نومونه :

د دې حديث نه معلومه شوه چه زيد بن ثابت رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د كاتبينو نه وو، مشهور كاتبين د وحی شپږ حضرات دی: ۱: عثمان بن عفان، علی بن ابی طالب، ابی بن كعب، زيد بن ثابت، معاويه بن ابی سفيان، عبدالله بن سعد بن ابی السرح رضي الله عنهم د ډيرو علماء كرامو د رسول الله ﷺ په كاتبينو باندې مستقل تصانيف دی چه د هغې فهرست ډير اوږد دې [1] چه د هغې دوه قسمونه دی كاتبين وحی يعنی قرآن وغيره، د دې په باره كښې خو هم دا ليكلې دی چه هغوی شپږ كسان دی، او دويم قسم مطلق كاتبين د قرآن كريم د وحی نه علاوه، د هغوی تعداد بعض مصنفينو يو ديرش ليكلې دې (واحد وثلاثون) بعضو د دې نه كم او زيات ليكلې دې. والحديث اخرجه الترمذی وقال حسن صحيح، واخرجه البخاری تعليقا فی كتاب العلم، قاله المنذری.

[1] مخكښې هم ليكلې شوې دی او اوس هم مثلا مخكښې المصباح المضی فی كتاب النبی، او په نوې كتابونو كښې كتاب الوحی د احمد عبدالرحمن عيسی او كتاب النبی ﷺ د محمد مصطفی الاعظمی.

باب في كتابة العلم

دعلم دليکلو بيان

اوپه بعض نسخو کښې ﴿ باب كتابة العلم ﴾ او په بعضو کښې ﴿ باب في كتاب العلم ﴾ په دې مسئله اوددې متعلق أحاديثو باندې کلام د الدر المنضود په مقدمه کښې تېرشوې دې.

[٣٦٤٦](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَخْنَسِ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُغِيثٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: "كُنْتُ أَكْتُبُ كُلَّ شَيْءٍ أَسْمَعُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيدُ حِفْظَهُ، فَنَهَتْنِي قُرَيْشٌ، وَقَالُوا: أَتَكْتُبُ كُلَّ شَيْءٍ تَسْمَعُهُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَشَرٌ يَتَكَلَّمُ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضَا، فَأَمْسَكْتُ عَنِ الْكِتَابِ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَوْمَأَ بِأُصْبُعِهِ إِلَى فِيهِ، فَقَالَ: اكْتُبْ، فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، مَا يَخْرُجُ مِنْهُ إِلَّا حَقٌّ".

دعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي کله چه به ما دنبي عليه السلام نه يو حديث واوريدونو د يادولو دپاره به مې ليکلو بيا زه قريشيانو د ليکلو نه منع کړم او راته ئې اووئيل به چه دنبي عليه السلام نه هره خبره واورې هغه ليکې، حالانکه نبي عليه السلام هم برانسان دې نه خودغمې اود خوشحالي په دواړو حالتونوکښې خبرې کوې ملجه دا واوريدل نوليکل کول مې پرېخول او ددې ذکر مې نبي عليه السلام ته وکړونبي عليه السلام پخپلو ګوتو باندې دخپل مخ طرف ته اشاره وکړه اوحکم ئې وکړو په ليکل کوه په هغه پاک ذات مې دې قسم وي دچاپه قبضه کښې چه زما روح دې ددې خولې نه دحق نه علاوه بله خبره نه وځي.

[٣٦٤٧](٢) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ زَيْدٍ، عَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْطَبٍ، قَالَ: دَخَلَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ عَلَى مُعَاوِيَةَ، فَسَأَلَهُ عَنْ حَدِيثٍ، فَأَمَرَ إِنْسَانًا يَكْتُبُهُ، فَقَالَ لَهُ زَيْدٌ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَمَرَنَا أَنْ لَا نَكْتُبَ شَيْئًا مِنْ حَدِيثِهِ، فَمَحَاهُ".

دعبدالله بن حنطب نه روايت دې فرمائي چه زيد بن ثابت رضي الله عنه معلوه رضي الله عنه ته لاړو اوديوحديث په باره کښې ئې ورنه تپوس وکړو او يو کس ته ئې حکم وکړو چه وي ليکي، زيد ورته اووئيل يقينا مونږ ته نبي عليه السلام حکم کړې دې چه مونږ به دهغه احاديث نه ليکو نوهغه ليکلې شوې حديث وران کړو.

[٣٦٤٨](٣) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ، عَنِ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ النَّاجِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "مَا كُنَّا نَكْتُبُ غَيْرَ التَّشَهُّدِ وَالْقُرْآنِ".

د ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مونږ به (دنبي عليه السلام نه) د تشهد اوقران نه علاوه نور ليکل نه کول.

[٣٦٤٩](٤) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ. ح وحَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ الْوَلِيدِ بْنِ مَزْيَدٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ:

---

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٨٩٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٢/٢، ١٩٢)، سنن الدارمي/المقدمة ٤٣ (٥٠١) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٧٤٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٢/٥) (ضعيف الإسناد)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٢٥٨) (شاذ)

(٤): انظر حديث رقم: (٢٠١٧)، (تحفة الأشراف: ١٥٣٨٣) (صحيح)

"لَمَّا فُتِحَتْ مَكَّةُ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْخُطْبَةَ خُطْبَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهُ: أَبُوشَاهَ، فَقَالَ: يَارَسُولَ اللَّهِ، اكْتُبُوا لِي، فَقَالَ: اكْتُبُوا لِأَبِي شَاهَ".

د ابوهريره ﷛ نه روايت دې فرمائي چه کله مکه فتحه شوه نوښي ﷺ دخطې ورکولو دپاره اودريدو، راوي وائي چه يويمني سړې هم اودريدو کوم چه په ابوشاه باندې مشهور وو، عرض ئې وکړو چه اې دالله رسوله دا خطبه دې زما دپاره وليکلې شي نبي ﷺ اوفرمايل د ابوشاه دپاره ئې وليکئ.

[٣٦٥٠]( ) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَهْلٍ الرَّمْلِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي عَمْرٍو: "مَا يَكْتُبُوهُ؟" قَالَ: "الْخُطْبَةَ الَّتِي سَمِعَهَا يَوْمَئِذٍ مِنْهُ".

د وليد نه روايت دې فرمائي چه ابوعمرونه ئې روئيل دده دپاره ئې څه شي ليکل؟ هغه اووئيل چه دننئ ورځې اورولي شوې خطبه.

بَابٌ فِي التَّشْدِيدِ فِي الْكَذِبِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم

نبی علیه السلام نه د دروغود نسبت کولو د سزا بیان

[٣٦٥١]( ) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْمَعْنَى، عَنْ بَيَانِ بْنِ بِشْرٍ، قَالَ مُسَدَّدٌ أَبُو بِشْرٍ، عَنْ وَبَرَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ لِلزُّبَيْرِ: مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تُحَدِّثَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا يُحَدِّثُ عَنْهُ أَصْحَابُهُ؟ فَقَالَ: "أَمَا وَاللَّهِ لَقَدْ كَانَ لِي مِنْهُ وَجْهٌ وَمَنْزِلَةٌ، وَلَكِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ: مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ".

عامربن عبدالرحمن بن زبيردخپل پلارنه روايت کوی فرمائي چه مازبيرته روئيل ته دنورصحابه کرامو په شان دنبی ﷺ نه (په کثرت سره) حديث روايت ولې نه کوې هغه ووئيل خبردار ماته د نبی ﷺ د يرتقرب حاصل ووليکن ما دهغه نه اوريدلي وو چه فرمائيل ئې: څوک چه په قصد سره کومه دروغ خبره ماته منسوب کړي نوهغه دې دځان دپاره په جهنم کښې کورجوړ کړي.

قوله: ﴿ عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ لِلزُّبَيْرِ مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تُحَدِّثَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم الخ ﴾

شرح الحديث:

عبدالله بن زبير ﷛ د خپل پلار زبير ﷛ نه تپوس اوکړو، چه ستاسو دپاره د احاديثو په بيانولو کښې څنګه چه ستاسو ملګرى بيانوى څه څيز مانع دې؟ نو هغوى اوفرمائيل چه والله زما چه رسول الله ﷺ سره کومه مرتبه او خپلولى ده هغه ښکاره ده[٣] (چه د هغې په

[١]: انظر حديث رقم (٢٠١٧)، (تحفة الأشراف: ١٥٣٨٣) (صحيح)

[٢]: صحيح البخاري/العلم ٣٨ (١٠٧)، سنن ابن ماجه/المقدمة ٤ (٣٦)، (تحفة الأشراف: ٣٦٢٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٥/١، ١٦٦)، سنن الدارمي/المقدمة ٢٥ (٢٣٩) (صحيح)

[٣] حضرت زبيربن العوام (رض) د عشره مبشره اصحابو نه دې اود حضورپاک (ص) د ترور ځوئې (پهوپی زاد) وو. هم ددوی باره کښې وئيلی شوی وو په شراح حره والا حديث کښې چه: ان کان ابن عمتك، کما تقدم.

وجه باندې ما د رسول الله ﷺ نه په کثرت سره احادیث واوریدل، خو د دې باوجود د ترک روایت وجه دا ده چه، ما د رسول الله ﷺ نه دا حدیث اوریدلې دې چه کوم سړې په ما باندې قصدا دروغ اوائی نو هغه دې په جهنم کښې خپلې استوګنې ته لاړ شی.

په یو حدیث کښې دی چه د هغې مضمون داسې دې که هغه مسلمان وی او که کافر دواړو ځایونو کښې ئې استوګنه جوړه ده په جنت کښې هم او په جهنم کښې هم، چه د ایمان راوړلو په صورت کښې جنت والا استوګنې ته او د ایمان نه راوړلو په صورت کښې د جهنم والا استوګنه کښې هغه اوساتلې شی. وفی الفتح : قوله : فلیتبوا ای فلیتخذ لنفسه منزلا، فهو امر بمعنى الخبر وبمعنى التهديد او بمعنى التحكم، او دعاء على فاعل ذلك اى بواه الله ذلك اه امام بخاری رحمه الله دا حدیث او د دې قسم مضمون نور روایات په ﴿باب اثم من كذب على النبى ﷺ﴾ کښې ذکر کړی دی، د بخاری په حدیث کښې د ﴿ متعمدا ﴾ لفظ نشته، او حافظ په هغې باندې کلام هم کړې دې او وئیلې ئې دی چه د زبیر رضی الله عنه د دې حدیث نه په استدلال کولو کښې د دې خبرې دلیل دې چه د کذب اطلاق مطلقا په خلاف واقع خبر ورکولو باندې دې که هغه عمدا وی یا خطاء او هم دا صحیح قول دې، او د خطا په صورت کښې اګر چه ګناه نشته.[1]

خو زبیر رضی الله عنه ته په اکثار فی الحدیث کښې خطره پیدا شوه د دې خبرې چه هسې نه هغه په خطاء کښې واقع شی چه د هغې ورته شعور هم نه وی، او په مختصر د منذری کښې دی: واخرجه البخاری عن الزبير انه قال : والله ما قال متعمدا وانتم تقولون متعمدا اه...... امام ابن ماجه رحمه الله د خپل سنن په شروع کښې داسې مضامین او ابواب قائم کړې دی، باب التوقى فى الحديث عن رسول الله ﷺ او دغه شان باب التغليظ فى تعمد الكذب على رسول الله ﷺ.....

بَابُ الْكَلَامِ فِي كِتَابِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ

بغیر د پوهې نه د قرآن کریم معنی بیا نول

[٣٦٥٢] ([2])حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِسْحَاقَ الْمُقْرِءُ الْحَضْرَمِيُّ، حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ مِهْرَانَ أَخِي حَزْمٍ الْقُطَعِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو عِمْرَانَ، عَنْ جُنْدُبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَالَ فِي كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ بِرَأْيِهِ فَأَصَابَ فَقَدْ أَخْطَأَ".

دجندب رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چاچه په قران کریم کښې دخپل عقل نه څه ووئیل نوکه ده صحیح هم وئیلې وي بیا ئې هم غلطی وکړه.

﴿ عَنْ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ قَالَ فِي كِتَابِ اللَّهِ بِرَأْيِهِ فَأَصَابَ فَقَدْ أَخْطَأَ » ﴾

شرح الحديث :

کوم سړې چه د کتاب الله تفسیر په خپله رائې باندې اوکړی نو که هغه تفسیر صحیح هم وی نو هغه بیا هم خطا اوکړه، د﴿ برايه ﴾ په مطلب کښې دوه احتماله دی اول دا چه په خپله

[1] قلت وفيه انه اذا لا اثم فكيف الوعيد.
[2] سنن الترمذي/تفسير القرآن ١ (٢٩٥٢)، (تحفة الأشراف: ٣٢٦٢) (ضعيف)

رائې باندې ئې اوکړی بغیر د دلیل نه د خپل خواهش د لاندې د خپل غرض د موافقت دپاره، دویم مطلب دا دې چه صرف په ظاهر عربیت باندې نظر ساتلو سره قواعد د صرف او نحو او لغت مخې ته کېخودلو سره بغیر د دې نه چه د قران کریم غرائب او مبهمات وغیره کښې سماع او منقول طرف ته رجوع اوکړی، په مجمع البحار کښې لیکلي دی چه د دې دویمې معنی د اخستلو په صورت کښې د ممانعت هیڅ وجه نشته اهـ لهذا اول معنی مراد شوه. د اکابرینو د کلام نه معلومیږی د کوکب او د فیض الباری وغیره نه چه کوم تفسیر د قواعد عربیه او اصول شرعیه په رڼړا کښې په خپل اجتهاد باندې اوکړې شی هغه صحیح او معتبر دې بلکه کتب تفسیر ددې قسم تفسیر نه ډک دی ځکه چه هغه تفسیر کوم چه براه راست د رسول اللهﷺ نه منقول وی هغه ډیر کم او اقل قلیل دی، لهذا تفسیر بالرائې په دې معنی باندې ممنوع نه دې، او که د هر آیت د تفسیر منصوص من الشارع کیدل ضروری وې نو بیا د رسول اللهﷺ دعاء د ابن عباس رضي الله عنهما په باره کښې ﴿ اللهم فقه فی الدین وعلمه التاویل ﴾ په ظاهر کښې غیر مفید کیږی. د دې حدیث په شرح لیکلو سره غور کولو باندې یو خبره په ذهن کښې راتلله بیا هم دغه شان خبره د معارف القرآن په مقدمه کښې په ښه انداز کښې ملاؤ شوه هغه دلته نقل کولې شی په اختصار سره.

(د تفسیر ماخذ)

د ماخذ تفسیر په باره کښې هغې کښې لیکلې شوې دی چه د علم تفسیر د کتابونو مراجع او سرچینې شپږ دی :

۱ : قرآن کریم، د علم تفسیر رومبې ماخذ خپله قرآن کریم دې پس اکثر داسې کیږی چه یو آیت مجمل وی او وضاحت ته محتاج وی نو خپله د قرآن کریم دویم آیت د هغې مفهوم لره واضح کړی (بیا دې لره په هغه مقدمه کښې په مثال سره واضح کړې شوې دې).

۲ : حدیث: د هغې وضاحت په هغه مقدمه کښې کړې شوې دې، خو د الدر المنضود په مقدمه کښې د علم حدیث چه کوم تعریف او غرض بیان کړې شوې دې هغه د دې د وضاحت دپاره کافی دې.

۳ : دریم او څلورم ماخذ د صحابه کرامو رضي الله عنهم اقوال او د تابعینو اقوال دی. او پنځم ماخذ لغت د عربو هغوی لیکی : د قرآن کریم ډیر آیتونه داسې دی چه د هغې په پس منظر کښې چونکه څه شان نزول یا بل څه فقهی یا کلامی مسئله نه وی په دې وجه د هغې په تفسیر کښې د رسول اللهﷺ یا صحابه او تابعینو اقوال منقول نه وی. پس د هغې د تفسیر ذریعه صرف لغت عرب وی او د لغت په بنیاد باندې د هغې تشریح کولې شی، د دې نه علاوه که د یو آیت په تفسیر کښې څه اختلاف پیدا شی نو په مختلفو آراء کښې د محاکمې دپاره هم د علم لغت نه کار اخستلې شی، شپږم ماخذ تدبر او استنباط.... دا د دې آخری ماخذ دې د قرآن کریم نکات او اسرار یو داسې لوئې سمندر دې چه د هغې هیڅ حد او غایة نشته پس کوم سړی ته چه الله پاک په اسلامی علومو کښې بصیرت ورکړې وی هغه چه څومره څومره په دې کښې غور کوی هم هغه هومره اسرار او نکات ئې مخې ته راځی، پس مفسرین کرام د خپل خپل

تدبر نتائج هم په خپلو تفسيرونو کښې بيان کړې دی، خو دا اسرار او نکات هغه وخت قابل قبول وی چه کله هغه د ذکر کړې شوې پنځو ماخذو سره تصادم نه ساتی..... الی اخره.

﴿مَنْ قَالَ فِي كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ بِرَأْيِهِ فَأَصَابَ فَقَدْ أَخْطَأَ﴾ چا چه د قرآن کريم تفسير په خپله رائې باندې اوکړو پس که هغه صحيح هم وی نو هغه خطاء او غلطې اوکړو هغه لره د خپل طرف نه تفسير نه وو کول پکار، د شارحينو د کلام نه معلوميږی چه دا حديث په خپل عموم او ظاهر باندې نه دې بلکه موؤل دې نچه د هغې وجه هم ښکاره ده ځکه چه خپله قرآن کريم وائی چه کوم خلق د لغت عرب نه خبر دی او د چا ژبه چه عربی ده د هغوی دپاره د قرآن کريم پوهه آسانه ده لکه چه د دې آيت کريمه مقتضی ده ﴿حم - وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ - إِنَّا جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ اهل عربو ته خطاب دې چه مونږ دا کتاب په عربئ ژبه کښې (کومه چه ستاسو مورنئ ژبه ده) په دې وجه نازل کړې دې چه تاسو په دې باندې بغير د واسطې نه پوهه شئ.

قوله: ﴿وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَذَا الْقُرْآنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ - قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ - وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ﴾ لهذا د دې آيتونو په رڼا کښې به د دې حديث مطلب دا اخستلې شی چه د قرآن کريم د کومو آيتونو د مفهوم د فهم دپاره صرف د لغت عرب نه خبريدل او په هغې کښې مهارت کافی نه دې بلکه د هغې د فهم دپاره د نور علم ضرورت دې. اسباب نزول يا نور علوم شرعيه سره مناسبت نو هلته بغير د هغه معلوماتو نه صرف په خپلې رائې او پوهې سره تفسير کول جرأت او غلطی ده اګر چه هغه رائې صحيح ولې نه وی، په حديث کښې د ﴿برايه﴾ لفظ هم دې طرف ته اشاره کوی ځکه چه ښکاره ده چه د رائې د استعمال ضرورت خو هم هلته پيښيږی چرته چه صرف د لغت په پوهه باندې کار نه شی چليدې، هم د داسې موقعو په لحاظ سره په دې حديث کښې فرمائيلې شوې دی چه په خپله رائې دې مطلب نه متعين کوی بلکه د نقل طرف ته دې رجوع اوکړې شی هم دغه شان علماء کرام فرمائی چه په کومو آيتونو کښې د وعظ او نصيحت مضمون دې د هغې پوهه خو هر هغه چا دپاره آسانه ده چه په عربئ باندې پوهيږی. خو د آيتونو نه استنباط د احکام شرعيه ګران کار دې، د هغې دپاره د متعلقه علومو نه واقفيت ضروری دې. والله تعالیٰ اعلم بالصواب. والحديث اخرجه الترمذی والنسائی، وقال الترمذی هذا حديث غريب، وقد تکلم بعض اهل العلم فی سهيل بن ابی حزم قاله المنذری.

بَابُ تَكْرِيرِ الْحَدِيثِ

د يو حديث د بار بار ويلو بيان

[۳۶۵۳] (۱) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَرْزُوقٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي عَقِيلٍ هَاشِمِ بْنِ بِلَالٍ، عَنْ سَابِقِ بْنِ نَاجِيَةَ، عَنْ أَبِي سَلَّامٍ، عَنْ رَجُلٍ خَدَمَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "إِذَا حَدَّثَ حَدِيثًا أَعَادَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ".

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۶۷۶) (ضعيف الإسناد)

ابوسلام د داسې کس نه روایت کوی چاچه دنبی ﷺ خدمت کړی دی فرمائیل ئې چه رسول الله ﷺ به کله څه خبره کوله نو درې ځله به ئې تکراروله (ددې دپاره چه ښه یاد شی).
﴿ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا حَدَّثَ حَدِيثًا أَعَادَهُ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ ﴾

شرح الحدیث :

یعنی چه کله به رسول الله ﷺ څه خبره بیان فرمائیله نو هغه به ئې درې کرته فرمائیله.
د دې نه هر کلام او هره خبره مراد نه ده بلکه بعض هغه خبرې دی کومې چه زیاتې مهتم بالشان وی، چه هغه ښه یادې کړې شی، د تکرار دا وجه چه هغه ښه یادې شی خپله په بعضو روایاتو کښې راغلې ده، پس په بخاری کښې یو روایت دې ﴿ کان اذا تکلم بکلمة اعادها ثلاثا حتی تفهم عنه ﴾ او د ترمذی په یو روایت کښې دی ﴿ حتی تعقل عنه ﴾ او په بذل کښې دی، قلت ﴿ ویحتمل ان یکون التکرار لاجل سهولة الحفظ ﴾ د بخاری شریف په دې روایت کښې د کوم چه پورته حواله ورکړې شوې ده د کوم راوی چه انس رضی الله عنه دې [1] دا زیادت دې ﴿ واذا اتی علی قوم فسلم علیهم سلم علیهم ثلاثا، وفی روایة انه کان اذا سلم سلم ثلاثا ﴾ د رسول الله ﷺ د درې کرته سلام په باره کښې مختلف توجیهات کړې شوې دی، یو داچه ددې نه سلام د استیذان مراد دې چه د هغې حد ثلاثا دې لکه چه د ابوموسی اشعری رضی الله عنه په حدیث کښې ذکر شوې دی، او یو توجیه دا کړې شوې ده چه دا په هغه صورت کښې ده چه کله د هغوی دا خیال وی چه دا سلام ټولو نه دې اوریدلې، کذافی الفتح، او یو توجیه دا هم کړې شوې ده چه د اول سلام نه مراد سلام د استیذان، او د دویم سلام نه مراد سلام تحیه، یعنی مجلس ته د داخلیدو په وخت، او دریم سلام عند الرجوع عن المجلس.

بَابٌ فِي سَرْدِ الْحَدِيثِ

د زر زر خبرو کولو بیان

[۳۶۵۴] ([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَنْصُورٍ الطُّوسِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، قَالَ: جَلَسَ أَبُو هُرَيْرَةَ إِلَى جَنْبِ حُجْرَةِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَهِيَ تُصَلِّي، فَجَعَلَ يَقُولُ: "اسْمَعِي يَا رَبَّةَ الْحُجْرَةِ مَرَّتَيْنِ، فَلَمَّا قَضَتْ صَلَاتَهَا، قَالَتْ: أَلَا تَعْجَبُ إِلَى هَذَا وَحَدِيثِهِ؟ إِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُحَدِّثُ الْحَدِيثَ لَوْ شَاءَ الْعَادُّ أَنْ يُحْصِيَهُ أَحْصَاهُ".

د عروه نه روایت دې فرمائی چه ابوهریره رضی الله عنه دام المومنین عائشې دحجرې په خواکښې ناست وو اوهغه په مونځ کښې مشغوله وه او ابوهریره به همدا خبره کوله چه اې حجرې والا واوره دوه پیرې ام المومنین چه کله دمونځ نه فارغه شوه نو اوئې وئیل اې عروه ایاته ددې کس(ابوهریره) د خبرونه تعجب نه کوې؟ نبی ﷺ چه به کله خبرې کولې نو داسې به وې که چرې شمارونکې شمیرلې نوشمیرلې ئې شوې (یعنی په صافو الفاظو سره به ئې خبرې کولې).
قوله: سرد الحدیث یعنی مسلسل او زر زر خبره کول.

---

[1] په ظاهر دلته کتاب کښې ﴿عن رجل خدم النبي ﷺ﴾ نه مراد هم هغوی دی.
[2] صحيح البخاري/المناقب ٢٣ (٣٥٦٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٤٤٥)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الزهد ٧١ (٢٤٩٣) (صحيح)

قوله: ﴿ عَنْ عُرْوَةَ قَالَ جَلَسَ أَبُو هُرَيْرَةَ إِلَى جَنْبِ حُجْرَةِ عَائِشَةَ - رضی الله عنها - وَهِيَ تُصَلِّي الخ ﴾
عروه رحمه الله فرمائی چه یو کرت ابوهریره رضی الله عنه د عائشې رضی الله عنها حجرې ته نزدې کيناستلو او هغې دننه مونځ کولو، نو ابوهريره رضی الله عنه يو يا دوه کرته چه موږ بی بی لره خبره واورئ لره خبره واورئ! ډير احاديث ئې زر زر واورول او لاړو. غالبا دا احاديث اورول به د استصواب او تصديق دپاره وو. عروه فرمائی چه کله موربيبی رضی الله عنها مونځ پوره کړو نو د ابوهريره رضی الله عنه په دې استعجال باندې ئې د تعجب اظهار او نکير کولو سره اوفرمائيل چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کلام طريقه خو دا وه چه دومره په اطمينان به ئې خبره فرمائيله چه که يو شمير کونکی د هغوی الفاظ شميرکول غوښتل نوشميرلې ئې شو. ددې نه د روستو حديث مضمون هم داسې دې.
والحديث اخرجه البخاري ومسلم بنحوه، قاله المنذري

[۳۶۵۵] (¹) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ، أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "أَلَا يُعْجِبُكَ أَبُو هُرَيْرَةَ؟ جَاءَ فَجَلَسَ إِلَى جَانِبِ حُجْرَتِي يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْمِعُنِي ذَلِكَ، وَكُنْتُ أُسَبِّحُ، فَقَامَ قَبْلَ أَنْ أَقْضِيَ سُبْحَتِي، وَلَوْ أَدْرَكْتُهُ لَرَدَدْتُ عَلَيْهِ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيثَ مِثْلَ سَرْدِكُمْ".

د عروه نه روايت دې فرمائی چه م المومنين عائشې ووئيل ايادابوهريره رضی الله عنه نه تعجب نه کوې چه راغلې دې او زما د حجرې په خواکښې ناست دې؟اودنبی علیه السلام نه حديث بيانوی اوماته ئې اوروې او زه په مونځ کښې مشغوله وم اوزما د فارغيدونه مخکښې پاڅيدو اولاړو، که چرې ماليدلې رې نزما به ورته وئيلې ووچه نبی علیه السلام به ستاپه شان زر زر ګفتګونه کوله.

بَابُ التَّوَقِّي فِي الْفُتْيَا
په فتوی ورکولو کښې د احتياط بيان

[۳۶۵۶] (²) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ الصُّنَابِحِيِّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ الْغَلُوطَاتِ".

دمعاويه بن ابی سفيان رضی الله رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام منع فرمائيلې ده دمغالطې ورکولونه.
﴿ عَنْ مُعَاوِيَةَ رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنِ الْغَلُوطَاتِ ﴾
او په يو روايت کښې دی ﴿ عن الاغلوطات ﴾ چه د هغې واحد اغلوطه دې بروزن افعولة. لکه احموقه د خمق نه. لکه چه د ابن عباس رضی الله عنهما په حديث کښې د تقسيم غنيمت په روايت کښې تير شوې دی چه هغوی د نجده حروی په باره کښې فرمائيلې وو، لولا ان ياتی احموقة لما کتبت اليه.....

¹): صحيح البخاري/المناقب ٢٣ (٣٥٦٨تعليقًا)، م فضائل الصحابة ٣٥ (٢٤٩٣)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٩٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/المناقب ٩ (٣٦٤٣)، مسند احمد (١١٨/٦، ١٥٧) (صحيح)
²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٤٢٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣٥/٥) (ضعيف)

شرح الحديث :

يعني رسول الله ﷺ د نادر او مشكل مسائلو په باره كښې د سوال كولو نه منع فرمائيلې ده كومو ته چه تعنتي سوالونه وئيلې شي او په عربئ كښې ورته احاجي او الغاز، ځكه چه دا قسم سوالاتو سره مقصود مخاطب لاندې ښكاره كول او د هغه شرمنده كول وي، شارحينو ليكلي دي ﴿ وفيه كراهية التعمق والتكلف بما لا حاجة للانسان اليه من المسئلة ﴾ او په بذل كښې د ګنګوهي رحمه الله د تقرير نه نقل دي ﴿ ولا ضير فيه اذا كان لتدريب التلامذة ﴾ يعني استاد كه د شاګردانو نه داسې سوالات اوكړي چه په هغوی كښې بيداري او پوهه پيدا كړي نو په دې كښې هيڅ باک نشته لكه چه امام بخاري رحمه الله دې طرف ته اشاره كړې ده په مستقل ترجمة الباب سره ﴿ باب طرح الامام المسئلة على اصحابه ليختبر ما عندهم من العلم ﴾

او په دې كښې د ابن عمر رضي الله عنهما والا حديث ﴿ ان من الشجر شجرة لا يسقط ورقها انها مثل المسلم حدثونی ما هی ﴾ الحديث ذكر فرمائيلې دې، په دې باندې حافظ رحمه الله ليكي: والنهی الوارد فی ابی داؤد محمول على مالا نفع فيه او خرج على سبيل التعنت.....

(د باب سره مناسبت)

د دې حديث د باب سره مناسبت چه د هغې مضمون احتياط فی الفتوی دې داسې كيدې شی چه په داسې قسم سوالاتو كښې ويره ده د عدم احتياط د مجيب د طرف نه.

[۳۶۵۷](١)حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُقْرِءُ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ يَعْنِي ابْنَ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ يَسَارٍ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أُفْتِيَ.

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرماني چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی څوک چه بغيردعلم نه فتوي وركوي ددې ګناه به په ده باندې وی.

(٢) وحَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي نُعَيْمَةَ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ الطُّنْبُذِيِّ رَضِيعِ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَرْوَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ"، زَادَ سُلَيْمَانُ الْمَهْرِيُّ فِي حَدِيثِهِ: وَمَنْ أَشَارَ عَلَى أَخِيهِ بِأَمْرٍ يَعْلَمُ أَنَّ الرُّشْدَ فِي غَيْرِهِ فَقَدْ خَانَهُ، وَهَذَا لَفْظُ سُلَيْمَانَ.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت ده فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلي دې څوک چه بغيردعلم نه فتوی وركوي ددې ګناه به په ده باندې وي، سليمان نهري په خپل روايت كښې دا اضافه كړې ده چاپه خپل يو مسلمان ورور ته په قصد سره داسې مشوره وركړه چه هغه ته نقصان رسوي نو يقينا ده خيانت اوكړو، دا د سليمان د روايت الفاظ دی.

﴿ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ أُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ » ﴾ يعني كوم سړی ته چه د هغه د استفتاء جواب بغير د تحقيق نه وركړې شرې

(١): سنن ابن ماجه/المقدمة ٨ (٥٣)، (تحفة الأشراف: ١٤٦١١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢١/٢، ٣٦٥)، سنن الدارمي/المقدمة ٢٠ (١٦١) (حسن)

(٢): سنن ابن ماجه/المقدمة ٨ (٥٣)، (تحفة الأشراف: ١٤٦١١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢١/٢، ٣٦٥)، سنن الدارمي/المقدمة ٢٠ (١٦١) (حسن)

وی او بیا دې مستفتی عامی د هغه فتوې مطابق عمل کړې وی نو د هغې گناه به په مستفتی باندې نه وی بلکه په مفتی باندې به وی، خو د دې مفتی نه مراد هغه جاهل مفتی دې کوم چه د علماء په هیئت او صورت کښې وی، او که یو عامی د ځان په شان عامی سړی نه تپوس کولو سره په هغې باندې عمل اوکړی نو په دې صورت کښې به گناه په سائل باندې وی.

د مفتی په غلطه فتوی ورکولو باندې څه حکم دې؟ په دې باندې څه اندازه کلام په ابواب التیمم باب فی المجروح یتیمم کښې تیر شوې دې. هغې ته رجوع اوکړئ. والحدیث اخرجه ابن ماجه مقتصرا علی الفصل الاول بنحوه، قاله المنذری.

بَاب كَرَاهِيَةِ مَنْعِ الْعِلْمِ

د علم پټولو د گناه بیان

[۳۶۵۸] (¹) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَكَمِ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ فَكَتَمَهُ أَلْجَمَهُ اللَّهُ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څوک چه دچانه دعلم دیوې مسئلې تپوس اوکړې اوهغه ورته جواب ورنکړې او مسئله پټه کړې نود قیامت په ورځ باندې به دې کس ته د اور واگې واچولې شي.

قوله: ﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ فَكَتَمَهُ أَلْجَمَهُ اللَّهُ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ »﴾

شرح الحدیث:

یعنی د کوم سړی نه چه څه مسئله اوتپوسلې شي چه هغه ته پرې علم وی او هغه ئې پټه کړی نو د قیامت په ورځ باندې به هغه مفتی ته الله پاک په خوله کښې د اور واړې واچوی. (اعاذنا الله منه)

په خوله کښې د واړو کیدل د کلام کولو نه مانع وی، نو چونکه دا سړې هم د مسئلې د بیانولو نه منع وو او گویا هغه په خپله خوله کښې واړې اچولې وې نو دغه شان به الله پاک هم هغه ته د هغه د گناه مشابه سزا ورکوی. قال الخطابی: وخرج هذا علی معنی مشاکلة العقوبة الذنب کقوله تعالی {الذین یأکلون الربا لا یقومون په دې حدیث کښې چه د کوم علم د کتمان نه منع کړې شوې ده د دې نه مراد هغه علم دی چه د هغې تعلیم لازمی او ضروری دی، لکه چه یو کافر د اسلام د قبلولو اراده اوکړی او د چا نه تپوس اوکړی چه ماته بیان کړئ دین اسلام څه څیز دې، د دې څه حقیقت دې، یا لکه چه څنگه یو جاهل سړې چه هغه له د مانځه طریقه نه ورځی او حال دا چه د مانځه وخت راغلو او هغه د چا نه د مانځه کیفیت او طریقه معلومه کړی، او دغه شان نور مسائل، او کوم علم

¹): سنن الترمذي/العلم ۳ (۲۶۴۹)، سنن ابن ماجه/المقدمة ۲۴ (۲۶۱)، (تحفة الأشراف: ۱۴۱۹۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۶۳، ۳۰۵، ۳۴۴، ۳۵۳، ۴۹۵، ۴۹۶، ۴۹۹، ۵۰۸) (حسن صحیح)

چه د مستحباتو د قبيلې نه وی چه د هغې د پيژندلو خلقو ته څه خاص ضرورت نه وی هغه علم په دې کښې داخل نه دی (بذل عن الخطابی) او په حاشيه د بذل کښې دې ﴿وقيل المراد به علم الشهادة كذا فى المرقاة﴾ يعنې يو سړی ته د مدعی د کلام د صادق کيدلو علم دې او د هغه نه دې باره کښې شهادت طلب کړی نو هغه انکار اوکړی، وفيها ايضا وقيده فى الكوكب بان لا تكون فى الاظهار مقسدة اهـ...

ايا حديث الباب موضوعی دې؟

د دې حديث په باره کښې په حاشيه د بذل کښې ليکلې دی: ﴿تكلم بعضهم على الحديث بانه ضعيف بل موضوع،وفى المقاصد الحسنة: حسنه الترمذى وصححه الحاكم﴾ اهـ د دې کتاب په مقدمه کښې هم د دې حديث په باره کښې او د دې نه علاوه هم چه په کومو احاديثو باندې ابن الجوزیؒ د وضع حکم لګولې دې، ذکر کړې شوې دی او دا چه د دې قسم په ابوداؤد کښې نهه احاديث دی، حافظ منذریؒ د دې حديث په باره کښې ليکی: واخرجه الترمذى وابن ماجه، وقال الترمذى حديث حسن، هذا آخر كلامه، وقد روى عن ابى هريرةؓ من طريق منها فيها مقال، والطريق التى اخرجه بها ابوداؤد طريق حسن، فانه رواه عن التبوذكى وقد احتج به البخارى ومسلم عن حماد بن سلمة وقد احتج به مسلم واستشهد به البخارى عن على بن الحكم وهو ابو الحكم البنانى، قال الامام احمد ليس به باس، وقال ابوحاتم الرازى لا باس به صالح الحديث، عن عطاء بن ابى رباح وقد اتفق الامامان على الاحتجاج به﴾

د دې نه پس هغوی فرمائی چه دا حديث د ډيرو صحابه کرامو نه نقل دې چه د هغوی نومونه ئې ذکر کړی دی، فى كل منها مقال، او حافظ ابن القيم په تهذيب السنن کښې په دې باندې نور هم تفصيلی کلام فرمائيلې دې فارجع اليه لو شئت...

بَابُ فَضْلِ نَشْرِ الْعِلْمِ

د علم نشر كولو او خورولو بيان

[٣٦٥٩](1) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَسْمَعُونَ، وَيُسْمَعُ مِنْكُمْ، وَيُسْمَعُ مِمَّنْ سَمِعَ مِنْكُمْ".

دابن عباس ؓ نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دي تاسو زمانه علم اوریٔ اوخلق به ستاسونه علم آوری اوستاسونه چه اعلم واوريدودهغوی نه به ئې نورخلق واوری.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « تَسْمَعُونَ وَيُسْمَعُ مِنْكُمْ وَيُسْمَعُ مِمَّنْ سَمِعَ مِنْكُمْ » ﴾

رسول اللهﷺ فرمائی صحابه کرامو ته چه تاسو علم زمانه اوریٔ او بيا به روستو ستاسو نه اوريدلې شی او د هغوی نه پس به بيا د هغه چا نه اوريدلې شی چا چه ستاسو نه اوريدلې

(1): تفرد به أبوداود، مسند احمد (٣٢١/١)، (تحفة الأشراف: ٥٥٣٢) (صحيح)

وی، یعنی صحابه کرام رضي الله عنهم به دین اوری د رسول الله ﷺ نه او تابعین به اوری د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه او تبع تابعین به ئې اوری د تابعینو نه، وهلم جرا.... ګویا په د پکښې تحریض دې په نشر د علم باندې چه تاسو دا علم زما نه ښه محفوظ کړئ او دا خپلو روستو خلقو ته اورسوئ او هغوی دې هم روستو خلقو ته اورسوی.

[۳۶۶۰]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ مِنْ وَلَدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا حَدِيثًا فَحَفِظَهُ حَتَّى يُبَلِّغَهُ، فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلَى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ، وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ لَيْسَ بِفَقِيهٍ".

د زید بن ثابت رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام و مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې الله تعالی دې هغه کس تر اوتازه اوساتي چا چه زمونږ نه حدیث واوریدو او یاد ئې کړو تردې چه دایې نورو ته هم ورسوو ځکه چه ډیر خلق داسې دی چه ددین خبره دخپل ځان نه پوهو خلقو ته هم رسوي څوك چه پخپله فقیهان نه دي.

﴿عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا حَدِيثًا فَحَفِظَهُ الحديث ﴾ ددې حدیث شرح وغیره ددې کتاب په مقدمه کښې تیره شوې ده.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی، وقال الترمذی: حديث حسن واخرجه ابن ماجة من حديث عباد والد يحيى عن زيد بن ثابت رضي الله عنه قاله المنذری.

[۳۶۶۱]()حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَهْلٍ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "وَاللَّهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِهُدَاكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ".

سهل بن سعید دنبی کریم ﷺ نه روایت بیانوي فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیي دي په الله ئې دي قسم وي که چرې یوکس ته ستاپه ذریعه هدایت وکړی شي نوداستاد پاره دسرو اوښانونه غوره دي.

﴿عَنْ سَهْلٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « وَاللَّهِ لأَنْ يُهْدَى الله بِهُدَاكَ رَجُلٌ وَاحِدٌ خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ » ﴾

د حدیث مضمون واضح دې چه که د یو سړی په کوشش سره یو سړي هم هدایت بیا مومی نو هغه د هغه دپاره د سرو اوښانو نه افضل دي کوم چه د عربو په نزد محبوب ترین څیز وو، د دې نه هم د نشر علم فضیلت معلومیږی.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی مطولا فی عزوة خيبر، وقوله هذا للعلی رضي الله عنه قاله المنذری.

باب الْحَدِيثِ عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ

د بنی اسرائیلو نه د روایت نقل کولو بیان

په دې باب باندې کلام څو ابواب مخکښې په ﴿باب حديث اهل الكتاب﴾ کښې تیر شو.

[1]: سنن الترمذي/العلم ٧ (٢٦٥٦)، (تحفة الأشراف: ٣٦٩٤)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المقدمة ١٨ (٢٣٠)، مسند احمد (١/٤٣٧، ٥/١٨٣)، سنن الدارمي/المقدمة ٢٤(٢٣٥) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٧٣٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجهاد ١٠٢(٢٩٤٢)، ١٤٣ (٣٠٠٩)، المناقب ١(٣٧٠١)، المغازي ٣٨(٤٢١٠)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٤(٢٤٠٦)، مسند احمد (١/١٨٥) (صحيح)

[۳٦٦٢]()حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "حَدِّثُوا عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا حَرَجَ".

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه، السلام فرمائیلی دی دبني اسرائیلونه حدیث بیانوی او په دې کښې هیڅ حرج نشته.

[۳٦٦۳]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذٌ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي حَسَّانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: "كَانَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُحَدِّثُنَا عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ حَتَّى يُصْبِحَ مَا يَقُومُ إِلَّا إِلَى عُظْمِ صَلَاةٍ".

دعبدالله بن عمرو رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائي چه مونږته به نبی کریم صلی الله علیه وسلم دبني اسرائیلو واقعات بیانول تردې چه سحربه شواونه به پاڅید ومکرمونځ په اراده باندې.

بَابٌ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ لِغَيْرِ اللَّهِ تَعَالَى

باب د غیر الله دپاره د علم حاصلولو دبدئ بیان

[۳٦٦٤]()حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا سُرَيْجُ بْنُ النُّعْمَانِ، حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ، عَنْ أَبِي طُوَالَةَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَعْمَرٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَتَعَلَّمُهُ إِلَّا لِيُصِيبَ بِهِ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" يَعْنِي رِيحَهَا.

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څوک چه دیني علم ددنیا دغرض دپاره حاصل کړي نود قیامت په ورځ به دجنت بوئي قدرې هم محسوس نکړي.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ لاَ يَتَعَلَّمُهُ إِلاَّ لِيُصِيبَ بِهِ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الخ﴾

یعنی کوم سړې چه د داسې علم په ذریعه چه په هغې باندې د الله پاک رضا حاصلولې شی. یعنی علم دین وشریعت، هغه د یو متاع دنیوی د حصول دپاره زده کړی نو د قیامت په ورځ باندې به هغه د جنت خوشبوئی بیانه مومی.

شرح الحدیث :

په دې حدیث کښې د داسې سړی دپاره علی وجه المبالغة د دخول جنت نفی ده چه جنت خو د هغې خوشبوئی به هم لاندې نه کړی. خو د اهل سنت په نزد داسې قسم احادیث موؤل دی، او تاویل دا دې چه د دې نه د دخول اول نفی مراد ده، یعنی بغیر د سزا خوړلو نه جنت ته نه شی داخلیدې، یو تاویل دا هم کړې شوې دې چه اگر چه داسې سړې که جنت ته داخل هم شی د هغه ځائې خوشبوئی به ورته حاصله نه وی، او یو تاویل مسموع د بعض مشائخو نه دا دې چه نیکان خلق کوم چه به د قیامت په ورځ جنتیان وی هغوی ته به په قیامت کښې د جنت ښکلې خوشبوئی محسوسیږی، نو په دې حدیث کښې د دې نفی ده کومه چه د ﴿ مما

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۰۷۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/٤٧٤، ۵۰۲، ٦/٤، ۵٦) (صحیح)
(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۸۹۳۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤۳۷) (صحیح الإسناد)
(۳): سنن ابن ماجه/المقدمة ۲۳ (۲۵۲)، (تحفة الأشراف: ۱۳۳۸٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۳۸) (صحیح)

ينبغي وجه الله ﴾ د قيد نه مستفاد كيږي چه دا وعيد د علم دين په باره كښې دې كه يو سړې دنيوي علومو لره د دنيا د ګټې دپاره حاصل كړي نو په دې كښې هيڅ باك نشته. اصل كښې دا دنيوي علوم كوم چه حقيقة علم هم نه دې بلكه د كار كسب د قبيل نه دې. علم حقيقي هم هغه دې چه په هغې سره د حق معرفت حاصل شي او د الله پاك او د هغه د رسول ﷺ د اطاعت او د رضا كولو طريقه معلومه شي. قال الله تعالى ﴿ انما يخشى الله من عباده العلماء ﴾ والحديث اخرجه ابن ماجه، والترمذي وقال: هذا حديث حسن، قاله المنذري

بَابٌ فِي الْقَصَصِ

دقصو بيانولو بيان

[٣٦٦٥](1) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ، حَدَّثَنِي عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ الْخَوَّاصُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي عَمْرٍو السَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللَّهِ السَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا يَقُصُّ إِلَّا أَمِيرٌ، أَوْ مَأْمُورٌ، أَوْ مُخْتَالٌ".

د عوف بن مالك اشجعي رضى الله تعالى عنه نه روايت دې فرمائي چه (په وعظ او نصيحت كښې). قصې نه بيانوي مګر امير يا مامور او مغرور او متكبره كس.

قوله: ﴿ عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الأَشْجَعِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « لاَ يَقُصُّ إِلاَّ أَمِيرٌ أَوْ مَأْمُورٌ أَوْ مُخْتَالٌ » ﴾

شرح الحديث:

قصص يعنى وعظ او تذكير هم د دې نه دې قاص يعنى واعظ او مبلغ، په دې حديث كښې دا دى چه دا عمل قصص يا خو امير كوي، يا د هغه نه لاندې مامور، او كه د دې دواړو نه علاوه ئې بل څوك كوي نو هغه دريم سړې مختال او متكبر دې.

(اشكال: ايا هر مسلمان وعظ نه شي كولې؟)

دلته سوال دا واردېږي چه وعظ نصيحت خو هر عالم او مومن كولې شي، او د دې حديث نه معلومېږي چه دا كار صرف د امير يا مامور دې، دبل چا دپاره مناسب يا جائز نه دى، په دې وجه بعض شراح د دې دا تاويل كړې دې چه دا په خطبه باندې محمول دې، مطلق وعظ او نصيحت نه دې مراد ځكه چه خطبه وركول هغه د امير يا د مامور منصب دې، يو تاويل دا هم په فهم كښې راځي چه ممكن ده دا مراد وى چه ﴿ فى حضرة الامير اوالمامور ولا يقص الا مختال ﴾ يعنى كوم سړې چه د امير يا د هغه د مامور په موجودګۍ كښې وعظ او نصيحت كوى هغه متكبر دې لهذا امام يا هغه سړې چه د امام د طرف نه وى د هغه په موجودګۍ كښې بل سړى له نه دى پكار كه هغه داسې كوى نو پوهه شه چه هغه متكبر دې، د ټولو نه غوره توجيه هغه ده كوم چه د جناب ګنګوهى په تقرير د ابوداؤد كښې ده: ﴿القاص المخلص مامور من الله تعالى، وذكر فان الذكرى تنفع المومنين ﴾ يعنى په اخلاص سره وعظ او تقرير كونكې هم د الله پاك د طرف نه مامور دې لكه چه په آيت كريمه كښې دى پس د آيت كريمه

---

(1): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٠٩١٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٣/٦، ٢٧، ٢٩) (حسن صحيح)

په عموم کښې به دا ذکر کړې شوې سرې هم داخل شي ﴿فلله در الشيخ رحمه الله﴾

[٣٦٦٦]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنِ الْمُعَلَّى بْنِ زِيَادٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ بَشِيرٍ الْمُزَنِيِّ، عَنْ أَبِي الصِّدِّيقِ النَّاجِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "جَلَسْتُ فِي عِصَابَةٍ مِنْ ضُعَفَاءِ الْمُهَاجِرِينَ، وَإِنَّ بَعْضَهُمْ لَيَسْتَتِرُ بِبَعْضٍ مِنَ الْعُرْيِ، وَقَارِئٌ يَقْرَأُ عَلَيْنَا إِذْ جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَامَ عَلَيْنَا، فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَكَتَ الْقَارِئُ، فَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: مَا كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ؟، قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُ كَانَ قَارِئٌ لَنَا يَقْرَأُ عَلَيْنَا، فَكُنَّا نَسْتَمِعُ إِلَى كِتَابِ اللَّهِ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ مِنْ أُمَّتِي مَنْ أُمِرْتُ أَنْ أَصْبِرَ نَفْسِي مَعَهُمْ، قَالَ: فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسْطَنَا لِيَعْدِلَ بِنَفْسِهِ فِينَا، ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ: هَكَذَا فَتَحَلَّقُوا وَبَرَزَتْ وُجُوهُهُمْ لَهُ، قَالَ: فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَفَ مِنْهُمْ أَحَدًا غَيْرِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَبْشِرُوا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَاءِ النَّاسِ بِنِصْفِ يَوْمٍ وَذَاكَ خَمْسُ مِائَةِ سَنَةٍ".

دابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه دغریبو فقیرانو مهاجرینو په ډله کښې کښیناستم اوپه مونږ کښې دقران یوقاري دقران تلاوت کولو په دې وخت کښې نبی علیه السلام راغې او مونږ ته مخامخ ودریدو نوقاري خاموش شواونبی علیه السلام په مونږ سلام واچولو اوتپوس ئې وکړو تاسو څه کول؟ مونږ عرض وکړو دې قاري د قران کریم تلاوت کولو او مونږ قران کریم ته غوږ ایخودلې ور بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل ټول تعریفونه دهغه الله تعالی دپاره دي چاچه زماپه امت کښې داسې خلق پیداکړل دچاسره چه دکښیناستلوماته حکم شوې دې، راوی وائی بیانبی علیه السلام زمونږ په مینځ کښې کښیناستو ددې دپاره چه مونږ ټولوته یو برابر نزدې وی اوبیا ئې دخپلو مبارکو لاسونونه حلقه جوړه کړه اوکښیناستونه به اشاره وکړه نونول خلق دحلقي په شکل کښې کښیناستل اودتامو کسانو مخونه نبی علیه السلام ته متوجه شول، ابوسعید خدری (رض) فرمائی ماته معلومه شوه چه زمانه کې علاوه په دې کسانوکښې بل کس نه پیژندو نبی علیه السلام اوفرمائیل اې دفقیرانو اود مهاجرینو بلې تاسوته دې دقیامت په ورځ باندې دپوره نور بشارت وي، تاسو خوشحاله شی چه تاسویه دمالداره خلقونه نیمه ورځ مخکښې جنت ته ځې اوهغه نیمه ورځ به دپنځه سوو کالوسره برابروی.

(مضمون الحدیث)

﴿عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَلَسْتُ فِي عِصَابَةٍ مِنْ ضُعَفَاءِ الْمُهَاجِرِينَ وَإِنَّ بَعْضَهُمْ لَيَسْتَتِرُ بِبَعْضٍ مِنَ الْعُرْيِ وَقَارِئٌ يَقْرَأُ عَلَيْنَا﴾

د حدیث مضمون واضح دې ﴿وان بعضهم لیستتر بعض﴾ یعنی دې حضراتو سره د اغوستلو دپاره کپړې هم نه وې چه د هغې په وجه باندې د یو بل نه شاته خپل بدنونه پټول ﴿فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– وَسْطَنَا لِيَعْدِلَ بِنَفْسِهِ فِينَا﴾ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ ترمینځه کیناستلو مونږسره دخپلې برابرئ ښکاره کولودپاره، یعنی د تواضع په طور هغوی داسې اوکړل ﴿ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ هَكَذَا فَتَحَلَّقُوا وَبَرَزَتْ وُجُوهُهُمْ لَهُ﴾ یعنی بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل لاس

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٩٧٨)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/ الزهد ٦ (١٤٢٢)، (قوله : فقراء المهاجرون يدخلون الجنة قبل أغنياء الناس–) مسند احمد (٦٣/٣، ٩٦) (ضعيف)

مبارک سره اشاره کولو سره په دې باندې پوهه کړل چه تاسو ټول حلقه کښې کينئ، پس هغوی ټول د حلقې شکل کښې کيناستل او د ټولو مخونه د رسول اللهﷺ طرف ته شو. ﴿ أَبْشِرُوا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الخ﴾ رسول اللهﷺ اوفرمائيل اې د مهاجرينو د غريبو جماعته! زه تاسو ته د قيامت په ورځ د کامل نور بشارت درکوم او رسول اللهﷺ دا هم اوفرمائيل چه تاسو يعنی فقراء مهاجرين به جنت ته د مالدارو خلقو نه پنځه سوه کاله مخکښې جنت داخليږئ.

داحديث په ترمذی شريف کښې په مختلفو الفاظوسره راغلې دې ﴿ ففی رواية منه يدخل الفقراء الجنة قبل الاغنياء بخمس مائة عام نصف يوم قال الترمذی حسن صحيح، وفی رواية يدخل فقراء المسلمين، وفی رواية ان فقراء المهاجرين يدخلون قبل اغنيائهم بخمس مائة عام، وفی رواية يدخل فقراء المسلمين الجنة قبل اغنيائهم باربعين حريفا ﴾

[٣٦٦٧](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي عَبْدُ السَّلَامِ يَعْنِي ابْنَ مُطَهَّرٍ أَبُو ظَفَرٍ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ خَلَفٍ الْعَمِّيُّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَأَنْ أَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُونَ اللَّهَ تَعَالَى مِنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُعْتِقَ أَرْبَعَةً مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ، وَلَأَنْ أَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُونَ اللَّهَ مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُعْتِقَ أَرْبَعَةً".

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی يقيناکه چرې زه دداسې خلقوسره کښينم څوک چه دسحر دمونځ نه پس دنمر دختر پورې دالله په ذکر کښې مشغول وي نو ماته داعمل داسماعيل په اولاد کښې دڅلورو غلامانو آزادولونه زيات محبوب دې،اويقيناکه چرې زه دداسې خلقوسره کښينم څوک چه دمازيګردمونځ نه پس دنمرپريوتوپورې دالله ذکر کوي نوداماته دڅلورو غوره غلامانو آزادولونه بهتره ده.

قوله: ﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لأَنْ أَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُونَ اللَّهَ تَعَالَى مِنْ صَلاَةِ الْغَدَاةِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُعْتِقَ أَرْبَعَةً مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ الخ ﴾

رسول اللهﷺ فرمائی چه د ذکر کونکو سره د سحر د مانځه نه د نمر ختلو پورې زه کينم نو دا خبره ماته د دې نه ډيره خوښه ده چه څلور غلامان آزاد کړم د اولاد اسماعيل عليه السلام نه، يعنی خالص عرب، او د حديث په دويم جزء کښې بعينه هم دا مضمون د مازيګر د مانځه نه تر د نمر د پريوتلو په باره کښې دې.

د ذکر اجتماعی ثبوت او د هغې فضيلت:

د دې حديث نه اول خو ذکر اجتماعی ثاتبتيږی او بل خاص د دې دوه وختونو فضيلت.

(مسئله استرقاق العرب)

ددې حديث نه د استرقاق العرب جواز هم معلوميږی، مسئله اختلافی ده د احنافو په نزد جائز نه دې، د احنافو د طرف نه بعض حضراتو د دې توجيه داسې کړې ده چه انه محمول علی المبالغة.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٥١) (حسن)

[۳٦٦٨]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبِيدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْرَأْ عَلَيَّ سُورَةَ النِّسَاءِ، قَالَ: قُلْتُ: أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ؟، قَالَ: إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي، قَالَ: فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ حَتَّى إِذَا انْتَهَيْتُ إِلَى قَوْلِهِ: فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ سورة النساء آية ۴۱، فَرَفَعْتُ رَأْسِي، فَإِذَا عَيْنَاهُ تَهْمِلَانِ".

دعبدالله رضی الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام راته وفرمائيل ماته سورة النساء واورو ماعرض اوکړو اياژه تاته أوروم اوحال دادي پنه تا باندي خوتران نازل شوي دي، نبي عليه السلام اوفرمائيل زه داغواړم چه دبل چادري نه ئي واورم بيامادهغه په وړاندي تلاوت شروع کړو کله چه زه دي آيت کريمه : «فكيف إذا جئنا من كل أمة بشهيد» ته ورسيدم نوماخپل سر راپورته کړو اووي کتل چه دنبي عليه السلام دسترګونه اوښکي رواني وي (په دي نکرباندي چه زه به هم پخپل امت بانبي ګواه جوړيږم او معلومه نه ده چه زما امت به دڅه قسم أعمالو ارتکاب کوي.

﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ لِى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « اقْرَأْ عَلَىَّ سُورَةَ النِّسَاءِ ». قَالَ قُلْتُ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ « إِنِّى أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِى » ﴾

دا حديث مصنف رحمه الله په باب القصص کښي ذکر فرمائيلي دي په ترجمة الباب او حديث کښي ظاهرا خو هيڅ مناسبت نه معلوميږي مګر دا که اوئيلي شي چه قرآن کريم خو د وعظ او نصيحت د ټولو نه جامع کتاب دي بيا د هغي تلاوت داسي کول چه يو ئي بل ته اوروی په معاني کښي د غور او فکر سره دا سوا د قصص او تذکير نه هيڅ نه دی.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی قاله المنذری. (آخر کتاب العلم)

كِتَابُ الْأَشْرِبَةِ

د څکلو د څيزونو د احکامو بيان

(ما قبل سره ربط اومناسبت):

مصنف رحمه الله اول بيوع او تجارتونه او اجارې بيان کړې کوم چه د اسباب کسب نه دی فالان يذکر ما لاجله الكسب ای الاكل والشرب... پس د کتاب الاشربة نه پس ئي کتاب الاطعمة راوړلي دي، په اطعمه او اشربه دواړو کښي چه مصنف رحمه الله کوم ترتيب اختيار کړي دي يعني د اشربه تقديم په اطعمه باندي حال دا چه شرب د طعام نه پس وی، پس په صحيح بخاری او سنن ترمذی کښي ابواب الاشربة د ابواب الاطعمه نه پس دی، په دي کښي به دا وئيلي شي چه د پيدائش په شروع کښي يعني د ماشوم د خوراک شروع د مشروب نه کيږی پس مصنف رحمه الله هم په دي کښي د دي لحاظ کولو سره داسي اوکړل.

[1]): صحيح البخاري/تفسير القرآن ۹ (۴۵۸۲)، فضائل القرآن ۳۲ (۵۰۴۹)، ۳۳ (۵۰۵۰)، ۳۵ (۵۰۵۵)، صحيح مسلم/المسافرين ۴۰ (۸۰۰)، سنن الترمذي/تفسير سورة النساء ۵ (۳۰۲۵)، (تحفة الأشراف: ۹۴۰۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۳۸۰، ۴۳۲) (صحيح)

بَابٌ فِي تَحْرِيمِ الْخَمْرِ

د شرابو د حرمت بيان

د شرابو حرمت د موافقات عمری ﷺ نه دې لکه چه په حديث الباب کښې ذکر شوې دی، د شرابو تحريم په قرآنی آيتونو کښې په تدريج سره شوې دې، په دې سلسله کښې اول د بقرې آيتونه ﴿ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ الخ ﴾ نازل شو چه په هغې کښې دا فرمائيلې شوې دی چه خمر د لوئې گناه څيز دې خو په دې کښې منافع هم دی، چه کله دا آيت کريمه نازل شو نو عمر ﷺ دعا اوکړه ﴿ اللّهم بين لنا في الخمر بيانا شفاء ﴾ چه اې الله د شرابو په باره کښې تشفی ورکونکې حکم نازل اوفرمايه، د دې نه روستو د سورة النساء آيت نازل شو. ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى ﴾ چه په هغې کښې صرف د مانځه په وخت کښې د شرابو حرمت بيان کړې شو، پس د رسول الله ﷺ د طرف نه به د مونځونو په وختونو کښې يو منادی آواز کولو ﴿ الا لا يقربن الصلاة سكران ﴾ په دې باندې هم عمر ﷺ هم هغه دعا اوکړه کومه چه ئې مخکښې کړې وه، په دې باندې د سورة المائده آيت نازل شو ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ الخ ﴾ چه ددې په آخر کښې دی ﴿ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ ﴾ په دې آيت کريمه کښې صفا د خمر تحريم بيان کړې شوې دې او اوفرمائيلې شو چه تاسو د دې نه منع کيدونکی يئ او که نه... سيدنا عمر ﷺ چه کله دا آيت کريمه واوريدو نو ډير زيات خوشحاله شو او وې فرمائيل ﴿ انتهينا ﴾ اې الله مونږ به ترې نه ضرور ځان ساتو. دا ټول مضمون د باب په دويم حديث کښې ذکر شوې دې، تحريم خمر په تاريخ د خميس کښې ليکلې دی چه د دې نزول په شپږمه هجرئ کښې اوشو او په تلقيح د ابن الجوزی کښې د دې په ځائې دريمه هجری ليکلې شوې ده بعد احد (كذا في هامش البذل)

[۳۶۶۹] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبُو حَيَّانَ، حَدَّثَنِي الشَّعْبِيُّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ، قَالَ: "نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ يَوْمَ نَزَلَ وَهِيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ: مِنَ الْعِنَبِ، وَالتَّمْرِ، وَالْعَسَلِ، وَالْحِنْطَةِ، وَالشَّعِيرِ، وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ، وَثَلَاثٌ وَدِدْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يُفَارِقْنَا حَتَّى يَعْهَدَ إِلَيْنَا فِيهِنَّ عَهْدًا نَنْتَهِي إِلَيْهِ: الْجَدُّ، وَالْكَلَالَةُ، وَأَبْوَابٌ مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا".

دعمرفاروق ﷺ نه روايت دې فرمائی کله چه دشرابو دحرمت متعلق آيت کريمه نازل شو نو په دغه وخت کښې به شراب دپنځه څيزونونه جوړيدل انګور، کجوري، شهد، وريشې، اوغنم اوهرهغه شې کوم چ عقل ختموې هغه دشرابو په حکم کښې دې ارماداغوښتل چه نبی عليه السلام زمونږ نه دهغه وخته پورې جدانشې ترڅوچه ئې مونږ ته ددې څيزونوپه باره کښې معلومات نه وې راکړې يوخوپه وراثت کښې دنيکه حصه، دويم دکلاله په باره کښې او دريم دسود ديوڅو مقدماتو په باره کښې.

(١): صحيح البخاري/تفسير سورة المائدة ١٠ (٤٦١٩)، الأشربة ٢ (٥٥٨١)، ٥ (٥٥٨٨)، صحيح مسلم/التفسير ٦ (٣٠٣٢)، سنن الترمذي/الأشربة ٨ (١٨٧٤ تعليقًا)، سنن النسائي/الأشربة ٢٠ (٥٥٨١)، (تحفة الأشراف: ١٠٥٣٨) (صحيح)

﴿عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ عُمَرَ قَالَ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ يَوْمَ نَزَلَ وَهِيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ مِنَ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْعَسَلِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ وَثَلَاثٌ وَدِدْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- لَمْ يُفَارِقْنَا حَتَّى يَعْهَدَ إِلَيْنَا فِيهِنَّ عَهْدًا نَنْتَهِي إِلَيْهِ الْجَدُّ وَالْكَلَالَةُ ......الخ﴾

شرح الحديث :

په دې حديث کښې دوه اجزاء دی د يو تعلق د الاشربة سره دې کوم چه به مونږ روستو بيانوو او د دويم جزء تعلق د کتاب الفرائض او ربا سره دې، عمر رضی الله عنه فرمائی چه درې مسئلې داسې داسې دی چه د هغې په باره کښې زما خواهش دا وو چه څومره به ښه وه که رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې وضاحت فرمائيلې وې په خپل ژوند کښې چه مونږ په هغې باندې په ښه طريقې سره عمل کړې وې او بيا ئې د هغه درې مسائلو تعين اوفرمائيلو په هغه دريو کښې ۱: د ميراث مسئله، ۲: د کلاله مسئله، ۳: د رباء مسئله...... حافظ رحمه الله فرمائی چه د جد نه مراد دهغه دميراث مقداردې چه په هغې کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم ډير اختلاف پاتې شوې دې، پس په کتاب الفرائض د بخاری کښې راځی د عمر فاروق رضی الله عنه په باره کښې چه خپله د هغوی نه په دې کښې دوه فيصلې منقول دی، او دويم څيز کلاله يعنی د هغې مصداق چه په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف دې ﴿من لا ولد له ولا والد، او بنو العم الا باعد او غير ذلک کما فی العون﴾ او د ابواب الربا نه مراد په ظاهر کښې رباء الفضل ده ځکه چه د ربا دويم قسم ربا النسيئه د دې حرمت خو د صحابه کرامو رضی الله عنهم ترمينځه متفق عليه دې او په ربا الفضل کښې د ابن عباس او ابن عمر رضی الله عنهما اختلاف په کتاب البيوع کښې تير شوې دې، حافظ فرمائی : د عمر رضی الله عنه د دې کلام نه معلوميږی چه هغوی سره په بعض ابواب الربا کښې نص موجود وو او د بعضو په باره کښې نه وو هم په دې وجه ئې د هغې د معلوماتو خواهش لرلو.

خمر د کومو څيزونو نه جوړولې شو:

او د حديث ړومبې جزء دا دې چه کله د تخريم خمر حکم نازل شو نو هغه وخت خمر عام طور د پنځو څيزونو نه جوړولې شو، عنب، تمر، عسل، حنطه، شعير...... په دې سلسله کښې روايات د حديث مختلف دی، پس په صحيح مسلم کښې د انس رضی الله عنه نه روايت دې ﴿ لَقَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ الآيَةَ الَّتِى حَرَّمَ اللَّهُ فِيهَا الْخَمْرَ وَمَا بِالْمَدِينَةِ شَرَابٌ يُشْرَبُ إِلاَّ مِنْ تَمْرٍ﴾ او هم د انس رضی الله عنه نه په صحيح بخاری کښې دی : ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْنَا الْخَمْرُ حِينَ حُرِّمَتْ وَمَا نَجِدُ، يَعْنِي بِالْمَدِينَةِ - خَمْرَ الأَعْنَابِ إِلاَّ قَلِيلاً وَعَامَّةُ خَمْرِنَا الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ ﴾

او په صحيح بخاری کښې د ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې ﴿ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَإِنَّ فِي الْمَدِينَةِ يَوْمَئِذٍ لَخَمْسَةَ أَشْرِبَةٍ مَا فِيهَا شَرَابُ الْعِنَبِ ﴾ او په صحيحينو کښې د انس رضی الله عنه نه روايت دې : ﴿كُنْتُ أَسْقِي أَبَا عُبَيْدَةَ وَأَبَا طَلْحَةَ وَأُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ مِنْ فَضِيخِ زَهْوٍ وَتَمْرٍ فَجَاءَهُمْ آتٍ فَقَالَ إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ قُمْ يَا أَنَسُ فَأَهْرِقْهَا فَأَهْرَقْتُهَا ﴾ وفی لفظ قال عبدالعزيز بن صهيب قلت لانس ما هو؟ قال بسرو رطب. (کذا فی تهذيب السنن لابن القيم)

د اشربة په باره د احنافو او د جمهور علماء كرامو اختلاف، مدلل او مفصل

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه د اشربه مکروه ډیر قسمونه دی، خمر، سکر، فضیح، نقیع الذبیب، طلاء، باذق، المنصف، المثلث، الخلیطان، مزر وغیره وغیره، شیخین (امام ابوحنیفه او امام ابویوسف) په نزد د دې احکام مختلف دی لکه چه وړاندې په تفصیل سره راځی. او د باقی ائمه ثلاث او د امام محمدرحمه الله په نزد د دې ټولو یو حکم دې. د دې حضراتو په نزد که شراب د انګورو نه جوړ شی که د کجهورې نه که د شهدو نه او که د غلو نه، د مسکر کیدو نه پس په ټولو باندې د خمر اطلاق کیږی. او د ټولو حکم یو شان دې چه په دې قسمونو کښې د هر یو څاڅکې څکل هم جائز نه دی بلکه حرام دی، اګرچه دقلت په وجه باندې مقدار د سکر پیدا نه شی د حدیث ﴿ما اسکر کثیره فقلیله حرام﴾ نه استدلال کوی او د﴿کل مسکر حرام﴾ او د ﴿والخمر ما خامر العقل﴾ وغیره وغیره نه هم.

(اقسام اشربه)

او د شیخینو رحمهما الله په نزد د اشربه محرمه درې قسمونه دی او درې درجات دی.

قسم اول :

خمر دی کوم چه یو د خاص قسم شرابو نوم دې یعنی النیئ من مآء العنب اذا اشتد وغلا وقذف بالزبد، یعنی د انګورو شیره چه پخ کړې شوې نه وی چه هغه په زمانه تیریدو سره ټینګه او غلیظه شی او زګونه پکښې پیدا شی.

قسم ثانی او درجه ثانیه :

د دې مصداق درې قسم شرابونه دی :

۱: عصیر العنب المطبوخ دون المثلث، یعنی د انګور شیره چه هغه دومره پخه کړې شی چه هغه د دوه ثلث نه کم اوسوزی، هغې ته طلاء هم وئیلې شی[۱]

۲: او نقیع التمر او دریم نقیع الذبیب یعنی د تمر او زبیب نبیذ غیر مطبوخ په شرط د اشتداد اوقذف الزبد سره، یعنی کله چه دا زړیدو سره خراب شی اونشه پکښې پیدا شی.

قسم ثالث :

د دې نه مراد هغه باقی اشربه او انبذه ددی کوم چه د مختلفو غلو وغیره نه جوړولې شی

---

[۱] پس که د ادنی درجې طبخ ده نو هغې ته باذق وائی، او که طبخ نه نیم اوسوزی نو هې ته منصف وائی او که د نیم نه زیات اوسوزی او د دوه ثلث نه کم سوزیدلې وی نو دې ته طلاء وائی لکه چه په هدایه کښې دی د جامع الصغیر نه، دا درې واړه قسمونه عصیر مطبوخ باذق منصف او طلاء په حکم د حرمت کښې برابر دی، خو د طلاء اطلاق په مثلث باندې هم کیږی یعنی هغه عصیر العنب چه دومره پوخ کړې شي چه دوه ثلث اوسوزی دا طلاء حلال ده کوم ته چه مثلث عنبی هم وائی : ففي موطاء الامام محمد رحمه الله لا باس بشرب الطلاء الذي قد ذهب ثلثاه وبقي ثلثة وهو لا يسكرا اهـ وفي هامش قوله الذي قد ذهب ثلثاه قيد ب هلان الطلاء الذي ذهب اقل من ثلثيه لا يحل كما قال في الجامع الصغير، محمد عن يعقوب عن ابي حنيفة قال الخمر حرام قليلها وكثيرها والسكر وهو النيئ وبه يظهر ان تدافع بين كلمات الفقهاء حيث حكم بعضهم علي الطلاء بالحرمة وبعضهم بالحلة بان الطلاء يطلق علي امرين احدهما حلال والا حرام كما حققه الفقيه حسن الشرنبلالي في رسالته نزهة ذوي النظر لمحاسن الطلاء والتمر... اهـ د طلاء ذکر په متن کښې په باب الداذی کښې هم راروان دې)

لکه غنم او اوربشې او جوار او شهد که هغه مطبوخ وی او که غیر مطبوخ هم دغه شان مثلث عبنی یعنی د انګورو هغه شیره چه د هغې د طبخ د وجې نه دوه ثلثه حصه اوسوزی او صرف یو ثلث ئې باقی پاتې شی. د دې تفصیل نه معلومه شوه چه د احنافو په نزد په شرابو کښې اصل دوه څیزونه دی اول عنب د دې نه خو خمر حقیقی جوړیږی دویم تمر او زبیب، زبیب اګر چه حقیقة عنب دې خو د دې حکم د عنب نه جدا دې، د حکم په لحاظ سره هغه د تمر برابر دې، د دې نه علاوه چه د نورو غلو نه کوم شراب جوړیږی هغه د دریمې درجې دی د هغې حکم بیل دې، بله دا چه عنب د کوم نه چه خمر اصلی جوړیږی په هغې کښې هم اصل دا ده چه هغه مطبوخ نه وی په اور باندې نه وی رډلې شوې ګینې په طبخ سره هغه خمر د اول درجې نه دویمې درجې ته راځی او د هغې حکم بدلیږی.

(احکام اشرب)

اوس تاسو د دې پورته ذکر کړې شوو اقسام ثلاثه حکم اوپیژنئ. د قسم اول یعنی خمر حکم دا دې چه د دې یو قطره څکل هم حرام دی او که چا اوڅکله نو حد به پرې جاری کیږی اګر چه د قلت په وجه باندې نشه نه پیدا کوی او قسم ثانی یعنی طلاء، نقیع الزبیب د دې حکم دا دې چه د دې څکل مطلقا حرام دی خو حد به هغه وخت جاری کیږی چه کله ئې دومره مقدار څکلې وی چه په هغې سره نشه پیدا شوې وی، او د دریم قسم حکم دا دې چه د هغې دومره مقدار چه مفضی الی السکر نه وی په نیک نیتئ یعنی د تقوی په نیت سره ئې څکل جائز دی، او د تلهی او مستئ په نیت ئې څکل حرام دی خو حد به هم هغه وخت جاری کیږی چه په څکلو والا باندې نشه اوخیژی، او د امام محمد او ائمه ثلاثه په نزد د ټولو اشربه او انبذه حکم هم هغه دې کوم چه مونږ سره د قسم اول حکم دې [1]، ددې نه معلومه شوه چه د جمهورو په نزد د اشربه په حکم کښې تشدد دې او د احنافو په نزد د دې په بعض قسمونو کښې ګنجائش دې.

احناف د ټولو شرابو د تحریم ولې قائل نه دی:

اوس که څوک سوال اوکړی چه احنافو په دې کښې د احتیاط اړخ ولې اختیار نه کړو لکه چه د جمهورو مسلک دې؟ د دې جواب دا دې چه د احنافو مسلک په دې سلسله کښې په زور نظر باندې بناء دې، ځکه چه د خمر په باره کښې د اهل لغت دوه اقوال دی یو دا چه هغه د عنب سره خاص دې صرف د انګورو شراب ته خمر وائی([2]) دویم قول دا هم دې چه خمر

---

[1]) وفي هامش البذل: وخلاصة مذهب الحنفية ان الاشربة ثلاثة اقسام، الخمر حرام مطلقا وله عشرة احكام، الثاني الاشربة الثلاثة العصير وهو نوعان الباذق والمنصف، ونقيع التمر وهو السكر، ونقيع الزبيب هذه حرام قليلها وكثيرها لكن حرمتها ظنية والثالث باقي الاشربة والمتخذة من الحبوب وغيرها حلال عند الشخين مالم يسكر، وحرام عند محمد والائمة الثلاث قليلها وكثيرها وبه يفتي، ويحد علي السكر من كلها علي الصحيح بخلاف الخمر فيحد علي قطرة منها وان لم يسكر، هذا خلاصة ما في الكوكب الدري اهـ بتصريف يسير)

[2]) او امام نووی رحمه الله د جمهور قول هم دې ته ونیلې دې پس هغوی فرمائی: اتفق اصحابنا علي تسمية جميع هذه الانبذة خمرا لكن قال اكثرهم هو مجاز وانما حقيقة الخمر عصير العنب وقال جماعة منهم هو حقيقة اهـ من هامش الكوكب ۱۳/۲)

عام دی که انګوری وی او که غیر انګوری اګر چه صاحب هدایه خو تردې پورې فرمائیلي دي چه د خمر د انګورو سره خاص کیدو باندې د اهل علم اتفاق دې هغوی فرمائي : ولنا انه اسم خاص باطباق اهل اللغة فيما ذكرناه، ولهذا اشتهر استعماله فيه، وفي غيره غيره اهـ خو په دې باندې شیخ ابن الهمام رحمه الله نقد کړې دې او د خمر په باره کښې ئې د اهل لغت دواړه اقوال لیکلي دی، بلکه دا چه وړاندې په کتاب کښې راځي (باب الخمر مما هي) چه په هغې کښې مصنف رحمه الله مختلف روایتونه راوړې دی په یو روایت کښې دی (الخمر من هاتين الشجرتين النخلة والعنبة) په دې روایت سره د خمر د کهجورې او عنب سره خاص کیدل مستفاد کیږی په یو لحاظ سره د دې حدیث نه د شیخینو د مسلک تائید کیږی. په دې وجه د هغوی په نزد د خمر په اقسام ثلاثه کښې قسم ثانی هم دا ې کوم چه د انګور او کهجورو نه جوړ کړې شی کوم چه د احنافو په نزد هم مطلقا حرام دې او عام طور سره په احادیثو کښې چه په مختلفو قسمونو باندې کوم د خمر اطلاق شوې دې د دې نه مقصود بیان د لغت او اطلاق لره بیانول نه دی بلکه مقصود بالذات بیان د حکم دې چه هر څومره شرابونه چه مسکر دی هغه هم د خمر په شان حرام دی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم مقصد بیان حقائق نه دې بلکه بیان شرائع دې، او دویم مقصد د احنافو په دې تفصیل او تجزیه سره دا هم دې چه که د شرابو ټولو قسمونو باندې په هر صورت کښې مطلقا د حرمت فتوی اولګولې شی نو په دې کښې به ډیر اشکال پیدا شی، د کومو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه چه د تحریم خمر نه پس هم شرب نبیذ ثابت دې چه د هغې روایات په "بذل المجهود" کښې ذکر شوې دی پس په هغې کښې دی (قال في البدائع وَأَبُو حَنِيفَةَ وَأَبُو يُوسُفَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا احْتَجَّا بِحَدِيثِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَآثَارِ الصَّحَابَةِ الْكِرَامِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ.(أَمَّا) الْحَدِيثُ فَمَا ذَكَرَهُ الطَّحَاوِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ فِي شَرْحِ الْآثَارِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا { أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أُتِيَ بِنَبِيذٍ فَشَمَّهُ فَقَطَّبَ وَجْهَهُ لِشِدَّتِهِ، ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَصَبَّهُ عَلَيْهِ وَشَرِبَ مِنْهُ } (وَأَمَّا) الْآثَارُ فَمِنْهَا مَا رُوِيَ عَنْ سَيِّدِنَا عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يَشْرَبُ النَّبِيذَ الشَّدِيدَ، ومنها ما روى عند سيدنا على رضی الله عنه انه اضاف قوما فسقاهم فسكر بعضهم فحده، فقال الرجل تسقيني لم تحدني، فقال على انما احدك للسكر وغير ذلك من الروايات المذكورة في البذل وفي آخره : فاذا ثبت الاحلال من هولاء الصحابة الكرام رضی الله عنهم فالقول بالتحريم يرجع الى تفسيقهم، ولهذا عد ابوحنيفة رحمه الله احلال المثلث من شراط مذهب السنة والجماعة، فقال في بينانها : ان يفضل الشخين ويحب الختنين وان يرى المسح على الخفين وان لا يحرم نبيذ التمر، لما ان في القول بتحريمه تفسيق كبار الصحابة رضی الله عنهم، والكف عن تفسيقهم والامساك عن الطعن فيهم من شراط السنة والجماعة، واما ما ورد من الاخبار ففيها طعن ثم بها تاويل ثم قول بموجبها، الى ان قال : اما التاويل فهو انها محمول على الشرب للتلهى توفيقا بين الدلائل صيانة لها عن التعارض، واما القول بالموجب فهو ان المسكر عندنا حرام وهو القدح الاخير لان المسكر ما يحصل به الاسكار وانه يحصل بالقدح الاخير وهو حرام قليله وكثيره، وهذا قول بموجب الاحاديث ان ثبتت بحمد الله تعالى اهـ، وفي هامش البذل : قال ابن عابدين قال الامام ابوحنيفة لا افتى بحرمة

النبيذ ولو اعطيت الدنيا لان فيه تفسيق بعض الصحابة ولا اشربها ولو اعطيت الدنيا لانه لا حاجة اليه، فلله در فتواه وتقواه آهـ.: د صاحب بدائع په شان په بعض رواياتو د اباحت کښې په حاشيه د نصب الرايه کښې هم ذکر شوې دی، په هغې کښې دا هم دی چه روايات د منع لکه ﴿ كل خمر مسكر، وما اسكر الفرق منه فملاء الكف من حرام، هذا كله منسوخ نسخه شربه الصلب([1]) يوم حجة الوداع، قالوا : ومن الدليل على ذلک انه کان ينهى وفد عبدالقيس عن شرب المسكر فوفدوا اليه بعد فراهم مصفرة الوانهم سيئة حالهم فساءلهم عن قصتهم فاعلموه انه كان لهم شراب فيه قوام ابد انهم فمنعهم من ذلک فاذن لهم في شربه، وان ابن مسعود رضی الله عنه قال : شهدنا التحريم وشهدنا التحليل وغبتم، وانه كان يشرب الصلب من نبيذ التمر حتى كثرت الروايات عنه به وشهرت واذيعت، واتبعه عامة التابعين من الكوفيين. الى آخر ما ذكر.

﴿ ما اسكر كثيره فقليله منه حرام ﴾ دې کښې زمونږ علماء کرامو تاويل کړې دې، يا خو دې داسې اوونيلې شی چه د دې نه هغه شرب مراد دې کوم چه لِلتَّلَهِّی وی نه لِلتَّقْوِّی، او يا د دې نه مراد آخری جرعه (ګوټ) مراد دې چه د هغې نه سکر پيدا شوې دی چه د هغې کثير او قليل ټول حرام دی، او يا دې بيا دې لره د شرابو په اقسام ثلاثه کښې په قسم اول يا ثانی باندې محمول کړې شی د دې دواړو قسمونو په باره کښې زمونږ رائې هم دا ده، او يو جواب په دې کښې د نسخ دې کوم چه اوس ذکر شوې دې، او يو جواب دا دې چه د حرمت نه مراد دا دې چه ملاء الكف حرام دې يعنی مفضی الی الحرام دې ځکه چه کوم ځکل بغير د تقوی د نيت نه وی يعنی د تلهی دپاره وی هلته به لږ ځکل باعث وی د پاره د شرب کثير، پس دا شرب قليل به سبب وی د حرام او کوم څيز چه سبب وی د حرامو دپاره هغه خپله هم حرام وی، او که دا ځکل په نيت د تقوی على الطاعة وی نو په دې صورت کښې به منجر الى الكثير نه وی، کذا فی الکوکب وفيه : انما يحتاج الى امثال هذه التاويلات لما ثبت من بعض الصحابة شرب امثالها فعلم بفعله ان المنهى ليس مطلقا عاما اهـ او يو توجيه په پورته عبارت کښې القول بالموجب تيره شوه چه د هغې مطلب دا دې چه فريق ثانی کوم دليل پيش کوی مونږ هغه منو ځکه چه هغه هم زمونږ په حق کښې مفيد دې. پس مونږ وايو چه کوم مقدار د نبيذ د سړی په حق کښې مسکر وی هغه مطلقا حرام دې د هغې قليل هم او کثير هم او کوم مقدار چه مسکر نه دې په هغې باندې به دحرمت حکم هم نه شی لګولې کيدې، والله تعالى اعلم. په دې سلسله کښې امام نسائی رحمه الله هم د احنافو نه خفه دې پس هغوی د حديث ﴿ ابی وقاص ان النبی صلی الله علیه وسلم نهى عن قليل ما اسكر كثيرة ﴾ د لاندې فرمائی ﴿ وهذا الحديث دليل على تحريم المسكر قليله وكثيره، وليس كما يقول المخادعون بتحريمهم آخر الشربة دون ما تقدمها اذ لا خلاف بين اهل العلم ان السكر بكليته لا يحدث عن الشربة الاخيرة فقط دون ما تقدمها اهـ (نصب الرايه ۴/۳۰۳) والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

---

[1]) كذا في الأصل)

[٣٦٧٠](1)حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مُوسَى الْخُتَّلِيُّ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل يَعْنِي ابْنَ جَعْفَرٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: "لَمَّا نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ، قَالَ عُمَرُ: اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانًا شِفَاءً، فَنَزَلَتِ الْآيَةُ الَّتِي فِي الْبَقَرَةِ: يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ سورة البقرة آية ٢١٩، قَالَ: فَدُعِيَ عُمَرُ، فَقُرِئَتْ عَلَيْهِ، قَالَ: اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانًا شِفَاءً، فَنَزَلَتِ الْآيَةُ الَّتِي فِي النِّسَاءِ: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَقْرَبُوا الصَّلاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى سورة النساء آية ٤٣، فَكَانَ مُنَادِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ يُنَادِي: أَلَا لَا يَقْرَبَنَّ الصَّلَاةَ سَكْرَانُ، فَدُعِيَ عُمَرُ فَقُرِئَتْ عَلَيْهِ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانًا شِفَاءً، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ سورة المائدة آية ٩١، قَالَ عُمَرُ: انْتَهَيْنَا".

د عمرفاروق رضی الله عنه نه روايت دي فرمائی کله چه دشرابو دحرمت متعلق ايت نازل شو نو خلقو اووئيل اي الله زمونږ دپاره دشرابو متعلق واضح حکم بيان کړي، کله چه هغه آيت نازل شوکوم چه په سورة بقره کښې دي يعنی : «يسألونك عن الخمر والميسر قل فيهما إثم كبير» الآية،نو عمرفاروق نه راوغوښتلې شو اوداحکم ورته واورولې شو هغه اووئيل اي الله مونږ ته صاف صاف حکم بيان کړي نوپه دې وخت کښې دسورة النساء دا ايت کريمه «يا أيها الذين آمنوا لا تقربوا الصلاة وأنتم سكارى» نازل شو کله چه به دمونځ دپاره تکبير کيدو نودنبی عليه السلام اواز کونکي به وئيل چه نشي په حالت کښې دی څوك مونځ ته نه راځی اوبياعمرفاروق راوغوښتې شواودا آيت کريمه هم ورته واورولې شوه نوهغه بياووئيل اي الله دشرابو په سلسله کښې واضح حکم بيان کړي نو په دې باندې دا ايت کريمه نازل شو«فهل أنتم منتهون»، نوپه دې وخت کښې عمرفاروق اووئيل مونږه دشرابو اودجوارئ نه منع شو.

قوله: ﴿عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ لَمَّا نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ قَالَ عُمَرُ اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانًا شِفَاءً الخ﴾ د دې حديث مضمون په شروع کښې تير شوې دې، والحديث اخرجه الترمذی والنسائی، وذکره الترمذی انه مرسل اصح، قاله المنذری

[٣٦٧١](2)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، "أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ دَعَاهُ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ، فَسَقَاهُمَا قَبْلَ أَنْ تُحَرَّمَ الْخَمْرُ، فَأَمَّهُمْ عَلِيٌّ فِي الْمَغْرِبِ، فَقَرَأَ: قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ، فَخَلَطَ فِيهَا، فَنَزَلَتْ: لا تَقْرَبُوا الصَّلاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ سورة النساء آية ٤٣".

ابوعبدالرحمن سلمي دعلی نه روايت کوی فرمائی چه يوکس علی نه ته او عبد الرحمن بن عوف ته دعوت ورکړو او په دوی دواړو ئې شراب اوڅکل خو په هغه وخت کښې کله چه دشرابو دحرمت حکم نه وو نازل شوې اوبياعلی نه دماښام په مونځ کښې ددوی امامت وکړو او «قل يا أيها الكافرون» به ولوستلو او په لوستلو کښې ئې ګډ وډې وکړه نوپه دې وخت کښې دا ايت کريمه نازل شو : «لا تقربوا الصلاة وأنتم سكارى حتى تعلموا ما تقولون».

1): سنن الترمذي/تفسير سورة المائدة ٨ (٣٠٤٩)، سنن النسائي/الأشربة ١ (٥٥٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٠٦١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٣/١) (صحيح)

2): سنن الترمذي/تفسير سورة النساء ١٢ (٣٠٢٦)، (تحفة الأشراف: ١٠١٧٥) (صحيح)

قوله: ﴿عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلاً مِنَ الأَنْصَارِ دَعَاهُ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْف الخ﴾
د علی رضي الله عنه نه روايت دې چه يو انصاري سړي هغوی ته او عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنهما ته دعوت ورکړو او په هغوی باندې ئې شراب هم اوڅکل يعنی د تحريم خمر نه مخکښې، د ماښام د مانځه وخت راغلو نو علی رضي الله عنه امامت اوکړو چه په هغې کښې ئې ﴿ قل يا ايها الكفرون ﴾ تلاوت کړو او په هغې کښې ئې خلط اوکړو، يعنی داسې ئې اولوستلو ﴿قل يا ايها الكفرون لا اعبد ما تعبدون ونحن نعبد ما تعبدون ﴾ لکه چه د ترمذی په روايت کښې دی په دې باندې د سورة النساء آيت نازل شو چه په هغې سره صرف د مونځونو په وختونو کښې تحريم خمر نازل شو. والحديث اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری

[٣٦٧٢]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَقْرَبُوا الصَّلاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى سورة النساء آية ٤٣، وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ سورة البقرة آية ٢١٩، نَسَخَتْهُمَا الَّتِي فِي الْمَائِدَةِ: إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنْصَابُ سورة المائدة آية ٩٠".

دعبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه دا دوه ايتونه: «يا أيها الذين آمنوا لا تقربوا الصلاة وأنتم سكارى» او «يسألونك عن الخمر والميسر قل فيهما إثم كبير ومنافع للناس» دسورة مائده په دې ايت باندې: «إنما الخمر والميسر والأنصاب» الآية، منسوخ شوي دي.

[٣٦٧٣]([2]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "كُنْتُ سَاقِيَ الْقَوْمِ حَيْثُ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ فِي مَنْزِلِ أَبِي طَلْحَةَ، وَمَا شَرَابُنَا يَوْمَئِذٍ إِلَّا الْفَضِيخُ، فَدَخَلَ عَلَيْنَا رَجُلٌ، فَقَالَ: إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ، وَنَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْنَا: هَذَا مُنَادِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی کله چه شراب حراميدل نوپه هغه وخت کښې زه ساقي وم اود ابوطلحه په کورکښې به مې په خلقوشراب څکول، او په هغه وخت کښې به مونږ شراب دکجورې نه جوړول، مونږ ته يوکس راغې او وئې وئيل شراب حرام شوي دي اودنبی عليه السلام دطرفه اعلان کونکي اعلان وکړو چه دې دنبی عليه السلام دطرف نه اعلان کوي.

قوله: ﴿عَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنْتُ سَاقِيَ الْقَوْمِ حَيْثُ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ فِي مَنْزِلِ أَبِي طَلْحَةَ وَمَا شَرَابُنَا يَوْمَئِذٍ إِلاَّ الْفَضِيخُ الخ﴾ دا حديث د باب د ړومبی حديث په شرح کښې سره د حوالې نه تير شوې دې، په دې حديث کښې دا دی چه په کومه زمانه کښې د تحريم خمر حکم نازل شو هغه وخت زمونږ د خلقو عام طور سره چه کوم شراب وو هغه فضيح وو يعنی نبيذ البسر يعنی غير مطبوخ کوم چه په قسم ثانی کښې د نقيع التمر په نوم باندې تير شوي دی کوم چه زمونږ په نزد هم حرام دی مګر دا چه مطبوخ وی په دې صورت کښې به جائز وی لا عند الجمهور.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢٦٥) (حسن الإسناد)

[2]: صحيح البخاري/المظالم ٢١ (٢٤٦٤)، تفسير سورة المائدة ١٠ (٤٦١٧)، ١١ (٤٦٢٠)، الأشربة ٢ (٥٥٨٠)، ٣ (٥٥٨٢)، ١١ (٥٥٨٣)، ١٢ (٥٥٨٤)، أخبار الآحاد ١ (٧٢٥٣)، صحيح مسلم/الأشربة ١ (١٩٨٠)، (تحفة الأشراف: ٢٩٢)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الأشربة ٢ (٥٥٤٣)، موطا امام مالك/الأشربة ٥ (١٢)، مسند احمد (١٨٣/٢، ١٨٩، ٢٢٧) (صحيح)

باب العنب يعصر للخمر

د شرابو جوړولو دپاره دانګورو نچوړول

[۳۶۷۴] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِي عَلْقَمَةَ مَوْلَاهُمْ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْغَافِقِيِّ، أَنَّهُمَا سَمِعَا ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَعَنَ اللَّهُ الْخَمْرَ، وَشَارِبَهَا، وَسَاقِيَهَا، وَبَائِعَهَا، وَمُبْتَاعَهَا، وَعَاصِرَهَا، وَمُعْتَصِرَهَا، وَحَامِلَهَا، وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ".

دعبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ لعنت وئيلې دې په شرابو اوددې په څکونکي اوددې په ساتي باندې اوددې په خرڅونكي اوددې په اخستونكي اوددې په نچوړونكي اوددې په وړونكي اودچادپاره چه شراب وړلې شي په هغه باندې.
يعنى د انګورو شيره ويستل د خمر جوړولو دپاره.

قوله: ﴿ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « لَعَنَ اللَّهُ الْخَمْرَ وَشَارِبَهَا وَسَاقِيَهَا وَبَائِعَهَا وَمُبْتَاعَهَا وَعَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ » ﴾

شرح الحديث:

دا حديث په روايت د انس بن مالك رضي الله عنه په ترمذى شريف كښې هم شته په كتاب البيوع كښې چه په هغې كښې داسې دى ﴿ لعن رسول الله ﷺ فى الخمر عشرة ۱: عاصرها، ۲: معتصرها، ۳: وشاربها، ٤: وحاملها، ٥: والمحمولة اليه، ٦: وساقيها ۷: وبائعها ۸: وآكل ثمنها ۹: والمشترى لها ۱۰: والمشتراة له ﴾ يعنى رسول الله ﷺ د شرابو په باره كښې په لسو كسانو باندې لعنت فرمائيلې دې: يعنى انګور لره د شرابو دپاره نچوړونكې، او معتصر د چا دپاره چه نچوړولې شى، او ښكاره خبره ده چه د عاصر نه مراد هغه سړې دې كوم چه ئې د بل دپاره نچوړوى او د معتصر نه مراد هغه دې كوم چه ئې د ځان دپاره نچوړوى. (من الكوكب) او د شرابو په څكلو والا باندې، او د هغې په اوچتونكى باندې، د چا دپاره چه اوړلې شى په هغه باندې، او په هغه چا چه په بل ئې څكوى، او د هغې په خرڅونكى باندې، او د هغې په ګټه خوړونكى باندې او د شرابو په اخستونكى باندې او د چا دپاره چه اخستلې شى په دې باندې دا ترجمه د ترمذى د روايت د ترتيب په اعتبار سره ده، او د ابوداؤد په روايت كښې صرف نهه ذكر شوې دى چه په هغې كښې يو خپله خمر دې ﴿لعن الله الخمر ﴾ علامه سندى رحمه الله فرمائى په هر يو ځيز باندې لعنت د هغې په اعتبار سره وى لهذا په خمر باندې د لعنت مطلب د هغې د څكلو د حراموليې او په هغې باندې د نجاست حكم لګول دى. اهـ والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذرى

باب ما جاء في الخمر تخلل

د شرابو نه د سركې جوړولو بيان

تخليل خمر (يعنى د شرابو نه سركه جوړولو) والا مسئله مختلف فيه ده د امام احمد رحمه الله په نزد جائز نه ده، د هغوى په نزد په تحليل سره نه حلاليږى او د احنافو په نزد جائز ده، او د

(١): سنن ابن ماجه/الأشربة ٦ (٣٣٨٠)، (تحفة الأشراف: ٧٢٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٥، ٧١) (صحيح)

امام شافعی رحمه الله په نزد که ایخودلې شوې شراب خپله سرکه شوه نو بیا خو حلال دې ګڼې نه دې، او د امام مالک رحمه الله په نزد دا کار خو ناجائز دې خو د تحلیل نه پس د هغې خوراک جائز دې. (عون عن النهل)

[۳۶۷۵]()حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ أَبِي هُبَيْرَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ أَبَا طَلْحَةَ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "عَنْ أَيْتَامٍ وَرِثُوا خَمْرًا؟ قَالَ: أَهْرِقْهَا، قَالَ: أَفَلَا أَجْعَلُهَا خَلًّا؟ قَالَ: لَا".

دانس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ابو طلحه دنبی علیه السلام نه دیتیمانو په باره کښې تپوس اوکړو چاته چه شراب په وراثت کښې پاتې شوې وو، نبی علیه السلام اوفرمائیل دا واړوئ دوئ اووئیل ایا سرکه ورنه جوړه نکړو؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل ددینه سرکه هم مه جوړوئ.

قوله: ﴿عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ أَبَا طَلْحَةَ سَأَلَ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ أَيْتَامٍ وَرِثُوا الخ﴾ یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړې شو چه د بعض یتیم ماشومانو په حصه کښې په میراث کښې شراب راغلې دې نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې د تویولو حکم ورکړو او د سرکې د جوړولو اجازت ئې ورنکړو. دا حدیث د حنابله په نزد خو په خپل ظاهر باندې دې تاویل ته حاجت نشته او د احنافو په نزد په ابتداء زمان باندې محمول دې ځکه چه هغه خلق د دې عادت وو او د کوم څیز چه عادت پیدا شی د هغې نه بچ کیدل د هغوی دپاره ګران وی په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم احتیاطا او تنزیها د تخلیل خمر نه هم منع اوفرمائیله چه د هغې نفرت ئې په زړه کښې کینی او دلیل د اباحت په نورو روایتونو کښې دې لکه ﴿ نعم الادام الخل ﴾ او په یو روایت کښې دی ﴿ خیر خلکم خل خمرکم ﴾ (کما فی حاشیة الترمذی) والحدیث اخرجه مسلم والترمذی، قاله المنذری

باب الْخَمْرِ مِمَّا هُوَ

شراب د څه نه جوړیږی؟

[۳۶۷۶]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُهَاجِرٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنَ الْعِنَبِ خَمْرًا، وَإِنَّ مِنَ التَّمْرِ خَمْرًا، وَإِنَّ مِنَ الْعَسَلِ خَمْرًا، وَإِنَّ مِنَ الْبُرِّ خَمْرًا، وَإِنَّ مِنَ الشَّعِيرِ خَمْرًا".

دنعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلې دې شراب دانګورونه جوړیږي او دکجورو اودشهدو اوغنمو او وربشونه هم جوړیږي.

قوله: ﴿ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ مِنَ الْعِنَبِ خَمْرًا .....الخ ﴾ په دې حدیث کښې د هغه پنځو څیزونو ذکر دې د کومو چه د کتاب الاشربة په اول حدیث کښې ذکر دې چه د دې ټولو نه خمر جوړیږی، او د دې نه په روستو روایت کښې د ذرة یعنی جوارو ذکر هم دې او هم دغه شان د زبیب.

[1]: صحيح مسلم/الأشربة ٢ (١٩٨٣)، سنن الترمذي/البيوع ٥٨ (١٢٩٤)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٩/٣، ١٨٠، ٢٦٠)، سنن الدارمي/الأشربة ١٧ (٢١٦١) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الأشربة ٨ (١٨٧٢، ١٨٧٣)، سنن ابن ماجه/الأشربة ٥ (٣٣٧٩)، (تحفة الأشراف: ١١٦٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٦٧/٤، ٢٧٣) (صحيح)

توجيه الحديث على مسلک الحنفية :

په حاشيه د بذل کښې د الارشادالرضی (۱) نه منقول دی چه دا حديث اګر چه په ظاهر کښې د احنافو خلاف دې خو په حقيقت کښې د دې نه د هغوی تائيد کيږی ځکه چه لفظ خمر که دې ټولو څيزونو ته شامل وي لغة او استعمالا نو رسول الله ﷺ ته به د دې تفسير په دې عنوان سره حاجت نه راتلو ، ځکه چه هر کله په قرآن کريم کښې د تحريم ذکر راغلو نو د هغې عموم هغه څيزونو ته هم شامل شوی وی او اهل لسان هم پرې پوهه شو ، لهذا معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ غرض په دې تفسير سره بيان د حکم دې اه او د باب په دريم حديث کښې کوم چه د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې هغه دا دې ﴿ الخمر من هاتين الشجرتين : النخلة والعنبة ﴾ دې باره کښې په کوکب او بذل دواړو کښې دا ليکلي دی چه په دې سره مقصود حصر نه دې خو صاحب د نتائج الافکار ميلان د حصر طرف ته کړې دې، فقال بعد البحث : والحق ان المراد بالحکم الذی اريد بيانه بالحديث هو حرمة قليله وکثيره، وهذا المعنى لا يتحقق فی المتخذ من غير تينک الشجرتين فصيح الحصر المستفاد من ذلک الحديث بلا غيار اه.....

زه وايم ځکه چه د احنافو په نزد د شرابو اقسام ثلاثه کښې چه کوم قسم ثانی دې د هغې تعلق صرف هم د دې دواړو سره دې زمونږ په نزد د دې حکم هم دا دې چه د دې قليل او کثير په حرمت کښې برابر دی، لهذا وئيلې کيدې شی چه خپله په دې احاديثو کښې تنوع اشربه او دهغې د اختلاف اقسام ته اشاره موجود ده کومه چه احنافو اختيار کړې ده.

[۳۶۷۷](۲) حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ أَبُو غَسَّانَ، حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى الْفُضَيْلِ بْنِ مَيْسَرَةَ، عَنْ أَبِي حَرِيزٍ، أَنَّ عَامِرًا حَدَّثَهُ، أَنَّ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ الْخَمْرَ مِنَ الْعَصِيرِ، وَالزَّبِيبِ، وَالتَّمْرِ، وَالْحِنْطَةِ، وَالشَّعِيرِ، وَالذُّرَةِ، وَإِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ".

دنعمان بن بشير رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی ﷺ نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل ئې شراب دانګورو درس نه تيارېږي، اودوچو انګورونه اودوريشونه اودجوارو نه هم جوړيږي، اوزه تاسولره دهر نشه کونکي څيزنه منع کوم.

[۳۶۷۸](۳) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنِي يَحْيَى، عَنْ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ: النَّخْلَةِ، وَالْعِنَبَةِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: اسْمُ أَبِي كَثِيرٍ الْغُبَرِيِّ يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غُفَيْلَةَ السُّحَيْمِيُّ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: أُذَيْنَةُ، وَالصَّوَابُ: غُفَيْلَةُ.

دابوهريره نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی شراب ددوه ونونه جوړيږي يعنی کجورې او انګور.

(۱) د ا د ،،الکوکب الدري،، په شان د ګنګوهی رحمه الله هغه تقرير ترمذی دې کوم چه زمونږ د شيخ د ترور خاوند مولانا رضی الحسن جمع فرمائيلې وو.

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۲۶) (صحيح)

(۳): صحيح مسلم/الأشربة ٤ (۱۹۸۵)، سنن الترمذي/الأشربة ۸ (۱۸۷۵)، سنن النسائي/الأشربة ۱۹ (۵۵۷۵)، سنن ابن ماجه/الأشربة ۵ (۳۳۷۸)، (تحفة الأشراف: ۱٤۸٤۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۷۹، ٤۰۸، ٤۰۹، ٤۷٤، ٤۹۶، ۵۱۸، ۵۲۶)، سنن الدارمي/الأشربة ۷ (۲۱٤۱) (صحيح)

حديث النعمان بن بشير رضي الله عنه الاول اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجه، وحديث ابي هريرة رضي الله عنه اخرجه مسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْمُسْكِرِ

دهر نشه كونكي څيز د ممانعت بيان

سكر په معنى د مسكر ﴿ وفي بعض النسخ "باب النهي عن المسكر" ﴾

[۳۶۷۹] (¹) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى فِي آخَرِينَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وَمَنْ مَاتَ وَهُوَ يَشْرَبُ الْخَمْرَ يُدْمِنُهَا لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ".

دعبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمايلي دي دهرنشه كونكي څيز حكم دشرابو دې اوهرنشته كونكی څيز حرام دې او څوك چه مړ شي په داسې حال كښې چه شراب به ئې هميشه څكل نودقيامت په ورځ به دې دجنت دشرابونه محروم كړې شي.

﴿ كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ ﴾ يعنى په حكم د خمر كښې، چه د كوم خمر بيان رسول الله صلى الله عليه وسلم په مخكښې جمله كښې بيان فرمائي ﴿ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ وَمَنْ مَاتَ وَهُوَ يَشْرَبُ الْخَمْرَ يُدْمِنُهَا لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الآخِرَةِ ﴾ يدمن د ادمان نه دې يعنى يو كار په دوام سره كول، كوم انسان چه هميشه شراب څكى يعنى د څكلو نه ئې توبه نه كوى نو هغه ته به په جنت كښې شراب طهور كوم چه به ټولو جنتيانو ته ملاويږى نه ملاويږى. والحديث اخرجه مسلم والترمذي والنسائي، وحديث النسائي مختصر، قاله المنذري.

﴿ كُلُّ مُخَمِّرٍ خَمْرٌ ﴾ د تخمير معنى تغطيه ده، نشه چونكه د انسان عقل پټوى په دې وجه خمر ته مخمر وائي.

[۳۶۸۰] (²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عُمَرَ الصَّنْعَانِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ، يَقُولُ: عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كُلُّ مُخَمِّرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وَمَنْ شَرِبَ مُسْكِرًا بُخِسَتْ صَلَاتُهُ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا، فَإِنْ تَابَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ، فَإِنْ عَادَ الرَّابِعَةَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ، قِيلَ: وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟، قَالَ: صَدِيدُ أَهْلِ النَّارِ، وَمَنْ سَقَاهُ صَغِيرًا لَا يَعْرِفُ حَلَالَهُ مِنْ حَرَامِهِ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ".

دعبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی دهر عقل ختمونكي څيز هكم دشرابو دې اوهرنشته كونكي څيز حرام دې څوك چه داسې شي وڅي كوم چه نشه راولي نرده دڅلويښتو ورځو مونځونه به برباد كړې شي بياكچرې دې توبه اوباسي نوالله تعالى به ئې قبوله كړي اوكه چرې دې په څلورم ځل باندې بيا وڅكي نو الله تعالى به خپله ذمه واري واپس واخلي ددې خبرې نه چه په دې شرابي به طينة الخبال وڅكولى شي

¹): صحيح مسلم/الأشربة ۸ (۲۰۰۳) سنن الترمذي/الأشربة ۱ (۱۸۶۱)، سنن النسائي/الأشربة ٤٦ (۵۶۷۶، ۵۶۷۷)، (تحفة الأشراف: ۷۵۱۶)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأشربة ۱ (۵۵۷۵)، سنن ابن ماجه/الأشربة ۱ (۳۳۷۷)، مسند احمد (۱۹/۲، ۲۲، ۲۸، ۳۵، ۱۹۸، ۱۲۳) سنن الدارمي/الأشربة ۳ (۲۱۳۵) (صحيح)

²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۵۷۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۷٤/۱) (صحيح)

صحابه کرامو عرض وکړو دطينة الخبال نه څه مراد دي؟ نبی ﷺ اوفرمائيل طينة الخبال ددوزخيانو نوونه دي اوبيا ئې اوفرمائيل څوك چه په يوداسې ماشوم شراب وڅکوي دکوم چه عمرکم ري اودحلال اوحرام تميز نشي کولی نودابه الله تعالی باندې لازم دي چه په ده باندې به طينة الخبال څکوي.

قوله: ﴿ وَمَنْ شَرِبَ مُسْكِرًا بُخِسَتْ صَلَاتُهُ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا ﴾ او کوم سړي چه يو کرت شراب اوڅکی نو د هغه د څلويښتو ورځو مونځونه ناقص او بې برکتنه کيږي، پس که بنده توبه اوکړی نو الله پاک توبه قبلوی، او کوم سړې چه په څلورم کرت شراب اوڅکی نو الله پاک به په هغه باندې ضرور د طينة الخبال نه اوڅکوی. د طينة الخبال تفسير په حديث کښې په صديد اهل النار سره فرمائيلې شوې دې، د دوزخيانو وينې زوې، وړاندې په حديث کښې دی چه کوم سړې يو نابالغ ماشوم باندې شراب اوڅکوی نو دې څکونکی ته به هم ضرور الله پاک طينة الخبال اوڅکوی.

[٣٦٨١]([1])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ جَعْفَرٍ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ بَكْرِ بْنِ أَبِي الْفُرَاتِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ".

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی هريوشې چه نشه راولې هغه حرام دې لږ وي اوکه ډيروي.

قوله: ﴿ مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ ﴾ دا حديث د امام محمد او ائمه ثلاث په نزد په خپل ظاهر او عموم باندې دې، او د شيخينو په نزد څنګه چه مخکښې په تفصيل سره تير شوې دی موؤل دې.

والحديث اخرجه الترمذي وابن ماجه، قاله المنذري.

[٣٦٨٢]([2])حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِتْعِ؟ فَقَالَ: كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَرَأْتُ عَلَى يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ الْجُرْجُسِيِّ، حَدَّثَكُمْ مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ الزُّبَيْدِيِّ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، بِهَذَا الْحَدِيثِ بِإِسْنَادِهِ، زَادَ: وَالْبِتْعُ: نَبِيذُ الْعَسَلِ، كَانَ أَهْلُ الْيَمَنِ يَشْرَبُونَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، يَقُولُ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مَا كَانَ أَثْبَتَهُ مَا كَانَ فِيهِمْ مِثْلُهُ يَعْنِي فِي أَهْلِ حِمْصَ يَعْنِي الْجُرْجُسِيَّ.

فرمائی چه دنبی ﷺ نه تپوس اوکړې شو دبتع نوې شرابو په باره کښې، نوونې فرمائيل هريوشراب چه نشته پيداکوي هغه حرام دي، امام ابوداؤد فرمائی ماداحديث يزيد بن عبدربه ته واورولو اوهغه داحديث دزبيدي نه اوهغه دزهري نه په دې طريقه نقل کړې دې البته په دې کښې دا اضافه ده چه تبع دشهدو شرابو ته وئيلې شي راوی وائی دين خلقوبه

[1]: سنن الترمذي/الأشربة ٣ (١٨٦٥)، سنن ابن ماجه/الأشربة ١٠ (٣٣٩٣)، (تحفة الأشراف: ٣٠١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٣/٣) (حسن صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الوضوء ٧١ (٢٤٢)، والأشربة ٤ (٥٥٨٥)، صحيح مسلم/الأشربة ٧ (٢٠٠١)، سنن الترمذي/الأشربة ٢ (١٨٦٣)، سنن النسائي/الأشربة ٢٣ (٥٥٩٤)، سنن ابن ماجه/الأشربة ٩ (٣٣٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٦٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الأشربة ٤ (٩)، مسند احمد (٣٨/٦، ٩٧، ١٩٠، ٢٢٦)، سنن الدارمي/ الأشربة ٨ (٢١٤٢) (صحيح)

داشراب څکل، امام ابوداؤد فرمائی مادامام احمد بن حنبل نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئې «لا إله إلا الله» هغه څومره معتبر اوثقه سړې وو په قبیله حمص کښې دسرجسي نظير نشته.

قوله: ﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ قَرَأْتُ عَلَى يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ الْجُرْجُسِيِّ حَدَّثَكُمْ مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ﴾

په پورته حدیث مذکور چه په هغې کښې البتع ذکر دې دا مصنف رحمه الله ته په دوه طریقو سره رارسیدلې دې یو په طریق د تحدیث یعنی سماع من لفظ الشیخ او دویم په طریق د قراءت علی الشیخ، قراءت علی الشیخ بعض وخت په طریقه د استفهام وی څنګه چه دلته دې. حدثکم محمد بن حرب، په اول طریقه کښې د مصنف رحمه الله استاد قعنبی دې، او په دویم طریق کښې علی بن یزید، په دې دویم طریق کښې د بتع د تفسیر زیادت دې، بتع نوم دې د نبیذ العسل، بله دا چه دا اهل یمن څکی.

قوله: ﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ يَقُولُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ مَا كَانَ أَثْبَتَهُ﴾ امام احمد رحمه الله د جرجسی توثیق فرمائی په طریقه د تعجب چه اوګورئ هغه څومره ثقه او ثبت دې. په اهل حمص کښې دهغوی برابر هیڅوک نشته، د تعجب دپاره خلق عام طور لفظ د سبحان الله استعمالوی او کله کلمه توحید هم استعمالوی لکه چه دلته استعمال شوې ده.[1]

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری

[۳۶۸۳] [2] حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْيَزَنِيِّ، عَنْ دَيْلَمٍ الْحِمْيَرِيِّ، قَالَ: "سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا بِأَرْضٍ بَارِدَةٍ نُعَالِجُ فِيهَا عَمَلًا شَدِيدًا، وَإِنَّا نَتَّخِذُ شَرَابًا مِنْ هَذَا الْقَمْحِ نَتَقَوَّى بِهِ عَلَى أَعْمَالِنَا وَعَلَى بَرْدِ بِلَادِنَا، قَالَ: هَلْ يُسْكِرُ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَاجْتَنِبُوهُ، قَالَ: قُلْتُ: فَإِنَّ النَّاسَ غَيْرُ تَارِكِيهِ، قَالَ: فَإِنْ لَمْ يَتْرُكُوهُ فَقَاتِلُوهُمْ".

د دیلم الحمیري رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام نه مې تپوس اوکړو اوکړو عرض مې اوکړواې دالله رسوله مونږ په یخ ملك کښې اوسیږو اوهلته کاروبارکوو او مونږ دځان دپاره دغنمونه شراب جوړوو نبی علیه السلام اوفرمائیل ایا دغه شراب نشه پیداکوي؟ ماعرض اوکړو هو، هغه شراب نشه پیداکوي نبی علیه السلام اوفرمائیل بیاخوددینه ځان وساتئ ماعرض اوکړو خلق ددې پریخودونکي نه دي نبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې خلق شراب نه پریږدی نوتاسو ورسره جنګ وکړئ.

قوله: ﴿عَنْ دَيْلَمٍ الْحِمْيَرِيِّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم الخ﴾

شرح الحدیث:

دیلم حمیری جیشانی رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! مونږ په داسې زمکه باندې اوسیږو چه هلته یخنی ده. په ظاهر کښې د یمن زمکه مراد ده څکه چه جیشان د

[1] زمونږ دلته په سهارنپور کښې په محله شاه ولایت کښې یو پخوانې حکیم صاحب وو (حکیم مختار صاحب مرحوم) چه عالم هم وو د هغوی عادت هم دا وو چه کله به ئې یو خبره د تعجب په طور بیانوله نو هغه به ئې په ﴿لا اله الا الله﴾ سره بیانوله یغفر الله لنا وله)

[2] * تخریج: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۵۴۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۳۱/۴، ۲۳۲) (صحیح)

یمن قبیله ده هلته مونږ په محنت او مشقت سره کار کوو او هلته مونږ د اوربشو نه شراب جوړوو چه څکو ئې د طاقت دپاره او د یخنئ نه د بچ کیدو دپاره، رسول اللهﷺ تپوس اوکړو چه د هغې نه سکر پیدا کیږی؟ هغوی عرض اوکړو او جی. رسول اللهﷺ اوفرمائیل: د هغې نه پرهیز کوه، ما عرض اوکړو چه هغه خلق خو هغې لره پریخودونکی نه دی، رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه که هغوی ئې نه پریږدی نو د هغوی سره قتال اوکړه.

[۳۶۸۴] (¹)حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: "سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَرَابٍ مِنَ الْعَسَلِ؟ فَقَالَ: ذَاكَ الْبِتْعُ، قُلْتُ: وَيُنْتَبَذُ مِنَ الشَّعِيرِ وَالذُّرَةِ، فَقَالَ: ذَلِكَ الْمِزْرُ، ثُمَّ قَالَ: أَخْبِرْ قَوْمَكَ أَنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ".

د ابوموسی نه روایت دې فرمائی چه دنبی ﷺ نه مې دشهدو دشرابو په باره کښې تپوس اوکړو نووئې فرمائیل دشیدو دشرابو نوم بتع دې، ماعرض اوکړو دجوارو او وربشونه هم شراب جوړیږي نبی ﷺ اوفرمائیل هو، هغې ته مزر وئیلې شي اوبیا ئې اوفرمائیل تاسو خپل قوم خبرکړئ چه هرنشته کونکی څیز حرام دې.

﴿عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– عَنْ شَرَابٍ مِنَ الْعَسَلِ الخ﴾

ابو موسی اشعری رضی الله عنه فرمائی چه ما د رسول اللهﷺ نه د شراب عسل په باره کښې سوال اوکړو، رسول اللهﷺ اوفرمائیل هغې ته بتع وائی ما تپوس اوکړو چه خلق د اوربشو او جوارو نبیذ هم جوړوی، رسول اللهﷺ اوفرمائیل د هغې نوم مزر دې او بیا ئې د هغې ټولو په باره کښې اوفرمائیل ﴿کل مسکر حرام﴾

ذرة په ضم د ذال سره او د را مخففه د فتحې سره یعنی جوار(²) کومه چه یوه مشهوره غله ده د باجرې په شکل کښې خو سپینه.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم بنحوه من حديث سعيد بن ابي بردة عن ابيه، قاله المنذري

[۳۶۸۵] (³)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو: أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "نَهَى عَنِ الْخَمْرِ، وَالْمَيْسِرِ، وَالْكُوبَةِ، وَالْغُبَيْرَاءِ، وَقَالَ: كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ ابْنُ سَلَامٍ أَبُو عُبَيْدٍ: الْغُبَيْرَاءُ: السُّكُرْكَةُ تُعْمَلُ مِنَ الذُّرَةِ، شَرَابٌ يَعْمَلُهُ الْحَبَشَةُ.

دعبد الله ابن عمرو رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ منع فرمائیلې ده دشرابو اوجوارئ اودکوبه (ډول غړول) اودغبیراء (دجوارو شراب نه اوفرمائیلي یې دي هرنشه کونکی څیز حرام دې.

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۱۰۶)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المغازي ۶۰ (۴۳۴۳)، الأدب ۸۰ (۶۱۲۴)، الأحكام ۲۲ (۷۱۷۲)، صحيح مسلم/الأشربة ۷ (۱۷۳۳)، سنن النسائي/الأشربة ۲۳ (۵۵۹۸)، سنن ابن ماجه/الأشربة ۹ (۳۳۹۱)، مسند احمد (۴/۴۱۰، ۴۱۶، ۴۱۷) (صحيح)

²) كذا في البذل وهو المشهور وفي هامش البذل عن المحيط الاعظم ۳/۲ ۸بضم المعجمة وتشديد المهملة المفتوحة وسكون المثناة الفوقية وقال اسمه في الهندية جوار اهـ وضبطه في المجمع بضم معجمة وخفة راء وقال هاوه عوض عن واو كذا في الاوجز اهـ

³): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۸۹۴۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۱۵۸، ۱۷۱) (صحيح)

قوله: ﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَالْكُوبَةِ وَالْغُبَيْرَاءِ وَقَالَ « كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ » ﴾

میسر یعنی جواری ا وکوبه یعنی طبل (ډهول) او غبیراء د جوارو شراب چه هغې ته سُکَرکَه هم وائی، د کوبه تفسیر په طبل سره خپله په کتاب کښې د څو روایتونه پس راروان دې او په بذل کښې لیکلي دی: الکوبة بالضم هی النرد او الطبل او البربط اهـ بربط یعنی سارنګی.

[٣٦٨٦](١)حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ عَبْدُ رَبِّهِ بْنُ نَافِعٍ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَمْرٍو الْفُقَيْمِيِّ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفَتِّرٍ".

دام سلمه رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی عليه السلام منع فرمائیلې ده داستعمالولو دهر نشه راوستونکي څیز اودهر سستي پیدا کونکي څیزونه.

قوله: ﴿أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفَتِّرٍ ﴾

مفتر یعنی فتور پیدا کونکې څیز، فتور مقدمه د سکر وی، په بدن کښې سستی، کمزوری او بیهوشی شان) په حاشیه د ابوداؤد کښې دی : حافظ عراقی رحمه الله د دې حدیث نه د حشیشه (بهنګ) په حرمت باندې استدلال کړې دې. اهـ د بهنګو په شان یو بل څیز وی چه هغې ته دهتوره وائی هغه هم بعض خلق څکی دا هم د مفضی الی السکر کیدو د وجې نه ناجائز دې. (٢)

[٣٦٨٧](٣)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَا: حَدَّثَنَا مَهْدِيٌّ يَعْنِي ابْنَ مَيْمُونٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عُثْمَانَ، قَالَ مُوسَى، هُوَ عَمْرُو بْنُ سَلْمٍ الْأَنْصَارِيُّ: عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وَمَا أَسْكَرَ مِنْهُ الْفَرَقُ فَمِلْءُ الْكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ".

دام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې هر نشه کونکو څیز حرام دې اوکوم یوشې چه دفرق (یوه پیمانه) په مقدار نشه پیدا کړې نودهغې یو چونګ هم حرام دې.

قوله: ﴿ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ وَمَا أَسْكَرَ مِنْهُ الْفَرَقُ فَمِلْءُ الْكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ ﴾

د دې حدیث ذکر مونږ سره د فریق ثانی د دلیل په شروع کښې شوې دې. والحدیث اخرجه الترمذی وقال هذاحدیث حسن، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الدَّاذِيِّ

د داذی (شرابو) د حرمت بیان

د داَذِی په باره کښې لیکلي دی چه هغه د یو څیز تخم وی کوم چه په نبیذ کښې اچولې شی چه د هغې په وجه باندې په نبیذ کښې سختی او نشه پیدا کیږی کذا فی المجمع، او په

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨١٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٩٥/٦، ٢٩٤، ٣٠٩) (ضعيف)

(٢) بعض جاهل صوفیاء او مجاور قسم خلق هم دا څکي لکه رسول شاهي وغیره، صاحب د عون المعبود د دې په حرمت باندې تفصیلي کلام کړې دې په څو پانړو کښې بما لامزید علیه.

(٣): سنن الترمذي/الأشربة ٣ (١٨٦٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٥٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧١/٦، ٧٢، ١٣١) (صحيح)

قاموس کښې ئې د داذی په باره کښې ليکلې دی شراب الفساق کيدې شی دا هم هغه وی چه هغې ته تارې وئيلې شی، د تارِ او د کهجورې د اونې نه اوبه راوځی چه هغه څکی، تارې هم که تازه اوڅکلې شی نو په دې کښې څه باک نشته، خو د ايخودلو د وجې نه زيات وخته پورې په دې کښې زګ او سختی پيدا شی بيا دا ناجائز کيږی.

[٣٦٨٨]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ حَاتِمِ بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، قَالَ: دَخَلَ عَلَيْنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ غَنْمٍ، فَتَذَاكَرْنَا الطِّلَاءَ، فَقَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو مَالِكٍ الْأَشْعَرِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا".

د مالك بن ابی مريم نه روايت دې فرمائی چه مونږه عبدالرحمن بن غنم نه راغلو اومونږه دتلاذکروکړو عبدالرحمن اووئيل ماته ابومالك اشعريه حديث بيان کړې دې چه نبی عليه السلام به فرمائيل يقينا زما په امت کښې به څه خلق شراب څي اودې لره به بل نوم ږدي (يعنی نوم به ئې بدلوي).

﴿ دَخَلَ عَلَيْنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ غَنْمٍ فَتَذَاكَرْنَا الطِّلَاءَ فَقَالَ حَدَّثَنِي أَبُو مَالِكٍ الْأَشْعَرِيُّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا » ﴾

مطلب دا دې چه په نوم بدلولو کښې هيڅ فرق نه راځی که حقيقة يو شراب مسکر وی نو هغه به د خمر په حکم کښې داخل وی اګر که د هغې نوم هر څه کيخودلې شی، د حقيقت او د مسمی اعتبار به وی د اسم نه.

د طلاء تفسير :

په دې روايت کښې د طلاء ذکر دې، دلته په شروح کښې په بذل المجهود او عون المعبود وغيره کښې د دې تفسير په ما طبخ من عصير العنب حتی ذهب ثلثاه سره کړې شوې دې خو د کوم عصير دوه ثلثه چه سوزيدلې وی هغه حرام نه دې خو د کوم عصير چه د دوه ثلث نه کم سوزيدلې وی هغه د حرامو شرابو نه دې ﴿ فمقتضی المقام ان يفسر حتی ذهب اقل من ثلثيه ﴾ هسې خو اطلاق د طلاء په دې دوارو قسمونو باندې کيږی لکه چه د کتاب الاشربه په شروع کښې په حاشيه کښې تير شوې دی، فتنبه.

والحديث اخرجه ابن ماجه اتم من هذا، قاله المنذری

[٣٦٨٩]()حَدَّثَنَا شَيْخٌ مِنْ أَهْلِ وَاسِطٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو مَنْصُورٍ الْحَارِثُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَ: سَمِعْتُ وَسُئِلَ سُفْيَانَ الثَّوْرِيّ عَنِ الدَّاذِيِّ؟ فَقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ: الدَّاذِيُّ شَرَابُ الْفَاسِقِينَ.

امام ابوداؤد وائی دحارث بن منصور نه روايت دې دسفيان ثوري نه مې اوريدلې دی کله چه دهغه نه دداني شرابوپه باره کښې تپوس اوشو هغه اووئيل رسول الله فرمائيلي دي خامخا څکي به څه خلق زمادامت نه شرابو لره او په دې باندې به بل نوم ږدی، امام ابوداؤد وائي سفيان ثوری وئيلی دی چه داذی دفاسقانو شراب دي.

[1]: سنن ابن ماجه/الفتن ٢٢ (٤٠٢٠)، (تحفة الأشراف: ١٢١٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٢/٥) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود (صحيح)

بَابٌ فِي الْأَوْعِيَةِ
د شرابو د لوښو بیان

[۳٦۹۰]( )حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا مَنْصُورُ بْنُ حَيَّانَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَا: نَشْهَدُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ، وَالْحَنْتَمِ، وَالْمُزَفَّتِ، وَالنَّقِيرِ".

دعبدالله بن عمر اوعبدالله ابن عباس ﷺ نه روایت دې دوې وئیلي دی مونږ ګواهي ورکوو چه نبی علیه السلام منع فرمالیل وه داستعمالولو دکدوارد چاټئ نه اود حرمني دګودي (غرکئ) اودلرګي نه دجوړشوي لوخي داستعمالولونه.

﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَابْنِ عَبَّاسٍ قَالاَ نَشْهَدُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيرِ ﴾

په شروع کښې د تحریم خمر نه مخکښې چه په کومو لوښو کښې شراب جوړولې شو په دې باب کښې دهغې بیان دې، په دې لوښو کښې به شراب زر تیاریدل.

په مشکیزه کښې د شرابو جوړولو مصلحت :

په شروع کښې رسول الله ﷺ په دې لوښو کښې د نبیذ جوړولو نه هم منع فرمائیلې وه او هدایت کړې شوې وو چه نبیذ دې په اسقیه یعنی مشکیزه کښې جوړ کړې شی مشکیزه هم داسې چه د هغې خوله د بره نه په څه څیز باندې اوتړلې شی. پس په وړاندې روایت کښې راروان دی ﴿ علیکم باسقیة الادم التی یلاث علی افواهها ﴾ ددې مصلحت دا وو چه کوم نبیذ په مشکیزو کښې جوړولې شی خصوصا هغه چه د پورته نه ئې خوله بند کړې شی نو په دې قسم مشکیزه کښې که د اشتداد او سکر آثار پیدا کیدل شروع شی نو د هغې به فورا پته لګی، د ګیس د وجې نه به هغه مشکیزه پړسیدل شروع شی، او په دې صورت کښې به سړې د دهوکې خوړلو او د نشائی شرابو نه بچ شی، په خلاف د هغه لوښو په کوم کښې چه د نبیذ جوړولو نه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده هغوی فرمائی په دې لوښو کښې که نبیذ جوړولې شی نو څه ظاهری نخښه د اشتداد او نشې په هغې کښې ښکاره نه وی نو د هغې د وجې نه خطره وی د دې چه کیدې شی په دې نبیذ کښې نشه پیدا شوې وی چه د هغې احساس به جوړونکی ته نه وی او هغه به دې لره غیر مسکر ګڼړلو سره څکل شروع کړی اصل وجه ددې منع داده چه د هغې حاصل احتیاط او عدم اعترار دې ګینې اصل بنیاد د حرمت په لوښو وغیره باندې نه دې بلکه په سکر باندې دې نبیذ که په لوښی کښې جوړ کړې شی او که په مشکیزه کښې که په هغې کښې سکر پیدا نه شی نو حلال دې او که پیدا شوې وی نو حرام دې لکه چه په بعض روایتونو کښې رسول الله ﷺ د دې تصریح فرمائیلې ده نن غرض دا چه د شرابو د حرمت په ابتدائی زمانه کښې رسول الله ﷺ د دې لوښو د استعمال نه هم منع اوفرمائیله خو بیا چه صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړو چه یا رسول

[1]): صحيح مسلم/الأشربة ٦ (١٩٩٧)، سنن النسائي/الأشربة ٣٦ (٥٦٤٦)، (تحفة الأشراف: ٥٦٢٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٢/١) (صحيح)

الله ﷺ مونږ سره د دې نه علاوه نور لوښی نشته نو په دې باندې رسول الله ﷺ د هغه لوښو د استعمال اجازت اوفرمائیلو. پس د جمهورو په نزد د هغه لوښو په باره کښې چه کوم د منع روایات دی هغه منسوخ دی، بیا هم پکښې څه اندازه اختلاف باقی دې.

د اوعیه اربعه وضاحت:

اوس وړاندې تاسو ددې اوعیه مذکوره فی الحدیث تفسیر واورئ. ﴿الدباء﴾ اوچ کدو چه د هغې نه دننه مغز اوباسی او د پیالې په شکل کښې شی. ﴿الحنتم﴾ الجرة الخضراء د خاورې نه جوړ شته منګه، ﴿المزفت﴾ د خاورې هغه لوښې چه په هغې باندې زفت لګیدلې وی، زفت د تارکولو په شان یو تور څیز وی کوم چه په کشتئ وغیره باندې هم لګوی چه هغې ته اوبه دننه داخل نه شی، په بعضو روایاتو کښې ﴿مقیر﴾ راغلې دې او دا دواړه یو معنی لری، ﴿مقیر﴾ چه په کوم باندې قیر لګیدلې شوې وی قار هم وئیلې شی زفت ته دا دواړه یو څیز دې. ﴿النقیر﴾ د فعیل په وزن په معنی د مفعول یعنی منقور د کهجورې د تنې یوه ټکړه چه د هغې نه مغز ویستلو سره هغه ډډه کړې شی، لکه چه زمونږ په علاقو کښې چه د لرګی چټو وی د چهتنئ (دهنیا) میده کولو دپاره، په بعض روایاتو کښې د مزفت نه پس د نقیر په ځائې مقیر راغلې دې، دا صحیح نه دې، دا به تکرار شی ځکه چه مقیر او مزفت خو یو څیز دې په دې اوعیه کښې د نهی علت څه دې؟ په مزفت کښې د تیلو د لګیدو د وجې نه چونکه په هغې کښې د هوا سورې بند شی چه د هغې د وجې نه په هغې کښې اشتداد زر پیدا کیږی، دویم دا چه د دې لوښو خوله کهلاؤ وی او پلنه وی په خلاف د مشکیزه چه د هغې خوله ډیره تنګه وی چه په هغې کښې د اشتداد په وخت انتفاخ پیدا کیږی چه په هغې سره انسان ته پته لګی په خلاف د دې لوښو کښې، خو دا نهی په شروع کښې روستو د رسول الله ﷺ د طرف نه اجازت ملاؤ شو لکه چه د هم دې باب د څو روایتونو نه پس راځی ﴿کنت نهیتکم عن ثلاث وانا امرکم بهن الحدیث﴾ او د دې نه په روستو روایت کښې دی ﴿لما نهی رسول الله ﷺ عن الاوعیة قالت الانصار انه لا بد لنا قال فلا اذا﴾ یعنی انصارو عرض اوکړو چه زمونږ د دې لوښو نه بغیر ګزاره نه کیږی نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل هیڅ باک نشته، پس په ائمه کښې د احنافو په نزد دا نهی منسوخ ده، او هم دغه شان د حنابله په راجح قول کښې، او د امام شافعی رحمه الله په نزد کراهت باقی دې اګر که تحریم نه دې باقی، او د امام مالک رحمه الله په نزد په دې څلورو کښې په دوو کښې کراهت دې په دباء او مزفت کښې، هسې خو عام طور شراح د جمهورو مسلک نسخ نقل کوی. والحدیث اخرجه مسلم والنسائی، قاله المنذری

[۳۶۹۱](1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ يَعْلَى يَعْنِي ابْنَ حَكِيمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: "حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيذَ

1): صحيح مسلم/الأشربة ٦ (١٩٩٧)، سنن النسائي/الأشربة ٢٨ (٥٦٢٢)، (تحفة الأشراف: ٥٦٤٩)، وقد أخرجه: حم ٣٤٨/١، ٤٨/٢، ١٠٤، ١١٢، ١١٥، ١٥٣) (صحيح)

الْجَرِّ، فَخَرَجْتُ فَزِعًا مِنْ قَوْلِهِ حَرَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيذَ الْجَرِّ، فَدَخَلْتُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، فَقُلْتُ: أَمَا تَسْمَعُ مَا يَقُولُ ابْنُ عُمَرَ؟، قَالَ: وَمَا ذَاكَ؟، قُلْتُ: قَالَ: حَرَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيذَ الْجَرِّ، قَالَ: صَدَقَ، حَرَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيذَ الْجَرِّ، قُلْتُ: وَمَا الْجَرُّ؟، قَالَ: كُلُّ شَيْءٍ يُصْنَعُ مِنْ مَدَرٍ".

دسعيد بن جبير نه روايت دې فرمائى چه دعبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه مې واوريدل چه نبى عليه السلام هغه نبيذ حرام كړې دي كوم چه دخاورو په لوښي كښې جوړيږي ماچه دا واوريدل نوابن عباس ته لاړم او ورته مې ووئيل اياتا آوريدلى دى څه چه ابن عمره وائى هغه تپوس اوكړو ابن عمر څه وائى ما ورته اووئيل هغه وائى چه نبى عليه السلام د منګي نبيذ حرام كړيدي ابن عباس اووئيل هغه رښتياوئيلي دي نبى عليه السلام د منګي نبيذ حرام كړي دي ماعرض اوكړو «جر»، څه شي دې؟ هغه اووئيل جر دخاورو لوښي ته وئيلې شي.

﴿حَرَّمَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– نَبِيذَ الْجَرِّ. قُلْتُ مَا الْجَرُّ قَالَ كُلُّ شَىْءٍ يُصْنَعُ مِنْ مَدَرٍ﴾

يعنى د خاورې متكه، خو په بذل كښې دى اى ما ينبذ فى الجرار[1] (الجرار جمع جرة) ولعل المراد من الجرار المدهونة، يعنى د لرګى لوښي. والحديث اخرجه مسلم والنسائى، قاله المنذرى.

[٣٦٩٢] ([2]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: وَقَالَ مُسَدَّدٌ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا حَدِيثُ سُلَيْمَانَ، قَالَ: "قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا هَذَا الْحَيَّ مِنْ رَبِيعَةَ قَدْ حَالَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ كُفَّارُ مُضَرَ، وَلَسْنَا نَخْلُصُ إِلَيْكَ إِلَّا فِي شَهْرٍ حَرَامٍ، فَمُرْنَا بِشَيْءٍ نَأْخُذُ بِهِ وَنَدْعُو إِلَيْهِ مَنْ وَرَاءَنَا، قَالَ: "آمُرُكُمْ بِأَرْبَعٍ، وَأَنْهَاكُمْ عَنْ أَرْبَعٍ: الْإِيمَانُ بِاللَّهِ، وَشَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَعَقَدَ بِيَدِهِ وَاحِدَةً، وَقَالَ مُسَدَّدٌ: الْإِيمَانُ بِاللَّهِ؟ ثُمَّ فَسَّرَهَا لَهُمْ "شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامُ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ، وَأَنْ تُؤَدُّوا الْخُمُسَ مِمَّا غَنِمْتُمْ، وَأَنْهَاكُمْ عَنْ: الدُّبَّاءِ، وَالْحَنْتَمِ، وَالْمُزَفَّتِ، وَالْمُقَيَّرِ"، وَقَالَ ابْنُ عُبَيْدٍ: النَّقِيرِ: مَكَانَ الْمُقَيَّرِ، وَقَالَ مُسَدَّدٌ: وَالنَّقِيرِ وَالْمُقَيَّرِ وَلَمْ يَذْكُرِ الْمُزَفَّتِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو جَمْرَةَ نَصْرُ بْنُ عِمْرَانَ الضُّبَعِيُّ.

د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام ته دعبدالقيس قبيلې رفد راغې اوهغوى عرض اوكړو اې دالله رسوله مونږيو داسې قبيله يو چه زمونږه اوستاپه مينځ كښې دمظير كافران حائل دي اودعزتمندو مياشتونه علاوه مونږ ستا سره ملاقات نشوكولې مونږ ته داسې څيز وښايه چه مونږ پخپله هم په هغې باندې عمل كوو اودخان نه علاوه نورو خلقونه هم په هغې باندې حكم وكړو نبى عليه السلام اوفرمائيل زه تاسوله په څلود خبرباندې حكم كوم اودڅلورو څيزولونه مومنع كرم (١) حدې خيرې ګواهى وركول چه دالله نه علاو بل

[1]) الجر بفتح الجيم وتشديد الراء جمع جرة كتمر جمع تمرة وهو بمعني الجرار الواحدة جرة، ويدخل فيه جميع انواع الجرار من الحنتم وغيره، وقوله من نذر بفتح الميم والدال الطين المجتمع الصلب، كذا في النهاية وهذا تصريح ان الجر يدخل فيه جميع انواع الجر المتخذة من المدر الذي هو التراب والطين آه، من العون.

[2]): صحيح البخاري/الإيمان ٤٠ (٥٣)، العلم ٢٥ (١٨٧)، المواقيت ٢ (٥٢٣)، الزكاة ١ (١٣٩٨)، المناقب ٥ (٣٥١٠)، المغازي ٦٩ (٤٣٦٩)، الأدب ٩٨ (٦١٧٦)، خبر الواحد ٥ (٧٢٦٦)، التوحيد ٥٦ (٧٥٥٦)، صحيح مسلم/ الإيمان ٦ (١٧)، الأشربة ٦ (١٩٩٥)، سنن الترمذي/السير ٣٩ (١٥٩٩)، الإيمان ٥ (٢٦١١)، سنن النسائي/الإيمان ٢٥ (٥٠٣٤)، الأشربة ٥ (٥٥٥١)، (تحفة الأشراف: ٦٥٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٨/١، ٢٧٤، ٢٩١، ٣٠٤، ٣٣٤، ٣٤٠، ٣٥٢، ٣٦١)، سنن الدارمي/الأشربة ١٤ (٥٦٦٢)، ويأتي بعضه في السنة (٤٦٧٧) (صحيح)

څوك دعبادت لائق نه لو خپل لاس مبارك به اشاره وکړه دمسدد په روايت کښې دی مونبی ﷺ اوفرمائيل په الله تعالی باندې ايمان راوړل اوبيا ئې ددې داسې تفسير وکړو ﷺ نه دی خبرې ګواهی ورکول چه دالله تعالی نه علاوه بل څوك حقدار دبندګی نشته. (۲) مونځ قائمول (۳) زکوة ورکول (۴) دغنيمت دمال نه خمس جدا کول، اوزه تاسو دڅلور تسمه لوښو داستعمالولونه منع کوم :(۱) داستعمالولو دکدونه (۲) اودجاتئ نه (۳) اود څرمنې درودې غړکئ نه (۴) اودلرګې نه دجوړشوې لوخې داستعمالولونه. ابن عبيد دمقير لفظ په ځائې باندې نقير ذکرکړې دې اومسدد په خپل روايت کښې منير اونقير ذکرکړې دې اومزفت ئې نه دی ذکرکړې، امام ابوداؤد وائی دابوجمره نوم نصربن عمران دې.

قوله: ﴿ قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا هَذَا الْحَيَّ مِنْ رَبِيعَةَ ﴾

د وفد عبدالقيس والا حديث شرح :

دې خلقو عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ زمونږ چه کومه قبيله ده قبيله ربيعه د هغې ترمينځه او ستاسو ترمينځه د قبيله مضر کفار حائل دی په دې وجه مونږ تاسو ته صرف په اشهر حرم کښې راتلې شو، ځکه چه په هغه مياشتو کښې د کفارو په نزد هم قتال ممنوع دې. پس تاسو مونږ ته د داسې څيز حکم او هدايت اوفرمايئ چه هغه مونږ په مضبوطيا سره اونيولې شو او د هغې طرف ته خپل قوم له هم دعوت ورکړو کوم چه مونږ د څان نه روستو پريخودلې دی، رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه زه تاسو ته د څلورو څيزونو حکم کوم او د څلورو څيزونو نه مو منع کوم، وړاندې د هغه څلورو څيزونو حکم دې يو ايمان بالله يعنی شهادة ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله، او دويم مامور اقامة الصلوة، او دريم زکوة ورکول او څلورم اداء الخمس، دا څلور پوره شو،

(اشکال)

په دې حديث کښې د حج او صوم ذکر نشته، خو په نورو رواياتونو کښې د صوم ذکر دې، لکه بخاری وغيره کښې، خو د حج ذکر د صحاح په روايت کښې نشته [1] نو يا خو په دې وجه چه هغه دغه وخت کښې يا خو فرض شوې نه وو او يا په دې وجه چه....... د حج فرضيت د يو قول مطابق په ۹ هجری کښې شوې دې او د وفد عبد القيس راتلل په ۸ هجری کښې وو خو مشهوره دا ده چه د حج فرضيت په شپږمه هجرئ کښې شوې دې نو کيدې شی چه د حج د ذکر ترک کولو بل څه وجه وی مثلا د هغه کفارو د وجې نه ئې په هغې باندې قدرت نه وی يا د هغې فرضيت علی التراخی دې، يا دا چه د رسول الله ﷺ مقصد د ټولو احکاماتو نه خبرول نه وو بلکه د بعض احکاماتو نه وغيره وغيره.

(د مامور به اشياؤ سره متعلق بل سوال او دهغې جوابونه)

خو د صوم ذکر د ابوداؤد نه علاوه په نورو کتابونو کښې شته نو بيا دا امور په ځائې د څلورو پينځه شو.

[1] اګرچه په مسند احمد او سنن کبری د بيهقی کښې شته.

(ړومبی جواب): د دې يو جواب کوم چه د بيضاوی نه نقل دې هغه دا دې چه دلته څومره څيزونه نقل دی هغه ټول د ايمان بالله تفسير دی لهذا مذکور امر واحد شو او باقی راوی اختصارا يا نسيانا حذف کړل، خو حافظ رحمه الله په دې توجيه باندې دا اشکال کړې دې چه په بعض روايتونو کښې د ﴿ شهادة ان لا اله الا الله ﴾ نه پس ﴿ وعقد بيده واحدة ﴾ ذکر دې چه د هغې نه معلوميږی چه د دې نه روستو چه کوم امور ذکر شوې دی هغه د شهادت تفسير نه دې بلکه مستقل دې په دې وجه د بيضاوی توجيه صحيح نه ده لهذا د دې نه علاوه بل څه جواب باندې غور کول پکار دی،

(دويم جواب): يو جواب دا ورکړې شوې دې چه دا حضرات چونکه د کفار مضر ګاونډ کښې اوسيدل او د اهل جهاد وغنائم نه وو نو د هغوی د حال مناسبت سره رسول الله صلی الله علیه وسلم د امر خامس زيادت هم اوفرمائيلو. يا دې داسې اوئيلې شی چه ادا خمس د ايتاء زکوة په عموم کښې داخل نه دې د دواړو تعلق د مال معين سره دې او يو جواب دا ورکړې شوې دې چه د ﴿ وان تودوا الخمس ﴾ عطف په ايمان باندې نه دې بلکه د دې عطف په اربع باندې دې ﴿ ای امرهم باربع وباعطاء الخمس ﴾ يعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته د دې څلورو څيزونو حکم اوکړو او د اداء خمس اهـ من القسطلانی ۱/۱۳۶

قوله: ﴿وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالْمُقَيَّرِ ». وَقَالَ ابْنُ عُبَيْدٍ النَّقِيرِ مَكَانَ الْمُقَيَّرِ ﴾

صرف د ابن عبيد روايت صحيح دې ګڼې بيا به تکرار لازم شی څکه چه مزفت او مقير دواړه يو دی لکه چه مخکښې تير شو.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ أَبُو جَمْرَةَ نَصْرُ بْنُ عِمْرَانَ الضُّبَعِيُّ ﴾ دا ابوجمره د ابن عباس رضی الله عنهما په شاګردانو کښې دې او يو بل راوی ابوحمزه دې بالحاء المهمله والزائ المعجمه هغه هم د ابن عباس رضی الله عنهما په شاګردانو کښې دې د هغوی نوم (عمران بن ابی عطاء) دې ﴿ ذکره الامام الترمذی فی عدة مواضع من جامعه﴾

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری

[۳۶۹۳] (1) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ نُوحِ بْنِ قَيْسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَوْنٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لِوَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ: "أَنْهَاكُمْ عَنِ النَّقِيرِ، وَالْمُقَيَّرِ، وَالْحَنْتَمِ، وَالدُّبَّاءِ، وَالْمَزَادَةِ الْمَجْبُوبَةِ، وَلَكِنِ اشْرَبْ فِي سِقَائِكَ وَأَوْكِهْ".

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام دعبدالقيس وفد ته وئيلې وو چه زه تاسو له د لرګی دلوښود استعمال لونه منع کوم اودهغه لوښی نه کوم چه دونې دبيخ نه جوړشي اوهمدارنګې دغوړ کړې شوي دلوښي داستعمال نه اودچاتئ اوديدونه دجوړ کړې شوي لوښي داستعمال نه اودهغه مشک داستعمال نه دکوم چه لاندينئ حصه بنده کړې شوي نه وي ليکن تاسو دمشک نه اوبه څکي اوددې خوله به بنده ساتئ.

1): صحيح مسلم/الأشربة ٦ (١٩٩٢)، سنن النسائي/الأشربة ٣٨ (٥٦٤٩)، (تحفة الأشراف: ١٥٠٩٣، ١٤٤٧٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٩١، ٤١٤) (صحيح)

﴿والمزادة المجبوبة﴾ هغه لويه مشكيزه چه د هغې خوله د پورته نه پرې كولو سره پلنه كړې شوې وى چه د پورته نه ئې اوبه راويستلې شى او د هغې دپاره عزلاء نه وى يعنى د مشكيزې لاندې طرف ته خوله، په داسې مشكيزه كښې رسول الله ﷺ د نبيذ جوړولو نه منع اوفرمائيله ځكه چه د هغې د خولې بنديدلو د وجې نه كه په هغې كښې اشتداد پيدا شى نو د هغې انتفاخ به نه كيږى چه په هغې سره د سكر پته لګيږى. اوس دا چه په څنګه مشكيزه كښې نبيذ جوړ كړې شى؟ دې باره كښې په روستو روايت كښې راروان دى ﴿عليكم بالاسقية الادم التى يلاث على افواهها﴾ يعنى داسې دځرمنې مشكونه چه د هغې خولې د بره نه اوتړلې شى او د دې هم معنى دې هغه لفظ كوم چه د دې نه روستو روايت كښې دې ﴿واشربوا فى الجلد الموكى عليه﴾ يعنى د كومې مشكيزې په خوله باندې چه مزې تړلې شوې وى، د خولې د بندوالى د وجې نه د انتفاخ په وجه باندې د اشتداد فوراً پته لګى.

[۳۶۹۴]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، وَسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي قِصَّةِ وَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ، قَالُوا: فِيمَ نَشْرَبُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ؟ فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَلَيْكُمْ بِأَسْقِيَةِ الْأَدَمِ الَّتِي يُلَاثُ عَلَى أَفْوَاهِهَا".

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه په واقعه دوند دعبدالقيس كښې مروي دي چه هغوى عرض اوكړوچه زمونږ دپاره په كوم لوښي كښې اوبه څكل پكاردي؟ نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل دچرې په مشكونو كښې اوبه څكئ دكوموچه خوله بنديدلې شى.

[۳۶۹۵]()حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ عَوْفٍ، عَنْ أَبِي الْقَمُوصِ زَيْدِ بْنِ عَلِيٍّ، حَدَّثَنِي رَجُلٌ كَانَ مِنَ الْوَفْدِ الَّذِينَ وَفَدُوا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ يَحْسَبُ عَوْفٌ، أَنَّ اسْمَهُ قَيْسُ بْنُ النُّعْمَانِ، فَقَالَ: "لَا تَشْرَبُوا فِي نَقِيرٍ وَلَا مُزَفَّتٍ وَلَا دُبَّاءٍ وَلَا حَنْتَمٍ، وَاشْرَبُوا فِي الْجِلْدِ الْمُوكَإِ عَلَيْهِ، فَإِنِ اشْتَدَّ فَاكْسِرُوهُ بِالْمَاءِ، فَإِنْ أَعْيَاكُمْ فَأَهْرِيقُوهُ".

د زيد بن على نه روايت دې فرمائى چه دعبدالقيس په وفد كښې يوكس ماته بيان كړې دې كوم چه دنبى عليه السلام په خدمت كښې حاضر شوې وو، د عوف ګمان دې چه ددغه كس نوم قيس بن نعمان وو هغه به وئيل چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى تاسو دلرګي په لوښوكښې څكل مه كوى اونه په كدوكښې اونه په چاټى كښې ليكن دځرمني په مشك كښې اوبه څكئ كله چه په نبيذ كښې سختوالې پيدا شي نوپه اوبو باندې ددې سختوالې كم كړئ كه چرې بياهم نرم نه شي نودا ضايع كړئ.

﴿ فَإِنِ اشْتَدَّ فَاكْسِرُوهُ بِالْمَاءِ فَإِنْ أَعْيَاكُمْ فَأَهْرِيقُوهُ ﴾ يعنى دې قسم مشك كښې هم كه په نبيذ جوړولو سره اشتداد پيدا شى نو په هغې كښې دې اوبه يو ځائې كړې شى او د هغې تيزى دې ختم كړې شى. او كه په هغې كښې دومره ډير اشتداد پيدا شو چه په اوبو ملاولو سره نه كميږى او تاسو عاجز كړى نو بيا هغه اوغورځوئ.

(): تفرد به أبو داود، انظر رقم: (۳۶۹۲)، (تحفة الأشراف: ۵۶۶۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/ ۳۶۱) (صحيح)

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۰۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/ ۲۰۶) (صحيح)

د حديث نه د مسلک حنفي تائيد :

د دې حديث نه معلومه شوه چه د خمر او باقي اشربه مسکره په حکم کښې فرق دې، څکه چه حقيقي خمر په اوبو اچولو سره نه پاکيږي او نه ئې څکل جائز کيدې شی څکه چه ناپاک څيز په اوبو ګډولو سره نه پاکيږي. په خلاف د نورو انبذه مسکره چه که په هغې کښې سکر او اشتداد پيدا شي نو هغه داصلاح نه پس څکل جائز دی معلومه شوه چه د هغې حرمت لعينها دې. هم هغه وخت دې چه کله هغه حد اسکار ته اورسيږي، په خلاف د خمر چه د هغې حرمت لعينها دې. (كذا في البذل)

حديث ابي هريرة رضي الله عنه اخرجه مسلم والنسائي، وحديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه النسائي مسندا ومرسلا، وقد اخرج مسلم في الصحيح حديث ابي سعيد رضي الله عنه في وفد عبد القيس وفيه....... قاله المنذري.

[٣٦٩٦]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ بَذِيمَةَ، حَدَّثَنِي قَيْسُ بْنُ حَبْتَرٍ النَّهْشَلِيُّ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ، قَالُوا: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، فِيمَ نَشْرَبُ؟، قَالَ: لَا تَشْرَبُوا فِي الدُّبَّاءِ، وَلَا فِي الْمُزَفَّتِ، وَلَا فِي النَّقِيرِ، وَانْتَبِذُوا فِي الْأَسْقِيَةِ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَإِنِ اشْتَدَّ فِي الْأَسْقِيَةِ؟، قَالَ: فَصُبُّوا عَلَيْهِ الْمَاءَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ لَهُمْ فِي الثَّالِثَةِ أَوِ الرَّابِعَةِ: أَهْرِيقُوهُ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيَّ أَوْ حُرِّمَ الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْكُوبَةُ، قَالَ: وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ"، قَالَ سُفْيَانُ: فَسَأَلْتُ عَلِيَّ بْنَ بَذِيمَةَ عَنِ الْكُوبَةِ، قَالَ: الطَّبْلُ.

دعبدالله ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې چه دقبيله عبدالقيس وفد عرض وکړو اې دالله رسوله مونږ به څکل په کومولوښوکښې کړونبی عليه السلام اوفرمائيل دندونه جوړ شوي لوښي اونه دخاورو په لوښوکښې اونه دلرګي په لوښي کښې بلکه په مشکونوکښې نبيذ جوړ دوی عرض اوکړو اې دالله رسوله که چرې په مشکونوکښې جوش وکړي؟ نبی عليه السلام اوفرمائيل بياپه کښې اوبه واچوئ هغوی بياعرض اوکړو اې دالله رسوله که چرې په دريم يا څلورم ځل بياجوش اوکړي؟ نبی عليه السلام اوفرمائيل بيا ئې واړوئ اوددينه پس ئې فورا اوفرمائيل يقينا الله تعالى په مابانديې شراب، جواري، اوډول غړول حرام کړيدي، نبی عليه السلام اوفرمائيل هريونشه راوستونکو څيز حرام دې، سفيان وائی مادعلی بن حزيمه نه دلفظ کوبه په باره کښې تپوس اوکړو هغه اووئيل کوبه ډول ته وئيلې شي.

[٣٦٩٧]([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ سُمَيْعٍ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ عُمَيْرٍ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: "نَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدُّبَّاءِ، وَالْحَنْتَمِ، وَالنَّقِيرِ، وَالْجِعَةِ".

دعلی نه روايت دې فرمائی چه مونږه نبی عليه السلام منع کړي وو دکدو دلوښي داستعمال نه اودچاټئ داستعمال نه اودلرګي دلوښي داستعمال نه او د وربشو دشرابونه.

[1]: تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (٣٦٩٠)، (تحفة الأشراف: ٦١٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٧٤، ٢٨٩، ٣٥٠) (صحيح)

[2]: سنن النسائي/الزينة ٤٣ (٥١٨٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١١٩، ١٣٨) (صحيح)

[۳۶۹۸] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا مُعَرِّفُ بْنُ وَاصِلٍ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَيْتُكُمْ عَنْ ثَلَاثٍ، وَأَنَا آمُرُكُمْ بِهِنَّ: نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا فَإِنَّ فِي زِيَارَتِهَا تَذْكِرَةً، وَنَهَيْتُكُمْ عَنِ الْأَشْرِبَةِ أَنْ تَشْرَبُوا إِلَّا فِي ظُرُوفِ الْأَدَمِ فَاشْرَبُوا فِي كُلِّ وِعَاءٍ غَيْرَ أَنْ لَا تَشْرَبُوا مُسْكِرًا، وَنَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُومِ الْأَضَاحِيِّ أَنْ تَأْكُلُوهَا بَعْدَ ثَلَاثٍ فَكُلُوا وَاسْتَمْتِعُوا بِهَا فِي أَسْفَارِكُمْ".

دبریده رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی ماتاسو د درې څیزونونه منع کړې یئ خو اوس درته ددې اجازت درکوم (۱) ماتاسو دقبرونو دزیارت کولونه منع کړې وی اوس زیارت کولې شئ ځکه چه دقبرونوپه زیارت کولوسره ددنیانه ئې رغبتي اوداخرت یاد پیدا کیږی (۲) ماتاسومنع کړې وئ د چمتې نه علاوه په نورو لوښو کښې دنبیذ داستعمالولونه اوس تاسو په هرقسم لوښې کښې څکل کولې شئ لیکن دنشې والاخیز مه څکئ (۳) ماتاسومنع کړې وئ د درې ورځونه زیات دقربانۍ دغوښودساتلونه اوس تاسو دقربانۍ غوښه د درې ورځونه پس خوړلې شئ اودسفر په حالت کښې ددینه فائده اخستلې شئ.

[۳۶۹۹] (²) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي مَنْصُورٌ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "لَمَّا نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْأَوْعِيَةِ، قَالَ: قَالَتِ الْأَنْصَارُ: إِنَّهُ لَا بُدَّ لَنَا، قَالَ: فَلَا إِذًا".

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی کله چه نبی علیه السلام ددې لوښو استعمال منع کړونو راوی وائی چه انصاردنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شول او عرض ئې وکړو مونږ ته ددې ډیرضرورت پیښیږي نبی علیه السلام دوی ته اوفرمائیل اوس تاسو نه منع کوم.

[۳۷۰۰] (³) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ زِيَادِ بْنِ فَيَّاضٍ، عَنْ أَبِي عِيَاضٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: "ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَوْعِيَةَ الدُّبَّاءَ، وَالْحَنْتَمَ، وَالْمُزَفَّتَ، وَالنَّقِيرَ، فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ: إِنَّهُ لَا ظُرُوفَ لَنَا، فَقَالَ: اشْرَبُوا مَا حَلَّ".

دعبدالله بن عمرو هدیه روایت دې چه نبی علیه السلام دلوښو په باره کښې اوفرمائیل یو دکدونه جوړ کړې شوې لوښی اوبله چاتی اوبل دلرګي نه جوړ کړې شوې لوني، په دې وخت کښې یوباندچی عرض وکړو چه بیاخوزمونږ دپاره یو لوښی هم جائز پاتې نه شونبی علیه السلام اوفرمائیل کوم څیز چه حلال وي هغه په هرقسم لوښي کښې څکلی شئ.

[۳۷۰۱] (⁴) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ يَعْنِي ابْنَ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ بِإِسْنَادِهِ، قَالَ: اجْتَنِبُوا مَا أَسْكَرَ.

امام ابوداؤد وائی چه اوحدیث بیان کړې شوې دې ماته په شان د روایت دشریک فرمائی چه

¹): صحيح مسلم/الجنائز ۳۶ (۹۷۷)، الأضاحي ۵ (۱۹۷۷)، الأشربة ۶ (۱۹۹۹)، سنن النسائي/الجنائز ۱۰۰ (۲۰۳۴)، الأضاحي ۳۶ (۴۴۳۴)، الأشربة ۴۰ (۵۶۵۴، ۵۶۵۵)، (تحفة الأشراف: ۲۰۰۱)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأشربة ۶ (۱۸۶۹)، سنن ابن ماجه/الأشربة ۱۴ (۳۴۰۵)، مسند احمد (۳۵۰/۵، ۳۵۵، ۳۵۶، ۳۵۷، ۳۶۱) (صحيح)

²): صحيح البخاري/الأشربة ۸ (۵۵۹۲)، سنن الترمذي/الأشربة ۶ (۱۸۷۰)، سنن النسائي/الأشربة ۴۰ (۵۶۵۹)، (تحفة الأشراف: ۲۲۴۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۰۲/۳) (صحيح)

³): صحيح البخاري/الأشربة ۸ (۵۵۹۴)، صحيح مسلم/الأشربة ۶ (۲۰۰۰)، (تحفة الأشراف: ۸۸۹۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۱۱/۲) (صحيح) (كلاهما بلفظ: "فأرخص له في الجر غير المزفت")

⁴): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۸۸۹۵) (صحيح)

نبی ﷺ فرمائیلي دي تاسو دنشه راوستونکي څیز د استعمال نه ځان وساتئ.

[۳۷۰۲]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "كَانَ يُنْبَذُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِقَاءٍ، فَإِذَا لَمْ يَجِدُوا سِقَاءً نُبِذَ لَهُ فِي تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روایت دي فرمائی چه دنبی ﷺ دپاره به په مشك کښې نبیذ تیاریدل اوکچري مشك به ملاو نه شو نوبیابه دکاڼړي په لوښي کښې دهغه د دپاره به جوړولې شو.

قوله: ﴿عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ وَالْجِعَةِ﴾

جعه هغه نبیذ کوم چه د اوربشو نه جوړولې شي. اخرجه النسائی، قاله المنذری

قوله: ﴿عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ « نَهَيْتُكُمْ عَنْ ثَلاَثٍ وَأَنَا آمُرُكُمْ بِهِنَّ الخ﴾ د دې حدیث ذکر هم اوس نزدې تیر شو. اخرجه مسلم والنسائی بمعناه، قاله المنذری

﴿عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كَانَ ينتبذ لِرَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فِي سِقَاءٍ الخ﴾

یعنی د رسول الله ﷺ دپاره به د څرمنې په مشک کښې نبیذ جوړولې شو. که چرته به مشک نه وو نو بیا به د کاڼړی په پیاله کښې جوړولې شو، د دې نه هم دا معلومه شوه چه نهی عن الاوعیه منسوخ ده. والحدیث اخرجه البخاری والترمذی وابن ماجه، قاله المنذری

بَاب فِي الْخَلِيطَيْنِ

د مخلوطو څیزونو نه د نبیذ جوړولو بیان

یعنی د دوه څیزونو په یو ځائې کولو سره چه کوم نبیذ جوړ کړې شی لکه زبیب او تمر، یا بسر او رطب.

د کهجورو مختلف قسمونه او د هغې نومونه :

بسر یعنی هغه کهجوره چه د هغې څه حصه پخ شوې وی او څۀ باقی وی او رطب هغه چه پوره پخ شوې وی، او تمر هغه چه د رطب جوړیدو نه پس اوچه شی (چواره) او یو وی زهو چه د هغې ذکر په وړاندې حدیث کښې راروان دې یعنی بسرملون، یعنی هغه بسر چه په هغې باندې رنګ راتلل شروع شی، او کومه چه بالکل کچه وی هغې ته بلح وائی، (٢)

[1]): صحيح مسلم/الأشربة ٦ (١٩٩٩)، (تحفة الأشراف: ٢٧٢٢)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الأشربة ٢٧ (٥٦١٦)، ٣٨ (٥٦٥٠)، سنن ابن ماجه/الأشربة ١٢ (٣٤٠٠)، مسند احمد (٣/٣٠٤، ٣٠٧، ٣٣٦، ٣٧٩، ٣٨٤)، سنن الدارمي/الأشربة ١٢ (٢١٥٣) (صحيح)

[٣٧٠٤] [2]) ددې اقسامو په تعین کښې په شروح د حدیث کښې څه اختلافات هم په فهم کښې راځی، لاندې مونږ د لسان العرب ما حصل لیکو هغه دا چه د کهجورې د اونې د پیدا کیدو نه تر آخره پورې د هغې د تغیراتو په اعتبار سره چه کوم بیل بیل نومونه دی هغه دا دی: بالکل په شروع کښې د دې ګل ته طلع وائی لکه چه د ام د تولو نه اول حالت ته زمونږ په علاقو کښې بور وائی، د دې نه پس چه کله ګل پرانیزی او میوه پیدا کیدل شروع شی نو هغې ته خلال وائی بیا د دې نه پس د کجهورې شکل او صورت جوړیدو نه پس د هډوکی د سختیدو پورې دې ته بلح وائی، د دې نه پس چه کله په دې باندې زهو یعنی رنګ راشی احمرار یا اصفرار نو دې ته بسر وائی، بیا د دې د پخیدل شروع کیدو نه تر تمامیدو پورې دې ته رطب وائی بیا د اوچیدو نه پس ورته تمر وائی اهـ

[۳۷۰۳]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ "نَهَى أَنْ يُنْتَبَذَ الزَّبِيبُ وَالتَّمْرُ جَمِيعًا، وَنَهَى أَنْ يُنْتَبَذَ الْبُسْرُ وَالرُّطَبُ جَمِيعًا".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نه عليه السلام منع فرمائيلي ده چه دانګورو او کجورونه په يوځائي نبيذ جوړ کړې شي اودکچه او پخو اودوچو اودتازه کجورو نه په يوځائي دنبيذ جوړولو نه منع فرمائيلي ده.

()حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنِي يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ: "نَهَى عَنْ خَلِيطِ الزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ، وَعَنْ خَلِيطِ الْبُسْرِ وَالتَّمْرِ، وَعَنْ خَلِيطِ الزَّهْوِ وَالرُّطَبِ، وَقَالَ: انْتَبِذُوا كُلَّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَةٍ"، قَالَ: وحَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ.

قتاده دخپل پلارنه روايت کوي فرمائي چه نبي عليه السلام منع فرمائيلي ده ددينه چه وچې اوکجوري، اوا وهي کجوري اوتازه کجورې يوځائي کړې شي اونبيذ ورنه جوړ کړې شي اوفرمائيلي بردې چه تاسودهريونه جداجدا نبيذ تياروئ، راوي وائي مادابوسلمة بن عبدالرحمن دلتاد به واسطه سره داحديث بيان کړې دې.

شرب الخليطين د جمهورو په نزد ناجائز دې که مسکر وي او که نه وي ځکه چه په حديث کښې د دې ممانعت راغلي دې، پس که هغه غير مسکر وي نو د هغې حرمت صرف من وجه دې اوکه مسکر وي نو بيا من وجهين دې، اوداحنافوپه نزد که مسکر نه وي نو جائز دې ګينې حرام، مصنف رحمه الله په دې باب کښې د دواړو ډلو دليل ذکر فرمائيلي دې، پس د باب د شروع روايتونه د جمهورو دليل دې او د آخر دوه احاديث د احنافو مستدل دې.

وحديث جابر رضي الله عنه اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری. وحديث ابی قتاده رضي الله عنه ثانی حديث الباب، اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجه مسندا، قاله المنذری.

[۳۷۰۵]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَحَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ رَجُلٍ، قَالَ: حَفْصٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "نَهَى عَنِ الْبَلَحِ وَالتَّمْرِ، وَالزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ".

ابن ابی ليلي ديوکس نه روايت کوي، حفص رازي وئيلي دي چه دغه کس درسول الله دصحابه کرامونه دې فرمائيل ئې چه نبی کريم صلى الله عليه وسلم منع فرمائيلي ده دکچه او پخو کجورو ديوځائي کولونه اودوځکو اردکجورو ديوځائي کولونه چه نبيذ جوړ کړې شي.

[1]: صحيح مسلم/الأشربة ٥ (١٩٨٦)، سنن الترمذي/الأشربة ٩ (١٨٧٦)، سنن النسائي/الأشربة ٩ (٥٥٥٨)، سنن ابن ماجه/الأشربة ١١ (٣٣٩٥)، (تحفة الأشراف: ٢٤٧٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأشربة ١١ (٥٦٠١)، مسند احمد (٣/٢٩٤، ٣٠٠، ٣٠٢، ٣١٧، ٣٦٣، ٣٦٩) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الأشربة ١١ (٥٦٠٢)، صحيح مسلم/الأشربة ٥ (١٩٨٨)، سنن النسائي/الأشربة ٦ (٥٥٥٣)، سنن ابن ماجه/الأشربة ١١ (٣٣٩٧)، (تحفة الأشراف: ١٢١٠٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الأشربة ٣ (٨)، مسند احمد (٥/٢٩٥، ٣٠٧، ٣٠٩، ٣١٠)، سنن الدارمي/الأشربة ١٥ (٢١٥٦) (صحيح)

[3]: سنن النسائي/الأشربة ٤ (٥٥٤٩)، (تحفة الأشراف: ١٥٦٢٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣١٤) (صحيح)

[۳۷۰۶](¹)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ ثَابِتِ بْنِ عُمَارَةَ، حَدَّثَتْنِي رَيْطَةُ، عَنْ كَبْشَةَ بِنْتِ أَبِي مَرْيَمَ، قَالَتْ: "سَأَلْتُ أُمَّ سَلَمَةَ، مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْهُ؟، قَالَتْ: كَانَ "يَنْهَانَا أَنْ نَعْجُمَ النَّوَى طَبْخًا، أَوْ نَخْلِطَ الزَّبِيبَ وَالتَّمْرَ".

دکبشه بنت ابی مریم نه روایت دې فرمائی چه ما دام سلمه رضی الله عنها نه دهغه څیزونو په باره کښې تپوس اوکړو دکومونه چه نبی عليه السلام منع فرمائیلې ده ام سلمه اوفرمائیل نبی عليه السلام دکجورو د پخولونه منع فرمائیلې ده اوددینه به ئې هم منع فرمائیله چه مونږه کجورې او وڅکې یوځائې کړو (اونبیذ ورنه جوړ کړو).

قوله: ﴿سَأَلْتُ أُمَّ سَلَمَةَ مَا كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَنْهَى عَنْهُ قَالَتْ كَانَ يَنْهَانَا أَنْ نَعْجُمَ النَّوَى طَبْخًا أَوْ نَخْلِطَ الزَّبِيبَ وَالتَّمْرَ﴾

شرح الحديث:

په دې حدیث کښې دوه جزه دی جزء ثاني خو په خلیط پورې متعلق دې د کوم چه باب روان دې، او د جزء اول په مطلب کښې دوه احتماله دی اول دا چه د کهجورو نبیذ دې زیات پوخ نه کړې شی که پخول مقصود وی، ځکه چه په زیات پخولو سره به د نبیذ په ذائقه کښې تغیر راشی، د هډوکی مزه او د هغې تریخ والې به پکښې شامل شی، او دویم مطلب ئې دا دې چه د کجهورې هډوکی دې پاخه نه کړې شی، ځکه چه د کجهورو هډوکی د څاروو اوښانو او ګډو بیزو خوراک وی نو د هډوکو په پخولو باندې به د هغوی خوراک ختم شی، د هډوکی د تول رس وتلو د وجې نه.... ذكر المعنيين شيخنا رحمه الله تعالى بين سطور كتابه.... د عجم معنی نضج یعنی د پخولو ده.

[۳۷۰۷](²)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي أَسَدٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُنْبَذُ لَهُ زَبِيبٌ فَيُلْقِي فِيهِ تَمْرًا، وَتَمْرٌ فَيُلْقِي فِيهِ الزَّبِيبَ".

د عائشه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه کله به دنبی عليه السلام دپاره دوڅکونه نبیذ جوړیدل نوپه هغې کښې به ئې کجورې اچولې، اوچه کله به دکجورونه دهغه دپاره نبیذ جوړولې شو نوپه هغې کښې به ئې وڅکې اچولې.

﴿عَنِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي أَسَدٍ عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يُنْبَذُ لَهُ زَبِيبٌ فَيُلْقِي فِيهِ تَمْرًا ، وَتَمْرٌ فَيُلْقِي فِيهِ الزَّبِيبَ﴾

په دې حدیث کښې د زبیب او د تمر د خلیط ذکر دې او د رسول الله صلى الله عليه وسلم هغې لره شکل، د دې نه روستو حدیث کښې هم عائشه رضی الله عنها فرمائی ﴿كُنْتُ آخُذُ قَبْضَةً مِنْ تَمْرٍ وَقَبْضَةً مِنْ زَبِيبٍ فَأُلْقِيهِ فِي إِنَاءٍ فَأَمْرُسُهُ ثُمَّ أَسْقِيهِ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم﴾ چه ما به د رسول الله صلى الله عليه وسلم دپاره داسې نبیذ جوړولو چه یو موټې کجهورې به مې واخستلې او یو موټې اوڅکې او بیا

(¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٨٢٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٩٦) (ضعيف الإسناد)
(²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٩٩٥) (ضعيف الإسناد)

به مې هغه د اوبو په لوښی کښې واچولې او بیا به مې هغه اومږلې. د دې نه پس به مې په رسول الله ﷺ باندې څکلې.

[۳۷۰۸](۱) حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ يَحْيَى الْحَسَّانِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَحْرٍ، حَدَّثَنَا عَتَّابُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الْحِمَّانِيُّ، حَدَّثَتْنِي صَفِيَّةُ بِنْتُ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: "دَخَلْتُ مَعَ نِسْوَةٍ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى عَائِشَةَ، فَسَأَلْنَاهَا عَنِ التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ؟ فقالت: كُنْتُ آخُذُ قَبْضَةً مِنْ تَمْرٍ، وَقَبْضَةً مِنْ زَبِيبٍ، فَأُلْقِيهِ فِي إِنَاءٍ، فَأَمْرُسُهُ، ثُمَّ أَسْقِيهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

عتاب بن عبدالعزيز الحماني وئيلی دی چه ماته صفيه بنت عطيه وئيلی دی چه زه دعبدالقيس دزنانو په وفد کښې دعائشه راضي الله عنهاپه خدمت کښې حاضره شوم او مونږ دهغې نه دکجورو اودوڅکو دنبيذ په باره کښې تپوس اوکړو، عائشه رضي الله عنها اووئيل مابه يوه لپه کجورې او يوه لپه وڅکې راواخستلې او په يولوښي کښې به مې واچولې اوبيابه مې په لاسونو ومږلې اوبيابه مې په نبی عليه السلام باندې وڅکولې.

بَابٌ فِي نَبِيذِ الْبُسْرِ

باب: دکچه کهجورو نه نبيذ جوړول څنګه دی؟

[۳۷۰۹](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ، وَعِكْرِمَةَ، أَنَّهُمَا كَانَا يَكْرَهَانِ الْبُسْرَ وَحْدَهُ وَيَأْخُذَانِ ذَلِكَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: "أَخْشَى أَنْ يَكُونَ الْمُزَّاءُ الَّذِي نُهِيَتْ عَنْهُ عَبْدُ الْقَيْسِ"، فَقُلْتُ لِقَتَادَةَ: مَا الْمُزَّاءُ؟ قَالَ: النَّبِيذُ فِي الْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ.

دابوقتاده رحمه الله نه روايت دې فرمائي چه جابربن زيد اوعکرمه رحمهما الله دواړوبه دپخو اوکچه کجورونه نبيذ جوړول مکروه ګڼړل اودابه ئې دابن عباس نه نقل کول چه ابن عباس فرمائيلی دی زه په دې ويريږم چه چرته ددې نه مزاء جوړ نشي دوم نه چه دقبيله عبدالقيس خلق منع کړې شوي وو، مادقتاده رحمه الله نه تپوس اوکړو چه مزاء څه شې دې؟ هغه اووئيل په چاټئ کښې يادلرګي په لوښي کښې نبيذ جوړول.

﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ وَعِكْرِمَةَ أَنَّهُمَا كَانَا يَكْرَهَانِ الْبُسْرَ وَحْدَهُ وَيَأْخُذَانِ ذَلِكَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَخْشَى أَنْ يَكُونَ الْمُزَّاءَ الَّذِى نُهِيَتْ عَنْهُ .....الخ ﴾

شرح الحديث:

په دې روايت کښې جابر بن زيد او عکرمه نبيذ البسر اګر چه هغه څانله جوړ کړې شوې وی مکروه ګڼړی او دا مسئله هغوی زده کړې وه د ابن عباس رضي الله عنهما نه. او ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه زه ويريږم د دې خبرې نه چه د کوم مزاء نه وفد د عبدالقيس منع کړې شوې وو هغه هم دا نه وی يعنی نبيذ البسر وحده، بيا په وړاندې روايت کښې راځی قتاده رحمه الله فرمائي چه د مزاء نه مراد هغه نبيذ دې کوم چه په حنتم يا مزفت کښې جوړ کړې شی د ابن عباس رضي الله عنهما د کلام نه دا مستفاد کيږی چه وفد عبدالقيس د مزاء نه منع کړې شوې وو او دا چه د هغې مصداق نبيذ البسر وحده دې خو زمونږ مخې ته چه د وفد عبدالقيس کوم روايتونه دی په هغې کښې خو چرته هم د مزاء ذکر نشته. فالله اعلم بالصواب. او وړاندې د قتاده رحمه الله په کلام کښې راځی چه

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۶۹) (ضعيف الإسناد)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۳۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۳۱۰، ۳۳۴) (صحيح الإسناد)

مزاء وائی هغه نبیذ ته کوم چه د خنتم او مزفت نه جوړ کړې شی. د دې دواړو روایتونو د یو ځائې کولو نه به دا نتیجه راوځی چه بسر وحده د کوم چه په دې روایت کښې ذکر دې د هغې نه هغه نبیذ بسر مراد دې کوم چه په حنتم یا مزفت کښې جوړ کړې شی ګینې بغیر د دې نه د بسر وحده په ممنوع کیدلو کښې هیڅ وجه نشته، والله تعالی اعلم بالصواب.

بَابٌ فِي صِفَةِ النَّبِيذِ

د نبیذ جوړولو طریقه

یعنی د نبیذ جوړولو او د هغې د څکلو طریقه.

[۳۷۱۰]()حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا ضَمْرَةُ، عَنِ السَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الدَّيْلَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "أَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ عَلِمْتَ مَنْ نَحْنُ وَمِنْ أَيْنَ نَحْنُ، فَإِلَى مَنْ نَحْنُ؟، قَالَ: إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لَنَا أَعْنَابًا مَا نَصْنَعُ بِهَا؟، قَالَ: زَبِّبُوهَا، قُلْنَا: مَا نَصْنَعُ بِالزَّبِيبِ؟، قَالَ: انْبِذُوهُ عَلَى غَدَائِكُمْ وَاشْرَبُوهُ عَلَى عَشَائِكُمْ، وَانْبِذُوهُ عَلَى عَشَائِكُمْ وَاشْرَبُوهُ عَلَى غَدَائِكُمْ، وَانْبِذُوهُ فِي الشِّنَانِ وَلَا تَنْبِذُوهُ فِي الْقُلَلِ، فَإِنَّهُ إِذَا تَأَخَّرَ عَنْ عَصْرِهِ صَارَ خَلًّا".

د دیلمي رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه مونږ دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو او عرض مووړته وکړو چه اې دالله رسوله تاته معلومه ده چه مونږ څوك یو؟ نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل تاسو الله اودهغه رسول ته راغلې یې مونږ ورته عرض اوکړواې دالله رسوله مونږه دانګورو مالکان یو په هغې باندې څه اوکړو نبی علیه السلام اوفرمائیل وچ ئې کړئ مونږ عرض اوکړو دانګورو دوچولوڅه فائده ده؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل دسحر په وخت کښې ئې په اوبو کښې لمدوی اوماښام ئې څکئ اوکوم چه ماښام المده کړئ نوسحرئې کی اوتاسوؤلره پکاردي چه د مرې په مشکونو کښې دا لمده کړئ او یادخاورو په منګو کښې اوکه چرې په دې کښې تاخیر وکړې شي نوبیا ددینه سرکه جوړیږي.

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الدَّيْلَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ ﴾ د دوی د پلار نوم فیروز دې، د دیلمی نه مراد هم هغه دې.

قوله: ﴿ قَالَ أَتَيْنَا النبی –صلی الله علیه وسلم– فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ عَلِمْتَ مَنْ نَحْنُ وَمِنْ أَيْنَ نَحْنُ فَإِلَى مَنْ نَحْنُ قَالَ « إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ » ﴾

شرح الحدیث:

د دې په شرح کښې په بذل المجهود کښې لیکلې دی د مسند احمد د روایت په حوالې سره چه فیروز دیلمی رضی الله عنه چه یمنی دې او د هغه قوم چه کله اسلام قبول کړو نو د هغوی قوم یو جماعت د وفد په طور د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې راولیږلو چه په هغوی کښې فیروز الدیلمی رضی الله عنه هم شامل وو. چا چه راتلو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خپل اسلام خبر ورکړو، چه په هغې سره رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی اسلام قبول کړو، په دې موقع باندې دې وفد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هغه څه عرض کړل کوم چه دلته په دې کتاب کښې ذکر شوې دی، یعنی دا چه یا

(): سنن النسائي/الأشربة ٥٥ (٥٧٣٨)، (تحفة الأشراف: ١١٠٦٢)، وقد أخرجه: دي/الأشربة ١٣ (٢١٥٤) (حسن صحيح)

رسول اللهﷺ تاسو ته معلومه ده چه مونږ څوک يو او د چرته نه ستاسو خدمت ته حاضر شوي يو او دا چه مونږ اسلام راوړي دي. اوس مونږ ستاسو نه دا تپوس کوو چه زمونږ ولي او يار او مددګار څوک دي؟ نو رسول اللهﷺ په جواب کښې اوفرمائيل: ﴿ الله ورسوله ﴾ نو په دې اوريدو هغوی اووې ﴿ حسبنا ورضينا ﴾

قوله: ﴿ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لَنَا أَعْنَابًا مَا نَصْنَعُ بِهَا الخ ﴾ هغوی عرض اوکړو يا رسول اللهﷺ! مونږ سره د انګورو باغونه دي يعنی هلته فراخی ده نو مونږ د هغه انګورو نه څنګه فائده اوچتولې شو؟ رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ د هغې نه زبيب (اوچکې) جوړې کړئ. مونږ تپوس اوکړو بيا په زبيب باندې څه اوکړو؟ رسول اللهﷺ اوفرمائيل: د هغې نبيذ جوړولو سره د سحر ننبيذ د ماښام د خوراک نه پس څکئ. او د ماښام جوړ شوې نبيذ د سحر د خوراک نه پس څکئ، او بيا ئې اوفرمائيل ګورئ! دا نبيذ په مشکونو کښې جوړوئ او په منګو کښې ئې مه جوړوئ.

قوله: ﴿ فَإِنَّهُ إِذَا تَؤَخَّرَ عَنْ عَصْرِهِ صَارَ خَلاًّ ﴾ د دې جملې دوه مطلبه کيدې شی اول دا چه د دې تعلق د ﴿ امر بالنبيذ فی الشنان ﴾ سره دې يعنی د دې حکمت هغه دا چه کوم نبيذ په مشکيزه کښې جوړولې شی که هغه په وخت باندې استعمال نه کړې شی بلکه په مشک کښې پريخودلې شی نو په وخت تيريدو سره به هغه نبيذ خل يعنی سرکه شی، او په هغې کښې به څه نقصان او اضاعت نه وی په خلاف د دې چه که په منګی وغيره کښې جوړ کړې شی او په هغې کښې ډير وخته پورې وی نو په دې صورت کښې به د هغه نبيذ نه شراب جوړ شی چه په هغې کښې د مال ضائع کول دی. او دويم احتمال دا دې چه د دې تعلق د ﴿ نهی عن النّبذ فی القلل ﴾ سره دې چه نبيذ په منګه کښې مه جوړ کړو ځکه چه په دې صورت کښې که هغه د ډير ساعته پورې هم په هغې کښې پروت وی نو د هغې نه به سرکه جوړه شی کوم چه خلاف مقصود دې اګر چه حلال دې، كذا في البذل نقلا عن تقرير حضرة الجنجوهي قدس سره، والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

[۳۷۱۱](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ الثَّقَفِيُّ، عَنْ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ الْحَسَنِ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كَانَ يُنْبَذُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِقَاءٍ يُوكَأُ أَعْلَاهُ، وَلَهُ عَزْلَاءُ يُنْبَذُ غُدْوَةً فَيَشْرَبُهُ عِشَاءً، وَيُنْبَذُ عِشَاءً فَيَشْرَبُهُ غُدْوَةً".

دعائشه رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام دپاره به په مشک کښې نبيذ اچولې شول اودمشک پاځنئ خوله به بندولې شوه اودنبی علیه السلام مشک دوو خولو والارو، کوم نبيذ چه به سحر لمده کړې شول هغه به ئې په ماسخوتن کښې څکل اوکوم چه به دسحر په وخت کښې په اوبو کښې واچولې شول هغه به ئې ماسخوتن څکل.

قوله: ﴿ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ أُمِّهِ عَنْ عَائِشَةَ – رضی الله عنها – قَالَتْ كَانَ يُنْبَذُ لِرَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فِي سِقَاءٍ يُوكَأُ أَعْلَاهُ وَلَهُ عَزْلَاءُ الخ ﴾

[1]: صحيح مسلم/الأشربة ٩ (٢٠٠٥)، سنن الترمذي/الأشربة ٧ (١٨٧١)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٣٦) (صحيح)

شرح الحديث :

يعنى په بعض مشكونو كښې دوه خولې وى يو پورته طرف ته چه د هغې نه اوبه ډكوى، او لاندې طرف ته چه هغې ته عزلاء وائى. چه كله مشک زوړند وى نو چه كله د هغې نه نبيذ ويستل وى نو په هغه خوله باندې ويستلې شى، چه د هغې مصلحت دا دې چه په مشک كښې چه كوم سكر پيدا كيدل شروع شوې وى نو هغه د لاندې طرف نه وى په دې وجه نبيذ چه كله څكلې شى نو هغه د لاندې والا خولې نه راويستلې شى چه د سكر پيدا كيدلو علم د شروع نه اوشى د څكلو نه مخكښې د ړومبى حديث مطلب دا دې چه د رسول الله ﷺ دپاره داسې مشک كښې نبيذ جوړولې شو چه د هغې پورته خوله به مزى سره تړلې شوه او د څكلو دپاره به نبيذ د عزلاء نه ويستلې شو كوم نبيذ چه به سحر جوړولې شو هغه به رسول الله ﷺ ماښام استعمالول او كوم نبيذ چه به د ماښام په وخت جوړولې شو هغه به رسول الله ﷺ سحر استعمالول.

د دې نه روستو روايت كښې دا زيادت دې چه په سحر والا نبيذ كښې د ماښام وخت كښې د څكلو نه پس كه به څه پاتې شو نو هغه به غورځولې شو دغه شان د ماښام والا نبيذ سره به هم هم دغه شان كولې شو، مطلب دا چه دا بچ شوې نبيذ به ئې بل وخت نه استعمالول د نشې د ويرې نه چه چرته نشته پيدا نه شى، او دا مشک به په دواړو وختونو كښې خالى كولو سره په اوبو باندې وينځلې شو چه د مخكښې نبيذ څه اثر پكښې باقى پاتې نه شى.

[۳۷۱۲](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، قَالَ: سَمِعْتُ شَبِيبَ بْنَ عَبْدِ الْمَلِكِ يُحَدِّثُ، عَنْ مُقَاتِلِ بْنِ حَيَّانَ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي عَمَّتِي عَمْرَةُ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، "أَنَّهَا كَانَتْ تَنْبِذُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُدْوَةً، فَإِذَا كَانَ مِنَ الْعَشِيِّ فَتَعَشَّى شَرِبَ عَلَى عَشَائِهِ، وَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ صَبَبْتُهُ أَوْ فَرَغْتُهُ، ثُمَّ تَنْبِذُ لَهُ بِاللَّيْلِ، فَإِذَا أَصْبَحَ تَغَدَّى فَشَرِبَ عَلَى غَدَائِهِ، قَالَتْ: نَغْسِلُ السِّقَاءَ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً"، فَقَالَ لَهَا أَبِي: مَرَّتَيْنِ فِي يَوْمٍ؟، قَالَتْ: نَعَمْ".

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه مابه دنبى عليه السلام دپاره د سحر په وخت كښې دنبيذ انتظام شروع كړو كله چه به شپه راغله نوهغه به دخوراک نه پس حل اوچه كوم به ورنه باقى پاتې شو نوهغه به يې واړول، اوچه دشپې به مې كوم نبيذ تيار كړو اوبيابه سحرشونون عليه السلام به سحر دناشتې نه پس څكل او مونږ به مشك سحر اوماښام وينځلو، مقاتل وئيلى دى چه زماپلار حيان ورته اووئيل په يوه شپه او ورځ كښې به مو دوه ځل وينكلوا ورته ئې اوفرمائيل چه هو، دوه پيرې به مو وينځلو.

تشريح: مقاتل بن حيان رحمه الله فرمائى : چه زما پلار حيان د خپلې خور عمره نه تپوس اوكړو چه آيا مشک به په يو ورځ كښې دوه كرته وينځلې شو؟ نو هغوى اوفرمائيل او دوه كرته به وينځلې شو.

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۵۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۱۲۴) (حسن الإسناد)

[۳۷۱۳](۱)حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي عُمَرَ يَحْيَى الْبَهْرَانِيِّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ يُنْبَذُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الزَّبِيبُ، فَيَشْرَبُهُ الْيَوْمَ وَالْغَدَ وَبَعْدَ الْغَدِ إِلَى مَسَاءِ الثَّالِثَةِ، ثُمَّ يَأْمُرُ بِهِ، فَيُسْقَى الْخَدَمُ أَوْ يُهَرَاقُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: مَعْنَى يُسْقَى الْخَدَمُ: يُبَادَرُ بِهِ الْفَسَادَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو عُمَرَ يَحْيَى بْنُ عُبَيْدٍ الْبَهْرَانِيُّ.

دعبدالله بن عباس رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام دپاره به د اوسکو نه نبيذ جوړيدل او په همدغه ورځ به ئې سکل او په دې پسې بله ورځ به ئې هم څکل د درې ورځې دمابنامه پورې، اوحکم به ئې کولوچه کوم باقی پاتې شي هغه په خادمانو وڅکوئ پائې واړوئ که چرې شدت په کښې پيدا شوې وي، امام ابوداؤد وئيلی دی چه د يُسقَى الخَدَمُ، مفهوم دادې چه دخرابيدونه مخکښې.

قوله: ﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ يُنْبَذُ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- الزَّبِيبُ فَيَشْرَبُهُ الْيَوْمَ وَالْغَدَ وَبَعْدَ الْغَدِ إِلَى مَسَاءِ الثَّالِثَةِ الخ﴾ په دې روايت کښې دا دی چه د رسول الله ﷺ دپاره چه به کوم نبيذ جوړولې شو هغه به هغوی هم په هغه ورځ په کومه ورځ چه به جوړولې شو د هغې نه په بله ورځ او بيا د هغې نه په بله ورځ تر مابنام پورې څکلو بيا که به د هغې نه روستو بچ شو نو او به ئې فرمائيل چه په خادمانو باندې دې اوڅکلې شی يا دې توئې کړې شی يعنی که څوک څکلو والا ئې نه وی. امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی چه خادمانو باندې د څکلو به ئې څکه حکم فرمائيلو چه د ايساريدو په وجه باندې خراب نه شی په دې وجه هم اوس دې استعمال کړې شی د خرابيدو نه مخکښ، د خرابيدو نه مراد نشه پيدا کيدل دی.

(تطبيق بين الروايتين)

په دې روايت باندې دا اشکال پيدا کيږی چه د دې نه مخکښې په ډيرو روايتونو کښې راغلی دی چه د هغوی دپاره به کوم نبيذ جوړولې شو نو رسول الله ﷺ به د سحر نبيذ مابنام او د مابنام نبيذ به ئې سحر څکل او بيا به لوښې وينځلې شو. او د باب په دې آخری روايت کښې تر د درې ورځو پورې څکل ذکر شوې دی. د دې جواب دا دې چه دا په اختلاف زمان باندې محمول دې، تير روايت د ګرمئ په زمانه باندې محمول دې او دا روايت د يخنئ په موسم. والحديث اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری....

بَابٌ فِي شَرَابِ الْعَسَلِ

د شهدو د شربت څکلو بيان

[۳۷۱۴](۲)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عُبَيْدَ بْنَ عُمَيْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُخْبِرُ: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى

[1]): صحيح مسلم/الأشربة ۹ (۲۰۰۴)، سنن النسائي/الأشربة ۵۵ (۵۷۴۰)، سنن ابن ماجه/الأشربة ۱۲ (۳۳۹۹)، (تحفة الأشراف: ۶۵۴۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۳۲، ۲۴۰، ۲۸۷، ۳۵۵) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/تفسير سورة التحريم (۴۹۱۲) الطلاق ۸ (۵۲۶۷)، الأيمان ۲۵ (۶۶۹۱)، صحيح مسلم/الطلاق ۳ (۱۴۷۴)، سنن النسائي/عشرة النساء ۴ (۳۴۱۰)، الطلاق ۱۷ (۳۴۵۰)، الأيمان ۴۰ (۳۸۶۶)، (تحفة الأشراف: ۱۶۳۲۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۲۲۱) (صحيح)

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ، فَيَشْرَبُ عِنْدَهَا عَسَلًا، فَتَوَاصَيْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ أَيَّتُنَا مَا دَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلْتَقُلْ: إِنِّي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ مَغَافِيرَ، فَدَخَلَ عَلَى إِحْدَاهُنَّ، فَقَالَتْ لَهُ ذَلِكَ، فَقَالَ: بَلْ شَرِبْتُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ، وَلَنْ أَعُودَ لَهُ، فَنَزَلَتْ: لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ تَبْتَغِي سورة التحريم آية، إِلَى إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ سورة التحريم آية ٣، لِعَائِشَةَ وَحَفْصَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَى بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا سورة التحريم آية ٣، لِقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَلْ شَرِبْتُ عَسَلًا".

دام المومنین عائشة ﷞ نه روایت دي فرمائي چه نبي کریم ﷺ به دزینب بنت جحش په کورکښې قیام کولو اودشهد و شربت به ئې څکلو، ما او ام المومنین حفصة ﷞ مشوره وکړه چه کله نبي کریم ﷺ زمونږ خواته تشریف راوړي نوپه مونږ کښې دی ورته هره یوه داخبره وکړي چه ستادخولي مبارکي نه دمغافیر (یوقسم چیردي دګوم نه چه بوي ځي) بوي ځي نوبیاچه به کله نبي ﷺ دهري یوي خواته ورتلونوهمدا خبره به ئې ورته کوله نبي ﷺ به ورته وئیل چه داسې نه ده مادزینب په کورکښې شهد څکلی دي اودنن نه پس به ئې هیڅ کله ونه څکم نوددې متعلق دا ایت کریمه نازل شو: «لم تحرم ما أحل الله لك تبتغي» تر «إن تتوبا إلى الله» پوري، وعائشه اوحفصة ﷞ ته حکم اوشو چه دالله تعالی نه بخښنه اوغواړئ، په دې باره کښې چه نبي ﷺ خپلې یوې بي بي ته پټه خبره کړي وه چه ماشهد څکي دي.

شرح الحديث:

قوله: ﴿ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَيَشْرَبُ عِنْدَهَا عَسَلاً الخ﴾ دا د تحریم غسل والا مشهور حدیث دې چه د هغې مضمون دا دې چه د رسول الله ﷺ عادت مبارکه اګر که عدل بین الزوجات وو، د هرې زوجې محترمې دپاره خپل نمبر مقرر وو خو روزانه به په څه نه څه وخت کښې اګر که د هرې یوې نمبر به وو رسول الله ﷺ به د سلام او ملاقات دپاره ازواج مطهراتو کښې هرې یوې ته په ولاړه ولاړه تشریف اوړولو. د هغوی په بیبیانو کښې زینب بنت جحش ﷞ دا اوکړل چه کله به رسول الله ﷺ هغې کره لاړو نو هغوی باندې ئې د شهدو شربت اوڅکلو چه د هغې یو مصلحت به دا هم وو چه هغې کره لږ زیات ایسار شی، عائشې ﷞ ته چه کله دا معلومه شوه نو د دې په باره کښې عائشه ﷞ فرمائي چه ما او حفصه ﷞ خپل مینځ کښې دا فیصله اوکړه چه مونږ کښې چاته هم رسول الله ﷺ راغلو نو هغوی ته دې داسې اوائي چه ﴿ انی اجد منک ریح مغافیر ﴾ چه ستاسو نه خو په مونږ د مغافیر بوئی راځي. پس هم داسې اوشوه نو رسول الله ﷺ د دې په جواب کښې اوفرمائیل ﴿ بَلْ شَرِبْتُ عَسَلاً عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَلَنْ أَعُودَ لَهُ ﴾ یعنی ما خو شهد څکلی دی نه مغافیر، خو د هغې سره رسول الله ﷺ دا هم اوفرمائیل (څکه چه هغوی باندې خپله هم بدبوئی بده لګیدله) چه د بیا دپاره به زه دا هر ګز نه څکم او دا خبره رسول الله ﷺ قسم خوړلو سره اوفرمائیله، د دې قصې په روایت کښې دا هم راځي چه رسول الله ﷺ هغوی ته دا هم فرمائیلې وو چه زما د دې تحریم ذکر چا ته هم مه کوئ، خو هغوی د دې ذکر یو بل ته اوکړو په دې واقعه باندې دا ایات کریمه نازل شو ﴿ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ ﴾ او د عائشې او حفصې ﷞ په باره کښې داسې اوفرمائیلې شو ﴿ إِنْ تَتُوبَا

إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ﴾ چه تاسو دواړو لره هم توبه کول پکار دی چه تاسو يو نامناسب کار کړې دې. او د دې نه روستو روايت کښې دی ﴿ قَالَتْ سَوْدَةُ بَلْ أَكَلْتَ مَغَافِيرَ ﴾ او د رسول الله ﷺ دا جواب ﴿ سقتني حفصة ﴾ چه د هغې نه معلوميږی چه څکونکې خپله حفصة ﷞ وه.

[۳۷۱۵]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ، فَذَكَرَ بَعْضَ هَذَا الْخَبَرِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْتَدُّ عَلَيْهِ أَنْ تُوجَدَ مِنْهُ الرِّيحُ، وَفِي الْحَدِيثِ، قَالَتْ سَوْدَةُ: بَلْ أَكَلْتَ مَغَافِيرَ، قَالَ: بَلْ شَرِبْتُ عَسَلًا سَقَتْنِي حَفْصَةُ، فَقُلْتُ: جَرَسَتْ نَحْلُهُ الْعُرْفُطَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْمَغَافِيرُ مُقْلَةٌ وَهِيَ صَمْغَةٌ، وَجَرَسَتْ رَعَتْ، وَالْعُرْفُطُ نَبْتٌ مِنْ نَبْتِ النَّحْلِ.

دام المومنين عائشة ﷞ نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم ﷺ به خواږه څيزونه او شهد ډير خوښول او بيائي ددې حديث څه حصه بيان کړه او اوئې فرمائيل: چه نبی ﷺ به دا بدګنړل دجسم دڅه حصې نه ئې بوې لاړشي، په يوحديث کښې دی چه سودة ﷞ اوفرمائيل: چه تا مغافير څکلی دي، نبی ﷺ اوفرمائيل داسې نه ده ماشهد څکلی دي اوحفصې راباندې څکولی دي ما ووئيل کيدې شي چه دشهدو مچئ دعرفطه په بوټي (دکوم نه چه بوې خې) کيناستلې وي اوودې رس ئې څکلی وي ام المومنين عائشې ﷞ هم اوفرمائيل چه دشهدو دبدبويه کيدو وجه همدا کيدې شي.

﴿ فَقُلْتُ جَرَسَتْ نَحْلُهُ الْعُرْفُطَ ﴾ ([۲]) يعنی چه کله رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ما مغافير نه دی څکلی بلکه شهد مې څکلی دی نو په دې باندې هغوی اووې چه بيا داسې کيدې شي چه د کومې مچې هغه شهد وو کوم چه تاسو څکلې وو هغې کيدې شی د عرفط اونې رس څکلې وی په دې وجه د هغې نه پيدا کيدونکی شهدو کښې د هغې بوئی راغلو، ګويا زما خبره صحيح ده چه ستاسو د خولې نه د مغافير بوئی راځی.

د شهدو مچې چه د کوم ګل رس راښکلو سره شهد جوړوی نو په هغه شهدو کښې د هغې بوئی راځی، مغافير د مغفور جمع ده، مغفور د يو اونې د چيړ نوم دې.. د کومې اونې نه چه هغه راوځی هغې ته عرفط وائی دا اونه د ازغنو ډکه وی او د هغې په چيړ کښې خوږوالې وی چه هغې لره په اوبو کښې ګډولو سره بعض خلق څکی خو په دې کښې بدبوئی وی چه کله رسول الله ﷺ د هغې د څکلو نفی اوفرمائيله نو د هغوی بی بی د هغې دغه شان توجيه اوکړه کومه چه پورته ذکر شوې ده.

په شرب عسل والا حديث کښې اختلاف د رواياتو :

د ابوداؤد د دې ذکر کړی شوی روايت نه څو خبرې مستفاد شوې اول دا چه د سورة تحريم شان نزول د تحريم عسل واقعه ده، دويمه خبره دا چه په رسول الله ﷺ باندې شهد

[۱]): صحيح البخاري/الأطعمة ٣٢ (٥٤٣١)، الأشربة ١٠ (٥٥٩٩)، ١٥ (٥٦١٤)، الطب ٤ (٥٦٨٢) (الحيل ١٢ (٦٩٧٢)، صحيح مسلم/الطلاق ٣ (١٤٧٤)، سنن الترمذي/الأطعمة ٢٩ (١٨٣١)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٣٦ (٣٣٢٣) (تحفة الأشراف: ١٦٧٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٩/٦)، دي/الأطعمة ٣٤(٢١١٩) (صحيح)

[۲]) د دې په باره کښې امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی ﴿ نبت من نبت النحل ﴾ يعنی دا يو قسم ګيا ده کومه چه د شهدو مچې خوری او بيا د هغې نه شهد جوړوی)

ځکونکې زينب بنت جحش ﷞ ده لکه چه د ابوداؤد په ړومبی روايت کښې دی، او په دويم روايت کښې دا دی چه شهد ځکونکې حفصه ﷞ وه او په هغوی باندې اشکال کونکې سوده ﷞ وه. او په ړومبی روايت کښې دا دی چه اشکال کونکې عائشه او حفصه ﷞ دې دواړو کښې يوه وه، د ابوداؤد دا دواړه مختلف روايتونه په صحيح بخاری کښې هم دی، د دې دواړو روايت کونکې خپله عائشه ﷞ ده، اول حديث په طريق د عبيد بن عمير عن عائشه دې، او دويم په طريق د عروه عن عائشه دې.

اکثر شارحين علامه عينی حافظ ابن حجراو د قسطلانی ﷫ ميلان دې طرف ته دې چه ځکونکې زينب بنت جحش ﷞ وه ځکه چه حفصه ﷞ خو خپله د عائشې ﷞ په ډله کښې وه د زنيب ﷞ په خلاف کښې چه هغه په حزب مخالف کښې ده بلکه اصل مد مقابل هم هغه ده. او په روايت کښې د دې وضاحت دې چه ماته په دې مسئله کښې غيرت راغلو لهذا د هغې تقاضا هم دا ده چه ځکونکې دې د عائشې ﷞ د حزب مخالف نه وی. سهارنپوری صاحب په بذل کښې هم دې ته ترجيح ورکړې ده بلکه دويم روايت ته ئې غلط وئيلې دې. فرمائی ﴿ وهذا غلط من احد الرواة، وانما كانت سقته زينب كما ذكره المولف فی الرواية المتقدمة اه ﴾ دا کلام د امر ثانی سره متعلق شو.

دايت په شان نزول کښې د تحريم عسل او تحريم ماريه ﷞ کښې اختلاف

او امر اول کوم چه مستفاد من الحديث دې يعنی دا چه د تحريم تعلق د عسل سره دې دا خبره هم مختلف فيه ده د دې په مقابل کښې دا ده چه د دې نه مراد تحريم د ماريه قبطيه ﷞ دې، دا اختلاف هم د مفسرينو او د محدثينو په نزد مشهور دې، خو د تحريم عسل والا روايتونه د صحيحينو دی، او د تحريم ماريه والا روايتونه د غير صحيحينو، په دې اختلافاتو باندې مختصر کلام مګر جامع په الابواب والتراجم ۵/۱۲۷ کښې ذکر شوې دې هغې طرف ته دې رجوع اوکړې شی، په هغې کښې دا هم دی. قال ابن كثير : الصحيح انه كان فی تحريمه العسل ، وقال الخطابی : الاكثر علی ان الاية نزلت فی تحريم ماريه الی آخر ما فيه.......

د تحريم ماريه واقعه داسې ليکلې شوې ده چه يو کرت رسول الله ﷺ داسې حال کښې چه د حفصه ﷞ په کور کښې ناست وو او حفصه ﷞ د رسول الله ﷺ نه اجازت اخستلو سره د څه ضرورت په چه باندې بهر تلې وه رسول الله ﷺ ماريه ﷞ هلته راطلب کړه او د هغوی سره ئې صحبت اوفرمائيلو، چه کله په واپسئ باندې حفصه ﷞ دا اوليدل نو په دې باندې ئې د خفګان اظهار اوفرمائيلو. په دې باندې رسول الله ﷺ ماريه په ځان باندې حرامه کړه چه په هغې باندې د سورة تحريم آيتونه نازل شو، په جلالين کښې هم دا قول اختيار کړې شوې دې او په حاشيه د جمل کښې دا د تحريم واقعه په تفصيل سره نقل کړې شوې ده که غواړې نو هغې ته رجوع اوکړه........ دلته يوه بله واقعه ده يعنی د رسول الله ﷺ د ايلاء او د اعتزال عن النساء چه په هغې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ د خپلو ازواج مطهراتو نه تر يو مياشت پورې د ځانله اوسيدو قسم کړې وو او بيا دا قسم رسول الله ﷺ پوره کړې هم وو او دا مياشت رسول الله ﷺ ځانله په کمره کښې تيره کړې وه. د دې سبب څه شوې وو حافظ

فرمائی چه په دې کښې هم دغه شان اختلاف دې لکه چه څنګه پورته ذکر کړې شوې واقعه د تحریم کښې اختلاف دې، د بعض روایتونو نه معلومیږی چه د اعتزال سبب د رسول الله ﷺ د بیبیانو نفقه کښې د زیادت طلب دې، او په یو قول کښې دا دی چه د دې سبب د راز ښکاره کول دی چه د تحریم عسل یا د ماریه رضی الله عنها نه پس رسول الله ﷺ د دې تحریم د اظهار نه منع اوفرمائیله خو هغه بی بی هغې لره په ځائې د اخفاء هغه ښکاره کړو په دې باندې رسول الله ﷺ خفه کیدو سره تر یوې میاشتې پورې جدائی اختیار اوفرمائیله. خو د کوم تحریم د وجې نه چه په رسول الله ﷺ باندې عتاب اوشو هغه دا اعتزال عن النساء نه دې لکه چه د ترمذی د روایت نه دا شبه کیږی. کما حققه فی الکوکب الدری فی کتاب التفسیر، فارجع الیه لو شئت.

حدیث الباب الاول اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، والثانی اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه مختصرا ومطولا، قاله المنذری

بَابٌ فِي النَّبِيذِ إِذَا غَلَى

کله چه په نبیذ کښې سختوالې پیدا شی نو ددې د استعمال څه حکم دې؟

[۳۷۱٦]()حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ وَاقِدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "عَلِمْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَصُومُ، فَتَحَيَّنْتُ فِطْرَهُ بِنَبِيذٍ صَنَعْتُهُ فِي دُبَّاءٍ، ثُمَّ أَتَيْتُهُ بِهِ فَإِذَا هُوَ يَنِشُّ، فَقَالَ: اضْرِبْ بِهَذَا الْحَائِطِ، فَإِنَّ هَذَا شَرَابُ مَنْ لَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ماته معلومه وه چه نبی علیه السلام به اکثر وخت روژه نیوله په دې ورځ هم مانبی علیه السلام ته نبیذ پیش کړل کوم چه دندو په لوخي کښې وو ماچه ورته کله دا پیش کول نونبیذ جوش وهلي وو، نبی علیه السلام اوفرمائیل دا په دیوال اووله، اودا به هغه څوك څي دچاچه په الله اوپه ورځ د آخرت ایمان نه وي.

قوله: ﴿ فَتَحَيَّنْتُ فِطْرَهُ بِنَبِيذٍ صَنَعْتُهُ فِي دُبَّاءٍ ثُمَّ أَتَيْتُهُ بِهِ فَإِذَا هُوَ يَنِشُّ الخ ﴾

ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه یو کرت داسې اوشوه چه د رسول الله ﷺ روژه وه نو ما د افطار د وخت انتظار کولو سره د افطار په وخت رسول الله ﷺ ته هغه نبیذ یوړول کوم چه ما په دباء کښې جوړ کړې وو چه کله ما هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر کړل نو هغې هغه وخت جوش وهلو یعنی د فساد او نشې پیدا کیدو د وجې نه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿اضْرِبْ بِهَذَا الْحَائِطَ ﴾ دا نبیذ په دیوال باندې اوغورځوه ځکه چه دا د هغه خلقو شراب دی چه په الله او آخرت باندې ایمان نه لری. والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

....

(): سنن النسائي الأشربة ۲۵ (٥٦١٣)، ٤٨ (٥٧٠٧)، سنن ابن ماجه الأشربة ۱۵ (۳٤۰۹)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۹۷)، (صحيح)

بَابٌ فِي الشُّرْبِ قَائِمًا
په ولاړه د اوبو څکلو بيان

[۳۷۱۷](۱)حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا".

د انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام منع فرمائيلې ده ددينه چه څوک دې په ولاړه اوبه وڅکي.

قوله: ﴿ نَهَى أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا ﴾

د شرب قائما په باره کښې اختلاف د رواياتو:

د شرب قائما په باره کښې روايات دواړه قسم راغلي دی، د منع هم او د جواز هم، امام بخاری رحمه الله خو په صحيح بخاری کښې د شرب قائما باب تړلو سره صرف د جواز حديث يعنی حديث د علی رضي الله عنه کوم چه دلته په آبوداؤد کښې د دې نه روستو را روان دې ذکر فرمائيلې دې. د ابن بطال رائې خو دا ده چه د امام بخاری رحمه الله اشاره دې طرف ته ده چه د هغوی په نزد احاديث د منع ثابت نه دی، قاضي عياض رحمه الله فرمائي چه امام مالک او امام بخاری د نهی د احاديثو تخريج نه دې کړې، خو امام مسلم رحمه الله د هغې تخريج کړې دې پس د هغوی په يو روايت کښې دی مرفوعا ﴿ لا يشربن احدكم قائما فمن نسی فليستقی ﴾ حافظ رحمه الله فرمائي چه د علماء کرامو رائې دې باره کښې مختلف دی، اول ترجيح او دا چه احاديث د جواز اثبت او اقوی دی د احاديث نهی نه، دويم قول دا چه احاديث د منع منسوخ دی په احاديث جواز سره په قرينه د عمل الخلفاء الراشدين ومعظم الصحابة والتابعين بالجواز، دريم قول په جمع بين الروايتين دې پس بعضو وئيلې دی چه د قيام نه مراد مشی ده او امام طحاوی رحمه الله فرمائي چه احاديث د نهی په عدم تسمية عند الشرب باندې محمول دی يعنی کوم سړې چه ئې په ولاړه باندې بغير د بسم الله نه څکی، اوکه باقاعده بسم الله وئيلو سره ئې څکی نو په داسې څکلو کښې هيڅ باک نشته، دريمه رائې په دې کښې دا ده چه احاديث د نهی په کراهت تنزيه باندې محمول دی او احاديث د ثبوت په بيان د جواز باندې، وهذ احسن المسالک واسلمها........ او يو قول په دې کښې دا هم دې چه احاديث د نهی په طب باندې محمول دی او په شفقت باندې چه هسې نه چه په ولاړه باندې په تندئ سره څکلو باندې په مرئ کښې اونخلی، لهذا په اطمينان سره څکل پکار دی اهـ ملخصا من الاوجز ۶/۳۴۹ او يو قول په دې کښې دا هم دې چه احاديث د جواز په زياتی اوبو د اودس يا زمزم باندې محمول دی او احاديث د نهی د هغې نه په علاوه باندې.

والحديث اخرجه مسلم والترمذی وابن ماجه بنحوه،

(۱): صحيح مسلم/الأشربة ۱۴ (۲۰۲۴)، (تحفة الأشراف: ۱۳۶۷)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأشربة ۱۱ (۱۸۷۹)، سنن ابن ماجه/الأشربة ۲۱ (۳۴۲۴)، مسند احمد (۳/۱۱۸، ۱۴۷، ۲۱۴)، سنن الدارمي/الأشربة ۲۴ (۲۱۷۳) (صحيح)

[۳۷۱۸]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مِسْعَرِ بْنِ كِدَامٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَيْسَرَةَ، عَنِ النَّزَّالِ بْنِ سَبْرَةَ، أَنَّ عَلِيًّا دَعَا بِمَاءٍ فَشَرِبَهُ وَهُوَ قَائِمٌ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ رِجَالًا يَكْرَهُ أَحَدُهُمْ أَنْ يَفْعَلَ هَذَا، وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ مِثْلَ مَا رَأَيْتُمُونِي أَفْعَلُهُ".

د نزال بن سبره نه روایت دې فرمائی چه علی نه اوبه راوغوښتلې اوپه ولاړه ئې وڅکلې اوونې فرمائیل بعضې خلق دا بدګڼړی یقینا ما نبی ﷺ په داسې کولو باندې لیدلې وو لکه څنګه چه تاسو زه ولیدلم.

وحديث علی رضی الله عنه ثانی حديثی الباب اخرجه البخاری والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

بَابُ الشَّرَابِ مِنْ فِي السِّقَاءِ

د مشک د خولې نه د اوبو څکلو بیان

[۳۷۱۹]([2])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا قَتَادَةُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشُّرْبِ مِنْ فِي السِّقَاءِ، وَعَنْ رُكُوبِ الْجَلَّالَةِ وَالْمُجَثَّمَةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْجَلَّالَةُ الَّتِي تَأْكُلُ الْعَذِرَةَ.

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ منع فرمائیلې ده دمشک په خوله باندې داوبو څکلونه اودسورلۍ دمردار خور څاروی نه اوخوړلو دمرداري نه.

قوله: ﴿ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– عَنِ الشُّرْبِ مِنْ فِي السِّقَاءِ وَعَنْ رُكُوبِ الْجَلاَّلَةِ وَالْمُجَثَّمَةِ الخ ﴾

شرح الحديث:

یعنی رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده د مشک په خوله باندې خوله لګولو سره د څکلو نه، چه د هغې علماء کرامو مختلف مصلحتونه لیکلی دی مثلاً دا چه ممکن ده چه په مشک کښې څه ضرری څیز وی، یا دا چه ناڅاپه اوبه په حلق کښې تلو سره حلق اولګی، یا په اوبو تویدلو سره د څکونکی جامې لوندې شی، بله دا چه همیشه یا بار بار داسې کولو سره په مشک کښې دننه ددې نه بوئی پیدا کیږی.

وړاندې په حدیث کښې د رکوب جلاله نه منع ده، جلاله هغه څاروې دې چه آزاد ګرزیدو په وجه باندې پلیت څیزونه خوری تردې چه د هغه په خوله کښې د نجاست بوئی راشی.

وړاندې په حدیث کښې دی ﴿ والمجثمه ﴾ مجثمه ته مبصوره هم وئیلې شی یعنی د مجثمه ځناور د خوراک نه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده، مجثمه هغه ځناور (څاروې یا مرغۍ) ته وائی کوم چه په شرعی ذبح باندې د قدرت باوجود قید کولو سره په غشی وغیره باندې ویشتلو سره مړ کړې شی.

[1]: صحيح البخاري/الأشربة ١٦ (٥٦١٥)، سنن الترمذي/الشمائل ٣٢ (٢٠٩)، سنن النسائي/الطهارة ١٠٠ (١٣٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٧٨، ١٢٠، ١٢٣، ١٣٩، ١٥٣، ١٥٩) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الأطعمة ٢٤ (١٨٢٥)، سنن النسائي/الضحايا ٤٣ (٤٤٥٣)، سنن ابن ماجه/الأشربة ٢٠ (٣٤٢١)، (تحفة الأشراف: ٦١٩٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأشربة ٢٤ (٥٦٢٩)، مسند احمد (١/٢٢٦، ٢٤١، ٢٩٣، ٣٢١، ٣٣٩)، سنن الدارمي/الأشربة ١٩ (٢١٦٣) ١٣ (٢٠١٨) (صحيح)

والحدیث اخرجه البخاری والترمذی والنسائی وابن ماجه، ولیس فی حدیث البخاری وابن ماجه ذکر الجلالة والمجثمة، قاله المنذری.

بَاب فِي اخْتِنَاثِ الْأَسْقِيَةِ

دمشک خوله تاوول او بیا ترې اوبه څکل

اسقیه جمع ده د سقاء یعنی مشک او د اختناث نه مراد د مشک خولې لره بهر طرف ته اړول چه په هغې کنبې سختی او کلک والې راشی چه بیا په هغې باندې خوله لګولو سره اوبه اوڅکلې شی، دا ترجمه بلفظ الحدیث ده، د حدیث الفاظ هم داسې دی، په دې ترجمة الباب کنبې او پورته کنبې دغرض په اعتبار سره هیڅ فرق په نظر نه راځی، دواړه ابواب نزدې نزدې دی.

[۳۷۲۰](1)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ عُبَيْدَ اللَّهِ ابْنَ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ اخْتِنَاثِ الْأَسْقِيَةِ".

دابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه پیغمبر پاک صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلې ده دمشک نه په داسې شان سره دابو څکلونه چه خوله ئې تاوکړې شوې وي.

[۳۷۲۱](2)حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ عِيسَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "دَعَا بِإِدَاوَةٍ يَوْمَ أُحُدٍ، فَقَالَ: اخْنِثْ فَمَ الْإِدَاوَةِ، ثُمَّ شَرِبَ مِنْ فِيهَا".

عیسی بن عبدالله انصاری دخپل پلار عبدالله رضی الله عنه نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام داحد په ورځ یومشك اوبه راوغوښتلې اوبیا ئې حکم اوکړو چه ددې خوله تاو کړئ او بیا ئې ددینه اوبه وڅکلې.

د دې باب په دویم حدیث کنبې د اختناث اسقیه جواز ذکر شوې دې چه د هغې مختلف توجیهات کیدلې شی: یو دا چه د منع تعلق د لوئې مشک سره دې یا دا چه د اباحت تعلق په احیانا باندې دې چه کله کله داسې کولې شی او د منع تعلق په کثرت او عادت باندې دې چه د هغې عادت واچولې شی، یا دا نهی محمول ده په شفقت او په ثبوت د اباحت او په جواز باندې (بذل)

وحدیث ابی سعید رضی الله عنه اخرجه مسلم والترمذی وابن ماجه، والحدیث الثانی اخرجه الترمذی، قاله المنذری.

---

(1): صحيح البخاري/الأشربة ۲۳ (٥٦٢٤)، صحيح مسلم/الأشربة ۱۳ (۲۰۲۳)، سنن الترمذي/الأشربة ۱۷ (۱۸۹۰)، سنن ابن ماجه/الأشربة ۱۹ (۳٤۱۸)، (تحفة الأشراف: ٤۱۳۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦۳، ٦۷، ٦۹، ۹۳) دي/ الأشربة ۱۹ (۲۱٦٥) (صحيح)

(2): سنن الترمذي/الأشربة ۱۸ (۱۸۹۱)، (تحفة الأشراف: ٥۱٤۹) (منكر)

بَابٌ فِي الشُّرْبِ مِنْ ثُلْمَةِ الْقَدَحِ

د پیالۍ د مات شوی ځائې نه د اوبو څکلو بیان

هم دا الفاظ د حدیث هم دی، ثلمة القدح د پیالې هغه ځائې چه مات شوې وی، موضع الانکسار، هلته خوله لګولو سره د څکلو نه د منع کولو مختلف مصلحتونه کیدې شی مثلا دا چه هغه حصه پاکه نه وی د خیری د جمع کیدو د وجې نه، یا دا چه د هغې په شونډو کښې د ننوتلو خطره ده.

[۳۷۲۲] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي قُرَّةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشُّرْبِ مِنْ ثُلْمَةِ الْقَدَحِ، وَأَنْ يُنْفَخَ فِي الشَّرَابِ".

دابوسعید خدری رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی عليه السلام منع فرمائیلې ده دپیالې په مات ځائې باندې داوبو څکلونه، اود پوکی کولونه اوبوته.

﴿ وَأَنْ يُنْفَخَ فِي الشَّرَابِ ﴾ یعنی د څکلو په څیز کښې د پوکی وهلو نه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده، دا پوکې وهل که د یو بسری وغیره د اوبو نه د لرې کولو دپاره وی او که د هغې د یخولو په نیت باندې، ځکه چه دا د ادب او نظافت خلاف ده، پوکی سره په هغې کښې د لاړو د غورځیدلو خطره ده، وړاندې مستقل یو باب را روان دې. باب فی النفخ فی الشراب، چه په هغې کښې دا حدیث ذکر شوې دې. ﴿نهی ان یتنفس فی الاناء او ینفخ فیه﴾

بَابٌ فِي الشُّرْبِ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ

د سپینو زرو یا سرو زرو په لوښی کښې د خوراک څښاک بیان

[۳۷۲۳] (۲) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: كَانَ حُذَيْفَةُ بِالْمَدَائِنِ، فَاسْتَسْقَى، فَأَتَاهُ دِهْقَانٌ بِإِنَاءٍ مِنْ فِضَّةٍ، فَرَمَاهُ بِهِ، وَقَالَ: إِنِّي لَمْ أَرْمِهِ بِهِ إِلَّا أَنِّي قَدْ نَهَيْتُهُ فَلَمْ يَنْتَهِ، وَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ الْحَرِيرِ، وَالدِّيبَاجِ، وَعَنِ الشُّرْبِ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَقَالَ: هِيَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا، وَلَكُمْ فِي الْآخِرَةِ".

دابن ابی لیلی نه روایت دې فرمائی چه حذیفه نه په مدائن ښارکښې وو اوهغه اوبه وغوښتلې نویوزمیندارورته دسپینو زرو په لوښي کښې اوبه راوړلې، حذیفه هغه لوښې اوغورځولو اووئې وئیل چه ما دالوښې ځکه وغورځولو چه دازمیندار ما ددې کار نه منع کړې وو لیکن دې منع نه شو، یقینانبی عليه السلام دریښمو دجامو اودیباج (یوخاص قسم ریښم) داغوستلونه اودسرو زرو اودسپینوزرو دلوښې داستعمال نه منع فرمائیلې ده اودائې هم

(۱): سنن الترمذي/الأشربة ۱۵ (۱۸۸۷)، (تحفة الأشراف: ۴۱۴۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صفة النبي ۷ (۱۲)، مسند احمد (۸۰/۳) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/الأطعمة ۲۹ (۵۴۲۶)، الأشربة ۲۷ (۵۶۳۲)، ۲۸ (۵۶۳۳)، اللباس ۲۵ (۵۸۳۱)، ۲۷ (۵۸۳۷)، صحيح مسلم/اللباس ۱ (۲۰۶۷)، سنن الترمذي/الأشربة ۱۰ (۱۸۷۸)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ۳۳ (۵۳۰۳)، سنن ابن ماجه/الأشربة ۱۷ (۳۴۱۴)، (تحفة الأشراف: ۳۳۷۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۸۵/۵، ۳۹۰، ۳۹۶، ۳۹۸، ۴۰۰، ۴۰۸)، دي/الأشربة ۲۵ (۲۱۷۶) (صحيح)

فرمائیلي دی چه داځیزونه په دنیا کښې د کافرانو دپاره دي اوستاسودپاره به په اخرت کښې وي.

قوله: ﴿ كَانَ حُذَيْفَةُ بِالْمَدَائِنِ فَاسْتَسْقَى فَأَتَاهُ دِهْقَانٌ بِإِنَاءٍ مِنْ فِضَّةٍ فَرَمَاهُ بِهِ الخ ﴾

یعنی حذیفه رضی الله عنه چه په مدائن کښې اوسیدلو چا لره چه عمر رضی الله عنه د هغه ځائې امیر جوړ کړې وو یو کرت هغوی اوبه طلب کړې نو هغوی ته یو زمیندار یعنی چودهری د چاندئ په پیاله کښې اوبه راوړلې نو هغوی هغه اوغورځوله. (١) او وې فرمائیل ما دا هسې نه ده ویشتلې بلکه ما دې په دې کښې د راوړلو نه منع کړې وو خو دې منع نه شو حالانکه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده د لبس حریر او دیباج نه، یعنی سړی ئې منع کړی دی، او منع ئې فرمائیلې ده د سرو او سپینو زور په لوښی کښې د څکلو نه، یعنی مطلقا که ښځې وی او که سړی او فرمائیلي ئې دی چه دا په دنیا کښې صرف د کفارو دپاره دی او ستاسو دپاره صرف په آخرت کښې. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

باب في الكرع

دیولوښی نه په خوله باندې د څکلو بیان

د لوښی یا لپې نه بغیر براه راست په حوض یا نهر باندې خوله لګولو سره اوبه څکل.

[٣٧٢٤] (٢) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنِي فُلَيْحٌ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، وَهُوَ يُحَوِّلُ الْمَاءَ فِي حَائِطِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ هَذِهِ اللَّيْلَةَ فِي شَنٍّ وَإِلَّا كَرَعْنَا، قَالَ: بَلْ عِنْدِي مَاءٌ بَاتَ فِي شَنٍّ".

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه بونبی علیه السلام دخپل یوملګري سره دیوانصاري خواته لاړو اوهغه خپل باغ اوبه کولو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل که چرې ستا سره په مشک کښې بیګاني پاتې شوي اوبه وي نوبهتره ده ورنه زه به ئې دنهر په خوله باندې وڅکم هغه عرض اوکړو هو، زماسره په مشک کښې بیګاني پاتې شوي اوبه موجودې دي.

قوله: ﴿ دَخَلَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- وَرَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ وَهُوَ يُحَوِّلُ الْمَاءَ فِي حَائِطِهِ « إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ هَذِهِ اللَّيْلَةَ فِي شَنٍّ وَإِلاَّ كَرَعْنَا » ﴾

یو کرت رسول الله ﷺ سره د یو صحابی د یو انصاری باغ ته لاړو چه هغه خپل باغ ته اوبه ورکولې نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: که تا سره د شپې زړې اوبه په مشک کښې پرتې وی (نو راوړه) ګینې مونږ به په دې ګودر باندې خوله اولګوو او اوبه به اوڅکو. هغوی

---

(١) علامه عینی رحمه الله د دې جملې ترجمه هم دا کړې ده ﴿ولفظه: فرمي بالقدح بالشراب او رمي الشراب بالقدح﴾ او حضرت په بذل کښې لیکلي دی ﴿فرماه به اي فرمي حذيفه الدهقان بذلك الاناء﴾ یعنی حذیفه رضی الله عنه په هغه پیاله باندې هغه دهقان ویشتلو او د حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې دی: ﴿ ويويد ما افاده الشيخ ما في الفتح من اختلاف الروايات في رواية فرمي به في وجهه وفي اخري ما يالو ان يصيب به وجهه ﴾ اهـ

(٢): صحيح البخاري/الأشربة ٢٠ (٥٦١٣)، سنن ابن ماجه/الأشربة ٢٥ (٣٤٣٢)، (تحفة الأشراف: ٢٢٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢٨/٣، ٣٤٣، ٣٤٤)، سنن الدارمي/الأشربة ٢٢ (٢١٦٩) (صحيح)

عرض اوکړو چه او یا رسول الله ﷺ ما سره د شپې په مشک کښې پرتې اوبه موجود دی.

په دې واقعه کښې اګر چه د کرع ضرورت نه دې راغلې خو دا ده چه رسول الله ﷺ د هغې اراده اوفرمائیله، بلکه ترې نه دا هم معلومه شوه چه رسول الله ﷺ به په مشک یا لوښو کښې د شپې پرتې زړې اوبه خوښولې.

د کتاب الاشربه د آخري باب په آخري حدیث کښې راروان دی چه ﴿کان يستعذب [۳۷۲۳] یوې چینې نوم دې چه د مدینې طیبې نه د دوه ورځو په مزل لرې ده خوږې اوبه راوړلې شوې.

په دې باندې بذل کښې لیکلې دی: ځکه چه په هغه زمانه کښې د مدینې طیبې اکثر اوبه مالګینې او تروې وې.

د حضرت حاجی صاحب رحمه الله یو معمول:

د سید الطائفه حضرت حاجی صاحب رحمه الله په باره کښې مشهوره ده او مونږ د حضرت شیخ نه ډیر کرته واوریده چه حاجی صاحب به ښه یخې اوبه څکلې او فرمائیل به ئې چه په یخو اوبو څکلو سره د زړه نه الحمد لله اوځی او په ګرمو اوبو کښې دا خبره نه وی. خپله زمونږ شیخ هم د ډیرو یخو اوبو څکلو عادت وو او د خپل تائید دپاره به ئې د حاجی صاحب دا مقوله نقل فرمائیله. والحدیث اخرجه البخاری وابن ماجه، قاله المنذری

بَابٌ فِي السَّاقِي مَتَى يَشْرَبُ

داوبو تقسیمونکی به کله اوبه څکی؟

[۳۷۲۵] (۱) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي الْمُخْتَارِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "سَاقِي الْقَوْمِ آخِرُهُمْ شُرْبًا".

دعبدالله بن ابی اوفی نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ساقي لره پکاردي چه دټولونه په اخر کښې اوبه اوڅکی.

﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « سَاقِيَ الْقَوْمِ آخِرُهُمْ شُرْبًا» ﴾ خلقو لره اوبه ورکونکې د خپل څکلو په اعتبار سره د ټولو نه آخری وی.

په دې حدیث کښې د ادب او استحباب بیان دې چه داسې کیدل پکار دی، په خلاف د دې چه د اوبو ورکونکې که خپل نفس مقدم اوساتی نو دا به د هغه د حرص علامت وی (کذا فی البذل)، او په هغې کښې دا هم دی چه که څوک ساقی د خپل حصې په اندازه د مخکښې نه واخلی نو بیا هم څه باک نشته، جائز دی. ۱هـ

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه مختصرًا، قاله المنذری.

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥١٨٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المساجد ٥٥ (٦٨١)، سنن الترمذي/الأشربة ٢٠ (١٨٩٥)، سنن ابن ماجه/(٣٤٣٤) كلاهما عن أبي قتادة، مسند احمد (٤/٣٥٤، ٣٨٢، ٥/٣٠٣) (صحيح)

[۳۷۲۶]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أُتِيَ بِلَبَنٍ قَدْ شِيبَ بِمَاءٍ، وَعَنْ يَمِينِهِ أَعْرَابِيٌّ، وَعَنْ يَسَارِهِ أَبُو بَكْرٍ، فَشَرِبَ، ثُمَّ أَعْطَى الْأَعْرَابِيَّ، وَقَالَ: الْأَيْمَنَ فَالْأَيْمَنَ".

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام ته داسې شوده راوړلې شو چه اوبه په كښې اچولولې شوې وې اودنبى عليه السلام يوجانب ته يابانيچې ناست وو اوبل طرف ته ابوبكر فيناست وو نبى عليه السلام چه شوده وڅكل او بيا ئې پياله باندچى ته وركړه اوبيا ئې اوفرمائيل اول دښئ طرف والاحق دې بياد چپ طرف والا.

قوله: ﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- أُتِيَ بِلَبَنٍ قَدْ شِيبَ بِمَاءٍ وَعَنْ يَمِينِهِ أَعْرَابِيٌّ وَعَنْ يَسَارِهِ أَبُو بَكْرٍ الخ ﴾

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې لسى پيش كړې شوه په داسې حال كښې چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښى طرف ته يو اعرابى او ګس طرف ته صديق اكبر رضي الله عنه وو، رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغې نه اول په خپله لسى اوڅكله، او وې فرمائيل ﴿ الايمن فالايمن ﴾ يعنى د ښى طرف والا راجح او مقدم دې په ګس طرف والا باندې.... د دې حديث په ظاهر كښې د ترجمة الباب سره مناسبت نشته، او په بذل كښې ئې د ګنګوهى رحمه الله د تقرير نه دا نقل فرمائيلې دى چه مصنف رحمه الله دا حديث په دې باب كښې ظاهرا په دې وجه راوړلې دې چه پورته قاعده ﴿ ساقى القوم آخرهم شربا ﴾ په هغه صورت كښې دې چه يو سړې مشترك څيز په خپلو ملګرو كښې تقسيموى، هلته هغه له پكار دى چه د خپلې حصې څيز روستو واخلى،او چرته چه كوم څيز خالص خپل حق وى يا خپل ملك وى د مخكښې نه، يا هغه ته هديه كړې شوې وى د هغه دپاره دا ضرورى نه ده چه هغه دې نورو لره په خپل ځان باندې مقدم كړى. اهـ فللله درالشيخ.

د شمائل ترمذى په يو روايت كښې دى، ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه يو كرت زه او خالد بن الوليد رضي الله عنه دواړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ميمونې رضي الله عنها كره لاړو، هغې مونږ ته په يو پياله كښې پئ راوړل چه هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوڅكل، زه د هغوى ښى طرف ته اوم او خالد ګس طرف ته، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د بچ شوې پيو د تقسيم چه كله اراده اوفرمائيله نو ما ته ئې اوفرمائيل چه حق خو ستا دې، خو كه ته غواړې نو زه به په دې كښې خالد ته ترجيح وركړم، ما عرض اوكړو چه ستاسو جوټه مباركه داسې معمولى څيز نه دې چه په هغې كښې دې بل ته ترجيح وركړې شى، لهذا هغه هغوى خپله اوڅكل.

ددې روايت نه پس امام ترمذى رحمه الله فرمائى چه ميمونه رضي الله عنها د خالد بن الوليد او د ابن عباس رضي الله عنهم او دغه شان د يزيد بن الاصم د دې درې واړو ترور وه. ګويا هم په دې وجه باندې دوى واړه دواړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره كور ته داخل شوې دى د ميمونې رضي الله عنها د محرم كيدو د وجې نه.

(): صحيح البخاري/الأشربة ١٤ (٥٦١٢، ١٨٩٣)، ١٨ (٥٦١٩)، المساقاة ١ (٢٣٥٢)، الهبة ٤ (٢٥٧١)، صحيح مسلم/الأشربة ١٧ (٢٠٢٩)، سنن الترمذي/الأشربة ١٩ (١٨٩٣)، سنن ابن ماجه/الأشربة ٢٢ (٣٤٢٥)، (تحفة الأشراف: ١٥٢٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صفة النبي ٩ (١٧)، مسند احمد (١١٠/٣، ١١٣، ١٩٧)، سنن الدارمي/الأشربة ١٨ (٢١٦٢) (صحيح)

خبرداري : په دې حدیث د انس رضی الله عنه کښې چه دا راغلی دی ﴿ وعن یمینه اعرابی ﴾ دا حدیث چونکه په بخاری کښې هم شته په دې باندې حافظ په فتح الباری ۳۷/۵ (کتاب المساقاة) کښې لیکلی دی چه ابن التین د بعض شارحینو نه نقل کړې دې چه د دې اعرابی نه مراد خالد بن الولید رضی الله عنه دې، په دې باندې دا اشکال کړې شوې دې چه د خالد بن الولید رضی الله عنه په شان شخصیت ته خو اعرابی نه شی وئیلې کیدې، حافظ فرمائی : کیدې شی چه د دې تفسیر باعث هغه حدیث د ابن عباس رضی الله عنه وی کوم چه په ترمذی شریف کښې دې ﴿ قال دخلت انا وخالد بن الولید علی میمونة الحدیث المذکور قریبا ﴾ کیدې شی چه دې قائل دا ګنړلې وی چه دا یوه قصه ده خو دا صحیح نه ده ځکه چه د ترمذی په روایت کښې چه کومه قصه ذکر ده هغه د بیت میمونه ده او دا د انس رضی الله عنه قصه د انس رضی الله عنه په کور کښې راغلې ده.. الی آخر ما بط...... لهذا یو لره په بل باندې حمل کول غلط دی. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری

[۳۷۲۷]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ أَبِي عِصَامٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "إِذَا شَرِبَ تَنَفَّسَ ثَلَاثًا، وَقَالَ: هُوَ أَهْنَأُ وَأَمْرَأُ وَأَبْرَأُ".

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام چه به کله اوبه څکلی نو په درې ساه ګانو کښې به ئې څکلی اوفرمائیل به ئې چه په اوبو څکلو کښې ساه اخستل تنده ختموي اوخوراك ازموي اوتندرستي پیدا کوي.

قوله: ﴿كَانَ إِذَا شَرِبَ تَنَفَّسَ ثَلَاثًا وَقَالَ « هُوَ أَهْنَأُ وَأَمْرَأُ وَأَبْرَأُ » ﴾

یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت مبارك د څکلو په څیز کښې دا وو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغه په درې ساګانو باندې څکلو او فرمائیل به ئې چه دا درې کرته څکل ډیر زیات مزیدار، په څکلو کښې اسان او په تالو کښې د اینختلو د ضرر نه پاك وی.

د څکلو یو ادب خو په دې حدیث کښې ذکر دې چه اوبه کم از کم په دوه یا درې ساګانو باندې څکل پکار دی، کما تقدم فی کتاب الطهارة ﴿ واذا شرب فلا یشرب نفسا واحدا ﴾ او دویم ادب په روایت کښې دا راغلې ﴿ واذا شرب احدکم فلا یتنفس فی الاناء ﴾ چه د اوبو څکلو ترمینځه چه کله ساه اخلې نو لوښې دې د خولې نه جدا کړی، په لوښی کښې دې ساه نه اخلی. د دې حدیث د ترجمة الباب سره هیڅ خصوصی مناسبت نشته، بس دا ده چه دا هم د څکلو د ادب نه یو ادب دې. والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

....

(): صحيح مسلم/الأشربة ١٦ (٢٠٢٨)، سنن الترمذي/الأشربة ١٣ (١٨٨٤)، الشمائل (٢١٠)، (تحفة الأشراف: ١٧٢٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٨/٣، ١١٩، ١٨٥، ٢١١، ٢٥١) (صحيح)

بَاب فِي النَّفْخِ فِي الشَّرَابِ وَالتَّنَفُّسِ فِيهِ

اوبو ته د پوکی کولو بیان

[۳۷۲۸](۱)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الْإِنَاءِ أَوْ يُنْفَخَ فِيهِ".

د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام منع فرمائیلي ده ددینه چه ساه واخستلی شي په لوښي کښې اود پوي کولو نه په اوبو کښې.

قوله: ﴿ نَهَى رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الْإِنَاءِ أَوْ يُنْفَخَ فِيهِ ﴾

د نفخ فی الشراب نه د نهی حدیث نزدې هم تیر شوې دې، دا احادیث خو واضح دی چه د هغې نه معلومیږی چه دا دواړه ادبونه دوه مستقل او ځانله ځانله دینی یعنی یو خو په یو ساه باندې د څکلو نه منع، خو د بعض روایاتو الفاظ لږ ګران دی تاویل ته محتاج دی لکه چه په یو روایت کښې دی کوم چه اکثر کتابونو د صحاح کښې دې چه د هغې الفاظ دا دی ﴿ ان رسول الله ﷺ كان يتنفس فی الاناء ثلاثا ﴾ په دې حدیث سره هم مقصود د راوی تعدد د تنفس بیانول مقصود دې چه رسول الله ﷺ به په درې ساه ګانو باندې اوبه څکلې او د اوبو څکلو ترمینځه به ئې ساه اخستله، دا مطلب نه دې چه په لوښي کښې دننه به ئې ساه اخستله ګینې د نورو احادیثو خلاف به شی، په دې وجه حافظ منذری رحمه الله د دې دواړو احادیثو د ذکر کولو نه پس فرمائی: ﴿ والجمع بينهما ظاهر ﴾

[۳۷۲۹](۲)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ، قَالَ: "جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي فَنَزَلَ عَلَيْهِ، فَقَدَّمَ إِلَيْهِ طَعَامًا، فَذَكَرَ حَيْسًا أَتَاهُ بِهِ، ثُمَّ أَتَاهُ بِشَرَابٍ، فَشَرِبَ فَنَاوَلَ مَنْ عَلَى يَمِينِهِ، وَأَكَلَ تَمْرًا، فَجَعَلَ يُلْقِي النَّوَى عَلَى ظَهْرِ أُصْبُعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى، فَلَمَّا قَامَ قَامَ أَبِي فَأَخَذَ بِلِجَامِ دَابَّتِهِ، فَقَالَ: ادْعُ اللهَ لِي، فَقَالَ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ، وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ".

د عبدالله بن بسر سلیمي نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام زما پلار رخواته تشریف راوړو اودهغه میلمه شو زما پلار ورته خوراك پیش کړو راوی وائی چه حلوائي ورته پیش کړه نبی علیه السلام اوخوړله اوبیا ئې ورته اوبه راوړل هغه ئې هم وڅکلي او دځان نه ښی طرف والا کس ته ئې ورکړي اوبیا ئې کجوروي اوخوړلې اودکجورو زړي به ئې دګوتو په شاګانو باندې غورځول، کله چه دتلو دپاره پاڅیدو نو زما پلارهم پاڅیدو اودنبی علیه السلام د سورلئ واګې ئې ونیولې او عرض ئې وکړو اې دالله رسوله زما دپاره دالله تعالی نه دعا وغواړه، نبی علیه السلام اوفرمائیل اې الله دوی ته برکت ورکړې په هغه څیزکښې کوم چه تادوی ته ورکړې دې او بخښنه وکړې دوی ته اورحم وکړې په دوی باندې.

(۱): سنن الترمذي/ الأشربة ١٥ (١٨٨٨)، سنن ابن ماجه/الأشربة ٢٣ (٣٤٢٩، ٣٤٣٠)، (تحفة الأشراف: ٦١٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٢٠، ٣٠٩، ٣٥٧)، سنن الدارمي/الأشربة ٢٧ (٢١٨٠) (صحيح)

(۲): صحيح مسلم/الأشربة ٢٢ (٢٠٤٢)، سنن الترمذي/الدعوات ١١٨ (٣٥٧٦)، (تحفة الأشراف: ٥٢٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/١٨٨، ١٩٠)، سنن الدارمي/الأطعمة ٢ (٢٠٦٥) (صحيح)

شرح الحديث :

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ – قَالَ جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– إِلَى أَبِي فَنَزَلَ عَلَيْهِ فَقَدَّمَ إِلَيْهِ طَعَامًا الخ ﴾ عبدالله بن بسر رضی الله عنهما فرمائي چه يو کرت رسول الله ﷺ زما پلار ته تشريف راوړلو، زما والد صاحب د هغوی دپاره خوراک راوړلو "حيس" يعنی داسې خوراک کوم چه د کهجورو پنير او کچو نه جوړيږی د دې نه پس ئې ورله د څکلو دپاره اوبه راوړلې چه رسول الله ﷺ اوڅکلې او باقی ئې ښی طرف والا ته ورکړې، د دې نه پس ئې کهجورې اوخوړلې، وړاندې په روايت کښې دی ﴿ فَجَعَلَ يُلْقِي النَّوَى عَلَى ظَهْرِ أُصْبُعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى ﴾ يعنی د کهجورو د خوراک په وخت باندې به ئې د هغې هډوکې د دوه ګوتو سبابه او وسطی په شا باندې کيخودل، يعنی هډوکې به ئې په هغه لوښی کښې نه اچول په کوم کښې چه کهجورې کيخودلې شوې وې چه هډوکی د کهجورو سره ګډوډ نه شی چه د ادب خلاف ده، بيا دا چه د هغه هډوکو سره به ئې څه کول؟ نو جواب دا دې چه غورځول به ئې، يعنی اول ئې د لاس په شا کيخودل او بيا ئې اوغورځول، يعنی رسول الله ﷺ هغه د کهجورو په پليټ کښې څه ايخودل چه د لاس په تلی کښې ئې هم نه کيخودل په د کوم طرف نه چه خوراک کولې شی چه د ډير نظافت خبره ده. كذافي البذل عن فتح الودود بتوضيح.

د دې روايت الفاظ په کتب حديث کښې مختلف دی، د ترمذی په روايت کښې دی (په کتاب الدعوات کښې) ﴿ يلقی النوی باصبعه ﴾ او په مشکوة کښې په روايت د مسلم ﴿ يلقی النوی بين اصبعيه ﴾ دې او په يو روايت کښې ﴿ فجعل يلقی النوی علی ظهر اصبعة ﴾ څنګه چه دلته په ابوداؤد کښې دی، هم په دې وجه د دې مختلفو روايتونو د وجې نه په الکوکب الدری ۲/۳۰۷ کښې د دې جملې په شرح کښې ليکلی دی : ﴿ ای کان يجمع الاصبعين فيضع من فيه النواة علی ظهرهما فيفتح ما بين الاصبعين حتی يسقط النوی من بينهما علی الارض ﴾ يعنی اول به ئې دوه ګوتې يو ځائې کړې او د هغې په شا باندې به ئې هډوکی کيخودل او بيا به ئې هغه ګوتې پرانستلې چه په هغې سره به هغه هډوکی لاندې پريوتل، په دې صورت کښې ﴿ بين الاصبعين ﴾ او ﴿ علی ظهر الاصبعين ﴾ دواړه خبرې اوموندلې شوې. فلله در الشيخ رحمه الله..... په حديث الباب کښې دا هم ذکر دی چه رسول الله ﷺ هغه صحابی رضی الله عنه سره د خوراک کولو نه پس چه کله د واپسئ اراده اوفرمائيله نو هغوی د رسول الله ﷺ نه د دعاء درخواست اوکړو نو رسول الله ﷺ د هغوی دپاره دا دعاء اوکړه ﴿ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ ﴾ چه ډيره مختصر او جامع دعا ده، مونږ او تاسو لره هم په دې باندې عمل کول پکار دی چه د چاکره خوراک اوکړئ نو د هغوی دپاره داسې دعا کوئ.

ايا د رسول الله ﷺ عادت مبارک د خوراک سره د اوبو څکلو وو؟ :

په دې روايت کښې ﴿ فقدم اليه طعاما ﴾ نه پس دی ﴿ ثم اتاه بشراب فشرب ﴾ په دې باندې حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې فرمائی ﴿ هذا نص فی شربه عليه الصلوة والسلام ويخالفه ما قال ابن القيم : لم يكن من هديه ان يشرب علی طعامه فيفسده اه ﴾ يعنی د دې حديث نه د

خوراک سره سره د اوبو څکلو پته لګی ګویا رسول الله ﷺ به د خوراک سره سره اوبه هم څکلې (یا کم از کم داسې اووایه چه هغه وخت کښې رسول الله ﷺ داسې اوکړل) خو حافظ ابن القیم رحمه الله په زاد المعاد کښې د دې خلاف لیکلي دی هغه دا چه د رسول الله ﷺ معمول د خوراک سره د اوبو څکلو نه وو ځکه چه دا ضرری څیز دې. هغوی په زاد المعاد کښې صرف هم دومره لیکلې دی خو د رسول الله ﷺ د دې معمول په ثبوت یا تائید کښې ئې د یو حدیث یا روایت حواله نه ده ورکړې بلکه صرف د دې په تائید کښې ئې د شاعر قول لیکلې دې.[1]

په دې کښې د قدیم طبیبانو د رائې هم د معلومولو ضرورت دې د هغوی رائې په دې باره کښې څه ده مشهوره هم دا د ه چه هغوی په دې کښې د تاخیر شرب قائل دی او دا چه هغه د طعام په هضم کښې مفید دې، زما والد صاحب حکیم محمد ایوب مرحوم مغفور باقاعده طبیب حاذق وو د هغوی معمول خو د خوراک سره د اوبو څکلو وو دغه شان زمونږ د حضرت شیخ هم. د دې حدیث په ظاهر کښې د ترجمة الباب سره هیڅ مناسبت نشته خو ډیر په مشکل سره، مثلا چه داسې اوئیلې شی ﴿ فاتاه بشراب فشرب ﴾ نه مراد دا دې چه رسول الله ﷺ د خپل عادت شریفه مطابق اوبه اوڅکلې او د هغوی عادت شریفه په څکلو کښې عدم النفخ فی الشراب وو. والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری

بَابِ مَا يَقُولُ إِذَا شَرِبَ اللَّبَنَ

د پیو څکلو په وخت کښې د دعا بیانج

[۳۷۳۰] ([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ زَيْدٍ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ حَرْمَلَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كُنْتُ فِي بَيْتِ مَيْمُونَةَ، فَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، فَجَاءُوا بِضَبَّيْنِ مَشْوِيَّيْنِ عَلَى ثُمَامَتَيْنِ، فَتَبَزَّقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ خَالِدٌ: إِخَالُكَ تَقْذُرُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: أَجَلْ، ثُمَّ أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَبَنٍ فَشَرِبَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ، وَإِذَا سُقِيَ لَبَنًا فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ فَإِنَّهُ لَيْسَ شَيْءٌ يُجْزِءُ مِنَ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ إِلَّا اللَّبَنُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا لَفْظُ مُسَدَّدٍ.

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه زه دام الحرمین میرنة رضی الله عنها په کورکښې موجود وم چه نبی علیه السلام دخالد بن ولید سره راغې او په دوه لرګوکښې ورته وریته کړې شوې هوسئ راوړلې شوه نبی علیه السلام چه ولیدله نوتوئې کړل خالد ووئیل داسې معلومیږي چه تا ددې نه نفرت وکړو؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل هو، بیا ورته شوده راوړلې شول نودهغې نه ئې اوڅکل او وئې فرمائیل: کله چه په تاسوکښې یوکس خوراك وکړي نوهغه لره پکاردي چه

---

[1] (هغوی لیکی قال الشاعر:
لا تکن عند اکل سخن وبرد ودخول الحمام تشرب بماء
فاذا ما اجتنبت ذلك حقا لم تخف ما حییت في الجوف داء)

[2]): سنن الترمذي/الدعوات ٥٥ (٣٤٥٥)، (تحفة الأشراف: ٦٢٩٨)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الأطعمة ٣٥ (٣٣٢٢)، مسند احمد (١/٢٢٥)، سنن النسائي/ اليوم والليلة (٢٨٦) (حسن)

دا دعا اووائي: ««اللّهُمَّ بارك لنا فيه وأطعمنا خيرا منه» وإذا قي با قل «اللّهُمَّ بارك لنا فيه وزدنا منه»» بيانبئ ﷺ اوفرمائيل په نعمتونوکښې بل داسې نعمت نشته چه دخوراك اوڅښاك دواړو دپاره كار وركړي. امام ابوداؤد فرمائي چه داد مسدد د روايت الفاظ دي.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُنْتُ فِي بَيْتِ مَيْمُونَةَ فَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَمَعَهُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَجَاءُوا بِضَبَّيْنِ مَشْوِيَّيْنِ عَلَى ثُمَامَتَيْنِ الخ ﴾

شرح الحديث:

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه زه د خپلې ترور ميمونې رضي الله عنها په كور كښې ووم نو رسول الله ﷺ هم هلته تشريف راوړلو هغوی سره خالد بن الوليد رضي الله عنه هم وو پس درسول الله ﷺ د دوؤ ضب يعنی د خادمئ(١) غوښه چه هغه وريته كړې شوې وه، په دوه لرګو باندې كيخودلو سره راوړلې شوه، رسول الله ﷺ هغې ته كتلو سره د نفرت د اظهار په طور لاړې مبارك تهوكړې. په دې باندې خالد رضي الله عنه اوفرمائيل چه تاسو جوړې دا ناخوښه ګنړئ؟ هغوی اوفرمائيل او.

يو اشكال او د هغې جواب:

په بذل كښې د حضرت ګنګوهي رحمه الله د تقرير نه نقل كړې شوې دی چه كله د يو انسان مخې ته د خوراك څكاك يو داسې څيز راوړلې شي د كوم نه چه د هغه نفرت وی نو د هغه كركه پيدا كيږی او د هغې په وجه ئې خوله كښې اوبه راځی، كومې چه هغه تهوكی، هم دغه شان دلته هم شوې دی چه غير اختيارى طور د رسول الله ﷺ په خوله مباركه كښې د كراهت د وجې نه اوبه شان راغلې. اوس ښكاره ده چه د هغې تيرول خو د طبع سليم دپاره ګرانه ده نو هغه به ضرور تهوكلې شی. دا خبره نه ده چه رسول الله ﷺ قصدا د اظهار كراهت دپاره تهوكړې، چه د هغه حديث خلاف شی ﴿ كان لا يذم ذواقا ولا يمدحه ﴾ كما في الشمائل چه رسول الله ﷺ به د خوراك څكاك په څيز كښې نه عيب راويستلو او نه به ئې د هغې زيات تعريف كولو. اهـ او وړاندې په كتاب الاطعمة كښې حديث راروان دې ﴿ ما عاب رسول الله ﷺ طعاما قط، ان اشتهاه اكله وان كرهه تركه ﴾.

د ضب په باره كښې د ائمه اختلاف دې د ائمه ثلاث په نزد بغيرد كراهت نه جائز دې او د احنافو په نزد مكروه دې په كتاب الاطعمه كښې ﴿باب في اكل الضب﴾ مستقل باب راروان دې. وړاندې په حديث كښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه كله سړې د خوراك يو څيز خوری نو هغه له پكار دی چه داسې اوائی: ﴿ اللهم بارك لنا فيه واطعمنا خيرا منه ﴾ او كله چه پئ څكی نو داسې دې وائی ﴿ اللهم بارك لنا فيه وزدنا منه ﴾ او ﴿ واطعمنا خيرا منه ﴾ دې نه وائی ځكه چه د خوراك څكاك په څيزونو كښې د تولو نه غوره پئ دی چه هغه د طعام او شراب دواړو كار كوی. په بذل كښې ليكلې دی چه ګويا پئ هم په دې حيثيت سره فوقيت

(١) دا د سمساره په شكل يو ځناور دې چه په دښتو او صحراګانو كښې په زمكه كښې اوسيږی، د سمساره نه وړوكې وی او د كربوړی يعنی چرمخكئ نه غټ وی، حكيمان ددې غوړی په دوايانو كښې استعمالوی. (مترجم)

لرې په غوښه باندې، اګر چه د غوښې دپاره نورې خوبیانې دی چه د هغې په وجه هغې ته سید الطعام وائی. والحدیث اخرجه الترمذی وقال حسن، قاله المنذری.

بَاب فِي إِيكَاءِ الآنِيَةِ

د لوښو د سرونو د پټولو بيان

یعنی د لوښو خوله بنده ساتل او که مشک وی نو د هغې خوله په مزی وغیره باندې تړل او پرانستلې نه پریخودل خصوصا د شپې په وخت.

[۳۷۳۱](۱)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَغْلِقْ بَابَكَ وَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا، وَأَطْفِ مِصْبَاحَكَ وَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ، وَخَمِّرْ إِنَاءَكَ وَلَوْ بِعُودٍ تَعْرُضُهُ عَلَيْهِ وَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ، وَأَوْكِ سِقَاءَكَ وَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبي کریم ﷺ فرمائیلي دي: خپله دروازه بنده ساته اودالله نوم یادکړه، یقینا شیطان بندې دروازې نشي بیرته کولې اوخپله ډیوه هم بله مه پرېږده اودالله نوم اخله اودلوخوسرونه پټوه اګر که په لرګي وي اوداوبو په لوخي باندې سرایخودلي ساته او د الله نوم یادوه.

په حدیث الباب کښې دی چه د شپې دروازه بسم الله لوستلو سره بندوئ، ځکه چه شیطان بنده دروازه نه شي پرانستلې، او هم دغه شان بسم الله لوستلو سره ډیوه مړه کوئ، او هم دغه شان د الله پاک نوم اخستلو سره لوښې پټوئ اګر چه د یو لرګی په ذریعه وی کوم چه تاسو په دې لوښی باندې په پلن والی کیږدئ او هم دغه شان د مشک خوله هم تړئ دغه شان په روستو روایت کښې هم راروان دی چه شیطان ته د دې خبرې طاقت نه دې ورکړې شوې چه هغه بنده دروازه پرانستلې شی یعنی کومه چه په بسم الله وئیلو سره بنده کړې شوې وی، او هم دغه شان نه هغه غوټه پرانستلې شی او نه پټ کړې لوښې. او د ډیوې د مړې کولو حکمت رسول الله ﷺ دا بیان کړو چه ډیر کرته فویسقه یعنی مږه د خلقو په کور کښې اور لګوی یعنی د شپې که بله ډیوه پریخودلې شی نو کیدې شی چه مږه د بلې ډیوې باتې د تیلو په لالچ کښې راښکلو سره یو ځائې ته یوسی او بیا د هغې نه اور اولګی.

[۳۷۳۲](۲)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْخَبَرِ وَلَيْسَ بِتَمَامِهِ، قَالَ: فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا غَلَقًا، وَلَا يَحُلُّ وِكَاءً، وَلَا يَكْشِفُ إِنَاءً، وَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ تُضْرِمُ عَلَى النَّاسِ بَيْتَهُمْ أَوْ بُيُوتَهُمْ.

جابر بن عبدالله رضی الله عنهما دنبی علیه السلام نه دتیرشوی روایت په شان روایت نقل کړې دي او پوره په پوره ئې نه دی بیان کړې مګردا اضافه ئې پکښې کړې ده چه شیطان بنده دروازه نه بیرته کوي اونه بند مشک بیرته کوي اونه بند لوخي بیرته کوي (اودچراغ بل پاتې کیدو په وجه منږکار دختر کورونه سوزوي.

(۱): صحیح البخاري/الأشربة ۲۲ (۵۶۲۳)، صحیح مسلم/الأشربة ۱۲ (۲۰۱۲)، (تحفة الأشراف: ۲۴۴۶)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأدب ۷۴ (۲۸۵۷)، سنن ابن ماجه/الأشربة ۱۶ (۳۴۱۰)، والأدب ۴۶ (۳۷۷۱)، مسند احمد (۳/۳۵۵) (صحیح)

(۲): صحیح مسلم/الأشربة ۱۲ (۲۰۱۲)، سنن الترمذي/الأطعمة ۱۵ (۱۸۱۲)، (تحفة الأشراف: ۲۹۳۴) (صحیح)

په دې حدیث کښې دا راغلي دي چه بنده دروازه شیطان نه شي پرانستلې، خو سوال دا دې چه پورته صحن چه آزاد دې کوم چه بندیدې نشی، په هغه ځائې خو راتلې شی د دې جواب دا دې چه په جامع الصغیر کښې په روایت د امام احمد رحمه الله دا زیادت دې ﴿ انهم لم یوذن لهم فی التسور ﴾ چه شیطانانو ته په دیوال باندې راوختلو سره د راتلو اجازت نشته، که راځي نو صرف په دروازه به راځي.

حدیث جابر رضی الله عنه الاول اخرجه البخاری ومسلم، والنسائی، وحدیث الثانی اخرجه مسلم والترمذی وابن ماجه، قاله المنذری.

او هم په دې حدیث د جابر رضی الله عنه په دریم طریق کښې دا زیادت راروان دې چه خپل وارۀ ماشومان مابنام کښې سنبهال ساتئ بهر ته ئې مه پریږدئ، ځکه چه د مابنام په وخت د جناتو انتشار وی هغوی شرارت کوی او اوچتول کوی.

[۳۷۳۳](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَفُضَيْلُ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ السُّكَّرِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ شِنْظِيرٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، رَفَعَهُ، قَالَ: "وَاكْفِتُوا صِبْيَانَكُمْ عِنْدَ الْعِشَاءِ"، وَقَالَ مُسَدَّدٌ: عِنْدَ الْمَسَاءِ فَإِنَّ لِلْجِنِّ انْتِشَارًا وَخَطْفَةً.

د جابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: د ماخوستن په وخت کښې خپل ماشومان دخپل ځان سره کینوئ او د مسدد په روایت کښې دعشاء په ځائې باندې لفظ منقول دې (یعنی دمابنام په وخت کښې ماشومان بهر ګرځیدو ته مه پریږدئ ځکه چه په دې وخت کښې شیطانان راخوریږي.

د دې خبرې اهتمام مونږ په خپل ورکوالی کښې کتلې دې چه د کور زړو زنانو به د مابنامي بهر ته دوتلو نه منع کوله. او د دې نه روستو روایت کښې دی چه یو کرت رسول الله صلی الله علیه وسلم اوبه طلب کړې نو یو سړې په منډه منډه راغلو او په یو پیاله کښې ئې نبیذ راوړل، دې سړی دا پیاله هم داسې پرانستلې راوړې وه. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: ﴿ الا خمرته ولو ان تعرض علیه عودا ﴾ چه تا دا پټه ولې نه کړه اګر که یو لرګې دې پرې کیخودلې وې.

والحدیث الثالث سکت عنه المنذری، واخرجه البخاری فی مواضع، والترمذی، ومسلم، وابن ماجه، قاله الشیخ محمد عوامه. والحدیث الرابع اخرجه البخاری ومسلم بنحوه من حدیث ابی صالح وابی سفیان طلحة بن نافع عن جابر، واخرجه مسلم ایضا من حدیث ابی صالح وحده، قاله المنذری.

[۳۷۳٤](٢)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاسْتَسْقَى، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: أَلَا نَسْقِيكَ نَبِيذًا؟ قَالَ: بَلَى، قَالَ: فَخَرَجَ الرَّجُلُ يَشْتَدُّ، فَجَاءَ بِقَدَحٍ فِيهِ نَبِيذٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَا خَمَّرْتَهُ وَلَوْ أَنْ تَعْرِضَ عَلَيْهِ عُودًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ الْأَصْمَعِيُّ: تَعْرِضُهُ عَلَيْهِ.

١): صحيح البخاري/بدء الخلق ١٦ (٣٣١٦)، الاستئذان ٤٩ (٦٢٩٥)، سنن الترمذي/الأدب ٧٤ (٢٨٥٧)، (تحفة الأشراف: ٢٤٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٨٨) (صحيح)

٢): صحيح البخاري/الأشربة ١٢ (٥٦٠٦)، صحيح مسلم/الأشربة ١٢ (٢٠١١)، (تحفة الأشراف: ٢٢٣٣) (صحيح)

دجابر رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه مونږ دنبی کریم ﷺ سره موجود ووچه اوبه ئي اوغوښتلي نوپه خلقو کښې یوکس ووئیل آیا نبیذ درته رانوړو؟ نبی ﷺ اوفرمائیل ولي نه راوی وائی چه بیادغه کس روان شو په تیزۍ سره او په یولوخي کښې ئې نبیذ راوړل، نبی ﷺ اوفرمائیل سردي ورله ولي نه پټولوکم ازکم بولړګي خوبه دي ورباندې ایخودلي وو. امام بوداود فرمائی چه داصمعي دا الفاظ بیان کړي دي: تعرضه علیه.

[۳۷۳۵]([1])حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُسْتَعْذَبُ لَهُ الْمَاءُ مِنْ بُيُوتِ السُّقْيَا"، قَالَ قُتَيْبَةُ: عَيْنٌ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْمَدِينَةِ يَوْمَانِ.

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه دنبی ﷺ دپاره به دسقیانوي خوږې چینې نه اوبه راوړلې شوې، قتیبه وئیلی دی چه دا یوه چینه وه چه دمدینې نه ددوه ورځو په مزل لرې وه.

﴿عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– كَانَ يُسْتَعْذَبُ لَهُ الْمَاءُ مِنْ بُيُوتِ السُّقْيَا﴾ د دې حدیث حواله او مضمون هم په باب الکرع کښې تیر شوې دي.

آخر کتاب الاشربة

وهوآخر مـا اردت ایراده فی هذا الجزء وهو الجزء الخامس من الدر المنضود، وقد شرعت فیه العشرة الاخیرة من شهر رمضان ۱٤۲۳هـ الذی هو شهر الصبر والغفران الذی انزل فیه القرآن، فی المدینة المنورة ([2]) علی صاحبها الف الف تحیة وسلام، وقد کنت نازلا فی العوالی فی بیت حبیب الله قربان علی المظاهری، وهو الذی اعاننی فی جمع المواد والاملاء والتحریر حسب اعانته فی الجزء الرابع فجزاه الله تعالی وسائر من اعاننی فی هذا التالیف احسن الجزاء وانا ارجو من لطف الله تعالی وکرمه ان یتم هذا الشرح فی ستة اجزاء فکانه بقی جزء واحد، واسال الله سبحانه وتعالی السداد والتوفیق لما یحب ویرضی وان یکمل هذا الشرح ویجعله خالصا لوجهه الکریم ولا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم وصلی الله تعالی علی خیر خلقه سیدنا ومولانا محمد واله وصحبه اجمعین. آمین.

محمد عاقل عفا الله عنه

....

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٧٠٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١٠٠، ١٠٨) (صحيح)

[2]: الا ثلثة احاديث من الباب الاخير فاني كتبتها بعد الرجوع الي الهند في سهارنفور)

كِتَابُ الأَطْعِمَةِ

دخوراک د څيزونو د احکامو بيان

بَابُ مَا جَاءَ فِي إِجَابَةِ الدَّعْوَةِ

د دعوت قبلولو بيان

[۳۷۳۶]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا".

دابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی کله چه ستاسو يو کس ته دوليمې دعوت ورکړې شي نو پکار ده چه ورته ورشي.

[۳۷۳۷]()حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ، زَادَ: فَإِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ، وَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيَدْعُ.

دابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی : باقی دتيرشوی روايت په شان مگر په دې کښې دا زيادت دې چه که چرې غير روزه دار وي نو خوراك دې وکړي اوكه چرې روزه دار وي نو خوراك كول دې پريږدي.

قوله:﴿ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا ﴾ او هم د دې حديث په دويم طريق کښې دا دی ﴿فَإِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ وَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيَدْعُ ﴾ چه کله په تاسو کښې څوک په وليمه کښې راطلب کړې شي نو هلته دې لاړ شي، پس كه روزه ئې نه وی نو خوراک دې اوکړي، او که روزه ئې وی نو د دعوت ورکونکی دپاره دې دعا اوکړي. په دې صورت کښې به ﴿ فليدع ﴾ د امر صيغه وی د دعا يدعو نه، او دا هم احتمال دې چه دا لفظ ﴿فليدع ﴾ د ودع يدع نه وی يعنی خوارک دې پريږدی.

د کتاب الصلوة په شروع کښې تير شوې دی چه په يو روايت کښې داسې دی ﴿ وان كان صائما فليصل ﴾ او په يو بل روايت کښې دی ﴿فليجب ﴾ او په بل روايت کښې دی ﴿ وان كان صائما فليقل انی صائم ﴾ په دې دواړو روايتونو کښې په ظاهره تعارض دې په دې باندې کلام په کتاب الصوم کښې تير شوې دې، د هغې طرف ته دې رجوع اوکړې شی.

د وليمې متعلق درې فوائد :

په دې حديث کښې دوه مسئلې دی يو حکم د وليمې، دويم دعوت قبلول د وليمې، دريم څيز د وليمې تعريف او نور څيزونه د ميلمستوب او د هغې نومونه په كتاب النكاح کښې په ﴿ باب قلة المهر ﴾ کښې د ﴿ اولم ولو بشاة الحديث ﴾ د لاندې د وليمې حکم تير شوې دې چه اهل الظواهر د هغې د وجوب قائل دی او هم دا يو روايت د ائمه ثلاثه نه دې خو په

[1]: صحيح البخاري/النكاح ٧١ (٥١٧٣)، صحيح مسلم/النكاح ١٦ (١٤٢٩)، (تحفة الأشراف: ٨٣٣٩، ٧٩٤٩)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/النكاح ٢٥ (١٩١٤)، موطا امام مالك/النكاح ٢١ (٤٩)، مسند احمد (٢/٢٠)، سنن الدارمي/الأطعمة ٤٠ (٢١٢٧)، النكاح ٢٣ (٢٢٥١) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٨٧١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٧/٢) (صحيح)

مشهور قول کښې ولیمه د ائمه اربعه په نزد سنت ده وړاندې یو مستقل باب راروان دې ﴿استحباب الولیمة﴾ او د اجابت ولیمه په باره کښې روایات مختلف دی، قیل مستحبة، وقیل واجبة وقیل فرض کفایة.([1])

د اجابت دعوت په باره کښې نور اختلاف په وړاندې حدیث کښې هم راروان دې خو وجوب د اجابت د دعوت په اعتبار سره دې د خوراک کولو په اعتبار سره نه دې هغه بیا هم مستحب دې واجب نه دې. پس وړاندې په روایت کښې راځی ﴿من دعی فلیجب فان شاء طعم وان شاء ترک﴾ دریم خیز یعنی د ولیمې تعریف : ولیمه د هغه خوراک نوم دې چه د عرس یعنی د وادهٔ په موقع باندې تیار کړې شی، دا د ولم نه اخستلې شوې دې چه د هغې معنی جمع ده دا خوراک چونکه د زوجینو د اجتماع یعنی د رخصت کیدو نه پس وی هم په دې وجه دې ته ولیمه وائی([2]).

﴿د ضیافت اقسام﴾

علماء کرامو لیکلی دی چه د ضیافت اته قسمونه دی. ۱: الولیمة للعرس، ۲: والخرس بضم الخاء المعجمة ویقال بالصاد المهملة ایضا للولادة یعنی د ماشوم د پیدا کیدو په موقع باندې چه کوم دعوت اوکړې شی، ۳: والاعذار بکسر الهمزة والعین المهملة والذال المعجمة للختان د ماشوم د سنت په وخت چه کوم دعوت کولې شی. ٤: والوکیرة للبناء یعنی د نوې کور د تعمیر په وخت چه کوم دعوت اوکړې شی، ٥: والنقیعة لقدوم المسافر ماخوذة من النقع وهو الغبار یعنی هغه دعوت چه سړې ئې د سفر نه په خیریت سره واپس کیدو باندې کوی د خپل طرف نه، یا د بل د طرف نه د هغه دپاره اوکړې شی، وړاندې د دې مستقل باب راروان دې، ٦:والعقیقة یوم سابع الولادة، ۷: والوضیمة بفتح الواو وکسر الضاد المعجمة....... الطعام عند المصیبة.... خو دا قسم ضیافت په اسلام کښې جائز نه دې، ۸: والمادبة بضم الدال وفتحها مطلق هغه ضیافت چه بغیر د څه خاص سبب نه اوکړې شی. د دې نه پس حافظ فرمائی چه په دې مشهورو قسمونو کښې یو قسم بل هم باقی پاتې شو یعنی ۹: حذاق بکسر المهملة وتخفیف الذال المعجمة الطعام الذی یتخذ عند حذق الصبی.... یعنی هغه خوراک او دعوت کوم چه د یو ماشوم په حذاقت باندې یعنی د هغه په عقل مند کیدو باندې اوکړې شی او دا هم وئیلې شوی دی چه دا هغه دعوت دې کوم چه د ماشوم په ختم القرآن باندې اوکړې شی یا د هغه د څه صناعت په تکمیل یا کامیابئ باندې اوکړې شی. اهـ من تحفة الاحوذی ۱۶۰/۳.

---

[1]) وترجم البخاري باب حق اجابة الولیمة قال الحافظ یشیر الي وجوب الاجابة وقد نقل ابن عبدالبر ثم عیاض ثم النووي الاتفاق علي القول بوجوب الاجابة لولیمة العرس، وفیه نظر، نعم المشهور من اقوال العلماء الوجوب، وصرح جمهور الشافعیة والحنابلة بانها فرض عین، ونص علیه مالك، وعن بعض الشافعیة والحنابلة انها مستحبة، وذکر اللخمي من المالکیة انه المذهب، وکلام صاحب الهدایة یقتضي الوجوب مع تصریحه بانها سنة، فکانه اراد انها وجبت بالسنة ولیست فرضا کما عرف من قاعدتهم وعن بعض الشافعیة والحنابلة هي فرض کفایة اهـمن الابواب والتراجم ۲٤۰/٥)

[2]) وفي البذل : ویجوز ان یولم بعد النکاح او بعد الرخصة او بعد ان یبني بها والثالث هو الاولي)

[۳۷۳۸]( )حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُجِبْ عُرْسًا كَانَ أَوْ نَحْوَهُ".

د ابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روايت دي فرمائي چه نبی ﷺ فرمائيلي دی کله چه په تاسو کښې ستاسو يو مسلمان ورور چاته دعوت ورکړي نوهغه دي قبول کړي برابره خبره ده چه دوليمې دعوت وي يادوليې په شان کوم بل يو تقريب وي.

[۳۷۳۹]( )حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُصَفَّى، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنَا الزُّبَيْدِيُّ، عَنْ نَافِعٍ بِإِسْنَادِ أَيُّوبَ وَمَعْنَاهُ.

نافع دايوب په سند سره دايوب د روايت په شان روايت بيان کړې دې.

﴿إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُجِبْ عُرْسًا كَانَ أَوْ نَحْوَهُ﴾

د اجابت دعوت حکم شرعي:

د دې حديث نه په ظاهر کښې مطلق د دعوت اجابت وجوب په فهم کښې راځي، هم دغه شان د دې نه روستو روايت کښې ﴿ من دعی فلم يجب فقد عصی الله ورسوله ﴾ خو امام خطابي رحمه الله فرمائي چه دا احاديث به هم په وليمه باندې محمول کولې شي، د نورو دعوتونو دا حال نه دې، د وليمې د خصوصيت وجه لامر النبی ﷺ بها ولما فی اتيان الوليمة من اعلان النکاح... امام نووی رحمه الله د قاضی عياض رحمه الله نه د وليمې نه علاوه د نورو دعوتونو په باره کښې د جمهورو مسلک عدم وجوب نقل کړې دې، په خلاف د اهل ظاهر او د بعض سلفو چه د هغوی په نزد د هر دعوت اجابت واجب دې. (عون)

حديث ابن عمر رضي الله عنه الاول اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، وحديث الثانی اخرجه مسلم وابن ماجه وحديث الثالث اخرجه مسلم، وحديث جابر رضي الله عنه اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

[۳۷۴۰]( )حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ دُعِيَ فَلْيُجِبْ، فَإِنْ شَاءَ طَعِمَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ".

د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی چاته چه دعوت ورکړې شي نوهغه دې قبول کړي دده خوښه ده چه خوراك کوي او که خوراك نه کوي.

[۳۷۴۱]( )حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا دُرُسْتُ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ أَبَانَ بْنِ طَارِقٍ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ دُعِيَ فَلَمْ يُجِبْ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ، وَمَنْ دَخَلَ عَلَى غَيْرِ دَعْوَةٍ دَخَلَ سَارِقًا وَخَرَجَ مُغِيرًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبَانُ بْنُ طَارِقٍ مَجْهُولٌ.

د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی ﷺ فرمائيلي دی چاته چه دعوت ورکړې شي او قبول ئې نکړي نوده دالله اودالله درسول نافرماني وکړه، او څوك چه بغير

[1]: صحيح مسلم/النكاح ١٦ (١٤٢٩)، (تحفة الأشراف: ٧٥٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦٨/٢، ١٠١، ١٢٧، ١٤٦) (صحيح)
[2]: صحيح مسلم/النكاح ١٦ (١٤٢٩)، (تحفة الأشراف: ٨٤٤٢)
[3]: صحيح مسلم/النكاح ١٦ (١٤٣٠)، (تحفة الأشراف: ٢٧٤٣)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصيام ٤٧ (١٧٥١)، مسند احمد (٣٩٢/٣) (صحيح)
[4]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٤٦٩) (ضعيف)

بلني يو دعوت ته ورشي نو دې يرغل دې چه دغه كورته ورداخل شو او دلوت ماركولو نه پس به راواپس شي، امام ابوداؤد وئيلى دي ابان بن طارق مجهول راوى دې۔

د ابن عمر رضي الله عنهما د حديث په يو طريق كښې دا هم دى ﴿ ومن دخل على غير دعوة دخل سارقا وخرج مغيرا ﴾ په سرقه كښې چونكه د اخفاء معنى ده او بغير د راغوښتلو نه چونكه په پټه باندې داخليږى په دې وجه هغه ته سارق اوئيلې شو، او د داخليدو نه پس چه كله هغه د ټولو سره خوراك اوكړو نو اوس چونكه د هغه پرده ختم شوه ټولو هغه اوليدو په دې وجه هغه ته مغير اوئيلې شو يعنى غاصب، لوټ ماركونكې.

د دې نه روستو په حديث د ابوهريره رضي الله عنه كښې هم موقوفا راروان دى كوم چه د مسلم په روايت كښې مرفوعا دى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : بدترين خوراك د هغه وليمې خوراك دې چه په هغې كښې صرف مالدارو ته دعوت وركړې شى او فقيران پريخودلې شى.

[٣٧٤٢](١)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: "شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ يُدْعَى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْمَسَاكِينُ، وَمَنْ لَمْ يَأْتِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ".

اعرج د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت كوى فرمائى چه ابوهرير هند به وئيل دهغې وليې طعام په ټولو طعامونو كښې ډير بدترين دې كوي ته چه مالداره خلق رابللى شي او مسكينان پريخودلې شي، او څوك چه دعوت قبول نكړي نو ده دالله اودرسول نافرمانى وكړه.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجه موقوفا ايضا، واخرجه مسلم من حديث ثابت بن عياض عن ابى هريرة رضي الله عنه مسندا، قاله المنذري.

بَابٌ فِي اسْتِحْبَابِ الْوَلِيمَةِ عِنْدَ النِّكَاحِ

د نكاح په وخت كښې د وليمې كولو د استحباب بيان

[٣٧٤٣](٢)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، قَالَ: "ذُكِرَ تَزْوِيجُ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ عِنْدَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، فَقَالَ: مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلَمَ عَلَى أَحَدٍ مِنْ نِسَائِهِ مَا أَوْلَمَ عَلَيْهَا أَوْلَمَ بِشَاةٍ".

د حماد بن ثابت نه روايت دې فرمائى چه دانس بن مالك په وړاندې دزينب بنت جحش دنكاح ذكر وشو هغه اوفرمائيل نبى عليه السلام دازواجو مطهراتو په نكاح داسې وليمه نه ده كړې څنګه چه ئې دزينب په نكاح كښې كړې وه نبى عليه السلام دزينب په نكاح كښې په يوه چيلۍ باندې وليمه كړې وه.

قوله: ﴿عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ فَقَالَ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَوْلَمَ عَلَى أَحَدٍ مِنْ نِسَائِهِ مَا أَوْلَمَ عَلَيْهَا أَوْلَمَ بِشَاةٍ ﴾

يعنى په څومره اهتمام سره چه رسول الله ﷺ د زينب بنت جحش رضي الله عنها وليمه كړې وه

(١): صحيح البخاري/ النكاح ٧٣ (٥١٧٧)، صحيح مسلم/النكاح ١٦ (١٤٣٢)، سنن ابن ماجه/النكاح ٢٥ (١٩١٣)، (٢١١٠)، (تحفة الأشراف: ١٣٩٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٤٠)، سنن الدارمي/الأطعمة ٢٨ (٢١١٠) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/النكاح ٦٨ (٥١٦٨)، صحيح مسلم/النكاح ١٣ (١٤٢٨)، سنن النسائي/الكبرى ٤ (٦٦٠٢)، سنن ابن ماجه/النكاح ٢٤ (١٩٠٨)، (تحفة الأشراف: ٢٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٢٢٧) (صحيح)

داسې ئې د چا په نکاح باندې هم نه وه کړې وړاندې د هغې بیان دې چه رسول الله ﷺ بیزه ذبح کړې وه، او د دې نه روستو روایت کښې دی ﴿ اولم علی صفیة بسویق وتمر ﴾ چه د صفیه رضی الله عنها په ولیمه کښې ئې په ستوانو او کهجورو سره د ولیمې دعوت اوکړو. په دې تقابل سره د زینب رضی الله عنها د ولیمې فوقیت په فهم کښې راځي.

[٣٧٤٤](١)حَدَّثَنَا حَامِدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا وَائِلُ بْنُ دَاوُدَ، عَنِ ابْنِهِ بَكْرِ بْنِ وَائِلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَوْلَمَ عَلَى صَفِيَّةَ بِسَوِيقٍ وَتَمْرٍ".

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام چه کله دصفیه رضی الله عنها په نکاح کښې ولیمه کوله نو په ستوانو اوکجوروباندې ئې کړې وه.

حديث الباب الاول اخرجه البخارى ومسلم والنسائى وابن ماجه بنحوه، والحديث الثانى اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجة، وقال الترمذى : غريب، قاله المنذرى.

بَابُ الإِطْعَامِ عِنْدَ الْقُدُومِ مِنَ السَّفَرِ

د سفر نه د واپسئ په وخت کښې د خوراک صدقه کولو بیان

[٣٧٤٧](٢)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ نَحَرَ جَزُورًا أَوْ بَقَرَةً".

ترجمه:دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه هرکله نبی علیه السلام مدینې ته راغې نویواوښ یا غوائې ذبح کړه.

قوله:﴿ عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ نَحَرَ جَزُورًا أَوْ بَقَرَةً ﴾

چه کله رسول الله ﷺ د سفر نه په واپسئ باندې مدینې طیبې ته راورسیدلو (لعله من سفر غزوة تبوک کذا فی البذل) نو رسول الله ﷺ یو اوښ یا غوا ذبح کړه، د دې دعوت نوم نقیعه دې کما تقدم قریبا فی انواع الضیافة.

سکت علیه المنذری، وعزاه المزی الی البخاری وهوفیه (٣٠٨٩) من روایة وکیع، به، قاله عوامة.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الضِّيَافَةِ

باب د میلمستیا ورکولو بیان

[٣٧٤٨](٣)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ جَائِزَتُهُ يَوْمُهُ وَلَيْلَتُهُ الضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ وَمَا بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ، وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَثْوِيَ عِنْدَهُ حَتَّى يُحْرِجَهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قُرِئَ عَلَى الْحَارِثِ بْنِ مِسْكِينٍ وَأَنَا

---

[1]): سنن الترمذي/النكاح ١٠ (١٠٩٥)، سنن النسائي/النكاح ٧٩ (٣٣٨٤)، سنن ابن ماجه/النكاح ٢٤ (١٩٠٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٢)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/النكاح ١٤ (١٣٦٥)، الجهاد ٤٣ (١٣٦٥) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/الجهاد ١٩٩، ٣٠٨٩)، (تحفة الأشراف: ٢٥٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٩٩/٣، ٣٠٢، ٣١٩، ٣٦٣) (صحيح الإسناد)

[3]): صحيح البخاري/الأدب ٣١ (٦٠١٩)، ٨٥ (٦١٣٥)، الرقاق ٢٣ (٦٤٧٦)، صحيح مسلم/الإيمان ١٩ (٤٨)، سنن الترمذي/البر والصلة ٤٣ (١٩٦٧)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥ (٣٦٧٥)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٥٦)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صفة النبي ﷺ ١٠ (٢٢) مسند احمد (٣١/٤، ٣٨٤/٦، ٣٨٥)، سنن الدارمي/الأطعمة ١١ (٢٠٧٨) (صحيح)

شَاهِدٌ، أَخْبَرَكُمْ أَشْهَبُ، قَالَ: وَسُئِلَ مَالِكٌ عَنْ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: جَائِزَتُهُ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ؟ فَقَالَ: يُكْرِمُهُ، وَيُتْحِفُهُ، وَيَحْفَظُهُ، يَوْمًا وَلَيْلَةً وَثَلَاثَةُ أَيَّامٍ ضِيَافَةٌ.

د ابوشریحه رضي الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی عليه السلام به فرمائیل دچاچه په الله تعالی اوپه ورځ داخرت ایمان وي نوهغه لره پکاردي چه دخپل میلمه په بهتري طریقي سره عزت وکړي، اودمیلمه جائزه یوه ورځ اویوه شپه ده او میلمستیا د درې ورځو اودرې شپو پورې وي اوددینه پس صدقه ده اودمیلمه دپاره حلال نه دي چه په زیات اوسیدلو سره کوربه ته تکلیف ورسوي.ابوداؤد وائي: حادث بن مسکین ته اولوستلې شو او زه موجود ووم چه اشهب هغوی ته خبر ورکړې دې، ابوداؤد وائي: د امام مالک رحمه الله نه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددې فرمان «جائزته یوم ولیلة» باره کښې تپوس اوشو نو هغوی اووئیل: ددې مطلب دادې چه کوربه دې یوه ورځ او یوه شپه دهغه عزت اواکرام اوکړي، تحفې او هدیې دې ورکوي،اودهغه حفاظت دې کوي او درې ورځو پورې دې ورله ملمستیا کوي.

شرح الحدیث :

قوله: ﴿ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ جَائِزَتُهُ يَوْمُهُ وَلَيْلَتُهُ ﴾

کوم سړې ایمان لرې په الله پاک او د آخرت په ورځ باندې نو هغه له پکار دی چه ورکړی خپله میلمه ته د هغه جائزه د یوې ورځې او د یوې شپې، د جائزه په تفسیر کښې درې اقوال مشهور دی چه په هغې کښې یو قول امام مالک رحمه الله د جائزه په تفسیر کښې دا فرمائیلي دې چه یو ورځ او یو شپه دې د میلمه ښه خیال اوساتلې شی، د هغه دپاره دې په خوراک کښې د وس مناسب تکلف اوکړې شی، او په باقی درې ورځو کښې دې صرف میلمستیا د ما حضر اوکړې شي. او دویم تفسیر دا دې چه د میلمه دپاره د هغه د واپسئ په وخت د یوې شپې خوراک د هغه سره کړې شی، او دریم تفسیر دا کړې شوې دې چه د میلمه دوه قسمونه دی یو هغه چه قصدا د چا د ملاقات دپاره لاړ شي او دویم هغه چه ضمنا په لاره کښې د چا سره د ملاقات کولو دپاره لاړ شي او تلل بل خوا مقصود وی، د میلمه د اول قسم دپاره حق د میلمستیا درې ورځې دې او د دې دویم قسم دپاره حق د میلمستیا صرف یوه ورځ دې. (کذافی هامش المذل)

د دې نه پس په حدیث کښې دی چه د میلمه د میلمستیا حق صرف درې ورځې دې د دې نه پس که هغه ایساریږی نو د د کوربه د طرف نه تبرع او صدقه ده، او دا چه د هغوی دپاره جائز ده چه د چا سره دومره ایسار شی چه په هغې سره ملیمه په تنګسیا کښې اخته شی، د حدیث الباب نه معلومه شوه چه د میلمه میلمستوب کول د ایمان بالله وبالیوم الاخر د مقتضیاتو نه دې چه د هغې نه د دې ډیر لوئې اهمیت فهمیږی هم په دې وجه علماء کرام فرمائی چه میلمستوب د شریعت د محاسنو او د ښکلې اخلاقو نه دې، او د بعض علماء کرامو په نزد لکه لیث بن سعد په نزد خو کم از کم د یوې شپې میلمستیا واجب منلې ده.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی وابن ماجه، قاله المنذری

[٣٧٤٩]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ مَحْبُوبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ فَمَا سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ".

ابوهریره ﷺ وائی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: ملمستیا درې ورځو پورې ده، اوکوم چه ددې نه علاوه وی هغه صدقه ده.

بَابٌ فِي كَمْ تُسْتَحَبُّ الْوَلِيمَةُ

دولیمې دعوت د څو ورځو پورې پکار دې؟

[٣٧٤٥]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ الثَّقَفِيِّ، عَنْ رَجُلٍ أَعْوَرَ مِنْ ثَقِيفٍ كَانَ يُقَالُ لَهُ مَعْرُوفًا أَيْ يُثْنِي عَلَيْهِ خَيْرًا إِنْ لَمْ يَكُنِ اسْمُهُ زُهَيْرُ بْنُ عُثْمَانَ فَلَا أَدْرِي مَا اسْمُهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْوَلِيمَةُ أَوَّلَ يَوْمٍ حَقٌّ، وَالثَّانِيَ مَعْرُوفٌ، وَالْيَوْمَ الثَّالِثَ سُمْعَةٌ وَرِيَاءٌ"، قَالَ قَتَادَةُ: وَحَدَّثَنِي رَجُلٌ: أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ دُعِيَ أَوَّلَ يَوْمٍ فَأَجَابَ، وَدُعِيَ الْيَوْمَ الثَّانِيَ فَأَجَابَ، وَدُعِيَ الْيَوْمَ الثَّالِثَ فَلَمْ يُجِبْ، وَقَالَ: أَهْلُ سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ.

دعبدالله بن عثمان ثقفي نه روایت دې فرمائی چه ماد قبیله ثقیف دیوکوړ سترګي کس نه آوریدلی دی څوك چه په معروف باندې مشهور وو كه چرې دده نوم عثمان بن زهیرنه وي نوبیا ماته معلومه نه ده چه دده څه نوم دې هغه به وئیل چه نبی ﷺ فرمائیلی دی دولیمې داولنۍ ورځې خوراك حق دې اود دوېمې ورځې خوراك نیکي ده اود دریمې ورځې خوراك ریاکاري او نمائش دې، ابوقتاده وائی ماته یوکس وئیلی دی چه سعید بن مسیب ته چه کله دولیمې په اوله ورځ دعوت ورکړې شو نوقبول ئې کړو او په دویمه ورځ ئې هم قبول کړو، خو البته په دریمه ورځ ئې قبول نکړو او وئې فرمائیل چه داخلق ریاکاران دي.

یعنی دعوت ولیمه څومره ورځې مستحب دي؟ په حدیث الباب کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ الْوَلِيمَةُ أَوَّلَ يَوْمٍ حَقٌّ وَالثَّانِي مَعْرُوفٌ وَالْيَوْمُ الثَّالِثُ سُمْعَةٌ وَرِيَاءٌ ﴾ چه ولیمه د ړومبۍ ورځې حق ده یعنی ثابته او سنت موکده، او د دویمې ورځې هغه ښه کار دې یعنی صرف مستحب ده غیر موکد.....او په دریمه ورځ ثابت نه ده بلکه شهرت طلب کول او ریاکاری ده.

وراندې په روایت کښې دی چه د سعید بن المسیب رحمه الله د ولیمې په ړومبۍ ورځ باندې دعوت اوکړې شو نو هغوی هغه منظور کړو او په دویمه ورځ ئې هم منظور کړو، او په دریمه ورځ چه دعوت کونکې راغلو نو هغوی منظوره نه کړه بلکه قاصد ئې په کاڼړې ویشتلو او وې فرمائیل: ریا کار دې.

د ولیمې دعوت تر څو ورځو پورې کول مستحب دی:

د جمهورو په نزد لکه څنګه چه په حدیث الباب کښې دی ولیمه صرف دوه ورځې ده، او د امام مالک رحمه الله په نزد اووۀ ورځې ده والیه میل البخاری، پس هغوی په خپل صحیح کښې ترجمه قائم کړې ده ﴿ باب حق اجابة الولیمة ومن اولم بسبعة ایام ونحوه ولم یوقت النبی ﷺ یوما ولا یومین ﴾ او امام بخاری رحمه الله په خپل تاریخ کښې د ابوداؤد د پورته بیان کړی شوی روایت په

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٢٨٠٨)، وقد أخرجه: حم(٣٥٤/٢) (حسن، صحيح الإسناد)
(۲): سنن الدارمي/الأطعمة ٢٨ (٢١٠٩)، (تحفة الأشراف: ٣٦٥١، ١٨٧١٩) (ضعيف)

باره کښې فرمائی ﴿ولا يصح اسناده، ولا يصح له صحبة يعنى لزهير الى آخر ما فى الابواب والتراجم ۵/۲۴۰ فارجع اليه لو شئت ﴾ او په هغې کښې دا هم دی چه په دريمه ورځ باندې د وليمې اجابت مکروه دې او په دويمه ورځ هم د معمولی درجې استحباب دې واجب قطعاً نه دې، او بعض علماء لکه رويانی وغيره وائی چه په دريمه ورځ د وليمې کراهت هله دې چه کله هغه سړې مدعو کړې شی چا ته چه مخکښې هم دعوت کړې شوې وو، او قاضی عياض رحمه الله فرمائی : استحب اصحابنا لاهل السعة كونها اسبوعا، قال وقال بعضهم : محله اذا دعى فى كل يوم من لم يدع قبله ولم يكرر عليهم ﴾ يعنى د مالکيانو په نزد د اووه ورځو پورې د استحباب صورت کښې دی چه کله هره ورځ نوې او بيل خلقو ته دعوت ورکړې شی، تکرار د دعوت مستحب نه دې. والحديث اخرجه النسائي مسنداومرسلا، قاله المنذرى.

[۳۷۴۶][1] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: فَدُعِيَ الْيَوْمَ الثَّالِثَ فَلَمْ يُجِبْ، وَحَصَبَ الرَّسُولَ.

د سعيد بن مسيب نه هم دا واقعه نقل شوي ده او په دې کښې دا سې دی چه په دريمه ورځ کله هغه ته دعوت ورکړې شي نو ورته لاړو بلکه قاصد ئې په کاڼړي وويشتو.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الضِّيَافَةِ

باب د ميلمستيا ورکولو بيان

[۳۷۵۰][2] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَخَلَفُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ أَبِي كَرِيمَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْلَةُ الضَّيْفِ حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، فَمَنْ أَصْبَحَ بِفِنَائِهِ فَهُوَ عَلَيْهِ دَيْنٌ إِنْ شَاءَ اقْتَضَى وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ".

د ابو کريمه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی په هريو مسلمان باندې د ميلمه د پاره يوه شپه تيرول حق دې اوځوک چه کله ديو مسلمان په کور کښې پاتې شي نو ګويا کښې يوه شپه ميلمستيا کول ئې په کور والا باندې قرض دې که خوښه ئې وي نو پوره دې کړي يا دې پريږدي.

﴿ عَنْ أَبِي كَرِيمَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لَيْلَةُ الضَّيْفِ حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فَمَنْ أَصْبَحَ بِفِنَائِهِ فَهُوَ عَلَيْهِ دَيْنٌ إِنْ شَاءَ اقْتَضَى وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ » ﴾

د ابو کريمه يعنى مقدام بن معديکرب رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چه د ميلمه د يوې ورځ ميلمستيا په هر مسلمان باندې واجب ده، لهذا کوم سړې چه د کوم سړی په کور باندې شپه تيره کړی نو د هغه شپې ميلمستوب د هغه په ذمه شو، که غواړی نو حپل حق دې ترې نه واخلی، او که نه اخلی نو ورته دې پريږدی. د وړاندې روايت مضمون هم دا دې بلکه په هغې کښې دا اضافه ده چه د ميلمه امداد (هغه ته د هغه په حق ورکولو کښې) په هر مسلمان باندې واجب دې که د کوربه د فصل نه وی او که د هغه د نقد مال نه.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۶۵۱، ۱۸۷۱۹) (ضعيف)
[2]: سنن ابن ماجه/الأدب ۵ (۳۶۷۷)، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۶۸) (صحيح)

علامه سیوطی رحمه الله فرمائی چه دا احادیث د ابتداء اسلام دی کوم وخت چه میلمستوب واجب وو. کوم چه روستو منسوخ شو چه هغې طرف ته امام ابوداؤد رحمه الله په راتلونکی باب کښې اشاره فرمائیلې ده، او دویم جواب د دې دا دې چه دا په حالت د اضطرار او احتیاج باندې محمول دی، كذا في البذل، خو په دویم صورت کښې به روستو ضمان ورکول واجب وی، په حاشیه د بذل کښې د دې ډیر توجیهات بیان کړې شوې دی پس یو تاویل دا کړې شوې دې چه د دې حدیث تعلق د اهل ذمه نه دې یعنی د اهل ذمه سره د معاهدې په وخت که د عهد ضیافت عهد هم اخستلې شوې وی نو د هغوی نه به حق ضیافت اخستلې شی، روستو ذکر شوې حدیث کښې هم دې طرف ته اشاره ده او یو قول په دې کښې دا هم دې چه دا حدیث د عمال سره مخصوص دې چه کله هغوی د صدقاتو د اخستلو دپاره په یو ځائې کښې شپه تیره کړی نو د هغوی دپاره حق ضیافت واجب دې. والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذري

[٣٧٥١](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، حَدَّثَنِي أَبُو الْجُودِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْمُهَاجِرِ، عَنِ الْمِقْدَامِ أَبِي كَرِيمَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّمَا رَجُلٍ أَضَافَ قَوْمًا فَأَصْبَحَ الضَّيْفُ مَحْرُومًا فَإِنَّ نَصْرَهُ حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ حَتَّى يَأْخُذَ بِقِرَى لَيْلَةٍ مِنْ زَرْعِهِ وَمَالِهِ".

دابو کریمه رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائیلی دی څوک چه دچاخواته په میلمستیا ورشې او محروم پاتې شي (یعنی څه اکرام ئې ونه شي نوپه ټولو مسلمانانوباندې دده امداد کول ضروری کیږی تردې پورې چه دغه میلمه ددغه خلقو دمال اوفصل نه خپله میلمستیا وصول کولې شي.

[٣٧٥٢](٢)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، أَنَّهُ قَالَ: قُلْنَا: "يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّكَ تَبْعَثُنَا، فَنَنْزِلُ بِقَوْمٍ فَمَا يَقْرُونَنَا، فَمَا تَرَى؟، فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنْ نَزَلْتُمْ بِقَوْمٍ فَأَمَرُوا لَكُمْ بِمَا يَنْبَغِي لِلضَّيْفِ فَاقْبَلُوا، فَإِنْ لَمْ يَفْعَلُوا، فَخُذُوا مِنْهُمْ حَقَّ الضَّيْفِ الَّذِي يَنْبَغِي لَهُمْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذِهِ حُجَّةٌ لِلرَّجُلِ يَأْخُذُ الشَّيْءَ إِذَا كَانَ لَهُ حَقًّا.

د عقبة بن عامرنه روایت دې فرمائی چه مونږ نبی عليه السلام ته عرض وکړو اې دالله رسوله ته مونږه دجهاد په سلسله کښې اودنورو غرضونو دپوره کولو دپاره اکثر په سفر لیږې کله کله زمونږه ورتلل داسې خلقوته وشي څوك چه مونږ ته میلمستیانه راکوي نوپه دې سلسله کښې زمونږ دپاره څه کول مناسب دي؟ نبی عليه السلام اوفرمائیل که چرې تاسو یو قوم ته ورشئ اوهغوی ستاسو دپاره هر رنګه انتظام وکړي څومره چه د میلمه دپاره کولې شي نوتاسوهغه قبول کړئ اوکه چرې داني ونه کړي نوتاسودهغوی نه د میلمستیاد حق هومره مال وصول کړئ.

﴿عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّهُ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّكَ تَبْعَثُنَا فَنَنْزِلُ بِقَوْمٍ فَلا يَقْرُونَنَا فَمَا تَرَى الخ﴾ دا حدیث به په اهل ذمه باندې محمول کولې شی یا په عمال باندې لکه چه په مخکښې

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٥٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣١/٤، ١٣٣)، دي/الأطعمة ١١ (٢٠٨٠) (ضعيف)

(٢): صحيح البخاري/المظالم ١٨ (٢٤٦١)، الأدب ٨٥ (٦١٣٧)، صحيح مسلم/اللقطة ٣ (١٧٢٧)، سنن الترمذي/السير ٣٢ (١٥٨٩)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥ (٣٦٧٦)، (تحفة الأشراف: ٩٩٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٩/٤) (صحيح)

توجیهاتو کښې تیر شوې دی، خو د ګنګوهی رحمه الله په تقریر کښې دی چه د حدیث الباب مطلب دا دې چه هغه خلق نه خو زمونږ میلمستیا کوی او نه زمونږ په لاس باندې د خوراک څکاک څیز خرڅوی، بعض اهل ذمه عناداً داسې کوی، نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو خپل حق د هغوی نه اخلئ یعنی بالقیمة ئې ترې نه په زبردستئ اخلئ، هم دغه شان توجیه امام ترمذی رحمه الله هم فرمائیلې ده.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم وابن ماجه، واخرجه الترمذی من حدیث ابن لهیعة وقال حسن، قاله المنذری.

بَابُ نَسْخِ الضَّيْفِ يَأْكُلُ مِنْ مَالِ غَيْرِهِ

د میلمه دپاره د بل چا د مال خوړلو د حکم د منسوخ کیدو بیان

د ترجمة الباب غرض او په هغې کښې اختلاف د نسخو:

په رومبی باب کښې چه د کوم حق الضیف ذکر وو په دې باب سره مصنف رحمه الله د هغې منسوخ کیدل بیانوی، په شروع کښې لکه چه اوس تیر شو چه حق الضیف واجب وو، تر دې چه ضیف ته دا حق هم وو چه بغیر د مالک د رضا نه د خپل ضیافت حق وصول کړی، روستو دا حکم د سورة النساء په آیت کریمه ﴿ لا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل الا ان تکون تجارة عن تراض منکم ﴾ په ذریعه باندې منسوخ کړې شو چه د بل چا مال بغیر د اجازت نه خوړل جائز نه دی، حرام دی. د دې آیت کریمه د نزول نه پس بعض حضراتو په خپل اجتهاد باندې دا اوګڼړله چه مطلقا د بل مال خوړل ممنوع دی حال دا چه د سورة النساء د آیت کریمه دا مقصد نه دې. د دې غلط فهمئ د لرې کولو دپاره د سورة النور دا آیت کریمه نازل شو ﴿ لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا مِنْ بُيُوتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَفَاتِحَهُ أَوْ صَدِيقِكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا ﴾

د دې آیت کریمه په نزول سره هغه غلط فهمی ختم شوه او مسئله واضح شوه چه خپل مینځ کښې په یو ځائې خوراک کښې هیڅ باک نشته.[1]

په کوم ترجمة الباب کښې چه مونږ بحث کوو په دې کښې مختلف نسخې دی، یو نسخه کښې دی ﴿ باب نسخ الیق فی الاکل من مال غیره ﴾ (یعنی د مال غیر د خوړلو په باره کښې چه صحابه کرام رضی الله عنهم په کومه (تنګسیا) کښې پریوتلې وو د هغې ختمیدل) زما په نزد دا نسخه راجح ده، پورته ذکر کړې شوې تقریر په دې باندې صحیح طریقې سره منطبق کیږی، وایضا لا یرد علی هذا التقریر ایراد الطبری المذکور فی البذل، فتدبر وتشکر....

---

[1] په اردو نسخه کښې د سورة النور آیت کریمه کښې غلطی وه په دې وجه مونږ پوره او صحیح رانقل کړو..... مترجم)

[٣٧٥٣]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ سورة النساء آية ٢٩، فَكَانَ الرَّجُلُ يُحْرَجُ أَنْ يَأْكُلَ عِنْدَ أَحَدٍ مِنَ النَّاسِ بَعْدَ مَا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ، فَنَسَخَ ذَلِكَ الآيَةُ الَّتِي فِي النُّورِ، قَالَ: لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا سورة النور آية ٦١ مِنْ بُيُوتِكُمْ إِلَى قَوْلِهِ أَشْتَاتًا سورة النور آية ٦١، كَانَ الرَّجُلُ الْغَنِيُّ يَدْعُو الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِهِ إِلَى الطَّعَامِ، قَالَ: إِنِّي لأَجَّنَّحُ أَنْ آكُلَ مِنْهُ، وَالتَّجَنُّحُ الْحَرَجُ، وَيَقُولُ: الْمِسْكِينُ أَحَقُّ بِهِ مِنِّي، فَأُحِلَّ فِي ذَلِكَ أَنْ يَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ، وَأُحِلَّ طَعَامُ أَهْلِ الْكِتَابِ".

عکرمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت کوی چه فرمائیل ئې چه دا ایت کریمه: «لا تأكلوا أموالكم بينكم بالباطل إلا أن تكون تجارة عن تراض منكم» چه کله نازل شو نو په دې وخت کښې هریوکس به دبل کس سره خوړل ګناه ګڼړله نوبیاد سورة نور ایت: «ليس عليكم جناح أن تأكلوا من بيوتكم..... أشتاتا» نازل شو اوړومبنې حکم منسوخ شو یعنی په تاسوباندې ګناه نشته که چرې تاسو پخپلوکورونوکښې خوراك کوئ یادپلار په کورکښې خوراك کوئ یادخپلو ځامنو او رونړو په کورکښې خوراك کوئ یادخویندو په کورونوکښې یادترورریانو اوترونو اوماماګانو په کورونوکښې یا په هغه کورونوکښې دکومو تالي اوچابیاني چه ستاسو سره دي یاددوستانوپه کورونوکښې، دمخکښې زماني دخلقو داحالت وو چه مالداره کس به خلقو ته دخوراك دعوت ورکولو نوخلقوبه وئيل مونږ ته ددنه خوراك کول ګناه ښکاري بلکه مسکين زمونږ نه زيات مستحق دې چه داخوراك وکړي ددې ایت دنازلیدونه پس داحکم صحیح وګنړلې شو یعنی یومسلمان دبل مسلمان نه خوراك کول جائزکړې شول کله چه په هغې دالله نوم اخستلې شوې وي اوداهل کتابوخوراك هم درست وګرځولې شو.

قوله: ﴿ كَانَ الرَّجُلُ الْغَنِيُّ يَدْعُو الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِهِ إِلَى الطَّعَامِ قَالَ إِنِّي لأَجَّنَّحُ (٢) أَنْ آكُلَ مِنْهُ ﴾

يعنى د سورة النساء د آيت د نزول نه پس د اكل مال غير په باره كښې دومره احتياط كول شروع شو چه یو سړی به چرته خپل خپلوانو ته د خوراک دعوت ورکړو نو هغه به د دې نه هم انکار کولو او دا به ئې وئيل چه زه خو دا ګناه او حرج ګڼړم، په چا مسکين او فقير باندې ئې اوخروه نو بيا د هغوی د دې خيال د لرې کولو دپاره د سورة النور آيت کريمه نازل شو، ﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا..الخ﴾.

قوله: ﴿ فَأُحِلَّ فِي ذَلِكَ أَنْ يَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ ﴾ يعنى د اكل مال غير اجازت ورکړې شو د مالک د اجازت نه پس په دې شرط چه هغه مال غير داسې وی چه په هغې باندې د الله پاک نوم اخستلې شوې وی يعنی حلال وی، او هم دغه شان د اهل کتاب طعام هم ناجائز کړې شو.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢٦٤) (حسن الإسناد)

(٢) اجنح د باب افعل نه د واحد متكلم صيغه ده چه د هغې اصل اتجنح دې مشتق من الجناح)

بَابٌ فِي طَعَامِ الْمُتَبَارِيَيْنِ

د فخر (ښود نط) دپاره په ضد با ندې خلقوته د خوراک ورکولو بیان

[٣٧٥٤](١) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي الزَّرْقَاءِ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ خِرِّيتٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عِكْرِمَةَ، يَقُولُ: كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ طَعَامِ الْمُتَبَارِيَيْنِ أَنْ يُؤْكَلَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَكْثَرُ مَنْ رَوَاهُ عَنْ جَرِيرٍ لَا يَذْكُرُ فِيهِ ابْنَ عَبَّاسٍ، وَهَارُونُ النَّحْوِيُّ ذَكَرَ فِيهِ ابْنَ عَبَّاسٍ أَيْضًا، وَحَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ لَمْ يَذْكُرِ ابْنَ عَبَّاسٍ.

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي كريم ﷺ ددوه فخر كونكو دډوډې خوړلونه منع فرمائيلې ده. امام ابوداد فرمائي چه اكثرو راويانو ددې روايت په سند كښې دحريرنه ابن عباس نه دى ذكركړې البته هارون نحوي ابن عباس ذكركړې دي او همدارنګې حماد بن زيد هم دحريريه سند كښې ابن عباس نه دى ذكركړې.

په حديث الباب كښې دى چه رسول الله ﷺ د متبارييين يعنى د متفاخرين د خوراک نه منع فرمائيلې ده چه هغه دې اوخوړلې شي، يعنى كوم دعوت چه د فخر او رياء په طور اوكړې شي د هغې خوړل جائز نه دى، هم د دې هم معنى حديث په كتاب الاضحيه كښې تير شوې دې، ﴿نهى رسول الله ﷺ عن معاقرة الاعراب﴾

بَابُ الرَّجُلِ يُدْعَى فَيَرَى مَكْرُوهًا

كله چه څوك يو دعوت ته حاضر شي او هلته د شريعت خلاف عمل ووينى

[٣٧٥٥](٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُمْهَانَ، عَنْ سَفِينَةَ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ: "أَنَّ رَجُلًا أَضَافَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا، فَقَالَتْ فَاطِمَةُ: لَوْ دَعَوْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَ مَعَنَا، فَدَعَوْهُ، فَجَاءَ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى عِضَادَتَيِ الْبَابِ فَرَأَى الْقِرَامَ قَدْ ضُرِبَ بِهِ فِي نَاحِيَةِ الْبَيْتِ، فَرَجَعَ، فَقَالَتْ فَاطِمَةُ لِعَلِيٍّ: الْحَقْهُ فَانْظُرْ مَا رَجَعَهُ، فَتَبِعْتُهُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا رَدَّكَ؟، فَقَالَ: إِنَّهُ لَيْسَ لِي أَوْ لِنَبِيٍّ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتًا مُزَوَّقًا".

د ابوعبدالرحمن سفينه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوكس على رضي الله عنه ميلمه كړواودده دپاره ئې دخوراك انتظام وكړو، فاطمه رضي الله عنها اووئيل كاش چه مونږنبى عليه السلام راغوښتلې وې نوهغه به هم زمونږ سره خوراك كړې وو، نوننبى عليه السلام ئې را اوغوښتو،نبى عليه السلام تشريف راوړو اوخپل لاسونه ئې ددروازې په چوكاټ باندې كيخودل په دې وخت كښې نبى عليه السلام دكورپه يوګوټ كښې يوه پرده وليدله چه لګيدلې وه اوتصويران ورباندې جوړ شوي وو،نبى عليه السلام چه كله دا وليدل نو واپس روان شو، على رضي الله عنه فرمائي چه زه ورپسې روان شوم اوتپوس مې ورنه وكړو چه ته ولې واپس روان شوې؟نبى عليه السلام اوفرمائيل ديو نبى دپاره داسې كورته تلل جائز نه دې چرته چه نقش ونګارشوي وي.

قوله: ﴿ أَنَّ رَجُلاً أَضَافَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا فَقَالَتْ فَاطِمَةُ لَوْ دَعَوْنَا رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فَأَكَلَ مَعَنَا الخ ﴾

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٠٩١) (صحيح)

(٢): سنن ابن ماجه/الأطعمة ٥٦ (٣٣٦٠)، (تحفة الأشراف: ٤٤٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢٢٠، ٢٢١، ٢٢٢) (حسن)

يعنې يو سړې د علی رضی الله عنه ميلمه شو. هغوی د هغه دپاره خوراک تيار کړو، چه کله د خوراک وخت راغلو نو فاطمې رضی الله عنها اووئيل چه که په دې خوراک باندې بابا جان يعنی رسول الله ﷺ هم راطلب کړې شی نو ښه به وی، پس رسول الله ﷺ ته هم دعوت ورکړې شو، چه کله رسول الله ﷺ دروازې ته راورسيدلو نو خپل دواړه لاسونه ئې په دروازه باندې کيخودل او اودريدلو، ځکه چه رسول الله ﷺ اوليدل چه يوه نرئ پرده د کور په يو طرف کښې زوړنده وه (په ظاهر کښې د ډول او ښکلا دپاره) نو رسول الله ﷺ واپس شو کور ته داخل نه شو، فاطمې رضی الله عنها علی رضی الله عنه ته اووئيل چه لړ لاړ شئ او اوګورئ چه هغوی ولې واپس شو، سيدنا علی رضی الله عنه فرمائی چه زه په رسول الله ﷺ پسې لاړم او د دې وجه مې اوتپوسله نو هغوی اوفرمائيل ﴿ ليس لنبی ان يدخل بيتا مزوقا ﴾ د يو نبی دپاره مناسب نه دی چه داسې کور ته داخل شی چه هغه ډولی کړې شوې وی.

دا حديث د لږ ډير اختلاف سياق او سباق سره په کتاب اللباس ﴿ باب فی اتخاذ الستور ﴾ کښې هم راروان دې. چه په هغې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ﴿ وما انا والدنيا وما انا والرقم ﴾ او په يو بل طريق کښې دی ﴿ قال وکان سترا موشيا ﴾ د دې حديث نه ترجمة الباب ثابتيږی چه که مدعو د داعی کور ته رسيدو سره څه ناجائز او منکر څيز اوليدو نو د هغه د خبردارۍ دپاره دې ترې نه واپس شی د حضرت ګنګوهی رحمه الله په تقرير کښې دی چه ممکنه ده چه په دې قرام کښې تصويرونه وو، او يا دا چه دا بې ځايه زوړند کړې شوې وو په ديوال وغيره باندې چه په هغې باندې نکير راغلې دې ﴿ان الله لم يامرنا ان نکسوا الحجارة الحديث ﴾ والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری.

باب إِذَا اجْتَمَعَ دَاعِيَانِ أَيُّهُمَا أَحَقُّ

کله چه په يو وخت کښې دوه دعوت کونکی چاته دعوت ورکړی نوکوم يو ته تلل پکار دی؟

يعنې که په يو وخت کښې د دوه سړو د طرف نه دعوت راشی نو د چا به منظور کولې شی؟ په حديث الباب کښې دی

[٣٧٥٦] (١) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ عَبْدِ السَّلَامِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ أَبِي خَالِدٍ الدَّالَانِيِّ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ الْأَوْدِيِّ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحِمْيَرِيِّ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا اجْتَمَعَ الدَّاعِيَانِ، فَأَجِبْ أَقْرَبَهُمَا بَابًا، فَإِنَّ أَقْرَبَهُمَا بَابًا أَقْرَبُهُمَا جِوَارًا، وَإِنْ سَبَقَ أَحَدُهُمَا فَأَجِبِ الَّذِي سَبَقَ".

حميد بن عبد الرحمن په صحابه کرامو کښې ديو کس نه روايت کوی فرمائی چه نبی کريم ﷺ فرمائيلي دي: کله چه په يو وخت کښې دوه دعوت کونکي جمع شي نو دکوم چه دروازه نزدې وي هغه زيات حق داردي اويقيناد چاچه دروازه نزدې وي هغه په ګاونډ کښې هم مخکښې وي اوکه چرې يودبل نه مخکښې شي نو دمخکښي دعوت قبلول زيات مناسب دي.

﴿ فَأَجِبْ أَقْرَبَهُمَا بَابًا فَإِنَّ أَقْرَبَهُمَا بَابًا أَقْرَبُهُمَا جِوَارًا وَإِنْ سَبَقَ أَحَدُهُمَا فَأَجِبِ الَّذِى سَبَقَ ﴾

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٥٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٠٨/٥) (ضعيف)

یعنې د کوم سړي دروازه چه تاته نزدې وي هغه زيات مستحق دې د اجابت دعوت د قرب او ګاونډ د وجې نه، او که د دوه کسانو د طرف نه دعوت متعاقبا يعنې وړاندې روستو راشي نو د کوم د طرف نه چه پيغام مخکښې راشي هغه زيات مستحق دې.

بَابُ إِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ وَالْعَشَاءُ

باب: کله چه د ماښام مونځ او ډوډۍ په يو وخت تياره شي نو څه به کوي؟

[٣٧٥٧]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمُسَدَّدٌ الْمَعْنَى، قَالَ أَحْمَدُ، حَدَّثَنِي يَحْيَى الْقَطَّانُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا يَقُومُ حَتَّى يَفْرُغَ"، زَادَ مُسَدَّدٌ: وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ إِذَا وُضِعَ عَشَاؤُهُ أَوْ حَضَرَ عَشَاؤُهُ لَمْ يَقُمْ حَتَّى يَفْرُغَ، وَإِنْ سَمِعَ الْإِقَامَةَ، وَإِنْ سَمِعَ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ.

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي کله چه په تاسو کښې ديو کس د ماښام ډوډۍ تياره شي او دمونځ دپاره تکبير هم وشي نو ترهغې دې نه پاڅي ترڅو چه فارغ شوي نه وي. امام ابوداؤد فرمائي چه دمسدد په روايت کښې دا اضافه ده چه کله به ابن عمرفاته د ماښام ډوډۍ کيخودې شوه نو چه ترڅوبه دمونځ نه فارغ شوي نه وو مونځ ته به نه پاڅيدو، اګر که هغه به دقران تلاوت يادامام دقرات اواز هم اوريدو.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عن النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَلاَ يَقُومُ حَتَّى يَفْرُغَ » ﴾ د دې حديث شرح په کتاب الطهارة ﴿ باب ايصلى الرجل وهو حاقن ﴾ کښې تيره شوې ده، هغې ته دې رجوع اوکړې شي.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی، وليس فی حديث مسلم فعل ابن عمر رضی الله عنهما، قاله المنذری.

[٣٧٥٨]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا مُعَلَّى يَعْنِي ابْنَ مَنْصُورٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ لِطَعَامٍ وَلَا لِغَيْرِهِ".

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائيلي دي دطعام اودبل شي په وجه باندې مونځ مه روسته کوئ.

﴿عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ تُؤَخِّرِ الصَّلاَةَ لِطَعَامٍ وَلاَ لِغَيْرِهِ »﴾ د دې حديث په باره کښې هم کلام مخکښې تير شوې دې.

[٣٧٥٩]([3]) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْلِمٍ الطُّوسِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الْحَنَفِيُّ، حَدَّثَنَا الضَّحَّاكُ بْنُ عُثْمَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، قَالَ: "كُنْتُ مَعَ أَبِي فِي زَمَانِ ابْنِ الزُّبَيْرِ إِلَى جَنْبِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، فَقَالَ عَبَّادُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ:

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٢١٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ٤٢ (٦٧٣)، الأطعمة (٥٤٦٣)، صحيح مسلم/المساجد ١٦ (٥٥٩)، سنن الترمذي/الصلاة ١٤٥(٣٥٤)، سنن ابن ماجه/الإقامة ٣٤ (٩٣٤)، مسند احمد (٢/٢٠، ١٠٣) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٧٥٨) (ضعيف)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٢٨١) (حسن الإسناد)

"إِنَّا سَمِعْنَا أَنَّهُ يُبْدَأُ بِالْعَشَاءِ قَبْلَ الصَّلَاةِ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ: وَيْحَكَ، مَا كَانَ عَشَاؤُهُمْ أَتُرَاهُ كَانَ مِثْلَ عَشَاءِ أَبِيكَ".

دعبدالله بن عبيد بن عميره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه زه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما په دور کښې دهغه سره وم عباد بن عبدالله اووئيل چه مونږه دا آوريدلی دی چه دنبی ﷺ په زمانه کښې به دمابښام دوخت خوراك په مونځ باندې مخکښې کولې شو،عبدالله بن عمره اووئيل په تاسو باندې افسوس دې تاسو ددوی خوراك دخپل پلاردخوراك په شان ګنړئ.

د تقديم طعام على الصلوة سره متعلق يو ښکلې واقعه :

قوله: ﴿ كُنْتُ مَعَ أَبِي فِي زَمَانِ ابْنِ الزُّبَيْرِ إِلَى جَنْبِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فَقَالَ عَبَّادُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ إِنَّا سَمِعْنَا أَنَّهُ يُبْدَأُ بِالْعَشَاءِ قَبْلَ الصَّلَاةِ. فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ وَيْحَكَ مَا كَانَ عَشَاؤُهُمْ أَتُرَاهُ كَانَ مِثْلَ عَشَاءِ أَبِيكَ ﴾ يو سړې د عبدالله بن زبير رضي الله عنهما د دور خلافت خبره نقل کوی چه زه يو ورځ د عبدالله بن زبير رضي الله عنهما په خوا کښې ناست وو(په يو مجلس کښې ذکر اوشو چه خوراک مخکښې کول پکار دی او که مونځ دواړه ځيزونه نزدې وو، خوراک هم حاضر وو او د مانځه وخت هم وو) نو عباد بن عبدالله بن زبير اووې چه مونږ دا اوريدلې دی چه په داسې صورت کښې خوراک په مانځه باندې مقدم کول پکار دی نو په دې باندې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل هلاک شې د هغه حضراتو خوراک (کوم چه د تقديم خوراک قائل دی) ستا د پلار د خوراک په شان خو نه وو يعنی مخکښې خلقو خو به د خوراک په څو نوالو باندې اکتفاء کوله، د داسې خلقو دپاره رسول الله ﷺ دا قاعده جوړه کړه چه هغه دې خوراک په مانځه باندې مقدم کوی او کوم خلق چه د ږوزې پورې خيته ډکوی د هغوی دپاره خو دا قاعده نه ده (ځکه چه د زيات خوراک کولو په وجه باندې به زيات وخت لګی چه په هغې سره به مونځ کښې تاخير راشی) او خپله د ابن عمر رضي الله عنهما دا عادت مبارک تير شوې دې چه هغوی به په داسې صورت کښې خوراک لره په مانځهٔ باندې مقدم کولو ﴿ وان سمع الا قامة وان سمع قراءة الامام ﴾ د دې وجه هم دا ده چه هغوی به په څو نمړو باندې اکتفاء کوله. والحديث اخرجه الترمذي والنسائي،وقال الترمذي: حديث حسن،قاله المنذري

بَابٌ فِي غَسْلِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ الطَّعَامِ

د خوراک په وخت کښې د لاسونو وينځلو بيان

د دې نه پس دويم باب راروان دی ﴿ باب غسل اليدين قبل الطعام ﴾ په دې کښې په ظاهره تکرار دې اوس يا خو دې دا اوئيلې شی چه دلته نسخې مختلف دی پس په بعض نسخو کښې باب ثانی نشته لهذا هم دې نسخې ته به ترجيح ورکولې شی، او يا دې بيا دا اوئيلې شی چه په رومبی باب سره غرض نفی د غسل ده او په دويم سره غرض اثبات الغسل دې لکه چه د دواړو بابونو د احاديثو نه معلوميږی. او حاصل د ترجمتينو به دا وی چه د خوراک نه مخکښې لاس وينځل ضروری نه دی لکه چه په اول باب کښې دی او که وينځلې شی نو غوره دی كما في الباب الثاني،هسې د غسل اليدين بعد الطعام استحباب خو متفق عليه دې. خو په غسل اليد قبل الطعام کښې اختلاف دې. جمهور خو دې ته هم مستحب وائی او

بعض علماء لکه سفیان الثوری دې ته مکروه وائی، پس په بعض نسخو کښې دی: ﴿ وکان سفیان یکره الوضوء قبل الطعام ﴾

[٣٧٦٠]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ، فَقُدِّمَ إِلَيْهِ طَعَامٌ، فَقَالُوا: أَلَا نَأْتِيكَ بِوَضُوءٍ؟، فَقَالَ: إِنَّمَا أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلَاةِ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام دبیت الخلاء نه راووتو اوخوراك ورته پیش کړې شو خلقو عرض وکړو د اودس د پاره درته اوبه راوړو؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل ماته صرف دمونځ دپاره داودس کولو حکم شوې دې.

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– خَرَجَ مِنَ الْخَلاَءِ فَقُدِّمَ إِلَيْهِ طَعَامٌ فَقَالُوا أَلاَ نَأْتِيكَ بِوَضُوءٍ فَقَالَ « أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلاَةِ » ﴾

شرح الحدیث:

یعنی یو کرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د استنجاء کولو نه بهر تشریف راوړلو او چونکه د خوراک وخت وو په دې وجه خوراک راوړلې شو، بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو چه آیا د اودس دپاره اوبه راوړلې شی؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د اودس حکم خو د اقامت الصلوة په وخت دې.

د حضرت گنگوهی رحمه الله په تقریر کښې دی چه بیا هم احتمال دې چه دلته د اودس نه مراد شرعی اودس مراد وی ځکه چه صحابه کرامو رضی الله عنهم ته معلومه وه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت مبارک د مداومت علی الطهارة دې، خو هغوی هغه وخت د شرعی اودس نه انکار اوفرمائیلو چه د دې هر وخت کیدل ضروری نه دی. پس په دې صورت کښې نفی د شرعی اودس اوشوه، د لغوی اودس نه یعنی غسل یدین..... د دې کار هغې سره هیڅ عرض نشته، نه نفیا او نه اثباتا، او دا احتمال هم شته چه د ویونکی مراد د اودس نه لغوی اودس مراد وی یعنی غسل یدین، بیا که څوک داسې اوائی چه دا څنګه کیدې شی چه د اودس نه مراد به اودس لغوی وی، ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خو اوفرمائیل چه ﴿إِنَّمَا أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلاَةِ ﴾ د قیام الی الصلوة دپاره خو هم هغه شرعی اودس پکار دې نه لغوی اودس. پس د دې جواب به دا وی چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم مراد خو د اودس نه لغوی اودس وو خو رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس لره په شرعی اودس باندې محمول کولو سره مسئله بیان اوفرمائیله چه د شرعی اودس ضرورت خو د مانځه دپاره وی او د صحابه کرامو رضی الله عنهم چه کوم مراد وو په اودس سره یعنی د غسل ید د یادولو د هغې جواب رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل عمل سره یعنی ترک غسل الیدین سره ظاهر اوفرمائیلو. (بذل) والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، وقال الترمذی: حدیث حسن، وحدیث سلمان اخرجه الترمذی، قاله المنذری.

(): سنن الترمذي/الأطعمة ٤٠ (١٨٤٧)، سنن النسائي/الطهارة ١٠١ (١٣٢)، (تحفة الأشراف: ٥٧٩٣)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحيض ٣١ (٣٧٤)، مسند احمد (٢٨٢/١، ٣٥٩) (صحيح)

بَابٌ فِي غَسْلِ الْيَدِ قَبْلَ الطَّعَامِ

د خوراک کولو نه مخکښې د لاسونو وينځلو بيان

[٣٧٦١]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا قَيْسٌ، عَنْ أَبِي هَاشِمٍ، عَنْ زَاذَانَ، عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قَرَأْتُ فِي التَّوْرَاةِ: أَنَّ بَرَكَةَ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ قَبْلَهُ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: بَرَكَةُ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ قَبْلَهُ وَالْوُضُوءُ بَعْدَهُ"، وَكَانَ سُفْيَانُ يَكْرَهُ الْوُضُوءَ قَبْلَ الطَّعَامِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ ضَعِيفٌ.

دسلمان نه روايت دې فرمائي چه ما په تورات کښې لوستلي وو چه په خوراك کښې برکت دخوراك و نه مخکښې په اودس کولوسره حاصليږي مادديې ذکر نبی ﷺ ته وکړو نبی ﷺ اوفرمائيل: په خوراك کښې برکت په دې سره راځي چه مخکښې او روسته دي ورنه اودس اوکړې شي، صفيان به دخوراك نه مخکښې اودس کول نه خوښول، امام ابوداؤد فرمائي دا روايت ضعيف دې.

بَابٌ فِي طَعَامِ الْفُجَاءَةِ

د تادئ په وخت کښې د لاسونو وينځلو نه بغير د خوراک کولو بيان

[٣٧٦٢]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ، حَدَّثَنَا عَمِّي يَعْنِي سَعِيدَ بْنَ الْحَكَمِ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، أَخْبَرَنِي خَالِدُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ قَالَ: "أَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ شِعْبٍ مِنَ الْجَبَلِ وَقَدْ قَضَى حَاجَتَهُ، وَبَيْنَ أَيْدِينَا تَمْرٌ عَلَى تُرْسٍ أَوْ حَجَفَةٍ، فَدَعَوْنَاهُ، فَأَكَلَ مَعَنَا وَمَا مَسَّ مَاءً".

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه ني ن ﷺ د قضاء حاجت نه فارغ شو اود يوې غونډئ نه را واوړيدو او تشريف ئې راوړو او زمونږ مخې ته په دې وخت کښې په يودال باندې کجورې پرتې وې ياپيالې پرتې وې مونږ نبی ﷺ ته دعوت ورکړو او زمونږ سره ئې کجورې وخوړلې او لاسونه ئې اونه وينځل.

د فجاءة په بذل کښې دوه تفسيرونه دی اول دا چه ناڅاپه چاته دعوت ورکول او چالره په خوراک باندې راغوښتل بغير د څه تيارئ او اهتمام نه، او دويم تفسير دا چه عين د خوراک په وخت څوک مدعو کول، يعنی د اول نه هغه ته د خوراک خبر نه ورکول، کوم چه بعض خلق د خپل شان خلاف ګڼړي، او په داسې صورت کښې هغه نه منظوروی، حال دا چه په حديث شريف کښې دی: جابر رضی الله عنه فرمائي چه يو کرت رسول الله ﷺ د يو غر د طرف نه تشريف راوړلو د قضاء حاجت نه پس، چه کله هغوی زمونږ مخې ته تير شو نو زمونږ مخې ته کهجورې پرتې وې په يو ډهال باندې (کوم چه د پليټ په شان وی) مونږ هغوی ته د کهجورو د خوراک دپاره دعوت ورکړو. رسول الله ﷺ مونږ سره کيناستلو او وې خوړلې سبحان الله! د رسول الله ﷺ د تواضع څه شان دې... صلوات الله وسلامه عليه.

دلته د فجاءة دواړه معنی چه کومې ذکر کړې شوې بيا موندې شی د دې واقعې نه د تواضع او سادګئ اختيارولو سبق ملاويږی.

[1]): سنن الترمذي/الأطعمة ٣٩(١٨٤٦)، (تحفة الأشراف: ٤٤٨٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤١/٥) (ضعيف)

[2]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٢٧٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩٧/٣) (ضعيف الإسناد)

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ ذَمِّ الطَّعَامِ

په خوراک کښې د عیب راوښکلو د مذمت بیان

[٣٧٦٣]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "مَا عَابَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ وَإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ هیڅ کله دخوراک یوڅیز ته بدنه دې وئیل که زړه به ئې غوښتل نواوبه ئې خوړلو اوکه زړه به ئې نه غوښتل نونه به ئې خوړل.
د دې باب او د دې حدیث مضمون او حواله مونږ سره په ﴿ باب ما یقول اذا شرب اللبن ﴾ کښې تیره شوې ده نو اعادې ته ئې حاجت نشته. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی وابن ماجه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الاِجْتِمَاعِ عَلَى الطَّعَامِ

په جمع د خوراک کولو د فضیلت بیان

[٣٧٦٤]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي وَحْشِيُّ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالُوا: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا نَأْكُلُ وَلاَ نَشْبَعُ، قَالَ: فَلَعَلَّكُمْ تَفْتَرِقُونَ؟، قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ: فَاجْتَمِعُوا عَلَى طَعَامِكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: إِذَا كُنْتَ فِي وَلِيمَةٍ فَوُضِعَ الْعَشَاءُ فَلاَ تَأْكُلْ حَتَّى يَأْذَنَ لَكَ صَاحِبُ الدَّارِ.

وحشی بن حرب دخپل پلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه دنبی علیه السلام صحابه کرامو عرض وکړو اې دالله رسوله مونږ خوراک کوو لیکن مړیږو نه، نبی علیه السلام اوفرمائیل زماګمان دې چه تاسو ځانله ځانله خوراک کرئ هغوی اووئیل هو، نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل تاسو یوځائې خوراک شروع کړئ اودالله نوم اخلئ په دی کښې به برکت راځی، امام ابوداؤد فرمائی کله چه په تاسوکښې یوکس ته دولیمې دعوت ورکړې شي او ډوډئ ورته کیخودې شي نوترڅوپورې چه مضبان اجازت نه وي کړې خوراک شروع کول نه دي پکار.

قوله: ﴿ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَأْكُلُ وَلاَ نَشْبَعُ. قَالَ « فَلَعَلَّكُمْ تَفْتَرِقُونَ ». قَالُوا نَعَمْ. قَالَ « فَاجْتَمِعُوا عَلَى طَعَامِكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ » ﴾

بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ! مونږ خوراک کوو خو مړیږو نه، رسول الله ﷺ اوفرمائیل کیدې شی چه تاسو ځانله ځانله خوراک کوئ؟ هغوی عرض اوکړو جی بالکل هم دغه شان ده، رسول الله ﷺ اوفرمائیل یو ځائې کیناستلو سره بسم الله وئیلو سره خوراک کوئی بیا به پکښې برکت وی.

والحدیث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری

[1]: صحيح البخاري/المناقب ٢٣ (٣٥٦٣)، صحيح مسلم/الأشربة ٣٥ (٢٠٦٤)، سنن الترمذي/البر والصلة ٨٤ (٢٠٣١)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٤ (٣٢٥٩)، (تحفة الأشراف: ١٣٤٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٧٤/٢، ٤٧٩، ٤٨١) (صحيح)

[2]: سنن ابن ماجه/الأطعمة ١٧ (٣٢٨٦)، (تحفة الأشراف: ١١٧٩٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٠١/٣) (حسن)

بَابُ التَّسْمِيَةِ عَلَى الطَّعَامِ

د خوراک شروع کولو نه مخکښې د بسم الله وئیلو بیان

د خوراک په شروع کښې بسم الله وئیل د جمهورو په نزد سنت ده.

[۳۷۶۵] (¹) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ فَذَكَرَ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ: لَا مَبِيتَ لَكُمْ وَلَا عَشَاءَ، وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ: أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ، فَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ عِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ: أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چه دنبي عليه السلام نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې کله چه یو کس خپل کورته داخل شي اودداخلیدوپه وخت کښې اودخوراك په وخت کښې الله تعالی یادکړي نوشیطان ووائی دلته نه دخوراك دپاره څه پاتې شو اونه دشپې تیریدودپاره ځائې پاتې شو، او کله چه یوکس خپل کورته داخل شي اودداخلیدوپه وخت کښې الله تعالی یادنکړي نوشیطان ووائی اوس دلته داوسیدوګنجائش پیداشو بیاکچرې دخوراك په وخت کښې هم بسم الله ونه واي نو په دې وخت کښې شیطان ووائی اوس دخوراك اوداوسیدو دواړو دپاره انتظام اوشو.

مضمون حدیث:

د حدیث الباب مضمون دادې چه کله یو سړې خپل کور ته په الله پاک د ذکر سره داخل شي (په ظاهر کښې د دخول بیت دعا مراد ده کومه چه په حدیث کښې راغلې ده) او د خوراک په وخت بسم الله لولی نو شیطان خپلو کشرانو ته وائی (لا مبيت لكم ولا عشاء) چه اوس به نه تاسو په دې کور کښې شپه تیره کړئ او نه به په خوراک کښې ستاسو حصه وی او که بغیر د دعا نه کور ته داخل شی نو شیطان خپلو ملګرو ته وائي چه تاسو ته دلته د شپې تیرولو موقع خو ملاؤ شوه او د دې نه پس که هغه سړې په خوراک باندې هم بسم الله اونه لولی نو هغه ورته وائی چه اوس به تاسو ته مبیت او عشاء دواړه ملاویږی. والحديث اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

وړاندې د حذیفه رضي الله عنه حدیث راروان دې چه د هغې مضمون دا دې چه کله مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په خوراک کښې شرکت کولو نو په مونږ کښې به چا مونږ هم د خوراک دپاره لاس نه ور اوږدلو تر څو چه به رسول الله صلى الله عليه وسلم شروع نه فرمائیله (دا یو مستقل ادب شو) وړاندې یو بله واقعه بیانوی چه یو کرت مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره خوراک کولو چه ناځاپه یو باندچی راغلو په تیزئ سره لکه چه هغه له څوک دیکې ورکوی او هغه د راتلو سره خوراک ته لاس راوړد کړو (یعنی بغیر د بسم الله نه) رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه لاس اونیولو، لږ ساعت پس هم په دغه تیزئ سره یوه وینځه دسترخوان ته راغله او راتلو سره هغې هم د خوراک اراده اوکړه.

¹): صحيح مسلم/الأشربة ۱۳ (۲۰۱۸)، سنن ابن ماجه/الدعاء ۱۹ (۳۸۸۷)، (تحفة الأشراف: ۲۷۹۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۸۳،۳۴۶/۳) (صحيح)

رسول اللهﷺ د هغې هم لاس اونیولو او وې فرمائیل چه بیشکه شیطان د خپل ځان دپاره هغه خوراک حلالوی یعنی په هغې کښې خپله حصه پیدا کول غواړی په کوم باندې چه د الله پاک نوم نه وی اخستلې شوې. او په تحقیق سره شیطان دا اعرابی راوستلې وو په خوراک کښې د خپلې حصې د پیدا کولو دپاره هم په دې وجه ما د هغه لاس اونیولو. او هم دغه شان د دې وینځې هم، قسم دې په هغه ذات چه د چا په لاس کښې زما ساه ده چه یقینا د شیطان لاس هغه وخت زما په لاس کښې وو د دې دواړو د لاسونو سره،

[٣٧٦٦]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ خَيْثَمَةَ، عَنْ أَبِي حُذَيْفَةَ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: "كُنَّا إِذَا حَضَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا لَمْ يَضَعْ أَحَدُنَا يَدَهُ حَتَّى يَبْدَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَإِنَّا حَضَرْنَا مَعَهُ طَعَامًا، فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ كَأَنَّمَا يُدْفَعُ فَذَهَبَ لِيَضَعَ يَدَهُ فِي الطَّعَامِ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ، ثُمَّ جَاءَتْ جَارِيَةٌ كَأَنَّمَا تُدْفَعُ فَذَهَبَتْ لِتَضَعَ يَدَهَا فِي الطَّعَامِ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهَا، وَقَالَ: إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ الَّذِي لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ، وَإِنَّهُ جَاءَ بِهَذَا الْأَعْرَابِيِّ يَسْتَحِلُّ بِهِ فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ، وَجَاءَ بِهَذِهِ الْجَارِيَةِ يَسْتَحِلُّ بِهَا فَأَخَذْتُ بِيَدِهَا، فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، إِنَّ يَدَهُ لَفِي يَدِي مَعَ أَيْدِيهِمَا".

د حذیفة رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه کله به مونږ دنبی علیه السلام سره خوراک ته کیناستونو په مونږ کښې به هیچا مخکښې خوراک نه شروع کولو ترڅوچه به نبی کریم ﷺ شروع نه وه کړې، یوځل مونږ دنبی علیه السلام سره خوراک ته کیناستو نوباندچی په منډه راغې اوهغه داسې په منډه را روان وولکه چه څوک ئې دوروسته نه دیکه کوي او په خوراک کښې ئې دشاملیډ و اراده اوکړه،نبی علیه السلام دهغه لاس اونیولو بیا ددینه پس یوه ماشومه په منډه راغله اوهغه داسې په منډه را روانه وه لکه چه څوک ئې دوروسته نه دیکه کوي او په خوراک کښې ئې د شاملیډ و اراده اوکړه،لیکن نبی علیه السلام دهغې لاس اونیولواو اولې فرمائیل: شیطان په دې طریقې سره خوراک دخان دپاره حلالوي په کوم باندې چه دالله تعالى نوم وانه خستل شي،شیطان اول باندچی راوستوددې دپاره چه دخان دپاره خوراک حلال کړې نو په دې وجه مادهغه لاس اونیولو، بیا ئې داماشومه راوستله چه ددې په ذریعه دخان دپاره خوراک حلال کړي نوما ددې لاس هم ونیولو، په هغه ذات مې دې قسم وي دچاپه لاس کښې چه زما روح دردشیطان لاس ددوی دواړودلاسونوسره زما په لاس کښې دې.

د دې حدیث نه چه د تسمية على الطعام کوم اهمیت او فائده معلومیږی هغه ښکاره ده، او دا خبره هم ترې نه مستفاد کیږی چه په یو فراخه دسترخوان باندې چه په هغې باندې څو کسان خوراک کوی په هغې کښې صرف دیو یا دوه کسو بسم الله لوستل کافی نه دی بلکه په دستر خوان کښې شریک هر یو لره بسم الله لوستل پکار دی که په دستر خوان کښې د شریک یو کس نه هم بسم الله پاتې شوه نو شیطان ته به د شرکت موقع ملاؤ شي، ځکه چه ښکاره ده چه رسول اللهﷺ او صحابه کرام رضي الله عنهم کوم چه د هغوی سره وو او د مخکښې نه ئې خوراک کولو هغوی تولو بسم الله لوستلې وه.

(): صحيح مسلم الأشربة ١٣ (٢٠١٧)، (تحفة الأشراف: ٣٣٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٣/٥، ٣٨٣، ٣٨٨، ٣٩٧) (صحيح)

ددې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه شیطان او جنات خوراک کوی، لکه چه په دې باندې کلام په ابواب الاستنجاء کښې ﴿ لکم کل عظم لم یذکر اسم الله علیه ﴾ کښې تیر شوې دی.

د دې نه پس د عائشې رضی الله عنها حدیث راروان دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې د خوراک په شروع کښې بسم الله هیره کړی، او بیا ورته په مینځ کښې رایاد شی نو هغه له پکار دی چه داسې اووائی: ﴿ بِسْمِ اللهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ ﴾.

والحدیث اخرجه مسلم والنسائی، قاله المنذری.

[٣٧٦٧] ([1]) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ هِشَامٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي عَبْدِ اللهِ الدَّسْتُوَائِيَّ، عَنْ بُدَيْلٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ امْرَأَةٍ مِنْهُمْ يُقَالُ لَهَا: أُمُّ كُلْثُومٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَذْكُرِ اسْمَ اللهِ تَعَالَى، فَإِنْ نَسِيَ أَنْ يَذْكُرَ اسْمَ اللهِ تَعَالَى فِي أَوَّلِهِ، فَلْيَقُلْ: بِسْمِ اللهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي دي: کله چه یو کس په تاسو کښې خوراک شروع کړی نوهغه له پکاردي چه اول دالله تعالی نوم واخلي که چرې په دې وخت کښې دهغه نه دالله نوم اخستل هیرشي نوبیادي داسې ووائی بسم الله أوله وآخره یعنی دالله په نوم سره خوراك کوم په اول کښې او په اخر کښې.

مضمون الحدیث:

د دې نه پس د امیه بن مخشی رضی الله عنه حدیث راروان دې هغوی فرمائی چه یو کرت رسول الله ﷺ تشریف فرما وو د هغوی مخې ته یو سړې خوراک کولو هغه بسم الله نه وه لوستلې، هغه هم دغه شان خوراک کولو، چه کله د هغه آخری نمړئ پاتې شوه نو هغه ﴿بِسْمِ اللهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ ﴾ اولوستلو، په دې باندې رسول الله ﷺ مسکې شو او وې فرمائیل چه د دې سړی سره شیطان مسلسل خوراک کولو، چه کله هغه په اخیره کښې بسم الله اولوستله نو شیطان هغه هر څه چه هغه خوړلی وو هغه ئې قئ کړل. یعنی د بسم الله د نه لوستلو د وجې نه چه کومه بې برکتی پیدا کیدله هغه برکت واپس راغلو. او دا هم وئیلې شوې دی چه دا په خپل حقیقت باندې محمول دې ځکه چه هرکله هغه حقیقة خوری نو په واقع کښې قئ هم کولې شی. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری

[٣٧٦٨] ([2]) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى يَعْنِي ابْنَ يُونُسَ، حَدَّثَنَا جَابِرُ بْنُ صُبْحٍ، حَدَّثَنَا الْمُثَنَّى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْخُزَاعِيُّ، عَنْ عَمِّهِ أُمَيَّةَ بْنِ مَخْشِيٍّ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا وَرَجُلٌ يَأْكُلُ، فَلَمْ يُسَمِّ حَتَّى لَمْ يَبْقَ مِنْ طَعَامِهِ إِلَّا لُقْمَةٌ، فَلَمَّا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ، قَالَ: بِسْمِ اللهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: مَا زَالَ الشَّيْطَانُ يَأْكُلُ مَعَهُ، فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ اسْتَقَاءَ مَا فِي بَطْنِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: جَابِرُ بْنُ صُبْحٍ جَدُّ سُلَيْمَانَ بْنِ حَرْبٍ مِنْ قِبَلِ أُمِّهِ.

دامیه بن مخشي نه روایت دې فرماي چه نبی علیه السلام ناست وو او یو سړې خوراك کول اوبسم

[1]): سنن الترمذي/الأطعمة ٤٧ (١٨٥٨)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٨٨)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الأطعمة ٧ (٣٢٦٤)، مسند احمد (١٤٣/٦، ٢٠٧، ٢٤٦، ٢٦٥)، سنن الدارمي/الأطعمة ١ (٢٠٦٣) (صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٣٦/٤) (ضعيف)

الله کې ونه وئیله تردې پورې چه دخوراك نه يوه نورئ باقي پاتې شوه کله چه هغه دغه دخوړلو دپاره اوچته کړه نورې وئیل چه: بسم الله أوله وآخره » نبی ﷺ چه دا واوریدل نووئې خندل اوبیا ئې اوفرمائیل ددی کس سره شیطان پوشان خوراك کولو کله چه ده دالله نوم واخستو نوشیطان ئې وکړو او دده په خیټه کښې چه څه وو هغه ئې وګرځول. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

باب مَا جَاءَ فِي الأَكْلِ مُتَّكِئًا

د ډډې وهلو په حالت کښې د خوراك کولو بیان

[٣٧٦٩]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الأَقْمَرِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا جُحَيْفَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَ آكُلُ مُتَّكِئًا".

دابوجحیفة ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه زه په داسې حال کښې خوراك نه کوم چه ډډه مې وهلې وي.

[٣٧٧١]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سُلَيْمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسًا، يَقُولُ: "بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَوَجَدْتُهُ يَأْكُلُ تَمْرًا وَهُوَ مُقْعٍ".

د مصعب بن سلیم نه روایت دې فرمائی چه دانس بن ئې مالکه نه مې اوریدلی دی فرمائیل ئې چه یوځل زه د نبی ﷺ چرته ولیګلم نوهرکله چه ورته واپس راغلم نوما ولید وچه د ډډې وهلو په حالت کښې ئې کجورې خوړلې.

قوله:﴿سَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ بَعَثَنِي النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَوَجَدْتُهُ يَأْكُلُ تَمْرًا مُقْعٍ﴾

شرح الحدیث:

سیدنا انس ﷺ فرمائی چه یو کرت رسول الله ﷺ زه د یو کار دپاره اولیږلم چه کله هغوی ته راواپس شوم نو ما هغوی په داسې حال کښې بیا موندل چه هغوی کهجورې خوړلې په ملا باندې ډډهٔ وهلو سره دخپلو په سرپه ناسته.

دا روایت په شمائل ترمذی کښې هم شته چه په هغې کښې داسې دی ﴿ وهو مقع من الجوع ﴾ د دې په شرح کښې علامه مناوی فرمائی:

﴿ ای متساندا الی ما وراله من الضعف الحاصل له بسبب الجوع، ففی القاموس : اقعی فی جلوسه تساند الی ما ورائه، ولیس الاستناد من اداب الاکل لانه فعله للضرورة، وقال القاری : ای محتبیا مستندا الی ما ورائه من الضعف الحاصل له بالجوع ﴾

د دې حدیث نه د رسول الله ﷺ ډډه وهل ثابت شو، د ﴿ اکل متکئا ﴾ په باره کښې رسول الله ﷺ خپله فرمائی ﴿ لا آکل متکئا ﴾ هم په دې وجه تکیه لګولو سره خورک کول

(): صحیح البخاري/الأطعمة ١٣ (٥٣٩٨)، سنن الترمذي/الأطعمة ٢٨ (١٨٣٠)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٦ (٣٢٦٢)، (تحفة الأشراف: ١١٨٠١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٠٨، ٣٠٩)، سنن الدارمي/الأطعمة ٣١ (٢١١٥) (صحیح)

(): صحیح مسلم/الأشربة ٢٤ (٢٠٤٤)، سنن الترمذي/الشمائل (١٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٥٩١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/١٨٠، ٢٠٣)، دي/الأطعمة ٢٦ (٢١٠٦) (صحیح)

خلاف ادب او خلاف سنت دی، خو په دې موقع باندې رسول اللهﷺ تکیه لګولو سره خوراک کولو د عذر جوع د وجې نه، چه د هغې طرف ته راوی خپله اشاره کړې ده، او شارحینو هم خپله د هغې وضاحت کړې دې. والحدیث اخرجه البخاری، والترمذی، والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

د دې نه روستو روایت کښې دی ﴿ مَا رُئِيَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَأْكُلُ مُتَّكِئًا قَطُّ وَلاَ يَطَأُ عَقِبَهُ رَجُلاَنِ ﴾

[٣٧٧٠]([1])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ شُعَيْبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "مَا رُئِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ مُتَّكِئًا قَطُّ، وَلَا يَطَأُ عَقِبَهُ رَجُلَانِ".

دعبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه هیڅکله نبی کریم ﷺ په داسې حالت کښې نه دې لیدلې شوې چه د ډډې وهلو په حال کښې ئې خوراك كړې وی او چه کله به دوه کسان ورپسې وو نود تواضع د وجې نه به دهغوی رضی الله عنهم نه مخکښې کیدو.

شرح الحديث :

یعنی رسول اللهﷺ کله هم په تکیه لګولو سره په خوراک باندې نه دې لیدلې شوې، او نه به د رسول اللهﷺ د خپو چاپونه ورانول دوه سړو.... یعنی دوه سړی به په رسول اللهﷺ پسې شاته شاته نه تلل، یعنی د رسول اللهﷺ عادت مبارک د تلو په وخت د خپلو ملګرو نه د وړاندې تلو نه وو ﴿ اما ان يمشى خلفهم كما جاء او يمضى فيهم ﴾ بلکه یا خو به رسول اللهﷺ شاته روان وو یا د خپلو ملګرو سره یو ځائې په ﴿ رجلان ﴾ کښې مشهوره دا ده چه ﴿ بفتح الراء وضم الجيم ﴾ دې لکه چه په ترجمه کښې اختیار کړې شوې ده دویم احتمال د راء د کسرې او د جیم د سکون دې. یعنی قدمین، ﴿ يعنى لا يمشى خلفه احد ذو رجلين ﴾ (بذل)

د آکل متکئا مصداق او تفسير :

د آکل مُتَّكِئًا څو تفسیرونه کړې شوې دی یو دا چه: ﴿ ان يتمكن فى الجلوس للاكل على اى صفة كان ﴾ یعنی ښه کلک کیناستلو سره خوراک پکار دې هر څنګه چه وی، داسې ناستې سره به هم هغه سړې خوراک کوی چه د چا خوراک زیات وی، د زیات خوراک عادت وی، ﴿ وقيل ان يميل على احد شقيه ﴾ یعنی یو طرف ته ښکته کیدو سره خوراک کول، ښی یا ګس طرف ته په څه ځیز باندې تکیه لګولو سره، ﴿ وقيل ان يعتمد على يده اليسرى من الارض ﴾ یعنی په ګس لاس باندې په زمکه باندې تکیه لګول چه په داسې ناسته باندې منع په بعضو روایتونو کښې مطلقا هم راغلې دې بغیر د خوراک نه، خطابی رحمه الله فرمائی چه اکثر خلق دا ګڼړی چه د متکئ معنی ښی یا ګس طرف ته په ډډه باندې کیناستل دی حال دا چه داسې نه ده. بلکه متکئ هغه سړې دې چه په ګدئ کیناستلو یا په تکیه باندې کیناستلو سره خوراک کوی، خو ابن الجوزی رحمه الله د اتکاء هم هغه معنی اخستلې ده د کوم د تخصیص نه چه خطابی انکار کړې دې یعنی ښی یا ګس طرف ته ډډه وهل. او ملا علی قاری رحمه الله په

[1]): سنن ابن ماجه/المقدمة ٢١ (٢٤٤)، (تحفة الأشراف: ٨٦٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٥/٢، ١٦٧) (صحيح)

مرقاة کښې د بعضو محققینو نه نقل کړی دی چه د دې نه مراد پرلت وهلو سره خوراک کول دی ځکه چه دا هیئت هم هغه سړې اختیاروی کوم چه د زیات خوراک عادت وی، او دا د تکبر علامت هم دې.

د خوراک په وخت د ناستې غوره طریقه:

حافظ فرمائی: غوره په صفت د جلوس کښې دا ده چه د په دواړو کونډو او په ظهور د قدمین باندې کیناستلو سره خوراک اوکړی او یا ښئ کونډئ اودروی او ګسه اوغوړوی، او حضرت په بذل کښې د حضرت ګنګوهی د تقریر نه نقل کړی دی چه غوره او مقبول هیئت په خوراک کښې هم هغه دې چه په هغې کښې د خوراک طرف ته پوره توجه بیا موندلې شی (چه د الله پاک یو نعمت دې) او هغه هیئت داسې نه دی کیدل پکار چه په هغې کښې زیات خوراک کولې شی د خیټې د فراخه کیدو د وجې نه (لکه د پرلت وهلو په وخت کښې) او نه هغه هیئت د متکبرینو وی، پس په کوم هیئت کښې چه دا درې واړه صفات اوموندلې شی هغه به د ټولو نه افضل وی او په کوم کښې چه صرف دوه بیا موندلې شی یا یو هغه به د دې نه د کمې درجې وی. اهـ بزیادة، والحدیث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْأَكْلِ مِنْ أَعْلَى الصَّحْفَةِ

د کاسې د مینځ نه د خوراک کولو بیان

[۳۷۷۲] (1) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلَا يَأْكُلْ مِنْ أَعْلَى الصَّحْفَةِ وَلَكِنْ لِيَأْكُلْ مِنْ أَسْفَلِهَا فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ مِنْ أَعْلَاهَا".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی کله چه په تاسو کښې یو کس خوراک کوي نو دکاسې دمینځ نه دې نه خوري بلکه دیوطرف نه دې خوري ځکه چه برکت ددې په مینځ کښې اچولې شي (اوبیا غاړوته راخوریږي).

په حدیث الباب کښې دا دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه کله په تاسو کښې څوک خوراک کوی نو د کاسې د پورته طرف نه دې کوی یعنی د مینځ نه دې نه خوری بلکه د هغې نه د لاندې حصې یعنی خپلې مخې نه دې خوری، روستو رسول الله ﷺ د دې حکمت ارشاد فرمائیلې دې چه دا په دې وجه چه په مینځ د کاسې کښې برکت نازلیږی. لهذا د هغې تقاضا دا ده چه د مینځ حصه د خوراک نه خالی کیدل نه دی پکار دې دپاره چه په هغې باندې مسلسل برکت نازلیږی.

والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

(1): سنن الترمذي/الأطعمة ١٣ (١٨٠٥)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ١٢ (٣٢٧٧)، (تحفة الأشراف: ٥٥٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٧٠، ٣٠٠، ٣٤٣، ٣٤٥، ٣٦٤)، سنن الدارمي/الأطعمة ١٦ (٢٠٩٠) (صحيح)

[٣٧٧٣]( )حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عِرْقٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُسْرٍ، قَالَ: "كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَصْعَةٌ يُقَالُ لَهَا: الْغَرَّاءُ، يَحْمِلُهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ، فَلَمَّا أَضْحَوْا وَسَجَدُوا الضُّحَى أُتِيَ بِتِلْكَ الْقَصْعَةِ يَعْنِي وَقَدْ ثُرِدَ فِيهَا، فَالْتَفُّوا عَلَيْهَا، فَلَمَّا كَثَرُوا جَثَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ: مَا هَذِهِ الْجِلْسَةُ؟، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ جَعَلَنِي عَبْدًا كَرِيمًا، وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا عَنِيدًا، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُوا مِنْ حَوَالَيْهَا وَدَعُوا ذِرْوَتَهَا يُبَارَكْ فِيهَا".

دعبدالله بن بسر رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چه دنبي عليه السلام د الغراء په نوم باندې يوه لويه کاسه وه کومه چه څلوروکسانو اوچتوله کله چه داشراق دمونځ وخت شونودې صلاة الضحي وکړو اودا کاسه راوړي شوه او دثريد نه ډکه وه هرکله چه ګڼه جوړه شوه اودوی ورنه چاپيره شول نونبي عليه السلام خپل زنګنونه سيده کړل اوکيناستو نو په دې وخت کښې يواعرابي ووئيل داد ناستې څرنګه طريقه ده نبي عليه السلام اوفرمائيل يقينازه الله تعالى نيک بنده جوړ کړي يم اوالله تعالى تکبرکونکي نه يم جوړ کړي اوبيائې داهم اوفرمائيل چه دکاسې دغاړونه خورئ او مينځ ئې پريږدئ.

قوله: ﴿ كَانَ لِلنَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– قَصْعَةٌ يُقَالُ لَهَا الْغَرَّاءُ يَحْمِلُهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ فَلَمَّا أَضْحَوْا وَسَجَدُوا الضُّحَى أُتِيَ بِتِلْكَ الْقَصْعَةِ الخ ﴾

رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرام رضي الله عنهم چه به يو ځائې په کوم لوښی کښې خوراک فرمائيلو

يعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغوی صحابه کرام رضي الله عنهم چه به په کوم لوښی کښې خوراک فرمائيلو هغه يو لويه پياله وه کومه چه به څلورو کسانو راوړله او په هغې کښې به ثريد اچولې شوې وو. د دې پيالې نوم غرّاء وو، پس چه کله به د څاښت وخت شو او صحابه کرام رضي الله عنهم به د څاښت مونځ اوکړو نو دا پياله به راوړلې شوه ټول حضرات به د هغې نه چاپيره د حلقې په شکل کښې کيناستل يو کرت چه کله خوراک کونکی زيات شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم راغونډ په دواړو کونډو باندې کيناستلو (ښکاره خبره ده چه دا ډير د تواضع هيئت دې هم په دې وجه) يو اعرابی اووې دا د ناستې څنګه هيئت دې؟ په دې باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ﴿ إِنَّ اللَّهَ جَعَلَنِي عَبْدًا كَرِيمًا وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا عَنِيدًا ﴾ چه الله پاک زه شريف الطبع انسان پيدا کړې يم، او متکبر او سخت خوئی والا ئې نه يم جوړ کړې. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل د دې پيالې د څلورو واړو طرفونو نه خوراک کوئ، او د دې د مينځ حصه پريږدئ چه په دې کښې برکت نازليږی.

په شمائل ترمذی کښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د قدح ذکر هم راغې چه په هغې باندې امام ترمذی رحمه الله مستقل باب ترلې دې چه په هغې کښې دا دی: ﴿ عن ثابت قال اخرج الينا انس بن مالک رضي الله عنه قدح خشب غليظ مضببا بحديد الحديث ﴾ يعنی د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لرګی يو پياله وه چه په هغې کښې د اوسپنې پټری لګيدلې وو، چه د هغې په باره کښې انس رضي الله عنه دا هم

[1]): سنن ابن ماجه/الأطعمة ٦ (٣٢٦٣)، ١٢ (٣٢٧٥)،(تحفة الأشراف: ٥١٩٩)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الأطعمة ١٦ (٢٠٩٠) (صحيح)

فرمائی چه رسول اللهﷺ به د څکلو تول څیزونه په دې پیاله باندې څکل ﴿ الماء والنبيذ والعسل واللبن ﴾ او دا غراء د کوم چه په حدیث الباب کښې ذکر دې د یو لوئې لوښی نوم دې چه په هغې کښې به رسول اللهﷺ او صحابه کرامو ﷺ یو ځائې ثرید خوړلو. والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذري.

[٣٧٧٨](١) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مَعْشَرٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقْطَعُوا اللَّحْمَ بِالسِّكِّينِ فَإِنَّهُ مِنْ صَنِيعِ الْأَعَاجِمِ، وَانْهَسُوهُ فَإِنَّهُ أَهْنَأُ وَأَمْرَأُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ.

د أم المومنین عائشة ﷺ نه روایت دې فرمائی چه رسول الله فرمائیلی دی غوښه به په چاړه نه پریکوي (د پخیدونه پس) ځکه چه دا د عجمیانو طریقه ده بلکه په غاښونو به ئې پریکوئ ځکه چه په دې کښې لذت زیات وي او زر هضم کیږي.

قوله: ﴿لاَ تَقْطَعُوا اللَّحْمَ بِالسِّكِّينِ فَإِنَّهُ مِنْ صَنِيعِ الأَعَاجِمِ الخ﴾

په قطع اللحم بالسكين کښې اختلاف د روایتونو:

په دې حدیث کښې په چړې سره د غوښې د پرې کولو نه منع کړې شوې ده چه دا د عجمیانو طریقه ده او رسول اللهﷺ فرمائی چه غوښه په خپلو غاښونو باندې راښکلو سره خورئ چه هغه ډیر مزیداره لګی.

د دې حدیث ذکر د الدر المنضود په مقدمه کښې راغلې دې چه دا په هغه احادیثو کښې دې په کوم باندې چه ابن الجوزی ﷫ د وضع حکم لګولې دې، خو موضوعی وئیل خو ګران دی او ضعیف ورته وئیلې کیدې شی، په صحاح سته کښې ان شاء الله سوا د ابن ماجه د بعض احادیثو نه هیڅ حدیث موضوعی نشته.

په چاړهٔ باندې د غوښې د پرې کولو ثبوت په روایاتو کښې موجود دې لکه چه په کتاب الطهارة ﴿ باب فی ترک الوضوء مما مست النار ﴾ کښې په حدیث تیر شوې دې. ﴿واخذ الشفرة فجعل يحزلي بها منه ﴾ وقد تقدم الكلام هناک......... یو توجیه چه کومه هلته نه ده تیره شوې هغه دا ده چه منع د هغه غوښې سره متعلق ده چه ښه پخه شوې وی. ﴿ قد تامل نضجه ﴾ ځکه چه هلته په چړې باندې د پرې کولو حاجت هم نه وی د نرمیدو د وجې نه په لاس باندې کار چلیدې شی.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْجُلُوسِ عَلَى مَائِدَةٍ عَلَيْهَا بَعْضُ مَا يُكْرَهُ

په کوم دسترخوان چه ناجائزه څیزونه پراته وی هلته د کیناستلو بیان

[٣٧٧٤](٢) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ مَطْعَمَيْنِ: عَنِ الْجُلُوسِ عَلَى مَائِدَةٍ يُشْرَبُ عَلَيْهَا الْخَمْرُ، وَأَنْ يَأْكُلَ الرَّجُلُ وَهُوَ مُنْبَطِحٌ عَلَى بَطْنِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْحَدِيثُ لَمْ يَسْمَعْهُ جَعْفَرٌ مِنَ الزُّهْرِيِّ، وَهُوَ مُنْكَرٌ.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٢٥١) (ضعيف)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٨٠٩)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري (٦١٠٧)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٦٢ (٣٣٧٠) (حسن)

سالم دخپل پلار عبدالله رضي الله عنه نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام د دوه قسمه خوراک کولونه منع فرمائیلي ده یوخوئې په داسې دسترخوان باندې دخوراك کولونه منع فرمائیلي ده په کوم چه شراب استعمالیږي دویم په نسکوره باندې دخوراك کولونه، امام ابوداؤد فرمائي داحدیث منکردن دا حدیث جعفربن برقان دزهري نه نه دې اوریدلې۔

په حدیث الباب کښې دا دی چه رسول الله ﷺ د دوه قسمه خوراکونو نه منع فرمائیلي ده، یو په هغه دسترخوان باندې چرته چه شراب څکلې کیږی، او یو دا چه انسان داسې خوراک اوکړی چه هغه په خیټه باندې ملاست وی. والحدیث اخرجه النسائی.

[٣٧٧٥] (١) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي الزَّرْقَاءِ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا جَعْفَرٌ، أَنَّهُ بَلَغَهُ عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْحَدِيثِ.

دجعفرنه روایت دې فرمائی چه ماته دزهري نه دتیرشوي حدیث په شان حدیث رارسیدلې دې۔

بَابُ الْأَكْلِ بِالْيَمِينِ

په ښی لاس باندې د خوراك کولو بیان

[٣٧٧٦] (٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَخْبَرَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ جَدِّهِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ، وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِشِمَالِهِ".

دابن عمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دی کله چه خوراك کوي یوکس په تاسوکښې نوخوري دي په ښی لاس باندې، اوکله چه شکل کوي نوڅکل دي کوي په ښی لاس باندې یقینا شیطان په چپ لاس باندې خوراك اوڅکل کوي.

﴿ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِشِمَالِهِ ﴾ دا حدیث د جمهورو په نزد په حقیقت باندې محمول دې، قال فی النیل ﴿ والذي علیه الجمهور من السلف والخلف من المحدثین وغیرهم أن أكل الشیطان محمول علی ظاهره وأن للشیطان یدین ورجلین وفیهم ذكر وأنثی وأنه یأكل حقیقة بیده إذا لم یدفع وقیل إن أكلهم علی المجاز والاستعارة وقیل أن أكلهم شم واسترواح ولا ملجئ إلی شيء من ذلك ﴾ اهـ په ابواب الاستنجاء کښې تقریبا دا ټول مضمون تیر شوې دې، دا چه تیر شو چه دا حدیث په مجاز باندې محمول دې یعنی معنی مجازی دا کیدې شی چه ﴿ انه یامر بذلك ویحرض علیه ﴾ یعنی په ګس لاس باندې شیطان تیارول کوی. والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی قاله المنذری.

[٣٧٧٧] (٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ لُوَيْنٌ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ، عَنْ أَبِي وَجْزَةَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ادْنُ بُنَيَّ، فَسَمِّ اللَّهَ وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ".

---

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦٨٠٩) (حسن لغیره)

(٢): صحیح مسلم/الأشربة ١٣ (٢٠٢٠)، سنن الترمذي/الأطعمة ٩ (١٧٩٩)، (تحفة الأشراف: ٨٥٧٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صفة النبي ٤ (٦)، مسند احمد (٢/٨، ٣٣، ١٠٦، ١٤٦)، سنن الدارمي/الأطعمة ٩ (٢٠٧٣) (صحیح)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٦٨٩)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/الأطعمة ٢ (٥٣٧٦)، صحیح مسلم/الأشربة ١٣ (٢٠٢٢)، سنن الترمذي/الأطعمة ٤٧ (١٨٥٧)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٧ (٣٢٦٧)، موطا امام مالك/صفة النبي ١٠ (٣٢)، مسند احمد (٤/٢٧)، سنن الدارمي/الأطعمة ١ (٢٠٦٢) (صحیح)

د ابوسلمه نه روایت دي فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی رانزدې شه اې بچوړیه دالله نوم یاد کړه او په ښي لاس باندې خوره اوخوراك کوه دهغه ځائې نه کوم چه تاته نزدې وي.

قوله: ﴿عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- « اذنُ منى الخ» ﴾

په بعض نسخو کښې د دې نه پس د ﴿ یا بنی ﴾ زیادت دې، ځکه چه دا عمر بن ابی سلمه د ام المومنین ام سلمه رضی الله عنها ځوئې دې د هغوی دړومبې خاوند ابوسلمه رضی الله عنه نه، هم په دې وجه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ یا بنی ﴾

په دې حدیث کښې دوه اداب ذکر دی یو ﴿ اکل بالیمین ﴾ او د کاسې د غاړې نه کومه چه خوراک کونکی ته نزدې وی د هغې نه خوراک کول. کما تقدم باب الاکل من اعلی الصحفة.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجه من حديث ابي نعيم، وهب بن كيسان، عن عمر بن ابي سلمة بنحوه واخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجه من حديث عروة بن الزبير عن عمر بن ابي سلمة، قاله المنذري.

بَابٌ فِي أَكْلِ اللَّحْمِ

دغوښې خوړلو بیان

[٣٧٧٩](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ، قَالَ: "كُنْتُ آكُلُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَآخُذُ اللَّحْمَ بِيَدِي مِنَ الْعَظْمِ، فَقَالَ: أَدْنِ الْعَظْمَ مِنْ فِيكَ فَإِنَّهُ أَهْنَأُ وَأَمْرَأُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: عُثْمَانُ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ صَفْوَانَ وَهُوَ مُرْسَلٌ.

دصفوان بن امیه رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه مادنبی علیه السلام سره خوراك کولو اومابه غوښه دهډ وکونه جداکوله نبی علیه السلام اوفرمائیل هډوکې خولې ته نزدې کړه ځکه چه په دې طریقې سره دغوښې په خوړلوکښې خوند زیات وي اوزرهضم کیږي.

په ظاهر کښې مراد صفة الاکل یعنی د غوښې د خوراک طریقه بیانول دی. پس مضمون د حدیث دادې صفوان بن امیه رضی الله عنه فرمائی چه یو کرت ما د رسول الله ﷺ سره خوراک کولو داسې چه د هډوکی نه مې غوښه شوکوله او هغه مې خوړله، رسول الله ﷺ اوفرمائیل داسې مه کوه بلکه هم دا هډوکې خولې ته نزدې کړه او په غاښونو باندې ئې راوشوکوه چه داسې ډیره مزیداره لګی.

[٣٧٨٠](٢) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ زُهَيْرٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عِيَاضٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "كَانَ أَحَبُّ الْعُرَاقِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرَاقَ الشَّاةِ".

دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه په ټولوهډوکوکښې دنبی علیه السلام دچیلی دغوښې هډوکې خوښ وو.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٩٤٦)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأطعمة ٣٢ (١٨٣٥)، مسند احمد (٣/٤٠١، ٦/٤٦٦)، سنن الدارمي/الأطعمة ٣٠ (٢١١٤) (ضعيف)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩٢٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٩٧) (صحيح)

مضمون حديث:

قوله ﴿ كَانَ أَحَبُّ الْعُرَاقِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عُرَاقُ الشَّاةِ ﴾

عراق د عرق جمع ده هغه هډوکي چه په هغې باندې غوښه وی، يعنی د رسول اللهﷺ د بيزې هغه غوښه ډيره خوښه وه کومه چه په هډوکی باندې لګيدلې وی، بعض خلق خالصه د غوښې بوټئ خوښوی. او بعضو ته د هډوکی والا غوښه خوښه وی د رسول اللهﷺ هم دا قسم غوښه خوښه وه. والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری

او د دې نه روستو روايت کښې راځی ﴿ انَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- يُعْجِبُهُ الذِّرَاعُ. قَالَ وَسُمَّ فِي الذِّرَاعِ وَكَانَ يَرَى أَنَّ الْيَهُودَ هُمْ سَمُّوهُ ﴾

يعنی د رسول اللهﷺ د لاس غوښه خوښه وه هم په دې وجه رسول اللهﷺ ته زهر ورکونکې هم په دې کښې زهر ورکړې وو ځکه چه هغه ته معلومه وه چه د رسول اللهﷺ ذراع خوښ دې او هغوی به هم دا خوری.

[۳۷۸۱]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ بِهَذَا الإِسْنَادِ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ الذِّرَاعُ، قَالَ: وَسُمَّ فِي الذِّرَاعِ وَكَانَ يَرَى أَنَّ الْيَهُودَ هُمْ سَمُّوهُ.

امام ابوداؤد والي په دې سند سره دعبدالله بن مسعود نه مروي دي چه دنبی علیه السلام به دځنګل غوښه ډيره خوښه وه اونبی علیه السلام ته دځنګل په غوښه کښې زهر ورکړې شوي وو اودهغه دا خيال وو چه په دې کښې زهر يهوديانو اچولي دي۔

(زهر ورکونکې څوک وو؟)

رسول اللهﷺ ته زهر کوم يهودی ورکړې وو د هغې په باره کښې حديث په کتاب الديات کښې راروان دې. ﴿ باب فی من سقی رجلا سما او اطعمه فمات ايقاد منه ﴾ د لاندې... هلته د دې سلسلې ډير روايتونه دی هلته دا هم دی: قال ابوداؤد هذه اخت محرب اليهودية... يعنی کومې يهودی زنانه چه رسول اللهﷺ ته زهر ورکړې وو هغه د مرحب خور وه، د چه نوم دهغې زينب بنت الحارث وو، ﴿ وذکر الزهری انها اسلمت اهـ ﴾ من البذل او د ابن الجوزی رحمه الله په تلقيح صفحه ۴۵ کښې دا هم دی چه دا زنانه د سلام بن مشکم ښځه وه. والحديث اخرجه الترمذی، وقد اخرج البخاری ومسلم من حديث ابی زرعه بن عمرو بن جرير عن ابی هريرة رضی الله عنه ان رسول اللهﷺ رفع اليه الذراع وكانت تعجبه الحديث. قاله المنذری.

بَابٌ فِي أَكْلِ الدُّبَّاءِ

د کدو خوړلو بيان

د دباء ذکر په اوعيه د نبيذ کښې تير شوې دې يعنی کدو کوم ته چه لوکی هم وئيلې شی، بعض په دې کښې مستطيل وی، بعض مستدير، د نبيذ جوړولو دپاره خو زيات مناسب مستدير وی چه د پياله په شکل کښې وی، بهر حال هر يو چه وی دا د بهر نه شين وی او دننه سپين وی. ددې مغز نرم او نرئ وی. اطباء و د دې ډيرې فائدې ليکلې دی حضرت شيخ

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۲۳۳) (صحيح)

رحمه الله په خصائل نبوی ﷺ کښې لیکی : د کدو فوائد علماء حدیث ډیر زیات لیکلې دی او د طب په کتابونو کښې هم د دې ډیر فوائد لیکلې شوې دی. د هغه ټولو نه دا هم ده چه عقل تیزوی، دماغو ته طاقت ورکوی. اهـ........ د کدو یو قسم بل دې چه د هغې د بهر نه رنګ ګلابی شان وی او دننه زیړ کوم ته چه خوږ کدو وائی کوم چه دلته [1] په حجاز کښې هم وی خو د کمی سره........ هغه د دې نه مراد نه دې، ځکه چه کوم کدو رسول الله ﷺ ته محبوب وو د هغې په باره کښې په یو روایت کښې دا راغلی دی ﴿عن جابر بن طارق رضي الله عنه قال دخلت علی النبی ﷺ فرایت عنده دباء یقطع، فقلت ما هذا؟ قال نکثر به طعامنا ﴾ (شمائل) د دې نه معلومیږی چه دا کدو به په غوښه وغیره نورو ترکارو کښې اچولې شو چه په هغې سره به په ترکارې کښې اضافه کیدله. دا خبره د کدو په دې دویم قسم کښې نه شی موندلې، دا خو مستقل پخولې شی. والله تعالی اعلم.

[۳۷۸۲] ([2]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: "إِنَّ خَيَّاطًا دَعَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَهُ، قَالَ أَنَسٌ: فَذَهَبْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى ذَلِكَ الطَّعَامِ، فَقَرَّبَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُبْزًا مِنْ شَعِيرٍ، وَمَرَقًا فِيهِ دُبَّاءٌ وَقَدِيدٌ، قَالَ أَنَسٌ: فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَيِ الصَّحْفَةِ، فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ بَعْدَ يَوْمِئِذٍ".

دانس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یودرزی (خیاط) یوه ورځ نبی علیه السلام ته دعوت ورکړو انس وائی دنبی علیه السلام سره ډغه دعوت ته زه هم لاړم نبی علیه السلام ته دوربشو ډوډئ اوشوروا اوکدو اویشیدلې غوښه پیش کړې شوه انس رضي الله عنه وائې مانبی علیه السلام اولیدو چه داسې په کوټونو کښې به ئې دکدو چندې لټولې نو زه دهغې ورځې نه دکدو خوړل خوښوم.

قوله: ﴿إِنَّ خَيَّاطًا دَعَا رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– لِطَعَامٍ صَنَعَهُ ﴾

یعنی یو درزی رسول الله ﷺ ته د خوراک دعوت ورکړو، انس رضي الله عنه فرمائی چه په دې دعوت کښې زه هم د هغوی سره لاړم، دې داعی د رسول الله ﷺ مخې ته د اوربشو ډوډئ او خوروا کیخودله چه په هغې کښې ئې کدو او غوښه پیش کړه، سیدنا انس رضي الله عنه فرمائی چه ما رسول الله ﷺ اولیدو چه رسول الله ﷺ به په تالی کښې د کدو ډکرې کتلې. ﴿ فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ بَعْدَ يَوْمِئِذٍ ﴾

د دې خیاط په باره کښې په یو روایت کښې دی چه هغه د رسول الله ﷺ غلام او آزاد کړده وو. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

....

[1]) دا لیکل چونکه په حجاز کښې شوې وو په دې وجه لفظ دلته اولیکلې شو

[2]): صحيح البخاري/البيوع ٣٠ (٢٠٩٢)، الأطعمة ٤ (٥٣٧٩)، ٢٥ (٥٤٢٠)، صحيح مسلم/الأشربة ٢١ (٢٠٤١)، سنن الترمذي/الأطعمة ٤٢ (١٨٥٠)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٢٦ (٣٣٠٤)، (تحفة الأشراف: ١٩٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/النكاح ٢١ (٥١)، مسند احمد (٣/١٥٠)، سنن الدارمي/الأطعمة ١٩ (٢٠٩٤) (صحيح)

بَابٌ فِي أَكْلِ الثَّرِيدِ

د ثريد (ماته شوې ډوډۍ) خوړلو بيان

[٣٧٨٣]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَسَّانَ السَّمْتِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُبَارَكُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ أَحَبَّ الطَّعَامِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الثَّرِيدُ مِنَ الْخُبْزِ، وَالثَّرِيدُ مِنَ الْحَيْسِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ ضَعِيفٌ.

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه دنبي عليه السلام به ټولو خوراكونو كښې دډوډۍ ثريد اودحسيس ثريد ډير خوښ وو، امام ابوداؤد فرمائي دا روايت ضعيف دې.

قوله: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ أَحَبَّ الطَّعَامِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الثَّرِيدَ مِنَ الْخُبْزِ، وَالثَّرِيدُ مِنَ الْحَيْسِ"، ثريد د خوراک يو خاص قسم دې مشهوره ده چه د ډوډۍ ټكړې په غوښه او ښوروا كښې ګډولې شي د دې حديث نه معلومه شوه چه د ثريد دوه قسمونه دی په يو كښې صرف د غوښې او د ډوډۍ ټكړې وی، دا خو مالګين ثريد شو. او يو ثريد هغه دې كوم چه د ډوډۍ د ټكړو سره د كهجورو او پنير او غوړو په يو ځائي كولو باندې جوړولې شی، دا ګويا خوږ ثريد شو، په دې حديث كښې دا دی چه د رسول الله ﷺ دا دواړه خوښ وو.

د ثريد په احاديثو كښې په كثرت سره تعريف راغلې دې، په دې كښې ډيرې خوبيانې دی، د لذت سره سره په كښې غذائيت او په خوراک كښې ډير زيات لطيف او نرم وی چه معيده كول هم نه غواړی، په سهولت سره هضميږی، يو مشهور حديث دې ﴿فضل عائشة على النساء كفضل الثريد على سائر الطعام﴾ په دې باندې په حاشيه د خصائل كښې ليكلې دی: يعنى كما ان الثريد جامع لفوائد شتى من الغذائية واللذة والقوة حتى قيل انه يعيد الشيخ الى صباه، كذلک هى تجمع بين فضائل شتى من الفضل، والفقه والفصاحة والفطانة وغيرها. اھ

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ التَّقَذُّرِ لِلطَّعَامِ

په خوراک كښې د نفرت (ناخوښۍ) كولو بيان

يعنى د خوراک د څيز نه كركه كول او اظهار د كراهت

[٣٧٨٤]([2])حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سِمَاكُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنِي قَبِيصَةُ بْنُ هُلْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: "إِنَّ مِنَ الطَّعَامِ طَعَامًا أَتَحَرَّجُ مِنْهُ؟، فَقَالَ: لَا يَتَخَلَّجَنَّ فِي صَدْرِكَ شَيْءٌ ضَارَعْتَ فِيهِ النَّصْرَانِيَّةَ".

قبيصه بن هلب دخپل پلارنه روايت كوی فرمائي چه دنبى كريم نه مې اوريدلى دی چه يو كس ورنه تپوس اوكړو د خوراک په څيزونو كښې بعضې داسې دی چه زه ئې پاک نه ګڼړم نبى عليه السلام اوفرمائيل ستا په زړه كښې دې داسې سوچ پيدا نشي په كوم باندې چه نصرانيان مبتلا وو (ځكه چه هغوی به په هر څيز كښې شک كولو).

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢٨٢) (ضعيف)

[2]: سنن الترمذي/السير ١٦ (١٥٦٥)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٢٦ (٢٨٣٠)، (تحفة الأشراف: ١١٧٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٦/٥) (حسن)

قوله: ﴿ عَنْ قَبِيصَةَ بْنَ هُلْبٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ إِنَّ مِنَ الطَّعَامِ طَعَامًا أَتَحَرَّجُ مِنْهُ. فَقَالَ « لاَ يَتَخَلَّجَنَّ فِي صَدْرِكَ شَيْءٌ ضَارَعْتَ فِيهِ النَّصْرَانِيَّةَ » ﴾

شرح الحديث:

يعنى يو سړى د رسول الله ﷺ نه د يو څيز د خوراک په باره کښې تپوس اوکړو او داسې ئې اوئيل چه بعض خوراکونه داسې دى چه زه د هغې په باره کښې حرج محسوسوم نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د يو حلال خوراک په باره کښې د ستا شک نه وى، بغير د وجې نه شک او تردد، ګينې ستا دا فعل به د نصرانيت او رهبانيت سره مشابه وى کوم چه په اسلام کښې مذموم او ممنوع دى، رهبانيت يعنى عبادت او تقوى کښې غلو او دنيا ترک کول. کوم چه بعض نصارو اختيار کړې وو. ﴿ ورهبانية ابتدعوها ما كتبناها عليهم الاية ﴾ د دې حديث يو مطلب خو دا دې کوم چه مونږ اوليکو او په ظاهر کښې مصنف رحمه الله هم دې معنى ته په ترجمة الباب سره اشاره کړې ده، او دويمه معنى شارحينو د دې حديث دا ليکلې ده کومه چه د اول معنى ضد دې هغه دا چه په کوم خوراک کښې تاسو ته د نصرانيت مشابهت او بوئى محسوسيږى يعنى په حلال والى کښې اشکال، د هغې په باره کښې شک مه کوئ چه دا اوخورو او که نه بلکه بالجزم د هغې خوړل پکار دى، د مضارعت معنى مشابهت، د رومبئ معنى حاصل منع عن ترک الاکل ده، او د دويمې معنى حاصل منع عن الاکل، د اول معنى په صورت کښې په ظاهره عبارت داسې دې ﴿ والا ضارعت فيه النصرانية ﴾ او د دويمې معنى مقتضى دا ده چه ﴿ ضارعت فيه النصرانية ﴾ صفت اومنلې شى د ﴿ شئ ﴾ خو داسې هيڅ شارح د دې تصريح نه ده کړې، زما په فهم کښې پس د غور کولو نه هم داسې راغې فليسئل (١) روستو په الكوكب الدرى کښې د دې تصريح ملاؤ شوه.

والحديث اخرجه الترمذى وابن ماجه وقال الترمذى حسن، قاله المنذرى.

---

(١) حضرت په بذل کښې اول معنى اختيار فرمائيلې ده او ليکلې ئې دى: والجملة الشرطية مستانفة لبيان سبب النهي والمعني لا يدخل في قلبك ضيق وحرج لانك علي الحنيفية السمحة السهلة، فاذا شككت وشددت علي نفسك بمثل هذا شابهت فيه الرهبانية، د دې نه پس ئې د ګنګوهى رحمه الله د تقرير نه داسې نقل فرمائيلې دى: وكتب مولانا محمد يحيي المرحوم يحتمل أن تكون الجملة صفة لشئ وان تكون جوابا لشرط محذوف، واياما كان فالغرض منه النهي عن تحرز الطيبات من المأكل لا لغرض صحيح عند الشرع اهـ د حضرت په دې تقرير کښې د عبارت حل او د هغې د ترکيب خو ښه وضاحت اوشو خو زمونږ په خيال کښې چه د ﴿وايا ما كان ﴾ نه پس د متکلم کوم غرض ليکلې دې هغه د احتمال اول سره مربوط دې نه د هر دواړو احتمالونو سره احتمال ثانى يعنى چه ﴿ ضارعت فيه النصرانية ﴾ د شرط محذوف جواب اومنلې شى، په دې صورت کښې خو د دې عبارت نه دوه مذکوره معنو کښې معنى ثانى راوخى فتأمل.... دا حديث چونکه په ترمذى کښې هم دې په دې وجه مونږ رجوع اوکړه کوکب درى طرف ته، د هغې نه صفا معلوميږى چه د هر ترکيب معنى جدا جدا ده، په يو صورت کښې به معنى داوى او په دويمه معنى کښې به دويمه. فلله الحمد...... امام ترمذى رحمه الله دا حديث په کتاب الجهاد کښې د باب طعام المشركين د لاندې ذکر کړې دې او په آخر کښې فرمائى ﴿والعمل علي هذا عند اهل العلم من الرخصة في طعام اهل الكتاب ﴾ او هم دا معنى امام ابوداؤد رحمه الله هم اختيار کړې ده لکه چه پورته مونږ ليکلې ده. او حضرت ګنګوهى رحمه الله هم په کوکب کښې دې معنى ته ترجيح ورکړې ده او دا معنى ئې استاذانو ته منصوب کړې ده، ﴿ والذي افاده الاساتذة في معناه ان الواجب عليه ان لا يختلج في قلبك طعام مالم تعلم حرمته او تظن فان فعلت ذلك ضارعت فيه النصرانية الي آخره..... الكوكب ٤١٦٧١).

بَاب النَّهي عَنْ أَكْلِ الْجَلَّالَةِ، وَأَلْبَانِهَا

د مردار خور ځاروی د غوښې او پیړو څکلو د ممانعت بیان

[٣٧٨٥]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الْجَلَّالَةِ وَأَلْبَانِهَا".

دابن عمرنه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ منع فرمائیلې ده دمردار خور ځاروي دغوښې اوشودو څکلونه.

[٣٧٨٦]()عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ لَبَنِ الْجَلَّالَةِ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه دنبی ﷺ د مردارخورځاروي د شودو څکلونه منع فرمائیل ده.

جلاله هغه حیوان دې چه د نجاست خوړلو عادت وی د پرانستې ګرځیدو په وجه باندې، او منع په هغه صورت کښې ده چه د هغې په خوراک سره د نجاست اثر د هغې په پیو او غوښه کښې ښکاره شی او تر څو چه ښکاره نه وی نو د هغې خوراک جائز دې، او د نجاست د اثر ښکاره کیدو نه پس د هغې د خوراک د جواز شکل دا دې چه هغه دې څو ورځې اوتړلې شی تر دې چه د نجاست اثر ترې نه ختم شی.

[٣٧٨٧]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي سُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَهْمٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ أَبِي قَيْسٍ، عَنْ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَلَّالَةِ فِي الْإِبِلِ أَنْ يُرْكَبَ عَلَيْهَا، أَوْ يُشْرَبَ مِنْ أَلْبَانِهَا".

دابن عمرونه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ منع فرمائیلې ده دمردار خور اوښ دسورلی اودشودو څکلونه.

د جلاله په حکم کښې مذاهب ائمه :

د جلاله د خوړلو په باره کښې مذاهب په حاشیه د بذل کښې داسې لیکلې دی چه د جمهورو په نزد دا کراهت مکروه تنزیهی دې، او د بعض شوافعو په نزد د تحریم دپاره دې او دا قول د حنابله هم دې، او د امام مالک رحمه الله په نزد په دې کښې هیڅ کراهت نشته. کما فی شرح الکبیر، او د خطابی په معالم السنن کښې مذاهب دا لیکلې شوې دی: کره ذلك أبو حنيفة وأصحابه والشافعي وأحمد بن حنبل وقالوا لا تؤكل حتى تحبس أياماً فإذا طاب لحمها فلا بأس بأكله. وقال إسحاق بن راهويه لا بأس أن يؤكل لحمها بعد أن يغسل غسلاً جيداً. وكان الحسن البصري لا يرى بأساً بأكل لحوم الجلالة، وكذلك قال مالك بن انس اهـ اول حديث الباب حديث ابن عمر رضی الله عنهما اخرجه الترمذی وابن ماجه وحديث ابن عباس رضی الله عنهما اخرجه النسائی، قاله المنذری.

---

[1]: سنن الترمذي/الأطعمة ٢٤ (١٨٢٤)، سنن ابن ماجه/للبائح ١١ (٣١٨٩)، (تحفة الأشراف: ٧٣٨٧) (صحيح)

[2]: سنن النسائي/الضحايا ٤٣ (٤٤٥٣)، (تحفة الأشراف: ٦١٩١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأطعمة ٢٤ (١٨٢٤)، سنن ابن ماجه/الأشربة ٢٠ (٣٤٢٠)، حم ١/٢٢٦، ٢٤١، ٣٣٩، وانظر ايضًا رقم: (٣٧١٩) (صحيح)

[3]: انظر حديث رقم: (٢٥٥٨)، (تحفة الأشراف: ٧٥٨٩) (حسن صحيح)

بَاب فِي أَكْلِ لُحُومِ الْخَيْلِ

داس دغوښې خوړلو بیان

د لحم خيل مسئله اختلافي ده، مصنف رحمه الله هم په دې باب کښې دواړه قسم روايتونه راوړي دی د منع هم او د جواز هم، د امام احمد او د امام شافعي رحمه الله په نزد بغير د کراهت نه جائز دي، او د امام ابوحنيفه او د امام مالک رحمه الله په نزد مکروه دې اوس دا چه دا کراهت د هغوی په نزد تنزيهی دې او که تحريمی؟ په بذل کښې ليکلې دی چه د امام صاحب نه په دې کښې مختلف روايات دی، د حسن بن زياد په روايت کښې د هغوی نه تحريم منقول دې او ظاهر الرواية د امام صاحب نه د کراهت دې نه د تحريم. الى آخر ما بسط فى البذل. او په هدايه کښې دی ﴿ ويكره لحم الفرس عند أبي حنيفة رحمه الله وهو قول مالك وقال أبو يوسف ومحمد والشافعي رحمهم الله لا بأس بأكله، ثم قيل الكراهة عنده كراهة تحريم وقيل كراهة تنزيه والأول أصح وأما لبنه فقد قيل لا بأس به لأنه ليس في شربه تقليل آلة الجهاد اهـ مختصرا بحذف الدلائل وفى الجوهرة : يكره تحريما عند ابى حنيفة وعندهما لا باس به وفى الكوكب واجتماع روايتى التحريم والحلة يرجح الحرمة ولذلک ذهب الى الحرمة ابوحنيفة ومالک والاوزاعى وغيرهم والله تعالى اعلم ﴾ په ظاهر کښې حضرت چه د امام صاحب رحمه الله نه د حسن بن زياد کوم روايت کړې دې هغه ئې اختيار فرمائيلې دې، خو په ظاهر الرواية کښې نقل د امام صاحب نه مطلق کراهت دې نه تحريم لکه چه مخکښې د بذل نه ذکر شو. وكذا المذكور فى الهداية كراهة تحريم لا الحرمة... د حضرت گنگوهی په تقرير ترمذی او ابوداؤد کښې فرق دا دې چه د اذن روايت لکه چه په روايت کښې د هغې تصريح ده د يوم خيبر دې، او د خالد رضي الله عنه روايت کښې تحريم ذکر دې او په دې کښې شک نشته چه هغه د خيبر نه پس اسلام قبول کړې دې، فلم تكن رواية التحريم الا متاخرة اهـ من البذل والكوكب.

[٣٧٨٨](1) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "نَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ، وَأَذِنَ لَنَا فِي لُحُومِ الْخَيْلِ".

د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام مونږ منع کړي وو دخوړلو دغوښې دخرونه او اجازت ئې راکړي وو مونږ ته په غوښو خوړلو داسونوکښې.

[٣٧٨٩](2) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "ذَبَحْنَا يَوْمَ خَيْبَرَ الْخَيْلَ، وَالْبِغَالَ، وَالْحَمِيرَ، فَنَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ، وَلَمْ يَنْهَنَا عَنِ الْخَيْلِ".

د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دغزوه خيبرپه ورځ مونږ اسونه اوقچري اوخره ذبح کړل نو نبی عليه السلام مونږ منع کړي وودخوړلودغوښې دخرواردقچرنه او اجازت ئې

(1): صحيح البخاري/المغازي ٣٨ (٤٢١٩)، الصيد ٢٧ (٥٥٢٠)، ٢٨ (٥٥٢٤)، صحيح مسلم/الصيد ٦ (١٩٤١)، سنن النسائي/الصيد ٢٩ (٤٣٣٢)، سنن ابن ماجه/الذبائح ١٢ (٣١٩١)، (تحفة الأشراف: ٢٨١٠، ٢٦٣٩)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأطعمة ٥ (١٧٩٣)، مسند احمد (٣/٣٢٢، ٣٥٦، ٣٦١، ٣٦٢، ٣٨٥)، دي/الصيد ٦ (٢٠٥٥) (صحيح)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٦٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٥٦، ٣٦٢) (صحيح)

راکړي وو مونږته په غوښو خوړلو داسونو کښي.

[۳۷۹۰]( )حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ شَبِيبٍ، وَحَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ الْحِمْصِيُّ، قَالَ حَيْوَةُ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ صَالِحِ بْنِ يَحْيَى بْنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْخَيْلِ، وَالْبِغَالِ، وَالْحَمِيرِ"، زَادَ حَيْوَةُ: وَكُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَا بَأْسَ بِلُحُومِ الْخَيْلِ وَلَيْسَ الْعَمَلُ عَلَيْهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا مَنْسُوخٌ، قَدْ أَكَلَ لُحُومَ الْخَيْلِ جَمَاعَةٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمُ ابْنُ الزُّبَيْرِ، وَفَضَالَةُ بْنُ عُبَيْدٍ، وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، وَأَسْمَاءُ بِنْتُ أَبِي بَكْرٍ، وَسُوَيْدُ بْنُ غَفَلَةَ، وَعَلْقَمَةُ، وَكَانَتْ قُرَيْشٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَذْبَحُهَا.

دخالد بن وليد رضی الله تعالی عنه نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام داسونو اودقچرو اودخرو دغوښي دخوړلونه ممانعت فرمائيلي دي، دحيوه په روايت کښي دومره اضافه ده چه نبی عليه السلام دهردار و والا ماتونکي ځناور دغوښي دخوړلونه ممانعت فرمائيلي دي، امام ابوداؤد وائی دادامام مالك قول دي، ابوداؤد وائی داسونو دغوښي په خوړلوکښي څه باك نشته او په دي روايت باندي عمل نشته، ابوداؤد وائی دا روايت منسوخ دي يقينا دنبی عليه السلام په صحابه کراموکښي يوي ډلي داسونو غوښه خوړلي وه چه يوپه هغوی کښي ابن زبير، فضاله بن عبيد، انس بن مالك، أسماء بنت ابی بكر، سويد بن غفله او علقمه، اوقريشوبه دنبی عليه السلام په زمانه کښي اسونه ذبح کول.

﴿عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ نَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ وَأَذِنَ لَنَا فِي لُحُومِ الْخَيْلِ﴾

مصنف رحمه الله په دي باب کښي دوه احاديث ذکر فرمائيلي دی اول حديث د جابر رضی الله عنه په دوه طرقو سره چه د هغي مضمون دا دي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د خيبر د جنګ په موقع باندي د خچر او د خر د غوښي نه منع اوفرمائيله او د اسونو د غوښي اجازت ئي ورکړو.

او بل حديث د خالد بن الوليد رضی الله عنه دي مرفوعا ﴿نَهَى عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ وَكُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ﴾

د دي دواړو روايتونو متعلق کلام مخکښي تير شوي دي چه په هغي کښي دا تير شوي دی چه د خالد بن الوليد رضی الله عنه روايت موخر دي د حديث جابر رضی الله عنه نه، بلکه دا ده چه په مبيح او محرم کښي کله تعارض راشی نو محرم ته به ترجيح ورکولي شی، نور کلام دي په دلائلو باندي په بذل کښي اوکتلي شی، د حديث آخری جزء د ذی ناب سبع سره متعلق دي چه د هغي وړاندي مستقل باب راروان دي،

حديث جابر رضی الله عنه الاول اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، وحديثه الثانی اخرجه مسلم بمعناه وحديث خالد رضی الله عنه اخرجه النسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

---

[1]: سنن النسائي/الصيد ٣٠ (٤٣٣٦)، سنن ابن ماجه/الذبائح ١٤ (٣١٩٨)، (تحفة الأشراف: ٣٥٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٨٩، ٩٠) (ضعيف)

بَاب فِي أَكْلِ الأَرْنَبِ

دهوسئ دغوښې خوړلو بيان

ارنب يعني سويه دا د ائمه اربعه په نزد حلاله ده د بعض سلفو په دې کښې اختلاف نقل دې.

[٣٧٩١](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كُنْتُ غُلَامًا حَزَوَّرًا، فَصِدْتُ أَرْنَبًا فَشَوَيْتُهَا، فَبَعَثَ مَعِي أَبُو طَلْحَةَ بِعَجُزِهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَبِلَهَا".

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه زه يوطاقتور هلك وم او يوه هوسئ مې ښکار کړه اوماهغه غوښه زما په لاس باندې نبی عليه السلام ته ولېږله ماچه نبی عليه السلام ته پيش کړه نوقبوله ئې کړه.

قوله: ﴿عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنْتُ غُلَامًا حَزَوَّرًا فَصِدْتُ أَرْنَبًا فَشَوَيْتُهَا الخ﴾

انس رضي الله عنه فرمائي چه کله زه چست هلک اوم نو يو سويه مې ښکار کړه بيا مې په اور باندې ورته کړه نو زما پلار ابوطلحه رضي الله عنه د هغې پنډئ د رسول الله صلى الله عليه وسلم خدمت ته اولېږله. ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې هغه پيش کړه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه قبوله اوفرمائيله.

[٣٧٩٢](٢) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي خَالِدَ بْنَ الْحُوَيْرِثِ، يَقُولُ: إِنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو كَانَ بِالصِّفَاحِ، قَالَ مُحَمَّدٌ: مَكَانٌ بِمَكَّةَ، "وَإِنَّ رَجُلًا جَاءَ بِأَرْنَبٍ قَدْ صَادَهَا، فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، مَا تَقُولُ؟ قَالَ: قَدْ جِيءَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا جَالِسٌ، فَلَمْ يَأْكُلْهَا وَلَمْ يَنْهَ عَنْ أَكْلِهَا، وَزَعَمَ أَنَّهَا تَحِيضُ".

محمد بن خالد وائي مادخپل پلار حارث بن حويرث نه بين اوريدلی دی چه عبدالله بن عمرفه په صفاح (دمکې په خواکښې ديوځائې نوم دې) کښې وو هغه ته بن يوکس دهوسئ غوښه راوړه کومه چه هغه ښکار کړې وه او وئې وئيل اې ابن عمره په دې باره کښې ستاڅه راې ده هغه اووئيل نبی عليه السلام ته دهوسئ غوښه راوړل شوې وه اوزه په هغه وخت کښې هلته موجود وم اونبی عليه السلام ونه خوړله اونه ئې ددې دخوړلونه ممانعت اوکړو دهغه داخيال وو چه په دې بيماري راځي.

د دې نه د روستو حديث مضمون دا دې چه يو سړې د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په خدمت کښې سويه راوړله چه هغه ښکار کړې وه، او د هغوی نه ئې تپوس اوکړو چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې په باره کښې څه فرمائي؟ نو هغوی اوفرمائيل چه يو کرت د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې دا راوړلې شوه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم نه خو دا اوخوړله او نه ئې د دې د خوراک نه منع اوکړه.

په بذل کښې ليکلې دی چه حديث اول د اکل ارنب په جواز باندې دليل دې ځکه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه قبول اوفرمائيله او حديث ثانی سره د ضعف نه په کراهت باندې دلالت نه کوی، د دې حديث په آخر کښې دا جمله ده ﴿ وزعم انه تحيض ﴾ په دې باندې د حضرت

١): صحيح البخاري/الهبة ٥ (٢٥٧٢)، الصيد ١٠ (٥٤٨٩)، ٣٢ (٥٥٣٥)، صحيح مسلم/الصيد ٩ (١٩٥٣)، سنن الترمذي/ الأطعمة ٢ (١٧٩٠)، سنن النسائي/الصيد ٢٥ (٤٣١٧)، سنن ابن ماجه/الصيد ١٧ (٣٢٤٣)، (تحفة الأشراف: ١٦٢٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/١١٨، ١٧١، ٢٩١)، سنن الدارمي/الصيد ٧ (٢٠٥٦) (صحيح)

٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٦٢١) (ضعيف الإسناد)

ګنګوهی رحمه الله په تقرير کښې دی چه رسول الله ﷺ د سوېې دا خاصه د تحريم يا د کراهت طرف ته د اشارې کولو دپاره نه دی فرمائيلی ځکه چه د حيض د بدن نه خارج کيدل دا خو د باقی غوښې دپاره سبب د نظافت دې بلکه د رسول الله ﷺ دا ذکر فرمائيل د تعجب د اظهار دپاره دې چه په دې باندې هم د زنانه پشان حيض راځی. اهـ امام ترمذی رحمه الله د حديث د تخريج نه پس فرمائيلې دی ﴿هذا حديث حسن صحيح والعمل على هذا عند اكثر اهل العلم لا يرون باكل الارنب باسا، وقد كره بعض اهل العلم اكل الارنب وقالوا انها تدمى اهـ﴾ د دې عبارت نه دا معلوميږی چه د دې بعض اهل علم په نزد کيدې شی چه وجه د کراهت هم دا وی يعنی په دې باندې حيض راتلل....... اوس دا خبره چه په کومو کومو حيواناتو باندې حيض راځی د دې په باره کښې په حاشيه د بذل کښې دی : ﴿تحيض من الحيوانات المراة والضبع والخفاش والارنب، ويقال الكلبة ايضا، وقيل الناقة والوزغة ايضا كذا فی القسطلانی، واكتفى صاحب حياة الحيوان على الاربعة الاول﴾

حديث انس رضی الله عنه اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي أَكْلِ الضَّبِّ

د خادمۍ د غوښې خوړلو بيان

[٣٧٩٣](١)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ خَالَتَهُ أَهْدَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمْنًا وَأَضُبًّا وَأَقِطًا، فَأَكَلَ مِنَ السَّمْنِ وَمِنَ الْأَقِطِ، وَتَرَكَ الْأَضُبَّ تَقَذُّرًا، وَأُكِلَ عَلَى مَائِدَتِهِ وَلَوْ كَانَ حَرَامًا مَا أُكِلَ عَلَى مَائِدَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه زما ترور نبی عليه السلام ته غوړي پنير اودخادمی غوښه په هديه کښې وليږله نونبی عليه السلام پنير او غوړي اوخوړل او خادمی ئې دطبعي کراهت په وجه پريخودله ليکن دخادمی غوښه دنبی عليه السلام په دسترخوان باندې خوړلی شوي ده که چرې داحرامه وې نو دنبی عليه السلام په دسترخوان باندې به نه خوړل کيده.

[٣٧٩٤](٢)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، "أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْتَ مَيْمُونَةَ، فَأُتِيَ بِضَبٍّ مَحْنُوذٍ، فَأَهْوَى إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ، فَقَالَ بَعْضُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي فِي بَيْتِ مَيْمُونَةَ: أَخْبِرُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا يُرِيدُ أَنْ يَأْكُلَ مِنْهُ، فَقَالُوا: هُوَ ضَبٌّ، فَرَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ، قَالَ: فَقُلْتُ: أَحَرَامٌ هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: لَا، وَلَكِنَّهُ لَمْ يَكُنْ بِأَرْضِ قَوْمِي فَأَجِدُنِي أَعَافُهُ"، قَالَ خَالِدٌ: فَاجْتَرَرْتُهُ فَأَكَلْتُهُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ.

---

[١]: صحيح البخاري/الهبة ٧ (٢٥٧٥)، الأطعمة ٨ (٥٧٨٩)، ١٦ (٥٤٠٢)، الاعتصام ٢٤ (٧٣٥٨)، صحيح مسلم/الذبائح ٧ (١٩٤٧)، سنن النسائي/الصيد ٢٦ (٤٣٢٤)، (تحفة الأشراف: ٥٤٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٥٥، ٢٨٤، ٣٢٢، ٣٢٩، ٣٤٠، ٣٤٧) (صحيح)

[٢]: صحيح البخاري/الأطعمة ١٠ (٥٣٩١)، ١٤ (٥٤٠٠)، الذبائح ٣٣ (٥٥٣٧)، صحيح مسلم/الذبائح ٧ (١٩٤٦)، سنن النسائي/الصيد ٢٦ (٤٣٢١)، سنن ابن ماجه/الصيد ١٦ (٣٢٤١)، (تحفة الأشراف: ٣٥٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٨٨، ٨٩)، دي/الصيد ٨ (٢٠٦٠) (صحيح)

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دخالد بن ولید رضی الله عنه نه روایت کوی فرمائی چه هغه دنبی علیه السلام سره دمیمونې کورته داخل شواوپخه کړې شوې خادمی پیش کړې شوه نبی علیه السلام اوغوښتل چه خپل لاس ورورواندې کړې لیکن دمیمونې دکور یوې زنانه ورته اووئیل چه نبی علیه السلام ته اووایه چه داڅه شې دې ځکه چه هغه ددې خوړل غواړې، چنانچه خلقو اووئیل اې دالله رسوله دا خادمې ده نبی علیه السلام چه دا واوریدل نوخپل لاس ئې راوراندې کړو خالد وائی ماعرض اوکړو اې دالله رسوله ایا دا حرامه ده؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل حرامه نه ده بلکه دا زمونږ په ملك کښې نه وې په دې وجه باندې زه دانه خوښوم خالده وائی چه ماخپل ځان ته رانزدې کړه او خوړله مې اونبی علیه السلام راته کتل.

ضب یعنی سمساره مشهور صحرائی ځناور دې د ګرګټ په شان وی خو د هغې نه پلن او پیړ په زمکه کښې سوړه کولو سره اوسیږی، د راجهستان (انډیا) سندھ او نجد په صحراء کښې ډیر زیات وی. د دې تیل هم ویستلې شی چه په علاج کښې پکاریږی دا ځناور ډیر قوی او ګرم وی ډیر خلق دا خوری هم، اهل نجد ئې ښه خوری، د احنافو په نزد حلال مع الکراهت دې، ففی الهدایة ٦٧/٤ ﴿ ويكره أكل الضبع والضب والسلحفاة والزنبور والحشرات كلها أماالضبع فلما ذكرنا وأما الضب فلأن النبي عليه الصلاة والسلام نهى عائشة رضي الله عنها حين سألته عن أكله وهي حجة على الشافعي في إباحته والزنبور من المؤذيات والسلحفاة من خبائث الحشرات ولهذا لا يجب على المحرم بقتله شيء وإنما تكره الحشرات كلها استدلالا بالضب لأنه (الضب)منها ﴾

مصنف رحمه الله په دې باب کښې د ضب په باره کښې ډیر او مختلف روایتونه ذکر کړې دی چه په هغې کښې بعض دا دی چه د ضب غوښه خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم خو او نه خوړله خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دسترخوان باندې اوخوړلې شوه، او بله دا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دا حرامه خو نه ده خو زما د دې نه کراهت طبعي دې، او د باب په آخری حدیث کښې دی:

[٣٧٩٦]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، أَنَّ الْحَكَمَ بْنَ نَافِعٍ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ ضَمْضَمِ بْنِ زُرْعَةَ، عَنْ شُرَيْحِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ أَبِي رَاشِدٍ الْحُبْرَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِبْلٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ أَكْلِ لَحْمِ الضَّبِّ".

دعبدالرحمن بن شبل نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام دخادمې دغوښې دخوړلونه منع فرمائیلې ده.

قوله: ﴿ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنْ أَكْلِ لَحْمِ الضَّبِّ ﴾

په بذل کښې د امام نووی رحمه الله نه نقل کړې شوې دې ﴿ اجمع المسلمون على ان الضب حلال، ليس بمكروه الا ما حكى عن اصحاب ابى حنيفة من كراهته والا ما حكاه القاضى عن قوم انهم قالوا هو حرام- الى آخر ما فى البذل من كلام النووى ونقد الحافظ عليه فى نقل الاجماع- وفى هامش الموطاء للامام محمد : اختلف العلماء فى اكله فمنهم من حرمه- حكاه عياض عن قوم ومنهم من كرهه- وهو راى ابى حنيفة وابى يوسف ومحمد ونقله ابن المنذر على رضي الله عنه ومنهم من قال باباحة اكله- وهو قول الجمهور الى آخر ما قال.

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٧٠٢) (حسن)

حدیث ابن عباس رضی الله عنهما اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، وحدیث خالد بن الولید رضی الله عنه اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجه.

د دې نه پس د ثابت بن ودیعه رضی الله عنه حدیث کښې دی چه:

[۳۷۹۵](١)حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ وَدِيعَةَ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَيْشٍ فَأَصَبْنَا ضِبَابًا، قَالَ: فَشَوَيْتُ مِنْهَا ضَبًّا، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعْتُهُ بَيْنَ يَدَيْهِ، قَالَ: فَأَخَذَ عُودًا فَعَدَّ بِهِ أَصَابِعَهُ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ أُمَّةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مُسِخَتْ دَوَابَّ فِي الْأَرْضِ، وَإِنِّي لَا أَدْرِي أَيُّ الدَّوَابِّ هِيَ، قَالَ: فَلَمْ يَأْكُلْ وَلَمْ يَنْهَ".

د ثابت بن ودیعه نه روایت دې فرمائی چه مونږ په یولښکر کښې دنبی علیه السلام سره موجود وو مونږ یوڅوخادمی ونیولې ماديوي خادمئ نه شوروا جوړه کړه اونبی علیه السلام ته مې پیش کړه او دهغه په وړاندې مې کیخوده نبی علیه السلام په یوه لختﻪ باندې دهغې ګوتې وشمیرلې او بیا ئې اوفرمائیل دبنې اسرائیلو یوه ډله مسخ شوه او څاروي ورته جوړشول او په زمکه کښې پریخودلې شول ماته معلومه نه ده چه کوم څاروې دهغوی نه جوړ شو. راوی وائی چه نبی علیه السلام اونه خوړله لیکن ددینه ئې منع هم اونه فرمائیله.

قوله: ﴿ إِنَّ أُمَّةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مُسِخَتْ دَوَابَّ فِي الْأَرْضِ وَإِنِّي لَا أَدْرِي أَيُّ الدَّوَابِّ هِيَ ﴾ یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د سمساري په باره کښې اظهار د تردد اوفرمائیلو چه دا د بنی اسرائیل د هغه قوم نه دې کوم چه مسخ کړې شوې وو یا بل څه دې. په دې باندې شارحینو لیکلې دی چه کیدې شی هغه حدیث چه په هغې کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: ﴿ الممسوخ لا یعیش ثلاثة ایام ولا یعقب ﴾ دا د روستو وی، او حدیث الباب د دې نه مقدم وی. والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجه، قاله المنذری

بَابٌ فِي أَكْلِ لَحْمِ الْحُبَارَى

د حباری (مارغه) د خوړلو بیان

[۳۷۹۷](٢)حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ سَهْلٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ ابْنِ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنِي بُرَيْهُ بْنُ عُمَرَ بْنِ سَفِينَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "أَكَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَحْمَ حُبَارَى".

دسفینه نه روایت دې فرمائی چه ما دنبی علیه السلام سره دحباری [زانرې مارغه] غوښه اوخوړله.

قوله: ﴿أَكَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ –صلی الله علیه وسلم– لَحْمَ حُبَارَى ﴾

سفینه رضی الله عنه فرمائی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د حباری [زانرې] غوښه خوړلې ده.

حباری څه شې دې؟

حباری د یوې مرغۍ نوم دې؟ په دې کښې مختلف اقوال دی بعضو د دې ترجمه تغدری کړې ده، بعض د مرز معنی کړې ده او د بعضو د په نزد سرخاب (زانرې). نور هم د دې ډیر

(١): سنن النسائي/الصيد ٢٦ (٤٣٢٥)، سنن ابن ماجه/الصيد ١٦ (٣٢٣٨)، (تحفة الأشراف: ٢٠٦٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٢٠)، سنن الدارمي/الصيد ٨ (٢٠٥٩) (صحيح)

(٢): سنن الترمذي/الأطعمة ٢٦ (١٨٢٨)، (تحفة الأشراف: ٤٤٨٢) (ضعيف)

نومونه حضرت شیخ په خصائل نبوی ﷺ کښې ذکر کړې دی. او د ډیرو کتابونو حوالې په هغې کښې ذکر شوې دی. او ډیرو د لغت کتابونو او د طب کتابونو لره مخې ته کیخودلو سره ئې لیکلې دی چه اقرب هم دا ده چه سرخاب (زانړې) بل څه مارغه دې او صحیح هم دا ده چه د دې ترجمه تغذرې ده.

دا یو صحرائی مرغئ ده د اوږد سټ والا د خاورې په شان رنګ، چه ډیر تیز الوځي او د رزق په حصول کښې ډیر کوشش کوی تر دې چه ضرب المثل شو، پس وئیلې شی چه: فلان اطلب من الحباری.... والحدیث اخرجه الترمذی، قاله المنذری.

باب في أكل حشرات الأرض

په زمکه کښې د ګرځیدونکو ځناورو د خوړلو بیان

یعنی واړهٔ دواب الارض، په زمکه باندې واړهٔ واړهٔ ځناور لکه شکونړ، شمشتئ او مږه، یربوع او نور حشرات وغیره.

[۳۷۹۸](۱)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا غَالِبُ بْنُ حَجْرَةَ، حَدَّثَنِي مِلْقَامُ بْنُ التَّلِبِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "صَحِبْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ أَسْمَعْ لِحَشَرَةِ الْأَرْضِ تَحْرِيمًا".

ملقام بن التلب دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه زه دنبی ﷺ سره پاتې شوې یم او هغه دحشرات الارض حرمت نه دې بیان کړې.

قوله: ﴿ فلم اسمع لحشرات الارض تحریما ﴾ ملقام بن تلب د خپل پلار نه روایت کوی چه زه د رسول الله ﷺ سره اوم خو ما د رسول الله ﷺ نه د حشرات الارض په باره کښې تحریم نه دی اوریدلې.

امام خطابی رحمه الله فرمائی چه په دې کښې د دې خبرې دلیل نشته چه حشرات الارض مباح دی لجواز ان یکون غیره قد سمعه.

[۳۷۹۹](۲)حَدَّثَنَا (ابوثور) إِبْرَاهِيمُ بْنُ خَالِدٍ الْكَلْبِيُّ أَبُو ثَوْرٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عِيسَى بْنِ نُمَيْلَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ عُمَرَ، فَسُئِلَ عَنْ أَكْلِ الْقُنْفُذِ؟ فَتَلَا: قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا سورة الأنعام آية ۱۴۵، قَالَ: قَالَ شَيْخٌ عِنْدَهُ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: خَبِيثَةٌ مِنَ الْخَبَائِثِ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: إِنْ كَانَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا، فَهُوَ كَمَا قَالَ مَا لَمْ نَدْرِ".

عیسی بن نمیله دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه زه دابن عمرفه سره موجود وم کله چه دهغه نه تپوس اوکړې شو دقنفذ (شکونړ) (۳) دخوړلو په باره کښې نوهغه دا ایت کریمه: (قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا) تلاوت کړو نو په دې وخت کښې یوبوډا اووئیل

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۰۵۱) (ضعيف الإسناد)

(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۴۹۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۸۱/۲) (ضعيف)

(۳) د پیشو برابر یو ځناور دې په فارسئ او اردو کښې ورته سیه او سیهی وائي پشتو کښې ورته شکونړ یا شیشکې وائي چه ددې وزرې د اوږدو اوږدو ازغو په شکل وی چه دهغې په ذریعه دخان حفاظت کوی دا اکثر په غرونو کښې اوسیږی.

مادابوهریره ﷺ نه اوریدلی دی چه دنبی ﷺ په وړاندې ددې ذکر وشو نبی ﷺ اوفرمائیل دا یوناپاکه ځاروې دې په لویو ځناوروکښې عبدالله ابن عمر اووئیل که چرې نبی ﷺ داسې وئیلي وې نو یقیناهمداسې ده.

قوله:﴿كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ عُمَرَ فَسُئِلَ عَنْ أَكْلِ الْقُنْفُذِ فَتَلاَ (قُلْ لاَ أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا) الاية الخ﴾ د نُمیله فرازی نه روایت دې چه زه د ابن عمر ﷺ سره اوم چه د هغوی نه د قنفذ (شکونړ) په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوی دا آیت ئې تلاوت اوفرمائیلو ﴿قل لا اجد فی ما اوحی الی محرما الاية﴾ په دې باندې يو شيخ کوم چه هم هلته ناست وو هغه اووې چه ما د ابوهریره ﷺ نه اوریدلې دی چه د رسول الله ﷺ مخکښې د قنفذ (شکونړ) ذکر راغلو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ﴿خَبِيثَةٌ مِنَ الْخَبَائِثِ﴾ نو په دې باندې ابن عمر ﷺ اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ دا خبره بیان فرمائیلې ده نو څنګه چه هغوی فرمائیلې ده هم دغه شان ده.

د دې نه پس دلته په روایت کښې دا جمله ده. ﴿ما لم ندر﴾ په بذل کښې لیکلې دی چه زیادت په بعض نسخو کښې دې په بعضو کښې نشته او بیا حضرت د دې جملې دا معنی لیکلې ده ﴿مالم ندر صحته وثبوته بسند قوی﴾ خو اکثر نسخې د دې زیادت نه خالی دی لکه د منذری نسخه او د معالم السنن نسخه، هم دغه شان په حیاة الحیوان کښې د ابوداؤد روایت نقل کړې شوې دې په هغې کښې هم دا لفظ نشته، پس دا لفظ که دلته صحیح دې نو کیدې شی چه د دې معنی دا وی ﴿وان لم ندر﴾ یعنی که رسول الله ﷺ دا خبره بیان فرمائیلې وی نو بیا هم هغه صحیح ده که زمونږ په فهم کښې راځی یا نه. والله تعالی اعلم

د قنفذ مصداق او د هغې شرعی حکم :

قنفذ د دوه امامانو په نزد حلال دې او د دوه په نزد حرام، د شوافعو او مالکیانو په نزد حلال دې، او د احنافو او حنابله په نزد حرام، په حیاة الحیوان کښې داسې دی ﴿قال الشافعي: يحل أكل القنفذ لأن العرب تستطيبه، وقد أفتى ابن عمر بإباحته وقال أبو حنيفة والإمام احمد: لا يحل لما روى أبو داود وحده أن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما الى اخر الحديث﴾ بیا هغوی د دې نه پس د شوافعو د طرف نه د دې حدیث جواب کړې دې. والجواب ان رواته مجهولون. قال البیهقي: ولم یرو إلا من وجه واحد ضعیف لا یجوز الاحتجاج به..... الی آخر ما ذکر.

ددې نه پس دا پیژندل پکار دی چه د قنفذ ترجمه بعضو شکونړ کړې ده، په عون المعبود او صراح کښې هم داسی دی خو شکونړ ترجمه خو د ﴿سیهی﴾ ده لکه چه په فرهنګ آصفیه کښې دې، او په منجد کښې د شکونړ شکل جوړولو (چه د هغه په ملا باندې حقیقت کښې ازغی وی) ئې د هغې نوم دلدل بیان کړې دې[1] او د قنفذ شکل او صورت ئې په منجد کښې د هغه مږې جوړې کړې دې چه په هغې باندې ویښته وی او هم دغه شان په القاموس الجدید کښې د قنفذ ترجمه په ازغیژنه مږې سره کړې ده او هم دا اقرب الی الصواب معلومیږی څکه

[1] یعنی قنفذ ئې نه دې لیکلې قلت وجاء ذکر الدلدل في النسائي في باب تزويج الزانية ولفظه قالت يا اهل الخيام هذا الدلدل الخ فليراجع الفيض السمائي)

چه شکونړ لوئې ځناور وی د پیشو برابر چه د هغه په ملا باندې ازغی وی (چه د هغې نه قلمونه هم جوړولې شی) په خلاف د قنفذ چه د هغه په ملا باندې ازغی نه وی بلکه پیړ پیړ ویښته وی کوم چه هغه د ویرې په وخت د خپل حفاظت دپاره اودروی او د بال په شان غونډې شی، لهذا د قنفذ ترجمه په شکونړ سره کولو کښې کلام دې. والله تعالیٰ اعلم

د جاحظ تالیف "کتاب الحیوان ۳۶۳/۲ او صفحه ۳۶۳ نه معلومیږی چه قنفذ یو جنس دې بعض قنافذ لوئې وی چه هغې ته دلدل وائی چه د هغې په شا باندې غټ غټ ازغی وی، هغوی د ټولو احوال او خواص بیل بیل لیکلې دی لهذا د شکونړ دا ترجمه د دلدل زیاته مناسب ده، مونږ ته د قنفذ په تحقیق او تتبع کښې د ډیرو کتابونو د مراجعت ضرورت پیښ شو، د حشرات الارض تفصیل او د هغې حکم د احنافو په مذهب کښې هغه په بذل المجهود کښې د بدائع الصنائع نه نقل کړې شوې دې که څوک غواړی په هغې کښې دې اوګوری.

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْهِرِّ. قَالَ ابْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ أَكْلِ الْهِرِّ وَأَكْلِ ثَمَنِهَا ﴾

دا حدیث په اکثر نسخو کښې نشته لکه نسخه د عون المعبود او دغه شان نسخه د منذری، خطابی او کیدل هم نه دی پکار ځکه چه ترجمة الباب د حشرات الارض سره متعلق دې، او هرة د حشراتو نه نهٔ ده بلکه د سباع نه ده، د حشرات اطلاق په صغار دواب الارض باندې کیږی. کما تقدم فی اول الباب

باب فِي أَكْلِ الضَّبُعِ

باب د بجو (مُرده خور ځناور) د خوړلو بیان

دلته دوه بحثونه دی اول د ضبع مصداق او د هغې تحقیق، بل د ضبع په حکم کښې د ائمه کرامو اختلاف سره ددلیل نه اودریم دا چه که محرم دد ې ښکار اوکړی نوڅه واجبیږی.

بحث اول:

د ضبع په ترجمه کښې اختلاف دې، په عرف الشذی کښې لیکلې دی چه دې ته په اردو کښې هنډار وائی او په فارسئ کښې ورته کفتار او کومه ترجمه چه ئې د مولانا عبدالحئ پلار په شکونړ سره کړې ده هغه سهو ده، او په حاشیه د بذل کښې دی چه صاحب محیط هم د دې ترجمه په هنډار سره کړې ده..الخ، هم دې ته لګړ بګړ هم وائی، په نور اللغات کښې لیکلې دی چه صحیح لکړبهګا دې، دې ته په فارسئ کښې چرغ وائی. په غیاث اللغات کښې هم کفتار او هونډار ته یو وئیلې شوې دی، د دې عبارت دا دې:

کفتار بالفتح جانوریست صحرائی درنده که بهندی هونډار گویند از لطائف وغیرآن. آه

بیا بجو[1] ته په عربئ کښې څه وائی د هغې دې تحقیق اوکړې شی، او د بجو په

---

[1] بجو یو مُرده خور ځنګلی ځناور دې چه په جثه کښې دَ مرې نه غټ او د وروکې پیشو برابر وی دې ته په عربی کښې ضبع، او په فارسی کښې کفتاروائی، په اردو کښې هنډار او بجو وائی چرغ هم ورته وائی پښتوکښې ورته ګورکخ او مرده خور وائی. دا قبرونه کنستلوسره مړی خوری.

باره کښې په فرهنګ اصفيه کښې ليکلي دی چه دا د يو ځناور نوم دې کوم چه اکثر په قبرستان کښې اوسيږی او مړی راوباسی او خوری ئې، داسې سخت او مضبوط وی چه د هاتی د خپې لاندې هم نه مری اهـ او د هنډار په باره کښې مشهوره نه ده چه هغه په قبرستان کښې اوسيږی او مړی راوباسی او خوری ئې لهذا هنډار او بجو دا دواړه بيل بيل ځناور دی، او د ضبع مصداق هنډار دې بجو نه دې، د لغت د ډيرو کتابونو د تتبع نه پس دا ليکلې شوې دی وقد بقی فيه ما بقی.

[٣٨٠١]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْخُزَاعِيُّ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَمَّارٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الضَّبُعِ؟ فَقَالَ: هُوَ صَيْدٌ، وَيُجْعَلُ فِيهِ كَبْشٌ إِذَا صَادَهُ الْمُحْرِمُ".

دجابر بن عبدالله ﷺ نه روايت دې فرمائی چه دنبی ﷺ نه مې دباجونګي دخوړلو په باره کښې تپوس وکړونو وئې فرمائيل چه دا يوښکاردې اوکله چه څوک ددې په حالت داحرام کښې ښکار وکړي نوددې په عوض کښې به يوګډ په حرم کښې ورکوي.

بحث ثاني:

قوله: ﴿ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الضَّبُعِ فَقَالَ « هُوَ صَيْدٌ وَيُجْعَلُ فِيهِ كَبْشٌ إِذَا صَادَهُ الْمُحْرِمُ » ﴾ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو د ضبع په باره کښې نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل هغه ښکار دې چه په حالت د احرام کښې ممنوع دې او حضور ﷺ دا هم اوفرمائيل چه که محرم د هغې ښکار اوکړی نو د هغې جزاء ګډ دې او د ترمذی رحمه الله په روايت کښې داسې الفاظ دی: ﴿ عن ابن أبي عمار قال : قلت لجابر الضبع أصيد هي؟ قال نعم قال قلت آكلها؟ قال نعم قال قلت أقاله رسول الله صلى الله عليه و سلم؟ قال نعم. قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح ﴾ د ابوداؤد رحمه الله روايت خو د حل ضبع په باره کښې صريح نه دې خو روايت د ترمذی په دې باره کښې صريح دې، خو هغه د جابر ﷺ په اجتهاد باندې بناء دې د رسول الله ﷺ په کلام کښې د هغې د حلت تصريح نشته، رسول الله ﷺ اوفرمائيل هغه ښکار دې، جابر ﷺ د ښکاره کيدو نه دا اوګنړله چه د دې خوراک حلال دې هم په دې بناء باندې هغوی د دې د حلال کيدو نسبت رسول الله ﷺ ته اوکړو. باقی مونږ دا وايو چه ظاهره دا ده چه ضبع په سباع ذی ناب کښې دی لهذا ضبع د مشهور حديث ﴿ نهى عن اكل كل ذى ناب من السباع ﴾ کښې د داخليدو په وجه باندې غير حلال دې، هسې د دې نه علاوه هم محرم او د مبيح د تعارض په وخت ترجيح محرم ته وی. (بذل)

مسئله مختلف فيه ده د امام شافعی او امام احمد په نزد ضبع حلال دې او د احنافو او جمهورو په نزد حرام دی كذا فى البذل عن الشوكانى، او د خطابی په کلام کښې دی: وكرهه

(): سنن الترمذي/الحج ٢٨ (٨٥١)، الأطعمة ٤ (١٧٩٢)، سنن النسائي/الحج ٨٩ (٢٨٣٩)، الصيد ٢٧ (٤٣٢٨)، سنن ابن ماجه/المناسك ٩٠ (٣٠٨٥)، الصيد ١٥ (٣٢٣٦)، (تحفة الأشراف: ٢٣٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٩٧/٣، ٣١٨، ٣٢٢)، سنن الدارمي/المناسك ٩٠ (١٩٨٤) (صحيح)

الثوری وابوحنیفة واصحابه، ومالک وروی ذلک عن سعید بن المسیب، واحتجوا بانها سبع الی آخر ما ذکر.... او امام ترمذی رحمه الله په حدیث د جابر رضی الله عنه کښې کوم چه پورته تیر شوې دې د هغې نه پس فرمائی : ﴿ وقد ذهب بعض اهل العلم الی هذا ولم یروا باسا باکل الضبع، وهو قول احمد واسحاق، وروی عن النبی صلی الله علیه وسلم حدیث فی کراهیة اکل الضبع ولیس اسناده بالقوی ﴾ او د دې نه پس امام ترمذی رحمه الله بیا دا حدیث د منع ذکر کړې دې: عن خزیمة بن جزء قال : سألت رسول الله صلی الله علیه و سلم عن أکل الضبع فقال أو یأکل الضبع أحد ، وسألت عن الذئب فقال أو یأکل الذئب أحد فیه خیر؟ د دې نه پس امام ترمذی رحمه الله د دې په سند باندې چه کوم جرح ده هغه ئې بیان کړې ده خو په حاشیه د کوکب ۴/۲ کښې د التعلیق الممجد نه نقل کړې دی: وقد ورد النهی عن اکله فی روایات عدیدة اخرجها الترمذی وابن ابی شیبة واحمد واسحاق وابو یعلی وغیرهم کما بسط العینی فی البنایه مع الجواب عما استدل به المخالفون اهـ

بحث ثالث :

دویمه مسئله په دې حدیث کښې د ضبع په ښکار کولو کښې په محرم باندې د جزاء ده هغه کبش دې د ائمه ثلاثه مذهب خو هم دا دې، د احنافو په نزد جزاء خو واجب ده خو په هغې کښې د قیمت اعتبار دې د کبش تعین نه دې، یعنی د ضبع قیمت چه هر څه وی د هغې په اندازه دې جزاء ورکړې شی، ممکنه ده چه هغه وخت د هغې قیمت د کبش برابر وو، هم په دې وجه هغه ذکر کړې شو.

والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، وقال الترمذی: حسن صحیح، قاله المنذری.

باب النَّهیِ عَنْ أَکْلِ السِّبَاعِ

د درندګانو د غوښې د خوړلو د ممانعت بیان

[۳۸۰۲] ([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِیُّ، عَنْ مَالِکٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِی إِدْرِیسَ الْخَوْلَانِیِّ، عَنْ أَبِی ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِیِّ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّی اللَّهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهَی عَنْ أَکْلِ کُلِّ ذِی نَابٍ مِنَ السَّبُعِ".

د ابو ثعلبه رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلې ده د خوړلو د هر داړور ماتونکي ښناورنه.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِی ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِیِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- نَهَی عَنْ أَکْلِ کُلِّ ذِی نَابٍ مِنَ السَّبُعِ ﴾

شرح الحدیث :

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلې ده د هر هغه داړور ښناور د خوراک نه کوم چه د درند ګانو نه وی، یعنی هغه ښناور چه په خپلو غابښونو سره ښکار کوی او ښکار لره شلوی. مطلق د ناب [داړې]کیدل مراد نه دی، لکه شیر، زمرې، لیوه او سپې وغیره چه په خلقو باندې

[1]): صحیح البخاري/الصید ۲۹ (۵۵۳۰)، الطب ۵۷ (۵۷۸۰)، صحیح مسلم/الصید ۳ (۱۹۳۲)، الأطعمة ۳۳ (۱۹۳۲)، سنن الترمذي/الصید ۱۱ (۱۴۷۷)، سنن النسائي/الصید ۲۸ (۴۳۳۰)، ۳۰ (۴۳۴۸) سنن ابن ماجه/الصید ۱۳ (۳۲۳۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۷۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۱۹۳، ۱۹۴، ۱۹۵)، سنن الدارمي/الأضاحي ۱۸ (۲۰۲۳) (صحیح)

حمله کوی په خپلو غاښونو سره، او د ﴿ من السبع ﴾ قید ئې په دې وجه اولګولو چه اوښ ترې اوځی ځکه چه ددې اګرچه ناب [دارې] وی خو هغه په سباع او وحوش کښې نه دی د کوم چه د انسان سره دشمنی وی، او د دې نه روستو حدیث چه په روایت د ابن عباس ﷺ دې، په هغې کښې دا هم دی ﴿ وعن کل ذی مخلب من الطیر ﴾ یعنی د هر داسې مارغهٔ د خوراک نه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده چه د پنجې والا وی یعنی په پنجه ښکار کوی په الوتلو کښې هم لکه، باز، تپوس او چوکئ وغیره.

[٣٨٠٣]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السَّبُعِ، وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ".

دعبدالله بن عباس ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ منع فرمائیلې ده دخوړلودخر دارور ماتونکې ځناور اوهرپنجه لرونکې مرغئ نه.

حدیث ابی ثعلبه ﷺ اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، وحدیث ابن عباس ﷺ اخرجه مسلم، قاله المنذری.

او د دې نه روستو حدیث کوم چه د مقدام بن معدیکرب ﷺ نه روایت دې په هغې کښې دا زیادت دې. ﴿ وَلاَ الْحِمَارُ الأَهْلِيُّ وَلاَ اللُّقَطَةُ مِنْ مَالِ مُعَاهِدٍ إِلاَّ أَنْ يَسْتَغْنِيَ عَنْهَا ﴾ د حمر اهلیه وړاندې مستقل باب هم راروان دې، د معاهد نه مراد ذمی دې یعنی د ذمی لقطه اوچتولو سره کیخودل جائز نه دی، چه هر کله د ذمی جائز نه ده نو د مسلم په طریق اولی جائز نه ده، خو د تعریف دپاره اوچتول ئې جائز دی او بیا دې په دې صورت کښې ځوک هم دهغې طلب کولو دپاره رانشی نو بیله خبره ده، هم دا مطلب دې د﴿ الا ان یستغنی عنها ﴾.

[٣٨٠٤]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُصَفَّى الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ، عَنِ الزُّبَيْدِيِّ، عَنْ مَرْوَانَ بْنِ رُؤْبَةَ التَّغْلِبِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَوْفٍ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِ يكَرِبَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَلَا لَا يَحِلُّ ذُو نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، وَلَا الْحِمَارُ الْأَهْلِيُّ، وَلَا اللُّقَطَةُ مِنْ مَالِ مُعَاهَدٍ إِلَّا أَنْ يَسْتَغْنِيَ عَنْهَا، وَأَيُّمَا رَجُلٍ ضَافَ قَوْمًا فَلَمْ يَقْرُوهُ فَإِنَّ لَهُ أَنْ يُعْقِبَهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُ".

دمقدام بن معدي کرب نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی واورئ په ځناورو کښې د دارو والا ماتونکې ځناور غوښه حلاله نه ده اونه دکورنې خراونه ددمي کافر مال مګر له چه کافر دغه مال پخپله پریخودلی وي، اوځوک چه دچامیلمه شي اوهغه ته میلمستیا ورنکړي نودهغه دپاره جائز دي چه دخپلې میلمستیا په اندازه مال په زبردستی سره وصول کړي.

﴿ وَأَيُّمَا رَجُلٍ ضَافَ قَوْمًا الخ ﴾ او کوم سړې چه د یو قوم میلمه شی او هغه خلق د هغه میلمستوب اونکړی نو د دې میلمه دپاره جائز دی چه د خپل میلمستوب په اندازه د هغوی

[1]: صحيح مسلم/الصيد ٣ (١٩٣٤)، (تحفة الأشراف: ٦٥٠٦)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الصيد ٣٣ (٤٣٥٣)، سنن ابن ماجه/الصيد ١٣ (٣٢٣٤)، مسند احمد (١/٢٤٤، ٢٨٩، ٣٠٢، ٣٢٧، ٣٣٢، ٣٣٩، ٣٧٣)، دي/الأضاحي ١٨ (٢٠٢٥) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٥٧١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/العلم ١٠ (٢٦٦٣)، سنن ابن ماجه/الصيد ٢ (٣٢٣٤)، مسند احمد (٤/١٣٢) (صحيح)

په مال کښې واخلی، د دې آخرې جملې تاویلات د کتاب الاطعمه په شروع کښې په باب فی الضیافة کښې تیر شوې دی.

والحدیث ذکره الدارقطنی مختصرا واشار الی غرابته، قاله المنذری.

[٣٨٠٥]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي عَدِيٍّ، عَنِ ابْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحَكَمِ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه علیه السلام دغزوه خیبر په ورځ باندې دخوړلو دغوښې دهر دارور ماتونکی ځناورنه منع فرمائیلې ده

[٣٨٠٦]([2]) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ سُلَيْمَانُ بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ يَحْيَى بْنِ الْمِقْدَامِ، عَنْ جَدِّهِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِ يكَرِبَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، قَالَ: "غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ، فَأَتَتِ الْيَهُودُ فَشَكَوْا أَنَّ النَّاسَ قَدْ أَسْرَعُوا إِلَى حَظَائِرِهِمْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَا لَا تَحِلُّ أَمْوَالُ الْمُعَاهَدِينَ إِلَّا بِحَقِّهَا، وَحَرَامٌ عَلَيْكُمْ حُمُرُ الْأَهْلِيَّةِ، وَخَيْلُهَا، وَبِغَالُهَا، وَكُلُّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، وَكُلُّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ".

دخالد بن ولید نه روایت دې فرمائی چه په غزوه خیبرکښې درسول الله سره په جهاد کښې شریك وم چه یهودیان راغلل اونبی علیه السلام ته ئې شکایت وکړو چه خلقو په جلت سره زمونږه په چراګاه کښې ترلې شوې څاروې لوټ کړې دې، نبی علیه السلام اوفرمائیل خبردار ستاسو سره چه کوم کافران معاهده وکړې نوستاسو دپاره ددوی مال لوټ کول جائزنه دې مګر په حق سره او په تاسو باندې کورنې خره اسونه قچرې اوهریو داړې لرونکې ځناور اوپنجه لرونکې مرغۍ حرامه ده.

مضمون الحدیث:

قوله: ﴿ عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- خَيْبَرَ فَأَتَتِ الْيَهُودُ فَشَكَوْا أَنَّ النَّاسَ قَدْ أَسْرَعُوا إِلَى حَظَائِرِهِمْ الخ ﴾

خالد بن الولید رضی الله عنه فرمائی چه زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په غزوه خیبر کښې اوم پس هغوی ته څه یهودیان راغلل یعنی د معاهدې نه پس او هغوی راتلو سره دا شکایت اوکړو چه بعض خلقو زمونږ د څاروو په اخور باندې حمله کړې ده چرته چه زمونږ اوښان او ګډې بیزې ترلې شی او هغه ئې غلا کړې دی، نو په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم وعید اوفرمائیلو چه د معاهدینو او د ذمیانو د مال نه د خپل مقرر شوی حق نه علاوه نور اخستل جائز نه دی، او رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم اوفرمائیل چه په تاسو باندې کورنی خرۀ او اسونه او خچر او هر یو سبع ذی ناب او طیر ذی محلب حرام کړې شوې دې.

د مال معاهدین په باره کښې ناحق تصرف او د هغې په باره کښې د وعید روایات

---

[1]): سنن النسائي/ الصيد ٣٣ (٤٣٥٣)، سنن ابن ماجه/ الصيد ١٣ (٣٢٣٤)، (تحفة الأشراف: ٥٦٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٣٩) (صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: ٣٧٩٠، (تحفة الأشراف: ٣٥٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٨٩) (ضعيف منكر)

په كتاب الخراج "باب في تعشير اهل الذمة اذا اختلفوا في التجارة" د لاندې تير شوې دې، دلته خو دا روايت ضمناً راغلې دې، لهذا هغې طرف ته دې رجوع اوكړې شي، ډير سخت وعيدونه دي. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذري

[٣٨٠٧](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ عُمَرَ بْنِ زَيْدٍ الصَّنْعَانِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْهِرِّ"، قَالَ ابْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ: عَنْ أَكْلِ الْهِرِّ، وَأَكْلِ ثَمَنِهَا.

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام منع فرمائيل ده دقيت اخستلو د پيشونه او دعبدالملك په روايت كښې دى چه د پيشو دخوړلونه ئې منع فرمائيلې ده او د پيشو دقيمت دخوړلونه.

بَابٌ فِي أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ

د كورنو خرونو د خوړلو بيان

حمار اهلى د جمهور علماء ومنهم الائمة الثلاث په نزد حرام دې د احاديث صحيحه صريحه په وجه باندې، په دې كښې د ابن عباس رضي الله عنهما اختلاف روايت كړې شوې دې چه حرام نه دى، او د امام مالك رحمه الله نه درې روايتونه دى مشهور قول د هغوى دا دې چه مكروه تنزيهى دې، دويم دا چه مباح دې، او دريم قول ئې د جمهورو په شان د حرمت دې. كذا قال النووي ٢/٣٩.
دا اختلاف په حمر اهليه كښې دې، او حمر وحشيه يعنى زيبرا بالاجماع حلال دې او په حاشيه د بذل كښې دى: ﴿ تكلم عليه في حياة الحيوان وفيه: قال الجمهور بالحرمة ومالك بالاباحة، قال ابن العربي نسخ لحوم الحمر مرتين اه ﴾ په كومو ځيزونو كښې چه تعدد د نسخ راغلې دې هغه مونږ سره په دوه ځايونو كښې تير شو يو په ﴿ باب في نكاح المتعة ﴾ او په كتاب الطهارة كښې ﴿ باب الوضوء مما مست النار ﴾ د لاندې هم، په دې باب كښې مصنف رحمه الله دواړه قسم روايتونه ذكر كړې دى د حلت هم او د حرمت هم د مخكښې باب په حديث كښې تير شوې دى ﴿ وحرام عليكم حمر الاهلية وخيلها وبغالها ﴾.

د بغال په حكم كښې اختلاف:

د امام مالك رحمه الله اختلاف چه څنګه په حمار اهلى كښې دې هم دغه شان ئې په بغل كښې هم دې، پس په بداية المجتهد كښې دى چه د هغې مونږ دلته پوره عبارت ذكر كوو د مفيد او جامع كيدو د وجې نه: ﴿ وأما المسألة الثانية: وهي اختلافهم في ذوات الحافر الإنسي: أعني الخيل والبغال والحمير فإن جمهور العلماء على تحريم لحوم الحمر الإنسية إلا ما روي عن ابن عباس وعائشة أنهما كانا يبيحانها وعن مالك أنه كان يكرهها رواية ثانية مثل قول الجمهور وكذلك الجمهور على تحريم البغال وقوم كرهوها ولم يحرموها وهو مروي عن مالك. وأما الخيل فذهب مالك وأبو حنيفة وجماعة إلى انها محرمة وذهب الشافعي وأبو يوسف ومحمد وجماعة إلى إباحتها ١هـ ﴾ د ابن

(١): سنن الترمذي/البيوع ٤٩ (١٢٨٠)، سنن ابن ماجه/الصيد ٢٠ (٣٢٥٠)، (تحفة الأشراف: ٢٨٩٤) (ضعيف)

عباس رضی الله عنهما رائې په دې باره کښې خپله په متن کښې راروانه ده د دې نه پس هغوی په دلائلو باندې کلام کړې دې وفي الهداية ص ۴۷ج۴: ﴿ولا يجوز أكل الحمر الأهلية والبغال لما روي خالد بن الوليد رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن لحوم الخيل والبغال والحمير اه وفي هامشه : اخرجه ابن ماجه﴾ خچر چونکه د خیل او د حمار د دوه مختلف جنسونو د اختلاط نه پیدا کیږي او د حمار دوه قسمونه دي یو اهلي چه حرام دې او دویم وحشي کوم چه بالاتفاق حلال دې په دې وجه د بغل د دې دواړو قسمونو په حکم کښې فرق دې پس قسم اول حرام دې او نوع ثاني حلال، پس په حياة الحيوان کښې دي : ﴿يحرم أكل المتولد منها بين الحمار الأهلي والفرس، لانه متولد بين ما يحل وما يحرم فغلب جانب التحريم، فان تولد بين حمار وحشي وفرس حل اه﴾ وفي الدر المختار ۲/۲۲۹ ﴿ولا يحل ذوناب يصيد بنا به او مخلب يصيد بمخلبه من سبع بيان لذى مخلب او طير ولا الحشرات﴾ هي صغار دواب الارض واحدها حشرة والحمر الاهلية والبغل الذى امه حمارة فلو امه بقرة اكل اتفاقا، ولو فرسا فكامه.... اه مختصرا دا کلام په ترجمة الباب باندې وو اوس احاديث الباب اوګورئ.

[۳۸۰۹](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ عُبَيْدٍ أَبِي الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ غَالِبِ بْنِ أَبْجَرَ، قَالَ: "أَصَابَتْنَا سَنَةٌ فَلَمْ يَكُنْ فِي مَالِي شَيْءٌ أُطْعِمُ أَهْلِي إِلَّا شَيْءٌ مِنْ حُمُرٍ، وَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّمَ لُحُومَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَصَابَتْنَا السَّنَةُ وَلَمْ يَكُنْ فِي مَالِي مَا أُطْعِمُ أَهْلِي إِلَّا سِمَانُ الْحُمُرِ، وَإِنَّكَ حَرَّمْتَ لُحُومَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ، فَقَالَ: أَطْعِمْ أَهْلَكَ مِنْ سَمِينِ حُمُرِكَ فَإِنَّمَا حَرَّمْتُهَا مِنْ أَجْلِ جَوَّالِ الْقَرْيَةِ يَعْنِي الْجَلَّالَةَ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ هَذَا هُوَ ابْنُ مَعْقِلٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عُبَيْدٍ أَبِي الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَعْقِلٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ بِشْرٍ، عَنْ نَاسٍ مِنْ مُزَيْنَةَ: أَنَّ سَيِّدَ مُزَيْنَةَ أَبْجَرَ، أَوِ ابْنَ أَبْجَرَ، سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دغالب بن ابجرنه روایت دې فرمائي چه په مونږ باندې قحط سالي راغله اوزما په مال کښې داسې څیزنه وو چه خپل بال بچ ته مې دخوراك دپاره ورکړې وې مګر یوڅوخره اویقینانبی علیه السلام کورني خره حرام کړي وو نوزه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم اوعرض مې وکړو اې دالله رسوله په مونږ باندې قحط سالي راغلې ده اوزما په مال کښې داسې څیزنشته چه زه ئې دخوراك دپاره خپلوبچوته ورکړم مګر یوڅو څاربه خره راسره موجود دي نبی علیه السلام اوفرمائیل پخپلوبچودي ددغه څربو خرونه اوخوروه ځکه چه ما کورني خره دناپاکی په وجه باندې حرام کړي دي.

مضمون الحديث:

قوله:﴿عَنْ غَالِبِ بْنِ أَبْجَرَ قَالَ أَصَابَتْنَا سَنَةٌ فَلَمْ يَكُنْ فِي مَالِي شَيْءٌ أُطْعِمُ أَهْلِي إِلاَّ شَيْءٌ مِنْ حُمُرٍ الخ﴾ غالب بن ابجر رضی الله عنه فرمائي چه مونږ یو کرت په تنګسیا اولوږه کښې اخته شو اوما سره بل هیڅ څیز په خپلو بچو باندې د خوراک دپاره نه وو سوا د څو خرو نه خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طرف نه د لحوم حمر اهلیه تحریم راغلې وو په دې وجه د هغوی په خدمت کښې حاضر شوم او د خپلې لوږې حال مې هغوی ته بیان کړو. او هم دغه پوره خبره کومه چه پورته

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٠١٨) (ضعيف الإسناد/مضطرب)

راغله نو هغوی زما په خبره اوریدلو باندې اوفرمائیل ﴿ أَطْعِمْ أَهْلَكَ مِنْ سَمِينِ حُمُرِكَ فَإِنَّمَا حَرَّمْتُهَا مِنْ أَجْلِ جَوَالِّ الْقَرْيَةِ ﴾ د خپل کور په خلقو باندې خپل ځرب خر اوخروه ځکه چه ما د مطلق حمر تحریم نه وو کړې بلکه د کوڅو د هغه حمر تحریم مې کړې وو کوم چه جلاله دی.

د دې حدیث جواب دا دې چه دا بالاتفاق ضعیف دې. قال الحافظ : اسناده ضعیف والمتن شاذ مخالف للاحادیث الصحیحة فلا اعتماد علیه.... الی اخر ما فی البذل من الکلام علی الحدیث.....

او په حیاة الحیوان کښې دی : ولنا ما روی عن جابر وغیره ان النبیﷺ نهی عن لحوم الحمر الاهلیة واذن فی لحوم الخیل ﴾ متفق علیه..... وحدیث غالب رواه ابوداؤد، واتفق الحافظ علی تضعیفه ولو بلغ ابن عباس احادیث النهی الصحیحة الصریحة فی تحریمه لم یصر الی غیره اهـ د دې نه پس هغوی فرمائی چه که دا حدیث ثابت اومنلې شی نو بیا به دا په حالت د اضطرار باندې حمل کولې شی. بله دا چه دا واقعه د حال لا عموم لها د قبیل نه ده. اهـ

[٣٨٠٨](1) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَسَنٍ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، أَخْبَرَنِي رَجُلٌ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ، عَنْ أَنْ نَأْكُلَ لُحُومَ الْحُمُرِ، وَأَمَرَنَا أَنْ نَأْكُلَ لُحُومَ الْخَيْلِ"، قَالَ عَمْرٌو: فَأَخْبَرْتُ هَذَا الْخَبَرَ أَبَا الشَّعْثَاءِ، فَقَالَ: قَدْ كَانَ الْحَكَمُ الْغِفَارِيُّ فِينَا يَقُولُ هَذَا، وَأَبَى ذَلِكَ الْبَحْرُ يُرِيدُ ابْنَ عَبَّاسٍ.

دجابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده دغزوه خیبر په ورځ باندې دخرو دغوښې دخوړلو نه او حکم ئې وکړو موږ ته په خوړلو دغوښې داسونو، ددې حدیث عمرو بن دینار وائی چه داحدیث ما ابو الشعثاء ته بیان کړو هغه اووئیل چه په موږ کښې به حکم غفاري هم په دې طریقه بیانولو لیکن دې علامه ابن عباس) ددینه انکار وکړو.

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ أَنْ نَأْكُلَ لُحُومَ الْحُمُرِ وَأَمَرَنَا أَنْ نَأْكُلَ لُحُومَ الْخَيْلِ الخ ﴾

دا حدیث پورته د حیاة الحیوان په حواله تیر شو.

مسلک د ابن عباس رضی الله عنهما :

وړاندې دلته په روایت کښې دی ابو الشعثاء فرمائی چه دلته په بصره کښې حکم غفاری هم د دې قائل دی، یعنی د تحریم لحوم حمر... ﴿ وابی ذلک البحر یرید ابن عباس رضی الله عنهما ﴾ یعنی دا بحر العلم یعنی ابن عباس رضی الله عنهما د تحریم حمر انکار کوی

والحدیث اخرجه البخاری من حدیث عمرو بن دینار عن ابی الشعثاء ولیس عنده فیه عن رجل، قاله المنذری.

[٣٨١٠](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ عُبَيْدٍ، عَنِ ابْنِ مَعْقِلٍ، عَنْ رَجُلَيْنِ مِنْ مُزَيْنَةَ أَحَدُهُمَا عَنِ الْآخَرِ أَحَدُهُمَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ عُوَيْمٍ، وَالْآخَرُ غَالِبُ بْنُ الْأَبْجَرِ، قَالَ مِسْعَرٌ: أَرَى غَالِبًا

(1): صحيح البخاري/ الصيد ٢٨ (٥٥٢٩)، انظر حديث رقم : ٣٧٨٨، (تحفة الأشراف: ٣٤٢٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤١٣/٤) (صحيح)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٠١٨) (ضعيف الإسناد)

الَّذِي أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ.

دا روایت د تیرشوي روایت په شان دي-

[٣٨١١](١) حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ بَكَّارٍ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ، "عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ، وَعَنِ الْجَلَّالَةِ عَنْ رُكُوبِهَا وَأَكْلِ لَحْمِهَا".

عمرو بن شعیب دخپل پلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام دغزوه خیبرپه ورځ باندې دکورنوخرو دخوړلونه منع فرمائیلې ده اودمردارخورخاروي دسورلی کولو اوددې دغوښې خوړلونه.

د باب آخری حدیث ﴿ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ ﴾ چه په هغې کښې تحریم لحوم حمر ذکر دې. اخرجه النسائی قاله المنذری.

بَابٌ فِي أَكْلِ الْجَرَادِ

د ملخ د خوړلو بیان

[٣٨١٢](٢) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي يَعْفُورٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي أَوْفَى، وَسَأَلْتُهُ "عَنِ الْجَرَادِ؟، فَقَالَ: غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّ أَوْ سَبْعَ غَزَوَاتٍ، فَكُنَّا نَأْكُلُهُ مَعَهُ".

د ابویعفور نه روایت دې فرمائی چه دابن ابی اوفی نه مې اوریدلي دي کله چه ماورنه دملخ دخوړلو په باره کښې تپوس کړې وو هغه راته اوفرمائیل چه دنبی علیه السلام سره په شپږو یا اوه غزاګانو کښې شریك شوي یم او مونږ به دا دهغه سره خوړل.

﴿ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- سِتَّ أَوْ سَبْعَ غَزَوَاتٍ فَكُنَّا نَأْكُلُهُ مَعَهُ ﴾

عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه فرمائی چه زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په شپږو یا اووه غزاواتو کښې شریک شوي یم نو مونږ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دا خوړل یعنی ملخان، حافظ فرمائی چه کیدې شی د معیت تعلق صرف د غزوې سره وی، او دا هم احتمال دې چه د سفر سره د اکل جراد سره هم وی. او د احتمال ثانی تائید د ابونعیم د روایت نه کیږی د کوم نه چه دا زیادت معلومیږی ﴿ ویاکله معنا ﴾ (بذل) خو دلته په کتاب کښې د دې نه پس په روایت کښې راځی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: ﴿ لاَ آكُلُهُ وَلاَ أُحَرِّمُهُ ﴾ مګر دا چه داسې اوئیلې شی چه د ﴿ لا اکله ﴾ نه مقصود درغبت نفی مراد ده نه د نفس اکل، او یا دې دا اوئیلې شی کما قال القاری چه دا دویم روایت د سلمان والا د دې په سند کښې اختلاف دې چه بعضو دا مرسلا ذکر کړې دې لکه چه مصنف رحمه الله فرمائی: رَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ أَبِي الْعَوَّامِ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- لَمْ يَذْكُرْ سَلْمَانَ.

(١): سنن النسائي/الضحايا ٤٢ (٤٤٥٢)، (تحفة الأشراف: ٨٧٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٩/٢) (حسن صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الصيد ١٣ (٥٤٩٥)، صحيح مسلم/الصيد ٨ (١٩٥٢)، سنن الترمذي/الأطعمة ١٠ (١٨٢١)، سنن النسائي/الصيد ٣٧ (٤٣٦١)، (تحفة الأشراف: ٥١٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٣/٤، ٣٥٧، ٣٨٠)، سنن الدارمي/الصيد ٥ (٢٠٥٣) (صحيح)

د دي حديث نه د جراد حلال والي ثابتيږي مطلقا ، پس د جمهورو مذهب هم دا دې چه جراد مطلقا حلال دې که د هغه مرګ په ذبح کولو سره اوشي يا ښکار کولو سره يا هغه طبعي مرګ باندې مړ شي. په دې کښې د امام مالک رحمه الله اختلاف دې د هغوی مشهور قول او د امام احمد رحمه الله يو روايت دې چه که د يو عارض او سبب په وجه باندې مړ شي نو بيا خو حلال دې او که طبعي مرګ باندې مړ وي نو بيا حلال نه دې. (بذل عن النووي)

جراد د حلاليدو نه علاوه د سمک په شان بغير د ذبح کولو نه هم حلال دې لکه چه مشهور حديث دې ﴿ احلت لنا الميتتان السمک والجراد ﴾ والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري.

[٣٨١٣](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفَرَجِ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ الزِّبْرِقَانِ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: "سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَرَادِ؟ فَقَالَ: أَكْثَرُ جُنُودِ اللَّهِ، لَا آكُلُهُ، وَلَا أُحَرِّمُهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الْمُعْتَمِرُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَمْ يَذْكُرْ سَلْمَانَ.

دسلمان نه روايت دې فرمائي چه درسول الله ﷺ نه دملخ دخوړلو په باره کښې تپوس اوکړې شو. نوئې فرمائيل دالله ډير لښکري دی، نه خوئې زه خورم او نه ئې حرام ګڼړم. امام ابوداؤد فرمائي چه دا روايت ابو المعتمر دخپل پلار نه په واسطه دعثمان سره دنبی عليه السلام نه ذکر کړې دې او دسلمان ذکرئې په کښې نه دې کړې.

قوله:﴿عَنْ سَلْمَانَ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– عَنِ الْجَرَادِ فَقَالَ: أَكْثَرُ جُنُودِ اللَّهِ لاَ آكُلُهُ وَلاَ أُحَرِّمُهُ ﴾

يعنی ملخان د الله پاک د مخلوقاتو په لښکر کښې يو ډير لوئې لښکر دې، يعنی په زمکه باندې اوسيدونکو نه په ظاهر کښې مراد د ﴿ من اکثر جنود الله ﴾ نه دا نه دې چه د ټولو نه زيات هم دا دی. خو دا زه خو خپله نه خورم او د بل دپاره ئې حراموم هم نه.

ذکر انه روی مرسلا... واخرجه ابن ماجه مسندا، قاله المنذري.

[٣٨١٤](٢)حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، وَعَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَا: حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ يَحْيَى بْنِ عُمَارَةَ، عَنْ أَبِي الْعَوَّامِ الْجَزَّارِ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ سَلْمَانَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ، فَقَالَ مِثْلَهُ، فَقَالَ: أَكْثَرُ جُنْدِ اللَّهِ، قَالَ عَلِيٌّ: اسْمُهُ فَائِدٌ يَعْنِي أَبَا الْعَوَّامِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي الْعَوَّامِ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَذْكُرْ سَلْمَانَ.

دسلمان نه روايت دې فرمائي چه درسول الله و نه دملخ دخوړلو په باره کښې تپوس اوکړې شو نو داسې ئې اوفرمائيل، علی بن عبدالله وئيلی دی چه دابوالعوام نوم فائد دې. امام ابوداؤد فرمائي دا روايت حماد په واسطه دابوالعوام سره دسلمان دذکرنه بغير دابوعثمان نه ذکر کړې دې او هغه دنبی عليه السلام نه بيان کړې دې.

(١): سنن ابن ماجه/الصيد ٩ (٣٢١٩)، (تحفة الأشراف: ٤٤٩٥) (ضعيف)
(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٤٩٥) (ضعيف)

بَابٌ فِي أَكْلِ الطَّافِي مِنَ السَّمَكِ

دهغه کبانو (مهيانو) د خوړلو بيان کوم چه د اوبو په سر مړه روان وی

يعنی هغه مهيان کوم چه په اوبو کښې په طبعی مرګ باندې مړهٔ شی او بيا پورته ګرزی.

[٣٨١٥]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ الطَّائِفِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَلْقَى الْبَحْرُ أَوْ جَزَرَ عَنْهُ فَكُلُوهُ، وَمَا مَاتَ فِيهِ وَطَفَا فَلَا تَأْكُلُوهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَأَيُّوبُ، وَحَمَّادٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، أَوْقَفُوهُ عَلَى جَابِرٍ، وَقَدْ أُسْنِدَ هَذَا الْحَدِيثُ أَيْضًا مِنْ وَجْهٍ ضَعِيفٍ عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دجابر بن عبدالله رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی کوم مهې چه درياب ئې راوغورځوي يا ددرياب اوبه اودريږي نوداخورئ اوکوم مهې چه دمړکيدونه پس داوبو په سر روان وي نودامه خوری، امام ابوداؤد فرمائی دا روايت سفيان ثوري دايوب نه اوهغه دحماد نه اوهغه دجابرنه موقوف نقل کړې دې، اودا حديث سنداهم دابن ابی زئب نه اوهغه دابن ابی زبير په واسطه بيان کړې دې ليکن داواسطه ضعيفه ده.

قوله: ﴿ مَا أَلْقَى الْبَحْرُ أَوْ جَزَرَ عَنْهُ فَكُلُوهُ وَمَا مَاتَ فِيهِ وَطَفَا فَلاَ تَأْكُلُوهُ ﴾

يعنی کوم مهې چه د درياب چپه بهر راوغورځوی يا د مهی په درياب کښې د کيدو سره اوبه د هغې نه لرې شی او بيا هغه په خشکئ مړ شی نو داسې قسم مهيان خو خورئ او کوم چه په دې کښې طبعی مرګ سره مړ کيدو باندې پورته ګرزی هغه مه خورئ.

د طافي خوراک د احنافو په نزد مکروه دې او د باقی ائمه ثلاثه او د اهل ظواهر په نزد حلال بغير د کراهت نه دې، امام نووی رحمه الله فرمائی چه دا حديث ضعيف دې، مصنف رحمه الله هم د دې په سند کښې اختلاف بيان کړې دې چه يو جماعت دا حديث د ابوالزبير نه موقوفا علی جابر روايت کړې دې. يعنی د دې حديث موقوفا روايت کيدل زيات صحيح دی په نسبت د مرفوع. او نور کلام د فريقينو په دلائلو باندې په بذل کښې دې چه څوک کتل غواړی او دې ګوری. او په حاشيه د بذل کښې دی ﴿ وروی ذلک ای الکراهة عن جابر وابن عباس رضی الله عنهم، ولا يضر من اوقفه فان الموقوف فی مثل هذا کالمرفوع کما معروف کما فی المرقاة وفی الهداية عن جماعة من الصحابة مثل مذهبنا وذکر الزيلعی الآثار وکذا فی الدر المنثور ولخصها فی "التعليق الممجد" وروی عن ابی بکر رضی الله عنه الطافی حلال علقه البخاری فی صحيحه اهـ ﴾ والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری.

---

[1]: سنن ابن ماجه/الصيد ١٨ (٣٢٤٧)، (تحفة الأشراف: ٢٦٥٧) (ضعيف)

بَابٌ فِي الْمُضْطَرِّ إِلَى الْمَيْتَةِ[1]

د مردارې خوړلو ته د مجبوره کیدو بیان

[٣٨١٦] ([2]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، أَنَّ رَجُلًا نَزَلَ الْحَرَّةَ وَمَعَهُ أَهْلُهُ وَوَلَدُهُ، فَقَالَ رَجُلٌ: إِنَّ نَاقَةً لِي ضَلَّتْ فَإِنْ وَجَدْتَهَا فَأَمْسِكْهَا، فَوَجَدَهَا فَلَمْ يَجِدْ صَاحِبَهَا، فَمَرِضَتْ، فَقَالَتِ امْرَأَتُهُ: انْحَرْهَا، فَأَبَى، فَنَفَقَتْ، فَقَالَتْ: اسْلُخْهَا حَتَّى نُقَدِّدَ شَحْمَهَا وَلَحْمَهَا وَنَأْكُلَهُ، فَقَالَ: حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَاهُ، فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: "هَلْ عِنْدَكَ غِنًى يُغْنِيكَ؟"، قَالَ: لَا، قَالَ: فَكُلُوهَا، قَالَ: فَجَاءَ صَاحِبُهَا فَأَخْبَرَهُ الْخَبَرَ، فَقَالَ: هَلَّا كُنْتَ نَحَرْتَهَا، قَالَ: اسْتَحْيَيْتُ مِنْكَ".

دجابر بن سمره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوکس دمدینې سره نزدې حره مقام ته راغې اودده سره دده بال بچ هم وو یوکس ورته اووئیل زما اوښه ورکه شوې ده که چرې تا اوموندله نوونيسه نودې کس ته دغه اوښه ملاو شوه لیکن داوښې مالك ملاو نه شو بیاهغه اوښه بیماره شوه نوددې کس ښځې اووئیل چه دا ذبح کړه لیکن ده دښځې خبره ونه منله او اوښه مرداره شوه په دې وخت کښې ددې کس ښځې اووئیل چه ددې اوښې نه څرمن اوباسه ددې دپاره چه مونږ ددې وازده استعمال کړو اوغوښه ئې وچه کړو دې کس اووئیل زه به دنبی علیه السلام نه تپوس اوکړم، هغه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضرشو اودمسئلې تپوس ئې وکړو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل ایاستا سره دومره څه شته چه ته پرې ددینه بچ شې نوده ورته اووئیل چه نشته نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل بیادغه اوښه اوخوره، راوی وائی چه په دې دوران کښې داوښې مالك راورسیدو او دغه ښځې خاوند ورته ټوله واقعه بیان کړه مالك ورته اووئیل تاسوولې نه ده ذبح کړې؟ ده اووئیل چه ماته ستانه حیاء راغله.

مضمون الحدیث:

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ أَنَّ رَجُلًا نَزَلَ الْحَرَّةَ وَمَعَهُ أَهْلُهُ وَوَلَدُهُ فَقَالَ رَجُلٌ إِنَّ نَاقَةً لِي ضَلَّتْ فَإِنْ وَجَدْتَهَا فَأَمْسِكْهَا الخ ﴾

جابر بن سمره رضی الله عنه فرمائی چه یو مسافر سړې مدینې طیبې ته راتلو سره په مقام حره کښې دیره شو. د هغه سره د هغه اهل وعیال هم وو نو یو مقامی سړی هغه ته اووې چه زما یاو اوښه ورکه شوې ده که تاته ملاؤ شی نو هغه اونیسه، پس هغه ته یو اوښه ملاؤ شوه هغه اونیوله

---

[1]) په مسئله د مضطر کښې مباحث سبعه: په حاشیه د بذل کښې دلته اووه بحثونه او مسائل ذکر دی کوم چه بعینه دلته نقل کولې شی...... فیه سبعة ابحاث في الاوجز: الاول في حقیقته وهي عند الجمهور ان یصل به الجوع الي الهلاك او الي مرض یفضي الي الهلاك وفي حکمه الاکراه.... الثاني في مقدار الاکل وهو سد الرمق عندنا وهو المشهور عند الشافعي واحمد وروایة مرجوحة عن مالك، والراجح المعتمد عند مالك هو غیر المشهور عنهما یجوز له الشبع.... والثالث هل یجب الاکل او یباح؟ ارجح روایتي احمد واصح وجهي الشافعي الوجوب، وبه قال مالك والحنفیة الا ابایوسف فقال بالاباحة وهو احد روایتي الشافعي واحمد..... والرابع السفر والحضر سواء عند الجمهور وروایة عن احمد تختص بالسفر....... والخامس لا یجوز للعاص في السفر عند الثلاثة خلافا للحنفیة (فعندهم الرخصة عامة)....... والسادس یجوز له التزدد منه في اصح روایتي احمد وبه قال الشافعي ومالك والاخري لاحمد لا یجوز.... والسابع الخمر کالمیتة عندنا في هذه المسئلة ولا یجوز عند الشافعي ومالك اهـ

[2]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٢١٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٧/٥، ٨٨، ٨٩، ٩٧، ١٠٤) (حسن الإسناد)

خو هغه مالک ئې ملاؤ نه شو، اتفاقي هغه اوښه بيماره شوه نو د دې پردي مسافر سړي ښځې اووې دا ذبح کړه، هغه او نه منله تر دې چه هغه اوښه مړه شوه، بيا د هغه ښځې اووې چه اوس د دې څرمن اوباسه چه مونږ د دې غوښه او وازګه پرې کړو او اوئې خورو (چه هغوی سره د خوراک دپاره هيڅ نه وو) هغه سړي اووې چه تر څو پورې زه د رسول الله ﷺ نه معلومه نه کړم داسې نه شم کولې. پس هغه د رسول الله ﷺ نه دې باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی ترې نه تپوس اوفرمائيلو چه تاسره د دې نه علاوه بل څيز د خوراک شته کوم چه تا د دې مردارې نه مستغنی کړي؟ هغه عرض اوکړو نه جي داسې هيڅ څيز نشته، په دې اوريدو باندې رسول الله ﷺ هغه ته د خوراک اجازت ورکړو، د دې نه پس چه کله د هغې اوښې مالک راورسيدلو او دې سړي ورته د اوښې حال بيان کړو، په دې باندې د هغې مالک اووې چه تا د مرګ نه مخکښې هغه ذبح ولې نه کړه؟ هغه اووې زه ستانه شرميدم.....

[٣٨١٧](1) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ وَهْبِ بْنِ عُقْبَةَ الْعَامِرِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ، عَنِ الْفُجَيْعِ الْعَامِرِيِّ، أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "مَا يَحِلُّ لَنَا مِنَ الْمَيْتَةِ؟، قَالَ: مَا طَعَامُكُمْ؟، قُلْنَا: نَغْتَبِقُ وَنَصْطَبِحُ، قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ: فَسَّرَهُ لِي عُقْبَةُ قَدَحٌ غُدْوَةً، وَقَدَحٌ عَشِيَّةً، قَالَ: ذَاكَ وَأَبِي الْجُوعُ، فَأَحَلَّ لَهُمُ الْمَيْتَةَ عَلَى هَذِهِ الْحَالِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْغَبُوقُ مِنْ آخِرِ النَّهَارِ، وَالصَّبُوحُ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ.

د فجيع العامري نه روايت دې فرمائي چه زه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم اوعرض مې وکړو اې دالله رسوله زمونږ دپاره په کوم حال کښې مرداره خوړل جائزدي؟ نبی ﷺ اوفرمائيل ستاسو خوراك څه شي دې؟ ده ورته اووئيل دماښام په وخت کښې دشودو يوه پياله اودسحر په وخت کښې دشودويوه پياله، ابونعيم وائی عقبه ماته ددې حديث داسې تشريح کړې ده چه ددينه مراد دشودو يوه پياله سحر اويوه ماښام څکل په دې خبره دې زماپه خپل پلارقسم وي چه زه وګه ګرځم نوپه دې بناباندې نبی ﷺ ددغه کس دپاره مرداره جائز اوګرځوله.

شرح الحديث:

قوله: ﴿ عَنِ الْفُجَيْعِ الْعَامِرِيِّ أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ مَا يَحِلُّ لَنَا مِنَ الْمَيْتَةِ؟ الخ ﴾ تحل مجرد او مزيد دواړه کيدې شي، دا استفهام دې يعنی ﴿ اما تحل لنا الميتة؟ ﴾ او د مزيد په صورت کښې به ئې مطلب دا وی چه آيا تاسو ميتة زمونږ دپاره نه جائز کوئ، رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ستاسو خوراک څه دې، او تاسو ته د خوراک دپاره څه ملاويږی، ﴿ قُلْنَا نَغْتَبِقُ وَنَصْطَبِحُ ﴾ هغه اووې چه زمونږ خوراک د سحر او ماښام يو يو پياله ده. صبوح وائی د سحر خوراک ته غبوق د ماښام خوراک ته. قال ذلك وابی الجوع... رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه زما دې په پلار قسم وی دا خو تږله لوږه ده او رسول الله ﷺ د هغوی دپاره د مردارې خوړل جائز کړل.

د اضطرار په وخت د مضطر دپاره د اکل ميتة اجازت د احنافو په نزد (او هم دا قول راجح د حنابله او د شوافعو دې) په اندازه د سدرمق دې، په دې کښې د امام مالک رحمه الله

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٠٢١) (ضعيف الإسناد)

اختلاف دي ﴿ فانه اجاز للمضطر الشبع وهو رواية عن الشافعي واحمد ﴾

د دې حديث نه په ظاهر کښې د مالکيانو تائيد کيږي، په بذل کښې د ګنګوهی د تقرير نه نقل کړې دی چه کيدې شی مصنف رحمه الله دا دواړه احاديث د خپل مذهب د ثبوت دپاره راوړې وی چه اضطرار د هلاکت په ويره باندې موقوف نه دې ځکه چه د ړومبی روايت نه د مطلق اکل اجازت ثابتيږي او هم دغه شان د دويم روايت نه ثابتيږي چه د حل ميتة بنياد د هلاکت په ويره باندې نه دې ځکه چه يو پياله سحر او يو پياله ماښام سړی ته ملاويږي نو په دې صورت کښې د هلاکت ويره چرته وی؟ خو د اول روايت جواب دا دې په کوم کښې چه مطلق اکل ذکر دې. چه دا مطلق به د آيت په ذريعه مقيد کولې شی چه په هغې کښې د مضطر دپاره اباحت د ميتة ذکر دې ځکه چه سړې په اندازه د رسد رمق د خوراک نه پس مضطر چرته پاتې کيږي چه د هغه دپاره اکل ميتة حلال شی، او د روايت ثانيه جواب دا دې ﴿ قدح غدوة وقدح عشية ﴾ مطلب به دا اخستلې شی چه هر پياله د هر سړی دپاره مراد نه ده بلکه د پوره کور والو دپاره، ځکه چه يو يو پياله سحر او ماښام هر سړی ته ملاؤ شی نو په دې صورت کښې خوراک ته حاجت نه پاتې کيږي پاتې لا حالت اضطرار.

قوله: په دې حديث کښې دا دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ﴿ ذلک وابی الجوع ﴾ يعنی رسول الله ﷺ د خپل پلار قسم اوخوړلو، دغه شان د حضور ﷺ قسم د کتاب الصلوة په اول کښې تير شوې دې. ﴿ افلح وابيه .ان صدق ﴾ د دې جواب هم هلته ذکر شوې دې، او کوم چه د کتاب الايمان والنذور په يو حديث کښې د حضور ﷺ دا قسم تير شوې دې. ﴿لعمر الهک ﴾ په هغې کښې خو هيڅ اشکال نشته ځکه چه د عمر اضافت په دې کښې د اله طرف ته شوې دې.

بَابٌ فِي الْجَمْعِ بَيْنَ لَوْنَيْنِ مِنَ الطَّعَامِ[1]

باب: په يو وخت کښې د مختلف قسمه خوراکونو خوړلو بيان

[٣٨١٨][2] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ، أَخْبَرَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَدِدْتُ أَنَّ عِنْدِي خُبْزَةً بَيْضَاءَ مِنْ بُرَّةٍ سَمْرَاءَ مُلَبَّقَةً بِسَمْنٍ وَلَبَنٍ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ، فَاتَّخَذَهُ فَجَاءَ بِهِ، فَقَالَ: فِي أَيِّ شَيْءٍ كَانَ هَذَا؟ قَالَ: فِي عُكَّةِ ضَبٍّ، قَالَ: ارْفَعْهُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَأَيُّوبُ لَيْسَ هُوَ السَّخْتِيَانِيَّ.

دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی دغنمو

[1] په حاشيه د بذل کښې دی: هم دغه شان ترجمه امام بخاری هم قائم کړې ده، په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه شايد مصنف اشاره کړې ده د حضرت انس رضی الله عنه هغه ضعيف حديث طرف ته چه په هغې کښې دا دی چه يوځل د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې يو پليټ راوړلې شو چه په هغې کښې پئ او شهد وو، نو په دې باندې نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: (دمان فی اناء، لا آکله ولا احرمه) چه په يو لوخی کښې دوه قسمه سالن (اينګولې)، زه دا نه خورم او بل چا دپاره ئې حرام کوم هم نه، اخرجه الطبراني وفيه راو مجهول.

[2]: سنن ابن ماجه/الأطعمة ٤٧ (٣٣٤١)، (تحفة الأشراف: ٧٥٥١) (ضعيف)

دورو سپینه ډوډئ په غوړوکښې پخه کړي شوي زماډیره خوښه وي، په دې وخت کښې یوکس پاڅیدو اوداډوډئ ئې دنبی ﷺ دپاره تیاره کړه او پیش ئې کړه نبی کریم ﷺ ورنه تپوس وکړوچه غوړي په څنګه لوښي کښې پراته وو؟ عرض وکړي شوډخادمئ دڅرمني په مشکیزه کښې، نبی ﷺ اوفرمائیل دا ډوډئ پورته کړه.

امام بخاري رحمه الله هم قائم کړې ده په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه کیدې شی مصنف رحمه الله اشاره کړې ده د انس رضی الله عنه د حدیث ضعف ته چه په هغې کښې دی چه یو کرت د رسول الله ﷺ په خدمت کښې یو کاسه حاضره کړې شوه چه په هغې کښې پئ او شهد وو نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ادمان فی اناء لا آکله ولا احرمه.... په یو لوښی کښې دوه قسم خوراک دا زه نه خورم او د بل دپاره ئې نه حراموم. اخرجه الطبرانی وفیه راو مجهول، یعنی په یو وخت باندې دوه قسمه خوراک کول، یعنی د دې جواز، لکه چه د حدیث الباب نه معلومیږي.

مضمون الحدیث:

قوله: ﴿ وَدِدْتُ أَنَّ عِنْدِي خُبْزَةً بَيْضَاءَ مِنْ بُرَّةٍ سَمْرَاءَ مُلَبَّقَةً بِسَمْنٍ وَلَبَنٍ ﴾

سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه رسول الله ﷺ یو ورځ دا خواهش ښکاره کړو چه که ما سره د سپینو اوربشو ډوډئ وې په پیواو غوړو کښې ګډه شوې (نو څومره به ښه وې) په دې باندې یو صحابی رضی الله عنه اودریدلو او هم د دې قسم یو ډوډئ ئې راوړله. رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا کوم غوړی چه په دې پورې دی دا په څه کښې وو؟ ﴿ قال فی عكة ضب ﴾ هغه جواب ورکړو چه د ضب په څرمن کښې..... رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا ډوډئ زما د مخې نه اوچته کړئ او هغه ئې نه او نه خوړله.

په بذل کښې د حضرت ګنګوهی رحمه الله د تقریر نه نقل کړې دی چه د دې حدیث نه د ضب عدم جواز په فهم کښې راځی ځکه چه که هغه حلال وې نو رسول الله ﷺ به د هغه خوراک د خوړلو نه انکار نه کولو. او که څوک داسې اوائی د شوافعو د طرف نه چه هغوی داسې د طبعی تنفر د وجې نه اوکړل نه د عدم حل د ضب د وجې نه... نو د هغه جواب دا دې چه دا توجیه صحیح نه ده ځکه چه د ضب د څرمنې هیڅ اثر په غوړو کښې نه وو. (والحدیث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری)

بَابٌ فِي أَكْلِ الْجُبْنِ

د پنیر خوړلو بیان

په دې کښې دوه لغته دی یو بضم الجیم و سکون الباء، او دویم بضم الجیم والباء وتشدید النون، په وزن د عتل (بضمتین وتشدید مع التنوین) د خوراک معروف څیز دې چه هغې ته پنیر وائی.

[٣٨١٩]([1])حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى الْبَلْخِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَنْصُورٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجُبْنَةٍ فِي تَبُوكَ، فَدَعَا بِسِكِّينٍ فَسَمَّى وَقَطَعَ".

دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه په غزوه تبوک کښې نبی علیه السلام ته د پنیریوه توته پیش کړې شوه نوچاړه ئې را اوغوښتله اوبسم الله ئې ووئیله او ذائې پرې کړه.

په حدیث الباب کښې دی چه کله رسول الله ﷺ په غزوه تبوک کښې وو نو د پنیر یوه ټکړه راوړلې شوه. رسول الله ﷺ چاړه را اوغوښتله اوهغه ئې بسم الله لوستلو سره کټ کړه.

باب فِي الْخَلِّ

د سرکې خوړلو بیان

[٣٨٢٠]([2])حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "نِعْمَ الْإِدَامُ الْخَلُّ".

ترجمه: دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلي دي: چه سرکه ډیره ښه ترکاري ده.

قوله:﴿ نِعْمَ الإِدَامُ الْخَلُّ ﴾ رسول الله ﷺ د سرکې تعریف اوفرمائیلو چه هغه ځومره ښه ترکاری ده په دې اعتبار سره چه ددې په جوړولو کښې او حاصلولو کښې زیات مشقت نشته او نه پکښې زیات خرچ لهذا قناعت ته ډیر نزدې دې. (بذل)

په شرح د حدیث کښې د شارحینو اختلاف:

امام خطابی رحمه الله فرمائی چه په دې کښې مدح ده په خوراک څکاک کښې د اقتصاد اختیارولو او نفس لره د خوندور خوراکونو نه د منع کولو په دې باندې امام نووی رحمه الله فرمائیلي دی چه د اقتصاد فی المآکل والمشارب ترغیب خو په نورو روایتونو او قواعدو سره ثابت دې، دلته خومقصود د رسول الله ﷺ فی حد ذاته د سرکې تعریف کول دی، او حضرت په بذل کښې دا فرمائیلي دی چه د خطابی غرض د مدح خل نفی نه ده بلکه دا ده چه د اقتصاد د مدح په ضمن کښې د سرکې هم تعریف کړې شوې دې اهـ.... خو ظاهر د کلام د خطابی نه هم دا ده چه د هغوی په نزد په دې حدیث سره مقصود مدح د خل نه ده بلکه د اقتصاد ترغیب دې هم په دې وجه امام نووی رحمه الله د هغې په سختئ سره انکار کړې دې. زما په نزد په دې کښې د امام نووی رحمه الله رائې ډیره غوره ده د خطابی د رائې نه. ځکه چه دا حدیث مختصر دې او پوره حدیث هغه دې کوم چه په مسلم شریف کښې راغلې دې: ﴿يَقُولُ جابر رضى الله تعالى عنه أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِيَدِى ذَاتَ يَوْمٍ إِلَى مَنْزِلِهِ فَأَخْرَجَ إِلَيْهِ فِلَقًا مِنْ خُبْزٍ فَقَالَ « مَا مِنْ أُدُمٍ ». فَقَالُوا لاَ إِلاَّ شَىْءٌ مِنْ خَلٍّ. قَالَ « فَإِنَّ الْخَلَّ نِعْمَ الأُدُمُ ». قَالَ جَابِرٌ فَمَا زِلْتُ أُحِبُّ الْخَلَّ مُنْذُ سَمِعْتُهَا مِنْ نَبِىِّ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-. وَقَالَ طَلْحَةُ مَا زِلْتُ

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧١١٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الأشربة ٤٠ (٣٠٥٢)، ٢٠ (٣٨٢٧) (حسن الإسناد)

[2]): سنن الترمذي/الأطعمة ٣٥ (١٨٤٢)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٣٣ (٣٣١٧)، (تحفة الأشراف: ٢٥٧٩)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الأشربة ٤٠ (٣٠٥٢)، سنن النسائي/الأيمان ٢٠ (٣٨٢٧) مسند احمد (٣٠٤/٣، ٣٧١، ٣٨٩، ٣٩٠)، سنن الدارمي/الأطعمة ١٨ (٢٠٩٢) (صحيح)

أَحِبُّ الْخَلَّ مُنْذُ سَمِعْتُهَا مِنْ جَابِرٍ﴾ د دې حديث نه هم دا معلوميږي چه د رسول الله ﷺ اصل مقصود مدح د خل ده اګر چه د دې په ضمن کښې اقتصاد هم موندلې شي. والحديث اخرجه مسلم والنسائي، قاله المنذري.

[٣٨٢١](١)حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْمُثَنَّى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "نِعْمَ الْإِدَامُ الْخَلُّ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی کريم ﷺ فرمائيلي دي: چه سرکه ښه ترکاري ده.

بَابٌ فِي أَكْلِ الثُّومِ

د اوږې خوړلو بيان

[٣٨٢٢](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَنِي عَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ، أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا، فَلْيَعْتَزِلْنَا أَوْ لِيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا، وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ، وَإِنَّهُ أُتِيَ بِبَدْرٍ فِيهِ خَضِرَاتٌ مِنَ الْبُقُولِ، فَوَجَدَ لَهَا رِيحًا، فَسَأَلَ فَأُخْبِرَ بِمَا فِيهَا مِنَ الْبُقُولِ، فَقَالَ: قَرِّبُوهَا إِلَى بَعْضِ أَصْحَابِهِ كَانَ مَعَهُ، فَلَمَّا رَآهُ كَرِهَ أَكْلَهَا، قَالَ: كُلْ فَإِنِّي أُنَاجِي مَنْ لَا تُنَاجِي"، قَالَ أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ بِبَدْرٍ: فَسَّرَهُ ابْنُ وَهْبٍ طَبَقٌ.

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی کريم ﷺ فرمائيلي دي: چاچه اوګه يا پياز خوړلي وي هغه دې مونږ ته نه رانزدې کيږي، ياداچه زمونږ مسجد ته دې نه راځي، ياداچه په کورکښې دې کيني، يوځل نبی کريم ﷺ ته يولوښي راوړې شوچه سبزي ساګ وغيره پکښې پراته وونو نبی عليه السلام دهغې نه څه بوې محسوس کړونوتپوس ئې وکړو بيا ورته ددې تفصيل بيان کړې شونبی عليه السلام اوفرمائيل دا فلانی صحابي ته ورنزدې کړئ نوهغه هم خوښ نکړل نونبی عليه السلام اوفرمائيل خوره زه دهغه ذات سره جرګه کوم دکوم سره چه تاسونه کوئ، احمد بن صالح وائي چه ابن وهب دبدر تشريح په لوښي سره کړې ده.

قوله: ﴿ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلاً فَلْيَعْتَزِلْنَا – أَوْ لِيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا – الخ﴾

د جابر رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه کوم سړي اوګه يا پياز خوړلي وي، يعنی کچه چه پخ شوې نه وي. نو هغه دې زمونږ مجلس ته نه راځي، يعنی د دې دواړو څيزونو د خوراک نه پس، او يا ئې دا اوفرمائيل چه زمونږ مسجد ته دې نه راځي او هغه له پکاردی چه په خپل کور کښې کيني. يعنی تر څو چه د هغې بدبوئی ختم شوې نه وی لکه چه په بل حديث کښې دی : ﴿ حتى يذهب منه ريحه ﴾.

وړاندې په دې روايت کښې دی چه يو کرت رسول الله ﷺ ته يو طبق راوړلې شو چه په هغې کښې مختلف قسم سبزيانې وې، په رسول الله ﷺ باندې چه کله د هغې بوئی اولګيدو نو هغوی تپوس اوکړو چه دا څه دی؟ چه کله هغوی ته اوئيلې شو چه په دې کښې مختلف

(١): صحيح مسلم/الأطعمة ٣٠(٢٠٥٢)، سنن النسائي/الأيمان ٢٠ (٣٨٢٧)، (تحفة الأشراف: ٢٣٣٨) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الأذان ١٦٠ (٨٥٤)، الأطعمة ٤٩ (ز٥٤٥)، الاعتصام ٢٤ (٧٣٥٩)، صحيح مسلم/المساجد ١٧ (٥٦٤)، (تحفة الأشراف: ٢٤٨٥)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأطعمة ١٣ (١٨٠٦)، سنن النسائي/المساجد ١٦ (٧٠٨)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٥٩ (٣٣٦٣)، مسند احمد (٣/٣٧٤، ٣٨٧، ٤٠٠) (صحيح)

سبزیاني دی نو هغوی بعضو حاضرینو ته اوفرمائیل چه دا فلانی صحابی ته اولیږئ کوم چه هغوی سره وو (خو هغه صحابی د هغې په خوراک کښې تامل اوکړو د رسول اللهﷺ د نه خوراک په وجه باندې) پس چه کله رسول اللهﷺ اولیدل چه هغه صحابی ددې خوراک نه خوښوی نو رسول اللهﷺ ورته اوفرمائیل ته ئې اوخوره. او رسول اللهﷺ خپله د نه خوراک وجه دا بیان اوفرمائیله: ﴿ فاني اناجي من لا تناجي ﴾ یعنی زما د نه خوراک وجه خو دا ده چه ما سره ملائک خبرې کوی او هغوی د لطافت د انتهاء د وجې نه ادنی بوئی هم نه برداشت کوی. په دې حدیث کښې د بعض اصحاب نه مراد ابوایوب انصاریؓ دې لکه چه د صحیح مسلم او ترمذی په روایت کښې په تفصیل سره راغلې دی د هجرت په ابتداء کښې چه دچا کور کښې حضورﷺ قیام اوفرمائیلو. (کذاقال الحافظ فی الفتح، وهکذافی البذل)

د صحابی حدیث لره روایت بالمعنی کول:

د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه ډیر کرته به صحابه کرامو د رسول اللهﷺ د کلام روایت بالمعنی هم کولو. په دې وجه د رسول اللهﷺ الفاظ دا خو نه شی کیدې: ﴿قربوا الی بعض اصحابه ﴾ ښکاره خبره ده چه رسول اللهﷺ به فرمائیلی وی چه ﴿ قربوها الی فلان ﴾ د هغه صحابی نوم اخستلو سره، خو دلته راوی په روایت کښې داسې نقل اوکړو ﴿ الی بعض اصحابه ﴾ دا تعبیر د راوی خپل دې. (افاده الکرمانی ونقله فی العون)

وړاندې په روایت کښې دی چه راوی د "بدر" تفسیر په "طبق" سره اوکړو په ظاهر کښې طبق لره د بدر سره په استدارة کښې تشبیه ورکولو سره بدر وئیلې شی، په حاشیه د بذل کښې حضرت شیخ یو بله خبره لیکلې ده هغه دا چه ﴿ فلیعتزل مسجدنا ﴾ دا مستقل حدیث دې دا واقعه په غزوه خیبر کښې پیښه شوې وه. او د حدیث په جزء ثانی کښې یعنی ﴿ وانه اتی ببدر فیه خضرات ﴾ الی اخره... دا د هجرت د ابتداء واقعه ده چه کله رسول اللهﷺ د ابوایوب انصاریؓ په کور کښې دیره وو.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری....

[٣٨٢٣](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، أَنَّ بَكْرَ بْنَ سَوَادَةَ حَدَّثَهُ، أَنَّ أَبَا النَّجِيبِ مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعْدٍ حَدَّثَهُ، أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ حَدَّثَهُ، أَنَّهُ ذُكِرَ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الثُّومُ وَالْبَصَلُ، وَقِيلَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَأَشَدُّ ذَلِكَ كُلِّهِ الثُّومُ أَفَتُحَرِّمُهُ؟، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُوهُ، وَمَنْ أَكَلَهُ مِنْكُمْ فَلَا يَقْرَبْ هَذَا الْمَسْجِدَ حَتَّى يَذْهَبَ رِيحُهُ مِنْهُ".

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام په وړاندې یوځل د پیازو او اوږې تذکره اوکړې شوه، عرض اوکړې شو چه اې د الله رسوله په دې ټولو کښې داوږې بوی ډیرتیزوی ایا حراموې ئې اِنبی اوفرمائیل خورئ ئې لیکن چاچه وخوړله نوچه ترڅوئې بوی ختم شوې نه وې مسجدته دې نه راځی.

د دې نه پس په حدیث د ابوسعیدؓ کښې دی ﴿ قیل یا رسول اللهﷺ واشد ذلک کله

١): (تحفة الأشراف: ٤٤٣٨)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/المساجد ١٧ (٥٦٦)، مسند احمد (٤/٢٥٢) (صحیح)

الثوم اتحرمه؟ ﴾ په دې باندې په حاشيه د بذل کښې ليکلې دی قال النووی : اختلف اصحابنا هل کانت هذه الاشياء محرمة عليهﷺ، الاصح من انه مکروه تنزيها اهـ ﴾ او علامه عينیؒ فرمائی چه د ابن حزم نه علاوه د بعض اهل ظاهر په نزد دا څيزونه حرام دی ﴿ لافضائها الی ترک الجماعة وهی عندهم فرض الخ ﴾

د جماعت د مانځه په نه فرض کيدو باندې استدلال :

او په فتح الباری ص ۳۹۹ج ۲ کښې دلته داسې ليکلې دی چه د احاديث الباب نه په دې خبره استدلال کړې شوې دې چه د جماعت مونځ فرض عين نه دې ځکه چه د دې څيزونو خوراک جائز دې او د دې د لوازمو نه ترک د جماعت دې او د جائز لازم جائز وی.

[۳۸۲۴]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ أَظُنُّهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ تَفَلَ تُجَاهَ الْقِبْلَةِ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَفْلُهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ، وَمَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الْبَقْلَةِ الْخَبِيثَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا ثَلَاثًا".

زر بن حبيش دحذيفه نه روايت کوی فرمائی چه زما خيال دې چه حذيفه دا روايت دنبی ﷺ نه بيان کړې وو چه فرمائيلې ئې وو:څوك چه قبلې ته مخامخ لاړې (توکاڼړې توکړې نودقيامت په ورځ به په داسې حال کښې راشي چه دده دغه لاړې به دده دواړه سترګوپه مينځ پورې انختلې وي، اوڅوك چه دا بدبوداره سبزي (يعنی اومه اوږه) اوخوري نو زمونږ مسجدته دې نه راځی، نبی ﷺ داجمله دری ځله تکرارکړه.

قوله:﴿ عَنْ حُذَيْفَةَ أَظُنُّهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ تَفَلَ تِجَاهَ الْقِبْلَةِ .....الخ﴾ کوم سړې چه د قبلې طرف ته تهوکی نو هغه سړې به راشی د قيامت په ورځ باندې چه هغه لاړې به د هغه د دواړو سترګو ترمينځه يعنی په تندی باندې وی، او رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه کوم سړې دا خبيثه سبزی اوخوری نو زمونږ مسجد ته دې نزدې نه راځی مراد ترې نه مساجد المسلمين دی چه په هغې کښې ټول مسجدونه شامل شو لکه چه په بل روايت کښې دی: ﴿ فلا يقربن المساجد ﴾ او د ﴿ ثلا ثا ﴾ مطلب دا دې چه رسول اللهﷺ دا خبره درې کرته اوفرمائيله او په فتح الباری کښې نقل کړې دی چه محدث ابن خزيمه په دې حديث باندې دا باب تړلې دې : ﴿ توقيف النهی عن اتيان الجماعة لآکلی الثوم ﴾ چه د هغې تقاضا دا ده چه هغوی د ﴿ ثلاثا ﴾ معنی ﴿ ثلاث ليال ﴾ اخستلې ده. خو دا صحيح نه ده بلکه ظاهره دا ده چه د ثلاثا تعلق د قول سره دې ﴿ ای قال ذلک ثلاثا ﴾ ځکه چه علت د منع وجود د رائحه دې او ښکاره خبره ده چه د دې سبزيانو بوئی تر درې ورځو پورې باقی نه وی، او په بذل کښې د حضرت ګنګوهیؒ د تقرير نه نقل کړې دی چه د دې حديث نه معلومه شوه چه د خبيث اطلاق هميشه په حرام او نجس باندې نه کيږی بلکه د دې اطلاق کله په غير نظيف او مکروه طبعی باندې هم کيږی، ﴿ وبذلک ينحل کثير من الاشکالات کقوله : ثمن الکلب خبيث وکسب الحجام خبيث﴾ حديث حذيفهؓ اخرجه ابن خزيمه کما تقدم عن الفتح قريباً.

():تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۳۲٦) (صحيح)

[٣٨٢٥]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ الْمَسَاجِدَ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی څوك چه دا بدبوداره سبزي (يعنى اومه اوره) اوخوري نو زمونږ مسجد ته دي نه راځي.

[٣٨٢٦]()بُرْدَةَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ: "أَكَلْتُ ثُومًا، فَأَتَيْتُ مُصَلَّى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ سُبِقْتُ بِرَكْعَةٍ، فَلَمَّا دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ وَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِيحَ الثُّومِ، فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ، قَالَ: مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّا حَتَّى يَذْهَبَ رِيحُهَا أَوْ رِيحُهُ، فَلَمَّا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ جِئْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَاللَّهِ لَتُعْطِيَنِّي يَدَكَ، قَالَ: فَأَدْخَلْتُ يَدَهُ فِي كُمِّ قَمِيصِي إِلَى صَدْرِي، فَإِذَا أَنَا مَعْصُوبُ الصَّدْرِ، قَالَ: إِنَّ لَكَ عُذْرًا".

دمغيره بن شعبة رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه ما اوره خوړلي وه اودنبي عليه السلام دمونځ ځائې ته ورغلم او يورکعت رانه فوت شوي وو، هرکله چه مسجدته داخل شوم اونبي عليه السلام بوي محسوس کړو، نوچه کله ئې مونځ پوره کړونو اوئې فرمائيل څوك چه ددې بوټي نه اوخوري نوهغه دي زمونږ خواته نه راځي ترڅوچه ددې بوي ورنه ختم شوي نه وي، نوچه کله مې خپل مونځ پوره کړونونبي عليه السلام ته ورغلم اوعرض مې وکړوچه اې دالله رسوله ستادي په الله قسم وي ماته به خپل لاس.. خامخاراکوي مغيره وائي چه مادنبي عليه السلام لاس مبارك په خپل نستونړي کښې دننه کړواوپه خپله سينه مې کرخودرنوزما زړه بندشوي وو، نبي عليه السلام اوفرمائيل ته معذورئې.

شرح الحديث:

قوله: ﴿عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ أَكَلْتُ ثُومًا فَأَتَيْتُ مُصَلَّى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- وَقَدْ سُبِقْتُ بِرَكْعَةٍ الخ﴾ مغيره بن شعبه رضي الله عنه فرمائي چه زه يو ورځ د اوګې د خوړلو نه پس مسجد ته راغلم هغه وخت مونځ کيدلو. زه د يو رکعت نه مسبوق شوې اوم، په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې د اوږې بوئي اولګيدو چه کله هغوی د مانځه نه فارغ شو نو وې فرمائيل چه څوک په تاسو کښې دا سبزي اوخوری نو مونږ ته دې نه رانزدې کيږی تر څو چه ترې بوئی زائل شوې نه وی، ما چه کله خپل مونځ پوره کړو نو د هغوی په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې اوکړو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم والله تاسو ماته خپل لاس مبارك راکړئ، پس ما د هغوی لاس مبارك په لستونړی کښې خپلې سينې ته يوړو ﴿ فَإِذَا أَنَا مَعْصُوبُ الصَّدْرِ قَالَ « إِنَّ لَكَ عُذْرًا » ﴾ يعنی تاسو اوکتل چه زما سينه تړلې شوې ده په څه پټئ وغيره سره، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل بيشکه ستا دپاره عذر دې.

د حضرت ګنګوهی په تقرير کښې دی چه هغوی په سينه باندې څۀ پټئ يا کپړه وغيره تړلې وه د سينې د تکليف د وجې نه چه د هغې په ليدلو باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل بيشکه

[1]): صحيح البخاري/الأذان ١٦٠ (٨٥٣)، صحيح مسلم/المساجد ١٧ (٥٦١)، (تحفة الأشراف: ٨١٤٣)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٥٨ (١٠١٦)، مسند احمد (٢٠/٢)، سنن الدارمي/الأطعمة ٢١ (٢٠٩٧) (صحيح)

[2]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٥٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٤٩/٤، ٢٥٢) (صحيح)

ستاد پاره عذر دې...... یعنی د اوږې خوراک معقول دې تا د علاج په طور خوړلې ده. بس رسول الله ﷺ دومره اوفرمائیل او د هغوی مقصد دې دا اونه ګڼړلې شی چه که څوک د عذر د وجې نه اوږه اوخوری نو د هغه دپاره مسجد ته راتلل جائز دی، هغه نهی په خپل ځائې باندې قائم ده، او د حضرت په تقریر کښې دا هم دی چه بعض شارحینو چه دا وئیلې دی چه د سینې ترل د لوږې د غلبې د وجې نه وو نو دا خبره په فهم کښې نه راځی، ځکه چه په دې صورت کښې خو مناسب دا وه چه خیټه تړلې شوې وه نه سینه.

د دې نه پس په حدیث د معاویه بن قرة عن ابیه کښې دی : ﴿ فَأَمِيتُوهُمَا طَبْخًا ﴾ چه که یو سړې ثوم او بصل خوری نو هغه له پکار دی چه د هغې بوئی ختم کړی او بیا ئې اوخوری، یعنی په تیلو وغیره کښې دې پاخه کړی، پس د باب په آخری حدیث کښې راځی د عائشې ﷺ نه چا د پیازو په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه آخری خوراک کوم چه رسول الله ﷺ خوړلې دې

[٣٨٢٧](١)حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَيْسَرَةَ يَعْنِي الْعَطَّارَ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ، وَقَالَ: "مَنْ أَكَلَهُمَا فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا، وَقَالَ: إِنْ كُنْتُمْ لَا بُدَّ آكِلِيهِمَا، فَأَمِيتُوهُمَا طَبْخًا"، قَالَ: يَعْنِي الْبَصَلَ وَالثُّومَ.

معاویه بن قره دخپل پلارنه روایت کوی چه نبی ﷺ ددې دوه بوټودخوړلونه منع فرمائیلې ده، اودائې فرمائیلی دی څوك چه داوخوري نو مسجدته دې نه راځی اوبیا ئې اوفرمائیل که چرې ددې خوړلوته ستاسو ضرورت پیښ شي نوپه پخولوسره ددې بوفي ختم کړئ او بیا ئې خوري اوددې دوه بوټونه مراد پیاز او اوګه ده.

[٣٨٢٨](٢)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا الْجَرَّاحُ أَبُو وَكِيعٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "نُهِيَ عَنْ أَكْلِ الثُّومِ إِلَّا مَطْبُوخًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: شَرِيكُ بْنُ حَنْبَلٍ.

د علی ﷺ نه روایت دې فرمائی چه داوګې دخوړلونه منع راغلې ده مګر کله چه پخه کړې شي، امام ابوداؤد وائی دشریك دپلارنوم حنبل وو.

[٣٨٢٩](٣)حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا. ح حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنْ بَحِيرٍ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي زِيَادٍ خِيَارِ بْنِ سَلَمَةَ، أَنَّهُ "سَأَلَ عَائِشَةَ عَنِ الْبَصَلِ؟ فَقَالَتْ: إِنَّ آخِرَ طَعَامٍ أَكَلَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامٌ فِيهِ بَصَلٌ".

د ابو زیاد خیار بن سلمه نه روایت دې فرمائی چه دام المومنین عائشة ﷺ نه مې د پیاز په باره - کښې تپوس اوکړو هغې اوفرمائیل دنبی ﷺ په اخرني خوراك کښې پاخه پیاز موجود وو.

حدیث عائشة ﷺ اخرجه النسائی، قاله المنذری

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٨٠)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري (٦٦٨١)، مسند احمد (١٩/٤) (صحيح)
(٢): سنن الترمذي/الأطعمة ١٤ (١٨٠٩)، (تحفة الأشراف: ١٠١٢٧) (صحيح)
(٣): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٦٠٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٩/٦) (ضعيف)

بَابٌ فِي التَّمْرِ

د کجورو خوړلو بیان

[٣٨٣٠](١)حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي يَحْيَى، عَنْ يَزِيدَ الْأَعْوَرِ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ كِسْرَةً مِنْ خُبْزِ شَعِيرٍ فَوَضَعَ عَلَيْهَا تَمْرَةً، وَقَالَ: هَذِهِ إِدَامُ هَذِهِ".

دیوسف بن عبدالله بن سلام نه روایت دې فرمائی چه ما نبی ﷺ اولیدو چه د وربشو د ډوډۍ یوه قطره ئې راخستلې وه او کجورې ئې ورباندې ایخودلې وې اوفرمائیل ئې داکجورې ددې ډوډۍ ترکارې ده.

قوله: ﴿ عَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- أَخَذَ كِسْرَةً مِنْ خُبْزِ شَعِيرٍ فَوَضَعَ عَلَيْهَا تَمْرَةً وَقَالَ « هَذِهِ إِدَامُ هَذِهِ » ﴾

دا حدیث په کتاب الایمان والنذور ﴿ باب الرجل يحلف ان لا ياتدم ﴾ کښې تیر شوې دې. د دې حدیث نه دا هم معلومیږی چه د یوسف بن عبدالله بن سلام رضی الله عنهما دپاره صحبت ثابت دې. د امام بخاری رحمه الله رائې خو هم دا ده، خو ابوحاتم رازی دا فرمائی چه د هغوی دپاره صحبت نه صرف رؤیت ثابت دې. والحديث اخرجه الترمذی، قاله المنذری.

[٣٨٣١](٢)حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ عُتْبَةَ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، حَدَّثَنِي هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَيْتٌ لَا تَمْرَ فِيهِ جِيَاعٌ أَهْلُهُ".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی په کوم کور کښې چه کجورې نه وې نوددغه کور اوسیدونکې اوږې دی.

قوله: ﴿عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم- « بَيْتٌ لاَ تَمْرَ فِيهِ جِيَاعٌ أَهْلُهُ ﴾

په کوم کور کښې چه کهجورې نه وی نو د هغه کور خلق اوږی دی. په بذل المجهود کښې دی چه د رسول الله ﷺ دا فرمان د مدینې په شان ښهرونو اعتبار سره دې چرته چه کهجورې ډیرې زیاتې وی او هغه بالاستقلال خوړلې هم شی، د هر ښهر په اعتبار سره نه دې، او په کوکب دری کښې دا دی چه مقصد دا دې چه په کوم کور کښې کهجوره وی او بو څیز د خوراک یعنی غله وغیره پکښې نه وی نو دا د کور خلق اوږی نه دی، یعنی د حدیث لازمی معنی مراد ده او دا مطلب نه دې چه په کور کښې هر قسم څیزونه شته او په هغې کښې صرف کهجورې نه وی نو د هغه کور خلق اوږی دی.

دا دواړه فائدې جدا جدا دی، په دې کښې خپل مینځ کښې هیڅ تدافع نشته، د کوکب والا خبره هم د مدینې طیبې په شان ښهرونو په اعتبار سره ده چه که په هغه کور کښې صرف کهجور وی نو هغه سړې دې ځان غریب او اوږې نه ګڼړی بلکه د الله پاک شکر

(١): انظر حديث رقم: (٣٢٥٩)، (تحفة الأشراف: ١١٨٥٤) (ضعيف)

(٢): صحيح مسلم/الأشربة ٢٦ (٢٠٤٦)، سنن الترمذي/الأطعمة ١٧ (١٨١٥)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٣٨ (٣٣٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٩٤٢)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الأطعمة ٢٦ (٢١٠٥) (صحيح)

ورله ادا کول پکار دی، چه هر کله په کور کښې کجهورې شته نو هرڅه شته. والحديث اخرجه مسلم والترمذی وابن ماجه، قاله المنذری.

بَاب فِي تَفْتِيشِ التَّمْرِ الْمُسَوَّسِ عِنْدَ الأَكْلِ

د کجورو خوړلو په وخت ددې د پاکولو بيان

او په بعض نسخو کښې د التمر صفت هم ذکر شوې دې ﴿ التمر المسوس ﴾ يعنی هغه کهجورې چه په هغې کښې چينجي پيدا شی په حديث الباب کښې دی، انس رضي الله عنه فرمائی چه يو کرت رسول الله ﷺ ته زړې کهجورې راوړلې شوې نو رسول الله ﷺ به د هغې د خوراک نه مخکښې د هغې چينجی لټولو سره راويستل.

[٣٨٣٢] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ جَبَلَةَ، حَدَّثَنَا سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ أَبُو قُتَيْبَةَ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ عَتِيقٍ، فَجَعَلَ يُفَتِّشُهُ يُخْرِجُ السُّوسَ مِنْهُ".

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم ﷺ ته زړې کجورې راوړې شوې نبی عليه السلام ورته په غور سره کتل اوچيني به به ورنه غورځول.

د دې حديث نه معلومه شوه که په زړو کهجورو کښې سُرسُری وغيره راشی نو هغه ضائع کول نه دی پکار بلکه خوړل ئې پکار دی خو ورسره دا هم دی چه د هغې چينجې لټولو سره غورځول پکار دی، سره د هغې دې او نه خوړلې شی د هغې وجه دا ده چه چينجې د خبائثو نه دی، وقال تعالی ﴿ ويحرم عليهم الخبائث ﴾ (٢)

د دوه متعارض احاديثو جواب:

خو د طبرانی په يو روايت کښې مرفوعا راغلی: ﴿ نهی ان يفتش التمر عما فيه ﴾ د دې حديث محمل د تازه کهجورو دې چه په هغې کښې دې فضول لټون اونکړې شی، په دې سره مقصود دفعه د وسوسې ده (او په ړومبی سره مقصود دفع د سوس ده) او په حاشيه د بذل کښې دعلامه دميری نه د حياة الحيوان په ٣٣/٢ کښې په دې مسئله باندې مختلف اقوال او مذاهب جمع کړې شوې دی فارجع لو شئت.... والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری

[٣٨٣٣] (٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتَى بِالتَّمْرِ فِيهِ دُودٌ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

داسحق بن عبدالله بن ابی طلحه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام ته به چينجنې کجورې پيش کولې شوې اوباقی حديث ئې دتيرشوې په شان بيان کړو.

(١): سنن ابن ماجه/الأطعمة ٤٢ (٣٣٣٣)، (تحفة الأشراف: ٢١٥) (صحيح)

(٢) وفي هامش البذل: ويشكل عليه ما في تفسير البقرة من تفسير العزيزي انه يجوز اكل الديدان في التمر تبعا ولا يجوز بعد الخروج اصالة ١هـ او په بذل کښې حضرت ليکلې دی چه که په کهجوره کښې ظن غالب وی چه په د بکښې چينجې دې نو بيا خو بغير د تفتيش نه د هغې خوړل جائز نه دی او د عدم غلبه ظن په صورت کښې چه صرف وهم وی د تفتيش حاجت نشته)

(٣): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٢١٥) (صحيح)

بَابُ الْإِقْرَانِ فِي التَّمْرِ عِنْدَ الْأَكْلِ

دوه دوه او درې درې کجورې په یو ځائ خوړل

[٣٨٣٤]()حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ جَبَلَةَ بْنِ سُحَيْمٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْإِقْرَانِ، إِلَّا أَنْ تَسْتَأْذِنَ أَصْحَابَكَ".

ابن عمرونه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ د دوه دوه کجورو په یوځائې خوړلونه منع فرمائیلې ده مګر کله چه دخپل ملګرې نه اجازت واخلئ.

﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– عَنِ الْإِقْرَانِ إِلاَّ أَنْ تَسْتَأْذِنَ أَصْحَابَكَ ﴾ یعنی چه کله څو ملګری په یو ځائې باندې ناست کهجورې خوری نو ادب دا دې چه یو کهجوره دې اوچتولو سره اوخوړلې شی یو سرې دې په یو ځائې دوه نه خوری، مګر دا چه د خپلو ملګرو نه اجازت واخلی.

شارحینو لیکلې دی چه په ملګرو کښې د یو کس دوه دوه اوچتول دا د حرص او بې صبرئ عادت دې او د کونکی په حق کښې معیوب څیز دې وغیره وغیره مصالح، که صرف ذکر کړې شوې مصلحت مخې ته کیخودلې شی نو وئیلې شی چه د استیذان قید په اصل کښې د دې حرکت د منع کولو دپاره دې، ځکه چه په استیذان کښې خپله د بد خصلت ښکاره کول دی چه سړې ئې چرته خوښوی. په دې حدیث باندې شارحینو ډیر څه لیکلې دی خو مونږ هغې ته حاجت او نه ګڼړلو.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْجَمْعِ بَيْنَ لَوْنَيْنِ فِي الْأَكْلِ

په یو ځائ دوه قسمه خوراکونه خوړل

داسې ترجمه اوس نزدې تیره هم شوه، خو د مخکښې تعلق د ترکارو د قسمونو سره وو او د دې باب تعلق د فواکه سره دې.

[٣٨٣٥]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَأْكُلُ الْقِثَّاءَ بِالرُّطَبِ".

د عبد الله بن جعفر نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ به ترې د کجورو سره خوړلې.

﴿ كَانَ يَأْكُلُ الْقِثَّاءَ بِالرُّطَبِ ﴾ چه رسول الله ﷺ به د رطب سره ختکې یو ځائې خوړلو. او د دې نه روستنو روایت کښې دی ﴿ يَأْكُلُ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ فَيَقُولُ « يَكْسِرُ حَرَّ هَذَا بِبَرْدِ هَذَا وَبَرْدَ هَذَا بِحَرِّ هَذَا » ﴾

[1]): صحيح البخاري/الشركة ٤ (٢٤٩٠)، صحيح مسلم/الأشربة ٢٥ (٢٠٤٥)، سنن الترمذي/الأطعمة ١٦ (١٨١٤)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٤١ (٣٣٣١)، (تحفة الأشراف: ٦٦٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧/٢، ٤٤، ٤٦، ٦٠، ٧٤، ٨١، ١٠٣، ١٣١)، سنن الدارمي/الأطعمة ٢٥ (٢١٠٣) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/الأطعمة ٣٩ (٥٤٤٠)، صحيح مسلم/الأشربة ٢٣ (٢٠٤٣)، سنن الترمذي/الأطعمة ٣٧ (١٨٤٤)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٣٧ (٣٣٢٥)، (تحفة الأشراف: ٥٢١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٠٣/١)، سنن الدارمي/الأطعمة ٢٤ (٢١٠٢) (صحيح)

[٣٨٣٦]( )حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ نُصَيْرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَأْكُلُ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ، فَيَقُولُ: نَكْسِرُ حَرَّ هَذَا بِبَرْدِ هَذَا وَبَرْدَ هَذَا بِحَرِّ هَذَا".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه رسول الله به هندوانه دكجوروسره خوړله اوفرمائيل به ئې چه ددې خوالې دكجوروپه گرموالې سره اودكجورو گرموالې ددې په يخوالې باندې ماتوو.

شرح الحديث:

د شارحينو په دې كښې اختلاف دې چه د بطيخ نه څه مراد دې؟آيا بطيخ اخضر يعنې تربوز [هندوانه]، يا بطيخ اصفر يعنې خربوزه، كه احضر مراد وى لكه چه هم دا مشهوره ده نو بيا خو هيڅ اشكال نشته، او كه د دې نه مراد خربوزه ده نو بيا به دا اشكال وى چه ﴿ يكسر هذا ببرد هذا ﴾ څنګه دې، ځكه چه خربوزه هم حار (بتشديد الراء) وى، بيا د دې مختلف توجيهات كړې شوې دى د حضرت گنگوهى په تقرير كښې دى چه د برودت نه مراد برودت حسى دې يعنې په لاس لګولو كښې يخ، كه خربوزه د پرې كولو نه پس لږ ساعت پرانستلې پريخودلې شى نو هغه يخه شى، او بعض شارحينو لكه صاحب د مجمع البحار او شارحينو د شمائل دا توجيه كړې ده چه د دې نه كچه خربوزه مراد ده هغه په خاصيت كښې يخه وى، خو د پخيدو نه پس ئې خاصيت بدل شى او گرمه شى (لكه چه د آم په باره كښې مشهوره ده چه هغه شين خو يخ وى او د پخيدو نه پس گرم) او د حافظ رائې دا ده چه برودت د امور اضافيه نه دې، د بطيخ برودت د رطب په اعتبار سره دې ځكه چه رطب شديد الحرارة دې. د دې نه پس حضرت شيخ ليكى چه دا ټول اشكالات او جوابات د معروف قول مطابق دې كينې صاحب د محيط اعظم د شيخ بو علي سينا نه نقل كړې دې چه خربوزه هم يخه وى. اهـ (من هامش البذل) او د شمائل په روايت كښې دى ﴿ كان يجمع بين الخربز والرطب ﴾ خربز خو اصفر يعنې خربوزې ته وائى، او دلته په مدينه طيبه كښې د اخضر او اصفر دواړو پيدوار كيږى.

حديث عبدالله بن جعفر رضي الله عنهما اخرجه البخارى ومسلم والترمذى وابن ماجه، وحديث عائشة رضي الله عنها اخرجه الترمذى والنسائى، مختصرا، وقال الترمذى حسن غريب وذكر انه روى مرسلا وذكره النسائى ايضا مرسلا، قاله المنذرى.

او د باب په آخرى حديث كښې دى ﴿ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَدَّمْنَا زُبْدًا وَتَمْرًا وَكَانَ يُحِبُّ الزُّبْدَ وَالتَّمْرَ ﴾ چه رسول الله ﷺ مونږ ته تشريف راوړلو نو مونږ د هغوى مخې ته كچ او كهجورې پيش كړې كومې چه د هغوى خوښې وې.

[٣٨٣٧]( )حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْوَزِيرِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مَزْيَدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ جَابِرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي سُلَيْمُ بْنُ عَامِرٍ، عَنِ ابْنَيْ بُسْرٍ السُّلَمِيَّيْنِ، قَالَا: "دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَدَّمْنَا زُبْدًا وَتَمْرًا، وَكَانَ يُحِبُّ الزُّبْدَ وَالتَّمْرَ".

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٨٥٣)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأطعمة ٣٦ (١٨٤٣) (حسن)
[2]: سنن ابن ماجه/الأطعمة ٤٣ (٣٣٣٤)، (تحفة الأشراف: ٥١٩٢) (صحيح)

د بسر د دوه ځامنونه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ زمونږ خواته تشريف راوړو مونږ ورته کوچ اوکجورې پيش کړې اونبي ﷺ به کرچ اوکجورې ډيرې خوښولې.

والحديث اخرجه ابن ماجه، وذكر عن محمد بن عوف انهما (ابني بسر) عبد الله وعطية رضي الله عنهما، قاله المنذري.

باب الأكل في آنية أهل الكتاب

داهل کتابو په لوښو کښې د خوراک کولو بيان

[٣٨٣٨] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، وَإِسْمَاعِيلُ، عَنْ بُرْدِ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنُصِيبُ مِنْ آنِيَةِ الْمُشْرِكِينَ وَأَسْقِيَتِهِمْ فَنَسْتَمْتِعُ بِهَا، فَلَا يَعِيبُ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ".

ترجمه: دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مونږ دنبي ﷺ په ملګرتيا کښې جهاد ته تلي وو او مونږ ته داهل کتابو لوښي ملاو شول او مونږ به د هغې نه فائده اخستله اونبي ﷺ به بدنه ګڼړل.

تشريح: د باب په ړومبی حديث کښې دی : سيدنا جابر رضي الله عنه فرمائي چه مونږ به د رسول الله ﷺ سره په غزواتو کښې شريکيدلو چه په هغې کښې به مونږ ته د مشرکينو لوښي او مشکونه حاصليدل په مال غنيمت کښ، نو مونږ به هغه استعمالولو سره د هغې نه فائده اوچتوله، په استعمالونکو باندې به چا هيڅ عيب نه لګولو يعنی انکار به پرې نه کيدلو.

امام خطابي رحمه الله فرمائي چه دا اباحت د مشرکينو د لوښو په دې شرط سره مقيد دې کوم چه د دې نه روستو حديث کښې دې او د راتلونکی حديث مضمون دا دې: ابو ثعلبه الخشني رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه مونږ خلق په سفر کښې د اهل کتابو په آبادو باندې تيريږو چه په خپلو کټوو کښې خنزير پخوی او په خپلو لوښو کښې شراب څکي. رسول الله ﷺ اوفرمائيل که د دغې لوښو نه علاوه تاسو نور بيا مومئ نو په هغې کښې خوراک څکاک کوئ، او که د هغې نه علاوه نور لوښی نه وی نو بيا د مشرکينو لوښی وينځئ او هغه استعمالوئ.

[٣٨٣٩] (٢) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْعَلَاءِ بْنِ زَبْرٍ، عَنْ أَبِي عُبَيْدِ اللَّهِ مُسْلِمِ بْنِ مِشْكَمٍ، عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ، أَنَّهُ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّا نُجَاوِرُ أَهْلَ الْكِتَابِ، وَهُمْ يَطْبُخُونَ فِي قُدُورِهِمُ الْخِنْزِيرَ، وَيَشْرَبُونَ فِي آنِيَتِهِمُ الْخَمْرَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنْ وَجَدْتُمْ غَيْرَهَا فَكُلُوا فِيهَا وَاشْرَبُوا، وَإِنْ لَمْ تَجِدُوا غَيْرَهَا فَارْحَضُوهَا بِالْمَاءِ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا".

دابو ثعلبه الخشني نه روايت دې فرمائي چه دنبي ﷺ نه مې تپوس اوکړو اوعرض مې وکړو چه مونږ په اهل کتابو تيريږو اوهغوی پخپلو ديګونو کښې خنزيران پخوي او پخپلو لوښو کښې شراب څي، رسول الله اوفرمائيل که چرې ددوی دلوښونه علاوه نور لوښي مونډلې شئ نو خوراک څښاک په کښې وکړئ اوکه چرې ددينه علاوه نور لوښي نه

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٤٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٢٧، ٣٤٣، ٣٧٩، ٣٨٩) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٨٧٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصيد ٤ (٥٤٧٨)، ١٠ (٥٤٨٨)، ١٤ (٥٤٩٦)، صحيح مسلم/الصيد ١ (١٩٣٠)، سنن الترمذي/الصيد ١ (١٤٦٤)، سنن ابن ماجه/الصيد ٣ (٣٢٠٧) (صحيح)

شئ موندلې نو په اوبوئي ووينځئ او بيا په کښې خوراك او څښاك وکړئ.
په بذل کښې دی ﴿ ای اذا غلب الظن بنجاستها ﴾ يعنی د وينځلو حکم د نجاست د غلبه ظن په وخت دې، امام خطابی رحمه الله فرمائی : ﴿ فاما مياههم وثيابهم فانها علی الطهارة کمياه المسلمين وثيابهم ﴾ يعنی د مشرکينو اوبه او جامې د مسلمانانو د اوبو او جامو په شان پاکې دی. مګر دا چه هغه مشرکين داسې خلق وی چه د هغوی په باره کښې معلومه وی چه هغوی د نجاستونو نه پرهيز نه کوی يا د هغوی عادت د بولو وغيره د استعمال وی (لکه چه بعض مشرکين کوی) نو په داسې صورت کښې به د هغوی جامې استعمالول جائز نه وی بغير د پاکولو نه مګر دا چه يقينی طور معلومه شی چه په دې کښې نجاست نشته.
والحديث اخرجه البخاری ومسلم فی صحيحيهما، مطولا واخرجه ايضا الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری (بتغير)

بَابٌ فِي دَوَابِّ الْبَحْرِ
د سمندر د ځناورو بيان

[٣٨٤٠]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَّرَ عَلَيْنَا أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ نَتَلَقَّى عِيرًا لِقُرَيْشٍ، وَزَوَّدَنَا جِرَابًا مِنْ تَمْرٍ لَمْ نَجِدْ لَهُ غَيْرَهُ، فَكَانَ أَبُو عُبَيْدَةَ يُعْطِينَا تَمْرَةً تَمْرَةً كُنَّا نَمُصُّهَا كَمَا يَمُصُّ الصَّبِيُّ، ثُمَّ نَشْرَبُ عَلَيْهَا مِنَ الْمَاءِ، فَتَكْفِينَا يَوْمَنَا إِلَى اللَّيْلِ، وَكُنَّا نَضْرِبُ بِعِصِيِّنَا الْخَبَطَ، ثُمَّ نَبُلُّهُ بِالْمَاءِ، فَنَأْكُلُهُ، وَانْطَلَقْنَا عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ، فَرُفِعَ لَنَا كَهَيْئَةِ الْكَثِيبِ الضَّخْمِ، فَأَتَيْنَاهُ فَإِذَا هُوَ دَابَّةٌ تُدْعَى الْعَنْبَرَ، فَقَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ: مَيْتَةٌ وَلَا تَحِلُّ لَنَا، ثُمَّ قَالَ: لَا، بَلْ نَحْنُ رُسُلُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَقَدِ اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ فَكُلُوا، فَأَقَمْنَا عَلَيْهِ شَهْرًا، وَنَحْنُ ثَلَاثُ مِائَةٍ حَتَّى سَمِنَّا، فَلَمَّا قَدِمْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ: هُوَ رِزْقٌ أَخْرَجَهُ اللَّهُ لَكُمْ، فَهَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ فَتُطْعِمُونَا مِنْهُ؟ فَأَرْسَلْنَا مِنْهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه مونږ نبی عليه السلام د ابوعبيده : په مشرئ کښې دقريشو ديوي قافلي دنيولو دپاره اوليږلو اودلاري دخوراك دپاره ئي يوه بوجګئ کجورې هم راکړي اوددينه علاوه زمونږ سره نورهيڅ نه وو، ابوعبيده به مونږ ته ددې کجورونه يوه يوه دانه راکوله مونږ به دا يوه کجوره داسې چوپله لکه ديوماشوم دچوپلوپه شان اوددينه پس به مونږ اوبه څکلی دغه يوه کجوره او اوبه به زمونږ دټولې ورځې دپاره کافي وي مونږ به پخپلو لختربانديې دونونه پانړي راځنډلي او په اوبو کښې به مو خوشتولي اوبيابه موخوړلي تردې چه مونږ دسمندرکنارې ته اورسيدو مونږته دلرې نه دشړويوه ډيرګئ ښکاره شوه کله چه ورته مونږ ورنزدې شونوهغه يوځناوروو اونوم ئي عنبر وو (دايوداسې معې دې چه دخرمني نه ئي دال جوړيږي) ابوعبيده اووئيل داخو مردارشوې دې اوزمونږ دپاره حلال نه دې بيا ئي اووئيل نه، مونږ دنبی عليه السلام استاذې يو اودالله په لاره کښې وتلې يو اوسخت مجبوره شوې يوخورئ يې، دجابر بيان دې چه مونږ هلته يوه مياشت تيره کړه او مونږ درې سوه کسان وو همدابه موخورله تردې چه مونږ څاربه شو کله چه مونږه دنبی

[1]): صحيح مسلم/الصيد ٤ (١٩٣٥)، (تحفة الأشراف: ٢٧٢٤، ٥٠٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣١١، ٣٧٨) (صحيح)

عليه السلام په خدمت کښې واپس حاضرشو نوموني نبي عليه السلام ته ددې ذکر اوکړو نبي کريم اوفرمائيل دغه ستاسورزق وو کوم چه الله تعالى ستاسو دپاره راليږلې وو ايا اوس ستاسو سره دهغه څه غوښه باقي شته چه په مائې وخوروئ مونږه دهغه مهي غوښه نبي عليه السلام ته پيش کړه او وبې خوړله.

قوله:﴿ عَنْ جَابِرٍ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَأَمَّرَ عَلَيْنَا أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ نَتَلَقَّى عِيرًا لِقُرَيْشٍ وَزَوَّدَنَا جِرَابًا مِنْ تَمْرٍ لَمْ نَجِدْ لَهُ غَيْرَهُ الخ ﴾

د غزوه سيف البحر تذکرة:

د دې سريه نوم کوم چه په دې حديث کښې ذکر ده سريه ابوعبيده رضي الله عنه دې ځکه چه هم هغه د دې سريه امير وو او دې ته غزوه سيف البحر هم وائي ځکه چه د هغوی دا سفر د سمندر په غاړه باندې وو، پس په صحيح البخاري کښې هم داسې دی ﴿ باب غزوة سيف البحر ﴾ او بيا ئې په هغې کښې دا روايت مطولا ذکر کړې دې.

سيدنا جابر رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ليږلې وو د قريش قافلې د کتلو دپاره کومه چه د شام نه راروانه وه، او د تلو په وخت رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته يو تهيلۍ د کهجورو راکړه مونږ سره د دې نه علاوه هيڅ توښه نه وه، پس زمونږ امير ابوعبيده رضي الله عنه به مونږ ته د سفر دوران کښې يوه کهجوره راکوله او هغه به مونږ داسې چوپله لکه څنګه چه ئې وړوکي ماشوم چوپي، او بيا به مو په هغې دپاسه اوبه څکلې پس دا يو کهجوره به زمونږ دپاره تر د شپې پورې کافي وه (دلته په روايت کښې اختصار دې لکه څنګه چه د بخاري د روايت نه معلوميږي، صرف په يو کهجوره باندې د اکتفاء کولو ضرورت روستو راغلې وو) او مونږ به په خپلو هسماګانو او ډنډو باندې د اونو پاڼې راځنډلې او بيا به مو هغه په اوبه کښې نرمولې او بيا به مو خوړلې. هغوی فرمائي چه مونږ د درياب په غاړه باندې روان وو پس د درياب په غاړه مونږ ته د کمر په شان يو لوئې وجود ښکاره شو. چه مونږ هغې ته نزدې راغلو نو هغه يو دريابي ځناور وو چه هغې ته عنبره وائي. دا عنبره د يو لوئې مهی قسم دې چه د هغې اوږدوالې پنځوس ذراعو ته رسيږي، بعض وائي چه دا کوم عنبر چه مشهور خوشبوئی ده، دا هم د دغه ځناور د خولې رجيع [جوئيلې لاړې] وی او د بخاري په يو روايت کښې دی ﴿ فاذا حوت مثل الظرب ﴾ بيا چه کله ورته مونږ نزدې راغلو نو معلومه شوه چه دا عنبره دې، نو ابوعبيده رضي الله عنه اوفرمائيل دا خو مرداره ده چه حلال نه ده بيا ئې اووې چه نه بلکه مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم راليږلې شوې يو او د الله پاک لاره کښې يو او د اضطرار کيفيت دې لهذا دا خورئ ﴿ فَأَقَمْنَا عَلَيْهِ شَهْرًا وَنَحْنُ ثَلَاثُمِائَةٍ حَتَّى سَمِنَّا ﴾ نو مونږ هلته تر يوې مياشتې پورې پاتې شو او حال دا چه زمونږ د درې سوو کسانو لښکر وو مونږ د هغې په خوراک باندې څاربۀ شو. د بخاري په يو روايت کښې دی ﴿ نصف شهر ﴾ او په يو روايت کښې ﴿ ثمان عشرة ليلة ﴾ دې، او د هغه په يو روايت کښې ﴿ شهرا ﴾ هم دې. حافظ ابن حجر رحمه الله ﴿ ثمان عشرة ليلة ﴾ والا روايت ته ترجيح ورکړې ده او نصف شهر او د شهر روايت ئې په الغاء د کسر او په جبر دکسر باندې محمول کړې دی. او د بخاري په روايت

کښې دا زیادت هم دې ﴿ ثم امر ابوعبيدة بضلعين من اضلاعه فنصبا ثم امر براحلة فرحلت ثم مرت تحتهما ﴾ چه د دې مهی دوه پښتئ اودرولې شوې او په يو اوښ باندې يو لوړ سړې سور د هغې نه لاندې تير کړې شو چه بغير د تکلف نه تير شو چه په دې سره د هغه پښتئ د اوږدوالی حال معلوم شو، حافظ دا هم ليکلې دی چه دا واقعه د رجب ٨ هجری ده او نقل ئې د ابن سعد نه کړې دې. د دې نه پس حافظ خپل تحقيق اوليکلو چه دا واقعه د شپږمې هجرئ ده يا دهغې نه مخکښې دصلح حديبيه نه هم مخکښې واقعه ده. کذاقال فی المغازی وکتب بعده فی کتاب الذبائح والصيد: باب احل لکم صيد البحر چه دا واقعه د دويمې هجرئ ده په کومه زمانه کښې چه غزوه بواط پيښه شوې وه او هغه په دويمه هجرئ کښې وه.

قوله:﴿ فَلَمَّا قَدِمْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ « هُوَ رِزْقٌ أَخْرَجَهُ اللَّهُ لَكُمْ ﴾ يعنی چه کله مونږ د دې سفر نه واپس کيدو سره د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو او د دې مهی ذکر مو هغوی ته اوکړو نو په دې اوريدو باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه دا د الله پاک د طرف نه ستاسو دپاره رزق وو، که تاسو سره د هغې غوښه باقی وی نو په مونږ باندې هم د هغې نه اوخروئ. پس مونږ رسول اللهﷺ ته د هغې غوښه اوليږله او هغوی اوخوړله.

د دې نه پس دا پيژندل پکار دی چه دا عنبره ميتة البحر ده، او په ميتة البحر کښې چه د ائمه کوم اختلاف دې هغه په کتاب الطهارة کښې د ﴿ هو الطهور ماؤه والحل ميتته ﴾ د لاندې تير شوې دې.

تنبيه: کتب الشيخ فی هامش البذل : ولا يذهب عليک ان لجابرؓ حديثا اخر فی هذا المعنی ونبه الزيلعی فی نصب الرايه ٤/٢٠٤ علی انهما قصتان اهـ قلت لم يرض به الحافظ فی الفتح ومال الی واحدة القصة وقال الاصل عدم التعدد، قال فی کتاب الذبائح والصيد فی باب قول الله تعالی ﴿احل لکم صيد البحر ﴾ فارجع اليه لو شئت التفصيل... والحديث اخرجه مسلم والنسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْفَأْرَةِ تَقَعُ فِي السَّمْنِ

باب مږه چه په غوړو کښې پريوځی نو ددې څه حکم دې؟

[٣٨٤١](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ مَيْمُونَةَ، أَنَّ فَأْرَةً وَقَعَتْ فِي سَمْنٍ، فَأُخْبِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَلْقُوا مَا حَوْلَهَا وَكُلُوا".

دام المومنين ميمونه ؓ نه روايت دې فرمائی چه يوځل يوه مږه په غوړو کښې پريوتله اونبی عليه السلام ته اطلاع ورکړې شوه نبی عليه السلام اوفرمائيل دمږې ګير چاپيره غوړې اوغورځوئ اوباقی خوړلې شئ.

قوله:﴿عَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّ فَأْرَةً وَقَعَتْ فِي سَمْنٍ فَأُخْبِرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ«أَلْقُوا مَا حَوْلَهَا وَكُلُوا﴾

(١): صحيح البخاري/الوضوء ٦٧ (٢٣٥)، والذبائح ٣٤ (٥٥٣٨)، سنن الترمذي/الأطعمة ٨ (١٧٩٨)، سنن النسائي/الفرع والعتيرة ٩ (٤٢٦٣)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٦٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالک/الاستئذان ٧ (٢٠)، مسند احمد (٦/٣٢٩، ٣٣٠، ٣٣٥)، سنن الدارمي/الطهارة ٦٠ (٧٦٥) (صحيح)

يعنی د رسول الله ﷺ نه د هغه غوړو په باره کښې تپوس اوکړې شو چه په هغې کښې مږه پريوتلو سره مږه شوې وی نو هغوی اوفرمائيل چه د غوړو هغه حصه کومه چه د مږې نه چاپيره وه هغه راوباسئ او وې غورځوئ او باقی اوخورئ.
دا غوړی جامد وو لکه چه د نسائی په روايت کښې دی او دا مسئله په هغه صورت کښې ده چه کله غوړی جامد وی پس د دې نه روستو روايت کښې راځی ﴿ فَإِنْ كَانَ جَامِدًا فَأَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا وَإِنْ كَانَ مَائِعًا فَلاَ تَقْرَبُوهُ ﴾

والحديث اخرجه البخاری والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

[٣٨٤٢](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَاللَّفْظُ لِلْحَسَنِ، قَالاَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا وَقَعَتِ الْفَأْرَةُ فِي السَّمْنِ فَإِنْ كَانَ جَامِدًا فَأَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا، وَإِنْ كَانَ مَائِعًا فَلاَ تَقْرَبُوهُ"، قَالَ الْحَسَنُ: قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: وَرُبَّمَا حَدَّثَ بِهِ مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ مَيْمُونَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی کله چه مږه په غوړو کښې پريوځي نوکه چرې جامد وي نو دا اوددې ګير چاپيره غوړي اوغورځوئ اوباقی غوړي پاك دي اوكه چرې غوړي اوبه وي نوبيا ورته مه ورنزدې کيږی اوحسن دعبدالرزاق نه نقل کړي دي چه داحديث به معمردزهري نه اوهغه به دعبدالله بن عبدالله اوهغه به دابن عباس نيمه نه اوهغه به ميموني نه اوهغې به دنبی عليه السلام نه نقل کولو.

[٣٨٤٣](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ بُوذَوَيْهِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ مَيْمُونَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ.

ترجمه: ميمونة رضی الله عنها دنبی کريم ﷺ نه دزهري وسعيد بن المسيب د حديث په شان حديث بيان کړي دي.

بَابٌ فِي الذُّبَابِ يَقَعُ فِي الطَّعَامِ

باب کله چه په ترکاری کښې مچ پريوځی نو څه حکم دی؟

[٣٨٤٤](٣)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا بِشْرٌ يَعْنِي ابْنَ الْمُفَضَّلِ، عَنِ ابْنِ عَجْلاَنَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَامْقُلُوهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ دَاءً وَفِي الآخَرِ شِفَاءً وَإِنَّهُ يَتَّقِي بِجَنَاحِهِ الَّذِي فِيهِ الدَّاءُ فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی کله چه مچ دچا په لوښي کښې پريوځي نوپکښې ئې غوپه کړئ يقيناً دده په يووزرکښې بيماري او په بل

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٣٠٣، ١٨٠٦٥) (شاذ)

(٢): تفرد به أبو داود، أي بهذا السياق، (تحفة الأشراف: ١٨٠٦٥) (شاذ)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٠٤٩)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/بدء الخلق ١٧ (٣٣٢٠)، الطب ٥٨ (٥٧٨٢)، سنن ابن ماجه/الطب ٣١ (٣٥٠٥)، سنن الدارمي/الأطعمة ١٢ (٢٠٨١) (صحيح)

کښې شفاده اودې هغه وزر مخکښې کوي په کوم کښې چه بيماري وي نو تاسوټول غوپه کړئ.

قوله: ﴿ إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَامْقُلُوهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ دَاءً وَفِي الآخَرِ شِفَاءً الخ﴾

رسول اللهﷺ فرمائی چه کله ستاسو نه د يو تن په خوراک کښې مچ اوغورځيږی نو هغه په ښه طريقه باندې ډوب کړئ او بيا ئې راوباسئ. ځکه چه د هغې په وزرو کښې په يو کښې بيماری وی او په بله کښې شفا، او د مچ عادت دا دې چه هغه د پريوتلو په وخت خپل ځان بچ کوی په هغه وزر باندې چه په هغې کښې بيماری ده پس پکار دی چه هغه پوره طريقې سره ډوب کړې شی چه هغه دويم وزر هم په کوم چه شفاء ده د هغې په يو ځائې کيدو باندې تلافی اوشی.

دا حديث چه په هغې کښې د طب يو مسئله ذکر ده د طب النبیﷺ د قبيل نه شو. کتاب الطب اوس نزدې راروان دې چه په هغې کښې د رسول اللهﷺ د طرف نه د ډيرو علاجونو او دوايانو بيان راروان دې.

حضرت شيخ نور الله مرقده د مازيګر نه پس کيدونکې مجلس کښې په کوم کښې چه به چائې هم ځکلې شوه چه په هغې کښې به کله کله مچ هم پريوتلو، يو کرت چه کله په دې موقع باندې حضرت جی انعام الحسن رحمه الله هم په دې مجلس کښې موجود وو، هغوی اوفرمائيل چه په فيض الباری کښې دشاه صاحب رائې دا ليکلې شوې ده چه هغه خوراک چه په هغې کښې مچ پريوځی که هغه ګرم وی نو هغه په دې حکم کښې داخل نه دې ﴿ فان الغمس حينئذ لا يزيده الا شرا ﴾ په دې باندې شيخ رحمه الله اوفرمائيل چه په حديث کښې خو مطلقا راغلی دی. والحديث اخرجه البخاری وابن ماجه بنحوه من حديث عبيد بن حنين عن ابی هريرة رضی الله عنه واخرجه النسائی وابن ماجه من حديث ابی سعيد الخدری رضی الله عنه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي اللُّقْمَةِ تَسْقُطُ

باب د خوراک په وخت چه کله نوړئ پريوځی نو څه پکار دی؟

[٣٨٤٥]([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "إِذَا أَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ، وَقَالَ: إِذَا سَقَطَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيُمِطْ عَنْهَا الْأَذَى وَلْيَأْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ، وَأَمَرَنَا أَنْ نَسْلُتَ الصَّحْفَةَ، وَقَالَ: إِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِي فِي أَيِّ طَعَامِهِ يُبَارَكُ لَهُ".

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی کله چه به نبی عليه السلام دخوراک نه فارغ شو نوخپلې درې ګوتې به ئې څټلې اوفرمائيل به ئې کله چه په تاسو کښې ديوکس نه نوړئ پريوځې نوپکاردې چه ددينه ګردغبار لرې کړې او ويسې خورې اوودې شيطان ته نه پريږدی اودابه ئې هم فرمائيل په تاسوکښې چاته معلومه نه ده چه دده دپاره دخوراک په کومه يوه حصه کښې برکت اچولې کيږي.

[1]): صحيح مسلم/الأشربة ١٨ (٢٠٣٤)، سنن الترمذي/الأطعمة ١١ (١٨٠٢)، (تحفة الأشراف: ٣١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٧/٣، ٢٩٠)، سنن الدارمي/الأطعمة ٨(٢٠٧١) (صحيح)

(د روټئ خوړلو يو څو اداب)

قوله:﴿ كَانَ إِذَا أَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلاَثَ ﴾

چه کله به رسول اللهﷺ خوراک کولو نو په آخر کښې به ئې خپلې درې ګوتې مبارکې اوڅټلې، ابهام، مسبحه او وسطی څکه چه رسول اللهﷺ به په درې ګوتو باندې خوراک فرمائيلو لکه چه وړاندې په باب المنديل کښې راروان دی. ﴿ كَانَ يَأْكُلُ بِثَلاَثِ أَصَابِعَ وَلاَ يَمْسَحُ يَدَهُ حَتَّى يَلْعَقَهَا ﴾ دويم ادب په دې حديث کښې دا ذکر شوې دې چه د يو سړی نه د خوراک کولو په وخت نمړئ اوغورځيږی يا د خوراک څه ذره نو هغه له پکار دی چه د هغې نه ګردو غبار وغيره لرې کړی او بيا هغه اوخوری او هغه دې پرېږدی نه څکه چه د هغه دا پريخودل علامت دې د تکبر او تکبر د شيطان عمل دې. وړاندې دريم ادب په حديث کښې ذکر دې چه د خوراک نه په فارغيدلو باندې کاسه په ګوتو سره پاکول پکار دی.

د ترمذیؒ په يو روايت کښې دی چه کوم انسان په کاسه کښې د خوراک کولو نه پس هغه په ګوتو باندې صفا کړی نو هغه کاسه د هغه د پاره استغفار کوی.

قوله:﴿ من اكل قصعة ثم لحسها استغفرت له القصعة ﴾

او دا ئې هم اوفرمائيل چه بيشکه په تاسو کښې څوک نه پوهيږی چه د هغه د پاره د خوراک په کومه حصه کښې برکت دې.

والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْخَادِمِ يَأْكُلُ مَعَ الْمَوْلَى

خادم د څان سره دوډئ ته د کينولو بيان

[٣٨٤٦] ([1])حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ قَيْسٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا صَنَعَ لِأَحَدِكُمْ خَادِمُهُ طَعَامًا ثُمَّ جَاءَهُ بِهِ وَقَدْ وَلِيَ حَرَّهُ وَدُخَانَهُ، فَلْيُقْعِدْهُ مَعَهُ لِيَأْكُلَ، فَإِنْ كَانَ الطَّعَامُ مَشْفُوهًا فَلْيَضَعْ فِي يَدِهِ مِنْهُ أُكْلَةً أَوْ أُكْلَتَيْنِ".

دابوهريرهؓ نه روايت دې فرمائی چه رسول الله خت فرمائيلی دی کله چه دچا دپاره دهغه خادم خوراک تيارکړي او دخوړلودپاره ئې ورته راوړي او په دغه خادم باندې کړي او لوګې تيرشوې وي نوده لره پکاردي چه دغه خادم هم دځان سره کينوي او ورباندې وخوروي، اوکچرې خوراک کم وي نوده ته دي په لاس کښې يوه يا دوه نوړئ ورکړی.

په حديث الباب کښې دی چه کله په تاسو کښې دچا ځادم د هغه دپاره خوراک تيار کړی او بيا هغه راوړی او هغه د هغې ګرمی او سختی برداشت کړې ده نو هغه لره پکار دی چه هغه خادم د ځان سره خوراک ته کينوی، او که خوراک لږ وی نو بيا دې يوه يا دوه نمړئ د هغه په لاس کښې ورکړی.

او په يو روايت کښې دا دی ﴿ فان ابی فلياخذ لقمة فليطعمه اياها ﴾ يعنی که د مولی نه دا نه شی کيدې په څه وجه باندې چه هغه د ځان سره کينوی نو هغه ته دې يو دوه نمړئ ورکړی،

[1]): صحيح مسلم/الأيمان ١٠ (١٦٦٣)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٢٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأطعمة ٤٤ (١٨٥٣)، مسند احمد (٢/٢٧٧، ٢٨٣) (صحيح)

او یا مطلب دا چه خادم د یو ځائې کیناستلو نه انکار اوکړی نو بیا دې داسې اوکړی.
والحدیث اخرجه مسلم، قاله المنذری.

باب فِي الْمِنْدِيلِ

په رومال باندې د لاسونو وچولو بیان

[٣٨٤٧] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَمْسَحَنَّ يَدَهُ بِالْمِنْدِيلِ حَتَّى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه رسول الله و فرمائیلی دی کله چه په تاسوکښې یوکس خوراك اوکړي نوپه رومال دې لاس نه وچوي ترڅوچه څټلي ئې نه وي. اویا ورله څټلي شوي نه وي.

په حدیث الباب کښې دی چه سړی لره پکار دی چه د خوراک کولو نه پس خپل لاس په رومال وغیره باندې نه پاکوی تر څو چه ئې هغه څټلې نه وی یا ئې په بل باندې اونه څټی. په خپل یو خادم یا شاګرد یا خپلوان وغیره باندې. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجه، لیس فی حدیثهم ذکر المندیل، واخرجه مسلم من حدیث ابی الزبیر عن جابر رضي الله عنه :: ﴿ولا يمسح يده بالمنديل حتى يلعق اصابعه﴾ قاله المنذری.

[٣٨٤٨] (²) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَأْكُلُ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ، وَلَا يَمْسَحُ يَدَهُ حَتَّى يَلْعَقَهَا".

دکعب بن مالك رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم به په درې ګوتو خوراک کولو اولاسونه به ئې ترهغه وخته پورې نه وچول ترڅوچه به ئې څټلي نه وو.

بَابُ مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا طَعِمَ

د خوراک نه پس د دعا کولو بیان

[٣٨٤٩] (³) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ ثَوْرٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا رُفِعَتِ الْمَائِدَةُ، قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَلَا مُوَدَّعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا".

دابو امامه باهلي رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه کله به د دسترخوان داوچتیدو وخت راغې نونبی عليه السلام به دا دعا فرمائیله: «الحمد لله کثیرا طیبا مبارکا فیه غیر مکفي ولا مودع ولا مستغنی عنه ربنا» یعنی دالله شکردې ډیر پاك اوزیات شکر نه داسې شکر کوم یوځل وي

¹): صحيح مسلم/الأشربة ١٨ (٢٠٣١)، (تحفة الأشراف: ٥٩١٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأطعمة ٥٢ (٥٤٥٦)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٩ (٣٢٦٩)، مسند احمد (١/٢٩٣، ٣٤٦، ٣٧٠، ٣/٣٠١)، سنن الدارمي/الأطعمة ٦ (٢٠٦٩) (صحيح)

²): صحيح مسلم/الأشربة ١٨ (٢٠٣٢)، سنن الترمذي/الشمائل (١٣٧، ١٤١)، (تحفة الأشراف: ١١١٤٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٥٤، ٦/٣٨٦)، دي/الأطعمة ١٠ (٢٠٧٦) (صحيح)

³): صحيح البخاري/الأطعمة ٥٤ (٥٤٥٨)، سنن الترمذي/الدعوات ٥٦ (٣٤٥٦)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ١٦ (٣٢٨٤)، (تحفة الأشراف: ٤٨٥٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢٥٢، ٢٥٦، ٢٦١، ٢٦٧) سنن الدارمي/الأطعمة ٣ (٢٠٦٦) (صحيح)

اوبیاپریخودلي شي اودهغې څه ضرورت باقي پاتې نشي، اې زمونږ پروردګاره ته د تعریف لائق ئې.

په حدیث الباب کښې دی چه د رسول الله ﷺ عادت شریفه دا وو چه کله به دسترخوان اوچت کړې شو نو رسول الله ﷺ به دا وئیل ﴿ الحمد لله کثیرا وفی نسخة حمدا کثیرا) طیبا مبارکا فیه غیر مکفی ولا مودع ولا مستغنی عنه ربنا ﴾

(د ربنا اعراب)

بالنصب د منادی کیدو د وجې نه یا بالجر د لفظ الله نه د بدل کیدو د وجې نه... ﴿ غیر مکفی ولا مودع ولا مستغنی عنه ﴾ په دې کښې دوه احتماله دی چه دا درې واړه د طیبا په شان د حمد صفت وی، یعنی د بنده حمد که هر څومره وی ناکافی او لږ دی او د هغې باوجود قابل ترک هم نه دې چه د هغې نه بې پرواهی اوکړې شی بلکه د ناکافی کیدو باوجود کول پکار دی، او دویم احتمال دا دې چه دا صفتونه د الله پاک دی، یعنی د الله پاک کفایت نه شی کولې بلکه هغه د نورو دپاره کفایت کوی او کافی دې ﴿ کما قال تعالی وهو یطعم ولا یطعم ﴾ او نه الله پاک داسې دې چه په څه حال کښې د هغه نه رغبت او طلب ترک کړې شی) او نه هغه داسې دې چه یو وخت د هغه نه بې پرواهی اوکړې شی، بلکه هر وخت بنده هغه ته محتاج دې. والاحتمال الاول اختاره العلامه السندی فی فتح الودود.والاحتمال الثانی اختاره الخطابی وکلاهما مذکوران فی البذل.

والحدیث اخرجه البخاری والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

او د دې نه په روستو روایت کښې دا دعا ذکر ده ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِی أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ ﴾ او په دریم حدیث کښې دا دعاء ذکر ده ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِی أَطْعَمَ وَسَقَى وَسَوَّغَهُ وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجًا ﴾

[٣٨٥٠]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي هَاشِمٍ الْوَاسِطِيِّ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ رِيَاحٍ، عَنْ أَبِيهِ أَوْ غَيْرِهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "إِذَا فَرَغَ مِنْ طَعَامِهِ، قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ".

دابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی کله چه به نبی علیه السلام دخوراک نه فارغ شو نو دا دعابه ئې وئیله : «الحمد لله الذي أطعمنا وسقانا وجعلنا مسلمين». دهغه الله شکردې چاچه مونږ ته خوراک څښاک راکړو او مونږ ئې اطاعت ګزار جوړ کړو.

[٣٨٥١]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي عَقِيلٍ الْقُرَشِيِّ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ، قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَ وَسَقَى، وَسَوَّغَهُ، وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجًا".

[1]: سنن الترمذي/الشمائل (١٩١)، سنن النسائي/ اليوم والليلة (٢٨٩، ٢٩٠) (تحفة الأشراف: ٤٠٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥/٣، ٣٢، ٩٨) (ضعيف)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٤٦٧)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري (٦٨٩٤)، اليوم والليلة (٢٨٥) (صحيح)

د ابو ایوب انصاري نه روایت دې فرمائی کله چه به نبی علیه السلام خوراك وکړو نو دا دعابه ئې وئیله «الحمد لله الذي أطعم وسقى، وسوغه، وجعل له مخرجا» یعنی دالله تعالی دپاره ټول تعریفونه دي چاچه مونږ ته خوراك څښاك راکړو او دا ئې زمونږ دخلق نه تیرکړو اوددې دپاره ئې دو تلوار جوړه کړي.

حدیث ابی سعید الخدری رضی الله عنه اخرجه الترمذی والنسائی وذکره البخاری فی تاریخه الکبیر وساق اختلاف الرواة فیه (وحدیث ابی سعید ضعیف) وحدیث ابی ایوب الانصاری اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي غَسْلِ الْيَدِ مِنَ الطَّعَامِ

د خوراك نه پس د لاسونو وینځلو بیان

[٣٨٥٢] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ نَامَ وَفِي يَدِهِ غَمَرٌ وَلَمْ يَغْسِلْهُ فَأَصَابَهُ شَيْءٌ فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ځوك چه په داسې حال کښې اوده شي چه دخوراك په وجه ئې لاسونه ځلیښت کوي او وینځلي ئې نه وي که چرې په دې وخت کښې ده ته نقصان ورسیږي نو ددې به صرف دې پخپله ذمه وار وی.

﴿ مَنْ نَامَ وَفِي يَدِهِ غَمَرٌ وَلَمْ يَغْسِلْهُ فَأَصَابَهُ شَيْءٌ فَلَا يَلُومَنَّ إِلاَّ نَفْسَهُ ﴾ کوم سړي چه د خوراك کولو نه پس بغیر د لاس وینځلو نه اودهٔ شو او حال دا چه د هغه په لاس کښې د خوراك بوئی او غوړوالي وی او بیا یو څیز هغه ته ضرر ورکړی مثلا مږه د هغه نه ګوته اوخوری نو دې سړی له پکار دی چه صرف خپل ځان ملامته کړی. دا حدیث په ترمذی کښې هم شته، د هغې په شروع کښې دا زیادت دې ﴿ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الشیطان حساس لحاس فاحذروه علی انفسکم ﴾ یعنی د شیطان حس او ادراک ډیر زیات دې او هغه ډیر ضرری دې د هغه نه ځان بچ کړئ. والحدیث اخرجه ابن ماجه، واخرجه الترمذی معلقاً واخرجه ایضاً من حدیث ابی هریرة من طریقین قاله المنذری (مختصرا)

بَابُ مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ لِرَبِّ الطَّعَامِ إِذَا أُكِلَ عِنْدَهُ

د خوراك نه پس د خوراك مالك ته د دعا كولو بیان

[٣٨٥٣] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ يَزِيدَ أَبِي خَالِدٍ الدَّالَانِيِّ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "صَنَعَ أَبُو الْهَيْثَمِ بْنُ التَّيِّهَانِ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا، فَدَعَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ، فَلَمَّا فَرَغُوا، قَالَ: أَثِيبُوا أَخَاكُمْ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا إِثَابَتُهُ؟، قَالَ: إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا دُخِلَ بَيْتُهُ، فَأُكِلَ طَعَامُهُ وَشُرِبَ شَرَابُهُ، فَدَعَوْا لَهُ فَذَلِكَ إِثَابَتُهُ".

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ابوالهیثم بن تیهان دنبی علیه السلام دپاره خوراك تیارکړو هغه نبی علیه السلام او م. حابه کرامرته دعوت ورکړو کله چه ټول خلق دخوراك نه فارغ

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٦٥٦)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأطعمة ٤٨ (١٨٦٠)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٢٢ (٣٢٩٦)، مسند احمد (٢/٢٦٣، ٥٣٧)، سنن الدارمي/الأطعمة ٢٧ (٢١٠٧) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣١٧٠) (ضعيف)

شول نونبی ﷺ اوفرمائیل تاسودي خپل ورور ته ددې عوض ورکړئ عرض اوکړې شو دعوض نه مراد څه دې؟ نبی ﷺ اوفرمائیل کله چه څوك دچاكورته داخل شي اوخوراك اوكړي او اوبه وڅكي نوبيادې دهغه دپاره دعا وغواړي نوهمدا ددې معاوضه ده.

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ صَنَعَ أَبُو الْهَيْثَمِ بْنُ التَّيْهَانِ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم طَعَامًا الخ﴾ په دې حدیث کښې دا دی چه رسول الله ﷺ خپلو ملگرو ته اوفرمائیل چه خپل رور ته د دې خوراک بدله ورکړئ، هغوی عرض اوکړو چه هغه څه بدله ده؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د کوم کور نه خوراک اوکړې شی د هغه دپاره دعا کول د هغه اثابت او بدله ده.

[٣٨٥٤] (١) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "جَاءَ إِلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ، فَجَاءَ بِخُبْزٍ وَزَيْتٍ فَأَكَلَ، ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الْأَبْرَارُ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ".

د انس رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوځل نبی ﷺ دسعد بن عباده خواته تشریف یوړو نوهغه ورته ډوډئ اودزیتون تیل پیش کړل نبی ﷺ اوخوړل اوبیا ئې اوفرمائیل ستا سره دې روژه دار روژه ماته کړي اوستاخوراك دې نيكان خلق اوخوري او په تادې فرشتې رحمتونه نازل کړي.

د باب په آخرې روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ سعد بن عباده رضی الله عنه ته تشریف یوړو هغوی د رسول الله ﷺ دپاره ډوډئ او د زیتون تیل راوړل هغه رسول الله ﷺ اوخوړل او د هغوی دپاره ئې دعا اوفرمائیله ﴿ أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الأَبْرَارُ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ ﴾ د دعاء مضمون دا دې چه الله پاک دې تاسو ته د صائمینو د افطار توفیق درکړی، او همیشه دې ستاسو خوراک نیکان خلق اوخوری او ملائک دې ستاسو دپاره د مغفرت او استغفار دعاګانې اوکړی، په دې کښې ضمنا د رزق حلال دعا هم راغله څکه چه په نیکانو خلقو باندې الله پاک حلاله روزی خوری. پس په یو روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ لا یاکل طعامک الی تقی ﴾ چه سړی له پکار دی چه هغه خپل خوراک په متقیانو باندې اوخوری. په دې دعاء کښې هم دې طرف ته اشاره ده.

بَابٌ فِي تَمْرَةِ الْعَجْوَةِ

باب د عجوه کجورو بیان

[٣٨٧٤] (٢) عَيَّاشٍ، عَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِي عِمْرَانَ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ وَجَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً فَتَدَاوَوْا وَلَا تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ".

دوائل بن حجر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه طارق بن سوید یا سوید بن طارق دنبی ﷺ نه دشرابو د څکلو متعلق تپوس وکړونو نبی ﷺ ده لره منع کړو بیا ئې تپوس وکړو نوبیائې

١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٨/٣، ١٣٨، ٢٠١)، سنن الدارمي/الصوم ٥١ (١٨١٣) (صحيح)

٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٠٠٧) (ضعيف)

منع کړو نوعرض ئي وکړوچه زما غرض دعلاج دپاره څکل دي نبی ﷺ ورته وفرمائيل شراب دوا نه ده دا پخپله يوه بيماري ده.

داترجمه اوحديث په کتاب الطب کښې راروان دی اودلته په اکثر نسخوکښې نشته. (بذل)

باب مَا لَمْ يُذْكَرْ تَحْرِيمُهُ

دداسې څيزونوبيان چه دهغې حرمت مذکور نه دي

[٣٨٠٠][1] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ صَبِيحٍ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ شَرِيكٍ الْمَكِّيَّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَأْكُلُونَ أَشْيَاءَ وَيَتْرُكُونَ أَشْيَاءَ تَقَذُّرًا، فَبَعَثَ اللَّهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنْزَلَ كِتَابَهُ، وَأَحَلَّ حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ، فَمَا أَحَلَّ فَهُوَ حَلَالٌ، وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ، وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ عَفْوٌ، وَتَلَا: قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا سورة الأنعام آية ١٤٥ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ".

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وائی چه په زمانه د جاهليت کښې به خلقو بعضې څيزونه خوړل او بعضې څيزونه به ئي ناخوښه ګڼړل نه به ئي خوړل، نو الله تعالی خپل نبی کريم ﷺ راوليږلو، خپل کتاب ئي نازل کړو او حلال اوحرام ئي بيان کړل، نوکوم څيز چه الله تعالی حلال کړې هغه حلال دې او کوم څيز ئي چه حرام کړې هغه حرام دې، او دکوم څيز نه ئي چه سکوت کړې (د حلت او حرمت ذکر ئي نه دي کړې) هغه معاف دې، بيان ابن عباس رضی الله عنهما آيت کريمه «قل لا أجد فيما أوحي إلى محرما» "تاسو اووايئ: زه خپل طرف ته نازل کړې شوې وحی کښې حرام نه بيا مومم" تر آخره پورې.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَأْكُلُونَ أَشْيَاءَ وَيَتْرُكُونَ أَشْيَاءَ ...الخ ﴾

يعنی مشرکينو به د جاهليت په زمانه کښې په خپله رائې او اختيار سره څيزونه خوړل او ډير څيزونه به ئې د کراهت طبعی د وجې نه پريخودل، يعنی د حلت او حرمت هيڅ معيار د هغوی په نزد نه وو سوا د خپلې خوښې او کراهت طبعی نه، پس الله پاک خپلو بندګانو ته په خپل رحمت سره توجه اوکړه او رسول الله ﷺ ئي راوليږلو په چا ئي چه قرآن کريم نازل کړو او بعض څيزونه ئې حلال او بعض ئې حرام کړل. پس اوس چه کوم څيز الله پاک حلال کړې دې هغه به حلال وی او کوم چه الله پاک حرام کړې دې هغه به حرام وی، يعنی د تحليل او تحريم بنياد په قرآن او وحی باندې وی. ﴿ وما سكت عنه فهو عفو ﴾ او د کوم څيز نه چه الله پاک سکوت فرمائيلې دې نو هغه حلال او معاف اوګڼړئ.

د دې حديث حواله مونږ سره د کتاب البيوع په شروع کښې د ﴿ باب فی اجتناب الشبهات ﴾ د لاندې تيره شوې ده، او هلته دا حديث هم تير شوې دې، ﴿ الحلال بين والحرام بين، وبينهما امور مشتبهات، فمن اتقى الشبهات استبرأ لديه وعرضه ﴾ او هلته دا هم تير شوې دی چه په دواړو احاديثو کښې صورة او ظاهرا تعارض معلوميږی، او بيا د هغې جواب هم.

د دې نه پس زمونږ په نسخه د ابوداؤد کښې دعمر رضی الله عنه د خارجه حديث راځی چه په

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٣٨٦) (صحيح الإسناد)

هغې کښې په يو ليونی باندې د سورة الفاتحه د دم کولو ذکر دې او د هغه په بنه کيدو باندې په طور د انعام د سلو ګډو بيزو د ورکړې....

[٣٨٩٦](1) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ زَكَرِيَّا، قَالَ: حَدَّثَنِي عَامِرٌ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ التَّمِيمِيِّ، عَنْ عَمِّهِ، "أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمَ، ثُمَّ أَقْبَلَ رَاجِعًا مِنْ عِنْدِهِ فَمَرَّ عَلَى قَوْمٍ عِنْدَهُمْ رَجُلٌ مَجْنُونٌ مُوثَقٌ بِالْحَدِيدِ، فَقَالَ أَهْلُهُ: إِنَّا حُدِّثْنَا أَنَّ صَاحِبَكُمْ هَذَا قَدْ جَاءَ بِخَيْرٍ فَهَلْ عِنْدَكَ شَيْءٌ تُدَاوِيهِ، فَرَقَيْتُهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، فَبَرَأَ فَأَعْطَوْنِي مِائَةَ شَاةٍ، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: هَلْ إِلَّا هَذَا"، وَقَالَ مُسَدَّدٌ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ: هَلْ قُلْتَ غَيْرَ هَذَا؟، قُلْتُ: لَا، قَالَ: خُذْهَا فَلَعَمْرِي لَمَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةِ بَاطِلٍ، لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةِ حَقٍّ.

خارجه بن صلب دخپل تره نه روايت کوی فرمائی چه هغه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اواسلام ئې قبول کړو کله چه هغه دنبی ﷺ نه واپس روانيدو نوپه لارکښې د يو قوم سره مخامخ شو چه دهغوی سره يوکس په زنځيرونوتړلې شوې پروت وو ددې ليونی وارثانو اووئيل چه مونږته دا معلومه شوې ده چه ستاسو مشر (نبی ﷺ) يولونې خير راوړې دې اناستاسو سره داسې څه شې شته چه په هغې باندې داليونې روغ شې دې وائی ماسورة فاتحه اولوستله اوچوپ مې ورباندې اوکړوهغه مريض روغ شو ددغه ليونی وارثانو ماته سل چيلی راکړې زه چه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نوددې واقعې ذکرې ورته اوکړو نبی ﷺ اوفرمائيل ايا دسورة فاتحې نه دې علاوه بل دم نه وو وئيلې،

[٣٨٩٧](2) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي السَّفَرِ، عَنْ الشَّعْبِيِّ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ، عَنْ عَمِّهِ أَنَّهُ مَرَّ قَالَ فَرَقَاهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً كُلَّمَا خَتَمَهَا جَمَعَ بُزَاقَهُ، ثُمَّ تَفَلَ فَكَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ فَأَعْطَوْهُ شَيْئًا، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ مُسَدَّدٍ.

خارجه بن صلت دخپل تره نه روايت کوی فرمائی چه هغه ده درې ورځو پورې سحر اوماښام الحمدلله وئيله او په دې ليونی باندې به ئې چپ کولو کله چه به دالحمدو دوئيلونه فارغ شونولاړې به ئې په خوله کښې جمع کړې او په ده باندې به ئې ونوکل ليونې داسې روغ شو چه دپرونه پرانيستل شو نودغه خلقو په عوض کښې چيلئ ورکړې دې چه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، باقی حديث کې ذمسدد دحديث په شان بيان کړو.

دا حديث په کتاب البيوع کښې په ﴿ باب کسب الاطباء ﴾ کښې تير شوې دې او وړاندې په کتاب الطب کښې په ﴿ باب کيف الرقی ﴾ کښې هم راوان دې.

د بذل المجهود شريف د جلد رابع اختتام:

او بيا د دې نه روستو په بعض نسخو کښې آخر کتاب الاطعمه ذکر دې او هم په دې باندې د بذل المجهود څلورم جلد پوره شوې دې اودکتاب الطب نه دهغې پنځم جلد شروع کيږی.

1): انظر حديث رقم :(٣٤٢٠)، (تحفة الأشراف: ١١٠١١) (صحيح)
2): انظر حديث رقم :(٣٤٢٠)، (تحفة الأشراف: ١١٠١١) (صحيح)

بسم الله الرحمن الرحيم

كِتَابُ الطِّبِّ

د طب متعلق بيان

د دې کتاب د ماقبل سره مناسبت ښکاره دې. مخکښې اطعمه او اشربه تير شو او مرضونه ډير کرته په خوراک څکاک کښې د بې احتياطئ او د ترک حميه د وجې نه وی په دې وجه ضرورت پيښ شو د طب او د علاج د بيانولو.

د طب تعريف او د هغې تقسيم او انواع :

طب يو مسستقل علم دې چه د هغې تعريف دا دې : ﴿ هو علم يعرف به احوال بدن الانسان من المرض والصحة ﴾ طب لغة په اضدادو کښې دې د دې معنی علاج او تداوی هم ده او په معنی د بيمارئ هم دې. هم دغه شان په معنی د سحر هم دې، مطبوب يعنی مسحور.

بيا په دې باندې هم ځان پوهه کول پکار دی چه د طب دوه قسمونه دی يو طب القلوب او بل طب الابدان (ځکه چه د مرضونو دوه قسمونه دی يو روحانی او بل بدنی) طب القلوب خو د رسول الله ﷺ راوړی تعليمات دی يعنی د شريعت اتباع کول، او د طب الابدان بيا دوه قسمونه دی يو هغه چه کومه د رسول الله ﷺ نه نقل ده، پس په بعض احاديثو کښې بعض بيمارياني او د هغې علاج ذکر شوې دې او د هغې نوم الطب النبوی دې. د بعض محدثينو په باندې مستقل تصنيفات او کتابونه دی لکه د علامه سيوطی رحمه الله ﴿ المنهج السوی فی الطب النبوی ﴾ او د امام ذهبی رحمه الله ﴿ الطب النبوی ﴾ او هم دغه شان د ابونعيم کتاب ﴿ الطب النبوی ﷺ ﴾ وغيره.

او قسم ثانی کوم چه منقول دې د حکماء او اصحاب تجارب نه مثلا دحکيمانو د يونان نه چه کوم منقول دې هغې ته طب نبوی وائی، د دې نه علاوه د نور طبيبانو نه مثلا هغه چه د هند د حکماء نه منقول دې هغې ته آيورويدک وائی او کوم چه د حکماء عرب نه منقول دې هغې ته طب عربی وائی لکه حارث ابن کلده مشهور طبيب کوم چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وو د چا ذکر چه وړاندې په يو حديث کښې هم راروان دې.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَتَدَاوَى

باب دهغه کس بيان چه هغه علاج کول غواړی

[٣٨٥٥](١) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ كَأَنَّمَا عَلَى رُءُوسِهِمُ الطَّيْرُ، فَسَلَّمْتُ ثُمَّ قَعَدْتُ، فَجَاءَ الْأَعْرَابُ مِنْ هَاهُنَا وَهَاهُنَا، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَتَدَاوَى؟، فَقَالَ: تَدَاوَوْا، فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ دَوَاءً غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ الْهَرَمُ".

داسامه بن شريک رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم په

(١): ● تخريج: سنن النسائي/الكبري الطب، ٤٣ (٧٥٥٣)، سنن الترمذي/الطب ٢ (٢٠٣٨)، سنن ابن ماجه/الطب ١ (٣٤٣٦)، (تحفة الأشراف: ١٢٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٧٨) (صحيح)

دې وخت کښې صحابه کرام په داسې طريقه ناست وو ګوياکښې ددوی په سرونوباندې مرغی ناستې دي يعنی په خاموشی سره ئې سرونه ښکته کړی وو، ما سلام اوکړو او کښيناستم په دې وخت کښې باند چيان داخوا ديخوانه راورسيدل اووئې وئيل اې دالله رسوله ايامونږه علاج وکړو؟ نبی ﷺ اوفرمائيل علاج کوئ يقينا الله تعالى داسې مرض نه دې پيدا کړې دکوم دپاره چه علاج نه وي علاوه ديوی بيماری نه اوهغه بوډاوالې دې.

قوله:﴿ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- وَأَصْحَابُهُ كَأَنَّمَا عَلَى رُءُوسِهِمُ الطَّيْرُ﴾ دا صحابی ﷛ فرمائی چه زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم په داسې حال کښې چه د رسول الله ﷺ صحابه کرام د هغوی په مجلس کښې په داسې سکون او وقار سره ناست وو صامت او ساکت لکه چه د هغوی په سرونو باندې مرغئ ناسته وی. دا د تشبيه په طور ده، که د يو سړی په سر باندې مرغئ کينی او هغه غواړی چه هغه دې هم دغه شان ناسته وی او پاسی دې نه، نو ښکاره خبره ده چه هغه وخت به دا سړې ډير په سکون سره کينی سر ته به حرکت هم نه ورکوی او نه به ئې پورته اوچتوی. دا صحابی فرمائی چه ما سلام اوکړو او د هغوی په مجلس کښې کيناستم نو زما په موجودګئ کښې د مختلفو طرفونو نه اعراب د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او د هغوی نه ئې تپوس اوکړو ﴿ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَتَدَاوَى فَقَالَ: تَدَاوَوْا ﴾ يعنی آيا مونږ خپل علاج او دوائی کولې شو؟ (دا د توکل خلاف خو نه ده؟) نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل او اجازت دې کوئ. ځکه چه الله پاک داسې يو بيماری هم نه ده پيدا کړې چه د هغې دپاره ئې دوائی نه وی پيدا کړې سوا د يوې بيمارئ يعنی بوډا والی نه.

د علاج او تداوی حکم:

په دې کښې اختلاف دې چه د بيمارئ دوائی او علاج کول مستحب دی يا صرف مباح، د اکثرو رائې په دې کښې د اباحت ده او يو قول د استحباب هم دې، اکثر علماء هم دا ليکی چه د رسول الله ﷺ د تداوی بيان د جواز دپاره وو اوس که هم په دې کښې څوک د اتباع نيت اوکړی نو د اجر او ثواب اميد ئې شته. امام خطابی ﷫ فرمائی: فيه ان الطب مباح لا كما قال بعضهم انه مكروه.... او علامه عينی ﷫ فرمائی چه په دې کښې رد دې په هغه بعضو صوفياء باندې کوم چه وائی چه د يو ولی ولايت هغه وخته پورې نه شی کامل کيدې، چه تر څو پورې په نازليدونکی هر مصيبت او بلا باندې راضی نه شی، او دا چه د هغه دپاره علاج جائز نه دې، هغوی فرمائی چه دا خبره د دې حديث خلاف ده.

د توکل مراتب ثلاثه:

او د کوکب دری نه معلوميږی چه بعض قسمونه خو ئې تول حرام دی، يعنی کوم چه د نص په مقابله کښې وی لکه د زهرو څکل په الله پاک باندې د توکل د وجې نه او بعض قسمونه د دې اعلى دی، ترک تداوی هم په هغې کښې ده.......... او بعض مراتب د دې بالکل ادنى دی لکه ترک د رقيه چه دا په قسم ثالث کښې دې. د دې نه کم درجه د توکل بالکل نشته، لهذا تعويذونه کول دا د توکل خلاف دی، كذا في هامش البذل.....او په دې کښې

دا هم دی چه حافظ په فتح الباری کښې په دې باندې تفصيلا کلام کړې دې چه آيا رقيه اختيارول د توکل منافی دی يا نه، د رقيه متعلق څو ابواب وړاندې راروان دی.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، وقال الترمذی: حسن صحيح، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْحِمْيَةِ

د پرهيز کولو بيان

په سنن ترمذی کښې هم د ابواب الطب د ټولو نه مخکښې باب هم دا دې، ﴿ باب ما جاء في الحمية ﴾ يعنی د ضرری څيزونو نه پرهيز کول چه د هغې ثبوت د قرآن کريم او د حديث الباب نه کيږی، حديث الباب خو په دې کښې صريح دې او په قرآن کريم کښې آيت د اودس کښې دی ﴿ وان كنتم مرضى او على سفر ﴾ يعنی د عذر د وجې نه الله پاک د اوبو د استعمال نه داحتياط حکم او دتيمم جواز فرمائيلې دې. مشهوره مقوله ده چه﴿الحمية راس كل دواء﴾.

[٣٨٥٦](1)حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، وَأَبُو عَامِرٍ، وَهَذَا لَفْظُ أَبِي عَامِرٍ، عَنْ فُلَيْحِ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ صَعْصَعَةَ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ أَبِي يَعْقُوبَ، عَنْ أُمِّ الْمُنْذِرِ بِنْتِ قَيْسٍ الْأَنْصَارِيَّةِ، قَالَتْ: "دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ عَلِيٌّ رضي الله عنه، وَعَلِيٌّ نَاقِهٌ وَلَنَا دَوَالِي مُعَلَّقَةٌ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ مِنْهَا، وَقَامَ عَلِيٌّ لِيَأْكُلَ، فَطَفِقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِعَلِيٍّ: مَهْ إِنَّكَ نَاقِهٌ، حَتَّى كَفَّ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَتْ: وَصَنَعْتُ شَعِيرًا وَسِلْقًا، فَجِئْتُ بِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا عَلِيُّ أَصِبْ مِنْ هَذَا فَهُوَ أَنْفَعُ لَكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ هَارُونُ الْعَدَوِيَّةُ.

دام المنذر بنت قيس الانصاريه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام زماخواته تشريف راوړو او علی کرم الله وجهه ورسره موجود وو کوم چه دبيمارئ په وجه باندې کمزورې شوې وو اوزمونږ کره دکجورو غونچکونه زوړند کړې شوې پراته وو نبی عليه السلام ددې دراخستودپاره ورپاڅيدو او علی ع دخوړلودپاره ورپاڅيدونبی عليه السلام ورته اووئيل ته مه خوره اوس ته تيک نه يې، تردې پورې چه علی دخوړلونه منع کړې شو، ام المنذر وائی چه مادوربشو ډوډئ اودچقندرو شورواه پخه کړې وه دامې راواخستل اونبی عليه السلام ته مې پيش کړل نبی عليه السلام اوفرمائيل اې علی ددينه اوخوره داستادپاره فائده مند دې. امام ابوداؤد فرمائی چه دهارون نه هغه هارون مراد دې کوم چه عدوی دې.

قوله: ﴿ عَنْ أُمِّ الْمُنْذِرِ بِنْتِ قَيْسٍ الأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– وَمَعَهُ عَلِيٌّ رضى الله عنه وَعَلِيٌّ نَاقِهٌ وَلَنَا دَوَالٍ مُعَلَّقَةٌ الخ ﴾

مضمون الحديث:

ام المنذر رضي الله عنها چه د هغې نوم سلمی بنت قيس دې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تروريانو نه ده. هغه فرمائی چه يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم زمونږ کور ته تشريف راوړو، علی رضي الله عنه هم د هغوی سره وو چه هغه وخت ناقه وو، يعنی د بيمارئ نه د پاسيدو د وجې نه پکښې نقاهت وو، زمونږ په

(1): سنن الترمذي/ الطب ١ (٢٠٣٧)، سنن ابن ماجه/الطب ٣ (٣٤٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٨٣٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٣/٦، ٣٦٤) (حسن)

کور کښې د کهجورو غونچې زوړندې وې، رسول اللهﷺ اودریدلو، د هغې د خوراک دپاره، علی رضی الله عنه هم په دې غرض باندې اودریدلو نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه په تا کښې نقاهت او کمزوري ده تر دې چه هغه منع شو. هغه فرمائی چه ما د اوربشو او د چقندر سبزی هم پخ کړې وه کومه چه ما هغوی ته راوړله. نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل: ﴿يَا عَلِيُّ أَصِبْ مِنْ هَذَا فَهُوَ أَنْفَعُ لَكَ﴾ دا اوخوره ستا دپاره مفید دې.

کهجورې ګرمې وی چه دهغې نه رسول اللهﷺ هغه منع کړو او سبزی یخه وی کومه چه د هغوی په حق کښې فائده منده وه، په دې حدیث کښې د خوراک څکاک په څیزونو کښې د احتیاط او پرهیز کولو ثبوت دې لکه چه مصنف رحمه الله ترجمه قائم کړې ده، په بذل کښې دی چه د دې حدیث نه د علم طب فضیلت او دا چه د طبیب خبره منل پکار دی ثابت شو. والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری.

باب فِي الْحِجَامَةِ

د ښکر لګولو بیان

[٣٨٥٧](1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ مِمَّا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ خَيْرٌ فَالْحِجَامَةُ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی که چرې ستاسو په ټولو دواګانو کښې خیروې کوم چه تاسو کوئ نو هغه حجامت یعنی ښکرلګول دی.

قوله: ﴿إِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ مِمَّا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ خَيْرٌ فَالْحِجَامَةُ﴾

کوم علاج او دارو وغیره چه تاسو کوئ په هغې کښې که په څۀ کښې خیر شته نو هغه په حجامت کښې دې یعنی ښکر لګول.

بعض شارحینو (سفاقسی) په دې حدیث باندې لیکلې دی چه ممکن ده رسول اللهﷺ دا خبره هغه وخت فرمائیلې وی چه کله هغوی ته دا علم نه وو چه الله پاک د هرې بیمارئ دپاره دوائی هم پیدا کړې دې. اهـ دې شارح دا حدیث حمل کړې دې په نفی د افادې باندې په نورو څیزونو او دوایانو کښې او د دې نه غوره خبره هغه ده کومه چه علامه سندی رحمه الله لیکلې ده چه په دې سره مقصود د رسول اللهﷺ د غیر حجامت نه د فائدې اوچتولو نفی نه ده مراد بلکه د مبالغې او تحقیق په طریقه باندې د حجامت فائدې لره بیانول مقصود دی. والحدیث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری.

[٣٨٥٨](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْوَزِيرِ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ حَسَّانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الْمَوَالِي، حَدَّثَنَا فَائِدٌ مَوْلَى عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ مَوْلَاهُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ جَدَّتِهِ سَلْمَى خَادِمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "مَا كَانَ أَحَدٌ يَشْتَكِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

---

[1]: سنن الترمذي/الطب ١(٢٠٣٧)، سنن ابن ماجه/الطب ٢٠ (٣٤٧٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٠١١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٢/٢، ٤٢٣) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الطب ١٣ (٢٠٥٤)، سنن ابن ماجه/الطب ٢٩ (٣٥٠٢)، (تحفة الأشراف:١٥٨٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٦٢/٦) (حسن)

وَسَلَّمَ وَجَعًا فِي رَأْسِهِ إِلَّا قَالَ: احْتَجِمْ، وَلَا وَجَعًا فِي رِجْلَيْهِ إِلَّا قَالَ: اخْضِبْهُمَا".

د نبي علیه السلام دخادمي سلمي رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه داسې هيڅ يو کس نه وو چه د درد د وجې نه به ئې نبي علیه السلام ته شکايت وکړو مګرنبي علیه السلام به ورته اوفرمائيل چه ښکر اولګوه اوچاچه به نبي علیه السلام ته دخپوددردشکايت وکړونونبي علیه السلام به ورته فرمائيل چه نکريزي وربانديې اولګوه.

قوله: ﴿عَنْ جَدَّتِهِ سَلْمَى خَادِمِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم ﴾

د خادم اطلاق په غلام او جاريه دواړو بانديې کيږي، او په دې کښې د تا استعمال يعنى خادمة قليل دې، سلمى رضي الله عنها چه د رسول الله ﷺ وينځه او خادمه ده فرمائي چه کوم سړي به هم رسول الله ﷺ ته د سر د درد شکايت کولو نو رسول الله ﷺ به هغه ته د حجامت حکم فرمائيلو او چا چه به رسول الله ﷺ ته د خپو تکليف بيانولو نو رسول الله ﷺ به هغه ته د خضاب بالحناء مشوره ورکوله، يعنى د خپو په تلو بانديې د نکريزو لګولو.

شارحينو ليکلي دی چه په دهغه زمانه کښې زيات تر د سر درد او تکليف د وينې د غلبې او دهغې دجوش (بلډ پريشر) د وجې نه وو او حجامت هم د هغه بيماريانو علاج دې کوم چه دغلبه دم په وجه بانديې وی. (والحديث اخرجه الترمذي وابن ماجه مختصرفي الحناء، قاله المنذري)

بَابٌ فِي مَوْضِعِ الْحِجَامَةِ
باب د ښکر لګولو د ځای بيان

[۳۸۵۹] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدِّمَشْقِيُّ، وَكَثِيرُ بْنُ عُبَيْدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنِ ابْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ، قَالَ كَثِيرٌ إِنَّهُ حَدَّثَهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَحْتَجِمُ عَلَى هَامَتِهِ وَبَيْنَ كَتِفَيْهِ، وَهُوَ يَقُولُ: مَنْ أَهْرَاقَ مِنْ هَذِهِ الدِّمَاءِ فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ لَا يَتَدَاوَى بِشَيْءٍ لِشَيْءٍ".

دابو کبشة الانماري نه روايت دې چه نبي علیه السلام به په خپله کوپړۍ کښې ښکر لګولو اودا وګوپه مينځ کښې به يې هم لګولو اوفرمائيل به ئې: څوك چه ددې دوه ځايونونه وينه اوباسي نوکچري داسې کس دځه مرض دپاره دوا استعمال نکړي نو نقصان ورته نشي رسيدې.

قوله: ﴿أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَحْتَجِمُ عَلَى هَامَتِهِ وَبَيْنَ كَتِفَيْهِ وَهُوَ يَقُولُ « مَنْ أَهْرَاقَ مِنْ هَذِهِ الدِّمَاءِ فَلاَ يَضُرُّهُ أَنْ لاَ يَتَدَاوَى بِشَىْءٍ لِشَىْءٍ ﴾

يعنى د رسول الله ﷺ عادت مبارک د احتجام په باره کښې دا وو چه اکثر به ئې د خپل سر په تالو بانديې او د خپلو اوږو په مينځ کښې لګولو او فرمائيل به ئې چه کوم سړې دا وينه اوبهيوی، يعنى د حجامت په ذريعه، او د ﴿ هذه الدماء ﴾ اشاره هم هغې وينې ته ده کومه چه د ښکر لګولو په ذريعه اوځی نو بيا د هغه د بيمارۍ دپاره د بل څه علاج ضرورت نشته.

د احاديثو نه د حجامت د اهميت ثبوت :

په احاديثو کښې د حجامت ډير تعريف راغلي دې تر دې چه په حديث المعراج کښې راځی

(۱): سنن ابن ماجه/الطب ۲۱ (۳٤۸٤)، (تحفة الأشراف: ۱۲۱٤۳) (ضعيف) (الضعيفة: ۱۸٦۷، وتراجع الألباني: ۱۹٤)

چه رسول اللهﷺ به په کوم آسمان باندې هم تير شو نو د هغه ځائې ملائکو به رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو ﴿ مرامتک بالحجامة ﴾........ ما د خپل وړوکوالی په زمانه کښې څلويښت پنځوس کاله مخکښې اوکتل چه د ګرمئ په زمانه کښې د غرمې په وخت داسې ځنګلیان قسم سړی په لاس کښې تهیلئ وغيره نيولې په سړکونو او کلو کوڅو کښې آواز لګولو او په خپله خاص لهجه کښې به ئې وئيل ښکر اولګوئ........ چه د هغوی د آواز نه به ماشومان ويريدل هم چه کله به هغوی راتلل. خو اوس خو د هغوی راتلل تقريبا بند شو، کله کله څوک راشی، او اوريدلې مې دی چه دلته په حجاز کښې يعنی په مکه مدينه (زادهما الله شرفا) کښې اوس هم د دې رواج او معمول دې او معلومه شوه چه مخکښې خو به دا خلق د حرم په خوا کښې چرته د سړک په غاړه باندې ناست وو د خپلو آلاتو سره. خو اوس د دې ځائې حکومت د هغوی داسې د سړکونو په غاړو باندې د کيناستلو په ځائې د هغوی دپاره معقول ځائې او د صفائی لازم کړې ده. چه کله په حديث کښې دومره تاکيد کړې شوې دې نو بيا د دې اهتمام کيدل پکار دی، خو اوس په دنيا کښې نوې علاجونه شروع شو، انګريزی قسم خلق هغه کوی. والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری

[٣٨٦٠](¹) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ يَعْنِي ابْنَ حَازِمٍ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "احْتَجَمَ ثَلَاثًا فِي الْأَخْدَعَيْنِ وَالْكَاهِلِ"، قَالَ مَعْمَرٌ: احْتَجَمْتُ فَذَهَبَ عَقْلِي حَتَّى كُنْتُ أُلَقَّنُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ فِي صَلَاتِي وَكَانَ احْتَجَمَ عَلَى هَامَتِهِ.

ترجمه: دانس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله و دمرئ په رګونو اوددواړو اوګو په مينځ کښې درې پيرې ښکرلګولو، معمروئيلې دې مادخپل سر په مينځ کښې ښکر ولګولو نوعقل مې ختم شوتردې پورې چه مابه دخلقو په وينا باندې په مونځ کښې سورة فاتحه لوستله.

قوله: ﴿عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- احْتَجَمَ ثَلَاثًا فِي الْأَخْدَعَيْنِ وَالْكَاهِلِ ﴾

يعنی رسول اللهﷺ د بدن په درې ځايونو کښې ښکر اولګولو دواړه اخدعينو کښې کوم چه د ښې طرف ته د دوه رګونو نوم دې. او په کاهل يعنی مابين الکتفين کښ. يعنی په يو موقعه باندې رسول اللهﷺ داسې اوکړل، او د دې دريو نه علاوه د بدن په نورو حصو باندې لګول هم ثابت دی لکه چه په کتاب الحج کښې د دې سلسلې ډير روايتونه تير شوې دی ﴿ احتجم وهو محرم فی راسه من داء کان به ﴾، ﴿ احتجم وهو محرم علی ظهر القدم من وجع کان به ﴾ او يو روايت دلته په راروان باب کښې راځی، ﴿ احتجم علی ورکه من وثی کان به ﴾ ښکر په مجامع العروق باندې عام طور سره لګولې شی د بدن په کومه حصه کښې چه هم وی چرته چه رګونه جمع شوې وی هغه ځائې اول په غشی باندې زخمی کولې شی او بيا ښکر لګولو سره حجام د ساه په ذريعه باندې وينه راکاږی.

¹): سنن الترمذي/الطب ١٢ (٢٠٥١)، سنن ابن ماجه/الطب ٢١ (٣٤٨٣)، (تحفة الأشراف: ١١٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٩/٣، ١٩٢) (صحيح)

وړاندي حديث کښې معمر فرمائي چه ما يو کرت ښکر اولګولو نو زما عقل خراب شو، په سورة الفاتحه لوستلو کښې هم اينختمه، په هغې کښې هم لقمه راکولو ته حاجت راغلو، يو راوى وائي چه هغوى د خپل سره په تالو باندې ښکر لګولې وو، نو يا خو ترې نه په محل د تعين کښې غلطى اوشوه، يا د مرض په تشخيص کښې چه د هغې په وجه باندې نقصان پيدا شو، دا هم کيدې شي چه هغوى د هامه په ځائې په يافوخ باندې لګولې وى دا دواړه ځايونه نزدې نزدې دى، هامه لږ مقدم الراس طرف ته وى او يافوخ لږ شاته. والحديث اخرجه الترمذي وابن ماجه، قاله المنذري.

بَابٌ مَتَى تُسْتَحَبُّ الْحِجَامَةُ

باب: ښکر لګول کله مستحب دى؟

[٣٨٦١] (١) حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْجُمَحِيُّ، عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ احْتَجَمَ لِسَبْعَ عَشْرَةَ، وَتِسْعَ عَشْرَةَ، وَإِحْدَى وَعِشْرِينَ، كَانَ شِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دى چاچه په ولسم او نولسم او يويشتم تاريخونو (دمياشتې) باندې ښکرولګوو نو داسې کس ته به دهر مرض نه شفا حاصل شي.

يعنى په کومو تاريخونو کښې ښکر لګول پکار دى، په حديث الباب کښې دى چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه کوم سړى د مياشتې په اولسم او نولسم او يويشتم باندې ښکر اولګولو نو په هغې کښې د هرې بيمارئ نه شفاء ده. علماء کرامو ليکلي دى چه حکمت په دې کښې دا دې چه د مياشتې په شروع حصه کښې د انسان وينه جوش کوى او په آخير کښې ډير سپکه شى، لهذا د مينځ وخت د دې دپاره ډير مناسب دې. امام بخارى رحمه الله هم په کتاب الطب کښې د حجامت متعلق ډير ابواب قائم کړې دى، يو ترجمه دا هم ده ﴿ اى ساعة يحتجم ﴾ او په هغې کښې ئې دا حديث مرفوع ذکر کړې ﴿ احتجم النبى ﷺ وهو صائم ﴾ او په يو روايت کښې تعليقا داسې دى ﴿ احتجم ابو موسى ليلا ﴾ ذکرکړې دې. په بخارى کښې د تعين اوقات هيڅ روايت نشته خو په سنن ابوداؤد او ابن ماجه کښې داسې روايات شته، او په فيض البارى کښې دى ﴿ لعل البخارى يشير الى حديث عند ابى داؤد فيه تفصيل الايام للاحتجام ﴾ اهـ الابواب والتراجم.

بَابٌ فِي قَطْعِ الْعِرْقِ وَمَوْضِعِ الْحَجْمِ

باب: د رګ کټ کولو او د ښکر لګولو د ځاى بيان

په دې ترجمه کښې دوه اجزاء دى يو موضع الحجامة، خو د هغې باب پورته تير شوې دې په دې وجه په بعض نسخو کښې د ترجمې دا جزء نشته، او دويم جزء يعنى قطع العرق يعنى د يو خاص رګ خوله پرانستل يعنى فصد.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٦٥٨) (حسن)

[٣٨٦٤](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُومُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُبَيٍّ طَبِيبًا فَقَطَعَ مِنْهُ عِرْقًا".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ ابی بن کعب رضی الله عنه ته یوطبیب ور ولیږلو اردو رګ ئې ورله پریکړو.

قوله: ﴿عَنْ جَابِرٍ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– إِلَى أُبَيٍّ طَبِيبًا فَقَطَعَ مِنْهُ عِرْقًا ن﴾

یعنی رسول الله ﷺ ابی بن کعب رضی الله عنه ته یو طبیب اولیږلو چا چه د هغوی فصد اوکړو. او د مسلم په روایت کښې دا هم دی ﴿ ثم بعد ذلک کواه لیرقا الدم ﴾ یعنی د فصد کولو نه پس ئې هغه زخم اوداغلو چه وینه راتلل بند شی.

والحدیث اخرجه مسلم، وابن ماجه بنحوه، قاله المنذری

[٣٨٦٢](٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، أَخْبَرَنِي أَبُو بَكْرَةَ بَكَّارُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، أَخْبَرَتْنِي عَمَّتِي كَبْشَةُ بِنْتُ أَبِي بَكْرَةَ، وَقَالَ غَيْرُ مُوسَى: كَيِّسَةُ بِنْتُ أَبِي بَكْرَةَ، أَنَّ أَبَاهَا كَانَ "يَنْهَى أَهْلَهُ عَنِ الْحِجَامَةِ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ، وَيَزْعُمُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ يَوْمُ الدَّمِ وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يَرْقَأُ".

دکبشه بنت ابوبکره نه روایت دې اودموسی نه علاوه نورو راویانوویلی دی چه دکیسه بنت ابی بکره نه روایت دې فرمائی چه زما پلاربه دخپل خاندان خلق دسه شنبی په ورځ دښکرلګولونه منع کول او داګمان به ئې کولو چه نبی علیه السلام په دې ورځ دښکر لګولونه منع کړې ده اردا چه ده شنبی ورځ دوینو ویستلو ورځ ده او په دې ورځ کښې یوداسې ساعت دې چه په دې کښې په وینو ویستلوسره سرې نه روغیږي.

﴿أَخْبَرَتْنِي عَمَّتِي كَبْشَةُ بِنْتُ أَبِي بَكْرَةَ ﴾ زمونږ په نسخه کښې هم دغه شان دی، کبشة..... او په بعض نسخو کښې ﴿ کیسة ﴾ دې او هم دا صحیح دې. په دې حدیث کښې دا دی چه په یوم الثلثاء کښې ښکر نه دی لګول پکار، دا ورځ یوم الدم ده یعنی دا ورځې د وینې د غلبې دی په بدن کښې دننه، او په دې ورځ کښې یو ساعت داسې دې چه که په هغې کښې حجامت یا فصد اوکړې شی نو بیا وینه اودریږی نه.

دا حدیث ابن الجوزی رحمه الله په موضوعاتو کښې شمار کړی دې او بیا سیوطی رحمه الله په دې باندې د هغوی تعاقب کړی دې

[٣٨٦٣](٣)حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "احْتَجَمَ عَلَى وَرِكِهِ مِنْ وَثْءٍ كَانَ بِهِ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ د پخوانی درد په بناباندې په خپل کوناټی باندې ښکرلګولې وو.

[١]: صحيح مسلم/السلام ٢٦ (٢٢٠٧)، سنن ابن ماجه/الطب ٢٤ (٣٤٩٣)، (تحفة الأشراف: ٢٢٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠٣/٣، ٣٠٤، ٣١٥، ٣٧١) (حسن)

[٢]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٧٠٧) (ضعيف)

[٣]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٩٧٨)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطب ٢١ (٣٤٨٥)، مسند احمد (٣٠٥٣، ٣٥٧، ٣٨٢) (صحيح)

قوله: ("اخْتَجَمَ عَلَى وِرْكِهِ مِنْ وَثْءٍ كَانَ بِهِ") يعني په خپل ورک (د پتون نه لږ بره ځائي) باندې ئې ښکر اولګولو او د زخمي کيدو د وجې نه د وثؤ دادې چه په هډوکي باندې زخم اولګي خو هغه زخمي نه شي، کيدې شي چه دا مختصر وي هم د حديث نه په کوم کښې چه د رسول الله ﷺ د سقوط عن الفرس مشهور واقعه ذکر شوې ده، حضرت په بذل کښې د هغې طرف ته اشاره کړې ده.والحديث اخرجه النسائي،قاله المنذري.

باب في الكي

باب د داغ لګولو بيان

(**د کيّ تعريف**):

کئ د علاج يو خاص طريقه ده چه په هغې کښې اوسپنې لره ګرمولو سره د بدن په کومه حصه کښې چه تکليف وي هلته په هغې باندې داغ ورکولې شي،

(تطبيق بين الروايتين)

د دې په باره کښې دواړه قسم روايتونه راغلي دي د منع هم او د جواز هم لکه چه خپله هم د دې باب په دواړو احاديثو کښې دي، په رومبي روايت کښې منع او دويم روايت کښې د هغې ثبوت دې چه رسول الله ﷺ د سعد بن معاذ رضی الله عنه علاج بالكئ اوکړو کله چه هغوي د غشي د لګيدو په وجه باندې زخمي شوې وو. جمع د روايتينو بعضو خو داسې کړې ده چه په اصل کښې دا علاج سخت قسم دې، دا اوګنړئ چه دا آخري علاج دې چه په هغې کښې تعذيب بالنار دې. نو که د دې نه علاوه په معمولي يا سپک شان علاج باندې کار کيدلې شي نو دا نه دې اختيارول پکار، او چرته چه يو بله دوائي مفيد ثابته نه شي هلته بيا دا کول پکار دي. او بعضو شارحينو داسې ليکلې دي چه که دا علاج صرف د بيماريانو نه د بچ کيدلو دپاره او د تحفظ دپاره وي نو بيا خو منع دې او که حقيقت کښې دې ضرروت راشي نو بيا داسې کول جائز دي، دا دويمه توجيه په حاشيه کښې د عزالدين ابن عبد السلام نه نقل کړې ده.

[٣٨٦٥](1)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: "نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْكَيِّ، فَاكْتَوَيْنَا فَمَا أَفْلَحْنَ وَلَا أَنْجَحْنَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَانَ يَسْمَعُ تَسْلِيمَ الْمَلَائِكَةِ، فَلَمَّا اكْتَوَى انْقَطَعَ عَنْهُ، فَلَمَّا تَرَكَ رَجَعَ إِلَيْهِ.

د عمران بن حصين رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي کريم ﷺ منع فرمائيلې ده دداغ لګولو نه مونږ به داغونه لګول خوم ونړنه څه فائده حاصله کړه اونه څه کاميابي. امام ابوداؤدفرمائي چه دفرښتوسلام به ئې اوريدو خوچه کله ئې داغونه شروع کړل بيابه ئې نه اوريدوخوچه کله ئې داغ لګول پريښودل نوبيابه ئې اوريدو.

د باب په رومبي حديث کښې دي چه عمران بن حصين رضی الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ مونږ د

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٨٤٥)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطب ١٠ (٢٠٩٤)، سنن ابن ماجه/الطب ٢٣ (٣٤٩١)، مسند احمد (٤٤٦،٤٤٤/٤) (صحيح)

علاج بالکل نه منع کړي وو، خو مونږ دا علاج اوکړو نو په دې کښې کامیابي حاصله نه شوه. ﴿ فَمَا أَفْلَحْنَ وَلاَ أَنْجَحْنَ ﴾ او په بعض نسخو کښې داسې دي ﴿ فَمَا أَفْلَحْنَا وَلاَ أَنْجَحْنَا ﴾ د جمع متکلم په صیغې سره په ړومبی صورت کښې به ضمیر راجع وی کیات طرف ته چه زمونږ دپاره دا علاجونه فائده مند ثابت نه شو، او په دویم صورت کښې به مطلب دا وی چه مونږ په دې علاج کښې ناکام شو.

په بعض نسخو کښې د اول حدیث نه پس دي: امام ابوداؤد رحمه الله فرمائي چه دې صحابي عمران بن حصین رضي الله عنهما به د دې علاج نه مخکښې تسلیم ملائکه اوریدله. چه کله هغوی دا علاج اوکړو نو دا اوریدل منقطع شو، بیا چه کله هغوی دا علاج ترک کړو نو بیا ئې اوریدل شروع کړل.

[٣٨٦٦]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَوَى سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ مِنْ رَمْيَتِهِ".

ترجمه: د جابر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سعد بن معاذ رضي الله عنه باندې د زخم په بناء باندې داغ لګولو.

حدیث عمران رضي الله عنه اخرجه الترمذی وابن ماجه، وحدیث جابر رضي الله عنه اخرجه مسلم وابن ماجه قاله المنذری.

بَابٌ فِي السَّعُوطِ

په پوزه کښې د دوائي اچولو بیان

سعوط په فتح د سین سره او هم دغه شان لدود په فتح د لام سره او هم دغه شان وجور په فتح د واؤ سره د علاجونو نومونه دي، سعوط په پوزه کښې دوائي اچول (په پوزه کښې د دوایئ اچولو طریقه هم شارحینو لیکلې ده (٢))، او لدود د خولې په یو طرف کښې دوائي اچول او وجور په حلق کښې اچول.

[٣٨٦٧]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعَطَ".

ترجمه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په پوزه کښې دوائي اچولې وه.

د لدود ذکر دلته د ابوداؤد په روایت کښې نشته، د صحاح په نورو کتابونو (بخاري او ترمذي) وغیره کښې شته.

---

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٦٩٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/السلام ٢٦ (٢٢٠٨)، سنن ابن ماجه/الطب ٢٤ (٣٤٩٤)، مسند احمد (٣٦٣/٣) (صحيح)

[2]) ففي هامش الكوكب عن الحافظ: بان يستلقي الرجل علي ظهره ويجعل بين كتفيه ما يرفعهما لينحدر رأسه ويقطر في انفه ماء او دهن فيه دواء مفرد او مركب ليتمكن بذلك من الوصول الي دماغه لاستخراج ما فيه من الداء بالعطاس اهـ)

[3]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٧٢٣)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/السلام ٢٦ (١٢٠٢)، سنن الترمذي/الطب ٩ (٢٠٤٧) (صحيح)

قوله: ﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- اسْتَعَطَ ﴾

معلومه شوه چه د رسول اللهﷺ نه سعوط ثابت دي، خپله دا کړې دي.

د رسول اللهﷺ په مرض کښې د لدود واقعه:

او د لدود په باره کښې دا راځي د ترمذی په روایت کښې دی:

﴿إن خير ما تداويتم به السعوط واللدود والحجامة والمشي فلما اشتكى رسول الله صلى الله عليه و سلم لده أصحابه فلما فرغوا قال لدوهم قال فلدوا كلهم غير العباس ﷺ﴾ یعنی د رسول اللهﷺ د کور خلقو هغوی سره لدود اوکړو حال دا چه رسول اللهﷺ د دې نه منع فرمائیلې وه خو د کور خلقو په دې سوچ چه مریض خو دوائی ضرور ناخوښه ګڼړی داسې څکه اوکړل... ﴿ففی حديث عائشة رضی الله تعالی عنها عند الشخين لَدَدْنَا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي مَرَضِهِ فَأَشَارَ أَنْ لاَ تَلُدُّونِي. فَقُلْنَا كَرَاهِيَةُ الْمَرِيضِ لِلدَّوَاءِ. الحديث﴾ او د طبرانی په یو روایت کښې دی ﴿ انهم اذا بوا قسطا... ای بزيت فلدوه به ﴾ یعنی په قسط هندی لره ګرمولو سره ئې د زیتونو په تیلو کښې خوټکولو سره په هغې باندې د هغوی لدود اوکړو یعنی د حضورﷺ په حلق کښې ئې واچولو، په بعض روایاتو کښې دی چه خلقو دا ګڼړله چه رسول اللهﷺ ته د ذات الجنب تکلیف دې هم په دې وجه هغوی دا علاج کړې وو. بیا روستو دا اوشوه چه رسول اللهﷺ د سزا په طور په ټولو باندې لدود اوکړو بغیر د عباس ﷺ نه چه د هغوی په باره کښې رسول اللهﷺ داسې اوفرمائیل چه ﴿ انه لم يشهدكم ﴾ چه هغوی د لدود په وخت موجود نه وو. (اګر چه د لدود مشوره ورکونکې هم هغوی وو)

(اشکال): دلته دا سوال واردیږی چه د رسول اللهﷺ عادت مبارک د خپل ځان دپاره د انتقام اخستلو نه وو...... بیا رسول اللهﷺ انتقام ولې واخستلو؟

(جواب): د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه د رسول اللهﷺ د امر د مخالفت د وجې نه، او د رسول اللهﷺ امر د وحی په ذریعه وو، ګویا هغوی د وحی مخالفت اوکړو.

(په جواب باندې اشکال): بیا دا سوال واردیږی چه اهل بیت خو دا خطاء اجتهادی کړې وه او په هغې باندې سزا نه ملاویږی،

(جواب): د دې جواب حضرت ګنګوهی دا ورکړې دې چه د هغوی دپاره دا اجتهاد جائز کله وو، د نص د کیدو په وخت کښې اجتهاد جائز نه دې، هم دغه شان د رسول اللهﷺ په موجودګئ کښې هم اجتهاد جائز نه دې، دا سوال او جواب د حضرت سهارنپوری او د حضرت ګنګوهی ترمینځه د خط او کتابت په ذریعه شوې وو کوم چه په تذکرة الخليل کښې نقل کړې شوې دی. په کوکب دری کښې هم تقریبا هم دغه شان راغلې دی.

د ترمذی په پورته ذکر شوې روایت کښې د مشئ ذکر هم راغلې دې یعنی دواء مسهل سنامکی وغیره.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم اتم منه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي النُّشْرَةِ
د شيطانانو په نوم باندې د يو قسم دم کولو بيان

[۳۸۶۸]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا عَقِيلُ بْنُ مَعْقِلٍ، قَالَ: سَمِعْتُ وَهْبَ بْنَ مُنَبِّهٍ يُحَدِّثُ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النُّشْرَةِ؟ فَقَالَ: هُوَ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ".

دجابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دنبي کريم ﷺ نه دشيطانانوپه نوم باندې ددم کولو په باره کښې تپوس وکړې شو، نبي عليه السلام اوفرمائيل دا يوشيطاني عمل دې۔

تشريح: په حديث الباب کښې دی چه د رسول الله ﷺ نه د نشره په باره کښې تپوس اوشو (فَقَالَ « هُوَ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ ») په بذل کښې دی چه دا د رقيه يو قسم دې او دا هم وئيلې شوې دی چه سحر دې. رسول الله ﷺ دې ته د شيطان عمل اوفرمائيلو کيدې شي چه دا په نومونو د شيطانانو باندې مشتمل وی چه د هغې په وجه ئې منع فرمائيلې وی.

بَابٌ فِي التِّرْيَاقِ
بابه د ترياق د استعمال بيان

د زهرو دوائی ته ترياق وائی، بعض ترياقونه مرکب وی چه په هغې کښې لحوم افاعی يعنی د مار د بدن درمياني حصه د سر او ويښې نه علاوه بيلولو سره اچولې شي، نور څيزونه به هم وی، دا حرام دې د نجس کيدو د وجې نه، او که ترياق د پاکو څيزونو نه جوړ کړې شی نو د هغې په څکلو کښې هيڅ باک نشته (کذا فی المذل) وفيه وممن اباح فيما فيه شئ من لحوم الافاعی مالک لانه يری اباحة لحوم الحياة ويقتضيه مذهب الشافعی لاباحة التداوی ببعض المحرمات، قاله ابن رسلان... (بذل)

[۳۸۶۹]([2])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا شُرَحْبِيلُ بْنُ يَزِيدَ الْمُعَافِرِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ رَافِعٍ التَّنُوخِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَا أُبَالِي مَا أَتَيْتُ إِنْ أَنَا شَرِبْتُ تِرْيَاقًا أَوْ تَعَلَّقْتُ تَمِيمَةً أَوْ قُلْتُ الشِّعْرَ مِنْ قِبَلِ نَفْسِي"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً وَقَدْ رَخَّصَ فِيهِ قَوْمٌ يَعْنِي التِّرْيَاقَ.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه دنبي عليه السلام نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل ئې. زه هيڅ قسم خوف اواندېښنه نه کوم که چرې زه ترياق اوخورم ياتعويذ اويزان کرم ياد خواهش نفساني اشعار ووايم. امام ابوداؤد فرمائي چه داد نبي عليه السلام خصوصيت وو اويوقوم د ترياق خوړلو اجازت ورکړې دې.

(سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « مَا أُبَالِى مَا أَتَيْتُ إِنْ أَنَا شَرِبْتُ تِرْيَاقًا أَوْ تَعَلَّقْتُ تَمِيمَةً أَوْ قُلْتُ الشِّعْرَ مِنْ قِبَلِ نَفْسِى »)

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۱۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۴/۳) (صحيح)
[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۸۸۷۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۶۷/۲، ۲۲۳) (ضعيف)

شرح الحديث :

﴿ ما ابالي ما اتيت ﴾ جزاء مقدم ده وړاندې د دې شرط راروان دې، رسول اللهﷺ فرمائي چه که زه ترياق استعمال کړم يا تعليق تميمه يا د خپل طرف نه شعر اوائم نو د دې مطلب به دا وی چه زه څه غوارم هغه کوم او پرواه نه کوم، يعنی د جائز کيدو او د ناجائز کيدو.

حاصل دا چه دا کار زما دپاره قطعا جائز نه دې.

قوله:﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَا كَانَ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- خَاصَّةً ﴾

مصنفؒ فرمائي چه د ترياق حراميدل خاص د رسول اللهﷺ دپاره دی ګينې بعض علماء کرامو ترياق ته جائز وئيلې دی، او دا هم احتمال دې چه د مصنف په کلام کښې په هذا سره اشاره د ﴿ او قلت الشعر من قبل نفسی ﴾ طرف ته وی او ﴿ وقد رخص قوم ﴾ دا جمله د ماقبل سره متعلق نه وی، بلکه مستقل د ترياق سره متعلق وی.

په دې حديث کښې د تعليق تميمه هم ذکر دې، د تعليق التمائم وړاندې مستقل باب راروان دې.

بَابٌ فِي الْأَدْوِيَةِ الْمَكْرُوهَةِ

باب: دهغه دوايانو بيان کوم چه استعمالول مکروه دی

[٣٨٧٤](¹)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبَادَةَ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِي عِمْرَانَ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ وَجَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً فَتَدَاوَوْا وَلَا تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ".

دوائل بن حجر ؓ نه روايت دې فرمائي چه طارق بن سويد يا سويد بن طارق دنبی ﷺ نه دشرابو څکلو متعلق تپوس وکړونو نبی ﷺ ده لره منع کړو بيا ئې تپوس وکړو نوبيائې منع کړو نوعرض ئې وکړوچه زما غرض دعلاج دپاره څکل دې نبی ﷺ ورته وفرمائيل شراب دوا نه ده دا پخپله يوه بيماري ده.

﴿ قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إِنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ وَجَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً فَتَدَاوَوْا وَلاَ تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ ﴾

د دې حديث مضمون د کتاب الطب په شروع کښې تير شوې دې چه بيماری هم د الله پاک پيدا کړې ده او د هغې دپاره دوائی هم الله پاک پيدا کړې ده او بيا وړاندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه دوائی کوئ خو په حرام او نجس څيز باندې نه.

د دې حديث د سياق نه د علاج او تداوی ترغيب معلوميږی چه دوائی خو د الله پاک يو نعمت دې او د دې نه فائده اوچتول پکاردی، او څوک چه وائی دوائی د توکل خلاف ده هغه به د لويو خلقو په حق کښې وی کوم چه د رضا او تسليم اعلی مقام ته رسيدلې وی.

---

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٠٠٧) (ضعيف)

[٣٨٧٠]()حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّوَاءِ الْخَبِيثِ".

دابو الدرداء رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه الله تعالى بيماري اوعلاج دواړه نازل كړي دي اودهر مرض دپاره ئې علاج پيداكړي دي دمرضونو دپاره علاجونه كوئ خوپه حرام څيز باندې علاج مه كوئ.

[٣٨٧١]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُثْمَانَ، "أَنَّ طَبِيبًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ضِفْدَعٍ يَجْعَلُهَا فِي دَوَاءٍ، فَنَهَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِهَا".

دعبدالرحمن بن عثمان نه روايت دې فرمائي چه يوطبيب دنبي كريم ﷺ نه تپوس وكړودچندښ په باره كښې چه په دوا كښې واچولې شي نونبي عليه السلام ددې دوژلو نه منع اوفرمائيله.

قوله:﴿ أَنَّ طَبِيبًا سَأَلَ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ ضِفْدَعٍ يَجْعَلُهَا فِي دَوَاءٍ فَنَهَاهُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ قَتْلِهَا ﴾

هر كله چه د (چيندخ) قتل منع شو نو تداوى بالضفدع هم منع شوه ځكه چه تداوى د هغه په قتل باندې موقوف ده يا خو په دې وجه منع دې چه هغه نجس دې يا كم از كم مستقذر (يعنى كرك ژن څيز) كذافى البذل عن فتح الودود...

د دې حديث نه شوافعو استدلال كړې دې چه په ميتة البحر كښې صرف ضفدع حرام دې، لكه دا اختلاف مخكښې په كتاب الطهارة كښې تير شوې دې. والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري.

[٣٨٧٢]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَسَا سُمًّا فَسُمُّهُ فِي يَدِهِ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا".

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام دحرامې اونجسې دوا استعمال نه منع فرمائيلي ده.

قوله:﴿ قال رسول الله صلى الله عليه وسلم مَنْ حَسَا سُمًّا فَسُمُّهُ فِي يَدِهِ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا ﴾

[1]): سنن الترمذي/الطب ٧ (٢٠٤٥)، سنن ابن ماجه/الطب ١١ (٣٤٥٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٣٤٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٠٥، ٤٤٦، ٤٧٨) (صحيح)

[2]): سنن النسائي/الصيد ٣٦ (٤٣٦٠)، (تحفة الأشراف: ٩٧٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٥٣، ٤٩٩)، سنن الدارمي/الأضاحي ٢٦ (٢٠٤١)، ويأتي هذا الحديث في الأدب (٥٢٦٩) (صحيح)

[3]): سنن الترمذي/الطب ٧ (١٠٤٤)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٢٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الطب ٥٦ (٥٧٧٨)، صحيح مسلم/الإيمان ٤٧ (١٧٥)، سنن النسائي/الجنائز ٦٨ (١٩٦٧)، سنن ابن ماجه/الطب ١١ (٣٤٦٠)، مسند احمد (٢/٢٥٤، ٤٧٨، ٤٨٨)، سنن الدارمي/الديات ١٠ (٢٤٠٧) (صحيح)

شرح الحدیث :

یعنی کوم سړي چه په دنیا کښې د زهرو په خوړلو سره مړ شو نو په آخرت کښې به د هغه سره دا معامله کیږی چه هغه زهر به د هغه په لاس کښې وی کوم چه به هغه هم هغه شان څکی په جهنم کښې همیشه همیشه دپاره، که حدیث په خلود په ظاهرباندې کیخودلې شی نو بیا خودا حدیث په مستحل باندې محمول دې اویا خود خلودنه مراد مکث طویل دې.

او یو جواب هغه دې کوم چه امام ترمذی رحمه الله فرمائیلې دې : هغوی دا حدیث په مختلفو طرقو سره ذکر کړې دې چه په هغې کښې بعض طرق داسې هم دی چه په هغې کښې د ﴿ خالدا مخلدا ﴾ لفظ نشته بلکه صرف دا دې ﴿ عذب فی نار جهنم ﴾ امام ترمذی رحمه الله هم دې طریق ته ترجیح ورکړې ده او فرمائی : ﴿ وهذا أصح لأن الروايات إنما تجيء بأن أهل التوحيد يعذبون في النار ثم يخرجون منها ولا يذكر أنهم يخلدون فيها الخ ﴾

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه اتم منه، قاله المنذری.....

[۳۸۷۳]()[1] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، ذَكَرَ طَارِقُ بْنُ سُوَيْدٍ أَوْ سُوَيْدُ بْنُ طَارِقٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَمْرِ؟ فَنَهَاهُ، ثُمَّ سَأَلَهُ؟ فَنَهَاهُ، فَقَالَ لَهُ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّهَا دَوَاءٌ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا وَلَكِنَّهَا دَاءٌ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي دي: څوک چه زهر اوڅکي نودقیامت په ورځ به دغه زهر ورسره وي او دجهنم په اورکښې به ناست وي اودابه څکي او په دې کښې به همیشه وی.

قوله: ﴿عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ عَنْ أَبِيهِ ذَكَرَ طَارِقَ بْنَ سُوَيْدٍ أَوْ سُوَيْدَ بْنَ طَارِقٍ ﴾

شرح السند :

دا حدیث علقمه د خپل پلار وائل بن حجر رضی الله عنه نه روایت کوی او وائل ئې د طارق به سوید صحابی نه، شعبه وائی چه زما استاد سماک د ﴿ عن ابیه ﴾ نه پس طارق بن سوید هم ذکر کړې دې. لهذا د دې حدیث راوی طارق بن سوید شو. (فهذا رواية الصحابی عن الصحابی) چرته چه راوی ته د استاد الفاظ په ښه طریقه یاد نه وی نو هلته هم دغه شان تعبیر کولې شی، دلته شعبه ته خو دا یاد وو چه د وائل نه پس په سند کښې طارق دې خو دا ورته یاد نه دی چه د هغوی نه روایت په صیغه د تحدیث دې یا اخبار یا عنعنه.... هم په دې وجه ئې دغه شان اووې، بله دا چه دلته یو راوی ته دا شک هم دې چه صحیح نوم طارق بن سوید دې یا ددې عکس سوید بن طارق، خو صحیح طارق بن سوید دې لکه چه د کتب الرجال نه معلومه ده. خو په کتبو د حدیث کښې دا سند مختلف دې د ابن ماجه په سند کښې ﴿ عن علقمه بن وائل عن طارق بن سوید ﴾ دې. په مینځ کښې ئې د ﴿ عن ابیه ﴾ واسطه نشته، خو په مسلم او ترمذی کښې د ابوداؤد په شان د ﴿ عن ابیه ﴾ واسطه ذکر کړې شوې ده.

[1]: سنن ابن ماجه/الطب ۲۷ (۳۵۰۰)، (تحفة الأشراف: ۴۹۸۰)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الأشربة ۳ (۱۹۸۴)، سنن الترمذي/الطب ۸ (۲۰۴۶)، مسند احمد (۳۱۱/۴، ۲۹۳/۵)، سنن الدارمي/الأشربة ۶ (۲۱۴۰) (صحيح)

د حدیث مضمون دا دې چه سوید د رسول اللهﷺ نه د خمر د جوړولو په باره کښې اجازت طلب کړو، رسول اللهﷺ ترې نه منع کړو، هغوی بیا سوال اوکړو چه دا خو زه د دوایئ دپاره جوړول غواړم، د مسلم په روایت کښې هم داسې دی.... ﴿ انما اصنعها للدواء ﴾ رسول اللهﷺ اوفرمائیل هغه دوائی نه ده بلکه بیماری ده.

بعض خلق شراب دوائی ګڼړی او ذریعه د شفاء..... رسول اللهﷺ د هغې نفی اوکړه، پس په یو روایت کښې دی ﴿ ان الله لم یجعل شفاء امتی فیما حرم علیها ﴾ والحدیث اخرجه ابن ماجه عن طارق بن سوید من غیرشك.....

واخرجه مسلم والترمذی من حدیث وائل بن حجر، قاله المنذری.

بَاب فِي تَمْرَةِ الْعَجْوَةِ

باب د عجوه کجورو د فضیلت بیان

[٣٨٧٥]()حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ سَعْدٍ، قَالَ: "مَرِضْتُ مَرَضًا أَتَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي فَوَضَعَ يَدَهُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَهَا عَلَى فُؤَادِي، فَقَالَ: إِنَّكَ رَجُلٌ مَفْئُودٌ، ائْتِ الْحَارِثَ بْنَ كَلَدَةَ أَخَا ثَقِيفٍ فَإِنَّهُ رَجُلٌ يَتَطَبَّبُ، فَلْيَأْخُذْ سَبْعَ تَمَرَاتٍ مِنْ عَجْوَةِ الْمَدِينَةِ، فَلْيَجَأْهُنَّ بِنَوَاهُنَّ، ثُمَّ لِيَلُدَّكَ بِهِنَّ".

دسعد رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه بیمارشوم اونبی علیه السلام زما بیمار پرسئ وخپل دواړه مبارك لاسونه ئې زما په تشو کیخودل تردې چه دهغه د لاسونو یخوالې زما زړه ته ورسید و اوبیا ئې اوفرمائیل ته د زړه مریض ئې، ته دقبیله ثقیب والا حارث بن کلده ته لاړ شه هغه ددې علاج کوي دمدینې دعجوه کجورونه دې اوه کجورې واخلي اوهغه دې دزړوسره وتکوي او ددینه دې مالده جوړه کړي اوبیادې ستا په خوله کښې واچوي.

﴿ عَنْ سَعْدٍ قَالَ مَرِضْتُ مَرَضًا أَتَانِي رَسُولُ اللَّهِ –صلی الله علیه وسلم الخ ﴾

شرح الحدیث:

سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه فرمائی چه زه یو کرت بیمار شوم، رسول اللهﷺ زما د بیمارپرسئ دپاره تشریف راوړلو، هغوی خپل لاس مبارک زما په سینه باندې کیخودلو چه د هغې یخ والې ما په خپل زړه کښې محسوس کړو، رسول اللهﷺ اوفرمائیل: ﴿ انک رجل مفوؤد ﴾ ستا په فواد یعنی زړه کښې تکلیف دې... ﴿ ائْتِ الْحَارِثَ بْنَ كَلَدَةَ أَخَا ثَقِيفٍ فَإِنَّهُ رَجُلٌ يَتَطَبَّبُ فَلْيَأْخُذْ سَبْعَ تَمَرَاتٍ مِنْ عَجْوَةِ الْمَدِينَةِ فَلْيَجَأْهُنَّ بِنَوَاهُنَّ ثُمَّ لِيَلُدَّكَ بِهِنَّ ﴾ رسول اللهﷺ مشوره ورکړه حارث بن کلده ثقفی ته د ورتلو، او وې فرمائیل چه هغه طبیب دې علاج کوی، بیا د رسول اللهﷺ په ذهن کښې خپله د هغې علاج راغلو او هغوی حضورﷺ په خپله دوائی تجویز کړه چه حارث بن کلده له پکار دی چه د مدینې منورې اووه عجوه کهجورې واخلی او بیا د هډوکو سره هغه میده کړی ([2]) یعنی دهډوکو سره به ئې میده کړی او بیا به ورسره

---

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٩١٦) (ضعیف)

[2]) د حدیث لفظ ﴿ فلجاهن ﴾ دې چه د هغې معنی د میده کولو ده پس په بذل کښې دی......... له

اوبه یو ځائ کړي چه نرمې شي نو پکار دی چه په خوله کښې ئې ورته اوڅسوی.
ددې حدیث هم دا معنی په ډېرو شروحاتو کښې لیکلې ده چه عجوه کهجورې سره د هډوکو میده کړي، اوبه ورسره یو ځائ کړي اوپه حلق کښې به ئې ورته اوڅسوی، د څکلو په ځائ د لدود مشوره یا خو حضور ﷺ ځکه ورکړه چه د مریض حالت دڅکلو نه وو، د کمزورۍ یا بل څه په وجه، او یا داچه ددې دوائی د استعمال طریقه هم دغه ده.

[۳۸۷۶] (¹)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ هَاشِمٍ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ تَصَبَّحَ سَبْعَ تَمَرَاتٍ عَجْوَةٍ لَمْ يَضُرَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ سَمٌّ وَلَا سِحْرٌ".

ترجمه: دسعد بن ابی وقاص نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چه هرسحر دمدینې اوه عجوه کجورې خورې نودغه کس ته په دې ورځ باندې جادو اوزهر نقصان نشي رسولې.

قوله:﴿ مَنْ تَصَبَّحَ سَبْعَ تَمَرَاتِ عَجْوَةٍ لَمْ يَضُرَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ سَمٌّ وَلاَ سِحْرٌ ﴾
کوم سړې چه سحر په نهره اووۀ دانې عجوه کهجورې اوخوری نو رسول الله ﷺ فرمائی چه دې سړی ته به په هغه ورځ زهر یا جادو نقصان او نه رسوی. یا خو د عجوه د خاصیت د وجې نه، یا د رسول الله ﷺ د برکت د وجې نه، وقال الخطابی ﴿ ذلک ببرکة دعائه لا بخاصیته فی التمر ﴾ (بذل) والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

باب فِي الْعِلاَقِ

باب د علاق یعنی د ژبۍ (جَبئ) متعلق بیان

عذره یو بیماری ده (په پښتو کښې ورته ژبئ وائی خلق وائی په ماشوم ژبئ راغلې ده) چه د ورو ماشومانو په تالو کښې درد پیداشي، د دې حل ا وعلاج به د هغې زمانې زنانو د علاق په ذریعه کولو، چه د هغې معنی د لاندې کولو ده چه ګوته به ئې د ماشوم په خوله کښې داخله کړه او دا ځائې به ئې اوزورلو هغه په حلق کښې د غوښې یو ټکړه شان زورنده وی څه ته چه د تالو جبئ وائی (عربئ کښې ورته لهاة وائی) ممکنه ده چه دا تکلیف هم په هغې کښې وی، د دې زورلو نام علاق دې څه ته چه اعلاق او غمز او دغر سره هم تعبیر کولې شی، او دا ټول هر څه په معنی واحده دی، او د کومې بیمارۍ چه دا علاج دې یعنی ورم د هغې نه په حدیث کښې په عذره سره تعبیر کړې شوې دې، په داسې کولو سره ماشوم

← ..... ﴿ اي يرضهن ﴾ او په عون المعبود کښې دی: قال في النهايه فليجاهن اي فليدقهن.. او په کتاب النکاح کښې تیر شوی دی چه ﴿ فان الصوم له وجاء ﴾ د دې معنې رض الخصیتین ده دغه شان دلته هم مراد ده چه دا هډوکی دې میده کړې شی چه د هغې لدود (ختبه) تیا رکړې شی او په لاس باندې مرل نه دی مراد د دې دپاره بل لفظ راغې ﴿ مرس ﴾ لکه چه د نبیذ په بیان کښې تیر شوې دې. کُنْتُ آخُذُ قَبْضَةً مِن تَمْرٍ وَقَبْضَةً مِنْ زَبِيبٍ فَأُلْقِيهِ فِي إِنَاءٍ فَأَمْرُسُهُ)

[1]: صحيح البخاري/الأطعمة ٤٣ (٥٤٤٥)، الطب ٥٢ (٥٧٩٩)، صحيح مسلم/الأشربة ٢٧ (٢٤٠٦)، (تحفة الأشراف: ٣٨٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨١/١) (صحيح)

ته تکلیف وی هغه ژاړی هم په دي وجه په حدیث کښي ددي علاج نه منع کړي شوي ده.

[۳۸۷۷](1)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَحَامِدُ بْنُ يَحْيَى، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ، قَالَتْ: "دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِابْنٍ لِي قَدْ أَعْلَقْتُ عَلَيْهِ مِنَ الْعُذْرَةِ، فَقَالَ: عَلَامَ تَدْغَرْنَ أَوْلَادَكُنَّ بِهَذَا الْعِلَاقِ، عَلَيْكُنَّ بِهَذَا الْعُودِ الْهِنْدِيِّ، فَإِنَّ فِيهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ، مِنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ، يُسْعَطُ مِنَ الْعُذْرَةِ، وَيُلَدُّ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: يَعْنِي بِالْعُودِ الْقُسْطَ.

دام قیس بنت محصن نه روایت دي فرمائی چه ماخپل بچي دنبی ﷺ په خدمت کښي حاضر کړو اودهغه حلق مي په ګوته دباو کړي وود غدره (دادماشومانویوه بیماري ده چه اکثر دګرمی په موسم کښي مرئ درد کوي او پړسيږي) په وجه باندي، نبی ﷺ اوفرمائیل ته په دي بیمارئ کښي دخپل ماشوم حلق ولي دباو کوي؟ بلکه ته دخپل ماشوم دپاره عود هندي پیداکړه په دي کښي داره مرضونودپاره شفاده اوذات الجنب (یومرض دي) هم ددي په وجه باندي ختميږي، په غدره مرض کښي په پوزه کښي اچولي شي او په ذات الجنب مرض کښي به ددینه لدود (کپه) جوړ کړي شي او دخوراك په ذريعه دي استعمال کړي شي. امام ابوداؤد فرمائی دعود نه مراد قسط دي.

تشریح الحدیث:

سبحان الله! اوګورئ رسول الله ﷺ د ماشومانو په حق کښي دهغوی د میاندو نه هم زیات شفیق ثابت شو.... صلی الله علیه وسلم شرف وکرم........ او هغه زنانو ته ئي خطاب کولو سره اوفرمائیل ﴿ عَلَامَ تَدْغَرْنَ أَوْلَادَكُنَّ بِهَذَا الْعِلَاقِ عَلَيْكُنَّ بِهَذَا الْعُودِ الْهِنْدِيِّ ﴾ یعنی د خپل اولاد سره دا عمل یعنی دغر او علاق ولي کوئ، عود هندی لازم اونیسئ کوم ته چه قسط هندی وائی، ځکه چه په دي کښي د اووه سوو بیمارو نه شفاء ده، خو طریقه د استعمال ئي بیله بیله ده، که عذره بیماری وی نو د هغي طریقه علاج او استعمال سعوط دي، او که د ذات الجنب بیماری وی نو د هغي طریقه استعمال لدود دي. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم وابن ماجه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْأَمْرِ بِالْكُحْلِ

د رانجو د استعمال بیان

[۳۸۷۸](2)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ، فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ، وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ، وَإِنَّ خَيْرَ أَكْحَالِكُمُ الْإِثْمِدُ يَجْلُو الْبَصَرَ، وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دي فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی تاسولره ښکار دي چه سپین لباس استعمال کړئ ځکه چه دا ستاسوپه لباسونو کښي

(1): صحيح البخاري/الطب ۲۱ (۵۷۱۳)، صحيح مسلم/السلام ۲۸ (۲۲۱۴)، سنن ابن ماجه/الطب ۱۷ (۳۴۶۲)، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۴۳) (صحيح)

(2): سنن الترمذي/الجنائز ۱۸ (۹۹۴)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۱۲ (۱۴۷۲)، الطب ۲۵ (۳۴۹۷)، اللباس ۵ (۳۵۶۶)، (تحفة الأشراف: ۵۵۳۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۳۱، ۲۴۷، ۲۷۴، ۳۲۸، ۳۵۵، ۳۶۳) (صحيح)

بهترین لباس دي اوتاسوپه دي سپین لباس کښې خپل مړي هم دفن کوئ، او ستاسو دپاره اثمد بهترین رانجه دي کوم چه دسترګو نظر تیزوي اود وروزو او بڼړو ویختهٔ رازرغونوي.
﴿إِنَّ خَيْرَ أَكْحَالِكُمُ الإِثْمِدُ يَجْلُو الْبَصَرَ، وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ﴾ غوره رانجهٔ اثمد دی یعنی د اصفهان رانجهٔ... (هم دا رانجهٔ کوم چه زمونږ په علاقو کښې ملاویږی) کوم چه سترګې پاکوی او بانړهٔ غټوی. والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجه مختصراليس فيه ذكر الكحل، قاله المنذری.

بَاب مَا جَآءَ فِي الْعَيْنِ

باب: دبد نظر بیان

[٣٨٧٩] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، قَالَ: هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْعَيْنُ حَقٌّ".

دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بدنظر لګیدل حق دي.

شرح الحديث:

﴿ العين حق ﴾ یعنی د نظر لګیدل حق دی، او دا خلقو کښې مشهوره ده، دا حق خبره ده غلطه نه ده، امام نووی رحمه الله فرمائی چه یو جماعت د عین انکار کړې دي او د دې نه چه د هغې هیڅ اثر نشته او په هغې سره هیڅ نه کیږی. خو دا قول فاسد دې ځکه چه اول خو عقلا دا خبره ممکن ده، دویم په دې وجه چه مخبر صادق ﷺ د دې د وقوع خبر ورکړې دې چه د هغې تکذیب جائز نه دې، وړاندې لیکی چه د عین دوه قسمونه دی عین انسی او عین جنی یعنی انسانی او جناتی....... لکه چه د سهل رضي الله عنه په حدیث کښې به راشی بله دا چه څنګه نظر په کتلو سره لګی او نقصان رسوی هم دغه شان بغیر د کتلو نه په وصف یعنی حال اوریدلو سره هم لګیږی، ﴿ قال الله تعالى وان كادوا ليزلقونك بابصارهم لما سمعوا الذكر ﴾ یعنی من غیر رؤیت....... اوس پاتې شوه ده چه نظر څنګه لګیږی د دې په باره کښې بعض علماء کرامو وئیلې دی چه د عاین د سترګو نه یو قوت سمیه اوچتیږی چه د معین سره لګی چه په هغې سره هغه ته نقصان رسیږی لکه چه بعض قسم ماران وی چه د هغې خاصیت په حدیث کښې راځی ﴿ يلتمسان البصر ويسقطان الحبل ﴾ او مسلک د اهل سنت دا د ې چه دا تاثیر ضرور د سترګو دپاره ذاتی نه دې بلکه جریا علی العادة دې یعنی د الله پاک عادت هم دغه شان جاری دې چه هغه دا د تقابل په وخت ضرور پیدا کوی، یعنی اصل خو په دې کښې دا دې یعنی د عادة الله جاری کیدل، او هغه د بعضو نه نقل دې چه د عاین د سترګو نه د قوت سمیه اوچتیدل او د معین سره د هغې لګیدل دا هم امر ممکن دې. (بذل عن ابن رسلان) یو وجه د دې دا هم په فهم کښې راځی چه عاین د معین څه خوبئ لره د هغه کمال ذاتی اوګنړی په ځائې د صحیح تصور کولو ځکه چه بعض وخت د هغې هغه وصف سلب کړې شی هم دا وجه ده چه د ماشاء الله وئیلو په صورت کښې ضرر نه وی. والله اعلم

(١): صحيح البخاري/الطب ٣٦(٥٧٤٠)، صحيح مسلم/السلام ١٦ (٢١٨٧)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٩٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطب ٣٢(٣٥٠٦)، مسند احمد (٣١٩/٢) (صحيح متواتر)

[٣٨٨٠] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كَانَ يُؤْمَرُ الْعَائِنُ فَيَتَوَضَّأُ ثُمَّ يَغْتَسِلُ مِنْهُ الْمَعِينُ".

د ام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه دنبی ﷺ په زمانه کښې به داسې کسانوته حکم کولې شو دچاچه نظر لګې چه اودس اوکړې بیاچه به په چاباندې ددې نظر لګیدلې وې هغه دې په دې اوبو باندې غسل اوکړې.

د بد نظر علاج :

په حدیث کښې د بد نظر د اثر زائله کولو طریقه هم ښودلې شوې ده پس د ابن ماجه په بل حدیث کښې دی: ﴿ کان یومر العائن فیتوضاء ثم یغتسل من المعین ﴾ د چا چه پرې نظر لګی هغه ته عاین او په چا چه لګی هغه ته معین وائی، او په یو روایت کښې دی (کما مر فی الترمذی ومسلم) ﴿ واذا استغلستم فاغسلوا ﴾ یعنی چه کله د عاین چه د چا نظر لګیدلې دې غساله طلب کړې شی یا غسل طلب کړې شی نو هغه دې دا کار اوکړی. عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائی چه عاین ته به وئیلې شو چه اودس اوکړه (او دا ماء مستعمل په یو لوښی کښې جمع کړه) بیا به د دې اودس په اوبو باندې یعنی په غساله سره به معین غسل کولو. یعنی په داسې کولو باندې به بد نظر ختم شو. په بذل کښې د غسل یو خاص طریقه نقل کړې ده د یوې واقعې نه کومه چه په مسند احمد کښې ده د سهل بن حنیف رضي الله عنه د سفر یوه قصه.... چه هغوی چرته غسل اوکړو او هغوی ډیر زیات حسن والا او ښکلې وو یو سړی چه د هغه نوم عامر بن ربیعه وو د هغوی نظر په هغوی باندې دې وخت کښې پریوتلو ﴿ فقال ما رایت کالیوم ولا جلد مخباة ﴾ الحدیث.....

پوره قصه په بذل کښې ذکر ده، هغوی په عامر بن ربیعه باندې ناراض شو او دا ئې اوفرمائیل چه د هغې حاصل دا دې چه سړی له پکار دی چه کله داسې یو څیز اووینی کوم چه د هغه خوښ شی نو هغه له پکار دی چه دا دعا اولولی ﴿ اللهم بارک علیه ﴾ او هم دغه شان ﴿ ماشاء الله لا قوة الا بالله ﴾ نو بیا به انشاء الله د نظر نقصان نه وی او په دې مفصل روایت کښې د اودس د اندامونو سره سره د لنګ د وینځلو ذکر هم شته چه د هغې نه مراد وئیلې شوې دې چه شرمګاه ده او وئیلې شوې دی چه د لنګ هغه متصل حصه چه په بدن پورې متصل وی. (٢)

حدیث ابی هریرة رضي الله عنه اخرجه البخاری ومسلم من حدیث عبدالله بن عباس رضي الله عنهما عن النبی ﷺ اتم منه، قاله المنذری...

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٩٦٥) (صحيح الإسناد)

(٢) (پورته قصه په مشکوة کښې د شرح السنة په حوالې سره ذکر شوې ده ﴿ وفيه فغسل عامر وجهه ويديه ومرفقيه وركبتيه واطراف رجليه وداخلة ازاره في قدح ثم صب عليه الخ ﴾ (التعليق الصبيح ٤١/٥) ﴿ اختلفوا في داخلة الازار فذهب بعضهم الي المذاكير وبعضهم الي الافخاذ، وقال ابوعبيد اراد به ازاره الذي يلي جسده مما يلي الجانب الايمن فهو الذي ليغسل اهـ مختصرا... او په مظاهر حق کښې دی او په اعضاء د ازار کښې دننه یعنی د پنډۍ ستر او کوناتی اهـ)

بَابٌ فِي الْغَيْلِ

باب: د تی ورکونکي ښځې سره د جماع نه کولو بیان

چه هغې ته غیله هم وائی د دې تفسیر وړاندې راځی ﴿ قَالَ مَالِكٌ الْغَيْلَةُ أَنْ يَمَسَّ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ وَهِيَ تُرْضِعُ ﴾ یعنی د هغه زنانه سره صحبت کول په کومې پورې چه پئ خوړونکې بچې وی، ځکه چه د وطی نه پس که هغه زنانه حامله شوه نو په حمل سره به پئ فاسد شی نو که هم هغه پئ دا زنانه په دې ماشوم باندې ځکی نو دا به د هغه په حق کښې ضرر وی اوکه نه ئې پرې ځکی نو بیا به اوړې وی.

[۳۸۸۱](۱)حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُهَاجِرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ بْنِ السَّكَنِ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ سِرًّا فَإِنَّ الْغَيْلَ يُدْرِكُ الْفَارِسَ فَيُدَعْثِرُهُ عَنْ فَرَسِهِ".

داسماء بنت یزید بن السکن رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه درسول پاک صلی الله علیه وسلم نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې خپل اولاد په پټه مه وژنې ځکه چه جماع کول د رضاع په موده کښې شهسوار داس نه راغورځوي (یعنی په دې سره ماشوم کمزوري کیږي).

﴿ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ بْنِ السَّكَنِ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « لاَ تَقْتُلُوا أَوْلاَدَكُمْ سِرًّا فَإِنَّ الْغَيْلَ يُدْرِكُ الْفَارِسَ فَيُدَعْثِرُهُ عَنْ فَرَسِهِ » ﴾

دا د اسماء بنت یزید رضی الله عنها حدیث دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه خپل اولاد مه هلاکوئ د فعل مخفی په ذریعه، د دې نه مراد هم غیل دې، پس وړاندې فرمائی چه غیل داسې ضرری څیز دې چه هغه په اس باندې سور انسان د خپل اس نه راغورځوی. یعنی په ماشوم کښې دننه د غیل اثر د هغه د غټیدو نه پس هم موندلې شی، د هغې په اثر سره ناڅاپه څۀ خاص کمزوری پیدا شی چه د هغې په وجه باندې هغه ناڅاپه د سورلۍ نه راپریوځی. لکه چه د مرګی مریض چه ناڅاپه بیهوشه کیدو سره راپریوځی.

د دې نه پس چه کوم حدیث راروان دې هغه حدیث د جدامه رضی الله عنها دې ﴿ عَنْ جُدَامَةَ الأَسَدِيَّةِ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ حَتَّى ذُكِّرْتُ أَنَّ الرُّومَ وَفَارِسَ يَفْعَلُونَ ذَلِكَ فَلاَ يَضُرُّ أَوْلاَدَهُمْ » ﴾ د دې مضمون د هغه حدیث اسماء خلاف دې.

[۳۸۸۲](۲)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ نَوْفَلٍ، أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ جُدَامَةَ الْأَسَدِيَّةِ، أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ حَتَّى ذُكِّرْتُ أَنَّ الرُّومَ، وَفَارِسَ يَفْعَلُونَ ذَلِكَ فَلَا يَضُرُّ أَوْلَادَهُمْ"، قَالَ مَالِكٌ: الْغِيلَةُ أَنْ يَمَسَّ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ وَهِيَ تُرْضِعُ.

---

[۱]: سنن ابن ماجه/النكاح ٦١ (٢٠١٢)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد ٤٥٣/٦، ٤٥٧، ٤٥٨) (حسن) (تراجع الألباني ٣٩٧، وصحيح ابن ماجه: ١٦٤٨)

[۲]: صحيح مسلم/النكاح ٢٤ (١٤٤٢)، سنن الترمذي/الطب ٢٧ (٢٠٧٦)، سنن النسائي/النكاح ٥٤ (٣٣٢٨)، سنن ابن ماجه/النكاح ٦ (٢٠١١)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٨٦)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الرضاع ٣ (١٦)، مسند احمد (٣٦١/٦، ٤٣٤)، سنن الدارمي/النكاح ٣٣ (٢٢٦٣) (صحيح)

دجدامه اسدیه رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام نه ئې آوریدلی دی چه فرمائیل ئې زما دا اراده وه چه زه خلق دغلیه نه منع کړم خوبیاراته رایادشول چه دروم اودفارس خلق داسې داسې کوي اوددوی أولاد ته څه نقصان نه رسیږي. امام ابوداؤد فرمائی چه دغلیه معنی درضاع (تي ورکولو په موده کښې جماع کولوته وئیل شي).

څکه چه د دې مضمون دا دې: رسول الله ﷺ فرمائی چه ما اراده کړې وه د غیل د ممانعت خو بیا زما په ذهن کښې دا راغلل چه اهل روم او اهل فارس خو داسې کوی او د هغوی اولاد ته هیڅ ضرر نه رسیږی. (په دې وجه مې د نهی اراده ملتوی کړه)

په حدیث د اسماء او حدیث د جدامه کښې تعارض او د هغې توجیه

دلته دوه احادیث دی یو حدیث د اسماء او بل حدیث د جدامه، په دې دواړو کښې په دوه حیثیتونو سره اختلاف او تعارض دې، اول دا چه حدیث د اسماء نه معلومیږی د غیل مضر کیدل د اولاد دپاره، او د حدیث د جدامه نه معلومیږی د هغې غیر مضر کیدل، دویم په دې حیثیت سره چه په حدیث د اسماء کښې نهی عن الغیل موجود ده، او د حدیث جدامه نه د نهی منتفی کیدل معلومیږی. (یعنی دا چه رسول الله ﷺ د منع صرف اراده فرمائیلې وه چه هغې ته ضرورت رانغلو) او په دواړو کښې تطبیق داسې کړې شوې دې چه حدیث د جدامه مقدم دې، هغه د شروع زمانې دې چه په هغې کښې رسول الله ﷺ عرب مخې ته راوستلو کښې دا سوچ اوکړو چه غیل مضر دې، بیا چه کله هغوی په روم او فارس باندې نظر واچولو نو هغوی دا اندازه اولګوله چه مضر نه دې بیا روستو د الله پاک د طرف نه هغوی خبر کړې شو چه داسې نه ده بلکه دا مضر دې خو په بعض وختونو کښې په اعتبار د مزاجونو او طبیعتونو........ په دې وجه رسول الله ﷺ روستو د دې نه منع اوفرمائیله تنزیها... د دې تقریر په وجه باندې د دې دواړو احادیثو ترمینځه تطبیق پیدا کیږی. (بذل عن ابن رسلان) حدیث اسماء اخرجه ابن ماجه، وحدیث جدامه اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه قاله المنذری.

بَابٌ فِي تَعْلِيقِ التَّمَائِمِ

باب په غاړه کښې د تعویذ اچولو بیان

[۳۸۸۳](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ الْجَزَّارِ، عَنِ ابْنِ أَخِي زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ الرُّقَى وَالتَّمَائِمَ وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ"، قَالَتْ: قُلْتُ: لِمَ تَقُولُ هَذَا، وَاللَّهِ لَقَدْ كَانَتْ عَيْنِي تَقْذِفُ، وَكُنْتُ أَخْتَلِفُ إِلَى فُلَانٍ الْيَهُودِيِّ يَرْقِينِي، فَإِذَا رَقَانِي سَكَنَتْ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ: إِنَّمَا ذَاكَ عَمَلُ الشَّيْطَانِ كَانَ يَنْخُسُهَا بِيَدِهِ فَإِذَا رَقَاهَا كَفَّ عَنْهَا، إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكِ أَنْ تَقُولِي كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ، اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا".

(۱): سنن ابن ماجه/الطب ۳۹ (۳۵۳۰)، (تحفة الأشراف: ۹۶۴۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۸۱/۱) (ضعيف) (الصحيحة: ۲۹۷۲، وتراجع الألباني: ۱۴۲)

دعبدالله بن مسعود نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې (غیر شرعي) دمونه اچول، اوتعویز زوړندول اوپه تار کښې غوټې اچول (بند) جوړول (داسې اکثر په جادوکښې کیږي) شرک دې زینب وائی ما اووئیل ته داسې ولې وائې په الله مې دې قسم وي دډیر درد په وجه زماسترګې وتلې اوزه به فلانی یهودي ته د دم دپاره تلمه کله چه به هغه په ما باندې دم واچولو نودرد به ختم شو عبدالله له ورته اووئیل دا خودشیطان کار رو شیطان به پخپل لاس باندې ستاسترګه ښوګوله نوچه کله به تادم کړه نوده به بیانه ښوګوله اوستاد ئې لارې کولو دپاره داکافي وه لکه څنګه چه به نبی ﷺ فرمائیل : اې دانسانانو پروردګاره مرضونه ختم کړې اوشفانازل کړې اوصرف ته شفا ورکونکې یې ته داسې شفا راکړې چه هیڅ مرض باقی پاتې نشي.

تمائم د تمیمة جمع ده کما قیل ﴿ واذا المنیة انشبت اظفارها :: الفیت کل تمیمة لا تنفع ﴾

شرح الحدیث :

قوله:﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِنَّ الرُّقَى وَالتَّمَائِمَ وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ » ﴾ رقی د رقیة جمع ده.... په فیض الباری کښې لیکلې دی او د هغه ځائې نه په الابواب والتراجم کښې نقل کړې شوې دی چه کومه رقیه د شریعت مطابق وی د هغې په باره کښې وئیلې شی دم کول او کوم چه د شریعت خلاف وی هغې ته وئیلې شی منتر کول.

او تمیمة هغه د کاغذ ټکړې ته وائی چه په هغې باندې څه لیکلې شوې وی او په مرئ کښې اچولې شی څه ته چه زمونږ خلق تعویذ وائی..... او تولة دا یو خاص قسم سحر یا منتر دې په زوجینو کښې د محبت پیدا کولو دپاره، عمل الحب، په حدیث کښې دې ټولو ته شرک وئیلې شوې دې، یعنی د مشرکانو افعال دی، ځکه چه د هغوی په معاشره کښې ددې څیزونو ډیر زور وو، یا دا دې په حقیقت باندې محمول کړې شی کله چه په دې څیزونو کښې د تاثیر اعتقاد اولرلې شی، او یو قول دا دې چه د شرک نه مراد شرک خفی دې او ترک توکل.......

وړاندې په روایت کښې دی چه د حدیث راویه د عبدالله بن مسعود ﷺ زوجه محترمه زینب ﷺ چا چه دا حدیث د هغوی نه روایت کړې دې هغه فرمائی چه کله هغوی ماته دا حدیث واورولو نو ما هغوی ته اووې چه تاسو دا خبره ولې کوئ یعنی دې څیزونو ته ناجائز او شرک ولې وایئ، قسم په الله یو کرت زما سترګه خوږیدله چه د هغې نه به اوبه تللې د تکلیف د وجې نه نو زه به فلانی یهودی ته تلم چا چه به دا سترګه دموله چه کله به زه هغه دم کړم نو سترګو کښې به مې سکون پیدا شو په دې باندې عبدالله بن مسعود ﷺ اوفرمائیل دا ټول د شیطان حرکت وو. شیطان به ستا په سترګو کښې خپلې ګوتې وهلې، بیا چه به کله هغه یهودی ته دم کړې نو (شیطان به ستا د عقیدې د خرابولو دپاره) خپلې ګوتې اودرولې او بیا هغوی اوفرمائیل چه که ته په دې دعاء باندې دم اچوې نو کافی به شی کومه چه د رسول الله ﷺ نه نقل ده :

﴿ اذهب الباس رب الناس، اشف انت الشافی لا شفاء الی شفاؤک لا یغادر سقما ﴾

د رقی او تمائم سره متعلق د روایاتو تجزیه او د هغې تشریح

مصنف رحمه الله یو باب د تمائم او دوه بابونه د رقی قائم کړي دی، دا باب خو د تمائم په باره کښې دې د کوم په حدیث کښې چه تمائم او رقی دواړه ذکر شوې دی، د دې نه روستو باب راروان دې ﴿باب ما جاء فی الرقی﴾ او د هغې نه پس بیا یو بل باب راروان دې ﴿باب کیف الرقی﴾ په ړومبی باب کښې مصنف رحمه الله دواړه قسم روایات ذکر اوفرمائیل د منع هم او د جواز هم، منع خو پورته ذکر شوه او د باب په دویم حدیث کښې دی. ﴿عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا نَرْقِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ تَرَى فِي ذَلِكَ فَقَالَ « اعْرِضُوا عَلَيَّ رُقَاكُمْ لاَ بَأْسَ بِالرُّقَى مَا لَمْ تَكُنْ شِرْكًا » ﴾

یعنی عوف بن مالک اشجعی رضی الله عنه فرمائی چه مونږ خلقو به د جاهلیت په زمانه کښې په کثرت سره منترې لوستلې نو په اسلام کښې د داخلیدو نه پس مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه تاسو د دې منترو (دمونو) په باره کښې څه فتوی راکوئ... (یعنی د جواز او که د عدم جواز؟) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه خپل دمونه په ما باندې پیش کړئ، یعنی پس د کتلو نه به فیصله کولې شی چه کوم جائز دې او کوم ناجائز، او هم هغه وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم د قاعدې په طور دا خبره ارشاد اوفرمائیله چه په دمونو کښې هیڅ باک نشته چه په هغې کښې د شرک څه خبره نه وی، د دې حدیث نه معلومیږی، او علماء کرامو هم لیکلې دی چه دمونه په دوه قسمه دی، د جاهلیت دمونه او اسلامی دمونه، اول قسم ممنوع دې او دویم قسم جائز، په کومو دمونو کښې چه استعانت د شیاطینو په نومونو وغیره یا د ځاروو نوکونه او هډوکی وغیره اچولې شی د تاثیر په عقیده باندې د هغې شرک کیدل ښکاره دی. هم د داسې دمونو په حدیث کښې بدی او ممانعت راغلې دې او په کومو دمونو کښې چه استعانت بالاسماء الحسنی او آیات قرانیه وغیره وی هغه اسلامی دمونه دی د هغې خو په حدیث کښې ترغیب راغلې دې، هم دغه شان عم خارجه او د ابوسعید خدری رضی الله عنه په احادیثو کښې د رقیه تقسیم حق او باطل ته په صراحت سره شوې دې.... ﴿فلعمری لمن اکل بظقیة باطل لقد اکلت برقیة حق﴾ پس دویم باب کوم چه مصنف رحمه الله قائم کړې دې ﴿باب کیف الرقی﴾ د هغې مقصد هم د' دې چه هر کله د تیر باب نه دا خبره معلومه شوه چه دمونه په دوه قسمه وی ممنوع او غیر ممنوع، جائز او ناجائز نو بیا هغه رقی چه کومه جائز ده اختیارول پکار دی هغه څه دی، په دې دویم باب کښې هم د هغې بیان دې چه په هغې کښې مصنف رحمه الله د دې سلسلې اذکار مسنونه او ادعیه ماثوره بیان فرمائیلې دی.

د تعلیق تمائم حیثیت:

هم دغه شان اسماء حسنی او ادعیه ماثوره او هم دغه شان د قرآن کریم آیاتونه چه ماده ده د اسلامی دمونو، په دې کښې هم اصل ذکر او قرأت دې یعنی په ژبې سره وئیل، ادا کول، زوړندول نه، یعنی لیکلو سره په غاړه کښې اچول، قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه تعلیق سنت نه دې، اصل خیز ذکر او قرأت دې. مګر دا چه یو سړې په لوستلو باندې قادر نه وی

يا ماشومانو د هغوی په حق کښې تعليق هم ثابت دې پس په ﴿باب کيفی الرقی﴾ کښې په دريم حديث کښې دی چه د عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما نه روايت دې ﴿أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم- كَانَ يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْفَزَعِ كَلِمَاتٍ « أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ ». وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو يُعَلِّمُهُنَّ مَنْ عَقَلَ مِنْ بَنِيهِ وَمَنْ لَمْ يَعْقِلْ كَتَبَهُ فَأَعْلَقَهُ عَلَيْهِ﴾ يعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ويرې نه د بچ کيدلو دپاره دا دعا تعليم فرمائيله کومه چه پورته ذکر شوه په دې باره کښې به دې صحابی عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما داسې کول چه خپلو مشرانو بچو ته خو به ئې دا دعا يادوله او کوم چه به واړه وو د هغوی په غاړه کښې به ئې اچوله..... په دې سلسله کښې زمونږ مشائخ او اکابر هم دا فرمائی چه اصل کښې خو دا دعا ګانې دی کومې چه په قرآن او حديث کښې راغلې دی، د هغې لوستل اصل دې، د تعويذ وغيره د هغې مخکښې هيڅ حيثيت نشته خو د ضرورت د وجې نه لهذا د دې اذکار او ادعيه ماثوره د لوستلو اهتمام کول پکار دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هر مصيبت نه د بچ کيدلو دپاره، او د هرې موقعې او محل په اعتبار سره مناسب دعاګانې تعليم فرمائيلې دی چه د هغې په اهتمام کولو کښې د انسان خپله فائده ده.

د مولانا تهانوی رحمه الله په ملفوظات کښې دی د تعويذاتو په باره کښې چه کله څوک طلب اوکړی نو زه خو ئې اوليکم خو داسې معلوميږی چه ليکل کوم او قلم رانه روستو روستو کيږی، دا ده د ايمان او اعتقاد د مضبوطوالی انتهاء خو د اعتدال سره...... يعنی ليکی ئې هم په نه ليکلو باندې اصرار هم نه کوی خو دتنه ئې زړه نه منی، اصل څيز دا دې چه اتباع سنت په اعتدال سره وی، تشدد د سنت طريقه نه ده لکه چه بعض خلق په دې تعويذاتو باندې مطلق د کفر اوشرک حکم لګوی..... والله المستعان...

والحديث اخرجه ابن ماجه عن ابن اخت زينب عنها، قاله المنذری.

[٣٨٨٤](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ".

د عمران بن حصين نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم صلی الله علیه وسلم فرمائيلی دی دم اچول نشته مګر د نظر لګيدو په وجه اويا د زهريله څيز د چيچلو په وجه.

قوله: ﴿عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ « لاَ رُقْيَةَ إِلاَّ مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ »﴾

يعنی دم نه شی اچولې مګر د بد نظر نه يا د يو زهريله څناور د چيچلو د وجې نه، مطلب دا دې چه په دې څيزونو کښې ډير موثر په څائې د علاج او دوايئ دم اچول دی.

والحديث اخرجه الترمذی، قاله المنذری.

....

(١): سنن الترمذي/الطب ١٥ (٢٠٥٧)، (تحفة الأشراف: ١٠٨٣٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٣٦، ٤٣٨، ٤٤٦)، صحيح البخاري/الطب ١٧ (٥٧٠٥)، موقوفًا (صحيح)

بَابُ مَا جَاءَ فِي الرُّقَى

بابـ د دم چف کولو بيان

[۳۸۸۵]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَابْنُ السَّرْحِ، قَالَ أَحْمَدُ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، وَقَالَ ابْنُ السَّرْحِ: أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مُحَمَّدٍ، وَقَالَ ابْنُ صَالِحٍ، مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ بْنِ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ أَحْمَدُ: وَهُوَ مَرِيضٌ، فَقَالَ: اكْشِفِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ ثُمَّ أَخَذَ تُرَابًا مِنْ بَطْحَانَ فَجَعَلَهُ فِي قَدَحٍ، ثُمَّ نَفَثَ عَلَيْهِ بِمَاءٍ وَصَبَّهُ عَلَيْهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ ابْنُ السَّرْحِ يُوسُفُ بْنُ مُحَمَّدٍ: وَهُوَ الصَّوَابُ.

یوسف بن محمد دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه نبی کریم ﷺ دثابت بن قیس خواته تشریف یورو، امام احمد وئیلی دی کله چه هغه مریض وو، نبی ﷺ اوفرمائیل: اې دټولو انسانانو پرورش کونکیه دامرض دثابت بن قیس نه لرې کړې، اوبیائې دبطحان مقام نه خاوره راواخستله په یولوښي کښې ئې واچوله اوبیائې پرې اوبه وربوکړلې اوبیائې هغه اوبه په ثابت بن قیس باندې وشیندلې. امام ابوداؤد فرمائی چه ابن سرح یوسف بن محمد وئیلی دی اوهمدا صحیح قول دې.

قوله: ﴿عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ الخ﴾

یعنی رسول الله ﷺ ثابت بن قیس رضي الله عنه ته تشریف یوړو چه کله هغه مریض وو نو رسول الله ﷺ دا دعا اوفرمائیله ﴿اكْشِفِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ عَنْ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بن شماس﴾ د دې نه پس په دې حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ د بطحان د میدان نه لږه شان خاوره واخستله چه هغه ئې په یو پیاله کښې واچوله، او بیا رسول الله ﷺ په هغه خاوره کښې اوبه اچولو سره څه دم واچولو ([2]) او د دې نه پس ئې دا اوبه او خاوره په مریض باندې چړکاؤ کړه.

والحديث اخرجه النسائي مسندا ومرسلا، قاله المنذري.

د دې نه پس هم هغه د عوف بن مالک الشجعی رضي الله عنه حدیث دې ﴿اعرضوا على رقاكم﴾ د کوم حواله چه مخکښې تیره شوه ده. اخرجه مسلم قاله المنذری.

[۳۸۸۶]([3]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مُعَاوِيَةُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كُنَّا نَرْقِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَقُلْنَا: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ تَرَى فِي ذَلِكَ؟ فَقَالَ: اعْرِضُوا عَلَيَّ رُقَاكُمْ لَا بَأْسَ بِالرُّقَى مَا لَمْ تَكُنْ شِرْكًا".

دعوف بن مالك رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه مونږ به دجاهلیت په زمانه کښې دمونه اچول مونږ اووئیل اې دالله رسوله ددې په باره کښې ستاڅه خیال دې نبی ﷺ اوفرمائیل خپل دمونه ماته پیش کړی په دم اچولو کښې څه باك نشته ترڅوچه شرك په کښې نه وي.

---

[1]): سنن النسائي/اليوم والليلة، (١٠١٧، ١٠٤٠) (تحفة الأشراف: ٢٠٦٦) (ضعيف الإسناد)

[2]) وفي هامش البذل: اختلفوا في جواز النفث كما في العيني ١٥٨/٢ والفتح ١٦٣/١٠

[3]): صحيح مسلم/السلام ٢٢ (٢٢٠٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٩٠٣) (صحيح)

[۳۸۸۷]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مَهْدِيِّ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ عَنِ الشِّفَاءِ بِنْتِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَتْ: "دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا عِنْدَ حَفْصَةَ، فَقَالَ لِي: "أَلَا تُعَلِّمِينَ هَذِهِ رُقْيَةَ النَّمْلَةِ كَمَا عَلَّمْتِيهَا الْكِتَابَةَ".

د شفاء بنت عبد الله رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه زماخواته نبی کریم ﷺ راغې اوزه د حفصه رضی الله عنها سره وم نبی علیه السلام ماته اوفرمائیل تا دنمله بیماری علاج حفصې ته ولی نه دې ښودلې لکه څنګه چه تاورته لیکل ښودلې دي.

قوله: ﴿عَنِ الشِّفَاءِ بِنْتِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَأَنَا عِنْدَ حَفْصَةَ فَقَالَ لِي « أَلاَ تُعَلِّمِينَ هَذِهِ رُقْيَةَ النَّمْلَةِ كَمَا عَلَّمْتِيهَا الْكِتَابَةَ » ﴾

شفاء بنت عبد الله رضی الله عنها فرمائی د چا نوم چه لیلې لیکلې شوې دې، هغه فرمائی چه یوه ورځ زه د حفصه رضی الله عنها سره اوم چه د بهر نه رسول الله ﷺ تشریف راوړلو، رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل چه دې ته یعنی حفصه رضی الله عنها ته رقیة النمله ولې نه ور زده کوې. څنګه چه تا دیته لیکل اوښودل.

نمله یو بیماری ده چه د سړی په اړخونو کښې نرئ نرئ دانې وی، د دې په هغه زمانه کښې خاص علاج په دم کولو سره وو چه هغې ته به ئې رقیة النملة وئیلو. د هغې الفاظ ئې په بذل کښې دا لیکلې دی ﴿العروس تحتفل وتختضب وتكتحل وكل شئ تفتعل غير ان لا تعصى الرجل﴾

د زنانه دپاره لیکل زده کول څنګه دی؟

ددې حدیث نه معلومیږی چه زنانو ته کتابت ښودل جائز دی او دا حدیث د ﴿لا تعلموهن الكتابة﴾ په هغه صورت کښې دې چه کله په تعلیم د کتابت کښې د څۀ فساد ویره وی (بذل)او په حاشیه د بذل کښې دی چه په فتاوی حدیثیه کښې ابن حجر هیثمی رحمه الله په دې مسئله باندې تفصیل سره کلام کړې یعنی تعلیم الکتابة للنساء او ترجیح هغوی عدم اولویت ورکړې ده.

[۳۸۸۸]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ حَكِيمٍ، حَدَّثَتْنِي جَدَّتِي، قَالَتْ: سَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ حُنَيْفٍ، يَقُولُ: مَرَرْنَا بِسَيْلٍ فَدَخَلْتُ فَاغْتَسَلْتُ فِيهِ فَخَرَجْتُ مَحْمُومًا فَنُمِيَ ذَلِكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "مُرُوا أَبَا ثَابِتٍ يَتَعَوَّذُ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا سَيِّدِي، وَالرُّقَى صَالِحَةٌ؟، فَقَالَ: لَا رُقْيَةَ إِلَّا فِي نَفْسٍ أَوْ حُمَةٍ أَوْ لَدْغَةٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْحُمَةُ مِنَ الْحَيَّاتِ وَمَا يَلْسَعُ.

دسهل بن حنیف رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه دیوخوړ په غاړه تیریدم زه ورکوز شوم اوغسل مې وکړو کله چه دغسل نه فارغ شوم نوتبه راباندې راغله بیانبی کریم ددینه خبرشو او وئې فرمائیل ده ته دشیطان نه د پناه غوښتلو حکم وکړئ ماعرض اوکړو ایا دم کول هم فائده لري؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل دم اچول خود درې افتونودپاره وې یو دبدنظرنه دحفاظت دپاره اودویم دتې دپاره او دریم د مارلړم چیچلې دپاره.

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۹۰۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۷۲/۶) (صحيح)

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٦٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۸۶/۳) (ضعيف الإسناد)

قوله: ﴿ سَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ حُنَيْفٍ يَقُولُ مَرَرْنَا بِسَيْلٍ فَدَخَلْتُ فَاغْتَسَلْتُ فِيهِ فَخَرَجْتُ مَحْمُومًا الخ ﴾
سهل بن حنيف رضی الله عنه فرمائی چه يو کرت زه په يو سيلاب باندې راتير شوم چه په هغې کښې داخليدو سره ما غسل اوکړو، چه کله زه د هغې نه بهر راووتلم نو تبه مې شوه. دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اوسيدله، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل سهل بن حنيف ته اووايه چه هغه د دې دپاره دم وغيره او کړی.

قوله: ﴿ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا سَيِّدِي وَالرُّقَى صَالِحَةٌ فَقَالَ « لَا رُقْيَةَ إِلَّا فِي نَفْسٍ أَوْ حُمَةٍ أَوْ لَدْغَةٍ » ﴾
رباب وائی چه ما اووې يعنی سهل ته يا سيدی آيا دم وغيره جائز دې؟ نو سهل بن حنيف اوفرمائيل چه د هغې حاصل دا دې چه او جائز دې ځکه چه دم خو زيات تر په بد نظر يا ازهريله ځيز د وجې نه اچولې کيږي.

اختلاف دنسخو او د نسخه صحيحه تحقيق:

د سنن ابو داؤد په ټولو نسخو کښې دا عبارت هم دغه شان دې چه د هغې هم هغه مطلب دې کوم چه ليکلې شوې دې، چه د هغې تقاضا دا ده چه د يا سيدی مصداق سهل بن حنيف وی، او په متن د حديث کښې ﴿ لا رقية الا فی نفس او حمة ﴾ دا د سهل بن حنيف قول دې په دې صورت کښې به دا حديث موقوف شی، حال دا چه داسې نه ده بلکه دا حديث مرفوع دې، مونږ د مسند احمد طرف ته رجوع اوکړه په دې کښې لفظ د فقالت نه دې بلکه داسې دی: ﴿ فقال مروا ابا ثابت يتعوذ فقلت يا سيدی والرقی صالحة قال لا رقية الا فی حمة... الحديث ﴾ په دې صورت کښې د ﴿ فقلت ﴾ قائل سهل بن حنيف رضی الله عنه دې، او د سيدی مصداق به رسول الله صلی الله علیه وسلم وی، او په دې صورت کښې به دا حديث مرفوع وی او کيدل هم داسې پکار دی، لهذا د ابوداؤد په نسخه کښې لفظ د قالت صحيح نه دې يا خو به بالکل دا وی نه، او که وی نو قال کيدل پکار دی.

(من البذل) شيخ محمد عوامه په خپل تعليق کښې د حضرت د رائې تصويب کړې دې او د نسائی د روايت ئې هم حواله ورکړې ده په هغې کښې هم لفظ د قالت نشته، او صاحب د عون المعبود د قلت قائل خو سهل حساب کړې دې، او د يا سيدی مصداق ئې رسول الله صلی الله علیه وسلم خو هغوی د ابوداؤد په روايت کښې چه کوم لفظ د قالت دې هغه هم باقی ساتلې دې او د فقلت نه مخکښې ئې قال مقدر منلې دې[1] چه د فقلت،، قائل سهل رضی الله عنه پاتې شی، ګينې د ظاهر عبارت تقاضه دا ده چه د فقلت قائل رباب وی، خو په ځائې د دې تاويل غوره دا ده چه داسې اوئيلې شی چه د ابوداؤد په روايت کښې لفظ قالت من غلط الناسخين دې چه د هغې قرينه دا ده چه د مسند احمد او نسائی په روايت کښې لفظ د قالت نشته.

---

[1] او په دې تاويل باندې په ظاهر کښې په دې وجه مجبور شو چه د هغوی په ذهن کښې دا ده چه لفظ د قالت څنګه چه په ټولو نسخو د ابوداؤد کښې دې هم دغه شان د مسند احمد په روايت کښې هم دې. حال دا چه داسې نه ده، حضرت په بذل کښې فرمائی چه زمونږ مخې ته د مسند احمد نسخه موجود ده په دې کښې لفظ د قالت بالکل نشته او پرې دپاسه شيخ محمد عوامه ليکلې دی په خپل تعليق کښې چه د نسائی په روايت کښې هم د قالت لفظ نشته، لهذا په ځائې د دې چه د صاحب عون تاويل اوکړې شی داسې دې اوئيلې شی چه په دې روايت کښې لفظ د قالت بالکل شته نه،

د رسول الله ﷺ په حق کښې د لفظ سیدنا ثبوت:

ډیر حضرات د رسول الله ﷺ د نوم مبارک سره لفظ سید زیاتی کولو سره تامل کوی او وائی چه د صحابه کرامو ﷺ نه د رسول الله ﷺ په حق کښې د سید استعمال نه دې منقول اوګورئ په دې حدیث کښې د رسول الله ﷺ په حق کښې د سهل بن حنیف ﷺ په کلام کښې یا سیدی موجود دی (۱) والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

[۳۸۸۹] (۲) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ. ح وحَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ ذَرِيحٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ الْعَبَّاسُ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ أَوْ دَمٍ يَرْقَأُ". لَمْ يَذْكُرِ الْعَبَّاسُ الْعَيْنَ وَهَذَا لَفْظُ سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ.

دانس بن مالک ﷺ نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیل دي دبدنظرنه علاوه دبل څه دپاره دم اچول نشته پادزهرو چیچلي دپاره اویا دویني بهیدلیو دپاره اودا الفاظ دسلیمان بن داود د روایت دې.

د باب په آخری حدیث کښې دی چه ﴿ لاَ رُقْيَةَ إِلاَّ مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ أَوْ دَمٍ يَرْقَأُ ﴾ د دم نه مراد رعاف دې، نکسیر یعنی د نکسیر دپاره چه کله رقیه کولې شی نو هغه وینه اودریږی.

باب كَيْفَ الرُّقَى

باب: د دمونو بیان

د حصول صحت او مرضونو د لرې کولو دپاره څه مخصوص دعا ګانې

په دې باندې کلام په شروع کښې شوې دې په دې باب کښې مصنف ﷫ بعضې منتخب احادیث چه په هغې کښې ډیرې مفید او جامع دعاګانې دی او د دردونو او مرضونو دپاره ئې جمع کړې دی. دا ټولې یادول پکاردی مونږ دلته صرف هغه دعاګانې رانقل کوو.

[۳۸۹۰] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، قَالَ: قَالَ أَنَسٌ يَعْنِي لِثَابِتٍ: "أَلَا أَرْقِيكَ بِرُقْيَةِ رَسُولِ اللَّهِ؟ قَالَ: بَلَى، قَالَ: فَقَالَ: اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، مُذْهِبَ الْبَاسِ، اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لَا شَافِيَ إِلَّا أَنْتَ اشْفِهِ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا".

دعبدالعزیز بن صهیب نه روایت دې فرمائی چه انس که ثابت ته اووئیل ایا هغه دم درباندې وانه چرم کوم چه به نبی ﷺ اچولو؟ ثابت اووئیل ولی نه انس اووئیل: «اللّهمّ رب الناس مذهب الباس اشف أنت الشافي لا شافي إلا أنت اشفه شفاء لا يغادر سقما» یعنی اې الله دټولوخلقو پالونکیه دمرض لرې کونکیه شفا ورکونکیه هم ته شفا ورکونکې یې ستانه علاوه څوک صحت نه شي ورکولې، دې داسې صحت مند جوړ کړې چه هیڅ قسم مرض په

---

(۱) په دې مسئله باندې د خلیل احمد سهانپوری ﷫ په مدینه طیبه کښې د قاضی القضاة عبد الله بن بلیهد سره د ملک عبدالعزیز په موجودګئ کښې په حرم شریف کښې مباحثه شوې وه، حضرت په روایاتو سره ثابته کړې وه کوم چه بادشاه هم تسلیم کړې وه دا واقعه په تذکرة الخليل کښې ذکر ده.
(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۳۹) (ضعيف)

(۲): صحيح البخاري/الطب ۳۸ (۵۷۴۲)، سنن الترمذي/الجنائز ٤ (۹۷۳)، سنن النسائي/اليوم والليلة (۱۰۲۲)، (تحفة الأشراف: ۱۰۳٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۵۱/۳) (صحيح)

کښې باقي پاتې نه شي.
﴿ للّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ مُذْهِبَ الْبَاسِ اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لاَ شَافِيَ إِلاَّ أَنْتَ اشْفِهِ شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقَمًا ﴾

[۳۸۹۱](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُصَيْفَةَ، أَنَّ عَمْرَو بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ السَّلَمِيَّ أَخْبَرَهُ، أَنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرٍ أَخْبَرَهُ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ، أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ عُثْمَانُ: "وَبِي وَجَعٌ قَدْ كَادَ يُهْلِكُنِي، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: امْسَحْهُ بِيَمِينِكَ سَبْعَ مَرَّاتٍ، وَقُلْ أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ، قَالَ: فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مَا كَانَ بِي فَلَمْ أَزَلْ آمُرُ بِهِ أَهْلِي وَغَيْرَهُمْ".

دعثمان بن ابی العاص رضی الله عنه نه روايت دي فرمائی چه زه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم او په ما باندې داسې درد وو نزدې وه چه زه ئې ملاک کړې وې عثمان وائی چه نبی علیه السلام اوفرمائيل په متاثره ځائې باندې خپل ښی لاس او پرې راکاږه اودا دعاء: «أعوذ بعزة الله وقدرته من شر ما أجد» ووايه، دې واني ماچه دا دعا اولوستله نوالله تعالى رانه هغه درد ختم کړو، اوهميشه به مې خپل اهل ته اوهر دردمند کس ته ددې دعا دوئيلوحکم کولو.

قوله: ﴿ أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِد ﴾ او د ترمذی په روايت کښې ﴿ وسلطانه ﴾ هم دې. ﴿ من شر ما اجد ﴾ د دې دعاء په باره کښې په حديث کښې دا دی چه د بدن په کومه حصه کښې درد او بيماری وی په هغې باندې دې ښی لاس راکاږی او اووۀ کرته دې دا دعا اولولی.

[۳۸۹۲](٢)حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ زِيَادَةَ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ، عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنِ اشْتَكَى مِنْكُمْ شَيْئًا أَوِ اشْتَكَاهُ أَخٌ لَهُ، فَلْيَقُلْ: رَبَّنَا اللَّهُ الَّذِي فِي السَّمَاءِ تَقَدَّسَ اسْمُكَ أَمْرُكَ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ كَمَا رَحْمَتُكَ فِي السَّمَاءِ فَاجْعَلْ رَحْمَتَكَ فِي الْأَرْضِ اغْفِرْ لَنَا حُوبَنَا وَخَطَايَانَا أَنْتَ رَبُّ الطَّيِّبِينَ أَنْزِلْ رَحْمَةً مِنْ رَحْمَتِكَ وَشِفَاءً مِنْ شِفَائِكَ عَلَى هَذَا الْوَجَعِ فَيَبْرَأَ".

دابو الدرداء رضی الله عنه نه روايت دي فرمائی چه دنبی کريم صلی الله علیه وسلم نه ئې اوريدلی دی چه فرمائيل في: په تاسو کښې چه څوک مريض وي يا دده بل يومسلمان ورور ورته خپل مرض بيان کړي نو دادعاء دي وائي. «ربنا الله الذي في السماء تقدس اسمك أمرك في السماء والأرض كما رحمتك في السماء فاجعل رحمتك في الأرض اغفر لنا حوبنا وخطايانا أنت رب الطيبين أنزل رحمة من رحمتك وشفاء من شفائك على هذا الوجع» اې زمونږه هغه ربه چه په اسمان کښې ئې اونوم دي پاك دي، اې الله ستا اختياردي په زمکه او اسمان کښې لکه څنګه چه په اسمان کښې ستا رحمت دي نوپه زمکه باندې هم خپل رحمت نازل کړي اوزمونږ ګناهونه معاف کړي، اې الله ته پاك ئې دخلقو پروردګاري دخپل رحمت نه په مونږ نازل کړي، اودخپلې شفاء نه شفاء راکړې ددې تکليف نه نوکه دالله خوښه وي مريض به جوړ شي.

(١): صحيح مسلم/السلام ٢٤ (٢٢٠٢)، سنن الترمذي/الطب ٢٩ (٢٠٨٠)، سنن ابن ماجه/الطب ٣٦ (٣٥٢٢)، (تحفة الأشراف: ٩٧٧٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/العين ٤ (٩)، مسند احمد (٤/٢١، ٢١٧) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٩٥٧) (ضعيف)

قوله: ﴿ رَبُّنَا اللَّهُ الَّذِي فِي السَّمَاءِ تَقَدَّسَ اسْمُكَ أَمْرُكَ فِي السَّمَاءِ وَالأَرْضِ كَمَا رَحْمَتُكَ فِي السَّمَاءِ فَاجْعَلْ رَحْمَتَكَ فِي الأَرْضِ اغْفِرْ لَنَا حُوبَنَا وَخَطَايَانَا أَنْتَ رَبُّ الطَّيِّبِينَ أَنْزِلْ رَحْمَةً مِنْ رَحْمَتِكَ وَشِفَاءً مِنْ شِفَائِكَ عَلَى هَذَا الْوَجَعِ ﴾

د بدن په کومه حصه کښې درد وی په هغې باندې لاس کیخودلو سره دا دعا اووئیلې شی، ﴿ فیبرأ ﴾ انشاء الله هغه به جوړ شی.

[۳۸۹۳](1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْفَزَعِ كَلِمَاتٍ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ" وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو يُعَلِّمُهُنَّ مَنْ عَقَلَ مِنْ بَنِيهِ وَمَنْ لَمْ يَعْقِلْ كَتَبَهُ فَأَعْلَقَهُ عَلَيْهِ.

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه نبی ﷺ به دویرې په وخت کښې خلقوته داکلمات خودل: «أعوذ بكلمات الله التامة من غضبه وشر عباده ومن همزات الشياطين وأن يحضرون» یعنی زه دالله تعالی په ټولوکلماتوسره پناه غواړم دهغه دغضب اودهغه د بندګانو د شرنه اودوسوسو دشیطان نه اوددې نه چه شیطان زماخواته راشي، دعبدالله بن عمر ﷺ په اولاد کښې چه به څوک دهوښیارید وحد ته ورسیدو نودادعاء به ئې ورته زده کوله اوچه څوک چه دهوښیارید و حدته نه وو رسیدلي نودا دعاء به ئې اولیکله او په غاړه کښې به ئې ورته واچوله.

قوله: ﴿ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ ﴾

د دې دعاء په باره کښې دا دی چه د ویرې په وخت کښې دا لوستل پکار دی، لکه چه بعض وخت ماشومان یا لوئې هم د شپې په څه وخت کښې اویریږی نو دا دې اولوستلې شی. او که ماشوم وی نو د هغه په غاړه کښې دې دا دعا لیکلو سره په طور د تعویذ واچولې شی، دا مضمون په شروع د حدیث کښې هم تیر شوی دی.

[۳۸۹۴](2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي سُرَيْجٍ الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا مَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ أَثَرَ ضَرْبَةٍ فِي سَاقِ سَلَمَةَ، فَقُلْتُ: مَا هَذِهِ؟ قَالَتْ: أَصَابَتْنِي يَوْمَ خَيْبَرَ، فَقَالَ النَّاسُ: أُصِيبَ سَلَمَةُ فَأُتِيَ بِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَفَثَ فِيَّ ثَلَاثَ نَفَثَاتٍ فَمَا اشْتَكَيْتُهَا حَتَّى السَّاعَةِ".

د یزید بن ابی عبید نه روایت دې فرمائی چه مادسلمه په پنډئ کښې دګذار نشان ولیدو ماورنه نپوس اوکړو چه داڅه دي؟ هغه اووئیل دغزوه خیبر په ورځ باندې زه زخمي شوې وم خلقو وئیل شروع کړل چه سلمه زخمي شوې دې بیازه نبی ﷺ ته بوتلې شوم هغه په ما باندې درې چپه اوکړل بیا دهغې ورځې نه ترننه ورځې پورې زما پنډئ درد نه دې کړې.

(1): سنن الترمذي/الدعوات ۹۳ (۸۷۸۱)، (تحفة الأشراف: ۸۷۸۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۱/۲) (حسن)

(2): صحيح البخاري/المغازي ۳۸ (۴۲۰۶)، (تحفة الأشراف: ۴۵۴۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۸/۴) (صحيح)

[۳۸۹۵]([1]) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ يَعْنِي ابْنَ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لِلْإِنْسَانِ إِذَا اشْتَكَى يَقُولُ بِرِيقِهِ، ثُمَّ قَالَ بِهِ فِي التُّرَابِ تُرْبَةُ أَرْضِنَا بِرِيقَةِ بَعْضِنَا يُشْفَى سَقِيمُنَا بِإِذْنِ رَبِّنَا".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه نبی کریم ته به کله یو مریض شکایت وکړو نونبی علیه السلام به په خاوره باندې لاړي توکړي اوفرمائیل به ئي: «تربة أرضنا بريقة بعضنا يشفى سقيمنا بإذن ربنا»

شرح الحديث:

قوله: ﴿عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ لِلإِنْسَانِ إِذَا اشْتَكَى يَقُولُ بِرِيقِهِ ثُمَّ قَالَ بِهِ فِي التُّرَابِ « تُرْبَةُ أَرْضِنَا بِرِيقَةِ بَعْضِنَا يُشْفَى سَقِيمُنَا بِإِذْنِ رَبِّنَا »﴾ عائشه رضی الله عنها فرمائی چه کله به یو انسان ته څه شکایت یا تکلیف وو د یو مرض یا زخم وغیره په وجه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغوی دا طریقه ښودله چه د خپل شهادت په ګوته باندې دې د خپلې خولې لاړې اولګوی او هغه دې په خاوره باندې کیږدی. چه کله په هغې باندې خاوره پریوځی نو بیا دې هغه د تکلیف په ځائې باندې راکاږی او دا دعا دې اولوستلې شی، کومه چه پورته ذکر شوه. او د بخاری په روایت کښې د دې دعا په شروع کښې بسم الله هم ده.

امام نووی رحمه الله د دې حدیث هم دا شرح کړې ده کومه چه مونږ لیکلې ده او په ګوته باندې خاوره لګول غالبا دې خبرې ته اشاره ده چه یا الله ستا قدرت څو ډیر لوئې دې چه تا لوئې انسان د دې خاورې نه جوړ کړو، بیا ستا دپاره شفاء ورکول څه ګران دی.

تخريج الاحاديث:

الحديث الاول اخرجه البخاري، والترمذي والنسائي، والثاني اخرجه مسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه بنحوه والثالث اخرجه النسائي، والرابع اخرجه الترمذي والنسائي، وقال الترمذي حسن غريب، والخامس اخرجه البخاري ومسلم والنسائي، وابن ماجه، قاله المنذري.

[۳۸۹۶]([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ زَكَرِيَّا، قَالَ: حَدَّثَنِي عَامِرٌ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ التَّمِيمِيِّ، عَنْ عَمِّهِ، "أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمَ، ثُمَّ أَقْبَلَ رَاجِعًا مِنْ عِنْدِهِ فَمَرَّ عَلَى قَوْمٍ عِنْدَهُمْ رَجُلٌ مَجْنُونٌ مُوثَقٌ بِالْحَدِيدِ، فَقَالَ أَهْلُهُ: إِنَّا حُدِّثْنَا أَنَّ صَاحِبَكُمْ هَذَا قَدْ جَاءَ بِخَيْرٍ فَهَلْ عِنْدَكَ شَيْءٌ تُدَاوِيهِ، فَرَقَيْتُهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، فَبَرَأَ فَأَعْطَوْنِي مِائَةَ شَاةٍ، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: هَلْ إِلَّا هَذَا"، وَقَالَ مُسَدَّدٌ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ: هَلْ قُلْتَ غَيْرَ هَذَا؟، قُلْتُ: لَا، قَالَ: خُذْهَا فَلَعَمْرِي لَمَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةِ بَاطِلٍ، لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةِ حَقٍّ.

خارجه بن صلت دخپل تره نه روایت کوی فرمائی چه هغه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضرشو او اسلام ئې قبول کړو کله چه هغه دنبی علیه السلام نه واپس روانیدو نو په لارکښې دیو قوم سره مخامخ شو چه دهغوی سره یو کس په زنځیرونوتړلې شوې پروت وو ددې لیونی

[1]: صحيح البخاري/الطب ٣٨ (٥٧٤٥)، صحيح مسلم/السلام ٢١ (٢١٩٤)، سنن ابن ماجه/الطب ٣٦ (٣٥٢١)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٩٣/٦) (صحيح)

[2]: انظر حديث رقم: (٣٤٢٠)، (تحفة الأشراف: ١١٠١١) (صحيح)

وارثانو اووئیل چه مونږ ته دا معلومه شوي ده چه ستاسو مشر (نبی ﷺ) یولوني خیرراوړي دي اناستاسوسره داسي څه شي شته چه په هغې باندې دالیوني روغ شي دې وائی ماسورة فاتحه اولوستله او چوپ مې ورباندې اوکړو هغه مریض روغ شو ددغه لیوني وارثانو ماته سل چیلي راکړې زه چه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نوددې واقعې ذکرې ورته اوکړو نبی ﷺ اوفرمائیل ایا دسورة فاتحې نه دي علاوه بل دم نه وو وئیلې،

د دې نه پس په کتاب کښې د عم خارجه حدیث او بیا د هغې نه پس د ابوسعیدخدری رضی الله عنه حدیث ذکر دې، د ړومبی حدیث تعلق د رجل مجنون موثق بالحدید سره دې او د دویم تعلق د لدیغ سره دې چه په هغې کښې په سورة الفاتحه دمول ذکر دی، او بیا د هغې دواړو صحت یاب کیدل او بیا د دې دواړو صحابه کرامو رضی الله عنهم په هغه دم باندې دهغوی نه معاوضه اخستل، او بیا د حضور ﷺ ددغه معاوضې داخستلو اجازت ورکول ذکر دی، دا دواړه احادیث په کتاب الاجاره کښې په باب اجرة الطبیب کښې تیر شوې دی. په دې حدیث کښې دی ﴿ فَلَعَمْرِی لَمَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةِ بَاطِلٍ لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةِ حَقٍّ ﴾ په دې باندې ابن رسلان شارح د ابوداؤد لیکی چه په دې حدیث کښې دلیل دې په دې خبره باندې چه رقیه په دوه قسمه ده حق او باطله، حق هغه ده کومه چه په کتاب او سنت او ذکر الله باندې وی، او کومه چه د دې نه علاوه د بل څه څیز نه وی یا د یو داسې څیز نه وی چه د هغې معنی معلومه نه وی نو هغه جائز نه دې ځکه چه په هغې کښې د کفر احتمال وی. (بذل)

په دم اچولو باندې د اجرت اخستلو جواز :

﴿ وقال ایضا : وفی الحدیث اعظم دلیل علی انه یجوز الاجرة علی الرقی والطب کما قاله الشافعی ومالک وابوحنیفة واحمد، واما الاجرة علی تعلیم القرآن فاجازها الجمهور بهذا الحدیث وبروایة البخاری ان احق ما اخذتم علیه اجرا کتاب الله، وحرمه ابوحنیفة. ا هـ.. قلت ولکن اجازه متاخروا الحنفیة للضروة (بذل) قلت وقد تقدم دلیل ابی حنیفة رحمه الله فی کتاب الاجارة من حدیث عبادة بن صامت رضی الله عنه وفیه : ان کنت تحب ان تطوق طوقا من نار فاقبلها وترجم علیه المصنف... باب اجر المعلم... فتذکر. وحدیث عم جاریه رضی الله عنه اخرجه النسائی وحدیث ابی سعید الخدری رضی الله عنه اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

[۳۸۹۷][1] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي السَّفَرِ، عَنْ الشَّعْبِيِّ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ، عَنْ عَمِّهِ أَنَّهُ مَرَّ قَالَ فَرَقَاهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً كُلَّمَا خَتَمَهَا جَمَعَ بُزَاقَهُ، ثُمَّ تَفَلَ فَكَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ فَأَعْطَوْهُ شَيْئًا، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ مُسَدَّدٍ.

خارجه بن صلت دخپل تره نه روایت کوی فرمائی چه هغه ده درې ورځو پورې سحر اوماښام الحمدلله وئیله او په دې لیوني باندې به ئې چپ کولو کله چه به دالحمدو دوئیلو نه فارغ شونولاړې به ئې په خوله کښې جمع کړې او په ده باندې به ئې ونوکل لیوني داسې روغ شو

[1] انظر حدیث رقم : (۳۴۲۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۱۱) (صحیح)

چه دپرونه پرانيستل شو نودغه خلقو په عوض کښې چيلئ ورکړي دي چه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، باقي حديث کې ذمسدد دحديث په شان بيان کړو.

[۳۸۹۸](¹)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَجُلًا مِنْ أَسْلَمَ، قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لُدِغْتُ اللَّيْلَةَ فَلَمْ أَنَمْ حَتَّى أَصْبَحْتُ، قَالَ: "مَاذَا؟" قَالَ: عَقْرَبٌ، قَالَ: "أَمَا إِنَّكَ لَوْ قُلْتَ حِينَ أَمْسَيْتَ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، لَمْ تَضُرَّكَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ".

مسدد په يوبل ځائې کښې وئيلی دی چه نبی ﷺ اوفرمائيل اياددينه دي علاوه نور څه ورته وئيلي وو ماعرض اوکړو نه، نبی ﷺ اوفرمائيل ته داچيلئ واخله زما دې په خپل عمرقسم وي خلق په باطل جادو باندې عوض اخلي تاخو په حق دم باندې عوض اخستلې دې.

﴿عن سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ رَجُلاً مِنْ أَسْلَمَ الخ﴾

ابوصالح فرمائی چه ما د قبيلهٔ اسلم د يو سړی نه واوريدل چه زه د رسول الله ﷺ په مجلس کښې ناست اوم، يو صحابی ﷺ راغلو او هغه عرض اوکړو چه د شپې زه يو زهريله ځناور چيچلې يم چه د هغې د وجې نه ماله تر سحره پورې خوب رانغلو، رسول الله ﷺ ترې نه تپوس اوکړو څه ځناور وو، هغوی عرض اوکړو لړم وو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: خبردار که تا د ماښام په وخت دا دعاء وئيلې وې ﴿أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ﴾ نو تاته هيڅ څيز ضرر نه شو درکولې......

[۳۸۹۹](²)حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنِي الزُّبَيْدِيُّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ طَارِقٍ يَعْنِي ابْنَ مُخَاشِنٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَدِيغٍ لَدَغَتْهُ عَقْرَبٌ، قَالَ: فَقَالَ: "لَوْ قَالَ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ يُلْدَغْ أَوْ لَمْ يَضُرَّهُ".

دابوهريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دې فرمائی چه يولړم چيچلي نبی ﷺ ته راوستلې شو، ابوهريره والي چه نبی ﷺ اوفرمائيل که چرې ده دا دعا وئيلې وې: «أعوذ بكلمات الله التامة من شر ما خلق» نولړم به نه وو چيچلې.

او هم د دې حديث په دويم طريق کښې دی ﴿لم يلدغ او لم يضره﴾ د راوی په شک سره چه رسول الله ﷺ يا خو داسې اوفرمائيل چه هغه زهريله ځنارو بيا چک هم نه لګوی او يا ئې دا اوفرمائيل چه ضرر نه رسوی. په دې دواړو کښې احتمال دې يو خو دا چه هغه تک نه ورکوی او که ورکوی نه ضرر نه رسيږی.

الطريق الاول من هذا الحديث اخرجه مسلم، والنسائی مسندا ومرسلا، وابن ماجه، قاله المنذری والطريق الثانی اخرجه النسائی من طرق، قاله المنذری (مختصرا)

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤٨/٣، ٤٣٠/٥) (صحيح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٥١٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطب ٣٥ (٣٥١٨)، مسند احمد (٣٧٥/٢) (ضعيف الإسناد)

[٣٩٠٠]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، "أَنَّ رَهْطًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْطَلَقُوا فِي سَفْرَةٍ سَافَرُوهَا، فَنَزَلُوا بِحَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّ سَيِّدَنَا لُدِغَ فَهَلْ عِنْدَ أَحَدٍ مِنْكُمْ شَيْءٌ يَنْفَعُ صَاحِبَنَا؟، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: نَعَمْ وَاللَّهِ إِنِّي لَأَرْقِي وَلَكِنِ اسْتَضَفْنَاكُمْ فَأَبَيْتُمْ أَنْ تُضَيِّفُونَا مَا أَنَا بِرَاقٍ حَتَّى تَجْعَلُوا لِي جُعْلًا فَجَعَلُوا لَهُ قَطِيعًا مِنَ الشَّاءِ، فَأَتَاهُ فَقَرَأَ عَلَيْهِ أُمَّ الْكِتَابِ وَيَتْفُلُ حَتَّى بَرَأَ كَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ، قَالَ: فَأَوْفَاهُمْ جُعْلَهُمُ الَّذِي صَالَحُوهُمْ عَلَيْهِ، فَقَالُوا: اقْتَسِمُوا، فَقَالَ: الَّذِي رَقَى لَا تَفْعَلُوا حَتَّى نَأْتِيَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَسْتَأْمِرَهُ فَغَدَوْا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا لَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِنْ أَيْنَ عَلِمْتُمْ أَنَّهَا رُقْيَةٌ أَحْسَنْتُمُ اقْتَسِمُوا وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ بِسَهْمٍ".

دابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه دصحابه کرامویوه ډله په سفر روانه شوه اودعربو بوي قبیل ته ورسیدل اودهغوی نه ئې دمیلمستیا مطالبه وکړه لیکن هغوی د میلمنو قبلولونه انکار وکړو بیا ددغه قبیلې سردار مار یالهم وچیچل دهغه دعلاج دپاره خلقو هرقسم کوشش اوکړولیکن هغه نه جوړیدو په دوی کښې یوکس اووئیل کوم کسان چه په میلمستیا راغلي دي هغوی ته څوك ولیږي کیدي شي چه دهغوی سره د زهرو دپاره څه علاج ري، په کومه باندې چه به ده ته فائده ورسیږی بیا په دوی کښې یوڅوکسان صحابه کراموته ورغلل او ورته ئې اووئیل چه زمونږ سردار ماریالړم چیچلې دي ایا په تاسوکښې څوك دم کړي شته؟ یوکس اووئیل هو، زه به وربانديې دم واچوم، لیکن مونږه ستاسونه دمیلمستیا مطالبه اوکړه اوتاسوانکار وکړو اوس زه دم نه اچوم ترڅوچه تاسوماته ددې اجرت رانکړئ، نوددغه علاقې خلقو ددرې دپاره دچیلویوه رمه مقررکړه بیادغه کس ورغې او سورة فاتحه ئې ولوستله او توکانړي پرې توکړي تردې چه هغه جوړ شو اوداسې روغ شولکه غوټه چه کولاو کړې شي، بیاچه هغوی کومه معاوضه مقررکړي وه هغه ئې ورکړه صحابه کرامو عرض اوکړو رائې ورئ چه مونږ ئې تقسیم کړو مګرچاچه دم اچولې وو هغه اووئیل نه تاسوصبر وکړئ چه دنبی علیه السلام نه تپوس اوکړو بیادنی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شول او واقعه ئې ورته بیان کړه ئې علیه السلام اوفرمائیل داخبره تاسو دکوم ځائې نه معلومه کړې ده چه سورة فاتحه دم دې ډیر ښه کارموکړې دې اوزمادپاره دخپلو ځانونو سره حصه مقررکړئ

[٣٩٠١]([2])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي السَّفَرِ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ التَّمِيمِيِّ، عَنْ عَمِّهِ، قَالَ: "أَقْبَلْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَيْنَا عَلَى حَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ، فَقَالُوا: إِنَّا أُنْبِئْنَا أَنَّكُمْ جِئْتُمْ مِنْ عِنْدِ هَذَا الرَّجُلِ بِخَيْرٍ، فَهَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ دَوَاءٍ أَوْ رُقْيَةٍ فَإِنَّ عِنْدَنَا مَعْتُوهًا فِي الْقُيُودِ؟، قَالَ: فَقُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: فَجَاءُوا بِمَعْتُوهٍ فِي

[1]): صحيح البخاري/الإجارة ١٦ (٢٢٧٦)، الطب ٣٣ (٥٧٣٦)، صحيح مسلم/السلام ٢٣ (٢٢٠١)، سنن الترمذي/الطب ٢٠ (٢٠٦٣)، سنن ابن ماجه/التجارات ٧ (٢١٥٦)، (تحفة الأشراف: ٤٢٤٩، ٤٣٠٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤/٣) (صحيح)

[2]): انظر حديث رقم: (٣٤٢٠)، (تحفة الأشراف: ١١٠١١) (صحيح)

الْقُيُودِ، قَالَ: فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً كُلَّمَا خَتَمْتُهَا أَجْمَعُ بُزَاقِي، ثُمَّ أَتْفُلُ فَكَأَنَّمَا نَشِطَ مِنْ عِقَالٍ، قَالَ: فَأَعْطُونِي جُعْلًا، فَقُلْتُ: لَا حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: كُلْ فَلَعَمْرِي مَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةِ بَاطِلٍ لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةِ حَقٍّ".

خارجه بن الصلت دخپل تره نه روایت کوی فرمائی چه مونږ دنبی ﷺ دخوانه روان شواویه عربو کښې په یوقوم باندې تیریدو هغوی ووئیل چه مونږ ته خبر رارسیدلې دې چه تاسودغه کس یعنی نبی ﷺ نه خیر راوړې دې اناستاسو سره کومه دوا یا کوم عمل شته؟ځکه چه په مونږ کښې یوکس لیونې شوې دې او په زنځیرونوتړلې شوې دې مونږ ورته ووئیل هو نوهغوی هغه لیونې راوستو، راوی وائی چه مادرې ورځې په سورت فاتحه دم کړواوپه خپله خوله کښې به مې لاړې جمع کړې او په ده باندې مې توکړې، راوی وائی چه هغه کس بیا داسې جوړ شو لکه چه دقید نه خلاص شې هغوی اوغوښتل چه ماته مزدوری راکړې ماورته ووئیل چه زه ترهغه وخته پورې معاوضه نشم اخستلې ترڅوچه مې دنبی ﷺ نه تپوس نه وې کړې کله چه ماد نبی ﷺ نه تپوس وکړو نوراته ئې اوف : مائیل داچیلې واخله زما دې پخپل عمر قسم وې خلق خو په دروغو دمونوباندې رزق خورې تاخو په صحیح دم باندې خوراك کړې دې.

[٣٩٠٢](١)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا اشْتَكَى: يَقْرَأُ فِي نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ، وَيَنْفُثُ، فَلَمَّا اشْتَدَّ وَجَعُهُ كُنْتُ أَقْرَأُ عَلَيْهِ وَأَمْسَحُ عَلَيْهِ بِيَدِهِ رَجَاءَ بَرَكَتِهَا".

دعائشه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی کله چه نبی ﷺ بیمارشو نو په خپل زړه کښې به ئې معوذتین وئیل اوخپل ځان به ئې وربانده‌ې دمولو، کله چه دهغه په مرض کښې شدت راغې نومابه معوذتین وئیل دنبی ﷺ په جسم باندې به ئې دهغه لاس مبارك راخکلودهغه دبرکت په امید باندې.

د باب په آخری حدیث کښې دی : سیده عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه د رسول اللهﷺ طبیعت چه کله ناسازه شو نو هغوی به معوذتین پټ پټ وئیلو او وئیلو سره به ئې دم کولو په خپل ځان باندې راو په یو بل روایت کښې دی چه په خپلو لاسونو مبارکو باندې به ئې دم کولو سره په بدن مبارک باندې راښکل، هغوی فرمائی چه کله رسول اللهﷺ ته په آخری وخت کښې تکلیف سخت شو نو ما به داسې کول چه معوذات به مې لوستل او د هغوی په لاس مبارك باندې به مې دمول او هغه به مې په هغوی باندې راښکل، په ځائې د خپل لاس راښکلو د رسول اللهﷺ د لاس مبارک د برکت دپاره. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجه،قاله المنذري.

....

(١): صحيح البخاري/فضائل القرآن ١٤ (٥٠١٦)، صحيح مسلم/السلام ٢٠ (٢١٩٢)، سنن ابن ماجه/الطب ٣٨ (٣٥٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٨٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/العين ٤ (١٠)، مسند احمد (٦/١٠٤، ١٨١، ٢٥٦، ٢٦٣) (صحيح)

بَابٌ فِي السُّمْنَةِ

بابد ځرب کيدو بيان

[۳۹۰۳](1)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ يَزِيدَ بْنِ سَيَّارٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "أَرَادَتْ أُمِّي أَنْ تُسَمِّنَنِي لِدُخُولِي عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ أَقْبَلْ عَلَيْهَا بِشَيْءٍ مِمَّا تُرِيدُ حَتَّى أَطْعَمَتْنِي الْقِثَّاءَ بِالرُّطَبِ فَسَمِنْتُ عَلَيْهِ كَأَحْسَنِ السِّمَنِ".

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه زما مورغوښتل چه زه ځربه شم ځکه چه زما واده دنبي عليه السلام سره کيدو والا ووهغې هر ممکن کوشش وکړوليکن زه ځربه نشوم تردې چه هغې په ماباندې تري دتازه کجوروسره خوړول شروع کړل نوزه په بهتره طريقې سره غټه شوم.

سمنة يعني ځرب کونکې دوائي يا خوراک... د حديث مضمون دا دې : عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائي چه زما د رخصتئ نه مخکښې زما مور زما د صحت مند کيدلو ښه کوششونه او تدبيرونه اوکړل خو زما طبيعت هيڅ تدبير قبول نه کړو، بيا په آخر کښې هغې په ما باندې بادرنګ او رطب (کهجورې) اوخوړلې، دا علاج زما طبيعت قبول کړو چه په هغې سره زه ښه غټه شوم.

جينئ که د نکاح نه پس د رخصتئ نه مخکښې کمزورې وی او نرئ وی نو د هغې مور فکرمنده وی او د هغې دپاره داسې تدبيرونه کوی چه په هغې سره په هغې کښې ځرب والې راشی، زمونږ په طرفونو کښې دا خبره مشهوره ده چه د دې دپاره پرې پئ او ځلوبئ خوړلې شی. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذري (مختصرا)

كِتَابُ الْكِهَانَةِ وَالتَّطَيُّرِ

کهانت اوربدفالئ سره متعلق احکام او مسائل

بَابٌ فِي الْكَاهِنِ

بابد فال کتلو بيان

په بعض نسخو کښې د دې نه مخکښې ﴿ كتاب الكهانة والتطير ﴾ دې.

[۳۹۰۴](2)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ حَكِيمٍ الْأَثْرَمِ، عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَتَى كَاهِنًا"، قَالَ مُوسَى فِي حَدِيثِهِ: فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ ثُمَّ اتَّفَقَا أَوْ أَتَى امْرَأَةً، قَالَ مُسَدَّدٌ: امْرَأَتَهُ حَائِضًا أَوْ أَتَى امْرَأَةً، قَالَ مُسَدَّدٌ: امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا فَقَدْ بَرِءَ مِمَّا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ.

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چه کاهن ته لاړ

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۱۸۲)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الاطعمة ۳۷ (۳۳۲۴)، سنن النسائي/الكبري (۶۷۲۵) (صحيح)

(2): سنن الترمذي/الطهارة ۱۰۲ (۱۳۵)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۲۲ (۶۳۹)، (تحفة الأشراف: ۱۳۵۳۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸۶/۱، ۴۰۸/۲، ۴۷۶، ۳۰۵/۶)، سنن الدارمي/الطهارة ۱۱۳ (۲۵۹) (صحيح)

شي، موسی پخپل روایت کښې اضافه کړې ده چه نبی ﷺ اوفرمائیل اوبیا دهغه خبرې ریښتونې وګڼړي يا دکومې ښځې سره صحبت وکړي، مسدد پخپل روایت کښې وئیلی دی چه په بیمارئ په حالت کښې اومسددپه خپل روایت کښې وئیلی دی چه باخپلې ښځې ته دشادطرف نه راتلل وکړي نودغه کس دهغه دین نه خارج شو کوم چه په محمد باندې نازل شوې دې.

قوله: ﴿ مَنْ أَتَى كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ أَوْ أَتَى امْرَأَةً حَائِضًا أَوْ أَتَى امْرَأَةً فِي دُبُرِهَا فَقَدْ بَرِئَ مِمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍ ﷺ ﴾

د دې حديث درې اجزاء دی کاهن ته تلو سره د هغه تصديق کول، او خپلې ښځې سره په حالت د حيض کښې وطی کول او دريم وطی فی الدبر او د دې درې وارو په باره کښې رسول الله ﷺ ډير سخت وعيد اوفرمائيلو چه دې سړی د قرآن او وحی انکار اوکړو په بذل کښې دی ﴿ وهذا محمول علی المستحل او التغليظ ﴾...... وطی په حالت د حيض کښې دا مسئله په کتاب الطهارة کښې او د وطی فی الدبر مسئله په کتاب النکاح کښې تيره شوې ده، په کوکب الدری ۸۳/۱ کښې ليکلې دی : قوله من اتى كاهنا الى آخره... کاهن ته د تلو نه مراد هغه دې کوم چه د غيب خبرونه بيانوی د هغه تصديق کول دی، صرف هغه ته ورتلل مراد نه دی، مثلا يو سړې د څه ضرورت په بناء هغه ته لاړ شی يا د هغه د تکذيب يا تبکيت دپاره، يا په هغه پورې د ټوقو کولو دپاره نو دا په دې کښې داخل نه دې، بلکه که په دې اعتقاد لاړ شی چه جنات دې کاهنانو ته خبر ورکوی، او بعض خبرونه د هغوی رښتيا وی او بعض دروغ، نو بيا به هم په دې وعيد کښې داخل نه وی. والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری....

بَابٌ فِي النُّجُومِ
دعلم نجوم داحکامو بيان

[۳۹۰۵] (١) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَمُسَدَّدٌ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَخْنَسِ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ، اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ زَادَ مَا زَادَ".

دعبدالله ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه رسول پاک فرمائيلی دی چاچه کوم قسم علم نجوم زده کړو نوده دجادويوه لاره ازده کړله بياچه په دې کښې چاڅومره اضافه وکړه نوهغه هومره ئې په جادوکښې اضافه وکړه.

قوله: ﴿ مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ زَادَ مَا زَادَ ﴾

کوم انسان چه د علم نجوم څه حصه حاصل کړه نو هغه د سحر يو حصه حاصله کړه. اوس چه هغه انسان د علم نجوم په حصول کښې څومره زيادت کوی ګويا په علم سحر کښې زيادت کوی. او دا ښکاره خبره ده چه تعلم د سحر او عمل بالسحر دواړه حرام دی. بس دغه شان

(١): سنن ابن ماجه/الأدب ٢٨ (٣٧٢٦)، (تحفة الأشراف: ٦٥٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٢٧، ٣١١) (حسن)

تعلم د علم نجوم هم حرام دي. د دې علم نجوم نه په کوم چه وعيد دې هغه علم مراد دې چه د هغې په وجه باندې انسان د حوادثو د علم دعوی کوی چه لا واقع شوې نه وی او بیا دپاره کیدونکی دی، د هواګانو چليدل يا د باران خبر ورکول او د څیزونو په نرخ کښې کمې زیادت وغيره وغيره او څنګه چه دا اهل نجوم دعوی کوی چه هغوی دا څیزونه د کواکب په سیر سره پیژنی، حال دا چه د راتلونکی کارونو علم د الله پاک نه سوا چا سره هم نشته، او داسې علم نجوم چه په هغې سره د اوقاتو علم راشي، یعنی د زوال او یا د جهت قبله نو هغه په دې کښې داخل نه دي. (بذل عن ابن رسلان) والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذري.

[٣٩٠٦] (١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: "صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ فِي إِثْرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فَقَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟" قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: قَالَ: أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ، فَأَمَّا مَنْ قَالَ: مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ، فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِي كَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ، وَأَمَّا مَنْ قَالَ: مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا، فَذَلِكَ كَافِرٌ بِي مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ".

دزید بن خالد الجهنی نه روایت دې فرمائی چه رسول الله مونږ ته دسحر مونځ په سندیبیه مقام کښې په سخت باران کښې راکړو کوم چه دشپې شوې وو، نبی کریم و دسحر دمونځ نه دفارغیدونه پس خلقوطرف ته مخ راواروو اود متوجه کیدونه بس ئې اوفرمائیل ایاتاسوته معلومه ده چه ستاسو پروردګار څه فرمائیلي دي؟ خلقو عرض اوکړو الله اودهغه رسول ښه پوهیږي نونبی ﷺ اوفرمائیل الله تعالی فرمائیلي دي زما بعضې بندګان دسحر په وخت کښې ایماندارشول اوبعضې کافرشول پس هرهغه چاچه اووئیل دالله په فضل سره اودهغه په رحمت سره په مونږ باندې باران وشو نوهغه کسان به ایمانداران اور دستورونه انکارکونکي وشمیرل شي، او هرهغه چاچه اووئیل چه په مونږ باندې دفلاني فلانی ستوري په وجه باران وشونوده زمانه انکار وکړو اوبه ستورو ئې یقین وکړو.

قوله: ﴿عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ قَالَ صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- صَلَاةَ الصُّبْحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ فِي إِثْرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلِ الخ﴾

مضمون الحديث :

رسول الله ﷺ د حديبيه په موقع باندې د سحر مونځ ورکړو او د شپې باران هم شوي وو د مانځه نه چه فارغ شو نو خلقو ته متوجه شو او وې فرمائيل : تاسو ته معلومه د چه الله پاک څهٔ اوفرمائيل، بيا حضور ﷺ پخپله اوفرمائيل چه الله پاک فرمائی ﴿ أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ ﴾ چه زما په بندګانو کښې بعضو په کفر سره صبا کړو او بعضو په ایمان سره، کومو خلقو چه د باران په وریدلو باندې داسې اووې چه ﴿ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ ﴾ نو دا سړي په ما باندې ایمان لرونکې دي او د کوکب انکار کونکې دي او کوم سړی چه داسې

---

(١): صحيح البخاري/الأذان ١٥٦ (٨٤٦)، الاستسقاء ٢٨ (١٠٣٨)، المغازي ٣٥ (٤١٤٧)، التوحيد ٣٥ (٧٥٠٣)، صحيح مسلم/الإيمان ٣٢ (١٢٥)، سنن النسائي/الاستسقاء ١٦ (١٥٢٦)، عمل اليوم والليلة ٢٦٧ (٩٢٤)، (تحفة الأشراف: ٣٧٥٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الاستسقاء ٣ (٤)، مسند احمد (١١٥/٤، ١١٦، ١١٧) (صحيح)

اووي چه ﴿ مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا ﴾ چه په مونږ باندې باران اوشو د فلانی ستورى په غروب او طلوع سره، نو دا سړي په ما کافر دي او په کوکب مومن. دا وعيد په هغه صورت کښې دې چه د کوکب په باره کښې هم دا اعتقاد لرونکې وی چه د باران هم د هغې په وجه باندې شوې دې. لکه چه بعض جاهل منجمين داسې ګنړي، او که په دې اعتقاد سره نه وی بلکه خالق د باران صرف الله پاک ګنړي او د دې باوجود ئې دا خبره د نورو نه په اوريدلو سره د هغوی په شان اوکړه نو بيا به کافر نه وی دا به صرف خطا وی.

د دې حديث شرح امام نوویؒ په دې تفصيل سره کړې ده ﴿ مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا ﴾ د نوء جمع انواء راځی د دې اطلاق په نجم (ستوری) باندې هم کيږی خو د اصل لغت په اعتبار سره دا نوء مصدر دې د ناء ينوء نواء نه... چه د هغې معنی غروب او طلوع دواړه راځی دا اتويشت ستوری دی چه د هغې اتويشت مطالع دی چه د هغې نه هغه ټول کال طلوع کيږی.

علماء د هيئت وائی چه په دې ستورو کښې هر يو ستورې په هره ديارلسمه شپه باندې د نمر د راختلو په وخت مغرب طرف ته ډوبيږی او هم دغه شان فورا د هغې بالمقابل په مشرق کښې دويم ستورې راخيژی او بل په مغرب کښې غروب شی، غروب کيدونکو ته انواء وائی او طلوع کيدونکو ته بوارح وائی، نو په کوم وخت چه دا ستورې په ديارلسمه شپه کښې طلوع کيږی نو که په اتفاق سره هغه وخت باران اوشی نو هغې لره هم هغه ستوری ته منسوب کولې شی بعض نسبت د طلوع کيدونکی طرف ته کوی او بعض د غروب کيدونکی طرف ته. والله تعالی اعلم قاله النووی فی شرح مسلم. (تحفة الاحوذی ١٣٥)

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی نحوه، قاله المنذری

بَاب فِي الْخَطِّ وَزَجْرِ الطَّيْرِ

د رمل په خبرو يقين کول او د مرغو په آوازو نو باندې د بد فالئ کولو د مما نعت بيان

[٣٩٠٧]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا عَوْفٌ، حَدَّثَنَا حَيَّانُ، قَالَ غَيْرُ مُسَدَّدٍ: حَيَّانُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا قَطَنُ بْنُ قَبِيصَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "الْعِيَافَةُ وَالطِّيَرَةُ وَالطَّرْقُ مِنَ الْجِبْتِ"، الطَّرْقُ: الزَّجْرُ، وَالْعِيَافَةُ: الْخَطُّ.

قطن بن قبيصه دخپل پلارنه روايت کوی فرامائي چه رسول الله نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل ئې عيافت اوبدفالي نيول اوطرق دبت پرست قسمونه دي، طرق، مرغئ الوزولوته وئيلې شي او عيافت په زمکه باندې دکرخو راښکلوته وئيلې شي.

[٣٩٠٨] حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، قَالَ: قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، قَالَ عَوْفٌ: "الْعِيَافَةُ زَجْرُ الطَّيْرِ وَالطَّرْقُ الْخَطُّ يُخَطُّ فِي الْأَرْضِ".

ابن بشار دمحمدبن جعفرنه نقل کوي چه دعيافت نه مراد دمرغوشړل دي اودطرق نه مراد هغه کرخي دي کوي چه په زمکه باندې راښکلې شي.

قوله: ﴿ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « الْعِيَافَةُ وَالطِّيَرَةُ وَالطَّرْقُ مِنَ الْجِبْتِ ».

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٠٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٧٧/٣، ٦٠/٥) (ضعيف)

الطَّرْقُ الزَّجْرُ وَالْعِيَافَةُ الْخَطُّ ﴾ دا تفسير د امام ابوداؤد رحمه الله د طرف نه دې چه د طرق نه مراد زجر يعنى زجر الطير دې، ناستې مرغئ پاسول د فال اخستلو دپاره، او د عيافه نه مراد خط يعنى علم رمل، او د دې نه روستو روايت كښې دا تفسير د دې برعكس راروان دې. والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

بَابٌ فِي الطِّيَرَةِ وَالْخَطِّ

باب د بدفالئ نيولو بيان

[۳۹۱۰](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ عِيسَى بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الطِّيَرَةُ شِرْكٌ الطِّيَرَةُ شِرْكٌ ثَلَاثًا، وَمَا مِنَّا إِلَّا وَلَكِنَّ اللَّهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ".

دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: بدفالي نيول شرك دي بدفالي نيول شرك دي درې پيرې او په مونږ كښې هريوكس ته خامخا څه حادثه پيښيږي ليكن الله تعالى هغه دتوكل كولو په وجه رفعه كوي.

قوله: ﴿ الطِّيَرَةُ شِرْكٌ الطِّيَرَةُ شِرْكٌ ﴾. ثَلَاثًا ﴿ وَمَا مِنَّا إِلاَّ وَلَكِنَّ اللَّهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ ﴾

يعنى رسول الله ﷺ درې كرته ارشاد اوفرمائيلو ﴿ الطيرة شرك ﴾ چه بدفالى شرک دې. او بيا ئې وړاندې اوفرمائيل چه په مونږ كښې څوک هم داسې نشته چه هغه ته څه اندازه د بدفالئ خيال نه راځى، لږ لږ خيال په شروع كښې راځى يعنى قبل التامل، خو كوم چه مومن وى د هغه چونكه په الله پاک باندې توكل وى په دې وجه د هغه توكل هغه لره د هغه د خيال نه لرې كړى، يعنى هغه په خپل فال باندې نه چليږى، ﴿ وما منا ﴾ د دې عبارت خبر مقدر دې اى وما منا احد الا ويعتريه شئ منه، اعتراء يعنى پيښيدل.

والحديث اخرجه الترمذي وابن ماجه، قاله المنذري

[۳۹۰۹](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ الْحَجَّاجِ الصَّوَّافِ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ، قَالَ: قُلْتُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ؟، قَالَ: كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ".

د معاويه بن حكم السلمي رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه ماعرض وكړو اې دالله رسوله په مونږ كښې بعضې داسې خلق دي چه كرښې اوكاږي پيغمبر پاک ﷺ اوفرمائيل په انبياؤ كښې هم يودالله يو نبى داسې ووچه كرښې به ئې راښكلى نودچاكرښې چه دهغه دكرښو سره مطابق شي نوباک نشته.

قوله: ﴿عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ الخ ﴾ دا حديث په كتاب الصلوة كښې تير شوې دې، والحديث اخرجه مسلم والنسائي بطوله، قاله المنذري.

---

۱): سنن الترمذي/السير ٤٧ (١٦١٤)، سنن ابن ماجه/الطب ٤٣ (٣٥٣٨)، (تحفة الأشراف: ٩٢٠٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٨٩، ٤٣٨، ٤٤٠) (صحيح)

۲): انظر حديث رقم: (٩٣٠)، (تحفة الأشراف: ١١٣٧٨) (صحيح)

[٣٩١١]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ الْعَسْقَلَانِيُّ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَلَا صَفَرَ وَلَا هَامَةَ". فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ: مَا بَالُ الْإِبِلِ تَكُونُ فِي الرَّمْلِ كَأَنَّهَا الظِّبَاءُ، فَيُخَالِطُهَا الْبَعِيرُ الْأَجْرَبُ، فَيُجْرِبُهَا، قَالَ: فَمَنْ أَعْدَى الْأَوَّلَ، قَالَ مَعْمَرٌ: قَالَ الزُّهْرِيُّ: فَحَدَّثَنِي رَجُلٌ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ، قَالَ: فَرَاجَعَهُ الرَّجُلُ، فَقَالَ: أَلَيْسَ قَدْ حَدَّثَنَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا عَدْوَى وَلَا صَفَرَ وَلَا هَامَةَ؟" قَالَ: لَمْ أُحَدِّثْكُمُوهُ؟ قَالَ الزُّهْرِيُّ: قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: قَدْ حَدَّثَ بِهِ وَمَا سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ نَسِيَ حَدِيثًا قَطُّ غَيْرَهُ.

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی نه دیو کس نه بل کس ته مرض لګي اونه دسفري میاشت سپیره ده اونه دکوم مري دکوپړئ نه هامة مرغی سپیره ده چه دچاپه کور راپریوځي، په دې وخت کښې یوباند چې عرض وکړو رهې وئیل چه اې دالله رسوله بیابه ددې اوښانوڅه حال وي کوم چه دهوسیوپه شان حاربه اوصحت مند. وي په سحرا کښې ګرځي کله چه په دوی کښې بویمن اوښ ننوځي نوپه نوروهم خارښ لګي نبی علیه السلام دې کس ته اوفرمائیل اولنې اوښ چا پمن کړې دې؟ زهري وئیلی دی چه ماته یوکس دابوهریره په واسطې سره روایت بیان کړې دې چه نبی علیه السلام اوفرمائیل چه مریض اوښ دې د اوبو څکلو دپاره هغه ځائې ته نشي بوتلې چرته چه روغ څاروي اوبه څي بیادغه کس دابوهریره په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې وکړو ابانبی علیه السلام دانه دې فرمائیلي چه نه خودیوبیماري بل ته لګي اونه دسفري میاشت سپیره ده، ابوهریره اوفرمائیل ما دا روایت نه دې بیان کړې ابوسلمه وائي ابوهریره پخپله دا روایت بیان کړې وو او مادانه دې اوریدلي چه ددې حدیث نه علاوه دابوهریره رضی الله عنه نه بل حدیث هیرشوې دې.

مضمون الحدیث :

قوله: ﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ وَلاَ صَفَرَ وَلاَ هَامَةَ ». فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ مَا بَالُ الإِبِلِ تَكُونُ فِي الرَّمْلِ كَأَنَّهَا الظِّبَاءُ فَيُخَالِطُهَا الْبَعِيرُ الأَجْرَبُ فَيُجْرِبُهَا قَالَ « فَمَنْ أَعْدَى الأَوَّلَ »﴾ د عدوی معنی د یوې بیمارئ بل ته لګیدل، لکه چه د بعض مرضونو په باره کښې خلق ګنړی چه دا مرض متعدی دې د یو نه بل ته لګیږی. مثلاً خارښ..... نو رسول الله ﷺ فرمائي چه دا خبره غلطه ده داسې نه ده په دې باندې یو اعرابی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه مونږ خو ګورو چه ډیر اوښان کوم چه په صحراګانو کښې ګرځی د صفا ستهره هو سو په شان ښکلې، نو که په هغې کښې یو خارښتی اوښ حاضر شی نو په ټولو باندې خارښ لګوی، رسول الله ﷺ د دې سائل په جواب کښې اوفرمائیل هغه اوښ د چا د اختلاط د وجې نه چه په نورو خارښ لګیدلې دې هغه ته د چا نه خارښ لګیدلې وو؟ هغه ته خو د چا نه هم نه وو لګیدلې، د خارښ ابتداء خو د هغه نه شوې وه، په دې باندې هغه سائل خاموش شو.

(): صحیح البخاري/الطب ٢٥ (٥٧١٧)، ٤٥ (٥٧٥٧)، ٥٣ (٥٧٧٠)، ٥٤ (٥٧٧٢)، (تحفة الأشراف: ١٥٢٧٣، ١٥٥٠٢)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/السلام ٣٣ (٢٢٢٣)، مسند احمد (٢/٢٦٧، ٣٢٧، ٣٩٧) (صحیح)

قوله:﴿ قَالَ مَعْمَرٌ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَحَدَّثَنِي رَجُلٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « لاَ يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ ». قَالَ فَرَاجَعَهُ الرَّجُلُ الخ ﴾

هغه حديث كوم چه ابوهريره رضي الله عنه نه د بيانولو نه پس هير شو

امام زهري رحمه الله فرمائي چه يو سړي ماته بيان اوكړو چا چه د ابوهريره رضي الله عنه نه حديث اوريدلي وو. ﴿ لا يوردن ﴾ الخ چه د هغې مطلب دا دې چه د كوم سړي اوښ بيمار وي نو هغه له پكار دي چه خپل اوښان د هغه سړي په اوښانو كښې نه ګډوي د چا اوښان چه صحت مند دي، هغه سړي د ابوهريره رضي الله عنه نه د دې حديث د اوريدلو نه پس تپوس اوكړو په طور د اشكال چه تاسو خو ماته دا حديث مخكښې بيان كړې وو ﴿ لا عدوى ولا صفر ولا هامة ﴾ مطلب دا دې چه تاسو چه ماته اوس كوم حديث بيانوئ دا ستاسو د بيان كړې مخكښې حديث خلاف دې، نو په دې باندې ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائيل چه دا حديث ما تاسو ته نه دې بيان كړې، يعنى د ﴿ لا عدوى ولا صفر ﴾ حال دا چه واقعه دا ده چه دا حديث هم د هغوى بيان كړې شوې دې لكه چه پورته په متن كښې تير شوې دي، هم په دې وجه وړاندې امام زهري رحمه الله د ابوسلمه نه نقل كوي : ﴿ وَمَا سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ نَسِيَ حَدِيثًا قَطُّ غَيْرَهُ ﴾ يعنى د ابوهريره رضي الله عنه نه يو حديث هم نه دې هير شوې سوا د دې حديث نه ﴿ لا عدوى ولا صفر ﴾....

په دې حديث كښې درې اجزاء دي اول لاعدوى كوم چه مونږ پورته بيان كړې دي، دويم ﴿ لا صفرا ﴾ او دريم ﴿ لا هامة ﴾ د دې دويم او دريم جزء تفسير په وړاندې روايت كښې راوران دې. والحديث اخرجه البخاري، ومسلم مطولا ومختصرا، قاله المنذري.

په دوه متعارض احاديثو كښې تطبيق :

د ﴿ لا عدوى ﴾ په باره كښې مشهور اشكال دا دې چه دا د هغه دويم حديث خلاف دې چه په هغې كښې دي ﴿ فر من المجذوم فرارك من الاسد ﴾ چه د هغې نه معلوميږي چه د جذام مرض د امراض متعديه نه دې، د يو نه بل ته لګيږي لهذا د دې نه ځان بچ كول پكار دي، د دې دوه جوابونه دي اول دا چه د﴿ لا عدوى ﴾ نه مقصود د مطلق اعداء نفى نه ده بلكه د تاثير نفى مقصود ده، يعنى د يو سړي مرض بل سړي ته پخپله نه لګيږي بلكه د الله پاك په اذن باندې لګيږي، هغه چه كله غواړي هله لګيږي، او د بعضو مرضونو په باره كښې د الله پاك عادت دا جاري دې چه هغه ئې لګوي او جذام هم په هغې كښې يو دې لهذا د الله پاك د تقدير نه ويره كولو سره د هغې نه بچ كيدل پكار دي، او دويمه توجيه دا كړې شوې ده چه د ﴿ لا عدوى ﴾ والا حديث خو په خپل عموم باندې دې مطلقا يو بيماري بل ته نه لګي، او دا دويم حديث د جذام والا په سد ذرائع باندې حمل دې يعنى د مجذوم نه د تختيدلو حكم په دې وجه نه شي وركولې چه د جذام بيماري بل ته لګيږي بلكه د عقيدې دفساد نه د بچ كيدلو دپاره وئيلې شي چه هغه ته نزدې مه ورځئ، هسې نه چه څوک په تقدير الهى سره په جذام كښې اخته شي او هغه دا اوګڼړي چه زه چونكه د مجذوم خواله تلې اوم په دې وجه ما ته دا بيماري اولګيده.

دا تعارض او د جواب بحث تاسو په شرح نخبة الفكر كښې هم لوستلې دې او يو جواب د دې تعارض دا هم وركړې شوې دې، كما ذكره المنذرى فى المختصر : چه د احتياط او د احتراز روايت ﴿ لا يوردن ﴾ او ﴿ فر من المجذوم ﴾ وغيره منسوخ دى، او د ﴿ لا عدوى ﴾ والا حديث ئې ناسخ دې.

[۳۹۱۲]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا عَدْوَى وَلَا هَامَةَ وَلَا نَوْءَ وَلَا صَفَرَ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى كريم صلی الله علیه وسلم فرمائيلى دى نه ديوكس نه بل كس ته مرض لګې اونه دځاروې په شكل كښې دمړې روح دنياته راځې، اونه دصفرې مياشت سپيره ده.

[۳۹۱۳]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ بْنِ الْبَرْقِيِّ، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْحَكَمِ، حَدَّثَهُمْ، قَالَ: أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنِي ابْنُ عَجْلَانَ، حَدَّثَنِي الْقَعْقَاعُ بْنُ حَكِيمٍ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مِقْسَمٍ، وَزَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا غُولَ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى كريم صلی الله علیه وسلم فرمائيلى دى : بت چاته دنقصان رسولو اختيار نه لرې.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « لاَ غُولَ » ﴾

غول چه د هغې معنى غيلان راځى د جناتو يو قسم دې چه د هغوى په باره كښې به اهل جاهليت اعتقاد ساتلو چه د هغه دپاره په اضلال او اهلاک كښې تاثير دې يعنى په ځنګل كښې ځانله سړې د لارې نه لرې كول او ورک كول او دا چه هغه په مختلف صورتونو كښې متشكل كيږى په هندوستان كښې خو دا اوس هم د غول بيابانى په نوم باندې مشهور دې او د دې نه خلق ويريږى. خو مقصود په حديث كښې د هغوى د وجود نفى نه ده بلكه د تاثير نفى ده پس په بعضو رواياتو كښې دى چه هغوى د اذان نه تختى، او د هغه نه د بچ كيدلو دپاره آذان كولې شى.

[۳۹۱٤]()قَالَ أَبُو دَاوُد: قُرِئَ عَلَى الْحَارِثِ بْنِ مِسْكِينٍ وَأَنَا شَاهِدٌ، أَخْبَرَكُمْ أَشْهَبُ، قَالَ: سُئِلَ مَالِكٌ: عَنْ قَوْلِهِ: لَا صَفَرَ، قَالَ: إِنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوا يُحِلُّونَ صَفَرَ يُحِلُّونَهُ عَامًا، وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا صَفَرَ.

امام ابوداؤد فرمائى چه دا حديث حارث بن مسكين ته واورولې شواوزه هلته موجود وم چه اشهب خبر وركړو او وې فرمائيل چه دامام مالك نه د لا صفرپه باره كښې تپوس وكړې شو هغه اوفرمائيل چه دجاهليت په زمانه كښې به كله كله دصفر مياشت حلاله ګڼړلې شوه اوكله كله به ئې دصفرې مياشت حرامه اوګرځوله او محرم به ئې حلال ګڼړلو، نوددې درد دپاره نبى عليه السلام اوفرمائيل چه دصفرې په مياشت كښې هيڅ تاثيرنشته.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٤۰٦۸)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الطب ۳۳ (۲۲۲۰)، مسند احمد (۳۹۷/۲) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۳۳۲، ۱۲۸۲۹، ۱۲۸٦۸) (حسن صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود (صحيح)

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ قُرِئَ عَلَى الْحَارِثِ بْنِ مِسْكِينٍ وَأَنَا شَاهِدٌ أَخْبَرَكُمْ أَشْهَبُ قَالَ سُئِلَ مَالِكٌ عَنْ قَوْلِهِ « لاَ صَفَرَ » الخ ﴾ امام ابوداؤد رحمه الله د خپل استاد حارث بن مسکین نه په خپل سند سره نقل کوی چه د امام مالک رحمه الله مشهور شاګرد اشهب فرمائی : د امام مالک رحمه الله نه تپوس اوکړې شو د ﴿ لا صفر ﴾ په باره کښې نو هغوی اوفرمائیل چه اهل جاهلیت به محرم ته د صفر میاشت وئیله او دا به ئې حلالوله یعنی هم هغه د کوم نه چه په نسئ سره تعبیر کولې شي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې نفی فرمائی چه دا غلطه ده او نسئ ناجائز ده.

قوله: ﴿ قُرِئَ عَلَى الْحَارِثِ بْنِ مِسْكِينٍ ﴾ په کتاب الخراج کښې هم په بعض ځایونو کښې راغلې دي دا هم هغه حارث بن مسکین دي د چا نه چه امام نسائی رحمه الله په کثرت سره روایت کوی، او په یو خاص طریقې سره روایت کوی، یعنی د اخبار او تحدیث نه علاوه په داسې طریقه چه د حارث بن مسکین مخکښې دا حدیث اولوستلې شو کوم وخت چه په مجلس کښې زه هم موجود اوم. د هغوی په باره کښې دا واقعه هم مشهوره ده چه دې د امام نسائی رحمه الله نه خفه وو هغوی سره ئې خفګان وو په دې وجه به ئې امام نسائی رحمه الله په مجلس کښې مخامخ نه راتلو، په یو ګوټ کښې به ئې د هغوی نه اوریدل کول زما دلته دا خیال راځی چه د امام ابوداؤد رحمه الله سره هم د هغوی هم دغه شان خفګان وو او هم په دې وجه به قرأت کونکې بل څوک وو او امام ابوداؤد رحمه الله به صرف اوریدونکې وو. والله تعالی اعلم

[۳۹۱۵](١)حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ، وَيُعْجِبُنِي الْفَأْلُ الصَّالِحُ وَالْفَأْلُ الصَّالِحُ الْكَلِمَةُ الْحَسَنَةُ".

دانس رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دیو کس نه بل کس ته مرض نه لګي اوبدفالي نیول ئې بنیاده خبره ده اوزمانیك فال خوښ وي اونیك فال مطلب یوه ښه خبره ده (یعنی دیوار په کولوکښې دچادخولې نه ښه خبره اوریدل او په هغې باندې قیاس کول چه انشاء الله زما شروع کړې شوې کار به انجام ته ورسیږي نو دا جائزدې).

قوله: ﴿ وَالْفَأْلُ الصَّالِحُ الْكَلِمَةُ الْحَسَنَةُ ﴾ یعنی په اسلام کښې بدفالی خو نشته خو نیک فالی پکښې شته، لکه چه یو انسان د کور نه اوځی او څوک داسې سړې ئې مخې له راشی چه د هغه نوم سهیل دې نو د هغه نه د سهولت فال نیول چه د کوم کار د پاره د کور نه وتلې دې په هغې کښې به انشاء الله سهولت وی. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی وابن ماجه، قاله المنذری.

[۳۹۱٦](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُصَفَّى، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ قَالَ: قُلْتُ لِمُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ رَاشِدٍ، قَوْلُهُ هَامَ، قَالَ: كَانَتِ الْجَاهِلِيَّةُ تَقُولُ: لَيْسَ أَحَدٌ يَمُوتُ، فَيُدْفَنُ، إِلَّا خَرَجَ مِنْ قَبْرِهِ هَامَةٌ، قُلْتُ: فَقَوْلُهُ "صَفَرَ" قَالَ: سَمِعْتُ أَنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ يَسْتَشْئِمُونَ بِصَفَرَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا صَفَرَ"، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَقَدْ سَمِعْنَا مَنْ يَقُولُ هُوَ وَجَعٌ يَأْخُذُ فِي الْبَطْنِ، فَكَانُوا يَقُولُونَ هُوَ يُعْدِي، فَقَالَ: "لَا صَفَرَ".

١): صحيح البخاري/الطب ٤٤ (٥٧٥٦)، ٥٤ (٥٧٧٦)، سنن الترمذي/السير ٤٧ (١٦١٥)، (تحفة الأشراف: ١٣٥٨)، وقد اخرجه: صحيح مسلم/السلام ٣٤ (٢٢٢٤)، مسند احمد (١١٨/٣، ١٥٤، ١٧٨) (صحيح)

٢): تفرد به أبو داود (صحيح)

د بقیه نه روایت دې فرمائی چه د محمد ابن راشد نه مې تپوس اوکړو چه دنبی ﷺ ددې قول وهام، نشته څه مطلب دې؟ هغه اوفرمائیل د جاهلیت په زمانه کښې به خلقوونیل هریوکس چه وفات کیږي اوبیاهغه په قبرکښې دفن کولې شي نودهغه کوپړی دقبرنه بهر راوځي او راځي. مابیا تپوس اوکړو چه د لاصفر څه معنی ده هغه اووئیل دجاهلیت په زمانه کښې به خلقو دصفر میاشت سپیره ګنډله نوپه دې وجه باندې نبی ﷺ اوفرمائیل د صفري دمیاشتي څه تاثیرنشته، محمد بن راشد اووئیل چه ما دبعضو کسانو نه اوریدلی دی چه وئیل ئې چه صفر په خیټه کښې دیودرد نوم دې اهل عربو به وئیل چه دا درد دیوکس نه بل کس ته لګي نوپه دې مناسبت باندې نبی ﷺ اوفرمائیل صفر نشته.

شرح الحدیث:

قوله: ﴿ قُلْتُ لِمُحَمَّدٍ – ابْنَ رَاشِدٍ – قَوْلُهُ « هَامَةَ». قَالَ كَانَتِ الْجَاهِلِيَّةُ تَقُولُ لَيْسَ أَحَدٌ يَمُوتُ فَيُدْفَنُ إِلاَّ خَرَجَ مِنْ قَبْرِهِ هَامَةٌ ﴾ هامة په لغت کښې هغه مارغۀ ته وائی د کوم نوم چه ګونګې دې، او د هامة معنی په لغت کښې د کھوپړئ هم راځي، د جاهلیت په زمانه کښې د خلقو دا خیال وو چه د کوم مقتول قصاص او خون بها نه شي اخستلې نو د هغه د دفن کیدو نه پس د هغه په سر کښې ګونګې راوځي (قبر څیرلو سره) او ښهر ته په راتلو سره د یو اوچت کور په چهت باندې کینی او چغې وهی، او ګویا هغه په خپله ژبه کښې دا وائی چه ﴿ اسقونی اسقونی ﴾ په ما باندې د قاتل وینه اوڅکئ، ګویا تر څو چه د هغه قصاص نه وی اخستلې شوې زه به د دې ځائې نه واپس نه شم، دې ځناور ته صدی هم وائی په مصباح اللغات کښې لیکلي دی چه د ګونګی یو قسم دې چه د هغه سر لوئې وی او هغه په خوشو ځایونو کښې اوسیږی، د هغې نوم هامه هم دې ځنګه چه هامه په معنی د کھوپړئ راځی د صدئ ئې هم یو لغوی معنی د دماغ لیکلې ده د دې نه په روستو روایت کښې راځي چه ابن جریج د خپل استاد عطاء نه تپوس اوکړو: ﴿ قُلْتُ فَمَا الْهَامَةُ ؟ قَالَ يَقُولُ النَّاسُ الْهَامَةُ الَّتِي تَصْرُخُ هَامَةُ النَّاسِ وَلَيْسَتْ بِهَامَةِ الإِنْسَانِ إِنَّمَا هِيَ دَابَّةٌ ﴾ یعنی دا خلق چه وائی چه دا ګونګې چغې وهی د کوم نوم چه هامة دې دا هامة الناس دې یعنی د سړی کھوپړئ. (الهامة التی تصرخ ﴾ موصوف سره د صفت نه مبتدا او ﴿ هامة الناس ﴾ ئې خبر..... حال دا چه دا د انسان کھوپړئ نه ده دا خو یو ځناور او یو مارغۀ دې.

بیا وړاندې په دې روایت کښې د هغه صفر په باره کښې سوال دې نو هغوی یعنی محمد بن راشد جواب ورکړو چه مونږ دا اوریدلې دی چه بعض اهل جاهلیت به د صفر د میاشتې نه بدفالی نیوله او دا به ئې نامبارکه ګنړله په دې وجه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ لا صفر ﴾ چه په اسلام کښې داسې نشته، دا میاشت نامبارکه نه ده، بیا محمد بن راشد د دې یو بل تفسیر نقل کړو چه بعض خلق د صفر په باره کښې دا وائی چه دا د خیټې د یو تکلیف نوم دې چه د هغې په باره کښې د خلقو دا خیال وو چه دا تکلیف نورو ته لګی نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ﴿ لا صفر ﴾

[٣٩١٧]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ كَلِمَةً فَأَعْجَبَتْهُ، فَقَالَ: أَخَذْنَا فَأْلَكَ مِنْ فِيكَ".

دابوهريره ﷺ نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ يوه خبره واوريده کومه چه هغه ښه وګڼړله نووئي فرمائيل ماستاسو فال ستاسو دخولې نه واوريدو (يعني ددې انجام به بهتروي).

[٣٩١٨]() حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: يَقُولُ: "وَجَعٌ يَأْخُذُ فِي الْبَطْنِ، النَّاسُ الصَّفَرُ، قُلْتُ: فَمَا الْهَامَةُ؟، قَالَ: يَقُولُ النَّاسُ: الْهَامَةُ الَّتِي تَصْرُخُ هَامَةُ النَّاسِ وَلَيْسَتْ بِهَامَةِ الْإِنْسَانِ إِنَّمَا هِيَ دَابَّةٌ".

دعطاء نه روايت دې فرمائي چه خلقوبه وئيل صفر ديودرد نوم دې کوم چه په خيټه کښې وي، ابن جريج وئيلي دی بيا ما دهامه تپوس اوکړو چه هامه څه شې دې عطاء اووئيل هامه يوخاروې دې او څوك چه دا وائي چه دا دانسان کوپړی وي حالانکه هغه دانسان کوپړئ نه وي بلکه هغه يوخاروې وي.

[٣٩١٩]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ شَيْبَةَ الْمَعْنَى، قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ أَحْمَدُ، الْقُرَشِيُّ قَالَ: "ذُكِرَتِ الطِّيَرَةُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَحْسَنُهَا الْفَأْلُ وَلَا تَرُدُّ مُسْلِمًا فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يَكْرَهُ، فَلْيَقُلِ اللَّهُمَّ لَا يَأْتِي بِالْحَسَنَاتِ إِلَّا أَنْتَ، وَلَا يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إِلَّا أَنْتَ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِكَ".

د احمد قرشي نه روايت دې فرمائي چه دنبي ﷺ په وړاندې دبدفالي نيولو ذکر وشو نووئي فرمائيل ددې په بهترينو اقساموکښې فال دې اوبدفالي نيول دکوم مسلمان دپاره دکار نه منع کوي او په تاسوکښې چه کله څوك ګوم داسې شې اووينې کوم چه بد ګڼړي نو دا کلمات دې اووائي: «اللَّهُمَّ لا يأتي بالحسنات إلا أنت ولا يدفع السيئات إلا أنت ولاحول ولا قوة إلا بك». يعني اې الله ستانه علاوه څوك خير نشي رسولې اوستانه علاوه څوك ضرر نشي لرې کولې اود بدئ نه دمنع کيدو طاقت اودنيکئ کولو طاقت صرف ستاپه توفيق سره حاصليږي.؟؟

قوله:﴿ أَحْسَنُهَا الْفَأْلُ وَلاَ تَرُدُّ مُسْلِمًا ﴾ طيرة د جنس درجه ده مطلق فال راويستلو ته وائي که ښه وی او که بد وی، او د فال استعمال د نوع په طور په ښه فال کښې هم کيږی په دې وجه چه کله د رسول الله ﷺ په مخکښې د طيره ذکر راغلو نو رسول الله ﷺ د فال حسن تحسين اوفرمائيلو چه هغه ښه څيز دې اسلام هغې لره خوښوی په خلاف د بد فال، او بيا فرمائي ﴿ولا ترد مسلما ﴾ چه انسان دې په خپل بد فال باندې نه چليږی، او يو مسلمان لره د بد فال په وجه باندې د خپل کار نه منع کيدل نه دی پکار، يعنی اول خو بد فال نيول نه دی پکار او که د هغې خيال په زړه کښې راشی بې اختياره نو بيا هغه د هغه کار نه مانع کيدل نه دی

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٠١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨٨/٢) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود (صحيح)
(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٨٩٩) (ضعيف)

پکار کوم چه کول دی لکه چه مخکښې تیر شو: ﴿ وَمَا مِنَّا إِلاَّ وَلَكِنَّ اللَّهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ ﴾ بیا وړاندې په حدیث کښې دی چه که د یو سړی مخکښې څه ناخوښه څیز راشی (نو د هغې د ضرر نه د بچ کیدو دپاره) دا لوستل پکار دی:

﴿ اللَّهُمَّ لاَ يَأْتِي بِالْحَسَنَاتِ إِلاَّ أَنْتَ وَلاَ يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إِلاَّ أَنْتَ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِكَ ﴾

[۳۹۲۰](۱) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ لاَ يَتَطَيَّرُ مِنْ شَيْءٍ، وَكَانَ إِذَا بَعَثَ عَامِلاً سَأَلَ عَنِ اسْمِهِ، فَإِذَا أَعْجَبَهُ اسْمُهُ فَرِحَ بِهِ وَرُئِيَ بِشْرُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ، وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهُ رُئِيَ كَرَاهِيَةُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ، وَإِذَا دَخَلَ قَرْيَةً سَأَلَ عَنِ اسْمِهَا، فَإِنْ أَعْجَبَهُ اسْمُهَا فَرِحَ وَرُئِيَ بِشْرُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ، وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهَا رُئِيَ كَرَاهِيَةُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ".

عبد الله بن بریده د خپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام به په کوم څیز باندې بدفالي نه نیوله او چه کله به ئې څوک کوې عهدې ته د انجام ورکولو دپاره لیږلو نو نبی علیه السلام به د هغه د نوم معلومات وکړو که چرې د هغه نوم به ئې خوښ شو نو نبی علیه السلام به ورنه خوشحاله شو او د غه خوشحالي به د هغه په مخ باندې سرګنده شوه او که چرې د هغه نوم به ئې خوښ نه شو نو د ناخوښې اثار به ئې په مخ مبارك باندې سترګند شول او کله چه به نبی علیه السلام یو کلي ته داخلیدو نو د دغه کلی د نوم تپوس به ئې وکړو که چرې د دغه کلی نوم به ئې خوښ شو نو نبی علیه السلام به خوشحاله شو او دغه خوشحالي به د هغه په مخ باندې سرګنده شوه او که چرې د هغه کلی نوم به ئې خوښ نه شو نو د ناخوښئ آثار به ئې په مخ مبارك باندې سرګند شول.

قوله: ﴿ وَكَانَ إِذَا بَعَثَ عَامِلاً سَأَلَ عَنِ اسْمِهِ فَإِذَا أَعْجَبَهُ اسْمُهُ فَرِحَ بِهِ ورؤى بِشْرُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهُ رُؤِىَ كَرَاهِيَةُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ ﴾ یعنی کله چه به رسول الله ﷺ یو عامل چرته لیږلو نو د هغه د لیږلو نه مخکښې به ئې د هغه نوم تپوسلو، که د هغه نوم به ښه وو نو په دې باندې به رسول الله ﷺ خوشحالیدو او هغه خوشحالی به د هغوی د مخ مبارك نه ښکاره کیده (دا خو نیک فالی شوه) او که د رسول الله ﷺ به د هغوی نوم خوښ نه شو نو دا ناخوښی به د هغوی په مخ مبارك باندې ښکاره کیده، دا په ظاهره بدفالی ده) خو شارحینو د دې مطلب دا لیکلې دې چه دا اثر د بدفالئ د وجې نه نه وو بلکه د نیك فالئ د حاصلیدو دا اثر وو.

وړاندې په حدیث کښې هم دغه شان د هغه کلی په باره کښې راغلې دی چه په هغې کښې به هغوی د سفر دوران کښې داخلیدل، په دې باندې بعض علماء کرامو لیکلې دی چه سړی له پکار دی چه د خپل اولاد او خادمانو دپاره ښه نوم تجویز کړی چه نیك فالی حاصل شی. والحدیث اخرجه النسائی، قاله النووی

[۳۹۲۱](۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنِي يَحْيَى، أَنَّ الْحَضْرَمِيَّ بْنَ لاَحِقٍ، حَدَّثَهُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: "لاَ هَامَةَ وَلاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، وَإِنْ تَكُنِ الطِّيَرَةُ فِي شَيْءٍ، فَفِي الْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ وَالدَّارِ".

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۹۹۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۴۷/۵) (صحیح)

(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۸۶۱)، وقد أخرجه: حم (۱/۱۸۰، ۱۸۶) (صحیح)

د سعید بن مالک رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله به فرمائیل نه هامه شته اونه عدوی اونه سپیره والې په کوم شي کښې اوکه چرې سپیره والې اوبدفالي وې نوپه درې څیزونوکښې به وې په اس کښې اوپه ښځه کښې او په کور کښې.

قوله: ﴿عَنْ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَقُولُ « لاَ هَامَةَ وَلاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ وَإِنْ تَكُنِ الطِّيَرَةُ فِى شَىْءٍ فَفِى الْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ وَالدَّارِ » ﴾

دا حدیث خو د سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه دې، وړاندې په حدیث د ابن عمر رضي الله عنهما کښې هم داسې راروان دی.

[٣٩٢٢]([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ حَمْزَةَ، وَسَالِمٍ ابْنَيْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الشُّؤْمُ فِي الدَّارِ وَالْمَرْأَةِ وَالْفَرَسِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قُرِءَ عَلَى الْحَارِثِ بْنِ مِسْكِينٍ وَأَنَا شَاهِدٌ، أَخْبَرَكَ ابْنُ الْقَاسِمِ، قَالَ: سُئِلَ مَالِكٌ عَنِ الشُّؤْمِ فِي الْفَرَسِ وَالدَّارِ، قَالَ: كَمْ مِنْ دَارٍ سَكَنَهَا نَاسٌ، فَهَلَكُوا ثُمَّ سَكَنَهَا آخَرُونَ، فَهَلَكُوا؟ فَهَذَا تَفْسِيرُهُ فِيمَا نَرَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: حَصِيرٌ فِي الْبَيْتِ خَيْرٌ مِنَ امْرَأَةٍ لَا تَلِدُ.

دعبدالله رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ق فرمائیلی دی سپیره والی په درې څیزونو کښې وې یو په کور بل په ښځه کښې اودریم په اس کښې. ابوداؤد فرمائی دامام مالك نه تپوس اوکړې شو چه ایا په کور اوپه اس کښې سپیره والې وې؟ هغه اووئیل یوڅوکورونه داسې وو چه په هغې کښې خلق اوسیدل اوبیاهغوی مړه شول نوهلته نور خلق آباد شول بیا هغوی هم مړه شول نودادکور سپیره والې شو الله تعالی ښه پوهیږي.

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ.... أَخْبَرَكَ ابْنُ الْقَاسِمِ قَالَ سُئِلَ مَالِكٌ عَنِ الشُّؤْمِ فِي الْفَرَسِ وَالدَّارِ قَالَ كَمْ مِنْ دَارٍ سَكَنَهَا نَاسٌ فَهَلَكُوا ثُمَّ سَكَنَهَا آخَرُونَ فَهَلَكُوا فَهَذَا تَفْسِيرُهُ الخ﴾

په روایت الباب کښې دوه حیثیتونو سره تعارض او د دواړو جواب:

په دې دواړو احادیثو کښې اولا د مطلق طیرة د نفی نه پس د درې څیزونو استثناء کړې شوې ده، فرس، مراة او دار.... خو په ړومبی حدیث کښې استثناء په طور د تعلیق ده یعنی ﴿ وان تکن الطیرة فی شی ﴾ او په دویم حدیث کښې بغیر د تعلیق نه ده ﴿ الشؤم فی ثلاثة ﴾ په ظاهر کښې دا تعارض دې د دې جواب خو هم دا ورکړې شوې دې چه چرته تعلیق نشته هلته هم دا حکم هم په طور د تعلیق دې یعنی که بدفالی په یو څیز کښې وې نو هغه به په دې دریو څیزونو کښې وې، خو چونکه په اسلام کښې بدفالی په یو څیز کښې هم نشته لهذا په دې دریو څیزونو کښې هم نشته او د امام قرطبی رحمه الله رائې دا ده چه د تعلیق والا

[1]: صحیح البخاري/الجهاد ٤٧ (٢٨٥٨)، النكاح ١٧ (٥٠٩٣)، الطب ٤٣ (٥٧٥٣)، ٥٤ (٥٧٧٢)، صحیح مسلم/السلام ٣٤ (٢٢٢٥)، سنن الترمذي/الأدب ٥٨ (٢٨٢٤)، سنن النسائي/الخيل ٤ (٣٥٩٩)، سنن ابن ماجه/النكاح ٥٥ (١٩٩٥)، (تحفة الأشراف: ٦٨٦٤، ١٨٢٧٦، ٦٦٩٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الأستئذان ٨ (٢٢)، مسند احمد (٢/٨، ٣٦، ١١٥، ١٢٦) (صحیح)

روایت مقدم دي دي وخته پورې رسول اللهﷺ ته په دې ځيزونو کښې د تحقق شؤم علم نه وو شوې، بيا روستو چه هغوی ته د دې علم اوشو چه په دې دريو کښې وی نو هغوی بالجزم اوفرمائيل چه ﴿ الشوم فی الثلاثة ﴾، او يو جواب دا ورکړې شوې دې چه ﴿ ان تکن الطيرة ﴾ سره مقصود اظهار د تردد او شک نه دې بلکه په دې سره مقصود اثبات په طريقه د مبالغې، لکه چه څوک داسې اوائی چه په دنيا کښې که څوک دوست دې نو هغه زيد دې دغه شان دلته هم په دې حديث کښې مقصود دا دې چه په دې درې واړو کښې طيرة بالضرور او باليقين ده دا خو جواب شو د هغه دوه مختلفو روايتونو خو دويم اختلاف اوس هم باقی دې چه ﴿ لا عدوی ولا طيرة ﴾ کښې د شوم علی الاطلاق نفی ده او په دې حديث کښې په دې اشياء ثلاثه کښې شوم ثابت دې، د دې جواب دا دې چه دا درې د دې نفی د عموم نه مستثنی دی، خو د اهل جاهليت د مسلک موافق نه چه په دې درې ځيزونو کښې تاثير اومنلې شی فی حد ذاتها، بلکه د اهل اسلام د مسلک په طريق باندې چه الله پاک مسبب الاسباب دې هم هغه په بعض ځيزونو کښې د نفع او ضرر تاثير پيدا کوی نو هم هغه په دې دريو کښې اثر ضرور پيدا کړې دې، دې رائې لره بالتصريح اختيار کونکې امام مالکرحمه الله دې لکه چه مخکښې په متن کښې ذکر شوچه هغوی اوفرمائيل تاسو ګورئ نه چه څومره ډير کورونه داسې دی چه هغې ته خلق راغلل او استوګنه ئې پکښې اختيار کړه خو هغه تباه شو او خراب شو بيا چه نور خلق هغې ته راشی نو د هغوی هم دا حال شی يعنی بعض کورونه داسې وی (١) خو د امام مالکرحمه الله قول کوم چه دلته په ابوداؤد کښې ذکر دې په اواخر دموطاء کښې چه کوم باب دې ﴿ ما يتقی من الشوم ﴾ په عنوان سره هلته هغوی دا د اشياء ثلاثه والاحاديث خو ذکرکړې دې خودهغوی رائې هلته د موطاء په موجوده نسخه کښې نشته بلکه دابه غالبا دموطاء چه کوم روايت د ابن القاسم نه دې په هغې کښې به وی.

امام ترمذیرحمه الله په کتاب الادب ﴿ باب ما جآء فی الشوم ﴾ کښې اول حديث د ابن عمررضی الله عنهما ﴿ الشوم فی الثلاثة الحديث ﴾ په باره کښې فرمائيلې دی ﴿ هذا حديث حسن صحيح ﴾ وفی تحفة الاحوذی : واخرجه الشيخان.... د دې نه پس ترمذی کښې دی : ﴿ وقد روی عن النبی انه قال ان کان الشوم فی شئ ففی المراة والدابة والمسکن ﴾ په دې باندې په تحفة الاحوذی ٨/٩٥ کښې دی رواه الشيخان (٢) عن ابن عمر، وکذا عن سهل بن سعد اهـ.

---

(١) دا خو شوم فی الدار شو خو شوم فی الفرس والمراة هغوی نه دې بيان فرمائيلې، بعض علماء کرامو وئيلې دی چه د زنانه دپاره شؤم دا دې چه هغه شنډه شی د هغې اولاد نه وی او دا چه د خاوند مخکښې بدژبانی کوی او شوم الفرس دا دې چه په هغې باندې جهاد اونکړې شی.

(٢) معلومه شوه چه دا دواړه روايتونه د تعليق او بغير د تعليق نه د صحيحينو دی، لهذا په دې کښې يو ته هم ضعيف نه شی وئيلې کيدې او د تطبيق بين الحديثين شکلونه هم هغه دی کوم چه پورته ذکر شو.

[٣٩٢٣](١)حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، وَعَبَّاسُ الْعَنْبَرِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَحِيرٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ فَرْوَةَ بْنَ مُسَيْكٍ، قَالَ: قُلْتُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرْضٌ عِنْدَنَا يُقَالُ لَهَا أَرْضُ أَبْيَنَ هِيَ أَرْضُ رِيفِنَا وَمِيرَتِنَا وَإِنَّهَا وَبِئَةٌ، أَوْ قَالَ: وَبَاؤُهَا شَدِيدٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دَعْهَا عَنْكَ فَإِنَّ مِنَ الْقَرَفِ التَّلَفَ".

د فروه بن مسيك نه روايت دې دې وائي ماعرض اوکړو اې د الله رسوله زمونږ سره زمکه ده کومي ته چه مونږه ابين وايو اودغه زمکه زرغونه او د فصلونو زمکه ده او زمونږه دغلې ځائې دې هلته هميشه افتونه راځي، ياداچه راوی اووئيل ددغه ځائې وباډيره سخته وي نونبی ﷺ اوفرمائيل په دې زمکه کښې اوسيدل پريږده، دوباپه زمکه کښې په اوسيدوسره انسان هلاکيږي.

قوله: ﴿ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرْضٌ عِنْدَنَا يُقَالُ لَهَا أَرْضُ أَبْيَنَ هِيَ أَرْضُ رِيفِنَا وَمِيرَتِنَا وَإِنَّهَا وَبِئَةٌ الخ ﴾

يو صحابی رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه زمونږ يوه زمکه ده چه د هغې نوم ارض ابين دې هغه زمونږ د فصل او غلې زمکه ده خو هغه ځائې وبائی دې يعنی بيماریٔ په هغې کښې زياتې وی نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل هغه زمکه پريږدئ.

قوله: ﴿ فَإِنَّ مِنَ الْقَرَفِ التَّلَفَ ﴾ قرف يعنی د بيماریٔ نزديکت او د هغې سره خلط ملط کيدل، يعنی د بيماریٔ په قرب کښې هلاکت دې. دا حديث دې د ﴿ لا عدوی ﴾ خلاف او نه ګڼړلې شی بلکه دا من باب الطب دې يعنی د آب وهوا ناموافقت....

[٣٩٢٤](٢)حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا كُنَّا فِي دَارٍ كَثِيرٌ فِيهَا عَدَدُنَا، وَكَثِيرٌ فِيهَا أَمْوَالُنَا، فَتَحَوَّلْنَا إِلَى دَارٍ أُخْرَى فَقَلَّ فِيهَا عَدَدُنَا وَقَلَّتْ فِيهَا أَمْوَالُنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ذَرُوهَا ذَمِيمَةً".

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه يوکس نبی ﷺ ته عرض وکړو مونږه په يوکور کښې وو په کوم کښې چه زمونږ تعداد زيات وو او مال هم ډير وو بيا مونږ ددغه کور نه بل کورته لاړو نو په دې بل کورکښې زمونږ مال هم کم شو اوتعداد هم کم شو (يعنی مړه شو) نونبی ﷺ اوفرمائيل دغه کور ددې بدحالیٔ سره پريږدئ.

قوله: ﴿ إِنَّا كُنَّا فِي دَارٍ كَثِيرٌ فِيهَا عَدَدُنَا وَكَثِيرٌ فِيهَا أَمْوَالُنَا فَتَحَوَّلْنَا إِلَى دَارٍ أُخْرَى الخ ﴾

يو سړی رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه په کوم کور کښې مونږ مخکښې اوسيدو په هغې کښې مونږ ښه خوشحاله او آباد وو زمونږ د افرادو تعداد هم زيات وو او مالونه مو هم ډير وو، د دې نه پس چه مونږ بيا کوم کور ته منتقل شو نو هلته زمونږ د افرادو تعداد

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٠٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٥١/٣) (ضعيف الإسناد)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٣) (حسن)

کیمیدل شروع شو او په مالونو کښې هم... رسول اللهﷺ اوفرمائیل : ﴿ذَرُوهَا ذَمِيمَةً﴾ د دې توجیه هم هغه کړې شوې ده کومه چه د پورته حدیث وه.

[٣٩٢٥]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا مُفَضَّلُ بْنُ فَضَالَةَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَخَذَ بِيَدِ مَجْذُومٍ فَوَضَعَهَا مَعَهُ فِي الْقَصْعَةِ، وَقَالَ: كُلْ ثِقَةً بِاللَّهِ وَتَوَكُّلًا عَلَيْهِ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم و دیوجذاي لاس ونیولو اودخپل ځان سره ئې په پلیټ کښې کیخودو (یعنی دشریك خوړلو دپاره) او وئې فرمائیل دالله تعالی په ذات باندې په اعتماد اوتوکل کولوسره شریك خوراك کوو.

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَخَذَ بِيَدِ مَجْذُومٍ فَوَضَعَهَا مَعَهُ فِي الْقَصْعَةِ وَقَالَ « كُلْ ثِقَةً بِاللَّهِ وَتَوَكُّلاً عَلَيْهِ » ﴾

یو کرت رسول اللهﷺ یو مجذوم د لاس نه اونیولو او ځان سره ئې په خوراک کښې شریک کړو او وې فرمائیل چه په الله پاک باندې یقین کولو سره اوخوره.

(اشکال):

دلته دا سوال واردیږی چه د توکل حکم رسول اللهﷺ دې مجذوم ته ولې اوکړو، ځکه چه که په دې کښې احتیاط ته حاجت وې نو رسول اللهﷺ ته وو هغه مجذوم ته خو نه وو،

(جواب):

د دې جواب دا دې چه د رسول اللهﷺ خو یقین وو چه هغه سره په خوراک باندې به ماته هیڅ نقصان نه وی، خو د هغه خوراک کونکی مجذوم تردد کیدې شو چه چرته ما سره په خوراک باندې رسول اللهﷺ ته تکلیف او نه رسی. پس رسول اللهﷺ د توکل هدایت هم هغه ته اوکړو (یعنی زما فکر مه کوه) کذافی هامش البذل عن الکوکب.

والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری.... آخر کتاب الطب

[الحمدلله! اووم جلد ختم شو]

(): سنن الترمذي/الأطعمة ١٩ (١٨١٧)، سنن ابن ماجه/الطب ٤٤ (٣٥٤٢)، (تحفة الأشراف: ٣٠١٠) (ضعيف)